# ویروس

## موږ پر افغانستان باندې
## د یرغل په ویروس څنګه ککړ شوو



لیکوالان: ولادیمیر سنیګېروف او ولېري سموټېن
ژباړن: عبدالکریم رحیمزی

کال: ۱۳۹۹

# د «ا» ويروس

مور پر افغانستان باندې د يرغل په  ويروس څنګه ککړ شوو

ليکوالان:

www.samsoor.com

ولادیمیر سنیګېروف Vladimir Snegirev او ولېري سمونېن Valery Samunin

ژباړن : عبدالکریم رحیمزی

کال

..........................................................................................

۱۳۹۹ .....................

هغه کتابونه چې سمسور ووبپاڼې پرلیکه کړې او یایې پر لیکه کوي،
نور څوک یې پر لیکه کول اجازه نه لري

www.samsoor.com

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: د «ا» ویروس

لیکوالان: ولادیمیر سنیګېروف Vladimir Snegiryov او ولېري سمونین Valery Samunin

ژباړن: عبدالکریم رحیمزی

خپرندوی: د کلي عامه کتابتون

چاپځای: سمون خپرندویه ټولنه

چاپ وار: لومړی

چاپ کال: ۱۳۹۹

د خپرونو لړ: ۲

د دې کتاب چاپ، پر وېبپاڼو او ټولنيزو رسنيو د خپرولو حقوق له خپرندويه ټولنې سره خوندي دي

## دکلي عامه کتابتون

د کلي عامه کتابتون په نوم علمي او ټولنيز خدمت په (۱۳۹۲) هـ ل کال د کتاب، ليک او لوست د پرمختګ او د همدې فرهنګ د غوړېدا په موخه پيل شو. دغه خوځښت د خلکو له لوري له تاوده هرکلي سره مخ شو، له همدې کبله له مجيب الرحمن محمودي سره چې په لومړيو کې يې دا خوځښت پيل کړ، يوه ډله نور ځوانان هم ملګري شول چې اوس د يوې منظمې ډلې په توګه کار او خلکو ته خدمت کوي. ياد خوځښت له خلکو کتابونه را ټولوي، د کتاب له پاره د خلکو په بسپنو کتابونه پېري او په لرې پرتو کليوالو سيمو يا هم د ښارونو په ځينو سيمو کې د عامو خلکو د مطالعې او لاسرسي وړ کتابتونونه جوړوي.

د دې ډلې موخه په کليوالو سيمو کې د عامه کتابتونونو جوړول، د مطالعې دود ژوندی ساتل، په تعليمي برخه کې خپلو هېوادوالو ته خدمت کول او په ټولنه کې مثبت فکري بدلون راوستل دي.

ياد خوځښت تر اوسه په لرې پرتو کليو کې ۱۸ عامه کتابتونونه جوړ کړي، تر کليوالو خويندو يې درسي توکي، قرانکريم او د (الف با) سيپارې رسولې دي، چې اوس د کتابتون تر څنګ (د کلي خيريه بنسټ) هم لري. وخت په وخت يتيمانو، کونډو او بې وزلو کورنيو ته مرستې رسوي، د کاروبار سېستم ورته جوړوي او د ځينو کورنيو دايمي کفالت کوي.

د کلي عامه کتابتون خوځښت د کتابونو او نورو مرستو را ټولولو لپاره د فېسبوک له لارې کمپاين کوي، دوی د هېواد په ډېرو ولايتونو کې خپل استازي لري؛ څو د کتابونو په را ټولولو کې مرسته ورسره وکړي. تر څنګ يې خپلو خلکو ته کتابونه هم خپروي. تر دې وړاندې يې د (دوې لارې) په نوم د مجيب الرحمن محمودي د لنډو کيسو ټولګه د ليکوال په خپل لګښت خپره کړه او اوس دا دی (د الف ويروس) په نوم خپل دويم کتاب چې د دوو روسي ليکوالو (ولاديمير سنيګېروف Vladimir Snegirev او ولېري سمونېن Valery Samunin) ليکلی او ښاغلي عبدالکريم رحيمزي په خوږه او روانه پښتو ژبه ژباړلی دی، د ژباړن په شخصي لګښت په چاپي بڼه خپروي.

دا ډېر ګټور تاريخي کتاب دی، چې په افغانستان کې د روسانو د يرغل په اړه په زړه پورې بحثونه لري او هغه لاملونه رانښيي چې ولې روسانو په افغانستان يرغل وکړ او د يرغل لامل يې څه و؟ له همدې کبله د

کلي عامه کتابتون وياړي چې خپلو هېوادوالو ته داسې په زړه پورې او ګټور کتابونه خپروي او د کتاب تر مينه والو يې رسوي، نو که غواړئ په دې تاريخي بحثونو خبر شئ، دا کتاب خامخا ولولئ.

د کلي عامه کتابتون فېسبوک پاڼه: د کلي عامه کتابتون Village's Public Library

په درنښت

حامد واحدي

د کلي عامه کتابتون مرستيال

د ۱۳۹۹لمريز کال د غبرګولي ۱۷مه

کابل، افغانستان

# د ژباړن يادښت

د دغه کتاب يو ليکوال په کابل کې د شوروي اتحاد په سفارت کې د ديپلومات په پلمه يو څارګر او دويم يې يو خبريال و چې افغانستان ته څو ځلې تللی او په اړه يې راپورونه او ليکنې کړې دي. دوی د سردار محمد داود خان له سپينې کودتا څخه نيولې پر افغانستان باندې د شوروي تر يرغل پورې په افغانستان کې پېښې بيان کړې دي. ليکوالانو دغه کتاب د روسيې وګړو ته ليکلی چې دوی ته څه نا څه دا روښانه کړي چې ولې د وخت شوروي اتحاد پر افغانستان پوځي يرغل وکړ او په دغه حياتي پرېکړه کې څوک ښکېل وو. کتاب په روسي ژبه ليکل شوی او په انګليسي ژبه ژباړه يې د امريکا د امنيت شورا په ارشيف کې شته چې هر څوک ورته لاس رسی لري. ما هم همدغه انګليسي ژباړه پښتو ته واړوله.

که څه هم د کتاب لوستونکي روسي وګړي په پام کې نيول شوي، خو دغه کتاب افغان لوستونکي ته نه يوازې د شوروي د پوځي يرغل وجې بيانوي بلکې دا هم ورته روښانه کوي چې زموږ په هېواد کې اوسنی ناورين ولې پيل شو او چا يې پيل ته لاره هواره کړه. داسې ناورين چې بېګناه خلک ژوندي ښخ شول، په ميليونونو افغانان له منځه لاړل، په ميليونونو معيوب شول، د هېواد زېربنا له بېخه وايستل شوه، هېواد ويجاړ شو، ملوک طوايفي رامنځته شوې د خلکو پر مال او ناموس تېري وشول، دوه نسلونه مو په جګړه کې ستر شول او ډېری يې د تعليم له نعمته بې برخې شول، د بېلابېلو هېوادونو لاسوهنې پيل شوې، مزدوران او ګوډاګي يې د خپلو ګټو او د افغانستان د تباهۍ لپاره وروزل او راولېږل.

دغه ناورين څلور لسيزې مخکې پيل شو او تر اوسه دوام لري، هره ورځ يې افغانان په بېلابېلو بڼو قرباني کېږي، داسې ورځ نشته چې په افغان کورونو کې د وير ټغر نه وي غوړېدلی.

هغو پېښو چې دغه ناورين ته لاره هواره کړه يو ژوندی تاريخ دی. په دې مانا چې د پېښو شاهدان او په پېښو کې ځينې ښکېل خلک تراوسه ژوندي دي. د هېواد ډېری وګړي چې څلور لسيزې مخکې د دغو پېښو او روان وضعيت شاهدان وو، د غويي د اوومې خونړۍ کودتا او ورپسې د واکمنو کمونستانو اکاړې کړنې په افغانستان کې د اوسني ناورين د پيل وجې بولي.

www.samsoor.com

د سردار محمد داود خان د ټولې کورنۍ د بېرحمه وژنې او ورپسې واک ته له رسېدو وروسته، کمونستانو سمدلاسه د هېواد د مخورو ملي څېرو لکه موسی شفیق او وفي الله سمیعي په نیولو او وژلو لاس پورې کړ، خو کمونستانو دغسې بېرحمي یوازې د هېواد په دیني او ملي څېرو محدوده نه کړه بلکې دوی ته ټول هغه افغانان چې له دوی سره یو لاس نه وو ممکنه ګواښ برېښېدل؛ نو ځکه یې په لنډ وخت کې له جوالي څخه نیولې تر وزیر پورې د ټولنې له هر پوړ څخه خلک په ډېره اکاړې نیول او وژل. دوی نه هټۍ وال پرېښود، نه سوداګر، نه زده کوونکی او نه ښوونکی، نه بزګر او نه کارګر، نه مامور او نه مدیر، نه عسکر او نه افسر، نه نرس او نه ډاکټر. د بېګناه افغانانو د وژلو شمېر دومره ډېر وو چې کمونستانو به پر بلدوزورو ډله ییز قبرونه کیندل او قربانیان یې حتی ژوندي پکې خښول.

کمونستانو په ټول هېواد کې د اختناق فضا حاکمه کړې وه. وېره او ترور دومره ډېر و چې حتی پلار به زوی ته او ورور به ورور ته د زړه خبره نه شوای کولای.

په عین وخت کې کمونستانو د هېواد عیني واقعیتونو ته نه کتل او داسې بې وخته فرمانونه یې ورکول چې د افغان دود او کلتور سره په ټکر کې وو، د اسلام سپېڅلي دین ته یې سپکاوی کاوه، په تلویزوني خپرونو کې اسلام او افغان کلتور ته پام نه کېده.

دغسې وضعیت افغانان اړ کړل چې د کمونستانو پر ضد ودرېږي. د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې لکه کابل، کنړ، ننګرهار، بامیان او هرات کې پوځي او ولسي پاڅونونه وشول. که څه هم کمونستانو د دغو پاڅونونو په ځپلو کې رحم ونه کړ او یوازې د هرات په پاڅون کې یې شاوخوا ځلورویشت زره افغانان ووژل، افغانانو دغه ځپلو ته سر ټیټ نه کړ او د حکومت پر ضد یې وسلې ته لاس کړ.

دا به هر افغان چې د پېښو شاهدان وو په صراحت څرګنده کړي چې د کمونستانو پر ضد پاڅونونه د چا په لمسونه نه بلکې پر افغانانو باندې د ظلم او وحشت له کبله رامنځته شول. اوس ځینې افغان پخواني کمونستان پاکستان ګرموي او وایي چې پاکستان ګلبدین او مسعود ته د سردا محمد داود خان په واکمنۍ کې پناه ورکړې وه.

هو، دا ریښتیا دي، خو د سردار محمد داود خان په واکمنۍ کې پاکستان هېڅکله ونه توانید چې دوی د افغانستان پر ضد وکاروي. یو ځل یې مسعود له خپلو څو غدیوالو سره افغانستان ته ولېږه چې په پنجشیر کې خرابکارې کړنې ترسره کړي، خو پخپله ولسي خلکو نوموړی له پنجشیر څخه وشاړه او بېرته اړ شو چې پاکستان ته وتښتي. هغه وخت اولس له حکومت سره و، خو کمونستانو

داسې وحشت جوړ کړ چې نه يوازې ولس اړ شو چې د دوی پر ضد ودرېږي بلکې پاکستان او نورو هېوادونو ته يې هم لاره هواره کړه چې زموږ په هېواد کې زموږ د ملي ګټو په بيه خپلې ګټې وپالي.

د دغه کتاب د ژباړې په هکله غواړم ووايم چې ما هڅه کړې چې له سوچه پښتو وييو څخه کار واخلم که څه هم دا کار راته ډېر ستونزمن و او پوهېدم چې په دې هڅه کې پوره نه بريالی کېږم. ستونزه دا ده چې د ډېری انګرېزي وييو سيال ويې په پښتو ژبه کې شته، خو ځينې يې دومره نااشنا او عجيبه راته برېښي چې ما يې کارولو ته زړه نه شوای ښه کولی. د بېلګې په توګه دا به تاسې ته هم عجيبه ښکاره شي چې په پښتو ژبه کې د (بندي خانې) سيال ويې (اړتون) دی. دا ډېر د خواشينۍ ځای دی چې سره له دې چې په پښتو کې د ډېرو څيزونو لپاره سم ويی شته، خو زموږ د ليکوالانو او قلم خاوندانو له وجې چې په خپلو ليکنو او خبرو کې له پرديو وييو څخه کار اخلي او همدې ته ورته د هغه پښتنو له وجې چې زموږ د دري ژبو وطنوالو په سيمو کې مېشت دي او د دري ژبې اغېز پرې کړی، اوس پردي وييو د بې شمېره پښتو وييو ځای نيولی او دغسې پښتو ويي اوس دومره نااشنا شوي دي چې په ليکلو او ويلو کې ډېر عجيب ښکاري. بيا هم د بېلګې په توګه، په پښتو کې وېډه شته خو پر ځای يې اقتصاد کارول کېږي، پخلنځی شته، خو اشپزخانه، اکاړ شته خو مستبد، پاځکی شته خو مفتخور کارول کېږي. که دا کار دوام وکړي، پښتو ژبه به هسې د نورو ژبو يوه ګډوله شي. هيله من يم چې هر پښتون په دې اړه د مسوليت احساس وکړي او د پرديو کليمو له کارولو ډډه وکړي.

د دې کتاب په ژباړه کې د هغو وييو له څنګ سره مې مانا هم ليکلې چې ما ته څه ناڅه نااشنا ښکاره شوي دي څو د کتاب په لوستلو او پوهاوي کې اسانتيا راشي.

په پای کې د دغه کتاب په ژباړه کې غواړم له لاندې کسانو څخه د زړه له کومې مننه وکړم:

- ښاغلی عبدالحبيب صالح چې څه نا څه درې مياشتې کابو هر ماخوستن لږترلږه يو ساعت يې د ټيلفون په وسيله د ژباړې د سمون او د مناسبه پښتو کليمو د کارولو په هکله له ماسره مرسته وکړه.
- ښاغلی عبدالمالک ببکسيار چې په ورين تندي يې زما غوښتنه ومنله چې د ژباړې وروستۍ کتنه يې په غاړه واخيسته او ډېرې تېروتنې يې اصلاح کړې.

www.samsoor.com

د دغه کتاب ژباړه خپل کړېدلي ولس ته ډالۍ کوم.

په درناوی
عبدالکریم رحیمزی

لیکلړ

سریزه ........................................................................................ ذ
ویروس: موږ پر افغانستان باندې د یرغل په ویروس خنګه ککړ شوو..................... 1
موږ یې غابنونه مات کړل او ازاد شوو......................................................58
اصلي غلیم ................................................................................ 144
د کابل مېلمستون، د ۱۱۷مې کوټې مرموزتیا ............................................. 199
په هرات کې پاځون - لومړنۍ وینه.......................................................... 238
څلورواله غدۍ ............................................................................. 289
د کودتا پېښلړ ............................................................................. 352
د مرګ حکم................................................................................. 414
د لیکوالانو بنډار.......................................................................... 498
اخځلیک................................................................................... 508
انځورونه.................................................................................. 514
لغاتونه.................................................................................... 517

www.samsoor.com

# سریزه

په سلګونو کتابونه، یادښتونه، کیسې، نکلونه، شعرونه، ژورنالېستي مقالې او پوځي پېښلیکونه په افغانستان کې د شوروي اتحاد د جګړې په هکله لیکل شوي؛ نو که دغه سرلیک تر اوسه په بشپړه توګه شاربل شوی نه دی، خو ښه مستند شوی دی.

خو د یرغل وجه څه وه؟ افغانستان ته د پوځیانو د لېږلو پرېکړه څنګه وشوه؟ څوک د یرغل مخالف وو او چا وروستۍ پرېکړه وکړه؟ دا څرنګه مرموز هېواد دی چې د نړۍ تر ټولو ځواکمن هېوادونه یې لومې ته داسې لمسول کېږي چې ښېلګې یې کابو د لېونتوب کچې ته رسېږي. په نولسمه او د شلمې پېړۍ په لومړیو کې دا کار انګرېزانو وکړ، په ۱۹۸۰مو کلونو کې شورویانو او اوس امریکایان او متحدین یې دغه میراث ته دوام ورکوي.

که څه هم دا خبره به عجیبه وبرېښي، بېوزله او په نه منونکې توګه شاته پاتې افغانستان یو نورماله هېواد نه دی. د اسیا په زړه کې د خپل ستراتیژیکي موقعیت له کبله، دغه غرنیز هېواد ته یوازې نېږدې ګاونډیانو سترګې نه دي نیولې، خو هر هغه څوک چې دغه هېواد ته وسله په لاس په دې هیله ننوځي چې یوه اسانه لاسته راوړنه به ولري، خپګان او غم ور په برخه کېږي - پښې لوڅې او نالوستي افغانان په ثابته توګه د هغه بهرنیو بېګانه ځواکونو هیلې له خاورو سره برابروي چې د شوبلو له کنډکونو او ستراتیژیکي بم غورځونکو الوتکو سره دغه هېواد ته ننوځي.

د افغانستان په اړه پوهېدنه د خپلې راتلونکې په اړه د پوهېدنې په مانا ده.

پر دې باندې پوهېدل چې هلته څه پېښ شول او په دوامداره توګه څه پېښېږي، د لوی ناورین د مخنیوي مانا ورکوي.

د افغانستان د عصري تاریخ یوه کړکېچنه موده د ۱۹۷۸ کال د اپرېل له ۲۷مې څخه هغه وخت پیلېږي چې د «غويي انقلاب» ترسره شو او د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند واک ترلاسه کړ. دغه موده د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په ۲۷مه هغه وخت پای ته رسېږي چې د شوروي ځانګړو ځواکونو خپلې «نړیوالې دندې» ته په کتو سره په افغانستان کې د وخت حاکم مشر له منځه یووړ او د همدغه ګوند یو بل مشر یې پر ځای کښېناوه. دغه شل میاشتېنۍ بهیر د ډېرو پېښو او په منځني ختیځ کې د وخت د پېښو په هکله د پوهېدنې لپاره لاره پرانیزي.

د ۱۹۷۸ د اپرېل د میاشتې خونړۍ کودتا چې په ترځ کې یې انقلابیانو ولسمشر محمد داود، د هغه کورنۍ او متحدین ووژل، د راتلونکو کلونو د دسیسو، توطیو او وژنو د اوږده ځنځیر لمړنۍ کړۍ جوړوي. د غويي انقلاب له یوې خوا اسلامي بنسټپال وځپل او د دوی واک ته د رسېدو مخه یې ونیوه، خو له بلې

خوا يې وروسته د همدغو اسلامي بنسټپالو د ځواک غښتلتيا ته اسانتياوې برابرې کړې. همدې ته ورته، د غوبي انقلاب د دغه بنسټپالو داعيې ته د لوېديځو او ختيځو هېوادونو ملاتړ وزېږاوه. دغه انقلاب د نړۍ وروستنۍ (او په اوس وخت کې) داسې ټولنيزه کودتا وه چې ترسره کوونکو يې د سپېڅلو هيلو ادعا کوله، خو د ويجاړونکې ماتې سره مخ شول. کودتا کوونکو تر ډېرې کچې په خپله ځان ته قبرونه وکيندل.
ولې وګړو د انقلابيانو د هغه هيلو ملاتړ و نه کړ او پر وړاندې يې ډېرى وخت حتى په کلکه مقاومت وکړ چې دغه هېواد د منځنيو پېړيو له تيارو څخه راوباسي، وته ييز ( اقتصادي) سمون ترسره کړي او د دموکراتيکو اصولو په پلي کولو هېواد بدل کړي؟ څنګه کرېملين د دغه انقلاب رښتينى يرغمل شو حال دا چې د داود خان د بورزواژي فيوډالي رژيم سره خوښ او په لومړيو کې د غوبي د انقلاب په اړه ډېر بې پروا و؟ چا اډولف ډبز Adolf Dubs (په کابل کې د امريکا سفير: ژباړن) وواژه او څه شي دغه هدفي وژنه وهڅوله؟ ايا حفيظ الله امين د سي اى اي اجنټ و؟ په دغه پېښو کې د سياستوالو، پوځيانو، څارګرو ادارو او ديپلوماتانو ځانګړې ونډې څه وې؟
تر نن پورې په دې اړه د ځوابونو په پرتله پوښتنې ډېرې دي.
کله چې په ۱۹۷۹ کال په افغانستان کې د کريملين «نړيواله دنده»/ښکېلتيا پيل شوه، د شوروي پوځ يوازې د يو «محدود ځواک» د لېږلو وړانديز وشو، خو دغه پوځي عمليات په چټکۍ په يوې داسې اوږدې سيمه ييزې ښکېلتيا بدل شول چې شوروي اتحاد يې د لوېديځ هېوادونو، اسلامي ختيځ او چين د يو پراخه ايتلاف سره په شخړه کې ښکېل کړ. کله چې دغه شخړه کابو لس کاله وروسته پای ته ورسېده، پر نړۍ يې نه هېرېدونکى اغېز کړى و او کېدای شي د هغه لوى بندښت د وروستني يادښت په سترګه ورته وکتل شي چې د مخکنيو لسيزو د نړيوال سياست ورم يې درلود.
دغه بحث چې شوروي اتحاد بايد په هغه کلونو کې له خپلو سوېلي پولو څخه نه وای تېر شوی، تر ډېره وخته به سوړ نه شي. ايا د پوځ لېږنه د بهرنيو دوښمنانو د خطرناکو ګواښونو پر وړاندې يو داسې ځواب و چې مخنيوى يې ناشونى و او يا دا يوه مرګونې تېروتنه وه؟ ايا نورې داسې وسيلې شته وې چې د اسلامي سخت دريځو د خطرناکو دسيسو مخنيوى يې کړى وى او افغانستان يې د شوروي اتحاد د نفوذ په کړۍ کې د ننه ساتلى وى؟ د دواړو اړخونو ملاتړې جدي او مهم دليلونه لري چې خپل دريځونه توجېه کړي، خو يوه خبره ځرګنده ده. د شوروي اتحاد دوښمنانو په افغانستان کې د شوروي د ښکېلتيا له ستراتيژيک فرصت څخه په ډېره هوښيارۍ ګټه پورته کړه، لومړى يې مسکو په بشپړ ډول يوې ستومانه کوونکې جګړې ته ورټېل واهه او بيا يې پر شوروي اتحاد د «شيطاني امپراتورۍ» نوم کېښود، داسې نوم چې تر ډېرې مودې په دغه هېواد پورې تړلی و.

کوم لید چې په دې ټینګار کوي چې د افغانستان جګړې د شوروي اتحاد د پروژې او هېواد د تباهۍ بهیر ګړندی کړ، په پراخه کچه خپور او منل شوی. له دې څخه انکار نه شي کېدای چې جګړې د شوروي اتحاد پر وټه ناوړه اغېز وکړ، د هېواد اخلاقي بنسټ یې فاسد کړ او د نړیوالو متحدینو شمېر یې په جدي توګه لږ کړ، خو که څوک په افغانستان کې د څلورځلوېښتم پوځي ځواک کړنې او د زرګونو شوروي سلاکارانو پلې شوې خاکې وسپړي، په دې به اعتراف وکړي چې د افغانستان له دموکراتیک جمهوریت څخه د «محدود ځواک» د وتلو په وخت، دوی خپلو ډېرو موخو ته رسېدلي وو. دا په ډاډ ویل کېدای شي چې د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته که چېرې هغه سربدالي نه وای چې د روسي مشرانو پر اند او کړنو یې اغېز وکړ او که چېرې افغان ولسمشر نجیب الله یوازې نه وای پرېښودل شوی چې په یوازېتوب د خپلو ځواکمنو دوښمنانو پر وړاندې ودرېږي، د منځني ختیځ تاریخ به اوس بل شان وای. طالب، مخدره مواد او ترهګر به نه وای او د ناټو ایتلافي ځواکونو یرغل به نه وای ترسره شوی، خو دا یوه فرضیه ده.

دا څرګنده ده چې افغانستان ته د شوروي اتحاد ننوتل د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د انفرادي سیاستوالو د ناڅاپه رامنځته شوو هیلو زېږنده نه، بلکې د عیني او اندي حالاتو یوې جوړې دغه پایله رامنځته کړه. دا د تېرو درېیو لسیزو سرې جګړې په ترڅ کې په سیاسي جغرافیه کې د دریځ خپلولو پایله وه.

زموږ لپاره چې د دغه کتاب لیکوالان یوو، افغانستان او هغه غمجنې پېښې چې موږ دلته بیان کړې دي، خیالي کیسې نه، بلکې هغه څه دي چې په خپل ژوند کې مو لیدلې دي. یو مو په کابل کې د شوروي اتحاد د سفارت مامور و چې د غویي د انقلاب د لومړي پړاو نېږدې شاهد او په یو لړ پېښو کې حتی په نېغه توګه ښکېل و. دویم مو یو تاریخ پوه او ژورنالېست دی چې په وار وار دغه مرموز هېواد ته تللی او په دې اړه یې بېشمېره مقالې، کتابونه او تېزسونه لیکلي دي. د دغه کتاب په لیکنه کې موږ طبعا نه یوازې پر خپلو یادښتونو ډډې لګولې بلکې له نورو سرچینو (کتابونه، مقالې او مونوګرافونه چې په روسیه او بهرنیو هېوادونو کې خپاره شوي) او له داسې ارشیفي لاسوندو (اسنادو) څخه مو کار اخیستی چې ډېری یې په لومړي ځل دلته نقل شوي. سربېره پر دې، په دې کتاب کې د داسې خلکو له ډېرو ارزښتمنو راپورونو او د سترګو له لیدلي حال څخه کار اخیستل شوی چې په پېښو کې یې برخه اخیستې وه. د دغه سرچینو بشپړ نوملړ د کتاب وروستۍ برخه جوړوي. دلته موږ غواړو له خپلو سرچینو څخه مننه وکړو. د تاریخپوهانو په توګه زموږ د شالید برعکس، موږ دا غوره وګڼله چې پېښې ټکي په ټکي وڅېړو بیان نه کړو او پر ځای یې د سیاسي پلټنو هغه تلوسمنه لاره ونیسو چې پېښې د ادبیاتو په اډانه کې د کیسې په څېر بیانوي. موږ باور لرو چې دغسې ښه به ګڼ شمېر لوستونکي چې د اوسني پېر د تاریخ له مهمو پېښو سره ناټ (علاقه) لري ځانته راوبولي. ټول هغه حالات چې په دې کتاب کې بیان شوي، ریښتیا دي. په هغه خبرو اترو کې چې لیکوالانو په نېغه برخه نه ده اخیستې، په ارشیفونو کې له لاسوندو او یا د هغه خلکو له قول څخه بیان

شوي دي چې د خبرو اترو برخه وال وو. د کتاب د ليکلو په بهير کې مو، د هر ګړني بيان د رېښتينوالۍ پخلی کړی. په دې کتاب کې هېڅ جعلي نوم نشته. يوازې د هغه څو کې جي بي مامورينو نومونه د دوی په غوښتنه بدل کړل شوي چې په کابل کې يې پټې ځارګريزه دندې ترسره کولې.

www.samsoor.com

# ۱

# ویروس: موږ پر افغانستان باندې د یرغل په ویروس څنګه ککړ شوو

پسرلی د تندریزه توپان غړومبهاری د افغانستان پلازمېنې ته راولي. کله چې اوږدبېدونکې ورځې غرمې ته نېږدې کېږي، د سهار لمریز او روڼ اسمان په محسوسه بڼه تیاره شي او تورې تخته وربځې د غرونو په لړۍ چې له ښاره چاپېر دي څنبېږي. مخکې له دې چې ځلانده سهار په توده غرمه بدل شي، د بدن هر غړی د پاتې تودوخې پیکه تاو چې له ځمکې راپورته کېږي احساسوي. د توپان په رارسېدو سره، د اکسیجن له کمښت څخه داسې ښکاري چې نابللي را روان توپان ټوله پاتې تازه هوا نښتېځلې. په دغه شېبو کې د ښار ګڼغړی سمون خپل نظم له لاسه ورکوي او خپره شوې تیاره د پلیو ښاریانو شورماشور په بې نظمۍ ډېروي. پیل شوې سیلۍ تېزېږي او د دوړو یو داسې دېو جوړ کړي چې کاغذ، پلاستیکي کڅوړې او نور کثافات له ځان سره لېږدوي او په عین وخت کې د خلکو پوستکي په چیچونکي او سترګې په سوځوونکي رېګ رېږوي. ناڅاپه د برېښنا ځرک شي او بیا د تندر غږ واورېدل شي. د باران یو څو تازه او تاوده څاڅکي هاخوا دېخوا په ګردجنو واټونو کې د ترغاک (تېز باران او سیلۍ) پیلامه اعلانوي او ورپسې د تندر ځرکا کابو شېبه په شېبه ډېرېږي. د توپان تخته وربځې چې له برېښنا ډکې دي په چټکۍ پلازمېنې ته نېږدې کېږي. اوس داسې ښکاري چې تندر نبغ د سرې په سر برېکه کوي او غړومبهاري ته دوام ورکوي.

توپان یو یا دوه ساعته دوام کوي. ورپسې تندر او برېښنا ورو ورو خپل ځواک بایلي او تورې وربځې خورې ورې شي. د باران اوبه کوچنې ډنډونه جوړوي او حریصه ځمکه یې ستا د سترګو وړاندې ځبېښي. وربځې د هغه غرونو په لور خوځېږي له کومو چې راغلې وې او لمر یو ځل بیا ځلا پیلوي. توپان د ورځې تودوخه کمزورې کړې وي او په حیرانوونکې توګه ماښام ډېر خوندور شي. هوا چې یوازې څو ساعته مخکې ډېره توده وه، اوس سړه او تازه ده او د شاوخوا غرونو له ارغاړو څخه د بوټیو او سارایي ګلانو ورمې راوړي. د بوټیو او د میوو ونو د غوټیو بوی له یو او بل سره ګډ شي او ښه عطر ترې جوړ شي. چوغکې چونېږي او لمر ډېر ژر د وربځو په لور د پغمان د غرونو سرته لاړ شي او واورینو څوکو ته زرین او سور بخون رنګ ورکړي. شپه راشي او په تور اسمان کې ځلانده ستوري راښکاره شي. لیرې د غرونو شا ته د اسمان په څنډو کې بل تندریزه توپان چې راتلونکی یا تلونکی دی په چوپتیا برېښناوې کوي.

د ۱۹۷۸ کال د اپرېل په شپږویشتمه د چارشنبې په ورځ پر کابل باندې یو سخت تندریزه توپان راښکته شو. ترغاک تر ماښامه دوام درلود. د شوروي سفارت لومړی منشي، لوړ او هډور وېکتور بوبنوف Victor

Bubnov لږ شېبه مخکې له کار څخه کور ته راغلی و او د خپل انګړ چمن ته يې ګامونه واخيستل چې له تازه هوا څخه خوند واخلي او له خپل لوی ببر سپي سره چې د ده کور يې ساته لوبې وکړي. په دغه شېبه کې د تيلفون زنګ راغی. نوموړي د کوټې په لور دومره چټکه منډه وکړه چې د داسې لوړ منصب د څښتن له ځانګړتياو سره يې سمون نه درلود. يوه اشنا غږ په دري ژبه غوښتنه وکړه چې فايض جان ته غوږ ونيسي. بوبنوف مخکې له دې چې غوږی ببرته کېږدي، په بېخونده رسمي بڼه ځواب ورکړ: «په دې کور کې په دغه نوم څوک نشته. شمېره به دې غلطه وهلې وي.» بيا يې خپل ګنجی سر په ورغوي وموښه او يو سوړ اسوېلی يې وايست. دا څرګنده وه چې دی به له ارامه او ساړه ماښام څخه خوند وانه خيستی شي.

وېکتور د شوروي اتحاد د بهرنۍ څارګرې اداري مامور و. هغه «تبر وتلی» د تيلفون زنګ او ورته ويل شوي غونډله يو رمز و چې مخکې تر مخکې ورته ويل شوي وه چې په اورېدو يې له اجنټ «محمود» سره په ټاکلي ځای کې يوه بيړنۍ غونډه وکړي.

وېکتور پوه شو چې داسې بيړنۍ غونډې ته بلنه نيک شاګوم نه لري او بايد يوې داسې مهمې او ښايې غمجنې پېښې ته چمتو شي چې همدا اوس په پېښېدو وه او يا پېښه شوې ده. محمود يو افغان افسر او د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند د مرکزي کمېټې غړی و. نوموړی د خپل هېواد په سياسي دسيسو کې ښه وتلی و او خپلو ډېرو اړيکوالو ته يې د اړوندو مهمو مالوماتو ښه ارزونه کولی شوی.

په هغه ورځو کې کابل يو لږ بې ثباته کوونکو پېښو ولړزاوه. نهه ورځې مخکې د اپرېل په اوولسم نامالومو کسانو د ا خ د ګ يو مشر، ميراکبر خيبر ووژه. نوموړي ته په پراخه کچه د دغه ګوند د «وياړ او ضمير» په سترګو کتل کېدل. هېچا د نوموړي د وژنې پړه په غاړه وانه خيسته او هېچا د وژونکي او يا د هغه چا نوم چې د دغه هدفي وژنې امر يې کړی و په ډاډمنه توګه نشوی اخيستلی. وروسته له دغه غمجنې پېښې، د ا خ د ګ سمدلاسه له دې نازک حالت څخه ګټه پورته کړه او په زرګونو خلک يې د لاريون لپاره واټونو ته را وايستل. لاريون کوونکي يوازې د ا خ د ګ غړي او ملاتړي نه وو بلکې د کابل ډېر داسې خلک وو چې مخکې يې هېڅ کله له سياست سره ناټ (شوق) نه و ښودلی او ډېر لږ يې په لاريونونو کې برخه اخيستې وه.

د افغانستان ولسمشر محمد داود ناچاره او انديښمن و. د افغانستان په تاريخ کې هېڅ کله دومره لوی شمېر خلک واټونو ته د لاريون لپاره نه وو راوتلي چې د واکمن رژيم پر وړاندې خپله ناخوښي څرګنده کړي. وروسته له دې چې محمد داود له خپلو نږدې سلاکارانو سره اوږدې خبرې او ارزونې وکړې، نوموړي د يو قمار پرېکړه وکړه. ده د ا خ د ګ د اوو مشرانو د نيولو امر ورکړ. په دغه نوملړ کې د ګوند عمومي

www.samsoor.com

منشي نورمحمد تره کي او د ده د مرستیال ببرک کارمل نومونه هم وو. د خیبر له خښولو وروسته د اپرېل په ارامه ورځو کې بوبنوف او همکارانو یې په پلازمېنه کې د خوټېدونکې غوسې ننګېرنه (احساس) کړې وه.

د ماخوستن په ۸:۳۰ بجو بوبنوف په خپل زاړه شنه ټیوټا کې کښېناست او ټاکلي ځای ته د بیړنیو خبرو لپاره د محمود لیدنې ته لاړ. کله چې هلته ورسېد، محمود یې په دودیزه پښتنې جامو کې ولید چې په تنګه لاره کې غلي غلي ګامونه اخلي. وېکتور د ګاډي څراغونه مړه کړل او په تیاره کې یې ګاډی د محمود په لور وچلاوه. بیا ودرېد او د ګاډي د دروازې کولپ یې خلاص کړ. محمود په چټکۍ د کاډي په شاتنې سیټ کې کښېناست، په دودیزه افغاني بڼه یې روغبړ وکړ، بښنه یې وغوښته چې خپل شوروي ملګری یې په عذاب کړ او بیا یې د دغې پټې لیدنې مهم لامل بیان کړ.

کله چې وېکتور خپل دغه اجنټ کور ته راووست، په مېلمه خونه کې ډوډۍ ورته تیاره شوې وه او یو بوتل یخ ستالیچنایه Stolichnaya د کافي پر مېز ورته اېښې و. وېکتور خپل مېلمه ته بلنه ورکړه چې د ډوډۍ مېز ته راشي او له ده سره ډوډۍ وخوري. دغه اجنټ ورسره کښېناست، ډوډۍ یې ځان ته په کاب کې واچوله، خو شراب یې ونه څښل او په داسې حال کې چې لاس یې پر سینه کېښود او د درناوي سر یې ټیټ کړ، ویې ویل: «مننه ملګری وېکتور، خو نن شپه زه باید د مرکزي کمېټې او زموږ د خلقي افسرانو یوې غونډې ته لاړ شم. دا یوه معموله غونډه نه ده. نن شپه به د افغانستان برخلیک ټاکل کېږي. په دې غونډه کې پرېکړه کېږي چې وسلوال پاڅون ترسره شي یا نه.»

وېکتور چې اوچتو وروځو یې اندېښنه څرګندوله په ډېره ارامۍ وپوښتل: «پاڅون؟» اجنټ زیاته کړه: «د پاڅون موخه به د محمد داود د فاشېستي رژیم پرځول او زموږ د بندي ملګرو ازادول وي.» وېکتور بیا پوښتنه وکړه: «نو څه تمه کوې چې د غونډې برخوال به کومه پرېکړه وکړي؟» محمود ځواب ورکړ: «که څه هم یو څو کسه ډاډه نه دي، خو ډېری د وسلوال پاڅون ملاتړ کوي او دوی ښایي په غونډه کې ډېری (اکثریت) جوړ کړي. په تېرو څلورویشتو ساعتو کې د خلقي افسرانو په منځ کې ښه کار شوی. موږ پر دې کابو ډاډه یوو چې څلورم زغروال غونډ او د بګرام پراشوټي فرقه به مو ملاتړ وکړي. همدا راز په اوومه پلې فرقه کې هم ډېر مظبوط موقف لرو، خو زه تا ته له دې کبله نه یم راغلی چې یوازې د ورستیو پېښو په هکله مالومات درکړم. زه مې ملګرو رالېږلی یم چې زموږ د وسلوال پاڅون د پرېکړې په هکله د شوروي مشرتابه د غبرګون په اړه پوه شي. ته کولای شې همدا نن شپه دغه کار ترسره کړې؟»

دغه مامور په ژور فکر کې ډوب شو، په اتوماتیک ډول یې د اوبو ګېلاس ته لاس کړ او په ژوولې بڼه یې ورته وویل: «زه به تر خپلې وسې هڅه وکړم.» بیا یې هغه کتابچه راواخیسته چې تل یې په مېلمه خونه کې د کافي مېز پر سر اېښودله او ورکړل شوي مالومات او له شوروي مشرتابه څخه شوې پوښتنه یې پکې ولیکله. ورپسې پخلنځي ته لاړ چېرته چې مېرمن یې چای کاوه. دغه یادښت یې مېرمن ته ورکړ او ورته

ویې ویل چې سفارت ته چټکه لاړه شي، هلته یې د کې جي بي مېشت مشر ته وسپاري او د سملاسي ځواب غوښتنه ترې وکړي. بیا یې د چای پتنوس چې ممیز او مندکې پکې وې، پورته کړ او بېرته مېلمه خونې ته لاړ.

د یو ځارګر مامور د ښې مېرمنې په توګه، انتونینا Antonina بې ځایه پوښتنې و نه کړې او په تیاره کې د تشو او تیارو واټونو له لارې سفارت ته لاړه. د کې جي بي مشر په خپل دفتر او کور کې نه و. دا شونې وه چې ښایي د یوې غونډې لپاره ښار ته تللی و. انتونینا دغه یادښت د نوموړي مرستیال، ارلوف مروزوف Orlov Morozov ته وسپاره او څه یې چې خاوند ورته ویلې وو هغه یې ورته وویل. وروسته یې په سفارت کې له دیپلوماتانو چې تر ناوخته یې کار کاوه وغوښتل چې کور ته یې ورسوي.

وېکتور پوهېده چې دا ناشونې ده چه له سهار څخه مخکې له مسکو نه کوم ځواب ترلاسه کړي. په سفارت کې د کې جي بي مېشت مشر او حتی سفیر دا واک نه درلود چې د داسې مهمو موضوعګانو په اړه پرېکړه وکړي. کله چې ښځه یې بېرته راغله، وېکتور خپل مېلمه ته وویل چې مسکو ته مالومات ولېږل شول، خو دا ناشونې ده چې په راتلونکو څو ساعتونو کې ځواب ترلاسه کړي. په دې موخه چې د ځواب د راتګ په سوکه او ځنډمن بهیر ترې ونه پوښتل شي، وېکتور، محمود وترټلو چې ولې یې لږترلږه څلورویشت ساعته مخکې خپلو شوروي ملګرو ته خبر ورنه کړ. دغه افغان یوازې خپلې اوږې پورته وخوځولې. کېدای شي دی هم یوه ورځ مخکې نه پوهېده چې وضعیت به څنګه مخته ځي. کله چې افغان د تګ هوډ وکړ، وېکتور پرې غږ کړ: «صبر وکړه، سبا سهار په پنځو بجو زه د مکروریان هغه واټ ته درځم چېرته چې زموږ کارپوهان اوسېږي. تا ته خو دغه واټ مالوم دی او ستا له کور څخه دومره لیرې هم نه دی. ته به بهر راووځې. که چېرې ستا خپلې دودیزه جامې په تن وې، نو دا به ما ته د دې مانا ولري چې پوځي پاځون نه کېږي او کچېرې تا پوځي یونیفورم اغوستی وي، نو مانا یې دا ده چې د پوځي پاځون پرېکړه شوې ده.» وروسته وېکتور خپل مېلمه مکروریانو ته ورساوه چېرته چې تراوسه توطیه جوړونکو غونډه درلوده.

سهار په پنځو بجو د سپېدو په چاودو کې بوبنوف خپل ګاډی د شوروي کارپوهانو کور ته ته ځېرمه ودراوه؛ نو که چېرې دی هلته ولیدل شي، خلک به پرې شکمن نه شي. په کابل کې خلک د وخته وینښېږي. د سهار پنځه بجې داسې وخت دی چې کسبګر بازارونو ته ځي، بایسکلونه په واټونو کې راښکاره شي او ګاډي هم هارن وهل پیل کړي . محمود ټیک داسې وخت راښکاره شو چې وېکتور خپل ګاډی مړ کړ. دغه اجنټ د ګاډي له څنګه نېغ تېر شو او داسې یې وښوده چې وېکتور ته یې هېڅ پام نه دی. نوموړی پوځي یونیفورم اغوستی و.

بوبنوف کور ته لاړ چې په چټکۍ یوه پیاله چای وڅښيي او بیا ژرترژره سفارت ته لاړ شي. دا به ده ته یوه اوږده ورځ وي. د رسمیاتو تر پیل پورې لا ډېر وخت و، خو بوبنوف پوه شو چې په کابل کې د کې جي بي مېشت مشر په خپل دفتر کې و. جګړن اوسادچي Osadchiy په تلوسه پر خپل مېز د څه شي په لیکنه بوخت و. وېکتور د اوسادچي د مېز پر سر په کاغذونو کې خپل راپور هم ولید. مېشت مشر پر بوبنوف په خندا غږ کړ: «راځه راځه لمسوونکیه. دا هغه پیغام دی چې ستا په غوښتنه ارلوف مرکز ته ولېږه. زه د شپې دلته راغلم چې لاسلیک یې کړم. ویې لوله، په پیغام کې ټولې خبرې سمې دي؟» وېکتور په ډېر پام ټول متن ولوست او ویې ویل: «ټول سم دي، ویلیور Vilior، خو باید یو شی ور زیات شي. ما شاوخوا یو ساعت مخکې اجنټ محمود ولید. نوموړي پوځي جامې اغوستې وې. پاځون به نن پیلېږي.

د کې جي بي د مېشت مشر له مخ څخه رنګ والوت او یوه ژوره اندېښنه یې په مخ کې څرګنده شوه: «ایا ته ډاډه یې چې ستا دغه اجنټ دروغ نه وايي؟ له خیالونو سره لوبې نه کوي؟ ایا داسې څه یې له ځانه نه دي جوړ کړي؟» اوسادچي له خپل ځای څخه اوچت شو، په خپل کوچني دفتر کې یې ښکته پورته ګامونه اخیستل او په لوړ غږ یې وویل: «هو، لعنت د وي، دا ریښتیا ښکاري. دا هغه څه دي چې موږ له څو ورځو راهیسې ننګېرل (احساسول) چې څه روان دي» له دغو خبرو سره سم د مېشت مشر د خبرو بڼه ناڅاپه له اندېښنې څخه په امر واوښته: «دا ده، د پیغام سپینه پاڼه، دلته یې ولیکه، همدا اوس، لنډ او واضح، نه « ښايي» یا «داسې انګېرل کېږي» یا «داسې تمه کېږي.»، ولیکه: کریچکوف kryuchkov ته، «په غیرمعمولي توګه بیړنی»، « په مسکو کې څو بجې دي؟» اوسادچي له ځان سره موسکا وکړه، په مسکو کې د سهار ٦ بجې وې، د داسې پیغام لپاره ډېر ښه وخت و. د څو دقیقو په ترڅ کې د پېښېدونکې کودتا په اړه مالومات مرکز ته ولېږل شول.

څارګر افسران په نهو بجو په سفارت کې راغونډ شول. اوسادچي یوه غونډه جوړه کړه چې د نازک وضعیت په هکله ټول خبر کړي. د ده د خبرو له اورېدو وروسته هېڅا کومه پوښتنه و نه کړه. ډېری افسرانو دغه خبر دومره جدي ونه ګاڼه او دا د پوهاوي وړ و. د محمد داود د واکمنۍ په بهیر کې، داسې میاشت نه وه چې د کې جي بي مشر به د رژیم پر ضد د بیړنې ګواښ او یا توطیو جوړولو په هکله خبر نه ترلاسه کاوه. د اصلاح غوښتونکو دموکراتانو ګواښ، د چین پلوه چپي ډلې «شعله جاوید» توطیه، د اسلامي بنسټپالو ګواښ، د ځینې تنظیمونو ګواښ چې د لرکیو د حقونو ملاتړي وو. هره میاشت به د ګواښونو بې پخلي خبرونه رارسېدل پرته له دې چې د سفارت ورځنۍ چارې ګډوډې کړي.

کله چې وېکتور عمومي کوټې ته ننوت، همکارانو یې ټوکې کولې: دوی به په وار هغه کړکۍ ته نېږدې شول چې دارالامان ترې ښکارېده، نورو به ترې وپوښتل: «کومه شوبله درته ښکاري؟»، «نه»، «جنګي الوتکې څنګه؟»،«پلې ځواکونه هم نه ښکاري.» درېیم کس به وویل: «عجیبه کودتا ده... حتی یو عسکر هم په واټونو کې نه لیدل کېږي.»

د سهار په نهو بجو د يوي الوتکي بنګاری واورېدل شو، خو دا يوه اېروفلوټ Aeroflot وه چې له کابل څخه د شمال غرونو پر سر د مسکو په لور والوته. مخکې له دې چې له سترګو پنا شي، د لمر سهارنۍ وړانګو يې د کړکيو ښيښې ځلولې. په همدې شېبه کې د جلال اباد د لويې لارې له لوري د توپ د ډز غږ راغی. په سفارت کې د ننه د ملنډو فضا په بېخونده چوپتيا بدله شوه. په عمومي کوټه کې ټول پوه شول چې کودتا پيل شوه.

پنځه کاله مخکې د ۱۹۷۳ کال د جولای په اوولسمه، سردار محمدداود پرته له کومې ځانګړې ستونزې د افغان پاچا محمد ظاهر شاه، چې د ده خپل هم و، تخت چپه کړ. نوموړي پاچاهي لغو کړه او خپل ځان يې د ولسمشر، لومړي وزير او د بهرنيو چارو وزير په توګه اعلان کړ. په ټوله نړۍ کې د پوځې کودتا او د رژيم د بدلون په هکله خبرې وشوې. د افغان سياست يو شمېر شوروي کارپوه مامورين پوهېدل چې د هغه پېښو په پرتله چې په رسمي توګه بيانېدلې، وضعيت خورا بدل و.

يو کس چې شاهي کورنۍ ته ډېر نېږدې و په کابل کې د کې جي بي کارکوونکي ته په پټه وويل چې بې اړنګه (بې شکه) پخپله شاه د دغه کودتا تر شا و. پاچا، چې هوښيار او د ښه لرليد څښتن و، پوهېده چې په هېواد کې د داسې خرابېدونکي سياسي وضعيت په کابو کولو کې بې وسه دی چې د کړکېچ په لور روان دی. له يوې خوا بنسټپالي مسلماني ډلې ورځ تر بلې د ډېر نفوذ خاوندانې کېدلې او وسلوال پرځنګ (مبارزې) ته يې تابيا نيوله، له بلې خوا هغه خلک چې د افغانستان په داسې حالت ناخوښ وو چې منځنيو پېړيو ته ورته و په ډېرېدونکې توګه هوډمن کېدل چې حاکم رژيم ونګوي. که دغه خلک ساده بزګران، کارګران او يا بيروکراتان وی، وضعيت به دومره خطرناک نه وی، خو دا خلک ځوان پوځي افسران وو چې د پوځ د ملا تير ترې جوړ و. په دغسې نازک سياسي وضعيت کې شاه په اسانۍ خپل ځان په ډېر ستونزمن حالت کې ليدلو. د کلونو په ترځ کې د داسې کړکېچن وضعيت په رامنځته کولو کې ده هم تر يوې کچې ونډه درلوده او اوس له خپلې تجربې څخه په کاراخيستنې نوموړي دا غوره وګڼله چې «شا ته» شي او خپل واک يو داسې چاته ورکړي چې له ډېرېدونکې کړکېچ سره زور ازموينې ته چمتو وي او هېواد ببرته د يوې منځلارې او دوديزې ملتپالنې لارې ته سيخ کړي. دا سړی د شاه نېږدې خپلوان لومړی وزير محمد داود و، چې دومره ګرانبنت يې نه درلود. مخکې له دې چې «کودتا» ترسره شي، شاه له خپلوانو سره مل اېټاليا ته لاړ څو د واک د لېږد په بهير کې د معمول په څېر له را ولاړو ناخوالو څخه په امان کې وي.

دغه خبر چې «د داود له کودتا سره د شاه خوښه وه» مسکو ته ولېږل شو، خو د ټولنيز بدلون د پرمختګ نوي پړاو ته د هېواد د اوښتنې په خوښۍ او ناټ کې دې ته د چا پام نه شو. دغه خوښي او ناټ پر ځای وو. داود خان د واک د ترلاسه کولو په سهار په خپله راديويي وينا کې خپلو وطنوالو ته ډاډ ورکړ چې هېواد

www.samsoor.com

به سر له اوسه د دموکراتیکو وټه ییزو (اقتصادي) او ټولنیزو اصلاحاتو په لاره کې د پرمختګ په لور روان شي. ده د ټولنیز او توکمیز نه برابرۍ د لغوې اعلان وکړ چې د ځمکې د اصلاحاتو د یو عادل بنسټ په جوړولو به افغان بزګرانو ته د دې توان ورکړي چې خپله ځمکه ولري. داود دا نیت هم څرګند کړ چې اداري فساد ته به د پای ټکی کېږدي او د سوداګرۍ پر سکتور او د خدماتو په بیه به حکومت کنترول ولري. نوموړي د ښه نیت نورې څرګندونې هم وکړې. که انصاف وشي، دا د یادونې وړ ده چې د خپلې واکمنۍ په بهیر کې ده په ډېر صداقت هڅې وکړې چې هغه اصلاحات تر سره کړي چې د واک په پرانیسته وینا کې یې ژمنې کړې وې.

د جمهوري نظام د بهرنۍ پالیسۍ په هکله په خپله یوه تبصره کې نوي مشر «له لوی شمالي ګاونډي» سره د اړیکو په مضبوطولو ټینګار وکړ او ویې ویل چې په هېواد کې د ننه به د هرې امپریالېستي هڅې پر وړاندې ودرېږي. د مسکو په ګټه پر بهرنۍ پالیسۍ ځکه ټینګار وشو چې د نوموړي واک ته رسېدنه د هغه ځوانو افسرانو له لوري غښتلې شوه چې په شوروي اتحاد کې یې زده کړې کړې وې او ډېری یې د ا خ د ګ غړي او کارمل ته ډېر نېږدې خلک وو. کله چې ولسمشرۍ ته ورسېد، داود اړ و چې دوی په لوړو دولتي څوکیو ونازوي.

بهرنیو هېوادونو ته د داود لومړنی یون (سفر) مسکو ته و. ده ته تود هرکلی وویل شو. له مسکو څخه د لیدنې په بهیر کې ډېرې غونډې ترسره شوې چې په ترڅ کې یې د افغان-شوروي هراړخیزو اړیکو د پراختیا تګ لورې وټاکل شو.

داود یو پوخ سیاستوال او هوښیار سړی و چې چارې یې واقعیتونو ته په پام په عملي توګه په هوښیارۍ ترسره کولې. نوموړي په یوه پرېکنده او سملاسي کړنه کې خپل سیاسي واک پر خپلو دوښمنانو ومانه. د اسلامي بنسټپالو ځپل یې لومړنۍ موخه وه. اسلامپستانو د هغه نجونو پر مخ تېزاب وشیندل چې حجاب یې نه اغوست. دوی ترهګریزې کړنې ترسره کړې او حتی د هېواد په ځینو سیمو کې یې د وسلوال مقاومت د ډلو جوړولو هڅې وکړې. داود د شرعیاتو د پوهنځي ریس او د «مسلمانو ځوانانو» توند لارې ډلې بنسټ اېښودونکی غلام محمد نیازي ونیو او بندي یې کړ. څو میاشتې وروسته د ۱۹۷۳ کال د دسمبر په میاشت کې یې یو بل اسلامي رادیکال مشر، حبیب الرحمن ونیو او په دې تور پانسي شو چې د رژیم د پرځولو دسیسه یې جوړوله. ملګري یې چې په دسیسه کې ښکېل وو په اوږده بند محکوم شول. دا د دواد د واکمنۍ وخت و چې پاکستان ته د اسلامي بنسټپالو تګ پیل شو، نه د ا خ د ګ د واکمنۍ پېر چې ځینې پرې ټینګار کوي. وروسته له یوې ناکامې هڅې چې د دولت ضد کړنې ترسره کړي، د ګلبدین حکمتیار او احمدشاه په ګډون د تونددلارو مسلمانانو یوې بلې ډلې هېواد پرېښود. په هغه وخت کې ډېرو لږو خلکو دغه ځوانان پېژندل، خو د شوروي اتحاد له پوځي مداخلې څخه وروسته، دغه تبعید شوي د وسلوالو ډلو او نومورو سیاستوالو ځواکمن مشران وګرځېدل.

په هغه وخت کې د شوروي ډيپلوماتانو او له مسکو څخه رسمي مېلمنو چې له کابل څخه ليدنې کولې، د اسلامي ارتجاع پر ضد د داود د کړنو په اړه حتی خپله خوښي نه پټوله. په مسکو کې ډاډګېرنه ډېره شوه چې «سور شهزاده» (دغه نوم ځينې ژورناليستانو پر داود اېښی و) چې شوروي پلوي ځوان سياستوال يې ملاتړي دي او د شوروي له لويې مرستې څخه برخمن دی، دې ته به ګروهنه (تمايل) ولري چې که سوسياليزم جوړ نه کړي، لږترلږه به داسې يوه ټولنه جوړه کړي چې پکې به د شوروي افغان ملګري سياسي پرېکړو ته بڼه ورکوي، يا په بل عبارت، په افغانستان کې د شوروي سيستم د پلي کولو يوه ناشونې هيله وزېږېده.

په حقيقت کې داود بېل پلانونه درلودل. ده هېڅ داسې نيت نه درلود چې د ټولنې بنيادي بنسټونه چې د ډېرو پېړيو په ترڅ کې يې خپله بڼه جوړه کړې وه بدل کړي. لکه يو ريښتينی ملتپال، ده د خپل هېواد دوديزې بڼې ته ډېر درناوی درلود. د نوموړي اصلاحاتو سياسي سيستم له کاره نه ايسته بلکې اصلاح کاوه يې. داود په خپله بهرنۍ پاليسي کې هڅه وکړه چې د لويو قدرتونو په منځ کې انډول وساتي او له دې څخه د خپل هېواد لپاره اعظمي ګټه پورته کړي. په کابل کې يوه ټوکه نوموړه وه: «داود د شوروي په اورلګيت امريکايي سيګرېټ بلوي» کله چې داود اسلامي راديکالو ډلو ته ماته ورکړه او د هېواد په شمال کې يې د توکميزو لږکيو پاڅونونه وځپل، ده پرېکړه وکړه چې له شوروي پلوه وزيرانو څخه ځان خلاص کړي، له هغه چا څخه چې د کودتا په وخت کې د ده متحدين وو.

نو په ۱۹۷۴-۱۹۷۵ کلونو کې د ا خ د ګ ډېرو غړو د وزارت او نورې لوړې دولتي څوکۍ له لاسه ورکړې. ځينې د سفيرانو په توګه بهر ته ولېږل شول او نور بېکاره په کور کې کښېناستل. ډېر شرموونکی ګوزار د داود په کودتا کې فعال ګډونوال عبدالقادر ته ورکړل شو. دغه پوځي پيلوټ د هوايي ځواکونو د قوماندان په توګه له دندې لیرې کړل شو او وروسته يوه ټيټه څوکۍ چې د افغان پوځ د کوتلځي (قصابخانه، مسلخ) قوماندانۍ وه ورکړل شوه. د څوکۍ له تنزيل څخه وروسته، قادر د داود پرضد د يوې نوې کودتا خبرې له خپلو نبږدې ملګرو- افسرانو سره پيل کړې. يو افغان ډېر څه
زغملی او ښبلی شي، خو نه يې پر عزت باندې تېری.

د وزيرانو او چپي ګوندونو د غړو ګوښه کول مسکو هک پک کړ. د شوروي کمونست ګوند په مرکزي کمېټه کې بيروکراتانو او د بهرنيو چارو وزارت يوازې انګېرنې کولې. داسې برېښېدل چې د مرکزي کمېټې نړيوالې څانګې د نوي افغان رژيم په اړه سمه ستراتيژي غوره کړې وه. شوروي ملګرو پرچمي او خلقي مشرانو ته په کلکه ټينګار کاوه چې «د خپلو انقلابي لېوالتياو کچه ټيټه او له نوي رژيم څخه، چې د اصلاحاتو پلوی دی، په خپلو ټولو  وسېلو ملاتړ وکړي.» شوروي مشرانو نه غوښتل چې خپل ستراتيژيک ليدلوری تر

پوښتنې لاندې راولي او له داود څخه ناهیلي شي؛ نو دوی وپتېیله چې ناهیلتیا ته لاره ورنه کړي. ډېرو لوړ پوړو بیروکراتانو چې د شوروي-افغان اړیکو په چارو کې بوخت وو، د داود دغه منطق ومانه چې لوړ پوړي چپیان گوښه کړي او په دې هکله یې ډېر فکر و نه کړ. د هغوی دلیل دا و چې د جمهوري انقلاب په دغه پړاو کې د پوځي افسرانو په پرتله چې یوازې ډېزو او مارش ته روزل شوي ډېرو  وړ او پوهو کسانو ته اړتیا وه.

په هغه وخت کې یو شمېر ځوان دیپلوماتان او څارگر کارکوونکي په کابل کې شته وو چې د پېښو په اړه یې ښه مالومات درلود. دوی پوهېدل چې د دویمې نړیوالې جگړې په بهیر کې داود، چې د کابل چوڼۍ قوماندان و، له نازیانو سره د همکارۍ پلوي کړې وه او دی داسې ساده نه و لکه کرېملېن یې چې د باور هیله کوله. دوی په دې هم پوهېدل چې د داود د رژیم په هکله هغه دقیق او کله کله غندوونکي راپورونه چې دوی مسکو ته لېږل، جگپوړو مشرانو ته نه رسېدل بلکې چاڼ به شول او بیا به د مراتبو په سلسلې چا ته ولېږل شول او چا ته نه. دوی وېره درلوده چې په مسکو کې اساسي لوبغاړي د ولسمشر داود او افغان جمهوري رژیم په هکله غلطې انگېرنې پالي او دا به د دواړو هېوادونو د مشرانو ترمنځ غلط پوهاوی رامنځته کړي. دغه وېره ژر په حقیقت بدله شوه.

د ۱۹۷۷ کال د اپرېل په میاشت کې کله چې ولسمشر له مسکو څخه رسمي لیدنه کوله، برېژنېف داسې انگېرله چې داود د شوروي اتحاد یو «ریښتینی ملگری او ورور» دی، د ملگرو ملتونو تر چتر لاندې د شوروي پولې په اوږدو کې د امریکایانو د «پلټنیزو فعالیتونو» په هکله یې خپله اندېښنه ښرگنده کړه. برېژنېف داسې شواهد لرل چې دا یې ثابتول چې د سي ای اې اجنټانو د «ملگرو ملتونو د کارکوونکو» په نوم هلته کار کاوه. دا طبیعي وه چې برېژنېف په نېغه خپلو څارگریزو مالوماتو ته نغوته (اشاره) نه شوی کولی. د برېژنېف د خبرو پر وړاندې د داود غبرگون په نابېره توگه له غوسې ډک و. نوموړي وویل چې په افغانستان کې کارپوهانو ته په بېلابېلو سیمو کې د اجازې ورکول او یا نه ورکول یوازې او یوازې د افغان حکومت صلاحیت دی او دی د دې تمه نه لري چې شوروي ملگري د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس ووهي. برېژنېف دغه ردونه په زغم ومنله، خو د خبرو اترو په ترڅ کې دا ردونه وروستۍ نه وه. برېژنېف هغه کاغذونو ته په کتو سره چې مخکې ترمخکې ورته لیکل شوي وو، له افغان ولسمشر څخه وپوښتل چې له ا خ د گ سره د اړیکو د پاللو څه نیت لري. عمومي منشي دې ته د یوې بې غرضه پوښتنې په سترگه کتل، خو داود بیا په غوسه شو او په یوه غیر طبیعي ځواب کې یې وویل: « د هېوادونو تر منځ د ملگرتیا اړیکې منځگړي ته اړتیا نه لري.» برېژنېف چې د خپل سیال د ځواب تونده بڼه ولیده، نور فشار یې پرې وانه چاوه. دغه پېښې پر ځینو شوروي مشرانو اغېز وکړ او داسې اندېښنې یې راپورته کړې چې افغان ولسمشر د ا خ د گ د فعالیت د محدودولو او یا د دغه گوند د ړنگولو نیت لري؛ نو له اندېښنې څخه دا پتېینه وزېږېدله چې په فعاله توگه د خلق او پرچم د یووالي په لومړي پړاو فشار واچوي څو د یو متحد

او ځواکمن ګوند په توګه د یوه مشروع سیاسي ځواک په بڼه د داود له واک سره انډول برابر کړي.
هغه اړنګونه (شکونه) چې د اپرېل خبرو اترو په ترڅ کې راپورته شول تر یوې کچې یې له داود سره د شوروي مشرتابه د « وروروليِ مینه» سړه کړه، خو د افغانستان جمهوري رژیم د ملاتړ په عمومي ستراتیژۍ کې څه بدلون را نه غی. کله به چې د افغانستان په هکله د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو په وازرت کې خبرې کېدې، کارکوونکو افغانستان، فنلند ته ورته هېواد باله چې یو بې پلوه داسې ملګری هېواد و چې د سیاست وړاندلیدنه یې کېدای شوی.
شوروي اتحاد په خپله سوبلي زیانمنوونکې پوله کې د ناڅاپه تاوتریخوالي د رامنځته کېدو غوښتونکی نه و.

لیف نیکولایوویچ ګرېلوف Lev Nikolayevichb Gorelov کابو درې کاله د افغانستان د وسلوال پوځ لپاره د شوروي سلاکارانو د ماموریت مشر و. هلته د نومړي چوپړ له هر ډول ستونزو او ننګونو تش و. په افغان پوځ کې ټولې وسلې، له ټوپک څخه نیولې تر توغندي پورې په شوروي اتحاد کې جوړې شوې وې او ډېری افغان افسران د شوروي په پوځي اکاډمیو او ښوونځیو کې روزل شوي وو. ډېرو افسرانو په روانه روسي ژبه خبرې کولې، د وتکا څښل یې خوښېدل او په خوښۍ یې په شوروي اتحاد کې د زده کړې کلونه او په ځانګړې توګه شوروي نجونې یادولې. د ګرېلوف د یوه لاس لاندې کیسه چې د رېزن Ryazan په روزنیز پراشوټي مرکز کې یې زده کړې کړې وې، تل د جنرال په ذهن کې پاتې وه. دغه افغان افسر ویلي وو: «ملګری جنراله، د دې تصور کولی شې؟ زه یو ځل په مسکو کې وم. د هوا درجه شاوخوا منفي دېرش درجې وه او یوه ښځه مې ولیده چې ایس کریم یې خرخول. د وړیو غټې موزې یې په پښو وې، یو بالاپوښ یې په تن او یو کابو سپین مختاړي ( پېشګېرک) یې لویه سینه پټه کړې وه. زه ورنېږدې شوم او د ایس کریم پېرودلو غوښتنه مې ترې وکړه. نومړې حیرانه شوه او له ما څخه یې وپوښتل: «په تا څه شوي، موګلي Mowgli• په داسې کنګلیزه هوا کې به ایس کریم په غاښو حتی مات نه شي کړی.» بیا یې یو د وتکا یخ بوتل، دوه ګیلاسونه او د اچارو یوه ټوټه له ډوډۍ بکس څخه راوایستل. ما وتکا وڅښله او په سختۍ مې

• د کلیپلینګ Klipling (لیکوال) د ځنګل په کیسو کې د یو هلک نوم (ژباړن)

www.samsoor.com

له یوې ټوټې اچار څخه کپ وکړ. دې هم له ما سره وڅښل خو اچار یې ونه خوړل؛ نو زموږ لیدنه په دې توګه وه. بیا یې کور ته بلنه راکړه. ته پوهېږې، ملګریه، زه نه پوهېدم چې حتی داسې خلک هم شته.»
ګرېلوف او مرستیالان یې د افغانستان بېلابېلو سیمو ته پرته له کوم خنډ څخه تلل. دوی به د پوځي اډو لیدنه کوله

او هېڅ کله یې له ځان سره وسلې نه ګرځولې. کله کله چې چېرته یې د ښکار پلان درلود، یو په توله Tula کې جوړ شوی اوږد ټوپک به یې له ځان سره واخیست. ډېری وخت به کابل ته څېرمه په یوه ډنډ کې د هیلی ښکار ته تلل. کله کله به د ولسمشر ورور، نعیم، چې د ښکار ډېر شوقي و، له دوی سره یوځای شو. دوی به د هېواد شمال ته، د شوروي پولې ته څېرمه، لاړل چې ځنګلي سرکوزي ښکار کړي، خو د شکوڼ ښکار ورته ډېر په زړه پورې و. شکوڼ چې د ماښامنۍ لپاره به پوخ شو دومره ښه هوسانه نه و، خو د ملګرو د راغونډېدو او له بېلابېلو مهمو خلکو سره د اړیکو د جوړېدو وجه به وګرځېد. پرته له ښکار څخه هېڅ کله وسلې ته اړتیا نه پېښېدله. شوروي جنرالان او افسران به چې هر ځای ته تلل، دوی ته به تل تود هرکلی ویل کېده. ولسمشر داود به خپلو مامورینو ته ویل چې که د شوروي تبعې یو وېښته ضایع شو، مجرم ته به د مرګ سزا ورکول کېږي.

جنرال ګرېلوف یو غوریالی او ټینګی (ځان ښودونکی) جنرال نه و. دی یو پخوانی پراشوټي و چې په بېړنیو پوځي حالاتو کې یې تجربه حاصل کړې وه، په لیرې پرتو اډو کې یې چوپړ کړی و او په خطر پوهېده. نوموړي ۵۱۱ بریالي پراشوټي دېسانتونه کړي وو او یونیفورم یې په ډېرو اعزازي پیتو ښکلی شوی و. په ۱۹٦۸ کال کله چې شوروي پر چکسلواکیا یرغل وکړ، ده د پراشوټي فرقې مشري کوله – خو دی نه غواړي د دغه یرغل یادونه راژوندي کړي. اووه کاله وروسته په ۱۹۷۵ کال نوموړي د څوارلسم پوځ د قوماندان د مرستیال په توګه دنده ترسره کوله چې ناڅاپه د شوروي وسلوال پوځ د لوی درستیز دفتر له خوا یوې غونډې ته ور وغوښتل شو. ده ته لوی درستیز مارشال کولیکوف Kulikov هرکلی وویل: «ته په افغانستان کې د پوځي سترسلاکار په توګه وګمارل شوې. د شوروي اتحاد د پوځي شتون او مرستې د پراختیا په رڼا کې، ته به د پوځیانو د روزنې او پوځي واحدونو د جوړونې مسولیت په غاړه ولرې - دا په یاد ولره چې سیاست به نه کوې.» مارشال په خپل لوی دفتر کې ګامونه اخیستل او پر مېز باندې دوه درجنه بېلابېلو تیلفونو ته یې په کتو وویل: «کېدای شي د افغانستان حالات لومړی ساده ښکاره شي، خو د پردې تر شا ډېر په زړه پورې بهیرونه موندل کېدای شي. ځايي افسران بېلابېلو لوریو ته کش کول کېږي. ولسمشر داود غواړي چې دوی یې پلوي وکړي، خو افغان کمونستان د پوځ په هکله خپله اجندا لري. کله چې هلته لاړې، ته به په خپله پرې پوه شې.»

کله چې ګرېلوف کابل ته ورسېد، ولسمشر داود سمدلاسه لیدنه ورسره وکړه. جنرال یې د افغانستان د پوځ اعلی سر قوماندان ته ور وپېژانده او د بریا هیله یې ورته وکړه. ده ته یې په مکرویانو کې یو لوی اپارتمان او یو ګاډی ورکړ او یو ژباړن یې هم ورته وګماره.

لېف نیکولایوویچ د ا خ د ګ په شتون خبر و، خو د مارشال امر ته په پام سره هڅه یې کوله چې له سیاست نه لیرې وګرځي او خپلو افسرانو ته یې هم امر وکړ چې همداسې وکړي. په هغه وخت کې له ۳۰۰ څخه ډېر پوځي سلاکاران په افغانستان کې وو چې ډېری یې په دې هېڅ نه پوهېدل چې په افغان ټولنه کې ځینې تباه کوونکي سیاسي ځواکونه مخ پر ودې دي.

جنرال ګرېلوف او اړوند کسانو یې خپل کارونه له دوی څخه بېل کړل. که څه هم افغان پوځ په پوځي پربېټ کې ښه وتلی و، خو د دوی پوځي روزنه او د عصري وسلو او تکتیکونو په کار اخیستنه کې د دوی لاس بري کمزوري بربښېدله؛ نو شوروي سلاکاران اړ شول چې د دوی روزنه له اساساتو څخه پیل کړي. دوی پر خپلو زده کوونکو درسي کتابونه لوستل او بیا یې په بېلابېلو پوځي تمرینونو کې پرې پلي کول. له پوځي روزنې سربېره، شوروي سلاکارانو باید د پوځیانو ورځنې ژوند ته پام اړولی وی. کله چې دوی کابل ته لاړل، هک پک شول چې په افغان پوځ کې حتی اړین لومړني بارکونه نه شته وو. عسکر پر غولي او یا پر ځمکه ویده کېدل. ډوډی یې په اور پخوله او هر څه یې چې لاس ته ورتلل هغه یې خوړل. ناوړه فزیکي چلند خورا پراخه و. یو افسر به د خپلو لاس لاندو په ډبولو کې هېڅ د زیاتي ننګېرنه نه درلوده. پخپله ټیټ پوړي افسران د جګړن او جنرالانو تر وهلو لاندې راتلل.

دوه میاشتې مخکې ګرېلوف د ډګرجنرالۍ رتبې ته ترفېع کړې وه. ده د افغان پوځ ترټولو درنو مشرانو ته بلنه ورکړه چې خپله ترفېع ونمانځي. افغان دود ته په درناوي سره چې الکول پکې منع وو، ماښامنۍ په یوه کوټه کې جوړه شوې وه او څنګ ته یې په بله کوټه کې الکول پر مېز ایښي وو. ګرېلوف پوهېده چې له دغه منعې سره سره یې افغان همکاران په چوپتیا چې څوک یې ونه ویني د یوې یا دوو پیالو په څښلو خوا نه بدوي. دوی به یو پر بل پسې بلې کوټې ته لاړل او بېرته به خوشاله د ماښامنۍ مېز ته کښېناستل.

پتېیل شوې وه چې د «سوداګرۍ ټولنې» دودیزه غونډه په سفارت کې د اپرېل په ۲۹مه ونیول شي. د «سوداګرۍ ټولنې» نوم هغه غونډو ته ورکړل شوی و چې د شوروي کمونست ګوند هغه غړو جوړوله چې په افغانستان کې یې د شوروي په سفارت کې دنده ترسره کوله. له پوځي سلاکارانو څخه دوه بسونه په مکرویانو کې ډک شول چې سفارت ته لاړ شي. ګرېلوف او مرستیالان یې په یو والګا کې د دارلمان واټ په لور روان شول. د لارې په نیمایي کې د دوی کتار له لوی لاریون سره مخ شو. په زرګونو افغانان د ښار مرکز په لور روان وو، توغونه یې رپول او شعارونه یې ورکول. سلاکاران بالاخره په سختۍ سفارت ته ورسېدل.

www.samsoor.com

سفیر یو له لومړیو کسانو څخه و چې په غونډه کې یې خبرې وکړې. هغه وویل چې د پرچم ډلې مهم چپي ایډیالوجست میراکبر خیبر وژل شوی او لاریونوال یې پړه پر حکومت اچوي. سفیر پوزانوف Puzanov خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ: «خو موږ داسې مالومات لرو چې خیبر په خپله په ا خ د ګ کې د توطیې قرباني شوی. کېدای شي خلقیانو وژلی وي. د څه لپاره؟ موږ باید پایلې ته له رسېدو مخکې ډېر فکر وکړو، ملګرو.»

د اپرېل په ۲۷ سهار ګرېلوف له مکروریان څخه سفارت ته روان شو. د نوموړي ځینو مامورینو ته په سفارت کې ځای ورکړل شوی و. ده ته مخکې ځینو پوځي سلاکارنو اندېښمنوونکي خبرداري ورکړي وو. ظاهراً د کابل چوڼۍ په ځینو برخو کې لمسونونه روان وو، د غیرمعمولو کړنو ګنګوسې راپورته شوې وې. شکمنو خلکو چې لمسوونکي برېښېدل افسران لمسول چې په یوه پاڅون کې برخه واخلي. د اپرېل په شپږویشتم ماښام افغان اجنټانو سفارت ته مالومات ولېږل چې د ا خ د ګ ځینې مهم مشران ونیول شول. جنرال ګرېلوف اندېښمن و. ده وننګېرل چې خطرناکې پېښې په رامنځته کېدو دي؛ نو دا یې اړین وګڼل چې په سفارت کې له دیپلوماتانو سره سلا وکړي. د سفارت په لاره کې نوموړي د شوبلو یو کتار ولید چې د ښار مرکز په لور روان و. نوموړی ځک شو او له ځان سره یې فکر وکړ: «عجیبه ده، دا چېرته روان دي؟» د منظور شوي پلان پر بنسټ، په ډګر کې پوځي تمرینات په پلان کې وو، خو شوبلې د پلازمېنې په مرکز کې باید نه وی. کله چې سفارت ته ورسېد، ګرېلوف سمدلاسه خپل درستیزوال، ډګروال ستوپکو Stupku ور وغوښت او ترې ویې پوښتل: «دا شوبلې په ښار کې څه کوي؟ چا د دې امر ورکړی؟» ډګروال چې نوی کابل ته راغلی و او له حالاتو خبر نه و، ځواب ورکړ: «نه پوهېږم.» جنرال امر ورکړ: «نو لاړ شه په اړه یې مالومات پیدا کړه. دا ستا مسولیت دی. زموږ ملګرو له افغان پوځي فرقو څخه څه راپورونه ورکړي؟» ستوپکو په دې هم نه پوهېده.

وروسته کله چې د ورځې په اوږدو کې د پېښو په هکله مالومات راغونډ او وسپړل شول، دغه پایله ترې راووته: د څلورم زغروال غونډ پوځي سلاکار ډګرمن یژکوف Yezhkov سهار وخته له ستوپکو سره اړیکه نیولې وه. نوموړي راپور ورکړ« چې د ځینو مالومو افسرانو - خلقي وطنجار او مزدوریار- تر قوماندې لاندې د شوبلو یو کنډک له غونډ څخه ووت» د یژکوف غږ له اندېښنې رېږدېده. ده خپلو خبرو ته دوام ورکړ: « او شوبلې له ژوندیو ګولیو څخه ډکې دي.» ډګروال ستوپکو دغه سلاکار وترټلو او مخکې له دې چې غوږ‌ی کېږدي ورته ویې ویل چې «برغزووې (بې مانا خبرې) مه وایه او د چا په کار کې غرض ونه لرې.»

ګرېلوف تیلفون ته لاړ، خو په مکروریانو کې له خپل مرکز څخه یې څه نوي مالومات ترلاسه نه کړل. د ده کارکوونکو ده ته نوي مالومات نه لرل. دوی د پوځیانو له خوځښت څخه چې پرته له امر څخه وتلي وو خبر وو او هڅه یې کوله چې د وضعیت په اړه پوه شي چې څه پېښېږي، خو د دوی اړیکې له یو شمیر شوروي افسرانو سره غوڅې شوې وې. بیا له کورني مزي څخه په کار اخیستنې، ګرېلوف سفیر ته زنګ وواهه، خو

هغه نه شته و. د هغې ورځې په لومړیو کې الکساندر میخایلویچ پوزانوف هوایي ډګر ته تللی و چې له هغه شوروي پلاوي سره مخه ښه وکړي چې د افغان- شوروي پولې د یو شمېر برخو د نښه کولو لپاره خبرو اترو ته راغلی و. سفیر ډېر ژر بېرته راغی او ډېر وېرېدلی ښکارېده. په ښار کې د زغروالو ګاډو او شوبلو له امله خوځښت سخت و. پوزانوف جنرال ګرېلوف ته سپارښتنه وکړه چې د پوځیانو سره له خپلو اړیکو ګټه واخلي او ترې وپوښتي چې څه خبره ده؟ جنرال د څلورم زغروال غونډ سلاکار ډګرمن یږکوف ته زنګ وواهه. نومړي وویل: «د جګتورن اسلم وطنجار په مشرۍ د شوبلو یو کنډک پرته له اجازې ووت او د ولسمشرۍ ماڼۍ او د دفاع وزارت لارې یې بندې کړې دي. د هوایي ډګر د ناستې لیکه هم نیول شوې.» بیا جنرال ته د پنځلسم زغروال غونډ له سلاکار څخه زنګ راغی او ویې ویل چې د غونډ شوبلې د ښار په لور رواني دي. جنرال، سفیر ته وویل: «اړینه نه ده چې سړی باید د ماغزو جراح وي څو پوه شي په کابل کې یوه ریښتینې کودتا روانه ده.» پوزانوف سربداله شو، خو د پټولو پروا یې نه لرله. ده وپوښتل:«څه باید وکړو، لېف نیکولایوویچ؟» ګرېلوف ځواب ورکړ: «موږ ګورو چې څه پېښېږي، الکساندر میخایلویچ، بل څه کولای شو؟ موږ به وضعیت څارو او هر یو به خپل مشر ته راپور ورکوو. موږ په دې کې لاس نه وهو، پرېږدئ چې دوی یې پخپله سره شل کړي.»

په دې ننګېرنه (احساس) چې وضعیت په خرابېدو دی، پوزانوف د ډیپلوماتیکو چارو سلاکار نووکرېشنوف Novokreschenov ته زنګ وواهه چې په افغانستان کې د بېلابېلو شوروي ډلو مشرانو ته خبرداری ورکړي چې راغونډېدو ته تابیا ونیسي. بیا نووکرېشنوف د ډیپلوماتانو او نورو مامورینو یوه غونډه جوړه کړه چې په دغسې استثنایي حالاتو کې د کار په ښه خبرې وکړي. کله چې غونډه پیل شوه، نووکرېشنوف له سیف څخه هغه پلان راوایست چې په بیړنیو حالاتو کې ترې کار اخیستل کېده. په دغه پلان کې د هغه پروتوکول پلي کول وو چې په جګړه او یا پوځي عملیاتو کې د ډیپلوماتیکي ماموریت د یرغمل نیولو هڅې کېږي. دلته ډیپلوماتانو په ورکړل شوو دندو خبرې پیل کړې. یوه معزز او د تجربې خاوند ډیپلومات ته له ټېپانو سره د طبي مرستې دنده سپارل شوې وه. دغه ډیپلومات چیغې پیل کړې: «زه له وینې وېرېږم! کله چې وینه وینم، بې هوښه کېږم!» نووکرېشنوف پرته له دې چې خپله غوسه پټه کړي، په ترخه ښه یې ورته وویل: «دلته وګوره، وګوره! دا د چا لاسلیک دی؟ ستا دی؟ ورته وګوره، د چا لاسلیک دی؟» دغه ډیپلومات ورته وویل: «سمه ده، هو زما دی، خو کله چې ما لاسلیک کاوه، زه هېڅ په دې باور نه وم چې داسې څه ته به اړتیا پېښه شي.» نووکرېشنوف په یوه وچه تبصره کې وویل: «وګورئ ملګرو! ستاسې مخ ته یوه نمونه چې بیړنیو حالاتو ته په تابیا کې داسې ارتاویز او غیرمسولانه چلند کېږي.»

www.samsoor.com

کله چې دغه ګېډوډه غونډه مخته روانه وه، سفیر د کې جي بي او جي ار یو GRU (د شوروي پوځي څارګره اداره. ژباړن) مشران خپل دفتر ته راوغوښتل چې د حالاتو په هکله د دوی په اند پوه شي. اوسادچي وویل: «تېره شپه موږ مالومات ترلاسه کړل چې د داود پر ضد یو پاڅون په لاره دی. موږ د دغه راپور په هکله مرکز خبر کړ.» د اوسادچي د خبرو بڼه ارامه وه، خو پوزانوف فکر وکړ چې نوموړي په داسې بڼه خبرې وکړې لکه دی چې ترې لوړپوړی وي. اوسادچي خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «پرون دا څرګنده نه وه چې مخالفین به پاڅون وکړي، خو سهار وخته موږ د دوی د نیت پخلی ترلاسه کړ. دغه مالومت مو مسکو ته ولېږل.»

د جي ار یو مشر کونټر ادمېرال پېچېننکو Pechenenko او اوسادچي یو او بل ته وکتل پرته له دې چې د سفیر ورته پام

شي. همدغه سهار وختي اوسادچي خپل د جي ار یو همکار د محمود له راپور څخه خبر کړی و. پېچېننکو سمدلاسه خپلو لاس لاندو ته خبر ورکړ چې اړوند مالومات راغونډ کړي. د دې باور برعکس چې د کې جي بي او جي ار یو افسران له یو بل سره د دوښمنۍ او رخې (حسد) ننګېرنې لري، په کابل کې دغه دوې څارګرې ادارې چې کارکوونکو یې د سفارت د مامورینو په پلمه خپلې دندې ترسره کولې له یو او بل سره په مسلکي او درانه چلند اوسېدلې ځکه چې مشرانو یې د ملګرتیا اړیکې درلودې.

د ۱۰ بجو ۳۰ دقیقو په شاوخوا کې یو ژوګولي Zhiguly ګاډی کوږ ووړ د سفارت دروازې ته راغی. د سفارت یو کارکوونکی په بیړه له ګاډي څخه ښکته او د سفارت د ننوتنې دروازې په ټکولو یې پیل وکړ. کله چې دروازه پرانېستل شوه او ګاډی د سفارت انګړ ته د ننه شو، د صحنې لیدونکي د ګاډي په لیدو هک پک شول. د ګاډي د ښي لوري شاتنۍ او دواړه مخکنۍ دروازې نه شته وې. د سفارت دغه کارکوونکی چې چټکه ساه ایستله په منډه سفارت ته د ننه شو او ویې ویل کله چې دوی د ارګ له څنګه تېرېدل، یو ټانک پر ارګ، د ولسمشر پر استوګنځي، ډز وکړ. دغه ډز نوموړی ګنګس کړ او د ګاډي دروازې یې والوزولې. هغه مرستیال چې په سفارت کې نوکري و، پوځي اتشې ته غبر کړ. نوموړی د سفارت دالان ته راغی او دغه جګړن یې چې خبرو یې تسلسل نه درلود له ځان سره دفتر ته بوت چې مالومات ترې واخلي. سفارت ته د مالوماتو رارسېدل کرار کرار پیل شول. د ښار له بېلابېلو برخو څخه شوروي کارپوهانو سفارت ته زنګونه وهل او په همغو ځایونو کې یې د پېښو په اړه مالومات ورکول. د سوسیالېستي هېوادونو له سفارتونو څخه دیپلوماتانو زنګونه پیل کړل چې د پاڅون په هکله نور مالومات ترلاسه کړي او په هغه واټونو کې چې د دوی سفارتونه وو د پېښو په اړه مالومات ورکړي. کوم مالومات چې د شوروي پوځي سلاکارانو له لوري ورکول کېدل په ځانګړې توګه ارزښتمن وو. دوی راپور ورکړ چې د بغاوت مرکز د کابل هوايي ډګر ته څېرمه د هوايي او دافع هوا ځواکونو په مرکزي قوماندانیو کې دی. ډګروال عبدالقادر چې د هوايي او دافع هوا ځواکونو قوماندان ګمارل شوی و د پوځي برید قومانده پر غاړه درلوده. داسې ښکارېدل چې پر

ولسمشرۍ ماڼۍ باندې د شوبلو لومړنی برید د ګارد پوځیانو شاته وتمباوه، خو داسې بریښېدل چې دا ناشونې وه چې بغاوت کوونکي د رژیم له پرځولو لاس واخلي. جنرال ګرېلوف په ځانګړې توګه دغه خبر اندېښمن کړ چې بغاوت کوونکو پر دفاع وزارت ډزې کړې دي. هلته شاوخوا شل شوروي سلاکارانو او ژباړنو دنده درلوده. په دوی به څه شوي وي؟ وژل شوي؟ ټپیان دي؟ وروسته څرګنده شوه چې د لوی خطر سره سره، یوه ته هم زیان نه و رسېدلی. د غرمې په شاوخوا کې شوروي افسرانو له بهر څخه یو عجیبه درونډ غوراري واورېد. لومړی دوی فکر وکړ چې د درنو ګاډو کتار تېرېږي، خو کله چې دوی له کړکیو څخه وکتل، شاوخوا سل شوبلې یې دفاع وزارت ته مخامخ چې له ارګ څخه څه ناڅه ۱۰۰ متره لیرې و ولیدلې. ځینې یې په اوچت غوراري د پښتونستان څلورلارې په لور روان شول او پاتې یې هملته ودرېدل. یو چا په اړنګ پوښتنه وکړه: «دوی په دې بڼه پوځي تمرینونه ترسره کوي، همداسې نه ده؟» یو شمېر افسرانو چې تجربه یې ډېره وه په ځواب کې ورته وویل: «د څې شي پوځي تمرینونه؟ داسې ښکاري چې ډېر ژر به اور بل شي، هلکانو.»

په غرمه کې یوې شوبلې خپل ماشینګنه تاو کړه او پر ولسمشرۍ ماڼۍ یې ډزې پیل کړې. یوې بلې شوبلې خپل میل د دفاع وزات په لوري تاو کړ او نبغ ډز یې پرې وکړ. شوبلې د لوی درستیز دفتر نښه کړی و، خو پر ځای یې ګولۍ د کیمیاوي چوپړونو پر کوټه ولګېده، وېره خوره شوه، ټپیانو زګېروي کول او دالانونه له لوګي او لوخړو ډک شول. شوروي سلاکارانو انګړ ته منډې وکړې. لوی درستیز عبدالله روکی چې له سلاکارانو سره بهر و په چیغه یوازې یوه کلیمه روسي « Domoi کور ته لاړ شئ» وویله. ده یو ژباړن ته چې له څنګه یې تېرېده لاس کړ او ورته ویې ویل چې دوی ته یو بس بهر تم دی چې مکروریانو ته یې ورسوي. شوروي افسران په خوندي توګه له دې ځای څخه وایستل شول او بغاوت کوونکو په دوو بجو د دفاع وزارت ونیو. د دفاع وزیر غلام حیدر رسولي اتمې فرقې ته چې کابل ته څېرمه په پغمان کې وه تللی و.

په داسې حال کې چې په دفاع وزارت کې کړکېچ خپلې تر ټولو اوچتې کچې ته رسېدلی و، د جرمني فدرالي جمهوریت د سفارت پوځي اتشې راورسېد چې له دفاع وزیر سره یوه پلان شوې غونډه ترسره کړي. د غونډې وخت یوه بجه ټاکل شوی و او دغه حاضر وخته اتشې ټیک په یوه بجه راورسېد. که څه هم له زغروالو ګاډو څخه ډکې څلورلارې او په ګولیو نیمه ړنګه د دفاع وزارت ودانۍ دی هک پک کړ، خو وار یې خطا نه کړ او د وزات دروازې ته نږدې شو. هلته له څو افسرانو سره مخ شو او د خپل راتګ موخه یې ورته وویله پرته له دې چې ځان پوه کړي چې دا یاغیان او یا حکومت ته وفادار افسران دي. ده ته په ادب غوږ ونیول شو او ورته وویل شول چې بل وخت راشي ځکه چې د دغه ورځې ټولې غونډې کنسل شوي دي.

د یوې او دوو بجو تر منځ یو وېروونکی تندریز توپان پیل شو*. کومه تیاره چې پر ښار خوره شوه هغه لوګي نوره هم وېروونکې کړه چې په ښار کې له اورونو اوچتېدله. کله کله به داسې ښکارېدل چې نه یوازې د شوبلو، هاوانونو او ماشینګنو ګولیو د ولسمشرۍ ماڼۍ په نښه کړې وه بلکې په خپله اسمان هم هڅه کوله چې ړنګېدونکې ماڼۍ پر برېښنا وولي. دا ناشونې شوه چې د توپخانې او تندر د غړومبهارې تر منځ توپیر وشي ځکه چې دواړه به یو ځای شول او په یوه بې کچې ازانګې به بدل شول. کله چې توپان لږ شو، د لوګي او وربځو تر شا په شنه اسمان کې جنګي جېټ الوتکې وځرکېدې.
له درېنیمو بجو څخه ولسمشرۍ ماڼۍ د دوامداره MIG-21 ،SU7Bs د توغندیو تر بمبارۍ لاندې ونیول شوه او پوځي چورلکو هم په بریدونو کې برخه اخیسته. جنګي جېټ الوتکو د ښار پر سر الوتنې کولې. د کومې نه لېدونکې اشارې سره سم به په ډلو ووېشل شوې، پر ارګ به راښکته شوې، د توغندیو ډزې به یې وکړې او بېرته به اوچتې والوتې.
یوه الوتکه چې د رېشخور پر سر یې ټیټه الوتنه کوله، له یوې پلې فرقې څخه له ځمکې نه هوا ته د توغندي پر ډز ولګېده. پیلوټ یې په پراشوټ کې ښکته شو.
د افغانستان په جمهوریت کې د شوروي اتحاد لوی او واکمن سفیر الکساندر میخیالویچ پوزانوف یو د تجربې خاوند دیپلومات او بیروکرات و. کله چې ځوان و، پخپله ستالین نوموړی ته د کوبېشېف Kuibyshev د سیمې د کمونست ګوند د مشرۍ څوکۍ ورکړې وه. دی له برېژنېف سره یو ځای د کمونست ګوند په نوولسمه کنګره کې د مرکزي کمېټې غړی شوی و او په کابل کې د سفیر په توګه د دندې پر مهال هم د مرکزي کمېټې غړی پاتې و. لنډه دا چې پوزانوف درې
لسیزې د شوروي اتحاد یو له سیاسي نخبه ګانو څخه و.
پوزانوف خپلو کارکوونکو ته د خپلو تېرو یادونو له کیسو څخه خوند اخیست: «کله کله به لیونېد ایلیچ برېژنېف زه په خوښۍ خپل حضور ته ومنلم. ما به خپل راپور د هغه وخت په بهیر کې ورکړ چې ماته ټاکل شوی و. کله به چې اوچتېدم چې لاړ شم، برېژنېف به ما ته اجازه نه راکوله او ویل به یې: «چېرته دې بیړه ده، لږ پاتې شه، راځه چې بنډار وکړو.»
داسې برېښېدل چې عمومي منشي د ستالیني مکتب یو سوچه نسلی په پوزانوف کې لیدلی و. دی د کمونست ګوند یو ریښتینی وفادار او ژمن غړی و او خپل ګوند ته یې په ټولو هغو څوکیو کې چوپړ وکړ چې ده ته ورسپارل شوې وې. کله کله به یې پرته له کوم دلیله له کابل څخه برېژنېف او نورو لوړپوړو مشرانو ته د خوږو انګورو، کندهاري غټو انارو، نازک پټوکي کینو او د بېلابېلو طبیعي (چې کمیاوي سره او دارو یې د ودې لپاره نه وو کارول شوي) سابو غوټې لېږلې.

* دلته لیکوالان غواړي د د تندریزه توپان د راتګ په ریښتیاوالي ټینګار وکړي. دا یو ادبي چل نه دی چې د دغو حالاتو غمیزه ډېره وښیي، بلکې یوه پېښه چې په هوا پېژندنه کې یې پخلی کېدای شي.

الکساندر میخیالویچ د خپل ژوند په بهیر کې په ډېرو مهمو څوکیو کې دنده ترسره کړې وه. نوموړی د یوې مودې لپاره د روسیې د فدراسیون د وزیرانو شورا رییس و. وروسته شمالي کوریا، بلغاریا او یوګوسلاویا ته د ډیپلوماتیکي ماموریت مشر وټاکل شو. نوموړي د بلغاریا د کمونست ګوند له عمومي منشي، تېودور ژېفکوف Todor Zhivkov سره د ملګرتیا له نکلونو خوند اخیست، خو ګنګوسې داسې وایي چې ژېفکوف له برېژنیف سره په یوه شخصي لیدنه کې له ده څخه وغوښتل چې پوزانوف په بلغاریا کې د شوروي اتحاد د سفیر په توګه لیرې کړي.

الکساندر میخیالویچ دوې مشغولاوې درلودې چې د سفارت مامورینو ته ښې څرګندې وې. دی به د جمعې په شپو (په اسلامي هېوادونو کې د جمعې په ورځ رخصتي وي) د نغلو ډنډ ته د کب نیولو لپاره ته. دغه ډنډ د کابل او جلال اباد ترمنځ په نیمایي لاره کې پروت دی. له ده سره به ډېری وخت chef d'protocol Slava، محاسب، د ده اشپز، قونسل او یو څارګر افسر مل وو. (د کوم لامل له مخې پوزانوف په دې اند و چې د کې جي بي اجنټ یوه دنده دا ده چې د ده امنیت ونیسي.) د خپلو کارکوونکو سربېره، کله کله به یې د بلغاریا سفیر ستویانوف Stoyanov ته هم بلنه ورکړه. که ستویانوف نه غوښتل او یا یې نه شوای کولای، ده به د بلغاریا د سفارت اتشې کولیا پوپوف Kolya Popov ور ولېږه. نوموړی د هغه نومور جنرال پوپوف زوی و چې په دویمه نړیواله جګړه کې یې د بلغاریا تزار ونیو. د کولیا کب نیول نه خوښېدل او چې دا وښیي، هیڅ کله یې له ځان سره د کب نیولو سامان نه راووړ. بې اړنګه، نوموړی یوازېنی کس نه و چې نه یې غوښتل کب نیولو ته لاړ شي، خو چا د شوروي اتحاد سفیر ته «نه» نشوی ویلی. د دوی د اونیزه کب نیولو یون تر ټولو مهمو مناسکو څخه یو دا و چې د سهار په څلور بجو به سباناری هغه وخت تیار و کله به چې د ګاډو کاروان د نغلو د برېښنا بند بل لورې ته د څارنې سپاچې ته ورسېد. د سفیر ګاډی چلوونکی، پېټرو Petro لکه د سرکس سحرګر دسترخوان به یې پر ځمکه هوار کړ او بیا به یې پر هر ګوټ باندې یوه تیره کېښوده. وریسې به اشپز او محاسب خوندور هم ham (د سرکوزي د ورانه مالګینه یا په لوګي وهل شوې غوښه. ژباړن) نرۍ نرۍ غوټه کړه، د سرکوزي د ژبې د غوښې جلې شوې او د باتینګنو په لعاب کې د سټرجن (یو ډول کب. ژباړن) کوتي به یې پرانیستل او توره ډوډۍ او تازه سابه لکه بادرنګ، باتینګې، تربوچې (سرې مولۍ)، نېش پیاز به ورسره وو. له تودې وتکا څخه پرته نور هر څه خوندور وو. پېټرو به له پیالو سره د وتکا بوتل د ګاډي له ټولبکس څخه راوایست. هر چا ته به له تاوده وتکا یوه پیاله تر ژۍ پورې ډکه شوه. الکساندر میخیالویچ به د بریالۍ کب نیونې په هیله پیاله پورته کړه او هر یو باید خپله ټوله پیاله څښلې وی، د ټولې پیالې نه څښلو ته اجازه نه وه. سفیر د عادت له مخې د خلکو د څښاک بنې ته پام کاوه.

الکساندر میخیالویچ پوزانوف یوه بله ساده مشغولا هم درلوده. نوموړي به د ماښامه لوړپوړي ډیپلوماتان وهڅول چې د ده کور ته ورشي او له ده او ښځې سره یې د پچې لوبه وکړي. په نورماله توګه د ده ملګرو به داسې ښودله چې بله هېڅ لوبه دومره خوندوره نه ده لکه د کتان له کڅوړې څخه چې شمېرې لرونکې مردکۍ راوباسي او بیا یې شمېره په اوچت غږ ووايي. ډېرو لږو ډیپلوماتانو دې ته زړه ښه کاوه چې د ده دغه عجیبې مشغولا بلنې ته نه ووايي، خو ځینو لکه د کې جي بي او جي ار یو مشرانو د دې زړه درلود چې بلنه یې ونه مني. دوی د الکساندر میخیالویچ نه خوښېدل او تر یوې کچې له دوی وېرېده. د شوروي سفیر په کابل کې ښه ژوند درلود، مسولیتونه یې له کچې ډېر نه وو. د ده ورځې به له مېلمستیاو، غونډو او د سفارت په معطره انګړ کې له ګام وهلو ډکې وې. د جمعې په ورځو به کب نیولو ته تله؛ نو د اپرېل د اووه ویشتمې له تورې ورځې مخکې، د سفیر وخت داسې تېرېده.

د هر هغه څه په اړه باید مفصل راپوروونه مسکو ته لېږل شوي وی چې د سفارت له دېوالونو څخه بهر پېښېدل، خو د څه شي راپور باید لېږل شوی وی؟ سړی څرنګه څرګنده کړي چې داسې وفادار او ملګری رژیم چې مسکو یې بشپړ ملاتړی و کېدای شي هره شېبه وپرځول شي؟ بل دا چې پرځوونکي یې اسلامي مرتجعین او یا توندلاري ماوېستان نه بلکې داسې ملګري دي چې د دوی ملاتړ هم شوروي کوي. لیونېد الیچ او د سیاسي بېرو نور غړي به څه فکر کوي؟ ولې زموږ اعتباري ملګرو کودتا ته د تابیا په اړه موږ ته مخکې تر مخکې خبر را نه کړ؟ ولې توطیو جوړونکو زموږ مشوره ونه غوښته. له دې وروسته به څه پېښېږي؟ که چېرې داود بریالی شي، څه به وشي؟ موږ به پر کودتا کوونکو د سیاسي جنجال غوښتونکو تور ولګوو؟ که یاغیان بریالي شي، څه باید وشي؟ ایا موږ باید لومړنی هېواد وو چې نوی رژیم په رسمیت وپېژنو؟ دغسې پوښتنو سفیر سربداله کړی و.

دا څرګنده وه چې دغه پوښتنې چې «څوک به ګټونکی شي» او «د کودتا له پایلې سره باید څه وکړل شي» یوازې سفیر له سختۍ سره نه و مخ کړی بلکې له سهار راهیسې مسکو پر سفیر او دوو څارګرو مشرانو د پوښتنو باران جوړ کړی و چې څه پېښېږي او یاغیان په کوم وضعیت کې دي.

سفیر یو ځل بیا لوړپوړي ډیپلوماتان، د کې جي بي او جي ار یو مشران او د پوځي سلاکارانو د ماموریت مشر یوې غونډې ته راوغوښتل. جنرال ګریلوف وویل: «د ارګ نیول اسانه کار نه دی. دا یوه داسې مظبوطه کلا ده چې د شوبلې ګولۍ یې په دوه جوړې دېوالونو کې نه شي ننوتلی. د ماڼۍ د ساتونکو شمېر دوه زرو کسانو ته رسېږي. دوی T54 شوبلې او د شوبلو ضد توغندي لري. درنې ماشینګڼې یې په دروازو کې پرځای کړې دي.» د جي ار یو مشر په خپګانوونکې توګه وویل: «خو یوه مهمې خبرې ته ستا پام نه دی. دغه انقلابیان کولای شي له هوایي ځواک څخه کار واخلي. بې اړنګه، د بګرام او شینډنډ د هوایي اډو نیول د دوی د پلان یوه برخه ده او دې ته د پام دی چې د هوایي ځواکونو قوماندان قادر، هغه څوک چې

ظاهر یې لیرې کړ، قوماندہ په لاس کې لري.» ګرېلوف ومنله او ویې ویل: «نو داسې چې ده، د داود چانس لږ دی.»
یو چا ته ور په یاد شول چې په دغه ورځ داود د کابینې یوه غونډه درلوده. اوسادچي وویل: « په دې غونډه کې د ا خ د ګ او د بندي مشرانو د راتلونکې په هکله پرېکړه کېده.»
له غونډې وروسته پوزانوف له خپل دفتر څخه کوچنۍ کوټې ته لاړ او هلته پر یو کوچ پرېوت. سینه یې درنه شوه؛ نو له خپلې سکرترې لووبه Lyuba، د ګاډي چلوونکي مېرمن، څخه یې وغوښتل چې د سفارت کلینک ته د یو ډاکټر لپاره زنګ ووهي. د ستالیني مشرۍ په څېر، الکساندر میخیالویچ هېڅ کله ناروغۍ ته دومره اسانه نه تسلیمېده. هېڅوا د دغه ۷۲ کلن سفیر کمزورتیاوې نه وې لیدلې که څه هم لکه هر فاني بشر کله کله یې د ناروغۍ ننګېرنې کولې. نوموړی په وېره او خپګان کې ډاکټر ته تم و.
په مسکو کې لس کاله وروسته پوزانوف په خپل اپارتمان کې، چې کرېملېن ترې ښکارېده، د دغه کتاب لیکوالانو ته وویل چې هغه وخت د ۱۹۷۸ کال د اپرېل میاشتې په اووه ویشتم سهار دی په پیکه توګه لاشعوري پوه شو چې په افغانستان کې ارامه او خوشاله ژوند چې ده ترې خوند اخیست پای ته ورسېد - او له همغې شېبې څخه به هر څه خراب مخته ځي. وینې به تویې شي، د «جنجالونو وخت» به راشي او په دې بهیر کې به ډېر بېګناه خلک ژوند له لاسه ورکړي.
د سفارت د کلینیک مشر په لنډ وخت کې راورسېد. نوموړی یو مجرب او درونډ سړی و. د سفیر فشار یې وکوت، ګولۍ یې ورکړې او ورته ویې ویل چې اندېښنې دې نه کوي. عجیبه وه، ډاکټر وویل چې د سفیر دغه حالت د تندریز توپان له کبله دی. کله چې ډاکټر بېرته لاړ، الکساندر میخیالویچ له ځان سره په ځاځ (غوسه) کرار وویل: «زما وضعیت له هوا سره څه تړاو لري؟»
په دوو بجو اوسادچي او پېچېنکو کابو په یوه وخت کې له مسکو څخه بېړني تېلګرافونه تر لاسه کړل چې بې اړنګه د دوی د مشرانو، کې جي بي او جي ار یو ، له لوري له یو او بل سره په یوه وخت برابر شوي و. په دغه ټېلېګرافونو کې په افغانستان کې د نازک سیاسي وضعیت په هکله د سیاسي بېرو او نورو شوروي مشرانو د ډېرېدونکې اندېښنې په اړه راپور ورکړل شوی و او دوی ته پکې ټینګار شوی و چې په منظمه توګه د پېښو د پرمختګ په اړه مسکو ته خبر ورکړي. مسکو پر خپل کلک ناټ ټینګار وکړ چې د پوځي پېښو او حکومت پلوي او یاغیانو ته د دغو پېښو د ممکنه پایلو ارزونې دقیقه پر دقیقه ورولېږل شي. مسکو دا وارېدیز هم وکړ چې په کابل کې د کې جي بي او جي ار یو څانګې باید د څارونکو ډلې جوړې او ښار ته یې د وضعیت د مالومولو لپاره ولېږي.

www.samsoor.com

د دواړو څارګرو ادارو مرکزي دفترونو خپلو مشرانو ته چې په کابل کې مېشت وو د لومړنیو څارګریزو عملیاتو بڼه ور په یاد کړه: «په واټونو کې د تاوتریخوالي، لویو لاریونونو او یا د کودتا په بهیر کې کله چې د اجنټانو پر مالوماتو تکیه نه شي کېدای او یا د دوی د مالوماتو ورکړه ناشوني شي؛ نو د څارګریزو مالوماتو د راټولولو بنسټیزه لېله (مېتود) د څارګرو کارکوونکو له خوا د پېښو په هکله د سترګو لیدلی حال دی.»
په کابل کې دواړه څارګر مشران د دغه تېلګراف په هکله چې له مسکو څخه یې تر لاسه کړ خوښ نه وو. دواړه، اوسادچي او پېچېننکو په دغسې بنسټیزو عملیاتو ښه پوهېدل، خو بیا یې هم نه غوښتل چې خپل لاس لاندي ښار ته ولېږي. دوی د کابل په واټونو کې له درنې جګړې ښه خبر او هلته د خپلو لاس لاندو د لېږلو په خطر ښه پوهېدل، خو دوی نه شوی کولای چې د خپلو مشرانو امر له پامه وغورځوي.

د پاڅون په شپه ډګروال عبدالقادر خوب ونه شو کړی. ده ته د هوایي او دافع هوا ځواکونو د قوماندان په توګه د ګوند له لوري امر وشو چې د داود رژیم پر ضد د پوځي پاڅون مشري وکړي. دوه اونۍ مخکې نوموړي پخپله د یوه چټک برید پلان جوړ کړی و چې په کابل کې د یو شمېر مهمو پوځي اډو قوماندانان شنډ کړي او د ولسمشرۍ ماڼۍ په ګډون ځینې مهم دولتي ځایونه ونیسي. د قادر په دغه پلان کې په درجنونو شوبلې، زغروال ګاډي، د بګرام او شینډنډ له هوایي اډو څخه جنګي جېټ الوتکې او یوه ډله د کوماندو پوځیان په پام کې نیول شوي وو چې په انقلاب کې برخه واخلي. قادر هسې یو خیالي ایډیالېسټ نه و. دی ښه پوهېده چې پلان یو څه دی او واقیعت بل څه. دا ناشونې ده چې په یو پلان کې هره ممکنه پېښه په پام کې ونیول شي، هره نابېره پېښه کولای شي انقلاب په خطر کې واچوي چې ناکامي یې د هر ګډونوال او د دوی د کورنیو، ملګرو او همکارانو د اعدام په مانا ده. حکومت به بې رحمه وي، هېڅوک به ونه سپمول شي، داود او مل کسان یې هسې هم یوازې یو دلیل ته تم دي چې خپل دوښمنان له منځه یوسي.
دا تصادفي نه وه چې له دغه ډګروال څخه غوښتنه وشوه چې په انقلاب کې یوه پرېکنده ونډه واخلي. هغه وخت قادر یو مسلکي کودتاچي و. یوازې پنځه کاله مخکې یې د پاچا پر ضد د داود په کودتا کې برخه اخیستې وه. په دې کودتا کې نوموړي د بېلابېلو پوځي فرقو د فعالیتونو په غږملولو کې ډېر څه زده کړي وو.
داود چې یو ځیرک سیاستوال و، له د ا خ د ګ سره د قادر په پټو اړیکو پوهېده. ده د دې وړاندلیدنه هم کړې وه چې ډېر افسران د قادر په پله روان دي او دې ته باید پام واړول شي.

قادر یو اېډیالوجېسټ جنګیالی نه و. نوموړی د ا خ د ګ له هغه مشرانو، نور محمد تره کی او ببرک کارمل، څخه بېل و چې خپل ټول ژوند یې له ځوانۍ راهیسې سیاست ته ځانګړی کړی و. د ده لاره بېله وه. نوموړی له څو نورو افسرانو سره غوره شوی و چې په شوروي کې د پیلوټۍ په توګه روزنه ورکړل شي. کله چې بېرته هېواد ته لاړ، له یو شمېر هم اندو افسرانو سره یې د ځوانو پوځیانو انقلابي تنظیم په نوم یوه ډله جوړه کړه. د ډلې په جوړېښت کې اووه افسران حاضر وو، دوی ټول سره مساوي وو او ځانګړی مشر یې نه درلود. دغه ډلې کوم پروګرام، تګ لاره او یا غړیتوب نه درلود، خو د افغانستان د راتلونکې په هکله یې اوږده بحثونه کول، دوی د اصلاحاتو او عصري کولو د لېلو په هکله او همدارنګه د شاته پاتې والي پر ننګونو باندې د بریا په هکله خبرې کولې. د دغه ډلې له جوړولو څخه څو کاله وروسته، دوی د خلق او پرچم ډلو په شتون خبر شول، خو په دې نه پوهېدل چې دوی ولې دوه بېلې ډلې دي.

د ا خ د ګ سپېڅلې، اصلاح غوښتونکې او دموکراتیکې موخې د ځوانو پوځیانو انقلابي تنظیم د غړو له موخو سره سمون درلود، خو خلق او پرچم پر یو او بل باندې تېرې کول او له یو او بل سره یې نه پخلا کېدونکې دوښمنۍ پاللې. قادر یې خپلو ملګرو ورولېږه چې د دغه دوو ډلو د شخړې پر وجه ځان پوه کړي. د پرچم غړو یوه ښه د شش کباب، سبو او وتکا میلمستیا ورته جوړه کړه. پرچمیانو له دغو افسرانو وغوښتل چې د دوی د ګوند غړي شي. قادر ترې وپوښتل: «تاسې ولې له یو او بل سره جګړه کوئ؟» کارمل داسې ځواب ورکړ: «دا یوازې تخنیکي موضوع ده، د وخت په تېرېدو به هر څه سم شي.» بیا قادر ورته وویل: «داسې چې ده، موږ به ستاسې تر یووالي پورې صبر وکړو.»

که څه هم قادر ډېرې لوړې زده کړې نه وې کړې، خو نوموړی یو ځیرک، هوښیار او پامیالی سیاستوال و چې خپلې موخې به یې په زغم ترلاسه کولې. وروسته، کله چې د ځوانو پوځیانو انقلابي تنظیم د غړو شمېر له سلو اوچت شو، د داود یو اعتباري استازي له ده سره اړیکې ونیوې او ورته وېې ویل چې داود پخپله له ده سره د لیدو غوښتنه وکړه. اوس د شاهي نظام پر ضد د کودتا وخت رارسېدلی او په دې کې د پوځ ملاتړ اړین و، خو دغه ملاتړ تر اوسه نه لیدل کېده؛ نو د نظام په بدلون کې د پوځ ونډې ته پاملرنې، قادر او د ده تنظیم دغه کړی ته د ننه کړل. په لومړیو کې قادر د داود په ملاتړ کې له ډېر پام څخه کار اخیست، خو کله چې داود ژمنه وکړه چې د شاه لېرې کول به سوسیالېزم ته لاره هواره کړي، قادر ډېر ژر خوشبین شو او خپل ملګري یې د دواد د پلان په ورتیا قانع کړل. داود ژمنه وکړه چې سوسیالېزم به په اصل او شیره کې اسلامي او د افغاني هویت پر بنسټ ولاړ وي. د ۱۹۷۳ کال د جولایي په میاشت کې جګړن قادر او ډلې یې له داود سره مرسته وکړه. لکه څنګه چې مخکې یاده شوه، د شاه پرځول دومره سخت کار نه و، په دې کودتا کې یوازې شپږ کسه مړه شول. یو له دوی څخه چې تر ټولو د پام وړ و، د

www.samsoor.com

شاه د ساتونکو یا ګارد مشر و. کله چې محمد ظاهر شاه پوه شو چې څه خبره شته او یا کله چې خپلو وفادارو ملګرو یې خبرداری ورکړ، نوموړی له خپلې شاهي کورنۍ سره ایټالیا ته لاړ.
وروسته له کودتا څخه داود سمدلاسه بېوزلو بزګرانو ته په سوېلي چاریکار سیمه کې د حاصلخیزو ځمکو د ورکړې اعلان وکړ. د دغه تاریخي اعلان په ترڅ کې قادر هم حاضر و او کله چې داود اعلان وکړ، قادر ته یې داسې له مانا څخه ډکې سترګې واړولې لکه چې ورته وایي: « وګوره! ما خپله ژمنه ترسره کړه. ما د سوسیالېزم ژمنه کړې وه او دا دي اوس یې پلې کوم.»
د پاچا په پرځولو کې د برخې اخیستنې په بدل کې قادر په سخاوت ونازول شو. ده ته د ډګروال رتبه او د هوایي ځواکونو قوماندانی ورکړل شوه. په همدې وخت کې نوموړي د خپل پټ پوځي تنظیم مشر وپېژندل شو.
د داود د سوسیالېزم ژمنه په چاریکارو کې د ځمکي له وېش نه نوره مخته لاړه نه، خو که انصاف وشي، په هېواد کې اصلاحات په ثابته توګه مخته تلل. داود او قادر ښایي غوښتل چې خپل هېواد د پرمختګ او ښېرازۍ په لور وویني، خو دوی د خپل هېواد د هغه پخوانیو واکمنانو برخلیک ښه په یاد و چې له خپل وخت څخه مخکې وو. د شلمې پېړۍ په پیل کې امان الله خان ښځو ته اجازه ورکړه چې ټکري لیرې کړي او سړي اروپایي ډوله جامې واغوندي. له دې کړنې وروسته نوموړی څومره وخت پر تخت پاتې شو؟ حتی د شوروي پوځي ملاتړ په دې کې پاتې راغی چې دی پر تخت وساتي. اوس باید داود دا په پام کې ونیسي چې له کیڼ لوري د ا خ د ګ تر فشار لاندې و او له ښي لوري مذهبي توندلارو- بنسټپالو له نېږدې څاره. نوموړي دې ته هم پام کاوه چې سربېره له هغو ډلو چې له لوی شمالي ګاونډي سره متحدین وو، په افغان ټولنه کې داسې خلک شته وو چې له لوېدیځ سره یې ملګرتیا غوښتله.
داود د انډول په راوستلو کې بوخت شو. کله چې ولسمشر شو، د هېواد له دفاع وزیر څخه یې وپوښتل: «ولې زموږ پوځ یوازې او یوازې په شوروي وسلو سمبال دی؟ هند ته لاړ شه او وګوره چې دوی څه لري.»
بیا یې د هوایي ځواکونو قوماندان راوغوښت او ترې وې وپوښتل: «ولې زموږ ټولې الوتکې او چورلکې په شوروي کې جوړې شوې دي؟ ته باید په لوېدیځه اروپا کې د ورته تکنالوژۍ د پېرودلو پلټنه وکړې.»
عبدالقادر په صداقت دغه دنده ترسره کړه او بېرته یې ولسمشر ته راپور ورکړ: «سویسزرلنډ چمتو دی چې زموږ د اوسنیو انتونوف ترانسپورتي الوتکو په پرتله ښې ترانسپورتي الوتکې راکړي. فرانسوي چورلکې هم پېرودلی شو چې زموږ د اوسنیو MI-8 چورلکو په پرتله ډېرې ښې دي.» داود په خوښۍ دغه راپور ته غوږ ونیو او وزیر ته یې امر وکړ چې په دې اړه خبرو اترو ته دوام ورکړي، خو د ا خ د ګ قادر ته یو لکچر ورکړ: «ته باید دغه معامله سبوتاژ کړې. په داسې موضوعګانو کې موږ باید تل له شوروي اتحاد څخه لارښوونه وغواړو. شوروي زموږ تر ټولو باوري او ستراتیژیک ملګری دی.» خو دا ستونزه په خپله حل شوه. هند، سعودي عرب او لوېدیځو هېوادونو د خپلو وسلو، الوتکو او تکنالوژۍ په بدل کې په یو ځل د ټولو پیسو

غوښتنه کوله، خو شوروي اتحاد له افغانستان سره په مرسته کې عملاً کابو هېڅ پیسې نه غوښتې، د ځینو پورونو په هکله هوکړې وشوې، په سمبولیکه بڼه شوروي ته پیسې ورکړل شوې او د افغانستان له زېرمو څخه د طبیعي ګاز په بدل کې هم د توکو د ورکړې هوکړې وشوې.

یوازې قادر چې په پټه یې فعالیت کاوه، د شاهي واکمنۍ په پرځولو کې د مرستې په بدل کې ونه نازول شو بلکې د ا خ د ګ یو شمېر غړو چې ډېری یې پرچمیان وو د وزیرانو څوکۍ ترلاسه کړې. د ا خ د ګ دغو غړو د اسلامي بنسټپالو او د دوی د خواخوږو پر ضد یو لړ بریالي عملیات ترسره کړل او په عین وخت کې یې د خپلو پټو او ښکاره دوښمنانو جرړې وایستلې. په هغه کلونو کې د اسلامي تونده‌لارو خوځښتونه مخ پر ودې وو. د دوی ډېرو تنظیمونو په ښکاره د کابل په پولتخنیک او په  کابل پوهنتون کې فعالیتونه کول- د راتلونکي جهاد اتلانو، رباني، ګلبدین او مسعود، د داسې رژیم پر ضد خپلې چړې تېرولې چې دوی له کچې وتلی سېکولر ګاڼه. هر خوځښت د واک په اوچتو پوړونو کې ملاتړي لرل. دغو ملاترو ته هم د توطیو جوړونکو په سترګو وکتل شول؛ نو قادر له خپلو ملګرو سره یو پنځوس کسیز نوملړ جوړ کړ چې ګواکې دوی د ولسمشر د پرځولو پلان جوړاوه. له بېلابېلو لارو داود ته د دغه «توطیو جوړونکو» په هکله خبر ورکړل شو. په دغه نوملړ کې د هوایي او دافع هوا ځواکونو د قوماندان، د پخواني لومړي وزیر، یو نومور قومي مشر، یو نومیالی بانکوال، او د یو لوی سوداګر نومونه هم وو. ګلبدین او مسعود، چې بې اړنګه د پوځې ډلګیو په جوړولو بوخت وو، هم په دې نوملړ کې وو.

اوبه تېرې سولوې. بلاخره داود په ګواکې دغه توطیې باور وکړ؛ نو کابو ټول پنځوس کسه ونیول شول، ځینې یې سمدلاسه وویشتل شول او ځینې نور په اوږده بند محکوم شول، خو هغه «ریښتیني» دوښمنان، مسعود او ګلبدین، په حیرانوونکې توګه وتښتېدل. دوی ته د داود د نیت په هکله خبر ورکړل شوی و او غرونو یا پاکستان ته وتښتېدل. ولې داسې وشول؟ یوازې الله پوهېږي. دا هغه څه دي چې په سوچه افغاني بڼه ویل کېږي.

عبدالقادر په دې ورستیو کې د هوایي او دافع هوا ځواکونو د قوماندانۍ تشې څوکۍ ته وده وکړه. شپږ میاشتې وروسته دویمه توطیه بربنډه شوه. په حیرانوونکې توګه دا ځل هم د پټ چپي ګوند یو غړي دا توطیه بربنډه کړه. ډګر جنرال میر احمد شاه هغه جنرالان او افسران راټول کړي وو چې د داود په اصلاحاتو خوښ نه وو. د میراحمد شاه لویه تېروتنه دا وه چې د څلورم زغروال غونډ لومړی بریدمن وطنجار یې یوې غونډې ته وربللې و، خو له بده مرغه وطنجار د ا خ د ګ پټ غړی و. نوموړي د داود خلک له دغه پلان څخه خبر کړل؛ نو دوی ټول سمدلاسه ونیول او اعدام شول.

خو د سیالو قوتونو په منځ کې د انډول ساتلو او د یو داسې ځیرک سیستم په جوړولو کې چې ده ته یې

د کنټرول او انډول ساتلو فرصت ورکاوه، داود کله کله د چپیانو په ځپونه کې هم زړغیتوب نه کاوه. کله چې نوموړي وننګېرل چې دی د کمونستانو کابو یرغمل شوی دی، ټول هغه څوک یې له دولتي څوکیو لیرې کړل چې د ده په باور د ا خ د ګ غړي او یا خواخوږي وو. دغې ځپې قادر هم یووړ او له څوکۍ څخه لیرې کړل شو. نوموړی د یوې بلې ګمارنې په تمه د اوږدې مودې لپاره په کور کې پاتې شو. ده ته بلاخره د پوځ د کوتلځي (قصابخانه، مسلخ) مشري ورکړل شوه.

یو کال مخکې قادر ته اجازه ورکړل شوه چې بېرته وسلوال پوځ ته راوګرځي. د بخت په دې بیدارۍ کې نوموړي ته د هوايي او دافع هوا د درستیزوال څوکۍ ورکړل شوه. داسې ګنګوسې وې چې نوموړي په لوی رشوت دغه څوکۍ ترلاسه کړه. بلې خواته دا هم ویل کېدل چې د ده په ګمارنه کې تر یوې کچې شوروي ملګري ښکېل وو چې داود یې پر دې قانع کړ چې د «شاهي نظام پر ضد د انقلاب اتل» په یاد دغه څوکۍ ورکړي، خو د ګمارنې دلیل یې چې هر څه و، په دې کار داود په خپله ځان ته قبر وکیند.

په همدې وخت کې، د عجیبه تصادف له مخې قادر په رسمي بڼه د ا خ د ګ غړیتوب ته ومنل شو. یو ماښام چا د ده د

منځنۍ کچې کور دروازه وټکوله. ده دروازه پرانیستله او ګوري چې د ا خ د ګ عمومي منشي نورمحمد تره کی له خپل ګران ملګري امین او دویم بریدمن ګلاب زوی سره ولاړ دی. ګلاب زوی د هوايي ځواکونو د پوځي ترانسپورت څانګې تکنېشن و. ډګروال مېلمنو ته د ننوتلو بلنه ورکړه، د تیلو څراغ یې ولګاوه او د چای د راوړلو غږ یې وکړ. تره کي قادر ته یوه لنډه او درنه وینا وکړه: «زموږ د قانون پر بسنټ، یو کس ته دا اړینه ده چې د غړیتوب ازموینتي موده تېره کړي مخکې له دې چې زموږ په ګوند کې اصلي غړی شي، خو تا ته به موږ استثنا درکړو. ته همدا اوس زموږ د ګوند اصلي غړی شوې، مبارک د شه.» کوربه هک پک شو: «ستا له باور څخه مننه، خو زه غواړم همدا اوس ووایم چې زه به دسیسې، چلونه، او سپکاوی ونه زغمم. زه به ستاسې په نااندریو کې برخه وانه خلم.» دلته امین د خپل لاربنود مرستې ته ورودانګل: «ته پر موږ باور نه لرې؟» ډګروال ځواب ورکړ: «پر سیاستوالو باور کېدای شي؟» امین وویل: «دا غلط ذهنیت دی. موږ تر ټولو لومړی تا ته راغلو او غواړو خبر درکړو چې ګوند متحد شو او اوس زموږ په منځ کې د مخالفت کوم ټکی نشته»؛ نو د ا خ د ګ قادر او په هوايي او دافع هوا ځواکونو کې د ده په سلګونو متحدین په دې بڼه خپل کړل.

د پسرلي په پیل کې امین، قادر ته بلنه ورکړه چې د یو بل پیلوټ، اسدالله سروري کور ته ورشي. د نوموړي کور د کابل په لوېدیځه برخه کې و. د زغروال کنډک قوماندان، وطنجار هم حاضر و. امین څېرمه کوټه پخپله وکتله څو ډاډه شي چې چا غوږ نه دی نیولی. بیا یې وویل: «ملګرو، زه غواړم تاسې له یوې مهمې پرېکړې خبر کړم. سیاسي بېرو په دې اند دی چې که داود زموږ په هکله پوه شي، د ګوند په مشرتابه به ګوزار وکړي. ولسمشر ته یوې نېږدې سرچینې دغه مالومات رالېږلي. که چېرې د سیاسي بېرو غړي ونیول

شول، بیا باید د گوند پوځي څانګه لاس په کار شي.» بیا یې په ځیر افسرانو ته وکتل او خبرو ته یې دوام ورکړ: «تاسې باید د رژیم پر ضد د وسلوال پاڅون په ګډون یو لړ ګامونه واخلئ. ما تاسې ته دلته بلنه درکړه څو داسې پاڅون ته پلان جوړ کړئ.»

قادر راتلونکې ورځې د داسې پلان په جوړولو تېرې کړې. څومره شوبلو ته اړتیا شته چې د ولسمشر پر ماڼۍ، دفاع وزارت، هوایي ډګر او پر نورو مهمو ځایونو برید وکړي او اصلي واټونه بند کړي؟ د داود کوم متحدین باید له پاڅون څخه مخکې ونیول شي؟ څوک باید سملاسي ووژل شي؟ نومړي دا هم ارزولې وه چې د پاڅون بېلابېلې پوځي ډلې څرنګه له یو او بل سره اړیکې وساتي. وطنجار ژمنه وکړه چې د پاڅون په لومړیو ساعتونو کې لږترلږه شل شوبلې او شل زغروال ګاډي چمتو کړي. ډګروال قادر دغه شمېر د بریا لپاره پوره وګاڼه. دی پوهېده چې د نورو پوځي اډو په نیولو به د دوی ځواک لا ډېر شي. نومړي د هوایي ځواک په هکله اندېښنه نه لرله ځکه چې دا د ده تر کنټرول لاندې و. یوې موضوع چې دغه مسلکي توطیه جوړوونکی اندېښمن کړی و د خلق او پرچم د یووالي رېښتینتوب و. ده د کودتا د پلان په غونډو کې حتی یو پرچمي ونه لید او په پوځ کې ټول پټ امرونه یوازې او یوازې خلقي غړو ته ورکول کېدل. قادر داسې اټکل وکړ چې امین پر پرچمیانو باور نه لري او یا غواړي له حالاتو څخه پخپله ګټه واخلي.

پېښې ډېرې په چټکۍ مخته رواني وې. د ګوند معزز سړی، خیبر ووژل شو، جنازه یې په لوی لاریون بدله شوه. داود له دغه لاریون څخه د ا خ د ګ د مهمو مشرانو په نیولو کې کار واخیست. د نامالومې وجې له کبله امین لاتراوسه نه و نیول شوی او مخکې له دې چې ونیول شي، قادر ته یې یو ګړنی پیغام ولېږه چې سبا ته د سهار په اتو بجو پوځي پاڅون پیل کړي.

له بې خوبې شپې وروسته، ځکلېدلی• او ناپړانده (سست او کمزوری) قادر د اپرېل په ۲۷ سهار د هوایي او دافع هوا مرکزي دفتر ته لاړ. نوکریوال افسر له سلامي وروسته په خوښۍ راپور ورکړ چې د دفاع وزیر د امر پر بنسټ نن ورځ د ټولو پوځیانو لپاره رخصتي اعلان شوې ده. قادر یې د وجې پوښتنه وکړه او غوښتل یې چې دغه افسر ته پر مخ څپېړه ورکړي چې دروغ ولې وایي. قادر په دې کې ډېر وتلی و چې داسې څپېړې خپلو لاس لاندو ته ورکړي. افسر ځواب ورکړ: «ځکه چې زموږ د هېواد خاینان ونیول او بندیان شول.» قادر په غبرګون کې داسې وویل: « ښه؛ نو دا زموږ هېواد ته یوه لویه ورځ ده.» دغه دویم بریدمن ورپسې چیغه کړه: «د سهار په لسو بجو غونډه ده.» قادر په دویم پوړ کې خپل دفتر لاړ او خبرونو ته تم شو. دی پوهېده چې که تر ماښامه ژوندی پاتې شي، دی به یا یو اتل او یا یو مجرم وي. په لسو بجو د قوماندان مرستیال ډېر پاربدلی د ده دفتر ته ننوت او ویې ویل: «له څلورم زغره وال غونډ څخه شوبلې

---

•ځکلېدلی: ځورېدلی او یا د ځوروني له وجې په غوسه شوی

www.samsoor.com

ووتلې او د کابل ښار په لور روانې دي.» قادر ځان هک پک وښود او د قوماندان دفتر ته لاړ، خو جنرال موسی خان په دفتر کې نه و. نوموړی تشناب ته تللی و. ده لږ موده مخکې د مثانې عملیات کړي وو او له ډېر درد او د میتیازو د کنترول له ضعف څخه ډېر ځورېده. د یو تیلفون، چې له ولسمشر سره په نېغه لیکه کې و، زنګ راغی. قادر غوږی اوچته کړه. ولسمشر ډېر په غوسه وویل: «ټولې جنګي الوتکې ژرترژره هوا ته کړه او خاینان له منځه یوسه.» قادر وویل: «ښه ښاغلی ولسمشر.» او له الله نه یې د داسې ښه بخت لپاره شکر وکړ. بیا یې له ځان سره وویل چې کودتا پیل شوه او سر له اوسه به هېڅوک د ده مخه ونشي نیولای. یوازې یوه دقیقه مخکې دی د ولسمشر د ډلې غړی و او خپل عسکري سوګند او ولسمشر ته داسې وفادار و لکه په دغه ودانۍ کې نور افسران، خو اوس یې مخ بل لوري ته واړاوه.
که چېرې د قادر له پلان سره سم هر څه مخته لاړ شي، شوبلې به ډېر ژر ورسېږي او په مرکزي دفترونو، د لوړپوړو چارواکو پر دفترونو به ډزې پیل کړي. په همدغه شېبه کې موسی خان، قادر خپل دفتر ته ور وغوښت. قادر ټپرا (وارخطا) شو. جنرال ته یې د ولسمشر د امر راپور ورکړ او ورته ویې ویل چې ده د بګرام پیلوټانو ته امر وکړ چې الوتنې پیل کړي. بیا یې جنرال ته ټینګار وکړ چې ښکته لومړي پوړ ته لاړ شي ځکه چې هغه ځای خوندي دی. دغه بوډا جنرال د قادر په نیت سم پوه نه شو، خو خبره یې ومنله. کله چې دوی ښکته کېدل، یو زغروال ګاډي پر دغه ودانۍ ډزې پیل کړې. د ماشینګڼو ګولۍ لومړی د دویم پوړ او ورپسې د لومړي پوړ په کړکیو ولګېدې. یوې ماتې ښیښې د قادر ټنډه غوڅه کړه. قادر پر وېرېدلي جنرال چیغه وکړه: «ته ونیول شوې، ښاغلی جنراله! دلته کرار کښېنه، یو څوک به ډېر ژر راشي او تا به تر خپلې ساتنې لاندې ونیسي.» قادر بېرته دویم پوړ ته لاړ او د بګرام هوایي اډې ته یې تیلفونونه پیل کړل.
کله چې نوموړی هغه شېبې خپل یاد ته راولي، پر یوې موضوع یې سر نه خلاصېږي. ولې د ده ټولې هڅې چې له پوځي ډلګیو سره اړیکې ونیسي نه بریالۍ کیږي؟ دی له هغه پټ رمز څخه کار اخلي چې امین ورکړی و، خو هېڅ ځواب نه ترلاسه کوي. د پلان کومه برخه غلطه شوه؟ قادر موږ ته وویل: «زه وروسته په ستونزه پوه شوم. امین یوې ډلې ته د رمز په توګه هلمند او د ځواب په توګه یې سیند او بلې ډلې ته سېلاب د رمز په توګه او توپان د ځواب په توګه ورکړي وو. لومړی ډله هغه خلقیان وو چې امین ته نېږدې وو، دویمه ډله هم خلقیان وو خو امین ته دومره نېږدې خلک نه وو. پرچمیان خو حتی هېڅ نه پوهېدل چې د رمز په نوم څه شی شته. زه فکر کوم چې امین غوښتل دغه انقلاب د خپلو نېږدې ملګرو په لاس ترسره کړي، خو ده دویم پلان هم درلود که چېرې ډېرو ځواکونو ته یې اړتیا پیدا کړې وی.»
سروري وتوانېد چې له غرمې وروسته له قادر سره سمدلاسه اړیکه ټینګه کړي. ده قادر ته وویل: « ولې د پښې شاته
وباسې؟ ته باید د داود استوګنځی بمبار کړې، که نه ناکامیږو.» خو کوم امر چې پیلوټانو ته لېږل شوی و، ور رسېدلی نه و، ځکه چې رمز غلط و. بیا وطنجار ورته زنګ وواهه او سپکې سپورې یې ویلې: «ویده یې

که څه! موږ په ډېر نازک وضعیت کې یو، که الوتکې همدا اوس اوچتې نه شي، موږ ټول مړه بوله.» قادر ترې وپوښتل: «رمز څه شی دی؟ سم رمز راکړه!» مخکې له دې چې غوږی کېږدي، وطنجار په چیغه ورته وویل: «سمدلاسه بمباري وکړه، همدغه زما رمز دی.» قادر پوه شو چې باید په خپل سر عمل وکړي. د ده کسانو لا د وخته د هوایي ځواک کابو ټول قوماندانان نیولي او ځینې یې وژلي وو. ده هغه چورلکې ته چې په ډګر کې ورته تم وه منډې کړې او د نېږدې کېدو پر مهال یې چورلکې ته خپله خولی وخوځوله چې ماشین چالان کړي. پر ده پسې د هوایي ځواک د څارګریزه فعالیتونو د شنډولو څانګې مشر قاسم روان شو، له کاش نه یې خپله تومانچه راوایستله او پر قادر یې چیغه کړه: «ودرېږه، که نه ولم دې!» په دغه شېبه کې یو زغروال ګاډی په ډګر کې رابښکاره شو او قاسم یې پر ډزو مړ کړ. قادر دغه صحنه لیدله چې د قاسم سر والوزول شو. د یوې دقیقې په ترڅ کې دغه چورلکه چې د اخفا رنګ ورکړل شوی و والوته. تر بګرام پورې یوازې شپېته کیلومتره یا د پنځلسو دقیقو واټن و.

د اپریل په اووه ویشتم سهار، پنځه ویشت کلن دویم بریدمن سید محمد ګلاب زوی په یو زغروال ګاډي کې کښېناست او په ګاډي کې له ناستو کسانو سره هغه ځای ته روان شو چې د کودتا کوونکو د قوماندې له مرکز څخه ورته ویل شوي وو. د نوموړي نېږدې ملګري، اسدالله سروري ناڅاپه په مخابره کې له ده سره اړیکه ونیوه. اسدالله یو پلونډ (په جثې غټ) سړی و چې مخ یې کټ مټ د شوروي  فلمونو یو نومیالي ډاریکټر ایلدر ریزانوف  Elder Rezanov ته ورته و. نوموړي ګلاب زوی ته خبر ورکړ چې د کابل په هوایي ډګر کې د چورلکو قوماندان له کودتا څخه خبر شوی او ټول پیلوټان یې د الوتکو په ګراج کې بند ساتلي. دا یو ډېر بد خبر و ځکه چې پرته له هوایي ملاتړ څخه بریا ناشونې وه. اسدالله، ګلاب زوی ته وړاندیز وکړ چې دوی دواړه هوایي ډګر ته لاړ شي چې پیلوټان ازاد کړي او نور هغه څه ترسره کړي چې اړتیا یې لیدل کېږي، خو پوځي عملیات ډېر لږ وخت د پلان سره سم مخته ځي. یوه جوړه  Su-7B الوتکې د بګرام له لوري ناڅاپه په هوا کې ښکاره شوې او د ګلاب زوی پر زغروال ګاډي یې د مزایل ډزې وکړې. دا تر اوسه ناڅرګنده پاتې شوه چې ولې د بګرام پیلوټانو چې ټول د دوی ملګري وو پر ګلاب زوی برید وکړ. د ګلاب زوی څلور کسه همدلته ځای پرځای مړه شول او پخپله ګلاب زوی په ګېډه کې سخت ټپي شو. سروري خپل ملګری پوځي روغتون ته یووړ، عملیات خونې ته په چټکۍ له خپل کلاشینکوف سره ننوت او پر ډاکترانو یې چیغه وکړه: «که دی مړ شو، زه به تاسې ټول ووژنم.»

کله چې سروري ته ډاډ ورکړل شو چې ګلاب زوی نه مري، خپل ماموريت ته يې دوام ورکړ چې بند پیلوټان ازاد کړي. کله چې هوايي ډګر ته ورسېد، د پیلوټانو قوماندان ده ته وکتل، له ځایه اوچت شو، له خپل دفتر څخه ووت او د ځغاست لارې په لور يې ګامونه واخیستل. دی ښه پوهېده چې اوس به څه پېښېږي. دی پر مرګ محکوم و. سروري ورپسې روان و. له لیرې ځایه دغه دواړه داسې ښکارېدل لکه چې دوی هسې چکر وهلو، خو یوه افسر ته دغه چکر په همدې ځای پای ته ورسېد. کله چې د خپل دفتر له ودانۍ نه لیرې لاړ، دغه قوماندان ناڅاپه سروري ته مخ واړاوه، سروري خپل کلاشینکوف اوچت کړ او دغه جګړن يې په ډېر نېږدې واټن کې وویشت. په راتلونکو څو دقیقو کې ټول پیلوټان خوشي شول. کله چې دوی د خپل قوماندان مړی ولید، په دې پوه شول چې که د پاڅون ملاتړ و نه کړي، د دوی برخلیک به څرنګه وي. په عین وخت کې هغه چورلکه چې د هوايي او دافع هوا ځواکونو درستیزوال، قادر پکې و د کابل په شمال کې د بګرام هوايي اډې ته ورسېده. قادر ټول پیلوټان او تکنېشنان راغونډ کړل او یوه له ننګېرنو (احساساتو)څخه ډکه وینا يې وکړه. د وینا شیره يې دا وه چې د «د داود ولس دوښمنه رژیم» پر ضد انقلاب کابو بریالی شوی، یوازې د ولسمشرۍ ماڼۍ «د تورو تیارو او ارتجاعي ځواکونو اډې» نیول پاتې دي. د بګرام هوايي اډې پیلوټانو ته دا ویاړ ورپه برخه دی چې دغه اکاړ (بې رحمه) ختم کړي. کله چې د الوتنې امر وشو، هېڅ پیلوټ زړغیتوب و نه کړ؛ نو اوس داسې څه نشته وو چې پر دغه د کرکې وړ رژیم باندې د هوايي بمبارۍ مخه ونیسي.

ډګروال قادر په چورلکه کې بېرته د کابل په لور روان شو. کله چې په هوا کې و، پیلوټانو ورسره اړیکه ونیوله: «د بمبارۍ لپاره ښې راته ووايه.»، ده ورته وویل: «ستاسې نښې د ارګ ودانۍ دي. د ولسمشر استوګنځی.»

راځئ چې له غرمې مخکې یوولسو بجو ته بېرته لاړ شو. د وطنجار د شوبلو کتار پرته له کوم خنډ څخه د ښار مرکز ته ورسېد که څه هم یوه توپخانه د څلورم زغروال غونډ او د ښار تر منځ د دوی په لاره کې پرته وه. د دغه توپخانې قوماندان د کودتا په هکله هېڅ خبر نه و. کله يې چې شوبلې د ښار په لور روانې ولیدلې، سمدلاسه يې له دفاع وزارت سره اړیکه ونیوه، خو د چانس له مخې غوږۍ د کودتا یوه ګډونوال پورته کړه او ورته ويې ویل چې شوبلې د ارګ د ساتنې په موخه ښار ته روانې دي. کله چې شوبلې ښار ته ورسېدې، په دربیو ډلو ووېشل شوې. لومړۍ يې د هوايي ډګر په لور وخوځېدله چېرته چې د هوايي او دافع هوا قوماندانۍ او یوه لویه پوځي چونۍ پرته وه، یو شمېر شوبلې د بالاحصار لرغونې کلا په لور لاړې

چېرته چې د کماندو یو غونډ پروت و. مخالفینو د بالاحصار په نیولو کې هېڅ ستونزه نه درلوده، دوی حتی یوه ډز ته اړ نه شول. دریېمې ډلې تر ټولو مهم عملیات په مخکې درلودل: پر ولسمشرۍ ماڼۍ باندې برید او د دفاع وزارت کنترول ترلاسه کول.

د شوبلو د کنډک قوماندان اسلم وطنجار ټیک د غرمې په وخت پر دفاع وزارت ډز وکړ. دغه ډز د برید د پیل نښه وه. وروسته د مزدور یار، عمر او رفیع تر قوماندې لاندې نورو شوبلو پر ارګ ډزې پیل کړې. د کودتا په ملاتړ کې شاوخوا ٦٠ شوبلې ښکېلې وې. د ارګ ساتونکو پر دفاع لاس پورې کړ او سمدلاسه یې پر مخالفینو د درنو ماشینګنو او راکټونو ډزې پیل کړې.

د دفاع وزیر غلام حیدر رسولي اتمې فرقې ته لاړ، هلته یې افسران راغونډ کړل، دوی ته یې دنده ورکړه چې ښار ته لاړ شي، مخالفینو ته ماته ورکړي او حکومت وژغوري. نوموړی دې ته تم نه شو چې اتمه فرقه د ښار په لور روانه شي او پر ځای یې نورو پوځي اډو ته لاړ چې هغوی ته لارښوونه وکړي. کله چې اتمه فرقه له خپلې اډې څخه وخوځېدله، د کتار په سر کې د لومړنۍ شوبلې قوماندان ناڅاپه شوبله ودروله، د نورو شوبلو په لور تاو شو او یو ګوابنونکی ډز یې پر خپلو خلکو وکړ. وروسته ټول کتار په لېوالتیا دغه شوبلې ته چې یوازې خلقیان پکې وو خپله وفاداري څرګنده کړه.

په ماښام کې د دفاع وزیر اوومې فرقې ته چې د کابل په لمن کې وه ورسېد. ده وکولای شول چې خپل قوماندانان دې ته قانع کړي چې د ولسمشر ملاتړ وکړي، خو کله چې پوځي ګاډو حرکت پیل کړ، له هوا څخه جېټ الوتکو چې له بګرام څخه الوتلې وې پر دوی باندې د ګولیو باران جوړ کړ. د اوومې فرقې قوماندان ووژل شو او پاتې عسکر وتښتېدل.

همدغه شپه لږ ناوخته د دفاع وزیر رسولي ونیول شو او پرته له محاکمې ووژل شو.

دغه انقلاب، لکه ډېر نور انقلابونه، په سپینو لاسماغو او په ډېره پاملرنې او درناوي ترسره نه شو. د بالاحصار په لرغوني کلا کې د ځانګړو ځواکونو قوماندان جګړن هاشم سمدلاسه پوه شو چې د مخالفینو پر ضد مقامت بې ګټې دی. نوموړي په رضاکاره توګه د لومړي ټولي قوماندان لومړی بریدمن شهنواز تني ته چې د ګوند غړی و واک وسپاره. تني د مخابراتو بلوک له قوماندان تورن امام الدین سره اړیکه ونیوله او ورته ویې ویل: «ته د ارتباطاتو کارپوه یې. ګوند تا ته دغه امر کړی. ارګ ته لاړ شه او د پوځي انقلابي شورا پیغام ولسمشر داود ته ورسوه.» امام الدین فکر وکړ چې ده ته به کاغذونه او یا یوه بنده لفافه ورکول کېږي، خو داسې څه نشته وو. تني ورته وویل چې د پیغام متن باید په یاد کې وساتي. د دغه پیغام شیره داسې وه چې په افغانستان کې واک پوځي انقلابي شورا ته لېږدول شوی؛ نو داود او متحدین یې باید تسلیم شي. بیا تني د مخابراتو افسر ته داسې وویل: «وسله له ځان سره مه وړه.»

www.samsoor.com

په کابل کې د کې جي بي او جي ار یو مېشتو مشرانو وروسته له دې چې له مسکو څخه امر ترلاسه کړ چې په کابل کې د پوځي حالاتو د مالومولو لپاره د ښار ډلې وګماري، سمدلاسه لاس په کار شول او عملیاتي ډلې یې جوړې کړې. دوی وپتېیله چې هره ځانګه دوه کسېزه دوې ډلې جوړې کړي. دواړه ډلې، د کې جي بي او جي ار یو، به په یوه وخت د پوځي فعالیتونو ځایونو ته ننوځي. دوی ته په ښار کې د شتون پلمې هم جوړې شوې چې که چا ترې پوښتنه وکړه، دوی یې ورته بیان کړي او د کابل په بېلابېلو ځایونو کې داسې تګ لوری ورکول شو چې څه نا څه یونیم ساعت وخت یې نیوه. دغه عملیاتي ډلو ته اجازه ورنه کړل شوه چې له ځان سره کمره، د ثبت لپاره اله او یا د اړیکو نیولو لپاره کومه وسیله وګرځوي اوحتی د کتابچې ګرځولو اجازه یې نه درلوده. دا احتیاطي کړنې وې چې که دوی ودرول شي، د نیولو خطر به یې لږ وي.
ولېري سترستین Valary Starostin د کې جي بي یو ۳۳ کلن افسر و چې د شوروي سفارت د درېیم منشي په پلمه یې په کابل کې کار کاوه. دنده یې د کلتوري او څارګریزو مالوماتو په برخه کې او د مذهبي مامورینو او سپورتي ټولنو په تړاو وه. اوسادچې نوموړی په دویمه ډله کې وګماره چې ښار ته لاړ شي. له ده سره یو په عمر پوخ څارګر افسر غوره شوی و چې د ډېرې تجربې خاوند او وتلی سړی و. اوسادچې، ولېري ځکه غوره کړ چې نوموړي تر فشار لاندې خپلې چارې په ارامۍ ترسره کولې، په دري ژبه پرته له ګړدوده فصیح غږېدلو او په ښار کې ښه بلد و. دی یو لېوال ختیځپوه و. کله چې زده کوونکی و او د ژباړن په توګه یې دنده درلوده، د کابل په هره لوېشت کې په پښو ګرځېدلی و.
کله چې دوی ته دغه دنده ورکړل شوه او د څارګرې ځانګې له مشر څخه یې دستور ترلاسه کړ، سترستین او ملګری یې عمومي کوټې ته لاړل چې تګ ته تابیا ونیسي. په عین وخت کې وېکتور بابنوف او یوري کېتایوف Yuri Kitaev چې لومړۍ ډله ترې جوړه وه د خپل ګاډي په لور چې له سفارت څخه بهر ولاړ و روان شول. ولېري له کړکۍ نه د کې جي بي افسرانو او ورپسې د جي ار یو افسرانو ته کتل چې د خپلو ګاډو په لور روان وو. چې وخت ضایع نه شي، ولېري د کابل هغه لویې مفصلې نقشې ته مخ واړاوه چې د عمومي کوټې پر دېوال ځړېدلې وه. ده هغه تګ لوری پیدا کاوه چې ده او ملګري ته یې ټاکل شوی و او د تګ لوري په اوږدو کې یې پر هغه ځایونو فکر کاوه چې د څار لپاره دوی ته ګټور وو. لکه څنګه چې ټاکل شوې وه چې ګاډی به یې ملګری چلوي، ده خپل ملګري ته وړاندیز وکړ چې له ده سره یوځای تګ لوري ته په نقشه کې وګوري. ملګري یې دې څنګ ته ټېل واهه او ویې ویل: «بلا د په تګ لوري پسې وي.» ښایي د ده ملګري او نورو کسانو ته چې په کړکۍ کې درېدلي وو، د هغه هوایي بمبارۍ ننداره چې د ولسمشرۍ پر ماڼۍ کېدلې ډېره په زړه پورې وه؛ نو
ولېري هم له نقشې څخه مخ واړاوه او له خپلو ملګرو سره کړکۍ ته ودرېد.

ولېري ته یونیم ساعت تم کېدنه ډېر اوږد وخت ښکارېده. چې وخت ژر تېر شي، نوموړی ښکته لاړ، د سفارت د پروتوکول له څانګې سره ودرېد او بیا د سفارت د ننوتنې دالان په لور لاړ. هلته یې هغه بکس پرانیست چې ده ته راغلي لیکونه پکې اېښودل کېدل. ده ته له مسکو څخه د خپل پخواني مشر له لوري یو پست کارت راغلی و. په پست کارت کې د مې د ورځې مبارکي وه. ده د خپل سخت ګیر خو عادل پخواني مشر له مهربانۍ څخه ډکې خبرې ولوستې او بیا پرته له کوم فکره یې دغه پست کارت د خپلې کرتۍ په جیب کې کېښود. ورپسې د پروتوکول له څانګې سره ودرېد چې له خپلو «پاکو(هغه چې په څارګریزو چارو کې ښکېل نه وو. ژباړن)» دیپلومات ملګرو سره بنډار وکړي. په ښار کې د پېښو په اړه د دوی خبرې ټولیزې وې. ښایي د دوی د دیپلوماتیکي ورتیا له کبله او یا ښایي پېښو بیان ته اړتیا نه درلوده، له دوی څخه یوه یې هم له ولېري نه کومه ځانګړې پوښتنه و نه کړه. ښایي دوې پرته د ولېري له بیان څخه پوهېدل چې په ښار کې ځوک پر چا ډزې کوي. یو دیپلومات، میخایل، ولېري او د ده کورنۍ ته په سفارت کې د ننه د خپل دوه کوټیز اپارتمان د ورکړې وړاندیز وکړ. میخایل ورته وویل: «اپارتمان لوی نه دی، خو خوندي دی.» دی پوهېده چې ولېري په درېیمه کارته کې په یوه دوه پوړیزه کوټۍ کې اوسي. هلته نه یوازې د ولسي جرګې ودانۍ وه بلکې د دفاع وزیر غلام حیدر رسولي، د لومړي وزیر مرستیال او د مالیې وزیر عبدالاالله کورونه هم وو. میخایل په هغه بالقوه خطر پوهېده چې ملګری یې د داسې خلکو کورونه ته څېرمه اوسي چې داود ته ډېر نېږدې وو. ولېري خپل ملګري ته په مننوینې لاس ورکړ او ورته ویې ویل: « مننه، مېشه Misha، زه به په دې هکله له خپلې مېرمنې سره خبرې وکړم.» کله چې ولېري له خپلو ملګرو سره بنډار کاوه، د سفارت له دروازې سره د ده د جي ار یو همکارانو ګاډې په لوړ غږ برېک ونیو. د سفارت دروازه سمدلاسه پرانیستل شوه او ګاډی انګړ ته د ننه شو. افسران په چټکۍ له ګاډي ښکته شول او هغه ودانۍ ته لاړل چېرته چې اندېښمن پېچېننکو دوی ته تم و. دوی په چټکو ګامونو پر خپل څارګر مشر او پوځي اتشې پسې وو او پرته له دې چې له چا سره خبرې وکړي په دویم پوړ کې دفتر ته ننوتل.

وخت په تېرېدو و، خو وېکتور او یوري لا تر اوسه له ښار څخه نه وو راغلي. سترستین ببرته عمومي کوټې ته لاړ چېرته چې ګرومجنه فضا خوره وه او د هر چا پر روحیه یې اغېز اچولی و. ناڅاپه د دارلامان پر واټ د هارن کوونکو ګاډو یو د واده کتار چې په ګلونو ښکلي شوي وو رابښکاره شو، د پوځي ګاډو له څنګه تېر او د ښار په لوري لاړ. عسکر چې د خپلو شوبلو او زغروالو ګاډو پر ژۍ خپه او بېکاره ناست وو، د څو شېبو لپاره خوشاله شول او د واده نوې جوړې ته یې لکه ماشومان په خوښۍلاسونه خوځول. د رمز کښنې یو افسر (په کود باندې د یو متن بدلول چې بل څوک پرې پوه نه شي. ژباړن) عمومي کوټې ته په دې موخې

راغی چې که د ځارګرې ځانګې مشر ده ته اړتیا ولري، سمدلاسه به یې چوپړ ته حاضر وي. نوموړي وویل: « دوی ته وګوره، کومه بله ورځ یې د واده لپاره نه شوی غوره کولی؟» یو بل ځارګر په ټیټ غږ وویل: «چې دغه عسکر به د چا په پلو وي؟ ما یوازې په یو کتار کې دېرش زغروال ګاډي وشمیرل.» ده ته یو ټپرا ځواب ورکړل شو: « څه یې کوې چې د چا پلوي کوي. بې اړنګه په دواړو خواوو کې به ډېرې وینې تویې شي.» که څه هم نورو یې خبره واروېدله، ولېري په ټیټ غږ لکه له ځان سره چې خبرې کوي، وویل: «خو وېکتور او یوري چېرته دي؟» د ولېري هغه د تجربې خاوند ملګری چې له ده سره باید ښار ته تللی وی، ناڅاپه په چټکۍ اوچت شو او په داسې حال کې چې سترګې یې ښکته نیولې وې د دالان په لور یې منډې کړې. ولېري ورته وکتل چې سترګې یې بې حرکته مړې او مخ یې لکه د مړي تک ژېړ و. څو شېبې وروسته د ځارګرې ځانګې مشر ولېري خپل دفتر ته ور وغوښت. اوسادچي په یوه بدمرغه لحن له ولېري وپوښتل: «څنګه یې؟» اوسادچي، ولېري ته د ملګري په سترګه کتل او د خپلو لاس لاندو ځارګرو په پرتله ورته نېږدې و. ولېري ځواب ورکړ: «ښه یم.» بیا اوسادچي ورته وویل: «داسې ښکاري چې ستا ملګری ناڅاپه ناروغ شو. کېدای شي د وینې فشار یې وجه وي. اوس کلینیک ته لاړ. نه پوهېږم چې پر ځای یې له تا سره څوک ملګری کړم، خو کېدای شي چې ښار ته هېڅ لاړ نه شې.» ولېري خپل مشر ته په درناوي چوپ پاتې شو. اوسادچي بیا خبرې پیل کړې: «ښه؛ نو اوس لاړ شه، موږ به یوه چاره وکړو.» ولېري بېرته عمومي کوټې ته لاړ او د خپل ناروغ ملګري او له خپل مشر سره د خبرو په اړه په فکر کې ډوب شو. پر نوموړي باندې اړپېچنو(متناقضو) ننګېرنو زور واچاوه. له یوې خوا د مرګ او یا تر دې بد د معیوبېدو وېره ورسره وه، له بلې خوا دې ته لېوال و چې په ښار کې پېښې په خپلو سترګو ووینې او دا یې هم غوښتل چې خپل ځان په خطرناکو حالاتو کې وازمویي. کله چې وېکتور او یوري له ښار څخه بېرته راغلل، په عمومي کوټه کې د خپګان فضا بېرته ښه شوه. دوی له ګاډي څخه ښکته شول او سمدلاسه د ځارګر مشر د دفتر په لور روان شول. په دالان کې د اوسادچي د دفتر مخته، همکارانو یې دوی ته د اتلانو په څېر ستړي مشي وویل او پوښتنې ترې پیل شوې: «څه خبرې وې؟ څوک یې ګټي؟ مرګ ژوبله ډېره ده؟» یوري ځواب ورنه کړ. په ښار کې د وضعیت په هکله وېکتور یوازې سپکې سپورې ویلې. دوی د اوسادچي دفتر ته ننوتل. څو دقیقې وروسته د شفري استونو یوه سپینه کتابچه په لاس کې، یوري له دفتر څخه ووت او د اوسادچي د مرستیال،ارلوف مروزوف دفتر ته لاړ څو مرکز ته یو بیړنی پیغام ولیکي. اوسادچي، سترستین بیا خپل دفتر ته ور وغوښت او ورته ویې ویل: «وېکتور به تا سره ښار ته لاړ شي.» ده ځواب ورکړ: «پوه شوم، ښاغلیه.» دی په دې خبر سېکمن شو ځکه چې ده ته دا لکه خوب داسې وو چې له خپل ملګري، وېکتور بابنوف سره یوځای کار وکړي. سربېره پر دې، وېکتور د یو باوري او زړور سړي په توګه هر چا ته مالوم و. اوسادچي دغه خبره هم ولېري ته وکړه :«تاماري Tamara ته څه مه وایه. که خبره شي، بیا به د کار توان ونه لري. په اوسنیو شېبو کې موږ ته نوموړې د مالوماتو تر ټولو مهمه سرچینه ده.» ولېري ځواب ورکړ :«سمه ده،

ښاغلیه.» د ولېږي مېرمن، تامارا د ځارګرۍ څانګې د ژباړنې په توګه دنده لرله. کله چې ولېږي له اوسادچي سره خبرې کولې، تامارا په یوه بله کوټه کې یوې ځانګړې مخابرې ته ناسته وه او د بېلابېلو پوځي اډو او ډلو مخابراتي اړیکو ته یې غوږ نیولی و. د ځارګرۍ څانګې شنونکو به د نوموړې راپورونه راغونډ کړل او له هغو څخه به یې د پېښو په هکله هر ساعت یو راپور جوړ کړ او مسکو ته به یې ولېږه. وېکتور او ولېږي په چوپتیا د اوسادچي له دفتر څخه د سفارت د دروازې په لور ووتل، د وېکتور په شنه ټیوټا کې کښېناستل او د دارلامان د واټ پر اوږدو کې د ښار مرکز ته لاړل چېرته چې د ډزو او چاودنو غږ په چټکۍ ډېرېده او له ودانیو څخه د لوګي لوخړې ټینګېدې (غلیظې کېدې). کله چې دوی د شوروي له کلتوري کور څخه تېرېدل، دوی د شوبلې ضد یوه بطریه ولیدله چې میلې یې د ښار په لور سیخې کړې وې. لږ وړاندې د ترافیکو مرکزي ودانۍ ته څېرمه، دوه زغروال ګاډي درېدلي وو. دوی یې له څنګه د شاه دو شمشېره جومات په لوري تېر شول او بیا د سپین زر څلورلارې ته ورسېدل. له دې ځای څخه دوی په ډېر پام د کابل هوټل او پښتونستان څلورلارې په لور روان شول. د شوبلو او زغروالو ګاډو له څنګه کاږه واږه تېرېدل. ځینې درېدلي، ځینې روان، ځینو اور اخیستی او ځینې د ډزو په حالت کې وو، په وسلو سمبال بشپړ بلوکونه، د افسرانو او عسکرو بېلابېلې ډلې چې ډګرۍ خولۍ یې پر سر وې، د زغرې واسکټونه یې په ځان او کلاشینکوفونه او راکټونه یې په لاس کې د زغروالو ګاډو او شوبلو تر منځ هاخوا دېخوا لیدل کېدل، ځینې نورو ټیپان پر شا کړي وو او یا یې په تذکرو کې لېږدول. ولېږي ته داسې ښکاره شول چې پوځیان دومره بوخت وو چې شنه ټیوټا ته چې بهرنیان پکې وو او یا ځینې نورو شخصي ګاډو ته یې هېڅ پام نه و. دا خبره یې وېکتور ته وکړه او هغه هم ورسره همغږی و: «دوی په خپلو ذهنونو کې ډېر نور څه لري.» ولېږي په دې اند شو چې باید پر خپله حافظه ډډه ونه وهي؛ نو یو قلم او هغه پست کارت یې له جیب څخه راوایستل چې پخواني مشر یې له مسکو څخه ورته لېږلی و چې د سترګو لیدلی حال پر دواړو مخونو په لنډو ټکو ولیکي. د نوموړي دا یادښتونه بیا په راتلونکې کې مسکو ته د پیغام خاکه شول.

له ارګ څخه نیولې تر پښتونستان څلورلارې ته څېرمه د چنګاښ د شپږویشتمې واټ* پورې، چېرته چې د دفاع وزارت و، درنه جګړه روانه وه. شوبلې او زغروال ګاډي د سوځېدونکو ګاډو په منځ کې خوځېدل او په دوامداره توګه یې د ارګ په لور ډزې کولې، خو د ارګ له لوري ځوابي ډزې نه کېدې. وېکتور او ولېږي دې پایلې ته ورسېدل: د داود د دفاع مرکز ارګ ته د ننه خوځېدلی. په هغه واټ کې چې ارګ ته مخامخ و، لږترلږه سل کسه مړه یا سخت ټپیان پراته وو. هېچا مرسته ورسره نه کوله، ځینو د خاپوړو هڅه کوله،

---

* په کابل کې دا یو تر ټولو ښه واټ و او د شاهي نظام پر ضد د کودتا په ویاړ نوم ورکړل شوی و چې د افغان کلیزې (جنترۍ) پر بنسټ د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ په شپږویشتمه چې د ۱۹۷۳ میلادي کال د جولای د اوولسمې سره سمون لري ترسره شوه.

www.samsoor.com

ځینو له ډېر درد څخه زګېروي کول، ځینې چوپ وو او نورو هڅه کوله چې پر خپلو ټپونو پټۍ وتړي. د درنو وسلو پوچک، په وینو کې پرتې ډګري خولۍ، موزې، د یونیفورم څیرې ټوټې، د انسانانو لاسونه او پښې د ارګ مخې ته پراته وو.

کله چې د تګ لوري په دغه خطرناکه برخه کې روان وو، وېکتور په ارامۍ او ښه وړتیا خپل ګاډی له خوځنده او روانو شوبلو، زغروالو ګاډو او نورو خطرونو څخه بچ کاوه. د ژوندیو ګولیو د چاودنې د اندېښنې له کبله به یې د سوځېدونکو شوبلو او زغروالو ګاډو څخه په تېرېدو کې لیرې واټن واخیست. کله به چې له مړیو او ټپیانو څخه تېرېده، همدې ته ورته هڅې به یې کولې. ولېري په چټکۍ هغه ویجاړې او فعالې شوبلې او نور ګاډي شمېرل چې د ماښې په برید کې یې برخه اخیستې وه. نوموړي د هغه ځایونو نومونه هم ولیکل چې یاغیانو د برید په ترڅ کې نیولي وو. د ده په لاس کې پست کارت ډېر ژر د جګړې له یادښتونو ډک شو. کله چې د ارګ د مخې له لیدو خلاص شول، دوی د هوایي ډګر په لور روان شول او ډېرې نورې شوبلې او زغروال ګاډي یې ولیدل چې په همغه لوري روان وو. د افغانستان د رادیو له ودانۍ څخه چې د هوایي ډګر په لاره پرته ده شوبلې چاپېر وې. وېکتور او ولېري د هوایي ډګر مخته له دایروي پلازا سره راتاو او بېرته د مکروریانو په لور چې ارامه او تش و، لاړل. د دغه سیمې خلکو په خپلو کورونو کې ځان خوندي کړی وو او په چوپتیا یې دعاوې کولې. دوی دواړو چې دلته د پام وړ څه ونه لیدل، بېرته د ښار د مرکز په لور روان شول.

دومره وخت تېر نه و چې بېرته د چنګاښ شپږویشتم واټ ته ورسېدل چېرته چې ډېرو شوبلو ځوابي ډزې کولې او له ډزو یې ځان بچاوه. د داود استوګنځي ته څېرمه یو زغروال ګاډي اور اخیستی و، خو دلته یې مړي یا ټپیان ترسترګو نه شول. یو ټانک ناڅاپه راښکاره شو چې د دوی د ګاډي په لور نېغ روان دی. وېکتور وکړی شول چې ګاډی د دغه ګرندي ټانک له چینونو ټیک هغه شېبه بچ کړي چې ټانک د ارګ پر لوري ډز وکړ. د ډز څپو د ګاډي مخکنۍ ښۍ دروازه خلاصه کړه او پر ولېري یې دومره اغېز وکړ چې له ګاډي څخه یې څېرمه لښتي ته کابو ځان اچولی و چې ګولۍ پرې ونه لګېږي. بیا یې سملاسي پر کیڼ لاس سیټ کلک ونیو، په ښي لاس یې دروازې ته لاس کړ او په زور یې بېرته کلکه بنده کړه. وېکتور په ځاځ (غوسه) ورته وویل: «څو ځلې مې درته ویلي چې دروازه په زور مه بندوه؟ دا خوارکی ګاډی له کاره وځي» ولېري هېڅ ونه ویل او چوپه موسکا یې کوله. په داسې وخت کې چې هره شېبه د مرګ خطر و او سړی باید د توبې او ابدیت په فکر کې شي، د ده د ملګري ناڅاپي ځاځ د خندا وړ و او تر ټولو مهمه دا چې د ده د ملګري پولادي زړورتیا کابو مخ په اوبه کېدو وه. کله چې د حاجي یعقوب څلور لارې ته ورسېدل، وېکتور څو ځلې پرله پسې کیڼ لوري ته تاو شو. دوی د امریکا د سفیر د استوګنځي، د هند سفارت او د کورنیو چارو وزارت له څنګه تېر شول. د امریکایي سفیر د استوګنځي او د هند سفارت ته څېرمه سیمې ارامه وې او ساتونکي پولیس یې کرار په خپلو غرفو کې داسې ناست و لکه هېڅ خبره چې

نه وي، خو بیا هم شک ښکارېدل او داسې څرګندېدله چې د اړتیا په وخت کې هر څه ته چمتو وو. د کورنیو چارو وزارت مخکې د «شلکا» دافع هوا سیستم ځای پر ځای شوی و. هلته دوی یوه اشنا څېره ولیده، «لطیف!» دواړو پر یوه وخت چیغه کړه.

پنځه کاله مخکې جګړن (په هغه وخت کې لومړی بریدمن) لطیف د شاهي نظام پر ضد کودتا کې برخه اخیستې وه. هغه وخت نوموړی نه د ا خ د ګ غړی او نه هم د داود یو متحد و. په سیاست کې یې هم دومره ناتې (علاقه) نه درلود او په کودتا کې یې ښایي له دې کبله ګډون کړی و چې بله چاره یې نه لرله پرته له دې چې د خپلو شوروي خواخوږو ملګرو سره یو ځای شي. له دوی سره نه یو ځای کېدل د پوځي ورورولۍ د لوړې د ماتولو او ډارنتوب په مانا وو، خو اوس دغه جګړن چې له شلکا سره درېدلی و هغسې نه ښکارېده لکه دغو دوو ځارګرو چې مخکې لیدلی و. نوموړی شاړې واړې و، ږیره یې نه وه خرېیلې، یو ازاد تور خرسک یې اغوستی، د دودیزې پوځي خولۍ پر ځای یې د شوبلوال (ټانکست) خولۍ پر سر وه او مخ یې له ډېر فشار، لوګي او ناخرېیلې ږیرې څخه تک تور و.

د جګړن دغو شورویانو ته پام نه شو. ده یو اتوماته وسله پر زنګون ایښې وه او د کورنیو چارو وزارت مخته ګرانیبه چمن ته یې کتل چېرته چې کرتۍ او نېکرونه په ځان کې د وزارت کارکوونکو لترۍ وهلې وې. په کلاشینکوفونو سمبال عسکر د دغو بې پټلونو مامورینو په لیکه کې ګرځېدل. وېکتور په ځبنه (احمقه) ښه وخندل: «ډېر ښه نظر، داسې حالت چې دوی یې اوس لري، تېښتې ته به زړه ښه نه کړي!»

وریسې دوی د بهرنیو چارو وزارت ته لاړل. د وزارت په سپینو دېوالونو کې درنو وسلو خپلې نښې پرېښې او ښیښې یې ماتې کړې وې. یوه کړکۍ روغه نه وه پاتې. دلته د ولېري یو افغان سوداګر ور په یاد شو چې په دې وروستیو کې یې ده ته سرټکونه کړې وه: «ستاسې د سوداګرۍ استازي موږ دې ته اړ باسي چې د اړینو توکو لکه اورلګیت او کلوشو سربېره بې ګټې او ګرانبیه توکي لکه د کړکۍ ښیښې وپېرو.» ولېري له ځان سره په ملنډېزه ښه سوچ وکړ: «څومره بد، که تا ښیښې پېرودلې وی، اوس به دې ډېره ګټه پکې کړې وی.» د وزارت مخې ته په واټ کې د الوتکې یو بم یو ډوغل (کنده) جوړ کړی و چې له اوبو ډکېده. دغو دوو افسرانو ته دا ناشونې وه چې له خنګه یې تېر شي، نو دوی پر بله لاره د پولتخنیک په لور روان شول.

په لاره کې یې داود ته د وفادارو د هووېتزر توپونو howitzers یوه بطریه ولیدله چې میلې یې د ښار په لور سیخې وې. د قرغي-پغمان لاره زغروالو ګاډو بنده کړې وه. دوی د کابل-غزني په لاره خپل شین ټیوټیا تر هغه وچلولو تر څو چې د داود د وفادارو پوځیانو یو جوړ شوي پاټک ته ورسېدل. وېکتور او ولېري وپتېیله چې ببرته سفارت ته د پوهنتون له لارې لاړ شي.

www.samsoor.com

د ماموریت په بهیر کې دغه دوو څارګرو له یو بل سره ډېرې لږ خبرې وکړې. دوی خپل اندونه او پایلې سره پرتله نه کړې، خو کله چې بېرته راغلل او خپل راپورونو یې ورکړل، په دې پوه شول چې راپورونو یې له یو او بل سره سمون درلود. د دې تصور سخت دی چې اوسادچي به څومره ټېرا (وارخطا) و چې له جګړې ځپلي ښار څخه د خپلو همکارانو د بېرته راتګ په تمه ناست و. کله چې دوی یې دفتر ته ننوتل، ده د ډېرې ارامۍ ننګېرنه (احساس) وکړه. وېکتور ته یوه دلۍ سپینې شفرې پاڼې ورکړل شوې او ورته وویل شول چې د ارلوف مروزوف دفتر ته لاړ شي چې مرکز ته سمدلاسه یو پیغام ولېږي. اوسادچي له وېکتور څخه وغوښتل چې په ښار کې د خپلو سترګو لیدلی حال په مفصل ډول ولیکي او د هر لوري د بریا شونتیا وڅېړي. د کارپوه څارګر مشر (اوسادچي) دغه یوه هوښیاره کړنه وه ځکه ده غوښتل چې کله ولېږي خپل راپور بشپړ کړي، دی به د دې فرصت ولري چې د ولېږي له راپور سره د وېکتور راپور پرتله کړي. شل دقیقې وروسته ولېږي خپل ځلورمخیز راپور بشپړ کړ. د نوموړي د راپور تر ټوله مهمه برخه د ده څرګنده پایله وه او هغه دا چې مخالفین ډېرې وسلې لري او مورال یې غښتلی دی. د جګړې له ډګر څخه د څارنې پر بنسټ د دغه څرګندونې له مخې دوی دا و ارزوله چې د داود وفادار ځواکونه به تر سهار پورې چې د اپرېل اته ویشتم کېده ونه پایي او د نورمحمد تره کي په مشرۍ د ا خ د ګ مشران به بریا ترلاسه کړي.

کله چې ولېږي د اوسادچي دفتر ته بېرته راغی، وېکتور وتلی و او د اوسادچي له څنګ سره د رمز کښنې یو افسر ناست و. اوسادچي په چټکۍ د ولېږي پیغام ولوست او لاسلیک یې کړ او له ورایه ښکارېده چې له راپور څخه خوښ و. د رمز کښنې افسر د ولېږي دوسیه واخیسته او په چټکۍ خپل دفتر ته لاړ چې دغه پیغام مسکو ته ولېږي. څارګر مشر، ولېږي ته وویل: «ځه، لاړ شه دمه وکړه. ما یو بل کس ته امر وکړ چې نن شپه د تاماري پر ځای کار وکړي. نوموړې ټوله ورځ غوږۍ له غوږ څخه نه ده ایسته کړې.» ولېږي ورته وویل: «زه به نن شپه خپل زوی په سفارت کې پرېږدم. زه او تامارا به درېیمې کارتې ته لاړ شو. که چېرې زما افغان ملګري او یا ځینې هغه بهرني دیپلوماتان چې زه اړیکې ورسره لرم د کومې په زړه پورې خبرې په هکله له ما سره اړیکې ونیسي، زه باید څه وکړم؟» اوسادچي ځواب ورکړ: «زه فکر نه کوم چې کوم بل بهرنی به په کابل کې د پېښو په اړوند زموږ په پرتله ډېر مالومات ولري، خو ته رېښتیا وایې، که داسې څه دې ترلاسه کړل چې زموږ د مالوماتو په تفصیل او شننه کې مرسته کوي؛ نو موږ باید ګټه ترې واخلو. ته پخپله هڅه وکړه چې د خپلو ځینو رسمي ملګرو سره اړیکه ونیسې.» ناڅاپه د دغه مشر رنګ ژېړ شو، لاس یې پر زړه کېښود، په څوکۍ کې یې تکیه وکړه او مخ یې له ډېر درد څخه غونچ کړ. بیا یې په داسې حال کې چې هغه تیارې ته یې له کړکۍ څخه کتل چې پر کابل خورېده داسې وویل خو غونډله یې پوره نه شوی کړی: «کابل ښار ته ستا تګ...» ولېږي پرې غږ کړ: «څه خبره ده؟ ډاکټر ته زنګ ووهم؟» اوسادچي ورته وویل: «نه، څه خبره نه ده. لاړ شه، دمه وکړه. که مې ډاکټر ته اړتیا پېښه شوه، زه به پخپله زنګ ورته ووهم»

د اپرېل په پنځه ويشتمه شپه، د ببرک کارمل د استوګنځي د وره زنګ ووهل شو. ده د چا د راتګ تمه نه کوله. دغه مسلکي انقلابي داسې وانګېرل چې څوک د ده د نيولو لپاره راغلي. د ده انګېرنې هېڅ کله غلطې نه وې او د يو انقلابي په توګه يې ډېره تجربه درلوده. دی د خپل ژوند په بهير کې تر څار لاندې راغلی و، ګواښل او بندي شوی و او ټول هغه څه پرې تېر شوي وو چې د يو مخالف په طبيعي ژوند کې پېښېږي. د نوموړي انګېرنه دا ځل هم رېښتيا وختله. کله چې ببرک ور پرانيست، دوه پوليس افسران چې نوی يونيفورم يې اغوستی و کور ته د ننه شول. افسرانو په ادب خپل ځان ور وپېژانده، خپل پېژندکارتونه يې ور وښودل او د کور د څښتن د نوم پوښتنه يې وکړه. ببرک ملنډېزه ځواب ورکړ: «تاسې ما نه پېژنئ چې څوک يم؟» يو ښايسته ځوان افسر چې رڼې سترګې يې لرلې په درنښت ورته وويل: «پېژنو دې. موږ دې پېژنو. تاسې پخپله يو حقوقپوه ياست. اړينه نه ده چې موږ تاسې ته دا بيان کړو چې د چا نيول بايد څرنګه ترسره شي.» د ا خ د ګ دويم کس چې کيڼ لاس يې شاته او زنه يې اوچته نيولې وه وويل: «زه ببرک کارمل د محمد حسين زوی يم.» افسرانو يوه پاڼه ور وښوده چې پکې لوی څارنوال د ده د نيولو امر کړی و او ده ته يې وويل چې د ده د نيولو وجه د ناقانونه لوی لاريون او غونډې جوړول دي.
د دغو افسرانو داسې دروند چلند له دې کبله و چې له نيولو څخه يوه ورځ مخکې د کورنيو چارو وزير عبدالقدير نورستاني هغو افسرانو ته دستور ورکړی و چې په دغه عملياتو کې يې برخه اخيسته چې په عملياتو کې بايد د قانون په اډانه کې او له دروند چلند څخه کار واخلي. دغه وزير دا امر هم کړی و چې بايد د ټولو نيونو غبرېز بهير ثبت شي څو په دې ډاډه وي چې له نيول شوو خلکو سره د ده له امر سره سم چلند شوی. وروسته دغه ټول غبرېز لاسوندي (اسناد) د نوي رژيم لاسته ورغلل.
دلته کارمل نه کوم اعتراض وکړ او نه يې کومه اندېښنه څرګنده کړه. هغه سياسي پرځنګ (مبارزه) چې ده يې کابو دېرش کاله مشري کوله، دی دې ته چمتو کړی و چې د ډېرو ناخوالو او ننګونو سره سره خپل پرځنګ ته دوام ورکړي. سياسي تجربې نوموړي ته داسې بڼه ورکړې وه چې د عادي خلکو په پرتله يې ځانګړتياوې خورا بېلې وې. دی يو مسلکي جنګيالی و. خپلې ايډيالوژۍ ته يې ځان داسې ځانګړی کړی و چې هر راز قربانۍ ته چمتو و: د مادي شتمنۍ، هوساينې او حتی د خپل ژوند قربانۍ ته. کارمل مخکې هم بندي شوی و. په ۱۹۵۰مو کلونو کې کله چې په کابل پوهنتون کې محصل و، د حکومت ضد لاريون کې د برخې اخيستنې په تور څلور کاله بندي و. همغه وخت يې خپل نوم «کارمل» ته بدل کړ چې په

www.samsoor.com

پښتو «کارکونکي» ته وایي. ده له زندان څخه وېره نه لرله. له ویشتل کېدو او یا له اعدام څخه هم نه وېرېده. یوازې له یو شي څخه یې وېره درلوده: چې د شکنجې عصري او ښې اغېزمنې شوې وسیلې او رواني درملونه به یې له کاره وغورځوي. کارمل د کورنیو چارو وزارت د پلټنې یا تحقیق په څانګه کې د بندي خونې پر سمتې غولي ناست او د هغه تورنو په اړه یې سوچ کاوه چې حکومت به یې پرې ولګوي او له دې څخه راولاړو پوښتنو ته د ځوابونو په لټه کې و. یو هزاره ساتونکي چې یوه ځبنه او کابو د ملامتونې موسکا یې پر مخ خوره وه، ده ته چای، وروسته غرمنۍ او بیا ماښامنۍ راوړل. ببرک هڅه کوله چې له ده سره وغږېږي، خو دغه ساتونکي ځواب نه ورکاوه. وخت تېرېده، خو ببرک پوښتنو ته ونه وغوښتل شو. نوموړي له ځان سره فکر وکړ: «زه یې ونیولم، خو اوس نه پوهېږي چې له ماسره څه وکړي. دوی نورو دستورونو ته تم دي. زما نیونې خامخا د افغان ټولنې په فعاله سیاسي کړۍ کې خوځېدنه رامنځته کړې ده.» ده د سګرېټو څکول پیل کړل او هغه غږونو ته یې غوږ ونیو چې د زندان له دېوالونو څخه بهر وو: ګاډو هارنونه کول او سوداګرو توکي پلورل. په کابل کې ژوند په نورماله توګه روان و. کارمل په زندان کې دېوال ته تکیه کړې وه، سګرېټ یې څکول او سوچ یې کاوه.
په ګوند کې له تره کي وروسته ببرک کارمل تر ټولو لوړپوړی غړی و. دا چې دی د ګوند دویم لوړ پوړی کس شو، د ده پر ځان باندې باور تر یوې کچې زیانمن شو، خو دی پوهېده چې د ګوند په یووالي که د دوو مشرانو شونتیا نشته؛ نو د خپلو شخصي لېوالتیاو په پرتله یې د ملي او انقلابي ځواکونو غښلتیا غوره وګڼله. نوموړی د ګوند له جوړېدو وروسته تل د ګوند دویم کس و.
د ګوند لومړۍ کنګره چې د ۱۹٦٥ کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه د نورمحمد تره کي په کور کې جوړه شوه، د کارمل په یاد وه. اووه ویشت ځوانانو چې پرېکړه یې کړې وه چې خپل ژوند د «افغانستان د ښې راتلونکې لپاره د پرځنګ» لپاره ځانګړی کړي په دغه کنګره کې ګډون وکړ. د ناستې په کوټه کې د اوسپنې کټ کېدونکې څوکۍ خلاصې او په لیکو کېښودل شوې. د لرګیو یوې بخارۍ پړکاری کاوه او کوټه یې توده کړې وه.
پخوانی پوځي پیلوټ او په عمر کې تر ټولو مشر ګډونوال، ادم خان ځاځی د رایې ورکولو د یوه پرانیستې بهیر په پایله کې د کنګرې لنډمهاله منشي وټاکل شو. ده ته، د ده مرستیال او سکرتر ته دنده ورکړل شوه چې د کنګرې یادښتونه ولیکي؛ نو دوی یوه داسې کافي مېز ته کښېناستل چې په لرګي کې یې هډوکي کارول شوي وو. تره کي او کارمل چې په خندا له یو او بل سره ټوکې کولې کیڼ لوري ته په لومړۍ لیکه کې ناست وو. د کنګرې ګډونوالو هڅه کوله چې کرارې خبرې او چک چکې وکړي ځکه چې دا یوه پټه غونډه وه. دوی د خپلې غونډې په دسیسه ییزه بڼه ښه خبر وو او په دې پوهېدل چې کور ته څېرمه په څلورلاره کې یوه څوکیداري شته. دوی د ګاونډیانو په هکله هم اندېښمن وو چې پولیس ته به خبر ورکړي او د داسې کور د څېښتن په هکله راپور ورکړي چې مخکې یې هم له پولیسو سره ستونزې لرلې.

د کنګرې ساتونکي یو شمېر غښتلي سړي وو چې له کارمل سره یو ځای راغلي وو. دوی د انګړ په واوره پټ چمن کې درېدلي وو. کله کله به له انګړ څخه بهر ووتل او په شاوخوا واټونو کې د ګزمې او یا ځان تودولو په موخه ګرځېدل. د ساتونکو مشر د حبیبیې لېسې زده کوونکی نجیب الله و چې د «غویې» ستاینوم یا لقب یې درلود. د نجیب په خیال کې به دا نه ګرځېدل چې یو وخت به د ګوند عمومي منشي او وروسته ولسمشر شي.

ځاځي، نور محمد تره کی ګډونوالو ته وروپېژانده، د ده کتاب «نوی ژوند» یې ور وښود او د نوموړي سیاسي فعالیتونه یې یاد کړل. بیا یې د خبرو وار تره کي ته ورکړ. له خبرو څخه مخکې تره کي د ټوکر یوه سره ټوټه واخیسته او د کافي پر مېز یې وغوړوله. دې پر ټولو ګډونوالو اغېز وکړ او دغو دسیسه ګرو کراري چک چکې وکړې. تره کي د افغانستان د تاریخي پرمختګ پر عجایبو خبرې وکړې. ورپسې د فیوډالی د پرېکنده واکمنی او اکاړی (بې رحمی) او د ښکېلاک پر ضد له ښکېلاکي انګرېزانو سره د افغانانو د جګړو په هکله وغږېد. بیا یې په هغه وخت کې په خپل هېواد کې د امپریالېزم مخ پر ودې او زیانمنوونکي اغېزې، د ټولنیزې وټې له اړخه د هېواد شاته پاتې کېدنه، د اصلاحاتو غوښتونکي تېر انقلابي خوځښتونه، او د علمي تیوریو پر بنسټ د یو نوي ګوند د جوړولو اړتیاوې یادې کړې. ورپسې یې د کړنلارې او د ګوند د اصولو هغه مهم ټکي ولوستل چې ده مخکې له مخکې لیکلي وو.

بیا د غونډې منشي، کارمل ګډونوالو ته وروپېژانده. کارمل د ګوند د راتلونکو فعالیتونو پر اصولو یوه ښه جوړه شوې او تفکري وینا وکړه. نوموړي وویل: «د افغان ټولنې اوسنی وضعیت د سملاسي رادیکالو او دوامدارو اصلاحاتو په پلي کولو کې هېڅ کوم اړنګ (شک) ته ځای نه لري، خو سره له دې چې موږ په دغه اړتیا پوهېږو، که موږ سر له اوسه لاس په کار نه شو، موږ به ښه انقلابیان نه وو. موږ هره ورځ او هر ګړۍ باید داسې کړنې تر سره کړو چې وګړي دې ته چمتو کړو چې د هېواد په سیاسي ژوند کې برخه واخلي. موږ باید ټولې هغه کړنې ترسره کړو چې په پراخه کچه د هېواد وګړي په دموکراتیکه توګه د هېواد په واکمنۍ کې برخه واخلي.» د مشرانو له ویناو وروسته، د دمې په ترځ کې ګډونوال په ډلو ووېشل شول او له ممیزو، مندکو او کلچو سره چای ته کښېناستل. ادم خان ځاځي د کور په یو لیرې ګوټ کې پر یو جاینماز لمونځ وکړ. یوه ګډونوال له تره کي څخه وپوښتل: «تا ته چا واک درکړی چې موږ راغونډ کړې؟» تره کي په یوه ډارنه موسکا کې داسې ځواب ورکړ: «زما خپل هوډ او د افغانستان خلکو.»

له دمې وروسته دوی د ګوند پر نوم خبرې وکړې. کله چې دوی د ګوند د کړنلارې او اصولو خاکه منظوروله، خپلو ټولیزو موخو ته یې داسې بڼه ورکړه: «د یوې داسې ټولنې جوړول چې څښښاک یا استثمار پکې ځای ونه لري.» مارکسېزم-لېننیزم د دغه خوځښت د تیورۍ او اېډیالوژۍ د بنسټ په توګه وپېژندل شول.

www.samsoor.com

د ګوند نوم «په افغانستان کې د کارګر پوړ او ټولو خواریکښو مخکښ او ریښتینی ساتونکی» کېښودل شو. کارمل پر دغه نوم اعتراض وکړ او ویې پوښتل: «په فیوډالي افغانستان کې کارګر پوړ له کومه شو؟» د ده پوښتنې کوم ځواب او یا خبرې ونه زېږولې. تره کی د کارمل لوري ته ور کوږ شو او په پساري یې ورته وویل: «زموږ د شوروي ملګرو به دا خوښ شي ما سلا ورسره کړې ده.» د داسې خبرې پر وړاندې چا استدلال نشوی کولای.

مخکې له دې چې د مرکزي کمېټې د غړو د ټاکلو لپاره د رایې ورکونه پیل شي، پرېکړه وشوه چې هر ګډونوال په لنډه توګه ځان نورو ته ور وپېژني. کله چې شاولي خبرې کولې، له غونډې یې غوښتنه وکړه چې دا یادښت ولیکي چې دی پر بورژوا پوړ پورې تړلی دی او کېدای شي څه تېروتنې وکړي. نور احمد نور وویل چې پلار یې یو داسې نومور فیوډال دی چې دېرش زره کسیز شخصی وسلوال ځواک لري. کله چې ګډونوالو دغه مالومات هضمول، نور احمد ژمنه وکړه چې دغه ځواک به، چې پلار ته یې وفادار دی، سر له اوسه د ګوند په چوپړ کې وي. د مستعار نوم «کارمل» سره سره، ببرک د نورو په پرتله دومره کارګر یا پر کارګرې ټولنې پورې تړلی کس نه ښکارېده. ټول پوهېدل چې د نوموړي پلار د پکتیا لوی والي و، خو دوی د ده په اړه پر نورو مهمو ټکو هم پوهېدل. کارمل له زلمیتوب څخه د انقلابي ځوانانو مشري کوله. نوموړي د حکومت پر ضد ډېر لاریونونه په لاره اچولي وو چې له کبله یې له پوهنتون څخه وشړل شو او په زندان کې یې وخت تېر کړ. د تره کي په اړه به سړی څه وواییې؟ دی په یوه پښتنه بزګره کورنۍ کې زېږېدلی و. د ده کورنۍ له یوې کوچۍ قبیلې څخه وه. مور او پلار یې د ده په کوچنیوالي کې مړه شوي وو؛ نو دی په برتانوي هند کې یوې انګرېزي جوړې زوی وباله. په غونډه کې د نورو ګډونوالو په څېر، تره کي هېڅ کله پر ځمکه کې د بزګر په توګه او یا له ماشینونو سره د کارګر په توګه کار نه و کړی؛ نو هېڅ کله یې له کارګر پوړ سره تړاو نه درلود . دی د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې یو لیکوال، ژورنالېست او یو بیروکرات ، په واشنګټن کې د افغانستان په سفارت کې د مطبوعاتو اتشې او په کابل کې د امریکا په سفارت کې ژباړن و، خو نه کارګر او نه بزګر و.

کارمل د زړه له تله غوښتل چې د نوي ګوند مشر شي، خو په دې ښه پوهېده چې د ده انقلابي تجربې به پر ګډونوالو دومره اغېز ونه لري لکه دومره چې د تره کي پرې اغېز کوي. تره کی له پرمختګ غوښتونکي خوځښت، ویښ زلمیانو سره په ۱۹۶۰مو کلونو کې یو ځای شوی و. کارمل په دې هم پوه شو چې په کنګره کې دی یوازینی کس نه دی چې له شورویانو سره اړیکې لري. تره کي ده ته په «پټه» له «شوروي ملګرو سره د خپلو ځانګړو اړیکو» په هکله وویل. د یادونې وړ ده چې په هغه وخت کې تره کي او وروسته د ده نږدې ملګرو له «شوروي ملګرو سره د خپلو ځانګړو اړیکو» په هکله مبالغه او حتی دروغ ویل څو خپل دریځ په راتلونکې کې غښتلی کړي. په داسې چاپېریال کې داسې اړیکو ډېر ارزښت درلود. ټاکنې پیل شوې. بشپړې ازادې او ښکاره. اووه کسه د مرکزي کمېټې غړي وټاکل شول او دې کمېټې ته

څلور کسه راتلونکي کاندیدان هم وټاکل شول (کېدای شي اووه کسه د مرکزي کمېټې اصلي او څلور کسه ازموینېتي غړي ټاکل شوي وي. ژباړن). ورپسې د مرکزي کمېټې نویو ټاکل شوو غړو نورمحمد تره کی د مرکزي کمېټې عمومي منشي او ببرک کارمل د نومړي د مرستیال په توگه وټاکل. کنگره د شپې پر دوو بجو پای ته ورسېده. گډونوال په پښو او یا پر بایسکلونو خپلو کورونو ته لاړل.

کارمل چې د زندان په کوټه کې د گوند د برخلیک په اړه سوچ کاوه، نومړي ته په وار وار ور په یاد شول چې په «کلک متحد گوند» کې لومړني درزونه په همغه لومړنۍ بنسټ اېښودونکې کنگره کې راښکاره شول. ځاځي، د کانگرس په غونډه کې منشي، چې د مرکزي کمېټې د غړي په توگه ونه ټاکل شو، سبا ته گوند پرېښود. ځینې په دې گومان هم وو چې تره کي، کارمل او بدخشي نه یوازې د ځان بلکې د نورو په گټه دوه ځلې رایې ورکړې. دغه درزونه ډېر او دومره ژور شول چې رغونه یې ناشونې شوه او پایله یې د گوند په دوو ډلو وېشل شول. د کارمل په یاد وو چې له پیل څخه د ستراتیژۍ او تکتیکونو په هکله مخالفتونه شته وو. تره کي او متحدینو یې په ښکاره ځانونو ته «کمونستان» ویل. د دې پر ځای چې په سیستماتیکه او دوامداره توگه په افغانانو کې کار وشي، دوی له تاوتریخوالي څخه په کار اخیستنې د واکمن رژیم سملاسي پرځونه خپله موخه وگرځوله. د چپي شعارونو پر ځای، کارمل یوه داسې منځلارې تگلاره خپله کړه چې پکې  د نفوذ له قانوني لېلو (مېتودونو) څخه کار اخیستل کېده. ده د تاوتریخوالي په وسیله د رژیم پرځول نه غوښتل بلکې د دموکراتیکو موخو پر لور د تدریجي پرمختگ غوښتونکی و.

د ۱۹٦۸ کال د مارچ له خوارلسمې څخه کله چې کارمل او متحدینو یې د پرچم (توغ) خبر پاڼه پرته د تره کي له ښکېلتیا خپره کړه، د دوی بېلتون خپلې وروستۍ بڼې ته ورسېد. دغه بېلتون نه یوازې تشکیلاتي و بلکې دغو ډلو په لوی لاس خپلې لارې بېلې کړې او په جلا توگه یې فعالیتونه پیل کړل. د ببرک متحدین پرچمیان او د تره کي ملاتړي خلقي شول. دغه نوم یې د خپلې خبر پاڼې «خلق» څخه واخیست چې په ۱۹٦۵ کال یې خپرول پیل شوي وو.

کارمل اوچت شو، خپله شخې یې وایسته، د زندان په کوچنۍ کوټه کې یې گام اخیستل پیل او یو بل سگرېټ یې ولگاوه. ده له ځان سره فکر کاوه او دغه سوچونو په خپگان کې ډوب کړ : «دا ښه ونشول چې هغه وخت یې زه د عمومي منشي په توگه ونه ټاکلم. اوس به په هېواد کې پېښې بل شان وای، د مرکزي کمېټې ځینو غړو او د گوند کدرونو* به گوند نه وای پرېښی. لس کلن بېلتون به نه وای او په هېڅ وجه به مې امین ته د گوند د غړیتوب اجازه نه وای ورکړې. تولې ستونزې هغه وخت پیل شوې چې دی له زده

*په هغه وخت کې د ا خ د گ دغه د مراتبو سلسه درلوده. د مرکزي کمېټې عمومي منشي، د مرکزي کمېټې منشي، د سیاسي بېرو غړي، د مرکزي کمېټې غړي، د گوند کدرونه، د گوند غړي، د گوند متحدین.

www.samsoor.com

کړې وروسته له امریکا څخه بېرته راغی، د تره کي ملګری شو او د مرکزي کمېټې د غړي په توګه وټاکل شو.»

بل هر سیاستوال به دغه ساده پایلې ته رسېدلی وی چې په تاریخ کې «که چېرې» نشته. دا پایله به هر سیاستوال په پام کې نیولې وی، خو پر ځای یې ببرک کارمل د هغو غونډلو په اړه فکر وکړ چې ایراني انقلابي، کاظمي د خپل اعدام په شپه لیکلې وې: «زموږ پسرلی تېر شو، زموږ تېره زمانه لاړه او زه خپل راتلونکي برخلیک ته تم یم.» کارمل ځان سره بیا په سوچ کې شو: « ښه نو، داود زموږ د نابودولو لپاره ډېر ښه وخت غوره کړ. یو کال مخکې یې په ریښتیا زموږ پر ضد کومې کړنې ته اړتیا نه لرله ځکه چې هغه وخت ګوند پر دوو دوښمنو ډلو وېشل شوی و او یو بل یې خوړل. یو کال وروسته به دی زموږ پر ضد د کومې کړنې توان ونه لري ځکه چې یوازې نهه میاشتې مخکې دواړه ډلې پخلا شوې او د دوی بیا یووالی ورځ تر بلې غښتلی کېږي.» وروسته کله چې د ګوند د بېلتون او د خلق او پرچم ترمنځ د دوښمنیو جزیات ور په یاد شول، کارمل په اندېښنه او غم سر وخوځاوه. حتی اوس هم هغه ځاځمنو (له غوسې ډکې) خبرو چې خلقیانو او پرچمیانو یو بل ته کولې د ده د خولې خوند خراباوه. د تره کي ملاتړو به پرچمیانو ته د «اشرافیت چوپړیالې فاحشې.» ویل. کارمل او ملاتړو یې په خپل وار خلقیان «نیمه لوستي سوټماران• او توندلاري پښتانه» بلل. د ا خ د ګ د مشرانو تر منځ شخصي تور لګونه په ګوند کې د شخړې تر ټولو سیانه (مکاره) کړنه وه. کارمل د تره کي د خلکو په وسیله پوهېده چې تره کي هڅه کوله چې دی شوروي ملګرو ته بې اعتباره کړي. په هغه استونو کې چې تره کي د شوروي کمونست ګوند په مرکزي کمېټه کې خپلو ملګرو ته لېږلې، ده هڅه کوله چې دوی پر دې قانع کړي چې کارمل د جرمني له څارګرې ادارې او په افغانستان کې د څارګرو فعالیتونو د شنډولو له ادارې سره اړیکې لري.

کارمل که څه هم په عملي ښه مسلمان نه و، خو په اسلام کې د قصاص ( «مساوي غچ») - د غاښ په بدل کې غاښ او د سترګې په بدل کې سترګه-اصولو ته په پام سره د تره کي پر ضد ځوابیه کړنې ترسره کولې. کله به چې په کابل کې له شوروي ملګرو سره د لیدنې فرصت ورته پیدا شو، د خپلې ښې غربضې سره سره، نوموړي به د خلق مشر له امریکایانو او انګرېزانو سره د شکمنو اړیکو په لرلو تورن کړ او دا نغوته (اشاره) به یې هم وکړه چې د خلق مشر له هغه بودیجې څخه غلا کوي چې د شوروي کمونست ګوند مرکزي کمېټه یې د د ا خ د ګ د مالي ملاتړ لپاره ورلېږي. د ده شوروي ملګری، د کې جي بي مامور الکسي پېتروف Alexey Petrov د تره کي پر ضد دغو بېخونده تورونو ته کرار او تر یوې کچې په اړنګ غوږ نیوه. دغه اجنټ کارمل ته سوال وکړ چې د ګوند د یووالي په پار، له خپل سیاسي مخالف سره داسې دوښمنۍ یوې خواته کړي. کارمل د پېتروف د خبرو له ښې پوه شو چې دا د پېتروف شخصي وړاندیز نه بلکې د مسکو اند دی.

---

• سوټمار: ګرځنده بنجاره خرڅوونکی

تره کي ته هم همداسې لکچر ورکړل شو. څارګر افسر د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې دغه دستور تره کي ته ټکي پر ټکي ولوست: «له بده مرغه ستاسې خپلمنځي شخړې له کچې وتلې اوږدې شوې او په اصلاح غوښتونکو ځواکونو کې يې همغږي له منځه وړې ده چې له کبله يې دواړه لوري کمزوري شوي دي. دغسې وضعيت يوازې او يوازې هغه چا ته ګټه رسوي چې د افغانستان د جمهوريت دوښمنان دي، هغه ځوک چې د حکومت پر ضد توطيې جوړوي، په ورانکاريو (سبوتاژونو) کې ښکېل دي، او هغه ځوک چې د نوي سياسي جوړښت پر ضد په دې موخه له دوښمنۍ ډکې کړنې ترسره کوي چې زوړ رژيم بيا واکمن شي. ټول اصلاح او پرمختګ غوښتونکي ځواکونه بايد خپل مخالفت يوې خواته او خپلې هڅې داسې سره متحدې کړي چې جمهوري رژيم ته د ملاتړ يو ولس منلی بنسټ جوړ کړي او د کورني او بهرني ګواښ پر وړاندې مقاومت وزېږوي.»
مسکو نه يوازې بې اړنګه د ګوند د يووالي ملاتړې و بلکې د هرې هغې کړنې مخالف و چې د داود رژيم يې ګواښلو. د ولسمشر په توګه داود د لومړي ځل لپاره له مسکو څخه په ۱۹۷۴ کال ليدنه وکړه. له برېژنېف سره د خبرو په بهير کې داود اندېښنه ښرګنده کړه چې د امنيتي ادارو د مالوماتو پر بنسټ چپيان د رژيم پر ضد د کودتا پلان جوړوي او دا پلان به ترسره کړي کې چېرې دی د هغو ټولنيزو او وټه ييزو پروګرامونو ترسره کول ګرندي نه کړي چې هبواد له پانګوالۍ (سرمايه داری) سيستم څخه ليري او سوسيالېستي ودې ته سيخوي. ليونيد ايليچ په ځير د داود اندېښنو ته غوږ ونيو، خپلې نومورې وروځې يې اوچتې کړې او مخکې له دې چې بيا داود ته سترګې واړوي، په ترټوونکې بڼه يې په بهرنيو چارو کې د مرکزي کمېټې منشي، بوريس پونومروف Boris Ponomaryov ته وکتل. ورپسې برېژنېف داسې ژمنه ورسره
وکړه: «موږ به دا موضوع حل کړو.»
له مسکو څخه د داود له ليدنې وروسته، په کابل کې د کې جي بي مشر يو تېلګراف ترلاسه کړ چې پکې دستور ورکړل شوی و چې له کې ببرک K. Babrak (په هغه وخت کې د شوروي مشرانو د ببرک نوم داسې اخيستلو) او اېم تره کي M Tarakiسره وګوري او د دوی پام د خلق او پرچم د يووالي اړتيا ته واړوي څو «د افغان جمهوري رژيم او د داود په مشرۍ د افغانستان له جمهوري دولت سره په همکارۍ په افغان ټولنه کې د کارګرانو، بزګرانو او ټولو خواريکښو له
ګټو دفاع وکړي.»
وخت تېرېده او په تدريجي توګه د ګوند د يووالي په هکله د مسکو سپارښتنې ډېرې ټينګاريزه کېدلې. له تره کي او کارمل سره د ليدنو په ترڅ کې، شوروي ملګرو په وار وار د داسې پوښتنو د ځواب غوښتنه کوله

www.samsoor.com

لکه: «د ګوند د یووالي لپاره څه شي ته اړتیا ده؟ څومره وخت باید څوک د ګوند یووالي ته تم کښېني؟» په دغسې شېبو کې به تره کي ویل چې د یووالي مخالفت به و نه کړي که چېرې پرچمیان -«د عیاشانو زامن»- د خپلو تنګ نظره ډلپالنې او بدلونپالنې •Revisionism په تړوا پښېمانې څرګنده کړي او بېرته د ا خ د ګ له لیکو سره یو ځای شي.» بې اړنګه، داسې دریځ کارمل ته د منلو وړ نه و ځکه چې د لس کلن بېلتون پړه د ده پر غاړه اچول کېده. ده د یووالي په بهیر کې د موقفونو پر مساواتو ټینګار کاوه. د شوروي اتحاد د کمونست ګوند مرکزي کمېټې د کارمل له دریځ څخه ملاتړ کاوه.

د ۱۹۷۷ کال د اپرېل په میاشت کې وروسته له دې چې له مسکو څخه د لیدنې په ترځ کې افغان ولسمشر د ا خ د ګ په اړوند وویل: «زموږ دوو هېوادونو تر منځ ملګرتیا، منځګړي ته اړتیا نه لري»، تره کی تر کلک فشار لاندې راغی. په مرکزي کمېټه کې شوروي چارواکو غوښتنه وکړه چې دواړه لوري باید نانډری بس کړي، که نه مسکو به خپل ټول سیاسي او مالي ملاتړ پرې ودروي. په ۱۹۷۷ کال د مې له میاشتې نه تر جون پورې د ا خ د ګ د مشرانو او د شوروي اتحاد د کمونست ګوند په بهرنیو چارو کې د مرکزي کمېټې د کارکوونکو تر منځ غونډې ترسره شوې. دغه کارکوونکي په ځانګړې توګه د همدغه موخې لپاره افغانستان ته لاړل. تره کی هم د «درملنې» په پلمه مسکو ته لاړ چې له مرکزي کمېټې سره سلا مشورې وکړي. د تره کي او کارمل تر منځ خبرو اترو، چې ډېرې په بازار کې چنې وهلو ته ورته وې، هېڅ پای نه درلود؛ نو د نه پرمختګ له وجې د ګوند دیووالي یو کنفرانس ته لاره هواره شوه. دغه کنفرانس د ۱۹۷۷ کال د جولای پر درېیمه جوړ شو او دوه ورځې وروسته د ا خ د ګ د مرکزي کمېټې پلان شوې غونډه جوړه شوه چې پکې نورمحمد تره کی د مرکزي کمېټې عمومي منشي او ببرک کارمل، نوراحمد نور او شاه ولي د مرکزي کمېټې د منشیانو په توګه وټاکل شول.

د خیبر د وژنې په لاریون کې، تره کی او کارمل لاس په لاس د لاریون په سر کې روان وو. خلکو ته داسې برېښېدل چې دغه دوه پخواني جنګیالي بلاخره سره پخلا شول، خو کارمل پوهېده چې دغه پخلاینه سرسري ده. هر څه د دوی مخته پراته وو: نوې نانډرۍ، دوه اړخیزې ردونې او بلاخره حتی جګړه. کارمل په ترخه بڼه فکر کاوه: «تراوسه هم هر څه زموږ مخته پراته دي او یو یې هم نشي بدلېدلی.»

«نو دوی به مې پر څه تورن کړي؟» کارمل څو ځلې له ځان څخه وپوښتل: «ایا څارنوال مې د عامه غونډو له قانون څخه په سرغړونې تورنولی شي؟ هو، شي، خو دا به بې بنسټه تور وي. اړینه نه ده چې موږ د خپل ملګري د جنازې د مراسمو لپاره اجازه وغواړو. د جنازې ترسره کول مناسک دي، نه عامه غونډې. هو، جنازه پر یوه لوی سیاسي لاریون بدله شوه، خو ایا داسې قانون شته چې په جنازه کې د ګډونوالو شمېر ته یې کچه ټاکلې وي؟ سربېره پر دې، د ګډون لپاره هېچا ته بلنه نه وه ورکړل شوې. دوی په خپله

---

•په مارکسېستي تیورۍ او اصولو کې د بدلون راوستنه (ژباړن).

خوښه راغلي وو چې یو نومور سیاستوال ته چې هدفي وژل شوی و خپل وروستی درناوی وکړي. هو، دا حقیقت دی چې د جنازې په بهیر کې پر حکومت تورونه ولګول شول او لوړې وشوې چې د خیبر پرځنګ (مبارزې) ته به دوام ورکول کېږي؛ نو څه؟ د جنازې په بهیر کې چا د ویناو منځپانګې ټاکلی شوی؟ نو هر راز تور چې پر ما او یا د ګوند پر بل غړي لګول کېږي دومره کلک بنسټ به ونه لري. داسې تورونو ته په اسانۍ ځواب ورکول کېدای شي، خو داود دومره ساده نه دی. که دی وغواړي چې زموږ ګوند ته د پای ټکی کېږدي، نو باید ډېر ډومارونکي (په استدلال قانع کوونکي) دلیلونه ولري، د بېلګې په توګه، د حکومت پر ضد د کودتا شواهد.»

دغه سوچ کارمل ډېر اندېښمن کړی و. دی بلاخره د ګواښ او ډار په هغه ننګېرنې (احساس) پوه شو چې د خیبر د مرګ له خبرېدو راهیسې یې د ده په زړه کې ځای نیولی و. ده په اندېښنه په خپله کوچنۍ کوټه کې ګامونه اخیستل: «هو، کېدای شي دا یوه درغلګره لوبه وي. خو د پړې سر له چا سره دی؟ چا دا ټوله دسیسه جوړه کړه؟ داود؟ که زموږ ملګری د داود خلکو نه وي وژلی، نو چا وواژه؟ ولې دغه هدفي وژونکي خیبر په نښه کړ؟ ولې یې زه یا تره کی په نښه نه کړو؟ خو ولې خیبر باید قرباني شي؟ زما او یا د تره کي وژنه هم همدومره اسانه وه لکه د خیبر چې وه.»

د مرکزي کمېټې د غړي، خیبر مړی د اپرېل په اوولسم د ماښام په ۷:۵۵ بجو له کابل سیند څخه یوازې دوه سوه متره لیرې د هغه واټ په منځ کې وموندل شو چې د ښار له مرکز څخه زاړه مکروریانو ته غځېدلی و. د ده مړي ته د پولیسانو پام شو چې په ګاډي کې پرهغه لاره روان وو. دا ډېره شونې ده چې خیبر بل ځای وژل شوی وي او وروسته یې مړی دلته اچول شوی و. په سبا یې افغانستان رادیو په لنډه توګه د یو نومور مخالف سیاستوال د هدفي وژنې خبر خپور کړ. حکومت ژمنه وکړه چې د دغه جنایت بشپړه پلټنه به وکړي، خو دا ځرګنده وه چې قاتل به هېڅ کله ونه موندل شي.

خیبر یو ایډیالوجست او د ا خ د ګ یو له بنسټ اېښودونکو څخه و که څه هم د ګوند په بنسټ اېښودونکي کنګره کې یې برخه نه وه اخیستې. په هغه وخت کې نوموړی د پولیسو یو افسر و او په رسمي توګه یې دا حق نه درلود چې په سیاسي فعالیتونو کې ښکېل شي. دوه کاله وروسته کله چې تقاعد شو، خیبر د پرچم ډلې د مرکزي کمېټې غړی شو. نوموړي په ګوند کې لوړ موقف درلود. حتی د بېلتون او دوښمنۍ په ډېرو بدو کلونو کې، هېڅ خلقي دا جرئت نه درلود چې ده ته سپکې سپورې ووایي. دی د ګوند د یووالي لېوال ملاتړی او یو پاک زړه انقلابي و چې خپل ژوند یې سپېځلي داعیې ته ځانګړی کړی و.

کارمل په سوچ کې ډوب و: «نو ولې باید خیبر وژل شوی وی؟ ایا د دوښمن موخه دا وه چې پر دې وژنه ما یا تره کی، د مرکزي کمېټې غړي او یا د ګوند ټول غړي وپاروي چې په ښکاره د رژیم پر ضد بغاوت

وکړو؟ ايا د دوی موخه دا وه چې موږ ولمسوي څو داسې کړنې ترسره کړو چې د لويې بلوا د جوړولو او د بغاوت د پارولو له کچې سره برابرې وي؟»
د خيبر وژنې ټول ګوند ولړزاوه. نه يوازې د ا خ د ګ غړو بلکې نورو افغانانو چې د افغانستان لپاره يې د هغه سناريو ملاتړ کاوه چې له لوېديځ څخه يې الهام اخيستی و، دغه وژنې ته يې د داسې «تورو تيارو د ځواکونو د توطيې» په سترګه کتل چې له مخالفينو سره د مدني خبرو اترو په پيلولو کې يې د داود د رژيم نه تياری ته نغوته (اشاره) کوله.
ځاځ (غوسه) پخپله په افغان ټولنه کې هم په خوټېدو و ځکه چې داسې بې شرمه او کچه جنايت په نېغه د افغانستان د عزت او غيرت لرغونی اصل، پښتونولي، ننګوله؛ نو ځکه کله چې د خيبر د وژل کېدو خبر خپور شو، د کابل ښار له ننګېرونو ډک وپارېد.
د ګوند مشران پوهېدل چې په يو لوی لاريون باندې د خيبر د جنازې بدلول به دوی ته دا فرصت ورکړي چې د خپل ګوند يووالی او ځواک وښيي. دوی غوښتل چې نه يوازې د داود رژيم بلکې د کابل وګړو ته وښيي چې د ا خ د ګ نه يوازې ګڼ شمېره بلکې په ټول افغانستان کې تر ټولو منظم ګوند دی. د جنازې په شپه دندې او مسووليتونه ووېشل شول. ځينو ته د جنازې د ګاډي او ګلانو او ځينو ته د شعارونو او د خيبر د انځورونو د تيارولو دندې ورکړل شوې. يوه ډله نجونې په څو لارييو کې کوهدامن ته ولېږل شوې چې له پټيو څخه سره غوړيدلي غاټول راټول کړي چې د جنازې په بهير کې برخوالو ته ووېشل شي. عکاسانو او فلم جوړونکو ته بلنه ورکړل شوه. له غښتلو ځوانانو څخه يو ډله جوړه شوه چې د مرکزي کمېټې د غړو امنيت وساتي. د جنازې تګ لوری له ټولو جزياتو سره غوره شو. جنازه له هغه ځای څخه پيل کېدله چې د خيبر مړی پکې  موندل شوی و او د بالاحصار په لمن کې د هديرې په لور روانېده.
د جنازې په ورځ د ماتم په دغه لاريون کې کابو پنځوس زرو خلکو ګډون وکړ. د ګوند ډېرو غړو د خپلو مشرانو په لارښوونه خپلو همکارانو، خپلوانو او ګاونډيانو ته د برخې اخيستنې بلنه ورکړې وه. ډېرو زده کوونکو هم پکې  برخه اخيستې وه، هلکانو او نجونو چې په ښکاره يې خپل ځاځ او وير څرګنداوه د لاريونوالو له نيمې څخه ډېره برخه جوړه کړې وه. په دغه ورځ د دوی ننګېرونو (احساساتو) د کابل واټونه له ډراماتيک برم او پرتم څخه ډک کړي وو. کابو د هر ګډونوال په لاس کې د غاټول سور ګل و. بېشمېره سره توغونه او شعارونه د سرونو په سر رپېدل او د خيبر انځورونه او په اړه يې شعارونه هر ځای ليدل کېدل. د ښخولو او يادون له مراسمو وروسته، د ماتم لرونکو يوې اوږدې ليکې د درناوۍ په پار د دغه انقلابي پر تازه قبر خپل د غاټول ګلونه اچول. دومره وخت تېر نه وو چې د ده د قبر پر سر د سرو ګلانو او شنو پاڼو لويه دلۍ جوړه شوه. د افغانستان په تېر تاريخ کې د نوموړې جنازه تر ټولو لوی سياسي لاريون وګرځېد.
د زندان په کوټه کې ببرک بيا سوچ پيل کړ: «عجيبه وه چې حکومت هېڅ داسې کړنه و نه کړه چې لاريونوال وپاروي. دوی يې ګډوډۍ ته تېل نه وهل که څه هم دا کار ورته ډېر اسانه و. د اور  بلولو لپاره

ډېر تېل شته وو. دا ډېره اسانه وه چې له لسو څخه لږ لمسوونکي يې لاريون ته ور د ننه کړي وی چې له پوليسو سره اخ و ډب رامنځته کړي او له کبله يې ورپسې بلوا او بيا ډزي پيل شي. بيا نو زه او تره کی په ډېره اسانۍ نيول کېدای او د بلوا په لمسون تورن کېدای شوی. عجيبه ده؛ نو ولې داسې لمسوونکي نه شته وو؟ کېدای شي داود دا لوبه هېڅ نه وي جوړه کړې. کېدای شي دا کار بل چا کړی وي، يو د ډېر ځواک ځپښتن، يو پټ تدريجي زيانمنوونکي، يو داسې پټ ځواک چې موخې يې د ا خ د گ ړنگېدل او د افغان- شوروي د اړيکو سړول وي. بې اړنگه، ډېرو خلکو ته مالومه ده چې داود يو خپلواک او پر ځان متکي سړی دی، خو څوک پوهېږي چې د پردې تر شا څه تېرېږي؟ دلته څه خبره شته، بې اړنگه، يو څه سم نه دي.»

وخت تېرېده، يو ساعت پر بل پسې، سهار به ماښام شو، ماښام به سهار شو. کارمل وننگېرل چې د زندان له دېوالونو بهر ډېر مهم څه روان دي، داسې څه په پېښېدو دي چې دی وربانديې اغېز نه شي کولای. ده د شوبلو غوراری او ورپسې ډزې واورېدلې. ډزې جلا جلا پيل شوې، خو وروسته اوږدې او دوامداره شوې. د ښار معمول شور ناځاپه بدل شو. د سوداگرو چيغې ودرېدې، د ټکسيانو هارنونه چوپ شول، او د پليو خلکو شورماشور په ټپه ودرېد. د کارمل يو شعر په ياد شو چې له چا يې اورېدلی او يا چېرته يې لوستی و:
«څه چل دی؟ ميراب د بهاندو اوبو يرغمل شو.»

کارمل ناځاپه د پوځيانو د موزو ترپاری، د پوځي امر دروند غږ او د کليو شرنگاری د وره تر شا د زندان په دالان کې واورېد. د ماښام شاوخوا پنځه بجې وې چې د ده د کوټې ور پرانيستل شو او يو جگړن چې تور خرسک يې اغوستی و، د شوبلوال (ټانکست) خولۍ يې پر سر او يو کلاشينکوف يې په لاس د ده کوټې ته ننوت او په خوښۍ يې ده ته ووېل چې ملگری کارمل ازاد شوی.

کارمل له دغه افسر څخه وپوښتل: «څه خبره ده؟» افسر په توده ښه ځواب ورکړ: «انقلاب!» کارمل بيا پوښتنه کوي: «او تره کی؟ تره کی چېرته دی؟» افسر ورته وايي: «ستاسې په څېر، دی او ملگری امين هم لږ شېبه مخکې ازاد شول.» د کارمل بله پوښتنه: «او داود څنگه؟» افسر بيا ځواب ورکوي: «نه پوهېږم. په ارگ کې تر اوسه هم جگړه روانه ده؛ نو
ځکه زه راغلم چې تاسې خوندي ځای ته ورسوم.»

کارمل، چې ولولن (له ولولو ډک) افسران او عسکر ترې چاپېر وو، د کورنيو چارو وزارت له ودانۍ څخه بهر ووت او د تازه هوا خوندوره سا يې وکښله. اسمان په تورو وريځو پټ و، چېرته د غرونو شاته تندريز توپان روان و، خو د کابل په لمنو کې باران درېدلی و. د پسرلي ورم خپور و.

www.samsoor.com

کارمل یو زغروال ګاډي ته وخوت، د زغروال ګاډي د ننوتنې له سوري څخه یو لاس رابنکاره او کارمل یې د ننه کش کړ. ده بیا له ځان سره په چوپتیا وویل: «میراب د بهاندو اوبو یرغمل شو.»

د افغانستان ولسمشر ته د دغه ورځې سهار د بدمرغۍ د راتګ کومه نغوته (اشاره) و نه کړه. همدغه سهار د کابینې یوه غونډه جوړېدله. داود پلان درلود چې په دې غونډه کې د لمسوونکو او د دوی د سیاسي تنظیم په اړه چې څه باید ورسره وشي خبرو اترو ته دوام ورکړي. په دې اړه خبرې یوه ورځ مخکې پیل شوې وې، خو لکه څنګه چې کابینه یوې ټولیزې هوکړې ته نه وه رسېدلې، غونډه راتلونکې ورځې ته وځنډېده. ځینې وزیران په دې اند وو چې غیر معمولي څه شی نه دي پېښ شوي؛ نو ځانګړو کړنو ته اړتیا نه شته. ځینو دا ویل چې د حکومت پر ضد د لاریون ټولو لمسوونکو ته باید سخته جزا ورکړل شي او په هېواد کې بیړني حالات اعلان او پوځي واکمني martial law پلې شي. د کورنیو چارو وزیر، نورستاني په ځانګړې توګه په غونډه کې جوړجاړي ته سر نه ټیټاوه. نوموړي وویل: «دوی ټول باید اعدام شي، که نه زموږ هېواد به له بې پایه ستونزو او جنجالونو سره مخ شي.» داود زړغی (زړه نا زړه) و. د معمول په څېر، ده غوښتل چې د ټولو اند واوري مخکې له دې چې وروستۍ پرېکړه وکړي. داود فکر وکړ: «ایا باید دوی اعدام شي؟ نو بیا نړېواله ټولنه به زموږ په اړه څه فکر کوي؟ که له دوی نه شهیدان جوړ کړل شي، څه به پېښ شي؟ داسې څه به په ټولنه کې نوي ټکانونه رامنځته کړي.»
ماښام ته د داود لویه شوې کورنۍ باید د ده کور ته راغلې وی. دا د دوی دود ګرځېدلی و چې د پنجشنبې په ماښام به ټول د داود کره راټولېدل. هېڅ شي د دغه دود هېڅ کله مخه نه وه نیولې.
خو څنګه چې غونډه پیل شوه، ولسمشر ته خبر ورکړل شو چې د ښار په لور شوبلې روانې دي. داود سمدلاسه له دفاع وزیر او لوی درستیز سره اړیکه ونیوله او ترې ویې پوښتل چې څه خبره ده، خو ده ته واضح ځواب ورنه کړل شو. بیایې له هوایي او دافع هوا او همدا راز له مرکزي قول اردو سره اړیکې ونیوې، دوی ته یې اړین امرونه ورکړل او بېرته غونډې ته راوګرځېد. ټیک د غرمې په وخت له ټانک څخه پر ماڼۍ ډز وشو. داود د غونډې ګډونوالو ته وویل چې که څوک غواړي، کولای شي لاړ شي. ځینې په دې دلیل لاړل چې د خپل وزارت ورځنۍ چارې پر مخ بوځي. ځینې نور پاتې شول او په دې یې خوښه وکړه چې تل خونې ته چېرته چې ژمنی بن و لاړ شي. ولسمشر، ښځه، ماشومان او لمسیان یې او د کورنیو چارو وزیر (چې پخپله د ولسمشر د ساتلو لپاره حاضر شو)، د لومړي وزیر مرستیال او د مالیې وزیر عبدالالله او پاتې نور ښکته تل خونې ته لاړل.

د ولسمشرۍ ماڼۍ نیول سخت وو. د ارګ دفاع ډېره مظبوطه وه، اوچت دېوالونه ترې چاپېر وو او پر یو بشپړ دفاعي
سیستم سمبال و، خو دلته یوه ستونزه وه چې داود یې ډېر اندېښمن کړی و. دی پوهېده چې د ارګ په ۱۶۰۰ ساتونکو کې د ا خ د ګ بېشمېره ملاتړي شته. په امنیتي تفصیلاتو کې نوموړي ته په دې اړه څو ځلې خبر ورکړل شوی و. په دې ورستیو کې داود د ګارد قوماندان، ضیا مجید په درنه بڼه په هند کې د افغان سفارت د پوځي اتشې په توګه هند ته تبعید کړ. نوموړي د ا خ د ګوند ته خپله وفاداري نه پټوله. له بده مرغه، داود ته دا فرصت برابر نه شو چې د ګوند نور خواخوږي لیرې کړي او دا به اوس ورته ډېره ګرانه پرېوځي.
څنګه چې کودتا پیل شوه، د ګارد د مخابراتو مشر، تورن ګل اغا چې لوېدلی غړ یې درلود او مخ یې له خالونو/بخاردانو ډک و، د تیلفون تولې هغه لیکې زیانمنې کړې چې ولسمشرۍ یې له بهر سره نښلولې وه. د وران کارۍ (سبوتاژ) دغه کړنه د دې لامل شوه چې داود ونه شو کولای خپل وفادار پوځي ځواکونه مرستې ته راوغواړي. کله چې داود غوښتل چې له ارګ څخه بهر ووځي څو په خپله د مقاومت قومانده پر غاړه واخلي، یو بل افسر د ده پر ګاډي ډزې وکړې. په دې برید کې د داود زوی سخت ټپي شو؛ نو ولسمشر له ارګ څخه د وتلو اند پرېښود.
شاوخوا دېرش افسران د «پنځمې ستنې» غړي وو. وروسته کابو ټولو ته په سخاوت انعامونه، د جنرالۍ رتبې او بېلابېلې لوړې څوکۍ ورکړل شوې.
حتی د جمهوري ریاست د ګارد مشر، صاحب جان د ډېرو هغو افسرانو ښه ملګری و چې د ا خ د ګ له مشرانو سره یې اړیکې لرلې، خو په هغه ورځ د پښتونولۍ لرغوني اصل ته وفادار پاتې شو او خپله دنده یې تر پایه سرته ورسوله. دی د ولسمشر او حکومت په دفاع کې وجنګېد، خو په پای کې ونیول او وروسته ووژل شو.
د داود په هکله ډېرې لیکنې او خبرې شوې دي. هغو خلکو چې داود پېژانده، په پېچلو سیاسي چارو کې یې د داود خارق العاده عزم، هوښیاري او ورتیا بیان کړې. ډېرو دغسې خلکو د دغه سردار سخت ګیري، ټینګښت او حتی بې رحمي، او په پټه زیان رسونه او غچ پالنه هم یاده کړې ده. نوموړي نه یوازې په دې ویاړ کاوه چې له واکمنې کورنۍ څخه دی بلکې په دې یې هم ډېر ویاړ درلود چې په اصل کې پښتون دی. ولسمشر بشپړ باور درلود چې افغانانو د ایرانیانو په پرتله د لرغونو اریایي* نیکونو ډېرې ارثي (جنیټیکي) غوره ځانګړتیاوې په میراث اخیستې دي. کېدای شي د داود هغه هڅې د نوموړي له همدې

* اري (اشرافي) یا ارین د هغه خلکو نیکونه وو چې په ایراني ژبو یې خبرې کولې (پارسي، تاجکي، پښتو، کردي، اسي او داسې نورې)

www.samsoor.com

اند څخه سرچینه اخیستې وي چې د خپلې ولسمشرۍ په لومړیو کې د افغانستان نوم پر «اریانا» بدل کړي. د مهمو موضوعګانو په اړه د داود د کار بڼه او چلند د پښتونولۍ پر اصولو ولاړ وو. یو بېلګه یې په نوموړي کې د خپلو نیکونو هغه نومیالۍ ځانګړتیا وه چې د مرګوني خطر پر وړاندې په زړورتیا دربېږي. کله چې پوه شو چې خپله داعیه یې بایلوده، داود د یو داسې ریښتیني افغان په څېر عمل وکړ چې په داسې حالاتو کې ورسره مخ کېږي. وروسته حتی د نوموړي دوښمنانو د ده زړورتوب او سپېڅلې روحیې ته درناوی کاوه.

کله چې کلابندي پیل شوه، داود سمدلاسه خپله کورنۍ ماڼۍ ته ور وغوښته: خپله مېرمن، ورور، زامن او لمسیان. ده ته وړاندیز وشو چې ارګ ته څېرمه د فرانسې سفارت ته پناه یوسي. فرانسویانو ته په دې اړه خبر ورکړل شوی و او دوی هوکړه کړې وه. ولسمشر دغه وړاندیز په کلکه رد کړ: «نه، زه همدلته پاتې کېږم.» د کورنۍ ټولو غړو یې همداسې پرېکړه وکړه.

کله چې ازاد شول، د ا خ د ګ کابو ټول مشران د افغانستان رادیو په ودانۍ کې راټول شول او همدا ځای یې د کودتا اصلي مرکز وګرځاوه. د اپرېل ۲۷مه کابو تېره وه. د بېلابېلو دولتي او امنیتي ځایونو د نیولو پیغامونه په دوامداره توګه راتلل. د ماښام په ترځ کې یوازېنی ځای چې د بغاوت کوونکو په کنترول کې نه و راغلی د ولس مشرۍ ماڼۍ وه. انقلابیان د بریا ننګېرونو (احساساتو) خورا مست کړي وو. کابل چې په افغانستان کې د واک کلی وه د دوی لاسته ورغلی و. یوازې یو بل ګام پاتې و او هغه دا چې پر ولسمشرۍ ماڼۍ یرغل وکړي او پاڅون ته د پای ټکی کېږدي.

د افغانستان رادیو د ودانۍ په دالان کې چې له افسرانو او عسکرو ډک و، کارمل د مرکزي کمېټې له یو بل غړي، پرچمي سلیمان لایق سره ټکر وکړ. لایق پښتون او یو نومور روڼ انده او شاعر و. لایق هم کارمل غوندې لږ مخکې له بنده ازاد کړل شوی و. کله چې خبر شو چې ملګري یې بندي شوي، لایق پخپله حکومت ته ځان تسلیم کړی و. ببرک او لایق دودیزه اوږد روغبړ وکړ او بیا یې مخونه د کړکۍ لوري ته واړول. ببرک بهر ته کتل، سر یې ښکته پورته خوځاوه او ویې ویل: «ښه نو، انقلاب دی» لایق ورته وویل: «ډېر پوځي کودتا ته ورته دی. الله پوهېږي چې موږ په دې کې هېڅ کار نه درلود. پرته له دې چې د مرکزي کمېټې خوښه واخیستل شي، دغه کودتا ترسره شوه. بریمن خلک تاریخ لیکي، همداسې نه ده؟»
کارمل په اندېښنه وویل: «همداسې ده. اوس تر ټولو مهم دا دي چې دغه سیاسي بې باکانو ته اجازه ورنه کړل شي چې ځېنې (احمقې) تېروتنې وکړي. که چېرې لویه وینه تویونه رامنځته شي، تاریخ به موږ هېڅ

کله ونه ببنبي.» لايق زياتوي: «ويني همدا اوس تويې شوې. زما دغه خبرې دې نښه وي، نوره وينه به هم تويه شي. اوس زموږ له لاسه دومره څه نه کېږي. پوځيان پر خپلو اسونو سپاره شول، دوی چې څومره کولای شي همدومره چټک به چارګام په ځغاسته کې وي، خپل کرچونه به خوځوي، د ګناه کارو او بېګناو سرونه به لغړي.» کارمل لايق ته وويل چې له زندان څخه د راتګ په وخت کې امين په يوه له ګنې ګوښې څخه ډکه څلورلاره کې د زغروال ګاډي سرته وخوت، لاسونو ته يې اتکړۍ (د لاس زولنې) واچولې او بيا يې لارويو ته خپل زولنې لاسونه خوځول او داسې چيغې يې وهلې: «اوس د دې وخت رارسېدلی دی چې هغه اتکړۍ ماتې کړو چې د کرکې وړ رژيم د افغانستان خلکو ته اچولې، ازادي دې تلپاتې وي!» کارمل داسې وړاندوينه هم وکړه: «دی به د دغه «انقلاب» اصلي اتل شي» لايق وويل: «همداسې برېښي.» او بيا يې په ټيټ غږ زياته کړه: «پوهېږې چې ډېری ملګري له يو او بل سره د څه په اړه خبرې کوي؟ دوی وايي چې د خيبر په وژنه کې د داود خلکو هېڅ لاس نه درلود او وايي چې دا کار د جنايتکارانو و.» لايق يوه له مانا ډکه دمه وکړه او بيا يې په پساري په شونډو کې ورو وويل: «دا وژنه د امين په امر ترسره شوې ده. د معمول په څېر يوه داسې پارونه چې بېرې يې ولړزوله!» کارمل په ځواب کې ورته وويل: «که داسې وي؛ نو هر څه د ده له ليدلوري سره سم مخته ځي.» ورپسې ټيک داسې لکه د دوی د خبرو چې پخلی کېږي، دوی ته بلنه ورکړل شوه چې هغه کوټې ته لاړ شي چېرته چې ډېر ژر د پوځي انقلابي شورا يوه غونډه پيلېده. لکه يو وړ پوځي مشر، امين پيلوټانو، د ځانګړو ځواکونو افسرانو او شوبلوالو (ټانکستانو) ته امرونه ورکول. د ګوند عمومي منشي، تره کي خپل زده کړيال ته په ډېره ستاينيزه بڼه کتل. ده کارمل ته په غوږ کې ورو وويل: «زه او ته به د پاڅون سياسي مشري پر غاړه واخلو او ټول ناولي کارونه به پوځ او ملګري امين ته پرېږدو.»

د راديو افغانستان خپروني له غرمې مخکې شاوخوا په يوولسو بجو هغه وخت ودرېدې چې تر ودانۍ يې شوبلې چاپېر

شوې. هغه افسرانو چې د راديو ودانۍ ونيوه، ټولو مامورينو او تکنېشنانو ته وويل چې پر خپلو ځايونو کرار کښېني، خو خپرونې يې منع کړې. د راديو خپرونې بېرته وروسته له غرمې هغه وخت پيل شوې چې تندريزه توپان لړ په کرار شو، خو د ورځې د پېښو په اړه حتی يوه کليمه هم خپره نه شوه. يوازې نغمې، پوځي پرېټونه او حماسي پښتو سندرې خپرېدلې. د ماښام په اوو بجو د پوځي پرېټونو غږ ناڅاپه ودرېد، د چا د خوځښت، د کاغذونو غږ او نه پېژندونکي پس پسې د مايکروفون څنګ ته فضا ډکه کړې وه. امين لومړنی کس و چې خبرې يې وکړې او پوځي شورا ته يې د واک د لېږد اعلان وکړ. بيا يې د خبرو وار وطنجار او قادر ته ورکړ: «زه ډګروال قادر د انقلابي پوځي شورا مشر يم. د افغانستان ملي او پرمختګ

www.samsoor.com

غوښتونکو ځواکونو چې د داود د خوسا او اکاړ (بې رحمه) رژیم تر ازار او ځپنو لاندې وو د افغان پوځ د وطنپالو افسرانو او عسکرو په مرسته دغه د کرکې وړ رژیم وپرځاوه. » د قادر د وینا پر بنسټ، داود او نېږدې متحدینو ته یې دا فرصت ورکړل شو چې تسلیم شي او بیا به په یوه ملکي محکمه کې محاکمه شي، خو د افغانستان پخواني ولسمشر او لاس لاندو یې د انقلابي پوځي شورا د استازو پر وړاندې مقاومت ته مخ کړ او د ډزو په تبادله کې مړه شول. قادر هغه وسلوالو ځواکونو او د واک هغه جوړښتونو ته وړاندیز وکړ چې تر اوسه د یو داسې رژیم په ملاتړ جنګېدل چې شتون یې نه درلود، چې د انقلابي قوماندانۍ د مرکز امر ومني او خپلې وسلې پر ځمکه کېږدي څو د نورې وینې تویدنې مخه ونیول شي. نوموړي ادعا وکړه چې افغان پوځ په ټول هېواد کې د نظم ساتلو دنده پر غاړه اخیستې . ورپسې یې په ټول کابل کې د بندیز اعلان وکړ چې سر له اوسه یې اعتبار درلود.

د ډګروال له خبرو وروسته، د رادیو خبریال یو لړ لارښوونې ولوستې چې د کابل ښاریان یې په پام کې ونیسي څو له خطر

څخه په امان کې وي، خو حقیقت داسې و چې د افغانستان مشروع ولسمشر ژوندی او روغ رمټ و او هېڅ کله یې په خپل هوډ کې نرمښت ونه ښود چې د جګړې انډول د ځان په ګټه درونـد کړي.

له دې څخه د توطیه ګرو موخه دا وه چې د ولسمشر په ملاتړو کې سربدالي خوره کړي څو ژرترژره تسلیم شي. په دې وخت کې د «پنځمې ستنې» په مرسته داسې ګنګوسې خورې شوې چې که ارګ تسلیم نه شي؛ نو یو پنځه سوه کیلو ګرامه بم به پرې واچول شي. د بغاوت په مرکز کې مشران پوهېدل چې یوې پرېکنده او چټکې بریا ته اړتیا لري او هره تېرېدونکې شېبه د دوی په تاوان ده. که داود وتوانېږي چې له خپلو پوځي ملاتړو ځواکونو سره اړیکه ونیسي او یا د کندهار او جلال اباد پوځ ته خپل غږ ورسوي؛ نو وضعیت به سمدلاسه بدل او د دوی په تاوان شي.

جنګي جېټ الوتکو او چورلکو پر ارګ بمباري ډېره کړه. د داود د پوځیانو په منځ کې بغاوت کوونکو ته وفادارو افسرانو خپلو مشرانو ته یو پیغام ولېږه چې د ګارد مورال ساعت په ساعت ټیټېږي او هره شېبه شونې ښکاري چې دوی به د تسلیمۍ سپینه جنډه پورته کړي؛ نو بیا له داود سره باید څه وکړل شي؟ ایا د یرغل په ترڅ که به د یو اکاړ او ولس دوښمنه په څېر ووژل شي او یا باید ژوندی ونیول شي چې په یوه انقلابي محکمه کې محاکمه شي؟ اندونو له یو بل څخه توپیر درلود. تره کي، امین او نورو خلقیانو غوښتل چې داود له ټولې کورنۍ سره له منځه یوووړل شي. کارمل او د ګوند ډېرو منځلارو غړو دا غوره ګڼله چې ولسمشر ژوندی پاتې شي. دغه مخالفت همغه زاړه درزونه بیا راښکاره کړل. په دې اړه د دوی ناندرۍ دومره شدیدې شوې چې یو خلقي وویل چې ببرک د داود اجنټ دی او باید له داود سره یو ځای ووژل شي. تره کي مداخله وکړه او ورپسې یې خپله وروستۍ پرېکړه څرګنده کړه: «که داود او ملاتړي یې له مقاومت څخه لاس واخلي او خپلې وسلې پر ځمکه کېږدي، دوی به خوندي ځای ته ولېږدول شي او د

افغان ټولنې له دود او قانون سره به برابر چلند ورسره وشي، خو که دوی مقاومت ته دوام ورکړ، بیا نو زموږ ملګري حق لري چې له خپل ځان، ازادۍ او انقلابي امرونو څخه دفاع وکړي.» خو په همدې شېبو کې چې دغه خبرې اترې رواني وې، امین خپلو خلکو ته بل ډول امر ورکړ: «سردار داود او کورنۍ یې باید له منځه یووړل شي.» حتی کله چې پر ښار تیاره خوره شوه، ډزو دوام درلود. وروسته له نیمې شپې ډزې بیا ډېرې شوې، اورونو، ډزو او چاودنو ښار رڼا کړ. یو یا دوه ساعته وروسته ډزې بېرته لږ شوې.

د ۱۹۸۷ کال د اپرېل نوې اته ویشتمه ورځ راغله. وروسته له دې چې موذنانو له منارونو څخه خلک لمانځه ته ور وغوښتل او کله چې د لمر لومړنۍ وړانګې خورې شوې، ولسمشر خپل ملاتړي او د ګارډ افسران ور وغوښتل او د ګارډ قوماندان ته یې وویل: «ما خپله پرېکړه کړې ده. زه د جوړجاړي نیت نه لرم. تاسې ځوانان یاست او باید د خپل ژوند د ژغورولو په هکله څه وکړئ.» ده په داسې بڼه خبرې کولې چې اعتراض ته یکې ځای نه و. بیا یې صاحب جان ته وویل چې د ده امر باید پاتې ساتونکو ته ورسوي: «وسلې مو کېږدئ چې د بې ځایه وینې توېدنې مخه ونیول شي.»
لږ شېبه وروسته چې صاحب جان بېرته لاړ، د یو ټیټ افسر په مشرۍ یوه ډله عسکر هغه کوټې ته ننوتل چې داود له خپلې مېرمنې، زامنو، لمسیانو او خو نورو کسانو سره ناست و.دغه افسر پر ځان ډېر بې باوره ښکارېده. نومورې د ولسمشر مخې ته ودرېد، ځان یې نېغ کړ، سلامي یې وکړه او ځان یې د «امام الدین» په نوم وروپېژانده.
داود په یوه څنګ لرونکې څوکۍ کې ناست و چې پر یوه لویه سره قالینه ایښې وه. نوموړې په چوپتیا دغه افسر ته کتل. د ده مېرمن هم په یوه څنګ لرونکې څوکۍ کې ناسته وه او په مهربانۍ یې د خپلو لمسیانو پالنه کوله چې پر قالینه ناست وو او انځوریزو کتابونه ته یې کتل. د وره څنګ او ژمنې بڼ ته څېرمه د لومړي وزیر مرستیال او د مالیې وزیر، عبدالالله په څوکۍ کې ناست وو. بې اړنګه، دی ټپرا (وارخطا) ښکارېده. د داود ښې لوري او د وره څنګ ته چېرته چې د کوټې او د ګلانو د یو پټې تر منځ د تېږو یو دېوال و، د کورنیو چارو وزیر، قدیر نورستاني و. ده په دوام داره توګه خپل څنګ ته د کرتۍ لاندې لاس کاوه چې د خپلې والتر Walther تومانچې لاستې ته چې په پرانیستې کاش کې ایښې وه په لاس رسی ځان ډاډه کړي.

امام الدین خپلو خبرو ته په اړنګ داسې دوام ورکوي: «ښاغلی ولسمشر، په هېواد کې سیاسي واک د ا خ د ګ ته لېږدول شوی. د پوځي انقلابي شورا د پرېکړې پر بنسټ، تاسې باید تسلیم شئ او سمدلاسه موږ ته ځان وسپارئ.» داود پوه نه شو او یا داسې یې وښوده چې پوه نه شو، بیا یې په غرور سر پورته کړ او په ارامه خو ژور غږ یې له دغه افسر څخه وپوښتل: «چا رالېږلی یې؟» امام الدین وویل: «زه د انقلابي پاڅون د پوځي شورا امر ترسره کوم.» په کوټه کې چوپتیا خوره شوه. داود نېغ امام الدین ته کتل. د امام الدین شاته له اتوماتو وسلو سره درې عسکر ولاړ او ولسمشر یې په نښه کړی و. د امام الدین دغه ورو خبرې چې ده ته امر شوې د ده د مخکنیو خبرو په پرتله لا ډېرې ګونګړو وې. داود داسې برېښېده چې په سوچ کې ډوب دی. ده بهر ته نه کتل، نه هغه کسانو ته چې د ده د نیولو لپاره راغلي وو، نه خپلې مېرمن، لمسیانو او وزیرانو ته، خو ده خپل ځان ته د ننه کتل، خپل روح ته یې کتل. چوپتیا اوږدېدله، د داود مېرمن خپلو لمسیانو ته وویل چې دې ته ورشي، دوی ورغلل او د نوموړي پر زنګون یې تکیه وکړه او امام الدین ته په ځیر شول. دوی هېڅ کله داسې څه نه وو لیدلي چې پر بابا باندې یې یو افسر امر وکړي. ناڅاپه او په ډېره چټکۍ داود خپلې کوچنۍ برونېنګ Browning تومانچې ته لاس کړ او پر امام الدین یې ډز وکړ. امام الدین* په اوږه ولګېد. نوموړی له ډېر درد څخه تاو شو او په عین وخت کې د ده شاته ولاړو عسکرو په خپلو اتوماتو وسلو ډزې پیل کړې. له دېرشو سانیو څخه په لږ وخت کې هر څه پای ته ورسېدل. ولسمشر له خپلو خپلوانو او متحدینو سره په وینو کې پټ پر سره قالینه پروت و.

کله چې د دوی مړي له ژمنې بڼ څخه لیرې کړل شول، د تیلفون یو زنګ راغی. هلته یو چوپړیال غوږۍ واخیسته. کله یې چې په غوږۍ کې غږ واورېد، ښښنه یې وغوښته او ډاکټر ته یې غوږۍ ورکړه: «زه ملالۍ یم، د عبدالالله مېرمن. کولای شم له خپل مېړه سره خبرې وکړم؟»

ډاکتر: *ښښنه غوارم، اغلې، دا ناشونې ده.*

ملالی: *چېرته دی؟ څه خبره ده؟ ټپي دی؟ وژل شوی؟*

ډاکتر: *وژل شوی، اغلې.*

ملالی: *ولسمشر چېرته دی؟ کولای شم خبرې ورسره وکړم؟*

ډاکتر: *ټول- ولسمشر، مېرمن، اولادونه، لمسیان- دوی ټول وژل شوي.*

کله چې دغه مېرمن غوږۍ بېرته اېښودله، په پساري یې وویل: «خدای په امان.»

* له کودتا څخه وروسته ، امام الدین ډېر ژر په ډېر ناټ غوري کولې چې څرنګه ده پخپله «د کرکې وړ اکاړ» وویشت. نوموړی د افغانستان په وسلوال پوځ کې جنرال شو، خو کله چې مجاهدین واک ته ورسېدل او سیاسي وضعیت بدل شو، ده په غوڅه توګه له دې څخه انکار وکړ چې د افغان ولسمشر په وژلو کې یې کومه ونډه درلوده. دی اوس په لوېدیځه اروپا کې ژوند کوي او د ښوونکي دنده لري.

ملالۍ مخکې پوهېده چې یوه ناوړه پېښه به وشي. نوموړې هغه وخت پوه شوه چې اته ویشت کلن عبدالالله د لومړي وزیر مرستیال په توګه وګمارل شو او د ولسمشرۍ لپاره د داود ځای ناستی غوره شو. په دې وخت کې د دوی دویم زوی وزېږېد. ملالۍ په ډېره وېره او وهم له ځان سره وویل: «موږ خومره نېک بخته یوو! دا بخت به داسې پاتې نه شي.» دغه ځوانه او ښایسته ښځه پر جاینماز په ګونډو کښېناسته، د خپل وژل شوي خاوند روح ته یې دعا وکړه. دعاو ته یې ډېر دوام ورنه کړ. کله چې اوچته شوه، پوهېدله چې اوس باید څه وکړي. نوموړې لومړی د خوب کوټې ته لاړه او هغه جعبه یې پرانیستله چېرته چې یوه تومانچه وه. تومانچه یې واخیسته او د کوچنیانو د خوب کوټې ته لاړه او لومړی د خپل مشر څلورکلن زوی کټ ته ورنېږدې شوه. دی ویده و، خو د مور شتون یې وننګېره (احساس کړ). سترګې یې پرانیستې او مور ته موسکا شو. «ته ډېر ښایسته یې، بچیه!» دا د ملالۍ په فکر کې تېر شول او وریسې یې دغه زوی په تندې کې وویشت. کوچنی ماشوم یې د ډز په غږ ویښ شو او ژړل یې. ملالۍ یې کټ ته ور منډه کړې او دی یې هم وویشت. په دغه شېبه کې د ماشومانو د کوټې ور پرانیستل شو. ملالۍ هغه عسکر ولید چې په کارته پروان کې یې د دوی د کور ساتنه کوله او د کودتا په بهیر کې یې هېڅ کله د دوی کور پرېنښود. وریسې یې تومانچه پر خپل ټېک (شقیقه) کېښوده
او ماشه یې کش کړه.

تېوله دغه ورځ او راتلونکې ورځ د ولسمشر د ډلې غړي وژل کېدل. شاوخوا سل کسه چې له داود سره یې تړاو درلود ووژل شول او په ټوله کې ۱۵۰۰ د پوځ غړو او د ګارد پوځیانو ژوند له لاسه ورکړ. انقلابیانو لکه لېوان د هغو خورو ورو افسرانو او عسکرو ښکار کاوه چې تر اوسه ولسمشر ته وفادار وو. دوی ته د خپل ښکار لپاره خلک ښه مالوم وو ځکه چې په کلونو یې له دوی سره یو ځای زده کړې، پوځي روزنې او تمرینونه کړي وو. د داود وفادار پوځیان تر خپلې وروستۍ مرمۍ وجنګېدل ځکه چې دوی پوهېدل چې رحم به پرې ونه شي.
جګړه ورو ورو د کابل له مرکز څخه شاوخوا سیمو ته ولېږدېده. مخکې، د سهار په سپېدو کې د شوروي د سوادګرۍ استازي د دفتر ودانۍ او د شوروي سفارت ګراج ته څېرمه په یوه وړه سیمه کې چې ونې پکې کتار درېدلې وې د پلیو ځواکونو درنه جګړه پیل شوه. دغه جګړې یو ساعت دوام وکړ. کله چې لمر وخوت، دلته عسکر ولیدل شول چې مړي او وسلې یې په پوځي بسونو کې بارول. په داسې حال کې چې سهار

www.samsoor.com

وخته جګړه ونښته، د شوروي د سوادګرۍ دفتر یو مامور، د نړیوالې دویمې جګړې یو پوځي، د زړه د درېدو له کبله مړ شو. هغه څه چې په کابل کې پېښېدل، ښاغلي ایوانوف ته یې د دویمې نړیوالې جګړې د هغو هیبتناکو پېښو مرګوني یادونه تازه کول چې نوموړي دېرش کاله مخکې د جبهې په لومړۍ کرښه کې لیدلي وو. ایوانوف د شوروي لومړنی تبع و چې د دغه اړودوړ له کبله مړ شو کوم چې د ۱۹۷۸ کال د پسرلي په یو سهار کې په افغانستان کې پېښ شو.

## ٢

# مور یې غاښونه مات کړل او ازاد شوو

د اپرېل ٢٨م سهار روڼ او لمریز و. له کابل څخه پر چاپېر غرونو هم هېڅ وربځ نه لیدل کېده. د غرونو واورینې څوکې د بې پایه شنه شالید مخې ته اوچتې درېدلې وې. کله چې د سفارت ګاډي ته ختل، سترستین خپلې مېرمنې ته وویل: «بې اړنګه، نن به باران ونه اوروېږي.» د جمعې په ورځو به عمومي رخصتي وه، خو د ځانګړي وضعیت له کبله دوی وختي کار ته روان شول. لکه ډېرې نورې ښځې، تامارې هم د هوا له څرنګوالي سره ناټ (شوق) درلود، خو دا ځل یې د خپل مېړه خبرو ته پام و نه کړ. نوموړې د خپل پنځه کلن زوی په هکله اندېښمنه وه. تېره شپه دوی خپل زوی په سفارت کې له خپلو ملګرو سره پرېښی و. دې اندېښنه درلوده چې زوی به یې د پوځي یرغل ډزو ډېر ترهولی وي؛ نو په لاره کې یې په چوپتیا دعاوې کولې چې هر څه سم وي.
کله چې د دارلامان پر واټ په ګاډي کې روان وو، دوی په لاره کې یوه هیبتناکه صحنه ولیده. دوو بریدملو او یو دویم بریدمن یو پوځي افسر د ټوپک په زور مخته کش کاوه. د دغه پوځي نه خولۍ پر سر وه او نه یې نکتایي، کمر بند او کاش درلود. دی چوپ و او بې پروا ښکارېده. یوه ښځه چې غټه جثه یې لرله، اوږده خلاص تور وېښته یې لرل او کورنۍ جامې یې اغوستې وې په دوی پسې روانه وه او د ژړا غوغاوې یې کولې. بیا یې ناڅاپه منډې وکړې او دغو افسرانو ته یې ځان ورساوه. دویم بریدمن یې له لستوڼي ونیو، مخامخ یې د ده سترګو ته کتل او په داسې حال کې چې خپل یو لاس یې د دویم بریدمن مخ ته خوځاوه، په ډېره چټکۍ یې خبرې کولې. دویم بریدمن د خواب هڅه کوله او هغه دوو بریدملانو چې پوځي افسر کش کاوه، ودرېدل او خپل قوماندان ته یې کتل. ولېرې د دوی له څنګه تېر نه شو او پر ځای یې خپل ګاډی د سفارت د هستوګنې ودانیو له یوې دراوزې سره ودراوه څو د کوم خطر سره مخ نه شي. په عین وخت کې دغه دویم بریدمن ښځه لیرې ټېل وهله او خپلې وسلې ته یې لاس کړ. پوځي اسیر افسر د دویم بریدمن په نیت پوه شو، له لښتې سره په زنګونو کښېناست په داسې حال کې چې لاسونه یې شاته پر ورمېږ نیولي وو. دویم بریدمن اسیر ته ور نېږدې شو او په سر یې وویشت. اسیر په لړزه شو او ښکته لښتې ته پر مخ ولوېد. په لښتې کې د پروني باران اوبه تر اوسه وې. ښځې په بېخودۍ په ژړا چیغې وهلې، پر مړي ورولوېده او له لښتې څخه یې بېرته واټ ته کش کړ. په عین وخت کې دویم بریدمن او دوه بریدملان په چټکۍ د یوه فرعي واټ په لور تري تم شول.

کله چې ولېږي د اوسادچي دفتر ته ننوت، دی یوه شو چې مشر یې په بېړه کې دی. ولیور ګورېلوویچ Vilior
Gavrilovich په بې کچې ګرومجنه بڼه په یوه دوسیه کې کاغذونه تخته کول. د ده ونګه سمه نه برېښېده. مخ یې پړسېدلی و او د تکو سرو سترګو لاندې یې کڅوړې جوړې شوې وې. یوه پیاله چې لږ چای ترې څښل شوی و پر مېز ایښی وه. د بورې څو ټوټې او د کلچو یو سرخلاصی کوټی د هغه پیغامونو پر سر پراته وو چې له مرکز څخه راغلي وو. یو کټ کېدونکی کټ له یو اوار بالښت او یوې ګونځې بړستنې سره د کتابونو د هغه رېک څنګ ته پراته وو چې اخځونه پرې ایښي وو.
اوسادچي وپوښتل: «کوم بیړنی کار ماسره لرې؟» د دې پوښتنې تعبیر داسې کېدای شی چې «ما پرېږده چې زه ډېر مهم
کارونه لرم.» سترستین غوښتل خپل مشر له یو څو ټکو خبر کړي، خو دا یې غوره وګڼله چې په ارامۍ یې ورته ولیکي؛
نو خپل مشر ته یې داسې ځواب ورکړ: «نه، بیړني څه نه لرم.» اوسادچي ورته وویل: «زه د سفیر کور ته د یوې غونډې لپاره ځم. له سفارت څخه مه وځئ. پاتې ډلې ته ووایه چې چېرته ونه ښوري. کله چې بېرته راغلم، موږ به یوه غونډه ولرو.»
ورپسې ولېږي د څارګر مېښت مشر مرستیال، ارلوف مروزوف ته لاړ. نوموړی سم بنیالی (ډولي) او ارامه په خپله څوکۍ کې ناست، د سپینو زرو یو په لاس جوړ شوی خودرنګ قلم یې په ګوتو کې نیولی و او یو تېلګراف یې لوست. د معمول په څېر د سګرېټو پیپ یې په خوله کې نیولی و. د پیپ لوګي خوږ بوی درلود. مرستیال له خپلو عینکو لاندې په بې پروا بڼه ولېږي ته پورته وکتل مخکې له دې چې نغوته ورته وکړي چې ولادیمیر ته مخامخ پر څوکۍ کښېني. کله یې چې د تېلګراف متن اصلاح کړ، پاڼې یې ولېږي ته ورکړې چې دی یې هم ولولي چې کومه تېروتنه پکې نه وي.
د کابل په کې جي بي څانګه کې ولېږي سترستین ځانګړی ځای درلود. مخکې له دې چې څارګر افسر شي، نوموړي د لېننګراد په دولتي پوهنتون کې د ختیځ پوهنې له څانګې فارغ شو او د ستاژ دوره یې په افغانستان کې تېره کړې وه چېرته چې د ژباړن په توګه یې له ډېرو مهمو افغان روڼ اندو سره اشنایي پیدا کړه. کله یې چې په کې جي بي کې کار پیل کړ، نوموړی باید د کمونست ګوند غړی شوی وی، خو د ډېرې مودې لپاره د ده غوښتنه ونه منل شوه - د ده به د مرکزي کمېټې او یا سیمه ییزې کمېټې د تېرې غونډې پرېکړې په یاد نه وې او یا به هغه سپارښتنې چې د «ګوند لوړ پوړو غړو» ورکړې وې سمې ټاپه شوې نه وې. د کې جي بي هغه کارکوونکو چې د کمونست ګوند غړي نه وو، نشوی کولای چې له هېواد څخه بهر دنده تر سره کړي؛ نو ځکه ولېږي څلور کاله په مرکز کې تېر کړل چېرته چې نوموړي د امپریالېزم پر ضد جګړه کې داسې تېره وسله کاروله چې د کې جي بي یو افسر ورته لاس رسی نه درلود – دا وسله

يوه رينه وه. د ده دنده د لاسوندو (اسنادو) راټولول او ګنډل وه. د ده په سيف کې يوه مکروف تومانچه او په افغانستان کې د ټولو فعالو اجنټانو او هغه خلکو په هکله د لاسوندو ډېرې پلنې دوسيې وې چې کې جي بي د اجنټانو په توګه په پام کې نيولي وو. همدا راز د نورو لاسوندو سربېره، له ده سره د ټولو هغو کې جي بي افسرانو په هکله د مالوماتو دوسيې وې چې په افغانستان کې يې کار کاوه. دغه ځوان افسر بايد دغه ټول لاسوندي لوستي وی او پر بنسټ يې په افغانستان کې د شوروي څارګرو فعاليتونو په اړه د مرکز سپارښتنې جوړې کړې وی. کله به يې چې خپل مشر سپارښتنې ورکړې، ده به له رينې، لويې ستنې او سنۍ ځخه په کار اخيستنې له لوستو لاسوندو څخه دوسيې جوړې کړې. سترستين د پخوانيو دوسيو له لوستلو خوند اخيست. د شلمو او دېرشمو کلنو څارګرو افسرانو په اړه ارشيف شوو دوسيو چې په پنسل او د وريجو پر کاغذ ليکل شوې وې ده ته له هيبت او درب سره ګډه د درناوۍ ننګېرنه ورکوله.

په هغه وخت کې د ولېري مشر يو سخت ګيره خو سترګه ور (پوه او د نظر خاوند) سړی و. نوم يې ولاديمير الکساندرويچ سبلوف Vladimir Alexondrovich Sobolev و. نومړی په دويمه نړيواله جګړه کې د جنګي الوتکو پيلوټ و او د جګړې په بهير کې سخت ټپي شوی وو. کله چې د کې جي بي د سياسي څار ځانګې غړی شو، دی يو شمېر شانداره لاسته راوړنو نومور (مشهور) کړ. ده په ايران کې دوه ګوني اجنټان بربنډ کړل او ډېر اړين نوي اجنټان يې په خپلو سختو دوښمنانو، امريکا او برتانيه، کې وګمارل. نومړی يو ځل په قاهره کې برتانوي څارګرو سخت وډبولو چې دا کار د څارګرو فعاليتونو د نااليکل شوو اصولو خلاف و.

ولاديمير الکساندرويچ په انګرېزي ژبه رواني خبرې کولې، په فرانسوي ژبه يې د شعر ليکل خوښېدل، په پارسي ژبه يې

د متقاطع کليمو جدولونه حلول او پوستي ټکټونه او لرمونديې سکې يې غونډولې. نومړی يو د لوړې کچې روڼ اندی و.

ولېري له لومړۍ ورځې خپل مشر ته د ډېر درناوي ننګېرنه وکړه. ولاديمير الکساندرويچ ډېر سخت ګير و او له خپل لاس لاندي يې غوښتل چې د ورکړل شوو دندو د زده کړو په وسيله خپله کاري وړتيا په دوامداره توګه ډېره کړي. ده له ولېري غوښتل چې د دوسيو په اړه د ده پوښتنو ته سملاسي او سم ځواب ورکړي. د بېلګې په توګه، د يو ځانګړي کس او يا ځانګړي موضوع په اړه په کومه دوسيه او د دوسيې په کوم شاخص او کومه پاڼه کی مالومات پراته دي.

د خپلې طبيعي وړتيا او د ولاديمير الکساندرويچ د څارني په وسيله، ولېري کرار کرار د ټولو هغو دوسيو لاسوندي له ياده زده کړل چې د افغانستان په سيف کې ايښې وې او د شوروي افغان اړيکو کارپوه شو.

www.samsoor.com

په ۱۹۷۵ کال کله چې سترستين افغانستان ته لاړ، د هغه وخت مشر ايوان اېرشاف Ivan Ershov ټينګار کاوه چې د څارګرې دندې سربېره، ولېري بايد د مالي چارو سمبالونه او مرکز ته د مالي راپورونو دنده هم د کابل په څانګه کې ترسره کړي. د ولېري داسې وچې دندې لکه د شمېرو جمع، تفريق، ضرب او وېش ته زړه نه ښه کاوه، خو بيا يې هم د محاسب په توګه د ډېرو څارګرو د غلا هڅې بربندې کړې.
ولېري د خپلې دندې له لومړي کال راهيسې ارلوف مروزوف پېژانده. د نوموړي دغه مرستيال چې له ده ځخه لس کاله مشر و خوښېده او اعتبار يې پرې درلود. اورلوف ډېرې کرارې خبرې کولې او په خبرو کې يې کابو هېڅ خج (فشار) نه و. د غونډلو تر منځ او حتی د غونډلې په منځ کې به يې دومره اوږده وقفه کوله چې له ده سره خبرې اترې سختې وې او په داسې حال کې چې سړی به ورته تم و چې بل ويې (بله کليمه) يې له خولې راووځي، د ده پيکه شنو سترګو ته کتل د سړي د نارامۍ او زړه تنګۍ وجه ګرځېده.
د خبرو دغې بڼې ته افغانانو د ګوز مرده يا د مړي تيز ويل، خو الکساندر په ليکلو کې ډېر تکړه و. هغه څه يې چې ليکل ډېر منطقي او دقيق وو چې خامې او يا اصلاح ته يې اړتيا نه لرله. دی يو سترګه ور سړی و او ډېرې مشغولاوې يې لرلې. له ځمکې پېژندنې سره يې مينه لرله او ډېرې پيسې يې له جرمني ځخه د مزل لکړو او موزو په پېرودلو لګولې چې د افغانستان په غرونو کې وګرځي. نوموړی له کيميا سره هم مينه لرله او په ځانګړې توګه د الکولي ځښاک جوړولو سره يې ناټ درلود، په تېره بيا د ايټالوي برنډې سره. په سره سمندر کې د لېموندو کبانو او د ټوپنۍ (کيهان) او فضا (تشيال) له مسئلو سره يې ډېر ناټ درلود. له نورو دندو سربېره، د نوموړي اصلي دنده د مالوماتي او څېړنيزو کړو وړو څارنه وه.
ولېري هغه تېلګراف په ډېر پام ولوست چې مروزوف ورکړ. دغه تېلګراف چې مرکز ته لېږل کېده د پرونۍ نښتې د دواړو اړخونو د قربانيانو په هکله و. د ولسمشرۍ د ګارد د مرګ ژوبلې په اړه هم مالومات پکې وو. په نښته کې د دغه ګارد يوه پر درېيمه برخه پوځيان مړه او يا ټپيان شوي وو. د افغان پوځ په بېلابېلو پوځي واحدونو کې هم يو شمېر پوځيان وژل شوي وو. د کودتا په ورځ افسران او عسکر نه يوازې د پوځي کودتا بلکې د خپلمنځي شخړو له کبله هم مړه شوي وو.
ولېري داسې مالومات ترلاسه کړل چې د کودتا په شپه د افغان حکومت او پوځ له يو شمېر لوړپوړو خلکو جامې ايستل شوې وې او په کابل ژوبڼ کې په کپسونو کې بندي شوي وو. نوموړی د يو تېلګراف په لوستلو په ډېر خپګان خبر شو چې د ده يو اشنا، د پاچا اوښی او په مسکو کې د افغان سفارت پخوانی پوځي اتشې بريد جنرال سليمان روکی تېره شپه وژل شوی. د سليمان روکي زوی چې په پوځي روغتون کې جراح و او د لېننګراد په پوځي طبي اکاډمۍ کې يې زده کړې کړې وې هم وژل شوی و. يو لوی شمېر پوځيان او بيروکراتان هم د کودتا په ترځ کې لادرکه شوي وو. د تېلګراف وروستۍ برخه داسې وه: «موږ پوهېږو چې (هرڅومره په کلکه موږ د کابل په پېښو کې خپله ښکېلتيا رد کړو) ډېری افغانان او د لوېديځ ډله ييزو رسنيو پروپاګند به د نړۍ په دې برخه کې دغه پېښې د شوروي د ځمکني سياست له لېوالتياو

او د امپریالېزم ضد سیاست سره وتړي. موږ په دې کې هم اړنګ نه لرو چې د نوي واکمنۍ د تېروتنو پړه به پر موږ واچول شي؛ نو ځکه دا سپارښتنه کوو چې له خپل نفوذ څخه کار واخلو چې زموږ افغان ملګري چې نوي واک ته رسېدلي د داود رژیم د ملاتړو له ځپلو لاس واخلي او د دغه رژیم له کدرونو څخه د اصلاحاتو په پلي کولو کې کار واخلي. موږ په دې کې هم اړنګ (شک) لرو چې تره کی او متحدین به یې د سفارت مامورینو ته غوږ ونیسي تر هغه چې د شوروي لوړپوړي چارواکي له دوی سره په نېغه خبرې اترې و نه کړي؛ نو ځکه وړاندیز کوو چې سبا ته د اپرېل په نهه ویشتمه او یا په راتلونکو څو ورځو کې سفارت ته څېرمه د تاس خبري ایجنسۍ په دفتر کې د شوروي سفیر له تره کي سره په پټه یوه غونډه وکړي. دغه مهال به د شوروي سفیر هغه اړین صلاحیت ولري چې په داسې خبرو کې ښکېل شي او دا به هم شونې شي چې د نوي رژیم د رسمیت پېژندنې د بهیر په اړه خبرې اترې وشي.»

د ټېلګراف له لوستلو وروسته، ولېري د هغه اسیر افسر د وژنې په هکله بشپړه کیسه وکړه چې ده او مېرمنې یې د سفارت په لاره کې یو ساعت مخکې ولید. ولودیه ختېیف Volodya Khotyaev د ولېري د کیسې په اورېدو ځاځمن ( په غوسه) شو او غوښتنه یې وکړه چې دغه مالومات هم ټېلګراف ته ورزیات شي او یا په یو نوي ټېلګراف کې مرکز ته ولېږل شي. ولودیه باور درلود چې د سیاسي ارزونو او احصایې په پرتله دغسې ځانګړې کیسې، د پېښو بیان او انځورونه د شوروي پر بوډا مشرانو ډېر اغېز کولای شي.

الکساندر وېکتورووېچ څو ځلې خپل پیپ کش کړ او ویې ویل: «په مسکو کې مشران زموږ په خبرو نه پوهېږي. موږ باید د هغو خلکو په هکله په وار وار فکر وکړو چې خپلې ارزونې ورلېږو. راځئ چې د دوی پر روحیه نور فشار ډېر نه کړو.» ده خپل پیپ بیا خولې ته کړ او له کش وروسته یې ولودیه ته وویل: «که ژوندی پاتې شوې، دغه کیسې تر هغه وخته وساته تر څو چې ته په خپله یو یادښت کتاب ولیکې.» کله یې چې دغه خبرې خلاصې کړې، ده وخندل او بیا سمدستي د ویلیور ګوریلووېچ د ټیلفون زنګ راغی. اورلوف مروزوف، ولودیه او ولېري په چټکۍ له اوسادچي سره یوې غونډې ته لاړل. کله چې د خپل مشر دفتر ته ننوتل، ختېیف د لاسلیک لپاره ټېلګراف ځارګر مشر ته ورکړ. نوموړي د منظورۍ سر وخوځاوه او لاسلیک یې کړ چې مرکز ته ولېږل شي.

اوسادچي د مېز تر شا خپلو کارکوونکو ته وکتل. په دوی کې یې د بېخوبۍ له وجې د ګنګسوالي څه نښې نښانې ونه لیدلې که څه هم تېر څلورویشت ساعتونه د دوی په ټول ژوند کې ترټولو ستومانه کوونکي وو. ځارګر مېشت مشر په یو واکمن غږ خبرې پیل کړې او ویې ویل: «موږ پرون په ښار کې د پېښو له کبله غونډه جوړه نه شوی کړی. هر چا په خپلواکه بڼه خپلې دندې ترسره کولې، خو اوس باید پلان جوړ کړو. زه له سفیر سره همدا اوس له یوې غونډې راغلم. کله چې هلته وم، ده ته د لیونېډ ایلیچ برېژنېف یو ټیلفون

راغی؛ نو ځکه زه هلته ډېر وځنډېدم. اوس د سیاسي بېرو لویه اندېښنه په افغانستان کې د نوي رژیم د رسمیت پېژندلو په اړه ده. الکساندر میخیالویچ ته زما سپارښتنه دا وه چې مسکو ته وواییي چې د نوي رژیم په رسمیت پېژندلو کې بیړه و نه کړي. پرېږدئ چې لومړی نور هېوادونه دا کار وکړي. د بېلګې په توګه، بلغاریا، ویتنام او د جرمني دموکراتیک جمهوریت. که هند دا کار وکړي، دا به لا ډېر ښه وشي. اوسادچي خپلو کارکونکو ته ځیر شو او ویې ویل: «ستاسې څه اند دی، دا سمې سپارښتنې وې؟» چا کوم اعتراض و نه کړ. «نن جمعه ده. له اجنټانو سره دومره غونډې نه شته. هغه چا چې له دوی سره کتنې پلان کړې دي، هغه دې ترسره کړي، خو ډېر پام کوئ. موږ به د هرې کتنې په هکله په جلا توګه خبرې وکړو. هغه څوک چې غونډې نه لري، ښار ته دې لاړ شي چې د پرون او بل پرون د پېښو په هکله د افغان وګړو او بهرنیانو د غبرګون په اړه مالومات راغونډ کړي. پوه شوئ؟ ټول راټول شوي مالومات باید ختییف ته راوړل شي. که چېرته ډېره بیړنۍ خبره نه وي، ما ته زنګ مه وهئ. تاسې باید د راتلونکو پېښو د شونتیا ارزونه هم وکړئ.» څارګر مشر د امنیت افسر ته مخ واړاوه او ویې ویل: «بختورینه، زه له تاسې یوه غوښتنه لرم. ژرترژره د هغه شوروي وګړو بشپړ راپور برابر کړه چې پرونۍ پېښو زیانمن کړي دي. همدارنګه په کابل او نورو ښارونو کې د شورویانو د استوګنځیو د وضعیت په هکله هم بشپړ مالومات راټول کړه.» بیا یې په ارامه او کابو مهربانه غږ ختییف ته وویل: «ولودیه، ځه لاړ شه، لږ خوب وکړه. ډېر ستړی ښکارې.»

ختیف سترګې په مشر کې خښې کړې وې او په تروه بڼه یې داسې فکر وکړ: «لکه چې ته ستومانه نه ښکارې.»

په کابل کې د کې جي بي افسرانو ختییف ته د «مېخ» لقب ورکړی و. ده پر دغه نوم اعتراض نه درلود. هغه څارګر چې دغه نوم یې پرې ایښی و له ده څخه کشر افسران وو چې د خپل ژوند په څلورمه لسیزه کې وو. دوی ته به نومورۍ سپین ږیری ښکارېده. د نومورې نېغې بڼې د ده لوړه ونه ډېره جوته ښکاروله. د ده نرۍ جثې، طوطي ته ورته پوزې او ګاړګوټې (چنګ چنګ) وېښتانو ته په کتو، خلکو د انګرېز ګومان پرې کاوه، خو د ده ونګې د دغه لقب موندلو ته الهام نه و ورکړی. ختییف د جوړجاړې سړی نه و، کله کله به په خپلو ارزونو کې له کچې وتلی بډول (سپین ګویه) و. ده به هېڅ کله خپل اند نه بدلولو حتی هغه وخت هم چې په اړه یې اړنګمن و. کله کله به داسې برېښېدل چې ختییف خپل هغه همکاران له لاسه ځورول چې د ده ورسره جوړه نه وه. د یوه شنونکي په توګه، د ده موخه دا وه چې په مسکو کې یې مشران

نه يوازې په کابل کې د حالاتو په اړه د ده د شننې په ژوروالي (عمق)پوه شي بلکې دوی ټيک هغه څه وکړي چې ده يې وړانديز کاوه.
ماښام کله چې پر ښار تياره خوره شوه، د څارګرې ادارې عمومي کوټه له لوګي او ګرد څخه ډکه وه. ختييف د خپل ليکمن typewriter مخې ته ناست و، سګرېټ يې څکولو او په يوه لويه پياله کې يې تور چای څښلو. د پيالې د ننه د چای پاتې شونو يوه توره وياړه (دايره) جوړه کړې وه. دی د پرونۍ کودتا په هکله د راپورونو او شننو د يوې لويې دلۍ چې همکارانو يې ورسپارلې وو په سپړلو بوخت و. ډېری راپورونو د نوي رژيم واک ته د رسېدنې په اړه د «افغانانو» خوښي څرګندوله. ده به سوچ کاوه چې د «خلکو» دغه ناڅاپې ګروهنه (تمايل) څه مانا لري، د شوروپانو ګروهنه؟ د افغانانو ګروهنه؟
د افغان ولس جوړښت څنګه دی؟ پښتانه، تاجک، پاړسيوان، هزاره، ازبک، د کافرستان اريايان... مسلمانان.. سني، شيعه، اسماعيليه... نارينه، ښځې، ماشومان، ځوانان، زاړه، جوړ نا جوړه، بزګران، فيوډالان، ښوونکي، بيروکراتان،
سوتېماران، شوکماران، ملايان، عسکر... «بلاخره موږ له بې پايه فيوډالي تيارو څخه ځان ازاد کړ، موږ د کرکې وړ اکاړ غاښونه تويې کړل.» د پروني انقلاب په اړه د «افغانانو» خوښي له ګونځې راپورونو څخه راڅرګندېدله. دا انګېرنه به منطقي وه که چېرې داسې غبرګون خلقيانو او د دوی خواخوږو ښودلی وی، خو ختييف ډاډه و چې نه يوازې خلقيان بلکې عادي وګړي د خوښۍ ولولې څرګندوي. «يا خدايه» ختييف په سوچ کې شو: «دا څومره خواګرځن دی چې يوازې دوه ورځې مخکې ما مسکو ته خبر ورکړ چې د افغانستان بېلابېلو سيمو ته د داود د يون په هکله افغانانو څومره خوښي څرګنده کړه. دوی د هرکلي لوی لاريونونه ترسره کړل، په لسګونو زرو خلکو شعارونه ورکول چې د قانون ساتونکی د ژوندی وي او تر ټولو حيرانوونکې خبره دا ده چې پر دوی خپل ولسمشر په رينښتيا ګران و او په ليدو يې د زړه له کومې خوښ وو، خو اوس همغه ګڼه ګوڼه په همغه خوښۍ د خپل ولسمشر د مړينې خبرو ته غوږ نيسي.
د داود د رژيم د پرځولو په اړه د خلکو د مثبت غبرګون په هکله ختييف يو ټيلګراف مرکز ته ولېږه. نوموړي د کودتا په هکله د افغان ټولنې د مثبت غبرګون په اړه د ټولو څارګرو راپورونه په يوه پلاستيکي کڅوړه کې واچول چې په کور کې يې وسوځوي. ده هغه څرګندوني محرمې ونه ګڼلې چې نوموړي له غير رسمي سرچينو ترلاسه کړې وې؛ نو دوی په عادي څځلځې کې له منځه وړل کېدای شوی. د همدغه موخې لپاره د سفارت په دويم پوړ کې زينو ته څېرمه يوه بخارۍ اېښودل شوې وه.

www.samsoor.com

کله یې چې د راپورونو لوستل خلاص کړل، ختییف د هغه یادښتونو دلی ته وکتل چې ده په خپل تېلګراف کې ونه لیکل. دوی یې څنګ ته کېښودل څکه چې وروسته پخپله د دغو یادښتونو لیکوالانو یې یوه داسې څانګړې شننه کوله چې د څارګرو په ژبه: «له ایرو څخه سکروټې جوړوي.»
یو څارګر لیکلي وو : «ما له یو رسمي اړیکوال، صوفي شېخ مبلغ سره وکتل. دی په میوند واټ کې یو پلورنځی لري. زده کونکي یې هم حاضر وو. ما د پرونۍ کودتا په هکله خبرې ورسره وکړې. ده وویل: «زه پوهېږم چې تره کي او متحدینو یې د عدالت د اعادې لپاره کودتا وکړه، خو روڼ اندي - لیکوالان، ښوونکي- د «عدالت» د مانا پر غوچوالي نه پوهېږي. دوی د لوېدیځوالو په څېر فکر کوي، له بده مرغه ته هم ښایي همداسې فکر کوې. په لوېدیځ کې عدالت خپله مانا لا د وخته له لاسه ورکړې. هلته څښتوب (حماقت) واکمن دی. دوی یو سړی د غلا له کبله نه محاکمه کوي، بلکې د غلا د کچې لپاره یې محاکمه کوي. له دې څخه بله ډېره څښه کړنه شته؟ نو څکه په لوېدیځ کې عدالت نشته او ته هم له ریښتینی عدالت او ریښتینی قضاوت څخه بې برخې یې. هغه خلک چې پرون واک ته ورسېدل عدالت نه شي پلی کولی. دوی مسلمانان نه دي. دوی له خدایه ډېر لیرې شوي دي؛ نو څکه افغانان به دوی د ریښتینو مشرانو په توګه ونه پېژني. دوی به جوماتونو ته لاړ شي، دوی به په خپلو نمونځونو کې بدرنګه او مسخره ښکاره شي. دوی منافق دي او په اسلام کې منافقت ګناه ده.
ته، یو روسی، یو شوروي یې چې په نېغه وایې: «زه یو کمونست یم. زه خدای نه پېژنم.» ته د دوی په پرتله موږ مسلمانانو ته ډېر ښه یې. ته خپله اصلي څېره نه پټوې. زموږ به ستا څېره نه خوښېږي، خدای راز راز څېرې پیدا کړې دي؛ نو تر هغه وخته چې ته زموږ په چارو کې ګوتې ونه وهې، زموږ پت، دین او مال ونه ننګوې، موږ د دې پروا نه لرو چې ته څوک یې. له خدای نه شکر کوم چې د هېوادونو تر منځ پولې شته. پولې نه یوازې څمکو او سیندونو جوړې کړې دي بلکې د ژوند په اړه د خلکو د عقیدو تر منځ هم پولې شته. ستا خپل کار دی چې خپل ژوند څرنګه کوې. موږ غواړو په هغه ښه ژوند وکړو چې موږ یې غواړو او هېڅوک باید له دې پولې تېر نه شي، نه تاسې، نه موږ. زه دا خلقیان چې د مسلمانۍ دعوا کوي پېژنم. دوی به بې اړنګه (بې شکه) هڅه وکړي چې ستاسې لوېدیځوالو عقېدې پر موږ وتپي. دوی به زموږ د خلکو د ضمیر بدلولو هڅه وکړي. دوی روڼ اندي دي او هڅه به وکړي چې د مذهبي خلکو واک محدود کړي. دا کار به دوی تباه کړي څکه چې دوی له خپلو خلکو سره په شخړه کې ښکېل کېږي. داود په سلګونو ښه مسلمانان ووژل، خو په دې کار هېڅ افغان د سپکاوي ننګېرنه و نه کړه. هر وګړی پوهېده چې داود «زموږ خپل سړی» دی. ده د تره کي په څېر د بېوزلو خلکو په هکله کتابونه نه لیکل. ده په لیسو کې درس نه ورکاوه. دی یو سردار و- یو فیوډال او یو اکاړ- خو دی یو افغان و. ده یو څو مسلمانان د نورو مسلمانانو د ښېګڼې لپاره ووژل. دی ګناهکار و، خو مسلمان هم و. دی له ولس سره و او هېڅ په دې اړه اړنګ نه درلود. د ده چلند په هغه ښه و چې زموږ په هېواد کې، زموږ په تاریخ کې دود لري. یو حاکم چې څومره

خلک وژني، هغومره درناوی ورته کېږي. ستاسې انقلابونه «زموږ» نه دي. دوی ولس ته پردي دي. دوی ستاسې لوېدیځوالو دي.»»

ختییف وخندل: «دا د بنسټپالو د فکر بڼه ده - داسې اسلامي سوچونه به څه رامنځته کړي؟ حتی په دې هکله سوچ وېروونکی دی.» ده یو بل راپور راوخیست: «ما له مرېک وارن Marek Warren، د امریکا په سفارت کې قونسول، سره د سبو بازار «Green Bazzar» په ترټان Treton کې ولیدل. موږ سلاد او پیتزا د ایټالوي خنیتی (یو ډول کوچنی کب Sardine) سره وخوړل. ما ځان سره وتکا راوړې وو، د غرمنی پیسې ما پرې کړې. مرېک نېشه شو. امریکایان د کار خلک نه دي او نه پوهېږي چې څرنګه شراب وڅښي. د نېشې په محال یې ځینې پېښې او بېشرمه نغوتې کولې. ده څه کوله چې په روسي ژبه خبرې وکړي، ما هم په همغه بڼه ځواب ورکاوه.» ختییف په کرساري وخندل او له ځان سره یې وویل: «ښه؛ نو تا عجیبه لیدنه درلوده. دارو دې شه، د راپور لیکنې څه یوه خندوونکې بڼه!» مبخ له امریکایي سره د لیدنې په هکله د خپل همکار د راپور خندوونکې سریزه خوښه شوه. دی پوهېده چې په دغه په زړه پورې سریزې پسې به یوه جدي شننه وي. نوموړی په دې هم پوهېده چې د دغه راپور لیکوال ملګری یې په روسي ګرامر کې وتلی و، خو کله کله چې ځان ژرترژره د راپور لیکنې له اصولو خلاص کړي، راپور به یې ګډوډ او بېخونده و. ده یې بیا لوستل پیل کړل: «زموږ د خبرو په ترڅ کې، په افغانستان کې د امریکا قونسل، مرېک وویل چې د «پروني کمونستي کودتا» له کبله شوروي اتحاد له یو بندښت سره لاس او ګریوان شو. د وارن د خبرو پر بنسټ، شورویان اوس د خپلې افغان پالیسۍ په تړاو دوې خوښې لري چې دواړه یې د بایلې په مانا دي. لومړی خوښه به یې دا وي چې شوروي اتحاد د ا خ د ګ د خیالي پروګرامونو په پلي کولو کې برخه واخلي. دغه پروګرامونه د یوې سوسیالېستي ټولنې جوړولو ته نغوته کوي. دغسې برخه اخیستنه به د شوروي اتحاد د بې کچې ډېرې مادي سرچینې لګول اړین کړي. بشري سرچینو ته به هم اړتیا ولري- ډېر وړ او د ښه دسپلین کارپوهان چې د افغانستان له ځانګړتیاو سره اشنا وي، خو د وارن د خبرو پر بنسټ، شوروي اتحاد اوس د مادي او بشري سرچینو له کمښت سره مخ دی. شوروي به د خپلو پانګونو په بدل کې دومره څه ترلاسه نه کړي چې په افغانستان کې یې کوي؛ نو موږ شورویان به افغانستان ته هر څه ورکوو پرته له دې چې په بدل کې یې څه ترلاسه کړو؛ نو شوروي اړ دی چې په ډېرو برخو کې، په ځانګړې توګه په دفاعي پروګرامونو کې خپل لګښتونه لږ کړي څو وکولی شي له خپل سوبلي ګاونډي سره مادي مرسته وکړي چې د سوسیالېزم ګلونه یې وغوړېږي؛ نو د دې پایله به څه وي؟ د امریکا متحده ایالتونو ته به ګټه ورسېږي.»

www.samsoor.com

«د وارن د خبرو پر بنسټ، د شوروي دویمه خوښه داسې ده: موږ، شورویان به په افغانستان کې پوره پانگه اچونه و نه کړو. په یوه یا دوو میاشتو کې به زموږ افغان ملگري په دې سوچ کې شي چې افغان وگړو ته څه وړاندې کړي. افغانان له دوی څخه د پرمختگ تمه لري. وگړي به له دوی وپوښتي: «تاسې ولې بشپړ واک ته لېوال وی؟ که تاسې هېواد ته د هېڅ چوپړ توان نه لاره، ولې مو خونړۍ کودتا وکړه او ولسمشر مو وواژه؟ د سمون لپاره ستاسې اصلاحات او بدلونونه چېرته دي؟ د هیلو او تمو د ناکامۍ د وجې د موندلو لپاره به هڅې پیل شي او په دې بڼه به د گرم د لټون په بهیر کې څښن (احمقان) بربنډ شي. بیا به دوی یو او بل ته گوتې نیسي او یو او بل به گرموي او له یو او بل سره به جگړه پیل کړي چې پایله به یې د دوی ناکامي وي. د دوی ناکامي به د شوروي د ناکامۍ په مانا وي ځکه چې راتلونکی رژیم به له ا خ د گ سره د مرستې له کبله شوروي ونه ښښي او په دې توگه د امریکا او نورو هغه هېوادونو نفوذ به په افغانستان کې ډېر شي چې له شوروي اتحاد سره ښې اړیکې نه لري. سربېره پر دې، په پرمختگ کوونکو هېوادونو کې به د شوروي اتحاد ملگري پر موږ باور بایلي.»

«زموږ د خبرو په ترڅ کی وارن د افغانستان د هغه پیلوټانو وړتیا وستایله چې ارگ یې بمباري کړ. ده د امریکا پوځي اتشې ته په نغوتې داسې یادونه وکړه چې پیلوټان افغانان نه بلکې شورویان وو. ما ورته وویل: «باور وکړه چې دوی افغانان وو. موږ نه یوازې افغان پیلوټانو ته بلکې امریکایي پیلوټانو ته هم روزنه ورکولی شو. تاسې خپل پیلوټان شوروي ته د روزنې لپاره راولېږئ، خو لومړی باید دوی په امریکا کې د کمونست گوند غړي شي او «نړیوال سوسیالېزم» ته د وفادارۍ سوگند وکړي.» مربک زما په ټوکو پوه نه شو ځکه ډېر نېشه و.»

ختییف بل راپور راوخیست چې داسې پکې لیکل شوي وو: «ما له اشرف خان سره وکتل، د هغه کور څېښتن چې سفارت ته څېرمه ما کرایه کړی. نوموړی د احمدزیو د قبیلې یو مشر دی. د ده مېرمن ثریا نومېږي چې په امریکا کې د افغانستان پخواني سفیر لور ده. نوموړې د افغان پوځ د لوی درستیز، ډگر جنرال فاروق لور بللې هم ده. اشرف خان په چکسلواکیا کې زده کړې کړې دي او د افغانستان مخکنیو واکمنانو، ظاهر شاه او داود د نوموړي پلارگنۍ او خپلوان پېژندل. دوی د نوموړي کورنۍ ته د دوی د شرافت او ښه طبیعت له کبله درناوی درلود. اشرف د یوې مودې لپاره په پوځ کې دنده ترسره کړه او د جگ تورنۍ یا جگړنۍ رتبې ته ورسېد. اوس د پلان جوړونې په وزارت کې د یوې څانگې مشر دی. د خپلې دندې په اړه اندېښنه نه لري. ده ته دولتي دنده یوازې له دولت سره د اړیکو په مانا ده. ډېرې ځمکې لري او ډېر شتمن دی. دغه شتمني یې په کابل کې له ډېرو هکتارونو حاصلخیزو ځمکو او په کوهدامن او نورو سیمو کې د انگورو له باغونو پیدا کړې ده. امیر امان الله خان د تاج بېک ماڼۍ ته څېرمه، چېرته چې دی اوس په یوه کوټۍ کې اوسېږي، د ده پلار ته ډېره ځمکه ډالۍ کړې وه. دی په چکي او روسي ژبه ښې

خبرې کوي. شوروي يې خوښېږي او ډېری مسکو ته يون کوي چې خپل زوی، عزيز ته توکي وپيري. د ده په اند په شوروي کې د ماشومانو لپاره جوړ شوي توکي په نړۍ کې تر ټولو ښه دي.»
نن سهار زما ليدو ته راغی چې له پرونۍ پېښو وروسته زما احوال واخلي. د لنډې مرکې په ترڅ کې چې ما پرې وتپله (دی ډېر شيله پينګ (ګوښه ګير)دی او ډېرې خبرې نه کوي)، نوموړي داسې وويل: « تره کی او هغه نور پښتانه چې د ا خ د ګ له مشر سره يې کودتا وکړه، له اشرافي کورنيو څخه نه دي. دوی له قومي مشرانو سره نېږدې اړيکې نه لري. په نورماله توګه پښتانه او حتی هغه پښتنو ته چې له ډېرو اشرافي کورنيو څخه نه دي، د خپلې کورنۍ لړترلړه اووه تېر نسلونه مالوم دي. ايا تره کي ته خپل نيکونه مالوم دي، لړترلړه تېر درې نسلونه؟ نه، حتی که ورته مالوم هم وي، دی به وياړ پرې وکړي؟ نه، د ده نيکونه څوک دي، مريي، درويزګر، د ګاهر (د غواو او غويو ګله) شپانه، يا مزدوران؟»
اشرف زياته کړه: «په افغانستان کې پښتنو تل افغان سياست ټاکلی دی. يوازې هغه څوک پر دوی واکمني کولی شي چې دوی منلی وي. دلته قومي مشران پرېکړې کوي، خو پښتانه مشران به دا نوې واکمني ونه مني او د دې مانا دا ده چې عامه وګړي به د نويو واکمنانو ملاتړ و نه کړي. ما په چکسلواکيا کې مارکسېزم او لېنينېزم لوستی او زه پکې وتلی وم. په ازموينه کې ډېر ښه بريالی شوم. زه پوهېږم چې تره کی د «پوړيز (طبقاتي) پرځنګ » پر تيورۍ باندې د باور پر بنسټ په دې اند دی چې ګواکې پښتانه « چې تيټ پوړ دی» د «لوړ پوړ» د څېښناک (استثمار) پای غواړي. دی ځکه په دې اند دی چې نوموړی د پښتون په پرتله ډېر انګرېز دی. د هغه پوهې سربېره چې ما په پراګ کې ترلاسه کړې، ما ته مې خپل پلار او نيکه چې ريښتيني پښتانه وو هم مالومات راکړي؛ نو ځکه زه وايم چې تره کی پر غلطه لاره روان دی. د «پوړ» تيوري اروپا ته ښه ده. داسې فکر و نه کړې چې پر مارکسېزم او لېنينېزم نيوکه کوم. دوی ښې تيورۍ دي، خو د اروپايي ټولنو لپاره، نه د افغانستان لپاره. په افغانستان کې بېلابېل پوړونه نه شته. په افغانستان کې موږ داسې کارګران، بزګران او يا پانګوال نه لرو چې د مارکس په وخت کې په اروپا کې وو. چې لږ واضح يې ووايم، په اوسني وخت کې موږ د پوړونو تر منځ داسې اړيکې نه لرو لکه په اروپا کې، خو موږ قبيلې لرو او د مارکسېزم او لېنينېزم تيورۍ د قبيلو تر منځ او په خپله په قبيلو کې د ننه له يو او بل سره اړيکې نه شي بيانولی. ما په دې تړاو ډېر سوچ کړی، په افغانستان کې د مارکسېزم او لېنينېزم تيورۍ نه شي پلې کېدای. زه له خپلې قبيلې سره ډېر نېږدې تړښت لرم. زه پوهېږم چې د قبيلې تيټ پوړ د همدغه قبيلې له اوچت پوړ سره د جګړې خبرې هسې برغزووې (بې مانا خبرې) دي. کېدای شي دوه کورنۍ په يوه شخړه کې ښکېلې شي او جګړې ته مخ کړي، خو دا به د پوړ جګړه نه وي ځکه چې زموږ په قبيلو کې د ننه لوړ او تيټ پوړ يو ډول دي، دوی ټول خپل خپلوان دي.»

www.samsoor.com

مېځ په دې اړه په سوچ کې شو. يو سګرېټ يې ولګاوه. بيا يې فکر وکړ چې په دې کې د سوچ لپاره ډېر څه نغښتي دي. يو د مسلمانانو له لوري زمور د نه منلو ډرکه راکوي، بل وايي چې شوروي به له کچې وتلې ډېره يا لږ مرسته وکړي او درېيم داسې برېښي چې د ملګري په توګه مور ته خپل اند څرګندوي، خو نه زمور د ملګرو د ملګري په توګه. دوی ټولو سمې خبرې کړې دي: « زه دغه ټول راپورونه چی زما مخته پراته دي پرته له ستونزې له منځه وړلی شم. ښايي دا به ښه وي چې ويې نه سوځوم، ښايي دغه مالومات په ليکل شوي تېلګراف کې ورزيات کړم او د مرکز خوښی ته د پای ټکی کېږدم.»
په داسې حال کې چې په سوچونو کې ډوب و، ولوديه له دغه درې راپورونو او يوې لفافې سره چې تېلګراف پکې و د اورلوف مروزوف دفتر ته لاړ، خو د ځارګرې ځانګې مرستيال په خپل دفتر کې نه و او ور يې کولپ و. دی د ځارګرې ځانګې د مشر دفتر ته لاړ چېرته چې مروزوف په يوه څنګ کې مېز ته ناست او کاغذونه يې اړول. مروزوف ورته په کراره وويل: «راځه ولوديه.» بيا يې ورته وويل: « وېلير ګورېلوويچ روغتون ته ولېږدول شو، ښايي د زړه حمله پرې راغلې وي. د تېلګراف لپاره دې لاسليک په کار دی؟» ولوديه د مروزوف پر مېز کاغذونه کېښودل او پوښتنه يې وکړه: «وېلير ګورېلوويچ څنګه دی؟» مروزوف ځواب ورکړ: «زه له روغتون څخه همدا شېبه راغلم، خو نه پوهېږم. زه ډاکټر نه يم.» کله يې چې تېلګراف ولوست او د کامو او ټکيو له اړخه يې سم کړ. مخکې له دې چې خپل سپينزره خودرنګ قلم د لاسليک لپاره پر کاغذ کش کړي، له خپلو عينکو يې ولوديه ته پورته وکتل او ترې ويې پوښتل: «بل څه شته؟» ولوديه هغه درې راپورونو ته ګوته ونيوله چې دی يې په اندېښنه کې اچولی و او ويې ويل: «هيله کوم دغه ولولئ.» مروزوف يې لوستل په چوپه خوله پيل کړل. حتی د مخ يوه عضله يې نه ښورېدله. کله يې چې لوستل خلاص کړل، هغه تېلګراف يې لاسليک کړ چې ولوديه پکې د پرونيو پېښو په هکله يوازې مثبتې خبرې ليکلې وې. بيا يې په کراره وويل: «دا ډېر ښه راپورونه دي. ويې ساته، مور به کار پرې وکړو. ته پوهېږې چې که په مسکو کې مور پر خپلو مشرانو د داسې مالوماتو باران جوړ کړو، د دوی ماغزه به وچوي. سربېره پر دې، ايون ايونوويچ د مې په دويمه رارسېږي.» ولوديه په ډېر ځاځ وويل: «ولې بايد د ايونوويچ او د خپلو مشرانو د ماغزو اندېښنه وکړو؟» مروزوف دومره ورته وويل: «اوه، ايون ايونوويچ.»
د مشر د زړه حملې، له معتبرو سرچينو څخه مرکز ته د ښو راپورونو په لېږنه کې د ده پاتې راتګ او تر ټولو ډېر د ايون ايونوويچ د راتګ خبر مروزوف ته ټکان ورکړی و. نوموړي ټوله شپه خوب نه و کړی او اوس هم خوبجن نه ښکارېده. ولوديه ورته وويل: «زه کور ته ځم چې ځان نېشه کړم. زه دې اوس په کار يم.» مروزوف چې د خپل شنونکي په نيت پوه شو ورته وويل: «ځه لاړ شه، دمه وکړه.»

ولادیمیر الکساندرویچ کریچکوف د اپرېل په نهه ویشتمه د شنبې په سهار خپل معمول سهارنی سپورت پیل کړ. نوموړی د شوروي اتحاد په کې جي بي کې د بهرنیو چارو د څارګرې اداري رییس و چې په اکاډمیکو زده کړو او پر جزیاتو مین سړی و. ده هېڅ کله خپل اصول او مناسک نه بدلول. سهارنی شدید سپورت یو د ده له معمولو کړنو څخه و. دی به چې هر ځای و، خپل سهارنی سپورت به یې کاوه، په یاسینېوا کې د خپل دفتر په باغچه کې، او یا په مسکو کې په خپل اپارتمان کې. ده به په سفارتي استوګنځیو او د کې جي بي د سناتوریم په اوبغاړه کې په ارامۍ خپل سپورت وکړ. لاس لاندي یې په عادت پوهېدل او درناوی یې ورته کاوه.

د شنبې ورځ وه او که څه هم رخصتي وه، کریچکوف سستي و نه کړه. د سهار په شپږو بجو اوچت شو، د سپورت جامي یې واغوستي او په خپله باغچه کې یې یو ساعت شدید سپورت وکړ. بیا یې شاور وکړ، ساده سباناری یې وخوړ او خپل کار ته روان شو. نوموړی په پښو کار ته تله، کارځای یې له یو کیلو متر څخه ډېر لیري نه و. دی به د هغو ودانیو له لړۍ تېر شو چې کټاره ترې چاپېره وه او د بهرنیو چارو څارګرې اداري ودانۍ ته څېرمه وه. لکه څنګه چې له یوې څارګرې اداري سره ښایي، د کې جي بي اداره داسې ځای پرته وه چې د بېګانه خلکو ګڼه ګوڼه پکې نه وه، له وياړه ییز (دایروي) واټ څخه بره، په یوه ځنګله کې. د بهرنیو چارو د څارګرې اداري مرکزي دفتر اووه کاله وروسته دلته ولېږدول شو. د ودانیو دغه لړۍ په ځانګړې دفاعي سیستم سمبال شوې وه. یوه د وسپنې دړه چې د «د پلټنو علمي مرکز» ګونګ نوم پرې لیکل شوی و پر اصلي دروازه کې نښلول شوې وه. هر چا چې دغه نوم خوښ کړی و، خامخا یو ټوکمار سړی و، خو هېڅ بېګانه د دې زړه نه درلود چې په پښو یا په ګاډي کې دغه دروازې ته نږدې شي چې سترګې یې په دغه حیرانوونکې دړه ولګېږي ځکه چې هغه لاره بنده کړل شوې وه کومه چې له وياړه ییز واټ څخه د «ساینس پوهانو دغه ځالې» ته راګرځېدلې وه. په هغه وخت کې شوروي وګړو دسپلین درلود او د خبردارۍ دړو ته یې درناوی درلود. داسې ویل کېږي چې یوازې یو ځل له دغه خبرداري څخه سرغړونه شوې وه - یو ګوزن چې ودانیو ته څېرمه خوړو وښو ته راغلی و وتوانېد چې له دفاعي کرښې څخه تېر شي او د څارګرې اداري ودانیو ته څېرمه ځانته د شنو وښو مېلمستیا جوړه کړې مخکې له دې چې د همدغه ودانیو او باغچې ترمنځ په لاره کې ویده شي.

www.samsoor.com

د مسکو په لمن کې د پسرلي وروستۍ ورځې د کال کابو ترټولو ښې ورځې دي. د عکاسي او سپېدار ونو پاڼې تنکۍ وي او شنو وښو ځمکه پټه کړې وي. اسمان اوچت او تک شين وي. په دې لاره ګام اخيستنه د کريچکوف د سپورت په دوام وه او ده ته يې خوشبيني او سپک وربښلو، خو دغه سهار ځوک پوهېدل چې دغه ټيټکي سړي په دې لاره کې له تګ څخه يوه ذره هم خوند نه اخيست.
د کريچکوف له ونګې داسې نه ښکارېدل چې د يوې داسې ادارې لوړپوړی مامور دی چې د نړۍ په لويه برخه کې يې وېره خپره کړې ده. که واضح ووېل شي، پر ده باندې د يو محاسب، يو ساده بيروکرات او يا د ښوونځي د يو ښوونکي خيال کېدای شوی، نه د داسې ځارګرې ادارې مشر چې په نړۍ کې تر ټولو ځواکمنه وه. دی په جثه نری و، ګرد ګنجی سر يې درلود، پلنې عينکې يې په سترګو کولې او له ننګېرنې تش تاتارو ته ورته مخ يې و. ويل کېږي چې کريچکوف د موکشا Moksha د قبيلې يو مارډويني Mordvin و. د نومړي د عينکو د پلنو عدسيو شاته يوازې د ده سترګو دا ځرګندوله چې دی يو خارق العاده سړی دی. د ده ځيرليد ډېر خلک نارامه کول.
د معمول په څېر دغه سهار هم په هوډمنه بڼه له خپلې باغچې څخه ووت او په لاره يې نېغ مخامخ کتل. په متمرکز ځير يې هغه همکارانو ته د سترې مشې ځرښنده سر خوځاوه چې په لاره کې مخې ته ورتلل. په دغو استوګنځيو کې د بهرنيو چارو ځارګرې ادارې يوازې لوړپوړو جنرالانو ژوند کاوه. دوی د خپل مشر په عادت پوهېدل او ټولو مشرانو ځينې داسې اصول درلودل چې نه يې غوښتل ځوک سرغړونه ترې وکړي. د بېلګې په توګه، کار ته د تګ په لاره کې له کريچکوف سره يوځای کېدل او ورته د يوې اړونده موضوع يادول يوه لويه تېروتنه ګڼل کېدله. ډېرو لږو خلکو دې ته زړه ښه کاوه چې د سهاره کار ته د تګ په لاره کې د نومړي مزاحمت وکړي، خو کريچکف داسې برېښېده چې له هغه ځو لېوالو څخه نه خوابدی کېده چې دا کار يې کاوه. دوی وروسته په دغه اېجنسۍ کې ودې وکړې او په برياليۍ توګه يې ځانونو ته ښه کاري ژوند جوړ کړ.
د کريچکوف دا عادت ګرځېدلی و چې د سهاره د کار لوري ته د ګام وهلو په بهير کې خپل ورځنی کاري پلان جوړ کړي او په هغه موضوعګانو ترټولو لومړی کار وکړي چې ډېرې مهمې او بيړنۍ ترسره کونې يې اړينې وې. په دغه سهار يې د مسکو په لمن کې د پسرلي ښايست ته هېڅ پام نه و. په افغانستان کې پېښو د بهرنيو چارو ځارګر مشر ټول فکر ځانته اړولی و. پر هغه کودتا چې دوه ورځې مخکې پيل شوې وه اوس د انقلاب نوم اېښودل شوی و. هغه خلک چې اوس واک ته رسېدلي وو د کې جي بي په دوسيو کې اجنټان يا «باوري اړيکوال» نومول شوي وو. دوی د نيمه پټ د ا خ د ګ مشران وو او له هغې بوديجې يې پيسې ترلاسه کولې چې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند مرکزي کمېټې په ټوله نړۍ کې چپي ځواکونو ته ځانګړې کړې وه. د کريچکوف مامورينو به له دوی سره په پټه په خونديو کورونو کې ليدنې کولې. دغو مامورينو هڅې وکړې چې دوی وډوماري چې ننګېريزو (احساساتي) او بيړنيو کړنو ته لاس وانه چوي او

لېترلېره اوسمهال د قانوني اداري پر ضد له هرې کړنې څخه لاس واخلي، خو له بده مرغه انقلابیانو غوږ ونه نیوه، داود ووژل او رژیم یې نسکور شو. اوس د دې په اړه پتېینه اړینه وه چې د اوسنیو پېښو په هکله څرنګه چلند وشي.

پوښتنې ډېرې وې. د انقلابیانو اصلي موخې څه وې چې داسې په چټکۍ یې واک ترلاسه کړ؟ د دوی ملاتړي څوک وو؟ ایا دوی د کړنو څه پروګرام درلود؟ د دوی پروګرام څه و؟ په افغانستان کې د پېښو په هکله به د لوېدیځ غبرګون څرنګه وي؟ دوی به په دغو پېښو کې د مسکو پر ښکېلتیا اړنګ (شک) ولري؟ د یو قانوني ولسمشر، د ده د کورنۍ او وزیرانو د وژنې پر وړاندې مسکو باید څرنګه غبرګون وښیي په داسې حال کې چې ډېری یې د شوروي اتحاد ملګري وو؟ وروستۍ پوښتنې دا چې په کابل کې د کې جي بي څانګه باید په دغه نوي وضعیت کې څه وکړي؟ له داسې خلکو سره اړیکو ته باید څرنګه وده ورکړي چې تر پرون پورې د هغه کې جي بي مامورینو اجنټان وو چې په کابل کې د دیپلوماتانو په پلمه کار کوي او اوس دغه اجنټانو د هېواد تر ټولو لوړې څوکۍ نیولې دي؟

دا څرګنده وه چې کریچکوف د اندروپوف سلامشورې ته اړتیا درلوده. تر ټولو لومړی د دې پوهېدل اړین وو چې په افغانستان کې د ورستیو پېښو په اړه د مرکزي کمېټې ذهنیت څرنګه دی او په دې کې څنډ ته ځای نه و. ولادیمیر الکساندرویچ کریچکوف یو پوخ بیروکرات و چې هېڅ کله یې پرته له سوچ څخه د یو څه په اړه پرېکړه نه کوله. ده خپل ځان، چې د توجیه وړ و، د ګوند رینښتینی سرتېری ګاڼه . نوموړی ګوند ګمارلی و چې په ځارګره اداره کې چوپړ وکړي. د یاسینښوا په دغه پټه اداره کې ځینې پخوانیو خلکو د ده له نومیالتوب سره جوړه نه وه. دوی به په کریچکوف پسې ویل چې دی یو ښګانه، بیروکرات او داسې سړی دی چې ځان پوه ښیي خو دومره وړتیا نه لري. ده ته به د داسې خبرو راپوورنه راتلل، خو ده به ویل چې څوک باید د ځارګرې اداري مشري وکړي، جېمز باند؟ دا سپي پرېږدئ چې خپلې چارې ترسره کړي، اجنټان وګماري، پټې عملیات وکړي، محرم لاسوندي (اسناد) پټ کړي او نور زیانمنوونکي توکي راټول کړي. ده به خپل کار کاوه او دنده یې په مدرنه نړۍ کې د ځارګرو کړنو پر ضد ځارګر عملیات وو. نوموړي پر دې باور درلود چې د لوړې کچې سیاست ته ځارګره اداره تر ټولو ارزښتمنه وسیله ده او د دې مشري باید یو داسې سیاستوال وکړي چې په ګوند کې یې ډېر وخت تېر کړی وي، نه یو پوځي سړی.

د افغانستان په اوسني وضعیت کې حتی د مرکزي کمېټې غړي نه پوهېدل چې له داسې ناڅاپي «ډالۍ» سره څه وکړي.

د بهرنیو چارو په وزارت کې به دیپلوماتان خامخا له خوښۍ مست شوي وو، خو دا څرګنده وه چې ټولې ناولې دندې به د کریچکوف اداري ته وسپارل شي ځکه چې نه یوازې د نوموړي مامورینو په دغو پېښو کې

مهمه ونډه درلوده بلکې کریچکوف ننګېرل چې د هغه ښېښو اغېزې به ژر پای و نه مومي چې په افغانستان کې وشوې. دغو ښېښو په سیستماتیکه بڼه د بېلابېلو خلکو، ډلو، اېډیالوژیو، هېوادونو او سیاسي سیستمونو تر منځ د شخړو انګازې درلودې.

کریچکوف درې کاله مخکې د کې جي بي د لومړي ریاست مشر ګمارل شوی و. که یې لږ دقیق ووایو، دی درې کاله او څلور میاشتې مخکې د نوې سمبټې او ښېښه یې ودانۍ په دویم پوړ کې خپل لوی دفتر ته ننوت. له دې څخه مخکې یې لومړی د سخروفسکي Sakharovsky او بیا د مارتین Mortin د مرستیال په توګه دنده ترسره کوله؛ نو ایا دومره تجربه داسې سړي ته پوره نه وه چې د زده کړې ډېره وړتیا یې درلوده؟ سخروفسکي او مارتین داسې څارګر افسران وو چې ډېره تجربه یې درلوده، خو بیا هم دوی عادي استاکاران او داسې منظم عملیاتي پوځیان وو چې د اوږو پیټې یې په غټو ستوریو ښکلې شوې وې. کریچکوف څارګره اداره سیاسي کړه ځکه چې نوموړي خپلو لاس لاندو ته داسې دندې ورکولې چې سیاسي اړخ یې دروند و. د کې جي بي عمومي ریس اندروپوف د کریچکوف د هڅو په ارزښت پوه شوی و او په ډېرېدونکې منظمه توګه یې له دغه «ساینسپوه» څخه لیدنه کوله. اندروپوف حتی په یاسینېوا کې هم دفتر درلود. کله به چې یاسینېوا ته راغی، مشران به یې راټول کړل، له دوی څخه به یې وغوښتل چې د بهرنۍ پالیسۍ د ستونزو په هکله خبرې وکړي. ده به په ډېر پام ورته غوږ نیولی و. څارګر افسرانو د اندروپوف دغه کړنه خوښوله او په دې یې ویاړ کاوه چې اندروپوف دوی ته په ډېر ځیر غوږ نیسي. کریچکوف به په داسې ناستو کې یوازې ننداره کوله او دې ته به یې پام و چې لاس لاندې یې له اندروپوف سره د ده نېږدې اړیکو ته څومره ارزښت ورکوي.

کریچکوف له زلمیتوب څخه په دې باور و چې یو وړ زده کړیال دی. په داسې حال کې چې په ستالینګراد کې د ځوانانو سازمان د مشر دنده یې ترسره کوله، نوموړی د ډاګي• زده کړو په وسیله د سراتوف د حقوقو له پوهنځي څخه فارغ شو او ورپسې ولایتي قاضي القضات شو. په ۱۹۵۱ کال مسکو ته ولېږل شو چې د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزارت په دیپلوماتیکي پوهنتون کې زده کړې وکړي. دی یوازینی کس و چې د هنګري ژبې زده کړه یې کوله ځکه چې هېچا نه غوښتل چې د داسې سختې ژبې په زده کړه بوخت شي، خو کریچکف زړغیتوب و نه کړ، په شپه کې یې یوازې درې یا څلور ساعته خوب کاوه او خپل ځان او نورو ته یې دا جوته کړه چې د نورو په پرتله، دی د لا ډېرو کارونو جوګه دی. نوموړي په ۱۹۵٦ کال کله چې د هنګري د حکومت پر ضد کودتا وشوه په بوداپست کې د شوروي په سفارت کې دنده درلوده. دلته یې له اندروپوف سره د لومړي ځل لپاره وکتل. دغه ځوان په خپلو غیر معمولي کاري اخلاقو، بې سارې حافظې، په شننو کې وړتیا او په خپله مسلکي وفادارۍ د اندروپوف پام ځان ته واړاوه. کله چې اندروپوف

---

• لکه څنګه چې دغه پوهنتون له ستالینګراد څخه ډېر لیرې و، دی پوهنتون ته نه تله او پر ځای یې درسي توکي د ډاګي (پست) په وسیله په ستالینګراد کې ترلاسه کول (ژباړن)

په مرکزي کمېټه کې د سوسیالېستي هېوادونو د څانګې مشر شو، ده کریچکوف د خپل مرستیال په توګه راوغوښت. وروسته کله چې اندروپوف د مرکزي کمېټې منشي شو، دی یې د خپل همکار په توګه وګماره. په مرکزي کمېټه کې د ۱۹٦۷ کال د دسیسو په پایله کې اندروپوف د کې جي بي د مشر په توګه وګمارل شو. نوموړي په دې کې هېڅ اړنګ نه درلود چې خپل وفادار ملګری لوبیینکې Lubyanka ته بدل کړي. دلته کریچکف ته د کې جي بي مرکزي دفتر د منشي دنده ورکړل شوه. دغه څوکۍ وړه برېښېده، خو ډېره مهمه وه. د کریچکوف دفتر د کې جي بي د عمومي ریس دفتر ته مخامخ و او له لومړۍ ورځې څخه په دوامداره توګه د اندروپوف له څنګ سره حاضر و، ننداره یې کوله، غوږ یې نیوه او نوي شیان یې زده کول. نوموړي د ځان په هکله داسې اند درلود: «سمه ده چې ما په څارګره برخه کې ځانګړې روزنه نه ده کړې او د څارګرو چارو د شنډولو Counterintelligence پوهنتون مې نه دی لوستی او یا په دې مسلک کې مې کار نه دی کړی، خو ما په نورو داسې پوهنتونو کې زده کړې کړې دي چې دغه څوکۍ ته ډېرې اړیني دي، د بېلګې په توګه د ګوند د مشرتابه په ښوونځي کې زده کړې.

دی د سهار په اتو بجو په خپل دفتر کې ناست و، شننیز مالومات ورکړل شول او یو څو ټېلګرافونه یې لاسلیک کړل. بیا یې هغه لنډ ورځني مالومات ولوستل چې د ده دفتر د مرکزي کمېټې لپاره چمتو کړي وو. کله یې چې دغه معمولي ورځنۍ چارې خلاصې کړې، ده له خپل یاور څخه وغوښتل چې د منځني ختیځ په چارو کې د ده مرستیال، د همدغه څانګې مشر او د مالوماتو او شننو څانګې مشر ته زنګ ووهي چې د ده دفتر ته راشي. یاور یې په ډېر ادب وریاده کړه چې د بهرنیو څارګرو فعالیتونو د شنډونې څانګې مشر او په بهر کې د څارګرو یو مېشت مشر چې وروسته له یوې اوږدې دندې بېرته راغلی په مېلمه خونه کې ده ته تم دي. کریچکوف په ځواب کې ورته وویل: «اوس یې لیدو ته وخت نه لرم.» راغوښتل شوي کسان دومره ژر راغلل لکه د دروازې شاته چې دربدلي او د ده بلنې ته تم وو. کېدای شي همداسې هم وو.

کله چې رابللي کسان یو لوی بیضوي مېز ته کښېناستل، کریچکوف په وچه بڼه پوښتنه وکړه: «په افغانستان کې څه تېرېږي؟» د ده مامورین د خپل مشر په کاربڼې پوهېدل چې ده ته باید حاشیوي نه، بلکې د موضوع په اړه نېغ مالومات ورکړل شي. کله کله به کریچکوف پرته له روغبړ څخه د مالوماتو غوښتنه کوله. د نوموړي مرستیال مېدیانیخ Medyanik وویل: «ښه خبرونه نشته. کېدای شي پر اوسادچي د زړه حمله راغلې وي. نوموړی په ډېر بد وخت کې ناروغ شو. له یو مېشت څارګر مشر څخه پرته به د چارو سرته رسونه ستونزمنه وي.» کریچکوف وایي: «د زړه حمله؟ یوکوف پروکوفیویچ Yakov Prokofievich، په دې سوچ وکړه چې د ده په رغېدو کې څرنګه مرسته کولای شو. ایا باید مسکو ته یې

راوغواړو؟ او يا يې په کابل کې هم سمه درملنه کېدای شي؟» يوکوف ځواب ورکړ: «د ده په اند، ډېر ژر به بېرته روغتيا ومومي. دی يو تکړه سړی دی.» کريچکوف د خپلې تيزې حافظې په ښکارولو وويل: «هو، بې اړنگه. ته يې ښه پېژنې ځکه چې تا په اسرايل کی يوځای کار ورسره کړی.» له دې مخکې، ميډيانيخ په تل ابيب او ډهلي کې د کې جي بي مېشت څارگر مشر و. کريچکوف د خپلو خبرو په دوام وويل: «خو ستا خبره سمه ده. په کابل کی زموږ چارې بايد حتی د څو ورځو لپاره پرته له يو څارگر مېشت مشر څخه پرېښودل شي په تېره بيا په دغسې وضعيت کې. تاسې څه سپارښتنې لری؟»

ميډيانيخ خپلو همکارانو ته داسې وکتل لکه دوی ته چې د ده د خبرو د پخلي بلنه ورکوي او ويې ويل: «په دې هکله موږ سوچ کړی دی. د اېرشاف په مشری يوه ډله بايد سمدستي افغانستان ته ولېږل شي. ايون ايونوويچ په وضعيت ښه پوهېږي او انقلابيان هم ښه پېژني. اوس يې وخت دی چې د ده له بېسارې پوهې گټه واخيستل شي. د ده شتون به په کابل کې زموږ څارگرې ادارې او زموږ افغان ملگرو ته گټور وي.» کريچکوف وپوښتل: «دوی به څه وخت لاړ شي؟»

ميډيانيخ ورته وويل: «موږ هڅه کوو چې په دې اړوند اداري چارې ژرترژره بشپړې کړو. دا به درې ورځې وخت ونيسي.»

کريچکوف په پای کې وويل: «ډېر ښه، د دې چارو غم وخورئ.»

کله چې غونډه خلاصه شوه، کريچکوف له ميډيانيخ او د مالوماتو د شننې څانگې له مشر جنرال ليونوف Leonov څخه وغوښتل چې د ده په دفتر کې پاتې شي. دی پوهېده چې ډېر ژر به له اندروپوف سره وغږېږي؛ نو غوښتل يې چې مخکې له دې يو ځل بيا له خپلو همکارانو سره د وضعيت په اړه خبرې وکړي او د دوی په اند پوه شي. نوموړي خپلې خبرې داسې پيل کړې: «ښه، يوکوف پروکوفيويچ! افغانانو موږ ته غوږ ونه نيوه. موږ په واضح توگه ورته ويلي وو چې پر داود غرض و نه کړي او په بيړه کوم عمل ترسره نه کړي. تاسې وگورئ چې څومره بېگناه خلک مړه شول. ولسمشر، د ده ټوله کورنۍ، وزيران، گارد او وفادار جنرالان يې.» بيا يې وويل: «نيکولای سرگوويچ، په افغانستان کې د کودتا پر وړاندې د نړۍ غبرگون څنگه دی؟ د مسکو لاس پکې ښکېل بولي؟» سرگوويچ ورته وايي: «پرته له دې به نه وي، تراوسه يې غبرگون لږ سوکه دی ځکه چې دوی ډېر لږ مالومات لري، خو لوېديځ به ووايي چې دا د کې جي بي توطيه وه.»

ميډيانيخ په ارمانجنه ښه وويل: «افغانان ډېر لنډپاري (لنډ فکره) دي. دوی ډېر بې زغمه دي. چا دغه انقلاب وکړ؟ هغه افسرانو چې په شوروي کې زده کړې کړې دي. دوی زموږ د هېواد بېلابېلو سيمو ته يونونه وکړل، سيمې يې وليدې او ويې پتېيله: «ولې له افغانستان څخه د شوروي اتحاد د منځنۍ اسيا په څېر ځای جوړ نه کړو». هلته «د سيند په بله غاړه کې» فيوډاليزم، بې وزلي، او د ژوند په هره برخه کې بشپړ شاته پاتې والی شته. دلته موږ ښېرازه ښارونه او کلي لرو، برېښنا، ښوونځي، کلتوري فعاليتونه، درمل او بشپړ لوستوالي يا سواد لرو. دا ټول په ليرو پرتو هېوادونو کې نه دي، د سمندر په بله غاړه کې نه، بلکې

دلته نېږدې پولې ته په څېرمه سیمو کې، د امو او پنج سیندونو یوازې بلې غاړې ته په تېرېدو سره هر څه بدل دي. افغانان په دې خیال دي چې هر څه به د یوې شپې په ترڅ کې بدل کړي، په دومره لنډ وخت کې لکه هغه چې د امو له سیند څخه تېرېدنه یې نیسي.»

کریچکوف له ده سره همغږی وو. ده وویل: « انقلابیان زموږ پروپاګند ته اړتیا نه لري او دې ډومارنې (په استدلال هڅونې) ته هم اړتیا نه لري چې زموږ هېواد یې خوښ شي. دوی دغه کلکې عقیدې ته وده کړې چې پرته د شوروي له پرمختګ بنې څخه، د افغانستان د ودې او پرمختګ لپاره بله بنه نشته. داسې برېښي چې دوی هرې پوښتنې ته ځواب لري. که څنګه؟» مېډیانیخ د هو سر وخوځاوه او ویې ویل: «هو، خو دا د دې مانا نه لري چې د دوی هر ځواب سم دی. راځئ چې صبر وکړو، په راتلونکې یوې یا دوو ورځو کې به د دوی مشران، په تېره بیا تره کی وینا وکړي. دی باید د خپلو کړنو لپاره د کوم اېډیالوژیکي بنسټ یادونه وکړي او لږترلږه په عمومي بڼه یوه کړنلاره څرګنده کړي.»

ورپسې لیونوف وویل: «خدای مکړه چې دوی سملاسي د سوسیالېزم د پلې کولو د پلان اعلان و نه کړي. موږ باید یو جعلي سوسیالېست pseudo socialist هېواد د ګاونډي په توګه ونه لرو. موږ همدا اوس نیمې نړۍ ته ډوډۍ ورکوو.»

جنرال لیونوف د هغه پټ راپور له لیکوالانو څخه و چې درې کاله مخکې د شوروي کمونست ګوند مرکزي کمېټې ته وړاندې شوی و. په دغه راپور کې د شوروي اتحاد د خارګرو ادارو مشرانو وړاندیز کړی و چې شوروي اتحاد دې په نړۍ کې د خپلې علاقې سیمې محدودې کړي. دغه مشرانو چې ټولو اړوندو وټه ییزو، سیاسي او پوځي مالوماتو ته لاس رسی درلود ښه پوهېدل چې پرمختګ کوونکو هېوادونو ته له سخاوت څخه ډکو د وروروله مرستو پر شوروي اتحاد یو دروند پېټی اچولی دی. د مرکزي کمېټې هوښیارانو دغسې پاخکي (مفت خور) هېوادونو ته یو نوم وموند: «د نه پانګوالۍ پرمختګ بڼې هېوادونه» په ۱۹۷۵ کال د شوروي خارګرې ټولنې د شوروي امپراتورۍ د کړکېچ لومړنۍ نښې ونګېرلې. شوروي اتحاد نور د دې توان نه درلود چې په داسې لوی شمېر «ملګرو» ته روزنه، وسلې او ډوډۍ ورکړي. دغه راپور ته د «پېړۍ ناول» لقب ورکړل شو، خو په مرکزي کمېټه کې خښ شو څکه چې هلته په عقیده کې د هغو پخو کمونست مشرانو اغېز ډېر و چې هېڅ راز بدلون یې نه غوښت.

لیونوف یو له هغو جنرالانو څخه و چې ځانته یې د ازاد فکر اجازه ورکوله. که څه هم د ده مشر محافظه کار و، خو په خپله کړۍ کې یې له «لېبرلانو» سره په کله کله خبرو اترو خوا نه بدوله. مېډیانیخ وویل: «ولادیمیر الکساندرویچ، ته پوهېږې، زما یوه کیسه په یاد شوه چې یو همکار مې راته کړې. دا یوه د پام وړ کیسه ده او هغه چا چې راته ویلې، ساده سړی نه دی. نوموړي په کابل کې ډېر وخت تېر کړی او تره کی

يې اړيکوال و. د ا خ د گ د ۱۹۶۴ کال له بنسټ اېښودونکې کنگرې مخکې تره کي زموږ دغه سړي ته وويل: «موږ د گوند د مشرتابه او سياسي ارگانونو د جوړولو په بهير کې يوو او موږ به د دې توان ولرو چې واک ترلاسه کړو.» زموږ اجنټ دغسې خبرې مخکې هم اورېدلې وې، خو له تره کي څخه د داسې خبرو په اورېدو ځاځمن (په غوسه) شو: «ښه، کله چې واک دې ترلاسه کړ، بيا به دې شوروي اتحاد ته د دروېزې لاس نيولی وي. سربېره پر دې، له موږ نه به د خپل انقلاب د دفاع لپاره د پوځيانو غوښتنه هم وکړې.» هغه څه چې دلته د پام وړ دي دا وو چې تره کي وويل: «نو څه؟ که اړتيا يې پېښه شي، ولې نه؟ موږ به له شوروي اتحاد څخه د مرستې غوښتنه وکړو او شوروي اتحاد چې خپلې نړيوالې وجيبې ته وفادار دی، نه به ونه وايي. که يې اړتيا وه، تاسې به پوځيان رالېږئ.»
کريچکوف پرته له دې چې څه ووايي، خپل مرستيال ته غوږ و او ميډيانيخ خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «وروسته، تره کي ته بلنه ورکړل شوه چې مسکو ته راشي. دا يوه رسمي ليدنه نه وه. د کلتوري خبرو اترو په پلمه ده ته د ليکوالانو د ټولنې په نوم بلنه ورکړل شوه؛ نو اديب تره کی مسکو ته راغی چې د مسکو له اديبانو سره ليدنې کتنې وکړي. په حقيقت کې، دا د پېژندگلوۍ ليدنې کتنې وې او د شوروي د کمونست گوند مرکزي کمېټې ورسره وکتل. د مرکزي کمېټې د بهرنيو چارو مرستيال اوليانوفسکي Ulyanovsky له نوموړي سره خبرې وکړې او په ټينگار يې ورته وويل چې انقلاب ته بيړه و نه کړي. کله چې بېرته کابل ته لاړ، ظاهر شاه نوموړي ته د يوې پيالې چای لپاره بلنه ورکړه. دوی د يو او بل څنگ ته ناست وو او د افغانستان د راتلونکې او د پرمختگ د بېلابېلو لارو په هکله يې خبرې کولې. پاچا له تره کي وپوښتل: «ښاغلی تره کی، زه خبر شوم چې ته په دې ورستيو کې مسکو ته تللی وې او د خپلو لاسته راوړنو په وياړ په ادبياتو کې د لېنن جايزه درکړل شوه. زه ډېر خوښ يم چې يو افغان ته داسې اعزاز ورکړل شو.» تره کی سربداله شو ځکه چې ده ته يوازې يوه د وړيو خولۍ په مسکو کې ورکړل شوې وه. دا د مرکزي کمېټې يوه دوديزه ډالۍ وه. تره کي وويل: «نه، دلته تېروتنه شوې. زه مسکو ته تللی وم او له بېلابېلو کلتوري خلکو سره مې ليدنې وکړې او بس.» ورپسې ظاهر شاه چې نبغ يې د ده سترگو ته کتل وويل: «پوهېږې ښاغلی تره کی، زه پخپله له شوروي اتحاد سره د نېږدې اړيکو کلک ملاتړی يم. زه په دې باور يم چې په راتلونکې کې به افغانستان د سوسيالېزم لاره خپله کړي. زه تر يوې کچې په دې اند يم، خو اوسمهال زموږ هېواد داسې څه ته چمتو نه دی؛ نو بايد داسې نظريې پر موږ ونه تپل شي او کنه موږ به له گډوډۍ، ورانۍ او جگړې سره مخ شو.»
په دفتر کې يوه اوږده وقفه راغله. کريچکوف په دوام داره توگه له انگېرنو تش پر خپل ځای ناست و او د دغه خبرو په اړه يې هېڅ غبرگون ونه ښود. له يوې خوا نوموړی د مرکزي کمېټې په هغو هڅو پوهېده چې په افغان ملگرو کې ناڅاپي رامنځته شوې تودې انقلابي هيلې او لېولتياوې سړې کړي او له بلې خوا دا هم ورته څرگنده وه چې کچېرې د ا خ د گ اعلان وکړي چې سملاسي به يو سوسيالېستي هېواد جوړوي،

د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د غبرګون اټکل نه شوای کېدای. بې له دې، پونومروف او سوسلوف به يې منظور کړي؛ نو ښه به دا وي چې اوسمهال کريچکوف پټه خوله پاتې شي او دغه جنرالان پرېږدي چې له خپلې هوښیارۍ او تږکمارۍ څخه خوند واخلي. نوموړي ته اوسمهال دا ښايېدل چې څه ونه وايي.

ميډيانيخ د خبرو موضوع بدله کړه او ويې ويل: «ايا تاسې فکر کوئ چې خلق او پرچم په ريښتيا پخلا شوي دي؟» ايا پخلاينه يې اوږدمهاله ده؟ کله چې د حکومتي څوکيو وېش پيل شي، دواړه ډلې به بيا شخړې جوړې کړي او کېدای شي حتی د يو او بل وژل پيل کړي.» ليونوف اسوېلی وايست او ويې ويل: «څومره بد، دا يوه بدمرغي ده چې موږ سياسي ببرو قانع نه شوای کړی چې څارګرې اداري بايد د افغان ډلو په سياست کې غرض ونه لري، کرار يې کړي او ګړنګ يې پاک کړي.» کريچکوف په ترټوونکې بڼه ليونوف ته وکتل او سر يې وخوځاوه. ايا دی د ګوند پر مشرتابه نيوکه کوي؟ د دوی په کړی کې نيوکو ته تر يوې کچې اجازه وه، خو سړي بايد پام کړی وی چې له بريده ونه وځي که څه هم ليونوف تر يوې کچې سمه خبره وکړه. د څارګرو ادارو يې پرخلق او پرچم څه؟ حتی د سياسي مالوماتو د سرچينو په توګه د دوی ارزښت له اړنګ څخه ډک و. په افغانستان کې هېڅ کله د مالوماتو په لاسته راوړلو کې ستونزه نه وه. لوړپوړو افغان بيروکراتانو، د امنيتي چارو مشرانو او پوځيانو تل په خپله خوښه د شوروي له څارګرو ادارو سره همکاري کوله. موږ حتی د پاچا او ورپسې د داود په نږدې کړی کې څري لرل. په مرکزي کمېټه کې دغه بوډا سړي، پونومروف، اوليانوفسکي او بروټېنز Brutenz، تراوسه پورې د هغه نړيوالې کمونستې کړنلارې پر بنسټ فکر کاوه چې ډېر پخوا له منځه تللې وه. دوی يوازې په څارګرو ادارو باور درلود چې «ملګرو» ته بوديجې ورسوي. شوروي څارګرو د ا خ د ګ د کارکوونکو حتی شخصي چارې سمبالولې. له يو پټ مخالف ګوند سره زموږ د څارګرو اړيکې ډېرې خطرناکې وې ځکه چې د يو حکومت پر ضد کړنو کې د ښکېلتيا تورونه د سختې جزا لامل کېدای شوی.

د کريچکوف سر ته يو رغنده اند ورغی: «هو ريښتيا، پروکوفيويچ. ته څه فکر کوې چې اوس مرکزي کمېټې ته د بلنې ښه فرصت نه دی چې په دغه پروژه کې برخه واخلي؟ زه دې ته حاضر يم چې له مرکزي کمېټې سره اړيکې ونيسم چې د کمونست ګوند يوه کارپوه سلاکاره ډله افغانستان ته ولېږي. څه فکر کوې چې زموږ د افغان ملګرو غبرګون به څرنګه وي؟» ميډيانيخ په لېوالتيا وويل: «دوی به د دغه نظريې ملاتړ وکړي.» ليونوف په همغږۍ وويل: «دوی به په دې کار زموږ منندوی وي.»

کريچکوف له خپلې څوکۍ اوچت شو. خبرې اترې پای ته ورسېدې او اوس د دې وخت و چې دی اندروپوف ته زنګ ووهي.

www.samsoor.com

مسکو په کابل کې د کې جي بي د ادارې هغه وړانديز سمدستي عملي کړ چې له ا خ د گ سره اړيکې لوړپوړې کچې ته اوچتې شي. پوزانوف له مسکو څخه دغه دستور ترلاسه کړ: «ته بايد د ا خ د گ له مشر نورمحمد تره کي سره يوه غيررسمي ليدنه وکړې. دا ډېره شونې ده چې نوموړی په نېږدې راتلونکې کې د افغانستان د ولسمشر په توگه اعلان شي. د خبرو اترو په ترخ کې هڅه وکړه چې په کورنيو او بهرنيو چارو او همدا راز د وتې ييزو اصلاحاتو په هکله د نوي افغان رژيم لپاره د نوموړي په اوسني پلان ځان پوه کړې. د داسې مالوماتو ترلاسه کولو ته هم ځوب (تمايل) شته چې چاته به په حکومت کې لوړې څوکۍ ورکړل شي. تره کي ته بايد خبرداری ورکړل شي چې په بې بنسټه توگه د داود د رژيم له استازو څخه د غچ اخيستنې لړۍ پيل نه کړي او بايد د داسې کارپوهانو د گمارنې اړتيا ورته څرگنده شي چې له اوسني رژيم سره دوښمني نه کوي. له تره کي سره د نېږدې شخصي اړيکو جوړول به يوه ارزښتمنه پانگه وي.»
په کابل کې د شوروي سفير، اورلوف مروزوف خپل دفتر ته راوغوښت او دغه تېلگراف يې ور وښود. له لوستلو وروسته مروزوف ورته وويل: «کومه ستونزه نه شته، الکساندر ميخيالويچ. څه وخت غواړې چې له تره کي سره ليدنه وکړې؟» سبا ته؟ څو بجې؟ زه فکر کوم چې دا به ښه وي چې داسې ليدنه په ماښام کې وشي. زه به الکسي پېتروف ته ووايم چې تره کي ته د ماښام په اووه نيمو بجو بلنه ورکړي. ژباړه به څوک کوي؟ الکسي؟» سفير ورته وويل: «زه به روريکوف Rurikov له ځان سره بوځم چې د خبرو په ترخ کې يادښتونه وليکي. الکسي پربږده چې د لوجستيک چارې سمبال کړي. که يې اړتيا وه زه به خپل اشپز او د مېلمستياو سمبالوونکي ورولېږم.» مروزوف ورته وويل: «زه فکر کوم چې پرته له دوی هم الکسي د دغه کار جوگه دی، ښه به دا وي چې ډېر لږ خلک د دغه ليدنې په هکله خبر شي.» سفير د مروزوف وړانديز ومانه او ويې ويل: «هو، الکسي ولاديميرويچ به په غونډه کې حاضر وي. زه له تاسې څخه څه نه پټوم. څوک پوهېږي چې زموږ خبرې به څرنگه ښه ولري. پېتروف د تره کي شخصي ملگری دی.» ورپسې مروزوف وپوښتل: «اوس د پروتوکول اړوند يوه خبره. څوک بايد د تاس دفتر ته لومړی لاړ شي؟ ته که تره کی؟» سفير ځواب ورکړ: «لکه څنگه چې دا غيررسمي ليدنه ده، پروا نه کوي چې څوک لومړی وي. څه چې ستا خوښه وي، هغسې وکړه.»
سبا ته په کابل کې د شوروي اتحاد سفير، الکساندر پوزانوف او د سفارت دويم منشي دميتري روريکوف د تاس دفتر ته لاړل چېرته چې نورمحمد تره کی او د کې جي بي مامور چې په کابل کې يې د تاس خبري ايجنسۍ د مشر په پلمه کار کاوه دوی ته تم ناست وو.

الکساندر میخیالویچ مخکې هم تره کی د سفارت په هغو مېلمستیاو کې لیدلی و چې کله کله به پکې افغان سیاستوالو ته د « روڼ اندو او منورینو» په توګه د ګډون بلنه ورکول کېده، خو هېڅ کله یې خبرې نه وې ورسره کړې. کله چې سفیر کوټې ته ننوت، تره کی اوچت شو او خپل غبرګ لاسونه یې پورته کړل چې له ده سره روغبړ وکړي. سفیر هم په خپل وار له تره کي سره تود روغبړ وکړ. له دودیزه افغاني روغبړیزو پوښتنو ګروېږنو وروسته، د غونډې ټول برخوال د یو مېز چاپېر کېښناستل. تره کي یوه داسې ځلانده او بریمنه بڼه خپله کړې وه لکه چې وايي: «و مو لیدل، موږ د انقلاب په ترسره کولو کې بریالي شوو.» ده غوښتل چې سفیر پر خپل عقل او بریا اغېزمن کړي. الکساندر میخیالویچ یوې لنډې سرسلامتۍ ته بلنه ورکړه: «د افغان-شوروي د ملګرتیا په ویاړ!» دیمتري روریکوف په خپل زړه کې سفیر وستایلو: «ډېر اعلی، پوخ سیاستوال داسې وي. د نبيې منځ د وویشت.» ورپسې خبرې پیل شوې. تره کي وویل دغه کودتا چې خلقي افسرانو «په شپه* کې نه بلکې د ورځې» ترسره کړه داود او د ده اکاړې (مستبدې) واکمنۍ وپاروله. که خیبر نه وای وژل شوی، که د ګوند مشران نه وای نیول شوي، ډېره شونې وه چې دغه کودتا ترسره شوې نه وی، خو تره کي په دغو پېښو کې د هیګېلیني• Hegelian منطق عیني او عندي ښکارندوینه په عملي توګه ننګېرله.

په داسې حال کې چې د تره کي خبرې یې ژباړلې، روریکوف په اړنګمنه (شکمنه) بڼه له ځان سره فکر وکړ: «سمه ده، راځه چې هیګېلیني منطق ته یې واړوو.» وروسته دوی په ځانګړو موضوعګانو خبرې پیل کړې. تره کي د خپلې زړې کرتۍ له جیب څخه د افغانستان د راتلونکې مشرتابه د جوړښت یوه خاکه راوایسته. په کوم ناڅرګند دلیل یې دغه کاغذ د سفیر یا روریکوف پر ځای پېتروف ته ورکړ. پېتروف سمدلاسه د تره کي تېروتنه جبران کړه او کاغذ یې سفیر ته ورکړل. سفیر له روریکوف څخه غوښتنه وکړه چې په اوچت غږ یې ولولي. نوموړي په خاکه کې د نوملړ لوستل پیل کړل او په عین وخت کې یې له پېتروف سره د نومونو په هکله خبرې کولې. وروسته له دې چې د خاکې په نوملړ خبرې اترې وشوې، سفیر د خپل اند لنډیز داسې څرګند کړ: «دا به ښه وي چې د هېواد مشرتابه له ټولو اصلاح غوښتونکو او هېوادپالو ځواکونو جوړ شي.» تره کي د همغږۍ سر وخوځاوه، خو په دې اړه یې نورې خبرې و نه کړې. د غونډې په ترڅ کې د افغانستان د راتلونکې پرمختګ په هکله هم خبرې وشوې. تره کي وویل چې سر له

---

* داسې بربنبي چې تره کي، لوی الکساندر په خپل پام کې درلود. له ګاګامیلي Gavgameli جګړې څخه مخکې، الکساندر ته یې خپل پوځي سلاکار پامینین Parmenion وړاندیز وکړ چې د شپې په ترڅ کې برید وکړي. الکساندر په ځواب کې ورته وویل: «الکساندر د غلو په څېر خپله بریا په شپه کې نه غلا کوي. وروسته په افغانستان کې د ورځې په بهیر کې بریا ته ډېر پام کېده.

•هیګل Hegel یو جرمن فیلسوف و. د نوموړي فلسفې دې ته نغوته کوله چې پخپله منطق په رېښتیا شته، په دې مانا چې واقعیتونه د منطق په کټګوریو کې بیانبدلی شي. هیګېلیني Hegelian: هر هغه څه چې د هیګل له فلسفې سره تړاو لري. (ژباړن)

www.samsoor.com

اوسه به افغانستان د سوسيالېزم او کمونېزم پر لاره روانېږي او په دې کې به د افغان ولس هيلې نغښتې وي. پوزانوف په دې نيت چې د خپل مرکچي تودې انقلابي لېوالتياوې لږ سړې کړي وويل چې که د افغان ټولنې عجايبو ته پام وکړو، دغه کار ډېر اوږده تاريخي پړاو ته اړتيا لري. دلته داسې وبرېښېدل چې تره کي د سپکاوي ننګېرنه وکړه، نوموړي وويل: «نه، ښايي د شوروي په پرتله موږ لومړی کمونېزم ته ورسېږو. د ملي دودونو له کبله افغان ولس همدا اوس کمونېزم ته ګروهنه (تمايل) لري. موږ يوازې دې ته اړتيا لرو چې افغان دود له مارکسېستي- لېنني فلسفي سره ګډ کړو.» پوزانوف پوه شو چې له افغان دود سره د مارکسېستي- لېنني فلسفي د ګډولو په اړه خبرې اترې رغوونکې نه دي؛ نو د مرکزي کمېټې سياسي بېرو دستور ته په پام سره، نوموړي د مخکني رژيم د استازو پر ضد د ممکنه کساتي (انتقامي) کړنو په اړه انديښنه څرګنده کړه. تره کي وويل: «له چا څخه غچ اخيستل؟ د مخکني رژيم کوم استازي؟ کولای شي په ځانګړې توګه يې نومونه واخلې؟ څوک بايد محاکمه نه شي؟ موږ ته يې ځانګړي نومونه واخله او موږ به ستا اند په پام کې ونيسو.» سفير تمه نه درلوده چې خبرې اترې به دې کچې ته رسېږي؛ نو د تره کي د روغتيا او د نوي رژيم د بريا په هيله يې د سرسلامتۍ د پيالو اوچتولو وړانديز وکړ. ورپسې دوی په ډېره توده بڼه مخه ښه وکړه او لاړل.

د ۱۹۷۸ کال د مې په لومړۍ نېټه د شپې په يوولسو بجو د څارګريزو فعاليتونو د شنډولو ادارې مامور، ډګروال ايون ابرشاف په يو دولتي ګاډي کې د شېريمېټېو Sheremetevo هوايي ډګر ته راوستل شو. ده د يوې ډلې مشري کوله چې افغانستان ته روانه وه. ډګروال د دغې ډلې غړي يوازې څو ساعته مخکې ليدلي وو، لومړی د هرکلي په دالان کې او بيا د کې جي بي د عمومي ريس په دفتر کې. دغه ډله له داسې خلکو جوړه وه: د کې جي بي د دويم رياست (څارګريزو فعاليتونو د شنډولو ادارې) يو مامور، د کې جي بي د نهم رياست (د سياسي بېرو د امنيت) يو مامور، د کې جي بي د اووم رياست ( بهرنی څار) يو مامور او د کې جي بي د څلورم رياست (تخنيکي ملاتړ) يو مامور. کله چې اندروپوف دوی ته د دندې جزيات څرګند کړل او بيا يې پوښتنه وکړه چې که څوک کومه پوښتنه لري، ټول چوپ پاتې وو او هېچا اړنګ څرګند نه کړ او نه يې د وضاحت غوښتنه وکړه، خو اوس په الوتکه کې ځينو يو لږ پوښتنې راپورته کړې.

د ايون ايونوويچ يو همکار، يو لوړ ډګرمن چې تور ګاڼګوټي (چنګ چنګ) وېښته يې لرل د يوه نومور کارتوني فلم يوه سندره وبنګوله. نوموړي د نهم رياست خپل يو پيکه نېشه همکار چې د ابرشاف له څنګ

سره ناست و، له خپل ځای څخه لیرې کړ چې د تګ لارې په بله غاړه کې په څوکۍ کې کښېني. ورپسې دی د اېرشاف څنګ ته کښېناست او پوښتنه یې ترې وکړه: «ایون ایونوویچ، لکه څنګه چې تاسې ویده نه یاست، کولای شم ستاسې لړ وخت ونیسم؟ کولای شې راتهووایې چې په کابل کې به زما ماموریت څه وي؟ له کوم ځای څخه یې پیل کړم؟ څه شي ته باید په ځانګړې توګه پام وکړم؟ زه لړ تېرا یم ځکه زه هیله من یم چې د هغه باور وړتیا ولرم چې پر ما باندې شوی.» اېرشاف د دغه خبرو په اورېدلو خوښ شو. له پیل څخه دغه مامور ښه، د باور وړ او د ماموریت د بریا په اړه اندېښمن ښکارېده. ایون ایونوویچ له ځان سره فکر وکړ: «دغه مامور خوب نه کوي، ډوډۍ نه خوري او په دې موخه څک دی چې هر څه سم مخته لاړ شي.» بیا یې ورته وویل: «ډېر زیات کار مو په مخ کې دی. موږ باید له بنسټ څخه د څار یوه اغېزمنه او مدرنه اداره جوړه کړو. نوی افغان رژیم به له ډېرو دوښمنانو سره په جګړه کې ښکېل شي، د سي ای اې او د ناټو د غړو هېوادونو له څارګرو ادارو او له ایراني ساواک SAVAK څارګرې ادارې سره. اسلامي بنسټپال چې په پاکستان او د افغانستان په ولایتونو کې مرکزونه لري، بې اړنګه د نوي رژیم پر ضد جګړه پیلوي. هغه افغانان به هم د رژیم پر ضد ودرېږي چې د نوي رژیم د اصلاحاتو پلي کول د دوی پوړیزه موقفونه په ټولنه کې اغېزمن کوي. ستا به په یاد وي چې لېنن ویل: «هغه انقلاب چې له ځان څخه دفاع نه شي کولای، بد انقلاب دی.» تر اوسه پورې افغانستان د دولت په اډانه کې څارګرې او د څارګریزو فعالیتونو د شنډولو ادارې نه لري. افغان څارګره اداره چې استخبارات یې نوم دی له کچې وتلې بې اغېزې ده او د هېواد مشران ورباندې باور نه لري.

د نخبه ګانو په پوړ کې، په پوځ او دولتي ادارو کې افغانان په شخصي توګه یو او بل پېژني. که څوک سرغړونه وکړي، مشرتابه یې په اړه پرېکړه کوي، خو د لیکلي قانون پر ځای د داسې پرېکړو بنسټ په شخصي پوهاویو جوړېږي. که افغانان د یوې بهرنۍ څارګرې ادارې په چوپړ کې وي، دوی ته یوازې هغه وخت د خاین په سترګه کتل کېږي چې پټ فعالیتونه یې د حکومت او یا د واکمنې کورنۍ یا ډلې د غړي پر ضد وي. افغانستان نه د څارګرو فعالیتونو سیستماتیک ارشیف لري، نه هم د ګمارنې کومه ځانګړې لیله (مېتود) او نه هم د چا د پټو همکاریو لپاره د ارزونې معیارونه . کومې پلټنې چې کېږي، د بهیر او پایلو په اړه یې کوم لیکلی بیان نه وي.

ته پخپله باید د څارګریزو فعالیتونو د شنډولو یوه ځواکمنه اداره د قانون په رڼا کې جوړه کړې، د څارګریزو فعالیتونو د شنډولو لپاره خپلو افغان همکارانو ته موخې وټاکې، ژرترژره یو تشکیلاتي پلان او بودیجه جوړه کړې او د داسې افغان کدرونو په غوراوي کې برخه واخلې چې اغېزمن او انقلاب ته وفادار وي. کېدای شي له دوی څخه ځینې یې د پولیسو او استخباراتو پخواني افسران هم وي»

www.samsoor.com

دغه ډګرمن د دندې کچې اغېزمن کړ. نوموړي وويل: «ما له خپل مشر څخه وپوښتل چې د سلاکارانو لپاره په بهر کې د فعاليتونو په هکله کومه کړنلاره شته چې په کابل کې ما ته لارښوونه وکړي؟ ما ته يې وويل چې ته به مې ورسره اشنا کړې.»
اېرشاف نه پوهېده چې څه ووايي: «سمه ده، خو دلته په الوتکه کې نه. په کابل کې زموږ د کې جي بي څانګه په بهر کې د څارګرو د کړو وړو په اړه لارښود لري. سبا ته مو که وخت درلود، تا ته به يې د لوستلو فرصت درکړل شي.» ايون ايونوويچ يو ژور ارګمی وايست څو ډګرمن ته وښيي چې اوس دی غواړي چې يوازې پرېښودل شي، خو ده ته خوب نه ورتلو. دی پوهېده چې په الوتکه کې به خوب ورنشي. نوموړی چې هر ځل کابل ته تللو، له خوښۍ او لېوالتيا به ډک و ځکه چې له کابل سره يې ژوره مينه پيدا کړې وه.
اېرشاف د شوروي په کلوګه Kaluga سيمه کې زېږېدلی او په يوه بې وزله بزګره کورنۍ کې ستر شوی و. دی په ونه ټيټ و او دې ډېر انديښمن کړی و. له همدې وجې يې تل اوچتې موزې په پښو کولې او لوی شيان يې خوښېدل. ده به چې کله کله دولتي ګاډی چلاوه، داسې به ښکارېدل چې په ګاډي کې چلوونکی نه شته او ګاډی پخپله روان دی. له مخامخ لوري د را روانو ګاډو چلوونکي به په وېره کې شول او ډېری وخت به يې خپل ګاډي ګوښې ته کړل. د ده غږ ډېر نری و، له ښځو او په ځانګړې توګه له خپلې ښځې مايه الکسيويه Maya Alexeyevna وېرېده. ايون ايونوويچ د دويمې نړيوالې جګړې پخوانی افسر و. لومړی، کله چې په کرنسټاډ Kronstadt کې په سمندري ځواک کې زده کړيال و، نوموړي د لېننګراد په بامونو کې د نازيانو اورجن بمونه مړه کول. وروسته، نښه ويشتونکی شو او کله چې جګړه په ختمېدو وه، د ځوانانو د سازمان د يو پوځي غونډ مشر و. کله چې د ده غونډ بلغاريا ازاده کړه او صوفيې ته يې په بريمنه ښه د ننوتلو تابيا نيوله، ايون ايونوويچ وپتېيله چې ښار ته پر اس سپور ننوځي. ده ته يې يو ښه اس وموند، خو د اس زين چې چا ورته خوښ کړی و د نوموړي کوناټې داسې تېاکې کړل چې دا ورته ډېره رېړونووکې وه چې خپل پلان عملي کړي؛ نو پر اس باندې صوفيې ته د ننوتلو پر ځای، نوموړی صوفيې ته په امبولانس کې ننوت. له همدغه وخت راهيسې دی ډېر شکاکي شو او په هر څه کې يې د توطيې ګومان کاوه. له جګړې وروسته يې د مسکو د ژباړې په پوځي انستېټيوت کې فرانسوي ژبه زده کړه. لکه څنګه چې له سياسي اړخه پر ده باندې باور کېده او اکاډميکو زده کړو ته يې ګروهنه درلوده، ده ته وړانديز وشو چې د کې جي بي د څارګرو فعاليتونو د شنډولو په اداره کې کار وکړي. نوموړي دغه وړانديز ومانه، خو کله يې چا کار پيل کړ، پر دې هک پک شو چې مشران يې غواړي چې دی په فرانسه کې نه بلکې په افغانستان کې کار کولو ته چمتو کړي. هغه وخت اېرشاف نه پوهېده چې د هغو خلکو په پرتله چې په ختيځ کې يې د دندې خوبونه ليدل ډېر خلک په پاريس کې دندې ته څوبمن (هيله من) وو. دی له هغو نېکبختو څخه نه و چې پاريس ته يې پچه وختله. يوازې د افغانستان پلازمېنې ته د تګ په بهير کې دی

اړ و چې دري ځله الوتکه بدله کړي. کله چې بلاخره افغانستان ته ورسېد، ده ته د قونسلګرۍ په څانګه کې ځای ورکړل شو چې د همدغې څانګې د مامور په نوم خپله اصلي دنده ترسره کړي. ده پخپله د پارسي ژبې زده کړه پيل کړه. په دغه ژبه يې خبرې کول زده کړل او ساده متنونه يې هم لوستلای شوی. په هغه وخت کې د شوروي سفير د ډېګتيير Degtiar په نوم يو په زړه پورې او وتلی ډيپلومات و. د ده باکفايته او
خاکسره افسران خوښېدل.
په ۱۹۵۳ کال کله چې بېريا Beria ونيول شوه، له مسکو څخه په کابل کې د شوروي مېشت څارګرې څانګې ته تېلګراف راغی چې داسې پکې ليکل شوي وو.: «ستاسې د اجنټانو شبکه په خاينانو او دوه ګونو اجنټانو ککړه شوې. ته او د څارګرې څانګې ټول مامورين بايد ژرترژره مسکو ته راشي.» په ټوله نړۍ کې د شوروي هغه څارګرو چې دغه تېلګراف ترلاسه کړی و لوبيينکې ته لاړل، خو هلته دوی ته کوم وضاحت او يا کوم دستور ورنه کړل شو او نه چا ورسره وکتل. دوی خپلې ورځې په خوشې ګرځېدو، څښکلو او سګرېټ څکولو تېرولې او هڅه يې کوله چې په دې ځان پوه کړي چې سبا ته به څه پېښېږي.
کله چې ايون ايونوويچ له مسکو څخه دغه حکم ترلاسه کړ، په خپله غرېزې يې دا وپتېيله چې له کابل څخه لاړ نه شي. نوموړی په داسې حال کې چې د مخ ونګه يې له خپګان څخه ډکه وه، له يوې دوسيې سره چې له لاسوندو ډکه وه سفير ته لاړ او ده ته يې وويل چې د قونسلګرۍ څانګې کارونه به په ټپه ودرېږي کچېرې دی لاړ شي. سفير چې له لوړپوړو چارواکو سره نېږدې اړيکې لرلې، سمدلاسه يې مسکو ته يو تېلګراف ولېږه چې داسې پکې ليکل شوي وو: «په کابل کې هر څارګر کولای شي لاړ شي، خو زه نه شم کولای چې د قونسلګرۍ څانګې يو داسې ارزښتمن او وړ کس لکه اېرشاف ته د تګ اجازه ورکړم.»
د ايون ايونوويچ همکاران له کابل څخه لاړل، خو يو يې هم بېرته را ونه ګرځېد. ځينې يې له دندو څخه وشړل شول او ځينې نور يې وروسته نورو هېوادونو ته ولېږل شول. د يو څه وخت لپاره په کابل کې د شوروي د څارګرو فعاليتونو د شنډولو له اداري څخه اېرشاف يوازينی مامور و. يوه موده وروسته، نور څارګر کابل ته ولېږل شول او د نوموړي ترلاس لاندې يې دندې ترسره کولې.
په کابل کې له لومړنۍ دندې وروسته، د اېرشاف کاري ژوند وده وکړه او په تهران کې د کې جي بي څانګې مېشت مشر شو. د ماموريت په بهير کې يې هلته يوه بېخونده پېښه وشوه. ايراني چارواکو يو ډېر ارزښتمن او شوروي اتحاد ته ډېر وفادار اجنټ ونيو او پانسي يې کړ. ايراني څارګرې اداري ، ساواک، دغه سړي ته سخته شکنجه ورکړه. له نوموړي څخه يوازې يوه غوښتنه کېدله: چې په دې اعتراف وکړي چې شوروي اتحاد ته يې کار کاوه. بيا به پرېښودل شي چې په کراره مړ شي، خو ده شوروي اتحاد ته د وفادارۍ اقرار

www.samsoor.com

و نه کړ؛ سخته ځورونه او غير انساني شکنجه يې پر ځان ومنله. کله چې پانسي شو، ايراني چارواکو د نوموړي مېرمن او خور اړ ايستل چې د خښولو لپاره د مړي د ترلاسه کولو په بدل کې پيسې ورکړي.
دغه ناکامۍ پر ابرشاف ژور اغېز وکړ او ټول پام يې د ايراني څارګرې ادارې* وړتيا او بې رحمۍ ته اوښتی و. ده نه غوښتل چې په دفتر يا کور کې يوازې وي او ټينګار يې کاوه چې هر وخت بايد يو باوري کس، ګاډی چلونکی، څارګر مامور يا يو بل څوک، له ده سره وي. د کور ټولو دروازو يې کولپونه لرل او د هر څه په کولپولو کې له کچې وتلی وسوسي و. يو ځل دغه روږديتوب يوه لويه ستونزه ورته جوړه کړه. يوه ورځ کله چې کار ته تللو، په مېرمن پسې يې د خوب کوټې ور کولپ کړ. د ورځې په اوږدو کې يې مېرمن سخته په عذاب وه چې تشناب ته لاړه شي. کله چې نوموړی له کار څخه بېرته راغی، د ترټنو له سور اور سره مخ شو.
دا درېيم ځل و چې ډګروال ابرشاف کابل ته راغلی و. دا ځل د څارګرو فعاليتونو د شنډولو د يو مربي په توګه، لېږترلږه
ده داسې فکر کاوه. تر هر څه لومړی يې له سفير سره وکتل او هغه د ساسچو، کافيير( شړومبو ته ورته څښاک: ژباړن)، پوځې او د کوچنيو کبانو غوټه چې د سفير لور ورکړې وه ده ته وروسپارله. سفير د دغه ښېګڼې په بدل کې ترې مننه وکړه او په کابل کې يې د ده د دندې په اړه وپوښتل. ابرشاف په داسې بڼه چې په خبرو کې يې د ځان ارزښتمن ښودنه نغښتې وه په کراره او مرموزه توګه ځواب ورکړ: «شخصاً يوري ولاديمير د دندې لپاره کابل ته راولېږلم.» له سفير سره له ليدو وروسته، ابرشاف د ودانۍ په دويم پوړ کې د کې جي بي څانګې اشنا برخې ته لاړ چېرته چې الکسي پېتروف سګرېټ څکولو او د ابرشاف راتګ ته تم و. ايون ابرشاف په لاس اشاره ورته وکړه چې دالان ته راووځي څو د دوی خبرې اترې څوک وانه وري. له مرکز څخه ورکړل شوې دندې ته په نغوتې سره نوموړي پېتروف ته دنده وسپارله چې ژرترژره له تره کي او امين سره د ده د ليدنې فرصت برابر کړي.
ايون ايونوويچ خلکو ته دومره درناوی نه کاوه لکه دومره يې چې د دوی لوړو څوکيو ته کاوه او ده اوس غوښتل چې د هېواد نوي مشران ورسره ليدنه کتنه وکړي. پېتروف پر خپلې دندې پوه شو او سمدلاسه لاړ چې د دغې ليدنې لپاره اړينې چارې ترسره کړي. ايون ايونوويچ هم دغه مهمې غونډې ته تابيا پيل کړه او کله کله به يې هغې ډلې ته دستورونه ورکول چې له ده سره يو ځای راغلې وه، خو حتی څو ورځې وروسته لا د دغه غونډې لپاره ورځ نه وه ټاکل شوې. الکسي پېتروف، ابرشاف ته حتی سوګند وکړ چې څو ځله يې تره کي او امين ته د اندروپوف د استازي غوښتنه ورياده کړه، خو دوی به د ډېرې بوختيا په يادولو غونډه ځنډوله. بلاخره په څلورمه ورځ پېتروف په خوښمنۍ ابرشاف ته وويل چې له امين سره به د تاس په ودانۍ کې وګوري. ابرشاف وپوښتل: «او تره کی؟» پېتروف په عاجزۍ ورته وويل: «ايون ايونوويچ، تره کی

---

* د يادونې وړه ده چې تر نن پورې ايراني څارګره اداره په مسلکي اوچته وړتيا، بې رحمۍ او ټګۍ کې نوم لري.

اوس یو ځانګړی موقف لري. دی اوس د یو خپلواک هېواد مشر دی. که رېښتیا درته ووایم، زه نه شم کولای له ده سره نېغې اړیکې ونیسم.»

په تېرو کلونو کې کله چې اېرشاف په سفارت کې د کې جي بي په خارګره څانګه کې دنده درلوده، ده به ډېری وخت له تره کي او امین سره د تاس په ودانۍ کې کتل. په هغه وخت کې نوموړي د دوی خبرو ته دومره ارزښت نه ورکاوه. خلقیانو هم له دغه مېشت استازي سره دومره د خوښۍ چلند نه کاوه. لامل یې د نوموړي تنګ نظري، د خبرو تروه بڼه او له دوی سره د ناوړ (علاقې) څرګند نشتوالی و. دوی ته نوموړی داسې یو پاتیالی برېښېدلو چې د خپلو ژمنو د ساتلو پراو یې نه لرله.

اوس امین د بهرنیو چارو وزیر او د لومړي وزیر مرستیال و. هر څه اوس بدل وو. پېتروف د غونډې لپاره امین د تاس دفتر ته راوستلو. ایون ایونوویچ دغه نوي مشر ته د دالان په کوچ کې تم ناست و. کله یې چې خپل «شوروي ملګری» ولید، امین امریکایانو ته ورته موسکا وکړه او په چټکۍ یې د ایون په لور ګامونه واخیستل. د نوموړي لاس یې په دواړو لاسونو ټینګ کړ او په داسې حال کې چې د ایون لاس یې په خپلو لاسونو خوځاوه، د روغبړ په دودیزو افغان خبرو یې شونډې د یو ښخونده اوږده وخت لپاره ښورولې. بیا یې د ایون ایونوویچ ملا ته لاس کړ او یوې ځانګړې کوټې ته یې بوت، داسې محرمې کوټې ته چې امین ته ښه مالومه وه. نوموړي د تره کي له خوا هم ده ته سلامونه وویل او د تره کي خواشیني یې څرګنده کړه چې د ډېرې بوختیا له کبله یې ونه شو کړای چې د خپل «پخواني ملګري» لیدو ته لاړ شي. دوی ته یوه ساده ډوډۍ ورکړل شوه. امین ډېر متمرکز ښکارېده. ایون ایونوویچ په دې خیال چې د دوی د اړیکو تر منځ دومره بدلون نه دی راغلی، یوه پیاله وتکا وڅښل، په څنګ لرونکې څوکۍ کې یې شاته تکیه وکړه او په ډېره ګونګۍ بڼه یې د هغه موضوعګانو اصلي ټکي بیان کړل چې غوښتل یې له امین سره وربانديې وغږېږي. امین په ډېر ځیر غوږ نیولی و، خو دا په واضح توګه څرګندېده چې د اېرشاف په خبرو نه پوهېده او په دې اړه یې خپله ستومانې پټه نه شوی کړی. په دغه شېبه کې الکسي په ډېر ادب له اېرشاف څخه د خبرو اجازه واخیسته او ډېره واضح او په لنډه توګه یې د خبرو اصلي ټکي بیان کړل: «موږ غواړو په دولتي کچه د خارګریزو او د خارګریزو ضد فعالیتونو په برخه کې د افغانستان له دموکراتیک جمهوریت سره اړیکې ټینګې کړو. موږ غواړو چې له یو او بل سره د محرمو مالوماتو راکړه ورکړه ولرو. موږ به تاسې ته سلاکاران درولېږو چې ستاسې خارګرو مامورینو ته روزنه ورکړي چې څرنګه په سختو حالاتو کې چارې مخته بوځي.» امین چوپ و او فکر یې کاوه. بیا یې وپوښتل: «د دغه موضوع د مالي اړخ ستونزه به څنګه حل شي؟» اېرشاف سمدلاسه وویل: «موږ به د خپلو سلاکارانو ټول لګښتونه په خپله غاړه واخلو.سربېره پر دې، موږ به د افغان خارګرې اداري د جوړولو لپاره بودیجه ځانګړې کړو او دې ته چمتو

www.samsoor.com

يوو چې دغه ادارې ته په شوروي کې د جوړو شوو ګاډو په ګډون تر ټولو نوې تخنيکي وسيلې برابرې کړو.»
امين په پام وويل: « ښه، دا خو ډېره ښه ده. موږ تل پوهېدو چې تاسې زموږ ښه او داسې ملګري ياست چې تکيه پرې کولای شو. زه هېڅ اړنګ نه لرم چې زموږ د سوسياليستي انقلاب لوی مشر ملګری تره کی به زموږ د څارګرو ادارو تر منځ د همکارۍ هر هغه هوکړه ليک منظور کړي چې تاسې يې وروړاندې کړی.»
پېتروف پرته له دې چې له خپل مشر سره مشوره وکړي وويل: «د دغه موضوع په هکله به د خبرو لپاره ستاسې اړيکوال څوک وي؟» اېرشاف خپلې شونډې غونجې کړي او ځاځمنې (قهرجنې) سترګې يې پېتروف ته واړولې. امين په تېزه موسکا ځواب ورکړ: «اسدالله سروري به ستاسې اړيکوال وي. زه به ورته ووايم چې له تاسې سره ژرترژره اړيکه ونيسي.» د يوې بلې پيالې له څښلو او له يو بل کوتي ساسچ څخه له مزې څکلو وروسته، افغان سياستوال بېرته خپلو ورځنيو چارو ته وګرځېد.
 په همدغه ورځ د ماښام په ترخ کې اسدالله سروري پېتروف ته زنګ وواهه. ده وپوښتل چې له اېرشاف سره چېرته ليدلی شي. پېتروف د هغه وخت ارزونه وکړه چې د اېرشاف پيدا کول يې نيسي او ورپسې يې پرېکړه وکړه چې د د دوی د ليدنې ځای به د سفارت دروازې ته په مخامخ څلورلاره کې وي. کله چې په دې اړه اېرشاف ته خبر ورکړل شو، نوموړي يو بل کميس واغوست، بله نېکتايي يې په غاړه کړه او په ځاځمنه توګه يې پېتروف ته وويل: «په دې نه پوهېږې چې يو څوک خامخا د بهرني سازمونونو د دراوزو څارنه کوي؟» پېتروف په درنښت ځواب ورکړ: «پوهېږم.» اېرشاف بيا ورته وويل: « نو ولې مې په داسې ځای کې خلکو ته ښکاره کوې؟» پېتروف په عاجزۍ ځواب ورکړ: «چا ته دې ښکاره کوم؟ حتی که څوک تاسې له سروري سره ووينې، هغه به چاته ستاسې د ليدنې راپور ورکړي؟ سروري ته؟» يو سپين ټيوټا د سفارت دروازې ته مخامخ له څلور لارې سره ودرېد. د ګاډي چلوونکي په سيټ کې يو لوړ او پلونډ ځوان سړی ناست و چې ګونځې درېشي يې اغوستې وه او مهربانه او هوښياره ونګه يې درلوده. ايون ايونوويچ له ځان سره فکر وکړ: «عجيبه ده، دغه سړی زموږ د فلم ډايرکټر اېلډر رېزانوف ته څومره ورته دی.» کله چې اېرشاف له سفارت څخه ووت، دغه افغان په چټکۍ له ګاډي ښکته شو، اېرشاف ته يې په انګرېزي ښه سلامي وکړه او په لوړ او ژور غږ يې ځان داسې ور وپېژانده: «پيلوټ اسدالله سروري.» بيا يې د ګاډي شاتنۍ دروازه پرانيستله او اېرشاف ته يې د کېښناستلو بلنه ورکړه. دوی د دارلامان په واټ کې د ښار په لور په تياره کې روان وو.په لاره کې سروري پوښتنه وکړه: «ملګری ايون ايونوويچ، دغه غونډه به تاسې ته ډېره ناوخته نه وي؟ ملګري امين راته وويل چې ژرترژره ستاسې ليدنه وکړم څو په امنيتي چارو کې د همکارۍ په هکله په ټولو اړخونو يوې پايلې ته ورسېږو.» اېرشاف ورته وويل: «د هېڅ شي په اړه اندېښنه مه کوه. زموږ په چارو کې موږ بايد د معمول مهال وېش د ساتلو په هکله اندېښنه ونه لرو» اسدالله په خوښۍ وخندل او ويې ويل: «ما هم همدغسې ننګېرنه درلوده.» کله چې دوی د سروري دفتر ته ورسېدل، سروري ده ته له ميزو او مندکو سره چای کېښود او ويې ويل چې کولای شي کباب، ويسکي، وتکا او يا وطني شراب راوغواړي.

دوی چای غوره کړ. ابرشاف هڅه کوله چې هغه دري کليمې او غونډلې په ياد کړي چې پېتروف له امين سره د غونډې په ترڅ کې ويلې وې او سروري ته يې د دواړو هېوادونو د څارگرو ادارو تر منځ د همکارۍ په هکله د شوروي د وړانديز بنسټيز ټکي بيان کړل. سروري چې په دې اړه د امين په اند پوهېده خورا ډېر خوشاله شو، خو په دې هېڅ نه پوهېده چې له دې وروسته څه ووايي او يا وکړي. ابرشاف د يو لړ لاسوندو(اسنادو) په هکله خبرې وکړې چې دواړه خواوې يې بايد چمتو او لاسليک کړي. نوموړي دې ته هم چمتووالی وښود چې د راتلونکو دوو مياشتو د فعاليتونو، د راتلونکې لپاره د امنيتي کارکوونکو د شمېر د ارزونې او د امنيتی اداري د عملياتي بوديجې د اړتياو په هکله د خبرو اترو لپاره د يو ګډ پلان خاکه جوړه کړي. نومړي د پاکستان د مشرتابه په اړه هغه مهم مالومات هم چې له مسکو څخه يې لږ وخت مخکې ترلاسه کړي وو له سروري سره شريک کړل. سروري چې په دغه ورځ په خپل دفتر کې څو کسه د انقلاب دوښمنان په وهلو وژلي وو په خپگان په خپلو خړو سترګو ابرشاف ته وکتل او ويې ويل: «کوم پلان؟ کومه بوديجه؟» سروري يوې مهمې انقلابي دندې ته ګمارل شوی و چې په بې رحمۍ د انقلاب دوښمنان له منځه يوسي. دی په دغه دنده کې شپه او ورځ بوخت و او اوس دغه کوچنی شوروي ملګری ورته وايي چې په بيروکراتيکي چارو کې لاس په کار شي.

دوی هوکړه وکړه چې ابرشاف به سبا ته هغه نور د کې جي بي افسران سروري ته ور وپېژني چې له ده سره يوځای له شوروي څخه راغلي وو. دغه پخواني پيلوټ به خپل خلک چې روسي ژبه يې زده وه ابرشاف ته ورلېږل. دوی په دوامداره توګه د ابرشاف له ډلې سره په اړيکه کې وو او په دري او پښتو ژبه د اړينو لاسوندو په ژباړه کې يې مرسته کوله.

د مخه ښې په وخت کې سروري ابرشاف ته وويل چې د ده د دفتر دروازه تل د ابرشاف پر مخ پرانيستې ده. کله يې چې خپل مرستيال ابرشاف ته ورپېژانده، سروري په وياړ وويل: «دا يوازې يو افسر نه بلکې يو زمری هم دی.» د نوموړي مرستيال، ابرشاف بېرته سفارت ته په ګاډي کې ورساوه.

په کابل کې د کې جي بي ځانګې يو کار کوونکي، يوره کېتايوف په افغانستان کې د شورويانو د استوګنځايونو د امنيت دنده لرله. نوموړي په سفارت کې د قونسل د مرستيال په پلمه دنده ترسره کوله. د نورو دندو تر څنګ، ده له شوروي ښځو سره د اړيکو ساتلو ډېره ستونزمنه دنده هم درلوده. دغه ښځې څوک وې؟ دوی هغه شوروي ښځې وې چې له افغانانو سره يې ودونه کړي وو. ډېری له هغو زرګونو افغانانو

www.samsoor.com

سره چې د ۱۹٦۰مې په پيل کې يې په شوروي پوهنتونونو کې زده کړې کړې وې. د افغانانو اړوند ډېر ځيزونو شوروي نجونو ته زړه راښکونکي وو. د شورويانو په پرتله د دوی ونګه ډېره په زړه پورې او مېړنۍ وه، د شرابو په څښلو کې يې زياتی نه کاوه، د دوی ګړدود او بدل چلند د زړه راښکنې نور فکتورونه وو. افغانانو په سخاوت، ارامه خوی، پر ځان کنټرول، د ژمنې په پوره کولو، پر بې وزلو باندې په مهربانۍ، خپلو سپينږيرو ته په درناوي، له ملګرو سره په وفادارۍ او له ښځو او ماشومانو سره په پام او نرم چلند کې نوم درلود.

ګڼ شمېر شوروي ښځو په افغانستان کې ژوند کاوه، زړې او ځوانې، له بېلابېلو توکمونو، له بېلابېلو روڼ اندو لېوالتياو او شاليدونو څخه او له بېلابېلو سياسي اجنډاو سره. ځينو يې په ريښتيا له خپلو خاوندانو سره مينه لرله، خو ځينو يې يوازې غوښتل چې له «شوروي دوزخ» څخه ووځي او «پانګوال جنت» ته ننوځي.

يوره د ښځو، په تېره بيا خپلې مېرمنې، تتيانه Tatiana مينوال و، خو هغه ښځې يې نه خوښېدلې چې له افغانانو سره يې ودونه کړي وو. دوی به په دوام داره توګه له ده څخه بېلابېلې غوښتنې کولې او دی يې ګواښلو چې برېژنېف ته به راپور ورکړي. نوموړي ډېری د هغه شوروي ښځو په هکله سوچ کاوه چې له سوسيالېزم څخه د تېښتې په تمه افغانستان ته تللې وې، خو له تګ څخه وروسته په دې پوه شوې وې چې د دوی د ژوندانه نوی ځای هم څه نا څه همغسې و. کله يې چې له شوروي ناهيلو ښځو سره سراوکار کېده، يوره به په سوچ کې له ځان څخه پوښتل: «دوی به اوس چېرته ځي؟ اسرايل ته؟ امريکا يا مدېګسکر ته؟»

يوه ورځ نتاليه نورزۍ زنګ وواهه: «يوره، پر تا او کورنۍ دې پېښې څنګه تېرې شوې؟ څه خو به نه وي درپېښ شوي؟ زه او مېړه مې ستا او ستا د کورنۍ په هکله ډېر په اندېښنه کې وو. تاسې ښه ياست؟ هلکان څنګه دي؟» يوره ځواب ورکړ: «خيريت دی، هر څه سم دي.» ورپسې نتاليه ورته وويل: «زه او مېړه مې غواړو تا او ستا مېرمنې ته بلنه درکړو چې مکروريانو ته زموږ ليدو ته راشئ. راځئ چې يوه پياله چای سره وڅښو او وغږېږو. ډېره موده کېږي چې تاسې مو نه يې ليدلي.» د يوره د نوموړې خاوند عبدالقيوم نورزی خوښېده. عبدالقيوم ډېر جدي ښکارېده. نوموړی په ونه ټيټ و او که څه هم په خټه پښتون او د ګوند له جوړېدو راهيسې د خلق غړی و، خو بريت يې نه لرل. دی تره کي ته نېږدې و، په پښتو اکاډمۍ کې ښوونکی و او د افغانستان په تاريخ او پښتو ژبه کې يې تخصص درلود. ده له خپل تېزس څخه د مسکو په پوهنتون کې د يو نومور شوروي افغانستان پوه، پروفيسر دېورينکوف Dvoryankov تر څارنې لاندې دفاع کړې وه. نورزي د ډېرو روسانو په پرتله په روسي ژبه ښې خبرې کولې.

يوره په دې هم پوهېده چې نتاليا د اوډېسې Odessa يوه يهوده وه او پخلی يې ډېر خوندور و؛ نو ځکه يې پرته له ځنډه ورته وويل: «که ستاسې خوښه وي، سبا ته به درشو.» نتاليه ورته وويل: «ډېر ښه، په پنځو

بجو راشئ. زموږ پته ولیکه، هو ریښتیا، ته خو زموږ پته لرې.» له یوره سره د نتالیه پته شته وه ځکه چې په دې وروستیو کې نوموړې قونسلګرۍ ته ورغلې وه چې د څو بېخونده موضوعګانو په هکله ورسره وغږېږي.
کله یې چې غوږۍ کېښوده، یوره له ځان څخه وپوښتل: «ولې یې موږ ته اوس بلنه راکړه په داسې حال کې چې مخکې یې هېڅ کله بللي نه وو؟ څه خبره شته، زه به له دوی سره د لیدلو په ترڅ کې ځان پرې پوه کړم.» سبا ته د ګلانو، شیرینیو، وتکا، شمپاین او د ماشومانو لپاره د لوبو له سامان سره یوره او مېرمن یې د نورزي کور ته مکروریانو ته لاړل. عبدالقیوم نورزي په خندا ور پرانیست. د دوی درې کوټه ییز کور د خوندور پخلي له ښه بوی څخه ډک و. عبدالقیوم یوره ته غېږ ورکړه او پر مخ یې داسې ښکل کړ لکه د ډېرې مودې ورک ورور یې چې لیدلی وي. دوی له یو او بل سره روغبړ وکړ، له ماشومانو سره یې، چې د لوبې سامان ته خوشاله وو، خبرې وکړې او ورپسې ماښامنۍ پیل شوه. د خبرو موضوع پوځي کودتا وه.
یوره د نورزي هغه پوښتنو ته نېغ ځواب ورنه کړ چې د پوځي یرغل په بهیر کې ده څه کول او پرځای یې د وتکا ډېرې سرسلامتۍ وکړې. نورزی د یوره په دغه چل پوه شو. وروسته دوی سوچه سیاسي بنډار پیل کړ. عبدالقیوم چې یو ژبپوه و او هېڅ کله یې په پوځ کې چوپړ نه و کړی وویل چې له حفیظ الله امین څخه یې د ا خ د ګ د مشرانو د ازادولو په اړه یو یادښت ترلاسه کړ. د یادښت په ترلاسه کولو سره، نوموړی په مکروریانو کې ټولو افسرانو ته ورغی او ورته ویې ویل: « سبا سهار به پوځي کودتا ترسره کېږي. افغان پوځ به داود او د ده فاشیست امریکا پلوه رژیم په زور نسکور کړي. کله چې ته د ا خ د ګ غړی کېدلې، ته په خپلو دندو پوه وې. ته باید زموږ ملاتړ وکړې. دا یو امر دی. که ته زموږ ملاتړ وکړې، کېدای شي ژوندی پاتې شي او یا د یو اتل په څېر مړ شې. که موږ وګټله، په ژوند کې به ډېرې لاسته راوړنې ولرې. که ته زموږ ملاتړ و نه کړې، موږ به دې د اپارتمان د کړکۍ مخې ته د مېرمنې او بچیانو په مخ کې د برېښنا په مزو پانسي کړو.» ځینو افسرانو وژړل، د عبدالقیوم پښو ته ولوېدل او داسې یې وویل: «ولې مې ځان له تا سره اشنا او په ګوند کې ښکېل کړ.» عبدالقیوم به ځواب ورکړ: «پوهېږې چې ما څومره خطر په ځان ومانه چې تاته له داسې ګواښ سره راشم. ته پوهېږې چې زه څوک یم؟ ته پوهېږې چې زه هم مېرمن او بچیان لرم. که ته هغه څه و نه کړې چې زه یې غواړم، ما ته، زما مېرمن او بچیانو ته به سبا څه پېښ شي؟ سم سوچ وکړه، دا ټوکې نه دي.» یوره په ژور سوچ کې لاړ: «نو انقلاب په دې توګه ترسره شو، میکانېزم یې په دې ډول و. موږ څومره ساده ګان وو. موږ په دې خیال دي ته انقلاب ویلې چې دا د ولس کړنه وه.» نورزي یوره او مېرمنې ته یې وکتل او ویې ویل: «انقلابونه په همدې ډول رامنځته کېږي.»
یوره اوس د بلنې په موخه پوه شو. نورزي هیله درلوده چې ځان د انقلاب د اتل په توګه نوموړ کړي او له دې څخه د ځان په ګټه کار واخلي. وروسته له دې چې په کودتا کې د خپلې ونډې په اړه یې غوږې وکړې،

www.samsoor.com

نورزي له وتکا څخه يو ګيلاس تر خولې ډک کړ او په چوپتيا يې وڅښلو. بيا يې د داسې څه په اړه خبرې وکړې چې د يو ځارګر په توګه يوره ته هېڅ په زړه پورې نه وې. نتاليا يوره او مېرمن يې تر ګاډي بدرګه کړل او د خپل خاوند سترېيا او اندېښنې يې د ماښامنۍ د بېخونده پای وجې وبللې. د خدای په امانۍ په شېبه کې يې وويل: «پوهېږې چې څو ورځې دا سوچ څومره راته سخت و چې هر يو به ووژل شوو، زما خاوند، زه او ماشومان مې؟ او دا ټول د څه لپاره؟» يوره ځواب ورکړ: «مور سره نېږدې اړيکې ساته، هېڅوک به زيان در ونه رسوي. ته په نړۍ کې د تر ټولو لوی هېواد تبع يې.»

کله چې يوره بېرته کور ته لاړ، فکر يې وکړ چې په دغه شپه چې څه پېښ شول، هسې يوه ننداره وه او هر چا پکې خپله ونډه ډېره ښه ولوبوله.

د شنبې په ورځ غرمې ته نېږدې د تاس خبريال الکسي پېتروف د کې جي بي ځانګې عمومي کوټې ته په بريمنه خندا ننوت. دی خوښ او ولولن(له ولولو ډک) ښکارېده. کېدای شي غوښتل يې دا وښيي چې د هېواد له دوو نويو مشرانو سره يې يو يا دوه پيکه جنګولي. نومړي په ډېره سړه سينه د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د نويو ګمارنو نوملړ د شننونکي ولوديا ختييف پر مېز واچاوه او ويې ويل: «ولوديا، په يو ټېلګراف کې د کابينې دغه وروستی نوملړ ولېږه. دغه نوملړ به نن يا سبا خپور شي. زه به يې وروسته سفير ته ورورم.» ولوديا د متن لوستل پيل کړل او ټولو کسانو خپل کارونه پرېښودل او د ولوديا شاته ودرېدل چې دغه نوملړ ولولي. ولوديا، الکسي ته وويل: «ته بايد خپله اوږه په شاباسۍ وټپوې. کوم انعام چې تا ترلاسه کړ بې ځايه نه و. تا په داسې وخت کې د يووالي ډېرې هڅې وکړې چې هر څه ناهيلي ښکارېدل او اوس داسې برېښي چې د ګوند په يووالي کې بريالی شوې. دا يوازې يو نوملړ دی. د څوکيو وېش په انډول او انصاف شوی دی.» بيا يې نوملړ په اوچت غږ ولوست: د ا خ د ګ د انقلابي شورا ريس، نورمحمد تره کی ولسمشر، د ا خ د ګ د انقلابي شورا مرستيال، ببرک کارمل، د ولسمشر لومړی مرستيال حفيظ الله امين (خلقی) د ولسمشر مرستيال او د بهرنيو چارو وزير، محمد اسلم وطنجار (خلقی) د ولسمشر مرستيال او د مخابراتو وزير، عبدالقادر (د پوځي کودتا مشر) د دفاع وزير، نوراحمد نور (پرچمی) د کورنيو چارو وزير، سلطان علي کشتمند (پرچمی) د پلان جوړونې وزير، عبدالکريم ميثاق (خلقی) د ماليې وزير، بارق شفيع (پرچمی او د افغانستان يو ډېر نومور شاعر) د مالوماتو او کلتور وزير، سليمان لايق (پرچمی او د افغانستان يو ډېر نومور شاعر) د راديو او تلويزيون وزير. په نوملړ کې د نورو کسانو نومونه هم

وو. دوی دومره پېژندلي خلک نه وو او ورکړل شوې څوکۍ یې هم دومره مهمې نه وې، خو د څوکیو په وېش کې بشپړ انډول په پام کې نیول شوی و.

ولودیا ختییف په یو تېلګراف کې د خپلې شننې په ګډون دغه نوملړ مرکز ته د لېږلو لپاره ولیک. د افغان حکومت د مشرتابه د ترکیب په اړه د نوموړي شننه ډېره مثبته وه. ورپسې د اورلوف مروزوف دفتر ته لاړ چې لیکل شوی تېلګراف پرې لاسلیک کړي. په عین وخت کې پېتروف وپتېیله چې دغه نوملړ سفیر ته یوسي. وېکتور بابنوف په زاریو ورته وویل: «بېړه مه کوه! پرېږده چې دغه خبر لومړی مرکز ته ورسېږي. راځه دلته پاتې شه او له خلکو سره خبرې وکړه. همکارانو ته دې نکل وکړه چې څنګه د ا خ د ګ په یووالي کې بریالی شوی.» الکسي داسې ښکارېده لکه چې له دغه فرصت څخه ډېر خوند اخلي او ویې ویل: «پوهېږی، دغه نوملړ ډېر ارزښتمن دی. په دې اړه زه خپله خوښي او ویاړ نه پټوم. تاسو ټولو ولیدل چې دغه کار څنګه ترسره شو. ما څومره ډېر وخت د ترکن* او کرمل** په قانع کولو تېر کړ چې د ګوند یووالی څومره اړین دی، خو دوی ما ته هېڅ پام نه کاوه او کله به مې چې فشار پرې واچاوه، دوی به سملاسي پنومروف Ponomaryov ته سرټکونه وکړه. په دې کې تر ټولو د خندا وړ خبره دا وه چې ما باید د دوی سرټکونه مرکزي کمېټې ته لېږلي وی، خو منندوی یم چې وېلیور Vilior به دغه سرټکونو ته یو یادښت ورزیات کړ چې دا زما نیمګړتیا نه ده چې تره کی او کارمل د خپلو ډلو له یووالي سره ناڅ (علاقه) نه لري.» بابنوف ترې وپوښتل: «نو اوس څه شي ته دومره خوشاله یې؟» الکسي ځواب ورکړ: «ولې به خوشاله نه وم؟ هغه خلک چې زه له نېږدې پېژنم، اوس د هېواد مشران شول.» بابنوف بیا ورته وویل: «په دې نه پوهېږې چې کېدای شي دا تا ته هېڅ ښه نه وي. که ډېر ژر نه وي خو یوې یا دوې اونۍ وروسته به تا څوک دوی ته نېږدې پرېنږدي او یا به دوی په خپله نه غواړي چې له تا سره لیدنې کتنې وکړي. دوی به اوس له سفیر او یا په لوړه کچه له مسکو سره اړیکې غواړي؛ نو بیا به ته له چا سره کار کوې، له ساتونکو سره یې او یا له خپل چوپړیال ګلیم Guliam سره؟» یو چا په ټوکه کې وویل: « دی ښایي اوس د افغان حکومت د مشرتابه سلاکار شي او د عربو لارنس Lawrence ترې جوړ شي.» الکسي ټوکې ته پام و نه کړ خو د بابنوف د خبرو پر حقیقت یې سر خلاص شو؛ نو خوا یې بده شوه او یو سګرېټ یې ولګاوه. بیا یوره ورته وویل:«خو تا یو مهم اعزاز ترلاسه کړ. د سولې او ارامۍ په وخت کې د سره توغ نښان یوه لویه لاسته راوړنه ده.»

---

* د تره کي لقب چې په روسي ژبه د ګړندي یا چابکي مانا لري

** د کارمل لقب

www.samsoor.com

اورلوف مروزوف هغه ټېلگراف په بې پراويۍ ولوست چې ختييف ورته راوړلو او ويې ويل: «د حکومت ترکيب سم برېښي. د څوکيو داسې وېشنه دغه حکومت ته ښه ده. اجازه راکړه چې دا ورزيات کړم چې د څوکيو په وېش کې تره کي د شوروي اتحاد د کمونست گوند د مرکزي کمېټې هغه سپارښتنې په پام کې نيولې دي چې د تاس په دفتر کې ورته يادې شوې. دا به زموږ مشران ډېر خوشبين کړي.» ولوديا ورته وويل: «زما په اند دوی له کچې وتلي خوشبين دي. هغه خلک چې ډېر خوشبين وي، يو وخت ډېر ناهيلي کېږي.» اورلوف ترې وپوښتل: ته خوشبين نه يې؟» ده ورته وويل: «خوشبينۍ ته لږ ځای شته. خو زه نه پوهېږم چې وضعيت به کوم لوري ته لاړ شي. زه په دې باور يم چې افغان مشرتابه به ژر بدلون وموني او وېره لرم چې موږ به بيا خلق او پرچم ته زارۍ کوو چې يو ځل بيا سره پخلا شي.»

تورن جنرال زپلتين Zaplatin د دغه امر په ترلاسه کولو حيران نه شو چې د جرمني پاتسډم Potsdam ښار ته يو کاري يون وکړي. نوموړي د شوروي پلي ځواکونو د مرکزي سياسي څانگو د سرکتونوال (سرمفتش) په توگه دنده لرله؛ نو ځکه يې ډېری د جرمني دموکراتيک جمهوريت ته کاري يونونه کول. د ۱۹۷۰مې په ورستيو کلونو کې کله چې سړه جگړه خپلې اوچتې کچې ته رسېدلې وه، شوروي اتحاد لويې پوځي سرچينې په لوېديځ کې راټولې کړې وې. د جرمني دموکراتيک جمهوريت خاوره په لويه کچه د پوځي موخو لپاره کارېدله ځکه چې دغه هېواد د ممکنه دوښمن اډو ته نېږدې و. شوروي مشرتابه په جرمني کې شوروي ځواکونه له نېږدې څارل. کمېسيونونه او د کتنو ډلې په دوامداره توگه ورتللې. که درېيمه نړيواله جگړه پيل شوې وی، په جرمني کې به شوروي سرتېري او افسران لومړني کسان وو چې د اتومي جگړې له امله ستېدل، خو مخکې له ستېډو څخه دوی ته دنده ورکړل شوې وه چې ټوله لوېديځه اروپا تباه کړي. دغه ځل جنرال زپلتين د کتونکې ډلې مشري کوله. مېرمن يې چې مخه ښه ورسره کوله دومره رښکنه (هيجاني)نه وه او يوازې يې ترې وغوښتل چې د مې مياشتې په پای کې د نوموړې د زوکړې کليزې ته بېرته راشي. زپلتين خپله مېرمن ښکل کړه، ورته ويې ويل چې اندېښنه و نه کړي او ورپسې هوايي ډگر ته روان شو. کله چې پاتسډم ته ورسېد، د فرقې قوماندان چې د ده د ستړي مشي لپاره هوايي ډگر ته راغلی و، زپلتين ته وويل: «ملگری جنرال، د شوروي ځواکونو د پوځي شورا يو غړی غواړي چې تاسې ژرترژره ورسره اړيکه ونيسئ.» زپلتين د قوماندان له دفتر څخه خپل دغه همکار ته زنگ وواهه: «څه خبره ده؟» له ده څخه وپوښتل شول: «وسيلي پېترويچ، خپل سفر بکسونه دې درسره دي؟» ده ځواب ورکړ«هو، راسره دي» بيا ورته وويل شول: «سمدلاسه بېرته هوايي ډگر ته لاړ شه. يوه الوتکه درته تم ده چې

تا بېرته مسکو ته راولي.» جنرال زېلتين چې د داسې پلانونو په بدلون ښه پوهېده، دغه امر حيران نه کړ، د ډلې مشري يې يو بل همکار ته وروسپارله او بېرته يې مسکو ته الوتنه وکړه. هلته ورته وويل شول: «ته بايد ژرترژره د پوځي ځواکونو له لوی سياسي ريس، اپيشف Epishev سره وګورې.» جنرال اپيشف د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې د استازي په توګه په پوځ کې چارې مخته وړلې. جنرال زېلتين له نوموړي سره مخکې کابو هېڅ نه وو ليدلي. اپيشف له زېلتين وپوښتل: «پوهېږې چې په افغانستان کې يو انقلاب شوی؟» پرته له دې چې ځواب ته تم شي، نوموړي خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ: «د دموکراتيک ګوند غړو پخوانی رژيم نسکور کړ او په هېواد کې يې د اصلاحاتو په پلي کولو کې د دومداره پرمختګ د تګ لوري اعلان وکړ. لکه څنګه چې ته پوهېږې، موږ له اصلاحاتو غوښتونکو ځواکونو سره د مرستې ډېره هڅه کوو ځکه چې دا زموږ نړيواله دنده ده. افغانانو له موږ څخه غوښتنه وکړه چې د دوی د وسلوالو ځواکونو سياسي ريس ته يو سلاکار ورولېږو. بې اړنګه، دوی پوځي سياسي رياست نه لري؛ نو هر څه بايد له بنسټ څخه جوړ شي. ما د دفاع له

وزير سره مشوره وکړه چې ځوک بايد ولېږل شي. موږ ته غوره کړې، ستا څنګه خوښه ده؟»

جنرال زېلتين يوه ثانيه په سوچ کې شو چې د خپلې مېرمنې خوښه واخلي، خو کله يې چې د اپيشف د مخ ګلډانګ• ته ورته ونګې ته وکتل، دی پوه شو چې نوموړی سملاسي ځواب غواړي. بله چاره يې نه درلوده پرته له دې چې داسې ووايي: «منته کوم چې تاسې پر ما باور وکړ. زه به د دندې په ښه ترسره کونه کې بشپړه هڅه وکړم.» اپيشف په نرمۍ وويل: «سمه ده.» نوموړي غوړی اوچته کړه او ويې ويل: «بوريس نيکولايوويچ Boris Nikolayevich، موږ د پوځ سياسي رياست ته سلاکار ومونډ. جنرال زېلتين چې ډېره پوځي سياسي تجربه لري د داسې دندې تولې ښې ځانګړتياوې لري. تاسې يې منئ؟» کله يې چې په تيلفون کې خبرې خلاصې شوې، اپيشف، زېلتين ته وويل: «مرکزي کمېټې ته لاړ شه او د نړيوالو چارو له منشي، پنومروف سره ليدنه وکړه. هغه به نور مالومات درکړي او ته بايد په دوو ورځو کې کابل ته لاړ شې.»

وسلي پېتروويچ د اپيشف له دفتر څخه ووت او سخت په وېره کې شو چې د افغانستان په هکله په هېڅ نه پوهېږي. ده د انقلاب په اړه تصادفي اورېدلي وو، خو په دې اړه يې يوه ذره ناټ نه درلود. انقلابونه او کودتاوې تل پېښېدلې؛ نو دا ولې بايد ځانګړې وي. ده هېڅ کله په خپل ژوند کې دا فکر نه و کړی چې يو وخت به کابل ته لاړ شي. اوس بايد مرکزي کمېټې ته لاړ شي چې له لوړپوړو مامورينو سره خبرې وکړي او د دوی پوښتنو ته ځواب ورکړي. دی بايد لږترلږه په افغانستان کې د انقلاب په اړه بنسټيز مالومات پيدا کړي. بې اړنګه، په دې اړه به د پوځي ځواکونو په سياسي رياست کې د پروډا ورځپاڼې په دلې کې خبرونه

---

•ګلډانګ: غټ خولی سپی

www.samsoor.com

شته وي. د یوه ښه سیاسي پوځي افسر په توګه، زېلتین پوهېده چې په دغه ورځپاڼه کې هر راز سیاسي پوښتنو ته ځواب موندلی شي؛ نو ډېر ژر یې د شوروي په دغه مهمه ورځپاڼه کې د کابل په هکله د مالوماتو په لټه کې شو. نوموړي د «له کابل رادیو څخه پیغام» تر سرلیک لاندې یوه لنډه مقاله وموندله. په مقاله کې لیکل شوي وو چې په افغانستان کې کودتا شوې او په هېواد کی واک پوځي انقلابي شورا ته لېږدول شوی. زېلتین په سوچ کې شو: «عجیبه ده چې د رویټر په وسیله دغه خبر له لندن څخه راغلی، په کابل کې موږ خپل خبریالان نه لرو؟» د اپریل د نهه ویشتمې ګڼې د نړیوالې برخې په پنځمه پاڼه کې نوموړي یوه څه ناڅه مفصله مقاله وموندله؛ نو یو قلم یې راواخیست او ټوله یې په خپله یادلیکچه کې ولیکله: «اسلام اباد، د اپرېل اته ویشتمه (تاس). له افغانستان څخه د راسېدلو راپوروونو پر بنسټ، پرون یوه کودتا ترسره شوې. له کابل رادیو څخه په یوه اعلامیه کې چې د هوایي ځواکونو مشر عبدالقادر لوستله داسې راغلي: «وسلوالو ځواکونو د ټولنې، ملي خپلواکۍ، ازادۍ او افغان ولس له پټ څخه د دفاع دنده په غاړه اخیستې» انقلابي شورا زیاته کړې چې دوی به کورنی سیاست د اسلامي اصولو، دموکراسۍ، ازادۍ او د فردي حقونو د ساتنې پر بنسټ مخته ته یوسي او د افغان ټولنې په ټولو اړخونو کې به د پرمختګ لپاره هلې ځلې وکړي.» دلته نوموړي فکر وکړ چې دې ته دوی د پوځي کودتا نه بلکې یوازې د کودتا نوم ورکړی، خو ولې دغه مالومات د کابل پر ځای د پاکستان له پلازمېنې څخه رارسېدلي؟

یو ځل بیا له اسلام اباد څخه د اپرېل په دېرشمه، د تاس یو خبریال راپور ورکړی و چې په افغان پلازمېنه کې وضعیت ثبات موندلی، هتې پرانیستل شوې او انقلابي شورا د ټول هېواد کنټرول ترلاسه کړی. په سبا یې د تاس یو خبریال له کابل څخه راپور ورکړي و: «د ا خ د ګ انقلابي شورا، وتلی انقلابي مشر نور محمد تره کی د شورا د ریس او د هېواد او ولسمشر په توګه وټاکه.» وسلي پېترووېچ د ورځپاڼې پاڼې په ناهیلۍ اړولې. د حالاتو په اړه له دغو راپوروونو څخه ځوک سم پوهېدی نه شوی. «حالاتو ثبات وموند، ټول واک د خلکو لاس ته ورغی، نوې اداره د ځپل شوو ډلو د ګټو استازولي کوي، خوشبیني پراخه ده، انقلاب په ټولنه کې له ډېرې ناانډولۍ او د خواري کښ او حاکم پوړ تر منځ له ډېرېدونکې شخړې څخه سرچینه اخیستې.» په کابل کې چې څه پېښ شول، نور «کودتا نه بلکې دموکراتیک انقلاب یادېږي.» یو ساعت وروسته، زېلتین د مرکزي کمېټې د منشي د دفتر هرکلي خونې ته ننوت، خو د مرکزي کمېټې د نړیوالو چارو د څانګې مشر له ده سره سملاسي لیدنه و نه کړه. د نوموړي یاور ورته وویل چې بورېس نیکولایووېچ پنومروف ته تیلفون راغی چې له لیوند ایلیچ برېژنېف سره لیدنه وکړي او د ده پرځای زېلتین باید د نوموړي له مرستیال، رستېسلف الکساندرویچ اولیانوفسکي Rostislav Alexondrovich Ulyanovsky سره وګوري. دغه جنرال ته وروسته وویل شول چې ۷۴ کلن اولیانوفسکي د ختیځ په اړه د شوروي اتحاد د سیاست یو له مهمو تګ لوري ټاکونکو څخه و. نوموړي ډېر کلونه د شوروي اتحاد د واکمنۍ د زیان منوونکې برخې سوېلي هېوادونو ، هند، پاکستان او افغانستان، په اړه په زده کړو تېر کړي

وو. په ځوانۍ کې یې په کابل کې د شوروي اتحاد په سفارت کې دنده درلوده، یو نومور تیوریسن و، یوه دوکتورا یې درلوده او ډېر کتابونه یې لیکلي وو. ختیځ پوهانو ده ته ډېر درناوی درلود. زیلتین ته وروسته د نومورې د ژوند د یوې بلې مهمې مودې په هکله هم وویل شول. دی د ستالین د ځینې یو قرباني و. نومورې پنځه کاله د جبري کار په زندان کې او پنځلس نور په تبعید کې تېر کړي وو.

خو د مې په دغه ورځ زیلتین د هغه سرې په هکله په هېڅ نه پوهېده چې دی باید خبرې ورسره وکړي. دی به چې کوم وخت مرکزي کمېټې ته تللو، د دفاعي چارو څانګې ته به لاړ چې د ودانۍ په بله برخه کې وه. کله چې دی دفتر ته ننوت، اولیانوفسکي مخ ور واړاوه، ویې خندل او بلنه یې ورکړه چې په دغه دفتر کې د کنفرانس لوی مېز ته کښېني. اولیانوفسکي په ونه لوړ، په ونګه ستومانه او د ککرۍ وېښته یې سپین وو. له نېکه مرغه اولیانوفسکي له جنرال څخه په افغانستان کې د وروستیو پېښو په اړه پوښتنه و نه کړه. د اپیشف خوښې ته ډېر درناوی کېده. کوربه د مېز بلې خوا ته د مېلمه مخ ته کښېناست او مېلمه ته یې ست وکړ چې ځان ته چای واچوي او ناشتا وخوري. ده جنرال ته وویل چې د خبرو ډېر څه شته.

اولیانوفسکي خبرې له ډېر پخواني وخت څخه پیل کړې. دا څرګنده وه چې د منځنې ختیځ په هکله ډېر پوهېده. د مهمو تاریخي پېښو نېټې، د پاچاهانو، د دوی د وزیرانو، جنرالانو، ډیپلوماتانو نومونه یې یاد کړل. د هېواد په ملي ځانګړتیاو وغږېد (له شلو څخه ډېر قومونه چې په پنځو توکمیزو ډلو اړه لري په دغه هېواد کې ژوند کوي) او په لنډه توګه یې د هغو ستونزو یادونه هم وکړه چې د پښتنو او نورو توکمیزو ډلو تر منځ شته (پښتانه په هېواد کې ډېرى دي او په ټولیزه توګه داسې ګڼل کېږي چې په ټولنه کې د دوی د امتیاز خاوندان دي.) زیلتین ته دا د حیرانتیا خبره وه چې د افغانستان په وسلوال ځواک کې په دومره لوړ شمېر شوروي سلاکاران شته («په دغه وخت کې شاوخوا ۳۰۰ شوروي پوځي سلاکاران د افغانستان په وسلووالو ځواکونو کې وو او که زه تېر وتنه و نه کړم، افغانانو یې په هکله ښه اند درلود») اولیانوفسکي ډېر وخت پر مذهبي اړخونو په تېره بیا د ښې لاسي سخت دریزو اسلامي مشرانو په هکله وغږېد. («نو په راتلونکي کې خطر دلته پروت دی»). نومورې په ۱۹٦۵ کال د ا خ د ګ د جوړښت په هکله هم خبرې وکړې. اولیانوفسکي ناڅاپه په اوچت غږ وویل: «ښه، ته یو جنرال یې؛ نو څنګه ښوک له یو پوځي سره پرته له نقشې غږېږي!» ده د خپلو کتابونو له تاخچې څخه د افغانستان یوه داسې نقشه راواخیسته چې څنډې یې په پنسل لیکنو ډکې وې او جنرال ته یې وویل: «زه به ستا د راتلونکو پوځي فعالیتونو ننداره دروښیم.» اولیانوفسکي پرته له ستونزې په نقشه کې ټول هغه ځایونه په ګوتو کړل چې پښتون، تاجک، هزاره، بلوڅ او ازبک مېشته وو. نومورې په دې حقیقت ټینګار وکړ چې په افغانستان کې په دودیزه توګه مرکزي اداره کمزورې ده او پرېکړې قومي واکمن کوي، «خو کله چې بهرنی خطر ښکاره شي، ټول کورني

www.samsoor.com

اړپېچونه (تناقضونه) هېر شي او افغانان د يو واحد ځواک په توګه د دوښمن پر ضد ودرېږي. دا بايد هېر نه شي.» ورپسې يې د ګوندونو پر سياست خبرې پيل کړې. زپلتين په دغه موضوع کې د راحت ننګېرنه وکړه ځکه سياسي کليشې يو او بل ته ورته وې. اوليانوفسکي وويل: «د افغانستان په تاريخ کې د ا خ د ګ لومړنی ګوند دی چې د خواريکښو ګټو ته انګازې (انعکاس) ورکوي. د انقلاب موخه دا ده چې له بيروکراتانو، سوداګرو او د ځمکې له خاوندانو څخه واک نوي ملي حکومت ته ولېږدوي. دغه حکومت د منځنۍ کچې او ورو ملي بورژوازيو په ګډون، د ډېرو پرګنو د ګټو استازولي کوي. د سياسي افسر په توګه ښايي تا ته دا عجيب، هېښناک او حتی کفر ښکاره شي، خو په داسې هېوادونو کې ملی بورژوازي د دې جوګه ده چې په پرمختګ او اصلاحاتو کې ونډه ولري . کله چې دنده دې پيل کړه، ته به يې پخپله ووينې چې دغه ګوند په انقلابي خوځښت کې د خواريکښو ونډې اخيستنې ته ډېر پام اړوي. په افغانستان کې شاوخوا ۳۰۰۰۰۰ ګارګران - کارګر پوړ - شته چې دا يو د پام وړ ځواک دی.» اوليانوفسکي زياته کړه: «د اپريل د اووه ويشتمې انقلاب په سپينه کودتا پيل شو چې ترسره کوونکي يې د ا خ د ګ غړي وو، خو په افغانستان کې سياسي انقلاب په عين وخت کې ټولنيز هم دی. په داسې حال کې چې د مالکيت اصلي حقونه خوندي ساتي، دغه انقلاب د يوه حاکم په ليرې کولو او پر ځای يې د بل په کېښنولو بسنه نه کوي. زموږ - او سر له اوس څخه ستا - ملګري بايد ډېر کار وکړي. ته به ډېر ژر پوه شې چې افغانستان څومره شاته پاتې هېواد دی او څومره ډېرې ستونزې بايد حل شي.» ورپسې يې د ا خ د ګ د ننه د حالاتو په هکله خبرې وکړې او هغه ستونزې او شخړې يې بيان کړې چې شوروي ملګرو خپل افغان ملګري د يووالي لپاره ډومارل ( په استدلال هڅول). نومړي د تره کي، کارمل او امين په هکله هم خبرې وکړې او په خپګان يې وويل: «د ا خ د ګ د ننه حالات له بهر څخه سم ښکاري او اوس يو کال کېږي چې د خلقيانو او پرچميانو ترمنځ شخړه نه ده شوې، خو په خواشينۍ سره، په حقيقت کې هر څه ډېر پېچلي دي. کله چې د دغه چټکې بريا ښادۍ او خوشالۍ تېرې شي، د دوی ترمنځ به اړپېچونه په تازه ځواک بيا راپورته شي. زموږ د وړاند ليدنې پر بنسټ، پرچميانو بايد دا انقلاب ترسره کړی وای. ټولو فکر کاوه چې دوی ډېر هوډمن او ښه منظم دي، خو زموږ ارزونه غلطه وخته او بې اړنګه، برعکس يې پېښ شول. اوس به ستا سروکار له خلقيانو سره وي ځکه چې ټولې مهمې څوکۍ به د دوی وي. دوی په پوځ کې هم ډېر ښه موقف لري.» له اوليانوفسکي سره له غونډې وروسته، زپلتين د مرکزي کمېټې منشي پنومروف ته ورو‌پېژندل شو. زپلتين دغه منشي يوازې په ورځپاڼو او تلويزيون کې ليدلی و. پنومروف په سبکمنه بڼه له څوکۍ اوچت شو او ده ته يې لاس ورکړ. دی د اوليانوفسکي په پرتله ډېر امرانه برېښېدلو. د پنومروف د مقام په اړه هېڅا اړنګ نه درلود. دی د ګوند يو پخوانی او وتلی غړی و چې ګوندي دنده يې له ستالين سره پيل کړې وه.

لکه څنګه چې زپلتين پراخه مالومات له اوليانوفسکي څخه ترلاسه کړي وو، پنومروف په افغانستان کې د سياسي وضعيت او هلته د زپلتين د دندې په هکله وغږېد. زپلتين ته ډېرې دندې ورکړل شوې، خو تر

ټولو مهمه دنده یې د انقلاب د دوښمنانو پر ضد راتلونکې جګړې ته د افغانستان وسلوال پوځ چمتو کول وو. داسې ښکارېدل چې پنومروف د داسې جګړې په پېښېدو کې هېڅ اړنګ نه درلود. د غونډې په پای کې پنومروف وویل: «موږ، یعنی د کمونست ګوند مرکزي کمېټه، تر اوسه په افغانستان کې غوړونه او سترګې نه لرو او په بشپړه توګه مو پر کې جي بي او پوځې څارګري اداري ډډه لګولې؛ نو ځکه مو پرېکړه وکړه چې د ګوند د سلاکارانو یوه تکړه ډله افغانستان ته په دې موخه ولېږو چې د ا خ د ګ غښتلی کړي. په دې توګه به مرکزي کمېټه دا فرصت ولري چې د ا خ د ګ د ننه له مالوماتو خبر ولري، خو دا باید ستا مخه ونه نیسي چې ته له موږ سره هم مرسته وکړې. ته باید سملاسي او په اخلاصمنه توګه د هرې مهمې پېښې په هکله موږ خبر کړې او طبعاً دغه کار باید د مناسبو چینلونو له لارې وکړې.

کله چې غونډه پای ته ورسېده او دواړه، زېلتین او اولیانوفسکي له دفتر څخه ووتل، اولیانوفسکي له زېلتین څخه وپوښتل چې که کومه پوښتنه ولري. زېلتین ډېرې پوښتنې لرلې، خو ده وانګېرله چې اوس یې هم د داسې مهم مامور ډېر وخت ونیو. «مننه، رستېسلف الکساندرویچ» زېتلین د مخه ښې په مهال ناڅاپه پوښتنه وکړه: «په کابل کې موږ خبریال نه لرو؟» اولیانوفسکي په ځواب کې ورته وویل: «څنګه په دې باور یې چې نه یې لرو؟» ورپسې زېلتین وویل: «مخکې له دې چې مرکزي کمېټې ته راشم، ما د پراوډا تېرې ګڼې وکتلې. د افغان انقلاب په هکله ټول خبرونه له لندن او اسلام اباد څخه ورکړل شوي وو.» اولیانوفسکي په خندا شو: «دا ځکه چې زموږ د نړیوالو مالوماتو څانګې له کچې وتلی احتیاط کاوه. زمیاتین Zamyatin او مامورینو یې اندېښنه لرله چې شوروي اتحاد به په کودتا کې په ګډون تورن شي؛ نو دوی په دې وسیله له هغه ځه څخه ځان لیرې ښوده چې په افغانستان کې پېښ شول. موږ په افغانستان کې خبریالان لرو او ته به ډېر ژر ورسره وګورې.»

کله چې بېرته کور ته لاړ، دغه جنرال له خپلې مېرمنې ښښه وغوښته او ورته ویې ویل: «له بده مرغه، ته به د خپلې زوکړې کلیزه له ما څخه پرته ونمانځې.» درې ورځې وروسته د پوځې سلاکارانو د یوې لویې ډلې د مشر په توګه افغانستان ته روان شو.

جنرال زېلتین د ۱۹۷۸ کال د مې میاشتې په یوه ځلانده سهار کې کابل ته ورسېد. ده ته یو ځوان افغان چې ملکي جامې یې اغوستې وې هرکلی وویل او په ښه روسي ژبه یې ځان ور وپېژانده: « اقبال وزیري، د وسلوالو ځواکونو د سیاسي ریاست مشر. ښه راغلاست ملګری جنرال. که تاسې ستړي نه یاست؛ نو زه وړاندیز کوم چې سملاسي لاس په کار شو. ملګری امین موږ ته تم دی.»

یو ماښام د اجنټ خوست له خوا سترستین یوې بېړنۍ کتنې ته ور وغوښتل شو. دغه لیدنه د اسمایي غره څنګ ته په یوه واټ کې ترسره شوه. په ماښام کې واټونه تش وو، یوازنې مخلوق چې اورېدل او لیدل

www.samsoor.com

کېدل مړې وې چې په ډېران کې يې منډې وهلې. اجنټ خوست يو بوډا هډور سپين سرى افغان و چې د زړه د ناروغۍ له کبله يې په ساه اخيستلو کې ستونزه لرله. دى مخکې د افغانستان په بهرنيو چارو وزارت کې لوړپوړى چارواکى و. کله چې تقاعد شو، ده پرېکړه وکړه چې سوداګري پيل کړي. دى ډېر شتمن نه و، خو دومره شتمني يې لرله چې ښه ژوند پرې وکړي. نوموړي په يو لوى او ښايسته کور کې ژوند کاوه، ښه کورنۍ، بريالي زامن او لمسيان يې لرل. خوست د ا خ د ګ يو غير رسمي (پرچمي) غړى و. په ګوند کې يې کومه څوکۍ نه درلوده، د ګوند د غړو په نوملړ کې يې نوم نه شته و او دومره ګوندي نه و لکه دومره چې د ببرک کارمل ملګرى او اعتباري سړى و. ببرک به ډېرى له خپلې انډيوالې او هم ګوندې، اناهيتا سره د خوست په کور کې ليدنې کتنې کولې او خپل باوري خلک به يې د غونډو لپاره د ده کور ته رابلل.
کله يې چې په خوست سترګې ولګېدې، ولېري له مټ څخه ونيو او تيارې ته يې بوت. د تګ په وخت کې يې ورسره په افغاني دوديزه ښه روغبړ وکړ او ورپسې يې ترې وپوښتل: «څه خبره ده، استاده؟» خوست د خپل کور په لوري سر وخوځاوه او ورته ويې ويل: «همدا اوس زما په کور کې ببرک او ورور يې محمود بريالى، نوراحمد نور، اناهيتا راتب زاد، بارق شفيعي او نور پرچمي مشران ناست دي. پرچمي افسرانو، چې تره کي او امين سپک کړي دي، د دوى د مشورې غوښتنه کړې ده. دغه افسران وايي چې له نوې واکمنۍ سره د جوړجاړي هېڅ لاره نه شته ده. د دوى ډېرى لا د مخه له خپلو دندو شړل شوي او هغه خلک چې څو ورځې مخکې د دوى لاس لاندې وو اوس د دوى د مشرانو په توګه ګمارل شوي. داسې پرچميان شته چې د خپل ځان او کورنۍ د وژنې وېره لري او اوس له خپلو مشرانو څخه د دې اجازه غواړي چې په هېواد کې د يو عادل او دموکراتيک رژيم د واکمنولو په موخه د يو وسلوال بريد له لارې خلقيان نسکور کړي.»
د خوست خبرو سترستين ته داسې ټکان ورکړ لکه برېښنا يې چې ونيسي. ده خپلې ننګېرنې کابو کړې او ويې پوښتل: «د دغه افسرانو غوښتنې ته د کارمل او د ده د متحدينو غبرګون څرنګه دى؟» خوست په ځواب کې ورته وويل: «ملګرى کارمل هڅه کوي چې دوى ارامه کړي. دى وايي چې له خلقيانو سره ټولې ستونزې به په لويه کچه د ګډو رغوونکو هڅو له لارې حل شي. خلقيان به بلاخره پوه شي چې ټول هغه لوى کارونه چې د ګوند او نورو اصلاحاتو غوښتونکو ځواکونو مخته پراته دي يوازې يو متحد ګوند يې ترسره کولى شي.» سترستين بيا وپوښتل: «له پرچميانو سره د هېواد د نوي مشرتابه د منفي چلند وجه څه ده؟ تره کى او ملګري يې له تاسې نه په څه خپه دي؟» ولېري د خپلې پوښتنې د ځواب اټکل کولى شوى، خو غوښتل يې چې له دغه اجنټ څخه يې واوري. خوست داسې ځواب ورکړ: «تر هر څه لومړى، تره کى او امين موږ د داود له رژيم سره په همکارۍ تورنوي. دوى تاسې ته دا نه دي ويلي او نه يې په ورځپاڼو کې دغه خبره ياده کړې ځکه دوى ډېر ښه پوهېدل چې موږ د مسکو د سپارښتنو پر بنسټ له داود سره

همکاري کوله، خو دوی خپلو تېټ پوړو ګوندیانو ته وایي چې موږ د نادري* رژیم همکاران وو. دویم دا چې دوی وایي پرچمیان ډارن دي او د اپرېل د اووه ویشتم په پاڅون کې یې برخه وانه خیسته؛ نو ځکه دوی باید نه یوازې د لوړو څوکیو غوښتنه و نه کړي بلکې د هغه څوکیو ارزښت هم نه لري چې اوس یې لري. دا ریښتیا ده چې ډېرو پرچمیانو د پاڅون په ورځ نندارہ کوله. ځینې یې هېڅ نه پوهېدل چې څه روان دي؛ نو ځکه یې د داود په پلوي جګړه کوله چې خپله پوځي دنده پوره کړي، خو دا ځکه چې دوی د پاڅون په اړه هېڅ خبر نه وو. زه تر یوې کچې د امین کړنې توجیه کوم. نوموړی دې ته اړ وو چې د پاڅون په پیلولو کې یوازې پر خپلو تر ټولو اعتباري افسرانو تکیه وکړي، ده داسې کسانو ته اړتیا لرله چې زړغیتوب و نه کړي. که چېرې امین په دغه پلان کې د خلکو شمېر ډېر کړی وی، کېدای شوی چې په دې اړه خبري راپورته شوې وی چې له کبله یې تاسې، شوروي ملګري، به هم خبر شوي وی او بیا به تاسې خامخا د دغه پلان د مخنیوي هڅې کړې وی، خو دا له انصاف څخه لیرې خبره ده چې پرچمیانو په انقلاب کې هېڅ برخه وا نه خیسته. زموږ په منځ کې ریښتیني اتلان شته چې د خلقیانو تر څنګ یې جګړه کوله.»

له دغې لیدنې وروسته چې کابو څلوېښت دقیقې یې دوام وکړ، ولېري د خوست سترګو ته نېغ وکتل او په غوږ کې یې وپسېد: «تا پخپله زه راوغوښتلم او یا دا د ملګري کارمل غوښتنه وه؟» خوست په ارامۍ او اخلاص، ولېري ته داسې ځواب ورکړ: «ما پخپله غوښتل چې له تا سره ووینم او له دغه خبرو د خبر کړم. ما له کارمل سره په تفصیل له تا سره د لیدلو په اړه خبرې و نه کړې، خو ما ورته وویل چې موږ باید خپل شوروي ملګري خبر کړو چې اوسمهال د ګوند د ننه څه تېرېږي.» ولېري وپوښتل: «نو د کارمل ځواب څه و؟» خوست ورته وویل: «ده وویل چې موږ له خپلو شوروي ملګرو څخه څه نه پټوو.»

سبا ته د شوروي سفارت مخته د ګاډو د درېدنې په ځای کې سترستین د اېرشاف راتګ ته تم و. ولېري روغبړ ورسره وکړ او ورته ویې ویل چې غواړي خبرې ورسره وکړي. کله چې ایون ایونوویچ د اجنټ خوست د تېرې ورځې له خبرو او د ګوند د ننه د شخړو په هکله خبر شو، ډېر ځاځمن (په غوسه) شو او سترستین یې په ډېره بې رحمۍ وترټلو چې له سیاسي او عملیاتي حالاتو څخه خبر نه دی او په افغانستان کې روان سیاسي بهیر ته یې پام نه دی اړولی. ولېري هڅه وکړه ورته ووایي چې هغه څه یې چې ده ته بیان کړل، د ده اند او له پېښو څخه د ده تعبیر نه دی او نه یې د هغه اجنټ پرونۍ خبرو ته څه ورزیات کړي چې ایون ایونوویچ له هغه وخت څخه پېژانده چې نوموړي ډېر کلونه مخکې د کې جي بي مامور په توګه په

*د غویي له انقلاب څخه وروسته په دې موخه چې د ټولو مخکنیو رژیمونو ارتجاعي طبیعت بربنډ کړي، افغان پروپاګند یوه نوې اصطلاح «د نادریانو رژیم» راوایسته، یعنی د ظاهر شاه او داود رژیمونه د افغانستان د امیر، نادر شاه برتانوي پلوه رژیم ته ورته وو.

www.samsoor.com

کابل کې دنده پیل کړې وه. ابرشاف په ډېره پارېدنې بڼه په اوچت غږ ورته وویل: «نو بیا ستا اجنټ خاین دی!» سترستین ځواب ورکړ: «زما اجنټ نه دی، دی د کې جي بي د بهرنیو چارو د څانگې اجنټ دی. ما نوموړی نه دی گمارلې، دا ته وې چې ما ته دې امر وکړ چې کار ورسره وکړم.» ابرشاف ورته وویل: «پروا یې مه کوه. له داسې خلکو سره به ستا سروکار ډېر ژر پای ته ورسېږي.» ورپسې ابرشاف په چټکۍ د سفارت د دروازې په لور روان شو.

ولېري د سفارت د انگړ په شاوخوا کې گامونه واخیستل چې خپله غوسه سړه کړي. ده تازه شنه چمن، له غوټیو څخه ډکو بوټیو او په پټیو کې گلانو ته کتل. ورپسې د اورلوف مروزوف دفتر ته لاړ. نوموړی په دفتر کې یوازې نه و. داسې برېښېدل چې ده او ختییف په ځینو لاسوندو کار کاوه. ولېري هغه مالومات چې پرون یې له اجنټ خوست څخه ترلاسه کړي وو ورسره شریک کړل او د ایون ایونوویچ د غبرگون کیسه یې هم ورته وکړه. ختییف له ننگېرونو ډک شو. اورلوف مروزوف له ولېري پوښتنه وکړه: «ته پوهېږې چې په کابل کې د ایون ایونوویچ د ماموریت موخه څه ده؟» ولېري ځواب ورکړ: «فکر کوم چې د اوسادچي ځای ناستی او زموږ مشر به شي.» مروزوف بیا خبرې پیل کړې: «نه، دی راغلی چې په کابل کې د کې جي بي د استازې څانگې د جوړولو په هکله خبرې اترې وکړي؛ نو دې ته په پام سره، ته څه فکر کوې چې د افغانستان په مشرتابه کې د اړپېچونو په اړه دی ستا مالوماتو ته اړتیا لري؟ نوموړی اوس بېلې موخې او د پېښو په اړه بل انځور لري.» ورپسې ختییف په اندېښنه وویل: «نو ته وایې چې موږ دغه مالومات مسکو ته نه لېږو؟ دا خو ډېر مهم مالومات دي.» ځارگر مرستیال مروزوف له ځان سره وویل: «اوس ایون ایونوویچ ستا د تېلگراف د لاسلیک کولو واک لري، دی تر ټولو لوړپوړی عملیاتي مشر دی؛ نو زه څه کولی شم.»

کله به چې نورمحمد تره کي او ببرک کارمل له خپلو شوروي ملگرو سره لیدنې کتنې کولې، دوی به د شرابو څښلو ته لېوال وو، خو دوی به چې له یو او بل سره ناستې درلودې، یوازې چای به یې څښلو. دغه دوه مشران سره کېنېناستل چې د مې لومړۍ نېټې د لمانځلو لپاره څرنگه تابیا ونیسي چې په رسنیو کې د بریمن انقلاب په هکله د افغانانو بېسارې ولولې او خوشالۍ ښکاره شي. دوی د داود او د شاهي کورنۍ د شتمنیو په هکله هم خبرې وکړې او پرېکړه یې وکړه چې د پخوانیو افغان واکمنانو ملکیتونه خرڅلاو ته کېږدي، خو د دغې ناستې د خبرو تر ټولو مهم ټکی د راتلونکي مشرتابه د نوملړ خاکه جوړول وو. د خبرو اترو په پای کې یو داسې نوملړ جوړ شو چې پکې دواړو ډلو په کابو مساوي کچه استازولي درلوده.

د دفاع وزير په توګه د عبدالقادر په ګمارنه کې هېڅ اړنګ نه شته و. بل چا ته به دغه څوکۍ ورکول کېده؟ دی د پاڅون اتل، يو ډګروال او د ا خ د ګ يو داسې غړی و چې په خپله خوښه او پرته له کومې ستونزې يې د هېواد ترلاسه کړی واک د ګوند مشرتابه ته وسپاره. دغه څوکۍ ته کېدای شوی د انقلاب يو بل اتل، اسلم وطنجار هم کانديد وی، خو ده نه غوښتل چې د دفاع وزير شي او د ځان لپاره يې هېڅ ونه غوښتل؛ نو تره کي او ببرک پرېکړه وکړه چې د اولسمشر د مرستيال او د مخابراتو د وزارت څوکۍ ورکړي. دوی څنګه کولای شوای چې داسې نومورو څېرو لکه سليمان لايق او بارق شفيعي ته په حکومت کې ځای ورنه کړي؟ دوی شاعران وو او ځوانان يې مينه وال وو، خو ستونزه دا وه چې داسې دوو وړ کانديدانو ته يوازې يوه د وزارت څوکۍ پاتې وه؛ نو په پای کې تره کي او کارمل پرېکړه وکړه چې دغه څوکۍ په دوو برخو ووېشي: د اطلاعاتو او کلتور وزارت او د راديو او تلويزيون وزارت. بارق شفيعي ته لومړی او سليمان لايق ته دويم پورته ياد شوي وزارتونه ورکړل شول. دواړه پرچميان دغه څوکيو ته خوشاله وو. په پيل کې نورمحمد تره کي د کورنيو چارو وزير په توګه د نور احمد نور پر ګمارلو اړنګ درلود، خو کارمل د انقلابي شورا مشر ته ورياده کړه چې د نوراحمد پلار، عبدالستار يو له مخورو ځمکوالو څخه دی او له زرګونو پوپلزيو پښتنو څخه جوړه يوه شخصي وسله واله ډله لري چې ده ته ډېر وفاداره ده. له دغو خلکو څخه د نوي رژيم په ګټه د قبايلي سيمو په ګډون هر ځای کار اخيستل کېدای شي. سربېره پر دې، نور احمد نور له ډېر وخت څخه د پرچمي افسرانو د پټ سازمان مشر هم و. د کورنيو چارو وزارت ډېر پخواني افسران د دغه سازمان غړي وو؛ نو د دغه دليلونو پر بنسټ تره کي دغه څوکۍ ورته ومنله. کارمل هيله درلوده چې د غويي د اوومې له بريا وروسته له «شوروي ملګرو» سره په لومړۍ غونډه کې د ګډون ځای ورکړل شي. دی د زړه له تله په دې باور و چې د ګوند دويم واکمن سړی به وي او تره کی به پرته له ده څخه مهمې پرېکړې و نه کړي، خو د کوم دليل پر بنسټ، د شوروي سفير يوازې تره کي ته د غويي له انقلاب څخه وروسته د لومړنۍ غونډې بلنه ورکړه؛ نو تره کي هم ځان په دې داډه کړ چې کارمل له دغې غونډې خبر شي ځکه چې دی پوهېده چې دا به د کارمل پر ځان باور ډېر زيانمن کړي.

کله چې د انقلابي شورا رييس د پوزانوف سره له غونډې وروسته نيمه نېشه او خوشاله د ارګ پخوانۍ ماڼۍ (اوس پر دغه ماڼۍ د خلکو کور نوم اېښودل شوی و) ته بېرته راغی، نوموړي په نيمه شپه کې کارمل خپل نوي استوګنځي ته راوغوښت. حفيظ الله امين چې په خپلو رڼو سترګو تل کار ته چمتو و هم په دغه غونډه کې حاضر و. تره کي خپلو مېلمنو ته ووېل چې د افغان مشرتابه د نوملړ هغه خاکه چې ده او کارمل جوړه کړې وه، د شوروي ملګرو ډېره خوښه شوه. تره کي زياته کړه چې سبا سهار ته به دغه خاکه په رسمي توګه منظور او اعلان کړي. کارمل ځواب ورکړ چې دی کوم اعتراض نه لري او خوښ دی چې شوروي

www.samsoor.com

ملګرو هم دغه نوملړ خوښ کړ. ولې به يې نه خوښېده؟ دغه نوملړ کابو په بشپړه توګه د خلق او پرچم تر منځ مساوي وېشل شوی. د دغه خبرو په اورېدو سره امين موسکا بس کړه، کارمل ته يې سترګې وغړولې او په غوسه يې وويل: «ملګری کارمل، دغه خبرې به څه وخت پای ومومي؟ خلقيان، پرچميان ... زموږ د يووالي له کنفرانس څخه کابو يو کال تېر شو. اوس د دې وخت رارسېدلی چې دغه حقيقت ومنو چې د ا خ د ګ يوازې يو متحد ګوند دی، نور نو پرچمي او خلقي لوري نه شته.» تره کي چې په خبرو کې د داسې بدلون تمه نه درلوده په ناڅ امين ته وکتل. امين په ډراماتيکه بڼه سترګې پورته ونيولې او خپلو خبرو ته يې داسې دوام ورکړ: «ملګرو، زه د سياسي بېرو يوې عمومي غونډې د رابللو وړانديز کوم چې ژرترژره جوړه شي. په غونډه کې موږ بايد نه يوازې د ګوند د بېلوالي چلونه منع کړو بلکې هغه کليمې او نومونه هم منع کړو چې د ګوند عادي غړي يې د ګوند د پخواني بېلوالي په تړاو کاروي. زه له ګوند څخه د شړلو په ګډون هرې هغې هڅې ته د سختې جزا وړانديز کوم چې په ګوند کې درزونه جوړوي.»
کارمل سملاسي پوه شو چې امين له پرچميانو سره د ده له غونډې او د پرچميانو له هغه غوښتنې خبر شوی چې خلقيان په لاره سم کړي. ببرک فکر وکړ چې ښايي په هغه غونډه کې د امين افسرانو هم ګډون درلود او په سوچ کې شو چې دا به څوک وو. تره کي په ځواب کې وويل: «سمه ده.» بيا له خپل ځای څخه اوچت شو، په دفتر کې يې ګامونه واخيستل او له کارمل څخه يې وپوښتل: «ته څه فکر کوې، ملګری ببرک؟» کارمل ځواب ورکړ: «زه د ګوند د يووالي تل ملاتړ کوم او نن ورځ يو تر ټولو هوډمن کس يم چې د ګوند د غړو تر منځ خنډونه ليرې کړم. موږ د ګوند د موخو په هکله هېڅ کله مخالفت نه درلود. ته، زه او موږ ټول کمونستان او سويتان يوو، خو موږ د ګوند د کدرونو او تکتيکونو په هکله په ځينو ځانګړو ټکو تل هم اندي نه وو. له بده مرغه زموږ په ليکو کې د ګڼ شمېر خلکو زړونو ته دوښمني ننوتلې ده. زما په اند، د سياسي بېرو په عمومي غونډه کې موږ بايد په ازاده توګه د خپلو ملګرو په شتون کې په دې اړه وغږېږو.»
تره کي وويل: «داسې چې ده؛ نو راځئ چې دغه غونډه راوبلو او هلته د هر څه په اړه خبرې او پرېکړې وکړو.» بيا يې پرته له دې چې چا ته ست وکړي په ګيلاس کې ځان ته له يخ سره وېسکي واچول او ويې څښل.
د انقلابي شورا د مرستيال او د ولسمشر د لومړي مرستيال په توګه کارمل ته د پخواني ارګ په يوه ودانۍ کې يو لوی
دفتر ورکړل شو. په دغه دفتر کې هر څه خپل نوي څښتن ته نارامه کوونکي وو. پر دېوالونو، انتيک سپټونو او پر لرګين غولي دوړې پرتې وې. تيره خړ پيشتول او دېوالونه يې چې شل کاله مخکې شين رنګ ورکړل شوی و د تارکشکو په تورو ګڼو تارونو پوښل شوي وو. له دفتر څخه خوسا تورم راوتلو، له دېوالونو او د پيشتول له لرګينو شاتېرونو څخه خوسا تورم پورته کېده. غولی د نولسمې پېړۍ له غټو فرانسوي څوکيو

او سپېڅونو ډک و. ببرک فکر وکړ چې دغه لوی دفتر او غټ مېز د ده د کوچنۍ اډانې او د خندا وړ موقف څرګندونه کوي.

پرچمي مشران ډېر ژر پوه شول چې دوی په زرين قفس کې بند پاتې شوي دي. کارمل هېڅ رېښتينی واک نه درلود او نه ورکول کېده. د ده ټول موقفونه تشريفاتي او هسې سوچه افساني وې. د ده ليدو ته يې يوازې نېږدې ملګري ورتلل او ټولې خبرې يې د تره کي، امين او د دوی نېږدې ملګرو تر منځ د واک د وېش، غېر قانوني کړنو او د پرچميانو پر ضد د داسې تعصب په هکله وې لکه چې دوی د ګوند غړي نه بلکې دوښمنان وي. ببرک به داسې سرټکونو ته غوږ نيوه او ژمنه به يې وکړه چې دغه ستونزې به حل کړي، خو ده څه کولای شوی؟ ده هېڅ واک نه درلود او له حالاتو څخه د ګټې اخيستنې کوم ميکانيزم يې نه لرلو. ده ته د لاسليک لپاره هېڅ لاسوندی نه راوړل کېده، د تشو څوکيو لپاره د کانديدانو په هکله چا ترې پوښتنه نه کوله او د هېواد په هېڅ چاره کې ښکېل نه و. د مې لومړۍ نېټې له لمانځنې وروسته، تره کي نوره د ليدلو بلنه نه ورکوله.

که چيرته کارمل يو عادي بېروکرات وی، دغسې حالت به يې خوښ و. په خپل لوی دفتر کې به ناست و، پر خپلو خوبجنو لاس لاندو به يې امرونه کول او د مرکو لپاره به يې د افغان او بهرنيو خبرياﻻنو غوښتنو ته ځوابونه ورکول. د ډېرو نورو په څېر، ده کولای شول چې له خپلو اداري سرچينو څخه ځان بډای کړي، له باوري سرچينو څخه بسپنه ترلاسه کړي او په سوداګرۍ کې پانګونه وکړي. ده کولای شول ګټورې څوکۍ خپلو ملګرو او خپلوانو ته برابرې کړي؛ نو ولې يې داسې و نه کړل؟

ببرک کارمل هېڅ کله يو بېروکرات نه و او نه شو. دی يو داسې مسلکي انقلابي و چې له مادي شتمنۍ سره يې ناتې نه درلود. ده عمل ته اړتيا لرله او غوښتل يې چې په زرګونو لاريونوالو ته وينا وکړي او ويې پاروي. دی پوهېده چې کله به يې له دريځ څخه کوم نظر څرګند کړ ، هغه به ډېر ژر په يو داسې ننګېرلې څيز بدل شو چې خلک به په غوسه او يا خوبمن شول. خلکو به هغه څه کول چې ده به ورته ويل. کارمل د عمل سړی و او دا ورته ډېره سخته وه چې کرار په څوکۍ بېکاره کښېني. ده ته داسې برېښېدل چې تره کي بيخي هېر کړی دی. څه شوي؟ ايا تره کی تر اوسه د ورستۍ بريا په خوشالۍ کې ډوب دی؟ ايا دغه خوشالۍ يې په سر کې دوامداره نېښه پرېښې ده؟ يا کېدای شي ناروغه وي؟ خو کارمل يوه د پام وړ بده ننګېرنه وکړه. تره کی يو ښه فرصت ته تم دی چې پرچميانو ته يو پرېکنده ګوزار ورکړي. ببرک د داسې کمپاين د پيل وړاندليدنه وکړه چې دی او د ده ملګري به د هېواد له سياسي ژوند څخه وشړل شي. کارمل چې په خپل لوی، خو بېخونده دفتر کې ناست و او خپل چوپ تيلفون ته يې کتل، په سر کې يې بد فکرونه ګرځېدل. بې اړنګه، تره کی د هغه پرچميانو په ډېرېدونکې ناراضتيا خبر و چې له وسلوال پوځ او

www.samsoor.com

ملکي ادارو څخه شړل شوي وو. ډېره شونې ده چې تره کي ته راپور ورکړل شوی وي چې دغه خلک ما ته، چې د دوی مشر یم، راغلل او له ما څخه يې د يو بل داسې «ريښتيني سوسياليستي» انقلاب د ترسره کولو او مشرۍ غوښتنه وکړه چې موخه يې د خلقيانو له منځه وړل وه، خو که زه دې ته ورته څه وکړم، ډېره شونې ده چې نوی پاڅون به بريالی نه شي او زما ملګري او متحدين به اعدام شي. شوروي ملګري به ما او زما ملګرو ته د داسې خاينانو د غدۍ په سترګه وګوري چې د افغانستان د سوسياليستي پرمختګ ضد وه. اوس داسې برېښي چې زه له يو زندان څخه وايستل او بل ته ننويستل شوم. هو، اوس زه په يو زرين قفس کې يوه مرغۍ یم. دا به ماته ډېره ښه وای چې د داود په زندان کې پاتې وای او يا ويشتل شوی وای؛ نو بيا به زه د خلکو اتل وای، يو شهيد چې د افغانانو د خوشالۍ په لاره کې مړ شو، خو اوس څوک یم؟

يو ځل نور احمد نور چې د کورنيو چارو د وزير په توګه نوی ګمارل شوی و د ده دفتر ته راغی چې د وزارت لوړو څوکيو ته د کانديدانو نوملړ وروښيي. کارمل دغه نوملړ په ډېر ځير ولوست او يو شمېر پوښتنې يې وکړې. کله چې نوراحمد په تفصيل هر څه ورته بيان کړل، کارمل خپله خوښه ورته څرګنده کړه. په نوملړ کې د تېر رژيم خلک و، ډېری يې جنايي او تخنيکي کارپوهان او اداري مرستيالان وو. په نوملړ کې داسې خلک هم وو چې له لويو فيوډالانو او قومي مشرانو سره يې نېږدې اړيکې لرلې. څوکۍ په مساوي کچه خلقيانو او پرچميانو ته وېشل شوې وې. کارمل پر نوملړ باندې وليکل: «منظور دی» ورپسې نوراحمد دغه نوملړ تره کي ته يووړ چې نوموړی يې لاسليک کړي. تره کي نوملړ ته وکتل او پرته له دې چې د کانديدانو په اړه څه ووايي، نوراحمد ته وويل چې په دې اړه له ملګري امين څخه مشوره واخلي. نور احمد خپله پارېدنه پټه نه کړه او تره کي ته يې وويل: «ولې بايد د بهرنيو چارو وزير د کورنيو چارو وزارت په ګمارنو کې کار ولري؟» تره کی په موسکا شو، نور احمد ته يې وکتل او داسې ځواب يې ورکړ: «زويه، ته د ما په څېر ښه پوهېږې چې د غويي له انقلاب څخه مخکې امين د پوځ او پوليسو د پټ سازمان مشر و.»

د کورنيو چارو وزير بېرته کارمل ته لاړ. کارمل ډېر په غوسه شو، مخ يې تک شين واوښت. نور ترې وپوښتل: «څه بايد وکړو؟» کارمل ورته وويل: «څه کولای شو؟ ته د ولسمشر له منظورۍ پرته د کدرونو دغه نوملړ نه شې منظورولی. چې د امين خوښه نه وي، تره کی به يې لاسليک نه کړي. ته بله چاره نه لرې.»

په داسې حال کې چې د ا خ د ګ د دويم پوړ غړي له پامه وغورځول شول، امين له خپلې بدنامۍ «د انقلاب اتل» څخه خوند اخيست. دی چې مخکې د ګوند يو لږ پېژندلی غړی و، ناڅاپه يو نومور مقام ته اوچت کړل شو. کله به چې د بهرنيو رسنيو غړو غوښتل چې د افغان حکومت له استازو سره مرکه وکړي، د دوی پوښتنو ته يوازې او يوازې امين ځوابونه ورکول. دې ته له پامه پرته چې بهرنی کوم مقام لري او يا موضوع څومره مهمه ده، دی تل دې ته چمتو و چې له هر چا سره وګوري. ده په ټولو عامه غونډو او نمانځنو کې برخه اخيسته. د افغان ورځپاڼو په لومړيو مخونو کې د ده له موسکا څخه ډک مخ تل ښکاره کېده او تل به د خپل مشر «لوی ملګري تره کي» څنګ ته ناست يا ولاړ و.

یو ځلې د مې میاشتې د یوې جمعې په ورځ چې په افغانستان کې رخصتي وي، امین سفارت ته زنګ وواهه. نومړي د سفارت له عادي شمېرې ځخه کار اخیستی و. تیلفون ته ناست سړی په پارسي نه پوهېده او په دې هم نه پوهېده چې چا او ولې زنګ وهلی. له نېکه مرغه په دغه شیبه کې د شوروي د کلتوري مرکز مرستیال او ختیځ پوه، بودرین Budrin د ده له څنګ څخه تېرېده. نومړي ده ته غوږ ورکړه چې «له دغه بهرني سره وغږیږي»

امین: *سلام ملګریه، زه حفیظ الله امین یم. د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د ولسمشر لومړی مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر. ما هڅه وکړه چې له نباغلي پوزانوف سره په اړیکه کې شم، خو چا غوږ اوچته نه کړه.*

بودرین: *سلام ملګری امین. زه په کابل کې د شوروي اتحاد د کلتوري مرکز مرستیال، روسلان بودرین یم.*

امین: *ملګری روسلان، زه غواړم ستاسې له سفیر سره خبرې وکړم. زه غواړم چې د لیدو لپاره یې ما ته ژرترژره وخت وټاکل شي. دغه کار به ته وکړې؟*

بودرین پر غوږی لاس کېښود او تیلفون ته له ناست سړي څخه یې وپوښتل: «سفیر چېرته دی؟»

هغه ورته وویل: «نغلو ته د کب نیولو لپاره تللی دی. ماښام ته بېرته راځي.»

ورپسې بودرین امین ته وویل: «ملګری امین، زموږ سفیر اوسمهال په خپل استوګنځي کې نه شته. نومړی د کابل په سویل ختیځ کې د افغان-شوروي د همکاریو له یو مهم ځای څخه کتنه کوي. ډېره شوني ده چې وروسته له غرمې بېرته راشي.»

امین ورته وویل: «ملګری روسلان، زه په خپل دفتر کې کار کوم او سفارت ته د ده بېرته راتګ ته تم یم.»

کله یې چې بودرین ته خپله د تیلفون شمېره ورکړه، امین له ده سره خبرو ته دوام ورکړ: «ملګری روسلان، زموږ د انقلاب په اړه څه فکر کوې؟» بودرین چې په سیاسي خبرو کې ښه وتلی و او په ډاډ یې خبرې کولې ځواب ورکړ: «زما په اند د غویي انقلاب د یوې چټکې پرمختګ کوونکې ټولنې او نوي افغانستان په لور پرېکنده ګام کېدای شي.» امین بیا وپوښتل: «ولې دې د کېدای شي کلیمې وکارولې؟ ایا دا په دې مانا ده چې زموږ په نیت او د ا خ د ګ په نوښتګرې ورتیا اړنګ لرې؟» بودرین ځواب ورکړ: «نه، ملګری امین. ما ځکه کېدای شي وویل چې ستاسې په هېواد کې فیوډالان ډېر ځواکمن دي او بل دا چې د نړیوالې امپریالېستي کړی ځواب به ډېر اکاړ وي. دوی به هر څه ته لاس واچوي چې د افغانستان پرمختګ ودروي. زما په اند تاسې او ستاسې ملګري ډېر کار په مخ کې لرې.» امین ورته وویل: «زه په بریا کې هېڅ اړنګ نه لرم که چېرې شوروي اتحاد اړینه مرسته راسره وکړي. پوهېږې ملګری روسلان، زه ډېره هیله لرم چې له تا سره مخامخ وګورم چې د شوروي اتحاد د کلتوري مرکز د کارونو په هکله په تفصیل خبرې وکړو.

www.samsoor.com

هو ریښتیا، ته زموږ په ژبه ډېر ښه غږېږې او زما په اند ته ډېر ښه سړی یې. زما دفتر ته راشه، راځه چې سره وګورو. کولای شې په هغه شمېره راته زنګ ووهې چې د سفیر لپاره مې درکړه، زه به سملاسي ګاډی درپسې ولېږم.» ورپسې نوموړي غوږی کېښودله.
روسلان بودرین سمدلاسه د سفارت له دویم منشي سره اړیکه ونیوه. دیمتري پرته له ځنډ څخه د سفارت د چوپړونو ودانۍ ته لاړ. روسلان د امین د تیلفون او له ده سره یې د خبرو په اړه ورته وویل. ورپسې بودرین او روریکوف د هرکلي په دالان کې تر ماښامه د شطرنج لوبه وکړه. دوی د سفیر راتګ ته تم وو او د لوبې په ترځ کې بودرین دغه خبره یاده کړه: «زه نه پوهېږم چې څنګه د یو هېواد د بهرنیو چارو وزیر پخپله له عادي تیلفون څخه یو بهرني سفارت ته زنګ وهي او له یو کلتوري مامور سره په خبرو اخته کېږي. سربېره پر دې، نوموړي د خپل انقلاب په هکله زما د اند غوښتنه وکړه او ما ته یې د لیدلو بلنه راکړه. ته راته ووایه، دیمه Dima، ګرومیکو Gromyko (د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزیر) به په دې ښه یو بهرني سفارت ته زنګ ووهي او له داسې چا سره به خبرې پیل کړي چې حتی دیپلوماتیکي موقف ونه لري؟ فکر نه کوم چې داسې کار به شونی وي.» دیمتري ورته وویل: «دغه افغان مشران تر اوسه سیاسي ځوکیو او پرتوکولونو په فساد نه دي ککړ کړي. دوی د مقام په کچه او پروتوکول نه پوهېږي او د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره، د دې پروا هم نه لري چې له چا سره خبرې کوي. دوی داسې خلک نه دي لکه ته یې چې په سفارت او یا د مسکو په لوړپوړو دفترونو کې وینې. سبا ته امین ته زنګ ووهه، زه ډاډه یم چې یو ګاډی به درپسې راولېږي او له تا سره به وګوري. دی به وړاندیز درته وکړي چې تر هغه وخت پورې د کلتوري مرکز د پروپاګندي فعالیتونو په ښه والي کې درسره مرسته وکړي تر څو یې چې اړتیا وي، خو که ته په یوه یا دوو میاشتو کې زنګ ورته ووهې، تر ټولو ښه پایله به یې دا وي چې دی داسې وښیي چې هېڅ کله یې ستا په هکله نه دي اورېدلي او تا هېڅ نه پېژني، خو زه په ریښتیا درته وایم چې زنګ ورته ونه وهې. که دا کار وکړې، الکساندر میخیالویچ او نور ملګري به ستا په موخه پوه نه شي. ته باید له دغه کار څخه ډډه وکړې.»
کله چې پوزانوف بېرته سفارت ته راغی، بودرین په لنډه توګه مالومات ورکړل او ورپسې یې روریکوف ته بلنه ورکړه چې له ده سره مل شي. دی خپل دفتر ته لاړ چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر ته زنګ ووهي.
امین نه یوازې په بهرنۍ پالیسۍ کې نوښتونه کول بلکې د واک له لومړۍ ورځې څخه یې د واکمنۍ په اډانه کې هر پرمختګ له نېږدې څاره: په پوځ، په کورنیو چارو او په امنیتي ادارو کې. پرته د ده له منظورۍ څخه  هېڅ ګمارنه نه شوی کېدای. نوموړي له دفاع وزارت څخه پیل وکړ. هلته یې نه یوازې د کارمل ملاتړي بلکې له سیاسي اړخه ناپېیلي خلک له مهمو ځوکیو وشړل. پرچمیان له ځوکیو ګوښه کړل شول او پر ځای یې د دوی لاس لاندې وګمارل شول. د دغو لاس لاندو ډېری د پغمان پښتانه خروټي، د امین خپلوان وو.  په عین وخت کې، د هغه افسرانو په ګډون چې په فعاله توګه یې د شوروي او افغان پوځونو

تر منځ د اړیکو په وده کې مرسته کړې وه، د پخواني رژیم ډېر درانه جنرالان ونیول او یا گوښه کړل شول. پخوانی لوی درستیز ډگرجنرال فاروق چې وروسته د پوځي اکاډمۍ/ حربي پوهنتون مشر و او د مارشال ژوکوف Zhukov شخصي ملگری هم و د پلچرخي په زندان کې یې سړه او مرداره خونه ځای شو. د ۱۹۷۸ کال د نومبر په پای کې د ویکتور بابنوف له بې کچې هڅو وروسته، دغه بوډا او ناروغ او یو ترټولو وتلی پوځي سړی له زندان څخه ازاد کړل شو.

جنرال زیلتین هک پک شو چې کابل ته له رسېدو سره سم  بلنه ورکړل شوه چې د بهرنیو چارو له وزیر حفیظ الله امین سره لیدنه وکړي. اقبال وزیري، په افغان پوځ کې د نوي سیاسي ریاست مشر چې زیلتین یې له هوایي ډگر څخه راوستلو، وویل: «دا انقلاب دی، موږ ډېر کارونه په مخ کې لرو. ملگري امین پخپله د پوځ د مدیریت او له پولیسو او امنیتي ادارو سره د مرستې دنده په غاړه اخیستې ده. هغه ټوله ورځ او شپه کار کوي.»
حفیظ الله امین د ویسلي پېتروویچ سملاسي خوښ شو. نوموړی سپکمن، د ډېرو نظریو خاوند سړی و چې غوښتل یې
ژرترژره خپلې نظریې په کار واچوي. د ده هرې خبرې سپک څرگنداوه. کله یې چې خپله د زړه له کومې خوښي د نوي سیاسي سلاکار په راتگ څرگنده کړه، امین په سپکمنه بڼه په داسې حال کې چې اقبال ته یې، چې ژباړه یې کوله، په بې صبرۍ کتل، خپلې تمې زیلتین ته داسې څرگندې کړې: «ملگری جنرال، تاسې پوهېږی چې موږ خپلې لویې هیلې او تمې پر پوځ باندې تړلې دي. د شوروي انقلاب بېوزلو بزگرانو او خواریکښو گارگرانو ترسره کړ، خو په افغانستان کې پوځ انقلاب جوړ کړ. افسرانو او عسکرو په افغانستان کې د خواریکښو ونډه ولوبوله. دغه پوځ باید د د داسې خلکو ځان شي چې له دوی څخه د انقلاب سرسخته او هوډمن دفاع کوونکي جوړ شي. زه له تاسې څخه دا نه پټوم چې وضعیت پېچلی دی، د غویي له ستر انقلاب وروسته، موږ دې ته اړ وو چې کابو ټول پخواني قوماندانان وشړو او ټول هغه افسران او جنرالان گوښه کړو چې باور پرې نه شوی کېدای. د دوی ځای ناستي ځوانان او لړلوستي خلک شول. ته به ژر له دوی سره وگورې. په دې مه حیرانېږه که ځینې یې ورږ ښکاره نه شول. دوی ته باید روزنه ورکړل شي او وړ کسان ترې جوړ شي؛ نو په دې برخه کې د پوځ سیاسي څانگه باید یوه پرېکنده ونډه ولوبوي. دغه ملگری اقبال دی. گوند دنده ورکړې چې د پوځ سیاسي څانگه جوړه کړي. په دې اندېښنه مه کوه

www.samsoor.com

چې نوموړی ملکي سړی دی. ملګري اقبال د مسکو په دولتي پوهنتون کې د فلسفې په پوهنځي کې زده کړې کړې دي. دی د ګوند یو پخوانی او اعتباري غړی دی. په پوځ کې د پټو فعالیتونو له کبله داود بندي کړ چې له کبله یې ښځه او ماشومان له لوږې مړه شول. د اقبال په څېر خلک زموږ د ګوند تر ټولو ښه استازولي کوي.» زېلتین په دې خوښ شو چې اقبال د امین د وروستیو خبرو په ژباړه کې ستونزې لرلې، مخ یې سور شو، سربداله شو او مخکې له دې چې چوپ شي ژبې یې بندېدل پیل کړل. امین ورته امر وکړ چې ژباړې ته دوام ورکړي: «موږ له خپلو روسي ملګرو څخه څه نه پټوو. دوی باید پوه شي چې څوک ریښتیني اتلان دي او څوک د اتلولۍ پېښنې کوي. موږ په پوځ کې د سیاسي کار لپاره کدرونه غوره کړي دي. زه هیله کوم چې ته له دوی هر یو سره په جلا توګه وګورې او بیا یې په اړه خپل اند له ما سره شریک کړه. که دې څوک خوښ نه شول، ما ته ووایه څو ستا ارزونه په پام کې ونیسو.»
امین خپل مېلمه ته د ځان په هکله هم مالومات ورکړل، هغه دا چې په امریکا کې یې زده کړې کړې دي او په انګرېزي ژبه ښې خبرې کولای شي. نوموړی په ګوند کې د حالاتو په هکله هم وغږېد: «ګوند په شمېر او ځواک کې مخ پر وده دی او یو جدي سیاسي ځواک ترې جوړېږي.» دوی سلا وکړه چې هره اونۍ به سره ګوري «خو که چېرې داسې کومه پوښتنه ولرې چې سملاسي ځواب ته اړتیا ولري، هر وخت ما ته راتللی شې.»
له دغه غونډې وروسته، اقبال، زېلتین د تره کي لیدلو ته بوت. تره کی د امین په پرتله ډېر بل شان ورته ښکاره شو. د ګوند عمومي منشي د زېلتین په ذهن کې د یو داسې بابا انځور جوړ کړ چې په نرمۍ یې خبرې کولې او موسکا یې تل په خوله کې وه، د ده شخصیت د امین له جدي شخصیت سره توپیر درلود. داسې برېښېدل چې تره کي بیړه نه درلوده او دې ته چمتو و چې د کابل د هوا او د شوروي په وسلوال پوځ کې د سیاسي افسرانو د ونډې په ګډون، د هرې موضوع په هکله له خپل مېلمه سره خبرې وکړي. د زېلتین د کار په هکله د تره کي خبرې د حفیظ الله امین خبرې ته ورته وې: چې د شوروي ماډل پر بنسټ، په افغان پوځ کې یوه سیاسي څانګه جوړه کړي څکه چې پوځ ته د رژیم د بنسټیز ملاتړ دنده ورکړل شوې وه.
زېلتین راتلونکې څو ورځې د غوره شوو افسرانو لیدلو ته ځانګړې کړې. د دغه افسرانو شمېر شاوخوا دېرش کسه و. ده ډېر ژر دوه کسه وړ ونه بلل. یو یې د تره کي یاور، د پوځي هوایي ترانسپورت پنځه ویشت کلن ګلاب زوی و. دی د افغان پوځ په سیاسي ریاست کې یوې لوړې څوکۍ ته غوره شوی و. د مرکې په ترڅ کې ګلاب زوی وویل چې غواړي په پوځ کې د سیاسي کار سرپرېږه، د ولسمشر د یاور په توګه هم کار وکړي. د مرکې په ترڅ کې څرګنده شوه چې دغه انقلابي د ګوند له ایډیالوژیکي کار سره ناټ نه لري؛ نو نوموړی د دغه دندې لپاره، د زېلتین خوښ نه شو. زېلتین ورته وویل: «داسې نه کېږي، ته باید له دغو دوو څخه یوه خوښه کړې.»

*گلاب زوی: زه یو باوري مرستیال لرم چې ډېرې چارې به هغه ترسره کوي.*
*زېلتین: ته نه پوهېږې چې دغه څوکۍ چې ته غواړې ترلاسه کړې څومره مهمه ده. د دغسې څوکۍ خاوند په وسلوال پوځ کې د سیاسي څانګې د زړه او ماشین په څېر دی.*

ګلاب زوی وخندل او ویې ویل: «ګورو به.»

جنرال زېلتین خبر نه و چې ګلاب زوی عمومي منشي ته د زوی په څېر و او ډېر پرې ګران و. د دغې ورځې په سبا، تره کي هڅه وکړه چې زېلتین په نرمۍ قانع کړي چې د ګلاب زوی غوښتنې ومني، خو زېلتین سرتمبه پاتې او قانع نه شو: «که غواړې یوه کارنده څانګه جوړه کړې، بیا نو پر ما باور وکړه، خو که غواړې هسې په نوم دغسې څانګه ولرې، بیا نو چې څه د زړه غواړې هغه وکړه.»

تره کي د زېلتین خبرې ومنلې؛ نو د ګلاب زوی پرځای د امین وراره/خوریې چې د لېننګراد د مخابراتو له پوهنځي فارغ شوی و وګمارل شو. په دې توګه زېلتین پرته له دې چې کومې ځانګړې هڅې وکړي، د امین ډېر خوښ شو.

زېلتین له تره کي سره هم ښې اړیکې ساتلې. هېواد مشر د خپلو نورو شوروي ملګرو په پرتله، له زېلتین سره ډېرې لیدنې کتنې کولې. حتی د پوځي سیاسي سلاکارانو مشر، جنرال ګرېلوف په دومره غیر رسمي بڼه له ارګ څخه لیدنه نه شوی کولای لکه زېلتین چې کولې. تره کي او امین دا نه شوی هېرولی چې ګرېلوف د داود داسې اعتباري همکار و چې په ټول هېواد کې د یونونو په ترڅ کې ورسره و.

زېلتین ډېره هڅه وکړه چې افغان مشران دې ته قانع کړي چې لیو نیکولایوویچ ګرېلوف د انقلابي بدلونونو روحیې ته وفادار دی او نوموړی چې ډېره پوځي تجربه لري، دوی ته به ګټور وي. بلاخره تره کي او امین د ګرېلوف شتون ومانه، خو هېڅ کله یې باور پرې و نه کړ.

زېلتین په لېوالتیا د غوره شوو افسرانو روزنه پیل کړله. ده ته د یو نصاب جوړول اسانه نه وو او نه پوهېده چې له کوم ځای څخه یې پیل کړي. د درس لومړنۍ او تر ټولو مهمه موضوع باید څه وي؟ د شوروي مکتب د سیاسي کارکوونکي په توګه نوموړي د موضوع وړاندیز په دغه سرلیک وکړ: «د اکتوبر ستر انقلاب، تاریخي مانا، زده کړې او پایلې یې او د پایلو د خوندي ساتلو اړتیا یې» د شوروي د سیاسي مامور په اند دغه سرلیک ډېر ښه برېښېده، خو امین اړنګمن و: «څوک به په دې اړه لیکنه وکړي؟ زموږ په ګوند کې هېڅ شی تر اوسه ثبات نه لري او د ډېرو موضوعګانو په اړه ډېر لږ وضاحت شته. راځئ چې صبر وکړو.»

ډېره شونې ده چې امین په دې اند و چې دی به بلاخره د غوبي انقلاب د بریا الهام ورکوونکی وبلل شي، خو اوس باید دغه مقام له تره کي، قادر او وطن جار سره شریک کړي. سربېره پر دې، کېدای شي چې اوس کارمل هم ګډوډي جوړه کړې وی. وروسته له لږ سوچ څخه، ویسلي پېتروویچ د یو بل سرلیک وړاندیز

www.samsoor.com

وکړ: «زموږ شمالي ګاونډی، شوروي اتحاد.» امین په دغه وړاندیز خوښ شو او له زېلتین څخه یې وغوښتل چې د دغه سرلیک پر اړوند موضوعګانو دومره ډېر وخت تېر کړي څومره چې ورته اړتیا وي. زېلتین لس ساعته دغه سرلیک ته ځانګړي کړل او ژر پوه شو چې په دې هکله یې پرېکړه سمه وه. افغانانو د نوموړي لکچر ته په ډېر ناټ غوږ نیوه او له شوروي اتحاد سره یې مینه ډېره شوه. کېدای شي چې هر هغه څوک چې دغه کتاب اوس لولي باور و نه کړي چې ولې افغان افسرانو ته شوروي اتحاد په زړه پورې و، خو لوېدیځ ورته دومره سترکوکو (جذاب) نه و. په حیرانوونکې توګه، هغه افغانان چې د ملکي، پوځي او یا په پولیسي چارو کې امریکایي او د لوېدیځې اروپا (ډېری د جرمني فدرالي جمهوریت) پوهنتونونو ته د زده کړې لپاره لېږل شوي وو، د بېرته راتګ سره یې په لوېدیځ کې د ژوند بڼې په هکله ناهیلتیا او کله کله دوښمني څرګندوله. د دغو بدو ننګېرنو له کبله به دوی په خوښۍ د شوروي د څارګرې اداري اجنټان او د ا خ د ګ غړي شول. دوی د خپلو هغو ملګرو په پرتله چې په شوروي کې یې زده کړې کړې وي، ډېر شوروي پلوه وو.

ولې له لوېدیځې ټولنې څخه دومره کرکه؟ کله به چې افغانان په دې اړه وپوښتل شول، دوی به ډېری وخت د لوېدیځ پر وړاندې د خپلې بدنیتۍ وجه نه شوی څرګندولې. ځینو به بداخلاقي او د وجدان او درناوي ګونګې نظریې یادولې. ځینو نورو په لوېدیځ کې افغان پوځ ته په ټیټه سترګه کتل یادول. افغان افسرانو د خپلو کتنو شیره نه شوی بیانولی، خو د یوې دودیزې ټولنې خلکو د لوېدیځ له لوري د دودیزتوب د تباهۍ او پر ټولنتوب باندې د ځان ځانۍ له برلاسۍ څخه کرکه کوله. په عین وخت کې، په شوروي اتحاد کې د دودیزه ټولنتوب له ارزښتونو څخه په پام ساتنه کېدله او د کمونېزم جوړونکو په اخلاقي قانون کې ځای ورکړل شوی و.

زېلتین له ډېرو نورو هغه شوروي سلاکارانو سره توپیر درلود چې افغانستان (او انګولا،اېتوپیا، کیوبا او داسې نورو هېوادونو) ته تللي وو چې پیسې ټولې کړي. ده خپله دنده په ډېر مسولیت ترسره کوله او ډېر ژر له بېخوندو چارو سره لاس اوګرېوان شو. د بېلګې په توګه، دی پر خپلو ډېرو همکارانو پوه شو چې د دې پرځای چې په داسې انقلابي لېږد پړاو کې له تمې سره سم لس، دولس ساعته کار وکړي، دوی به تر غرمې په خپلو دفترونو کې پاتې وو او له یوې لویې غرمنۍ او څو پیالو وتکا (د مکروب وژنې لپاره) څخه وروسته به خپلو کورونو او یا د هغه همکارانو لیدنې ته لاړل چې دوی ته ورته کاري اخلاق یې لرل. نوموړي ته د دې لیدل تر ټولو بېخونده وو چې حتی ډګر جنرال ګرېلوف په همدغه بڼه کار کاوه؛ نو په نېغه توګه یې ګرېلوف ته دغه ډېکه ورکړه: «ستا مخته ډېر کارونه پراته دي، خو له غرمنۍ وروسته ته هېڅ کله په دفتر کې نه وې!» ګرېلوف هک پک او سربداله شو او هڅه یې وکړه چې دا په یوه ټوکه واړوي، خو داسې ستونزې حل نه شوې. یوه اونۍ وروسته، زېلتین عسکري کلوپ ته لاړ. دلته د شوروي پټې مخابراتي وسیلې ځای پرځای شوې وې. د ورځې په نیمایي کې زېلتین د شوروي لوړپوړي چارواکي ولیدل چې له

بخار خوني څخه تازه راوتلي، څادر تری تاو په چمن کې ناست بیر څښي او بنداړ کوي. د شوروي پوځي سلاکار ماموریت مشر ګرېلوف هم په دغه ډله کې و. ویسلي پېتروویچ ځاځمن (په غوسه) شو، ګرېلوف يې ښنډې ته کړ او ورته ویې ویل: «زه لوی درستیز ته تیلفون کوم او ستا د چلند په اړه ورته وایم. تا به په څلورویشتو ساعتو کې له افغانستان څخه وباسي.» ورپسې زیلتین د مخابراتو کوټې ته لاړ. ګرېلوف چې څادر تری تاو و ورپسې منډه وکړه او په زاریو يې ورته وویل: «زه د یو کمونست او شوروي افسر په توګه ژمنه کوم چې بیا به داسې څه تکرار نه شي. ما وبښه.»
بیا داسې څه پېښ نه شول. شپږ میاشتې وروسته ګرېلوف له زیلتین څخه مننه وکړه: «مننه پېتروویچ، زه دې له لوی جنجال څخه وژغورلم.» خو زیلتین په کابل کې د شوروي په څارګرو افسرانو کې ډېر دوښمنان پیدا کړل.
د افغانستان په هکله مالومات له بلې لارې مرکز ته لېږل کېدل چې ستونزې يې رامنځته کړې. ویسلي پېتروویچ ډېر ځلې هڅه وکړه چې خپل همکاران وډوماري چې خپل راپورونه سره همغږي کړي مخکې له دې چې مسکو ته يې ولېږي. د حالاتو بېلابېلې ارزونې وزارتونه سربدالي کوي. که څه هم دوی له یو بل سره ګړنۍ ژمنه کړې وه، د کې جي بي او د پوځي څارګرې ادارې د څانګو مشرانو په مسکو کې خپلو مشرانو ته اړېېچن راپورونه لېږل. زیلتین، ښایي په ساده ګۍ، په دغسې حالاتو خپه و: «دا څنګه کېدای شي؟ د دوی کمونستي صداقت چېرته دی؟ ما فکر کاوه چې موږ په ځینو ځانګړو شیانو همغږي یوو» خو د زیلتین د مسلکي او شخصي صداقت ایډیالونه او تمې ځینو هغو افغانانو ولړزولې چې ده ورسره کار کاوه. دغسې یو افغان د دفاع وزیر عبدالقادر و. کله چې زیلتین د لومړي ځل لپاره ورسره ولیدل، قادر ورته وویل: «پر ما بشپړ باور مه کوه، ملګری جنرال. زه به دې وغولوم او په اسانۍ به دروغ درته ووایم. ته زموږ په ژبه او د افغانانو په ځانګړتیاو نه پوهېږې؛ نو زه تا ته دغه مشوره درکوم: په ټول هغه څه چې درته ویل کېږي، باور مه کوه.» قادر پوه شو چې زیلتین د ده په ټولو خبرو پوه نه شو؛ نو ورته ویې ویل: «تاسې شورویان چې څه مو په زړه کې وي همغه وایی، خو موږ افغانان بل ډول یوو. خبرې هېڅ مانا نه لري، زموږ پر خبرو باور مه کوه.» زیلتین ورته وویل: «نو پر څه باندې باور وکړم؟» قادر له نیغ ځواب څخه ډډه وکړه او ویې ویل: «که دلته لږ ډېر ژوند وکړې، زما پر مطلب به پوه شې.»
زیلتین ته قادر یو مرموز کس ښکاره کېده. نوموړی ټیټکی او هدوړ و. زیږ بزګري مخ او داسې چالاکې سترګې يې لرلې لکه دوی چې خپل بېل ژوند ولري. د نوموړي سترګو هېڅ کله د ده ریښتینې ننګېرنې نه ښکاره کولې. د دفاع وزیر خلقی یا پرچمی نه و. خلکو ویل چې دی خپله لوبه په خپله لوبوي.

وروسته د غونډې په ترځ کې قادر بیا دغه خبرو ته را ونه ګرځېد، خو په پوځ کې د سیاسي کار په اړه یې ټوکې کولې. نوموړي په داسې حال کې چې جدي برېښېده، وویل: «دا څومره بد وو چې موږ مخکې په پوځ کې سیاسي کارکوونکي نه لرل. زه اوس پوه شوم چې دا یوه لویه ناپامي وه، خو ته به په دې کې راسره همغږی وې، ملګری جنرال، چې اتومات ټوپک باید له هر سیاسي مامور څخه مخکې خبرې وکړي.» زپلتین په ځواب کې په ارامۍ ورته وویل: «نه، اړینه نه ده چې باید داسې وي. کله کله د اتومات ټوپک په پرتله سمې خبرې په سم وخت کې شخړې ښې پای ته رسوي او کېدای شي چې سړی هېڅ ډزو ته اړ نه شي.» قادر وخندل او ویې ویل: «ښه، ښه.»

په کابل کې د څارګرۍ څانګې مرستیال اورلوف مروزوف، کېتایوف خپل دفتر ته ور وغوښت او یوه دلۍ په لیکمن لیکل شوي لاسوندي یې مخې ته کېښودل: «دا د ا خ د ګ د مرکزي کمېټې د سیاسي بېرو د پرونۍ عمومي غونډې په هکله لاسوندي دي.» کېتایوف وپوښتل: «روسي ژبې ته چا وژباړل؟» مروزوف ځواب ورکړ: «د سفارت مامورینو. خوښ یم چې دوی به سر له اوسه له ژباړې سره سروکار ولري. د سیاسي بېرو د عمومي غونډې په اړه سفیر مخکې مالومات لېږلي. ما ولوستل. لیکل شوي وو چې دغه غونډه په ګوند کې د بشپړ یووالي په راوستلو کې یو لوی ګام ګڼل کېږي، خو که رېښتیا درته ووایم، زه په اړنګ کې یم. ته څه فکر کوې؟» کېتایوف دغه لاسوندي واخیستل او عمومي کوټې ته لاړ، په یوه څوکۍ کې کښېناست، یو سګرېټ یې ولګاوه او د لاسوندو لوستل یې پیل کړل: د مرکزي کمېټې د سیاسي بېرو غونډه ترسره شوه. تره کي د «د غویي انقلاب او د ا خ د ګ دندې» تر سرلیک لاندې یوه وینا وکړه. داسې برېښېدل چې دغه وینا په خپله تره کي لیکلې وه. د تره کي د وینا غوښنه برخه د کېتایوف په اند دا وه چې د پښتون قوم د دموکراسۍ اصول (چې پر ټولو موضوعګانو د جرګې له لارې پرېکړې کېږي) او د یو دموکراتیک سوسیالېست هېواد په هکله د مارکسېستي-لېنني تیوري له یو او بل سره سمون لري. تره کي زیاته کړه چې نور هېوادونه، په ځانګړې توګه اروپایي هېوادونه لسیزو او حتی پېړیو ته اړتیا لري چې یوه سوسیالېستي ټولنه جوړه کړي، خو افغانستان همدا اوس له کلتوري اړخه یو دموکراتیک سوسیالېست هېواد ته ګروهنه لري ځکه چې وګړي یې، په تېره بیا پښتانه همدغسې ذهنیت لري. د وینا په پای کې تره کي وړاندیز وکړ چې مرکزي کمېټې ته ځینې نوي غړي ومنل شي او دا هغه افسران دي چې د غویي انقلاب بریا یې شونې کړه.

وروسته بيا امين د ترکي سفير حضور سره ومنلو چې په خپل بل هم پاچې د کارمل وينا وکړه. ده له ټولو غوښتنه وکړه چې د ا خ د ګ د غړو ترمنځ د همکارۍ اړتيا ته پام واړوي. ده دا د منلو وړ ونه ګڼله چې په لړاکۍ (بې ادبۍ) د ګوند د مشرانو په چارو کې له دې کبله لاس وهنه کېږي چې دغه مشران د ګوند له خلقي ډلې څخه نه دي. پرته له دې چې په ځانګړې توګه د تره کي ليکنه «د پرمختګ سوسياليستي ماډل ته د افغانستان ګروهنه» ونګوي، کارمل د برخوالو پام هغه ټکو ته واړاوه چې سوسياليزم ته د افغان ټولنې د پرمختګ په لاره کې خنډونه جوړوي. نوموړي د امپرياليستي هېوادونو شيطاني دسيسې، کورنی ارتجاعي سياست او د افغانستان وټه ييز شاته پاتې والی د بېلګو په توګه ياد کړل. کارمل د مرکزي کمېټې له غړو وغوښتل چې کورني ارتجاعي ځواکونو لکه فيوډالانو او قومي او مذهبي مشرانو ته د دوښمن په سترګه ونه ګوري. ده خواست وکړ چې د مخالفينو وړلو ته لاس وانه چوي او پر ځای يې د دوی داسې درناوی وکړي لکه ښه ماشومان چې د خپلو هغه بوډا پلرونو کوي چې د زاړه فکر خاوندان دي.

بيا د امين وار راغی. نوموړي د تره کي د نظريو بشپړ ملاتړ وکړ، خو دې ته په نغوتې سره چې کارمل د «د افغان ولس له وينو څښونکو» سره د خواخوږۍ وجې لري، کارمل ته يې ګوته ونيوه چې د «کورني ارتجاعي ځواکونو» پر وړاندې له زغم څخه کار اخلي. ده د خلق او پرچم د کليمو د نارواتوب په ارزښت ټينګار وکړ چې مخکې يې ګوند وېشلی و. امين اعلان وکړ: «اوس په افغانستان کې خلق او پرچم نه شته. زه غوښتنه کوم چې دغه ويې نه يوازې د ګوند په غړو کې بلکې په رسنيو کې هم منع کړل شي. اوس زموږ ګوند يوازې د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند دی. موږ ټول د دغه ګوند غړي يو. هغه څوک چې په دې اند نه دي، کولای شي زموږ له ليکو ببل شي.»

کېتايوف له ځان سره فکر وکړ: «په زړه پورې چل، په دې توګه امين د دغه ويې منع کېدل د کارمل او د ده د خلکو پر ضد کاروي. په پارسي کې د ګوند نوم حزب دموکراتيک خلق افغانستان لوستل کېږي چې د خلق کليمه د ګوند په نوم او شعارونو کې پاتې کېږي؛ نو په دې توګه يوازې د پرچم کليمه منع کړل شوه.»

کېتايوف په دې اړه يو تېلګراف وليک. په پايله کې يې ليکلي و چې د دې پرځای چې د سياسي ببرو عمومي غونډه د ګوند د يووالي بنسټ غښتلی کړي، د خلق او پرچم په اړيکو کې يې نور درزونه رامنځته کړل چې پايله به يې د ګوند يو نوی ببلتون وي. نوموړي د تېلګراف متن اورلوف مروزوف ته وښود او وروسته له لوستلو مروزوف داسې تبصره پرې وکړه: «د افغان ژبو په کليمو به مرکز ډېر پوه نه شي، خو د شننونکي په توګه، تا خپل کار ډېر سم ترسره کړی.» ورپسې خارګر مرستيال او کېتايوف دغه تېلګراف اوسادچي ته يووړ. نوموړی چې له ناروغۍ او رخصتي څخه وروسته لږ مخکې له مسکو څخه راغلی و، په ونګه تکره

www.samsoor.com

ښکاريده. ده دغه تيلگراف چې مرکز ته ليږل کيده سملاسي لاسليک کړ. د دغې ورځې په سبا، په کابل کې د کې جي بي مېشت څارگر مشر د گاډي چلوونکي او تخنيکي پرسونل په گډون خپل مامورين د يوې غونډې لپاره راټول کړل. نوموړي په لنډه توگه چې وياړ پکې نغښتی و خپلو مامورينو ته وويل چې د کې جي بي ريس، يوري ولاديميروويچ اندروپوف، د شوروي د کمونست گوند د مرکزي کمېټې منشي، بوريس نيکولايوويچ پنومروف او ډېرو نورو گوندي او دولتي لوړپوړو چارواکو په مسکو کې د ده د اقامې په ترخ کې له ده سره ليدنې وکړې. اندروپوف له ټولو څارگرو مامورينو وغوښتل چې خپلې ټولې څارگرې سرچينې په کار واچوي چې نوی رژيم د کورني او بهرني سياسي حالاتو د فشار پر وړاندې غښتلی کړي. اندروپوف دا خبرداری هم کړی چې هېڅوک بايد په هېڅ وجه د يو خپلواک هېواد په کورنيو چارو کې لاس ونه وهي او دا يادونه يې هم وکړه چې څارگر مامورين بايد د ا خ د گ د ننه د شخړو د حل لپاره منځگړي نه شي که څه هم د غويي له انقلاب وروسته دغه شخړې ډېرې جدي شوې دي. په عين وخت کې اندروپوف غوښتنه وکړه چې د ا خ د گ د پرچم ډلې له استازو سره د پټو اړيکو په ساتلو يو ځل بيا فکر وکړو. که چېرې تره کی له پرچميانو سره زموږ د پټو اړيکو او د رژيم پر ضد د پټو کړنو په هکله خبر شي؛ نو زموږ تر منځ د باور په شتون به يو لوی گوزار وشي.

ويلير گورېلوويچ له کريچکوف سره د ليدنې په هکله هم وغږېد. ډېره شونې وه چې کريچکوف د پرچميانو په اړه د اندروپوف د اړنگ په هکله خبر و؛ نو ځکه يې وويل چې له ټولو پرچمي اجنټانو سره بايد د اړيکو ساتل ودرول شي. نوموړي دا دستور هم ورکړ چې له ټولو هغه خلکو سره اړيکې وشلوي چې د اجنټانو په توگه چمتو کړل شوي او له پرچميانو سره اړيکې لري. کله يې چې په مسکو کې د خپلو غونډو، بنډارونو او نورو خبرونو په هکله خپل مامورين خبر کړل، اوسادچي وويل چې د ځانگړو موضوعگانو په اړه به له هر مامور سره په جلا توگه مخامخ خبرې وکړي.

ويلير گورېلوويچ په مسکو کې د خپلې رخصتۍ په هکله خبرې وکړې، خو لکه چې هېڅ د زړه ناروغي ور پېښه شوې نه وي، نوموړي د زړه د درېدو په تړاو د خپلې ناروغۍ او درملنې په هکله هېڅ کومه يادونه و نه کړه.

الکسي لومړنی کس و چې ويليور گوريلوويچ ور وغوښت او ورته ويې ويل: «الکسي، ته پوهېږې چې ښايي ډېر ژر له افغانستان څخه لاړ شې. څومره وخت کېږي چې دلته يې؟»

پېتروف: *څه باندې څلور کاله.*

اوسادچي: *دلته له کار څخه ستړی يې؟*

پېتروف: *نه پوهېږم، د دې ويل سخت دي.*

*اوسادچي: نبه نو، دلته تا خپله دنده ډېره ښه ترسره کړه. په مسکو کې ستا پر ځای ناستي کار کېږي. تا ډېر څه وکړل او د هغه اعزاز ور يې چې درکړل شو. ته د کې جي بي مشرتابه ته لوی ارزښت لرې. د تاس د خبريال په پلمه د خپله دنده ډېره ښه ترسره کړه او زه په دې هم پوهېږم چې د تاس مشرتابه ستا له کار څخه خوښ دی. زه باور لرم چې په خپل کاري ژوند کې به وده وکړې. ته خو پوهېږې چې په کابل کې ستا شتون د ا خ د ګ په کړيو کې اندېښنې زېږولې دي. که چېرې د کارمل او تره کي تر منځ کومه شخړه رامنځته شي، دوی دواړه به د پټو چينلونو په وسيله تا ته منډې را وهي چې د دوی په استازولی د مسکو مشرتابه خبر کړې که څه هم دوی اوس په اسانۍ د اړيکو ښکاره وسيلې کارولی شي. دغه بالقوه تاوتريخوالي ته بايد تابيا نيول شوې وي. زما په خبرو پوه شوې، الکسي؟*

الکسي د هو سر وخوځاوه که څه هم د څارګر مشر د خبرو په اورېدو خپه شو. د ده هغه خبره په ياد شوه چې په دې وروستيو کې وېکتور بابنوف ورته کړې وه (دا به درته دومره ښه نه وي چې هغه خلک چې تا ته ډېر نبږدې دي، اوس د افغانستان مشران دي.) پېتروف د مرکز په دليلونو چې مشر يې ورته څرګند کړل پوه شو او پرته له دې چې ويې مني، بله چاره يې نه لرله، خو له کابل څخه په تګ کې زړغی و. دی پوهېده چې په نورو «ښو هېوادونو» کې به دنده ورکړل شي، خو ده ورسره ناڅ نه درلود. الکسي په پارسي ښه پوهېده، خو په انګرېزي ژبه په خبرو کې يې ستونزې لرلې. دی اروپا يا امريکا ته د تګ د خپګان په سوچ کې شو. دغسې ځايونو ته تګ به د سرې موقف اوچت کړي، خو دا په افغانستان کې د کار کولو له خوبمنی سره په پرتله کې ډېر پيکه ښکارېده.

وېکتور بابنوف دويم کس و چې څارګر مشر، ويلیور ګوريلوويچ خپل دفتر ته ور وغوښت. ده ترې وپوښتل: «وېکتور اندريوويچ، د اجنټانو په تړاو مې چې په غونډه کې خبرې وکړې، ته له خپل کوم پرچمي اجنټ سره اړيکې شلولی شې؟» بابنوف په کلکه خو په ارامه توګه ځواب ورکړ: «زه به له يوه سره هم اړيکې ونه شلوم، ويليور ګوريلوويچ. ته پوهېږې چې دغه اجنټان زما ملګري هم دي. ته له ما څخه هره غوښتنه کولای شې، خو دا راڅخه مه غواړه چې له خپلو ملګرو سره ناځواني وکړم.» ګوريلوويچ ورته وويل: «وېکتوره، زه نه غواړم چې ته داسې فکر وکړې چې دا زما غوښتنه ده. سربېره پر دې، زه پوهېږم چې ته يوازې يو پرچمي اجنټ هم نه لرې. زه اړ يم چې په رسمي توګه له تا څخه وپوښتم. ته خو پوهېږې چې دا د مرکز امر دی؛ نو د دې پر وړاندې څوک دليل نه وايي.»

دريېم کس سترستين و چې د خپل مشر دفتر ته وغوښتل شو. ګوريلوويچ په وچه ښه ورته وويل: «ولېري، د نويو حکمونو په رڼا کې ته بايد له خوست سره د اړيکو ساتل ودروې او له اجنټ ارتم Artem سره يې وشلوې.» سترستين چې دغه خبرو ته ځان ښه چمتو کړی و، همدغسې رټ ځواب ورکړ: «ولې؟» اوسادچي

ځواب ورکړ: «ځکه چې دوی پرچمیان دي.» سترستین بیا خبرې پیل کړې: «ویلیور ګورېلوویچ، فکر نه کوې چې له پرچمي اجنټانو سره د اړیکو شلول یوه تېروتنه ده؟ لومړی دا چې داسې کړنه زموږ څارګر کارونه له اعتبار څخه غورځوي. دغه حکم له دې وجې شوی چې مرکز د مالوماتو له بربنډېدلو او د ناکامۍ له شونتیا څخه په وېره کې دی. د ځینو دلیلونو له کبله د مرکز خلک فکر کوي چې له تا او مرکز سربېره، له اجنټانو سره زما پر اړیکو به نور خلک هم پوه شي. دوی ولې زموږ د وړتیا لږ ارزونه کوي؟ دوی څه شي په دې اند کړل چې خوست او ارتم به مالومات بربنډ کړي او یا د اجنټانو په توګه به زموږ سره خیانت وکړي؟ دویم دا چې زه نه پوهېږم چې مرکز ته ولې د ا خ د ګ د پرچم ډلې له لوري مالومات په زړه پورې نه دي. دا د پېچلو او خطرناکو دسیسو زانګو ده. موږ به څرنګه د دوی له پلان او نیت څخه خبر شو که موږ په دغه ډله کې له خپلو اجنټانو سره اړیکې ونه ساتو. که دوی سبا ته څه لېونتوب وکړي، مرکز به موږ ګرموي چې په هېواد کې له سیاسي پرمختګونو څخه ځان خبر نه ساتو. موږ به مسکو ته بیا څه وایو؟ ایا موږ به بیا دا لیکو چې تا، یعنی زموږ مشر، موږ منع کړي وو چې له خپلو پرچمي اجنټانو سره کار و نه کړو؟ ایا مرکز به دغه دلیل ومني؟ دریم، ولې مرکز وېرېږي چې تره کی او امین به زموږ د پرچمي اړیکوالو په هکله خبر شي؟ که څه هم دا ناشونې ده، راځه چې داسې یې وګڼو چې دوی خبر شول. زموږ ملګري، تره کی او امین، به یې وزغمي. سربېره پر دې، دوی به موږ ته ډېر تابع شي. دوی پرته له موږ څخه څه کولای شي؟ چا ته به مخ واړوي؟ لوېدیځ ته؟ چین ته؟ که داسې وکړي، د دوی ډېر نېږدې متحدین به یې دړې وړې کړي. څلورم، ته ښه پوهېږې چې دا څومره سخته ده چې له یو اجنټ سره د اړیکو ساتل ودروې. دا به د ده روحیې ته زیانمنوونکی ټکان ورکړي. په دغسې حالاتو کې به خوست او ارتم - چې دواړه ډېر هوښیار دي - زموږ له خوا د اړیکو شلولو ته د خیانت او بې زړه توب په سترګه وګوري. اوس راځه چې داسې وګڼو چې موږ له دوی سره د اړیکو په شلولو کې بریالي شوو. که داسې څه پېښ شي چې موږ د دوی مرستې ته اړتیا ولرو، بیا به څه کوو؟ له دوی سره به بیا څنګه اړیکې ټینګوې او څنګه به دوی بېرته فعالوې؟ ایا دوی به بیا له موږ سره مرستې ته زړه ښه کړي؟»

اوسادچي حتی یوځای هم د سترستین خبرې غوڅې نه کړې. کله چې سترستین خپلې خبرې خلاصې کړې، ګورېلوویچ په کلکه ځواب ورکړ: «ولېري، زه پوهېږم چې ستا خبرې تر یوې کچې سمې دي، خو دا یو امر دی چې نېغ له مشرتابه څخه راغلی. موږ د اعتراض حق نه لرو او د امر د ترسره کولو ځنډول هم ګټه نه لري.تا ته به دا ښه وي چې په دې سوچ وکړې چې څرنګه دغه امر په ښه توګه ترسره کړې.» ولېري ورته وویل: «د سوچ لپاره څه شی شته؟ خوست هېڅ کله د ا خ د ګ رسمي غړی نه و، د ګوند د غړو په نوملړ کې یې نوم نشته، هېڅوک یې د پرچمیانو د ملاتړي په توګه نه پېژني او نه یې کومه ګوندي دنده درلوده. دی د بهرنیو چارو وزارت یو پخوانی بیروکرات دی چې اوس یې تقاعد کړی. ټولې دغه خبرې د ده په هغه دوسیه کې شته چې د مرکز په ارشیف کې ساتل کېږي. زه فکر کوم چې موږ تل کولی شو دی

د پخواني رژیم د یو داسې استازي په توګه یاد کړو چې موږ یې د افغان اشرافیانو، شاهي خیلو، د داود د پخوانیو بیروکراتانو او د انقلاب ضد کړیو په اړه د مالوماتو په ترلاسه کولو کې وکاروو. ایا موږ به داسې مالومات ترلاسه نه شو کړی؟» اوسادچي موسکا وکړه، د هو سر یې وخوځاوه. سترستین خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «خو د ارتم موضوع بېله ده. بې اړنګه، دی د پرچم فعال غړی و او د لېسې راهیسې په ډېرو انقلابي کړنو کې ښکېل و. نوموړي ډېر ګوندي ملاتړي لرل، په زندان کې یې وخت تېر کړی او حتی اوس هم له لوړپوړو پرچمیانو سره نېږدې اړیکې لري، خو لکه څنګه چې خلقیان، پرچمیان او له ا خ د ګ څخه بهر خلک پوهېږي، درې کاله مخکې پخپله کارمل نوموړی له ګوند څخه وشاړه. دا یوه لویه رسوايي وه. ستا به په یاد وي چې وروسته له هغه رسوايي چې له یوې شاهي نسبه ښځې سره د نجیب الله د واده له کبله رامنځته شوه، کارمل خپلو پرچمیانو ته یو حکم وکړ چې د ګوند هر غړی مخکې له دې چې د خپل واده په هکله پرېکړه وکړي، باید له خپل نېږدې ګوندي مشر څخه منظوري واخلي.

کله چې ارتم له خپلې اوسنۍ مېرمن سره د واده پرېکړه وکړه، نوموړی کارمل ته ورغی، خو کارمل له دغې ښځې سره له واده څخه منع کړ. ارتم د کارمل له امر څخه سرغړونه وکړه او واده یې وکړ؛ نو له ګوند څخه وشړل شو. اوس دوی دواړه، خوست او ارتم د پرچم ډلې غړي نه دي» د اوسادچي مزاج ښه شو او سترستین ته یې وویل: «ولېري، پوهېږې چې ولې زما خوښېږي؟ ستا په سترګو کې اخلاص لیدل کېږي او د دې وړتیا لرې چې خلک قانع کړې، خو له وخت څخه مخکې ګام مه اخله، څوک یو سړی یوازې هغه وخت قانع کولای شي چې نوموړي وغواړي چې قانع شي.» سترستین ورته وویل: «مننه ویلیور ګوریلوویچ، دا په دې مانا ده چې زه له خپلو اجنټانو سره کار ته دوام ورکولای شم؟» اوسادچي ځواب ورکړ: «هو، خو له دوی سره د لیدنو شمېر لږ کړه، له دوی سره په چارو کې له ډېر پام څخه کار اخله، دا ترې وغواړه چې د پټو کړنو اصول تل په پام کې ونیسي او سرغړونه ترې و نه کړي. موږ به هغه بې ګټې «مړي ارواوې» چې یوازې یې زموږ د اجنټانو په نوملړ کې نوم شته د پرچمیانو په توګه وشمېرو.» سترستین وپوښتل: «ایون ایونوویچ به څنګه کړو؟ هغه به زموږ راپور ورنه کړي؟» اوسادچي ځواب ورکړ: «د هغه په هکله اندېښنه مه کوه، یوه چاره به وکړو.»

د جولای په نیمايي کې وېکتور له اجنټ «محمود» سره وکتل. د نوموړي روغتیايي وضعیت ښه نه ښکارېده، ډېر ډنګر شوی و، رنګ یې ژېړ او سترګو یې توري کړۍ لرلې، تګ یې کرار کرار کاوه او داسې برېښېدلو چې د هغو ټپونو له امله ډېر خوځېدای نه شوی چې د غوبیې د اوومې کودتا په ترخ کې یې ګاللي وو.

www.samsoor.com

وېکتور دغه اجنټ ته توده غېږ ورکړ او له ده سره له اشنایۍ راهیسې یې په لومړي ځل «ورور» ورته وویل. دوی له مالګین خوراک سره وتکا وڅښل او په سیاست کې وغږېدل. وېکتور غوښتل د ګوند د ننه په پېښو او همدارنګه د پرچم او خلق تر منځ د اړیېچونو او د دوی د پایلو په هکله د خلقیانو په اند پوه شي. پرته له دې چې حاشیوي خبرې وکړي، وېکتور په نېغه وپوښتل: «له کارمل او پرچمیانو سره ستاسې اړیکې څنګه مخته ځي؟ موږ پوهېږو چې ستاسې ترمنځ ترینګلتیا شته.» محمود په پام ځواب ورکړ: «ته پوهېږې وروره چې د ګوند د ننه او د هېواد په مشرتابه کې حالات ډېر پېچلي دي. که رېښتیا درته ووایم، کارمل او د ده ملګري مې نه خوښېږي. ګوند او هېواد به د دوی په نه شتون کې ډېر ښه وای.» وېکتور وپوښتل: «ولې؟» محمود په ځواب کی ورته وویل: «ځکه چې دوی ډېرې خبرې کوي - دوی سیانه (مکار) روڼ اندی دي - او د افغانانو له هیلو او اړتیاو څخه ډېر لیرې دي.»

د دغې خبرې په اورېدو سره وېکتور ته یوه پېښه ور په یاد شوه چې په یو ډک بس کې هغه وخت رامنځته شوې وه چې په لېننګراد کې یې ژوند کاوه. په هغه وخت کې، د ۱۹۶۰مې په ورستیو کې نوموړی د پوله ساتو عسکرو ځوان افسر و او له قرغزستان څخه لېننګراد ته راغلی و چې د کې جي بي په اکاډمۍ کې پارسي زده کړي. ده دې ته تابیا نیوله چې بهرنۍ څارګرې برخې ته بدل شي. بس له خلکو ډک و او یو سړي چې خولۍ یې پر سره وه د چا پر پښه پل کېښود. دغه سړي په یو ځاځمن (له غوسې ډک) غبرګون کې پر خولیوال د کرغېړن منور نوم کېښود.

کله چې په افغانستان کې و، وېکتور د ا خ د ګ د بېلتون په اړه د سفارت او په کابل کې د کې جي بي ټولې لیکنې وپلټلې او د شوروي د ساینس اکاډمۍ د ختیځې زده کړو د انستېتیوت ټول شننیز راپورونه یې ولوستل. په دغه راپورونو کې د خواریکښو په انقلاب کې د کوچنیو بورژوازیو د ونډې او ځای په هکله ډېرې مهمې نظریې وې چې له مارکسیستي-لېنني تیوریو څخه یې سرچینه اخیستې وه، خو په دغو راپورونو کې د وګړو د ځینې پوړونو او «خولۍ والو منورینو» ترمنځ د تاوتریخوالي په اړه څه نه وو لیکل شوي. بابنوف په سوچ کې شو: «ښایي د ګوند بېلتون له همدغه تاوتریخوالي څخه سرچینه اخلي.» نوموړي له اجنټ محمود څخه وغوښتل چې خپلو خبرو ته دوام ورکړي. محمود وویل: «فکر کوم کارمل به ډېر ژر له تره کي وغواړي چې چېرته یې د سفیر په توګه ولېږي. دی له یوې خوا له دغه ګوښه والي سره جوړ نه راځي او له بلې خوا د پرچمیانو د هغه غوښتنې ملاتړ نه کوي چې دی باید ژرترژره د تره کي د نسکورولو لپاره ګام پورته کړي. دا طبیعي ده چې دی به په یو پانګوال هېواد، لکه امریکا او د جرمني فدرالي جمهوریت کې د سفیر دنده ونه مني، خو دی به هېڅوک په شوروي کې د سفیر په توګه ونه ګماري.»

وېکتور: *ته څنګه پوهېږې چې پرچمیان د تره کي د پرځولو پلان جوړوي؟*

محمود: *ما ته اسدالله سروري وويل. دی د افغانستان د ملي امنیت مشر، پخوانی پیلوټ او زما نېږدې ملګری دی. ته یې پېژنې؟*
وېکتور: *نه، نه یې پېژنم، خو د ده د اکاړی په هکله مې اورېدلي چې څرنګه د اګسا** په زندان کې خلک شکنجه او وژني.*
محمود: *باور وکړه چې ملګری سروري یو ډېر اخلاصمن سړی او یو رینښتینی انقلابي دی. که یې څوک وژلي او یا شکنجه کړي، دا به د انقلاب بریا ته اړین وو. هره ورځ ملګری امین ده ته بدنیتي خلک ورلېږي. د دوی ډېری د لوېدیځ جاسوسان، مرتجعین او ترهګر دي. په یاد د دي چې لېنن به څه ویل: «هغه انقلاب چې له ځان څخه دفاع نه شي کولای، ناکام دی.» که ته او زه د سروري پر ځای وی، موږ به هم همداسې کړي وی - نبایي موږ به د ده په پرتله ډېر بې رحمه وی.*
وېکتور: *نو سروري خبر دی چې د کارمل په شاوخوا کې څه روان دي؟*
محمود: *ته څه فکر کوې. سروري جعلي پرچمیان کارمل ته لېږي.*
وېکتور: *تا ته دغه خلک مالوم دي؟*
محمود: *بې اړنګه نه، ولې سروري د دوی نومونه چا ته یاد کړي، حتی ما ته چې ملګری یې یم؟ زه هم په دې هکله پوښتنه ترې نه کوم. که ته غواړې چې پوه شې، له خپل هغه سلاکار څخه وپوښته چې له کې جي بي څخه د ده مرستې ته راغلی. دی کولی شي له سروري څخه پوښتنه وکړي.*
وېکتور: *څه فکر کوې چې کارمل پوهېږي چې داسې جعلي پرچمیان ده ته ورلېږل کېږي؟*
محمود: *زه نه پوهېږم چې کارمل کوم ځانګړي مالومات لري چې اګسا د ده پرضد فعالیت کوي، خو حتی که دی ډېر مالومات هم ونه لري، په دې ښه پوهېږي چې څه روان دي. دی ډېر هوښیار، ځیرک او د ستراتیژیک فکر خاوند دی. کله کله د پېښو داسې وړاندوینه کوي لکه د غیب علم چې ولري.*
وېکتور: *نو له دې وروسته به څه پېښېږي؟*
محمود: *لکه څنګه مې چې مخکې درته وویل، کارمل او ملګري به یې د سفیرانو په توګه او یا په بهر کې د نورو دندو غوښتنه وکړي. دوی غواړي د پولې پر سر کښېني او د دې ننداره وکړي چې سبا ته څه پېښېږي. ډېره شونې ده چې دوی به بېرته افغانستان ته رانشي، خو په هر صورت، موږ به یې بېرته راتګ ته پرېنږدو.*
وېکتور: *زه نه پوهېدم چې ته د پرچمیانو داسې نه جوړجاړي کوونکی بدوردی یې. تا هېڅ کله مخکې داسې څه نه وو ویلي.*

---

*اګسا: (د افغانستان ګټي ساتونکي اداره) کې جي بي ته ورته د تره کي په وخت کې د افغانستان څارګره اداره.

www.samsoor.com

محمود: *نه جوړجاړی کوونکی بدوردی' ډېره غټه خبره ده. زه څوک يم چې د کارمل او د ده د نومورو متحدينو نه جوړجاړی کوونکی بدوردی شم. دوی په افغانستان کې ډېرې پېژندل شوې څېرې دي. موږ نبايي هغه وخت د کارمل دوښمنان شوو چې ملګری تره کی يې د دوښمن په توګه اعلان کړي. که رينښتيا درته ووايم، زما په رينښتيا پرچميان نه خونښېږي. زه د دوی په هکله په ډېرو بدو شيانو پوهېږم. زه پر دوی باور نه لرم، خو تر هغه وخت پورې چې ملګري تره کي امر نه وي کړی، زه به دوی ته د دوښمن په سترګه ونه ګورم.*

وېکتور: *تره کي په دې هکله څه يادونه کړې ده؟*

محمود: *تراوسه نه. زه فکر کوم چې په ګوند کې د کارمل او پرچميانو يوازې يو سوګند خوړلی دوښمن شته او هغه ملګری امين دی.*

وېکتور: *ته څنګه پوهېږې؟*

محمود: *ته پوهېږې چې په هره څوکۍ کې ملګری کارمل د ملګري تره کي مرستيال دی. که چېرې ملګري تره کي ته څه ورپېښ شي، د بېلګې په توګه ناڅاپي ناروغي او يا مړينه، بيا به کارمل د هېواد او ګوند مشر شي چې دا د امين د سياسي کاري ژوند د پای په مانا ده.*

وېکتور: *د امين هيلې او لېوالتياوې کومې دي؟*

محمود: *زه فکر کوم چې يوازينۍ هيله يې د تره کي ځای ناستي ده؛ نو ځکه ده ته دا اړينه ده چې کارمل او نور پرچمي فعالان له منځه يوسي.*

وېکتور: *وروره، څه فکر کوې چې وروسته له دې چې امين پرچميان له منځه يووړل، بيا به په خلقيانو کې د خپلو سيالانو په نابودولو لاس پورې نه کړي.*

محمود: *زموږ خلقيانو په منځ کې امين کوم سيال نه لري. له تره کي څخه وروسته، دی زموږ مشر دی او تره کي دغه خبره په وضاحت کړې ده. سربېره پر دې، که ملګري امين د کوم خلقي پر ضد کومه دسيسه جوړه کړي، زه باور لرم چې تره کی به داسې بې انصافه کړنې ته اجازه ورنکړي.*

وېکتور بابنوف وننګېرل چې له محمود سره دغه بنډار ډېر مهم و. سبا ته يې ټول هغه څه په يو تېلګراف کې مرکز ته ولېږل چې له محمود څخه يې اورېدلي وو، خو دغه تېلګراف ته کوم غبرګون ونه ښودل شو. داسې برېښېدل چې کې جي بي د واکمن ګوند په کورنيو چارو کې ناټ نه درلود. په مسکو کې مشران په دې اند وو چې په افغانستان کې د شوروي پلوه سياست وال په مشرۍ شوروي پلوه رژيم واکمن دی او د رژيم کورني سياست ته په نه کتو سره، دوی بايد له دغه رژيم او ملګري تره کي څخه ملاتړ وکړي. پرېږدئ چې افغان ملګري پخپله خپلې کورنۍ شخړې حل کړي.

د ۱۹۷۸ کال د دوبي په پیل کې پر افغانستان باندې د شوروي له بېلابېلو ادارو څخه د سلاکارانو سیلاب راغی. د شوروي اتحاد د کمونست ګوند مرکزي کمېټې خپل استازی، ولېري خارازوف Valery Kharazov کابل ته ولېږه. خارازوف د کمونست ګوند لومړنی سلاکار و. وروسته په تېره بیا په ۱۹۸۰ کال د کمونست ګوند او د ځوانانو سازمان ښوونکي کابل ته لاړل. د شوروي کمونست ګوند سلاکاران په ټولو ولایتي کمېټو او د مرکزي کمېټې په ټولو څانګو کې وګمارل شول. په پیل کې خارازوف هېڅ ناټ نه درلود چې د غويي انقلاب په مرسته کې ښکېل شي. کله چې په افغانستان کې وګمارل شو، د مرکزي کمېټې منشي، کپیتونوف Kapitonov ته د ده ځواب منفي و. نوموړي د دغه دندې په نه منلو کې سم دلیلونه لرل ځکه چې د پښتو او ملا د لاندنۍ برخې له درد څخه ځورېده.

خارازوف د لیتوانیا د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې دویم منشي، د شوروي د کمونست ګوند مرکزي کمېټې ته کاندید او د شوروي اتحاد د قانون جوړونکې اعلی جرګې مرستیال و. د نوم اېښودنې د سیستم د کچې پر بنسټ، نوموړی د شوروي اتحاد د نخبه ګانو یوه برخه و؛ نو ولې داسې سړی په افغانستان کې د دندې لپاره غوره شو؟ ښایي ځکه چې دوه کاله مخکې یې دې ته ورته دنده په بریالۍ توګه په انګولا کې ترسره کړې وه. د ده د روغتیایي وضعیت دلیل مرکزي کمېټې توجه کاوه، خو دی به چې کله لږ ښه شو، دا تېروتنه به یې وکړه چې ډېری به یې د تینس لوبه کوله. کپیتنوف د ده له دغه لړاکۍ څخه خبر شو؛ نو خپله د خبرو ښه یې ورته بدله کړه او له ځان سره یې په سوچ کې وویل: «ښه؛ نو ته په پنډوسکي پسې منډې وهلی شې، خو د ګوند له لوري یوه مهمه درکړل شوې دنده نه منې!» ده د لیتوانیا دغه منشي ته درې ورځې وخت ورکړ چې خپل کالي راټول او افغانستان ته لاړ شي. مخکې له دې چې خارازوف افغانستان ته لاړ شي، اولیانوفسکي د لارښوونو په ترڅ کې ورته وویل: «زه نه پوهېږم چې ته به افغانستان ته له رسېدو سره سم څه کوې، خو زما دغه مشوره ومنه. له درې شیانو څخه ځان وساته: د مرکزي کمېټې او پوځ تر منځ ، د دولت او مذهبي مشرانو تر منځ او د دولت او قومي مشرانو ترمنځ له شخړو څخه. د افغانستان په تاریخ کې ډېرې داسې پېښې شته چې سپک کړل شوي قومونه کابل ته راغلي چې حکومت نسکور کړي.

پنومروف په همدې کچه په لنډه توګه ورته وویل: «په ګوند کې وضعیت پېچلی دی. زموږ له هڅو سره سره، خلق او پرچم تراوسه ناندریو ته دوام ورکوي. د ګوند یووالی چې تېرکال تر سره شو هسې تشریفاتي

www.samsoor.com

و. موږ له پرچميانو سره مخکې همکاري کوله؛ نو دوی ډېر ښه پېژنو. هو ريښتيا، هڅه وکړه چې دا مالوم کړې چې په ګوند کې دويم کس ته څرنګه اشاره وکړې - دا ببرک کارمل نومېږي يا کارمل بوبرک؟»
نو له تګ څخه مخکې خارازوف ته همدومره لارښوونه وشوه. دی پوهېده چې په مرکزي کمېټه کې څوک د افغانستان په هکله د بنډار دومره ګروهنه نه لري. ده ته داسې برېښېدل چې دغې موضوع يې همکاران په غوسه کول. د ځينو ناڅرګندو دليلونو له کبله دغې موضوع دوی ته خوند نه ورکاوه. يوازې څو مياشتې وروسته خارازوف د دوی د نارامۍ سرچينه وموندله. هره ورځ به له کابل څخه پېچلي او ګونګ مالومات رارسېدل چې د ځواب غوښتنه يې کوله، خو هېڅوک نه پوهېدل چې څه ووايي؛ نو ځکه ده ته داسې لارښوونه وشوه: «کله چې هلته ورسېدې، ته به پخپله په حالاتو پوه شې.»
په افغانستان کې يې چې څنګه پښه پر قير شوې ځمکه کېښودله، يوه ټيټکي سړي چې بې شعاع او پلېټه افغان پوځي يونيفورم يې اغوستی و، روغبړ ورسره وکړ: «ښه راغلاست، ولېري اينوکينتيوويچ.» خازاروف د جنرال په ليدو خوشاله شو. جنرال ګرېلوف مخکې په ليتوانيا کې د پراشوټي فرقې د قوماندان په توګه دنده ترسره کړې وه. دوی همځلته ملګري شوي وو. اوس پوځي سترسلاکار د نوي رارسېدلي خازاروف لارښود شو او دا يې ورسره ومنله چې ځايي ننداړو ته يې وروپېژني، خو افغانستان ته له راتګ څخه وروسته، خازراف سمدلاسه د هغې لومړنۍ غونډې په ترڅ کې پر ډېرو جدي ستونزو پوه شو چې له ولسمشر سره يې درلوده. له دوديزه روغبړ وروسته، تره کي د افغانستان د حالاتو په هکله مالومات ورکړل او ده ته يې ډاډ ورکړ چې په افغانستان کې به سوسياليزم ډېر ژر پلی شي. خازاروف ته تره کي سپارښتنه وکړه چې په دوامداره توګه له ملګري امين سره په اړيکه کې اوسي چې که چېرې ده ته چې نوی افغانستان ته راغلی ستونزې پېښېدلې، امين به ورسره مرسته وکړي. وروسته، کله يې چې په غونډه کې نور ګډونوال رخصت کړل، تره کي له خازاروف او سفير پوزانوف څخه وغوښتل چې پاتې شي. د نورو ګډونوالو په وتلو سره، تره کي وويل چې ببرک کارمل غواړي خپلو شوروي ملګرو ته څه ووايي. کارمل د ننه راغی، له شوروي مېلمنو سره يې سوړ روغبړ وکړ او کښېناست. يوه نارامه کوونکې چوپتيا په دفتر کې خوره شوه. ورپسې کارمل له ننګېرنې څخه په ډک غږ خبرې پيل کړې: «زه له شوروي ملګرو غوښتنه کوم.» په داسې حال کې چې د سترګو سوځوونکي ځير يې د تره کي مخ نه پرېښود، کارمل خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ : «زه له خپلو شوروي ملګرو غوښتنه کوم چې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند مرکزي کمېټه خبره کړي چې زموږ په مرکزي کمېټه کې حالات نورمال نه دي. دلته هېڅ راز دموکراسي او د همکارۍ ننګېرنې نشته. په هېواد او ګوند کې ټول واک دوه کسانو ولکه کړی: تره کي او امين. دوی پرته له دې چې په ګډه خبرې پرې وشي، تر ټولو مهمې پرېکړې او منظورۍ کوي، د مرکزي کمېټې او سياسي بېرو د نورو غړو اند له پامه غورځوي او زه د هېواد او ګوند په اړه له پرېکړو څخه ګوښه کړل شوی يم. ما ته دا داسې ښکاري

لکه په یو زرین قفس کې چې ژوند کوم. په دغسې وضعیت کې زه باید د ناروغۍ پلمه وکړم او یا بل هېواد ته د سفیر په توګه لاړ شم.»

خازاروف سربدال شو. ده ته د افغان مشرانو تر منځ د شخړو په هکله ویل شوي وو، خو په دې نه پوهېده چې د دوی بدوردي دومره ژوره ده. پوزانوف چې خپل همکار هک پک ولید، په لاس لیکلی یو یادښت یې دغه سلاکار ته ورکړ: «کله چې کارمل ووت، له تره کي وغواړه چې له کارمل سره یوه بېله غونډه جوړه کړي ځو په حساسو موضوعګانو وغږېږي، خو تره کي کارمل پرېنښود چې خپلې خبرې خلاصې کړي او خپل مېز ته یې کلک سوک ورکړ: «نور نو بس کړه! دا ټول دروغ دي! په هېواد او ګوند کې بشپړه دموکراسي شته او هره پرېکړه په همکارۍ کېږي. که څوک له دغو پرېکړو سره مخالفت لري، موږ به یې تر پښو لاندې کړو او خپلې موخې به ترلاسه کړو.»

دغه صحنې خازاروف اېښ پېښ کړ او له ځان سره یې وویل: «دا حیرانوونکې ده. ما ته ویل شوي وو چې تره کی یو مهربان زوړ سړی دی چې مېږی به هم ازار نه کړي. د دغه شخړې منځګړیتوب نشي کېدای. دوی نه یوازې د یو او بل سیال بلکې دوښمن هم دي.»

ببرک کارمل ولاړ شو او په وچه بڼه یې شوروي مېلمنو ته مخه ښه وویل. د ده سترګې له غوسې تک سرې او شاوخوا یې توري وې. کله چې ببرک ووت، تره کي بیا خپل مېز ته سوک ورکړ او ویې ویل: «موږ به خپل دوښمنان وځپو.»

بې اړنګه، له ولایتونو، د جمهوریتونو له مرکزي کمېټو او حتی د شوروي له مرکزي کمېټې څخه نور ګوندي سلاکاران افغانستان ته راغلل. ځینو یې پرته له دې چې د حالاتو په هکله فکر وکړي، په لېوالتیا هڅه کوله چې د شوروي د پرمختګ بریا په افغانستان کې پلې کړي. دوی د ګوند کمېټې جوړې کړې، ګوندي غونډې یې نیولې او د شوروي په بڼه یې ګوندي ښوونځي جوړ کړل. ښوونکو به یې د لېنن، برېژنېف او تره کي (او وروسته د امین، کارمل او نجیب الله) خبرې نقل قول کولې. سوګندونو به د ستر غویي انقلاب لاسته راوړنو ته د وفادارۍ ژمنې څرګندولې. د اونۍ په پای کې به رضاکاره ټولګې جوړېدل چې د لېنن د لیکنو، سوسیالېستي سیالیو او د استازو د ګنګرو په اړه پکې لوست کېده. په لنډه توګه، د شوروي ټول ایډیالوژیکي بنسټ جوړونه په افغانستان کې تقلید شوه. ټولې هغه تشې، دوه مخۍ او تشریفاتي کړنې چې په شوروي کې وې، افغانستان ته هم راوړل شوې، خو که انصاف وشي، د خازاروف داسې سرسري کړنې نه خوښېدې. ده په رېښتینې توګه غوښتل چې په افغانستان کې د ژوندانه د اصلاحاتو اصلي څرنګوالي ومومي او کله یې چې کومه مشوره ورکوله، هغه به له اخلاص او ژور فکر څخه ډکه وه.

www.samsoor.com

خازاروف پوه شو چې امين يو لېوال زده کوونکی دی. له ده سره به يې ډېرې ليدنې کتنې کولې. امين غوښتل چې د شوروي اتحاد پر بسنټيز جوړښت، د منځنۍ کچې ګونديانو او د ګوند د مشرتابه په ونډو په تفصيل پوه شي. يو ځلې نوموړي وويل چې دا به ښه وي چې د شوروي اتحاد په څېر پر خپل ګوند د «کمونست ګوند» نوم کېږدي، خو خارازوف په دې بريالی شو چې دی له دغه اند څخه واړوي.
امين په ډېره چټکۍ د واک پر پاټکي ختلو. دي نه يوازې د بهرنيو چارو وزير و بلکې ده وسلوال ځواکونه، ځانګړي ځواکونه او پوليس هم اداره کول. دی په وټه ييزو او د ګوند د اېډيالوژۍ په پراختيايي چارو کې په ژوره توګه ښکېل و. نوموړی د ګرېلوف او زېلتين خوښ و. د ده لويه سېکمنتيا، دوامداره بوختيا او مسوليت په غاړه اخيستلو ته ناټ يې ډېر خوښېده. د نورو بيروکراتانو په پرتله، امين ته په ډېره ښه سترګه کتل کېدل. پوځي سلاکارانو د خارازوف پر اندېښنو اعتراض وکړ. هو، دی ډېر شخ سری دی، خو دا ختيځ دی، په افغانستان کې دی بايد همداسې وي. ته بايد تر ټولو اوچت وې، که نه ترټولو ټيټ پاتې کېږې. دی ښايي ډېرې ځوکې ولري، خو دا ځوکۍ يې له هېچا نه دي اخيستې. تره کی په معموله توګه ورځ تر بلې ډېر واک ورکوي او پر خپل باور ټينګار کوي چې پرته له امين څخه بل څوک داسې دندې ته وړ نه دي. همداسې نه ده؟ کېدای شي امين د پرچميانو پر وړاندې بې رحمه وي، خو پرچميان هم په ډېرو څېزونو کې ګرم ګڼل کېدای شي. دوی ناراضي اډماران (مغرور)، ولس غولوونکي او دروغجن دي. شوروي پوځي سلاکارانو امين ته ډېر درناوی درلود. ده ته د انقلاب د اصلي اتل، د اوسني رژيم د پرمختک د ماشين او د افغانستان د راتلونکي واکمن په سترګه کتل کېدل.
خارازوف په افغانستان کې د حالاتو په اړه يوې پايلې ته د رسېدو بيړه نه کوله. ده ننداره کوله او بېلابېلو اندونو ته يې غوږ نيوه، خو ده ته دا څرګنده وه چې هېڅ راز ژمنې او خبرې اترې به د ګوند د ننه سوله او هوکړه رامنځته نه کړي. د بېلتون د بهير بېرته شاته راتګ نا شونی و. دا په دې مانا وه چې شوروي بايد بلاخره يوه خوښه غوره کړي.
د درېيو مياشتو په بهير کې چې خازاروف په کابل کې دنده ترسره کوله، تره کي يوازې دوه ځلې ورسره وليدل او دا څرګنده وه چې نوموړی په ځانګړې توګه د ده د ليدو دومره لېوال نه و. افغان ولسمشر چې له خپلې واکمنۍ څخه خوند اخيست د دې ناټ (شوق) نه درلود چې د خپل ګوند په اداره کې له يوه شوروي ليتوانيايي ولايتي سلاکار څخه مشوره واخلي. نوموړي په چټکۍ پر واقعيتونو خپلې منګولې سستولې. ده ځان ته د يوې تاريخي څېرې او د ولس د پلار په توګه کتل او د سوسيالېزم د راتلونکې بريا په هکله يې داسې خبرې کولې لکه په دې لاره کې چې هر څه لا د مخه ترسره شوي وي؛ نو خارازوف به ده ته څرنګه مشوره ورکړې وی؟ ځينې شوروي ملګري د افغانستان په عجايبو نه پوهېدل، دوی د غويي انقلاب په ارزښت نه وو خبر او نه په دې باور وو چې ژر راتلونکی سوسيالېزم به په رېښتيا افغانستان ته ژر راشي؛ نو په دې اړه به تره کي له دوی سره خبرې کړې وی؟

د شوروي کمونست ګوند د مرکزي کمېټې له لوري خارازوف ته دنده ورکړل شوه چې د دوی یو ځانګړی پیغام افغان عمومي منشي ته ورسوي. په پیغام کې ټینګار شوی و چې د ګوند د یووالي لپاره هڅې وشي. کله چې بلاخره خارازوف له تره کي سره ولیدل، دغه پیغام یې وروسپاره. تره کي په خپل چلند وښوده چې نه غواړي په دې اړه خبرې ورسره وشي او له غاښونو څخه یې په پساري وویل: «له خپل مشرتابه څخه زما له خوا منته وکړه چې په دې اړه دوی اندېښمن دي.»
د جون په اوولسمه د ا خ د ګ د سیاسي بېرو غونډه جوړه شوه. امین په خپل معمول فصاحت «زموږ ګران مشر او ښوونکی نورمحمد تره کی» وستایه، د ګوند او هېواد د حالاتو ارزونه یې وکړه او ورپسې کارمل او ملګري یې تر سختې نیوکې لاندې ونیول. د امین د خبرو پر بنسټ، د دې پر ځای چې په ګوند کې رغوونکې کړنې ترسره کړي، کارمل او ملګري یې د دسیسو په جوړولو بوخت دي او غواړي په ګوند او هېواد کې شته درزونه نور هم ژور کړي. امین په نېغه وپوښتل چې ایا دغسې خلک باید د ګوند په مشرتابه کې ځای ولري. تره کی چوپ پاتې شو. کارمل چې خپلې ننګېرنې کابو نه شوی کړی، ښکاردانه یې په خوله کړه: «که ملګري پر دغو خبرو باور کوي، موږ چمتو یو چې په ګوند او حکومت کې خپلې څوکۍ پرېږدو.»
د امین اړکی (دام) کار وکړ: «نو داسې چې ده، زه د رایې اچونې وړاندیز کوم چې ملګري کارمل او متحدینو ته یې په بهر کې دیپلوماتیکي څوکۍ ورکړل شي.» د رایې ورکولو بهیر په یوه دقیقه کې پای ته ورسېد. د امین وړاندیز د یوې رایې په اکثریت ومنل شو.
کارمل په چکسلواکیا کې د سفیر په توګه او ورور یې محمود بریالی چې د مرکزي کمېټې غړی و په پاکستان کې د افغان دیپلوماتیکي ماموریت د مشر په توګه وګمارل شول. د مرکزي کمېټې بل غړي، ډاکتر نجیب الله ( راتلونکی عمومي منشي او ولسمشر) ته په تهران کې د سفیر دنده ورکړل شوه. د کورنیو چارو وزیر، نور احمد نور په امریکا کې، اناهیتا راتب زاد په یوګوسلاویا کې د سفیرانو او د مرکزي کمېټې غړی، عبدالمجید سربلند په بمبیي کې د قونسل په توګه وګمارل شول.
مخکې له دې چې له افغانستان څخه لاړ شي، کارمل په پټه خپل ملګري راغونډ کړل. د غونډې په ترځ کې دوی پرېکړه وکړه چې د پلان جوړونې او وتې وزیر، سلطان علي کشتمند به د کارمل په نه شتون کې د پرچم ډلې مشر وي. د امنیت اجنټانو چې د پرچمیانو په پلمه په غونډه کې وو، د غونډې د پایلې په اړه امین سملاسي خبر کړ. د کې جي بي څارګر هم پوهېدل چې پرچمیان د کومې کړنې په اړه فکر کوي؛ نو ښایي له همدی کبله پوزانوف د کارمل غوښتنه ونه منله چې د تګ په شپه له ده سره وګوري. سفیر پوهېده چې امین به سملاسي د دوی له لیدنې خبر شي.

www.samsoor.com

د جون په يوويشتمه د جمعې په ورځ، کارمل، بريالی، سربلند او اناهيتا ناڅاپه د شوروي سفارت په دروازه کې راښکاره شول، خو له ساتونکو سره له لنډو خبرو وروسته، د دوی د څلورو ګاډو کتار بېرته وګرځېد او لاړ. دوی ته ويل شوي وو چې سفير په سفارت کې نه شته که څه هم پوزانوف په خپل دفتر کې ناست و. د ګاډو دغه کتار هغه کوټې ته لاړ چېرته چې د تاس خبريال هستوګن و. الکسي پېتروف چې کارمل ښه پېژانده لا د مخه کابل پرېښی و او د کې جي بي يو بل څارګر، ليوند بېريکوف Leonid Biryukov د ده د ځای ناستي په توګه ګمارل شوی و. نوموړی لږ مخکې کابل ته رارسېدلی و او د خلق او پرچم ترمنځ د بدوردۍ په ژوروالي خبر نه و. ده د کارمل او متحدينو په اړه په مسکو کې يوازې د کې جي بي د دوسيو د لوستلو له لارې مالومات لرل. د شپې په لسو بجو د ده د کور د دروازې زنګ ووهل شو. دی د خپل استوګنځي په دروازه کې د دغو څلورو نومورو پرچميانو په ليدلو هک پک شو.

کارمل: *زه ببرک کارمل يم او دوی د مرکزي کمېټې غړي زما ملګري دي.*
بېريکوف: *هو، زه تاسې پېژنم، ملګری کارمل. په ليدو دې خوښ شوم. د ننه راځئ.*
کارمل: *دا به ښه وي که چېرې موږ ته اجازه راکړې چې خپل ګاډي د کور په انګړ کې ودروو.*
بېريکوف: *هو، ولې نه.*

بېريکوف ور پرانيست او څلور ګاډي انګړ ته د ننه شول. د موټر چلوونکو سربېره، د مرکزي کمېټې د غړو ساتونکي هم له دوی سره وو. کارمل د استوګنځي دالان ته ننوت چېرته چې نوموړي ته مخکې پېتروف او له پېتروف څخه مخکې ګوريلين ډېر ځلې ښه راغلاست ويلی و. دا ځای داسې ورته اشنا و لکه خپل کور يې چې وي. اناهيتا چې د بريالي شپږمياشتنی زوی په غېږ کې و، د استوګنځي په دويم پوړ کې د بېريکوف مېرمن، نينا ته ورغله. نجيب او سربلند په دالان کې کښېناستل. کارمل وويل: «موږ بايد ژرترژره له ملګري پوزانوف سره ليدنه وکړو. زموږ مخکنۍ غوښتنه ونه منل شوه، خو موضوع ډېره جدي ده او تم کېدای نه شي.» د کارمل له خبرو ليونېد پوه شو چې کارمل نه پوهېږي چې شوروي ملګري يې د سياسي بېرو له هغه پرېکړې خبر دي چې دوی په درنه توګه په تبعيد لېږي. د نوموړي مېلمانه په دې باور وو چې که شوروي ملګري يې له دغه پرېکړې خبر شي، دوی به سمدلاسه د عدالت په راوستلو کې لاس په کار شي.
که څه هم بېريکوف کابل ته نوی راغلی و، خو د هغه وضعيت په اړه په ځينو ټکو پوهېده چې د ۱۹۷۸ کال په دوبی کې رامنځته شوی و. کارمل ته په غوږ نيولو سره، بېريکوف د کارمل سادګۍ ته حيران شو چې د شوروي ملګرو په توان او ګروهنو يې خپلې داسې هيلې تړلې وې چې د ده په داعيه کې مرسته وکړي، خو څه بايد ترسره شوي وي؟ ده نه شوی کولی چې دغه مېلمانه وشړي او دوی په ډېر صبر د ده مرستې ته ناست وو.

لیونېد دوی ته چای راوړ او ورته ویې ویل چې دی به سفارت ته لاړ شي چې پوزانوف پیدا کړي. د سفارت مامورینو په خندا ده ته وویل چې سفیر کب نیونې ته تللی دی او هېڅوک نه پوهېږي چې بېرته به څه وخت راشي. لیونېد د کې جي بي په دفتر کې ایون ایونوویچ اېرشاف ولید. نوموړي ده ته غوږ ونیو او له لږ سوچ وروسته یې ده ته «ارزښتمنه» مشوره ورکړه: «ځان پوه کړه چې دوی څه غواړي او سبا ته یې په اړه راپور راکړه.»

نیمه شپه په رارسېدو وه، بېریکوف په سفارت کې څه ترلاسه نه کړل؛ نو بېرته کور ته لاړ. ده په کور کې څه بوتل چې لرل د خوراکي توکو سره پر مېز کېښودل او کښېناست چې د پرچمي مېلمنو سرټکونو ته غوږ ونیسي. دوی څو تیلفونونه وکړل، خو خبرې یې په پښتو کولې چې لیونېد پرې نه پوهېده. د خبرو له بڼې او له ځینو کلیمو چې لیونېد ته اشنا وې داسې ښکارېدل چې دوی له خپلو پوځي ملګرو سره غږېدل او د څه شي غوښتنه یې ترې کوله.

وضعیت په بشپړه توګه د خندا وړ و. په نیمه شپه کې، د افغان حکومت د مخالفینو ترټولو مخور مشران، د رژیم دوښمنان، د کې جي بي خارګر په کور کې ناست دي او خبرې کوي. دوی په ښکاره تره کی او امین ښکنځل او د خارګر د استوګنځي له تیلفون څخه یې زنګونه وهل چې کېدای شي افغان امنیتي ادارو غوږ ورته نیولی و. سربېره پر دې، دوی به څرنګه د ده له کور څخه تللي وی؟ ډېرو لږو خلکو دې ته زړه ښه کاوه چې د شپې بندیز په وخت کې ووځي حتی که د شپې نوم هم ورسره و. که د دوی په هکله نور هېڅ ونه ویل شي، خو په ریښتیا د دغو څلورو پرچمیانو حالت ډېر په خطر کې و.

د شپې ناوخته بېریکوف یوه وروستۍ هڅه وکړه چې مرسته ترلاسه کړي. ده ته په یاد شول چې په کابل کې د کې جي بي پخوانی خارګر، ګوریلین د لنډې مودې لپاره کابل ته راغلی او ده ته څېرمه استوګنځی لري. ګوریلین د اېرشاف په ډله کې یو د تجربې خاوند خارګر و او د افغانستان له سیاست سره ښه اشنا و، خو د نورو په څېر، دغه ډګروال هم نه غوښتل چې په جنجال کې ښکېل شي. کله چې په دې پوه شو چې اېرشاف او د سفارت مامورینو په دې کار کې بېریکوف یوازې پرېښی، ده ته یې مشوره ورکړه چې تر سهار پورې تم شي او بیا کولای شي له خپلو مشرانو سره په دې اړه خبرې وکړي. له لمر ختو سره سم د بېریکوف مېلمانه لاړل. د مخه ښې په ترڅ کې کارمل د بېریکوف سترګو ته وکتل او په باور یې ورته وویل: «ته او زه ملګري یو، له یو او بل سره به بیا وینو.»

لیونېد ور بند کړ او په څرګنده توګه یې د ارامۍ ننګېرنه وکړه. نوموړی په انګړ کې پر سړه تیږه کښېناست او یو سګرېټ یې ولګاوه. ناڅاپه یوه چورلکه د ده د کوټې پر سره تېره شوه چې بیا یې په همدغه سیمه کې ګرده الوتنه کوله. ورپسې بیا د ده د کور په سر نېغه راټیټه شوه. لیونېد په لړبکه شو او ځان سره په

فکر کې شو: «دوی به د یو لاسي بم په اچولو هر څه ته د پای ټکی کېږدي. چورلکې څو دقیقې په دغه ځای کې الوتنه وکړه او بیا د ښار په لور روانه شوه. که څه هم لا تر اوسه ډېر وختي و، خو بېریکوف سفارت ته روان شو. عجیبه وه چې په دې وخت کې پوزانوف هم په خپل دفتر کې ناست و. بېریکوف چې بې خوبۍ سربداله او ستومانه کړی و، سفیر ته یې د تېرې شپې کیسه بیان کړه، خو دا څرګنده شوه چې په دې هکله سفیر ته لا د مخه مالومات ورکړل شوي و.

سفیر په پلرنۍ بڼه چې د ده له ځانګړتیاو سره یې سمون نه درلود، بېریکوف ته وویل: «ارامه شه، زما ملګریه. موږ لږ مخکې مسکو ته راپور ورکړ چې کارمل او ملګرو یې د تاس په دفتر کې شپه تېره کړه. هر څه سم دي. ځه لاړ شه خپل مشر ته دې راپور ورکړه.»

کله چې د سفیر له دفتر څخه ووت، بېریکوف د یو تېلګراف پنځلس مخیزه خاکه ولیکله او اورلوف مروزوف ته یې پر مېز کېښودله. د څارګرې څانګې دغه مرستیال تېلګراف په بې پراویۍ ژر ژر ولوست او ورپسې یې بېریکوف ته وویل: «غواړې چې خپل کار له لاسه ورنه کړې؟ هو، خود یې غواړې؛ نو زه مشوره درکوم چې څه دې لیکلي، څیرې یې کړه او د دغه ورځې پېښې په اړه هر څه هېر کړه، یا یې ماته پرېږده چې له منځه یې یوسم.» مروزوف په دغه وخت کې ښه پوهېده چې دغسې تېلګرافونو په مسکو کې غوسه پاروله.

کارمل چې د شوروي سفیر د ملاتړ په خپلولو کې پاتې راغی، بېرته تره کي ته لاړ او د راتلونکي خطر په اړه یې خبرداری ورکړ: «دېکتاتورۍ ته د تګ په لاره کې به هېڅ شی ستا «د ګران زده کونکي» مخه ونه نیسي. دی بشپړ واک غواړي. سترګې د خلاصې کړه.» تره کي ورباندې وخندل او ورته ویې ویل: «سپکاوي ستا ماغزه له کار څخه ایستلي. حقیقت خو دا دی چې امین پرته له سوچ څخه خپل ژوند تر ما قربانوي.» ورپسې دواړه په خپله مخه لاړل.

د ګوند سترسلاکار، ولېري خارازوف ته د پرچمیانو په اړوند د شپنۍ پېښې په هکله څه نه وو ویل شوي. د ځینو لاملونو له کبله ده له کې جي بي سره اړیکې نه لرلې. کېدای شي وجه یې له ګرېلوف سره د ده ملګرتیا وه. په هغه وخت کې د ډېرو څیزونو په هکله د ګرېلوف اند د کې جي بي له څارګرو سره توپیر درلود او کېدای شي بله وجه یې د خازاروف ازاد خیاله طبیعت و. ده له سفیر پوزانوف سره ښې اړیکې لرلې او ډېر وخت یې له پوځیانو سره په خبرو تېر کړ، خو په کابل کې د خپلې درې میاشتنۍ هستوګنې په ترڅ کې یې حتی یو ځل هم د کې جي بي له مامورینو سره ونه کتل. نوموړی په دې ګومان و چې هغه راپورونه چې دی مرکزي کمېټې ته لېږي، د کې جي بي له شننو سره ډېر توپیر لري.

یو ځل په وټه ییزو چارو کې د شوروي سلاکار چې د افغان پلان جوړونې له وزیر، کشتمند سره یې اړیکې درلودې خارازوف ته وویل چې نوموړي له ده سره د لیدلو غوښتنه کړې ده. ولېري اینوکېنتوویچ Valery Innokentievich وړاندیز وکړ چې دوی د سلاکارانو په کارځي کې چې یوه د منځنۍ کچې ودانۍ وه سره وګوري. کشتمند ونه منله او ویې ویل: «زه نه غواړم چې په دې اړه امین سمدلاسه خبر شي.» کشتمند

وویل چې د مکروریانو بلاکونو شاته به سره وګوري، خو دا ځل خازاروف د کشتمند دغه وړاندیز ونه مانه. د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې د استازي موقف دومره ټېټ نه و چې د دسیسو او توطیو په لوبو کې ښکېل شي. څو ورځې وروسته کشتمند د توطیې جوړولو، د بهرنیانو د اجنټ او د انقلاب د دوښمن په تور ونیول شو.

وروسته له دې چې ببرک کارمل په پراګ کې د سفیر په توګه هستوګن شو، له ا خ د ګ څخه یې ډېر ژر یو امر ترلاسه کړ چې سملاسي هېواد ته بېرته لاړ شي ځکه چې ګواکې یوې بلې ځوکۍ ته بدل شوی دی. ده وننګېرل چې کومه خبره شته او د چکسلواکیا د امنیتي ادارو په مرسته له کرلووي وري Karlovy Vary څخه ډېر لیرې په یو دوبني کور کې پټ شو. امین هک پک او له کچې وتلی ځاځمن (په غوسه شو. نوموړي د هدفي وژونکو یوه ډله چکسلواکیا ته ولېږله، خو د چکسلواکیا د څارګرو فعالیتونو د شنډولو اداره وتوانېدله چې دغه هڅه شنډه کړي.

په عین وخت کې د چکسلواکیا د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې د منشي، وسېل بیلیاک Vasil Bilyak په مشرۍ د چکسلواکیا د کمونست ګوند دولتي پلاوی افغانستان ته تللی و. تره کي او امین خپلو مېلمنو ته په ټینګار وویل چې کارمل بېرته راولېږي او دوی ته یې دغه دېکه ورکړه: «که تاسې کارمل بېرته راونه لېږی، نو بیا تاسې زموږ ملګري نه یاست.» بیلیاک به په ځواب کې یوه مؤدبه موسکا وکړه. کله چې رسمي غونډې خلاصه شوه او تره کی لاړ، امین خپلو مېلمنو ته وویل: «که موږ د کارمل په موندلو بریالي شوو، کابل ته به یې راولو او د سي ای اې اجنټ په توګه به یې وولو.» بیلیاک، چې مسکو د کارمل د قضیې په اړه کلک خبرداری ورکړی و، د امین خبرو ته یې ځواب ورنه کړ.

د ۱۹۷۸ کال په مني کې کارمل نه یوازې خلقیانو بلکې مسکو ته هم لوی سرخوږی شو. مسکو باید له یوې خوا له یو مجرب انقلابي افغان او د شوروي یو وفادار او اعتباري ملګری، د خپلو هم ګوندیانو له غچ څخه ساتلی وی او له بلې خوا یې هېڅ داسې کړنه نه وی ترسره کړې چې تره کی او امین خپه کړي. دوی دواړو خپل ریښتیني او قانوني صلاحیت څرګندولو چې باید درناوی او ملاتړ یې شوی وی، خو د کارمل کرار ناستي ته ډېره نه لګېده. ده به له مخورو پرچمیانو سره لیدنې کولې او له خپلو دوښمنانو سره د جګړې په هکله یې پر پلانونو خبرې کولې. لکه څنګه چې افغان څارګرې اداري دغه ناګران انقلابي له نېږدې څاره، کابل به سملاسي په هر څه خبر شو.

امین په بشپړه توګه پوهېده چې چکسلواکیا د ده دوښمن ته د شوروي په خوښه پناه ورکړې؛ نو ځکه یې له هر فرصت څخه کار اخیست چې خپل روسي ملګري وځځبري: «تاسې ولې دغه دسیسه جوړونکی او د سي ای اې اجنټ پټوی؟ دی زموږ د رژیم پرضد پټې کړنې ترسره کوي او تاسې مرسته ورسره کوی.»

www.samsoor.com

بلاخره په کابل کې د کې جي بي مېشت مشر په يو تېلگراف کې مرکز ته ټينگار وکړ چې د کارمل مخه ونيسي: «په پراگ کې د افغانستان دموکراتيک جمهوريت پخوانی سفير کارمل ببروک (په هغه وخت کې د نوموړي نوم په شوروي لاسوندو کې په دې بڼه ليکل شوی) چې زموږ چکي ملگرو وروسته له هغه سياسي پناه ورکړه چې د سفير له دندې گوښه شو او افغانستان ته يې د بېرته تگ امر ونه مانه، په افغانستان او بهر کې (په پانگوال او سوسياليستي هېوانو کې) پرچمي ځواکونه د اوسني افغان رژيم، د ا خ د واکمن گوند او د افغانستان دموکراتيک جمهوريت پر ضد کړنو ته پياوړي کوي.»

د شوروي اتحاد د کمونست گوند د مرکزي کمېټې د نړيوالې څانگې مرستيال اوليانوفسکي د اوسادچې تېلگراف ولوست او سمدلاسه يې د مرکزي کمېټې سکرتريت ته دغه يادښت وليږه: «دا به ښه وي چې د چکسلواکيا د کمونست گوند له مرکزي کمېټې غوښتنه وشي چې له کارمل ببروک سره خبرې وکړي او د ټولو هغه کړنو د درولو په اړتيا ټينگار وکړي چې د افغان پرمختگ خوښوونکي رژيم پر ضد يې ترسره کوي.»

ورپسې پرته له ځنډ څخه په پراگ کې د شوروي سفير ته دستور ورکړل شو چې د چکسلواکيا د کمونست گوند له يو مشر سره وگوري چې افغان تبعيد شوي مشر ته ورته حکم وکړي. په ملپانه کې د دغه غوښتنې بسنتېز لاملونه ليکل شوي وو او په ځانگړې توگه دغه يادونه پکې شوې وه: «د کارمل ببرک دغسې کړنې د افغانستان اوسني انقلابي مشرانو پر وړاندې د ده کورنه او شوروي ملگري په يو نارامه کوونکي او سيانه موقف کې اچوي.» کارمل پرېښودل شو چې له داسې خبرو څخه پخپله يوه پايله ځان ته جوړه کړي.

کله چې کارمل ته دغه پيغام ورکړل شو، ده داسې وويل: «صبر وکړئ او وخت به يې راشي چې له ماسره به دغه شوروي ملگري ژر په بله بڼه خبرې وکړي.» وروسته د نوموړي دغه خبره ريښتيا شوه.

د درېيو مياشتو په تېرېدو سره په کابل کې د خازاروف ماموريت پای ته ورسېد. نوموړی له پښېمانۍ پرته په وېلنيس Vilnius کې خپل ارامه او هوسا کور ته له داسې هېواد څخه بېرته لاړ چې دی يې په اړه هېڅ پوه نه شو. لېتوانيا ته د تگ په لاره کې لومړی مسکو ته لاړ چې هلته دمه او ځينې درملنې وکړي. ده فکر کاوه چې د شوروي کمونست گوند مرکزي کمېټه به بلنه ورکړي او د افغانستان د وضعيت په اړه به پوښتنې ترې وکړي. نوموړي تمه درلوده چې له انقلابيانو سره اړيکو ته د ودې ورکولو په هکله به د ده اند وغوښتل شي. په مسکو کې د ده د هستوگنې ځو ورځې تېرې شوې، خو له مرکزي کمېټې څخه هېچا تيلفون ورته و نه کړ؛ نو سسلوف Suslov ته يې تيلفون وکړ: «مېخايل اندرييوويچ Mikhail Andreevich، زه له يو مهم يون څخه بېرته راغلی يم او غواړم په اړه يې راپور ورکړم.» د شوروي د کمونست گوند د دويم پوړ دغه مامور ورته ووېل: «نه، نه، دا زما له پوهې او کار سره تړاو نه لري. کله چې پنومروف له رخصتۍ بېرته راغی، کولی شې هغه ته راپور ورکړې.» ورپسې خازاروف په روغتون کې بستر شو. د رخصتۍ څخه له بېرته راتگ وروسته، پنومروف نوموړي ته په روغتون کې تيلفون وکړ: «داسې برېښي چې افغانستان دربانډې اغېز کړی.» خازاروف ورته ووېل: «زه چې دلته راغلم، رک روغ وم.» پنومروف ترې وغوښتل: «کولی شې ژرترژره

مرکزي کمېټې ته راشې؟» خازاروف خوشاله شو چې بلاخره د ده شننو ته به غوږ ونیول شي او ویې ویل: « ولې نه، بوریس نیکولایوویچ. زه به سمدلاسه درشم.» کله چې خازاروف د پنومروف دفتر ته ننوت، ده ته وویل شول: «زه کابل ته ځم، دا راته ووایه چې د تره کي کوم یو خوښېږي، وتکا یا کنیاک؟ او د امین څنګه؟ د ده به ویسکي خوښېږي ځکه په امریکا کې یې زده کړې کړې دي.» پنومروف له خازاروف څخه نورې پوښتنې نه لرلې. خازاروف ورته وویل چې غواړي د افغانستان د سیاست په اړه خپل اند ورسره شریک کړي، خو پنومروف یې مینه وال نه و: «ځان مه په عذابوه. زه د ټېلګرافونو په وسیله په هر څه خبر یم. موږ هلته د مالوماتو ښې سرچینې لرو.»

د نوموړي مرستیال، اولیانوفسکي هم د پخواني ګوندي سترسلاکار خبرو ته د غوږ نیولو ناټ (شوق) نه درلود. خازاروف هڅه وکړه چې د پنومروف له یو بل مرستیال، زګلدین Zagladin سره د افغانستان په هکله خبرې وکړي، خو زګلدین د ده په خبرو کې ولوېد او پخپله یې د افغانستان په هکله خبرې پیل کړې حال دا چې هېڅ کله افغانستان ته نه و تللی.

د غویي انقلاب د لومړیو دوه نیمو میاشتو په بهیر کې د افغان رژیم پرضد شاوخوا دېرش دسیسې بربنډې شوې. دسیسه جوړونکي به ونیول شول. دوی ته به تر هغه وخت پورې شکنجه ورکول کېدله تر څو یې چې پر خپل جرم اقرار نه و کړی او بیا به پرته له محاکمې ووژل شول.

د وسلوالو ځواکونو لوی درستیز، شاپور احمد زی او د کابل روغتون مشر ډاکټر علي اکبر د اګست په میاشت کې ونیول شول او د خیانت تور پرې ولګول شو. له دوی څخه یو هم د ا خ د ګ غړی نه وو، خو د ځینې بلدوزر پر هر هغه چا تېر کړل شو چې نوي رژیم ته د نه وفادارۍ اړنګ پرې کېده؛ نو ډېر ژر د دفاع وزیر وار هم راورسېد.

د ا خ د ګ د ننه د شخړو په هکله عبدالقادر هېڅ کله خپل منفي اند نه پټاوه. دغه وزیر پوهېده چې یو وخت به یې خپل منفي اند ده ته زیانمنه پایله وزېږوي، خو د ده سرتمبګي پر تعقل برلاسې وه. وروسته له دې چې په کابل کې د اړیکو یو پټ مرکز جوړ شو، د شوروي دفاع وزیر مارشال اوستینوف Ustinov قادر ته زنګ وواهه او د مبارکۍ سربېره یې نیکې هیلې ورته څرګندې کړې. قادر ورته وویل: «ملګری مارشال، زه چمتو یم چې له انقلاب څخه ځان قربان کړم. زه د شوروي اتحاد یو وفادار او اخلاصمن ملګری یم، خو ته باید پوه شې چې زموږ په ګوند کې ګړبړ دی او شخړې زموږ ګوند ډېرې ورې کوي. موږ ستاسې د

www.samsoor.com

سلاکارانو په هوښیارۍ او هوډمنتوب خپلې هیلې تړلې دي.» قادر د دې غوښتنه هم وکړه چې د افغانستان مفصلې نقشې وروليږل شي. اوستینوف ورته وویل: «موږ به د افغانستان نقشې سمدلاسه درولیږو. په ګوند کې د شخړو په هکله غواړم درته ووایم چې اندېښنې مه کوه. ډېر ژر به افغانستان ته نوي او ډېر درانه سلاکاران درولیږو. زه په دې اند یم چې ستاسې مشران به د دوی نظریو ته ارزښت ورکړي.» کېدای شي چې اوستینوف پر هغو خبرو باور درلود چې قادر ته یې وکړې، خو نوموړی هېڅ کله افغانستان ته نه و تللی او په راتلونکې کې هم حتی د شوروي پوځي مداخلې په بهیر کې هېڅ کله لاړ نه شو. په افغانستان کې د واقعیتونو په هکله د ده پوهه ډېره پیکه وه، خو بلشویکي• توان یې له هر څه بر ګاڼه. ده فکر کاوه چې د سلاکارانو لېږنه به داسې ستونزې له منځه یوسي او له بده مرغه په ګوند کې د ننه شخړې یې د خبرو اترو وړ نه بللې.

قادر ډېر ژر نقشې ترلاسه کړې. لکه څنګه چې دغه نقشې محرمې وې، له کار اخیستنې څخه وروسته باید بېرته جنرال ګرېلوف ته تسلیم شوې وی. د شخړو د حل لپاره هره ورځ نوي سلاکاران افغانستان ته تلل، خو وضعیت ورځ تر بلې خرابېده. د دوبي له رارسېدو سره هغه پرچمیانو چې په هېواد کې پاتې او زنداني شوي نه وو، ځانونه پټ کړل. قادر پرچمی نه و او تراوسه یې هڅه کوله چې په شخړو کې ښکېل نه شي، خو په هغه وخت کې هېڅوک ناپیيلي پاتې کېدای نه شوی. هغه خلک چې تره کي او امین ته نه په ګونډو کېدل چې د وفادارۍ سوګند ورته وکړي، دوښمن بلل کېدل او شتون یې اړین نه ګڼل کېده.

د مې په میاشت کې امین، ښایي په ټوکه، له قادر څخه وغوښتل چې ده ته د جنرالۍ رتبه ورکړي. قادر ورته وویل: «دا زما له واک څخه اوچت کار دی. یوازې اولسمشر کولی شي خلکو ته د جنرالۍ رتبې ورکړي.» امین په داسې حال کې چې خپله ګوته یې ورته څنډله، قادر ته وویل: «زما ګرانه قادره، د وسلوال پاڅون په بریا کې ته نه غواړې زما ونډې ته ارزښت ورکړي.» په دې وخت کې یو کتابګوټی چې پکې د انقلاب په بریا کې د امین او یوازې د خلقیانو ستاینه شوې وه چاپ شو او په پراخه کچه په کابل کې ووېشل شو.

د اګست په میاشت کې امین، قادر ته د یوې لیدنې بلنه ورکړه. د دغه بلنې لپاره ښه وجه شته وه. د دفاع وزیر د مرکزي کمېټې غړی شوی و چې دا د لوی اعتبار مانا درلوده. د امین لور ګرانبیه سکاټلنډي ویسکي په پیالو کې دوی ته واچول. د خونې پر دېوال د افغانستان یوه نقشه ځړېده چې له نیمه ګرانبیه تېرو څخه جوړه شوې وه. امین له قادر څخه وپوښتل: «دغه نقشه وینې؟ له سیستان نه تر بدخشانه، دا ټول ستا

•بلشویک: په روسیه کې د سوسیال دموکرات د ډېرګړې ډلې غړو ته بلشویک ویل کېدل. په ۱۹۰۳ کال کې د روسیې د سوسیال دموکرات ګوند په دویمه ګنګره کې هغه ډلې ته د ډېرګړې یا بلشویک نوم ورکړل شو چې په ګوند کې ډېری وو او بلې ډلې ته د لږکیو یا مېنشویک نوم ورکړل شو. د ګوند په بېلتون کې بلشویکانو د لېنن پلوي وکړه او په ۱۹۱۷ کال کې د اکتوبر په انقلاب کې واک ته ورسېدل. د بلشویکانو ګوند، سوسیال دموکرات، ته وروسته د شووری کمونست ګوند نوم ورکړل شو (ژباړن).

دي. اوس ته د دغې خاورې څښتن يې، خو په يو شرط. زما پر ضد به کومه کړنه نه ترسره کوې او کنه ځان مړ بوله.» قادر ډاډ ورکړ: «زه ستا پر ضد په کړنو کې هېڅ ناټ نه لرم، خو دا راته ووايه چې تا ولې دروغ راته وويل؟ ستا په ياد دي چې ته له تره کي سره يو ځای ما ته راغلې او تاسې دواړو ژمنه وکړه چې ګوند به يو موټی شي.» امين خپله پياله داسې شاته ټېله کړه چې لږ ويسکې ترې تويې شول، له خپل ځای څخه اوچت شو، قادر ته ورنېږدې شو، تر ځنګل يې ونيو او مخامخ يې د ده سترګو ته کتل: «پر ما باور وکړه؛ نو روغ رمټ به وې.» قادر خپله ځنګل ترې کش کړه او شاته يې ګام کېښود: «زه پوهېږم چې ته ما نيولی او حتی وژلی شې. له يوې خوا ستا لېوالتياوې او داسې لوبې دي چې ماته څرګندې نه دي، خو له بلې خوا د انقلاب داعيه ده چې زه يې په چوپړ کې کار کوم.»

دا هغه څه دي چې قادر له امين سره د خبرو په اړه موږ ته وويل. ده وويل چې د تره کي او امين پر ضد يې کومه کړنه نه ترسره کوله. د دې ويل سخت دي چې په دې هکله قادر موږ ته رېښتيا وويل. د پېښو د رسمي ليکنې پر بنسټ، ځينې پرچميانو او د دفاع وزارت ځينې جنرالانو په جلا توګه د يوې بلې کودتا پلانونه جوړول. افغان سرچينې حتی د کودتا د پيلولو د نېټې يادونه هم کړې - د ۱۹۷۸ کال د سپتمبر دوولسمه.

لوی درستيز شاپور احمدزي او د دفاع وزارت يو شمېر جنرالانو ته ګواکې دستور ورکړل شوی و چې د کودتا لپاره پوځي ډلې چمتو کړي او د خلقيانو د قوماندې لړی شنډه کړي. د پلان جوړونې وزير سلطان علي کشتمند او نورو نومورو پرچميانو ته دنده ورکړل شوې وه چې له ملکي وګړو سره کار وکړي. ده ته له ويلو سره سم نوموړی بايد د تره کي او امين له دوښمنانو سره د خواخوږۍ لپاره خلک واټونو ته را ايستلي وی. اوس به هر څوک دا فکر کوي چې د کابل په سياسي ننداړغالي کې د ډرامې مدير قادر و، خو کله يې چې له موږ سره خبرې کولې، نوموړي د پېښو دغه تعبير ونه مانه، خو هر څه چې وو، لاندې څرګندونه رېښتيا ده:

د ۱۹۷۸ کال د اګست په اوولسمه، د غوبي له انقلاب څخه يوسل او دوولس ورځې وروسته، د انقلاب اصلي لوبغاړی بندي شو. د پېښې په شپه د افغانستان په شمال، کندز کې د شلمې فرقې د قوماندان له خوا د دفاع وزير ته يو پيغام راواړل شو: «مخالفو ځواکونو هوايي ډګر نيولی دی، موږ د مرستې غوښتنه کوو.» قادر له ځان سره فکر وکړ چې دلته کومه خبره شته؛ نو نوکريوال افسر ته يې امر وکړ چې له کندز سره په اړيکه کې شي څو دا جوته کړي چې په پيغام کې کومه تېروتنه نه شته. څو دقيقې وروسته، نوموړي له کندز څخه د مرستې يوه بله غوښتنه ترلاسه کړه؛ نو قادر، تره کي ته لاړ او ورته ويې ويل: «په کندز کې وضعيت داسې دی. زه وړانديز کوم چې له بالاحصار څخه يوه ډله کوماندو کندز ته ولېږو.» په دغه شېبه

کې امين، ګلاب زوی او وطنجار د تره کي دفتر ته ننوتل. تره کي دوی ته پيغام وروښود او د قادر وړانديز يې ورته بيان کړ. امين غوږ پورته کړه او کندز ته يې زنګ وواهه. کله يې چې په تيلفون کې خبرې خلاصې کړې، امين وويل: «په کندز کې خيرخيريت دی. هلته مخالفين نشته. دا ټولې د قادر توطيې دي. بې اړنګه، دی هڅه کوي چې په يوه بله کودتا کې ځانګړي ځواکونه ښکېل کړي.» قادر ډېر ځاځمن شو او تره کي ته يې وويل: «تا دلته څوک ساتلي؟ دغه سړی ډېر خطرناک دی. دی د هر دوښمن په پرتله ډېر خطرناک دی.» د دفاع وزير، تره کي ته سلامي وکړه او له دفتر څخه ووت. اوس قادر ته په بشپړه توګه څرګنده وه چې بيا به څه پېښېږي. دی د کندز په اړه د امين په چل پوه شو. په دې ورستيو کې انقلابي شورا د امين ورور عبدالله ته د ټول شمال زون د مسوليت دنده ورکړې وه؛ نو خامخا ده په کندز کې د مخالفينو په هکله د دروغو دغه پيغامونه جوړ کړي وو.

سهار ته د معمول په څېر ګرېلوف او زپلتين د قادر دفتر ته لاړل. د دفاع وزير په خوښۍ راپور ورکړ چې تېره شپه په ځانګړې توګه څه نه دي پېښ شوي او ټولې پوځي اډې پر خپل ځای او د مهال وېش پر بنسټ خپلې معمولې دندې مخته وړلې. ورپسې د تيلفون زنګ راغی. قادر غوږۍ اوچته کړه او ويې ويل: «پوهېږم. زه درځم.» نوموړي سلاکارانو ته مخ واړاوه او ويې ويل: «اولسمشر ور وغوښتلم. که غواړی تاسې کولای شئ زما تر راتګ پورې تم شئ.» ورپسې يو دقيقه چوپتيا راغله. قادر يو څنګ ته کتل او ويې ويل: «کېدای شي بيا سره ونه وينو؛ نو مخه ښه درسره کوم.» ده نقشې ګرېلوف ته ورکړې او له دفتر څخه ووت. ساعتونه تېر شول. وروسته د قادر ياور دفتر ته ننوت او ويې ويل: «د دفاع وزير د خيانت په تور ونيول شو.» ګرېلوف ډېر په غوسه شو: «دا ته څه وايې؟ دوی څنګه د دې جرئت کوي. دی زما ملګری او د انقلاب اتل دی!» ده افغان مشرانو ته په نغوتو سپکې سپورې پيل کړې. زپلتين ډېره هڅه کوله چې ګرېلوف په کرار کړي، خو ګرېلوف خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «دلته دوی ټول لېونيان دي. دوی ته د دفاع هر وزير جاسوس او يا توطيه جوړونکی دی. موږ بايد سمدلاسه له امين سره ووينو.» زپلتين چې هڅه کوله خپل همکار ارامه کړي، وويل: «اوس نه، ته اوس په ځان نه پوهېږې او ډېر ننګېرلی يې. داسې څه به ووايې چې لويه رسوايي به ترې جوړه شي. راځه چې دمه وکړو او وروسته له غرمې به ملګري امين ته ور شو.»

امين له دوی سره په سترې مشې کې داسې وښوده چې هېڅ نه وي پېښ شوي. ده په څرګنده توګه زپلتين ته خبرې کولې، نه ګرېلوف ته چې په رتبه او مقام کې له زپلتين څخه لوړ و. د نوموړي لومړۍ خبره دا وه: «زما ګرانو شوروي ملګرو، زه پوهېږم چې تاسې ولې راغلي ياست. دا رېښتيا دي.» امين په ډېره خواشينۍ او خپګان خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «موږ داسې دوښمن ته پام نه و کړی چې زموږ له زنې لاندې يې زموږ پر ضد کرښې ترسره کولې. زه غواړم په رسمي توګه تاسې خبر کړم چې د دفاع پخوانی وزير، عبدالقادر يو خاين و چې د انقلاب پر ضد يې توطيه جوړوله.» ګرېلوف يو له ننګېرنې ډک اعتراض وکړ: «ايا دلته توطيه جوړونکي له کچې وتلي ډېر نه دي؟ تا دوه ورځې مخکې لوی درستيز په همدغسې تور

ونيو.» امين په سره بڼه د ده په خبرو کې ولوېد: «ملګری جنرال، غواړم تاسې په دې هم خبر کړم چې لوی درستیز شاپور او ملګري يې ، علي اکبر په خپل خيانت اقرار وکړ. دواړه د سي ای اې اجنټان دي او د انقلابي محکمې د پرېکړې پر بنسټ به دواړه اعدام شي. اندېښنې مه کوه - قادر به هم ډېر ژر پر خپلو ناروا کړنو اقرار وکړي.» ګرېلوف په توندۍ وويل: «په دې کې زه هېڅ اړنګ نه لرم چې هغه لېلې چې ته کاروې، داسې اقرار به ترلاسه کړې چې ته يې غواړې، خو اوس موږ په رسمي توګه د هغه ځانګړو شواهدو غوښتنه کوو چې د وزير ګناه ثابتوي. ته بايد د ده د نيولو لپاره څه بنسټيز لاسوندي ولرې.» امين يوازې زېلتين ته کتل او ويې ويل: «هو، موږ لاسوندي لرو. خپل مشرتابه ته ووايه چې موږ به ژرترژره اړين شواهد ورته وړاندې کړو.»

کله چې قادر د ارګ ودانۍ ته د ننه شو، له شا څخه خلورو امنيتي کارکوونکو ورباندې يرغل وکړ، پر ځمکه يې چپه کړ، ويې تړلو او تل خونې ته يې کش کړ. د ماښام په ترڅ کې يې د جنرالۍ يونيفورم ترې واخيست، هغه جامې يې ورکړې چې عسکر يې تر يونيفورم لاندې اغوندي او پوښتنې يې ترې پيل کړې. قادر پوهېده چې د داسې پوښتنو لپاره له کومو وسيلو کار اخيستل کېږي؛ نو ورته چمتو و. د دغه وسيلې نوم «ولاديمير ته بلنه ورکړه» وه او هغه دا چې له يو ډګري تيلفون څخه به يې د برېښنا بهير تېر کړ او بندي به چې هر څومره يې د زغم توان درلود داسې غونچ کړ لکه اور چې پرې بل شي. د قادر پخوانۍ لاس لاندې، لږ موده مخکې پيلوټ او اوس د څارګري اداري مشر اسدالله سروري به پخپله د تيلفون لاستی تاو کولو: «په خيانت دې اقرار وکړه. راته ووايه چې تا غوښتل چې څرنګه زموږ انقلاب په امريکايانو خرڅ کړې.» قادر چې په بې کچې ډېر درد کې و په چيغه وويل: «ته چې هر څه غواړې همغه وليکه، زه يې لاسليک کوم. زه ستاسې ټول تورونه منم.» له ده څخه بيا پوښتنه وشوه: «ستا تر شا څوک ولاړ دي؟ ستا سره په جرم کې نور څوک شريک دي؟» قادر ځواب ورکړ: «زه يوازې يم. ته ما پېژنې. زه له هېڅ ډلې سره تړاو نه لرم.»

څو ورځې وروسته قادر د پلچرخي زندان ته ولېږدول شو. دغه زندان له کابل ښار څخه شاوخوا شل کيلومتره بهر پروت دی. لږ وروسته پوه شو چې دوه نومور پرچميان، کشتمند او رفيع په څېرمه کوټو کې بندي دي. د مستنطقينو د تيورۍ

پر بنسټ، قادر د توطيې پوځي مشر او دا نور يې سياسي مشران و.

د سياسي بېرو غړی او وزير سلطان علي کشتمند وينزويلا ته د تګ په ورځ ونيول شو. نومو‌ړي بايد د افغان پلاوي د مشر په توګه د پرمختګ کوونکو هېوادونو په يوه غونډه کې ګډون کړی وی. ده ته د امين سکرتر تيلفون وکړ چې ملګری تره کی غواړي له ده سره سملاسي خبرې وکړي. دی پرته له دې چې کوم اړنګ

یې په سر کې وګرځي، ارګ ته لاړ او هلته سمدلاسه ونیول شو. ده پوښتنه وکړه چې ولې ونیول شو، هغه چا چې نیولی و ورته وویل چې وروسته به په دې پوه شې.
د کشتمند په سر کې کڅوړه اچول شوې وه او د ښار په یوه تل خونه کې واچول شو. په نیمه شپه کې د ده هم ګوندیان، سروري، تړون، د څارګرو فعالیتونو د شنډولو د ادارې مشر عزیز اکبري او د امین وراره اسدالله ورته راغلل. کشتمند د دغه خبرې د پټولو هڅه و نه کړه چې د کارمل په نه شتون کې دی د پرچم ډلې مشر دی او پرچمیانو په پټه غونډې جوړولې چې د اوسني وضعیت په اړه خبرې وکړي. دغه غونډې باید پټې وی ځکه چې په هغه وخت کې د دغسې غونډو ښکاره جوړول شونې نه وو او ګډونوال یې نیول کېدل، خو د کشتمند د خبرو پر بنسټ د دغو غونډو موخې کودتا خو پرېږده چې حتی د رژیم پر ضد هېڅ کړنې نه وې. برعکس، کشتمند وویل چې ده خپل ملګري ډومارل چې له زغم او منطق څخه کار واخلي او په هېڅ داسې کړنو لاس پورې نه کړي چې اوسنی حکومت ونګوي، خو هغه چا چې له ده څخه پوښتنې ګروېږنې کولې، بل ډول ځوابونه غوښتل.
له لومړي تحقیق راهیسې، دغه وزیر ته د برېښنا په وسیله شکنجه ورکړل شوې وه. کشتمند له ډېر درد څخه غونچ منج شوی و. د دویمې شپې په ترڅ کې شکنجه ورکوونکو ته یې زارۍ وکړې چې ویې وژني. سروري وخندل او ویې ویل: «هر څه پر خپل وخت کېږي. لومړی باید راته ووایې چې زموږ پر ضد د توطیه څرنګه جوړه کړه. ته زموږ څخه کرکه لرې، همداسې نه ده؟» کشتمند اقرار وکړ: «زه اوس له تا څخه کرکه لرم. زه ځکه له تا څخه کرکه لرم چې ځان ته کمونست وایې خو په حقیقت کې یو فاشېست یې.» سروري ورته وویل: «په پوځي توطیه کې د خپلې شخصي ښکېلتیا په اړه راته ووایه.» کشتمند ځواب ورکړ: «د څه شي شخصي ښکېلتیا؟ زه یو ملکي سړی یم. څوک به په هره توطیه کې زما پر ښکېلتیا باور وکړي؟»
کشتمند ته لس ورځې پرله پسې د برېښنا ورکولو شکنجه ورکړل شوه. یو ساتونکي په غوږ کې ورته وویل چې په څېرمه کوټه کې د ده مېرمن، کریمه شنکجه کېږي؛ نو دغه خبرې کشتمند دې ته اړ کړ چې پر هر راز اقرار لاسلیک وکړي او همداسې یې وکړل. په اقرار کې لیکل شوي وو چې ده خپل متحدین واټونو ته را ایستل چې د رژیم پر ضد لاریونونه وکړي*.
په هېواد کې د نیونو د سېلاب څپې روانې وې. امین د توطیې له نوم څخه، که به رېښتیا او یا دروغ وه، ګټه پورته کوله او دا ورته یوه ډېره ښه پلمه وه چې خپل ټول کورني مخالفین له منځه یوسي. د دوبي په پای او د مني په پیل کې، له درې زرو څخه ډېر پرچمیان او هغه خلک چې د پرچمیانو د خواخوږو ګومان پرې کېده ونیول او پرته له محاکمې ووژل شول. د افغان رسمي سرچینو پر بنسټ، د ۱۹۷۸ کال له اپرېل میاشت څخه د ۱۹۷۹ کال تر سپتمبر میاشت پورې له دوولسو زرو څخه ډېر خلک ونیول او ووژل شول.

---

* د ۱۹۸۰ کال د جنورۍ په میاشت کې ببرک کارمل واک ته ورسېد. کشتمند د ولسمشر لومړی مرستیال وګمارل شو. اسدالله سروري هم، چې ده ته شکنجه ورکړې وه، د لومړي وزیر مرستیال وګمارل شو.

د سپتمبر په مياشت کې افغان رسنيو د تحقيق او اقرار متنونه خپاره کړل. د دغه خپرو شوو توکو پر بنسټ، د پلان
شوې کودتا موخه د داسې خلقي رژيم نسکورول وو چې «د سوسياليزم لاره» يې پرېښې وه او پر ځای يې د داسې رژيم جوړول وو چې «په پراخه توګه د پرګنو هيلې ترسره کړي او په نړۍ کې د ټولو هېوادونو ملاتړ خپل کړي». د قادر، کشتمند، شاپور او نورو په ګډون، د توطيې ټول مشران پر مرګ او پاتې خلک تر شلو کلونو پورې په اوږده بند محکوم شول.
زړور جنرال ګرېلوف يوازنی شوروي مامور نه و چې د «توطيه کوونکو» د ژوند د ژغورنې او يا لږترلږه د دوی د جزا د کمولو هڅې وکړې، خو کله به چې د تره کي له دليلونو او يا په ځانګړې توګه د امين له نه ماتېدونکي باور سره مخ شول، شورويان به ډېری وخت شاته شول او هوډمنتوب به يې کمزوری شو. دوی پوهېدل چې په هېواد کې اصلي واکمن څوک و او نه يې غوښتل چې د نوموړي واک کمزوری کړي ځکه چې ښايي دوی نه غوښتل چې پخپله دوی ته زيان ورسېږي او يا هغه اصولو ته يې درناوی کاوه چې د بهرنيو هېوادونو په کورنيو چارو کې بايد لاسوهنه ونه شي.
کله چې سفير پوزانوف په ډارنه بڼه د دفاع وزير د بندي کولو د لامل په اړه وپوښتل، تره کي حتی د خپلې غوسې د پټولو هڅه و نه کړه. د تره کي د خبرو پر بنسټ، په کابل کې د حکومت پر ضد يوه داسې توطيه بربنډه شوه چې امريکا، چين، ايران، سعودي عرب او د جرمني فدرالي جمهوريت پکې ښکېل وو. توطيه کوونکو غوښتل تره کی او امين ووژني. دا توطيه څرنګه بربنډه شوه؟ شاپور او ډاکټر علي اکبر په خپل جرم اقرار وکړ او په توطيه کې د ګواکې ښکېلو کسانو نومونه يې هم بربنډ کړل چې په دغه کسانو کې د دفاع وزير عبدالقادر او ګڼ شمېر نورې ملي څېرې هم وې.
سفير په اړنګ خپل سر وخوځاوه. پرون يوځې ځارګر مشر، پيچېنکو ده ته وويل چې د ده د مالوماتو پر بنسټ، شاپور ته داسې شکنجه ورکول کېدله چې په دوامداره توګه يې په ژړا د ژرترژره وژنې غوښتنه کوله.
تره کي خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «ستا ملګری له قادر څخه دفاع کوي، خو ده هم په ځينو تېروتنو اقرار کړی. زموږ خلک اوس له ده سره کار کوي.» دغه خبرو سفير مبړی مبړی کړ. تره کي بيا وويل: «په دې کې اړنګ مه کوه چې موږ به د قادر اقرار هم ترلاسه کړو. ته، ملګری پوزانوف، بايد له خپلو ملګرو وغواړې چې زموږ له پرځنګ (مبارزې) سره خواخوږي وکړي. د خپل انقلاب په هکله فکر وکړئ. تاسې څومره دوښمنان لرل؟ په څومره بې رحمۍ او د څومره اوږدې مودې لپاره ستاسې مشرانو دغسې دوښمنان د ګوند له ليکو څخه بېل کړل. ايا په ګوند کې د ننه د فرصت پالو پر ضد زموږ پرځنګ تاسې ته د مېنشويکانو Mensheviks پر ضد خپل پرځنګ نه در په يادوي؟ موږ يوازې ستاسې له کړنو څخه درس اخيستی.»

www.samsoor.com

سفیر په نرمۍ ځواب ورکړ: «خو بیا هم ملګری تره کی، زه غواړم د شوروي مشرتابه دغه غوښتنه تاسې ته ورسوم چې په نیول شوو خلکو رحم وکړئ او د ژوند اجازه ورکړئ.»
افغان مشر له خپل ځای څخه اوچت شو او په داسې حال کې چې تندی یې نېغ مخ ته راایستلی و ښکته پورته ګامونه اخیستل پیل کړل او ویې ویل: «موږ د شوروي ملګرو اند ته په درنه سترګه ګورو. ستاسې خبرې موږ ته د قانون په څېر دي، خو د لېنن خبرې در په یاد کړه: سړی باید د انقلاب په دوښمنانو رحم و نه کړي. دا باید په یاد وساتئ څو د اکتوبر بشپړه بریا ترلاسه کړئ. هغه وخت تاسې اړ وی چې په میلیونونو دوښمنان له منځه یوسی. زه منم چې - ځېونه په غیر معمولي توګه یوه تېره وسله ده، خو ستا د هېواد ټول تاریخ موږ ته دا درس راکړی چې د دغه وسلې په هوډمنه کارونه کې زړغیتوب و نه کړو.»
په سفارت ت کې پوزانوف دغه تېلګراف مرکز ته ولیکلو: «زموږ په اند، د ا خ د ګ د مشرانو کړنې د انقلاب واک ټېنګولو ته لاره هواروي او د افغان ټولنې په ټولو برخو کې، په تېره بیا په پوځ کې د ګوند ونډه پیاوړې کوي. د دفاع وزیر عبدالقادر د نیولو په هکله زموږ د کتنو پر بنسټ، نوموړی له سیاسي اړخه یو خام سړی و چې خطر اخیستنې ته یې ګروهنه درلوده او له لیدلوري څخه تش و.»

د اګست په دویمه «ملګری ولادیمیروف» چې د ولادیمیر کریچکوف شفري نوم و د یو پټ ماموریت لپاره کابل ته لاړ. له ده سره ډګروال بګدانوف Bogdanov چې وروسته په کابل کې د کې جي بي د استازې څانګې مشر شو او جنرال کلوګین Kalugin په کې جي بي کې د لومړي لوی ریاست (د بهرنیو څارګرو چارو اداره، پي جي یو PGU) ریس هم مل وو. کریچکوف ته د دغه ځوان جنرال د بې پامه خبرو په اړه خبرداری ورکړل شوی و. کابل ته له تګ څخه مخکې، کریچکوف د کلوګین په هکله د ډېرو مالوماتو یوه زیانمنوونکې دوسیه جوړه کړې وه. پر نوموړي د یو لړ ناسمو کړنو څخه نیولې تر سي ای اې اجنټ پورې اړنګ کېده. په داسې حال کې چې په دې نه پوهېده چې د کې جي بي د بهرنیو څارګرو چارو په اداره کې له دندې څخه شړل کېږي، کلوګین له خپل مشر سره چې په لومړي ځل یې افغانستان ته یون کاوه مل و.
کریچکوف له خپلو هغه همکارانو سره په یوه غیر معمولي توګه چلند کاوه چې کاري ژوند یې تر پوښتنو لاندې و. د ده دا خوښبدل چې «خپل خلک» په یو غیر رسمي چاپېریال کې وڅېړي. د بېلګې په توګه، ده به په ډېر ناټ (شوق) په هغه مېلمستیاو کې برخه اخیسته چې جنرالۍ رتبې ته یې د همکارانو د رسېدو په ویاړ جوړېدې. کریچکوف پخپله هېڅ کله شراب نه څښل، خو له داسې مېلمستیاو څخه یې د

داسې یو فرصت په توګه کار اخیست چې د هغه همکارانو کرکټر چې ترفیع ګاني ورکړل شوې وې په داسې حال کې وځېړي چې دوی «د شرابو تر اغېز لاندې» وو او په دې توګه د دوی اصلي کرکټر ډېر ژر ښکاره کېده.

کریچکوف اوس کلوګین له ځان سره مل کړ چې دی په ډېرو مهمو شېبو کې وازمویي او دا چې د خپل مشر په شتون کې څرنګه چلند کوي. کلوګین ته د کابل یون یو بل چکر و (نن په کابل کې، سبا ته په مسکو، بیا په پراګ، وارسا او هاوانا کې)، خو د ده همکار ډګروال بګدانوف کابل ته په بل ماموریت راغلی و. دی باید په افغانستان کې تر ناڅرګند وخت پورې پاتې شي. دا خو څه کوې، نوموړي هېڅ نه غوښتل چې افغانستان ته لاړ شي.

لیونېد پاولوویچ بګدانوف له افغانستان سره ځانګړې مینه نه لرله. ده ته افغانستان د کار او ژوندانه له اړخه په زړه پورې نه و. د ده هیلې او لېوالتیاوې بل ځای پرتې وې. نوموړي په هند او اندونیزیا کې په بریالیتوب خپلې دندې ترسره کړې وې. د ۱۹۷۷ کال په جنورۍ کې له ایران څخه بېرته راغی. په ایران کې یې هم دنده بریالۍ وه. کله چې څو کاله مخکې ده ته د بهرنیو څارګرو چارو په اتمه څانګه کې چې د منځنۍ ختیځ چارې یې مخته وړلې د ګمارنې وړاندیز وشو، نوموړي دغه وړاندیز په دې شرط ومانه چې افغانستان ته د اوږده ماموریت لپاره ونه لېږل شي. د بهرنیو څارګرو چارو د اداري مرستیال، سلومتین Solomatin چې د دغه ګمارنې په تړاو یې له ده سره مرکه کوله، د ده په خبره پوه شو، ویې خندل او ویې ویل: «هېڅوک دغه ډېران ته تلل نه غواړي.» د سلومتین دغسې ستوغې خبرې خوښېدې او د خپلو همکارانو په منځ کې یې په کړتېدنه کې ساری نه درلود، خو په عین وخت کې نوموړی په ډګر کې د کار په تړاو ډېرو لږو خلکو ننګولی شوی. د ده دنده د نویو اجنټانو ګمارنه وه. دی پخپله اندروپوف د «څار نابغه» نومولی و. دغه ستاینې د ده همکاران په دې باور کړل چې نوموړی به په راتلونکې کې د بهرنیو څارګرو چارو د اداري مشر شي، خو له بده مرغه د څار دغه نابغه د بیوروکراسۍ په ډګر کې یو کمزوری لوبغاړی وخوت او کریچکوف د مېشت څارګر په توګه بهر ته ولېږه. په افغانستان کې ماموریت او په دې توګه هستوګنه د ډګروال بګدانوف غوښتنه نه وه. ده ته په خپل کاري ژوند کې دغه ګمارنه نه د پرمختګ او نه د شاتګ مانا لرله، خو دی په دې اند و چې له دې څخه د ښې دندې وړ و او د جنرالۍ رتبې ته د رسېدو ډېر لېوال و. پلار یې هم یو جنرال او د پولې په پوځیانو کې یو مهم افسر و. بګدانوف په لس کلنۍ خپل پوځي ژوند په سووروف Suvorov پوځي ښوونځي کې پیل کړ او ټول کاري ژوند یې بې عیبه و؛ نو ولې باید د جنرالۍ رتبه نه وی ورکړل شوې؟

www.samsoor.com

خو د دوبي په نيمايي کې د پېژنتون يو مامور ده ته د ليدنې بلنه ورکړه. دغه مامور ترې وپوښتل: «ښه ليونېد پاولوويچ، غواړې چې د غويي انقلاب د دفاع په مرسته کې ونډه واخلې؟» بګدانوف ورته وويل: «څرنګه ونډه اخيستی شم؟» مامور ځواب ورکړ: «ملګري تره کي له موږ څخه غوښتنه کړې چې د ځارګرو ادارو په جوړولو کې ورسره مرسته وکړو. موږ د سلاکارانو يوه ډله جوړوو او اوسمهال نظرېې دا ښيي چې ته د دغه ډلې مشري وکړې.»

بګدانوف په ډېر زغم او د ده په اند په ډېره قانع کوونکې بڼه څرګنده کړه چې ولې دغه دنده نه شي منلی. ده وويل چې لږ وخت مخکې په ايران کې له اوږده ماموريت څخه بېرته راغلی او داسې يې وښوده چې اوس دمې ته اړتيا لري. نوموړي ځينې کورنۍ او خپلې روغتيايي ستونزې يادې کړې او خپلو ځينو وتلو همکارانو ته يې نغوته وکړه چې کېدای شي د ده پرځای دغه دندې ته خوښ وي. د پېژنتون مامور کوم اعتراض و نه کړ او داسې ښکارېدل چې د ده دليلونه يې ومنل.

يوه اونۍ وروسته په داسې حال کې چې بګدانوف فکر کاوه چې دغه موضوع حل شوې، ده ته يو بيړنی تيلفون وشو چې له کريچکوف سره وګوري. د تل په څېر، کريچکوف اصلي موضوع ته نېغ راغی: «د شوروي اتحاد د کې جي بي مشرتابه پرېکړه کړې چې د کې جي بي د استازې ځانګې د مشر په توګه تا کابل ته ولېږي.» بګدانوف وويل: «خو ما خپل موجه عذر د پېژنتون مامور ته وړاندې کړ چې دغه دندې ته مې په پام کې ونه نيسي.» کريچکوف يې په خبرو کې ولوېد او ورته ويې ويل: «زه په هر څه خبر يم، خو ستا شخصي او مسلکي ځانګړتياوې دومره ښې دي چې ته دغه دندې ته تر ټولو وړ کس يې.» بګدانوف په عذر ترې وغوښتل: «يوه ورځ وخت راکړه چې په دې هکله فکر وکړم.» کريچکوف ورته وويل: «هر څومره چې غواړې همدومره وخت سوچ کولی شې، خو په دې پوه شه چې دغه دندې ته ستا د ګمارنې پرېکړه اخرۍ ده.» ورپسې يې سترګې په خپلو کاغذونو کې ښخې کړې څو بګدانوف ته وښيي چې د خبرو لپاره نور څه نشته.

ليونېد پاولويچ بګدانوف يو شمېر نورې هڅې وکړې چې دغه حتمي تګ وځنډوي. ده له ډاکټر څخه يو راپور واخيست چې پکې د نوموړي د يو شمېر ناروغيو پخلی شوی و، خو د جولای په پای کې کريچکوف بيا ور وغوښت او ورته ويې ويل: « موږ د اګست په دويمه کابل ته ځو. زه هم ځم چې له افغان لوري سره د همکارۍ يو شمېر هوکړه ليکونه لاسليک کړم. تا به هم وروپېژنم.» بګدانوف په زاريو وويل: «ولاديمير الکساندرويچ، زه هيله من يم چې له تا سره يوځای بېرته مسکو ته راشم. ما حتی لاتراوسه خپله رخصتي نه ده اخيستې.» کريچکوف په رټ ځواب کې ورته وويل: «نه، ته به يو
دوه مياشتې هلته کار وکړې، بيا به سره ګورو.»

د اګست په څلورم، تره کي د شوروي ځارګرو ادارو درې استازې خپل حضور ته ومنل. د نوموړي خبرې دوستانه وې او خوشبيني يې څرګندوله. ده وويل چې هر څه د پلان سره سم مخته ځي، انقلاب بريالی

شو او لکه څنګه يې چې هيله کوله، شوروي اتحاد نيت لري چې په پراخه کچه وته ييزې او پوځې مرستې ورسره وکړي. کابل ته د شوروي څارګر مشر راتګ د دې څرګنده شاهدي ورکوله چې مسکو به د کابل د مرستې ټولې غوښتنې ومني.

کريچکوف د ارګ نوي څښتن ته د بريژنيف له خوا يو ټوپک ورکړ. داسې يو ټوپک چې په لرګين بکس کې ايښودل شوی و او د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د عمومي منشي پېژندكارت ورسره مل و. ده تره کي ته خبر ورکړ چې په کابل کې د کې جي بي د استازې ځانګې د جوړولو په هکله د ده غوښتنه ومنل شوه او په دې تړاو به سبا ته د دواړو لوريو تر منځ يو هوکړه ليک لاسليک شي. کريچکوف، تره کي ته د انقلاب د بريا مبارکي ورکړه او زياته يې کړه: «موږ فکر کوو چې تاسې په داسې لاره کې مزل پيل کړی چې پکې لويې عينې ننګونې پرتې دي. په اوسنيو حالاتو کې چې له هيلو سره سم نه دي، دا به سخته وي چې هغه انقلابي بدلونونه ترسره کړې چې ته يې په پام کې لرې. په لنډ وخت کې د سوسياليزم د پلي کولو موخه چې تاسې اعلان کړې زموږ د ملګرو په منځ کې اړنګونه زېږولي.» بيا يې په ديپلوماتيکې بڼه وويل: «ښايي موږ ټول اړين مالومات ونه لرو؛ نو موږ به منندوی وو که ملګری تره کی د خپلو پلانونو په هکله مالومات راسره شريک کړي.»

تره کي چې د مېلمه خبرې واورېدلې، څه نا څه په خانتماتوب يې موسکا وکړه او غبرګ يې داسې خلاصه کړه لکه چې کريچکوف ته ببننه وکړي. ورپسې يې يوه اوږده وينا وکړه چې په ذات کې يې دا څرګندوله چې مسکو په کابل کې د غويي د مياشتې په پېښې سم نه دی پوه شوی. ده وويل: «هو زما ښه په ياد دي چې ستاسې ملګرو خبرداري راکړل. تاسې مشوره راکړه چې بېړه و نه کړم او د داود له رژيم سره همکاري وکړم، خو اوس ټولو ته څرګنده ده چې موږ په سمه لار روان وو. په ډېرو اړخونو کې زموږ انقلاب د اکتوبر انقلاب انګازې لري، خو موږ د شپې له تيارې څخه په کار اخيستنې نه بلکې په رڼا ورځ په مخامخ جګړه کې خپله بريا ترلاسه کړه. هغه څه چې اوس په افغانستان کې پېښېږي، د شوروي په بڼه د خواريکښو د دېکتاتورۍ پيل څرګندوي، خو هغه څه چې تاسو په شپېتو کلونو کې لاسته راوړل، موږ يې په پنځو کلونو کې ترلاسه کوو. ته يو کال وروسته بيا دلته راشه چې وګورې افغانستان څومره بدلون کړی. زموږ جوماتونه به تش وي، زموږ بزګران به داسې کوپراتيفونو ولري لکه ستاسې ګډې کروندې. زموږ انقلاب به ټول ختيځ ته لاره ورونښيي. زه هيله من يم چې د يو کمونست په توګه زموږ له درېځ سره همغږی وې.»

کريچکوف سمدستي د هو سر وخوځاوه او بګدانوف ته يې له مانا څخه ډکې سترګې واړولې چې بګدانوف داسې تعبير ترې واخيست: «سر له اوسه به ته هره ورځ دغه خبرو ته غوږ نيسې او له تا څخه تمه کېږي چې سم غبرګون څرګند کړې. موږ بايد په دې پرېکړه وکړو چې 'سمه لاره' څه مانا لري.» کريچکوف، چې

په پاماليۍ کې نومور و، له خپلې هوښيارۍ څخه کار واخيست او له تره کي سره يې نور بحث اوږد نه کړ. ده د تره کي خبرو ته په ادب غوږ ونيو او په ځواب کې يې داسې اوتې بوتې وويلې چې د غونډې د پای مانا يې ورکوله.

کريچکوف له امين سره درې ځلې وکتل. وروسته، د ده په ياد وو چې د «تره کي ګران زده کونکی» د ده خوښ شو ځکه چې دی ځوان، سېکمن، خوږ ژبی او شوروي اتحاد ته ژمن برېښېده، خو ځينو خبرو سر له اوسه کريچکوف اندېښمن کړی و. د بېلګې په توګه، دا څرګنده وه چې امين ځان ته د ضمني هېواد مشر په سترګه کتل او هوډ يې درلود چې ځېنو ته به په دې دليل دوام ورکوي چې د ښکاره او پټو دوښمنانو له منځه وړل اړين دي. دا هم ښکاره وه چې ده خپله وفاداري خپلو شوروي ملګرو ته څرګندوله، خو په حقيقت کې يې خپله لوبه مخته بېوله.

کله چې له ارګ څخه سفارت ته روان و، کريچکوف په کابل کې د ژوندانه صحنو ته داسې کتل لکه چې هېڅ ورته په زړه پورې نه وي. پر ده باندې د منځنيو پېړيو ختيځې بازارونو اغېز و نه کړ او ځړېدلو قالينو، پوستينو، جاپاني الکترونيکي توکو، امريکايي سګرېټو او نورو قاچاقي توکو يې هم ناټ ونه پاراوه. د ده په سر کې نورې خبرې ګرځېدلې. دی په دې سوچ کې و چې د افغانستان حالات به څرنګه مخته لاړ شي او شوروي اتحاد به څومره د افغانستان په خټو کې ځان بند کړي؟ بيا يې له ځان سره وويل: «نه، معجزې نه پېښېږي. موږ به هڅه وکړو چې دغه بار پر خپلو اوږو واخلو.» ده ته د خپل مرستيال، جنرال ميډيانيخ خبره ور په ياد شوه چې تره کي څوارلس کاله مخکې د شوروي يو څارګر مامور ته په ډاډ داسې ويلي وو: «موږ به انقلاب ترسره کړو او له موږ سره به تاسې چې خپلې نړيوالې دندې ته ژمن ياست، مرسته وکړئ او که چېرې يې موږ غوښتنه وکړه، تاسې به حتی پوځي مداخله هم وکړئ.»

# ۳

# اصلي غلیم

سهار وختي د جمعې په ورځ سترستين ته «انارشبست» تیلفون وکړ. سترستين دغه نوم پر یو امریکایي اېښی و چې په راپورونو کې د ده له اصلي نوم اخيستنې ډډه وکړي. له دغه امریکایي سره د سترستين اشنايي شپږ میاشتې مخکې پیل شوې وه: «سلامونه ولېري، زه راورسېدم. له امریکا څخه د لندن له لارې پرون راغلم.» وروسته له یوې تودې، دوپجنې او بې خوبه شپې، سترستين چې تر اوسه خوبجن و، ترې وپوښتل: «په لندن کې هوا څنګه وه؟ خوپه (ګردجنه)، سره که باراني؟»

انارشبست: *همداسې وه لکه دلته چې ده، توده او نمجنه.*

ولېري: *ښه؛ نو یوازې موږ نه یو چې ځورېږو.*

انارشبست: *ولېري، کېدای شي نن شپه سره وګورو. ما له امریکا څخه سلامونه او ډالې درته راوړي.*

ولېري: *بس کړه، نور څه مه وایه. زه پوهېږم چې له لنګلي Langley• څخه سلامونه، د سمساري څرمنې څخه په جوړ شوي لاسي بکس کې یو میلیون ډالر او داسې د کار وړاندیز دې راوړي چې زه یې ردولی نه شم.*

انارشبست: *دربغې چې ته مې په دې توګه خوشاله کړې وای، خو زما سلامونه او ډالۍ دومره ګرانبیه نه دي.*

ولېري: *سمه ده، راځه چې په ۷:۱۵ د ژوبڼ د دروازې څنګ ته سره وګورو.*

د ولېري دغه انارشبست خوښ و. دی یو په زړه پورې سړی و چې (د لوېدیځ لپاره) په ۱۹۶۰مو کړکېچنو کلونو کې د هارورډ له پوهنتون څخه وتلی و او د روسي او پارسي ژبو زده کړې یې کړې وې. نوموړی د شوروي پوه په توګه خپل کاري ژوند پیلولی شوی، خو د سیاسي دلیلونو له کبله یې د کار دغه وړاندیز ونه مانه. ده ویل چې د خپلې زده کړې په بهیر کې یې د شوروي انارشبستانو، میخایل بکونین Mikhail Bakunin او کونټ کرپوتکین Count Kropotkin اېډیالوژۍ دومره خوښه شوې وه چې «امپریالېستي امریکا» ته د کار او چوپړ سوچ ورته غیراخلاقي او د کرکې وړ ښکارېده.

---

• لنګلي: د امریکا په ورجنیا کې هغه ښار چې د سي ای اې مرکزي اداره پکې پرته ده (ژباړن).

www.samsoor.com

په داسې حال کې چې د ده ټولګیوال د بهرنیو چارو په وزارت او سي ای اې کې د کاري ژوند په پاټکیو اوچت ختل، دغه انارشېست به هر هغه څه کول چې مخې ته یې ورتلل، ډېری وخت به په زړه پورې، له شرغوبل څخه ډکو او کله کله خطرناکو کړنو کې اخته و او هڅه به یې کوله چې د عجیبه او خطرناکو کارونو له لارې په اسانۍ پیسې پیدا کړي.

په ۱۹۶۹ کال د عربو او اسرایل د جګړې په ترڅ کې نوموړی له یوې ویدیو کمرې سره د اسرایل او سوریې تر منځ د جګړې لومړۍ کرښې ته ځان ورساوه او ځینې بېساري فلمونه یې واخیستل. دغه مستندو فلمونو لږ پیسې خو ستونزې هم ور په برخه کړې. پر نورو عجیبه کارونو سربېره، ده د پلورنې کار پیل کړ او په بشپړه نوې بڼه یې نارینه کمېسونو ته

چپه ګردنونه ومونډل. د ختیځ هنرونو او عملي کوډو په هکله یې مقالې ولیکلې او بیا یې خپرې کړې. د ۱۹۷۰یمې په ورستیو کلونو کې یې د انتیکو او په ختیځ کې د نورو په زړه پورې توکو په جعل کارۍ کې ناټ پیدا کړ او په مصنوعي توګه یې د پارسي قالینو د زړولو په تخنیک کې ځانګړې وړتیا ترلاسه کړه. بیا یې په کامبریج کې د پارسي په زړه پورې توکو یوه هټۍ خلاصه کړه، یو هټیوال یې ورته وګماره او بیا افغانستان ته لاړ. هلته یې د قالینې وودلو او نورو توکو یو شمېر ورکشاپونه جوړ کړل.

د نوموړي یوه ځانګړتیا دا وه چې ناڅاپې یې ډېرې خوښېدې. یوه ورځ یې کله چې د سترستین په کور کې خپله شپږ خولۍ له ریک څخه را اخیسته، ناڅاپه ترې خطا شوه او نېغه د سترستین په لاسونه کې ولوېده. د سترستین د «موډېکای Mordicai» (مردخای) نوم ته پام شو چې په خولۍ کې د ننه لیکل شوی و. ده په ټوکه له انارشېست څخه پوښتنه وکړه چې ایا دغه شپږ د هغه سړي ده چې په تورات کې یې نوم یاد شوی. امریکایي په ډېره جدي بڼه ورته وویل چې موډېکای یو دودیزه یهودي نوم دی. دا یې خپل، د مور او خدای نوم دی او خپل غیر مذهبي انګرېزي نوم یې د ایف بي ای FBI د هغو دوسیو لپاره دی چې پکې د سترستین په نوم د کې جي بي د یو مامور د ملګري په توګه نبناني شوی دی. سترستین ډېر اوتر شو ځکه ده فکر کاوه چې هېڅ داسې څه یې نه وو کړي چې دغه ملګری یې په دې پوه شي چې دی د کې جي بي مامور دی. انارشېست چې د خپل ملګري په اوترتوب پوه شو، په روسي ژبه یې دغه سندره پیل کړه: «پام چې وار د خطا نه شي ملګریه، په یوه بې انډوله جګړه کې زړورتیا مه بایله.»

سترستین پوه شو چې دغه امریکایي د یو بالقوه اجنټ ځانګړتیاوې نه لري ځکه ده یوه ډېره ارزښتمنه تشه درلوده - نوموړي محرمو مالوماتو ته نېغ لاس رسی نه درلود؛ نو ځکه ولېږي داسې یو ښه دلیل نه درلود چې د مرکز د هغه سپارښتنې پر وړاندې یې وکاروي چې دی باید له امریکایي سره اړیکې وشلوي، خو اوسادچې د دغه ځوان مامور د هیلې ملاتړ کاوه چې له انارشېست سره اړیکو ته دوام ورکړي. دغه امریکایي د اصلي غلیم استازی و، له امریکایي دیپلوماتانو سره یې نېږدې اړیکې درلودې او له دغو دیپلوماتانو سره یې په کابل کې په غیر قانوني سوداګرۍ کې مرسته کوله. ده په کابل کې د امریکایانو د مېنې په هکله

د ارزښتمنو مالوماتو د ورکړې توان درلود او په سیاست کې یې یوه پېچلې غریزه لرله؛ نو د دغو لاملونو پر بنسټ، انارشېست د زیانمن په پرتله ډېر ګټور برېښېده. له ده سره د اړیکو ساتلو یوازینی زیان پر الکولو او کوچنیو مېلمستاو باندې په بابېزه کچه د پیسو لګول وو.

په هغه لیکنو کې دستورونه د معمول په څېر ګونګ وو چې د انارشېست په هکله د مرکز او په کابل کې د کې جي بي څانګې تر منځ کېدې.

سترستین له انارشېست سره د ژوبڼ دروازې ته څېرمه ولیدل او د خپل دفتر په والګا کې یې په څلورمه کارته کې خپل کور ته راووست. د نوي رېبل شوي چمن بوی په هوا کې خور و او د کور په انګړ کې امریکایي مېلمه ته له الکولو سره یوه ښه ماښامنۍ تم وه.

تاماري چې خپل مېلمه ته ډوډۍ ورکړه،غوښتل یې چې له انګړ څخه کور ته د ننه لاړه شي، خو انارشېست ترې وغوښتل چې د ده له څنګ سره کېښېني. نوموړی یوه ثانیه چوپ پاتې شو چې سمه خبره پیدا کړي او بیا یې په اوچت غږ په روسي ژبه وویل: «نړۍ څومره کوچنۍ ده!» بیا یې د *پارس میراثونه* په نوم یو کتاب راوایست او ولېږي ته یې ورکړ. دغه کتاب د ایران او منځنۍ اسیا کارپوه ریچارډ فرای Richard Frye لیکلی و. ورپسې انارشېست له دغه لیکوال سره د خپلو اړیکو په هکله چې د هارورډ په پوهنتون کې ښوونکی و په انګرېزي ژبه په ډېر تفصیل وغږېد. انارشېست له ده څخه پارسي زده کړې وه او اوس یې له زوی سره د سوداګرۍ اړیکې لرلې چې د قالینو او په عمومي ډول د هنري توکو په توګه د قالینو یو مخکښ کارپوه و.

کله چې د جون په میاشت کې یې زوی ورته وویل چې انارشېست له افغانستان څخه امریکا ته راغلی، فرای هیله څرګنده

کړه چې له ده سره وګوري او د غوبي انقلاب د یو لیدونکي په توګه د ده د اند څرګندونو ته غوږ ونیسي. د لیدنې په ترڅ کې، ښوونکي او زده کوونکي د انقلاب د راڅرګندېدو، د افغانستان د راتلونکي سیاسي وضعیت او د نړۍ په دې برخه کې د امریکایي پالیسیو د بدیلونو د غوراویو په هکله اوږدې خبرې وکړې. فرای داسې ادعا هم وکړه چې په افغانستان کې یې دغه شوروي کارپوه ښه په یاد دی چې هغه وخت یو لرغونپوه و او له بده مرغه اوس یو دیپلومات دی. نوموړي د خپل تر ټولو ښه علمي اثر، د *پارس میراثونه*، یو ټوک انارشېست ته ورکړ چې ولېږي ته یې ورسوي.

ولېږي په ډېر څیر د کتاب منځپانګه وکتله او د چاپ د څرنګوالي په هکله یې خوښي څرګنده کړه. ده له انارشېست څخه وپوښتل چې فرای ولې په دغه کتاب کې خپل لاسلیک و نه کړ. انارشېست ورته وویل چې ده همدغه پوښتنه له پروفیسور څخه وکړه، خو فرای وویل چې ولېږي به یې په لامل پوه شي.

www.samsoor.com

سترستين د خپل ژوند هغه شېبې په ياد کړې چې د ريچارډ فرای په تړاو وې. دی په ١٩٦٦ کال د تاجکستان په لرغوني ښار، پنجکنت Penjikent کې و. دغه ښار له سمرقند څخه شاوخوا دېرش کيلومتره ليرې د زرفشان سيند پر غاړه پروت دی. هلته لرغونپوهانو د سغدي Sogdian واکمنانو د ماڼۍ په راسپړلو کار کاوه. دوی د لرغونپوهنې ماموريت د مرکز په کوچنيو کوټو کې، په هره کوټه کې دوه کسانو ژوند کاوه. سهار وختي به پاڅېدل، له سباناري وروسته به په لارۍ کې د کيندلو ځای ته ولېږدول شول او هلته به يې تر غرمې کار وکړ. کارګر سيمه ييز خلک او د تخنيکي ښوونځيو زده کوونکي وو. د سترستين دنده د هغو توکو پېژندنه وه چې علمي ارزښت يې درلود. په غرمه کې چې د ډېرې ګرمۍ له کبله کار ناشونی و، د لرغونپوه ډلې غړي به بېرته استوګنځي ته راغلل چې خوندور بورش Borsch (يو ډول سوپ چې له چغندر، کرم او نورو سبو جوړېږي او ډېری له تروه پېروي سره خوړل کېږي. ژباړن) وخوړ چې ګل جمو Gul'djamo يا يوې ځانګړې تاجکي ښځې به پوخ کړی و. وروسته به دغه روڼ اندي تر شپې پورې د وړاندونونو (Presentations) په جوړولو او راپورونو په ليکلو بوخت وو.د سترستين په ګډون، ځينې نور به په سيمه ييزو باغونو کې ګرځېدل، انګور او مڼې به يې خوړلې او د سيمې له خلکو سره به يې خبرې کولې او يا به سمرقند ته لاړل چې د پنجکنت په واټونو کې په ارزانه رستورانتونو کې پلو وخوري او سيمه ييز واين وڅښي.

په دغه موسم کې د سغدي واکمنۍ د ماڼۍ پر دېوال بېسارې او روغې پاتې شوې ليکنې موندل شوې. په ټوله نړۍ کې يوازې يو کس پر دغو ليکنو پوهېده. دغه سړی ولاديمير ليفشېټس Vladimir Livschitz و چې په لېننګراد کې يې د هېرمټېج Hermitage په دولتي موزيم کې دنده لرله. دی چې يو ځيرک او ښه سړی و،د خپلې ازبکې ملګرې په ملتيا او خپلو همکارانو ته له يو کارتن واين سره له سمرقند څخه د کيندلو ځای ته په ټکسي کې راورسېد.

په عين وخت کې ريچارډ فرای چې له دغې موندنې خبر شو، له خپل څوارلس کلن زوی سره له امريکا څخه پنجکنت ته راغی. نوموړي د روسي ژبې په هکله د ډېرې پوهې، په دقيقه توګه د دستويفسکي د ويناو پر نقل کولو او په تکنالوژۍ کې د لوېديځ پر وروستي پرمختګ - د پولورايد کمره - د لرغونپوه ډلې غړي ډېر اغېزمن کړل. په ټول شوروي اتحاد کې چا داسې کمره نه وه ليدلې.

له دغه دوبي وروسته به سترستين په علمي کنفرانسونو کې ډېری له فرای سره مخ کېده. په وروستي ځل يې له نوموړي سره يو کال مخکې د هغه علمي کنفرانس په ترڅ کې وکتل چې په کابل کې د کوش Kush کلتور په اړه جوړ شوی و. ولېږي فکر وکړ چې دا به ناښنده وي چې دغه امريکايي روڼ اندي ته په خپل کور کې بلنه ورنه کړي، خو د راتلونکې ورځ په سيمينار کې د دمې په ترڅ کې فرای، ولېږي ته ورنږدې شو او په ډېره خواشينۍ يې د ده بلنه رد کړه. فرای وويل چې د بهرنيو چارو د څانګې د اصولو پر بنسټ، ده بايد په سفارت کې د دغه بلنې په هکله د امنيتي چارو مامور خبر کړی وی. دغه مامور فرای ته په

کلکه سپارښتنه وکړه چې د ولبري بلنه هېره کړي او په راتلونکې کې له شوريانو سره له شخصي اړيکو ډډه وکړي.
ولبري په سوچ کې شو: «ښايي دغه خبرداريو فراى دې ته اړ کړی وي چې له ما سره د پېژندګلوی کوم لاسوندی له ځان څخه پرېنږدي؛ نو ځکه يې رالېرلی کتاب نه دی لاسليک کړی، خو زموږ تېرو اړيکو ته په کتو سره، دی بيا هم زما په اړه نېک نظر لري.» بيا يې له انارشپست څخه وپوښتل: «نو د غويي انقلاب په تړاو، د افغانستان او امريکا تر منځ د راتلونکو اړيکو په هکله د درانه پروفيسور اند څه دی؟»
سترستين ته د فراى اند ډېر ارزښت درلود ځکه چې دی د منځنۍ اسيا يو تر ټولو وتلی امريکايي روڼ اندي او د سپيني ماڼۍ سياسي سلاکار و. د يو سلاکار په توګه، نوموړي کولای شوی د امريکا د ولسمشر او اداري پر پرېکړو اغېز ولري.
انارشپست په خندا شو او ويې ويل: «زه پوهېدم چې له ما څخه به دغه پوښتنه وکړې. ته رېښتيا دا فکر کوې چې فراى ته له دې کبله لاړم چې تري وپوښتم: «ګرانه انکل سم Uncle Sam*، ته د هغه موضوعګانو په هکله په څه پوهېږې چې زما شوروي ملګري ته ډېر ارزښت لري؟ بې اړنګه، ما نه شوی کولای چې له ده سره په داسې موضوعګانو وغږېږم، خو زه مخکې له مخکې پوهېدم چې په افغانستان کې د پېښو په اړه فراى څه نظر لري. کله مې چې د غويي انقلاب په هکله کيسې ورته کولې، ما يې يوازې غبرګونونو ته پام کولی شوی.»
انارشپست خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ: «زما د کتنو پر بنسټ، امريکا د داود پر نسکورولو وير نه کوي. داود يو داسې ټولواک غوښتونکی واکمن و چې په ښکاره يې د امريکايي دموکراسۍ له اصولو سره د کرکې څرګندولو وېره نه لرله. له قانوني اړخه، داود شوروي ته ورته يوګوندي سياسي سيستم جوړ کړ. دی يو افغان ملتپال و چې د هغو پښتنو بيا يووالي ته تلوسمن و چې د ديورند کرښې په دواړو خواو کې ژوند کوي. دا ډېره شوني ده چې داود پر ظاهرشاه فشار اچولی وي چې د بغداد تړون• لاسليک نه کړي. دا کار يې له دې کبله و نه کړ چې د دغې افغان کورنۍ وليعهد له تاسې کمونستانو او مارکسپستانو سره مينه درلودله. دی ستاسې په داعيه هېڅ کله پوه نه شو او هېڅ کله يې تاسې، لېنن، ستالين او خروشوف نه خوښېدل. ده تاسې ته د يو داسې سياسي متحد په سترګه کتل چې د افغان دولت په غښتلتيا کې يې د مرستې توان درلود. د خپل هېواد او په ځانګړې توګه د خپل پوځ په غښتلي کولو سره، داود خپلې

---

* په دغه وخت کې ريچارډ فراى وزرېره پرېښې وه. ښايي غوښتل يې چې د انکل سم Uncle Sam نوموړه ونګه ولري.

• دغه تړون ته امريکا د خپلو پوځي او وټه ييزو مرستو په ژمنو لاره هواره کړه چې پر بنسټ يې په ۱۹۵۵ کال کې د عراق، ايران، پاکستان، ترکيې او برتانيې تر منځ د سرې جګړې يو پوځي ايتلاف رامنځته شو. په پيل کې امريکا د ځينو لاملونو له کبله پکې برخه وانه خيسته، خو په ۱۹۵۸ کې د دغه ايتلاف د پوځي کمېټې غړې شوه. دغه ايتلاف په ۱۹۷۹ کال کې ړنګ شو(ژباړن).

www.samsoor.com

ملتپالې هیلې ترسره کولې.» انارشېست زیاته کړه: «د افغانستان په هکله سیاست کې موږ امریکایان، د انګرېزانو یرغمل شوو. په هغه وخت کې انګرېزانو افغانستان دوه ټوټې کړ او په دې توګه یې افغان او پاکستاني مشرانو ته لویه ستونزه جوړه کړه. لکه څنګه چې فرای دغه خبره راسره شریکه کړه، کله چې داود په شاهي حکومت کې صدراعظم و، ده په پښتونستان کې د خپل مېشت استازي اختر محمد** په وسیله د پاکستان په شمال ختیځ ولایتونو کې د پښتني قبیلو لوی وسلوال پاڅون رامنځته کړ چې موخه یې په پاکستان کې د حالاتو بې ثباته کول وه. داود یو مجرب سیاستوال و چې د خپل ځواک ښه ارزونه او اکاړ ګوزارونه یې کولای شوی. فرای په دې کې هېڅ اړنګ نه درلود چې که داود یو دوه کاله نور پاتې شوی وی، افغانستان به یې په لویه کچه غښتلی کړی وی او افغان پوځ او ځانګړي ځواکونه به یې په نویو وسلو سمبال کړي وی. بیا یې له تاسې سره د خپلې ملګرتیا څخه په ګټې اخیستنې، خپل ټول زور او سرچینې به یې افغانستان ته د پښتونستان د بېرته راګرځولو په جګړه کې په کار اچولې وی.

داود یو ریښتینی جدي سیاستوال و ځکه چې له اشرافي شاهي نسب څخه و او سیاسي ژوند لیک یې تشه نه لرله. د امریکا د متحدینو په ګډون، د ډېرو هېوادونو مشرانو ده ته غوږ نیوه او د ده اند ته یې درناوی درلود.» انارشېست دلته په خبرو کې یوه لنډه دمه وکړه او بیا یې وویل:«نو ښه وشول چې ووژل شو.» سترستین په پارونکې ښه ترې وپوښتل: «نو تاسې خیال درلود چې داود ستاسې د خوښې مشر نه و؟ تاسې دا فکر هم نه کوی چې داود موږ وواژه، که څنګه؟ د تره کي او د نوموړي د ګوند د راتګ په هکله د فرای او په نړیوال سیاست کې د نورو امریکایي کارپوهانو اند څه دی؟» انارشېست ځواب ورکړ: «امریکا په دې کې کومه ستونزه نهویني. امریکا هېڅ کله په افغانستان کې سیاسي او وټه ییزې ګټې نه لرلې. په سپینه ماڼۍ کې زموږ ښاغلو تل افغانستان ته زموږ نه، بلکې ستاسې د هېواد د ځمکني سیاست او حیاتي ګټو د سیمې په سترګو کتلي. تاسې له افغانستان سره اوږده پوله لری، ستاسې د ځینو جمهوریتونو وګړي د افغانستان له وګړو سره شریکه وینه لري او تاسې د افغانانو خوښېږی؛ نو موږ څنګه؟ موږ به دلته څه وکړو؟ د ملنګانو په څېر په ټول هېواد کې په سپېڅلي حقیقت پسې وګرځو او یا لکه ما غوندي جعلي قالیني واوبدو؟

سترستین سترګې بلې خوا ته واړولې او په ملنډو یې وویل: «خوار امریکایان!» انارشېست بیا خبرې پیل کړې: «تاسې دلته سوسیالېزم جوړولی شی او د ټولنیزې وټې له اړخه ښایي په افغانستان کې سوسیالېزم بد نه وي. کله چې د اکتوبر انقلاب راغی، شوروي هم د پرمختګ په هغه کچه کې و لکه اوس چې افغانستان دی. په راتلونکو پنځوسو کلونو کې ښایي تاسې افغانستان له ځان سره مدغم کړی او خپل یو جمهوریت یې وګرځوی، خو ستاسې دغه تلوسه چې افغانستان شوروي پلوه کړی، ښایي په منځنۍ اسیا

**اخترمحمد د احمدزي قبیلې یو مشر او د ا خ د ګ د راتلونکي عمومي منشي او د افغانستان راتلونکي ولسمشر، نجیب الله پلار و.

کې د ځواک انډول بدل کړي او کورنۍ جګړه وپاروي. که داسې وشي، دا به امریکا ته یوه خوندوره سناریو وي. ته چې هر څه وایې، خو ډېری افغانان، د دوی د سېمه ییزې کلیزې پر بنسټ، په ځوارلسمه پېړۍ کې ژوند کوي ؛ نو ولېري، د تره کي او د ده د ملګرو واک ته رسېدل امریکایي سیاستوال خپه نه کړل او برعکس، امریکایانو ته یې هیله ورکړه چې افغان 'انقلابیان' به په دغه شاته پاتې اسیایي هېواد کې د سوسیالېزم د جوړولو لپاره په خپلو بې کچو لویو او بې ګټو چارو کې دومره بوخت وي چې په پښتونستان کې به خپل ورونه هېر کړي- لږترلږه تر هغه وخت پورې چې دغه ورونه یې خپل ځان پخپله ور په یاد کړي. سربېره پر دې، په واشنګټن کې ټول ډاډمن دي چې تاسې شورویان به د تره کیانو او هر هغه بل افغان مشر چې تاسې ته وفادار دی د داسې رادیکالې کړنې مخه ونیسي چې په منځنۍ اسیا کې اوسنی حالت بدل کړي او دا ټیک هغه څه دي چې امریکا ورته اړتیا لري.»

ولېري دغه پوښتنه ترې وکړه: «نو ښاغلی فرای او ته، زما ملګریه، فکر کوی چې امریکا به د نړۍ په دغه سیمه کې زموږ ګټو ته درناوی وکړي او افغانستان به زموږ د بنسټیزو ګټو په کړۍ کې پرېږدي؟» انارشېست ورته وویل: «زما په اند پروفیسر د داسې یو سیاستوال په پرتله چې د مدرن افغانستان په پېچلتیاو پوه شي، ډېر ختیځ پوه او د ایران د لرغوني تاریخ کارپوه دی.» ولېري بیا پوښتنه وکړه: «ته پخپله څه فکر کوې؟» انارشېست په ځواب کې ورته وویل: «زما په اند، امریکا، افغانستان ته او د دریېمې نړۍ ورته هېوادونو ته د دوو لویو هېوادونو د بالقوه ټکر او نښتې د ډګر په سترګه ګوري. له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته، زموږ حکومت سملاسي هڅه وکړه چې افغانستان په یو داسې پوځي ائتلاف کې ګډ کړي چې د شوروي په سوېلي سیمو کې یو ګواښ رامنځته کړي. هغه وخت چې یوازې ستراتیژیکي بم غورځوونکو الوتکو د اتومي بمونو د لېږد وړتیا درلوده، موږ امریکایانو په کندهار کې یو مدرن هوايي ډګر جوړ کړ. افغانانو یې په جوړولو کې یوه روپۍ ونه لګوله، خو ډېره ګټه یې ترې پورته کړه. لږ وخت مخکې، ستاسې رسنیو د ځینو څارګرو راپورونو یادونه وکړه چې د کندهار هوايي ډګر په شاوخوا غرونو کې امریکایانو لوی غارونه کیندلي چې خپلې جنګي الوتکې پکې پټې کړي. زه حیران یم چې کوم څبن به دا کیسه جوړه کړې وي؟»

ولېري په شخصي توګه هغه همکاران پېژندل چې د داسې غارونو د شتون په هکله یې لیکنې کړې وې او له ده سره یې د دغو لیکنو دلیلونه هم شریک کړي وو. دوی نیت درلود چې په دې لیکنو به په مرکز کې نوم وباسي، خو د داسې مهمو مالوماتو پایلو په دفاع وزارت کې لویه وېره خوره کړه؛ نو د پام وړ څارګرې سرچینې وګمارل شوې چې په افغانستان کې د امریکا داسې هنګرونه بربنډ کړي. په پای کې دغه موضوع روښانه، جوته او وروسته هېره کړل شوه. هغه خلکو ته چې دغه ګنګوسه یې خپره کړې وه ترفیع ګانې ورکړل شوې.

سترستين له انارشېست څخه بيا پوښتنه وکړه: «رېښتيا، تاسې ولې په غرونو کې غارونه کيندل؟» انارشېست ځواب ورکړ: «کله چې د لويو وچو (قارې) په واټن توغندي راووتل، کندهار هوايي ډگر له پامه وغورځول شو. اوس چې زموږ هېوادونه په رواني جگړه کې بند پاتې دي، دا به موږ ته اړينه وي چې د تره کي کمونست رژيم ته ستونزې جوړې کړو او ستاسې په لاره کې اړکی کېږدو. »

د اړکی کليمه ولېري ته په ياد شوه چې همکارانو يې په هغه راپور کې هم ليکلې وه چې له امريکايي ديپلومات، ماريک ورن Marik Warren سره يې له ليدو وروسته ليکلی و.

کله يې چې له انارشېست سره خبرې اترې پای ته ورسېدې، ولېري نوموړی تر ښار پورې بېرته ورساوه. ده له دغه امريکايي سره د خبرو اترو په هکله سوچ وکړ او په خپل زړه کې يې دا ومنله چې د امريکا لپاره افغانستان يوازې له شوروي سره د ټکر ډگر دی. بيا يې له ځان څخه پوښتنه وکړه: «د موږ لپاره افغانستان څه شی دی، د شوروي اتحاد لپاره؟ يو ستراتيژيک ملگری؟ د سوېل په لور زموږ د پراختيا لاره؟ يو معتبر ناپېيلی هېواد چې د ډال کار ورکوي چې د ممکنه اتومي بريد مخه ونيسي؟ د لويې سوسيالېستي تجربې د ازموينې ډگر چې که بريالی شوه ښايي ټولې اسيا ته وغځېږي؟ يا دا ټول؟ دا ډېره شونې ده چې زموږ هغه سياستوال چې د سرچينو په ځانگړولو کې کمښت نه غواړي څو افغانستان د شوروي په کړی کې د ننه وساتې، په بشپړه توگه بېل دليلونه ولري او هر دليل يې ډېر مهم وي.»

ولېري فکر وکړ چې د ځمکني سياست ځينې عيني قانونونه بايد شته وي چې د دولتونو ابنوې• او د نړی په بېلابېلو برخو کې د دولتونو تر منځ اړيکو ته لوری ورکوي پرته له دې چې سياسي رژيمونه او د دولتونو ټولنيزې وتې په پام کې ونيسي. که د افغانستان په اړوند يادونه وشي، ډېر پخوا، د نولسمې پېړی په نيمايي کې دغه هېواد د تزاري روسيې او امپرياليېستي برتانيې د کلک ټکر ډگر و.

سترستين خپله حافظه د زبرځواکونو تر منځ د دغه لوی ټکر د پېښو په هکله راوسپړله او په دې اړوند يې له ځان سره فکر وکړ چې د روسيې او برتانيې گټې مالومې او د پوهاوي وړ وې. روسيې له افغانستان سره په شمال کې او په سوېل او ختيځ کې د برتانيې تر ښکېلاک لاندې سيمو له افغانستان سره گډې پولې لرلې. وروسته له دې چې جرمني يوه پراخه څارگره شبکه جوړه کړه، دغه هېواد هم په ۱۹۴۱ کال په دې لټه کې شو چې په دغه سيمه کې ځان ښکېل کړي. په دې کار کې جرمنان اغېزمن وو: کله چې هېټلر پر شوروي اتحاد يرغل وکړ، د کابل لمړنی غبرگون مثبت و. افغان مشران په دې باور وو چې شوروي ته به

---

• ابنوه: لويه هيله، د زړه غوښتنه، aspiration

ماته ورکړل شي او د یو متحد هېواد په څېر به پاتې نه شي؛ نو دا به افغانستان ته شوني شي چې په منځنۍ اسیا کې د شوروي جمهوریتونو په بیه تر خپلې واکمنۍ لاندې خاوره پراخه کړي.
جرمني د یوې پاڅکې په څېر افغانستان ته اړتیا درلوده چې پر هند باندې د یرغل په تړوا خپل پلان پلی کړي. مسکو او لندن چې تر دې وروستیو پورې د یو او بل سیالان و، خپلې هڅې سره شریکې کړې چې د نازیانو پراخه څارګره شبکه شنډه کړي او په افغانستان کې د دوی د شتون مخه ونیسي.
د څارګرو شبکو ټکر د سړې جګړې تر پیل پورې دوام درلود. د ۱۹۵۰مې په نیمایي کې د شوروي پوځي څارګرې اداري د اجنټانو یوه شپږنخوس کسیزه ډله چې له تاجکستان او ازبکستان څخه ګمارل شوې وه افغانستان ته ولېږه. دغه ډلې ته دنده ورکړل شوې وه چې په افغانستان کې د امریکا او د دې د متحدینو پر ضد پټ فعالیتونه وکړي څو که چېرې یوه نوې نړیواله جګړه پیل شي، شوروي به د دغه فعالیتونو له پایلو څخه ګټه پورته کړي، خو وروسته له دې چې دغه ډله په افغانستان کې ځای پر ځای شوه، د ډلې مرستیال او د اړیکو کارپوه سملاسي ځانونه سیمه ییزو چارواکو ته تسلیم کړل او د ډلې نور غړي یې هم بربنډ کړل. افغان حکومت د دوی اقرار ته ارزښت ورنه کړ او د دغه ډلې موخې او ریښې ورته په بشپړ ډول په زړه پورې نه وې. افغانان پوهېدل چې د دوی پټې او بالقوه ورانکارۍ کړنې د افغان رژیم پر ضد نه وې.
هېڅا دغه اجنټان محاکمه نه کړل او د دوی په هکله په رسنیو کې حتی یوه لیکنه ونه لیدل شوه. دوی ډېر ژر بندیان شول او هغه دوه تسلیم شوي اجنټان چې خپل ملګري یې بربنډ کړل، له همدغه ملګرو سره یې په زندان کې کوټې شریکې شوې. شوروي اتحاد له دغه ډلې سره د هر راز اړیکو لرلو څخه انکار وکړ او ویې ویل چې دا د لوېدیځ هېوادونو د څارګرو ادارو پارونکې کړنه ده. د ډلې غړو لس کاله یا له دې څخه ډېره موده د دهمزنګ په زندان کې تېره کړه. شوروي اتحاد او افغان حکومت دوی هېر کړل، خو کله چې د تړینګلتیا detente د کمښت پېر پیل شو، په کابل کې د شوروي د څارګرو فعالیتونو د شنډولو ځانګړې مشر، اېریک نیکراسوف Erik Nekrasov چې په ۱۹۶۰مو کې کابل ته ورسېد، فعال ګامونه پورته کړل چې هغه بندیان ازاد کړي چې تراوسه ژوندي پاتې وو. ځینې دغه پخواني اجنټان بېرته خپلو کورونو ته لاړل، خو ځینې نور یې له ازادۍ وروسته په افغانستان کې پاتې شول.
په ۱۹۶۰مو کلونو کې شوروي اتحاد له افغانستان سره په لویه کچه همکاري پیل کړه. امریکا هم چې نه غوښتل په افغانستان کې خپل نفوذ شورویانو ته له لاسه ورکړي یو شمېر پروژې پیل کړې. د بېلګې په توګه، دوی په هلمند کې یوه ګرانبیه د اوبو لګونې پروژه پیل کړه، خو ډېر ژر دا روښانه شوه چې کومې پیسې چې دغه پروژې ته ځانګړې شوې وې، افغان بیروکراتانو اختلاس کړې او هغه امریکایان چې باید د غلا مخه یې نیولې وی په رشوت ککړ شول. یوه له رسوایۍ څخه ډکه محکمه جوړه شوه چې یو افغان بیروکرات ته یې د مرګ سزا ورکړه، په هغه وخت کې داسې سزا بې سارې وه او عامه وګړي یې ولړزول.
www.samsoor.com

په همدغه کلونو کې شوروي اتحاد په ننګرهار کې د کرنې يوه پروژه او په نغلو کې د اوبو د برېښنا يوه فابريکه په برياليتوب بشپړې کړې. شوروي انجنيرانو د کابل پولتخنيک انستېتيوت جوړ کړ چې ډېرو وړ ښوونکو او ژباړنو پکې دنده ترسره کوله. په عين وخت کې ځينې نور ځايونه هم جوړ شول چې دومره مهم نه وو.

په ۱۹۷۱ کال يوه تباه کوونکې وچکالي په افغانستان کې رامنځته شوه. په دې وخت کې شوروي اتحاد له بهر څخه غله واردوله، خو بيا يې هم افغانستان ته په لويه کچه اوړه ولېږل. وروسته، شورويان خبر شول چې د دې پر ځای چې په هوکړه ليک کې د ياد شوي شرط سره سم دغه اوړه وګړو ته وړيا ووېشي، افغان بيروکراتانو خرڅ کړل. له دې اړخه امريکايان هوښيار وو. دوی اوړه په کڅوړو کې واچول، د USAID ټاپه يې پرې ووهله او خپلو رضاکارو ته يې دنده ورکړه چې ويې وېشي.

کله چې ولېږي د امريکايانو په هکله سوچ کاوه، ده ته په افغانستان کې د امريکا سفير، تييډور اېليت Theodore Eliot ورپه ياد شو. د ولېږي په اند دی ډېر ښه سړی و او تل يې له شورويانو سره ښه چلند کاوه. نوموړي به د امريکايي او شوروي ديپلوماتانو په زړه پورې ګډې غونډې جوړولې او د امريکا - شوروي د همکاريو د اړتيا په هکله يې ښې ويناوې کولې، خو سړی دا بايد په ياد ولري چې په کابل کې د ده کاري دورې د امريکا او شوروي ترمنځ د ترينګلتيا د کمښت detente له پېر سره سمون درلود. دا هغه پېر و چې له دويمې نړيوالې جګړې راهيسې د دغو دواړو هېوادونو تر منځ هېڅ کله دومره ښې اړيکې نه وې لکه په دې وخت کې چې وې. دغه مهال يو ګډ تشيالی (فضايی) يون ترسره شو او د اتومي وسلو د لږولو تر ټولو مهم هوکړه ليک لاسليک شو. اېليت او مېرمن يې له پوزانوف سره ښې شخصي اړيکې لرلې چې دې هم مهمه ونډه درلوده. کله چې لېليت په مسکو کې د سلاکار په توګه د امريکا په سفارت کې دنده لرله، تتيانه ميخايلووه پوزانووه (د پوزانوف مېرمن) د مسکو په يوه تر ټولو ښه روغتون کې د يوې ځانګې مشره وه. دلته يې د لېليت د زوی د زېږېدنې په بهير کې له دوی سره مرسته وکړه. د دوی ملګرتيا همغه وخت پيل شوه.

خو د ترينګلتيا د کمښت سره سره، هر څه بې ستونزې نه وو. د ولېږي هغه بنډار په ياد شو چې په دې ورستيو کې يې د امريکا د سفارت له دويم سکرتر، ملېنوفسکي Malinovsy سره درلود. دغه ديپلومات په ډېر وياړ وويل چې دی د هغه نومیالي شوروي مارشال خپلوان دی چې د وطنپالې لويې جګړې• Great Patriotic War اتل و. کله چې سترستين د امريکا او شوروي د ملګرتيا ستاينه پيل کړه او د افغانستان په څېر د بېوزلو هېوادونو سره پر مرسته باندې يې د دغه دوو لويو ځواکونو د همکاريو اغېز بياناوه، ملېنوفسکي يې په تېزی په خبرو کې ولوېد او ويې ويل: «زه به د شيشکې په شتون باور وکړم خو نه د شوروي او امريکا

• شورويانو د دويمې نړيوالې جګړې په بهير کې هغه جګړې ته د وطنپالې لويې جګړې نوم ورکړی چې د دوی او نازي جرمني تر منځ ونښته (ژباړن).

د ملګرتیا په شونتیا. موږ د یو بل ستراتیژیک دوښمنان وو، او په راتلونکې کې به هم یوو، حتی دلته په افغانستان کې هم. دا یو حقیقت دی او د سیلم عقل خاوندان یې باید ومني.»

د یادونې وړ ده چې د شوروی او امریکا تر منځ د ترینګلتیا د کمښت په وخت کې، امریکا په لویه کچه له افغانستان سره خپلې وتې ییزې مرستې لږ کړې. په دغه موده کې دوی په کومه لویه وتې ییزه پروژه کې برخه وانه خیسته. دا ډېره شونې ده چې امریکایانو دا منلې وه چې افغانستان د شوروي اتحاد د حیاتي ګټو په اډانه کې دی او یا کېدای شي بل څه به وو. په هغه وخت کې داود په ښکاره شوروي اتحاد ته د مرستې مخ اړاوه. د دغه کلونو په بهیر کې داسې مالومات رابرسېره کېدل چې سي ای اې له هغو سخت دریځو اسلامي مخالفینو سره اړیکې ټینګې کړې وې چې پاکستان ته تښتېدلي وو.

له سفیر پوزانوف سره د ملګرتیا او ښو اړیکو سره سره، سفیر اېلیت خپل مسلکي واټن ساتلو. مخکې له دې چې د ۱۹۷۸ کال د مې په میاشت کې داود خپل رسمي سفر امریکا ته پیل کړي، اېلییت د دغه سفر په تابیا کې ډېرې هلې ځلې وکړې. نوموړي په یو تېلګراف کې د ۱۹۷۷ کال پېښې په لنډه بڼه واشنګتن ته داسې لیکلې وې: «د دغې مودې په بهیر کې د امریکا او افغانستان اړیکې ډېرې ښې وې. ولسمشر داود د پورتېریکو Puerto Rico او ګوام Guam په هکله په ملګرو ملتو کې د امریکا له دریځ څخه ملاتړ وکړ او امریکا ته یې د رسمي سفر بلنه ومنله. موږ د افغان افسرانو په روزنیزه پروګرام کې خپله ونډه دوه برابره کړه. په دې وروستیو کې افغان مشرتابه د دې پخلی وکړ چې غواړي د امریکا مرستې د پام وړ کچې ته ورسېږي څو په افغانستان کې د شوروي نفوذ د برلاسي مخه ونیسي.»

د ۱۹۷۸ کال د اپرېل په څلورویشتمه، یوه ورځ مخکې له دې چې د ا خ د ګ مشران ونیول شي، اېلییت، چې کاري دوره یې په افغانستان کې لا د مخه پوره شوې وه، له داود سره وروستۍ لیدنه وکړه. وروسته، هغه اړیکوالو چې داود ته نېږدې وو شورویانو ته وویل چې دغه د «تاوتریخوالي د کمښت سرسخته ملاتړې» افغان ولسمشر ته د دې سپارښتنه وکړه چې د ا خ د ګ له هغه مشرانو سره تر ټولو سخت چلند وکړي چې د اوسني رژیم امنیت یې ګواښه. د دې په بدل کې، نوموړي له افغانستان سره په لویه کچه د امریکا د همکاریو د پراختیا ژمنه وکړه. د دې جوتول سخت وو چې ده دغه خبرې له ځان څخه او یا د بهرنیو چارو وزارت په استازولۍ وکړې. په پای کې، لږ وخت مخکې له دې چې له کابل څخه لاړ شي، نوموړي د بهرنیو چارو وزارت ته سپارښتنه وکړه چې ژرترژره د تره کي د حکومت په وړاندې خپله کړنلاره جوړه کړي. ده په یو تېلګراف کې واشنګټن ته لیکلي: «د امریکا د بهرنیو مرستو د قانون په رڼا کې موږ نه شو کولای چې په بشپړ باور افغان حکومت 'کمونست' یا 'غیرکمونست' وشمېرو. افغان نوي مشرتابه په تاوتریخوالي او د وینو په تویولو واک ترلاسه کړ، خو دوی په ډاګه کړه چې د 'اکاړ دیکتاتور رژیم' په پرځولو کې د دې مخنیوی

www.samsoor.com

ناشونی و. دا ډېره شونې ده چې د نوي حکومت ریښتینې موخې او نیتونه تر یو وخت پورې په تیاره کې پاتې شي.»
دغه امریکایي سفیر واشنګټن ته خواست وکړ چې له کابل څخه مخ وانه ړوي او کنه «دغسې دریځ به نوی افغان رژیم اړ کړي چې په بشپړه توګه پر شوروي اتحاد ډډه ولګوي». ده په خوشبینۍ خپلې لیکنې ته داسې دوام ورکړی و: «ډېر ژر به موږ په داسې یو موقف کې وو چې د لوبې شرطونه به پخپله ټاکو.»
ایلیټ له افغانستان څخه د ۱۹۷۸ کال د مې په میاشت کې لاړ. د ده ځای ناستی یو بل لوړپوړی امریکایي دیپلومات، اډالف ډبز Aldoph Dubs شو. ولېري ته سفیر ډبز په زړه پورې او د پام وړ سړی ښکاره نه شو. د ده له راتګ راهیسې د شوروي او امریکایي دیپلوماتانو ټولې ناستې ولاړې د پروتوکول پر بنسټ کېدې.
د کمونست پلوه رژیم واک ته د رسېدو پر وړاندې د امریکا غبرګون ډېر ارامه و، خو هغه د وټه ییزو مرستو ژمنې یې ماتې کړې چې د داود د واکمنۍ په وخت کې یې کړې وې. د تره کي او امین پر ضد یې مالوماتي جګړه پیل نه کړه او یوازې دې ته تم وو چې د انقلاب پایلې روښانه شي. امریکا هغه پېښو ته ځانګړی پام واړاوه چې په سیمه کې د شوروي نفوذ د کمزورلو لپاره ترې ګټه اخیستل کېده. په عین وخت کې امریکایانو په پاکستان کې له هغه سخت دریځو اسلامي ډلو سره کار ګړندی کړ چې له مذهبي بنسټپالو او هر راز څنډې ته کړل شوو خلکو څخه یې ترهګرې او وسلوالې ډلې جوړې کړې.
له انقلاب وروسته په کابل کې امریکایي څارګر مامورین غلي وو. بې اړنګه، سي ای اې خپل اجنټان په کابل کې او ښایي
حتی د ا خ د ګ د مشرتابه په لیکو کې لرل، خو د شورویانو پر وړاندې د سي ای اې مامورین ډېر ناتوانه وو ځکه چې دوی د اجنټ په توګه د شوروي اتباعو د ګمارنې په بالقوه خطر پوهېدل.
په مرکز کې د خپلې کارې دورې په بهیر کې، د ولېري یوازې یوه قضیه په یاد وه چې څو کاله مخکې د امریکایانو د هغه هڅې په اړه ثبت شوې وه چې غوښتل یې یو شوروی د اجنټ په توګه وګماري. په هغه وخت کی یو ډېر نارامه او وېرېدلی ځوان ازري ژباړن چې له پوځي کارپوهانو سره یې کار کاوه په کابل کې د شوروي سفارت د قونسلګرۍ برخې ته راغی او ویې ویل چې د سي ای اې اجنټانو هڅه وکړه چې دی وګماري. په هغه وخت کی یوري سرنین Yuri Surnin، چې په افغانستان کې د شوروي څارګرې ادارې لنډمهاله مرستیال مشر و، ده ته په ډېر پام غوږ ونیو او د ده له خبرو څخه یې دا پایله واخیسته چې د ده انګېرنې سمې دي او وضعیت یې له اوسنیو واقعیتونو سره سم ارزولی دی. سرنین پوه شو چې امریکایانو ریښتیا د دې نیت درلود چې دغه شوروي مامور په دې موخه وګماري چې په راتلونکي کې ګټه ترې واخلي. نوموړي دا وړاندوینه هم وکړه چې امریکایان به ډېر ژر ژباړن ته د ګمارنې وړاندیز وکړي.

سرنين د يو ارزښتمن فرصت ننګېرنه  وکړه؛ نو ژباړن يې رضا کړ چې د شوروي له څارګرې اداري سره همکاري وکړي.

په ۱۹۷۰مه کې د سي ای اې مامورينو په وار وار هڅې وکړې چې هغه شوروي اتباع وګماري چې په بهر کې مېشت وو؛ نو له دې کبله په کابل کې کې جي بي يوه ډله جوړه کړه او د «کوکېش Kukish*» عملياتو نوم يې ورکړ. د دغه عملياتو تر شا د کې جي بي مامورينو موخه د خپلو سيالو امريکايانو شرمونه وه او همدا راز دوی غوښتل چې امريکايانو ته د خپلې څارګرې اداري برلاسي وښيي. د دوی يو پلان دا و چې يو شوروي پټ اجنټ له امريکايانو سره داسې چلند وکړي چې امريکايانو ته د جاسوس په توګه د ده د ګمارنې هيلې پيدا شي؛ نو په دې توګه به د امريکايانو داسې هڅې بربنډې کړي.

لکه څنګه چې سرنين يې وړاندوينه کړې وه، په کابل کې د سي ای اې هغه مامور چې د اجنټ په توګه يې د شورويانو د ګمارنې دنده لرله دغه ځوان ازري ته وويل چې د امريکا د حکومت يو واکمن او لوړپوړی چارواکی به ډېر ژر له ايران څخه راشي او دغه مهم سړی غواړي چې له خپل «شوروي ملګري» سره خبرې وکړي چې د محرمو همکاريو اړيکې ورسره ټينګې کړي. د سرنين په لارښوونه شوروي ژباړن ورته وويل چې په خبره پوه شو او کېدای شي له دوی سره همکاري وکړي ځکه چې دی يو ازاري ملتپال دی او نيکونو يې چې د مساوات ګوند غړي وو د بلشويکانو پر ضد جګړې کولې، خو دوی بايد د ده د ژوند يوه هيله پوره کړي او هغه د يوې اصلي امريکايي کالټ Colt تومانچې درلودل دي. ده ورته وويل: «زه د قفقاز يو ازري يم. زموږ د لرغوني دود پر بنسټ، چا ته د يوې وسلې ورکړه د لوی باور او درناوي په مانا ده.» له دغو خبرو څخه څو ورځې وروسته، «امريکايي ملګري» ژباړن ته تيلفون وکړ او ورته ويې ويل چې امريکايي لوړپوړی چارواکی له ايران څخه راغلی او غواړي په يو ټاکلي رستورانت کې له ده سره نن ماښام وګوري.

په کابل کې د کې جي بي يو اجنټ چې شفري نوم يې «فتح» و، هم په دغو عملياتو کې ښکېل و. نوموړی د ژاندارمو يو د منځنۍ  پوړ افغان افسر و. سرنين ده ته دنده ورکړې وه چې مخکې له مخکې خپل مشر ته د مهمو مالوماتو يو راپور وليکي چې يو خطرناک نړيوال ترهګر کابل ته رارسېدونکی دی. دغه ترهګر د بلک سپتمبر  Black September تنظيم غړی دی. په هغه وخت کې، په ميونيخ کې د اسرايلي اولمپيک لوبډلې د يرغمل کېدو له کړکېچ څخه لږ وخت وروسته، ټوله نړۍ له فلسطينيانو څخه وېرېده. مخکې له دې چې امريکايي مامور او شوروي ژباړن راورسېږي، فتح له يوې ډلې کوماندو پوځيانو سره د رستورانت

---

* په شوروي کې دا د سپکاوي يوه څرګنده اشاره ده. د چا يوې غوښتنې ته د نه پر ځای، سړی خپل لاس موټی کړي، خپله بټه ګوته د شهادت او منځنۍ ګوتو تر منځ ونيسي او بيا يې هغه چا ته وښيي چې دی يې سپکاوی کوي.

www.samsoor.com

شاته پټ شو. کله چې دغه مهم امریکایي مامور (په ایران کې د سي ای اې د څانگې مرستیال مشر**) له شوروي ژباړن سره ولیدل او وروسته له دې چې د سي ای اې هغه مامور لاړ چې د دغه گمارنې دنده یې لرله، د کوماندو گڼ شمېر پوځیانو، چې د ژاندارم یونیفورم یې اغوستی و، پر رستورانت یرغل وکړ او دغه گواکې «فلسطیني ترهگر» یې ونیو، په گاډي کې یې واچاوه او په چټکۍ له دې ځای څخه لاړل.

فتح په یوه ځانگړې بې رحمۍ له امریکایي څخه پوښتنې گروېږنې وکړې. مخکې له دې چې خپل یرغمل وډبوي، په څوکي کې یې وتړلو او ترې ویې غوښتل چې په خپلو ترهگرو کړنو اقرار وکړي. په کاش کې د کالټ تومانچې د ده خرابکار نیت ثابتاوه. پوښتنې گروېږنې په جرمني او پارسي ژبو وشوې. ورپسې، د شاهدانو په شتون کې د ده له جیب څخه په تهران کې د امریکا د سفارت د سلاکار پاسپورت راوایستل شو. د ژاندارم مشرتابه د دغه پېښې په هکله ولسمشر داود ته یو راپور ولېږه. د امریکا د بهرنیو چارو په وزارت کې غوسه وپارېده ؛ نو د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ته یې یو ځاځمن یادښت لیک ولېږه چې داسې احتجاج یې پکې څرگند کړی و: «پر امریکایي دیپلومات باندې د افغان ژاندارم بې بنسټه او زورمټی (زورور) برید.»

د دې ویل سخت دي چې د کالټ تومانچه پخپله امریکایي رستورانت ته راوړې وه یا فتح هلته اېښې وه، خو هر څه چې وو، کې جي بي خپله موخه ترلاسه کړه چې امریکایان وگواښي چې نور شوروي اتباعو ته ورنږدې نه شي.

افغان ولسمشر د ژاندارمو راپور او د امریکا د بهرنیو چارو وزارت رسمي یادښت لیک ولوست، خو چوپ پاتې شو.

د ۱۹۷۸ کال د سپتمبر په لومړیو کې د کې جي بي استازې څانگې مشر، بگدانوف افغان مشرتابه ته د افغانستان د امنیتي ځواکونو د جوړښت وړاندیز ولېږه. کله چې نوموړي او ډلې یې په دغه امنیتي پروژه کار پیل کړ، له دوی څخه د امین یوازینۍ هیله دا وه چې د افغانستان لپاره داسې ځواکمنه څارگره اداره جوړه کړي لکه کې جي بي. دوی د داسې اډانې وړاندیز وکړ:

- د کې جي بي لومړي ریاست ته ورته، د بهرنیو چارو د څارگرې ادارې جوړول. په پیل کې به دغه اداره خپل پام پاکستان او هند ته اړوي ځکه چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت ته دغه دوه هېوادونه د خطر اصلي سرچینې دي .

** ویلیم کیسی William Casey، د سي ای اې راتلونکی رییس، هغه وخت په ایران کې د سي ای اې په څانگه کې یو مشر و.

- د کې جي دويم رياست ته ورته، د څارګرو فعاليتونو د شنډولو يوې ځواکمنې ادارې جوړول. د بهرنيو اجنټانو
له ننوتنې څخه له مخنيوي سربېره، دغه اداره به له ديني عالمانو سره په سياست ځان پوهوي او له قومي
مشرانو سره به کار کوي.
- له دفاع وزارت څخه د څارګرو فعاليتونو د شنډولو پوځي څانګې ليرې کول او لکه په شوروي اتحاد کې، د څارګرې ادارې تر امر لاندې يې راوستل.
- څارګرې ادارې ته د کورنيو چارو وزارت د تخنيکي عملياتي څانګې د سرچينو لېږدول. (د غويي له انقلاب څخه مخکې د جرمني فدرالي جمهوريت سلاکارانو د افغانستان له کورنيو چارو وزارت سره نېږدې همکاري کوله او افغانانو ته يې اړونده ځانګړې تخنيکي وسيلې ورکړې وې.)
- په څارګره اداره کې د داسې څانګو جوړول چې د بهرنی څار، مالوماتو، شننو او پلټنو چارې مخته يوسي.

دغه ادارې يا جوړښت ته د افغانستان ګټې ساتونکې اداره، اګسا، نوم ورکړل شو او د انقلاب يو اتل، اسدالله سروري يې مشر شو.

د دغه مودې په بهير کې په کابل کې د کې جي بي استازې څانګه غښتلې کړل شوه. بګدانوف به چې هر ځای دنده لرله، ده دا عادت درلود چې خپل چاپېريال به يې پخپله خوښه جوړاوه. ده مرکز اړ ايست چې يو مرسيډېس بنز ورته ځانګړی کړي؛ نو لږ وخت وروسته دغه ګاډی له تهران څخه ورته راواړل شو. سربېره پر مرسيډېس ، له شوروي اتحاد څخه په ځانګړې توګه يو روزل شوی ګاډی چلوونکی، يو شفري کارپوه او يو شمېر نور ګاډي هم ورولېږل شول .

ډګروال ولاديمير چوچوکين Chuchukin په کابل کې د کې جي بي استازې څانګې لومړنی مرستيال شو. نوموړي په امريکا کې دنده لرله، خو دې ته اړ شو چې ورکړل شوې دنده پرېږدي ځکه چې د سي ای اي يو پټ اجنټ بربنډ کړ.

په کابل کې ژوند مخ پر ودې و او دومره خراب هم نه و لکه څنګه يې چې بګدانوف خيال کړی و. يوه وجه يې دا وه چې د شوروي تر ټولو لوړپوړي چارواکي لکه د ولسمشر مرستيال، وزيران، لوړپوړي پوځي چارواکي او د ګوند مشران په منظمه توګه کابل ته راتلل. ده بايد په ټولو غونډو کې چې دغو لوړپوړو چارواکو ته جوړېدلې ګډون کړی وی؛ نو له داسې خلکو سره پېژندګلوی، بګدانوف ته په راتلونکې کې ګټه رسوله .

www.samsoor.com

د سپټمبر په میاشت کې د شوروي کمونست ګوند د مرکزي کمېټې منشي او سیاسي بېرو ته کاندید، ب. ن. پنومروف کابل ته لاړ. لکه څنګه چې د ده راتګ رسمي نه و، د هرکلي لپاره یې تشریفات ونه نیول شول. یوه دولتي الوتکه په هوایي ډګر کې کښېناسته او په یوه لیرې ځغاست لاره کې ودرېده. د هرکلي ګاډو یو کوچنی کتار چې پوزانوف، بګدانوف، سروري او د سیاسي بېرو غړی شاولي پکې وو الوتکې ته ورنږدې شو. کله چې په ګاډي کې کښېناست، پنومروف د خپل راتګ موخه بیان کړه. د شوروي مشرتابه دنده ورکړې وه چې تره کی او امین په دې قانع کړي چې په هېواد کې عامه ځینې او ناقانونه کړنې د دوی سوسیالېستي انښوې زیانمنوي. داسې برېښېدل چې مسکو د پرچمیانو پر دوامداره ځپنې اندېښمن و.
کله چې پنومروف ته یې غوږ نیولی و، بګدانوف له ځان سره وویل چې د دغه مېلمه پر وړاندې یوه سخته دنده پرته ده. بګدانوف له مخکې خبر و چې افغان مشران په دې اړه خبرې اتري په رښه توګه نه مني. د ګوند د یووالي پر موضوع له ډېر وخت راهیسې خاوري پرتې وې. د دوبي له نیمایي راهیسې هېڅا یې په اړه خبره نه وه یاده کړې. په افغانستان کې د شوروي ډېری مامورینو هڅه کوله چې په داسې خبرو خلقیان په غوسه نه کړي ځکه ګټه یې نه لرله. پنومروف چې د سفارت د ودانیو په یو مېلمستون کې ځای پرځای شو، د سفارت باغچې ته د چکر لپاره لاړ. بګدانوف ده ته ورغی چې د حالاتو پر عجایبو یې خبر کړي .
په داسې حال کې چې د ګلابو د بوټیو په اوږدو کې یې ګامونه اخیستل، دغه ډګروال هغه موضوعګانې یادې کړې چې تر ټولو مهمې وې: «لومړی موضوع د افغان مشرانو چپي ګروهنه او سیمه ییزو واقعیتونو ته په نه پام سره، د رادیکالو اصلاحاتو سملاسي پلي کولو ته د دوی لېوالتیا ده. په دې کړنه به دوی له سیاسي اړخه د وګړو اکثریت د ځان پر ضد ودروي او ډېر دوښمنان به پیدا کړي. دوی په تیوری کې مني چې په وګړو کې په پراخه کچه د متحدینو لرل اړین دي، خو تره کی او امین ورځ تر بلې د انقلاب د ټولنیز بنسټ کړی تنګوي.» بګدانوف په ځانګړې توګه د پرچمیانو، مذهبي مشرانو او د هر هغه چا په ځپنې اندېښمن و چې د نه وفادارۍ ګومان پرې کېده. داسې راپورونه ورکول کېدل چې پرته له محاکمې څخه به خلک په هغه ځای کې وویشتل شول چېرته به چې ونیول شول. بګدانوف په ترخه بڼه زیاته کړه چې دغه وژنې د امنیت هغه افغان مامورین کوي چې شوروي روزلي دي. ده وویل: «نو ځکه افغانان به ښایي داسې فکر کوي چې موږ هم په دغه ځپنو کې ښکېل یوو او خلک زموږ په خوښه او حتی په نېغ امر وژل کېږي.» دغه وروستۍ موضوع په کابل کې د کې جي بي مشر په ښکاره ځوراوه.
د شوروي د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې منشي په چوپتیا د بګدانوف اندېښنو ته غوږ نیولی و مخکې له دې چې یو شمېر بابېزې پوښتنې وکړي. د سپټمبر د شپږویشتمې په سهار، ده له تره کي او امین سره وکتل او په ځیرکۍ یې د مسکو اندېښنې یادې کړې. د داسې غونډې محرمیت ته په پام سره، پنومروف د ا خ د ګ له مشرانو سره په جلا توګه وکتل او حتی د شوروي سفیر ته بلنه نه وه ورکړل شوې. دواړه افغان

مشران چې له مخکې د خبرو پر موضوع خبر وو په څرګنده توګه ټپرا ښکارېدل او دا هم له ورایه ښکارېدل چې دوی خپل اعتراض نه شوی کابو کولی. تره کي څو ځلې خپل زغم له لاسه ورکړ او په ننګېرېزه توګه يې وويل: « موږ هېڅ کله پر پرچمیانو باور نه درلود. زموږ یووالی هسې تشریفاتي و. پرچمیانو په پوځي پاڅون کې ګډون و نه کړ، خو د انقلاب له بریا وروسته يې غوښتنه کوله چې ټولې څوکۍ په مساوي توګه د خلقیانو او پرچمیانو تر منځ وويشل شي، ایا دا انصاف دی؟ کله چې موږ د دوی غوښتنه ونه منله، دوی وپتېيله چې موږ پر پاڅون وګواښي؛ نو یوازې یوه د حل لاره پاتې ده، یا به دوی وي او یا به موږ وو.»
د تره کي صورتي ژبې (body language) په ښکاره دغه خبرو اترو ته سپکاوی څرګنداوه. دی په څوکۍ کې شرړم ناست و او یو پښه يې پر بله اړولې وه. د ده معموله خوشاله او مهربانه ونګه له ننګېرنو تشه وه، خو د ده کرکه يې پټوله .
پنوماروف خپله ورکړل شوې دنده په رسمي توګه ترسره وګڼله. ده هغه څه وکړل چې ورته ویل شوي وو. افغان مشرانو ته يې د سیاسي بېرو او د «لیونېد اېلیچ برېژنېف شخصي» ډالۍ وروسپارلې. نوموړي دا غوره وبلل چې د ا خ د ګ له سیاسي بېرو سره لیدنې کتنې و نه کړي. په دې اړه دوی د سپکاوی ننګېرنه وکړه. ماښام ته يې په کابل کې لوړپوړي مېشت شورویان په سفارت کې راغونډ کړل او ترې ويې غوښتل چې یو ځل بیا «په صداقت او په ځانګړې توګه» د حالاتو ارزونه وکړي. په دغه غونډه کې هر څه تر هغه وخت پورې سم مخته لاړل تر څو چې بګدانوف خبرې نه وې پیل کړې. ده د افغان وسلوال پوځ په هکله ډېره بدګوماني څرګنده کړه او ويې ویل چې له افغان ملت څخه دفاع خو څه کوي، دوی حتی له ځان څخه د دفاع وړتیا هم نه لري. جنرال زیلتین په ننګېرنې د ده خبره ناسمه وبلله: «دا خبره سمه نه ده. هو، دا ریښتیا دي چې موږ باید افغان پوځ غښتلی کړو، خو دا انصاف نه دی چې دوی د جګړې وړ ونه بولو. داسې شننې زموږ مشرانو ته غلطه لارښوونه کوي او زیانمنې پایلې لري.» بګدانوف په ځواب کې ورته وويل: «زه نه پوهېږم چې دغه ګران ډګر جنرال څرنګه مالومات په اختیار کې لري، خو زموږ سرچینې بل څه وايي.» ورپسې سمې ناندرۍ پیل شوې. زیلتین چې «عیاش» بګدانوف يې نه خوښېده په ښکاره وويل چې په کابل کې د کې جي بي مامورین باید لږ الکول وڅښي؛ نو «بیا به د حالاتو په اړه د دوی ارزونه سمه شي.» په ځواب کې د کې جي بي استازي دغه جنرال په بې کفایتۍ او په داسې چارو کې په لاس وهنه تورن کړ چې په ده پورې يې اړه نه درلوده او ويې ویل: «ته په سیاسي چارو کې د کار لپاره کابل ته رالېږل شوی يې؛ نو همدغه چارې ترسره کړه.» پنوماروف نه شوی کولای چې دوی ارامه کړي. په ۱۹۷۸ کال د سیاسي بېرو کاندید تر ټولو لوړپوړې چارواکی و چې کابل ته راغلی و. په هغه وخت کې دا یو غیررسمي دود و چې له مسکو څخه راغلي مېلمه ته ډالۍ ورکړل شي. اوسادچي او بګدانوف د بختورین Bakhturin په نوم د امنیت له یو افسر څخه وپوښتل: «سېرګي ګورېلوویچ، له خپلې سرچینې

څخه پوښتنه وکړه چې د بوریس نیکولایوویچ څه شی خوښېږي؟» دغه «سرچینه» د کې جي بي د نهم ریاست یو افسر و چې د سیاسي بېرو د غړو او سیاسي بېرو ته د کاندیدانو امنیت یې پر غاړه درلود. داسې یو سړی د پنومروف په مل ډله کې و او سمدلاسه د پوښتنې په بڼه پوه شو. ده وویل: «د بوریس نیکولایوویچ مېږمن غواړي د قره قل یو کوټ ولري.»
دواړه ډګروالان په دې هڅه کې شول چې د داسې بهرنۍ ډالۍ بسپنه څرنګه برابره کړي. قره قل حتی په کابل کې یو ارزانه توکی نه و. پرېکړه وشوه چې دغه دنده د سوداګرۍ خانګې مرستیال افنسیف Afanasievته ورکړل شي. ده ټیک په داسې چارو کې د وړتیا نوم درلود. د دغه لوړپوړي چارواکي د تګ په شپه افنسیف یوه جوړه د قره قل پوست بختورین ته وروسپاره .دغه ډالۍ سملاسي پنومروف ته ورکړل شوه، خو لږ شېبه وروسته د نهم ریاست افسر د پنومروف د غوښتنې یادونه وکړه چې دغه خړ رنګه قره قل په تور بدل شي. افنسیف ته بیا دنده ورکړل شوه چې د بوریس نیکولایوویچ هیله پوره کړي. نوموړي دغه دنده هم د مېلمه له تګ څخه مخکې ترسره کړه. بګدانوف د سوداګرۍ استازي د مرستیال وړتیا اغېزمن کړ .
دوه کاله وروسته، د افنسیف او د دغې څانګې د دوه نورو کارپوهانو په لاسونو کې اتکړۍ (د لاس زولنې) واچول شوې او له کابل څخه بوتلل شول. دوی د داسې ناروا کړنو په تور ونیول شول لکه جعلي قرادادونه، رشوت او اختلاس. په بهر کې د شوروي سوادګرۍ په استازو څانګو کې د ګواکې «وستاکېنتورګ Vostokintorg موضوع» په اړه په پراخه کچه خبرې وشوې.
سبا ته پنومروف مسکو ته لاړ. کله چې بګدانوف په هوايي ډګر کې مخه ښه ورسره کوله، د مرکزي کمېټې منشي یو بشپړ لکچر ورکړ. د نړیوال انقلابي خوځښتونو لپاره، په تېره بیا په اسیا کې چېرته چې د ازادۍ ملتپال خوځښتونه مخ پر ودې وو، د غوبي انقلاب د ارزښت په هکله بوریس نیکولایوویچ یوه اخلاصمنه وینا وکړه. اکاډمیک پنومروف هیله څرګنده کړه چې ټولې هغه خبرې اترې چې ده په کابل کې ترسره کړې د ګوند له یووالي او په افغانستان کې به له ټولو اصلاح غوښتونکو ځواکونو سره مرسته وکړي. دا ناڅرګنده پاتې شوه چې په دې اړه د مرکزي کمېټې د منشي مطلب څه و، خو ده خپله ونډه ښه ولوبوله. د پنومروف لویه اندېښنه دا وه چې په کابل کې د امنیت افسران د ده په څېر دهغو زړو کمونست جنګیالیو په اړه اړنګ څرګند نه کړي چې د کمونستي داعیې نظریو ته په دوامداره توګه وفادار دي  او مرکز ته په خپلو راپورونو کې دا ډول ارزونې ورزیاتې نه کړي.
کابل ته د نوموړي د یون اغېز بې ارزښته و. عامه ځپنې دوام وکړ او افغان انقلابیانو هر هغه څه کول چې زړه یې
غوښتل. سربېره پر دې، پخپله امین ډېر تېری ګر شو. له بګدانوف سره په لیدنو کې به یې خپله توره کتابچه پرانیستله او په کابل کې به یې د یو شمېر شوروي مامورینو نومونه یاد کړل چې د ده په اند «د

افغانستان په ضد خراب کاره کړني ترسره کوي.» یو ځل یې د داسې سړي نوم یاد کړ چې په کابل کې د کې جي بي مامور و او د قونسلگر په نوم یې کار کاوه. بل ځل یې د شوروي کلتوري مرکز مشر نوم واخیست. له یو لړ څېړنو وروسته دا جوته شوه چې دغسې تورونه په هغه شورویانو لگول کېدل چې له پرچمیانو سره یې پټې یا ښکاره اړیکې لرلې. لکه څنگه چې وروسته ښکاره شوه، امین د څارگرې ادارې د ننه یوه ځانگړې ډله جوړه کړې وه چې شورویان وڅاري او هر راز ټولې مرکې او اړیکوال یې ثبت کړي.

حفیظ الله امین د شوروي د هغه هېوادونو له ملگرو څخه توپیر درلود چې د سوسیالېزم په لاره روان وو. بگدانوف څو ځلې امین ته خواست وکړ چې هغه افغانان ازاد کړي چې د شوروي له څارگرې ادارې سره یې اړیکې لرلې. امین له مسکو څخه نېغې څرگندونې ترلاسه کړې چې مسکو ولې د دغو خلکو د برخلیک په هکله اندېښمن دی. د دوی په منځ کې د لومړي وزیر پخوانی مرستیال چرخ Charkh، د پولیس او ژاندارم پخوانی مشر اظهر او د انقلابي شورا پخوانی غړی رفیع هم وو. امین به په معموله توگه د مسکو له غوښتنو ځان تېراوه او یا به یې ووېل چې کوم سړی چې شورویان یې یادوي د یوې ترهگرې ډلې غړی دی. ده به په ملنډیزه بڼه ووېل: «سمه ده. موږ حاضر یوو چې ستاسې سړی سمدلاسه خوشې کړو او حتی د وزیر په توگه یې وگمارو، خو یوازې ستا په شخصي ضمانت. ته دغه شرط منې؟» بگدانوف، چې ډېر پامیالی و، دې ته چمتو نه و چې د امین شرط ومنې. ده به په ځواب که ورته ووېل چې دی په شخصي توگه دغه خلک نه پېژني؛ نو ځکه د دوی د کړنو مسولیت په غاړه نه اخلي. امین به په مسخرو خپلې اوږې پورته وخوځولې او وبه یې ویل: «گوره، موږ هر څه له قانون سره سم کوو.»

خو په حقیقت کې هېڅ قانون نه شته و. خلک به پرته له کومې وجې او محاکمې په زندانونو کې ساتل کېدل. دوی ته به په ډېره اکاړې شکنجه ورکول کېده. ډله ییزې وژنې به هره شپه ترسره کېدې او هغه څوک به چې وژل کېدل، پخپله یې ځانونو ته قبرونه ایستل .

په عین وخت کې په کابل کې د کې جي بي استازې ځانگه په چټکۍ لویېده. له نهم ریاست څخه یو سلاکار، یوري کوتپوف Your Kutpov راورسېد چې د هېواد د مخکښو مشرانو، لکه د تره کي، د امنیت چارې جوړې کړې. په دغه دنده کې د ده اصلي همکار د افغان گارد مشر جگړن یعقوب و چې وروسته لوی درستیز شو.

له مسکو څخه لوړپوړي افسران کابل ته ولېږل شول چې پوله ییز ځواک او د افغان پولې د دفاع لپاره یو سیستم جوړ کړي. د کریملین مشران هېڅ نه پوهېدل چې ولې افغانان نه غواړي چې له پاکستان سره خپله پوله وتړي په داسې حال کې چې مخالفین پرته له کوم خنډ څخه افغانستان ته ننوتل. شوروي مشرانو په داسې هېواد کې ژوند کاوه چېرته چې له ۱۹۱۷ کال څخه وروسته ټولې پولې په خوندي توگه سمدلاسه په اغزن تار بندې شوې او شپه او ورځ یې د پوځي تانو یو پراخه سیستم ساتنه کوله. د افغانستان

www.samsoor.com

په سوېل کې پوله نه شته وه ځکه چې کابل هېڅ کله د ګواکې ډيورند کرښه، چې پښتانه يې په افغانستان او پاکستان کې بېل کړي دي، نه منله. د دغې کرښې په اوږدو کې د تاڼو جوړول د برتانيې د تاريخي بې انصافۍ د منلو په مانا وه. دې دا مانا لرله چې دغه نانديزه خاوره اسلام اباد ته ورپرېږدي. هر اوړی به په ميليونونو کوچيان له سوېل څخه افغانستان ته تلل او سيمه ييزې وټې پر هغه جعلی مالونو ډډه وهلې وه چې په اسانۍ له پولې څخه تېرېدل.

بله وجه يې دا وه چې افغانستان د دې توان نه درلود چې د تاڼو داسې سيستم په غرنيزو سيمو کې جوړ کړي. شوروي

سلاکاران چې افغانستان ته راغلل د دې پر بديلونو يې کار پيل کړ چې د دغې ستونزې د بدو اغېزو کچه ټيټه کړي.

بګدانوف د ۱۹۷۸ کال په دوبي کې کابل ته لاړ. د ده له تګ څخه د همدې کال تر مني پورې د کې جي بي استازې څانګې د مامورينو شمېر له اتو څخه شاوخوا پنځوسو کسانو ته لوړ شو. د درېيمې نړۍ په هېوادونو کې د پي جي يو د اصولو پر بنسټ، چېرته به چې دواړه د کې جي بي مېشته اداره او استازې اداري په يو هېواد کې شته وې؛ نو استازې اداره به د مېشتې ادارې لاس لاندې وه، خو مخکې له دې چې کابل ته لاړ شي، بګدانوف وتوانېد چې کريچکوف وډوماري چې په کابل کې دی له دغو اصولو څخه مستثنی کړي. کله چې يو وخت دواړو، بګدانوف او اوسادچې په مرکز کې دنده ترسره کوله، اوسادچې د بګدانوف لاس لاندې و. کله يې چې له کريچکوف سره خبرې کولې، بګدانوف له دغه دليل څخه د ځان په ګټه کار واخيست. کابل ته د بګدانوف په راتګ سره، اوسادچې تر يو وخت پورې دی د مشر په توګه ونه مانه. دغه موضوع يو کال وروسته هغه وخت حل شوه چې اندروپوف په يو امر کې د کې جي بي مېشت مشر ځوکۍ د جنرالۍ کچې ته اوچته کړه.

په ۱۹۷۸ کې د کې جي بي افسرانو او پوځي سلاکارانو لا تراوسه په کابل کې ځان خوندي ګاڼه. بګدانوف به په ښکار او

کب نيونې خپل ساعت تېراوه او له کابل څخه به د يوسل او پنځوسو تر دوه سوو کيلومترو ليرې تللو، خو د وخت په تېرېدو سره په هېواد کې امنيتي حالت مخ په خرابېدو شو. مذهبي محافظه کارانو د وګړو د هغه ناراضتيا اور ته لمن وهله چې په حکومت کې کافران ورځ تربلې ځواکمن کېدل. په هېواد کې سيمه ييز پاڅونونه او ترهګريزې کړنې ډېرې شوې. په پاکستان کې د کې جي بي مېشتې څانګې او په پېښور کې د اګسا سرچينو د روسانو مشرتابه ته خبر ورکړ چې د پاکستان پوځي څارګره اداره، ای اس ای، هڅه کوي چې د مخالفينو فعاليتونه تنظيم کړي. سعودي عرب، مصر او اسرائيل هم له اسلامي وسلوالو مخالفينو سره د ناټ څرګندونه پيل کړ، خو تر ټولو لوی خطر د امريکا «اصلي غليم» له لوري راپورته شوی

و؛ نو څکه د کې جي بي مامورینو ته امر وشو چې امریکایان له نېږدې وڅاري. پر امریکا باندې د شوروي د بهرنیو چارو څارګرې اداري د «اصلي غلیم» نوم اېښی و.

د ۱۹۷۸ کال د اپرېل په میاشت کې پوځې څارګر او امریکایي کارپوه، ولادیمیر شووالوف Shuvalov کابل ته ولېږل شو. ده ډېرې ښې انګرېزي خبرې کولې او په یوه امریکایي پوهنتون کې یې زده کړې کړې وې. د ده له راتګ څخه مخکې، د نوموړي همکاران وتوانېدل چې د امریکا په سفارت کې خبرو ته په پټه غوږ ونیسي. په کابل کې شووالوف خپله دنده د امریکایي دیپلوماتانو تر منځ د هغه خبرو په لیکنه پیل کړه چې د مایکروفونونو په وسیله ثبت شوې وې، خو په لومړیو کې له دغو ثبت شوو خبرو څه را ونه وتل.

په هغه وخت کې د کابل سي ای اې ډله د تورکو Turko په مشرۍ له څو مامورینو جوړه وه. تورکو د سفارت د سلاکار په پلمه خپله دنده ترسره کوله. په کابل کې د امریکا دیپلوماتیکې ماموریت شاوخوا شل دیپلوماتان او پنځوس تخنیکي کارکوونکي لرل. څارګرو او غیر څارګرو «پاک » مامورینو او دیپلوماتانو په ډېر پام خپلې چارې ترسره کولې.

د ۱۹۷۸ کال په وروستیو کې د سفیر ډبز مېرمن افغانستان ته لاړه. په کابل کې د دیپلوماتانو په منځ کې د یو معتبر او دروند کس په توګه، پوزانوف د نوموړي د راتګ په ویاړ یوه ماښامنۍ جوړه کړه. د کافي د څښاک په وخت کې بګدانوف په غیررسمي توګه وپوښتل چې په افغانستان کې د امریکا څه ګټې دي. د ده امریکایي بنداړوال داسې رټ ځواب ورکړ: «هېڅ.»

مرکز ته د څارګرو او سفیر په ټېلګرافونو کې د تره کي په پرتله د امین نوم ډېر یادېده. تره کي، چې په رسمي توګه ولسمشر او د ا خ د ګ مشر و، ورځ تربلې یې واک خپل ګران زده کوونکي « شاګرد وفادار » ته له لاسه ورکاوه. تره کي داسې ښودله چې ده پخپله امین ته د واک تدریجي لېږد پیل کړی او ویل به یې: «امین به بریالی شي .ټولې هیلې په ده پورې تړلې دي.» له یوې خوا، د ده دغه خبره ریښتیا وه. امین دغې داعیې ته خپل ژوند ځانګړی کړی و او کاري اخلاق یې په حیرانوونکې بڼه د پام وړ وو .ده به ټوله شپه په خپل دفتر کې کار کاوه، خو له بلې خوا خبره دومره ساده نه وه . تره کی له ډېر وخت راهیسې د امین د سطرنج یوه دانه و. امین به په ډېره ځیرکۍ خپل«ښوونکی» تېر ایسته او د تره کي پر پرېکړو یې په خپله ګټه اغېز اچاوه.

www.samsoor.com

په مسکو کې ډېرو ته دا څرګنده شوه چې دوی به په افغانستان کې ډېر ژر له یو نوي مشر سره سروکار ولري. د واک

په ترلاسه کولو کې د امین مخه چا نه شوی نیولی.

کله چې بګدانوف مسکو ته لاړ، کریچکوف د خبرو لپاره بلنه ورکړه. د معمول په څېر کریچکوف پرته له ننګېرنې اصلي خبرې ته راغی .وروسته له دې چې بګدانوف یې دفتر ته ننوت، ده سملاسي وپوښتل: «د امین په هکله څه مالومات لرو؟» بګدانوف خپله دوسیه پرانیسته او په لوستلو یې پیل وکړ: «حفیظ الله امین په ۱۹۲۹ کال د ټیټې کچې په یوه بیروکراته کورنۍ کې په پغمان کې زېږدلی .دی له یوې کوچنۍ پښتون قبیلې «خروټي» څخه دی. پلار یې پخوا مړ شوی او امین یې خپل مشر ورور ستر کړی. دی د پېداګوژي له ښوونځي څخه وتلی او د کابل پوهنتون د ساینس په پوهنځي کې یې زده کړې ترسره کړې دي. رشته یې فزیک او ریاضي وه. د فاکولتې د غړي، د پېداګوژۍ انستېتیوت د مرستیال او وروسته د ابن سینا لېسې د مدیر په توګه یې دندې ترسره کړې دي.

بګدانوف وویل: «ولادیمیر الکساندرویچ، لکه څنګه چې تاسې ګورئ، د امین د ژوند په اوږدو کې کوم ځانګړی شی نه شته. یوازینی شی چې ښایي موږ ته په زړه پورې وي دا دي چې نوموړی د داسې یوې لېسې مدیر و چې زده کوونکي یې یوازې پښتانه وو. زموږ د مالوماتو پر بنسټ، امین حتی همغه وخت یو لېوال پښتون ملتپال و.» کریچکوف د هو سر ورته وخوځاوه. ورپسې بګدانوف لوستلو ته دوام ورکړ: «زموږ دغه سړی په ۱۹۵۷ کال امریکا ته لاړ. ده - زه غواړم دلته ستاسې ځانګړی پام دې ته واړوم - د کولمبیا په پوهنتون کې زده کړې وکړې. هو، په هغه پوهنتون کې چې امریکایي څارګرو ادارو یې تل له نېږدې څار کاوه. کولمبیا د سي ای اې زېږنتون دی. دوی هغه بهرنیو زده کوونکو ته خپل پام اړوي چې د خپلې موخې پوره کول پکې ویني، دوی یې څارې او په دې توګه له داسې چا څخه راټلونکی اجنټ جوړ کړي چې په خپل هېواد کې اغېز ولري.»

کریچکوف غوښتل چې بګدانوف لوستلو ته دوام ورکړي او په بې صبرۍ یې وویل: «زه په دې پوهېږم.»
بګدانوف خبرو ته دوام ورکړ: «امین په امریکا کې ماستري اخیستې. هلته د افغان مېشت ډلې یو فعال غړی و چې دا هم د پام وړ ده. زموږ امریکایي سیالان دغسې سړی له پامه نه شي غورځولی او د دې برعکس له شونتیا څخه لیرې بربښي. موږ له سي ای اې سره د امین د همکارۍ کوم ثبوت نه لرو، خو که موږ په امریکا کې له خپلو اړیکوالو څخه کار واخلو چې په دې اړه پلټنه وکړي...»

د کریچکوف سترګې رڼې شوې، له خپلې څوکۍ څخه اوچت شو او په دفتر کې یې ګامونه اخیستل پیل کړل. دغه مالوماتو په څرګنده د ولادیمیر الکساندرویچ پام ځانته واړاوه.

امین د بهرنیوچارو د وزیر او د ولسمشر د مرستیال په توګه له اندروپوف او نورو شوروي مشرانو سره په مسکو کې وکتل. شوروي مشرانو ده ته درناوی وکړ. پخپله کریچکوف هم کله چې کابل ته لاړ، له ده سره

يې کتلي وو. امين په رسمي بڼه د غويي انقلاب د الهام او د اصلي ناظم په توګه وپېژندل شو. کله به يې چې له شوروي مشرانو سره خبرې کولې، ده به د سوسياليزم ايډيالونو ته خپله بې پايه وفاداري څرګندوله او په وار وار به يې لېنن يادولو او له شوروي سره خپلې نه شلېدونکې ملګرتيا ته يې نغوته کوله.
کريچکوف د خپل دفتر له کړکۍ څخه بهر کتل او ويې ويل: «دا به يې د ژنيتوب تېروتنې وي. هر ژنی تېروتنې کوي، خو دوام ورکړه.» بګدانوف پوه شو چې دی په داسې موقف کې نه دی چې له جاسوسۍ سره د امين د تړاو په ريښتياوالي ټينګار وکړي؛ نو ښه به وي چې لوستلو ته دوام ورکړي: «له امريکا څخه افغانستان ته له بېرته ستنېدو وروسته، امين مخکې له دې چې بيا د ابن سينا د لېسې مدير شي، په کابل پوهنتون کې يې د ښوونکې دنده درلوده. په دغه وخت کې نوموړي له تره کي سره نېږدې اړيکې ټينګې کړې، خو زموږ د مالوماتو پر بنسټ، دوی له ډېر وخت راهيسې له يو بل سره پېژندګلوي لرله. په ۱۹۵۰مه کې دوی د «پښتون ملي کلپ» په ملاتړ چې داود جوړ کړی و، له يو او بل سره وپېژندل. وروسته امين د ښونې او روزنې وزارت د پيداګوژي څانګې امر وګمارل شو. په ۱۹٦۲ کال بېرته امريکا ته لاړ چې د کولمبيا په پوهنتون کې دوکتورا واخلي. هغه وخت دوکتورا ته دی يو ښه کانديد نه و او دوکتورا يې هېڅ کله ترلاسه نه کړه، خو په عامه چارو کې ډېر فعال و او د افغان زده کوونکو د ټولنې مشر شو.»
کريچکوف وپوښتل: «له عامه چارو څخه د مطلب څه دی؟» بګدانوف ورته وويل: «لومړی دا چې امين د داسې چارو په تنظيم کې ښکېل و چې د لوی پښتونستان د نظريې ملاتړ يې کاوه. دا د محمد داود اند و چې ګواکې د ډيورند د کرښې په دواړو لوريو کې پښتانه سره يو کړي. داسې ښکاري چې امين په لومړي ځل دلته د سياست خوند وڅاکه. دی په سياست کې وتلی و او پوه شو چې يو مشر به ترې جوړ شي. په ۱۹٦۵ کال امين بېرته کابل ته لاړ. د ده د خبرو پر بنسټ، دی د 'سياسي دليلونو له کبله' ، په ځانګړې توګه د فلسطين د داعيې په ملاتړ په يو لوی لاريون کې د ونډې اخيستنې له کبله له امريکا څخه وشړل شو؛ نو په دې وخت کې نوموړی د نوي جوړ شوي ګوند، د ا خ د ګ غړی شو. امين ولسي جرګې ته ځان کانديد کړ، خو بريالی نه شو. وروسته يې د نجونو په يوه ليسه کې د ښوونکې دنده پيل کړه مخکې له دې چې د ښونې او روزنې وزارت د لومړنيو زدکړو په څانګه کې يو بيروکرات شي. د ۱۹٦٦ کال په دوبې کې تره کي د ګوند مرکزي کمېټې ته د امين د کانديدۍ وړانديز وکړ. کله چې ګوند دوه ټوټې شو، امين د خلک ډلې د مرکزي کمېټې غړی شو. په ۱۹٦۸ کال د خلقيانو عمومي غونډې پرېکړه وکړه چې دی له مرکزي کمېټې څخه ځکه وشړي چې د فاشېستي چلند ځانګړتياوې او شونيستي اند يې درلود، خو يو کال وروسته تره کي ټينګار وکړ چې امين وبښل شي.» کريچکوف په شونډو کې وويل: «په زړه پورې، دا په زړه پورې ده چې څه شي امين او تره کی له يو بل سره غوټه کړل. ولې عمومي منشي امين ته دومره نېږدې و؟ ولې يې دی تر خپل وزر لاندې ونيو؟» بګدانوف وويل: «دلته زه فکر کوم چې د امين په چلند

کې سړی ځواب موندلی شي. دی په غوړه مالۍ کې استاذ دی او د تره کي له نیمگړتیاو څخه یې په ډېر مهارت گټه اخیسته. ده به تل تره کی 'د ملت پلار'، 'د انقلاب لوی مشر'، 'گران ښوونکی' یاداوه.»

کریچکوف وویل: «خبرو ته د دوام ورکړه.» بگدانوف بیا خبرې پیل کړې: «بیا امین ته د ولسي جرگې د غړیتوب اعزاز

ورکړل شو. کارمل لا د مخه په ولسي جرگه کې د پرچم استازی و. امین، کارمل د توندو عامه نیوکو وسیله وگرځاوه. که څه هم دوی د یو گوند غړي وو، خو د کارمل په وړاندې د ده دوښمني ښکاره وه. زه کولای شم دا ووایم چې د دوښمنۍ په پرتله کرکه یې ډېره وه.

کله چې شاهي نظام وپرځول شو او داود واک ترلاسه کړ، امین ته دنده ورکړل شوه چې په پوځ کې پټ فعالیتونه پیل کړي. دلته د امین د مشرۍ وړتیا په بشپړه توگه وغوړېده. د تل په څېر د پښتنو پر اړوند موضوعگانو باندې د ټینگار په وسیلې، په لنډ وخت کې ده وکړی شول چې د کابل چوڼۍ ډېر افسران د خلک ډلې ته راوبولي. د غویي اوومې پوځي کودتا په ترڅ کې دغه افسران د ده ساتونکي وو. هو ریښتیا، سملاسي له گواکې 'انقلاب څخه وروسته' امین ومنله چې د مخکښو انقلابیانو اعزاز له قادر، وطنجار او نورو افسرانو سره شریک کړي، خو اوس دی وایي چې د انقلاب یوازینی اتل دی پخپله دی. حتی یو فلم جوړ شو چې پکې امین پخپله د قوماندان او د انقلاب د اتل ونډه لوبولې ده. د فلم جوړولو په بهیر کې ده په شخصي توگه پخپله متن کاته او تاریخي پېښې یې په خپله گټه بدلولې. همدا راز یو کتابگوټی یې خپور کړ چې د داود په نسکورولو کې د ده بې سارې ونډه پکې په تفصیل لیکل شوې وه. هر هغه چا به چې د پېښو په دغه بیان باندې د اړنگ جرئت کاوه، دوی به د امین د بې رحمه ځورونې او حتی وژنې وسیله وگرځېدل.»

کریچکوف یادونه وکړه: «خو ده په ریښتیا د غویي په اوومه کې مهمه ونډه درلوده.» بگدانوف ورسره همغږی نه و او ویې ویل: «هو، خو د گوند له ملگرو سره یوځای.» کریچکوف بیا وپوښتل: «د ده په اړه نور څه مالومات لرې، د شخصي ژوند په اړه یې؟»

بگدانوف وویل: «ده واده کړی، دری زامن او څلور لورانې لري. خپلې مېرمن ته دومره وفادر نه دی او دا د دوی په کلتور کې دومره لویه غلطي نه بلل کېږي. ته پوهېږې چې کارمل په ښکاره له اناهیتا سره ژوند کوي او که فرصت ورته برابر شي، له نورو ښځو سره له ملگرتیا څخه هم مخ نه اړوي.» کریچکوف له ډېرې کرکې خپل مخ غونج کړ او ویې ویل: «دوام ورکړه.»

بگدانوف وویل: «دی په انگرېزي ژبه ښه پوهېږي او ښځه یې توکي یې خوښېږي. د ځینو پخوانیو هم گوندو، په تېره بیا د پرچمیانو د ویناو پر بنسټ دی یو اکاړ او غچ پاله سړی دی او ډېرې لېوالتیاوې لري. د ده په اړه مالومات همدومره وو.»

کریچکوف وویل: «په ریښتیا یوه ځلانده خبره. موږ باید په دې ځان پوه کړو چې دی په خپلو هغو خبرو کې څومره صادق دی چې له شوروي اتحاد سره مینه لري او سوسیالېستي نظریو ته وفادار دی.»
بګدانوف وویل: «یو ځل امین زموږ له پلاوي سره په خبرو کې وویل: «زه ستاسې په پرتله ډېر شوروی یم» له دې څخه هېڅوا او هېڅ کله د شوروي په هکله بدې خبرې نه دي اورېدلې. دا یو حقیقت دی. سربېره پر دې، که څوک د امین په شتون کې د شوروي په هکله منفي خبرې وکړي، امین یې سملاسي په خبرو کې ورلوېږي او ورته وايي: «هېڅ کله بیا داسې خبرې و نه کړې.» د امین په ډله کې زموږ د سرچینو پر بنسټ، د نوموړي ستالین خوښېږي او هڅه کوي چې هغه ته ورته وي. ډېرې وخت د فېډال کاسترو په هکله په ډېره مینه خبرې کوي. ده له کاسترو سره هغه وخت وکتل چې د ناپېیلي خوځښت په کنفرانس کې یې ګډون کړی و. د امین د خبرو پر بنسټ، په هاوانا کې کاسترو له ملګرتیا څخه ډکه کتنه له ده سره درلوده او ده ته یې اجازه ورکړه چې د دوی د سیاسي بېرو په غونډه کې ګډون وکړي.
بګدانوف خبرې بس کړې او غوښتل یې چې کریچکوف دا ټول مالومات هضم کړي. ده غوښتل چې د امین په هکله د

یوې بلې خبرې یادونه هم وکړي، خو د کریچکوف په غبرګون ډاډه نه و. دغه ډګروال ته د خپل مشر کرکتر ښه مالوم و او د خپلې دندې په برید پوهېده که څه هم زړه یې ډېر غوښتل چې خپلو خبرو ته دا ورزیاته کړي چې ده ته داسې ښکاري چې امین او تره کي د اکتوبر لوی انقلاب او له انقلاب څخه وروسته د لومړیو کلونو په درسونو ځانونه ښه پوه کړي. له شوروي ملګرو سره د شخصي خبرو په بهیر کې دوی په ځانګړې توګه د پرچمیانو په څېلو کې پلمې موندلې او د دې یادونه یې کوله چې لېنن او وروسته ستالین له مېنشویکانو Mensheviks، تراټسکییاتانو Trotskyite او زینوویفېستانو Zinovievist او نورو هغه خلکو سره څرنګه چلند وکړ چې د نه وفادارۍ ګومان یې پرې کاوه. امین به خپل شوروي ملګري په دغه خبرو غلي کړل: «ایا ستاسې د تاریخ کتابونو پر داسې برحقې ستراتېژۍ د اړنګ سیوری اچولی؟ موږ ته مارکسېستي-لېنني تیورستانو سبق راکړی چې د پوړونو پرځنګ (طبقاتي مبارزه) لا ډېر ترینګلی کېږي.»
بګدانوف غوښتل چې وواېي امین په بشپړه توګه د بلشویکانو د تکتیک او ستراتیژۍ پر بنسټ کړنې ترسره کوي. دی لومړی مخالفین او د دوی خواخوږي له منځه وړي او بیا ډېره شوني ده چې خپل نېږدې متحدین او هر هغه څوک له مخې لیرې کړي چې د ده د شخصي واکمنۍ په لاره کې خنډ جوړوي، تېک لکه هغه کړنې چې د ده اېډیال، ستالین ترسره کړې، خو بګدانوف، کریچکوف ته د دغو خبرو په یادونه کې زړغیتوب وکړ. ده له ځان سره فکر وکړ: «څوک پوهېږي چې څه به پېښ شي. دا شوني ده چې امین به لکه فېډل کاسترو د راتلونکو ډېرو کلونو لپاره د شوروي اتحاد یو وفادار شریک پاتې شي. ښایي کرېملېن پر ده باندې قمار وهي. هر څه شوني دي؛ نو ځکه زه باید یوازې مالوم او ثابت شوي مالومات بیان کړم.

www.samsoor.com

که چېرې موږ غواړو چې د اجنټانو او یا باوري ملګرو راپورونو ته نغوتې وکړو، لومړی باید دغسې مالومات سم چاڼ شي.»
کریچکوف چوپ ناست و او د بګدانوف مالومات یې هضمول. بګدانوف څو پاڼې له خپلې دوسیې څخه راوایستې او خپل مشر ته یې ورکړې: «ولادیمیر الکساندرویچ، دغه د امین د خبرو یوه بېلګه ده. دا د هغې غونډې د خبرو اترو لیکلی متن دی چې په دې وروستیو کې امین زموږ د علومو اکاډمۍ له پلاوي سره درلوده - دا یو ډېر استازوال لاسوندی دی.»
کریچکوف پاڼې واخیستې او په لوستلو یې پیل وکړ: «د شوروي پلاوي سره له روغبړ وروسته، ح امین وویل چې د غوبي انقلاب د سوسیالېستي لوی اکتوبر انقلاب یوه نېغه پایله وه او ډېرو نورو هېوادونو ته به د یوې بېلګې په څېر کار ورکړي. د اکتوبر انقلاب په نظریو کې موږ تل الهام موندلی او ډېر افغان انقلابیان په لېنني کارنامو روزل شوي. د شوروي او افغانستان تر منځ د اړیکو په هکله امین وویل چې افغانان خپلو شوروي ملګرو ته تل نېږدې او اخلاصمن دي. دوی په پراخه کچه له موږ سره مرسته او زموږ داسې ملاتړ کوي چې زموږ د انقلاب د بریا لپاره یو ضمانت زېږوي. زموږ د ګوند د جوړېدو له لومړۍ ورځې راهیسې موږ ویل چې د شوروي بېلګې عملي کول موږ ته د بریا اصلي شرط دی. امین ژمنه وکړه چې د پلاوي په چارو کې به مرسته وکړي او خپلې خبرې یې داسې پای ته ورسولې: «موږ له خپلو شوروي ملګرو څخه څه نه پټوو ځکه موږ تل هڅه کوو چې څلور مهمې ځانګړتیاوې د خپل ګوند د غړو په منځ کې وپالو: هېواد پالنه، مارکسېزم پالنه، شوروي پالنه او نړیوالپالنه.»
کریچکوف چې لوستل خلاص کړل، وویل: «په دې کې خو څه نوی شی نه شته. ما همدغه خبرې په کابل کې ترې واورېدلې.» بګدانوف په همغږۍ وویل: «په عمومي توګه به همداسې وي، خو زه ورځ تر بلې دا ننګېرم چې نوموړی یو ساده سړی نه دی. زه کلکه ننګېرنه (احساس) لرم چې د ده ټولې داسې غوړې ویناوې پر خپلې اصلي موخې باندې د پردې اچول دي او د یوې داسې لوبې یوه برخه ده چې موږ تراوسه پرې نه پوهېږو.»
بګدانوف زړغی و، خو خپله هغه څوبتیا یې نه شوی کابو کولای چې کریچکوف ته د امین هغه خبره ووایې چې ده ته یې نېغ  وویل چې غواړي په افغانستان کې د اوسني شوروي سفیر پر ځای بل څوک دنده ولري .
د امین د خبرو پر بنسټ پوزانوف د پاچا او داود په واکمنۍ کې په افغانستان کې د دندې په ترسره کولو خپل اعتبار له لاسه ورکړی، د غوبي انقلاب په ارزښت نه پوهېږي او د افغانستان د وضعیت په اړه غلط مالومات مسکو ته لېږي. بګدانوف د دغو خبرو په اورېدو هک پک شو ځکه څومره چې دی پوهېده پوزانوف د امین په هکله ډېر ښه اند درلود او ګروهنه یې درلوده چې په خپلو تېلګرافونو کې د امین د اغېزې په هکله کابو مبالغوي لیکنې وکړي. افغان مشر چې خپله دغه هیله څرګنده کړه ډاډ درلود چې د ده هیله

به د مسکو غوږونو ته سملاسي ورسول شي، خو د دې ارزونه غلطه وه. دغه ډګروال د داسې خبرو لپاره ډېر ځیرک و. دې دا خطرناکه وګڼله چې په داسې دسیسو کې منځګړی شي. سربېره پر دې، څوک پوهېدل چې د سفیر او نورو شوروي استازو په هکله امین نورو ته څه ویلي وو، خو د افغان ولسمشر مرستیال له بګدانوف سره خپلې خبرې نه وې هېرې کړې. دې هڅه وکړه چې له نورو لارو جوته کړي چې د نوموړي هیله مرکز ته رسول شوې یا نه .
کریچکوف چې له بګدانوف سره خپله غونډه پای ته ورسوله، خپل مرستیال جنرال میډیانیخ یې راوغوښت. دغه جنرال د ختیځې چارو مسولیت درلود. کریچکوف له دې څخه وغوښتل چې د امین په هکله خپل اند ورسره شریک کړي .میډیانیخ ته دغه پوښتنه د حیرانتیا وړ نه وه. ده وویل: «موږ او په امریکایي ځانګه کې زموږ همکارانو لږ وخت مخکې په امریکا کې د امین د هستوګنې په هکله د مالوماتو راټولول پیل کړل. تراوسه ډېر مالومات نه لرو. کله چې په کولمبیا کې یې زده کړې کولې، امین د ښونې او روزنې له پخواني وزیر او د کمونېزم سرسخته مخالف، پژواک سره نېږدې اړیکې لرلې. دوی به یو ځای ښنبل او د یو او بل له ملګرتیا څخه یې خوند اخیست .افغانستان ته بېرته د راتګ په لاره کې، امین لوېدیځ جرمني ته لاړ چې په بون Bonn کې له افغان سفیر، علي احمد پوپل سره وګوري. دغه سفیر په ښکاره لوېدیځ پلوی او شوروي ضد سیاستوال دی. پوښتنه دا ده چې دغه سړی چې پخپله ځان ریښتینی کمونست بولي، له خپلو هغو ملګرو سره څه ګډه وجه لري چې د اېډیالوژۍ په بل لیدلوري کې ولاړ دي. ولسي جرګې ته د ټاکنو په هلو ځلو کې، د یوې ګډې سهامي کمپنۍ مشر، سپین زر سروري ناشرNascher، چې شاهي پلوه او پاچا ظاهر شاه ته نږدې کس و، د ده مالي ملاتړ وکړ. له انقلاب څخه وروسته امین نوموړی له زندان څخه ازاد او یو ګاډی سره له چلونکی یې ورته ځانګړي کړل. له امریکایانو سره د امین د پټو غونډو یادونې هم کېږي. موږ تراوسه همدومره مالومات لرو.»
کریچکوف په ناخوښۍ وویل: «په ځانګړې ډول په دې مالوماتو کې د پام وړ څه نه شته. خپل کار ته دوام ورکړه، خو  ګام په ډېر پام اخله چې خدای مکړه امین پوه نه شي. دا مه هېروه چې ته د یو لوی چارواکي او زموږ د شریک په هکله په کار بوخت یې.» میډیانیخ چې یو پوه مسلکي مامور و دغسې یادونې ته اړتیا نه درلوده.

سبا ته د همدغې حساسې موضوع په هکله کریچکوف د کې جي بي ریس، اندروپوف ته راپور ورکړ. د معمول په څېر کریچکوف هڅه کوله چې له پایلو او ارزونو څخه ځان لیرې وساتي او یوازې په مستندو خبرو ډېره ولګوي. ده په بیروکراتیکې لوبو کې ډېره تجربه لرله او کله به یې چې د سیاسي ببرو له غږو سره خبرې کولې، هېڅ کله یې په هېواد کې د هرې مهمې موضوع په اړه د خپل اند یادونه نه کوله. که به یې څه ویل، هغه به عمومي خبرې وې او تل به یې د مارکسېزم-لېنېنېزم اصولو ته وفاداري څرګندوله.
www.samsoor.com

دلته یې همدغه ثابت شوی تخنیک غوره کړ. لومړی یې د امین بې اړنگه ښې ځانگړتیاوې بیان کړې (ښه کاري اخلاق، استقامت، سبک، لېوالتیا) او بیا یې تشې ونومولې (زیاتی، له کچې وتلی موخن، د مخالفت پر وړاندې نه زغمن، ډېری وخت په خبرو او کړنو کې تېگمار). ده وویل: «شوروي همکارانو د ده په ژوندلیک کې په امریکا کې د مېشتې مودې په اړه ځینې پوښتنې راپورته کړې. د بېلگې په توگه، د ده په بانکي حساب کې هر څه رڼه نه وو او دغه موضوع اوس تر پلټنې لاندې ده» کریچکوف خپلو خبرو ته داسې لنډیز ورکړ: «خو په عمومي توگه امین عمومي منشي ته وفادار دی او په ښکاره د غویي انقلاب د ښېگڼې لپاره د هر چا په پرتله ډېر کار کوي. د سوسیالېزم په جوړولو کې د دوی تگ لوری سم دی.»
اندروپوف په همغږۍ وویل: « همدا ترټولو مهمه ده، خو ولودیا، دا مه هېروه چې هر څومره افغانان بریالي کېږي، همدومره زموږ دوښمنان، په تېره بیا امریکا دغه سیمې ته پام اړوي. هو ریښتیا، په پاکستان کې د امریکایانو څار کوې؟ پوهېږې چې هلته څه پېښېږي؟» کریچکوف ورته وویل: «موږ ننگېرو چې دوی تر اوسه لویو عملیاتو ته تابیا نیسي. د افغانستان په چارو کې مخکښ کارپوه، لوییس ډوپري Louis Dupree، چې په نومبر کې له کابل څخه وشړل شو، اسلام اباد ته تللی. د سي ای اې مامورین، لسارټ Lessart، رابېنسن Robinson، ډېوېډ David، براک Brock او ځینې نور هم هلته لیدل شوي. داسې برېښي چې یوه بشپړه ډله هلته راټولېږي. د څارگرو مالوماتو پر بنسټ، دوی هڅه کوي چې د مخالفینو له مشرانو سره اړیکې ټینگې کړي او د راتلونکو همکاریو لپاره د دوی ژوندلیک وڅېړي. موږ فکر کوو چې سي ای اې خپله مرکزي څانگه له تهران څخه اسلام اباد ته لېږدولې ده. زموږ د څارگرو مالوماتو پر بنسټ، تر څلوېښتو زرو کوماندویانو ته چې ډېری یې افغان مهاجرین دي په پاکستاني کمپونو کې روزنه ورکول کېږي.»
اندروپوف وپارېد او ویې ویل: «ته گوره ورته! دا یوازې د لوبې پیل دی. له نېږدې یې څار کوه.»

د اگست په میاشت کې د کارمل ورور، محمود بریالی په پاکستان کې د سفیر له څوکۍ څخه لیرې کړل شو. د نورو نومورو پرچمیانو په څېر، ده هم د امین امر ونه مانه چې بېرته کابل ته لاړ شي څو «خپله نوې دنده پیل کړي.» دی ډېر ښه پوهېده چې څرنگه دنده ورته تم ده؛ نو ځکه یې وپتېیله چې له ببرک کارمل سره یوځای شي. کارمل د لوېدیځې چکسلواکیا په ځنگلونو کې د امین له هدفي وژونکو څخه پټ و.
ببرک کارمل د خپل ورور په راتگ له کچې وتلی اندېښمن ښکارېده. راتلونکې ورته تیاره برېښېده. ده په ترخه بڼه وویل: «د اوس لپاره به زما د امنیت غم زموږ چکي ملگري وخوري، خو کېدای شي هره شېبه زما

د ژوند پای وګرځي.»

په هغه وخت کې د پرچمیانو لپاره حالات له ناهیلیو څخه کابو ډک وو. د ډلې اصلي مشران اړ شول چې په بېلابېلو هېوادونو کې په پټه ژوند وکړي. هغوی چې په کابل کې پاتې وو، ونیول شول او تر سختې شکنجې لاندې راغلل. د ګوند عادي غړو خپلې پرچمي اړیکې پټولې او مسکو د خپلو پخوانیو متحدینو پر ضد په داسې کړنو سترګې پټولې. د کارمل دا هېر نه وو چې له کابل څخه پراګ ته له تګ مخکې یې څرنګه بې ګټې هڅه وکړه چې له سفیر پوزانوف سره وګوري. کارمل په غوسه وویل: «دی څرنګه یو کمونست دی؟ یو ډارن فرصتپال. سړی باید داسې چلند له خپل اړ متحد سره و نه کړي.» بریالي وپوښتل: «څه باید وکړو؟ ښایي موږ بیخي ځان پټ کړو او د تره کي او امین پر ضد کړنې بس کړو.» کارمل د خپلې خوښې کېنټ سګرټ خلاص کړ، بل یې ولګاوه او بیا یې د لندمهالو شونو تکتیکونو په هکله خبرې پیل کړې: «د اوس لپاره موږ هېڅ داسې څه نه شو کولای چې حالات نور خراب کړي. ښایي دوی یوازې دې ته تم وي چې د پرچم ویجاړونه بشپړه کړي او موږ ټول له منځه یوسي. دا زموږ ډېره په ګټه ده چې تم شوو. زه ډاډ لرم چې ډېر ژر به وضعیت زموږ په ګټه بدل شي. هغه څه چې دغه لېونیان زموږ پر هېواد کوي، د غوسې څپې به راپورته کړي او دغه څپې به دوی ورک کړي. د انقلاب په اړه خوشالي تېرې شوې. ولس هغه بدلونونو ته تم دی چې دوی ته یې ژمنه شوې وه، خو پر ځای یې دوی څه ویني؟ یو مسخره پر ځان د لوی مشر خیال کوي او دا بل د ده تر شا په پټو کړنو بوخت دی. ته به ګورې چې ډېر ژر به ډېر خلک له دغه رژیم څخه ناراضه شي.»

بریالي وپوښتل: «خو په مسکو کې زموږ ملګري ولې د ړندو او کڼو په څېر چلند کوي؟» کارمل وویل: «دا ما ته هم یوه مرموزه خبره ده .ښایي پوزانوف او همکاران یې مسکو ته غلط مالومات لېږي. دا خبره ډېره شونې ده.» بریالي، کارمل ته داسې وړاندیز وکړ: «نو اجازه راکړه چې سمدلاسه مسکو ته لاړ شم چې د دوی له مشرانو سره خبرې وکړم څو سترګې یې خلاصې کړم.» د کارمل خوښه وه. د ده یوازینی شرط دا و چې په هېڅ وجه باید په مسکو کې افغان سفارت د بریالي په ورتګ خبر نه شي .

مسکو ته په رسېدو سره، بریالي د اېرېک نېکراسوف کور ته زنګ وواهه. کله چې نېکراسوف په کابل کې د کې جي بي مېشت مامور و، ده ورسره نېږدې اړیکې لرلې. اېرېک په ډېر پام له ده سره د لیدنې غوښتنه ونه منله، خو په تیلفون کې یې اورېدې او په تفصیل خبرې ورسره وکړې. بریالي د پرچمیانو د ستونزمن وضعیت په اړه ټولې خبرې ورته وکړې. ده خپل پخواني اړیکوال ته وویل: «که ته مرسته و نه کړې، لویې ستونزې به راپورته شي. ملګری کارمل او موږ ټول د مرګ تر دوامداره ګواښ لاندې ژوند کوو.» ده د مالي ملاتړ په نه شتون هم خوابدي څرګنده کړه او ویې ویل چې د کارمل له لوري یې یو لیک د شوروي مشرتابه

www.samsoor.com

ته راوړی. د خبرو په پای کې دغه افغان په ژړا شو او داسې زارۍ یې وکړې: «د انسانیت په پار موږ وژغورئ.» نېکراسوف په لنډه توګه ورته وویل: «له تا سره به اړیکه ونیول شي.»
د دغه تیلفوني مرکې په هکله نېکراسوف سمدلاسه خپل مشرتابه ته راپور ورکړ. دغه مالومات په چټکۍ د لوړو پوړونه په پاټکۍ وختل. په همدغه ورځ د مرکزي کمېټې منشي ته خبر ورکړل شو او ده سملاسي خپل مرستیال، اولیانوفسکي ته تیلفون وکړ: «په دې فکر وکړه چې څوک باید له بریالي سره وګوري او غوږ ورته ونیسي. اړین محرمیت په پام کې ونیسه. په دې هکله باید په کابل کې څوک خبر نه شي.»
اولیانوفسکي پوه شو چې دی باید پخپله دغه لوبه ونه لوبوي. په پای کې د نړیوالو چارو له څانګې څخه ګېنریخ پولیکوف Genrich Polyakov له بریالي سره وکتل. بریالی خوښ و چې له ده سره لیدنه وشوه. ده د کارمل لیک پولیکوف ته ورکړ او هغه څه یې ټول تکرار کړل چې نېکراسوف ته یې ویلي وو. ده په ترخه بڼه وویل: «د ریښتیني کمونستانو له منځه وړل په افغانستان کې روان دي. د شوروي ټول ریښتیني ملګري په زندانونو کې ورستېږي. ډېر یې وویشتل شول. تاسې ته سفیر پوزانوف غلط مالومات درکوي. دی د هر څه په پرتله د خپل کاري ژوند ډېر غم خوري. زه څه باید وکړم، ملګری پولیکوف؟ بېرته افغانستان ته لاړ شم او یا تاسې په بل هېواد کې د پټېدو سپارښتنه راته کوی؟»
پولیکوف ځانګړی دستور ترلاسه کړی و چې په دې اړه خبرې و نه کړي؛ نو خپلې اورېې یې پورته وخوځولې او یاده یې کړه چې په دې هکله باید بریالی پخپله پرېکړه وکړي. بریالي وویل: «مخکې به په ستونزمنو حالاتو کې شورویانو مشورې راکولې چې څرنګه مخ ته لاړ شو. موږ ستاسې له اجازې څخه پرته یو ګام هم نه شوی اخیستی. تاسې موږ ته روزنه راکړه چې ستاسې داسې کوچني ورونه واوسو چې تل خپلو مشرانو ورونو ته غوږ نیسي. اوس تاسې موږ ته شا اړوی. موږ یوازې پرېږدی. تاسې په داسې بدماشانو شرط وواهه چې سوسیالېزم ته شرم دي او له تاسې سره به دوکه وکړي.»
پولیکوف تریو شو ځکه دغه خبرې په اجندا کې نه وې .ده بریالي ته ډاډ ورکړ چې دی به تر خپلې وسې هڅې وکړي. ورپسې دوی دواړو مخه ښه وکړه .

په هغه وخت کې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې مامورینو پرچمیانو ته د مشورې وخت نه درلود. په مسکو کې شوروي اتحاد ته د افغان ولسمشر، د ا خ د ګ عمومي منشي، د انقلابي شورا ریس او د افغانستان دموکراتیک جمهوریت لومړي وزیر نورمحمد تره کي لومړي رسمي یون ته تابیا نیول کېده .

د نومبر په ۲۷ د شوروي اتحاد د بهرنيو چارو مرستيال وزير كوزيرېف Kozyrev په شوروي اتحاد كې د افغانستان سفير ته بلنه وركړه چې د تره كي د يون پر جزياتو ورسره وغږېږي. رازمحمد پكتين، چې تر دې وروستيو پورې د كابل راديو خبريال و، په دوبي كې د سفير په توګه ګمارل شوی و. نوموړي له خپلو شوروي ملګرو څخه غوښتي وو چې ده ته يو شخصي ښوونكی ځانګړی كړي چې د ټولنيزو علومو او نړيوالو اړيكو سبق وركړي څو «په سياسي چارو كې د نه تجربې تشه ډكه كړم.». ده خپلو شوروي ملګرو ته ډاډ وركړ چې په شوروي كې د نورو افغان زده كوونكو په ګډون، دی به د ماركسېزم-لېنېنزم سرښندونكی زده كوونكی وي. پكتين دا ډاډ هم وركړ چې سر له اوسه ټول هغه افغان زده كونكي چې په شوروي اتحاد كې زده كړې كوي خپل پلرني ټاټوبي ته به د كمونست په توګه ځي.
د تره كي د راتګ په شپه، پكتين د دې پخلى وكړ چې افغان لورى چمتو دى چې له شوروي اتحاد سره د ملګرتيا، ښه ګاونډېتوب او همكارۍ تړون، د افغان-شوروي د تل پاتې همكاريو لپاره د يو كمېسيون جوړولو هوكړه ليک او مسكو ته د تره كي د يون په هكله د ګډې اعلامیې خامه لاسليک كړي. مرستيال وزير كوزيرېف هيله څرګنده كړه چې شوروي لورى به تره كی ته فرصت وركړي چې په شوروي تلويزيون كې خبرې وكړي او د روغتيا وزارت د څلورم رياست په هغه كلينيک كه روغتيايي معاينې وكړي چې د شوروي لوړپوړو چارواكو لپاره و.
په افغانستان كې هم د تره كي رسمي يون ته تابيا نيول كېده. د ملګرتيا، ښه ګاونډېتوب او همكارۍ تړون د متن په هكله له افغان مشرانو سره خبرې وشوې. د متن په برابرولو كې دواړو خواو هغه تړون خپل لارښود كړ چې د لېنني اصولو پر بنسټ د افغانستان او شوروي روسيې تر منځ په ۱۹۲۱ كال لاسليک شوی و او دغه نوي تړون ته يې نوي واقعيتونه ورزيات كړل. كارپوهانو د متن ويي اصلاح كړل او پر ليكنښو يې له يو او بل سره بحث وكړ. پوزانوف په دوامداره توګه د افغانستان له بهرنيو چارو وزارت سره په اړيكه كې و چې د بهرنيو چارو وزير د متن د جوړښت او بدلونونو په هكله خبر وساتي. امين د دغه لاسوندي پاڼې واړولې او په دري ژبه د متن بشپړه دقيقه ژباړه او د شوروي ډيپلوماسۍ دود يې خوښ شو، خو نوموړی داسې ښكارېده چې د تړون له منځپانګې سره يې ناټې نه درلود. كه شورويانو دغه تړون ليكلی وي؛ نو خامخا سم دی.
د نورو مخكنيو تړونونو په څېر چې افغان ولسمشرانو لاسليک كړي وو، دوی ته دغه تړون هم په ځانګړې توګه دومره
ارزښت نه درلود. افغانانو داسې كاغذونو او لاسوندو ته ارزښت نه وركاوه او تر هغه وخته پورې هوكړه ليكونو ته ژمن
وو تر څو يې چې ګټه وه .
www.samsoor.com

يوازې سياستوال د تره کي د راتګ په تابيا کې بوخت نه وو. د کې جي بي د نهم رياست مامورين په دې لټه کې وو چې د تره کي او د ده د پلاوي د خوښې خواړه مالوم کړي څو همدغسې خواړه ورته په مسکو کې برابر کړي. وروسته دا جوته شوه چې را روان افغانان د خوړو په هکله دومره کبرجن نه وو. په سهار کې يې چاى څښلو او پوڅه يې له سپورې ډوډۍ سره خوړله. د غرمې لپاره يې د سبو سوپ چې ګازرې، پياز او تېپر پکې وو خوښېدل او ماښام به يې کړايي چې د پسه له غوښې، پيازو او هګيو څخه جوړېده خوړله. په ځينو ځانګړو وختونو کې يې پلو او شېش کباب خوړل .

د هغه ژبې په هکله خبرې وشوې چې له تره کي سره په غونډو کې ترې کار واخيستل شي. پرېکړه وشوه چې په دري ژبه کې مخکښ کارپوهان ديپلومات ديميتري روريکوف او ستنې ستنېسلف ګوريلوف Stanislav Gavrilov به د مشرانو په غونډو کې د ژباړې چارې مخته بوځي. د پروتوکول مامورينو په دې هوکړه وکړه چې تره کي ته د هرکلي په مراسمو کې مشران کومې نېکتايي ګانې او کرتۍ واغوندي .

د نومبر په اوويشتمه د ا خ د ګ د مرکزي کمېټې عمومي غونډه ونيول شوه چې په ګوند کې د اړودوړ پاى ولمانځي. سبا ته يې په اړه کابل ټايمز يوه مقاله خپره کړه چې په دوديزه توګه ابډيالوژيکي کليشې پکې وې: «عمومي غونډه د خواريکښو په خوځښت کې يو تاريخي ګام دى. عمومي غونډې وښوده چې د ا خ د ګ خوارېکښي، نړيوالتوب او نړيوالې سولې ته ژمن دى. عمومي غونډې د ا خ د ګ د هوښيار مشرتابه او د خلکو د مشر، تره کي د ښې مشرۍ ځرګندونه کوله.»

د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د انقلابي شورا د ځمکو د اصلاحاتو په اړه پر اتم فرمان خبرې وشوې او منظور

شو. د غونډې تر ټولو مهمه موخه پرچميانو ته د وروستي ګوزار ورکونه وه. د مرکزي کمېټې اووه او د انقلابي شورا دوه غړي (ببرک کارمل، نوراحمد نور، کشتمند، اناهيتا راتب زاد، وکيل، بريالى، نجيب، قادر او رفيع) په رسمي توګه له ګوند څخه په دې تور وايستل شول چې «د غويي لوى انقلاب، د افغانستان دموکراتيک جمهوريت او د پرتمين ګوند پر ضد يې له خيانت څخه په ډکو دسيسو کې برخه اخيستې وه.» د مرکزي کمېټې څلورو نورو غړو ته نرمه سزا ورکړل شوه. د دوى موقف د مرکزي کمېټې له غړيتوب څخه د مرکزي کمېټې کانديدتوب ته ښکته شو چې «يو ځل بيا د نيوکې او ځان ته د ګوت نيونې په هکله روزنه ورکړل شي.» کابل ټايمز په دغه غونډه کې د تره کي وينا هم خپره کړه. د وينا اصلي ټکي د هغه دسيسه جوړوونکو په هکله وو چې له ګوند څخه وشړل شول. د تره کي په خبرو کې د ستالين د ويناو انګازې وې چې مخالفين يې د «ګمارلو لاسونو او د امپرياليزم د اجنټانو» په توګه له منځه يوورل. تره کي په ټينګار وويل چې «امپرياليزم د غويي انقلاب پر ضد يوه دسيسه جوړه کړې وه او په کابل کې امپرياليستي کړييو له خپلو اجنټانو سره اړيکې ټينګې کړې وې. زموږ امنيتي ادارو داسې مالومات تر لاسه کړل چې د کارمل، قادر او نورو په ګډون زموږ ملګرو په دغه توطيه کې لاس درلود. د حالاتو د سمون او د امپرياليستي کړييو

د برېنډولو... په موخه پرېکړه وشوه چې ببرک کارمل د سفیر په توګه په پراګ، نور په واشنګټن، وکیل په لندن، اناهیتا په بېلګراد، نجیب په تهران او بریالی په اسلام اباد کې وګمارل شي. د قادر، میرعلي اکبر او شاپور له نیول کېدو وروسته، نورو وتوانېدلو چې یو شمېر داسې لاسوندي ترلاسه کړو چې په توطیه کې یې د کشتمند او رفیع ښکېلتیا ښوده. دغه سفیران بېرته راوغوښتل شول، خو دوی نه یوازې رانه غلل بلکې د سفارت له بودیجې څخه یې پیسې هم پټې کړې.» د دغه خبرو په اورېدو سره حاضرینو د خوښۍ چک چکې وکړې او چیغې یې وهلې چې توطیه کوونکو ته دې سخته سزا ورکړل شي. دا ټولو د هغو پېښو انګازې لرلې چې د ۱۹۳۰مې او ۱۹۵۰مې په کلونو کې په شوروي اتحاد کې پېښې شوې وې.

دا هر چا ته مالومه ده چې هر انقلاب د خپلو بچیانو سر خوري. د غویي انقلاب یې یوه ښه بېلګه ده. کله یې چې پوځي کودتا ترسره کړه، افغان انقلابیانو لومړی د پخواني رژیم پاتې متحدین ووژل، د خپلو شخصي دوښمنانو وژلو ته یې دوام ورکړ او بیا یې په خپلو لیکو کې د مخالفینو پرضد چارې پیل کړې. افغان مشرانو چې د وینې تویونې تندې او له سزا څخه د معافیت خیال نیشه کړي وو عامه څپنو ته زور ورکړ او هر هغه څوک یې وژل چې د نه وفادارۍ حتی ډېر لږ ګومان پرې کېده. د دوی ډېری قربانیان بېګناه خلک وو.

د ډېری ځمکې خاوندان، سوداګر، بانکوال او پانګوال یوازې او یوازې له دې کبله وژل کېدل چې له دوی سره یې ګډه ایډیالوژي نه لرله. دیني مشران وژل کېدل ځکه چې انقلابیانو د خپلې خوښې دولت جوړونې ته دین ناښنده بللو. روڼ اندي وژل کېدل خو په راتلونکې کې د دوی پر ضد ونه درېږي. بزګران په ډله ییزه توګه وژل کېدل ځکه چې پر دوی باور نه شوی کېدای او ګواکې د انقلاب ضد خوځښتونو سره به یو ځای شي. د پښتني قبیلو اصلي سیمې هوایي ځواکونو بمباردولې او په توپونو یې ورانولې. د هدفي وژنو ډلې به هر هغه ځای لېږل کېدې چې د خارګرو مالوماتو پر بنسټ اخوانیان پکې  لیدل شوي وو.

کله به چې شوروي سلاکارانو د داسې ځناور تاوتریخوالي د درولو هڅه وکړه، دوی ته به یې خپل د اکتوبر لوی انقلاب یاد کړ: «ستاسې په یاد دي چې څنګه مو په کورنۍ جګړه او ورپسې کلونو کې خپل ریښتیني او بالقوه دوښمنان په ډېره اکاړۍ او بې رحمۍ له منځه یوړل او کرار کرار مو د سوسیالېزم بریا تضمین کړه؟» سلاکارانو به د اعتراض هڅه وکړه او وبه یې ویل چې شورویانو په خپلو ټولو داسې کړنو اعتراف وکړ چې غلطې وې او د نورو غلطیو یادونه یې هم کړې ده، خو دوی ته چا غوږ نه نیوه. داسې ښکارېدل چې

د هرې څوکۍ افغان مشران په یوه داسې کرغېړنه سیالۍ کې ښکېل وو چې څوک به خپل ډېر وطنوال ووژني. د افغان تر ټولو اوچت پوړ مشرتابه د دوی داسې کړنې ډومارلې.
یو ځلې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د کورنیو چارو په وزارت کې د جرمونو او داړه مارۍ ضد چارو سلاکار ډګروال کلویوشینکوف Kliushnikov په ډېر پارېدلي حالت کې د شوروي سفارت ته لاړ. ده له بګدانوف سره وکتل او ورته یې وویل: «د ا خ د ګ ځوان فعالان د هېواد په سوېل کې د پکتیا ولایت مرکز ته ننوتل. دوی ځوانان راغونډ کړل او د انقلاب په هکله یې خبرې ورته وکړې، د تره کي د انځور نښانونه یې ووېشل او دوی ته یې بلنه ورکړه چې د ګوند په سیمه ییزه څانګه کې د ګوند غړي شي. د سیمې ځوانانو ناټې درلود چې پوه شي دوی څه وایي. دوی له کابل څخه د نجونو په لیدلو حیران شول چې چادرۍ یې نه وې په سر کړې. ځینو ځوانانو نښانونه پر خپلو ختونو ستګ (سنجاق) کړل، خو وروسته له دې چې دغه فعالان له سیمې بېرته لاړل، دغه 'مرتد' ځوانان سمدلاسه د عامو خلکو په شتون کې ووژل شول. اسلامي سخت دریځو اووه ځوانان ټوټې ټوټې کړل. امین امر وکړ چې هر هغه څوک کابل ته راوستل شي چې په دغه وژنو کې یې برخه اخیستې وه. عسکرو پرته له دې چې دا جوته کړي چې چا په وژنو کې نېغ لاس درلود او څوک هسې تصادفي د وژنې د ځای په شاوخوا کې وو، څه نا څه سل کسه ونیول.»
د همدغه ورځې په ماښام کې د څارندوی یو مشر کلویوشینکوف ته راغی او ویې ویل: «د کورنیو چارو په وزارت کې دوی سل کسه په یو وخت کې محاکمه کوي. دا به ښه وي چې ته راشې.» کله چې دغه ډګروال د وزارت د ننوتنې دالان ته ننوت، ده په لسګونو خلک ولیدل چې د پښو پر سر پر غولي ناست و او د څارندویو مشر جګړن تړون له دوی څخه اوچت په څوکۍ ناست و. د دغه خلکو زړې جامې پر تن وې. د تړون مرستیال کلویوشینکوف ته ورنېږدې شو او ویې ویل چې دوی ټول شوکماران او د مرګ لایق دي. ډګروال سپارښتنه وکړه چې له هر یو څخه په جلا توګه پوښتنې ګروېږنې وشي او په محاکمه کولو کې باید بیړه ونه شي. د ډګروال له سپارښتنې سره سره، پوښتنې ګروېږنې په همدغه دالان کې پیل شوې. شوروي سلاکار خپل دفتر ته لاړ، خو څو شېبې وروسته یې د بس ګاډي د ماشین غړ تر غوږ شو. نوموړی کړکۍ ته لاړ او ویې لیدل چې پاتې بندیان په بسونو کې خېژول کېدل.
له لمر ختو سره سم، همغه د څارندوی مرستیال او د ده دوه نور همکاران د سلاکار لیدو ته راغلل. دوی سربداله ښکارېدل او د مخ رنګونه یې ژېړ وو. کله یې چې ځان ته وتکا واچول، دوی وویل چې ټول بندیان وویشتل شول. وروسته له ډله ییزې پوښتنې ګروېږنې څخه چې کلویوشینکوف یې شاهد وو، دوی ټول په مرګ محکوم او سمدلاسه ووژل شول.
د دغه کیسې په اورېدلو بګدانوف کومه حیرانتیا څرګنده نه کړه. ده خپل ملګري ته یوه بله کیسه وکړه. کله به چې بګدانوف په څارګره اداره کې خپل دفتر ته سهار وختي ورسېد. ډېری وخت به یې اسدالله سروري لیده چې سترۍ ښکارېده او موزې او کالي به یې په خټو وو. بګدانوف ته کرار کرار څرګنده شوه

چې هره شپه اسدالله سروري پخپله په شخصي توګه په هغو ډله ییزو وژنو کې برخه اخیستله چې د کابل د ښنډې په یو پیلېګون کې ترسره کېدې. لږ وخت وروسته، سروري د کې جي بي له مامورینو څخه د دغه کړنو د پټولو پروا نه لرله. ده به په څښنه موسکا وویل: «نن به سل نور خاینان پاکستان ته ولېږو.» دغه خبره د رژیم له لوري د ډله ییزو وژنو په هکله منل شوي برغزووه وه.

په مني کې ګنګوسې خپرې شوې چې هغه بندیان شوي خلک چې پر انقلاب ضد تورن شوي وژل شوي نه دي بلکې شوروي اتحاد ته لېږل شوي چې د سایبیریا او یورال په معدنونو کې کارونه پرې وکړي. داسې ګنګوسې هم خپرې شوې چې له دغه ځایونو څخه د بدبختو افغانانو لیکونه راغلي چې ګواکې د شوروي د یورانیم په معدنونو کې د ډېرو ربړو ځرګندونې پکې شوې دي .

خلکو پر دغه بورېنوونکي حقیقت باور نه شوی کولای چې هغه افغانان چې اګسا نیولي وو له خپلو کورونو څخه بهر وژل کېدل، خو دغه پراخې وېرې د دې پر ځای چې د رژیم برلاسي رامنځته کړي، رژیم ته یې ډېر دوښمنان وزېږول.

په دوبي کې له نورستان څخه د پاڅون خبر راورسېد .امین امر وکړ چې دغه پاڅون ژرترژره او په بې رحمۍ وځپل شي. هوایي ځواکونو ټوله سیمه په کنډوالو بدله کړه. ناکراري د نورستان په څنګ کې د کنړ ولایت ته خوره شوه .د پنجشېر له درې څخه هم بد خبر راورسېد. تر اوسه د رژیم پر ضد جګړه په منظم ډول نه وه، خو د ځارګرو د ځرګندونو پر بنسټ، په پاکستان کې افغان مهاجرو د مخورو اسلامي تنظیمونو یو ائتلاف جوړ کړ او دې ته یې د 'ملي ژغورنې جبهه' نوم ورکړ.دا د مجاهدینو لومړنی ائتلاف و.

تره کی د دسمبر په څلورم مسکو ته روان شو. د هوایي چلند ډلې چې د شوروي د اوچت مشرتابه په چوپړ کې وه د تره کي د یون لپاره یوه II-62 الوتکه برابره کړه. له روانېدو څخه دوه ورځې مخکې، په کابل کې شوروي استازو باید یوه نابېره موضوع حل کړې وی. داسې ګڼل شوې وه چې د تره کي په نه شتون کې به امین، چې په حکومت او ګوند کې د ده منل شوی ښي لاس و، د تره کي پر ځای چارې مخته وړي، خو وروسته له دې چې د پروتوکول ټولې موضوعګانې حل شوې او د پلاوي نوملړ منظور شو، امین ناڅاپه ډګروال بګدانوف ته خبر ورکړ چې غواړي په «چوپه او غیر رسمي بڼه» مسکو ته لاړ شي. بګدانوف خپله حیرانتیا پټه نه شوی کړی او ویې پوښتل: «ایا دا توجیه کېدای شي چې په داسې نازک وضعیت کې د هېواد دوه مشران بهر ته لاړ شي؟» خو امین د نه ځواب نه غوښت. ده وویل: «موږ لکه وطنجار او سروري

نور درانه ملګري لرو او ملګری بګدانوف، ته هم دلته د خپلې دندې ترسره کولو لپاره پاتې کېږې. که یې اړتیا وه، ته هر وخت کولی شې چې زما ملګرو ته لارښوونه وکړې. زه پر تا باور لرم چې سمې پرېکړې به وکړې. زه پخپله له تا څخه غوښتنه کوم چې زموږ په نه شتون کې د حکومتولۍ په چارو کې مرسته وکړې. سربېره پر دې، زه غواړم چې له ملګري اندروپوف سره وګورم.»
بګدانوف وپتېیله چې له امین سره نور بحث و نه کړي او پرېکړه یې وکړه چې امین د کې جي بي استازو په وسیله نه بلکې باید پخپله له خپلو اړیکو څخه په کار اخیستنې له اندروپوف سره د لیدلو لارې چارې برابرې کړي .
د کابل په هوایي ډګر کې د افغان پلاوي لپاره یوه د مخه ښې پرتمینه لمانځنه ونیول شوه. بګدانوف هم د شوروي سفارت د مامورینو په کتار کې تم ولاړ و چې له روان افغان مشر سره په لاس مخه ښه وکړي. د لمانځنې په جم او جوش کې د بګدانوف د سترګو د کونجو امین ته پام شو چې د هوایي ډګر په پلې لاره کې په چټکۍ ګامونه اخلي او غلی الوتکې ته ننوت .
د دویم ونوکووا Vnukovo په دولتي هوایي ډګر کې افغان مېلمنو ته د ښه راغلاست یوه بله شانداره لمانځنه تم وه. د شوروي عمومي منشي لیونېډ ایلیچ برېژنېف او نورو مشرانو له مېلمنو سره روغبړ وکړ. له دود سره سم دوی یو او بل ته غېږې ورکړې، یو او بل یې ښکل کړل، ورپسې ملي سرود وغږول شو او د تشریفاتو ګارد په پرېټ تېر شو. برېژنېف افغان مشر ته بلنه ورکړه چې له ده سره په ګاډي کې کښېني. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سلاکار ستنېسلف ګوریلوف د دوی ژباړن و. له ونوکووا څخه کرملین ته د لارې په اوږدو کې برېژنېف له تره کي سره د خبرو هڅه وکړه. ګوریلوف یې خبرې سمدلاسه په دري ژبه وژباړلې، خو تره کي داسې وښوده چې پوه نه شو. د شوروي عمومي منشي په خانتما مهربانۍ وویل: «ملګری تره کی به خامخا ستړی وي. ښه به وي چې د لارې په اوږدو کې یوه سترګه خوب وکړي. ده تېر اوه ساعته په هوا کې تېر کړي.»
د لیدنې رسمي پروګرام سبا ته پیل شو. په کابل کې د شوروي سفارت دویم سکرتر دیمتري روریکوف د دوو مشرانو تر منځ د ژباړې دنده لرله .ګوریلوف هم چمتو ولاړ و، خو مخکې له دې چې خبرې اترې پیل شي، تره کي ناڅاپه وویل: «موږ د پلاوي غړي، چې خپل ملګري هېواد ته راغلي یوو، افغانان یو. که په وضاحت وویل شي، موږ پښتانه یو؛ نو ځکه موږ غواړو چې په دغه ځانګړې غونډه کې له پښتو څخه کار واخیستل شي. څومره چې زه پوهېږم، ستاسې ژباړن په پښتو نه پوهېږي؛ نو ځکه موږ داسې یو پښتون افسر ته په خپل پلاوي کې ځای ورکړ چې ستاسې په هېواد کې یې زده کړې کړې دي او په روانه روسي ژبه غږېږي.»
لیونېډ ایلیچ چې په دې خبرو ډېر لږ پوه شو، نرم غبرګون وښود او یا چې واضح وویل شي، ده هېڅ غبرګون ونه ښود. د

شوروي حکومت مشر، لومړي وزیر کسېګن Kosygin هغه لاسوندو ته ځیر شو چې مخ ته یې پراته و څو وښیي چې
منځپانګه یې ارزوي. د بهرنیو چارو وزیر ګرومیکو Gromyko ګرومجن شو. د سفیر پوزانوف مخ لومړی سپین وتښت او بیا تک سور شو.
روریکوف په چټکۍ ګرومیکو ته ورنېږدې شو چې ده ته یادونه وکړي چې په کابل کې له امین سره هوکړه شوې وه چې ژباړه به په دري ژبه کېږي .ګرومیکو، چې د پروتوکولونو پر بنسټ د چارو په ترسره کولو کې ډېر ځک و، ورو وویل چې دغه هوکړه یې ښه په یاد ده. ورپسې اندرې اندرییوویچ Andrei Andreyvich د پنومروف په غوږ کې وپسېد: «هو، له داسې انډیوالانو سره هوکړه لیک لاس لیک کړه. نن یې درسره لاسلیک کړي، سبا ته یې ماتوي.»
توپچي تورن، چې هغه لوی مسولیت غونج کړی و کوم چې «لوی مشر» یې پر اوږو واچاوه، ژباړه پیل کړه. ده سیاسي او حقوقي ویې سره ګډول. یوه خواشینوونکې صحنه وه. ګرومیکو، چې د سپکاوي ننګېرنه (احساس) وکړه، دغه تورن ته وویل: «لږ په زوره غږېږه. خبرې د واضح نه دي.» خو دغې خبرې تورن لا ډېر تېرا کړ او لړزېدونکی غږ یې کابو د اوربدلو نه و. بیا، اندرې اندرییوویچ په ډېر لوړ غږ وویل: «داسې ښکاري چې ملګري ژباړن پوره اړوب نه دی خوړلی!» دشوروي پلاوي غږو په ملنډیزه ښه موسکا وکړه. ورپسې ګرومیکو له خپل مرستیال ځخه په پس پسې پوښتنه وکړه چې که د بهرنیو چارو په وزارت کې یو وړ کارپوه وي چې په پښتو پوهېږي. دغه مرستیال له ګوریلوف سره مشوره وکړه. ده وویل: «هو داسې سړی شته، خو اوسمهال په ډیپلوماتیکي اکاډمۍ کې زده کړې کوي. د بهرنیو چارو وزیر سمدستي وویل: «پیدا یې کړئ او کرېملېن ته یې ژرترژره راولئ.»
ولادیمیر کوزېن Kozin،په ډیپلوماتیکي اکاډمۍ کې د ماسترۍ زده کوونکی، په شوروي اتحاد کې یو له څو کسانو ځخه و چې په دغه سخته او لږمونده ژبه کې یې بشپړه برلاسي لرله. کوزېن پخپله هېڅ باور نه کاوه چې په پښتو ژبه کې دې یوازینی وړ کس دی. پښتانه په افغانستان کې اصلي توکمیزه ډله جوړوي . دوی د هېواد په وګړو کې ډېری دي. په پښتو او دري ژبه د واک په اوچتو ادارو کې په پراخه کچه خبرې کېږي؛ نو ولې شوروي اتحاد چې له ډېرو کلونو راهیسې یې له افغانستان سره ملګرتیا لرله د اړتیا وړ ژباړنو په روزلو کې پاتې راغلی و؟ دغه پوښتنې ته کوم ځواب نه شته و. د مسکو د نړیوالو اړیکو په انستېتیوت کې ولادیمیر پښتو، دري او انګلیسي ژبې زده کړې وې. هلته یوازې دوه کسو غوښتل چې پښتو ژبه زده کړي او دوی د ډیپلومونو ترلاسه کولو وروسته تري تم شول. ولادیمیر د بهرنیو چارو په وزارت کې دنده پیل کړه. هلته نوموړی حیران پاتې شو چې دی په ټول وزارت کې یوازینی کس دی چې په پښتو ژبه خبرې کولی شي .

له فراغت څخه یوه میاشت وروسته، ولادیمیر افغانستان ته ولېږل شو چې د شوروي په سفارت کې کار وکړي. هلته هم نوموړی یوازینی مامور و چې له پښتنو سره یې خبرې کولی شوی. په سفارت کې به ده ته په ټوکه د «پښتون ملتپال» نغوته کېده. څلور کاله وروسته په ۱۹۷۶ کال دی بېرته شوروي ته راغی او د بهرنیو چارو وزارت د منځني ختیځ په څانګه کې په دنده وګمارل شو. د وزارت مامورین د غویي انقلاب ته ډېر خوشاله شول. ټول په دې اند وو چې د انقلاب مشران د دوی ریښتیني ایډیالوژیکي متحدین دي، په افغانستان کې به ژوند سمون ومومي. وروسته ولادیمیر په ډیپلوماتیکي اکاډمۍ کې ماستري پیل کړه .
ده ته مخکې هېڅ کله داسې فرصت برابر شوی نه و چې په کرېملېن کې لوړپوړو چارواکو ته ژباړه وکړي. داسې کار ډېر وخت ته اړتیا لرله ځکه چې امنیتي چارواکو د هر هغه مامور په اړه یوه بشپړه پلټنه کوله چې په کرېملېن کې دنده ورکول کېده، خو دلته د سیاسي بېړو امر پر ټولو پرټوکولونو برلاسی شو. د ماسترۍ دغه زده کوونکی ډېر ژر د کرېملېن په پرتمین دالان کې د کار په چاپېریال کې اشنا شو او د دغه رسمي لیدنې په ټول بهیر کې یې خپله دنده ښه ترسره کړه .
د ملګرتیا، ښه ګاونډیتوب او همکارۍ تړون له پروتوکول سره سم لاسلیک شو. کله یې چې تړون لاسلیک کړ، د دغه دوو هېوادونو مشرانو د شمپاین ګیلاسونه پورته کړل او د بهرنیو چارو له وزیرانو، ګرومیکو او امین، څخه یې مننه وکړه چې دغه لاسوندی یې د لاسلیک لپاره چمتو کړی و.
وروسته ګرومیکو او امین، چې د خپلو اړوندو وزارتونو او سازمانونو لوړپوړي مشران ورسره مل وو، د پوځي مهماتو او افغانستان ته د یوې بلې پوځي کارپوه ډلې د لېږلو په تړاو هوکړه لیکونه لاسلیک کړل. سربېره پر دې، د دوو هېوادونو تر منځ د سوداګرۍ د پراختیا او له افغانستان سره د هراړخیزې مرستې هوکړه لیکونه یې هم لاسلیک کړل. د شوروي اتحاد د کمونست ګوند او د ا خ د ګ تر منځ د اړیکو یو پلان هم لاسلیک شو .
په عین وخت کې امین خپل وخت ضایع نه کړ. د لیدنې په دویمه ورځ کې یې له لومړي وزیر کسګین سره د شخصي کتنې لاره هواره کړه. دیمیتري روریکوف د دوی ژباړه کوله. امین خپلې خبرې په یوه تاریخي لړۍ پیل کړې. نوموړي الکسي نیکولایوویچ ته یادونه وکړه چې په ۱۸۹۳ کال د افغان انګلیس د دویمې جګړې په بهیر کې انګرېزانو د افغانستان خاورې یوه برخه له ځان سره مدغم کړه چې له کبله یې یو لوی افغان ښار، پېښور د برتانوي هند یوه برخه شوه. دغه ښار او د افغانستان ډېره نوره خاوره اوس د پاکستان د شمال لوېدیځ پوله ییز ولایت یوه برخه ده. کابو اووه میلیونه پښتانه، چې شمېر یې څه نا څه په افغانستان کې مېشتو پښتنو ته رسېږي، دې ته اړ شوي چې په جبر سره خپل ځانونه د بل هېواد اتباع وګڼي. وروسته امین په پاکستان کې د ورستیو پېښو په هکله چې پایله یې د ضیاالحق واک ته رسېدنه وه خپله اندېښنه څرګنده کړه. د امین د خبرو پر بنسټ، دغه ارتجاعي او امریکا پلوی جنرال «په امریکا کې د خپلو مربیانو په مرسته» تر خپل وروستي وس پورې هڅه کوي چې ځوان افغان انقلاب مړ کړي. امین

وویل چې پاکستان د ترهګرو او مذهبي سخت دریځو غدې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت ته لېږي؛ نو ځکه ملګرې تره کی دې ته اړ دی چې لاس په کار شي. د پاکستان د وضعیت په هکله له شننو وروسته، د «پښتنو لویو مشرانو» - تره کي او امین - وارزوله چې د پاکستان رژیم دومره غښتلی نه دی او یوازې په هغه څو پوځي فرقو یې ډډه لګولې چې ضیاالحق ته وفاداري دي. پښتانه، بلوڅان، د نسکور شوي لومړي وزیر ذوالفقار علي بوټو ملاتړي او د پاکستان کمونستان د ضیاالحق پر ضد پاڅون ته چمتو دي، خو د دې کار لپاره دوی مالي مرستې، وسلو ، مهماتو او د لېږد او اړیکو وسیلو ته اړتیا لري .که شوروي اتحاد داسې مرسته وکړي، افغانستان به یې په قبایلي سیمو کې د وېش او ورکړې دنده پر غاړه واخلي . الکسي نیکولایوویچ کسېګن، چې د برېژنېف برعکس په ښه روغتیایي حالت کې و، د سیاسي بېرو په غړو کې تر ټولو ښه مرکچي و. دی سمدلاسه د تره کي د عینکو تر شا د تېرې ورځې په منطق پوه شو. کله چې تره کي په ښکاره وښوده چې نه غواړي په درې ژبه خبرې وکړي، د ده اصلي موخه دا وه چې ځان یو «پښتونپال» وښيي چې د افغان مشرانو په اند، دا څرګندونه یې کوله چې د دوی د رسمي راتګ اصلي ټکی پښتونستان و. د ملګرتیا تړون هسې تشریفات وو. دوی هېڅ کله دا اړنګ نه درلود چې شوروي اتحاد د دوی اصلي متحدین او ملاتړي وو، خو د مېلمنو هیلې او لېوالتیاوې د افغانستان له پولو هاخوا غزېږدلې. دا عجیبه وه، ځکه پخپله دوی د افغان ټولنې د بېلابېلو برخو په هکله سرټکونه کوله او بل دا چې هغه مالومات چې شوروي مشرانو درلودل، د افغانستان د کورنیو چارو یو بېخونده انځور یې کاږلو. د یو ګاونډې هېواد پر ضد د جګړې د اعلان نظریه چې په ښکاره د شوروي ګډون پکې و پرته له سپین سترګۍ څخه بل څه نه وو. په دې کې د پاکستان له پښتنو، بلوڅو او له نورو مخالفینو سره د مرستې غوښتنه نغښتې وه. داسې مرسته به په پراخه کچه ټولو ته مالومه شوې وی او پاکستاني حکومت به په حقه د شوروي خرابکارو کړنو پر ضد غبرګ پورته کړی وی. له امریکا او د دغه هېواد له متحدینو سره به د شوروي اړیکې سمدلاسه تروې شوې وی. په لنډه توګه، د دغسې پلان د بریا شونتیا له صفر سره ضرب وه او خامخا زېږنده اغېزو یې په لسیزو دوام کاوه.
کسېګن امین ته په ډېر پام وکتل او له ځان سره یې وویل چې دغه سړی په نړیوالو سیاسي چارو کې یا له کچې وتلی ساده دی او یا د یو ډول پاروني نیت لري. د وزیرانو شورا ریس په نرمه خو رټه بڼه ورته وویل چې په خپلواکو هېوادونو کې حتی په هغه هېوادونو کې چې له شوروي سره دوښمني لري، د خرابکارو کړنو ملاتړ د شوروي اتحاد له بهرنۍ پالیسۍ سره په ټکر کې دی .
په همدغه ورځ د کرملین په ژمني بڼ کې تره کي او برېژنېف یوازې له یو او بل سره وکتل. روریکوف، چې په دې غونډه کې ژباړه کوله، هرې ناخاپې ته چمتو و. داسې برېښېدل چې امین د لومړي وزیر په نه جوړجاړي کوونکي دریځ تره کی خبر کړی و؛ نو تره کي داسې څه ونه ویل چې تمه یې نه کېده. ده یوازې

هغه څه بیا وویل چې مرستیال یې یو یا دوه ساعته مخکې ویلي وو او د افغان انګلیس د دویمې جګړې تاریخ یې بیان نه کړ. لېونېد ایلیچ تره کي ته غوږ نیولی و، خو پرته له دې چې د خپل مېلمه په خبرو پوه شي چې له ده څخه څه غواړي، خپل سر یې ورته خوځاوه. د افغان مشرانو غوښتنو ته برېژنېف کوم ځواب ورنه کړ، خو ژمنه یې وکړه چې هغه موضوعګانې به په بشپړه توګه وارزول شي چې تره کي یادې کړې .
تره کي ته د داسې یو فرصت د برابرولو په موخه چې له لوېديځوالو سره خبرې وکړي، د ګرومیکو په نوښت، له مسکو څخه د تره کي د لیدنې په پروګرام کې له لوړپوړو لوېديځو ډیپلوماتانو سره د ده غونډې ته وخت ورکړل شوی و. تره کي، چې ښې انګرېزي خبرې کولای شوی، دا غوره وګڼله چې ډیپلوماتانو ته په پښتو وینا وکړي. په مسکو کې د افغانستان سفیر، پکتین د نوموړي وینا په ډېره بېخونده بڼه په روسي ژبه ژباړله. داسې برېښېدل چې تره کي ډیپلوماتانو ته د ویلو کوم ښه شی نه لرل. ښايي د شپې یې خوب نه و کړی، خو وجه یې چې هر څه وه، دی د ډیپلوماتانو د خوندیتوب یا معافیت په موضوع کې له ننګېرنې ډک شو. پکتین چې دومره تېرا وو چې په لړزه شو د تره کي خبرې یې داسې وژباړلې: «تاسې هر یو ډیپلوماتیکي خوندیتوب لرئ. یو سفیر نیول او بندي کېدای نه شي؛ نو ځکه سفیران باید ښه دنده ترسره کړي او حکومت ته سم مالومات ولېږي.» دغې خبرې ډیپلوماتان په خندا کړل. دوی چې د فروډیین سلېپ Freudian slip (په تېروتنې د زړه خبره کول یا هغه څه چې د چا په زړه کې وي، پرته له دې چې د ویلو نیت یې ولري، ناڅاپه یې له خولې راووځي: ژباړن) له څرنګوالي سره اشنا وو پوه شول چې د ده د خبرو تر شا څه پراته وو. یو اکاړ او ځپوونکی رژیم په افغانستان کې جوړ شوی او له سفیر پکتین سره د خپل ژوند وېره ده.
کله چې غونډه پای ته ورسېدله، د کرېملېن په ګرانوویتایه Granovitya سالون کې د سیاسي بېرو غړو او افغان پلاوي ته مانښامنۍ جوړه شوې وه. درې واړو، ګوریلوف، روریکوف او کوزېن ته هم بلنه ورکړل شوې وه چې د اړتیا په وخت کې ژباړه وکړي. برېژنېف زده کوونکی کوزېن له خپل څنګ سره نېغ کښېناوه. دی شرمېده. له دغه مانښامنۍ څخه لږ وخت وړاندې نوموړي په خپل کور کې خپل نوک په سوټک خوږ کړی و. د شرم ننګېرنه یې هغه پټۍ لا ډېره کړې وه چې په بیړه یې په ګوته تړلې وه او کله به یې چې چاکو او پنجه په لاس کې واخیستل، دغه پټۍ ښه لیدل کېده. تره کی برېژنېف ته او کسېګن، کوزېن ته مخامخ ناست وو. د مانښامنۍ په پای کې د برېژنېف، کوزېن ته پام شو چې درې واړه ګیلاسونه یې ډک پاتې دي. کوزین د سرو واینو، سپینو واینو او وتکا حتی یو غوړپ نه و کړی. عمومي منشي ترې وپوښتل: «ولې یې نه څښې؟» کوزېن ځواب ورکړ: «زه کار کوم، لیونېد اېلیچ .زه یې باید ونه څښم.» برېژنېف له ورایه ښکارېده چې دغه ځواب هک پک کړ. ده ژباړن ته په غوسه وکتل او ویې ویل: «نو زه دا انګېرم چې ته فکر کوې چې موږ په رخصتۍ دلته ناست یوو؟» عمومي منشي زوبروکه Zubroka څښل چې د ښیښې له یوې ځانګړې صراحي څخه ورته اچول کېدل. له عمومي منشي څخه کوزېن داسې غوښتنه وکړه: «کولای شم

د هغه څه مزه وڅکم چې تاسې يې څښئ، ليونېد ايليچ؟» برېژنېف چوپړيال ته لاس وخوځاوه چې ده ته له ځانګړې صحراحي څخه زوبروکه واچوي. ورپسې عمومي منشي په ګوته مايکروفون ته ټک ورکړ. په دې کار ده غوښتل چې مايکروفون وازمويي چې کار کوي او يا يې  حاضرينو ته د چوپتيا نغوته وکړه .بيا په ډېره سختۍ اوچت شو او ويې ويل: «زموږ د ژباړن په سلامتۍ يو جام پورته کوو!» ټول له خپل ځای څخه اوچت شول او د دغې سرسلامتۍ څرنګوالي ته حيران شول. دغه ځوان سړي لا تراوسه دوه ورځې په کرېملين کې نه دي تېرې کړې؛ نو ولې داسې ځانګړې چلند ورسره کېږي؟ خو بيا يې هم د کوزېن په سلامتۍ وڅښل. وروسته، د بهرنيو چارو په وزارت کې د کوزېن همکارانو پوښتنې کولې چې ولې عمومي منشي له ده سره دومره ښه چلند وکړ. دلته کوزېن ته په اتوماتيکه توګه دوه رتبې ورکړل شوې ځکه چې داسې انګېرل کېدل چې برېژنېف پېژني او ښايي په راتلونکې کې د دوی په درد وخوري .
مسکو ته د تره کي د راتګ پايلې په هغه محرم يادښت ليک کې ښې ارزول شوې وې چې مرکزي کمېټې ليکلی و. په لاسوندو کې ټينګار شوی و چې د شوروي اتحاد او د افغانستان دموکراتيک جمهوريت ترمنځ اړيکې نوي پړاو ته ننوتلې او اوس دغه اړيکې د پوره يزو ( طبقاتي ) ارزښتونو پر بنسټ ولاړې او د ملګرتيا او انقلابي همدردۍ له روحيې ډکې دي. د افغانستان دموکراتيک جمهوريت مشرتابه ته وويل شول چې دوی د شوروي په مرستو او د افغان ټولنې په انقلابي بيا تنظيم کې په بشپړه توګه د شوروي پر ملاتړ ډېده لګولی شي .
د محرم يادښت ليک ليکوال هغه نازکه موضوع له پامه نه وه غورځولې چې د «لوی پښتونستان» د پرځنګ لپاره تره کي او امين د مرستې غوښتنه کړې وه. په يادښت ليک کې داسې ليکل شوي وو: «افغان مشرانو د افغانستان پر ضد د هغه کړنو په هکله انديښنه څرګنده کړه چې د پاکستان په خاوره کې ترسره کېږي او د پښتنو او بلوڅو د موضوع په هکله يې له پاکستان سره مخالفت څرګند کړ. زموږ لوري د داسې سختو اقداماتو په ترسره کولو ناخوښيا څرګنده کړه چې د افغانستان بهرني او کورني دوښمنان ګټه ترې پورته کولی شي.»

يو ماښام سترستين ته وويل شول چې د مسکو په دولتي پوهنتون کې ښوونکی نيکولايوويچ الکساندرويچ ډېورينکوف د ايرفلوټ په يوه الوتنه کې سبا ته کابل ته راځي. ولېږي پوهېده چې دی بايد هر څه پرېږدي چې دغه روڼ اندي ته هرکلی ووايي.

په ۱۹۶۰مو او ۱۹۷۰مو کلونو کې دېورينکوف په منظمه توګه افغانستان ته تله. دی په پښتو او د افغانستان په تاريخ کې يو مخکښ کارپوه و او په کابل کې د روڼ اندو په کنفرانسونو کې د اعلی وړاندونونو ( Presentations) په ورکولو کې نوم درلود. کله به چې په کابل کې و، الکساندرويچ به په خوښۍ له کابل راديو سره مرکې کولې. د دغه مرکو به تل ستاينه کېده او د افغان روڼ اندو ذهن به يې روښانه کړ. د ستاينې يوه وجه دا وه چې دوی ته دا د حيرانتيا خبره وه چې څرنګه يو بهرنی د دوی په ژبه دومره خوږ غږېږي. ده نه يوازې ښې پښتو خبرې کولې بلکې په پښتو يې شعرونه ليکل او د پوشکين Pushkin او مياکافسکي Nayakovski اثرونه يې هم پښتو ته ژباړل .

دېورينکوف له پخوا څخه د تره کي ملګری و. کله چې دوی په لومړي ځل له يو او بل سره وليدل، په افغانستان کې تره کي ته د داسې چا په سترګه کتل کېدل چې غواړي ليکوال شي. ده به ننګېريزې کيسې ليکلې چې په افغانستان کې يې د
بېوزلو د ژوند ستونزې بيانولې .

يوه ورځ دغه ښوونکی او د افغانستان راتلونکی ولسمشر د افغانستان او پاکستان پولې، پښتونستان ته يوځای لاړل. نيکولای الکساندرويچ له تره کي سره پر يو بوتل ښو فرانسوي کنياکو شرط کېښود. ده وويل چې د سيمې خلکو ته ځان داسې يو پښتون ښيي چې په ماشومتوب کې يې خپل پلرنی ټاټوبی پرېښی .
ده وويل چې هېڅوک به د ده پر اصليت پوه نه شي. د خبرو له اړخه دغه ښوونکي هېڅ ستونزه نه لرله، خو ده د خپل نسب په هکله پوره فکر نه و کړی. ده د پښتنو هغه پوښتنو ته ځواب ورنه کړی شوی چې نيکه، غور نيکه، ټر نيکه او د ټر نيکه، نيکه، تره او ورور يې څوک دي. هر پښتون د خپل پلرني نسب لړترلړه اوه نسلونه يادولی شي؛ نو دومره وخت تېر نشو چې دغه پښتنو پر نيکولای الکساندرويچ د بهرني اړنګ وکړ، خو تره کي ومنله چې دېورينکوف شرط وګاټه او دواړو د ګټلی شرط کنياک يو ځای وڅښل .
دېورينکوف په نړۍ کې يو نوميالی ښوونکی و او ډېرې علمي ليکنې يې کړې وې. ده د مسکو په دولتي پوهنتون کې د ښوونکي دنده درلوده او د افغان شوروي د ملګرتيا ټولنې مرستيال مشر و. نوموړی يو ځيرک، ستركوكو (جذاب) او پر ځان باورمن سړی و او د شوروي په حکومت کې يې ډېر ملګري لرل چې ډېری يې خپل پخواني زده کوونکي وو. ده ته دا ډېره اسانه وه چې د بهرنيو چارو په وزارت او مرکزي کمېټه کې ډېرې دروازې پرانيزي .

کله چې تره کي خپل سياسي کاري ژوند پيلاوه، دېورينکوف د تره کي لپاره شوروي اتحاد ته د تګ ډېرې بلنې جوړې کړې. د افغانستان راتلونکي مشر ته د ليکوالانو د ټولنې او همدا راز د افغان شوروي د ملګرتيا ټولنې له لوري بلنه ورکړل شوه. دغه ښوونکي له خپلو اړيکو څخه په کار اخيستنې خپل افغان ملګري ته د قفقاز په تفريح ځايونو کې وړيا درملنه برابروله او د تره کي ليکنې يې په ازربايجان کې چاپولې. لنډه دا چې مسکو د دېورينکوف په وسيله له تره کي سره وپېژندل .

اوس چې تره کی د افغانستان ولسمشر شوی و، د خپل شوروي استاد ښبګنې يې په ياد وي. افغان حکومت د شوروي د بهرنيو چارو وزارت له لاري نيکولای الکساندرويچ ته بلنه ورکړه چې د تره کي شخصي مېلمه په توګه افغانستان ته راشي .

د نيکولای الکساندرويچ هرکلي ته د تره کي له سکرتريت څخه افسران هوايي ډګر ته تللي وو. د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د علومو اکاډمۍ ريس، نورزی (د دغه ښوونکي پخوانی زده کوونکی) هم هلته و. ولېږي سترستين له نيکولای الکساندرويچ سره تود روغبړ وکړ. دوی په دې خوښه وکړه چې مېلمه به له مېلمستون څخه د شوروي سفارت ته بوځي. د ډېرو نورو شوروي مېلمنو په څېر، دېورينکوف هم په کابل مېلمستون کې واړول. سترستين نوموړی په ګاډي کې د شوروي سفارت ته بوت چې له پوزانوف سره وګوري، خو دغه ښوونکی د سفير په دفتر کې ډېر وخت پاتې نه شو. دی اوتر او په غوسه له دفتر څخه ووت .

پوزانوف: *الکساندر ميخيالويچ، ښايي زه سم نه وم پوه شوی. ته غواړې چې زه له تا سره د تره کي ليدو ته لاړ شم؟*

دېورينکوف: *تره کي د يوه شخصي نېږدې ملګري په توګه ما ته بلنه راکړې. دا په تا پورې څه اړه لري؟ ښنه غواړم، خو زه تره کي ته يوازې ورځم او يا هېڅ نه ورځم.*

وروسته سترستين، دېورينکوف ته وويل: «ته ډېرې ښېغې خبرې کوې او بې تپوکو درته وايم چې نږدې وو ځان ته خطر ناک دوښمن پيدا کړې.»

کله چې دوی په مېلمستون کې د دېورينکوف کوټې ته ننوتل، د تيلفون شرنګ شو. د تره کي له دفتر څخه چا وويل چې له ساتونکو سره يو ليموزين ګاډی مېلمستون ته ولېږل شو چې دېورينکوف د انقلابي شورا ريس استوګنځي ته بوځي. کله چې دوی ګاډي ته تم وو، سترستين د افغان انګرېزي ژبې ورځپاڼې، کابل ټايمز، وروستی ګڼه دېورينکوف ته وښوده. په لومړي پاڼه کې د تره کي يو داسې غټ انځور چاپ شوی و چې خپل T ته ورته مېز ته ناست و او په داسې حال کې چې د کابينې غړي لکه کوچنيان ورته ولاړ او په مينه د انقلابي شورا ريس ته څير وو، په ډېره خوشالی يې خوله په خندا خلاصه وه. سترستين ورته وويل: «ته خو ګوره نيکولای الکساندرويچ، دا څرنګه انځور په افغان ورځپاڼو کې چاپېږي. دا ډېر د خندا وړ دی .ستا به په ياد وي چې ما د 'لوی مشر' انځورونه در وښودل چې په ټول ښار کې ځای پر ځای شوي دي. دې ته د پام و چې تره کی په شنه او زرغون رنګ انځور شوی. دغه پوسترونه په مسخرو ډېزاين شوي. دی په يوه ځېنه خندا کې داسې کاږل شوی چې سر يې له بې مانا پرله پسې رنګ څخه راوتلی. داسې ښکاري لکه دی چې يو مذهبي سيانه او يا د منځنيو پېړيو هسپانوي پاچا وي. دا څوک توجيه کولای شي؟ ايا د دغه انځور ډله ييزه وېشنه په دې مانا ده چې د تره کي په ډله کې څوک غواړي ولسمشر

www.samsoor.com

ته زيان ورسوي او دا خلکو ته وښيي چې تره کی بېلارې شوی دی؟ او يا دا چې له حقايقو څخه د تره کي پوهه پوره نه ده؟»

دېورينکوف ورته وويل: «ولېري، دا ستا عادت گرځېدلی چې پر هر سړي او هر شي بد گومان وکړې. زه دې نه ملامتوم. دا ستا مسلک دی، خو زه کابو ډاډ لرم چې داسې انځور - د يو مهربان او ساده سړي انځور - افغان پروپاگند جوړ کړی چې له داود سره يې پرتله کړي څو وښيي چې داود يو گرومجن او داسې يو خانتما اشرافي و چې هېڅ کله يې نه خندل. زه فکر کوم چې د تره کي دغه انځور به د افغانستان د ټيټ پوړو وگړو، کارگرانو او بزگرانو خوښ شي. سترستين په طنزي بڼه وويل: «د کابل ټايمز ورځپاڼه چې يوازې په انگرېزي ژبه ده د چا لپاره خپرېږي؟ د افغان کارگرانو او بزگرانو لپاره؟» دېورينکوف د ځواب فرصت ونه موند ځکه چې د کوټې ور په ادب وټکول شو. يو گڼ برېتي ځوان افسر چې د ولسمشر ياور و دېورينکوف ته بلنه ورکړه چې ښکته گاډی ورته تم دی. ده يو ديپلومات بکس چې له ډاليو ډک و واخيست، د کوټې کلی يې سترستين ته ورکړه او د وره په لور لاړ. سترستين له ده سره مخه ښه وکړه او ورته ويې ويل چې مېلمستون ته له بېرته راتگ سره سم ده ته تيلفون وکړي .

نيکولای الکساندرويچ سبا سهار د لسو بجو په شاوخوا کې سترستين ته تيلفون وکړ. دی پارېدلی و او سترستين ته يې وويل چې د تره کي گاډي ټکر وکړ. څوک خوږ نه شول، خو داسې گومان کېږي چې ولسمشر د يو ترهگر بريد نښه و. د هغه گاډي چلوونکی چې د تره کي له گاډي سره يې ټکر وکړ ونيول شو او اوس تر پوښتنو گروېږنو لاندې دی.

مخکې له دې چې مېلمستون ته لاړ شي، ولېري له سفارت څخه لومړی خپل کور ته لاړ چې يو څو ساړه بير واخلي. نيکولای الکساندرويچ په خپله کوټه کې يوازې نه و. د علومو اکاډمۍ د ريس، نورزي په گډون نور مېلمانه هم ځينې په څوکيو او ځينې په کټ ورسره ناست وو. دېورينکوف له خپلو مېلمنو سره تود بنډار جوړ کړی و او افغانان له ورايه ښکارېدل چې دی يې خوښېږي. دی داسې ښکارېده لکه دوی ته چې په تدريس کې ډوب وي. ولېري فکر وکړ چې دوی داسې ښکاري لکه چوغکې چې د يوې ژمنۍ ونې په څانگو کې ناستې وي. دوی به کله کله وويل: «او استاذه! او استاذه!»

کله چې دېورينکوف، ولېري وليد، ده خپلو مېلمنو ته وويل چې دی بايد همدا اوس سفارت ته لاړ شي. مېلمانه له کوټې څخه ووتل. سترستين له دېورينکوف سره نه سفارت او نه خپل کور ته بلکې پغمان ته لاړ. هلته په يوه تش پارک کې چې د امير امان الله خان په وخت کې ايټالويانو جوړ کړی و ولېري ساړه بير دېورينکوف ته ورکړل. ورپسې په ژېړو او سرو

وچو پاڼو کې گرځېدل او خبرې يې کولې .

نیکولاي الکساندرویچ، ولېري ته وویل چې له تره کي سره یې تود بنډار درلود. دوی پلو او کباب وخوړ او ټوله شپه یې کوین انه Queen Anna ویسکي وڅښل. یو او بل ته یې د نېږدې ملګري خطاب کاوه، تېر یادونه یې تازه کړل، پښتو شعرونه یې ویل او له یو او بل سره یې ټوکې کولې.
د نیکولای الکساندرویچ هغه خبرې په یاد وې چې په مېلمستون کې یې له سترستین سره درلودې؛ نو له تره کي څخه یې وپوښتل: «د هغه پروپاګند په اړه ستا اند څه دی چې د ولسمشر په توګه په خلکو کې ستا د دریځ ټینګولو په موخه کېږي؟» دغه پوښتنې تره کی ګیچ کړ او له نېغ ځواب څخه یې ډډه وکړه، خو پرځای یې وویل چې دی کولی شي له امین سره په دې هکله وغږېږي ځکه چې د دغه کمپاین امر امین د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته ورکړی او دی پخپله د خپلې سپارښتنې د ترسره کولو چارې څارې.
اوس چې دېورینکوف د غره تازه هوا ښه ډېره سا کړه، سترستین د ماښامنی د پاره خپل کور ته بلنه ورکړه. تاماري خوندوره ډوډۍ پخه کړې وه او دوی ته تم وه. د سترستین په کور کې د دوی خبرو دوام وکړ.

دېورینکوف: *له تره کي سره لیدنې زما باور ټینګ کړ چې د غویي انقلاب به ورځ تر بلې غښتلی کېږي. د کورنیو دوښمنانو د خطرناکو لیکو - پرچمیانو - پربکنده تباهي زما د دغه باور یو ثبوت دی.*
ولېري: *نیکولای الکساندرویچ، خلقیانو دغه لومړنی لوړپوړې لیکه له منځه یوړه، خو بیا به څه کېږي؟ دویمه به هم له منځه یوسي، څلورمه، پنځمه او همداسې نورې به هم ختمې کړي، خو نوی رژیم لا تراوسه کمزوری دی؛ نو ځکه ما ته داسې ښکاري چې تره کي او متحدینو یې یوه تېروتنه وکړه چې د کارمل او د ده د کړۍ له ملاتړ څخه یې ځانونه بې برخې کړل. زه فکر کوم چې په اوسني پړاو کې دوی باید د دموکراتیکو او وطنپالو پر یوې پراخه جبهې ډډه لګولې وای د دې پر ځای چې د خلقي پښتنو پر یوه کوچنۍ توندلاري ډلې ډډه ووهي او د خپلو فرصتونو کړۍ تنګه کړي.*
دېورینکوف د تودند لارې  د ویې په اورېدلو د سپکاوی ننګېرنه وکړه.

دېورینکوف: *نو ما هم یو توندلاری پښتون وګڼه. هو زه، دغه شوروي کمونست او بلشویک یو سرښندونکی خلقي دی.*

تاماري فکر وکړ چې دوی پر دغه موضوع جګړه و نه کړي، د خبرو موضوع یې بدله کړه. نوموړې د خپل پخواني کار ځای، د ختیځې زده کړو د انستېتیوت په هکله خبرې پیل کړې، خو دېورینکوف، چې یو ژبور برهاني و، له سترستین سره یې په دغه سیاسي بحث کې ځان د خپل دریځ دفاع ته ځانګړی کړی و او هوډ یې درلود چې په دغه بحث کې سترستین ته ماته ورکړي.

دېورینکوف: *ولېري، ته یو هوښیار سړی یې که نه؟*

www.samsoor.com

سترستین: نه پوهېږم. زه د یو ښه مغز درلودلو ته ځانګړې اړتیا نه لرم. زه یو عالم نه یم او نه په علمي انستېټیوت که کار کوم.

دېورینکوف: همدغه شېبه ته داسې خبرې کوې لکه ستا سفیر یې چې کوي. تاریخ دې نه دی لوستی؟ ته نه پوهېږې چې پراخې جبهې - دموکراسي- د رینښتینو انقلابونو بنسټ نشي کېدای. دا د نړۍ په هر ګوټ، هر هېواد په تېره بیا په افغانستان کې رینښتیا دي. که دلته دموکراسي پیل شي؛ نو هېڅ کله به انقلاب رامنځته نشي. د انقلاب د اړتیا او د انقلاب ترسره کولو د شونو لارو په هکله به یوازې تشې خبرې او بحثونه وي. یو رینښتینی انقلاب یوازې هغه وخت رامنځته کېږي چې د ټولنې په یوه برخه کې یو ګوند په دې بریالی شي چې پرته له قید او شرط څخه ټولنه دې ته اړ کړي چې د هغه چا وسپنیز هوډ ته درناوی وکړي چې د انقلاب د ترسره کولو انبوه لري. په انقلاب کې تر ټولو ډېر تاوتریخوالی وي. کله کله باید سړی بې کچې اکاړ (ظالم) عمل وکړي څو هر سړی پوه کړي چې که د انقلاب ملاتړ و نه کړي، خامخا به ووژل شي. یو رښښتینی انقلاب اړ دی چې شپه او ورځ د ښارونو په اصلي څلورلارو کې سرونه غوڅ کړي.

سترستین هک پک شو او خبرې یې داسې پیل کړې:

سترستین: ښه نو، ته وایې چې یو انقلاب قربانیانو ته اړتیا لري چې د خپل ټوکیا (ساتول) تنده پرې ماته کړي، خو د څه لپاره؟ د څه لپاره افغان پوځ یو او بل ووژل؟ ولې وینې تویې شوې؟ ما په خپلو سترګو دغه وینې تویونې ولیدې، ما ته یې کټل ډېر وېروونکي او دردوونکي وو. ولې دغه خلک مړه شول؟ د غویي له اوومې راهیسې، د دغو څو میاشتو په بهیر کې کومه ښه لاسته راوړنه شته؟ هغه ګلان چېرته دي چې باید په وینو اوبه شوې خاوره کې راپورته شوي وی؟

دېورینکوف: ټولې دغه قربانۍ په دې موخه وشوې چې تر ټولو ډېر اصلاح غوښتونکی پروګرام په افغانستان کې پلی شي: 'د انقلابي دندو اصلي تګ لوری.' ستا به په یاد وي چې دغه تګ لوری د انقلاب په دوولسمه ورځ منظور شو.

ولېري: هو دغه پروګرام منظور شو. ما لوستی دی او ما حتی روسي ژبې ته یې په ژباړه کې مرسته وکړه. که څه هم د سرلیک جوړښت یې سم نه دی او متن یې بېخونده لیکل شوی، دغه ډېر ښه پروګرام دی، خو تر نن پورې هېڅ نه دي شوي او دغه پروګرام یوازې د یوې اعلامیې په څېر پاتې شوی. هغه هڅې چېرته دي چې دغه پروګرام په ټولنه کې پلی کړي، دا یوازې خبرې دي، خبرې، خبرې.

سترستین وروستي دوه درې ویې داسې وویل لکه د یوې نومورې سندرې، دالیده Dalida نغمې ته چې سندره بولي.

اوس دېورینکوف لکچر پیل کړ.

دېورینکوف: *تر ټولو لومړی غواړم ووایم چې د پروګرام پلي کول همدغه د انقلابي شورا د فرمانونو اعلانول دي چې هېواد ته ترټولو مهم دي. ولېري، ته نه پوهېږې چې په هېواد کې داسې بدلون پیل شوی چې مخکې هېڅ کله نه و ترسره شوی؟ دغه بدلونونه به اوسمهال نه لیدل کېږي، خو هېواد به ډېر ژر نبه بدلون ومومي. افغانستان به د جرمونو او ببوزلی له داسې سیمې څخه چې ټولې نړۍ هېره کړې ده په یو نوي ازموینېتي سوسیالېست هېواد بدل شي .*

ولېري: *چېرته؟ د هغه تېلګرافونو په متن کې چې زموږ د ګوند سلاکارانو مسکو ته لېږلي؟ د افغان مشرانو په ویناو کې؟ د دوی په فرمانونو کې؟*

دېورینکوف: *د دوی په فرمانونو کې څه شی دي چې ستا نه خوښېږي؟*

ولېري د کتابونو له تاخچې څخه یوه خړه دوسیه راواخیسته.

ولېري: *نبه نو راځه چې ویې ګورو. دغه لومړی نمبر فرمان دی. دا د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د جوړولو او په هېواد کې د یو ګوندي سیستم د پلي کولو په هکله دی. د یو شوروي او د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د یو غړي په توګه په صداقت وایم چې زه د یو ګوندي سیستم پر ضد نه یم. د ببلګې په توګه، زه منم چې یوه ګوندي دموکراسي به د دوه ګوندي او یا څو ګوندي بورژوازي دموکراسۍ په پرتله دومره بده نه وي. د غوبیي له انقلاب څخه مخکې، د محمد داود په واکمنۍ کې یو ګوندي سیستم چې د افغانانو هیلې او دودونه پکې نغښتي وو په اساسي قانون کې منظور شو.*

*تره کي په دې هکله کوم نوی کار نه دی کړی، خو له بده مرغه دغه د افغاني بنې یو ګوندي سیستم خپل پخواني متحدین، پرچمیان، او نور خلک چې د دوی نه خوښېږي ډېر سخت زیانمنوي.*

دېورینکوف: *هو، خو دغه پرچمیانو د یوې کودتا تابیا نیوله. تېره شپه تره کي راته وویل چې دوی یوې پوځي کودتا ته ځانونه چمتو کول.*

ولېري: *نیکولای الکساندرویچ، راځه چې پرچمیان یوې خواته پرېږدو. راځه چې مخکې لاړ شو. دغه دویم نمبر فرمان دی. د شاهي کورنۍ هغه غړي چې په افغانستان کې پاتې دي باید ونیول شي، شتمني او تابعیت دې ترې واخیستل شي .ګرانه نیکولای الکساندرویچ، دې ته څه وایې؟ خلک له خپلو مدني حقونو څخه بې برخې کول او تر ټولو مهمه دا چې د محمد زیو د کورنۍ له شاهي نسبه استازو څخه د شتمنیو ضبطولو ته څه وایې؟ دې ته به ته ووایې چې په دې کې ملي روحیه او د افغانانو دود نغښتی دی؟ ته باید تر ټولو نبه پوه وې چې په تېرو یوسلو پنځوسو کلونو کې د محمد زیو کورنۍ د افغانستان د خپلواکۍ لپاره جنګېدلې ده. دا د همدغې قبیلې زړورتیا او هېوادپالنه وه چې افغانستان هېڅ کله د انګرېزانو یوه مستعمره نه شو. د دغې ځانګړې قبیلې د اتلانو په مشرۍ افغان پوځ په دربیو جګړو کې انګرېزانو ته په*

*بریالیتوب ماته ورکړه او اوس د تره کې د قبیلې ناپېژندل شوي کسان غازیان راڅرګندېږي، د ولس د مشرانو اولادې ته خاینان وایي او دی پخپله د دوی شتمني ضبطوي. ته څه انګېرې چې په دې هکله افغانان څه فکر کوي؟*

د دېورینکوف ټنډه تروه شوه او په سوچ کې شو .سترستین خپلو خبرو ته دوام ورکړ.

سترستین: *کله چې دویم فرمان خپور شو، د ظاهر شاه او داود د کورنیو مالونه بولۍپلور ته کېښودل شول. دې ته زه او تامارا ورغلي وو. د ننوتنې په دالان کې یوه په لاس وودلې قالینه پرته وه چې د افغانستان د ولسمشر انځور پکې وودل شوی و او د بغلان یا مزارشریف اوسېدونکو ولسمشر ته د خپلې مینې د ننبې په توګه ورکړې وه. د بولۍ پلور تنظیموونکو په دې موخه هلته اچولې وه چې هر څوک چې ودانۍ ته ننوځي، د ولسمشر پر مخ به خېژي او خپل ککړ بوټونه به پرې موښي. زه نه پوهېږم چې د ماتو دوښمنانو د انځورونو د سپکاوي کاز(شوق) له څه شي سرچینه اخلي. څومره چې زه پوهېږم دا د افغانانو کلتور نه دی. موږ، بې اړنګه، په دغه قالینه ګام کېښود او ډېرو نورو افغانانو هم دې ته ورته اند درلود.*

*د پلور لپاره بېلابېل توکي اېښودل شوي وو: جامې، پای زار، لوښي او ګاڼې. ډېری توکي زاړه او ارزان بیه وو. دا یوه ډېره خواشینوونکې صحنه وه. افغانان او بهرنیان حیران پاتې وو چې د افغان شاهي کورنۍ غړي څومره خاکسره وو. ما خپل یو امریکایي ملګری، لنېکس Lenox د سي ای اې مامور، په دغه بولۍ پلور کې ولید. ده له ما څخه پوښتنه وکړه چې څه شی مې پېرودل .ما د یوې پای جامې هغه کمیس وروښود چې ګواکې محمد داود له دندې څخه کور ته د تګ په وخت کې اغوست. ما ډېرې کمې پیسې پرې ورکړې، خو بیا هم له ارزښت څخه یې ډېرې وې. ما یوازې د ننبې لپاره پېرود. لنېکس د سپینو زرو دوه ګوتې راوښودې چې لاجورد پکې کارول شوي وو او یوه د کافي چیني پیاله چې په لېننګراد کې د لومونوسوف Lomonosov په کمپنۍ کې جوړه شوې وه. ما ورته وویل چې د داود او شاه کورنۍ دومره ډېولي (شیک) ژوند نه درلود، خو دی راسره همغږی نه و. ده وویل چې د شاهي کورنۍ شتمني په میلیونونو ډالرو ارزول شوې، خو د بولۍ پلور پیسې هېڅ کله دغې کچې ته ونه رسېدې ځکه چې ارزښتمن توکي مخکې تر مخکې افغان انقلابیانو غلا کړي وو.*

دېورینکوف ته یو ناڅابه څوب ورغی چې د سترستین د څرګندونو په وړاندې دلیل ووایي، خو خپل څوب یې کابو کړ او
په ټیټ غږ یې وپوښتل: «ته په ریښتیا فکر کوې چې تره کی یو داړه مار دی؟»

سترستین: *زه ځان ته اجازه نه ورکوم چې داسې فکر وکړم، خو د امین او د ده د ځینو هغو افسرانو په هکله چې لوټول یې وکړل دغسې اند لرم، خو راځه چې د داسې بېخونده موضوع په اړه خبرې و نه کړو او د فرمانونو خبرو ته راوګرځو.*

*د دربیم فرمان پر بنسټ، د داود د واکمنۍ اساسي قانون لغو شو. په دغه قانون کې هر څه لغو شول، خو هغه مادې لغو نشوې چې د غوبیي انقلاب له موخو سره په ټکر کې نه وې. دا یو عجیب فورمول نه دی؟ لکه کله چې داود اساسي قانون جوړاوه،ده د انقلاب موخې په پام کې نیولې وې،هغه موخې چې له کبله یې دی ووژل شو. د دغه فرمان پر بنسټ، د سترې محکمې ټولې چارې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د سترې محکمې هغه شورا ته ولېږدول شوې چې د انقلابي شورا نېغه لاس لاندې ده. د عدلیې وزیر، لوی قاضي القضات شو. پوځي انقلابي محکمه د انقلابي شورا لاس لاندې ده. دا په دې مانا ده چې نوي رژیم ټول واک انقلابي شورا ته ورکړ او د عدلي، قضایي او اجراییوي چارو بېلتون یې له منځه یووړ، نو په عملي توګه یې ټول واک یوازې د یو کس په لاس کې ورکړ او هغه سړی تره کی دی.*

دېورینکوف: *ولېري، ته فکر کوې چې موږ به په شوروي اتحاد کې سوسیالېزم جوړ کړی وی او دویمه نړیواله جګړه به مو ګټلې وی که چېرې ټول واک د یو کس، ستالین، په لاس کې نه وی؟*

ولېري: *شوروي اتحاد او افغانستان بېل هېوادونه دي. موږ بېل تاریخ او بېل برخلیک لرو. سربېره پر دې، دې ته د پام دی چې زموږ له انقلاب څخه په افغانستان کې د غوبیي تر کودتا پورې نړی څومره بدله شوې ده. ما ته داسې ښکارې چې د تاریخ په پوهېدنه کې داسې اسانه پرتله د منلو نه ده. چې لږ یې واضح ووایم، موږ د دې حق نه لرو چې د شوروي تاریخي تجربې د افغانستان په خاوره کې پلې کړو.*

دېورینکوف د یو څه وخت لپاره چوپ پاتې شو. بیا، لکه څنګه چې له دغه بې پایه او ننګوونکې بحث څخه یې خپله ستړیا پټه نه شوی کړی، تاماری ته یې مخ واړاوه او د خپل دویم واده په هکله یې خبرې پیل کړې. د لومړی مېرمنې له مړینې څخه وروسته، نوموړي په څلورپنځوس کلنۍ کې بیا واده وکړ .

ولېري: *نیکولای الکساندرویچ، راځه چې څلورم فرمان وګورو چې د دولتي نښو په هکله دی. د هېواد توغ سور رنګ لري. سور رنګ د پښتنو او اریایانو دی. څومره چې زه پوهېږم، د افغانانو دا رنګ خونښېږي، خو نښان ته یې ګوره .ولې باید د واکمن ګوند نوم 'خلق' ورباندې وي. که چېرې زموږ په توغ CPSU لیکل شوي وی، تا به څه فکر کاوه. زه فکر کوم چې دا به ډېر ښه وای چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت پر توغ باندې یو ډول سمبول وای، ښایي د یو غرنې ګوربت، د واورې بور او یا یو مرغومی یې پرې انځور کړی وی او یا یې یو نړیوال شعار، د اجمل ختټک د شعر یوه مصرع او یا د یو بل نومیالي افغان کلاسیک شاعر یوه مصرع پرې لیکلې وای.*

دېورینکوف: *نبه، زه منم چې زموږ ملګرو په دې اړه سم فکر نه دی کړی او ما هم له دوی سره ډېره مرسته و نه کړه. بې اړنګه، په دې هکله ډېر نور په زړه پورې بدېلونه وو. راځه چې پنځم فرمان ته راشو.*

*ولېږي: پنځم فرمان د هغه شاهي غړو د وروستي برخليک په هکله نبکاري چې په ابتاليا کې ژوند کوي. د پاچا ظاهر شاه، ملکې حميرا، شهزاده احمد شاه، د پاچا زوم او د کابل چونۍ پخواني قوماندان، عبدالولي په ګډون، د دغې کورنۍ درويشت غړي خاينان ونومول شول او د افغانستان له تابعيت څخه بې برخې کړل شول. دغسې فرمان ته څه اړتيا وه او يا کنه د دې تر شا دوی خپل دروغ او وېره پټوي. د شاهي کورنۍ حتی يو غړی نه غواړي چې افغانستان ته راشي او د خلقي رژيم پر ضد جګړه وکړي. دوی په اروپا کې هوسا دي، خو که دوی غوښتلی چې د خلقيانو پر ضد جګړه وکړي، د تره کي فرمان ته به يې هېڅ ارزښت نه وی ورکړی. د بېلګې په توګه، د ۱۹۲۹ کال په پسرلي کې، نادر خان، ورور يې شاه محمود خان او مارشال شاولي خان غازي د پښتنو يو پوځ راټول کړ او د کابل په لور وخوځېدل چې د بچه سقاو لوټمار رژيم نسکور کړي.*

په دې هکله دېورينکوف بحث و نه کړ؛ نو ولېږي وويل چې شپږم فرمان، چې د جولای په مياشت کې خپور شو، ولولي. د دغه فرمان پر بنسټ، بزګران، د ځمکو خاوندانو او يهودو* پوروركونكو ته د پور له ادا کولو څخه معاف شوي وو. هغه بزګران او کارګران چې ځمکه يې نه درلوده په بشپړه توګه د پور له بېرته ورکړې معاف شول پرته له دې چې د دوی د پور شرطونو ته پام وشي. هغه بزګرانو چې لږ او يا هېڅ ځمکه نه درلوده او تر ۱۹۷۴ کال پورې د خصوصي خلکو پوروړي وو په همدې توګه ونازول شول. له شپږم فرمان سره داسې غوښتنې مل وې چې بايد کاري کمېټې جوړې شي چې په زوني، ولايتي او سيمه ييزه کچه د بزګرانو ستونزې حل کړي. د دغه دندې په ترسره کولو کې زوني کاري ډلو مهمه ونډه درلوده. د کمېټې مشر به د نوې ادارې له لوري ګمارل کېده. له ده سره د شتمنيو د بوديجې يو بيروکرات، د څارنوالۍ، ښونې او روزنې وزارت، د کرنې وزارت استازي او د بزګرانو دوه درانه استازي مل وو. دغسې کمېټو بايد د بزګرانو او د ځمکو خاوندانو تر منځ شخړې په انصاف حل کړې وی او هغه موضوعګانو ته يې هم د حل لاره موندلې وی چې پور شوې شتمنۍ خپلو پخوانيو څېښتنانو ته بېرته ورکړل شي. د ځمکې درلودلو د تمويل کچه د هغه لاسوندو پر بنسټ وه چې د ځمکې لرلو حق پکې  تضمين شوی و او همدا راز د محاسبې پر هغه کتابونو چې د ځمکې د ماليې ورکړه او داسې نور څه پکې ليکل شوي وو. که يې اړتيا وه، د زون کمېټو ته واک ورکړل شوی و چې د ځمکې د وېش په هکله پرېکړې وکړي، د پور لاسوندي وګوري او پخلی يې وکړي، د بې ځمکو بزګرانو احصاييه برابره کړي، د شتمنۍ او د ځمکو پور او د پور د ګټې کچه  جوته کړي.

*په اسلام کې د پور ورکړه د سود په بدل کې منع ده؛ نو ځکه په افغانستان کې پوروركوونكي يوازې يهودان وو.

د دغه دندو نوملړ د کمېټو د واک یوه برخه څرگندوي او دا څرگنده ده چې دغه کمېټو ته بې کچې ډېر واک په خپلو سیمو کې ورکړل شوی و؛ نو د کمېټې غړي باید ډېر اخلاصمن او وړ خلک وای، خو حقیقت بل څه وایي.
د ۱۹۷۸ کال د نومبر په میاشت کې، په ټولو اووه ویشتو ولایتونو او یو سل او نهو اداري ولسوالیو کې د بزگرانو د ستونزو لپاره د کمېټو د جوړولو اعلان وشو، خو عجیبه دا وه چې په ټول هېواد کې بزگرانو د سیمه ییزو ادارو پر ضد هغه وخت لاریونونه وکړل چې دغه شپږ فرمانونه اعلان شول.
سترستین وویل: «هو، دغه فرمانونه لویه اغېزه لري. دا هغه ټولنوټیزي socioeconomic اړیکې کمزورې کوي چې په پېړیو یې د افغانستان په کلیو کې ریښې غځولې دي. دغه فرمان به د افغانستان بېخ وباسي او لویه ناراضتیا به نه یوازې د هغو ځمکو خاوندانو او پوروړکونکو په منځ کې رامنځته کړي چې له خپلو ځمکو او پیسو څخه بې برخې کېږي بلکې د هغه بزگرانو په منځ کې هم چې له دې وروسته د ځمکو له خاوندانو او پوروړکونکو څخه پور نه شي ترلاسه کولی. خلقي اداري به په تلوسه د دغه فرمان په ترسره کولو کې هڅه وکړي او خدای مه کړه کلیوال ژوند به گډوډ کړي.»
دلته دېورینکوف د ولېري په خبرو رټ اعتراض وکړ. ده وویل: « زه فکر نه کوم چې داسې څه به پېښ شي. ته ښه پوهېږې چې د زوني، ولایتي او سیمه ییزو کمېټو جوړونه چې د بزگرانو ستونزې حل کړي لاتراوسه هسې د یوې اعلامیې په توگه پاتې ده. هو، په ځینو ولسوالیو کې ځینې کمېټې جوړې شوي دي، خو د دوی اغېز به ډېر وخت ونیسي. ولېري، ته خو دا راسره منې چې موږ ټول غواړو چې په افغانستان کې د بزگرانو ستونزې حل شي. اوس شلمه پېړۍ ده، خو دوی لاتراوسه په منځنیو پېړیو کې ژوند کوي. ایا دوی باید تل د پوروړکونکو او د ځمکو د خاوندانو په چوپړ کې وي؟ که دغه اصلاحات چې په دې فرمان کې راغلي په بریا ترسره شي، نوې اداره به د بزگرانو په منځ کې ښه ټولنیز ملاتړ خپل کړي»
سترستین په دې اړه خپل اړنگ څرگند کړ او ویې ویل: «او که بریالي نه شي؟ د نورو ناراضتیاو سربېره چې نوي رژیم رامنځته کړې دي، د هغه ناراضتیا په اړه څه وایې چې په کلیو کې لرغوني دودونه له بېخه باسي؟ اووم فرمان...»
نیکولای الکساندرویچ اسوېلي وایست او بیا یې وویل: «هو دغه فرمان به لویې ستونزې رامنځته کړي.»
اووم فرمان د اکتوبر په اووه لسم په دې موخه خپور شو چې د ټولنیزو حقونو له اړخه ښځو ته له نارینه سره برابر حق ورکړي، د مېړه او ښځې تر منځ له انصاف څخه لیرې فیوډالي نارینه واکمنې اړیکې له منځه یوسي او په کورنۍ کې ښې اړیکې غښتلې کړي .
دغه فرمان د مادي او مالي ولور کچې ته برید وټاکه او اوس له لسو درهمو څخه چې شریعت ټاکلی ډېر نشي کېدای. د یوې نامعلومې مالي اداري پر وینا، د اسعارو د بدلون د بیې پر بنسټ، لس درهمه، درې
www.samsoor.com

سوه افغانۍ کېدې. په هغه وخت کې درې سوه افغانۍ د يو کارتن امريکايي سګرېټو بيه وه. د دوی دليل دا و چې پيغمبر محمد له لسو درهمو څخه ډېر ولور نه دی ورکړی؛ نو دوی لېترلږه د پيغمبر په پرتله ډېر سخي وو. په رخصتيو او د ټولنيزو ورځو په لمانځنه کې ناوې او کورنۍ ته يې د ډاليو ورکړه او همدارنګه جبري واده او په ګوابنونو، تاوتريخوالي او لوی لګښت د قانوني واده مخنيوی منع شو. د واده حداقل عمر وټاکل شو: نارينه اتلس او ښځينه شپاړلس. له دغه فرمان څخه د هر راز سرغړونې لپاره له شپږو مياشتو څخه نيولې تر درې کلونو پورې د زندان او د ډاليو او ولور د ضبط جزا ټاکل شوې وه.

ولېري له نيکولای الکساندرويچ څخه پوښتنه وکړه، خو خپلې پوښتنې ته يې پخپله ځواب ورکړ: «نيکولای الکساندرويچ، ستا په ياد دي چې په منځنۍ اسيا کې د بسمچيانو خوځښت څنګه پيل شو؟ دا د ښځو په ازادولو، د څو مېرمنو لرلو په منع کولو، د چادرۍ په ليرې کولو او د ښځو په مسلکي زدکړو او ښوونځيو ته د نجونو په اړ ايستلو پيل شو. ما د بسمچي مقاومت تاريخ په ډېر پام لوستی دی. شوروي اداره ډېر کلونه له دوی سره په جګړه کې ښکېل وه. شوروي حکومت ځکه پر دوی باندې برياليی شو چې موږ ګڼ ملتيز او ګڼ مذهبه هېواد درلود. د بسمچيانو پر وړاندې ډېری روسانو، اوکراينيانو او لېتوانيايانو جګړه کوله او په عين وخت کې منځنۍ اسيا د غير مسلمانو ملتونو له استازو څخه ډکه وه. روسي ښوونکي او ډاکتران نه يوازې په ښارونو بلکې په اطراف کې هم مېشت وو او د خپل ژوند بنه يې بزګرانو ته ښوده. په افغانستان کې له نهه نوي سلنې څخه ډېر وګړي مسلمان دي. که د حکومت پر ضد د بسمچيانو په څېر يو لوی خوځښت پيل شي، حکومت به د دې توان ونه لري چې ويې ځپي.

زه باور لرم چې د نورو خلکو په څېر افغانان هم د دې پراو نه لري چې په هېواد کې څوک واکمن دي. دوی تر هغه وخت پوري غږ نه کوي تر څو چې حکومت يې جيب ته لاس ورنه وړي او يا د کورني ژوند يوه ځانګړې بڼه پر دوی ونه تپي.»

دېورينکوف وويل: «ولېري، په دې ټکي درسره همغږی يم. که داسې وشي، د اولس په منځ کې به ناراضتيا په ډېرو خطرناکو کړنو بدله شي. په دې اړه مې تېره شپه له تره کي سره خبرې هم وکړې.»

ولېري: د ده ځواب څه و؟

دېورينکوف: *تره کی فکر کوي چې اووم فرمان به افغانانو او ټولې نړۍ ته د دغه اصلاح غوښتونکي انقلاب څرنګوالی وښيي. زه هم فکر کوم چې د دغه فرمان پلي کول سخت کار دی؛ نو ځکه د عمل په پرتله، د فرمان اعلاميوي او پروپاګندي اړخ ډېر دی.*

سترستين: *ټيک همدغسې دي. عملي پايلې يې صفر دي، خو د انقلاب دوښمنانو ته به يو ښه فرصت برابر شي چې له دغه فرمان څخه د خپل پروپاګند لپاره ګټه واخلي.*

دېورینکوف او سترستین د اتم فرمان پر اوږده متن خبرې وکړې او پر منځپانګه يې فکر وکړ. دا فرمان د ځمکو د اصلاحاتو په هکله و چې یوې کورنۍ ته يې په عمومي توګه د ځمکې لرلو کچه ټاکلې وه. د هغه ځمکو کچه چې باغونه، انګور تاکونه او یا دوه فصله حاصل ورکوي دېرش جریبه ټاکل شوه وه او په همدې کچې د نورو ځمکو د درلودلو کچه هم دېرش جریبه ټاکل شوې وه. هرې کورنۍ چې له دې څخه ډېره ځمکه لرله، پرته له دې چې تاوان ورکړل شي، ورڅخه اخيستل کېده. بزګرانو، د کرنې کارکونکو او بېوزلو کوچیانو ته په دې شرط وړیا ځمکه ورکول کېده چې دوی پخپله په ځمکه کار وکړي. په فرمان کې دا هم راغلي وو چې که چا په ورکړل شوو ځمکو کې تر دریېو میاشتو پورې کار پیل نه کړ، بېرته به ترې اخيستل کېږي .د فرمان پر بنسټ، پرته له هغو ښځو او ماشومانو څخه چې د کورنۍ یوازیني غړي دي او پر ورکړل شوې ځمکه د کار توان ونه لري، ځمکه باید چاته پور یا اجاره ورنه کړل شي، خرڅه نه شي او له پنځو جریبو څخه په وړو ټوټو ونه وېشل شي. د هغو ښځو او ماشومانو سربېره چې په ځمکه يې د کار توان نه درلود، حکومتي بیروکراتانو او کسبګرو ته هم حق ورکړل شو چې ځمکه په اجاره ورکړي.
کومه ځمکه چې خلکو ته وېشل کېده، د دولتي ځمکې، د شاهي کورنۍ ځمکې او د دولتي پروژو د هغو ځمکو سربېره چې د دولتي فارم لپاره وړ نه وې، له هغو خلکو څخه ضبط شوه چې له دېرشو جریبو څخه يې ډېره لرله. د جوماتونو ځمکو ته ځانګړې استثنا ورکړل شوه. د ځمکې په وېش کې هغه بزګرانو ته لومړیتوب ورکړل شو چې د بل چا پر ځمکه يې بزګري کوله. په دې وېش کې وروستي کوچیان او د نورو ولایتونو هغه بې ځمکې بزګران وو چې په خپل ولایت کې ورته ځمکه نه موندل کېده .
د ځمکني اصلاحاتو په بهیر کې، دا هم په پلان کې نیول شوي وو چې بزګران ژرترژره په کوپراتیفونو کې راټول کړل شي او دغو کوپراتیفونو ته په لږ ګټه بانکي پور برابر کړل شي چې د بزګرۍ وسایل، تخم او د بوټیو د ناروغیو ضد درمل وپېري. د دې وړاندیز هم شوی و چې د کرنې د وسایلو د تنډلو(ترمیم) لپاره هټۍ جوړې شي، د هغې غوښې او شیدو د پلورلو لپاره کوپراتیفونو جوړ شي چې کوچیان يې تولیدوي .
دېورینکوف د فرمان د متن لوستل بشپړ کړل.

*دېورینکوف: دا دومره بد فرمان نه دی، خو له بدو اغېزو څخه هم تش نه دی که څه هم زما په اند موخې يې نېې دي. دغه فرمان باید د مالکیت اصول جوړ کړي، له ډېرو بېوزلو بزګرانو څخه به غلطه کار اخیستنه لږ کړي او د کرنې وده به وهڅوي؛ نو په دې توګه به د وګړو مالي حالت ښه شي. دا مهمه ده چې دغه پلان په پام ترسره شي.*
*ولېري: فکر نه کوې چې له ټاکلې کچې څخه د ډېرې ځمکې ضبطول به د لویو ځمکوالو ثابت سیستم له دېوالیې (افلاس) سره مخ کړي؟*

دېورینکوف: *ما مخکې ووېل چې ځمکنې اصلاحات باید په پام ترسره شي؛ نو ولې باید داسې ښه ثابت سیستمونه*
*سمدلاسه په کوپراتیفونو بدل شي.*
ولېري: *ایا هغه ځمکوال به د کوپراتیفونو غړي شي چې دغه ځمکې یې لرلې؟*
دېورینکوف: *کوپراتیفونو پرته له دوی څخه هم وده کولی شي.*
ولېري: *د لویو ځمکوالو په اړه څه وایې؟ ټول شتمن ځمکه وال ګڼ شمېر اردلي (چوپړیالان)، وسلوالې ملېشې او داسې زامن لري چې پوځي افسران دي .ځمکوال د معمول په توګه له دیني مشرانو سره اړیکې لري او میراوان چې د اوبو وېش په غاړه لري د لویو ځمکوالو په اطاعت کې روږدي دي. ته پوهېږې نیکولای الکساندرویچ، ما ته کله کله داسې ښکاري چې د تره کي د حکومت اصلاحات په لوی لاس خلک پاروي چې د حکومت پر ضد جګړې ته مخ کړي.*
دېورینکوف: *ته مبالغه کوې، ولېري. هو، دوی لږ په تلوار کار وکړ او داسې ګروهنه هم شته چې د شوروي تجربې په بشپړه توګه دلته پلې کړي پرته له دې چې افغان دودونو ته پام ونیسي. په ولایتونو کې پوره پروپاګند نه کېږي، خو زه به دا ونه وایم چې د دغو فرمانونو خپرونه به بزګران د حکومت پر ضد وپاروي.*

له ډوډۍ څخه وروسته، سترستین په ګاډي کې دېورینکوف مېلمستون ته ورساوه.
کله یې چې له دېورینکوف سره مخه ښه وکړه، ولېري د ملامتیا ډېره ننګېرنه وکړه. دی پوهېده چې له ښوونکي سره یې د موضوع په اړه بحث بې انډوله و. د کې جي بي د یو مامور په توګه چې په کابل کې یې ژوند کاوه، ده په ولایتونو کې د حکومت ضد خوځښتونو په هکله ښه مالومات لرل. دی پوهېده چې پاکستان، د اسلامي خوځښتونو او ګوندو مشرانو لا د مخه د پوځي ډلو په جوړولو او روزلو پیل کړی و چې د افغانستان پر خاوره یرغل وکړي. دی ښه پوهېده چې د پښتني قبیلو مشرانو، دیني مشرانو او د پاکستان او امریکا څارګرو ادارو دغه کړنې ترسره کولې. دی په دې هم خبر و چې هغه خلک چې د کابل رژیم پر ضد یې د پاڅون تابیا نیوله څومره ښه په وسلو سمبال وو او په دې هم پوهېده چې د دې په ځواب کې د حکومت کړنې څومره له اغېزو تشې وې.
بې اړنګه، د تاس ورځپاڼې د افغانستان په ځینو ولایتونو کې د نارامۍ ځینې راپورونه ورکول، خو په عمومي توګه، په هغه وخت کې د شوروي ډله ییزو رسنیو په ډېرو ولولو په ټول افغانستان کې د غوبیي انقلاب بریا، له انقلابي بدلونونو څخه د ډېرى وګړو ملاتړ او د شوروي او افغان اړیکو د بالقوه نورې ودې خبرې کولې. دغه ولولیزه ښه مرکزي کمېټې ټاکله. بې اړنګه، دېورینکوف هغه محرمو لاسوندو ته لاس رسی درلود چې تاس برابرول او د کمونست ګوند د غړو په منځ کې وېشل کېدل، خو ده هېڅ دا خیال نه درلود چې په ۱۹۷۸ کال افغانستان ته یو لوی ګواښ په راڅرګندېدو و.

کله چې ېېرته مسکو ته لاړ، دېورينکوف، سترستين او مېرمن ته يې په يو ليک کې داسې ليکلي وو: «افغان مشرتابه ځو ځلې غوښتنه وکړه چې زه افغانستان ته ورولېږل شم چې د ځينو ځانګړو موضوعګانو په حل کې او د سولې او پرمختګ په پار د دغه هېواد له خلکو سره مرسته وکړم، خو سورمخي سفير د سرو خلقيانو له دغه غوښتنې سره داسې چلند وکړ لکه يو ټيټ نسلی سور غويی يې چې له سرې ټوټې سره کوي.»
نومړي خپل يو شعر هم په ليک کې ليکلي و:

له لمر ختو سره په سفارت کې
سفير پوزانوف ګامونه واخيستل
د ځپل شوو پرچميانو يو کاروان
په ده پسې په خپګان روان و
دغه د جنرالانو زامن څوک وو؟
دوی د کوم ځای وو؟
خپلو ملګرو ته به داسې خاينان بيا چېرته ارزښت ومومي؟
ناولي او دوه ګوني اجنټان!
چې پر هر څه پوه شي
يوازې د وتکا او واينو څنبل بسنه نه کوي
ايا دا زموږ د پوړ ورونه دي؟
له پوزان څخه دغه پوښتنه بايد شوې وای
خو هغه څوک چې کمونستان وو په دې اړه ترې پوښتنه نه کېده
او جنجال هر ځای پټ ناست و
چې په لسيزو دوام وکړي.
له لمر لوېدو سره سم په سفارت کې
سفير پوزا انګړ ته ووت
او له ارګنې سره په خپګان کښېناست
د نفر-پوليس-افغان يوه ښه بېلګه

نيکولای الکساندرويچ دېورينکوف د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په اوولسمه د زړه د حملې له کبله مړ شو. ده د خپل افغان ملګري، تره کي، له مړينې وروسته يوازې دوه مياشتې نور ژوند وکړ.

www.samsoor.com

# ۴

## د کابل مېلمستون، د ۱۱۷مې کوټې مرموزتیا

د فبرورۍ په ۱۴مه د چارشنبې د سهار په لومړیو کې د کې جي بي مامور لیونېډ بېریکوف، چې د تاس خبریال په پلمه یې دنده ترسره کوله، د ښار مرکز ته ورسېد چې له خپل یو افغان ملګري سره وګوري. دغه ملګری یې اجنټ نه و، خو د نورو هغه افغانانو په څېر چې له شورویانو سره یې اخلاصمنه مینه لرله، په خوښۍ یې له بېریکوف سره مالومات شریکول. دا شونې ده چې افغانان په دې خیال وو چې په کابل کې ټول شورویان ځارګر مامورین دي او له دوی سره یې هر راز مرسته خپله شخصي دنده ګڼله ځکه چې له داسې ځواکمنو شورویانو سره مرسته کول به یو وخت له دوی سره د همدغه شورویانو د مرستې وجه شي.
د لیونېډ ملګری د اطلاعاتو په وزارت کې یو بیروکرات و چې د افغان اطلاعاتي اېجنسۍ ځارنه یې کوله، خو کله چې دوی سپین زر مېلمستون ته څېرمه په دفتر کې کښېناستل او د سهار چای یې له تلوار څخه پرته پیل کړ، دغه افغان کوربه ته خبر ورکړل شو چې یو بیړنی تیلفون ورته راغلی. دی په اندېښمنه بڼه بېرته راغی او ویې ویل: «ښښنه غواړم ملګری بېریکوف، د امریکا سفیر، اډولف ډبز ناپېژندل شوو کسانو نیولی دی او په کابل مېلمستون کې یې د یرغمل په څېر ساتلی .»
بېریکوف یو شپېلی وکړ، بیا یې وویل: «ښه، دا خو عجب خبر دی.» نوموړي د شوروي سفارت ته زنګ وواهه، خو هلته هېڅا د دغه پېښې په اړه خبر نه درلود.
دغه سهار د امریکا د سفارت مشر له خپل استوګنځي څخه ووت. د ده کور د نخبه ګانو په سیمه، شهرنو کې و. د معمول په څېر نوموړي د خپل ګاډي په لور ګامونه واخیستل. دی یو د تجربې خاوند داسې بیروکرات و چې له ټولو هغه اړینو کرښو څخه تېر شوی و چې په کابل کې د امریکا د سفیر وړتیا ولري. کې جي بي په دې باور وه چې دی د امریکا له ځارګرې ادارې سره یو لړ اړیکې لري که څه هم د ده ژوندلیک داسې تشه نه لرله او ټول کاري ژوند یې د امریکا په بهرنیو چارو وزارت کې تېر کړی و.
سفیر خپله تر ټولو مسلکي ونګه خپله کړه او د پالش شوي لیموزین ګاډي په لور روان شو. د تل په څېر، ده خپل شخصي ژوند او ننګېرنې تر خپل بیا راتګ پورې په کور کې پرېښودې. افغان ګاډي چلوونکي شاتنۍ دروازه ورته پرانیسته او دی په خپل معمول سیټ کې کښېناست. ګل محمد خپلې خړې وروځې سفیر ته اوچتې کړې او ویې پوښتل: «سفارت ته؟» سفیر په نرمه ژبه چې په غږ کې یې داسې چوپ ځواک نغښتی و چې د امریکا د متحده ایالاتو له سفیر سره ښایي ځواب ورکړ: «هو، حرکت وکړه.»
لیموزین چې د امریکا له ستورو څخه ډکه جنډه رپوله، د کابل په واورینو واټونو کې روان و. د مرغانو کوڅه او د حمیدي پلورنځی ښۍ خوا ته، د پاکستان سفارت، د عبدالقیوم او عبدالکریم د انتیکو هټۍ کین

لوري ته وې. دوی د امریکا کلتوري مرکز ته څېرمه په څلورلاره کې وو چې ناڅاپه غږ وشو: «ودرېږه!» لړزه د سفیر په شمزۍ راښکته شوه او ځان یې داسې تود شو چې سږي به دا خیال پرې کړی وي چې اوس به سږو اوبو ته ټوپ اچوي. د ترافیکو یو افغان پولیس چې خړ یونیفورم یې اغوستی و خپله ډنډه لیموزین ته وخوځوله چې ودرېږي. ګاډي چلوونکي په ښیښه کې سفیر ته وکتل او سفیر د هو سر وخوځاوه. پولیس د ګاډي د دروازې ښیښې ته ورټیټ شو او په دري ژبه یې وویل: «مورږ باید ستاسې ګاډی وپلټو، صاحبه.» ډېر هڅه وکړه چې خپله غوسه کابو کړي. ده بیا د هو سر وخوځاوه او ویې ویل: «سمه ده.» دیپلوماتیکي مصونیت ده ته د دې حق ورکاوه چې دغسې امر ته پام و نه کړي، خو په کابل کې دغسې پاټک اوس معمول وو او سفیر دې ته د یوې داسې نارامتیا په سترګه کتل چې ډېره نشوای ترې کېدای. داسې انګېرل کېدل چې پولیس به په ګاډي کې د ننه لټون وکړي او ښایي د ټول بکس د پرانیستلو غوښتنه هم وکړي. ډېر ورته وویل چې د اندېښنې څه شی نشته، خو پولیس ته یې پام شو چې چلند یې بل شان دی. پولیس د ګاډي شاتنۍ دروازه چې د کوم ناڅرګند دلیل له کبله کولپ شوې نه وه پرانیسته او د یوې ثانیې په ترخ کې د سفیر تر څنګ کښېناست. سفیر ته یې یوه څرخي تومانچه ونیوه. په همدغه شېبه کې دوه نور افغانان چې ملکي جامې یې اغوستې وې په ګاډي کې کښېناستل. دوی هم څرخي تومانچې لرلې. یوه یې خوله جینګه کړه او په خپلو خیرنو برېتو کې یې وخندل. ده ګاډي چلوونکي ته امر وکړ چې کابل مېلمستون ته لاړ شي.

ګل احمد چې تر اوسه اوتر و، د ګاډي اشترېنګ ته یې په ډېره وېره لاس کړ. ده په ښیښه کې سفیر ته په ملامتیا کتل، خو سفیر څه ناڅه ارامه و او داسې ښکارېده چې د موسکا هڅه یې کوله. سفیر تر یوې کچې په بې پروا بڼه وویل: «ځئ چې ځو.» ګاډی د مېلمستون په لور روان شو. وسلوالو افغانانو سفیر د مېلمستون د هرکلي دالان ته بوت. یو بوډا هزاره مامور د هرکلي د مېز تر شا د دراوزې په ښي لوري کې ولاړ و او له خندا یې خوله جینګه پاتې وه. له ده سره یو ځوان چې د شل کلنۍ په لومړیو کلونو کې و خبرې کولې. کله چې وسلوال له سفیر سره یوځای مېلمستون ته د ننه شول، دغه ځوان هم له دوی سره یو ځای شو او په چوپه خوله یې دوی ته نغوته کوله چې په دویم پوړ کې ۱۱۷مې کوټې ته لاړ شي. سفیر په مرمرینو زینو کې د ختلو په مهال شاته لنډ وکتل. په دالان کې د کوټ ځړولو د ځای له کړکۍ څخه یې خپل ګاډی ولید چې په پښتونستان واټ کې د سفارت په لوري روان و. دغه شېبه ساعت اته بجې او پنځوس دقیقې ښودې.

په امنیتي چارو کې د سفیر مرستیال، سرګي بختورین سفارت ته په رسېدو سره سمدلاسه پوه شو چې یوه ډېره غیرمعموله پېښه شوې ده. د ساتونکو ونګه ډېره څکه ښکارېده او خلک هم هاخوا دېخوا وارخطا ګرځېدل. ده د کې جي بي د نهم ریاست یو مامور جګړن کوڅیپوف Kutepov ولید. نوموړي د افغان مشرانو د امنیت دنده درلودله. دی هم تېرا ښکارېده. بختورین ترې وپوښتل: «یوري، څه خبره ده؟» کوڅیپوف ورته وویل: «ته نه یې خبر؟ کوم چا د امریکا سفیر، ډبز یرغمل نیولی. دی د سهار له نهو بجو راهیسې په کابل مېلمستون کې ایسار کړل شوی.»
دغه خبر بختورین ته ټکان ورکړ. کابل مېلمستون د ښار په منځ کې و او د شوروي مېلمنو د خوښې مېلمستون و. په دې وخت کې شاوخوا دېرش شوروي کارپوهان په دغه مېلمستون کې اوسېدل: سلاکاران، دیپلوماتان، ژورنالېستان او پوځي مامورین. له ډېرو سره یې کورنۍ هم وې. ډګرمن بختورین، چې په کې جي بي کې د بهرنیو څارګرو فعالیتونو د شنډولو اداري مامور و، د مېشتو شورویانو د امنیت دنده لرله. دی د امریکا سفیر د برخلیک په هکله بې پروا نه و، خو په دې شېبه کې د ده تر ټولو مهم لومړیتوب د شورویانو خوندي ساتنه وه. ده کوڅیپوف ته وویل: «یوري، بګدانوف ته ورشه او د حالاتو په هکله راپور ورکړه. زه الکساندر میخیالویچ او اوسادچي ته ورځم. راځه چې په همدغه ځای کې زه او ته لس دقیقې وروسته بیا وګورو.»
پوزانوف بېځایه پوښتنې و نه کړې او داسې یې وویل: « سرګي ګوربلوویچ، هلته لاړ شه او هڅه وکړه چې خلک خوندي ځای ته وباسې. که دې مرستې ته اړتیا وه، سمدلاسه تیلفون راته وکړه.» بختورین د کوڅیپوف په ټیوټا ګاډي کې د ښار مرکز ته لاړ. په دې وخت کې پولیسو کابل مېلمستون ته ټولې لارې بندې کړې وې. د دوی ګاډی دوه ځلې ودرول شو، خو پولیس به چې پوه شول چې دوی شورویان دي، د مخته تګ اجازه به یې ورکړه. کله چې بختورین او کوڅیپوف مېلمستون ته ننوتل، دوی د افغانستان د کورنیو چارو په وزارت کې سلاکار، ډګروال کلویوشینکوف ولید. ده په لنډه توګه د سهارنۍ پېښې بهیر ورته بیان کړ او د اوسني وضعیت په هکله یې مالومات ورکړل. د کلویوشینکوف د خبرو پر بنسټ، دغه ترهګرو چې سفیر تښتولی، ګواښ کړی چې که د دوی غوښتنې ونه منل شي، د مېلمستون په کوټه کې به بم وچوي. دوی له زندان څخه د بدرالدین باحس Badrudin Bahes خوشې کول غوښتل. نوموړی د ستم ملي چې د طاهر بدخشي ګوند هم ورته ویل کېده یو مشر و. ترهګرو دا غوښتنه هم وکړه چې په ملي تلویزیون کې د خبرو حق ورکړل شي او خوندي هوایي لاره ورکړل شي چې د امریکا له سفیر سره یوځای بل هېواد ته لاړ شي. بختورین وپوښتل: «دا باحس څوک دی؟ چېرته بندي دی؟» کلویوشینکوف خپلې اوږې پورته وخوځولې او ویې ویل: «دریغې چې زه پوهېدلی، خو تړون وایي چې دی خامخا پرچمي دی

او په خبرو کې يې داسې نغوته وکړه چې هغه هېڅ چېرته نه شته. زه پوهېږم چې نومړی څه موده مخکې وژل شوی.»
د امريکايانو يوه ډله هم دوی ته څېرمه ولاړه وه. د دوی د امنيتي چارو افسر، چارلي Charlie بختورين ته ورنېږدې شو او ويې ويل: «همکاره، زه له تا څخه يوه غوښتنه لرم. زه هيله من يم چې تاسې داسې څه و نه کړئ چې د سفير ډېز ژوند په خطر کې اچوي.» بختورين ورته ووېل: «زه داسې ژمنه درسره نه شم کولای. ښه به دا وي چې تاسې له افغانانو څخه دغه غوښتنه وکړئ. تاسې پوهېږی چې دوی کوربه دي.»
د هرکلي په مېز کې بختورين د هغه کوټو نوملړ ترلاسه کړ چې شورويان پکې اوسېدل. ورپسې د مېلمستون بېلابېلو پوړونو ته لاړ چې دوی ته د بالقوه خطر خبرداری ورکړي. پرېکړه وشوه چې د مېلمستون مېلمانه د لومړي پوړ په رستورانت کې راغونډ کړي. يوه ستونزه هغه وخت رامنځته شوه چې بختورين د يوې کوټې ور وټکاوه چې د ۱۱۷مې کوټې څنګ ته وه. د ګوند سترسلاکار، وېسلوف او مېرمن يې په دغه کوټه کې اوسېدل. وېسلوف سهار وختي خپل کار ته تللی و، خو مېرمن يې ور نه پرانيسته. کله يې چې په دالان کې شورماشور واورېد او له مېلمستون څخه يې بهر ګڼ شمېر وسلوال په منډو وليدل، نومړې له کچې وتلې وېرېدلې وه. بختورين ډېره هڅه وکړه چې نومړې وډوماري چې ده ته ور پرانيزي او زاری يې ورته وکړې چې د مېلمستون په لومړي پوړ کې په څه ناڅه خوندي رستورانت کې د حالاتو تر روښانتيا پورې تم شي.
د هوټل ځينې مېلمانه له خپلو کوټو څخه له وېرې نه وتل، د ترهګريز ګواښ په پرتله، دوی په دې ډېر وېرېدل چې پېرودلې بهرنې توکي يې ورک نه شي. بې اړنګه، افغانستان يو بېوزله هېواد و، خو هر راز توکي چې د شورويانو خوښېدل په افغان بازارونو کې شته وو: ټېپونه، الکترونيکي ساعتونه، جينز او د پسه د خرمن او وړيو کوټونه. داسې توکي په شوروي اتحاد کې نه موندل کېدل؛ نو ځکه شورويان په مېلمستون کې له خپلو کوټو څخه له داسې غټو کڅوړو او بکسونو سره ووتل چې په کابل کې يې له پېرودلو توکو ډک کړي وو. بې اړنګه، امريکايانو په حيرانتيا د دوی ننداره کوله.
په مېلمستون کې د عملياتو مشري افغان ځارندوی (پوليسو) کوله. جګړن ترون، د ځارندوی مشر او سيف الدين، د ځارندوی امر د عملياتو مسوليت په غاړه درلود. افغانانو په وار وار له کلويوشينکوف څخه مشوره وغوښته او دغه ډګروال به په خوبمنه توګه مسلکي مشوري خپل افغان سيالانو ته ورکولې. ترهګرو د يوې تومانچې غوښتنه وکړه. کلويوشينکوف افغانانو ته مشوره ورکړه چې يوه ناکاره تومانچه ورکړي. پلان داسې و چې د تومانچې د ورکړې په شېبه کې پر ۱۱۷مه کوټه يرغل وشي، خو ترهګرو خامخا د خطر ننګېرنه وکړه او ور يې پرانئيستلو.
www.samsoor.com

د کلویوشینکوف، بختورین او کوځیپوف په ګډون، د ژغورنې عملیاتو مشران له دویم پوړ څخه کرار کرار درېیم پوړ ته وختل چېرته چې لږ ارامي وه.
چارلي په دوامداره توګه له بختورین څخه غوښتنه کوله چې پر کوټه باندې له یرغل څخه ډډه وکړي. ده ټینګار کاوه چې هر څومره چې شونې وي همدومره یرغل وځنډوي او له ترهګرو سره خبرو اترو ته دوام ورکړي، خو نوموړي د سفیر د ازادولو لپاره کوم بدیل پلان نه درلود.
د مېلمستون په دالان کې ناڅاپه ګڼه ګوڼه شوه. د اګسا افسران چې ساده جامې یې اغوستې وې دالان ته ننوتل. اګسا افغان څارګره اداره وه چې یوازې په دې وروستیو کې جوړه شوې وه، خو د هر هغه چا په زړه کې یې وېره اچولې وه چې د افغان انقلاب ضد ګومان پرې کېده. د سیالې ادارې د کسانو راڅرګندېدنې جګړن تړون په غوسه کړ. تړون، چې یو خانتما او پر ځان باورمن کس او د امین له خوښو کسانو څخه و، د امریکا د سفارت د امنیتي ادارې له یو مامور سره یې خبرې بس کړې او په چټکۍ د اګسا ډلې ته ورغی. دوی په پښتو خبرې کولې او لاسونه یې یو او بل ته خوځول. له دې خبرو وروسته، د اګسا خلک دومره په چټکۍ تري تم شول لکه څومره په تېزۍ چې راڅرګند شوي وو.

په دغه ژمي کې د لوېدیځ دیپلوماتانو په منځ کې د سرو زرو په هکله ډېرې خبرې کېدې. د افغانستان په شمال کې د شبرغان ښارګوټي ته څېرمه یوه شوروي لرغونپوه، سېریانیدي Sarianidi د سرو زرو خزانه موندلې وه. نوموړي له میلاد څخه مخکې په دویمه زریزه کې د شپږو باختري شاهزادګانو قبرونو په کیندلو سره د سرو زرو اوه کیلو ګرامه بېساري ګاڼې راوسپړلې. دغه موندنې د امریکایانو، انګرېزانو او نورو لوېدیځوالو خیالونه وپارول.
په دیپلوماتیکي مېلمستیاو کې د خزانې موندنه د بنډار توده موضوع شوه. هر چا د دغه خزانې په هکله له ولېري څخه پوښتنې کولې. نوموړي د باختریانو او دغه لرغون کیندنو په اړه ډېر مالومات لرل.
د فبرورۍ په دیارلسمه په کابل کې د چین د قونسل د بېرته تګ په ویاړ د چین د خلکو جمهوریت په سفارت کې مېلمستیا جوړه شوې وه. سترستین دغه مېلمستیا ته تللی و او هلته یې لږ څارګریز کار هم ترسره کړ. ده له «ون Van» سره، چې ده ته ډېر په زړه پورې و، وکتل. د ایران له قونسل، دیب Deeb څخه یې د اسلامي انقلاب په هکله مالومات ترلاسه کړل (دیب د نسکور شوي شاه د مېرمنې لیرې خپلوان و). سترستین د کوچنیو او لویو هېوادونو له ځینو نورو دیپلوماتانو سره هم ګټورې خبرې اترې وکړې. کله چې ولېري له یوه بنډار څخه بل بنډار ته په نرمۍ تله، دی لوویسه تورکو Louise Turko ودراوه. نوموړې د

هغه امریکايي ډیپلومات مېرمن وه چې د شوروي څارګرې ادارې په کابل کې د سي ای اې مېشت څارګر ګومان پرې کاوه. لوویسې وویل چې یو وخت یې له لرغونپوهنې سره ډېره مینه لرله او ویې پوښتل چې چېرته او څه وخت به له سېریانیدي سره ووینې. سترستین داسې وښوده چې دغه نومور لرغونپوه یې ډېر ښه ملګری دی. لویسې ته یې وویل چې دی به هڅه وکړي چې له سېریانیدي سره د دې د لیدلو فرصت برابر کړي او ژمنه یې وکړه چې سبا سهار به یې په اړه خبر ورکړي.
د فبرورۍ د څوارلسمې په سهار، سترستین د معمول په پرتله لږ ناوخته سفارت ته ورسېد. کاري ورځ لا د مخه ښه په جوش کې روانه وه. ده د پروتوکول څانګې ته سر ورښکاره کړ چې له خپلو ملګرو سره روغبړ وکړي او د نویو مالوماتو په هکله ځان خبر کړي. د پروتوکول مامورین پارېدلي او څک ښکارېدل. یوه یې په پساري وویل چې د امریکا سفیر، ډبز ترهګرو نیولی دی. د پروتوکول بل مامور یوه لفافه راوایسته چې د امریکايي سفارت له لوري سترستین ته رالېږل شوې وه. بیا د کې جي بي څانګې عمومي کوټې ته روان شو. په لاره کې له یو همکار سره مخ شو. همکار یې ده ته وویل چې د کې جي بي مېشت مشر دی لټاوه او ښه به وي چې له اوسادچي سره وګوري؛ نو سترستین سملاسي مېشت مشر ته لاړ. ویلیر ګوربلوویچ له کچې وتلی اندېښمن او ټپرا ښکارېده، خو ولېږي ته یې په موسکا ښه راغلاست وویل. ده په درنښت ولېږي ته نغوته وکړه چې کښېني تر څو چې دی له سرګي بختورین سره خپلې خبرې خلاصې کړي. سترستین کښېناست او په داسې حال کې چې د اوسادچي او بختورین خبرو ته یې غوږ نیولی و، د هغه لیک په لوستلو یې پیل وکړ چې د پروتوکول مامور ورکړی و.
اوسادچي، بختورین ته وویل: «سفیر سمه خبره کوي، ته باید ژرترژره کابل مېلمستون ته لاړ شې. د ګوند سلاکاران... خدای مکړه دوی ته څه پېښ نه شي. که له مېلمستون څخه د دوی ایستل اړین وو، ته باید هلته پخپله پرېکړه وکړې پرته له دې چې له ما څخه اجازه واخلې.»
بختورین، چې په بهر کې د شوروي سلاکارانو په چلند پوهېده، په غمجنه بڼه داسې وړاندوینه وکړه: «زه پوهېږم چې دوی به خپلو بکسونو ته لاس واچوي او موږ به د دوی په ایستلو ونه توانېږو.» اوسادچي په ټینګار ورته وویل: «له دوی سره په خپل چلند کې زغرد اوسه. که څه هم ته د دې اړتیا نه لرې چې زه یې درته ووایم، امریکایانو ته د پام وي چې له چا سره راځي، له چا سره خبرې کوي او څه کوي. ښه بخت درته غواړم.» بختورین، سترستین ته لاس ورکړ او د اوسادچي له دفتر څخه ووت.»
اوسادچي له سترستین څخه وپوښتل: «پرون دې له ون سره لیدنه څنګه وه.» سترستین په ډېر تفصیل، خو ښايي په بې کچې ننګېریزه توګه له دغه کس سره چې شوروي څارګرې ادارې یو بالقوه ارزښتمن اجنټ ګاڼه د لیدنې راپور ورکړ. ده له لوویسې تورکو سره د خبرو په هکله هم اوسادچي ته راپور ورکړ. اوسادچي ترې وپوښتل: «پوهېږې چې مېړه یې د سي ای اې مېشت مشر دی؟» سترستین لیک ورووښود
www.samsoor.com

او په ځواب کې يې ورته وويل: «هو، تا يې په يوه لنډه مالوماتي وينا کې يادونه کړې وه. له مېرمنې څخه يې نن سهار ما دغه ليک ترلاسه کړ.» په ليک کې لوويسې د پرونۍ شپې د ليدنې يادونه کړې وه او ولېري ته يې خبر ورکړی و چې غواړي لرغونپوه ته بلنه ورکړي چې د امريکايي ښځو د نړيواله کلپ د ختيځې زدکړو په څانگه کې وينا وکړي.

ورپسې اوسادچي، ولېري ته وويل: «زه به درته ووايم چې اوس بايد څه وکړې. ژرترژره د سېريانيدي احوال واخله او دغه

مېرمنې ته په کور کې تيلفون وکړه. داسې خبرې ورسره وکړه لکه ته چې د سفير په يرغمل نيول کېدو هېڅ خبر نه وې.»

ولېري چې په خبرو کې يې حسرت نغښتی و داسې وويل: «زه په رېښتيا په هېڅ نه يم خبر.» اوسادچې ورته وويل: «د تا په پرتله زه هم دومره مالومات نه لرم؛ نو په دې اړه تا ته څه نشم ويلی. ځه لاړ شه لوويسې ته تيلفون وکړه او بيا بېرته دلته راشه.»

سترستين ډېر ژر مالومات ترلاسه کړل چې سېريانيدي په راتلونکو دوو اونيو کې په کابل کې نشته. ورپسې د پروتوکول څانگې ته لاړ چېرته چې ښار ته تيلفونونه کېدل. هلته يې د لوويسې تورکو کور ته تيلفون وکړ، خو غوږۍ يې مېړه واخيسته او په خوښۍ يې وويل چې مېرمن يې ځان مينځي او دی کولی شي شل، ډېرش دقيقې وروسته زنگ ووهي. نيم ساعت وروسته وېليرې بيا تيلفون ورته وکړ. دا ځل بيا د لوويسې مېړه غوږۍ پورته کړه. ده ولېري ته وويل چې مېرمن يې خپل وېښته ږمنځوي. بلاخره لوويسې غوږۍ واخيسته او له سترستين سره يې خبرې وکړې. له خبرو وروسته سترستين د اوسادچي دفتر ته لاړ. ده اوسادچي ته وويل: «زموږ د سي ای اې ملگري په زړه پورې ژوند بڼه لري. داسې ښکاري چې د سي ای اې مېشت مشر په کور کې له خپلې مېرمن سره چې تازه يې ځان مينځلی دی اښی (استراحت) کوي په داسې حال کې چې سفير يې ترهگرو د ټوپک په زور نيولی.» اوسادچي په سوچ خپل گنجی سر وگراوه.

په کابل کې دغه سهار لمر ډېر روښانه و. هغه واوره چې تېره شپه ورېدلې وه ويلې کېده، خو په سيوري کې د شپې له يخنۍ څخه جوړ شوی کنگل شته و؛ نو په پراخو مرکزي واټونو او نورو تنگو لارو کې دغسې توپير چې يو ځای روښانه، بل تياره، يو ځای ساړه او بل ځای تودوخه وي کابل ډېر په زړه پورې ښيي. د پلازمېنې پاس د پغمان غرونه واورو پټ کړي وو او د سهارني لمر وړانگو پيکه گلابي رنگ ورکړی و.

په ښار کې بوخته ورځ پیل شوه. د سیاسي پرځنګ (مبارزې) دسیسې هغه چاته د اندېښنې وړ نه وې چې د ورځني خرځ پیدا کولو لپاره راوتلي وو. د سبو سوداګر چې خپل سرونه یې د وړیو په پټوګانو پټ کړي وو خپلې کراچۍ ټېله کولې او په داسې حال کې چې ښځې یې په پښو وې په سختۍ یې په اوبجنه واوره کې ګامونه اخیستل. د افغانستان بانک مامورینو، چې مخامخ د کابل مېلمستون ته پروت دی، په وړتیا د پیسو دلۍ شمېرلې. اوس پخواني نوټونه چې د محمد داود انځور پکې و په نویو خلقي نوټونو بدلیدل.

د کابل مېلمستون په دالانونو او دهلېزونو کې په غیر معمولي توګه ډېره ګڼه ګوڼه وه. ځارندوی هر ځای لیدل کېدل. دوی هغه خیرن، ساده او ډنګر پولیس نه وو چې د ښار په هرګوټ کې د اتوماتیکو وسلو یا زړو ټوپکو سره لیدل کېدل. په کابل مېلمستون کې د ځارندوی استازولې دنګو، هډورو او پر ځان باورمنو سړیو کوله چې برمناک ښتني بربېت یې لرل، ډولې یونیفورم یې اغوستې و او اتوماتیکې وسلې ورسره وې. د دوی ځانګړې ویاړ هغه ځرخې تومانچې وې چې لویو نړیوالو وسله جوړونکو جوړې کړې وې او په پرانیستې کاش کې د دوی له ملاو ځړېدې.

ټرون ببرته د امریکایي سفارت د مامورینو ډلو ته وروګرځېد. چارلي د سفیر مرستیال، امستوز Amstuz ده ته وروپېژانده. ټرون د سفیر مرستیال ته د پېښو په اړه په لنډه توګه د مالوماتو ورکړه پیل کړه. ده په ښکاره هڅه کوله چې په انګرېزي ژبه کې په خپله وړتیا، په تېره بیا په هغو ویيو چې له امریکایي پولیسي فلمونو څخه یې اوریدلي وو، نومورې اغېزمن کړي. ده په ځانګړې توګه د ترهګرو غوښتنې داسې ورته بیان کړې: «دوی د خپل ملګري بدرالدین باحس د ازادولو او په کابل مېلمستون کې یې دوی ته د سپارلو غوښتنه کوي. ورپسې دوی غواړي چې له بهرنیو خبریالانو سره خبرې وکړي او د خپلې خوښې بهرنې هیواد ته د سفیر په ګډون د خوندي تګ ضمانت غواړي. موږ ته یې څه باندې دوه ساعته وخت راکړی چې غوښتنې یې پوره کړو.» د وروستۍ خبرې په ترځ کې ټرون خپل هغه د ژېړو اومېګا ساعت ته وکتل چې په دې وروستیو کې امین ډالۍ ورکړی و.

د ترهګرو غوښتنې ته په پام سره، امستوز وپوښتل: «نو تاسې به څه وکړی؟» ټرون هوښیار و او داسې یې وښودل چې په پوښتنه بل شانته پوه شو؛ نو امستوز ته یې وویل چې د مېلمستون دېوالونه له خښتو جوړ او ډېر پلن دي. همدا رنګه ورونه یې د څېرې له پلنو دړو جوړ شوي او ډېر مظبوط کولپونه لري؛ نو ځکه له دهلېز څخه یرغل خطرناک او سخت دی، خو نښې ویشتونکې به په څو شېبو کې راورسېږي او په افغانستان بانک کې به مخامخ هغه کوټې ته ځای پرځای شي چې سفیر پکې دی. سربېره پر دې، زما سړي لاړل چې ګاز راوړي. دغه ګاز به د وره لاندې وشیندل شي څو ترهګر بېخوده کړي.» ورپسې ټرون د

امنیت امریکايي مامور ته مخ واړاوه څو د خپل پلان په اړه نورې پوښتنې ورڅخه ونشي او له ده څخه یې وپوښتل چې دوی کومې کړنې په پلان کې لري.
د امریکا امنیتي مامور له ورایه ټېرا ښکارېده. دی د یرغل لپاره لېوال و، خو بیا یې ومنله چې له دهلېز څخه پر کوټې باندې یرغل ډېر خطرناک دی. بیا یې وویل چې د سفارت ساتونکي چې سمندري پوځیان دي، له واټ څخه به د مېلمستون دویم پوړ ته د ختلو هڅه وکړي. ده څلور ځوانو سړیو ته چې ښې جامې یې په تن وې نغوته وکړه او له دوی سره یوځای له مېلمستون څخه ووت. د پولیسانو یو ځنځیر چې لاروي یې نه پرېښودل چې کابل مېلمستون ته ورنېږدې شي د خلکو پام ځان ته واړاوه. بېلابېلې ډلې د واټ په بله خوا کې راټولې شوې. څو ځوانو هلکانو د مېلمستون دېوال ته څېرمه ځانونه کړوپ کړي وو او دې ته غلي تم وو چې څه به پېښ شي. د تېرېدونکو ګاډو چلوونکو به په وسلووالو پولیسانو کې سترګې خښې کړې.
بلاخره د نندارچیانو صبر پای ته ورسېد. لومړی، د افغان پولیسو او اروپايي ډوله بهرنیانو یوه ډله د مېلمستون له دروازې سره راغونډه شوه. ورپسې درې دنګو او پلونډو سړیو له یوې زینې سره د مېلمستون د بهرني دېوال په اوږدو کې منډه وکړه. بیا، په یو ځای کې ودرېدل او زینه یې پر دېوال ودروله. یوه یې دویم پوړ ته ختل پیل کړل او د کړکۍ تر بېخه ورسېد، خو کوټې ته د ننه یې کتو ته زړه نشوی کولی.
هغه څوک چې په وضعیت خبر نه وو، دغه صحنه به ورته ډېره د خندا وړ ښکارېده. دې نه یوازې په واټ کې بلکې د بانک د ننه هم تلوسې رامنځته کړې. د بانک مامورینو او مراجعینو له خپلو مالي چارو څخه پام دې لوري ته واړاوه او د بهرنیانو دغه عجیبه کړنو ته یې په ډېر ناټ کتل.
د دغه عملیاتو مشران پوه شول چې هېڅ شی به پر زینه ولاړ سمندري پوځي دې ته اړ نشي کړی چې له کړکۍ څخه کوټې ته د ننه وګوري. ده ته یو حتمي مرګ تم و. که یې کوټې ته سر ورښکاره کړی وی؛ نو یوه ګولۍ به یې پر سر خوړلې وی. د څه لپاره؟ دا ښکاره وه چې سمندري پوځیان دومره لېوال نه وو چې د سفیر لپاره خپل ژوند له لاسه ورکړي.

ډېر خلک د یرغملو د ازادولو په عمومي کړنلارو پوهېږي. څارګرو ادارو ځینې چلندلارې جوړې کړې دي یا په بل عبارت په دې اړه د ا ب ت لارښود شته. ډېر کتابونه هم لیکل شوي او په دې هکله فلمونه جوړ شوي. د داسې عملیاتو لپاره د اړینو وسیلو نوملړ هم جوړ شوی او وړتیاوې په ګوتو شوې دي. دا ټول اړین خو هر وخت کارنده نه دي. کله کله ژوند نه غواړي یوازې په تیوریکي کړنلارو او عقیدو ځان محدود کړي.

دا ښه ده چې ځانګړې ځواکونه پر جرمونو او د ترهګرو د کړنو پر منطق باندې پوه وي. دا ښه ده چې سړی د هغه چا په رواني حالت پوه وي چې یرغمل یې په اسارت کې ساتلي وي. یا په نورو ټکو، دا ښه ده چې وضعیت څه ناڅه روښانه وي. بیا سړی کولای شي چې په پوره ډاډ د حالاتو ارزونه وکړي او داسې ګامونه واخلي چې له ترهګرو څخه وار د مخه کړي. دا هم ښه ده چې د یرغمل په ژغورلو کې داسې خلک ښکېل شي چې ښه تجربه ولري او یو او بل وپېژني. سربېره پر دې، دوی باید د قوماندې یو ځانګړی مرکز ولري او بهرنی حالات هم باید د ژغورونکو په ګټه وي.
د اډولف ډبز په پېښه کې هر څه بد وو. دواړه، بختورین او کلویوشینکوف پوه شول چې د اسیر سفیر په پرتله، یرغمل کوونکي خپل ځان ډېر د حالاتو یرغمل ننګېري. دوی پوه شول چې دوی پخپله په داسې وضعیت کې نښتي دي چې هېڅ کله یې باید نه وی پیل کړی. داسې برېښېدل چې د کابل مېلمستون په ۱۱۷مه کوټه کې یرغمل کوونکي پخپله پرېکړې نه کوي، بلکې د بل چا ناشولته غوښتنې لاربښوونه ورته کوي. د سفیر د یرغملولو په وخت کې دوی ډېر ارامه او بې ځوره (شور او غوغا) ښکارېدل، خو اوس کوم شي د دوی ارامي له منځه وړې وه او دوی ته داسې څه کرار کرار څرګندېدل چې دوی یې وړاندلیدنه نه وه کړې. سړی پرې پوهېده چې دوی په ډېرېدونکې توګه تېرا کېږي او خامخا هغه شېبې ته ورنږدې کېږي چې ډېر عادي شی به په بشپړه توګه د دوی رواني حالت ګډوډ کړي. که دوی  د داسې رواني حالت سره مخ شول، طبیعي ده چې د حل یوه منطقي لاره به ونه لټوي. برعکس، کېدای شي دوی یو لاشعوري عمل ته مخه کړي او لکه ناچاره ښکاري ځناور پر هغه چا برید وکړي چې د سفیر د ازادولو هڅه کوي.
له بلې خوا، د امریکایانو کړنې هم عجیبې وې. دوی داسې چلند کاوه لکه د دوی مالومات چې د شوروي افسرانو په پرتله ډېر وي. داسې ښکارېدل چې دوی د داسې پېښو پرمختګ ته تم وو چې یوازې دوی پرې پوهېدل او داسې یې ښودله چې د دغې پېښې پایله به ټیک هغسې وي لکه دوی یې چې تمه کوي. په دې وخت کې داسې برېښېدل چې د سفیر ازادول د دوی لومړیتوب نه و، لکه دوی چې داسې ډېر مهم شی چې یوازې دوی ته مالوم و په زړه کې ساته.
خو دا تر ټولو عجیبه پېښه نه وه چې د فبرورۍ په څوارلسم سهار په کابل کې رامنځته شوه. داسې برېښېدل چې سره له دې چې جګړن ټرون د یرغمل ازادولو لپاره د عملیاتو مشري کوله، ده هڅه کوله چې له هغه بې کچې ډېر حساس او بېخونده وضعیت څخه ځان تېر کړي چې دغه سهار رامنځته شوی و. په وار وار به د امریکایانو له سترګو پنا شو، لکه خپلو نېږدې سلاکارانو ته چې لاړ شي چې وضعیت ورته بیان کړي او یا له دوی څخه سلا واخلي. ټرون هغه وخت ډېر تېرا شو چې امستوز ترې وپوښتل چې ایا افغان مشران د سفیر له یرغمل کېدو څخه خبر دي او که خبر دي، د دوی غبرګون څرنګه و. دغه پوښتنې
www.samsoor.com

ټرون وشرماوه او د غوسې ننګېرنه (احساس) یې وکړه. ده په ځواب کې وویل: «ما ملګري امین ته ټیلفون وکړ، خو پیدا مې نه کړ.»
په عین وخت کې، هغه څه چې د کابل په مېلمستون کې پېښېدل په یو داسې ښېل حقیقت بدل شول لکه د مرګ او ژوند ترمنځ کابو یو مرموز واټن. ترټولو بې خونده هغه ټیټ پوړي پولیس یا هغه جنګیالي وو چې یوازې د وژلو او ویجاړولو لپاره روزل شوي وو. دوی د ۱۱۷مې کوټې د څېړۍ په غټه دروازه کې سترګې ښخې کړې وې، په وار وار یې داسې ورته کتل لکه د خپلو شته غوراویو ارزونه چې کوي. داسې ښکارېدل چې دوی باور نه کاوه چې د دوی په هېواد کې هم دا شونې ده چې له داسې ځیرکو چلونو او پېچلو وسیلو څخه کار اخیستل کېږي لکه د نورو پرمختللو هېوادونو د ځانګړو ځواکونو په واک کې چې دي او په ښکاره دوی له دغه حقیقت څخه دومره لیرې نه وو.
هغه د ګازو ډبې چې د داود د واکمنۍ په وخت کې او ښایي لا مخکې د جرمني فدرالي جمهوریت افغان پولیسو ته ډالۍ کړې وې راوړل شوې. پیپونه په ډبیو کې ورکړل شول او نلکۍ یې پرانیستل شوې. ډبیو پسارې پیل کړ، خو وروسته مالومه شوه چې د ګاز د کارنتوب نېټه ډېره پخوا تېره شوې وه، دې هم د تکتیک اړنګمنه ښه لا ډېره کړه.
افغان ښې ویشتونکي هم راورسېدل او مخامخ د افغانستان بانک په کوټو کې ځای پرځای شول. دوی په خپلو لیرکتونو کې د هغه کړکۍ په کتلو ډېر وخت تېر کړ چې دوی ته ښودل شوې وه، خو دوی نه غوښتل چې ډز وکړي او ویل یې چې د لمر د وړانګو څرک یې مخنیوی کوي. ټرون او سیف الدین به کله کله ۱۱۷مې کوټې ته ورنېږدې شول او په لوړغږي (megaphone ) کې یې ترهګرو ته خبرې کولې. پولیسانو هڅه وکړه چې ترهګر په دې قانع کړي چې د دوی د غوښتنو د ترسره کولو په تړاو د ستونزو د حل لپاره نور وخت ته اړتیا لري، خو حقیقت دا و چې د ترهګرو د غوښتنو د ترسره کولو په هکله هېڅ کړنه نه وه ترسره شوې او بل دا چې د دوی اصلي غوښتنه خو هېڅ نه شوی پوره کېدای ځکه چې باحس ډېر وخت مخکې له منځه تللی و. پولیسو په دې هیله ځنډ رامنځته کاوه چې د دغه وضعیت د حل لپاره یوه لاره پیدا کړي. دا ډېره شونې ده چې هغه چا چې ژمنې کولې او ژمنو ته یې غوږ نیوه پوهېدل چې هر څه درواغ دي. دغسې کړنو او ژمنو د خبرو اترو بهیر بې ګټې او له ننګېرنو تشاوه، هر څه هسې تشریفاتي وو. د غرمې په شاوخوا کې امریکایانو د ټرون په وسیله له ترهګرو وغوښتل چې له سفیر سره د خبرو فرصت ورکړي. ترهګرو په دې شرط دغه غوښتنه ومنله چې خبرې به په انګرېزي ژبه وي. که د ډېر د غږ ارزونه وشي، د نوموړي روحیه اوچته وه. ده له خپلو دیپلوماتانو سره په سېکمنتیا خبرې وکړې او حتی د ټوکو هڅه یې هم وکړه. سفیر وویل چې ښه دی او دغه «ښاغلي» چې دی یې نیولی ډېر ښه چلند لري. بختورین او کلویوشینکوف یو او بل ته وکتل. دوی ته دا ناشونې برېښېده چې په دغسې حالاتو کې یو سړی دومره

ارامه او باورمن وي. ډېز داسې خبرې کولې لکه چې په بشپړه توګه ډاډ ولري چې هر څه به سم پای ته ورسېږي.
ترینګلتیا د څېرې دروازې په دواړو خواو کې خلک ستړي کړل. داسې ښکارېدل چې دوی د پایلې په تمه د دغه ننداري په کتو ستومانه شوي وو.
د یوې پایلې لپاره ترهګرو لومړنی ګام واخیست. د وره له شا څخه یو ترهګر په هسک او ټيټ غږ اوچت ووېل چې د دوی د غوښتنو د پوره کولو مهلت پای ته رسېږي. د ده د خبرو پر بنسټ، که د دوی غوښتنې ژرترژره ترسره نه شي، چمتو دي چې سفیر ووژني. په څواب کې ترون چې د خبرو ویې یې په ډېر پام غوره کول او په خبرو کې یې اوږدې دمې کولې وویل چې د ترهګرو د غوښتنو په ترسره کولو کې ستونزې کرار کرار په بریالیتوب هوارېږي: «تاسې به د چارواکو د
ښه نیت نښه ډېر ژر ووینی. بدرالدین باحس همدا اوس مېلمستون ته په لاره کې دی.»
ترهګرو پرته له نورو ناندریو ومنله چې لس نوري دقیقې تم شي. د دروازې شاته څینې داسې اوچت غږونه اورېدل کېدل لکه چې ترهګر په خپل منځ کې ناندرۍ وهي او سفیر ډېز ته څه شی څرګندوي. ورپسې ترون، امستوز او چارلې ته مخ واړاوه او ویې ویل: «د دروازې له لارې باید پر کوټه یرغل وشي. زه فکر کوم چې موږ باید په راتلونکو څو دقیقو کې یرغل
پیل کړو. بیا به د ښاغلي ډېز د ازادولو لپاره بل فرصت پیدا نشي.»
د امریکایي سفارت د امنیت افسر خپل لاسونه داسې وخوځول چې د اعتراض څرګندونه یې کوله. د ده پرېکنده چلند او د خبرو بڼه له یو او بل سره په ټکر کې وو. ده په اړنګمن غږ ووېل: «هڅه وکړه چې لږ نور مهلت ترلاسه کړې.» ترون تري وپوښتل: «نور مهلت به موږ ته څه راکړي؟ د هرې شېبې په تېرېدو سره د سفیر د وژل کېدو شونتیا ډېرېږي. همدا اوس د عمل وخت رارسېدلی.» امستوز په اندېښمنه بڼه وپوښتل: «خو که تاسې همدا شېبه یرغل پیل کړی، د ښاغلي ډېز د خوندیتوب ضمانت څرنګه کېدای شي؟»
کلویوشینکوف هم دغو خبرو ته ورګډ شو او ویې ویل: «زه یو نظر لرم.»
شوروي سلاکار نه غوښتل چې وخت ضایع شي. ده په مېلمستون کې یوه داسې کوټه لا د مخه کتلې وه لکه په کومه کې چې ډېز ساتل کېده. د کوټې له بشپړې ارزونې څخه وروسته، نوموړي د ډېز د ژغورنې عملیاتو لپاره یو پلان جوړ کړ. پلان داسې و چې ډېز به په یو ټاکلي وخت کې تشناب ته د تګ غوښتنه وکړي. تشناب د کوټې د وره په ښي لوري کې و. ژغورونکي به د کوټې د وره کولپ د ماشیګنې په مرمیو له منځه یوسي. دا ښه پلان و، خو سفیر به څرنګه خبر کړل شي چې په یو ټاکلي وخت کې له ترهګرو څخه تشناب ته د تګ اجازه وغواړي؟ داسې بربښېدل چې یرغمل نیوونکي افغانان په انګرېزي ژبه پوهېدل؛ نو په انګرېزي ژبه خبرې شونې نه وې. کلویوشینکوف د بختورین په وسیله پوښتنه وکړه: «ښاغلی
www.samsoor.com

ډېر په کومو نورو ژبو پوهېږي؟» د امریکايي سفارت سیاسي سلاکار، فلټېن Flatin وویل چې په روسي ژبه پوهېږي. ورپسې امستوز زیاته کړه: «په جرمني هم پوهېږي. دی لکه زه جرمني ریښې لري.» کلویوشینکوف په خوشالۍ وویل: «ډېر ښه؛ نو زه له تاسې څخه غوښتنه کوم چې د وره تر شا له سفیر سره وغږېږئ. خپلې خبرې په انګرېزي پیل کړئ او ورپسې یو څو ویې په جرمني داسې ورته ووایئ چې د دغو ببرا ګانو ورته پام نشي. موخه دا وه چې سفیر وهڅول شي چې ځان ناروغه واچوي. دی باید د اسهال او کانګو هڅه وکړي او تشناب ته د تګ اجازه وغواړي. په تشناب کې دې ور په ځان پسې تر هغه وخت پورې کولپ کړي تر څو چې هر څه پای ته نه وي رسېدلي.

کله چې ترون په پلان پوه شو، ډېر خوښ ښکارېده. ده وویل: «زموږ خوښه ده.» بیا یې لوړغږی امستوز ته ورکړ او ورته وېې ویل: «سفیر ته ووایه چې چېرته باید پټ شي.» امستوز ومنله او په اطاعت یې لوړغږی واخیست.

کله یې چې په انګرېزي ژبه له سفیر څخه د ده د حال پوښتنه وکړه، امستوز په ډېره چټکۍ او په داسې ګونګه بڼه په جرمني څو خبرې وکړې چې یوازې د دغه ژبې سیمه ییز خلک پرې پوهېدل. ترهګر سمدلاسه پوه شول چې خبره بل څه ده. دوی غوښتنه وکړه چې امستوز چوپ شي او په اعتراض یې چیغې پیل کړې. د ترهګرو له داسې غبرګون سره سره، د دې هیله شته وه چې دغه ساده پلان به کار ورکړي، خو دغه هیله ژر مړه شوه. هغه پولیس چې د ماشینګنې د راوړلو لپاره لېږل شوي وو ځنډ وکړ. دوی د ۱۱۷مې کوټې له دروازې سره شل دقیقې وروسته رانښکاره شول، داسې وخت چې سفیر له تشناب څخه بېرته راوتلو ته اړ ایستل شوی و. کلویوشینکوف د یو بل پلان د جوړولو وړاندیز وکړ. په عین وخت کې ترهګرو غوښتنه وکړه چې بهرني خبریالان باید د کابل مېلمستون مخ ته راغونډ کړل شي او د هېواد مشر باید پخپله له دوی سره خبرې اترې وکړي. ترون وخندل: «ولې نه. موږ باید دوی ختم کړو. اوس پر کوټې باندې د برید وخت رارسېدلی دی. کلویوشینکوف په ځواب کې ورته وویل: «راځئ چې پر یو نوي پلان وغږېږو.» بیا یې ورو وویل: «زموږ شاوخوا ته ډېر غوږونه دي. راځئ چې یو ارامه ځای ته د خبرو لپاره لاړ شو.»

ترون، سیف الدین، کلویوشینکوف، بختورین او کوڅیپوف د کابل مېلمستون د مشر دفتر ته لاړل. ترون سمدلاسه وړاندیز وکړ چې دوی باید په پرېکنده کړنې د کوټې ور په ماشینګنې له منځه یوسي او پر کوټې یرغل وکړي. بیا حالاتو ته په کتو سره هغه څه وکړي چې اړین وي. کلویوشینکوف ورته وویل: «نو ته باید پوه شې چې دغه کار به د سفیر ژوند په لوی خطر کې واچوي. دغه کار به په عمل کې د سفیر د ژوندي پاتې کېدو فرصت له منځه یوسي.» ترون په ځواب کې ورته وویل: «خو موږ د حل کومه بله لاره نه لرو.» بیا یې یو چا ته چې لوړپوړی چارواکه ښکارېده تیلفون وکړ. ترون خپل مشر ته «د شوروي سلاکارانو د سرتمبګۍ» په هکله سرټکونه وکړه. د ترون د خبرو پر بنسټ، د دوی د ژغورنې په عملیاتو کې

کلویوشینکوف لاس وهنه کوي. کله یې چې په تیلفون کې خبرې خلاصې کړې، تړون په بریمنه بڼه دغه سلاکار ته وویل چې د دوی په کورنیو چارو کې د لاسوهنې حق نه لري.

الکساندر کلویوشینکوف په غوسه له دفتر څخه ووت او په دالان کې یې وویل: «یوه داسې خطرناکه او شوده پرېکړه وشوه چې که ترسره شي، د سفیر ژوند به په بې کچې لوی خطر کې واچوي. ما د اعتراض هڅه وکړه، خو زه په ډېر سپکاوي څنډې ته کړل شوم. دا به ښه وي چې ترهګرو ته یوه الوتکه ورکړل شي چې له سفیر سره دربیم هېواد ته لاړ شي.»

تړون دویم پوړ ته لاړ. اوس دی یوازینی کس و چې د دیپلومات د برخلیک ټاکنې عملیاتو مشري یې کوله. هلته لږ تم شو. بیا یې ټولو هغه کسانو ته چې په عملیاتو کې نېغ ښکېل نه وو نغوته وکړه چې له وره څخه لیرې لاړ شي. امستوز پوه شو چې څه په پېښېدو دي او ده ته به دا ښه وي چې نه په عملیاتو کې برخه واخلي او نه د عملیاتو بهیر ووینې. دی سترې او اوتر و او د دغو عملیاتو په پایله پوهېده. دی خپلو پښو ته په کتو سره په دهلېز کې له دغې کوټې څخه لیرې لاړ.

افسران چې د زغره واسکټونه یې اغوستي وو او د دویمې نړیوالې جګړې د پېر اوسپنیزه خولۍ یې پر سر وې، په چوپتیا او چټکۍ د ۱۱۷مې کوټې دروازې ته نېږدې شول. یو تر ټولو دنګ افسر چې کلاشینکوف ورسره و پر دروازې باندې ډزې پیل کړې. یو بل افسر په دروازه ماتونکې کوندې دروازه ووهله او په عین وخت کې له بانک څخه نښې ویشتونکو ډزې پیل کړې. د کوټې دروازه پرانیستل شوه او پولیسانو له دروازې څخه په لویه کچه د کوټې د ننه ډزې وکړې او کوټې ته ننوتل. تړون په دوی پسې و او په خپلې ځرخې تومانچې یې دوامداره ډزې کولې.

ډزو له پنځلسو ثانیو څخه ډېر دوام و نه کړ. داسې برېښېدل چې ترهګرو د یرغل تمه نه لرله. یو د شا پر تخته پروت و او پښې یې د دروازې په لوري غځېدلې وې. داسې برېښېدل چې ګولیو دوه یارده (یو متر او دوه اتیا سانتي متره. ژباړن) شاته ټېل وهلی و. ده په تغهارې سا ایستله او رېږدېده. یو بل ترهګر پر قالینه ناست او پر کوچ یې تکیه کړې وه. نوموړي خپله خېټه پر خپلو لاسونو پټه کړې وه. دی په ګولۍ لګېدلی و، خو تراوسه ژوندی و. سترګې یې مړې او بې خوځښته وې. ده په چوپتیا دعاوې کولې. تړون پرته له کوم زړغیتوب څخه دواړه پر سر وویشتل. دربیم ترهګر پر مخ په غولي پروت و او په داسې حال کې چې د مرګ سلګۍ یې کولې، یوه موزه یې د یوې څوکۍ پر پښه لګېدله چې غږ ترې راپورته کېده. ده ته څېرمه، د تشناب د دروازې ښۍ خواته اډولف ډېر غونج پروت و او په سختۍ یې ژوره سا اخیسته. شاوخوا یې د وینو ډنډ جوړ و. د تړون دې ته پام شو چې د ډېر وینې څرنګه د مخ پر مرګ ترهګرو وینو ته ورو‌بهېدلې او ورسره ګډېدلې.

امریکايي ډاکترانو چې د ډبز د مړي څېړنه وکړه ووېل چې د سفیر په مړي کې د اتوماتیکو وسلو او څرخي تومانچې لس ګولۍ وموندل شوې. دوه يې په ټټر او درې نورې يې په سر کې ننوتلې وې. د ده په جامو کې د باروتو پاتې شونو وښوده چې ډزې له ډېر نېږدې واټن څخه شوې وې، خو چا پرې ډزې وکړې؟ ټولو هغه امریکایانو چې د پېښې په ځای کې وو ووېل چې دوی په کوټه کې ډزې وانه اورېدلې. دا په دې مانا وه چې سفیر د یرغل په ترځ کې وژل شوی و. داسې برېښېدل چې ډېره شونې وه چې په لوی لاس وژل شوی وي.

افسرانو ټولې هغه وسلې راټولې کړې چې د مړیو شاوخوا ته پرتې وې. د سفیر روغې رمټې عینکې يې هم اوچتې کړې. دوی یو دیپلومات بکس چې د ډبز څنګ ته پروت و پرانیست. په بکس کې یو دستمال، د غاښو بورس او نور د تشناب داسې توکي وو چې سرې يې د یو اوږده یون لپاره له ځان سره اخلي.

د امریکايي سفیر د مرګ خبر ډېر ژر په ټول ښار کې خپور شو. په لومړیو کې د ګنګوسي په څېر، خو بیا د کابل رادیو په ماسپښیني خبرونو او افغان تلویزیون د شپې په خبرونو کې د ده د مړینې خبر خپور کړ. سبا ته ټولو افغان ورځپاڼو د پېښې په هکله رسمي مالومات خپاره کړل.

کله چې د کې جي بي شنونکی، ولادیمیر ختییف دغه سهار خپل کارځای ته ورسېد، ده د انیس سهارنۍ ورځپاڼې ته وکتل. لومړی يې په ډېر ځیر د ډبز او د وژل شوو ترهګرو انځورونو ته وکتل او ټولو جزیاتو ته يې پام کاوه. بیا يې په کابل مېلمستون کې د پېښې په اړه د مالوماتو لوستل پیل کړل. دغه ورځپاڼې د ډبز ژوندلیک هم خپور کړی و. د لوستلو په ترځ کې د ختییف په جرمني کې د یو ښار نوم ته پام شو چې د پارسي ژبې په تورو سم نه و لیکل شوی. ډبز د خپل ژوند په لومړیو کې دلته دنده ترسره کړې وه. ولادیمیر ښکته کتابتون ته لاړ چې په یو اطلس کې د جرمنی دغه ښار ولټوي. ده په پارسي کې لیکل شوي نوم ته ورته بېلابېلې بڼې لکه ګولمبخ، کالبخ او کولمبخ ولټولې، خو داسې څه يې ونه موندل چې هغه نوم ته ورته وي چې په ورځپاڼه کې چاپ شوی و.

کله يې چې متن ولوست، ولودیا يې په څېړلو له نېږدې پیل وکړ او هڅه يې کوله چې د متن له بڼې په دې پوه شي چې د ډبز د مړینې په هکله د دې خبر لیکوال ته څه ډول دستور ورکړل شوی. په خبر کې لیکل شوي وو: «عالیقدر اډولف ډبز د افغانستان دوښمنانو ووژه. په خواشینۍ او غم خبر راورسېد چې پرون د ۱۲:۳۰ بجو په شاوخوا کې د هغو دوه اړخیزو ډزو په پایله کې چې څو ترهګرو - د افغانستان دوښمنانو- پیل کړې، عالیقدر اډولف ډبز، په کابل کې د امریکا واکمن سفیر ووژل شو.»

ختييف له ځان سره فکر وکړ: «ښه، سفير ووژل شو. د متن پر بنسټ، د هغه دوه اړخيزو ډزو په پايله کې ووژل شو چې پيل يې څو ترهګرو وکړ؛ نو سفير چا وواژه؟ ترهګرو او يا د امنيتي ارګان مامورينو؟ د چا ګولۍ مړ کړ؟ په دې متن کې دغه مهم ټکی نه دی روښانه شوی. په متن کې راغلي: د نهو بجو په شاوخوا کې کله چې عاليقدر له خپل استوګنځي څخه د سفارت په لور روان و، د ده ګاډی په داسې ځای کې ودرول شو چې د امريکا له کلتوري مرکز څخه ليرې نه و. څلور پوليسان چې د ترافيکو يونيفورم يې اغوستی و، سفير ونيوه او ګاډی چلوونکی يې اړ ايست چې کابل مېلمستون ته يې ورسوي. وسلوالو ترهګرو سفير مېلمستون ته په زور بوت او هلته يې په يوه کوټه کې ايسار کړ.

ولاديمير سوچ وکړ: «' د نهو بجو په شاوخوا کې'، ترهګرو ښه وخت غوره کړی و. دا د ګڼې ګوڼې وخت دی او هغه څوک

چې په واټونو او دفترونو کې د امنيت ساتلو دنده لري، په دغه وخت کې دومره څک نه وي. دغه کسان په تياره کې ډېر څک وي. د معمول په توګه، د ورځې رڼا د سرې پر روان اراموونکی اغېز لري. بل دا چې 'ګاډی داسې ځای درول شوی و چې د امريکا له کلتوري مرکز څخه ليرې نه و' ، د سرې تښتولو لپاره عجيب ځای. د سهاره ډېر امريکايان او نور بهرنيان شاوخوا په دغه ځای کې وي چې خپلو کارونو ته راځي او خپل ګاډي پارک کوي. ايا د دوی به دې ته پام نه وي شوی چې ترافيک د سفير داسې ګاډی دروي چې د امريکا توغ پرې رپېږي او بيا ګاډي ته ورننوځي؟ لاروېو به دا پېښه نه وي ليدلي او د نورو پام به يې دې ته نه وي اړولی؟ د امريکا کلتوري مرکز ته څېرمه د پوليسو يوه پوسته شته، يو چا ډزې پيلولی شوای او ترهګرو ته به بيا سخته وای چې وتښتي. ښايي د دې لاملونه شته وي چې ولې ترهګرو له يوې بالقوې ناکامۍ څخه وېره نه لرله او يا ښايي دوی د ناڅاپي پر اغېز ډېره لګولې وي.»

په راپور کې 'څلور ترهګر ...' ليکل شوي وو. دلته د رسمي خبر ليکوال غوښتل داسې وښيي چې څلور واړه ترهګر له پيل څخه تر پای پورې يوځای وو - د دې ليکل ولې اړين وو؟ دا ښکاره وه چې داسې ليکل دوی ته د دې فرصت ورکوي چې د هغه مرکچي د وژنې په هکله څه ونه وايي چې د ترهګرو استازولي يې کوله او د ژغورنيزو عملياتو په ترڅ کې په ۱۱۷مه کوټه کې نه و. موږ او ډېر نور خلک پوهېږو چې دغه مرکچي جوړ او روغ خپل ځان افغان امنيتي چارواکو ته سمدستي وسپاره چې دوی د سفير د ازادولو په بدل کې د ترهګرو له غوښتنو او شرطونو څخه خبر کړي، خو بيا هم، دی ووژل شو، د څه لپاره؟ سليم عقل او قانون وايي چې له ده څخه بايد پوښتنې ګروېږنې شوې وای او محاکمه شوی وای. سمه ده، که داسې وګڼل شي چې له ده څخه پوښتنې ګروېږنې وشوې، خو که د پوښتنو ګروېږنو او يا د محاکمې په ترڅ کې نوموړي داسې څه ويلي وي چې هېڅوا يې ورېاندوينه نه وي کړې؟ نو ډېره شونې ده چې دی ځکه ووژل شو چې خوله يې ورپټه کړي.

www.samsoor.com

ښه، وړاندې لیکل شوي چې سفیر یې ونیوه او ګاډی چلوونکی یې اړ کړ چې دوی د کابل مېلمستون ته ورسوي. عجیبه ده، ولې ډېز ګاډي چلوونکي ته د درېدلو اجازه ورکړه؟ ولې یې د ګاډي دروازه پرانیسته؟ زه یو سفیر نه یم، خو حتی زه چې یو دیپلوماتیکي نمبرپلېټ لرم د ترافیکو د داسې امر اطاعت به و نه کړم. دا ډېر عجیب برېښي.
د 'کابل مېلمستون...' دا د اوږدې مودې لپاره د یرغمل ساتلو لپاره سم ځای نه دی. د بهرنیو رسمي پلاو د راتګ له کبله په دغه ورځ د مېلمستون امنیت مظبوط شوی و. د ۱۱۷مې کوټې مخامخ دېرش متره هاخوا د بانک بالکن و چې د مېلمستون دغه کوټه سمه ورته ښکارېده او ډزې ترې کېدای شوی. ترهګرو ته به دا ډېر خوندي او اسانه وی چې په کوټه کې ځان بند نه کړي او په ګاډي کې پاتې شي. دوی به د خوځښت ډېر فرصت درلودلی. دوی له سفیر سره هرځای تللی شوی، خپل ملګری، بدرالدین به یې راپورته کړی وی، ورپسې به بل ځای تللي وی، هلته به یې سفیر پرېښی وی او دوی به ګاډی بدل کړی وی.
په دغه خبر کې لیکل شوي چې د امنیت مسلکي ارګانونو ډېره هڅه وکړه چې ډېز په خوندي توګه د ترهګرو له منګولو
ځخه وژغوري، خو ترهګرو داسې نه غوښتل... ځوک به پخپله دا ومني چې سم کار یې نه دی کړی او یا غلطه ارزونه
یې کړې ده؟
سربېره پر دې، ترهګرو د بدرالدین باحس په نوم د یو سړي ازادول غوښتل، داسې سړی چې په افغانستان کې نشته او ځای یې مالوم نه دی. په ټولو خبرو اترو کې ترهګرو پر دغه غوښتنې ټینګار کاوه، خو د دغه غوښتنې ترسره کول ناشوني وو. دا په زړه پورې ده چې ولې دواړو لوریو ځان په نادانۍ اچولی و. بې اړنګه، تړون ښه پوهېده چې دغه سړی چې ترهګر یې د خوشې کولو غوښتنه کوي په افغانستان کې نه و. ولې تړون له ترهګرو پوښتنه و نه کړه چې بدرالدین چېرته دی، دی یې چېرته ولټوي او د ده د راوستلو ترټولو ښه لاره کومه ده؟ راځئ چې داسې وګڼو چې تړون غوښتل چې نور وخت ترلاسه کړي، خو ترهګرو ولې د خپلو غوښتنو په تړاو داسې یو رسمي دریځ غوره کړی و؟ ولې دوی له افغان چارواکو ځخه پوښتنه و نه کړه چې د دوی غوښتنې به ځرنګه ترسره کوي؟
بیا لیکل شوي و چې د ۱۲:۳۰ بجو په شاوخوا کې ترهګرو ګواښ وکړ چې که په لسو دقیقو کې یې غوښتنې ترسره نشي، سفیر به ووژني. دا داسې برېښي لکه دوی چې درې ساعته خوب کړی وي او بیا ناځاپه ویښ شي. په زړه پورې خو دا ده چې یوه غوښتنه چې په دریو ساعتونو کې نه ترسره کېږي، ځرنګه په لسو دقیقو کې ترسره شي. دلته جدیت نه ترسترګو کېږي او نه شتون یې له دغه ډرامې سره سمون نه لري، د سفیر او د ترهګرو ژوند په خطر کې و. دا څنګه کېدای شي چې یو سړی په دغسې حالاتو کې جدي نه وي؟

وروسته لیکل شوي وو چې امنیتي ځواکونو چې دغه ګوانښ ترلاسه کړ لاس په کار شول چې د لسو دقیقو له تېرېدو څخه مخکې سفیر وژغوري چې په پایله کې ترهګرو پر سفیر ډز وکړ او ټپي یې کړ... دا ټول رېښتیا ښکاري، خو پرته له دې خبرې چې 'ترهګرو پر سفیر ډز وکړ'. زموږ کارکوونکو وویل چې یوازې پولیسو ډزې کولې، خو د داسې درواغو په وجه سړی پوهېدای شي. بې اړنګه، افغانانو یو داسې رسمي راپور نشوی لیکلی چې امریکایانو ته ووایي: «زموږ ګرانو امریکایي ملګرو، موږ وبښئ. زموږ سړیو کار مردار کړ او ټول یې ووژل، دواړه، یرغمل شوی او یرغمل کوونکي.

کله یې چې د رسمي راپور لومړنی شننه بشپړه کړه، ختییف د سفیر ژوندلیک په ځیر ولوست: د ۱۹۲۰ کال د اګست په میاشت کې د امریکا په الینایز Illinois کې زېږېدلی، په ۱۹۴۲ کال له کالج څخه فارغ شو. له ۱۹۴۲ کال څخه تر ۱۹۴۶ کال پورې یې د افسر په توګه د امریکا په سمندري ځواکونو کې دنده ترسره کړه. په ۱۹۵۰ کال یې د امریکا د بهرنیو چارو په وزارت کې دنده پیل کړه. له۱۹۵۰کال څخه تر ۱۹۵۲کال پورې یې د ملکي مامور په توګه د جرمني فدرالي جمهوریت د ګلبخ؟ په ښار کې دنده ترسره کړه. له ۱۹۵۲کال څخه تر ۱۹۵۴کال پورې په لایبېریا کې د امریکا د سفارت په وېته یېزه څانګه کې په دنده بوخت و. له۱۹۵۴کال څخه تر ۱۹۵۷کال پورې یې په اوتاوه Ottawa (کانادا) کې د امریکا د سفارت په سیاسي څانګه کې دنده ترسره کړه. له ۱۹۵۸ کال څخه تر ۱۹۶۱ کال پورې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د نړیوالو اړیکو په څانګه کې په دنده بوخت و. له ۱۹۶۱کال څخه تر ۱۹۶۳کال پورې په مسکو کې د امریکایي سفارت د سیاسي څانګې مشر و. په ۱۹۶۳او ۱۹۶۴کې یې په یو کالج کې کار وکړ. له ۱۹۶۴کال څخه تر ۱۹۶۸کال پورې د امریکا د بهرنیو چارو په وزارت کې د شوروي څانګې مشر و. په ۱۹۷۱او ۱۹۷۲کلونو کې یې د بهرنۍ پالیسۍ په کورسونو کې زده کړې وکړې. له ۱۹۷۲ کال څخه تر ۱۹۷۴کال پورې په مسکو کې د امریکا د سفیر سلاکار و. له ۱۹۷۵کال څخه تر ۱۹۷۸کال پورې د منځنۍ او سوېلي اسیا د څانګې مرستیال و. د ۱۹۷۸ کال د جولای په دوولسمه په افغانستان کې د امریکا د واکمن وزیر په توګه وګمارل شو.

د ولادیمیر په اند دغه ژوندلیک لنډ ښکارېده، په تېره بیا ښایي د یو ۵۲ کلن دیپلومات لپاره ډېر لنډ و، خو

امریکایان ولې یو مفصل ژوندلیک افغانانو ته ورکړي؟ همدومره یې بسنه کوله. هغه څه چې عجیب وو د داسې سیمې ناچاره وضعیت و چې دغه سفیر پکې ګمارل شوی و. ایا دا شکمن بربښي؟ کېدای شي، خو یوازې هغه وخت چې څوک پر ډېر شکمن وي چې نوموړي سي ای اې ته کار کاوه، او که نه دغه ژوندلیک نورمال ښکارېده ځکه چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت کاري بڼه همدغسې وه.

www.samsoor.com

د ۱۹۷۳ کال په شاوخوا کې د ډېز کاري مودې د دغه شننونکي ناټ وپاراوه. ده په ځینو برتانیوي ژورنالونو کې ولوستل چې ډېز په چلي کې وخت تېر کړی و او حتی د یو امریکایي مامور په توګه د چلي قانوني ولسمشر، سلوادور الینډې Salvador Allende پر ضد د پینوچې Pinochet په توطیه کې ښکېل و. د ډېز د رسمي ژوندلیک پر بنسټ، دغسې څه هېڅ کله نه و شوي. په ژوندلیک کې یې لیکل شوي وو چې په ۱۹۷۲ کال نوموړی په مسکو کې و، یعنی زموږ تر ښار لاندې.

کله یې چې په دې اړه ورځپاڼه لوسته، ختییف په خپله کتابچه کې یادښتونه لیکل. دا د ده معموله کارښه وه چې د ازادو سرچینو په شننه کې ورسره مرسته وکړي. ولادیمیر په لنډه توګه داسې ولیکل: د نن سهار په غونډه کې د هغه مالوماتو پر بنسټ چې اوسادچي څرګند کړل، د فبرورۍ په دیارلسم سهار، له یرغمل کېدو څخه لږ مخکې، په همدغه کابل مېلمستون کې اډولف ډېز له داسې خلکو سره ولیدل شو چې دغه ترهګرو ته ډېر ورته ښکارېدل. د امریکا سفیر له داسې سپېرو خلکو سره څه ګډه وجه لرله؟ ولې یې په بکس کې د تشناب داسې توکي ایښي وو لکه چې په یو اوږد یون روان وي حال دا چې خپل کار ته روان و؟ ولې یې په دومره اسانۍ بېګانه خلکو ته اجازه ورکړه چې ګاډي ته یې ننوځي؟ د ده ارامي او د سړې تبنتونې پر ښې پایلې باور یې څنګه توجیه کېدای شي؟

د ده د همکارانو لپاره هم ډېرې پوښتنې شته. ولې د سي ای اې مېشت مشر د دغه پېښې په هکله د جنایت تر کچې بې پروا و؟ ولې زموږ هغو خلکو چې په مېلمستون کې یې پېښې څارلې، د امریکایانو د داسې عجیب چلند راپور ورکړ لکه دوی چې څه شی پټوي؟ په پای کې، پر ترهګرو باندې دومره ناړینه اکاړې څنګه توجیه کېدای شي؟ ټپي ترهګر ووژل شول او ولې د دوی استازی چې پخپله یې چارواکو ته ځان وسپاره په چوپتیا ووژل شو؟ ایا کېدای شي دغه مرکچي بیخي بل څوک و؟ دا شونې ده چې تړون یا په خپل زړه او یا د بل چا په امر د تېروتنې ټولې نښې له منځه وړې وي. ډېرې پوښتنې راپورته کېدې؛ نو د ډېرو شیانو لپاره سوچ ته اړتیا وه.

د پنجشنبې په ورځ، د اونۍ له پای څخه مخکې، سترستین د معمول په څېر له خپلو اجنټانو سره لیدنې کتنې نه کولې. د دې لپاره دوه دلیلونه شته وو. لومړی دا چې سترستین په دې اند و چې وروسته له یوې بشپړې کاري اونۍ څخه، اجنټان له څارګرو مامورینو سره د خبرو په پرتله غواړي له خپلو ملګرو او خپلوانو سره وخت تېر کړي. ارامتیا او دمه سپېڅلې وه. سترستین نه غوښتل چې دغه دمه اخلال کړي. دویم دا چې سترستین دا ننګېرلې وه چې د اونۍ د پای رخصتۍ ته هیلو او تمو د اجنټانو نوښتیزه وړتیا لږوله او

دوی دې ته ګروهنه درلوده چې په ډېره اسانۍ يې پام بلې خواته وګرځي او په ډېرو جدي موضوعګانو فکر و نه کړي؛ نو چې په دغو ورځو کې خپل وخت ضايع نه کړي، سترستين به له هغو بهرنيانو سره ليدنې کتنې کولې چې اجنټان نه وو، خو د ده کار ته ګټور وو. نوموړي به د داسې ليدنو کتنو لپاره خلکو ته په خپل کور کې بلنه ورکوله او يا به يې په يو هوسا رستورانت کې ورسره کتل.

د فبرورۍ په ديارلسمه د پنجشنبې په ورځ سترستين وپتېيله چې له انارشېست سره وګوري. د سهار په بهير کې يې د ټيلفون له يوې غرفې څخه د مېلمستون هغه کوټې ته ټيلفون وکړ چې دغه امريکايي پکې اوسېده. ولېري خپل ځان د جيمي کارټر Jimmy Carter په نوم ورووپېژانده او ورته ويې ويل چې ښه به وي چې د «پخواني ښه ښوونکي» ليدنه وکړي. ده په نغوته ورته وويل چې دی به د ښوونکي يو بوتل ويسکي هم له ځان سره راوړي.

د ماښام په لس کمو اوو بجو ولېري د ليدنې ټاکلي ځای ته ورسېد. ده خپل ګاډی له يوې څېرمې سينما سره ودراوه او د پارک په لاره هغه واټ ته لاړ چېرته يې چې له انارشېست سره کتل. که څه هم دغه مهال هوا سړه شوې وه، خو هوا د وختني پسرلي ښه ورم له ځان سره لېرداوه.

يوه دنګه څېره د واټ په بله خوا کې راڅرګنده شوه. انارشېست يوه تياره زرغونه کرتۍ او د شواړو پايڅو کوبای پتلون اغوستي وو، خپله معموله شپو خولۍ يې په سر او پلاستيکي موزې يې په پښو وې. دوی دواړو له يو او بل سره روغبړ وکړ او يو او بل ته په موسکا يو کوچنې رستورانت ته ننوتل. سترستين له يوې پلاستيکي کڅوړې څخه ويسکي راوايست او د دې په بدل کې يې د رستورانت له چوپړيال سره د پيسو د ورکړې هوکړه وکړه (که څوک له ځان سره د څښاک يا خوراک لپاره څه شي رستورانت ته يوسي، نو د کاب يا ګيلاس د کارونې په پلمه د رستورانت څښتن د پيسو غوښتنه کوي. ژباړن.) دوی لږ ډوډۍ راوغوښته، خو د مزې ځکلو لپاره يې اشک، چې د دغه رستورانت ځانګړې پخلی و، هم راوغوښتل.

سترستين د امريکايي سفير د مړينې په هکله انارشېست ته خواخوږي څرګنده کړه. بيا يې د هغه پېچلو انګرېزي وييو په کارولو سره چې ده مخکې تر مخکې په قاموس کې کتلي وو د ترهګرۍ په هکله خبرې پيل کړې. په هغه وخت کې ترهګري تر ټولو بده بلا وه او د شوروي اتحاد او نورې نړيوالې ټولنې په ګډون په ټولو هېوادونو کې چې هر راز ټولنيز- سياسي نظم يې درلود غمونه رامنځته کړي وو...خو انارشېست، سترستين پرېنښود چې خپله غونډله پوره کړي. ده په مسخرو وويل: «اوښکې دې پاکې کړه، ښاغلی ډېز ستاسې دوښمن و او د دوښمن مړينه هېڅ کله بد خبر نه دی.» سترستين په ځواب کې ورته وويل: «هغه زموږ دوښمن نه و، بلکې زموږ يو سياسي سيال او مخالف و.» د يو انسان په توګه، سترستين په رېښتيا د سفير په هکله خواخوږي لرله.

انارشېست ورته وویل: «که ډېر ستا نېږدې ملګری وی، زه به ستا په ننګېرنې پوه وی، خو ته به په دې کې راسره همغږی وې چې ته خپله خواخوږي د دې لپاره نه څرګندوې چې بوډا کاکا ډېر مړ شوی بلکې د دې لپاره یې څرګندوې چې د سفیر ډېر په اړه د پروتوکول غوښتنه ده. یوه رسمي څېره، د امریکا یو استازی ووژل شو، دا یوه رسوایي ده. دی د خپلې رسمي څوکۍ یرغمل او قرباني شو. د یو انسان په توګه یې هېڅوک پروا نه لري. ایا دی یو انسان و؟ څوک پوهېږي؟ ته پوهېږې؟ نوموړی پرته له یو کمپیوټري بیروکرات څخه بل څه و؟ ایا دی کوم وخت پرته له یوې داسې شطرنج دانې څخه چې سیاسي ماشین ایسته واچاوه بل څه و؟ سمه ده چې دی د امریکا د سفیر په څوکۍ کې ناست و. ده خپله سیاسي او ټولنیزه ونډه لوبوله، خو دی د سطرنج یوه داسې دانه وه چې د یوې پېچلې لوبې په ترڅ کې له لاسه ورکړل شو او یا قرباني شو، د سطرنج په یوه داسې نړیواله لوبه کې چې په کابل کې ترسره کېږي.»
سترستین غوښتل چې انارشېست خپلو څرګندونو ته تفصیل ورکړي؛ نو داسې یې وپوښتل: «د سطرنج یوه داسې دانه
چې قرباني شو؟ ایسته واچول شو؟»
انارشېست ورته وویل: «هو، همداسې ده. دی ایسته غورځول او یا قرباني کېدای شوی. دی د سطرنج په تخته کې پرته له یوې دانې څخه بل څه نه و، لکه یوه لس پولۍ چې چاته بخششي ورکړې. ټیک لکه د ده مشران، د واک د زینې په ټولو پاټکیو کې، تر اولسمشر پورې، خو زما په انګېرنه، ولسمشر به د لس پولۍ په پرتله د یوې روپۍ ځای ولري.»
انارشېست خپل ړېرور مخ غونج کړ چې د امریکا د ولسمشر او یا د امریکایي پیسو په اړه خپل اړنګ څرګند کړي او ویې ویل: «دوی ټول داسې لوبغاړي دي چې خپلې هغه ونډې ترسره کوي چې د خپل ټول ژوند لپاره یې زده کړې دي. دوی ټول د ځانګړو احکامو او د هغه ټولنې چې تر دغه احکامو لاندې ژوند کوي مریي دي. دوی د یوه داسې ماشین کوچنۍ برخې دي چې په نسلونو یې وده کړې. دوی هېڅکه په خپله خوښه کومه کړنه نه ترسره کوي او داسې څه کابو هېڅ نشي کولی چې د لوبې د شرطونو پر بنسټ نه وي او هېڅ کله پخپله پرېکړې نشي کولی. هر څه اډول (ترتیب) شوي او ټولې پرېکړې مخکې تر مخکې شوې دي. د ډېر په څېر خلک داسې څوکۍ د دې لپاره نه مني چې ژوند وکړي بلکې د دې لپاره په داسې څوکیو کښېني چې چوپړ وکړي. د دوی ژوند په دوامداره توګه د اخلاقي یا ټولنیزو او یا د دندو د مسولیتونو ترسره کونه دی. دوی هېڅ کله پرته له ترسره کوونکو څخه بل څه نه دي، که ښه یا بد دي، خو ترسره کوونکي دي او یا د هغه احکامو قربانیان دي چې د لوبې د متن پر بنسټ ورکړل شوي دي.»
کله یې چې دغه وینا پای ته ورسېده، انارشېست چوپ پاتې شو او داسې ښکارېده لکه د څه په هکله چې سوچ کوي. ډوډۍ راوړل شوه. د ویسکي له لومړۍ پیالې څخه وروسته په داسې حال کې چې یو بل اشک یې ژوولو او سترستین ته یې کتل چې خپله پیاله بیا ډکوي، انارشېست خپلو جدي خبرو ته دوام ورکړ:

«کله کله زه د ځینو مستندو فلمونو په سونځو( ډېرو ډاروونکو) صحنو سوچ کوم. د هېچکاک Hitchcock د فلمونو صحنې نه یادوم بلکې د دریېمې امپراتورۍ د پېښو په هکله د فلم صحنې یادوم. څو درجنه نازي افسران د زرګونو خلکو ګلې د ګاز خونو ته ورننباسي. په څو دقیقو کې به دا خلک مړه وي. دا تر ټولو وېرووونکې نه ده چې دوی ټول وژل کېږي بلکې تر ټولو سونځ د داسې صحنو کتل دي چه دوی څرنګه په ارامۍ او اطاعت خامخا مرګ ته درروان دي. دوی په لیکه کې خپل ځای په داسې ډېر دقت او پام ساتي لکه څوک چې غواړي د دوی لیکه ماته کړي او یا په لیکه کې نور خلک پر دوی اعتراض کوي چې ولې لیکه بې اډوله کوي. داسې صحنې تا لیدلې دي؟» سترستین ورته د هو سر وخوځاوه. وریسې امریکایي خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «دوی ولې بغاوت و نه کړ؟ ولې یې د خپل ژوند د ژغورلو لپاره یوه وروستۍ ناچاره هڅه و نه کړه؟ ولې یې په ډله ییزه توګه پر ساتونکو برید و نه کړ؟ دوی به څه بایللي وی؟ په دوی څه وشول؟ زما په اند دوی ځکه داسې نه کول چې د ډلې په توګه د دوی فکري بنه د نومورو له فردي فکري بنې څخه توپیر درلود. کله چې دوی په یوه ډله کې یو ځای وي، داسې غرېزې یې اداره کوي چې له فردي غریزو سره توپیر لري.»

سترستین په نېغه له انارشبست څخه وپوښتل: «د هغه ترهګرو په هکله څه فکر کوې چې ډېز یې وواژه؟» انارشبست په ځواب کې وویل: «تا دغه پوښتنه غلطه څرګنده کړه. داسې ترهګر چې ډېز یې وژلی وي هېڅ نشته. ما غوندې ته هم پوهېږې چې سفیر پولیسانو وواژه - کرکجنو، بېړا، ناشولتو او نالوستو افغان پولیسانو او یا ښایي د دې معکوس، داسې هوښیارو او ځیرکو پولیسانو وواژه چې پر موږ برلاسي شول، پر هوښیارو امریکایانو او پر تاسو هوښیارو شورویانو.» انارشبست په لوی لاس څو ځلې د «هوښیار» ویې داسې تکرار کړ لکه خپل بنداروال چې ځوروي. بیا یې وویل: «دا ټول ځکه چې د دوی لاس ډېر خلاص دی، دوی د هغه اصولو پر بنسټ کار نه کوي چې موږ یې پېژنو.»

سترستین ترې وپوښتل: «ستا مقصد څه دی، ته غواړې وواېې چې دا ټول هسې یوه لوبه وه؟» انارشبست په ځواب کې ورته وویل: «ښایي همدغه مې مقصد وي. ته پوهېږې چې «پټه کړنه» څه مانا لري؟» سترستین ځان داسې وښود لکه چې زړغی وي څو د څارګرې نومونپوهنې (ترمېنالوژۍ) په ټراو خپله پوهه پټه کړي.

انارشبست په اوچته او روښانه بڼه په روسي ژبه وویل: «دا د محرمو یا پټو عملیاتو مانا لري.» سترستین ترې وپوښتل: «ایا ته په ضمني بڼه وایې چې دا د څارګرو ادارو کار و؟ د امریکایي او یا د افغان څارګرو ادارو؟» انارشبست بېرته په انګرېزي ژبه ځواب ورکړ: «ولې نه، ولې یې یو ناکامه پټ عملیات او یا د لوړې بیې پټ عملیات ونه ګڼو. ولې دغه پېښه په افغانستان کې د ځینو ځانګړو ځواکونو یوه لویه ننداره ونه ګڼو؟» سترستین د استعارې په تیوریکي بڼه وپوښتل: «او د دغه ننداري موخه؟ د دغه ډرامې متن څرنګه

www.samsoor.com

و؟ جوړونکی producer يې څوک و؟ ولې د سفير ژوند په خطر کې اچول اړين وو؟ دا څرنګه ترهګر وو؟ ولې هغه ترهګر ووژل شو چې په خپله رضا چارواکو ته تسليم شو؟ د ډرامې راتلونکې برخه به څرنګه وي؟»
انارشېست په هغه بڼه پرله پسې ځوابونه ورکړل لکه څنګه چې پرله پسې پوښتنې ترې وشوې: «زه نه پوهېږم. د دې ويل سخت دي. زه هم په همدې اړه سوچ کوم او کله چې د څښلو پرځای سوچ کوم، سر مې په درد شي. زما ګرانه پوښتنياله (کنجکاوه) ملګريه، زه وېرېږم چې زه به هېڅ کله ونه توانېږم چې دغه سونځ راز درسره شريک کړم.»
انارشېست خپله د ويسکي دويمه پياله تر ستوني تېره کړه او يوه بله يې ځان ته واچوله. دی د يوې دقيقې لپاره چوپ پاتې شو، پر مېز باندې بل موباتي (شمعې) ته يې کتل او خپلې نرۍ او رېږدېدونکې ګوتې يې د موباتي پر پاسنۍ څنډې ولګولې. بيا يې وخندل او خبرو ته يې دوام ورکړ: «پرون وروسته له دې چې د ښاغلي ډېبز پر مرګ خبر شوم، سمدلاسه خپل سفارت ته لاړم. هلته فضا ډېره ترينګلې وه، ما ته هېڅا پام و نه کړ. ځينې ډېر بوخت وو، خو ځينو نه غوښتل چې له ماسره خبرې وکړي. دوی داسې ښکارېدل چې له يو او بل څخه پټېږي. ما له ملينافسکي Malinowsky سره لږ خبرې وکړې، ته يې پېژنې. دی په سياسي څانګه کې کار کوي. دی ډېر خپه نه ښکارېده، خو ډېر ځاځمن (په غوسه) و.

سترستين : *پر چا غوسه و؟*

انارشېست: *پر افغانانو. ده هېڅ باور نه کاوه چې د امنيتي کارکوونکو پرځای پوليسو د سفير د ژغورنې دنده لرله. مرېک وارن تر ټولو ډېرې خبرې کولې. دی يو قونسول دی چې ته يې هم پېژنې.*

سترستين: *ده څه وويل؟*

انارشېست: *په ځانګړې توګه؟*

سترستين: *هو.*

انارشېست: *ده راته وويل چې خپله پښه د ده د ګاډي له ټولبکس څخه ليرې کړم او له ده څخه پوښتنې بس کړم. سربېره پر دې، ده وويل چې ده ته دنده ورکړل شوې چې د سفير مړی امريکا ته ولېږي. دا يې هم وويل چې ډېبز ترهګرو نه بلکې افغان پوليسو وواژه، د امين او يا تره کي په امر.*

سترستين: *خو ولې؟*

انارشېست: *په دې اړه يې څه ونه ويل او زه فکر نه کوم چې دی پرې پوهېږي. په عمومي توګه، زه فکر کوم چې دی ټول مالومات نه لري.*

سترستين: *نو څوک په هر څه پوهېږي؟*

انارشېست: *ښايي تورکو، خو زه له ده سره امريکايي فوټبال نه کوم.*

سترستين: *دی دې په سفارت کې وليد؟*

انارشېست: *نه، دی به هېڅ کله له ماسره ونه ګوري. نوموړی د ما لپاره ډېر ځیرک دی.*

سترستین یوې محسوسې پایلې ته اړتیا لرله. ده ډېر غوښتل چې له دغه لیدنې وروسته مرکز ته یو وړ راپور ولیکي؛ نو ځکه یې غوښتل ټولو هغو مالوماتو ته لنډیز ورکړي چې انارشېست د ډېز د وژنې په هکله ورکړل: «نو له ملینافسکي، مربک او په سفارت کې له نورو کسانو سره ستا د خبرو اترو پر بنسټ، ته په دې باور یې چې د سفیر وژنه د کوم هېواد د څارګرې ادارې د ناکامه پټو عملیاتو پایله وه؟ همداسې ده؟»

انارشېست په ډراماتیکه بڼه په روسي ژبه په لوړ غږ وویل: «اه، دغسې هوښیار ارامچکي!»

دوی خپله مابنامنی له شپې بندیز څخه ځلوېښت دقیقې مخکې خلاصه کړه او دواړه بهر ته ووتل. انارشېست خپل مېلمستون ته په یو ټکسي کې لاړ او سترستین چې کنګلیزه هوا سا کوله، کرار کرار د خپل ګاډي په لور روان شو. ستوري په اسمان کې ځلېدل، د اسمان بې پایه توپانې ژوند دوام درلود. ده یو ځلانده لوېدونکی ستوری ولید چې اسمان یې ځیرې کړ.

خپه او ښګومن ولېږي فکر وکړ: «کېدای شي همدغه شېبه ځوک مړ شوی وي. نه، د انارشېست خبرې ریښتیا نشي کېدای. حتی د ډېز یا زما په څېر ملکي مامورین د سطرنج دانې نشي کېدای. که هر څومره موږ کنټرولېږو، خو بیا هم موږ هر یو خپل ستوری لرو چې بې اړنګه ارزښتمن دی. اډولف ډېز هم خپل ستوری درلود، خو کېدای شي ده هېر کړی و.

د ډېز له مړینې څخه یوه ورځ وروسته ډګروال الکساندر کلویوشینکوف له جنجال سره مخ شو. لوېدیځو رسنیو ادعا وکړه چې ده، د افغانستان د کورنیو چارو وزارت سلاکار، د ژغورنې د عملیاتو مشري کوله؛ نو ځکه د دغې لویې ناکامۍ پړه د ده په غاړه ده، خو دغه ادعا یوازې لوېدیځو رسنیو و نه کړه. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیال کرېستفور په امریکا کې د شوروي سفیر، دبرېنېن Dobrynin ته یو ځاځمن (له غوسې ډک) یادښت لیک ولېږه چې پکې لیکل شوي و چې د سفیر په وژنه کې د هغه شوروي سلاکارانو ونډې د امریکا بې کچې غوسه پارولې ده چې د کابل له پولیسو سره یې کار کاوه. ورپسې په مسکو کې د کلویوشینکوف مشرانو ته خبر ورکړل شو.

هېڅا د دې پروا نه لرله چې ټوله پړه پر کلویوشینکوف واچوي. د فبرورۍ په شپاړسمه، نوموړی په مهالیز ډول له دندې

گوښه کړل شو او په کابل کې د شوروي په سفارت کې تر څارنې لاندې ونیول شو. ده اجازه نه درلوده چې له سفارت څخه بهر ووځي. له ده څخه د سمونوالۍ رتبې اخیستلو امر وشو او د شوروي په کورنیو چارو وزارت کې یې له دندې شړلو چارې هم بشپړې شوې. یوازې د یوې رسمي پلټنې ترسره کول پاتې وو. د شوروي بهرنیو چارو وزارت له مسکو څخه یو لوړپوړی بیروکرات کابل ته ولېږه چې په دې اړه پلټنې ترسره کړي.

کله چې په کابل کې د پوزانوف دفتر ته ورسېد، دغه بیروکرات کلویوشینکوف د یوې مرکې لپاره ور وغوښت. کلویوشینکوف چې په دې ورستیو کې یوه رتبه ترې اخیستل شوې وه هڅه کوله چې ځان کابو کړي. ده په کابل مېلمستون کې د پېښو د بهیر په اړه څرگندونې پیل کړې. له مسکو څخه راغلي پلټونکي د ده هغه څرگندونو ته چې ترون نوموړی له عملیاتو څخه وشاړه (په بې کچې سپکاوي یې نېغ امر وکړ) د اړنگ په سترگه وکتل؛ نو له کلویوشینکوف څخه یې وپوښتل: «داسې څوک شته چې ستا د دغه خبرې پخلی وکړي؟» کلویوشینکوف په ټیټ غږ ځواب ورکړ: «زه ثبوت لرم او په خوښۍ یې وروسته تا ته سپارم.» ورپسې یې د عملیاتو د هغه وروستیو شېبو کیسه وکړه چې پولیسو په ۱۱۷مه کوټه برید وکړ چېرته چې سفیر ایسار کړل شوی و. د کلویوشینکوف د خبرو پر بنسټ، یو شوروي سلاکار په ریښتیا په دغه عملیاتو کې برخه اخیستې وه. دغه سلاکار کلویوشینکوف نه بلکې د نهم ریاست یو جگړن و چې د افغان مشرانو د امنیت په تړاو یې د سلاکار دنده لرله. دغه جگړن همدغسې د باران تور کوټ اغوستی و لکه د کلویوشینکوف چې پر تن و او ونه یې هم د نوموړي له ونې سره برابره وه؛ نو ځکه داسې فکر شوی و چې کلویوشینکوف په عملیاتو کې برخه لرله.

د یرغل په بهیر کې ختییف د څېرمه کوټې په بالکن کې ولاړ و او د واټ په بله غاړه کې یې نښې ویشتونکو ته چې په بانک کې ځای پرځای وو په نغوتو لارښوونه کوله. د کلویوشینکوف د خبرو پر بنسټ، نوموړي د امریکایانو مخه ونیوله چې هغه کوټې ته ننوځي چېرته چې د ډبز مړی پروت و.

کله یې چې خپله کیسه بشپړه کړه، کلویوشینکوف د ټیپ یوه فیته له مسکو څخه راغلي بیروکرات ته ورکړه او ویې ویل: «زما ثبوت دغه دی.»

دوی دغه فیتې ته غوږ ونیو چې د کلویوشینکوف هغه ځانگړې خبرې پکې ثبت وې چې د ترون له هغه امر څخه یې وروسته کړې وې چې شوروي سلاکاران باید د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس ونه وهي. له دغو ثبت شوو خبرو څخه روښانه شوه چې کلویوشینکوف له عملیاتو څخه لیرې کړل شوی و او د عملیاتو له وړاندې شوي پلان سره په مخالفت کې و. دغه فیته د یو چکسلواکیایي ورځپاڼې خبریال کلویوشینکوف ته ورکړې وه. نوموړي د فبرورۍ په څوارلسم د کلویوشینکوف خبرې ثبت کړې وې. دغه فیتې کلویوشینکوف وژغوره. په درېیو ساعتونو کې نوموړی له څارنې خلاص او له سفارت څخه د وتلو

اجازه بېرته ورکړل شوه. د يوې ورځې په ترڅ کې د شوروي اتحاد د کورنيو چارو مرستيال وزير، جنرال يليسوف Yelisov ده ته تيلفون وکړ او ورته ويې ويل چې دوی نورې پوښتنې نه لري.
وروسته کلويوشينکوف خبر ترلاسه کړ چې د تبنتول شوي ډېز پر پېښه باندې سياسی بېرو خبرې وکړې.
د سياسي بېرو له غونډې وروسته، د کې جي بي ريس کلويوشينکوف ته په تيلفون کې امر وکړ چې ژرترژره مرکزي کمېټې ته يو ليک وليکي چې په کابل کې د شوروي اتحاد د کورنيو چارو وزارت استازي څانګه په کابل کې د کې جي بي استازې څانګې تر لاس لاندې کړي. اندروپوف له دغه پېښې څخه ګټه پورته کړه چې د کورنيو چارو له وزير، شېلوکوف سره په سيالۍ کې يوه بله بريا ترلاسه کړي.
سربېره پر دې، د افغانستان اوسنيو حالاتو ته په پام سره، کې جي بي پرېکړه وکړه چې له خپلې پټې ډلې «A» څخه د
څارګرو يوه ډله افغانستان ته ولېږي چې د شوروي د سفير او نورو لوړپوړو پوځي سلاکارانو ساتنه وکړي.
د «A» ډلې وروسته د ترهګرۍ ضد ډلې «الفا Alpha» په نوم وپېژندل شوه. دغه کړنې په افغانستان کې د شوروي دريځ لا ډېر غښتلی کړ.

کابل يو پرانيستی ښار دی. هلته ژوند ډېر ساده دی او تلوار پکې نشته. يو څوکيدار له دروازې سره ناست وي - لکه څنګه چې بل کار نه لري - د شاوخوا ننداره کوي. يو زوړ سړی، بابه جان، چې عينکې يې په سترګو او کلوشې يې په پښو وي، د ماښام لمانځه لپاره جومات ته روان وي. د ماليې وزارت يو بيروکرات، سيد احمد په خپل زاړه فلوکسواګون کې کور ته روان وي. ټوکمار سيد علي تګي Tagi له يوه کور څخه بل کور ته ځي او په بهرنيانو د سوند لرګي پلوري. يوه ګله بې ځښتنه سپي د يو کور شاوخوا ته چې پولنديان پکې مېشت دي ګرد ګرځي. څوکيدار له ځان سره په سوچ کې وايي: «چې دا سړی به څوک وي؟ ما د ده ونګه مخکې نه ده ليدلې.» په کابل کې کابو ټولې ونګې اشنا ښکاري. حتی که څوک يو ځانګړی سړی ونه پېژني، په تېره بيا يو بهرنی، د نوموړي به ورته پام شي او په اړه به يې يوې پايلې ته ورسېږي. د بهرنيانو جامې بدلې دي، ګرځېدل يې بدل دي، خبرې يې بدلې دي، خوځښت يې چټک دی، نه پوهېږې چې څه وېرېږي، بيه يې څو ده او څرنګه له پلورونکو سره چنې ووهي.
په څارګريزو چارو کې د څارګر نه پېژندنه يو تر ټولو مهم ټکی دی. څارګر چې له چا سره ليدنه کوي - که په يو ګوښه رستورانت کې وي، په يو بې څوکيو پارک کې، په يوه ناولې کوڅه کې او يا د سينما په تياره کې - بايد هېڅوک په دې پوه نه شي چې پلانی له پلاني سره کومه اړيکه لري. د ليدنو کتنو تر ټولو ښه

ځای یو خوندي کور دی. په هغه وخت کې شوروي څارګرو مامورینو له همدغسې خوندي کور څخه کار اخیست.

د فبرورۍ په اتلسم ماښام، سترستین پلان درلود چې له خپل معمول اجنټ، ارتر سره وګوري. د ورځې په لومړیو کې یې اوسادچي له خپل پلان څخه خبر کړ. اوسادچي سترستین ته وویل چې «هڅه وکړه په دې ځان پوه کړې چې ارتر د ډېبز د وژونکو په هکله څه مالومات لري، چا وواژه او دا خلک څوک وو؟» د دې باور سخت و چې لاتراوسه دغه خلک نه وو پېژندل شوي، په تېره بیا په افغانستان کې. په دغه هېواد کې دوی داسې خلک نه شي پېژندلی چې په سیاسي کړنو کې ښکېل وي؟

سترستین له اوسادچي وپوښتل: «زموږ نورې سرچینې د ډېبز د پېښې په هکله څه وایي؟» اوسادچي ځواب ورکړ: «دوی ډېرې د ژغورنیزو عملیاتو تخنیکي اړخ بیانوي، خو په هغه څه چې موږ پوهېږو دا نه څرګندوي چې څه پېښ شول. زموږ دغه مالومات یوازې نورې پوښتنې زېږوي. موږ تر اوسه یو بشپړ انځور نه لرو. د خلکو د داسې کړنو تر شا هېڅ منطق نه لیدل کېږي. لکه څنګه چې دوی وایي، د دغه جنایت تر شا هېڅ دلیل نشته و، خو تر ټولو مهم دا دي چې د دغې پېښې سیاسي لاملونه تر اوسه روښانه نه دي، پوه شوې؟» سترستین وویل چې پر دغه موضوع به له ارتم سره خبرې

وکړي.

سترستین ته د فبرورۍ اتلسمه په یوه سخته ورځ بدله شوه. دی ډېر ترینګلی و، له خپل اجنټ سره د پلان شوې لیدنې

له کبله نه، بلکې د ځینې نورو پېښو له وجې. په هغه وخت کې د چین شاوخوا ۶۰۰۰۰۰ پوځیان ویتنام ته ننوتل. د افغانستان او ویتنام تر منځ خورا ډېر واټن دی، خو په نړۍ کې د داسې نویو پېښو په هکله له غبرګونونو څخه خبرېدل د شوروي دیپلوماتانو او څارګرو یوه مهمه دنده وه. ولېږي باید د ویتنام سفارت ته تللی وی چې له خپل ملګري، مرستیال سفیر ملګري کو Ko سره وګوري. له لیدنې څخه وروسته، ولېږي مخکې له دې چې یو تېلګراف مرکز ته ولیکي، نوموړي یو دایرة المعارف راواخیست څو په ختیځې نومونو او وییو کې تېروتنې و نه کړي.

له ویتنامي دیپلومات سره د خبرو په ترڅ کې د ډېبز پېښه یاده شوه. کو یوازې په هغه څه پوهېده چې په ورځپاڼو کې یې لوستي وو او کوم نوي مالومات یې نه لرل. دی په څرګنده خوښ و چې له خپل شوروي ملګري څخه نوي مالومات ترلاسه کړي؛ نو ولېږي ملګری کو ناهیلی نه کړ او د بې پامه ژغورنیزو عملیاتو په هکله یې کیسه ورته وکړه. کو خپل سر ورته خوځاوه، خو ولېږي یې په پوښتنو په عذاب نه کړ. دی د مالوماتو په ترلاسه کولو منندوی ښکارېده. کله چې سترستین خبرې خلاصې کړې، دغه ویتنامي دیپلومات د امریکایانو په هکله خبرې پیل کړې. نوموړي دې ته ورته څه وویل: «د دوی له ناولو کړنو څخه د نړۍ هېڅ برخه خوندي نه ده؛ نو ځکه هر ځای له دوی څخه کرکه کېږي؛ نو ځکه خلک دې ته چمتو

دي چې له خپل ژوند څخه تېر شي څو د امریکایانو مخه ونیسي. ویتنامیان د ترهګرۍ پر ضد دي، خو مورږ د امریکا د بهرنۍ پالیسۍ پر ضد هم یو - د ترهګرۍ داسې پالیسي چې نوره ترهګري زېږوي.»
سترستین د دغه خبرو په اورېدو حیران نه شو، خو حېران په دې شو چې په معموله توګه ارام، په موسکا او غلی ملګری کو په داسې ننګېریزه بڼه خپل اند څرګندوي. د کو سترګې ږدې او غږ یې دروند او لړزېدونکی شو. ده نه شوی کولای له امریکا څخه د خپلې کرکې څرګندونه پټه کړي.
ماښام شو او ارتم خوندي کور ته ننوت، شاوخوا یې وکتل او په خپله څنګ لرونکې څوکۍ کېښناست. دی یو دنګ ځوان او تندرست افغان و. کله یې چې خبرې کولې، د نومورې صورتي ژبې (body language) د ده د خبرو انګازې څرګندولې.
له هغه وخت څخه چې امین ځپل پیل کړل، ارتم به خپل بریت کله وخرېیل او کله به یې پرېښودل. نومورې د دغه کار وجه په ګونګه توګه پر خپل خوندیتوب وتړله. دا ځل یې بریت خرېیلي و. د ځینو عملیاتي موضوعګانو په اړه له لنډو خبرو اترو وروسته، ارتم د خپل کوټ له جیب څخه کاغذ پاڼې راوایستې او په ویاړ یې د سترستین مخ ته د کافي مېز پر سر کېښودې او ویې ویل: «دغه دي د اخوانیانو* په هکله مالومات چې تا یې غوښتنه کړې وه، دا یې د تنظیمونو په اړه مالومات دي، دا هم د ګلبدین په هکله مالومات، دا د رباني او دا له سویډن څخه پاکستان ته د تګ او له نورو اخواني مشرانو سره د صبغت الله مجددي په هکله مالومات دي. دا د هغه کړنو په هکله مالومات دي چې دوی د پاکستان په خاوره کې تابیا ورته نیسي چې په کندهار او هرات کې یې ترسره کړي. دغه په افغان پولیسو او وسلوالو ځواکونو کې د اخوانیانو د اړیکوالو په هکله مالومات دي.»
سترستین دغه پاڼې وکتې او له ارتم څخه یې وغوښتل چې د ځینو ټکو په هکله وضاحت ورکړي. دغه اجنټ ځان ته
چای واچاوه او کلچو ته یې لاس کړ. ده خپل چای څښلو او سترستین ته یې کتل چې په مالوماتو ځان پوهوي.
سترستین مالومات ولوستل او ځینې ټکي یې پکې نښه کړل چې ارتم یې په اړه تر راتلونکې لیدنې پورې پلټنې وکړي. دوی په دې هوکړه وکړه چې څه وخت او څرنګه د سترستین دغه غوښتنه ترسره کړي او د راتلونکې لیدنې وخت او ځای یې وټاکه.
کله چې سترستین د ترهګرۍ کړنې خبره راپورته کړه، ارتم په ارامۍ خپلې موندنې ورسره شریکې کړې. ده وویل: «په رسمي راپور کې د ترهګرو یوازې یوه غوښتنه یاده شوې وه او هغه د بدرالدین باحس ازادول

*اخواني (اخوان المسلمین یا مسلمان ورونه) د هغه بنسټپالو تنظیمونو غړو ته ویل کېدل چې په پاکستان کې راټول شول. دغه خلکو د لوېدیځ ژوند بڼې او سوسیالېستي نظریو پر ضد پرځنګ کاوه. کله چې د دوی تنظیم (مسلمان ځوانان) په افغانستان کې له منځه یووړل شو او مشران یې د داود په امر پانسي شول، دوی له افغانستان څخه وتلو ته اړ شول.

www.samsoor.com

وو. فکر نه کوې چې دغه غوښتنه ډېره عجیبه وه؟ څرنګه دا غوښتنه ترسره کېدای شوی؟ که ترهګر بدرالدین ته دومره نېږدې خلک وو چې خپل ژوند یې ترې قرباناوه، نو دوی باید په دې پوه وی چې نوموړی ډېر د وخته مړ و. زه له باحس، طاهر بدخشي او ستم ملي سره دومره سروکار نه لرم، خو له ډېر وخت راهیسې پوهېدم چې بدرالدین تېر دوبی په زندان کې ووژل شو.»

سترستین په دې هیله چې د خپلو انګېرنو پخلی وکړي، وپوښتل: «نو دا څنګه کېدای شي چې دوی نه پوهېدل؟»

ارتم: *ځکه چې دغه خلکو له بدرالدین سره هېڅ تړاو نه درلود. دوی د ده له نوم څخه په کار اخیستنې دغه کړنې ته سیاسي رنګ ورکاوه او له ستم ملي سره د تړاو نښودنه تر ټولو اسانه کار و ځکه چې کابو هېڅوک د ستم ملي په جوړښت نه پوهېږي په تېره بیا چې په دې ورستیو کې د دوی په لیکو او څوکیو کې ډېر بدلونونه راوړل شول. بدرالدین باحس دومره پېژندل شوی کس نه و. ما تا ته ویلي چې یو وخت مې باحس ډېر ښه پېژانده؟*

سترستین: *نه.*

ارتم: *د کابل په پوهنتون کې موږ ټولګیوال وو. دی د زده کونکو د شورا یو غړی و او د شرعیاتو پوهنځي استازولي یې کوله. ګلبدین حکمتیار د انجنیرۍ او ما د حقوقو پوهنځي استازولي کوله. په لومړیو کې بدرالدین باحث د مسلمانو ځوانانو ایډیالوژۍ ته نېږدې و. ده ته د ملا په سترګه کتل کېدل. بیا یې له طاهر بدخشي سره وپېژندل او د ستم ملي غړی شو.*

سترستین د ارتم مخې ته هغه ورځپاڼه کېښوده چې د څلورو لوڅو مړیو انځورونه پکې وو او ویې پوښتل: «دغه ترهګر پېژنې؟»ارتم انځورونو ته چې ده خامخا مخکې هم لیدلي وو وکتل او په ډېر باور یې وویل: «نه، خو دا عجیبه ده. ما هېڅ کله دوی نه دي لیدلي. که دغه خلک په پام وړ سیاسي کړنو کې ښکېل وی؛ نو موږ به خامخا لیدلی وی. زه یوازې ځان نه ښیم. ما د بدخشانیانو په ګډون له نورو خلکو څخه هم د دوی په اړه پوښتنې وکړې، خو هېچا ونه پېژندل. دا عجیبه نه ده؟»

ارتم یوه دمه وکړه چې سترستین ته د دې فرصت ورکړي چې د ده خبرې هضم کړي او که سترستین کومه پوښتنه ولري. لکه څنګه چې کومه پوښتنه ورڅخه ونشوه، خپلو خبرو ته یې دوام ورکړ: «ترهګرو یوه بله غوښتنه لرله چې په ربښتیا سیاسي مانا پکې وه. دوی غوښتل چې افغان او بهرني خبریالان، د تلویزیوني چینلونو استازي او ملګری امین مېلمستون ته ورشي.» ارتم د امین له نوم څخه مخکې د «ملګري» ویې داسې یاد کړ چې ملنډه او دوښمني پکې نغښتې وه. «ترهګرو وویل چې دوی غواړي د امریکایي سفیر په شتون کې له امین څخه څو پوښتنې وکړي. دوی له سفیر او امریکا څخه کومې ګیلې ګرمانې نه لرلې.»

سترستین: *ته څنګه پوهېږې؟*

ارتم: قادر ما ته وویل. ستا به په یاد وي چې په اړه یې ما تا ته ویلي دي.

سترستین: هو، دی همله د ترون له څنګ سره تر پای پورې و. عجیبه خو دا ده چې د ترهګرو دغه غوښتنه هم جدي نه ښکاري.

ارتم: د تا او ما لپاره، خو نه د امین لپاره.

سترستین: څه مانا؟

ارتم: فکر کوم ترهګرو غوښتل چې امین ته یو څه ورپه یاد کړي.

سترستین: دوی رینښتیا دا فکر کاوه چې امین، په هېواد کې دویم تر ټولو واکمن سړی به کابل مېلمستون ته ورشي او د دوی پوښتنو ته ځواب ورکړي؟

ارتم: په یقین سره، نه. دوی هېڅ فکر نه کاوه. دوی یوازې هغه څه کول چې ورته ویل شوي وو. دغه خلکو د امریکایانو امر ترسره کاوه. دوی فکر نه کاوه چې وبه وژل شي. نه دوی او نه امریکایانو دا خیال درلود چې امین به ځوابي برید وکړي. امریکایانو هېر کړي وو چې امین یو پښتون دی او د ګوانښ په پرتله مرګ غوره ګڼي. دا د امین امر و چې په کوټه کې ټول ووژل شول. ده له امریکایانو څخه د دوی د دغه هڅې غچ واخیست چې له نوموړي څخه د چوپ پاتې کېدو حق blackmail واخلي.

سترستین: امریکایانو څه شی غوښتل چې امین ته یې ورپه یاد کړي؟

ارتم: ته خامخا پوهېږې چې کله یې په امریکا کې زده کړې کولې، ملګری امین د بهر مېشتو افغانانو د ټولنې مشر و. فکر کوې چې څوک به د یوې بهرنۍ ټولنې مشر په داسې پولیسي هېواد کې شي لکه امریکا پرته له دې چې د سیمه ییزې څارګرې ادارې خوښه او همکاري ورسره نه وي؟ دا ناشونې ده.

سترستین: نو د دې پر بنسټ، ته وایې چې امین د سي ای اې او یا له ځینو نورو امریکایي څارګرو سره اړیکې لري؟

ارتم: نور داسې دلیلونه هم شته چې پر امین د خیانت ګومان رامنځته کوي. هغه څه ولوله چې نوموړي له ۱۹٦۵ کال څخه مخکې لیکلي. د ده مقالې په بېلابېلو ورځپاڼو او ژورنالونو کې خپرې شوي دي. ښه په ځیر یې ولوله. تا ته به څرګنده شي چې د ټیټې کچې منځنۍ ټولنیز پوړ Petit bourgeois په اړه څومره لنډاک (تنګ نظره) دی او څومره ملتپال او شوروي ضد دی، خو لکه څنګه چې ښه روښانه ده، د ۱۹٦۴ کال په ورستیو کې زموږ سیاسي مشرانو چې انقلابي څوب درلود د ا خ د ګ په جوړولو همغږي شول. اوس، ملګری امین ناڅاپه یو کلک کمونست او لېوال انقلابي شو. د ده اېډیالوژیکي اند او سیاسي ترجیح څنګه دومره په چټکۍ بدل شول؟ نوموړی هغه وخت یو خام ځوان نه، بلکې پوخ سړی و. له همغه وخت راهیسې امین د تره کي یو 'وفادار شاګرد او ملاتړی' پاتې شوی. تا ته دا عجیب نه ښکاري؟ په ا خ د ګ

www.samsoor.com

*کې د درزونو تاریخ ته پام وکړه. څوک د هرې شخړې او جګړې جوړونکی و؟ څوک یې لمسوونکی و؟ امین وکنه!*

سترستین: *خو دا ټول نېغ دلیلونه نه دي.*

ارتم: *هو، نه زه او نه زما ملګري داسې لاسوندي لرو چې له امریکایانو سره د امین د اړیکو پخلی وکړي. حتی ته چې دومره اړیکې لرې، دا نه شې ثبوتولی. ډېره شونې ده چې داسې لاسوندي هېڅ نشته وي، خو حتی د خلقیانو په منځ کې داسې ګنګوسې دي چې امین د امریکایانو اجنټ دی.*

سترستین: *نو امین څنګه وکولای شول چې دا خ د ګ مشرتابه ته ورننوځي؟*

ارتم: *تره کي په دوام داره توګه دی مخ ته کاوه. دوی دواړو هغه وخت سره وپېژندل چې زموږ عمومي منشي په واشنګتن کې د افغان سفارت وياند او امين د افغان ټولنې مشر و. د دوی تر منځ داسې عجيبه اړيکه شته چې هېڅوک پرې سم نه پوهېږي او ډېره شونې ده چې د دوی نېږدېوالی د سیاسي عقیدې پر بنسټ نه وي بلکې کومه بله وجه ولري.*

ارتم سترستین ته داسې کتل لکه دی چې هڅه کوي کوم مهم شی خپل یاد ته راولي. بیا یې وویل: «ښايي چې ته خبر وې چې تره کی په شپږ یا اووه کلنۍ یوې انګرېزی ښځې زوی وباله او د ده ممنه (رضایي مور) شوه. نوموړې له خپل مېړه سره په انګرېزي هند کې اوسېده. تره کی په یوه انګرېزي کورنۍ کې ستر شوی، خو په ژبه او روحیه کې دومره افغان دی لکه څومره چې انګرېز دی. د تره کي انګرېز مور او پلار نوموړی ' د بهرنیو ژبو د ژباړنو کالج' ته ولېږه. په دغه کالج کې هغه هندوستانیانو ته ښونه او روزنه ورکول کېده چې انګرېزانو ته وفادار وو. د دغه کالج فارغانو ته د انګرېزي مستعمرو په ادارو کې دنده ورکول کېده. کله چې تره کی فارغ شو، دی دیپلومات نمبر ۳۷ شو. زه دا نه وایم چې تره کی یو انګرېز څارګر دی که څه هم زما پرچمي ملګري په دې باور دي، خو زه باور لرم چې د تره کي او امین تر منځ داسې ځانګړې اړیکې شته چې ریښه یې د دوی په سیاسي اندونو که نه بلکې په کوم بل شي کې ده، خو زه هېڅ نه پوهېږم چې د دوی ګډه وجه څه ده.»

سترستین: *او د هغه ناورین لامل څه شی کېدای شي چې په کابل مېلمستون که رامنځته شو؟*

ارتم: *زما په اند، کله چې ملګري امین لوړه سیاسي څوکۍ ترلاسه کړه، ده ځان ته د یوې بشپړې ازادې څېرې په سترګه کتل؛ نو پرته له دې چې په سي ای اې کې د خپلو پخوانیو بادارانو نظر ته پام وکړي،هر څه یې په خپله خوښه کول. کله چې د امریکایانو بېلابېلې داسې هڅې ناکامې شوې چې امین په لاره سم کړي، دوی ډېرو جدي کړنو ته لاس واچاوه او داسې ډرامه یې جوړه کړه چې ترهګر او سفیر پکې ښکېل وو، خو د دوی پلان ناکام شو. په لومړیو کې امین وډار شو او بیا بې کچې ځاځمن شو؛ نو امر یې وکړ چې ټول له منځه یوړل شي - ترهګر او سفیر. زه د کوم بل دلیل په هکله فکر نه شم کولای.*

په کوټه کې چوپتیا خوره شوه. سترستین د ارتم په څرګندونو سوچ کاوه. د یو شوروي ډیپلومات او یو داسې مسلکي کس په توګه چې په سیاست کې ښکېل و، نوموړی باید د یو داسې اجنټ «پارونکي رموز» ته پام و نه کړي چې د یو ملګري او کابو ورور هېواد د مشرانو رنګ بدوي، خو د یو ښکارګر په توګه سترستین باید هغه زرینه لاره خپله کړي چې وايي: هېڅ کله د خپلو مالوماتو سرچینې ته په منفي سترګه مه ګوره. سترستین په سوچ کې ډوب و او پر کاغذ یې په بېخودۍ کرښې ایستلې. ورپسې په داسې حال کې چې فکر یې بل ځای و، د پیالې په ببخ کې یې د چای په پاڼو کې سترګې خښې کړې. ارتم خپل ساعت ته وکتل او ویې ویل: «زه باید لاړ شم. نن شپه مې زه او مېرمن د ورور کره ځو. مېرمن مې نه پوهېږي چې زه چېرته یم. هغه به اندېښمنه وي.

د نورمحمد تره کي او امین له خبریالانو سره مرکې ډېرې خوښېدې. دوی ته دا تر ټولو ښه خوره او د دوی د خوښې ځان ښودنه وه. داسې برېښېدل لکه دوی چې په کلونو خوبونه لیدل چې خلک یې خبرو ته غوږ ونیسي، خو دوی ته یوازې ترټولو وفادرو متحدینو او شوروي ملګرو یې غوږ نیوه. ښايي داسې هم وو چې د دوی شاوخوا ډېرې خلکو د غوږ نیولو پرځای خبرې کول خوښېدل. اوس بلاخره داسې وخت راورسېد چې عمومي منشي او د ده «وفادار زده کوونکي» فرصت ترلاسه کړ چې وګړابي، وګړابي، د دوی خبرې او نظر چاپ شي، غوږ ورته ونیول شي، خبرې پرې وشي او وشنل شي. دوی داسې خیال درلود چې نه یوازې افغانان بلکې نړیواله ټولنه هم د دوی خبرو ته ناټ او درناوی لري. کله به یې چې ځان د رسنیو استازو ته ښکاراوه، دوی په عجیبه توګه خوښ ښکارېدل ، ځومره یې د خبریالانو له پام څخه خوند اخیست او ځومره یې خوښېدل چې خپلو خبرو ته غوږ ونیسي او ټولو دوی ته پام اړولی وي. دوی په ښکاره له خپلو خبرو څخه خوند اخیست چې سختو پوښتنو ته یې په باور او هوښیارۍ ځوابونه ورکول.
په دغسې شېبو کې دوی ته په کتو سره د سترستین هغه خبرې په یاد شوې چې ارتم د ټیټې کچې د منځنۍ ټولنیز پوړ په هکله وکړې: «د دغه پوړ غړي په هر راز حالاتو کې ځان ښیي او غواړي چې د خلکو پام دوی ته اوښتی وي؛ نو ځکه دوی غواړي په ودونو کې زومان او په جنازو کې مړي وي.»
د فبرورۍ په نوولسمه امین له لوېدیځوالو خبریالانو سره مرکه وکړه. د کابل مېلمستون پېښه د مرکې اصلي ټکی و. سبا ته د مرکې متن د کابل په ټولو ورځپاڼو کې خپور شو.

**د واشنګټن پوست خبریال پوښتنه:** *فکر کوئ چې د امریکا متحده ایالاتو د سفیر وژنه به د افغانستان او امریکا پر اړیکو اغېز وکړي؟*

**ځواب:** *ستا د پوښتنې موخه دا ده چې په دې پوه شې چې ایا د امریکا د سفیر وژنه به د افغانستان او امریکا تر منځ د ملګرتیا په اړیکو اغېز وکړي او د دې په ځواب کې امریکا څه کولی شي؟ ښه، د امریکا متحده ایالات په نړۍ کې یو لوی ځواک دی. زه باور لرم چې هېڅوک به د دغه هېواد د مشرانو پر اند اغېز ونشي کړی. زه نه پوهېږم چې د امریکا حکومت دغه پېښه څنګه انګېري، خو د افغان حکومت په استازولۍ زه تا ته په ډاډ ویلی شم چې زموږ د هېوادونو تر منځ د ملګرتیا د اصولو پر بنسټ موږ هر راز شونې کړنې ترسره کړې چې عالیقدر واکمن سفیر اډولف ډبز ازاد کړو. موږ د ده پلرنی ټاټوبي ته د ده د مړي لېږدولو په مراسمو کې برخه واخیسته، په خپلو پیغامونو او د تابوت د لېږد په مراسمو کې مو خپلې د ملګرتیا ننګېرنې څرګندې کړې. موږ په دې اند یو چې دا ټولې کړنې به زموږ د هېوادونو تر منځ پر اړیکو ښې اغېزې وکړې.*

**د اوبزرور خبریال پوښتنه:** *د سفیر ډبز د مړینې په هکله پلټنې کوم پړاو ته رسېدلې دي؟ دغه پلټنو تراوسه کومه پرېکنده پایله ورکړې ده؟*

**ځواب:** *موږ ونه شو کړی چې په دغه کړنه کې ښکېل ترهګر ونیسو، خو دا څرګنده شوه چې دوی له یو بدنامه سړي، بدرالدین باحس سره تړاو درلود. دغه سړی یو داسې بې باکه کس دی چې سخت دریځه چپي ایډیالوژي له لنډپارې ملتپالنې سره ګډوي.*

**د اسوشیېټېډ پرېس خبریال پوښتنه:** *ښښه غواړم، ځینو سیلانیانو د امنیت مامورین ولیدل چې یو ترهګر یې د مېلمستون په دهلېز کې ونیو، له ده څخه تراوسه پوښتنې ګروېږنې شوې دي؟*

**ځواب:** *د امنیت مامورینو په تېروتنه یو شمېر خلک نیولي وو، خو وروسته جوته شوه چې دوی ترهګر نه وو؛ نو ټول بېرته ازاد کړل شول.*

**د واشنګټن پوست خبریال پوښتنه:** *فکر نه کوئ چې دغه ترهګرو له بهرنیو هېوادونو سره اړیکې لرلې؟*

**ځواب:** *زه نه غواړم په ځانګړې توګه د هېوادونو نومونه یاد کړم، خو ځینې هېوادونه شته چې زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنې کوي.*

**د فاینېنشل ټایمز خبریال پوښتنه:** *ځینې دیپلوماتان وایي چې کله د امریکا سفیر د ترهګرو تر اسارت لاندې و، ته هېڅچا نه شوې موندلی. دوی د دغه پېښې په اړه تا په بې پروایۍ ګرموي.*

**ځواب:** *زما د دفترونو ځایونه ټولو ته مالوم دي. هر سړی پوهېږي چې زه یا د خلکو په ماڼۍ کې، په بهرنیو چارو وزارت او یا د دفاع په وزارت کې یم. زه نه پوهېږم چې ولې زما موندنه دومره سخته وه. راځئ چې داسې وګڼو چې زه په خپل دفتر کې نه وم. هر چا چې ماته اړتیا لرله، زما له مرستیال سره او یا د انقلابي*

شورا له دفترمشر، ملګري فقير سره يې خبرې کولې شوې. ده به هر راز پوښتنه زموږ لوی مشر ته رسولې وای.

**د اوبزرور خبريال پوښتنه:** د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د فبروری د څوارلسمې په پېښه کې ځينې شوروي کارپوهان د عملياتو په ځای کې وو. په دې اړه تاسې کومه تبصره لرئ؟

**ځواب:** د کابل مېلمستون يو له ډېرو پخوانيو مېلمستونونو څخه دی. دا له انټرکانټيننټل مېلمستون څخه وروسته ترټولو لوی مېلمستون دی؛ نو د پېښې په ورځ په مېلمستون کې د شوروي اتباعو شتون بايد پوښتنې راپورته نه کړي.

**د اوبزرور خبريال پوښتنه:** ايا هلته د مرستې لپاره شوروي سلاکاران شته وو؟

**ځواب:** ستا دغسې خبرې ما خپه کوي. د ځينو لاملونو له کبله داسې برېښي چې په ځينو هېوادونو کې زموږ د هر راز کړنې ورتيا ته په ټيټه او د اړنګ په سترګه کتل کېږي. موږ د غويي انقلاب پخپله په داسې بڼه ترسره کړ چې تر هغه وخت پورې چې پيل شوی نه و، په ټوله نړۍ کې هېڅوک يې پر تابيا خبر نه وو، حتی هغه هېوادونه چې په ميليونونو ډالر يې په افغانستان کې په جاسوسی لګول، په هېڅ خبر نه وو. کله چې ځوانو افغانانو د انقلاب بريا ترلاسه کړه، په بهر کې ځينو کړيو وويل چې په دې کې خامخا شوروي اتحاد ښکېل و.

موږ هره شونې کړنه ترسره کړه چې ښاغلی ډبز وژغورو، خو بيا هم، له بده مرغه، زموږ هڅې پر شوروي مرستو وتړل شوې. دا موږ خواشيني کوي.

**د اوبزرور خبريال پوښتنه:** کېدای شي زه ستاسې په ځواب نه وم پوه شوی، تاسې وايی چې د پېښې په ځای کې حتی يو سلاکار هم نه و؟

**ځواب:** د شوروي او يا د کوم بل هېواد سلاکار حتی يوه اړواح هم نه وه چې له موږ سره مرسته وکړي.

**د اسوشيېټيډ پرېس خبريال پوښتنه:** د امريکا د اعتراض ليک په اړه ستاسې غبرګون څه دی؟

**ځواب:** موږ دغه اعتراض بې بنسټه ګڼو. د بشردوستی او له متحده اياالتونو سره ملګرتيا ته په پام سره، موږ هره شونې کړنه ترسره کړه چې د ښاغلي ډبز ژوند وژغورو. زه داسې کړنه او يا نه کړنه نه وينم چې زما د خبرو برعکس څرګندونه وکړي.

**د واشنګټن پوست خبريال پوښتنه:** هغه سړی چې ترهګرو يې د ازادولو غوښتنه کوله له تاسې سره دی؟

**ځواب:** نه، او نه په دې پوهېږو چې چېرته دی. دی د داود رژيم په وخت کې بندي و او د انقلاب په لومړيو ورځو کې له
زندان څخه وتښتېد.

www.samsoor.com

**د رویترز خبریال پوښتنه:** *ایا دا مو جوته کړې چې دغه ترهګر څوک وو او ایا له کوم بهرني هېواد سره یې اړیکې لرلې؟*

**ځواب:** *د معمول په توګه ترهګر شفري نومونه کاروي؛ نو ځکه موږ لا تراوسه د دوی اصلي هویت او ترڅو نه دی جوت کړی.*

**د اسوشیېټېډ پرېس خبریال پوښتنه:** *د دوی د ګرځود له مخې تاسې ونه شوی کړی چې د دوی اصلي وطن مالوم کړی؟*

**ځواب:** *دوی څلور کسه وو او موږ ته نه مالومېدله چې کوم یو یې خبرې کولې، خو زموږ په اند لږترلږه یو یې له بدخشان څخه و.*

**د رویترز خبریال پوښتنه:** *ترهګرو کومې وسلې وکارولې؟*

**ځواب:** *دوی تومانچې لرلې، یوه ماشینګنه چې د جوړښت ځای یې نه و مالوم او یو لاسي بم هم ورسره وو. دوی له تومانچو او ماشینګنې څخه کار واخیست.*

**د اسوشیېټېډ پرېس خبریال پوښتنه:** *دغه وسلې په افغانستان کې جوړې شوې وې؟*

**ځواب:** *په افغانستان کې موږ وسلې نه جوړوو.*

**د واشنګټن پوسټ خبریال پوښتنه:** *په دغسې پېښو کې دا معمول دي چې له ترهګرو سره د خبرو اترو بهیر اوږد غځول کېږي. د امریکا سفارت مامورینو ستاسې له امنیتي کارکوونکو څخه همدغه غوښتنه وکړه، ولې هېڅ داسې کړنه ترسره نه شوه چې خبرې اترې اوږدې کړی شي.*

**ځواب:** *زه هیله من یم چې تا زما څرګندونو ته غوږ نیولی وي. ما وویل چې موږ هره شونې کړنه ترسره کړه چې نور وخت ترلاسه کړو. موږ وتوانېدلو چې خبرې اترې درې نیم ساعته اوږدې کړو او حتی وروسته له دې چې د ترهګرو له لوري ټاکل شوی وخت پوره شو، بیا یې هم د لسو دقیقو په مهلت خوښه وکړه. دوی په وار وار وویل چې نور تم کېدای نشي؛ نو ځکه د نور وخت ترلاسه کولو لپاره زموږ هڅو زموږ د خوښې پایله رامنځته نه کړه. موږ تر پای پورې هر هغه څه وکړل چې زموږ په واک کې وو څو د نباغلي ډبز ژوند وژغورو.*

**د اسوشیېټېډ پرېس خبریال پوښتنه:** *ماته داسې برېښي چې که تاسې ترهګرو ته ویلي وای چې د دوی غوښتنې مو ومنلې، خو بدرالدین د هېواد په لیرې پرته سیمه کې دی، دوی به په دې خوښه کړې وای چې د سفیر وژنه وځنډوي.*

**ځواب:** *موږ له ترهګرو څخه دغه حقیقت پټ کړ چې بدرالدین له موږ سره نشته. موږ څو ځلې دوی ته وویل چې دی په لاره کې دی او ژر به راورسېږي. امریکایان چې د پېښې په ځای کې وو د دې شاهدان دي، خو ترهګرو نه غوښتل چې نور تم شي او یا خپل مخکنی مهلت اوږد کړي. دلته زه غواړم یو بل ټکي ته نغوته وکړم. له بده مرغه، د نباغلي ډبز ګاډی داسې ځای ودرول شو چې ګاډي ته د دربدلو اجازه نشته*

*وه. دا به ډېره ښه وای چې ده هلته د ګاډي درولو پرېکړه نه وای کړې. ترهګر چې د ترافیکو پولیس په یونیفورم کې وو، وویل چې غواړي ګاډی ولټوي، خو دا د سفیر ګاډی و چې ډیپلوماتیکي خوندیتوب یې درلود. سفیر باید اجازه نه وای ورکړې چې ګاډی یې ولټول شي. سربېره پر دې، دغه ګاډي ډیپلوماتیکي نمبر پلېټ او د امریکا توغ درلود. په ګاډي کې د امریکا سفیر و، نو هېچا حق نه درلود چې دغسې ګاډی ولټوي. د ګاډي چلوونکي د خبرو پر بنسټ، د سفیر ساتونکو په وار وار سفیر ته وویل چې یو بل ګاډی یې تعقیبوي.*

*څو میاشتې مخکې زموږ امنیتي ادارو ورته وویل چې د بدرګې لپاره به ورته ځارندویان ورکړي، خو له بده مرغه سفیر زموږ دغه وړاندیز ونه مانه.*

کله یې چې د امین مرکه څو ځلې ولوسته، شننونکي ولادیمیر کېتایوف ورځپاڼه څنګ ته ته کېښوده، د مرکې ځینې ځایونه یې په ژېړ قلم په نښه کړل او سوچ یې پرې پیل کړ.

امین یو ساده سړی نه و. ده په وضاحت او باور خبرې کولې او له بېخونده حالاتو څخه یې په خبرو ځان ایسته. ولادیمیر د سترستین، ارتم او انارشېست تر منځ د خبرو، د امنیتي افسر، بختورین او نورو سرچینو راپورونه راوایستل او یوه کتابچه چې پاڼې یې شمېرې لرلې خپلې مخې ته کېښوده. نوموړي د راتلونکي لاسوندي سرلیک په یوه سپینه پاڼه کې داسې ولیک: «د امریکایي سفیر، ډېز د وژنې تر شا د غرضونو سیاسي شننه.» بیا یې د ځینو مهمو پوښتنو د شننې خامه پیل کړه.

١. که سفیر ته مخکې خبرداری ورکړل شوی و چې ګاډی یې تعقیبېږي، ولې یې د پولیسو د بدرګې وړاندیز ونه مانه او یا یې ولې د سفارت له سمندري پوځیانو څخه د ساتنې لپاره کار وانه خیست.

٢. سفیر ولې د ترافیک غوښتنه ومنله او ګاډی یې ودراوه؟ ایا دی سربداله و؟ یا پلان همداسې و؟ ولې یې ترهګر ته اجازه ورکړه چې ګاډي ته ننوځي؟ ولې یې جنجال جوړ نه کړ چې خلک پرې خبر شي؟ ایا په وسلې وګواښول شو؟ ایا ده د دغې پېښې تمه لرله؟ د ګاډي چلوونکي خبرې په زړه پورې دي. د ځارندوی مامورینو بختورین ته ویلي چې دوی له ګاډي چلوونکي څخه پوښتنې ګروېږنې کړې دي. د

امنیت مامور سمدستي له ترون څخه غوښتنه وکړه چې د دغو پوښتنو ګروپړنو پایله ورسره شریکه کړي، د څارندوی مشر په زړغیتوب دغه غوښتنه ومنله*.

۳. د سفیر هغه دیپلومات بکس چې په مېلمستون کې وموندل شو څه مانا ورکوي؟ د لاسوندو او کاغذونو پرځای یې ولې د تشناب توکي په دیپلومات بکس کې اېښودلي وو؟ په مېلمستون کې یې د ډېر وخت تېرلو تمه لرله؟

۴. کله یې چې د دروازې تر شا خبرې کولې، سفیر ولې دومره ارامه و لکه هېڅ غیرمعمول څه چې نه وي پېښ شوي؟ او یا یې باور درلود چې ده ته به هېڅ پېښ نشي؟

۵. ولې حتی یو امریکایي دیپلومات او یا د سفارت مامور له خبریالانو سره خبرې و نه کړې چې د پېښې په هکله وضاحت او یا خپلې ارزونې ورته بیان کړي؟ د ډبز د مړي لېږلو مراسم داسې ترسره شول لکه پخپله امریکایانو چې په لوی لاس هڅه کوله دغه مراسم ته د چا پام راونه ګرځوي. دوی وویل چې د ډبز مېرمنې غوښتي وو چې دومره لوی مراسم جوړ نه کړي. ایا نوموړې د داسې موضوعګانو په هکله د پرېکړې واک لري؟

٦. په دغه پېښه کې د امریکایي سمندري پوځیانو او امنیتي کارکوونکو ونډه ډېر لږ وه. د پېښې په بهیر کې ولې د سي ای اې مېشت مشر په کابل مېلمستون او یا د امریکا په سفارت کې نشته و؟

۷. ترهګر څوک وو؟ داسې برېښي چې دوی ګومارل شوي وو؛ نو بیا ولې ونه پېژندل شول! ارتم په حقه هک پک و – دوی

ویل چې د بدرالدین ملګري دي، خو بیا هم په دې نه پوهېدل چې نوموړی مړ دی. امین هم داسې وښوده چې د بدرالدین

په مرګ خبر نه دی که څه هم ښایي ده پخپله د نوموړي د وژنې امر ورکړی وي.

۸. ولې ټول ترهګر ووژل شول - راځه چې پر امین هېڅ اړنګ و نه کړو او داسې وګڼو چې هېڅ ترهګر پخپله تسلیم نشو چې خپلې غوښتنې څرګندې کړي، خو کله چې د یرغل په ترځ کې ترون د مېلمستون دغه کوټې ته ننوت، دوه ترهګر یوازې ټپیان وو، ولې یې دواړه ووژل؟ کېدای شي وجه یې یوازې د حالاتو ترینګلتیا وي؟

۹. ولې د اګسا پرځای څارندوی په عملیاتو کې ښکېل شول؟ ایا له دې کبله چې د اګسا مشري سروري کوله چې تره کي ته وفادار او زموږ سلاکارانو ته نږدې و په داسې حال کې چې د څارندوی مشري د امین

---

* له پېښې وروسته شوروي استازو هڅې وکړې چې د پوښتنو ګروپړنو پایلې ورسره شریکې شي، خو افغانانو په وار وار د دوی غوښتنې ونه منلې. د ۱۹۸۰ کال د جنوری په میاشت کې وروسته له دې چې امین نسکور کړل شو او نوی رژیم واک ته ورسېد، بختورین د امنیتی اداري له مشر څخه پوښتنه وکړه چې ایا په ارشیف کې له ګاډي چلوونکي څخه د پوښتنو ګروپړنو کومه فیته شته؟ نوموړي وویل: «د ډبز د مړینې په هکله موږ هېڅ لاسوندي نه لرو.»

ملګري، ترون کوله؟ د سفیر د وژنې پېښه یوه نازکه موضوع وه؛ نو په دې کې یوازې پر هغه چا ډېره لګول کېدای شوی چې د امین ډېر نېږدې ملګري وو.

۱۰. کله چې سفیر په مېلمستون کې یرغمل ساتل کېده، امین په دې وخت کې چېرته و؟ ولې امریکایانو ونه شوی کړی چې له ده سره اړیکې ونیسي؟ د ده له امر څخه پرته پر مېلمستون باندې یرغل ناشونی و. ترون به هېڅ کله په خپل سر دغسې پرېکړه و نه کړي. ښایي امین مخکې ترمخکې پوهېده چې څه به پېښ شي. ایا د سفیر تښتونه د امین پلان و؟ که داسې وي؛ نو د ده موخه څه وه؟

۱۱. د انارشېست په هغه څرګندونو څومره جدي باور کېدای شي چې دا د سي ای اې پټ عملیات وو. که زه د یو امریکایي پر ځای په دې فکر وکړم، دغه عملیات په لاسته راوړنو ارزېدل؟ د امین په څوکۍ کې د یو اجنټ لرل مهمو مالوماتو ته د لاس رسي مانا ورکوله او دا یې هم شونې کوله چې په افغانستان او له افغانستان څخه بهر په سیمو کې سیاسي بهیر په خپله ګټه راوګرځوي. پر وګړو باندې هغه اغېزې باید له پامه ونه غورځول شي چې له امریکایانو سره په کمونست پلوه افغانستان کې څرنګه چلند کېږي، خو دا پټو عملیاتو ته ورته څه نه ښکاري ځکه چې شور او غوغا او وینه بهیدنه پکې ډېره وه. په عین وخت کې د پېښو پر دا ډول بهیر بشپړ خط کاږل هم ناشونې دي. د داسې کړنې پر وړاندې د امین غبرګون توجیه کېدای شي. داسې برېښي چې انارشېست په ډېرو برخو کې سمه خبره کړې ده او ارتم هم همدې ته ورته ډېر څه وویل.

کله یې چې دغه پوښتنې ولیکلې، کېتایوف خپل ژورنال څنګ ته کېښود. د ده مزاج ښه نه و. پوښتنې ډېرې وې. که څوک په دې باور وکړي چې دا د امریکا پټ عملیات وو او له دې کبله له ناکامۍ سره مخ شول چې د امین د داسې رټ غبرګون تمه نه کېده؛ نو بیا د هرې پوښتنې ځواب شونی و. پرته له یوازې یوې موضوع څخه، د ټولو پوښتنو ځواب پر یو منطق راټولېدای شوای. که دا د امریکایانو کړنه وه، نو دوی د څرنګه پایلې تمه لرله؟ امریکایانو به په لوی لاس خپل سفیر نه وی «قرباني» کړی. دا هم روښانه وه چې امین به په هېڅ وجه کابل مېلمستون ته نه وی تللی؛ نو ده باید څه کړي وی؟ یو بل سړی یې د باحس په نوم په بدله څېره ترهګرو ته ورسپارلی وی چې په دې توګه به یې په زړغیتوب خپل د اطاعت سر امریکایانو ته ټیټ کړی وی؟ کېدای شي چې نورې پایلې هم مخکې ترمخکې جوړې شوې وي څو امین ته خوښه ورکړل شي چې یوه ترې غوره کړي.

کېتایوف له ډېرې کرکې ولړزېد. د دغه پېښو کلی چې له هر چا سره وه، خو د عملیاتو د ترسره کونې ښه ډېره نابنده، اکاړه او کابو شیطاني وه. ده له ځان سره سوچ وکړ: «که زه په خپل راپور کې د دغه ټولو په هکله ولیکم، د اوسادچي غبرګون به څرنګه وي؟ په مرکز کې به څرنګه ورته وکتل شي؟ دا به خامخا له

www.samsoor.com

رسوايۍ څخه ډک وبرېښي. له دې څخه د ځان خلاصونې هېڅ لاره نشته پرته له دې چې له سره هېڅ راپور ونه لیکل شي.»
خو که په شننه کې له امریکایانو سره د امین پر همکاري ټینګار ونشي، مرکز ته به یې منل اسانه وي. دې ته به د یو ډول ښېخونده افسانې په توګه وکتل شي، لکه له غرمنۍڅخه وروسته یوې ښېخونده سرګرمۍ ته. که امین ته د سي ای اې د یو اجنټ نغوته وشي، خامخا به یوه رسوايي جوړه شي، یوه لویه رسوايي. د یو ملګري هېواد دویم واکمن سړی د امریکا جاسوس دی! زموږ دیپلوماتان، د کې جي بي افسران او د ګوند سلاکاران له ده سره اوږه په اوږه کار کوي. ختیاوف له ځان سره وویل: «ښه به وي چې زه د کې جي بي له مېشت مشر سره وګورم او اوس راپور ونه لیکم.» نوموړي خپله کتابچه بنده کړه او یو سګرېټ یې ولګاوه.
عجیبه دا وه چې دغه پېښه ډېر ژر هېره شوه. د ځینو نامالومو دلیلونو له کبله امریکایانو وپتېیله چې په دې هکله ډېر شور او غوغا جوړه نه کړي او یوازې په یو رسمي اعتراض لیک یې بسنه وکړه. ولې په لوېدیځو رسنیو کې غوغا جوړه نشوه؟ ایا دا له دې کبله وه چې په ایران کې د شاه پر ضد د انقلاب په ګډون، په نړۍ کې ډېرې نورې مهمې پېښې رامنځته کېدې او یا یوازې امریکایانو غوښتل چې د دغه ناورین پر سر خاورې واچوي او هېر یې کړي؟
په افغانستان کې د امریکا دیپلوماتیکي ماموریت د ډېرو کلونو لپاره بې سفیره پاتې شو او د امریکایي دیپلوماتانو شمېر په لویه کچه لږ کړل شو. امستوز شازدفېر شو او لږ وخت وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزارت تر ټولو لوړ اعزاز ورکړل شو.
د ډېز له مړینې څخه څه ناڅه یوه اونۍ وروسته، بختورین د یو لوېدیځ سفارت په ښه راغلاست خونه کې و. د امریکا د امنیتی چارو افسر، چارلي، ده ته ورننېږدې شو. ده وویل چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له لوري د شوروي سلاکارانو په تور لګونه کې ده هېڅ ونډه نه لرله. ده په شاړپاړه ښه د څرګندونو داسې هڅه وکړه: «دا هسې سیاست دی. د واشنګتن خلک خپله لوبه مخته وړي.» بختورین ډاډ ورکړ: «کومه خبره نشته. راځه چې یو څه وڅښو. دا راته ووایه چې دغه پېښې په شخصي توګه پر تا کوم اغېز وکړ؟»
چارلي یو سوړ او اوږد اسوېلی وکېښ او ویې ویل: «زما څوکۍ ټیټه کړل شوه او بولېویا ته بدل کړل شوم.»

# ۵

## په هرات کې پاڅون - لومړنۍ وینه

د ۱۹۷۸ کال په پسرلي کې د شوروي کارپوهانو شمېر په افغانستان کې له دووه زرو کسانو څخه واوښت. د دوی کارپوه مرستو بېلابېلو بڼې خپلې کړې. د جلال اباد په څنډو کې د مالټو او زیتونو لپاره د کرنې مدرن فارمونه جوړ شول، د پولتخنیک پوهنتون او په کابل کې د ګاډي تخنیکي ښوونځي ته ښوونکي راوستل شول، د افغانستان په شمال کې شوروي کارپوهانو د ګاز زېرمې کار اخیستنې ته چمتو کړې او په مزار شریف کې یې د منرالي سرې یوه فابریکه جوړه کړه. نورو د ډاکترانو، د پوهنتونو کارکوونکو او د دولتي او ګوندي سلاکارانو په توګه کار کاوه.

د عمومي اند سره سره، دا به له انصاف څخه لیرې وي چې ټولو سلاکارانو ته د داسې نانځکو او پېښنه مارو• نوم ورکړل شي چې افغانان یې دې ته اړ ایستل چې د شوروي خاکې پر بنسټ هر څه ترسره کړي. سلاکارانو له یو بل څخه توپیر درلود او د خپلو دندو د ترسرکولو بڼه یې د زده کړو په کچه، هوښیارۍ، تجربې او اخلاقي ځرنګتیاو پورې تړلې وه.

ځینې شورویانو په افغانستان کې د ماموریت ترسره کونې ته د خدای له لوري د سزا په سترګه کتل. دوی خپل ډېرى وخت په خپلو اپارتمانونو او کوټیو کې تېراوه او کله کله به بازار ته د پېرودلو لپاره ووتل. دوی له انقلاب، ټولنیزو اصلاحاتو او حتی افغانانو سره دومره ناټې نه درلود او له هر څه څخه یې وېره لرله - ناولې خواړه، اسلامي بنسټپالنې، د هوا حالات، په بازار کې دوکه کېدل، د افغان ځارګرو له لوري پاړونو او حتی له نورو شورویانو څخه وېرېدل چې د دوی راپور به ورکړي. دوی داسې ننګېرل چې هر ځای خطر ورته پټ تم دی. د دوی قراردادونه له درېیو میاشتو څخه نیولې تر دوو کلونو پورې وو. کله به یې چې وخت پوره شو، زړه به یې ډېر ارامه شو او د ژوندي پاتې کېدو په ښه بخت او د اتلولۍ په ننګېرنه به بېرته شوروي ته لاړل.

نورو چې د سوداګرۍ وړتیا لرله، افغانستان ته یې خپل تګ د تور بازار له لارې د ځان بډای کولو لپاره ښه فرصت ګاڼه. دوی به په درجنونو د پسه د څرمنې کوټونه پېرودل چې په شوروي کې یې په ډېره ګټه وپلوري او په ګټه یې د ټولو خوښ ګاډی، ژیګولي Zhiguli وپېري. داسې توکي لکه ګاډي، ټیپونه، کوبای

---

•پېښنه مار: هغه څوک چې پخپله کومه وړتیا ونه لري او د نورو خلکو پېښې (تقلید) کوي

www.samsoor.com

پتلونونه، گرانبیه ټوکر، نیمه گرانبیه تیږې او الکترونیکي ساعتونه په شوروي اتحاد کې لږموندي وو؛ نو هلته به د احتکار توکي ترې جوړ شول.
خو په ریښتیا ډېر شوروي سلاکاران خواریکښ، اخلاصمن او هوښیار خلک وو. دوی به هېڅوک په دې گرم نه کړي چې د شوروي خاکې پر بنسټ یې خپلې دندې ترسره کولې؛ نو دوی له کومو نورو خاکو څخه کار اخیست؟ د دوی ډېری د شوروي له دویم او درېیم داسې نسل څخه وو چې یوازې له شوروي ژوند بڼې سره اشنا وو، دا که د گوند بڼه وه، د ځوانانو سازمان بڼه ، د سوداگریزو ټولنو او که کاري یا پوځي ژوند بڼې وې، دوی یوازې په همدغو بڼو پوهېدل. دوی هڅه کوله چې بزگران وهڅوي چې گډې بزگرۍ Collective farms ته ورته یو شی جوړ کړي. دغه هڅې یې له دې کبله نه کولې چې دوی ناولې موخې لرلې بلکې ځکه یې کولې چې د کرنیزو توکو په اړول کې دوی ته کومه بله لاره مالومه نه وه. دوی په پوځي بارکونو کې د «لېنن کوټه» جوړه کړه ځکه چې د شوروي په هر پوځي بارک کې دغسې کوټه شته وه چې له پروپاگند او د شوروي مشرانو له انځورونو به ډکه وه. دوی به په ویاړ د خپل کار د پرمختگ راپور په شوروي کې خپلو مشرانو ته په هغه بڼه ورکاوه لکه کله یې چې په شوروي اتحاد کې د ځوانانو په سازمان یا په سوداگریزو ټولنو کې کار کاوه. شوروي سلاکارانو ته د دې خیال ناشونی و چې له ا خ د گ څخه پرته نور گوندونه هم شته ځکه چې دوی د «د مرکزي دموکراسۍ» په یو گوندي جوړښت کې ستر شوي وو. دا د یو کلک او نېغ (عمودي) واک جوړښت و. دوی پوهېدل چې له دغو اصولو څخه هرراز سرغړونې ته به په بې رحمۍ سزا ورکړل شي.
ډېری شوروي سلاکارانو د زړه له تل څخه د غوبي انقلاب پر اېډیالونو باور درلود: ازادي، برابري او ورورولي. په شوروي اتحاد کې انقلابي پرځنگ پر یو تاریخي میراث اوښتی و او د کتابونو، یادښت لیکونو او افسانو پر سرلیکونو بدل شوی و. دوی دغه اېډیالونه د خپل کلتوري تاریخ لپاره حیاتي بلل او منلې یې وه چې په افغانستان کې یو انقلابي پرځنگ روان دی، په داسې ځای کې چې د دوی له وره څخه نېغ بهر پروت دی. د ښه او بد تر منځ جگړه چې دوی د خپل هویت یوه بشپړوونکې برخه گڼله په افغانستان کې له یو نوي ځواک سره رامنځته شوه. ژوندۍ د وي ازادي، ورک د وي ځبېښناک (استثمار).
د شوروي سلاکارانو ترټولو لوی شمېر د افغانستان وسلوال پوځ ته ځانگړی شوی و. د هر افغان جنرال، ډگروال او جگړن تر شا یو شوروي جنرال، ډگروال او جگړن ولاړ و. شوروي پوځي سلاکارانو په هر پوځي واحد، هره مرکزي اډه، او هر پوځي ښوونځي او پوهنتون کې دنده ترسره کوله. په عین وخت کې د شوروي پوځي سلاکار ماموریت د مشر، جنرال گوریلوف سیاسي نفوذ په چټکۍ مخ په ډېرېدو و. په افغان چارو کی لیو نیکولایوویچ ورځ تر بلې مخور کېده.
ده په ښکاره له امین سره خواخوږي ښوده او دی یې د وړتیا څېښتن او د افغانستان ریښتینی واکمن گاڼه. امین هم په دغه حقیقت پوهېده. په دغه وخت کی امین خپل هغه سیستم بشپړ کړی و چې د شوروي

کارپوهانو څارنه وکړي. یوه ورځ امین له ګوریلوف څخه وغوښتل چې ده ته په پوځي تیورۍ کې اونیزه سبق ورکړي. ګوریلوف ومنله او په اوږدو درسي ساعتونو کې یې افغان مشر له ستراتیژۍ، تکتیکونو، وسلو، مهماتو، پوځي تکنالوژۍ او له پوځي قانون سره اشنا کړ. د دغه درسونو په ترڅ کې امین د ګوریلوف لا ډېر خوښ شو چې یو داسې سېکمن او پوښتنیال افغان سیاستوال دی چې د هغو افغان وزیرانو په منځ کې تر ټولو وتلی دی چې پر زده کړو یې خوا نه بدوله.

امین به ډېرې وخت جنرال ګوریلوف او زېلتین ته په ډېرېدونکې سپکې بڼې ویل چې په مسکو کې د دوی ملګري له پرچمیانو سره خواخوږي کوي د دې پر ځای چې سملاسي یې وشړي او یا له دې څخه هم ښه، د افغانستان امنیتي ادارو ته یې وسپاري چې «محاکمه» کړل شي. یوه ورځ، کله یې چې د دغو دوو ډلو تر منځ د نه پخلاکېدونکې بېلتون په هکله له خپلو شوروي ملګرو سره خبرې کولې، په کنځاو یې خوله پرانیسته. امین له دغو جنرالانو څخه وپوښتل: «ستاسې په اند، د ا خ د ګ له جوړېدو راهیسې ولې دغو دوو ډلو له شخړو څخه پرته بل څه نه دي کړي؟» زېلتین په پام داسې ځواب ورکړ: «د تکتیکونو او ستراتیژیو په هکله بېل اندونه.» د زېلتین په پرتله ګوریلوف په لږ ډیپلوماتیکې بڼه ځواب ورکړ: «خلقیان په ټولنه کې له ترټولو ټیټ پوړ څخه دي په داسې حال کې چې پرچمیان د منځني او لوړ بورژوازي پوړ او همدا راز د فیوډالي کړیو استازولي کوي. زما په اند، دا په ټولنه کې د پوړونو تر منځ د بېلتون یوه لویه برخه ده.» امین وویل: «ستاسې ټولې خبرې سمې دي، خو اوس اجازه راکړئ چې اصلي لامل یې زه درته ووایم. زه هیله من یم چې تاسې یې له خپلو مشرانو سره شریک کړئ او زموږ د هغو شوروي ملګرو سترګې پرانیزئ چې تراوسه په پټو سترګو پر کارمل باور کوي. دغه بېلتون د امپریالېستي او فیوډالي غبرګون پایله ده. پرچمیتوب په مصنوعي بڼه زموږ د څارګرو ادارو، څارګر پولیس او د څارګرو فعالیتونو د شنډولو پوځي ادارو په تل کې رامنځته شو. کارمل او متحدین یې هغه اجنټان دي چې په شاهي دوره کې وګمارل شول. زه ډاډ لرم چې د دوی ریښتیني مشران له کابل څخه ډېر لیرې کار کوي، په امریکا یا په بن کې.»

دغه دوو جنرالانو له مانا څخه ډکې سترګې یو او بل ته واړولې. د لیو نیکولایوویچ ښه په یاد وو چې د کې جي بي یو لوړپوړي چارواکي په بخارخونه کې ورته ویلي وو چې د غوبیې تر انقلاب پورې کارمل، تره کی او پخپله امین له کې جي بي سره نېږدې همکاري درلوده.

امین خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «زه پوهېږم چې تاسې ته سخته ده چې پر دې باور وکړی، خو که تاسې زموږ د ګوند تاریخ ته ځیر شی، تاسې به پوه شی چې پرچمیانو هر راز هڅه کوله چې انقلابي خوځښت رنګ کړي. کارمل پخپله په وار وار غوښتنه وکړه چې له شاهي ارتجاعي رژیم سره همکاري وشي. ده وړاندیز وکړ چې موږ خپل تک سور رنګ لږ پیکه کړو او پاچا په دې قانع کړو چې موږ کمونستان نه یوو. تاسې دې ته فکر وکړئ، دا له شاه سره له پټو کړنو پرته بل څه کېدای شي؟

www.samsoor.com

زه به هغه حقيقت ته نغوته وکړم چې زموږ د ګوند مشرانو ته ښه ښکاره دی، خو ښايي زموږ شوروي ملګري هک پک کړي. کارمل ډېر کلونه، حتی د تېر کال د غويي تر مياشتې پورې د محمد داود جاسوس و - د داسې يو اکاړ سړي چې پخپله د امپرياليستانو ګمارلی لاس و. د دې په بدل کې، د داود امنيتي ادارو پرچميانو ته پټې سترګې نيولې او په عين وخت کې داود ځينې پرچميان په خپله کابينه کې د وزيرانو په توګه وګمارل.»

امين په خپلو خبرو کې تم شو او مخکې له دې چې پر وروستني ټکي خبرې وکړي، د سلاکارانو له غبرګون څخه يې خوند اخيست. بيا يې وويل: «د شاه پر ضد له کودتا څخه وروسته، د ځينو دليلونو له کبله د داود مينه له خپل پخواني جاسوس، کارمل سره لږ شوه. کارمل چې هيله لرله پر داود بيا خپل ځان ګران کړي يو پلان يې جوړ کړ چې د خلق ډلې مشران ونيول شي او له منځه يووړل شي. دغه پلان يې ولسمشر ته وسپاره. دا يوازې د الله رضا او د خلکو ملاتړ و چې له موږ سره يې مرسته وکړه چې له نيول او وژل کېدو څخه ځان وژغورو.»

دواړه سلاکاران خواشيني ښکارېدل. مخکې دوی ته په وار وار ويل شوي وو چې پرچميان خوسا خلک دي چې باور پرې نشي کېدای، خو اوس يې چې نوي حقيقتونه واروېدل، دوی پوه شول چې له کارمل او متحدينو سره د خلقيانو پخلاينه ناشونې ده. امين چې يو ځيرک روانپوه و، د سلاکارانو د مزاج په بدلون پوه شو. ده له دغه فرصت څخه کار واخيست چې د بدنامۍ پرځنګ لپاره د بريا پلان جوړ کړي. دی په ډېرېدونکې توګه د خپلو شوروي ملګرو له کرکټر سره اشنا کېده. د بېلګې په توګه، نوموړی پوهېده چې زپلتين يو کورنۍ پال سړی دی چې دوديزه ارزښتونه لري، يو داسې سړی چې نړيوال اخلاقي اند لري. امين، زپلتين ته مخ واړاوه او ويې ويل: «له اناهيتا راتب زاد سره د کارمل اړيکې يوه بېلګه وګڼه. ته پوهېږې چې د نوموړې مېړه څوک و؟ بل څوک نه بلکې د شاه شخصي ډاکتر! کارمل داسې سړی دی، بيا يې خپله ګنهکاره انډيواله مرکزي کمېټې ته راوسته!»

زپلتين خپل لاسونه داسې وخوځول لکه چې له خپل کوربه سره د کارمل په کرکه کې شريک وي. امين خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «موږ تل د ټولنيز پوړ په هکله په خپل دريځ ولاړ يو او د خپل ملاتړ بنسټ مو په خواريکښ پوړ کې بللی دی. کارمل تل له روڼ اندو، ملي بورژوايانو او حتی د ځمکې له خاوندانو سره د اتحاد خبرې کولې. دا روښانه ده چې دوی لېږن په ځير نه دی لوستی؛ نو پايله يې څه شوه؟ دا خلقيان وو چې د غويي په لوی انقلاب کې بريالي شول. خلقيان د انقلابي پرځنګ سرتېری وو. تاسې يو پرچمي راوښيئ چې په دغه ورځ يې کومه کارنامه ترسره کړې وي. رفيع، چې د څلورم زغروال غونډ قوماندان و، په خپل دفتر کې کرار ناست و حال دا چې د ده ټيټ پوړو افسرانو خپل ژوند په خطر کې واچاوه چې د ارګ ماڼۍ ازاده کړي. جګړن ضيا، يو پټ پرچمي، د داود د ګارد مشر و او ده پخپله زموږ خلقي ملګري ويشتل. نور پرچميان په خپلو سوړو کې پټ شول. نه، دوی انقلاب ته اړتيا نه لرله.»

امین خپل ټېر وواهه او په ویاړ یې وویل: «اوس ټول پوهېږي چې د غویي انقلاب ریښتینی اتل څوک دی. دیارلس کاله مخکې کله چې ملګري تره کي مرکزي کمېټې ته زما د غړيتوب سپارښتنه وکړه، چا د دغه سپارښتنې پر ضد خبرې وکړې؟ کارمل! ده او ملګرو یې تر خپلې وسې پورې هر څه وکړل چې زما مخه ونیسي. د غویي له انقلاب څخه یوازې یوه میاشت مخکې، دغه خلکو یو ځل بیا له مرکزي کمېټې څخه زما د شړلو او د ګوند د پوځي وزر له مشرۍ څخه زما د ګوښه کولو غوښتنه وکړه. پایله یې څه شوه؟ دوی د انقلاب او ګوند ضد خلک وو او د دموکراتیکو اصلاحاتو پر ضد وو. اوس کارمل او ملګري یې چېرته دي؟ هېڅ چېرته! او ما ته وګورئ چې ستاسې مخ ته ناست د هېواد دویم واکمن، د مرکزي کمېټې منشي، وزیر او مرستیال ولسمشر یم. د شوروي اتحاد تر ټولو لوړپوړو خلکو، د نړیوال کمونست خوځښت مشرانو په پرانیستې غېږ ښه راغلاست راته وویل او ټوله نړۍ مې پېژني!»
د افغان انقلابي خوځښت د یو لوی تیوریسن په توګه د کارمل په هکله پر دروغو کیسو باور مه کوئ. ده به په تېرو څو کلونو کې ډېرې مقالې لیکلې وي، خو که تاسې یې په ځیر ولولی، تاسې ته به یو یاغي، بورژوا فرصت پال، پاروونکی او داسې ایډیالوژیست څرګند شي چې په مارکسېستي تیورۍ کې ډېر نرمښت غواړي. په مسکو کې خپلو مشرانو ته خبر ورکړئ څو خپل غلط پوهاوی د تل لپاره لیرې کړي.»
ګوریلوف او زېلتین په همدغه ښه د «افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کې د دویم واکمن سړي» په هکله د خپل مثبت اند څرګندونې خپلو مشرانو ته کولې. دوی به د امین په شخصي څرنګتیاو او کاري وړتیا خپله خوښي څرګندوله، خو په زړه پورې دا وه چې امین هېڅ کله د شوروي سلاکار ماموریت پر مشر بشپړ اعتبار نه کاوه. نوموړي چې ځان ته انقلابي ویل، دا یې نښوی هېرولی چې ګوریلوف داود ته نېږدې و او د شاه د روغتیا لپاره یې پیالې جنګولې وې. د تېر کال په بهیر کې کابو ټول هغه پېژندلي افغانان چې له پخواني رژیم سره یې تړاو درلود بندیان یا ووژل شول او یا له هېواد څخه وتښتېدل - د امین په مشرۍ د انقلابي پرځنګ بې رحمه منطق داسې و. امین د اکتوبر لوی انقلاب سبق له هغو کتابونو زده کړی و چې امریکایي لیکوالانو لیکلي وو. نوموړي په امریکا کې د خپلې استوګنې په ترڅ کې دغه کتابونه په ډېر خوند لوستي وو؛ نو ځکه جنرال ګوریلوف او سفیر پوزانوف، چې د برېژنېف د دورې نرمپاله مارکسېستان وو، په افغانستان کې د نوي ژوند لپاره د امین په انقلابي پلان کې ځای نه درلود، خو لیو نیکولایوویچ د امین په دوښمنۍ یوه ذره خبر نه وو او په ډېره اخلاصمنه توګه یې خپله دنده ترسره کوله.
دی یو پخوانی پراشوټي پوځي او د پراشوټي فرقې قوماندان و چې غوښتل یې د شوروي په څېر په افغانستان کې یو ځانګړی پوځي ځواک جوړ کړي. په دې موخه یې له ټول افغانستان څخه ۳۰۰ غښتلي افغان ځوانان راغونډ کړل. دوی ته شوروي افسرانو روزنه ورکوله او ګوریلوف پخپله د دوی د روزنې څارنه کوله. په هوا کې له ولاړې چورلکې څخه د پړي په مرسته د راښکته کېدو په ګډون، ده به د دوی د ځانګړو
www.samsoor.com

روزنو چارې سمبالولې. جنرال گوریلوف له دغه ځانگړي ځواک څخه ډېر ژر کار واخیست. د ۱۹۷۹ کال د مارچ میاشتې په نیمایي که دغه ډله د افغانستان لوېدیځ ته ولېږل شوه چې په هرات کې یو پیل شوی پاڅون وځپي.

ډېرو خلکو په افغانستان کې د هرات ښار تر ټولو ښایسته بللو. هرات چې له ترکمنستان او ایران سره پوله لري په کسبکارۍ، سوداگرۍ، ښېسارې ښایسته شاعرۍ او موزیک کې نوم درلود. طبیعت هم د دغسې استعدادونو له ودې سره مرسته کوله. د نړۍ په هېڅ برخه کې به څوک داسې ښایسته د نښتر ځنگل ونشي موندلی لکه په هرات کې چې دی. له هر لوري سیلانیان راتلل چې د مصلا له منارونو او د جامع جومات له شین رنگه داسې نقاشیو څخه خوند واخلي چې په ختیځ کې له ډېرو ښایسته نقاشیو څخه شمېرل کېږي. د سیلانیانو د منځنیو پېړیو هغه کلا خوښېده چې د ښار په منځ کې د غونډۍ پر سر جوړه شوې وه. دوی به ټوکر، قالیني، وسپنیز توکي پېرودل او د چرگانو د جنگ ننداره به یې کوله.
د افغانستان لپاره هرات داسې و لکه روسیې ته چې سنکټ پیټرزبورگ دی. هرات پخپله یو داسې ښار و لکه له رڼاو او سمونتیاو څخه ډکه کلا.
شوروي سلاکارانو په هرات کې دنده په خوښۍ منله، د افغانستان په ستندرد ، هرات یوه ډېره دودیاله (متمدنه) سیمه وه. یو نوی درې پوړیز مېلمستون (چې په هوا سپېڅي (اېیرکانډېشن) سمبال **او** رستورانت او د لامبو ډنډ یې درلود)، سینماگانې، موزیمونه، مهندسي څلي او د لیدلو ډېر نور ځایونه شته وو. یوه لویه لاره هرات له کوشکې، د شوروي تر ټولو سوېلي ښار، سره نښلوي. په دغه لاره له هرات څخه تر شوروي اتحاد پورې د ۹۰ دقیقو مزل دی. یو بل مهم ټکی دا و چې هرات یو خوندي او ارامه ښار او د «شر له ځالې» پاکستان څخه او د افغانستان له توپاني قبایلي سیمو څخه ډېر لیرې پروت و. د سیمې اوسېدونکي د ښه مزاج خاوندان، مېلمه پال او په دودیزو کسبونو کې بوخت خلک وو. د ۱۸۷۹ کال په پسرلي کې د شوروي پوځي سلاکارانو چې د هرات په اوولسمه فرقه کې گمارل شوي وو، ملکي کارپوهانو، چکسلواکیایانو، بلغاریایانو او هندي کارپوهانو، ټولو په هرات کې له ژوند څخه خوند اخیست. په هرات کې کابو ټول شوروي افسران له خپلو کورنیو سره اوسېدل.
د پوځي سلاکارانو چوپړونه په ځانگړې توگه دومره ستونزمن نه وو ځکه په دغه سیمه کې او شاوخوا یې هېڅ فعال پوځي عملیاتونه نشته وو. په اوولسمه فرقه کې د گوند یو غښتلی جوړښت له انقلاب څخه لا مخکې جوړ او تراوسه شته و چې نه یوازې افسران، بلکې برید مل او حتی عسکر هم پکې وو.

دا تراوسه روښانه نه ده چې څه شي د پاڅون پیل ته پلته ووهله. کېدای شي د سیمه ییزو انقلابیانو لېبرال چلند د سیمې د وګړو دیني حساسیتونه پارولي وي. د بېلګې په توګه، نوې اداري له ښځو غوښتل چې خپل دودیزه حجاب paranja لیرې کړي او نجونې له هلکانو سره یوځای په ښوونځیو کې زده کړې وکړي. دوی له خلکو غوښتل چې د الله عبادت نه بلکې د تره کي، چې انځورونه یې په ټول ښار کې وو، عبادت وکړي. ښایي د دوی هغه شاړپاړو هڅو د پاڅون په پیل کې ونډه لرله چې د ځمکې اصلاحات پلي کړي څو په سیمه کې د ترټولو بېوزلو او ځبېښل شوو اوسېدونکو ژوند سم کړي او یا ښایي وجه یې د هغه انقلاب دیني او سوداګریز اړخونه وو چې په ایران کې د شاه پر ضد یوه میاشت مخکې ترسره شو. شیعه مسلمانان په هرات او ایران کې اوسېږي. د ایران او هرات ترمنځ پوله نه وه او د سیمې خلک په ازاده توګه هاخوا دېخوا تللي شوی. د فبروری په میاشت کې د ایت الله خمیني ملاترو په بریالیتوب اسلامي انقلاب د ایراني ژوند په هره برخه کې اعلان کړ. کېدای شي دغه ناره هرات ته هم رسېدلې وه.

خو لامل یې چې هر څه و، د ۱۹۷۹ کال د مارچ په دوولسمه له هر لوري څخه د پارېدلو بزګرانو ګڼه ګوڼې هرات ته ننوتلې. د ښار اوسېدونکي هم له بزګرانو سره په واټونو کې یوځای شول او د خلکو دغه ګڼه ګوڼه چې سوټي او تیرې ورسره وې د «الله اکبر» په نارو د ښار منځ ته ننوته. د ګوند کمېټه او ټول سمیه ییز واکځایونه چور او وران شول. بلواګرو د ا خ د ګ فعالان ټوټې ټوټې کړل او کورونه یې وسوځول. هرات، چې په نورماله توګه یو ارامه او سوله من ښار و، د یوې شپې په ترځ کې په یو ځاځمن (قهرجن) دوزخ بدل شو. هغه پوځي هڅو چې په واټونو کې یې له زغروالو ګاډو څخه هوایي ډزې کولې څو بلوا شنډه کړي خلک لا ډېر وپارول او په ټول ښار کې پر پوځي اډو برید او د وسلو او مهماتو د نیولو نارې واورېدل شوې.

د مارچ په څوارلسمه، د اوولسمې فرقې د قوماندان لوی سلاکار، ډګروال ستنېسلف کڅییوف Stanislav Katichev له کابل څخه مرسته وغوښته. جنرال ګوریلوف، کڅییوف ته امر وکړ چې پر پاڅون کوونکو د توپخانې ډزې وکړي او ژمنه یې وکړه چې «د حالاتو په کابو کولو کې به ورسره مرسته وکړي.»

د توپچي ډلې پوځیانو خپلې وسلې د ځاځمنو پاڅونوالو په لور سیخې کړې. په هغه وخت کې په هرات کې مېشتو روسانو خپله لومړنی مرګ ژوبله ولیده. د وړیو سوداګر، یوري بګدانوف Yuri Bogdanov په بې رحمۍ ووژل شو او د یوې معجزې په خبر د ده مېرمن افغان ګاونډیانو پټه کړه او له غوسه ناکې ګڼې ګوڼې څخه یې دغه ټوبنټوکه مېرمن وژغورله. جګړن نیکولای بزیکوف Nikolai Biziukov په اکاړه توګه هغه وخت ووژل شو چې پاڅونوالو د ده جیپ د اوولسمې فرقې په لاره کې ودراوه.

د دغسې تاوتریخوالي چې ټول هرات یې نیولی و هېڅ تمه نه کېده. مخکې داسې ګڼل کېدل چې شورویان په افغانستان کې د وېرې کوم لامل نه لري ځکه چې پر «افغانانو» ګران دي او دوی به یې هر

ځای او هر وخت ساتنه وکړي. اوس ناڅاپه د منځنۍ پېړيو د بڼې وژنو دغه اوږد مهاله انګېرنې ټوټې ټوټې کړې. ملکي کارپوهان او د پوځي سلاکارانو کورنۍ د هرات هوايي اډې ته وايستل او ورپسې کابل ته ولېږدول شوې. د ايرفلوټ الوتنې تر رارسېدو پورې، دغه خلک د سفارت په مرمرين نومي دالان کې ځای پر ځای شول. په نورمالو حالاتو کې دغه ځای د ځانګړو رخصتيو مېلمستياو ته ځانګړی شوی و. له هرات څخه د وتلو په بهير کې ډېرو شورويانو خپل ټول لاسوند او نور شته ترشا پرېښودل. د ډېرو يې د خوب جامې او يوازې نېکر په ځان کې وو.

ډېر ژر څرګنده شوه چې وضعيت نور هم خرابېدونکی دی. پاځون په دوامداره توګه هغه وخت غښتلی شو چې بلواګرو اوولسمه پلې فرقه ونيوه. حتی په دغه فرقه کې چې د ا خ د ګ ته ترټولو وفادره او اعتباري انګېرل کېده، د ملايانو نفوذ د هغو پوځيانو د وفادارۍ په پرتله ډېر و چې نوي رژيم ته ژمن وو. وروسته له دې چې د توپچي ډلې پر هغه پاځون کوونکو ډزې وکړې چې اډې ته نېږدې کېدل، د توپونو خولې بل لوري ته راوګرځول شوې او پخپله اډه کې يې پر بارکونو ډزې پيل کړې. دوه ورځې وروسته، کابو د ټولې فرقې اړوند واحدونه يا له پاځونوالو سره يو ځای شول او يا يې خپلې دندې پرېښودې.

د مارچ په پنځلسمه هرات د پاځونوالو تر کنترول لاندې راغی. رژيم ته وفادارو قوماندانانو او شوروي سلاکارانو هوايي اډې ته، چې له ښار څخه لس کيلو متره ليرې وه، شاتګ وکړ.

راتلونکې پنځه ورځې د افغانستان دموکراتيک جمهوريت ته ډېرې مهمې وې. حکومتي کړۍ له وېرې ډکې وې. هرات، چې ارامه او حکومت ته وفادار انګېرل کېده، د بې وسلې ګڼې ګوڼې لاس ته په دومره اسانۍ ورغی؛ نو له نورو سيمو څخه چې په ډېر نازک حالت کې دي او وسلوالو مخالفينو پکې ګډوډي جوړه کړې ده څه تمه کېدای شي. ايا دغه پاځون به نورو ته يوه نغوته وي چې يو ځواکمن پاځون پيل کړي؟ که داسې وشي؛ نو د انقلاب ضد ځواکونه به نېغ د کابل په لور په ډېرېدونکې ځواکمنه توګه روان شي. ځواک به يې ورځ تر بلې ډېرېږي او اومه يا تنکۍ واکمنه اداره به له شوروي سلاکارانو، الوتکو، شوبلو، ايډيالوژيو او ژمنو سره يوځای په خښولو وګواښي.

تره کی، چې ډېر اوتر و، له ګوريلوف څخه يې د پوځي مرستې غوښتنه وکړه. که روښانه وويل شي، ده غوښتل چې د شوروي پراشوټي پوځيان لاس په کار شي.

امين په هرات کې د هوايي بمبارۍ امر وکړ او غوښتل يې چې د افغانستان تاج په کنډوالو بدل کړي. شوروي سلاکارانو ته ډېره سخته وه چې امين وډوماري چې دغه کار و نه کړي، خو بلاخره دوی په دغه هڅه کې بريالي شول.

بګدانوف د سروري دفتر ته لاړ چې له ده سره وګوري. سروري تومانچه په لاس له ده سره وکتل. دی داسې ښکارېده چې هر شېبه د مخالفينو د بريد تمه لري. نوموړي په نيولي او لړزېدونکی غږ وويل: «نور

نو د هرات پلې فرقه نشته. ښايي په پوځ کې يو څنځيري ډار او اوتروالی خور شي. که وضعيت دغسې دوام وکړي، پنځه ورځې وروسته به د کابل برخليک د هرات په څېر وي.»

بگدانوف چې هېڅ کله سروري داسې اوتر نه و ليدلی ترې وپوښتل: «د کړنې څه پلان لرې؟» سروري ورته وويل: «موږ به غرونو ته وخېژو او هر څه به له سره پيل کړو. موږ به بېرته سره راغونډ شو او پر هېواد به داسې راښکته شو لکه يو يمال•.» بگدانوف له ځان سره وويل: «هو، اورمرو. تاسې به وتښتی او پټ به شی، خو موږ چېرته لاړ شو؟ څوک به زموږ ښځې او ماشومان پټ کړي؟» وروپسې يې سروري ته وويل: «ته بايد په ارامی د حالاتو ارزونه وکړې. څومره چې زه پوهېږم، ستا مشرتابه داسې څه و نه کړل چې له هرات سره مرسته وکړي. ايا ستا کوم مشر هلته تللی؟» سروري ځواب ورکړ: «نه.» داسې برېښېدل چې نوموړي په دې اړه هېڅ فکر نه و کړی. بيا يې وويل: «زموږ ټول مشران تم دي چې شوروي اتحاد له موږ سره مرسته وکړي.»

دولتي مامورين، د ا خ د گ د مرکزي کمېټې غړي، د خلکو په مانې کې، چې د تره کي استوگنځی هم و، بيروکراتان، ټول اوتر وو. زپلتين او گوريلوف په ډېره سختی هڅه کوله چې د دفاع وزارت مشران سد ته راولي. دوی د توپچي ډگروال انځيرگل په مشری يوه عملياتي ډله جوړه کړه او د شينډنډ له هوايي اډې څخه يې، چې د هرات په سوېل کې پرته ده، يوه د IL-28 الوتکو ډلگی په کار واچوله. همدا راز، د يوې داسې ځانگړې پوځي ډلې په جوړولو يې هم پيل وکړ چې پاڅون وځپي.

د هرات په پلې فرقه کې پاڅون نه يوازې افغان مشران بلکې په کابل کې شوروي استازي هم ډېر ووېرول. دغه لړبکه مسکو ته ورسېده او د سياسي ببرو د غړو پام يې هم ځان ته واړاوه. د دغه ستونزې په هکله د خبرو لپاره د شنبې او يکشنبې په گډون، سياسی ببرو څو پرله پسې ورځې دومره ډېرې غونډې جوړې کړې چې د سولې په پېر کې يې ساری نه درلود. د دغو غونډو ليکل شوي متنونه ښيي چې د کرېملين مشران له څومره شديدو ننگونو سره مخ وو چې د حل يوه لاره ومومي.

د مارچ په اوولسمه د شنبې په ورځ د کې جي بي ريس، اندروپوف د بهرنيو چارو وزارت ته لاړ چې د بهرنيو چارو له وزير، گروميکو Gromyko سره وگوري. دغه دواړو ډېر وخت د گروميکو په دفتر کې تېر کړ. د غونډې په ترځ کې يې څو ځلې مارشال اوستينوف ته تيلفون وکړ. اندري اندرييوويچ (اندروپوف) له خپل ياور څخه وغوښتل چې د نوموړي يو شمېر مرستيالان او د منځني ختيځ د څانگې مشران کار ته راوغواړي.

---

•يمال: له غره څخه د واورې راښويېدنه

www.samsoor.com

ورپسې ګرومیکو او اندروپوف کرېملېن ته لاړل چې د سیاسي بېرو په غونډه کې ګډون وکړي. له تګ څخه مخکې، ګرومیکو هغه دیپلوماتانو ته چې په دغه ورځ کار ته بلل شوي وو وویل چې د ده تر راتګ پورې چېرته لاړ نشي.

په غونډه کې د سیاسي بېرو له مهمو غړو څخه یوازې برېژنېف، سوسلوف Suslov او چېرنېنکو Chernenko ګډون و نه کړ. برېژنېف په زوېدواوو Zavidvovo کې و، چېرته چې د نوموړي ښکار خوښېده. لیونېډ ایلیچ په چټکۍ مخ په زړبودۍ روان و او له یو شمېر ناروغیو څخه ځورېده. دی به د معمول په څېر د جمعې په ورځ د غرمې په وخت خپل کلیوالي استوګنځي ته تله. دغه ځل له برېژنیف سره چېرنېنکو هم مل و او سوسلوف په رخصتۍ تللی و. د مرکزي کمېټې منشي، کېرېلېنکو Kirilenko وویل چې برېژنېف به سبا ته په خبرو کې برخه واخلي او سربېره پر دې عمومي منشي دوی ته دنده ورکړې چې راغونډ شي او وضعیت وارزوي. د سیاسي بېرو غړو د هوکړې خپل سپین سرونه وخوځول او هغو پاڼو ته ځیر شول چې دوی ته پر مېزونو اېښودل شوې وې.

کېرېلېنکو، چې د برېژنېف په نه شتون کې د غونډې مشري کوله، وړاندیز وکړ چې ګډونوال د وضعیت په اړه د ګرومیکو لنډې مالوماتي وینا ته غوږ ونیسي. په دې هکله کوم اعتراض نه و؛ نو د بهرنیو چارو وزیر په نیولې او سره بڼه په افغانستان کې د پېښو په هکله خبرې پیل کړې: «د هغو راپورونو پر بنسټ چې موږ له افغانستان څخه ترلاسه کړي - د شفري تېلګرافونو او په افغانستان کې زموږ له پوځي سلاکارانو، ملګری ګوریلوف او مهالیز شاژدفېر ملګری الکسییوف Alexeyev سره د تیلفوني خبرو په ګډون - حالات ډېر کړکېچن شوي. د نارامۍ مرکز د هرات ښار دی چې د افغانستان په لوېدیځ کې له ایران سره پوله لري. موږ ته داسې راپورونه رارسېدلي چې د هرات اوولسمه فرقه په بشپړه توګه منحل شوې ده. یو توپچي او یو پلي غونډ پاڅون وکړ او له مخالفینو سره یوځای شول. د ایران له خاورې څخه د ترهګرو او ورانکارانو غدۍ غیر قانوني کړنې ترسره کوي او د هرات ښار یې تر خپل واک لاندې راوستلی دی. دوی له انقلاب ضد افغانانو سره چې ډېری یې مذهبي څېرې او بنسټپال مذهبي سربښندونکي دي لاسونه یو کړي. د مخالفینو د شمېر اټکل سخت دی، خو زموږ ملګري وایي چې دوی په زرګونو دي.» ګرومېګو د «په زرګونو» ویي په ټینګاریزه بڼه ادا کړ او بیا یې په وینا کې یوه دمه وکړه څو ټول د وضعیت په جدیت پوه شي. ورپسې یې وویل: «دغه سهار په یوولسو بجو ما له امین سره خبرې وکړې. نوموړي په ارامۍ او باور ما ته ډاډ راکړ چې حالات دومره پېچلي نه دي لکه څنګه چې ښکاري او وضعیت د افغانستان وسلوال پوځ تر کنترول لاندې دی.»

کېرېلېنکو وپوښتل: «نو د امین د خبرو پر بنسټ، د افغانستان مشرتابه اندېښمن نه دی؟» ګرومیکو په نېغ ځواب کې

ورته وويل: «همداسې ښکاري. امين راته وويل چې په عمومي توګه حالات نورمال دي. دی ادعا کوي چې ټول واليان خپل قانوني حکومت ته وفادار دي، خو زموږ ملګري بل څه وايي. دوی وايي چې په هرات او ځينې نورو ځايونه کې حالات د اندېښنې وړ دي. ما له امين څخه وپوښتل چې دوی کومې کړنې اړينې بولي چې موږ يې ترسره کړو. امين رژيم ته له هر راز ګواښ څخه په ټينګه انکار وکړ. د خبرو په پای کې ده له ما څخه وغوښتل چې د سياسي بېرو غړو ته او په ځانګړي توګه برېژنېف ته د ده سلامونه ورسوم، خو شاوخوا دوه درې ساعته وروسته، زموږ ملګرو وويل چې په هرات کې نارامي مخ په ډېرېدو ده. اوس د مخالفينو داسې ډلې چې په پاکستان او ايران کې روزل شوې دي افغانستان ته د ننوتلو تابيا نيسي. کابو نيم ساعت وروسته، خبر راکړل شو چې ملګري تره کي د يوې غونډې لپاره ګوريلوف او الکسييوف ور وغوښتل. نوموړي له شوروي اتحاد څخه د پوځي وسيلو، مهماتو او خوراکي توکو په ګډون د مرستې خواست وکړ. هرڅه په هغه لاسوندو کې نوملړ شوي چې ستاسې مخې ته پراته دي. تره کي دا يادونه هم وکړه چې دوی ښايي زموږ ځمکنۍ او هوايي مرستې ته اړتيا ولري. دا د دې مانا لري چې دی غواړي چې موږ خپل دواړه ځمکني او هوايي ځواکونه ورولېږو.»
کله يې چې وروستۍ غونډله بشپړه کړه، په غونډه کې ټولو په اندېښمنه توګه ده ته اوچت وکتل. د بهرنيو چارو وزير اړ شو چې خپلو خبرو ته دا ورزيات کړي: «زما په اند، کله چې موږ دغه هېواد ته د مرستې په هکله ارزوني کوو، موږ بايد دغه حقيقت په پام کې ولرو چې په هېڅ وجه بايد افغانستان له لاسه ورنه کړو. موږ د ښو ګاونډيانو په توګه شپېته کاله ژوند کړی. که اوس افغانستان له لاسه ورکړو، دا به زموږ سياست ته يو لوی ګوزار وي.»
د سياسي بېرو غړي چوپ پاتې شول. دوی خپل پام د دفاع وزير ته واړاوه. اوستينوف، چې مخ يې ډېر ترينګلی ښکارېده، د دې پخلی وکړ چې حالاتو په رينښتيا افغان مشرتابه ډېر اندېښمن کړی دی. دغه وزير له جنرال ګوريلوف سره څو ځلې خبرې کړې وې او حالات ورته ښه مالوم وو. داسې برېښېدل چې پوځي سترسلاکار تر خپلې وسې هر څه وکړل چې وضعيت او باور بايللي افغان مامورين تر خپل کنترول لاندې راولي. نوموړي IL-28 الوتکې په کار واچولې او توپچي واحد ته يې امر وکړ چې پر بلواګرو ډزې وکړي، خو حالات شېبه په شېبه خرابېدل. پرون د دفاع وزير په غوسه ګوريلوف ته وويل چې کارګر پوړ راغونډ او وسلوال کړي. دغه سلاکار د اعتراض هڅه وکړه او ويې ويل: «زه يو سياستوال نه بلکې يو پوځي يم.» خو د اوستينوف ځواب سخت او نه بدلېدونکی و؛ نو ګوريلوف ته يې کومه بله خوښه يا چاره پرېنښوده. سړی د دې خيال نشي کولی چې په دغه شېبه کې ګوريلوف د اوستينوف په هکله څه فکر کاوه. ګوريلوف ښه پوهېده چې د افغان کارګر پوړ په هکله ايډيالوژيکي تشې خبرې هسې اپلتې وې.

www.samsoor.com

اوستینوف د غونډې چوپ ګډون کوونکو ته وویل: «سبا سهار به له کابل څخه عملیاتي ډلې هرات ته ولېږل شي. موږ تره کي ته سپارښتنه وکړه چې سیمې ته یو شمېر پوځي ډلې ولېږي. چې خبرې مې لنډې کړم، دوی د پراخو هوایي او ځمکني بریدونو تمه کوي.»
اندروپوف په بې باورۍ وپوښتل: «او دوی له موږ څخه تمه کوي چې پر مخالفینو ډزې وکړو؟»
بیا کېرېلېنکو پوښتنه وکړه: «ملګرو، دلته یوه پوښتنه راپورته کېږي. که موږ د پوځیانو د لېږلو پرېکړه وکړو، زموږ عسکر
به د چا پرضد جنګېږي؟ موږ داسې واورېدل چې مذهبي ځواکونه له پاڅونوالو سره یوځای شول. دوی ټول مسلمانان دي - د افغانستان عادي خلک. موږ به څرنګه د افغانستان د خلکو پر ضد د جګړې وړاندیز کوو؟»
په دې هکله د کې جي بي  ریس داسې څرګندونه وکړه: «زموږ د مالوماتو پر بنسټ، له پاکستان څخه شاوخوا درې زره
مخالفین افغانستان ته ولېږل شول. دوی ټول مذهبي بنسټپال دي. پوښتنه دا ده چې افغانان به څومره د دوی ملاتړ وکړي.»
ګرومیکو په همغږۍ وویل: «د مخالفینو او د حکومت د ملاتړو تر منځ اوس د واک انډول روښانه نه دی. د هرات پېښې ډېرې په ګډوډۍ او سربدالۍ مخته ځي، له زرو کسانو څخه ډېر خلک ووژل شول، خو حتی تراوسه هم وضعیت روښانه نه دی.»
کاساګین Kosygin په خبرو کې ورګډ شو او په پرېکنده بڼه یې وویل: «زما په اند د پرېکړه لیک دغه خامه چې زموږ مخې ته پرته ده باید اصلاح شي. لومړی دا چې موږ باید تر اپرېل پورې د وسلو د رسونې لپاره تم نشو. دوی ته باید د دوی له غوښتنې سره سم سر له اوسه ژرترژره وسلې ولېږل شي. زه د دغه کړنو وړاندیز هم کوم: تره کي ته باید خبر ورکړل شي چې موږ د هغه ګاز بیه چې له افغانستان څخه یې واردوو په زر مترو مکعبو کې له پنځلسو روبلو څخه پنځه ویشتو روبلو ته اوچتوو. دا به زموږ ملګرو ته د دې فرصت ورکړي چې د وسلو لګښت پوره کړي، خو زما په اند، افغانانو ته باید دغه وسلې وړیا ورکړل شي.»
د سیاسي بېرو غړو د هوکړې شونډې وښوروليې ځکه چې دوی په سوګټۍ کې څه ګټه نه لیده. د حکومت ریس خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «د پرېکړه لیک په متن کې لیکل شوي چې موږ د ۷۵۰۰۰ ټنو اوړو د ورکړې پلان لرو. زما په اند موږ باید په دې هم فکر وکړو چې افغانستان ته ۱۰۰۰۰۰ ټنه اوړه ورکړو. موږ باید له افغانانو څخه خپل ټینګ ملاتړ وښییو او باید د افغانستان لپاره وجنګېږو.»
ورپسې کېرېلېنکو داسې وړاندیز وکړ: «راځئ چې له الکسي نیکولایوویچ څخه غوښتنه وکړو چې د شوروي اتحاد د وزیرانو شورا د پرېکړه لیک په خامه کې دغه بدلونونه راولي او ټول هغه ټکي په پام کې ونیسي چې دلته خبرې پرې وشوې. سبا ته به نوموړی بیاکتل شوی پرېکړه لیک موږ ته وړاندې کړي.»

کاساګین ومنله او ویې ویل: «سمه ده. سبا سهار به ما هر څه بشپړ کړي وي، خو زه غواړم چې یوه موضوع راپورته کړم. تاسي چې هرڅه وایی، تره کی او امین د افغانستان رېښتینی وضعیت له موږ څخه پټوي. موږ تراوسه نه پوهېږو چې په افغانستان کې په رېښتیا څه روان دي. دوی ښه خلک ښکاري، خو له موږ څخه ډېر څه پټوي. دا سخته ده چې سړی د دغسې چلند په اصلي لامل پوه شي.» کاساګین مخ ګرومیکو ته واړاوه او ویې ویل: «اندري اندرییوویچ، زما په اند موږ باید د سفیر موضوع حل کړو. اوسنی سفیر په کابل کې هېڅ واک نه لري او هغه څه چې باید وکړي نه یې کوي. سربېره پر دې، زه دا اړین بولم چې نور پوځي کارپوهان افغانستان ته ولېږو. بل دا چې داسې برېښي چې موږ باید یو ډېر هراړخیز سیاسي پرېکړه لیک جوړ کړو. کېدای شي چې زموږ د بهرنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت، د کې جي بي او د مرکزي کمېټې د نړیوالې څانګې همکاران د دغسې پرېکړه لیک خامه جوړه کړي. د دې تمه کېږي چې ایران، چین، پاکستان او بې اړنګه کارتر (د امریکا ولسمشر. ژباړن) به د افغانستان پر ضد دریځ ونیسي او ترخپلې وسې به هڅه وکړي چې د افغانستان په قانوني حکومت کې لاسوهنه وکړي. دلته افغانستان زموږ سیاسي ملاتړ ته اړتیا لري.»
کاساګین په خپلو خبرو کې یوه دمه وکړه مخکې له دې چې ترټولو مهمې موضوع ته راشې، هغه موضوع ته چې نورو
ګډونوالو یې تراوسه له یادونې ډډه کړې وه. نوموړي وویل: «زه فکر کوم چې افغان دولت وهڅول شي چې د پوځي مداخلې غوښتنه و نه کړي. موږ به د چا پر ضد په افغانستان کې جګړه کوو؟ دوی ټول مسلمانان دي. دوی د یو دین خلک دي، د داسې یو غښتلي دین چې کېدای شي د دوی د یووالي لاره هواره کړي. دا ډېره اړینه ده چې تره کي او امین ته د دوی د تېروتنو په هکله نبغ وویل شي. دوی حتی نن هم د ناراضیانو اعدامولو ته دوام ورکوي. د دوی د ترهګرۍ کمپاین د پرچمي مشرانو له کچې واوښت او اوس یې د دغې ډلې په منځني پوړ پیل کړی دی.»
داسې برېښېدل چې کاساګین دغې غونډې ته ښه چمتوالی نیولی و. نوموړي د کې جي بي او د پوځ د نړیوالې څارګرې اداري ټیلګرافونه چې د بهرنیو چارو وزارت او مرکزي کمېټې ورکړي وو لوستي وو. د سیاسي بیرو همکارانو نوموړی د دغه چمتوالي لپاره وستایه، خو له دې څخه یې وېره لرله چې د پوځیانو په لېږنه کې یو دریځ خپل کړي. کاساګین خپل اند څرګند کړ. اوس د اوستینوف د خبرو وار راغی. نوموړی له بیروکراتیکي سیاست سره ښه اشنا و او په دې کې داسې روږدی شوی و لکه کاساګین چې د ستالین تر لاس لاندې روږدی و. ده په ښکاره خپل دریځ څرګند نه کړ او پرځای یې یوه غیرمستقیمه لاره خپله کړه. ده وویل: «موږ د پوځي کړنې لپاره دوه غوراوي جوړ کړي. لومړی یې افغانستان ته د ۱۰۵مې پراشوټي فرقې لېږل دي، کابل ته د یوې خوځنده ټوپکواله پلې ډلې لېږل او په عین وخت کې پولې ته
www.samsoor.com

څېرمه د ۱۰۸مې او پنځمې فرقې لېږل دي. لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، د دې کار د ترسره کولو لپاره یو سیاسي پرېکړه لیک ته اړتیا شته.»
کېرپلېنکو د دفاع وزیر ملاتړ ته ورودانګل او داسې یې وویل: «ملګري اوستینوف ښه موضوع راپورته کړه. موږ اړ یو چې د مخالفو ځواکونو پر ضد ودرېږو. په عین وخت کې، که موږ د پوځیانو پر لېږلو فکر کوو، موږ باید پر تره کي زور واچوو چې موږ نشو کولای خپل پوځ افغانستان ته ولېږو پرته له دې حې له افغانستان څخه یوه اړونده غوښتنه ترلاسه کړو .تره کی باید په دې پوه شي.»
اوستینوف په ډېر باور بیا خبرې پیل کړې: «خو موږ دویم غوراوی هم لرو او بشپړ شوی هم دی. په دویم غوراوي که د دوو فرقو لېږل په پام کې نیول شوي.» بیا، اندروپوف په دیپلوماتیکي بڼه له اصلي موضوع څخه لیرې لاړ او ویې ویل: «له تره کي سره د خبرو اترو په اړوند، ما ته داسې ښکاري چې ترټولو ښه لاره یې دا ده چې کاساګین ورسره خبرې وکړي.» د سیاسي بېرو غړو د اندروپوف له ورانديز څخه ملاتړ څرګند کړ. ورپسې د کې جي بي ریس په ارامه غږ بیا خبرې پیل کړې: «زما هم خوښه ده چې باید یو سیاسي لاسوندی جوړ کړل شي، خو موږ باید دا په یاد وساتو چې موږ به تېریګر ونومول شو.» بیایي خپلې وروځې خپلو همکارانو ته اوچتې کړې او ویې ویل: «خو په هېڅ وجه باید افغانستان له لاسه ورنه کړو.»
کاساګین ښکته وکتل. د سترګو لاندې کڅوړې یې داسې ښکاره شوې لکه چې نورې هم غټې شوې. سیاسي بېرو ته کاندید، پنومروف هم تر یوې کچې په غیرمستقیمه توګه د پوځیانو د لېږلو له نظر څخه ملاتړ څرګند کړ. کاساګین وننګېرل چې باید له عمومي نظر سره یوځای شي، خو ده غوښتل چې د دفاع وزیر ته یوه لغته ورکړي .نوموړی یې له دې کبله نه خوښېده چې په بهرنۍ پالیسۍ کې یې جګړه پاله لاره خپله کړې وه، په بې پایه غوښتنو یې دفاعي بودیجه د هېواد د وټې په بیه ډېروله، له عمومي منشي سره یې نېږدې اړیکې لرلې او پرته له دې چې د وزیرانو په شورا کې او یا د سیاسي بېرو په غونډو کې یوه موضوع یاده کړي، د پردې ترشا به یې په اړه پرېکړې کولې. د اوستینوف د پوځي یونیفورم د اغوستلو بڼې کاساګین په غوسه کاوه. کاساګین په دې هم پوهېده چې د اوستینوف د ډلې ډېری پوځیانو ده ته د وزیر په توګه نه کتل، د ده تر شا یې خبرې کولې او یو سپک نوم یې پرې ایښی و. کاساګین داسې وپوښتل: «پوښتنه دا ده چې موږ به په نړیوال عامه نظر کې څرنګه څرګند شو. که موږ د پوځیانو د لېږلو پرېکړه وکړو، موږ باید سم دلیل ولرو.» کاساګین په خپلو خبرو کې یوه دمه وکړه او بیا یې وویل: «کېدای شي زموږ یو معزز ملګری افغانستان ته لاړ شي چې وضعیت له نېږدې وګوري، کېدای شي ملګری اوستینوف هلته لاړ شي؟» بیا یې دمه وکړه او ورپسې یې وویل: «یا ښایي ملګری اوګارکوف؟»
دا یو ډېر ځیرک چل و. د مارشال سربېره، د ټولو حاضرینو دغه وړاندیز خوښ شو. د غونډې ګډونوال په دې هم پوه شول چې بلاخره به هغه چا ته ګوته نیول کېږي څوک چې افغانستان ته ځي او د راتلونکو

پېښنو ټوله پره به په ده باندې اچول کېږي. د دفاع وزير دغه وړانديز چې دی يې افغانستان ته د تګ لپاره کانديد کړ هېڅ خوښ نه و. کاساګين په خپل خطرناک وړانديز نوموړی اوتر کړ.
اوستينوف په ډېره شاړپاړه بڼه غوښتل چې د خبرو موضوع بدله کړي. ده وويل: «موږ بايد د سياسي ګامونو په هکله چې تراوسه مو پرې بشپړې خبرې نه دي کړې بحث وکړو. موږ بايد په لويه کچه د افغان پوځ له وړتيا څخه کار واخلو. زه فکر نه کوم چې افغانستان ته زما تګ يو ښه نظر دی.» نوموړي چې په خپلو عينکو کې ګوتې وهلې او په وارخطايي يې په يو دستمال پاکولې داسې وړانديز وکړ: « ښايي ښه به دا وي چې د دولت يو غړی افغانستان ته لاړ شي.»
کاساګين د دې فرصت وموند چې خپل زوړ دوښمن نور هم نارامه کړي. ده په ټينګار ورته وويل: «نه، ديميتري فېدوروويچ Dmitry Fedorovich ته پخپله بايد افغانستان ته لاړ شې. خبره داسې ده چې موږ ډېرې وسلې افغانستان ته لېږو. موږ بايد پوه شو چې له دوی څخه سم کار اخيستل کېږي. خدای مکړه چې زموږ وسلې د مخالفينو لاس ته ولوېږي. سربېره پر دې، موږ په افغانستان کې څه د پاسه پنځه سوه پوځي سلاکاران لرو. له دوی سره کتنه اړينه ده څو دا څرګنده شي چې په وسلوالو ځواکونو کې څه تېرېږي.» د دفاع ټېرا وزير په ډېر ټيټ غږ وويل: «حتی که له موږ څخه يو هلته لاړ هم شي، د حالاتو بشپړه ارزونه به يوازې په څو ورځو کې ناشونې وي.»
اندروپوف، چې د دفاع وزير يو پخوانی او وفادار ملګری و، په ډېره ځيرکې په دغو خبرو کې ګډ شو: «موږ بايد ملګری ليونېډ ايليچ د خپلو پرېکړو په څرنګوالي خبر کړو. اندري، څه فکر کوې؟» ګروميکو سملاسي پوه شو چې ولې اندروپوف په خبرو کې ځان ګډ کړ. ده په خپل بلاروسي ګړدود وويل: «بې اړنګه، نن ورځ په موږ کې ډېرو کسانو ته حالات روښانه نه دي، خو يو ټکی چې ما مخکې ياد کړ واضح دی. موږ بايد افغانستان خپلو دوښمنانو ته له لاسه ورنه کړو او بايد په دې فکر وکړو چې څرنګه دغه موخې ته رسېدلای شو. ښايي چې د پوځيانو لېږل اړين نه وي.»
کاساګين چې د خپلو همکارانو په مزاج کې بدلون وليد، ويې پتېيله چې د دوی په لور يو ګام اوچت کړي: «موږ ټول په دې هکله همغږي يوو .افغانستان بايد له لاسه ورنه کړل شي. موږ بايد له خپلو ټولو سياسي وسيلو څخه کار واخلو چې د افغان مشرتابه په ثبات کې مرسته وکړو، هغه مرستې وړورسوو چې موږ يې ژمنه کړې او د خپل پوځ ښکېلتيا خپل وروستی ګام وګڼو.»
کېرېلېنکو په وړانديز وويل: «راځئ چې د دغه غونډې لنډيز جوړ کړو.» په دغه غونډه کې ټولې خبرې او وړانديزونه په لسو ټکو کې راغونډ شول. وروسته کېرېلېنکو وويل: «که تاسې اعتراض نه لرئ، زه به له کانستنتين يوستانوويچ چېرنېنکو سره اړيکه ونيسم چې دغه وړانديزونه ليونېډ ايليچ ته ورسوي.»

www.samsoor.com

کېږیلېنکو د اړیکو څېرمې کوټې ته لاړ. وروسته له څو دقیقو څخه بېرته راغی او ویې ویل: «د چېرنېنکو په اند زموږ
وړاندیزونه سم دي او لیونېد ایلیچ ته به زموږ د ارزونو په هکله خبر ورکړي. راځئ چې د نن لپاره غونډه پای ته ورسوو.»
ماښام چې بېرته د سمالېنکسکایه Smolenskaya په څلورلاره کې خپل وزارت ته لاړ، ګرومیکو د خپلو مامورینو یوه غونډه راوغوښته. هغه څوک چې په غونډه کې حاضر وو وایي چې د وزیر مزاج خراب و. ګرومیکو د سیاسی بېرو د غونډې د جزیاتو په هکله څه ونه ویل او یوازې امرونه یې ورکول. ده له خپلو مامورینو وغوښتل چې ژرترژره یو یادښت لیک پاکستان ته چمتو کړي او د ګاونډ هېواد په کورنیو چارو کې د لاس وهنې خبرداری ورکړي. ده له دوی څخه دا هم وغوښتل چې افغانستان ته د ممکنه پوځ لېږنې لپاره داسې دلیلونه پیدا کړي چې دغه کړنه توجیه کوي. ګرومیکو خپلو همکارانو ته اوچت کتل او په زغرده یې وویل: «دا باید د یو یادښت لیک په څېر د مرکزي کمېټې لپاره سبا ته چمتو وي.» د نوموړي لاس لاندې چې د ګرومیکو له سخت کرکتر سره اشنا وو پوه شول چې کومه پوښتنه باید و نه کړي، خو د ده لومړي مرستیال، کورنیینکو Korniyenko د یوې پوښتنې زړه وکړ او ویې پوښتل چې ایا سیاسي بېرو د پوځیانو د لېږلو پرېکړه وکړه؟
وزیر په کراره ځواب ورکړ: «تراوسه دې پرېکړې ته نه یوو رسېدلي، خو که اړین شي، موږ چمتو یوو چې پوځ ولېږو.» بیا یې وویل: « موږ په هېڅ وجه افغانستان له لاسه نشو ورکولای. تاسې باید پوه شئ چې که نن افغانستان پرېږدو، سبا ته به اړ وو چې د لویو مسلمانو ډلو پر وړاندې چېرته په تاجکستان یا ازبکستان کې له خپلو پولو څخه دفاع وکړو.»

سبا ته د سیاسي بېرو همدغه غړي بیا راغونډ شول. لومړي وزیر له تره کي سره د خپلو خبرو په هکله خبرې وکړې. ګرومیکو خپل مفصل راپور داسې پیل کړ: «لکه څنګه مو چې پرون هوکړه وکړه، زه دوه ځلې له ملګري تره کي سره وغږېدم. ده راته وویل چې په هرات کې حالات ډېر پېچلي دي. د ده په اند که شوروي اتحاد همدا اوس مرسته و نه کړي، دوی به د هرات ښار کنترول ونه شي ساتلی. که هرات سقوط وکړي، دوی به هرڅه له لاسه ورکړي. ما ورځخه وپوښتل: «که تاسې سل زره کسیز پوځ لرئ؛ نو ولې له دوی څخه څو فرقې نه جوړوی او هرات ته یې نه لېږی؟» ده وویل تر څو چې دغه فرقې جوړېږي، په هرات کې به داسې پوځي ډله نه وي پاتې چې حکومت ته وفاداره وي، خو پر ځای یې تره کی له موږ څخه

غواړي چې شوبلې او زغروال ګاډي د دوی د مرستې لپاره ورولېږو. ما ورڅخه وپوښتل چې دوی پوره شوبلوال لري چې ورلېږل شوې شوبلې وچلوي؟ ده په ځواب کې راته وویل: «نه؛ نو ځکه موږ له تاسې څخه غوښتنه کوو چې له خپل پوځ څخه تاجکان هم راولېږئ چې زموږ شوبلې وچلوي. دوی ته افغان پوځي یونیفورم ورکړئ» ما ورته وویل چې د دغه کړنې پټول به سخت کار وي او ټوله نړۍ به پوه شي چې شوروي شوبلوال په افغانستان کې جګړه کوي.

ورپسې ما له ملګري تره کي څخه وپوښتل چې ایا دا شونې نه ده چې د کابل له اوسېدونکو څخه یوه ډله جوړه کړي او هغه ولایتونو ته یې ولېږي چېرته چې وضعیت خطرناک دی؟ ده په ځواب کې راته وویل چې د دوی د روزنې لپاره ځوک نشته. ما ورڅخه وپوښتل: «دا څنګه کېدای شي؟ په داسې حال کې چې ځومره ډېرو افغانانو په شوروي اتحاد کې پوځي زده کړې کړې دي او د پخواني رژیم ډېر هغه مسلکي پوځي کدرونه هم شته چې خپله وفاداري یې له نوي رژیم څخه ځرګنده کړې ده؛ نو بیا څنګه کېدای شي چې د روزنې لپاره ځوک نشته؟ نو بیا ستاسې ملاتړي ځوک دي؟ پوهېږی چې تره کي څرنګه ځواب راکړ؟ پرته له دې چې خپلې سترګې ورپوي، ده راته وویل چې هېڅوک د دوی ملاتړ نه کوي او ورپسې یې همغه زړه سندره پیل کړه: «که هرات سقوط وکړي، انقلاب تر نبغ ګواښ لاندې دی. ستاسې مرستې ته اړتیا شته.»

کېرېلېنکو وویل: «په اوولسمه فرقه کې نهه زره خلک دی. ایا دوی ټول فعال شوي نه دي؟ یا ټول مخالفینو ته اوښتي؟»

ګرومیکو وویل: «د تره کي د خبرو پر بنسټ، نیمه فرقه مخالفینو ته اوښتې او په پاتې نیمه دومره باور نشي کېدای، دوی به لږترلږه په کلکه د دولت ملاتړ و نه کړي.»

کېرېلېنکو له اوستینوف څخه وپوښتل: «دیمیتري فېدوروویچ، ته څه اند لرې؟» د دفاع وزیر ځواب ورکړ: «کله مې چې له امین سره خبرې وکړې، ده راته وویل چې د انقلاب برخلیک په بشپړ ډول د شوروي اتحاد په لاس کې دی.» ورپسې کېرېلېنکو وویل: «نو د دوی یوازینۍ هیله زموږ پر شوبلو او زغروالو ګاډو تړلې ده؟» کاساګین ځواب ورکړ: «په اغلب ګومان، هو، خو مخکې له دې چې کومه پرېکړه وکړو، موږ باید د ټولو پایلو ښه ارزونه وکړو. دا یو ډېر جدي کار دی.»

ناڅاپه اندروپوف د کاساګین ملاتړ وکړ. اندروپوف ، چې په پرونۍ غونډه کې له مهمو خبرو څخه ډډه کوله، خامخا یې د شپې په بهیر کې داسې څه کړي وو چې د خبرو اترو لورې یې اوس ۱۸۰ درجې بدل کړ. د نوموړي د اند بدلون د غونډې پر بهیر لوی اغېز وکړ. اندروپوف ښایي تېره شپه پخپله له برېژنیف سره خبرې کړې وي او دوی دواړو په همدې خوښه کړې وي. دا هم شونې ده چې د همدغه یکشنبې په

www.samsoor.com

سهار گرومیکو، اندروپوف او اوستینوف یوه بې پلانه غونډه کړې وي او په اخلاصمنه توگه یې حالات یو ځل بیا ارزولي وي.
 اندروپوف په نرمه بڼه وویل: «ملگرو، زه دغه پایلې ته ورسېدم. موږ باید په ډېره او ډېره جدي توگه فکر وکړو چې د څه لپاره باید خپل پوځ افغانستان ته ولېږو. دا په بشپړ ډول موږ ته روښانه ده چې دغه هېواد دې ته چمتو نه دی چې خپلې ستونزې په سوسیالېستي بڼه حل کړي. هلته دین جابر دی، نالوستي پراخه او ډېرېدونکې ده، وټه یې شاته پاتې ده او نور اړخونه یې هم همداسې وگڼئ. د انقلابي حالاتو په هکله د لېنن تیورۍ ته پام وکړئ. څوک شته چې په افغانستان کې حتی د انقلابي حالاتو په هکله خبرې وکړي؟ دغسې حالات هېڅ شتون نه لري. موږ یوازې د برچې په زور د دوی انقلاب ساتلی شو، خو موږ ځان ته د دغسې کړنې اجازه نه ورکوو او داسې خطر په غاړه نشو اخیستی.»
د بهرنیو چارو وزیر داسې ښکارېده لکه چې د اند دغسې بدلون ته تم و. ده خپلې خبرې داسې پیل کړې: «زه د یوري له دغه وړاندیز څخه بشپړ ملاتړ کوم چې موږ باید د پوځي مداخلې غوراوی په پام کې ونه نیسو. افغانستان ته په ننوتلو سره به زموږ پوځ تېریگر شي. زموږ وسلوال ځواکونه به د چا پر ضد جگړه کوي؟ دوی به د افغانانو پر ضد جگړه کوي! په نړیوالو دوښمنیو کې نرمښت international détente او د هېوادونو تر منځ د وسلو جوړولو کنترول چې موږ په ډېرو هڅو ترلاسه کړي، دا ټول به لغو شي .ټول ناپېیلي هېوادونه به موږ ته شا واړوي او دا به چین ته یوه ښه ډالۍ وي. له کارتر سره د لیونېد ایلیچ د لیدلو هر پلان به هېڅ شي. په مارچ کې د جیزکردستنگ Giscard d' Estaing (د فرانسې ولسمشر. ژباړن) لیدنه به تر گواښ لاندې راشي. زموږ گټه به څه وي؟ موږ باید دا هم په پام کې ونیسو چې د نړیوال قانون پر بنسټ موږ پوځي مداخله نشو توجیه کولای. د ملگرو ملتونو د نړیوال تړون پر بنسټ، هر هېواد زموږ د پوځي مرستې غوښتنه کولای شي» دلته گرومیکو خپله گوته په واکمنه بڼه پورته کړه او خپلو خبرو ته یې داسې دوام ورکړ: «خو یوازې او یوازې چې د مرستې غوښتونکی هېواد تر بهرني یرغل لاندې وي. پر افغانستان بهرنی یرغل نه دی شوی، دا یې خپلې کورنۍ پېښې دي.»
دا حیرانوونکې وه چې له هغه غونډې څخه څلورویشت ساعته تېر شوي نه وو چې د سیاسي بېرو په همدغه کوټه کې اندري اندرییوویچ هڅه کوله چې په ډېر ډاډ خپل همکاران په دې قانع کړي چې «په هېڅ وجه موږ افغانستان له لاسه نشو ورکولای.» اوس له خپلو همکارانو غواړي چې د نورو گټو په لټون کې افغانستان ته شا واړوي. گرومیکو له حالاتو سره سم د اند په بدلون کې ټولو ته مالوم و. ده په دې کې هم نوم درلود چې له یو داسې دریځ څخه ډوماریزه دفاع کوي چې د نوموړي له مخکني دریځ سره نېغ په ټکر کې و؛ نو دغه بدلون څه شي رامنځته کړ؟ تېره شپه څه پېښ شول. کبرېلېنکو، چې د اندروپوف او گرومیکو خبرو سربدال کړ، هڅه وکړه چې له نوي اند سره همغږی شي .ده وویل: «داسې ښکاري چې په افغانستان کې

حالات ښه شوي دي، خو دلته زموږ خبرې بل ډول رواني دي. موږ ټول منو چې د پوځي مداخلې لپاره هېڅ دليل نشته.»
اوستينوف په ځرګنده بڼه خپل مخ تريو کړ کله يې چې دغه خبره واورېدله. د کې جي بي ريس په زغرده د مرکزي کمېټې د منشي خبرې اصلاح کړې: «په افغانستان کې حالات نه دي ښه شوي. اوسمهال يوازې يوه پوځي ډله نه ده چې مخالفينو ته اوښتې، بلکې ټوله فرقه له دوی سره يو ځای شوې ده. لکه څنګه مو چې د الکسي نيکولايوويچ او تره کي تر منځ خبرې واورېدې، افغانان د حکومت ملاتړ نه کوي، خو ايا زموږ عسکر په دغسې وضعيت کې کومه مرسته کولای شي؟ نه، په دغسې حالت کې شوبلې او زغروال ګاډي د حل لاره نه ده. زما په اند، موږ بايد تره کي ته دغه خبره وکړو.»
کاساګين وويل: «کېدای شي تره کي ته دلته د راتګ بلنه ورکړو او ورته ووايو چې موږ به خپلې مرستې ډېرې کړو، خو پوځيان به افغانستان ته ونه لېږو ځکه چې دوی به له افغانانو سره جګړه کوي. دا به موږ ته زيان واړوي او هېڅ ګټه به ونه لري.»
کېرېلېنکو بيا هڅه وکړه چې په غونډه کې د خبرو مشري وکړي: «موږ دوی ته هر څه ورکوو، خو د څه شي په بدل کې؟ زموږ د مرستې پايله څه شوه؟ کومه ښه پايله ترې راونه وتله. دوی بېګناه خلک ووژل او د دې د توجيه لپاره دوی موږ ته نغوته کوي او وايي چې موږ هم د لېنن ترمشرۍ لاندې خلک ووژل. دوی عجيب ښه مارکسېستان دي! زما په اند موږ بايد خپل اند ليونېد ايليچ ته ځرګند کړو او تره کی مسکو ته راوغواړو چې د دغو خبرو له پايلو څخه يې خبر کړو.»
د چېرنېنکو غلی او سا نيولی غږ اوچت شو: «که موږ پوځي مداخله پيل کړو او د افغانانو په وژلو پيل وکړو، بې اړنګه پر موږ به د تېريګرو تور ولګول شي. له داسې تور څخه هېڅ د خلاصون لاره نشته.» چېرنېنکو له دغه غونډې څخه مخکې تېره شپه ډېر ناوخته له زوېدواوو څخه رارسېدلی و.
وروسته کاساګين دغه وړانديز وکړ: «زه فکر کوم چې موږ د ليونېد ايليچ اند ژرترژره وغواړو او د تره کي لپاره يوه الوتکه کابل ته ولېږو. د مرستې په اړه زموږ د پروني وړانديز په هکله زموږ دريځ نه دی بدل شوی پرته له دې چې موږ په نظامي مداخلې خط کښ کړ.»
د دفاع وزير په پخلې وويل: «هو، دغه غوراوی بايد له منځه وايستل شي.»
د مارچ په نوولسمه د دوشنبې په ورځ، د مرکزي کمېټې عمومي منشي هوسا او تازه په مرکزي کمېټه کې راښکاره شو. چېرنېنکو د لوی درستيز اوګرکوف Ogarkov سربېره، د پرونۍ غونډې ټول ګډونوال يوې نوې غونډې ته راوغوښتل. برېژنېف، چې د معمول په خبر په زوېدواوو کې خپلې د ښکار خوندورې کيسې له همکارانو سره شريکې کړې، د افغانستان پر موضوع يې خبرې پيل کړې. په دې موخه چې همکاران يې د ده په وړتيا اړنګ و نه کړي، برېژنېف دوی ته ډاډ ورکړ چې په افغانستان کې يې وضعيت له نېږدې څاره.

بیا یې د سیاسي بېرو د تېرو غونډو وړاندیزونه منظور کړل او په همغږۍ یې وویل: «اوس د دې وخت نه دی چې جګړې ته کش کړل شو. ده ګرومیکو، اوستینوف، اندروپوف او
کاساګین ته فرصت ورکړ چې خپل اند بیا څرګند کړي چې څرنګه د شوروي اتحاد د بیړني څواب اوسني بهیر ته د پای
ټکی کېږدي.
ګرومیکو هغه خبرې یو ځل بیا وکړې کومې یې چې مخکې کړې وې، خو دغه خبره یې ورزیاته کړه چې بې اړنګه د دغو
پېښو په رامنځته کولو کې «د امریکا لاس شته.» دی له تره کي سره د خپلو وروستیو خبرو په هکله وغږېد. افغان مشر په نېږدې راتلونکې کې د خپل حکومت د ړنګېدو په یادونې سره یو ځل بیا د مرستو لپاره زارۍ وکړې. ګرمیکو زیاته کړه: «ما ترې وپوښتل چې په هرات کې څومره ګارګران شته؟ ده وویل چې یوازې شاوخوا ۲۰۰۰ کسه. د افغان مشر د خبرو پر بنسټ، که هرات له لاسه لاړ شي، ټول هغه خلک به سره یو شي چې له نوي حکومت څخه ناراضه دي او پر کابل به برید وکړي او دا به د حکومت د پای په مانا وي؛ نو ځکه یې زموږ د پوځیانو غوښتنه وکړه.» کاساګین دا وړاندیز هم وکړ چې د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې په هکله پاکستان او ایران ته یو جدي خبرداری ورکړل شي. نوموړي یو ځل بیا، دا ځل د بریژنېف په شتون کې، په کابل کې د شوري سفیر د لیرې کولو خبره راپورته کړه.
د دفاع وزیر له امین سره د خپلو خبرو په هکله څرګندونې وکړې. امین هم ټینګار کاوه چې شوروي پوځي ځواکونه ورولېږل شي. اوستینوف دا یادونه هم وکړه چې اوسمهال په هرات کې وضعیت څه ناڅه ښه شوی. نوموړي زیاته کړه چې دوه پوځي فرقې د ترکستان په پوځي سیمه کې او یوه د منځنۍ اسیا په پوځي سیمه کې ځای پرځای شوې دي. دغه درې فرقې په دریېو ساعتونو کې افغانستان ته رسېدلی شي، خو دغه مارشال وویل چې دا مالومات یې یوازې له دې کبله څرګند کړل چې د پوځ چمتووالی وښیي. ده پولې ته څېرمه د تکتیکي مانورونه د ترسره کولو اجازه وغوښتله، خو لکه نور همکاران یې، ده د خپلو خبرو په پای کې وویل چې د پوځي مداخلې ملاتړ نه کوي .
اندروپوف هم خپل پرونی دریځ یو ځل بیا څرګند کړ او پر افغان مشرانو یې سخته نیوکه وکړه. دوی یې تورن کړل چې د حالاتو په کابو کولو کې پاتې راغلل، د خپل رژیم د ملاتړ لپاره ډېرې لږ سرچینې لري، له خپلو وګړو سره په ایډیالوژیکي کار کې پاتې راغلي او ځینو ته دوام ورکوي. نوموړي دا وړاندیز هم وکړ چې د کمونست ګوند اوسنی لوی سلاکار، وسېلوف لیرې کړل شي او پر ځای یې یو د ډېر برم او ادرم• څېښتن وګمارل شي، دغسې سړی کېدای شي چې له مرکزي کمېټې څخه وي .

• ادرم: اغېز

د مرکزي کمېټې منشي، کپیتانوف د اندروپوف پر ورستی خبرې اعتراض وکړ: «وسېلوف یو ښه کارپوه دی. نوموړي د مرکزي کمېټې په مامورینو کې د څارن په توګه دنده ترسره کړې او په بشکیر Bashkir کې د ګوند د سیمه ییزې کمېټې دویم منشي و. نوموړی یو سپکمن ځوان دی.»

عمومي منشي د غونډې په بهیر خوښ ښکارېده. نوموړی به هغه وخت خوشاله و چې نېږدې متحدینو یې له یو او بل سره ناندرې نه وهلې او کله به چې د سیاسي بېرو ټول غړي همغږي وو. د برېژنېف اوږدې غونډې نه خوښېدې. دا ځل دوی وتوانېدل چې په یو ساعت کې په انډول برابرې پرېکړې وکړي.

برېژنېف په پای کې داسې ووېل: «زه فکر کوم چې موږ باید هغه کړنې منظور کړو چې په دا تېرو څو ورځو کې پرېکړې پرې وشوې. موږ وېتېیله چې ملګري تره کي ته د مارچ په شلمه ،سبا ته ، شوروي اتحاد ته د راتګ بلنه ورکړو .کاساګین، ګرومیکو او اوستینوف به له ده سره خبرې اترې کوي او بیا به یې زه خپل حضور ته ومنم.»

د ډیپلوماتیکي اکاډمی ۳۳ کلن زده کوونکي ولادیمیر کوزېن ته وویل شول چې د سې شنبې په سهار د مرکزي کمېټې نړیوالې څانګې ته راشي .نوموړی په دې حیران نشو ځکه چې د ده دنده له لوړپوړو افغانانو سره د غونډو په ترڅ کې ژباړه وه. دا دویم ځل و چې له کوزېن څخه وغوښتل شول چې د کرېملېن په مهمو غونډو کې پښتو ژبه وژباړي. د مارچ په شلمه، نوموړی د ونوکووا په دولتي هوايي ډګر کې یوې غرفې ته بوتلل شو. نور محمد تره کی په راتلونکو څو شېبو کې له کابل څخه رارسېدو. لکه څنګه چې دا یو رسمي یون نه و، په اصل کې یوه پټه لیدنه کتنه وه، یوازې کاساګین یې هرکلي ته ورغلی و.

کله چې د الوتکې رارسېدو ته تم و، کاساګین د ځینو لاسوندو لوستل پیل کړل چې له تره کي سره خبرو اترو ته تابیا ونیسي. د لاسوندو د دلی په سر کې د تره کي ژوند لیک پروت و چې کاساګین یې پخپله غوښتنه کړې وه. په ژوند لیک کې د نېټو، څوکیو او د هغه کتابونو نوملړ و چې تره کي لیکلي وو، خو د دې لوستل کاساګین ته دا سخته کړه چې د داسې سړي په خوی پوه شي چې په راتلونکي نېږدې وخت کې جدي خبرې ورسره کوي؛ نو ده له ژباړن څخه وپوښتل: «تا په افغانستان کې کار کړی، د تره کي په هکله راته وغږېږه.»

کوزېن سمدلاسه ووېل: «تره کی په ۱۹۱۷ کال زېږېدلی، ډیپلوم یې ...» کاساګین یې په خبرو کې ولوېد او ویې ویل: «نه، نه، نه .زما نېټې او ډیپلومونه نه دي په کار. دا راته ووایه چې تره کی څرنګه سړی دی.

www.samsoor.com

د نوموړي د شخصي کرکټر په اړه راته وواېه چې زه يې د مزاج په څرنګوالي پوه شم.» ولادیمیر وشرمېده او ويې ويل: «پوه شوم، الکسي نیکولایوویچ. نورمحمد تره کی د اکتوبر انقلاب په کال په يوه پښتنه بزګره کورنۍ کې وزېږېد. د ده پلار يو شپون و. د نوموړي برخلیک هم د خپل پلار په څېر ګڼل کېده چې په خپل ټول ژوند کې به نالوستی پاتې شي او خپله ارګانه (اذوقه) د کوچنيو غيرقانوني توکو په پلورلو برابره کړي، خو تره کی نېک بخته و. د ده پلار وپتېيله چې په خپله لويه کورنۍ کې يې لږترلږه يو زوی زده کړې وکړي او بېله ژوند بڼه ولري؛ نو ده نورمحمد غوره کړ او په غزني ولايت کې يې يو ښوونځي ته ولېږه. ورپسې تره کي په کندهار او بمبيي کې کار وکړ او انګرېزي او اردو ژبې يې په هند کې زده کړې، چېرته چې د لومړي ځل لپاره د مارکسېزم او د ملي ازادۍ له پرځنګ سره اشنا شو. بیا کابل ته لاړ او په يو کالج کې يې زده کړې وکړې، د يو بيروکرات په توګه يې د وټې په وزارت کې دنده ترسره کړه او له دغه وزارت څخه د اطلاعاتو او چاپي رسنيو وزارت ته لاړ. که څه هم نوموړی لږ وخت مخکې يو ناپېژندل شوي کس و، دی د باختر د مرستيال ريس په توګه وګمارل شو. باختر په افغانستان کې د مالوماتو اصلي ابجنسۍ وه. تره کي يو شمېر داسې ادبي ټوټې خپرې کړې چې نوموړی يې نومور کړ. دی د ويښ زلميانو يو مشر شو او يو شمېر نوموړې مقالې يې وليکلې. په دغو مقالو کې يې د افغان وګړو په ژوند کې د سمون او د ټولنې له دموکراتيک بدلون څخه دفاع کوله.»

د موضوع د روښانتيا لپاره کاساګين وپوښتل: «نو تره کی د جګړو له پېر څخه مخکې په انقلابي کړنو کې ښکېل و؟»

کوزېن يې پخلی وکړ او زياته يې کړه: «همداسې ښکاري، خو تره کي ته هېڅ کله په جدي توګه سزا نه ده ورکړل شوې او نه محاکمه شوی او حتی نيول شوی هم نه دی حال دا چې د نورو برعکس حالت و، د بېلګې په توګه د ببرک کارمل. حتی په ۱۹۵۲ کال کله چې حکومت د پام وړ مخالف خوځښتونو ته ځواکمن ګوزار ورکړ، تره کي ته جدي سزا ورنه کړل شوه. سربېره پر دې، نوموړی ډېر ژر واشنګټن ته ولېږل شو چې د افغانستان په سفارت کې د رسنيو د اتشې په توګه دنده ترسره کړي. شپږ مياشتې وروسته يې په امريکايي رسنيو کې د شاهي واکمنۍ او داود پر ضد مقالې وليکلې؛ نو د ديپلومات په توګه د ده کاري ژوند پای ته ورسېد. ده په امريکا کې د سياسي پناه غوښتنه وکړه، خو په دې کار کې بريالی نشو؛ نو بېرته افغانستان ته لاړ. وروسته تر ۱۹۶۳ کال پورې، تره کي بېلابېلې دندې ترسره کړې. د امريکا په سفارت کې يې د ژباړن په توګه کار وکړ، کتابونه او مقالې يې وليکلې او د مارکسېزم-لېننېزم په عجايبو يې ځان پوهاوه. له هغو ازاديو څخه په ګټې اخيستنې چې د محمد يوسف حکومت رامنځته کړې وې، تره کي خپل ټول وخت انقلابي فعاليتونو ته ځانګړی کړ. نوموړي هغه ځوانان په يوه مارکسېستي ډله کې راغونډ کړل چې د رژيم پر ضد وو او د يو داسې چپي ګوند د جوړولو نظر يې درلود چې د شاهي واکمنۍ پر ضد ودرېږي. تره کی د ا خ د ګ د جوړونکي په توګه د همدغه ګوند لومړی منشي وټاکل شو. يو کال وروسته،

د انقلابي کړنو په ترسره کونه کې د اندونو د توپیر له کبله له یو بل ایډیالوژیکي مشر ببرک کارمل څخه بېل شو.»

دلته کاساګین د کوزېن په خبرو کې ورولوېد: «دومره چټک مه ځه، راځه چې په دې هکله په تفصیل وغږېږو.» کاساګین خپل یاور ته مخ واړاوه او ترې ویې پوښتل: «وخت لرو؟» نوموړي ځواب ورکړ: «الوتکه په لسو دقیقو کې رارسېږي.» کاساګین وویل: «ډېر ښه ژباړن ملګریه، د دوی د اندونو د توپیر اصلي دلیل څه شی و؟» ټول خلق او پرچم یادوي، خو هېڅوک ما ته دا نشي څرګندولی چې ولې دوی په داسې دوښمنۍ له یو بل سره جنګېږي.»

کوزېن په زړغیتوب ورته وویل: «زه به تر خپلې وسې هڅه وکړم، الکسي نیکولایوویچ، خو دا یوه ډېره نازکه او پېچلې موضوع ده؛ نو زه باید له ډېرو جزیاتو څخه تېر شم ځکه چې ډېر وخت نه لرو. دواړو، تره کي او کارمل منلې وه چې افغانستان باید یو دموکراتیک هېواد وي، داسې هېواد چې شاهي واکمنۍ او فیوډالي محدویتونه پکې نه وي، خو دغو موخو ته د رسېدلو لپاره د دوی د کار اخیستنې وسیلو ډېر توپیر درلود. د نورو نوښتګرو او هغو خلکو په څېر چې د ناځاپو کړنو ځانګړتیاوې لري، تره کی په دې باور و چې دغه موخې په زور ترلاسه کېدای شي. ما ته داسې ښکاري چې نوموړي وسله وال پاڅون، سره ترهګري او د ټولنوټېز اصلاحاتو په زور پلي کول د حل لاره ګڼله؛ نو دا هسې تصادفي نه وه چې د ا خ د ګ د مشر په توګه له لومړۍ ورځې څخه نوموړي خپل ډېر وخت دې ته ځانګړی کړی و چې په وسلوالو ځواکونو کې پټې ډلې جوړې کړې. دغو ډلو د ۱۹۷۸ کال د غویي د اوومې په پاڅون کې پرېکنده ونډه لرله. له کارمل سره د تره کي سیالي په څو برخو کې هم وخته په ښکاره دوښمنۍ بدله شوه. دوی په رخې د خپلو ډلو د سیاسي موقف څارنه کوله. د بېلګې په توګه، تره کي دغه حقیقت نه شو هېرولی چې د شاهي واکمنۍ له پرځولو څخه وروسته، داود یو شمېر وزارتونه پرچمیانو او د دوی ملاتړو ته ورکړل. له بلې خوا کارمل د شوروي اتحاد د ځانګړې شوې مرستې د لویې برخې د ترلاسه کولو هیله درلودله او شوروي ته د تره کي پر یون یې رخه کوله. دغه یون له انقلاب څخه مخکې د شوروي لیکوالانو د ټولنې په مرسته ترسره شو. تره کي پر کارمل له دې وجې باور نه کاوه چې نوموړی له یوې مخورې کورنۍ څخه و چې له کبله یې کارمل له شاه او داود سره نېږدې اړیکې درلودې. له بلې خوا کارمل خپل سیاسي سیال یو څرګند پښتون ملتپال نوماوه؛ نو د دوی تر منځ د دوښمنۍ ډېر لاملونه شته - دومره ډېر چې سیالي یې له منځه نشي تللی. زه غواړم په دې ټینګار وکړم چې د دوی په اړه دا زما شخصي اند دی. لکه څنګه چې تاسې له ما څخه وغوښتل چې ازادې خبرې وکړم او زه په دې هم پوهېږم چې زموږ خبرې محرمې دي، زه غواړم زیاته کړم چې که څه هم ډېر خلک تره کي ته د ا خ د ګ د مشر په سترګه ګوري او د ګوند له جوړولو څخه وروسته د ده ونډه خوښوي، خو د غویي انقلاب له بریا څخه وروسته چې ډېرې ننګونې یې رامنځته کړې، اوس د

www.samsoor.com

نوموړي ډېرو ملاتړو دې ته پام شوی چې تره کی یو ځواکمن او سپکمن مشر نه دی. نوموړی د انقلاب ضد ځواکونو پر وړاندې د چلند اړینه وړتیا او تجربه نه لري. دی نه پوهېږي چې څرنګه ټولنیز اصلاحات پلي کړي او د ګوند په مشرتابه کې د دسیسو په مخنیوي کې پاتې راغلی. سربېره پر دې، موږ ته ویل شوي چې نوموړی شراب څښلو ته ګروهنه لري، تشې ستاینې یې خوښېږي، د پردې شاته له هغو سختو کارونو څخه ډډه کوي چې د ده څوکۍ یې غوښتنه کوي او یوازې تشریفاتي کړنې غوره بولي؛ نو دې ته په پام سره، تاسې به پوه شئ چې امین څرنګه دومره ډېر سیاسي واک ترلاسه کړ.»

د کاساګین یاور په درنښت وویل: «الوتکه راورسېدله، الکسي نیکولایوویچ.»

تره کی له الوتکې څخه راښکاره شو. د شوروي اتحاد لومړی وزیر، تره کی او ژباړن په یو ګاډي کې کښېناستل او د کرېملېن په لور روان شول. کاساګین، تره کي ته خبر ورکړ چې لیونېد ایلیچ به نن شپه ورسره وګوري. په ګاډي کې الکسي نیکولایوویچ د افغانستان د حالاتو په هکله تره کي ته د خپلو اندېښنو څرګندونې پیل کړې.

کاساګین: د *پخوا برعکس، اوس د هېواد لویه برخه ستاسې له واک څخه وتلې ده. مخالفین له هر لوري بریدونه کوي.*

تره کي دغه تریخ حقیقت ومانه.

تره کی: *هو، دا ریښتیا دي، خو د نړۍ ارتجاعي ځواکونه لکه امریکا، پاکستان، ایران او چین د دوی ملاتړي دي. موږ په خراب وضعیت کې یوو.*

کاساګین: *هو، زه یې منم، خو ماته ښکاري چې تاسې په خپلو کورنیو چارو کې تېروتنې کوی. ستاسې کړنو وګړي په غوسه کړي او د انقلاب د دوښمنانو لاسونه یې غښتلي کړل.*

تره کی چوپ پاتې شو. دی پوه شو چې راتلونکې خبرې اترې به سختې وي او ډېر ژر یې وانګېرل چې مسکو ته په دې موخه نه دی غوښتل شوی چې د پوځي مداخلو په هکله د ده د غوښتنو د منلو خبر ورکړل شي؛ نو پرېکړه یې وکړه چې له خبرو ځان تېر کړي او خپل دلیلونه یوه ښه فرصت ته وساتي.

کله چې ګاډی د مسکو مرکز ته نېږدې کېده، کاساګین وپتېیله چې د خبرو اترو ښه خوښمنه کړي. ده وویل: «ملګری تره کی، غواړم خبر درکړم چې په هرات کې پاڅون ځپل شوی.» تره کي په ځیر ورته وکتل او ویې پوښتل: «ته څنګه پوهېږې؟» کله چې له کابل څخه د الوتکې راتګ ته تم وو، کوزین د سترګو له ګوټ څخه د کاساګین په لاسوندو کې د جنرال ګوریلوف له لوري یو محرم تېلګراف ولید چې پکې لیکل شوي وو: «د هرات پاڅون وځپل شو.» لومړي وزیر ژباړن ته سترګګ وکړ او د تره کي د پوښتنې په ځواب کې یې وویل: «په ورځپاڼه کې راغلي.» تره کی په ټوکه پوه نشو او ویې ویل: «دا خو ډېر ښه خبر دی، ډېر ښه.»

کرېملېن د خپل افغان مېلمه لیدلو ته چمتو و .کاساګین، ګرومیکو، اوستینوف او پنومروف د مېز یوې خواته او بلې خواته یې تره کی او کوزېن ناست وو. په دغه غونډه کې د بهرنیو چارو وزارت یو مامور، ستنېسلف ګوریلوف هم شته و چې د غونډې خبرې یې په متن اړولې. دا یوه ډېره محرمه غونډه وه؛ نو یو مسلکي لنډیزکښ • stenographer نه و راغوښتل شوی.

کاساګین وویل چې د خبرو لومړی وار به تره کي ته ورکړي، خو بیا یې د وضعیت په هکله د شوروي اتحاد دریځ په لنډو ټکو بیان کړ. د ملګرتیا له معمولي ډاډګېرنو وروسته، کاساګین وویل: «د دغه ستونزې لپاره چې تاسې ورسره مخ یاست د حل لپاره بېلابېلې لارې شته، خو تر ټولو ښه یې هغه ده چې په خپلو وګړو کې د خپل دولت واک داسې وساتئ چې له خپلو ګاونډیانو سره اړیکې خرابې نه کړئ او په نړیواله ټولنه کې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت نوم بد نه کړئ.» د دغه ټکي د روښانه کولو لپاره، کاساګین د ویتنام هېواد د بېلګې په توګه یاد کړ چې له امریکا سره په سخته جګړه کې په داسې وخت کې ښکېل و چې په یوازېتوب یې د چین د تېري پر وړاندې هم جګړه کوله.

کاساګین خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «تاسې په خپل هېواد کې پوره ځواکونه لرئ چې د انقلاب ضد ځواکونو د بریدونو مخه ونیسي. که هرات یوه بېلګه کړو، کله چې تاسې په جدي توګه چلند پیل کړ، تاسې وکولای شول چې حالات کابو کړئ. موږ ته نن سهار خبر راکړل شو چې د اولسمې فرقې یاغي برخه هغه وخت بېرته ونیول شوه چې د یو پراشوټي کنډک تر برید لاندې راغله. د دغه کنډک ملاتړ هغه شوبلو کاوه چې له کندهار څخه هلته رسېدلې وې. موږ به په هره شونې وسیله له تاسې سره مرسته وکړو، خو زموږ پوځي مداخله به سمدلاسه نړیواله ټولنه وپاروي او په یو شمېر برخو کې به ډېرې منفي پایلې وزېږوي. زموږ ګډ دوښمن تم ناست دی چې شوروي ځواکونه افغانستان ته ننوځي. دا څرګنده ده چې زموږ پوځیان به نه یوازې د بهرنیو تېریګرو بلکې د افغان ټولنې د ځینو وګړو پر ضد هم جنګېږي. خلک داسې جرم نشي بښلی.»

کاساګین دغه څرګندونې په روانه بڼه وکړې، یوازې کله کله یې د کاغذونو هغه لړۍ ته کتل چې مخې ته یې پرته وه. پښتو ژبې ته د ده د خبرو ژباړه سخته نه وه. لومړي وزیر به په خپلو خبرو کې دمه کوله او په زغم به ژباړن ته تم و چې د ده خبرې وژباړي.

د ژباړې لپاره پښتو ژبه سخته ده ځکه چې د غونډلو هغه برخه چې فعل پکې راځي او د فاعل په اړه څرګندونې کوي د غونډلې په پای کې راځي؛ نو تر څو چې ټوله غونډله بشپړه شوې نه وي، او بیا ویې داسې اوډل شوې نه وي لکه د سطرنج په لوبه کې چې دانې اېښودل کېږي، ژباړه یې سخته ده.

•لنډیزکښ: هغه څوک چې په غونډو کې خبرې په لنډه بڼه په متن بدلوی

www.samsoor.com

کله يې چې وروستۍ غونډله بشپړه کړه، ژباړن ته کې ته کتل چې څرنګه يې مهربانه سترګې ترينګلې او اورجنې کېدې. داسې نه برېښېدل چې د هرات په هکله ښه خبر نوموړی په دې قانع کړی وي چې افغانستان ته د شوروي پوځ له بلنې تېر شي.

کاساګين خپلو خبرو ته دوام ورکړ: «موږ دې پايلې ته ورسېدو چې په اوسني پړاو کې به تاسې ته زموږ تر ټولو اغېزمنه مرسته دا وي چې موږ ستاسې پر ګاونډيانو سياسي فشار واچوو او تاسې ته ګڼ اړخېزې مرستې درکړو. دا هغه ارزونې وې چې موږ د ملګرتيا په ازاده چاپېريال کې تاسې ته وړاندې کړلې.» د شوروي دولت مشر خپلې خبرې بشپړې کړې او په خوښۍ يې په خپله څوکۍ کې تکيه وکړه. بيا يې خپل افغان مېلمه ته د خبرو بلنه ورکړه.

د تره کي له لومړني ويي څخه څرګنده شوه چې ده هم خبرو اترو ته ښه تابيا نيولې وه. نوموړي کاساګين ته سترګې ونيولې او ويې ويل: «ستاسې د ملګري په توګه، زه به هم سپينې خبرې وکړم. موږ منو چې په افغانستان کې ستونزې بايد لومړی په سياسي وسيلو حل شي او پوځي کړنې د دويم ګام په توګه په پام کې ونيول شي. زه غواړم له خپل اړخ څخه په دې ټينګار وکړم چې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ اړيکې داسې نه دي لکه د نورو هېوادونو ترمنځ عادي اړيکې بلکې دغه اړيکې د ټولنيزو پوړونو پر تيورۍ او زموږ پر ګډو ايډيالوژيو او ګډ سياست ولاړې دي. لکه ستاسې په هېواد کې، زموږ په هېواد کې هم واک پر کارګر پوړ او بزګرانو پورې اړه لري.»

کوزېن د خواريکښ پوړونو تر منځ د خواخوږۍ په هکله سوچ وکړ او له ځان سره يې وويل: «نو تره کي دغه خبره رامخته

کړه. زه د شوروي اتحاد په هکله نه پوهېږم، خو بې اړنګه په افغانستان کې کارګر پوړ نشته او واک له بزګرانو سره نه

دی. ايا دا شونې ده چې زموږ مشران د دغسې خوږو برغزوو (بې مانا خبرو) ښکاردانه په خوله کړي؟»

تره کي زياته کړه: «انقلاب زموږ د ټولنيز پوړ د دوښمنانو توند غبرګون رامنځته کړ.» ورپسې يې پاکستان، ايران او امريکا ته ګوته ونيوه او په افغانستان کې د کړکېچ پړه يې پر دوی واچوله. ده وويل: «دا به اړينه وي چې په دغو ټکو فکر وکړو چې ولې پاکستانيان، ايرانيان، امريکايان او چينايان زموږ پر ضد پټې کړنې ترسره کوي. زه يوازې غواړم په دې ټينګار وکړم چې موږ ستاسې ملګري يوو او وو به. موږ لېنن لوستی او لوستلو ته يې دوام ورکوو... زه غواړم د افغان پوځ اړتياو ته نغوته وکړم. موږ هيله لرو چې زغروالې چورلکې، يو شمېر نور زغروال ګاډي، بي ايم پي BMP او د اړيکو مدرنې وسيلې ترلاسه کړو.»

اوستينوف خبره روښانه کړه: «تاسې خامخا Mi24 چورلکې يادوی چې د ګولۍ ضد زغروالې دړې لري. موږ ومنله چې د جون يا جولای په مياشت کې شپږ دغسې چورلکې درولېږو او شپږ نورې به د کال په پای کې درکړو.»

تره کي د خبرو بڼه بدله کړه: «ښه به وي چې له پیلوټانو سره یې راولېږئ» خو اوستینوف یې په دغه خبرې اعتراض وکړ: «تاسې باید خپل پیلوټان وروزئ. ستاسې افسران دلته زده کړې کوي، موږ به یې د روزنې بهیر ګړندی کړو.» تره کی په خپله خبره ولاړ و: «کېدای شي له هناوی Hanoi یا ځینو نورو هېوادونو څخه پیلوټان ترلاسه کړو.» کاساګین په ترخه ژبه وویل: «دلته، په شوروي اتحاد کې ۴۰۰ افغان افسران زده کړې کوي. د دوی نوملړ له تاسې سره شته. له دوی څخه هغه غوره کړئ چې تاسې ورته اړتیا لرئ، موږ به یې روزنه ګړندی کړو.» خو مېلمه د خپلې غوښتنې د بدلولو خیال نه درلود .ده په ډېر پام وویل: «که موږ په افغانستان کې پیلوټان ونه موندل، له نورو هېوادونو څخه به یې راولو. نړۍ لویه ده. موږ وفادارو خلکو ته اړتیا لرو. د هغو افغانانو په منځ کې چې په شوروي اتحاد کې زده کړې کوي ډېری اخوانیان او چین پلوه ماوېستان دي.» اوستینوف هڅه کوله چې خپله غوسه پټه کړي: «یو سل او نوي افغان افسران چې په شوروي اتحاد کې زده کړې کوي، په دې نېږدې راتلونکې کې فارغېږي. په دوی کې شپاړلس پیلوټان او دیارلس د چورلکې پیلوټان هم دي. موږ به د جنرال ګوریلوف په وسیله د دوی نوملړ او د دوی د روزنې په اړه مالومات درکړو. بیا تاسې هغه خلک ترې غوره کړئ چې تاسې اړتیا ورته لرئ.»

کاساګین د هغو پوځې او وسلو نیږو مرستو په هکله په تفصیل څرګندونې وکړې چې په نېږدې راتلونکې کې شوروي اتحاد افغانستان ته ورکولې .نوموړي د بېلابېلو پوځې ګاډو، چورلکو، د دافع هوا سیستمونو نوملړ ولوست. کاساګین د هغې پریکړې یادونه هم وکړه چې ۱۰۰۰۰۰ ټنه اوړه به افغانستان ته ورکوي. افغان مشر په پور د ۳۰۰۰۰۰ ټنو نورو اوړو غوښتنه هم وکړه او ویې ویل چې د پور ورکړه به ځنډنۍ وي. کاساګین په زړغیتوب د پور ځنډونه ومنله.

د اوستینوف دې ته پام شو چې د پوځې مرستې په لېږلو سره به یوې بلې پوځې کارپوه ډلې ته اړتیا رامنځته شي.

تره کي په ناراضتیا ځواب ورکړ: «چې تاسې یې ښه بولې، موږ به خامخا خپله غبږ ورته پرانېزو، خو تاسې به موږ ته اجازه رانه کړئ چې د ځینې نورو سوسیالېستي هېوادونو له شوبلوالو او پیلوټانو څخه کار واخلو؟»

کاساګین په ښکاره غوسه وویل: «زه نه پوهېږم چې تاسې ولې پر دې ټینګار کوی. سوسیالېست هېوادونه به دا کار و نه کړي. له نورو هېوادونو څخه د خلکو غوښتنه چې ستاسې پر وګړو ډزې وکړي یوه جدي سیاسي موضوع ده.»

د هغه پلان پر بنسټ چې کاساګین مخکې ترمخکې د خبرو اترو لپاره جوړ کړی و، کاساګین د کدرونو په اړه د یوې له پامه ډکې پالیسۍ نه د کار اخیستنې سبق تره کي ته پیل کړ: «سړی باید هڅه وکړي چې هر څوک ښه وپېژني پرته له دې چې د دوښمن تاپه پرې ووهل شي.» دوامدارو څېنو ته په پام سره، کاساګین افغان مشر وترټلو. تره کي داسې وښوده چې د کاساګین په خبرو پوه نشو. ده وویل: «د هرات

www.samsoor.com

پېښو وښوده چې اخوان المسلمین زموږ چاپېریال ته ننوتلي. موږ په داسې چا هېڅ کله ټاپه نه ده وهلې چې له موږ سره دي.»

د شوروي لومړي وزیر دا غوره وګڼله چې په دې اړه نورې خبرې و نه کړي. تره کي بیا د چنو وهل پیل کړل. ده له کاساګین څخه وپوښتل چې که له بهر څخه پر افغانستان یرغل وشي، شوروي اتحاد به څه وکړي، خو کاساګین چې د اوږدې تجربې سیاستوال و، په ډېره اسانۍ یې دغه پوښتنه شنډه کړه. ده وویل: «دا بیخي بېله موضوع ده. موږ تر خپلې وسې هڅه کوو چې داسې یرغل هېڅ پېښ نشي.»

وریسې تره کي بله خبره یاده کړه: «زما د راتګ په هکله زموږ د سیاسي بېرو غړي خبر دي. زه باید د خبرو اترو د پایلې په هکله دوی ته راپور ورکړم. ایا زه دا ورته ووایم چې شوروي اتحاد د افغانستان له دموکراتیک جمهوریت څخه یوازې سیاسي ملاتړ کوي او ځینې نورې مرستې ورسره کوي؟» کاساګین یې پخلی وکړ: «هو، همدغسې ده. سیاسي ملاتړ او لویې پوځي او نورې مرستې. دا د سیاسي بېرو پرېکړه ده .لیونېد ایلیچ به په لسو دقیقو کې درسره وګوري او په دې هکله به درته ووايي.»

د بهرنیوچارو وزارت سلاکار، ګوریلوف، چې د غونډې خبرې په متن بدلولې، کوزېن وستایلو: «ډېر اعلی، تا ډېره ښه ژباړه وکړه.»

د بهرنیو چارو په وزارت کې ګوریلوف د افغان څانګې ښی لاس و. ډېر کلونه یې په کابل کې دنده ترسره کړې وه او له شاه او داود سره په غونډو کې یې ژباړې کولې؛ نو ځکه د نوموړي ستاینې ډېر ارزښت درلود، خو ګوریلوف، کوزېن ته داسې خبرداری ورکړ: «خو! ستا لویه ازموینه لا پاتې ده. له ما څخه غوښتنه وشوه چې دغه متن بشپړ کړم؛ نو ته باید د ژباړې سربېره د تره کي او لیونېد ایلیچ د خبرو یادښتونه هم ولیکې، ښه بخت درته غواړم !»

په کرېملېن کې لیونېد ایلیچ له خپل افغان مېلمه سره په خپل دفتر کې وکتل. تره کی یوازې و. د وضعیت ځانګړې حساسیت او په غونډه کې ممکنه پېچلتیاو ته په پام سره، حتی افغان سفیر ته هم بلنه نه وه ورکړل شوې، خو د غونډې په بهیر کې کومه ترینګلې شېبه رامنځته نشوه. تره کي په ډېر درنښت چلند کاوه او له برېژنیف سره یې له بحث څخه ډډه کوله. د برېژنېف په شتون کې لکه څنګه چې دود و، کاساګین، ګرومیکو او پنومروف غلي ناست و.

د تمې سره سم، شوروي مشر په ښه توګه هغه یادښت لیک په اوچت غږ ولوست چې یاور یې چمتو کړی و. په یادښت لیک کې یو شمېر سپارښتنې وې چې د بولشویکي تجربې پر بنسټ لیکل شوې وې. د

بېلګې په توګه، یوه سپارښتنه دا وه چې افغان حکومت باید د یوې متحدې ملي جبهې جوړولو ته ځانګړی پام واړوي او د کليوالي سيمو له بېوزلو بزګرانو څخه کمېټې جوړې کړي. د دغسې کمېټو د جوړولو موخه «د فیوډالانو او د ځمکې پانګوالو خاوندانو مخنیوی و.» دا سپارښتنه هم شوې وه چې د سیاسی پروپاګند کچه پراخه کړي او له پاکستان او ایران سره پولې وتړي. په یادښت لیک کې د دې څرګندونه هم شوې وه چې ولې پوځي مداخله نشي توجیه کېدای.

تره کي، چې د غونډې په وزم پوه شو، په ځواب کې یې لړ له دروغو څخه کار واخیست چې په حقیقت کې متحده ملي

جبهه د ګوند، د ځوانانو سازمان او د سوداګریزو ټولنو په بڼه جوړه شوې ده. نوموړي یو ځل بیا د بهرنیو دوښمنانو

له لاسوهنې څخه سرټکونه وکړه. ده د پولې تړل ونه منل. «دا به د بلوڅو، افغان او پاکستاني پښتنو په منځ کې ناراضتیا رامنځته کړي او زموږ درم او برم به زیانمن کړي.» د خپلې لنډې وینا په پای کې، افغان مېلمه له «ګران لیونېد ایلیچ » څخه مننه وکړه چې د اندونو د څرګندونو فرصت یې برابر کړ.  ورپسې دوی مخه ښه وکړه. تره کی خپل سفارت ته لاړ چې نوې ورځ، افغان نوی کال ولمانځي. افغان نوی کال د مارچ په یوویشتمه پیل کېږي، هغه وخت چې د شپې او ورځې اوږدوالی یو برابر وي. برېژنېف، چې یاور یې په ډېر پام ورسره مرسته کوله، د وتنې دروازې په لور روان شو. کوزېن پرېښودل شو چې د غونډې متن بشپړ کړي. د برېژنېف یاور، سموتیکین په څېرمه کوټه کې ځای ورکړ او یوه کتابچه یې ورکړه. یوه غلې چوپړیاله له چای، غوړې مالګینې ډوډۍ او ساندویچ سره راغله .ولادیمیر، چې هڅه کوله د غونډې هر ویې په یاد کړي، د متن لیکل پیل کړل.

د مارچ په دوه ویشتمه د افغانستان حالات یو ځل بیا د سیاسي بېرو د غونډې د اجندا په سر کې راغلل. برېژنېف یو ځل بیا ټینګار وکړ چې د نوموړي دریځ او په دې هکله ټول اړوند ټکي په بشپړ ډول سم وو. له تره کي سره د خپلو خبرو جزیات یې له خپلو همکارانو سره شریک کړل. د برېژنېف د وینا پر بنسټ: «افغان مشر په یو اندېښمن وضعیت کې مسکو ته راغلی و، خو کرار کرار یې د خبرو په بهیر کې د ارامۍ ننګېرنه (احساس) وکړه او په پای کې یې ارامه او پرځای چلند درلود.» لیونېد ایلیچ په ښکاره د خبرو اترو په بهیر ډېر خوښ ښکارېده. ده وویل: «لکه څنګه مې چې یادونه وکړه، ملګری تره کی ډېر خوښ و او کابل ته په ښه مزاج کې لاړ. کېدای شي هغه ملګري چې په غونډه کې یې برخه اخیسته وه، زما خبرو ته یو څه ورزیات کړي.»

کاساګین په ډېر خوند وویل: «ما په هوایي ډګر کې له ملګري تره کي سره مخه ښه وکړه. ده له سیاسي بېرو او له لیونېد ایلیچ څخه د ښې مېلمه پالنې او د افغانستان په اړه د ښه نیت لپاره د زړه له تله مننه

www.samsoor.com

 څرګنده کړه. د افغان کلیز پر بنسټ اوس نوی کال دی. تره کي دلته ولمانځه. ده تمه نه درلوده چې دومره ډېرې موضوعګانې به په دومره لنډ وخت کې حل شي.»

ډېره شونې ده چې پاڅون پرته له مخکنې پلان څخه ناڅاپه پخپله رامنځته شوی وي او چا یې لارښوونه یا اداره نه کوله. که داسې نه وی؛ نو د دې باور سخت دی چې دغه ښار چې پاڅونوالو دومره په چټکۍ ونیوه، ولې یې په دومره اسانۍ بېرته له لاسه ورکړ.
د مارچ په شپاړسمه، یو تازه دمه پراشوټي ټولی، یا چې واضح وویل شي، د هغه خلکو یوه ډله چې ګوریلوف د روزنې لپاره غوره کړې وه هرات ته ولېږل شوه. یو شمېر شوبلوال ( ټانکستان) چې د ا خ د ګ غړي وو له دوی سره مل شول. په اوولسمه فرقه کې شوبلې شته وې، خو ټولو شوبلوالو یې د پاڅون په پیل کې خپلې دندې پرېښې وې. د دغه ټولي قوماندان جګړن شهنواز تڼی و، هغه سړی چې د غویي د کودتا په ترڅ کې یې تورن امام الدین له یو ضرب الاجل سره محمد داود ته لېږلی و. نوموړی هغه څوک و چې د نجیب الله د واکمنۍ په وخت کې د دفاع وزیر شو او وروسته یې په ۱۹۹۰ کال د پرچمیانو پر ضد یو پاڅون په لاره واچاوه او د پاڅون له ماتې وروسته پاکستان ته وتښتېد.
د تڼي ټولی او د اوولسمې فرقې هغه افسران او عسکر چې رژیم ته وفادار پاتې وو چې په ټوله کې ۳۰۰ کسه کېدل د هرات په هوایي ډګر کې امر ته تم وو.
په عین وخت کې هغه افسرانو چې مخالفینو ته اوښتي وو د خپل راتلونکي ګام په هکله یې د چونۍ په کلا کې خبرې کولې. د توپچي دافع هوا یو جګتورن په خپل ټولي کې تر ټولو وتلی څرګند شو. نوموړی یو زړور او وړ افسر و. د هرات د جګړې په بهیر کې، ده پخپله یوه الوتکه چې د مخالفینو ځایونه یې په نښه کول نسکوره کړه. برخلیک دغه دوه افسران، تڼی او اسمعیل، ډېر کلونه په مخالفو خواو کې وساتل. د پاڅون له ځپېدنې وروسته اسمعیل د مجاهدینو د یوې ډلې مشري په غاړه واخیسته او ورپسې د افغانستان په لوېدیځ کې د جبهې یو ترټولو نومور قوماندان شو. د شورویانو پر ضد جګړه کې د ده ونډې د تورن اسمعیل* نوم په تاریخ کې وکښه.
پوځي ستر سلاکار ډګروال کتیچیف Katichev د تازه دمو پوځیانو له رارسېدلو څخه ګټه واخیسته او لومړنی کس و چې پر مخالفینو یې د برید امر وکړ. وروسته له دې چې څارن (کشفي) عملیات یې ترسره

*په ۱۹۹۲ کال کې د نجیب الله د حکومت له نسکورېدو څخه وروسته، اسمعیل خان د هرات د والي په توګه وګمارل شو. نوموړی طالبانو په اړتون(زندان) کې واچولو، خو په تېښته بریالی شو. اوس په افغان حکومت کې د وزیر دنده ترسره کوي.

کړل او د ځارنې پایلې یې وارزولې او د پایلو پخلی یې وکړ، نوموړي پنځه شوبلې چې د اعتبار وړ پوځیان پکې وو د اولسمې فرقې شاتنۍ برخې ته ولېږلې. ټانکونو د مخالفینو پر توپچې ډزې پیل کړې. کله چې د توپچې میلونه د شوبلو په لوري تاو کړل شول، په فرقه کې د مخالفینو مرچلونه د تښې تر برید لاندې راغلل. افغانان په غلچکي بریدونو کې ډېره ښه جگړه کوي، خو په پرانیستې جگړه کې دومره اغېزمن نه دي. تښې خپل جنگیالي پرته له کومې ځانگړې ستونزې اړې ته د ننه کړل او ډېر ژر یې حالات تر خپل کنترول لاندې راوستل. د پنځو ورځو مخکې په خبر، پلې ځواکونه په ډېر اطاعت تسلیم شول، خو دا ځل د یو قانوني اداري استازو ته.
د حکومت پر ضد د اوښتو پوځیانو جزا چټکه او بې رحمه وه. پراشوټي پوځیانو شاوخوا درې سوه عسکر او افسران سمدلاسه ووژل. د فرقې پاتې پوځیان یا په ځېرمو کلیو کې خواره شول او یا بېرته خپلو بارکونو ته راوگرځېدل او ویې منله چې خپل چوپړ ته به دوام ورکوي. د مارچ د شلمې په سهار، کتیچیف، گوریلوف ته ولیکل: «په هرات کې پاڅون وځپل شو.»
د شوروي پوځیانو تر وتلو پورې، د هرات ولایت یو تر ټولو خطرناک او له ستونزو ډک ولایت پاتې شو. په کلونو کلونو په دغه ښار کې او د ښار په شاوخوا کې اوږدې جگړې ونه دربدلې. هغه ځای چې یو وخت یوه رغیاڼه و پر اورجن دوزخ بدل شو.
د هرات مدرن مېلمستون چې شوروي سلاکاران پکې اوسېدل او د لوېدیځ په ستندرد ودان شوی و، په یوه ریښتینې
کلا بدل شو. په کړکیو کې یې د ریگ کڅوړې کېښودل شوې، ماشینگنې یې پر بام ځای پرځای شوې او د ننوتنې له دروازې څخه یې زغروالو گاډو ساتنه کوله. له هغه وخت راهیسې، شوروي سلاکاران به یوازې د ورځې په رڼا کې په ښار کې گرځېدل. د تیارې په خوربدو سره به واک هغه چا ته واوښت چې شورویانو «دوشمن» بلل.
که د هرات پاڅون بریالی شوی وی، د سروري تیاره او غمجنه وړاندوینه «ځنځیري غبرگون» به ریښتیا رامنځته شوی
وی. په یوه حساب، دغه بهیر پیل شوی و. په هغه پسرلي کې په ننگرهار، بغلان، فراه او نورو ځایونو کې وسلوال پاڅونونه وشول، خو د دغو ټولو پاڅونونو حالت له ناچارۍ ډک و او په ډېره بې رحمۍ وځپل شول. د بېلگې په توگه، محمد یعقوب جلال اباد ته لاړ چې هلته پاڅون وځپي. کله یې چې نیول شوي مخالفین او د دوی ملاتړي ولیدل، ده پخپله د دوی په وژلو پیل وکړ. د ده مرستیال به ده ته د مرمیو ډک جاغورونه ورکول او ماشینگنې به یې ورته بدلې کړې ځکه چې له ډېرو ډزو به له کچې وتلې گرمې شوې. د څه باندې ۲۰۰ کسانو له بې رحمه وژنې څخه وروسته، امین خپل لوی درستیز په دې اکارۍ وستایه.
www.samsoor.com

د مارچ په پنځه ویشتمه، تره کی له مسکو څخه کابل ته ورسېد. د یوې ورځې په ترڅ کې په افغانستان کې د دفاع عالي شورا جوړه شوه . تره کی یې ریس شو.

کله چې له مسکو څخه بېرته راغی، تره کی په ډېره حیرانتیا پوه شو چې د خلقیانو تر منځ د ده د خوښې یووالی له منځه تللی. د انقلاب اتلانو، وطنجار او ګلاب زوی، د ټولو پر وړاندې د انقلابي شورا په غونډه کې پر امین نیوکه وکړه او ویې ویل چې له وسلوال پوځ څخه ناښنده کار اخلي. دوی پر امین تور ولګاوه چې له پوځیانو څخه د سوله منو وګړو پر ضد کار اخلي سره له دې چې دغسې چارې دکورنیو چارو پر وزارت پورې اړه لري. هغه روزنیزو چارو چې شوروي سلاکارانو په غاړه اخیستې وې د دې غوښتنه کوله چې تره کی دغه موضوع حل کړي. تره کي د دې زړه وکړ چې خپل «ګران زده کوونکی»، امین د پوځ له څارنې لیرې کړي. داسې سپارښتنه وشوه چې امین وټه ییزو چارو او کورني سیاست ته پام واړوي. وطنجار د دفاع وزیر او مزدوریار، چې د امین یو بل مخالف و، د کورنیو چارو وزیر په توګه وګمارل شول، خو د دې په بدل کې تره کي خپل «ګران زده کوونکي » ته د لومړي وزیر چارې وسپارلې. د واک په لوړ پوړ کې له دغو بدلونونو وروسته په انقلابي شورا او حکومت کې ځینې حقوقي اصلاحات هم راغلل. د صدراعظم څوکۍ لیرې او پرځای یې د لومړي وزیر څوکۍ رامنځته کړل شوه. بل سمون د انقلابي شورا ریس په ولسمشر بدل کړ او د کابینې ټول غړي د ده لاس لاندي شول.

تره کي په رسمي توګه خپله څوکۍ مظبوطه کړه او حتی بهرنیو کتونکو ته به داسې څرګنده شوې وي چې د مطلق واک په هڅو کې تره کی پر امین لاسبری شو، خو راتلونکو پېښو وښوده چې وضعیت ډېر بدل و.

د مارچ په اوولسمه، خرابېدونکي وضعیت ته په کتو سره، د ډګرجنرال ب. س ایوانوف B.S Ivanov په مشرۍ د کې جي بي یوه ډله افغانستان ته ولېږل شوه. نوموړی د کې جي بي په لومړي ریاست کې د کریچکوف لومړی مرستیال و او د سیاسي څارګرې څانګې مشري یې کوله. د ده څوکۍ د فرنک کرلوچي Frank Carlucci، د سي ای اې له دویم کس سره برابره وه. کرلوچي هغه څوک و چې وروسته د رېګن په اداره کې د ملي امنیت سلاکار او د دفاع وزیر شو. بوریس سیمیونوویچ ایوانوف ته د امریکا او اروپا په چارو کې د یو نومور کارپوه په سترګه کتل کېدل. نوموړي په امریکا کې د کې جي بي مېشت مشر په توګه دوې اوږدې دورې تېرې کړې وې. ده له ولسمشرانو نېکسن Nixon، فارډ Ford او کارتر Carter سره د خبرو اترو د رسمي پلاوي د غړي په توګه هم دنده ترسره کړې وه. دا ایوانوف و چې د چلي کمونست لویس کوروالن Louis Corvalan  د تبادلې چارې یې جوړې او ترسره کړې. ده د دونی Dunai (دنوبي Danubi) په عملیاتو کې برخه اخیستې وه، په دغه عملیاتو کې شوروي پر چکسلواکیا یرغل وکړ چې هلته رژیم بدل کړي. ایوانوف د وټه ییزو چارو ځانګړې څارګره اداره هم جوړه کړې وه. ده د لنډې مودې لپاره د لومړي ریاست د ترټولو پټې څانګې، دیارلسمې څانګې، مشري کړې وه، خو ښایي د ایوانوف ترټولو مهمه

لاسته راوړنه دا وه چې د ۱۹۷۹مې په ورستيو کلونو کې د کې جي بي د ريس يو ترټولو اعتباري همکار شو. ايوانوف کولای شوی چې له اندروپوف او د سياسي بېرو له نورو غړو سره نېغه اړيکه ونيسي پرته له دې چې لومړی له خپل مشر کريچکوف سره وغږېږي. ښايي همدغه تر ټولو مهم ټکی و چې په افغانستان کې د کې جي بي د ټولو کړنو د مشر په غوراوي کې يې ونډه درلوده. دغه مشر دنده درلوده چې د شوروي مشرتابه د افغانستان د ريښتيني وضعيت په اړه خبر وساتي. اندروپوف په کابل کې داسې يو سړي ته اړتيا لرله چې بشپړ باور وربانديې وکړی شي، داسې يو سړي ته چې په افغانستان کې د مېشتو شورويانو له بېځايه سيالۍ څخه ډېر اوچت وي او د ديپلوماتانو، سياستوالو او پوځي مامورينو په منځ کې په لويه کچه برم او ادرم ولري. اندروپوف داسې يو سړي ته اړتيا لرله چې په پېچلو حالاتو کې مهمې پرېکړې وکړی شي پرته له دې چې له مسکو سره د همغږۍ لپاره په خبرو وخت ضايع کړي؛ نو له دې کبله د لومړي رياست د يو بل مرستيال پر ځای چې په منځني ختيځ کې يې د عملياتو مشري په غاړه وه، د امريکايي چارو کارپوه ايوانوف دغه څوکۍ ته غوره شو .

لکه څنګه چې تمه يې کېده، دغه ګمارنې ولاديمير الکساندرويچ کريچکوف هک پک کړ. نومړي بايد اوس دې ته هم پام کړی وی چې د کې جي بي ريس به سر له اوسه په کابل کې د کې جي بي مېشت مشر، وليور اوسادچي او په کابل کې د کې جي بي استازې ځانګې مشر، ليونيد بګدانوف مالومات له هغو مالوماتو سره پرتله کوي چې اندروپوف يې له خپل شخصي استازي ايوانوف څخه ترلاسه کوي، خو له بلې خوا، د لومړي رياست مشر په داسې ناڅاپه بدلون د خوښۍ لاملونه هم لرل. جنرال ايوانوف يو داسې خپلواک، مسلکي او بې کچې د درناوي وړ سړی و چې د لومړي رياست د عادي مرستيال په څوکۍ يې باک نه درلود. کريچکوف په دوامداره توګه په خپلو چارو کې اړنګمن بريښېده ځکه چې د ده په پرتله يې مرستيال ډېره وړتيا درلوده؛ نو يو داسې له واکمنو خلکو سره د اړيکو ښېښتن چې څومره د کريچکوف له اداري څخه ليري و، همدومره کريچکوف پرې خوښ و. دا د کريچکوف د بخت وينښېدنه وه چې سياسي بېرو پرېکړه وکړه چې ايوانوف افغانستان ته ولېږي* .

د يادونې وړ ده چې د ايوانوف لاس لاندو د ده د ګمارنې په هکله د ده غبرګون داسې څرګند کړ: ګمارنه يې په ارامه بڼه ومنله. نومړي دغه ګمارنې ته د ګوند له لوري د يوې داسې مهمې دندې په سترګه وکتل چې موخه يې په يوه داسې مهمه سيمه کې چې د شوروي د موخو لپاره ډېره مهمه وه د شوروي د ګټو ساتنه وه، خو کله چې افغانستان ته لاړ، جنرال پوه شو چې دی به هېڅ کله خپلې پخوانۍ څوکۍ ته ور ونه ګرځي. ښايي نومړی په دې خوښ و چې افغانستان ته ولېږل شو ځکه اوس يې د دې فرصت درلود

---

*د دغه کتاب د ليکلو په بهير کې مونږ ته د ايوانوف په هکله داسې جزيات وويل شول چې د ده له ځانګړتياوو سره يې ډېر سمون درلود. د ده د ډېرو هغه همکارانو برعکس چې يادښت کتابونه يې ليکلي او په ۱۹۹۰مو کې يې له روسي او بهرنيو خبرپالانو سره مرکې کړې دي، ايوانوف حتی يو ځل هم په ډليزو رسنيو کې خبرې نه دي کړې.

www.samsoor.com

چې خپلې معمولي دندې چې تل یو ډول وې پر نویو ننګونو بدلې کړي.
په دې وروستیو کې د ایوانوف مېرمن مړه شوې وه او د دغې ضایعې په منلو کې یې ستونزې لرلې.
بوریس سیمیونوویچ ایوانوف کابل ته پټ په داسې چوپتیا ورسېد لکه څنګه یې چې مسلک غوښتنه کوله. اوسادچي او بګدانوف یې د ښه راغلاست لپاره هوایي ډګر ته ورغلل. ایوانوف د شوروي سفیر د استوګنځي په حریم کې په یو دوه کوټه ییز اپارتمان کې واړول. ده ته د سفارت په دویم پوړ کې د کې جي بي د مېشت مشر د هغه مرستیال عادي دفتر ورکړل شو چې د ځارګریزو فعالیتونو د شنډولو چارې یې مخته وړلې. ایوانوف لومړنۍ دوې غونډې د کې جي بي مېشت مشر او د کې جي بي د استازې څانګې له مشر سره درلودې. په هېواد کې د سیاسي حالاتو په اړه یې مفصلو راپورونو ته غوږ ونیو. ده په ځانګړې توګه هغه مېکانیزم ته پام اړولی و چې د دولت پر ضد کړنو کې مخالفینو ترې ډېر کار اخیست. ایوانوف د مخالفینو په منځ کې د داسې ځارګرو وړتیاو په هکله د خپلو همکارانو د اند غوښتنه وکړه چې د انقلاب ضد ځواکونه کمزوري کوي. ده د افغان مشرانو د ځانګړتیاو، نړیوال لید، دندو او شخصي ځرنګتیاو په هکله وپوښتل. له اوسادچي او بګدانوف څخه یې وغوښتل چې دوی د خپلو عملیاتي ډلو وضعیت ورته بیان کړي. دوی هوکړه وکړه چې دواړه ډګروالان او د دوی مرستیالان به په یو رسمي راپور کې ټول وروستي مالومات ورکړي، خو ایوانوف دا غوښتنه هم وکړه چې که هر عملیاتي مامور مهم او جدي مالومات ترلاسه کول، دی چې هر چېرته و او د ورځې هر وخت چې و، دغه مالومات باید ده ته سمدستي په نېغه توګه ورسول شي.
بوریس سیمیونوویچ په دې ښه پوهېده چې افغانستان ته د ده راتګ به د بګدانوف پر هغه هیلو اغېز وکړي چې په افغانستان کې د کې جي بي لوړ پوړی مشر شي او اوسادچي یې د ډلې په ګډون د ده لاس لاندې شي، نو ځکه ایوانوف په درنښت او ښه چلند د کې جي بي له استازي سره لیدنې کتنې کولې. که د کې جي بي د مېشت مشر په هکله د ایوانوف د اند ځرګندونه وشي، نوموړي هېڅ کله د اوسادچي په وفادارۍ اړنګ نه درلود.
د مارچ په نولسمه ایوانوف له تره کي او امین سره وکتل. لکه څنګه چې په مسکو کې پرېکړه شوې وه، ایوانوف سمدستي خپل ځان د کې جي بي د ریس د شخصي استازي په توګه وروپېژانده او ویې ویل چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت ته به په امنیتي چارو کې مشورې ورکوي.
کله یې چې د خپل مېلمه خبرې واورېدلې، تره کي موسکا وکړه او د هوکړې داسې سر یې وخوځاوه لکه ده چې پخپله د کې جي بي د دغه جنرال غوښتنه کړې وي، خو امین د خپلې غوسې په پټولو کې ستونزې لرلې. دی له ورایه داسې ښکارېده چې له ځان سره دغه فکر کوي: «موږ ورته زارۍ کوو چې عسکر راولېږئ، خو پر ځای یې یو بل سلاکار او د سیاسي بېرو د ورورولۍ سلامونه راولېږل.» خو د افغانستان دویم واکمن خپله تنګستیا کابو کړه. امین په مینه ناکه خندا وویل: «ته په ډېرو سختو شېبو کې موږ ته

راغلي. په هرات کې حالت دومره خراب دی چې که موږ ته له شوروي اتحاد څخه همدا اوس پوځي مرستې را ونه رسېږي، مخالفین به دغه ولایت ونیسي او په هېواد کې به خپل پرمختګ ته دوام ورکړي.»
ایوانوف چې په خبره ډېر ژر پوهېده، پوه شو چې افغان وزیر ډېر ناراضه دی؛ نو ویې ویل: «زه فکر کوم چې مسکو ته د تره کي د یون په ترڅ کې چې سبا ته پیلېږي، زموږ مشران به د داسې مرستو په اړه چې د انقلاب ضد ځواکونو پر وړاندې ترې کار واخیستل شي خپل ځانګړی دریځ روښانه کړي؛ نو ځکه زه له تاسې څخه غوښتنه کوم چې ما ته اجازه راکړئ چې په ننۍ غونډه کې په دې هکله خبرې و نه کړم .»
تره کي په موسکا خپله رضا ښکاره کړه، امین هم خپلې ننګېرنې کابو کړې او ونګې یې له مبالغې څخه ډکه خوښي ښکاره کړه. نوموړي په خپله سترګوکو (جذابه) امریکایي خندا چې په خوله کې یې په یوه لیکه سم برابر غاښونه ښکاره شول وویل: «پر ما شوروي اتحاد ډېر ګران دی - زه ستاسې مشرانو ته ډېر درناوی لرم او که ریښتیا ووایم، زه هم ډېره هیله لرم چې له ملګري تره کي سره یوځای لاړ شم.»
ایوانوف ډېر سوړ ځواب ورکړ: «اوه، نه. اوس چې شوروي مشرانو ملګري تره کي ته د یوې غیر رسمي لیدنې کتنې بلنه ورکړې، دوی په دې باور دي چې په داسې نازکو او بې ثباته حالاتو کې تاسې، ملګری امین په افغانستان کې وئ او د مخالفینو پر ضد د جګړې مشري وکړئ.
د امین خندا پیکه شوه. ایوانوف د ده ښکاردانه په خوله نه کړه او ده ته یې د اعتراض ځای پرېنښود.
ایوانوف تل
ارامه، په هوښیارۍ، په ټیټ غږ او مهربانۍ خبرې کولې. خلکو به داسې فکر کاوه چې د کې جي بي یو مامور ته نه بلکې د ژبې یو وتلي تاریخپوه ته غوږ دي. کله به یې چې د ژبارن په وسیله خبرې کولې، غونډلې به یې لنډې او د ګرامر له اړخه به ساده وې څو ژبارن ته په ژباړه کې اسانتیاوې راولي. د ده د داسې بڼې راز د مالوماتو په چټک پوهاوي او شننه کې و. دغه مالوماتو ته به یې د یو پراخه انځور په اډانه کې وکتل او بې عیبه پایلې به یې ترې راوایستې.
ایوانوف د امین ډېر بد اېسېده. ښایي له دې کبله چې افغان مشر ناڅاپه پوه شو چې د ده بېساري سبک او په زړه پورې توب پر ایوانوف اغېز و نه کړ. دا یوه داسې وسله وه چې امین به تل له شوروي ملګرو سره په خپلو اړیکو کې کاروله. امین به سمدلاسه پوه شو چې څرنګه د سفیر پوزانوف سترګې وځلېږي کله به یې چې ده ته ډاډ ورکاوه چې افغانستان به ډېر ژر یو سوسیالېستي هېواد شي. ده به د شوروي پر پوځي او ګوندي سلاکارانو په بریالیتوب ځان ګراناوه. کله به چې له مسکو څخه ډېرو لوړپوړو مېلمنو له امین سره وکتل، دوی به په دې باور شول چې نوموړی د شوروي اتحاد یو اعتباري او وفادار ملګری دی او داسې سړی دی چې د یوې روښانه سوسیالېستي راتلونکې په لور د افغانستان مشري کولی شي، خو د کومې ناڅرګندې وجې له کبله ایوانوف د داسې اغېزې ښکار نه شو. امین پر ده اغېز ونشوی کړی او په حقیقت
www.samsoor.com

کې ترې وډار شو. په لومړنۍ غونډه کې امین وننګېرله چې دغه جنرال یو داسې هوښیار اروا پوه دی چې غوړو خبرو ته دومره ارزښت نه ورکوي او د دې توان لري چې د سړي په باطني بڼه پوه شي .امین داسې ننګېرل چې دی د ایوانوف په سترګو کې په بشپړ ډول بربنډ ښکاري.

د ایوانوف هم امین خوښ نه شو. د یوه تجربه لرونکي څارګر مامور په توګه، نوموړي سمدلاسه په امین کې د صداقت د نه شتون اړنګ وکړ. دی د امین د خبرو په تکتیک پوه شو؛ نو په لومړنۍ غونډه کې د دغو دوو کسانو تر منځ یوه دوه اړخیزه ناخوښي رامنځته شوه او د وخت په تېرېدو غښتلې کېده.

د هر څه په پرتله ایوانوف د کې جي بي د کې جي بي مامورینو وفادارۍ او وړتیا ته ډېر ارزښت ورکاوه. دا ټولو ته ناشونې وه چې دی د غلطو مالوماتو پر ورکړې وغولوي. بګدانوف او اوسادچي په دې حقیقت پوهېدل. دواړو غوښتل چې ده ته خپل لاس لاندې ښه وړ کسان وښیي او د خپلو مامورینو ښې ځانګړتیاوې وروپېژني، خو دغه کار بګدانوف ته ډېر سخت و ځکه چې د ده څانګه په دې وروستیو کې جوړه شوې وه او په مرکز کې هم پوره افغان کارپوهان نشته وو چې ده ته یې ورولېږي. ډېری وخت به یې داسې مامورین ورلېږل چې په ژبه او د سیمې په دودونو نه پوهېدل؛ نو ځکه پخپله بګدانوف یا د ده مرستیال، چچوکین Chuchukin او یا د اړیکو یو افسر به ایوانوف ته راپور ورکاوه.

ایوانوف په افغانستان کې د کې جي بي د مېشتې او استازې څانګو ډېری لوړپوړي مامورین پېژندل. ده ولادیمیر چچوکین د امریکا له وخت څخه پېژانده، له هغه وخت څخه چې ایوانوف په امریکا کې د کې جي بي مېشت مشر و.

کله به چې اوسادچي له کوم اجنټ سره د لیدنې په هکله له خپلو مامورینو څخه په زړه پورې راپور ترلاسه کړ، ده به ایوانوف ته تیلفون وکړ او ترې وبه یې غوښتل چې دغه مامور د لیدو لپاره وروغواړي. ایوانوف د کې جي بي عملیاتي مامورینو ته تل په پام غوږ نیوه او هېڅ کله یې د عمر او رتبې پر بنسټ د دوی ارزونه نه کوله. دوی به یې هېڅ کله د مالوماتو په ورکړه کې بیړې ته نه اړ ایستل .د خبرو په پای که به یې دستور ورکاوه چې له ورکړل شوو مالوماتو سره څرنګه چلند وشي او د دغو مالوماتو پر بنسټ کومې کړنې ترسره شي.

کله چې ایوانوف کابل ته ورسېد، له هغه مېلمستیا څخه وروسته چې سفیر، بګدانوف او نورو شوروي استازو د ده په ویاړ جوړه کړې وه، اوسادچي سمدلاسه جنرال ته په کور کې د مېلمستیا بلنه ورکړه. د ایوانوف سربېره، اوسادچي د کې جي بي دوه عملیاتي مامورین او دوه «پاک» همکاران، یو دیپلومات او بل خبریال هم راغوښتي وو. له هر یو سره یې خپلې مېرمنې هم وې. ماښامنۍ ښه تېره شو او له مسکو څخه د نوي راغلي همکار په شتون کې ټولو د هوساینې ننګېرنه وکړه. له دغې ماښامنۍ څخه وروسته، نورو همکارانو هم ایوانوف ته بلنې پیل کړې. دوی پوه شول چې نوموړی یو بنداري سړی او د ښه مزاج څښتن دی او ډېر په زړه پورې بنډار کوي. بې اړنګه، د مېلمستیاو په ترڅ کې هېڅ د کار په اړه او یا په کابل کې د

ایوانوف د ماموریت په اړه خبرې نه کولې. ایوانوف د ځان په اړه ډېر لږ خبرې کولې. یو ځل یې وویل چې د ګازرو او تربوچو( سرې مولۍ) هغه سلات یې خوښېږي چې د لمرګلي په غوړیو کې ګډ شوی وي. ده وویل چې دغه سلات د ده د زوکړې په ښار، لېننګراد کې ډېر نومور دی.
په کابل کې د عملیاتي مامورینو ډېرې ښځې اندېښمنې وې چې داسې یو سترکوکو (جذاب) او دروند کونډ یوازې ژوند کوي. یوه ورځ د کې جي بي د یو افسر مېرمنې، تامارا بختورینې Tamara Bakhurina، په یوه مانښامنۍ کې ده ته یوه ښځه راوسته، نومړې د ریسه پترونه Raisa Petrovna په نوم یوه ځلوېښت کلنه جره ښځه وه چې د سفارت په طبي مرکز کې د غاښونو ډاکتره وه. دوه کاله وروسته، دوی دواړو له یو بل سره واده وکړ .

د هرات د پاځون له ځپلو څخه دوه ورځې وروسته، اوسادچي، اورلوف مروزوف، ختییف او سترستین خپل دفتر ته ور وغوښتل. کله چې دوی یې دفتر ته ننوتل، اوسادچي دروازه کولپ کړه چې څوک یې اخلال نه کړي. څنګ ته پر یو اېښي مېز باندې تازه چای او بوره اېښي وو. دې د مهمو خبرو مانا درلوده.
اوسادچي خبرې پیل کړې: «ښه ملګرو، د پاځون په بهیر که موږ هغه څه وکړل چې تر وسې مو پوره وو. زموږ کړنې نه ښې او نه بدې ارزول کېدای شي. مرکز ته د تازه مالوماتو په لېږنه کې موږ ډېر اغېزمن وو. دوی مو په دوامداره توګه خبر ساتل چې پلانۍ او پستانۍ پوځي ډلې مخالفینو ته واوښتې او یا پاربدلې ګڼې ګوښې پر پلاني او پستاني برید وکړ. دغه کار د مالوماتو هغه لړۍ شونې کړې وه چې په هرات کې زموږ د مېشتو شورویانو اړیکوالو او د څارګرو فعالیتونو ضد شبکې برابرولې. بې اړنګه، دغسې مالومات اړین دي. کله چې په کور کې اور بل وي، سړی باید پوه وي چې د کور کومې خواته ورنېږدې شي چې اور مړ کړي، خو ټول مالومات د هغو پېښو په هکله وو چې مخکې پېښې شوې وې. د بګدانوف او ګوریلوف خلکو او د ګوند سلاکارانو د پېښو په هکله همدې ته ورته مالومات لېږل، خو دوی همدومره څه کولای شول ځکه چې نور کارونه یې هم درلودل. د دې پرځای چې د داسې څه په هکله مالومات ولېږو چې پېښ شوي وي، موږ باید داسې شننیزې نظریې ولېږو چې د پېښو وړاندوینه کوي. موږ سیاسي څارګر یوو؛ نو باید د هغه څه وړاندوینه وکړو شو چې په افغانستان کې پېښېدونکي وي.
کله یې چې وروستۍ غونډله بشپړه کړه، اوسادچي خپلو همکارانو ته په لنډه توګه وکتل او ویې خندل.
اورلوف مروزوف په دوامداره توګه خپل مشر ته داسې کتل چې لږ ننګېرنه  ترې څرګندېده، سترستین

داسې ښکارېده لکه چې د ښیښې په هغه لوښي کې ممیز شمېرې چې مخې ته یې پر مېز ایښی و. یوازیني مامور چې د اوسادچي خبرې یې ترټل وبلل، ختییف و. نوموړی په غوسه شو او په ځواب کې یې داسې وویل: «ویلیور گورېلوویچ، موږ داسې وړاندوینه لا ډېر د مخه کړې وه، یوازې دوه میاشتې مخکې موږ په هرات کې د پاڅون وړاندوینه وکړه.» حیران اوسادچي په اعتراض وویل: «ما خو داسې وړاندوینه نه ده اورېدلې.»

ختییف ورته وویل: «تا پخپله هغه یادښت لاس لیک کړ چې موږ مرکز ته ولېږه. هرات په ځانگړې توگه نه و پکې یاد شوی، خو داسې سناریوې پکې یادې شوې وې چې په کابل یا په هر بل ولایت کې پېښېدلی شوی. د هرات پېښې زموږ د داسې سناریو بشپړ پخلی وکړ. موږ دغه یادښت د لیک په بڼه ولېږه، خو په مسکو کې زموږ همکارانو هېڅ پام ورته و نه کړ.» اوسادچي په وړاندیز وویل: «سمه ده، نو راځئ چې سرله اوسه دغسې لاسوندي د تېلگراف په بڼه ولېږو.» خو د ختییف خبرې لا پاتې وې، ده وویل: «او ته فکر کوې چې که د تېلگراف په بڼه ولېږل شي، له دوی سره به بل ډول چلند وشي؟» په ځواب کې مېشت مشر وویل: «لېترلېره کریچکوف او میډیانیخ به یې ولولي.» اورلوف مروزوف بیا په ارامه وویل: «ویلیور گوریلوویچ، زه منم چې د لاسوندي د لېږلو بڼه، د لیک او یا د تېلگراف په څېر، ډېره مهمه ده، خو د لاسوندو منځپانگه ما ته لا ډېره مهمه ښکاري. زه داسې وړاندوینو ته نغوته کوم چې موږ یې مشرتابه ته لېږو. زموږ د ټولو چینلونو له لارې ډېر خوشبین مالومات مسکو ته ولېږل شول - داسې مالومات چې د انقلاب ورځ تر بلې غښتلتیا ته یې نغوته کوله، په دغه ډول استونو کې لیکل شوي وي چې زموږ افغان ملگري د انقلابي اصلاحاتو په پلي کولو کې بریاوې ترلاسه کوي او خپل ټولنیز بنسټ پراخوي، خو موږ پوهېږو چې داسې نه دي. موږ پوهېږو چې په هېواد کې حالات ډېر خطرناک دي؛ نو د داسې خوشبینیو پر وړاندې به زموږ شننو ته په کومه سترگه وکتل شي. ایا مشران به د زړه له تله دوی ته پام واړوي؟»

اوسادچي داسې څرگنده کړه: «دا ټول په دې پورې اړه لري چې موږ څه شی لیکو او څرنگه یې وړاندې کوو. ته، ولېږي، د غویي انقلاب د راتلونکې په اړه خپله وړاندوینه راته ووایه.» سترستین د ښیښې په لوښي کې د ممیزو شمېرل بس کړل او ویې ویل: «تر ټولو بدبینه.» ورپسې یې د خپل اند په هکله څرگندونې پیل کړې: «ته پوهېږې چې زه د مارکسېزم-لېنېنېزم تیورۍ یو ښه زده کوونکی وم. زه پوهېږم چې د ټولنیزو پوړونه پرځنگ (مبارزه) شته. زه هیله من یم چې زما په خبرو غلط پوه نشئ، زه د مارکسېزم-لېنېنېزم د سپکاوي هڅه نه کوم او لېونی هم نه یم، خو زه فکر کوم چې د دغې تیورۍ نړیوال قانون په افغانستان کې پلی کېدونکی نه دی. د دوی په کاري بڼه زه نه پوهېږم. تره کی او امین د کارگر پوړ د خامخا بریا خبرې کوي، خو په افغانستان کې کارگر پوړ چېرته دی؟ ایا کارگر پوړ هغه خلک دي چې د جنگلک په گاډي تنډلو فابریکه کې کار کوي؟ هغه خلک چې په دولتي مطبعه کې کار کوي؟ زموږ د گوند سلاکاران د کارگر - بزگر د ځانگړتیاو په هکله مسکو ته په خپلو راپورونو کې یادونې کوي .پروفیسور دوریانیکوف

دDvoryankov افغان په ګڼ پوړيزي ټولنې ښه پوهېږي، خو حتی دی هم وايي چې د خلقيانو تر مشرۍ لاندې به کارګر او بزګر پوړونه بريالي شي.

په ظاهر کې د دغه تيورۍ له شرطونو سره سم هر څه ډېر ښه ښکاري، خو کله چې زه دغه ادعا ته په پام فکر وکړم او هغه کلي را په ياد کړم چې ما ليدلي يا په ځانګړې توګه د کابل هغه سوداګر او هټيوال چې زه پېژنم، زه نه پوهېږم هغه اصلاحات به څرنګه پلي کېږي چې تره کي او امين يې ژمنه کړې ده. زه فکر کوم چې شپږم او اتم فرمان د ناپوهۍ او ځبنتوب يوه ترخه ميوه ده مګر دا چې د دغه فرمانونو موخه په لوی لاس د افغانستان دموکراتيک جمهوريت بې ثباته کول وي. دې ته په پام سره چې په افغانستان کې ټول ټولنيز بهيرونه سوکه مخته روان دي، زه باور لرم چې په څو راتلونکو مياشتو کې به افغانان د خلقيانو پر ضد يوه جګړه پيل کړي. د يادونې وړ ده چې پرچميان هم همدغه اند لري. ويليور ګوريلوويچ، که د تاسې په ياد وي چې د مني په لومړيو کې ما يو راپور درکړ چې ټولو دغو ټکو ته يې نغوته کړې وه.»

اوسادچي په خپګان سر وخوځاوه. د اورلوف مروزوف ونګه همداسې بې ننګېرنې پاتې وه او ختييف د خپل مشر غبرګون په ډېر پام څاره.

اوسادچي له لږ ځنډ څخه وروسته وويل: «ولېري، د افغانستان په هکله ستا شننه په پوره دليلونو نه ده ولاړه. په دې کې پر غربېزې او منفي ليد ډېره ډېده وهل شوې، خو بې اړنګه، د شتون او اوربدلو حق لري. که ستا کومه باوري سرچينه همدغسې ليد لري؛ نو بيا راځه چې دغه اند په مرکز کې لوړپوړو ته ورسوو.»

ولېري د خپل مشر د وروستې خبرې په مانا پوه شو: «د افغانستان د راتلونکي سياسي وضعيت په هکله شننه وکړه، خو شننوال يې ځان مه بوله او پر ځای يې باروي اجنټان ياد کړه.»

اورلوف مروزوف اندېښمن شو او ويې ويل: «هيله من يم چې موږ له داسې شننو څخه محروم نشو. په مرکز کې لا د مخه په کابل کې د کې جي بي مېشتې څانګې په اړتيا خبرې شوې دي. ځينې په دې اند دي چې اګسا به ډېر ژر دا وړتيا ولري چې مسکو ته اړين مالومات ولېږي؛ نو بيا زموږ د څانګې اړتيا نه ليدل کېږي.»

ټولو د سترستين ځبنه خندا وليدله کله چې نوموړي د مېشتې څانګې د مرستيال خبرې واورېدلې. اوسادچي له دغه ځوان مامور څخه په جدي توګه وپوښتل: «څه خبره ده؟» سترستين وويل: «پوهېږې چې ما همدا اوس پر څه باندې فکر کاوه؟ زه، زموږ د غونډو په څېر د هغو غونډو په سوچ کې لاړم چې لس زره کاله مخکې شوې وې. کله چې ما الکساندر وېکتوروېچ ته غوږ نيولی و، زه د شهنامې فردوسي* د شعر د يوې برخې په سوچ کې لاړم. زه به د دغې برخې اصلي ټکی درته څرګند کړم: فالبينان شيطان ضحاک

*شاهنامه (د امپراتورانو يوه ډله) يو حماسي شعر دی چې د لسمې پېړۍ لوی پارسي شاعر، فردوسي ليکلی. دغه شعر د يو لرغوني پېر په هکله څرګندونې کوي چې حتی تر زردشتي اوستا پورې قدامت لري. (له ميلاد څخه مخکې، له لسمې پېړۍ څخه نيولې تر شپږمې پېړۍ پورې)

www.samsoor.com

ته ورغلل. ضحاک د هغه چا په وژلو کې نوم درلود چې بد خبر یې ورووړ. دوی باید د ضحاک خوب تعبیر کړی وی، خو دوی ډېر په وېره کې وو ځکه چې که دوی یې د خوب تعبیر سم وکړي، خپل ژوند به له لاسه ورکړي، خو که له وېرې حقیقت پټ کړي، بیا به هم ووژل شي چې خپله سپېڅلې دنده یې سمه نه ده ترسره کړې. اوسادچي کړس په خندا شو، اورلوف مروزوف هم ورسره وخندل او ولودیا، ولېري پر اوړو وتپاوه. دوی نور چای دم کړ او د لرغونو ادیبانو په هکله یې بنډار پیل کړ. مخکې له دې چې بېرته مخکنۍ موضوع ته ور وګرځي، اوسادچي د انساني حکمت په رڼا کې د دوی ادبي بنډار داسې پای ته ورساوه: «ستاسې به ایکلییستیز Ecclesiastes (د تورات یوه برخه. ژباړن) په یاد وي: «څه شی چې شته وو، بیا به وي. څه شی چې شوي، بیا به وشي. تر لمر لاندی کوم نوی شی نشته.»» ورپسې یې وویل: «ولېري، زه ستا له منفي لید سره همغږی یم، زه هم په دې اند یم چې افغانستان د جګړې په مورګه دی. دا به داسې کورنۍ جګړه نه وي چې یو ټولنیز پوړ له بل سره جګړه کوي، دا به د ځېبېنبل شوو جګړه د ځېبېنبونکو پر ضد نه وي. دا به د واکمن رژیم پر ضد د ډېری افغانانو جګړه وي. لکه څنګه چې د هرات پېښې وښوده، خلقیانو ته به سخته وي چې په وسلوالو ځواکونو او پولیسو کې ملاتړ پیدا کړي. زما په اند اوس زموږ دنده دا ده چې مسکو ته داسې مالومات ورکړو چې مشرانو ته ټکان ورنه کړي، خو په پاملرنه دوی د تره کي او امین د طرحو په ځبنتوب (حماقت) او د خپلو ځینو ګوندي سلاکارانو په ځبنو شننو پوه کړي. په دې تړاو موږ باید یو داسې مفصل شننیز راپور جوړ کړو چې د دغه ډول وړاندوینو بنسټ جوړ کړي. پر راپور باندې د محرم ټاپه باید ونه وهل شي ځکه موخه مو دا ده چې ډېر خلک یې ولولي. راځئ چې خپل مشران وروزو مخکې له دې چې دوی ته یو دلیل وړاندې کړو. ستاسې په اند دغه راپور ته څرنګه سرلیک ورکړو؟»

ختییف داسې وړاندیز وکړ: «دې ته په پام سره چې د هرات په پاڅون کې دیني مشرانو پاڅون ته قوت ورکاوه، سرلیک باید داسې وي: «د افغانستان په پېښو کې د بنسټپال اسلام او دیني مشرانو اغېز.» اورلوف په پاملرنې وپوښتل: «په دې اړه پوره مالومات لرو؟» ختییف ځواب ورکړ: «زما په اند، د دې پر ځای چې موږ یوازې پر خپلو عملیاتي مامورینو ډډه ولګوو، موږ کولای شو له پرانیستو سرچینو څخه هم د خپلو شننو لپاره کار واخلو او بل دا چې ولېري به هم په دې کې اعتراض ونه لري چې له هغو ارشیف شوو توکو څخه ګټه واخلو چې نوموړي د خپل تېزېس لپاره راغونډ کړي وو.»

څو ورځې وروسته مروزوف په خپل دفتر کې ناست و او هغه لاسوندی یې لوسته چې ختییف ورکړی و. د لاسوندي سرلیک داسې و: «د افغانستان په پېښو کې د بنسټپال اسلام او دیني مشرانو اغېز.» ختییف پخپله د مروزوف د مېز څنګ ته ناست و، پرله پسې ارزان بیه سګرېټ یې څکول او دې ته تم و چې د ده د راپور په هکله د مېشت مرستیال مشر په اند پوه شي.

مروزوف په اوچت غږ لوستل پیل کړل: «لکه څنګه چې په هرات کې وروستي پاڅون وښوده، د نوي رژیم دوښمنان نیت لري چې په خپل پروپاګند کې داسې شعارونه وکاروي چې د ملحدانو او هغه کمونست

پلوه څواکونو پرضد له اسلام څخه دفاع څرګنده کړي چې اوس يې واک ترلاسه کړی. د انقلاب ضد څواکونه نيت لري چې په خپلو جوړښتونو کې د ديني عالمانو ملاتړ خپل او پراخه کړي (لکه څنګه چې په ايران کې وشول) .
ورپسې مروزوف، ختييف ته داسې سپارښتنه وکړه: «دغه ځای بايد لږ سم کړې او بل دا چې يو پراګراف دې ته ځانګړی کړه چې په ايران کې ايت الله خميني څرنګه له خپل مذهبي موقف څخه ګټه پورته کړه چې اسلامي انقلاب ته پرمختګ ورکړي.»
ختييف د هوکړې سر ورته وخوځاوه. مروزوف بيا په لوستلو پيل وکړ: «اسلام داسې دين دی چې خلکو ته له زوکړې سره سم ورښودل کېږي او د افغان ولس لويه برخه په تيره بيا بزګران يې په پټو سترګو پر ځان پلی کوي. دغه دين د يوې نړيوالې اسلامي ورورولۍ د نظريې پر بنسټ خلک روزي. د داسې يو اصل منل چې د هر څه برخليک مخکې تر مخکې ټاکل شوی په يوه ايډيالوژي بدلېږي او د خلکو په اند کې ټولنيز اړيچونه (تناقضات) له منځه وړي. دغه دين په دوامداره توګه افغانانو ته د نورو دينونو د پلويانو او په تيره بيا د بې دينو په پرتله د يو ښه مسلمان لوړوالی او لويوالی ښيي. په مسلمانو ټولنو کې د انصاف او عدالت نظريې خپروي او د داسې غيرمذهبي حکومتونو اصول ګناه بولي لکه په اروپا کې چې دي .
د وګړو د پوهې او کلتور ټيټه کچه (له ۹۰ سلنې څخه ډېر افغانان نالوستي دي)، د کليوالو او د ټولنې د پوه پوړ ترمنځ لږ اړيکې او د افغان دولت له رامنځته کېدو راهيسې دغه حقيقت چې اسلام د افغان دولت رسمي دين دی (او بې دينه پروپاګند منع دی)، دغو ټولو د اسلام په منلو او د ديني عالمانو د نفوذ په ډېرښت کې مرسته کړې ده. د پېړيو په بهير کې اسلامي عقيده د افغانانو په ملي دودونو کې ګډه شوې او داسې چاپ يې جوړ کړی چې افغان ټولنې ته د نويو نظريو د ننوتلو اجازه په واک کې لري. له ۹۸ سلنې څخه ډېر افغانان مسلمانان دي. د افغان احصايې پر بنسټ، ۸۰ سلنه سني او ۱۸ سلنه شعيه دي. په هېواد کې شاوخوا ۲۵۰۰۰۰ ديني عالمان شته. د ديني عالمانو د ډلې يوه تر ټولو مهمه ځانګړتيا دا ده چې دوی ګڼ پوړيز دي. ديني عالمان د افغان ټولنې په هر پوړ کې شته او د همدغه ټولنيزو پوړونو استازولي کوي. ديني عالمان پر ملي بورژوازۍ د پام وړ اغېز لري. ډېر افغان سوداګر له همدغه مذهبي چاپېريال څخه راڅرګند شوي دي او يا دوی پخپله مذهبي سخت دريځي دي - د بېلګې په توګه، ډېر مخور سوداګر لکه حق مراد، قاري امان او داسې نور. ځينې ديني مشران چې خپلې لومړنۍ ګټې له ديني کړنو څخه ترلاسه کوي، خپله دغه پانګه په بېلابېلو سوداګريزو چارو کې په کار اچوي او په دې توګه له افغان او بهرنيو بورژوازيو سره اړيکې پيدا کوي.
هغوی چې د رسمي روحاني مشرانو په نوم له دولت سره کار کوي (د وزيرانو په شورا کې د مذهبي چارو رياست، هغه ديني مشران چې د عدليې، اطلاعاتو او کلتور په وزارتونو کې او د کابل پوهنتون د شرعياتو
www.samsoor.com

په پوهنځي کې کار کوي) له دولتي بیروکراتانو سره اړیکې لري. کېدای شي د نورو دیني عالمانو په پرتله، دغه ډله له حکومت سره د همکارۍ ډېره گروهنه ولري، خو دا باید په پام کې ونیول شي چې دوی به له خلقیانو سره په همکارۍ کې هم مهاله د هغه مخورو دیني عالمانو په گټه کار کوي چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت دوښمنان دي.
دیني مشران په پوځ او پولیسو کې کار کوي. د پښتني قبیلو مشران او د کلیو ملکان له دیني عالمانو سره نېږدې اړیکې لري او یا دوی پخپله د دغې ډلې غړي دي او ورستی ټکی دا چې د ټیټې کچې دیني مشران لکه د کلیو ملایان په خلکو کې ډېر نفوذ لري. دغه ملایان په جوماتونو کې د ورځنیو لمونځونو او د جمعې د لمونځ امامت کوي. کله چې یو ماشوم وزېږي، ملا ورته راشي او چې غټېږي، ملا ورسره شته وي. ملا یې د سنتۍ مراسم ترسره کوي او په مدرسه کې دغه تنکي ځوان ته روزنه ورکوي، په واده کې یې نکاح تړي، کله چې یو افغان بزگر ناروغه شي، همدغه ملا یې درملنه کوي او د طبیب دنده ترسره کوي. د معمول په توگه، په ټول کلي کې یوازې ملا لوستی وي. ډېری افغانان اړ دي چې د یو لیک یا لاسوندي د لیکلو یا لوستلو او یا حکومت ته د یوې سرټکونې (شکایت) د لیکلو لپاره ملا ته ورشي. د یوې محاکمې د ترسره کولو او یا د یو قاضي په توگه د دندې ترسره کولو لپاره له ملا څخه کار اخیستنه ترټولو اسانه لاره ده.
د افغانستان په ټولو سیمو کې دا یو اصل دی چې د ښارگوټو مشران په وار ملایان خپلو کورونو ته د ډوډۍ لپاره بیایي ( لکه په روسي کلیو کې چې پاده وان بیایي). دا له ملایانو سره مرسته کوي چې د خپل امامت د سیمې د خلکو پر شخصي ژوند پوه شي او له دیني اړخ څخه د دوی پوره ملاتړ ترلاسه کړي.
له بده مرغه، د ا خ د گ فعالان یا د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د څارگرې اداري مامورین چې غواړي د ملایانو پر پروپاگند کنترول ولري دغه حقیقت تل په پام کې نه نیسي .ډېری وخت د گوند فعالان یا د اگسا مامورین یو جومات ته ځي چې د یو ځانگړي ملا وعظ ته غوږ ونیسي څو د دولت ضد پروپاگند بربنډ کړي. داسې کړنې هېڅ کله کومه پایله نه رامنځته کوي ځکه ملا د ډېرو خلکو په شتون کې د دولت پر ضد پروپاگند نه کوي. دوی دغه کار په ډېره بریا له خپل مقتدي سره د شخصي اړیکو په وسیله ترسره کوي، په تیره بیا هغه وخت چې کور ته یې د ډوډۍ لپاره ورځي.
د دیني مشرانو په جوړښت کې د مراتبو سلسله شته که څه هم د مسیحي مشرانو د جوړښت په پرتله دومره ټینگه نه ده. دغه د مراتبو سلسله په ټولنیز موقف دومره نه ده تړلې لکه د یو دیني عالم پر برم او ادرم چې ولاړه ده. د دوی برم او ادرم د دوی پر نسب (د کورنۍ نسبي تاریخ، د پیغمبر او لویو روحاني کورنیو ته د دوی د نیکونو نېږدېوالی)، لوړو دیني زده کړو او د کرکټر په ښه والي پورې اړه لري؛ نو له دې کبله هغه رسمي دیني عالمان چې د وزیرانو شورا د مذهبي چارو په ریاست او په نورو حکومتي ادارو کې له لویو څوکیو څخه خوند اخلي د تقلید مرجع نه گڼل کېږي یا په داسې خلکو کې نه شمېرل کېږي چې د یو

ماډل په توګه تقليد ورځخه وشي. دغه ټکي ته بايد د ګوند سلاکاران ځانګړی پام وکړي په تيره بيا هغه خلک چې د افغانستان دموکراتيک جمهوريت مشرانو ته وړانديزونه جوړوي ځکه د دوی ډېری په دې غلط باور دي چې د مسلمانو ديني عالمانو برم او ادرم يا په ټولنه کې د دوی موقف په حکومت کې د دوی پر څوکيو اړه لري.
د لرغوني صوفي طريقت مشران د سني ديني عالمانو په منځ کې لوړ موقف لري. د يو سپيڅلي بزرګ د ګرانښت کچه د خپلو پلويانو په منځ کې ساری نه لري. د ده پلويان د نوموړي هرې خبرې ته د خدای د کلام په سترګه ګوري. هر هغه امر چې دی کوي بايد خامخا ترسره شي حتی که چا ته د خپل ژوند د قربانولو امر هم وشي.
نقشبنديه صوفي مشر، صبغت الله مجددي يو تر ټولو ډېر د نفوذ څښتن حضرت دی. نوموړی د منځنۍ او ټيټې کچې په ديني عالمانو کې لږترلږه څلورزره مريدان لري. سيداحمد ګيلاني، د قادريه صوفي طريقي مشر لږترلږه پنځه زره پلويان لري چې په دوی کې د ننګرهار او کنړ يو شمېر پښتانه مشران هم شته چې دوی په خپل وار په سلګونو زره وفادار پلويان لري. د رژيم يو تر ټولو  نه پخلاکېدونکی دوښمن، مياګل تګابي په لغمان ولايت کې تر ۱۵۰۰ کسانو پورې پلويان لري. د انقلاب ضد هسته چې د افغانستان په دموکراتيک جمهوريت کې فعاله ده له همدغو پلويانو څخه جوړه ده .دوی په بې ساري کچه د خپلو روحاني مشرانو پلويان دي. له دغسې چاپېريال څخه په ډېره اسانۍ داسې ترهګر ګمارل کېدای شي چې د نوي رژيم او شوروي اتباعو پر ضد ترهګرې کړنې سمبالې کړي او حتی خپل ژوند قرباني کړي . افغان شعيه ټولنه چې درې څلور ميليونه خلک لري د صوفي حضرتانو په پرتله يو او بل ته لا ډېر نږدې دي. دغه ټولنه ډېری له هزارګانو څخه جوړه ده. دوی په پېړيو په افغانستان کې ترټولو ډېره ځپل شوې ډله ده. لکه څنګه چې دوی د توکميز او مذهبي تعصب تر فشار لاندې وو، د پېړيو په ترڅ کې يې يوه ځانګړې ټولنيزه ډله جوړه کړې ده. په افغانستان کې هزاره شعيه ټولنې په خپل نني جوړښت کې د خميني تيورۍ اصول په دغه شعار پلي کړل: «د توان پر بنسټ له هر غړي څخه د سپځلتيا پر بنسټ هر غړي ته.» په افغانستان کې د شعيه اسماعليه ډله چې د کياني کورنۍ يو روحاني يې مشري کوي تر ټولو ناڅرګنده او مرموزه ډله ده.»
اورلوف مروزوف په سوچ کې له ځان سره وپسېد: «ښه نو، زموږ هوښيار سلاکاران هڅه کوي چې په داسې هېواد کې سوسياليزم پلی کړي.»
مروزوف لوستلو ته دوام ورکړ: «يوه ورځ له خپلو همکارانو سره په خبرو کې يو مذهبي چارواکي موږ ته او زموږ په وسيله د نوي رژيم مشرانو ته خبرداری ورکړ چې لنډپاري او بې پامه کړنې ترسره نه کړي. نوموړي وويل چې په دغه هېواد کې يو سړی هر څه کولی شي، خو يوازې درې کاره نه شي کولی: د ايمان، پت

او شخصي شتمنۍ ننګونه،خو د تره کي حکومت پر هر هغه ټکي تېرى وکړ چې دغه مذهبي چارواکي يې په اړه خبرداري ورکړی و.

د نوي حکومت شپږم فرمان هغه پور لغو کړ چې بزګرانو له پوروركونكو او د ځمکو له خاوندانو څخه اخیستی و؛ نو په دې توګه يې هغه کليوالي وټه ييزې اړيكې سختې زيانمنې کړې چې په پېړيو يې وده کړې وه. دغه فرمان د ځينو پښتنو قبيلو مخه ونيوه چې له بزګرانو څخه يې د حاصل يوه برخه د باج په څېر واخلي .د ځمکې د اصلاحاتو په اړه اتم فرمان په کليو او قبيلوي سيمو کې وضعيت بې ثباته کړ .دغه فرمانونه داسې پارونې وې چې د حکومت د هغه کړونو د خامخا ناكامۍ وجې شوې چې نوې انقلابي ادارې اعلان کړې وې. د دې تر څنګه، نويو فرمانونو د بزګرانو په پرتله پوروركونكو او د ځمکو خاوندانو ته ډېره ګټه ورسوله. بزګرانو اوس د پور اخيستنه له لاسه ورکړه، هغه مرستې او د ځمکو مزدوري اوس نشي ترلاسه کولی چې پوروركونكو او د ځمکو خاوندانو ورسره کولې.»

اورلوف مروزوف وويل: «دلته د ليکنې بڼه سمه کړه.» بيا يې د پاڼې په ژۍ که دغه يادښت وليکلو او لوستلو ته يې دوام ورکړ: «دا هم طبيعي ده چې د افغانستان په کليو کې اوسنيو حالاتو د ديني عالمانو ګټې زيانمنې کړې دي. ملايان چې د نوې ادارې په هکله خوښ نه دي، د خلکو په منځ کې د دولت ضد ننګېرنې اغېزمنې کوي. تېر پسرلي په پامير او ځينو پښتني قبيلو کې د حکومت پر ضد کړنې ډېرې شوې. د خلقيانو ځواب اکاره ځپنه او د هوايي بمبارۍ په ګډون پوځي عمليات وو. دوی داسې بمبارۍ وکړې چې په نيم ټن بمونو يې بشپړ کلي وران کړل .په عين وخت کې د هغو کړنو پلي کېدل پيل شول چې ګيلاني «د افغانان پت ننګوي» ونومولې. د اووم فرمان پر بنسټ، د ګوند فعالان له کابل څخه ولايتونو ته ولېږل شول چې په کليو کې ښځې زده کړو ته اړ باسي. دوی له ښځو غوښتل چې اسلامي دوديزه حجاب پر تن نه کړي. مسلمانو ښځو دغسې غوښتنې نه منلې او د دوی مېړونو، وروڼو او پلرونو له دوی څخه ټينګ ملاتړ کاوه.

پښتني قبيلې د دوديزو جرګو له جوړولو څخه منع شوې. د جرګې جوړونې ځينې هڅې پر وژنو او بمبارېو شنډې شوې. عبدالله، د امين مشر ورور چې د واک لېونی دی د شمالي ولايتونو د امنيت چارې ورکړل شوې دي. نوموړي کندز ته څېرمه د ښار د اوسېدونکو پر وړاندې امر وکړ چې يو شمېر هزاره ګان په ډنډ کې ډوب کړي .دغه هزاره ګان يوازې له دې کبله ووژل شول چې عبدالله امين له دوی څخه ملتپاله کرکه لرله. (د يادونې وړ ده چې د مسلمانانو د دودونو پر بنسټ په ډوبولو او زندۍ کولو د خلکو او څارويو وژنه تر ټولو لويه ګناه ګڼل کېږي ځکه چې په داسې وژنه کې وينه نه تويېږي او مسلمانان په دې باور دي چې روح په وينه کې ده.) داسې پېښې هم شته چې د ګوند فعالانو، د اګسا مامورينو او د پوځ افسرانو په کابل او نورو ولايتونو کې پر ښځو جنسي تېري کړي دي. ټولو دغسې پېښو د مسلمانانو کرکه وپاروله. له دې څخه ديني عالمان په خپل پروپاګند کې د انسانيت او اسلاميت ضد قانع کوونکو شواهدو په توګه کار

اخلي .

په یوه هڅه کې چې د دیني مشرانو له لوري د حکومت پر ضد کړنې ودروي، د ۱۹۷۸ - ۱۹۷۹ کال په ژمي کې د تره کي - امین حکومت د نومورو افغان دیني مشرانو پر ضد بې رحمه کمپاین پیل کړ. د مجددي د کورنۍ ګڼ شمېر خلک یې ووژل ( شاوخوا ۷۰ کسه)، خو په دې وخت کې کله چې د دغه کورنۍ د دویم پوړ د خلکو پر وژنه یې پیل وکړ، د دغه کورنۍ مشر د کوپنهاګن په یو جومات کې مسلمانانو ته وعظ کاوه. ایا دا د خلقیانو یوه تېروتنه وه یا په لوی لاس داسې کړنه وه چې په افغانستان کې حالات ګډوډ کړي.

د هزاره ګانو مشر سرور واعظ، د ده خپلوان او نور شعیه مشران ونیول او ووژل شول. په دغه وخت کې د واعظ زوی، واعظ زاده د ایران په مشهد کې د ایراني ایت الله شریعت مداري تر مشرۍ لاندې دیني زده کړې کولې. نوموړی وروسته د هرات په پاڅون کې د یو اصلي مشر په توګه راڅرګند شو.

د حکومت له لوري د دیني عالمانو ځینې د هېواد د ننه د حکومت او مذهبي کړیو تر منځ ټکر رامنځته کړ. هغه دیني مشرانو چې له هېواد څخه وتښتېدل، په تېره بیا هغوی چې د دغو ځینو له کبله یې د خپلې کورنۍ غړي له لاسه ورکړي وو د انقلاب ضد هڅې پیل کړې او د هغو مهاجرو لویه برخه یې په حکومت ضد کړنو کې ښکېله کړه چې د خلقیانو له ظلم څخه ځورېدلي وو. په عین وخت کې هغه دیني عالمان چې په افغانستان کې پاتې دي له خپلو پراخو اړیکو څخه کار اخلي چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د ننه د حکومت پر ضد کړنې ترسره کړي.

په ۱۹۷۹ کال صبغت الله مجددي له کوپنهاګن څخه پېښور ته لاړ او د همدغه کال د فبرورۍ په اوومه یې د نوي افغان رژیم پر ضد جهاد اعلان کړ. نورو لویو سني او شعیه مشرانو د جهاد ناري ملاتړ وکړ. د هغو مسلمانو کارکوونکو په ګډون چې د تره کي - امین د رژیم له ځینو څخه زیانمن شوي وو، په هېواد کې ټول لوی انقلاب ضد ځواکونه له دیني مشرانو سره یو ځای شول.

لکه څنګه چې د هرات پېښې وښوده، په دغسې پاڅونونو کې په ناڅاپه توګه مذهبي بنسټپالنه د وګړو په منځ کې

ډېرېږي. وروسته، د انقلاب ضد ځواکونو له لوري دغه بنسټپالنه پر حکومت او شوروي ضد کړنو بدلېږي . په دغو کړنو کې نه یوازې ښکاره اعتراضونه بلکې ورانکارۍ، خیانت او غولول هم وي. کېدای شي ځینې افغانان چې د کړکېچ تر پیل پورې له انقلابي رژیم او شوروي وګړو سره خواخوږي وو، د مذهبي ناروغۍ تر اغېز لاندې راشي او داسې کړنې ترسره کړي چې مخکې یې د دوی استازولي نه کوله.

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، مسلمان دیني مشران یو له ډېرو داسې مهمو ځواکونو څخه دي چې په نوي افغانستان کې د حالاتو لوری ټاکي؛ نو په دې تړاو موږ دغه وړاندیزونه کوو:

www.samsoor.com

۱. شوروي کارپوهان او سلاکاران باید تل د افغان حکومت د کړنو پر وړاندې د دیني عالمانو بالقوه غبرګون په پام کې ونیسي.

۲. د کې جي بي استازې ځانګه باید له هر راز فرصت څخه کار واخلي چې د حکومت له لوري د دیني مشرانو د استازو ناموجه ځپنې ودروي.

۳. د ګواکي رسمي دیني مشرانو له استازو سره باید ډېر کار وشي او د افغانستان او نورو اسلامي هېوادونو له ډلیزو رسنیو څخه ګټه واخیستل شي چې د افغانستان د مسلمانانو په منځ کې د دغو رسمي دیني مشرانو برم او ادرم ډېر کړي .

۴. په نېږدې راتلونکې کې باید د شوروي مسلمانو دیني عالمانو د یون چارې بشپړې شي چې له افغانستان څخه لیدنه وکړي. دوی باید له افغان دیني مشرانو سره لیدنې کتنې وکړي او په جوماتونو کې وعظ وکړي .

۵. د کې جي بي د اړیکوالو په وسیله له سید احمد ګیلاني سره باید محرمو اړیکو ته په دې موخه دوام ورکړل شي چې نوموړی افغانستان ته د بېرته راتګ لپاره وهڅول شي او د افغانستان دموکراتیک جمهوریت له نوي رژیم سره د همکارۍ اړیکې جوړې کړي.»

اورلوف مروزوف چې لوستل بشپړ کړل، ختییف ته یې داسې سپارښتنه وکړه: «هو، ولودیا، دغه لاسوندی ډېر په زړه پورې دی، خو په ځینو برخو کې باید د متن بڼه او منطق نور هم ښه کړې. کېدای شي کومې سپارښتنې چې په دې لاسوندي کې شوې دي په بېل تېلګراف کې ولېږل شي. هغه چاته چې دغه لاسوندی لولي اړینه نه ده چې له ګېلاني سره زموږ په چلندلاره پوه شي.»

ختییف پاڼې د مېز له سر څخه واخیستې او ویې ویل: «سمه ده، الکساندر وېکتورویچ. زه پوه شوم.»

مسکو په ډېرېدونکې توګه هغه بړبوکۍ ته ورکش کېده چې د غويي انقلاب رامنځته کړې وه. ښکېلتیا دومره مخته تللې وه چې وتل ترې ناشوني وو. سیاستوال، پوځي او څارګر افسران، دیپلوماتان، وتپوهان، د بېلابېلو ملکي اېجنسیو استازي او په سلګونو سازمانونه په دغه بهیر کې ښکېل وو. شوروي اتحاد، چېرته چې هر څه په کسر کې وو، افغانستان ته په سخاوت خواړه، تېل، مهمات، پوځي وسیلې، منرالي سره، د کرنې ماشینونه، ګاډي او ښونیز توکي لېږل. په سلګونو کارپوهانو ته یې تنخواه ورکوله چې په افغانستان کې دنده ترسره کړي. داسې اونۍ نه وه چې د سیاسي بېرو یا د مرکزي

کمېټې د منشیانو په غونډو کې د افغانستان چارې تر بحث لاندې نه نیول کېدې.

د اپریل په لومړۍ نېټه، د هرات د پاڅون له ځپل کېدو څخه لس ورځې وروسته، گرومیکو، اندروپوف، اوستینوف او پنومروف، هغه څلورکسیزه ډلگۍ چې په افغانستان کې د شوروي چارو مسوولیت ورپه غاړه و، خپله شننه مرکزي کمېټې ته وسپاره. دغه یوولس مخیز لاسوندی (سند) په دې موخه جوړ شوی و چې د اوسنیو پېښو په اړوند پوهه رامنځته شي او په نېږدې راتلونکي کې د کړنو لپاره یو پروگرام جوړ شي. په هغه وخت کې د یو نالیکل شوي اصل پر بنسټ، دغه لاسوندی پر یوه اېډیالوژیکي سریزه پیل شوی و: «د ټولنیز پوړونو په پرځنگ (مبارزه) کې د ا خ د گ، چې د کارگر پوړ د گټو استازولي کوي، یوې خواته دی، خو بلې خوا ته هغه ځواکونه دي چې د فیوډالانو، ځمکو خاوندانو، بورژوایانو او د دیني مشرانو د تر ټولې ارتجاعي برخې د گټو استازولي کوي.» له دغې سریزې وروسته د هغو دلیلونو یو نوملړ و چې ولې وضعیت په دومره چټکۍ خراب شو. د بېلگې په توگه، د توکمونو او قومونو په منځ کې پېچلي اړیپچونه، مذهبي سخت دریځي، سخت دریځه ملتپالنه، وټه پیزې ستونزې او د ټولو انقلاب ضد ځواکونو مظبوطېدنه. د دغه لاسوندي جوړونکو منلې وه چې د پراخ ټولنیز او وټه پیز بدلون پروگرام د پلي کېدو په ډېر لومړني پړاو کې دی او ډېری وگړو تر اوسه د نوي نظم گټې نه دي لیدلې نو ځکه د دې پروگرام اصلاح غوښتونکي ځرنگتیا نه خوښوي.
لکه څنگه چې دغه لاسوندی اشد محرم و او ډېرو لږو کسانو ته ورکول کېده، د سیاسي بېرو غړو چې دغه لاسوندی جوړ او لاسلیک کړی و د افغان اداري نیمگړتیاوې نه وې پټې کړې، د بېلگې په توگه، دوی یادونه کړې وه چې دغه اداره په هېواد کې ملاتړ نه لري او نه غواړي چې له دیني مشرانو او مخالفو قومي مشرانو سره خبرو اترو ته کښېني، خو دوی دا هم لیکلي وو چې که څه هم د ا خ د گ تر اوسه پر یو پراخه سیاسي گوند نه دی بدل شوی، خو ریښتیني کارگران او ترټولو بېوزله بزگران کرار کرار د گوند غړي کېږي. په لاسوندي کې زیاته شوې وه چې گوند نه یوازې کوچنۍ پاتې شوی بلکې د خلق او پرچم تر منځ د واک شخړو کمزوری کړی هم دی. ډېر نومور پرچمیان ووژل شول، له گوندي چارو لیرې او له پوځي او دولتي دندو څخه وشړل شول. ډېری یې د سیاسي مهاجرینو په توگه بهر ته وتښتېدل.
دغه لاسوندي د ځینو او له واک څخه د غلطې کار اخیستنې پر موضوع ډېر ټینگار کړی و: «ډېری قوماندانانو چې خپل همکاران لیدل چې نیول او تري تم کېږي، وېره درلوده چې دوی به هم ونیول شي او خپل باور یې بایلود .د هرات پېښې د دې پخلی وکړ چېرته چې نه یوازې عادي وگړو پاڅون وکړ بلکې د ځینو قوماندانانو په نوښت ځینې پوځي ډلې هم مخالفینو ته واوښتې.»
د دغه لاسوندي جوړونکو ناهیلي ښودلې وه چې په وار وار یې افغان مشرانو ته له واک څخه د غلطې کار اخیستنې، د دوی د تېروتنو او زیاتې شواهد وړاندې کړل، خو دوی له ځان څخه کاري تجربه او پوره نرمښت ونښود چې زموږ سپارښتنو ته پام واړوي.
www.samsoor.com

په دې پسې د لاسوندي تر ټولو مهمه برخه راغلې وه چې د شوروي پوځي مداخلې په اړه د افغان مشرانو غوښتنه وه: «زموږ هغه پرېکړه چې هرات ته خپلې پوځي ډلې ونه لېږو بيخي سمه وه. که په افغانستان کې دې ته ورته نوې پېښې رامنځته شوې چې د پېښېدو له شونتيا څخه يې په نېږدې راتلونکې کې انکار نشي کېدای، بايد همدې ته ورته چلند وشي.»

د افغانستان په کورني وضعيت کې د ثبات راوستلو لپاره لاندې وړانديزونه شوي وو:

۱. د افغان پوځ د پوځي وړتيا اوچتول، د امنيتي ادارو د اغېزمنتيا ډېرول او د وسلو او پوځي وسيلو د مرستو ډېرول .

۲. افغانستان ته د وچه ييزو مرستو، په تېره بيا د هغو مرستو موضوع بايد ژرترژره حل شي چې د افغان انقلابي دموکراتيک رژيم دريځ غښتلی کولای شي.

۳. د انقلابي رژيم سياسي بنسټ بايد پراخه شي :افغان مشران بايد وهڅول شي چې د پلان شوي ټولنيز او وچه ييز بدلون د پلي کولو ارزښت په پام کې ونيسي. دوی بايد په ډېر پام کار وکړي پرته له دې چې له واک څخه غلط کار واخلي او يا بيړنۍ پرېکړې وکړي... بزگران بايد پوه کړل شي چې دوی يوازې او يوازې د غوبي انقلاب له برکت څخه ځمکې ترلاسه کړې او که دوی له انقلابي واک څخه دفاع و نه کړي، ورکړل شوې ځمکې به له لاسه ورکړي.

۴. د گوند د مشرانو او عادي غړو تر منځ بايد يووالی غښتلی شي او د گوند د غړو شمېر بايد ډېر شي.

۵. له ديني عالمانو سره بايد په دې موخه کار وشي چې په وگړو کې د اسلامي ارتجاعي مشرانو نفوذ لږ شي او د دوی تر منځ بېلتون رامنځته شي.

٦. د داسې يو قانوني نظم ساتل اړين دي چې د انقلابي قانون پر اډانې ولاړ وي او په جزا کې بايد داسې لاره غوره شي چې انډول پکې وي.

۷. د نورو هېوادونو له خوا د افغانستان په کورنيو چارو کې د لاسوهنې پرضد بايد گامونه واخيستل شي.

د سياسي بېرو د اپرېل د دوولسمې په غونډه کې پر دغه لاسوندي خبرې وشوې او منځپانگه يې په پام کې ونيول شوه، خو افغان مشرانو له سليم عقل څخه کار وانه خيست او له کرېملېن څخه يې خپلو هغو غوښتنو ته دوام ورکړ چې د مخالفينو پر ضد بايد شوروي پوځي ځواکونه ښکېل شي. د اپرېل په پيل کې، د شوروي اتحاد د وسلوال پوځ له سياسي ريس، جنرال ايپيشيف Epishev سره په غونډه کې امين دغه غوښتنه بيا وکړه، خو د غونډې په بهير کې دا يوازينۍ شېبه نه وه چې ايپيشيف يې هک پک کړ. کله چې بېرته شوروي ته لاړ، دغه جنرال د کمونست گوند مرکزي کمېټې ته راپور ورکړ چې «زموږ د محرمې غونډې په ترڅ کې د امين يوازې دغه غوښتنې زه اندېښمن نه کړم چې د شوروي له پوځي کارپوهانو څخه مرسته ترلاسه کړي بلکې د امين د خبرو پر بنسټ، د افغانستان دموکراتيک جمهوريت مشران په پاکستان کې

ملګري لري چې د پاکستان دولتي سیستم زیانمن کړي. امین هیله څرګنده کړه چې شوروي سلاکارانو ته هم همدغسې دستور ورکړل شي. په ځواب کې امین ته وویل شول چې شوروي پوځي سلاکارانو ته دغسې دستور نشي ورکول کېدای .داسې برېښي چې سمندر ته نه لاس رسي افغان مشران په سوچ کې اچولي.»

افغانستان ته د خپل یون په بهیر کې جنرال ایپیشیف حیران پاتې و. تر اوسه له هغې غونډې څخه لا یوه میاشت تېره شوې نه وه چې په افغان چارو کې د شوروي د ښکېلتیا په اړه برېژنېف په تفصیل تره کې ته خبرې کړې وې، خو افغان مشرانو خپلې زړې ببولالې بللې.

د اپرېل په څوارلسم امین له ګوریلوف څخه وغوښتل چې د ده غوښتنه د شوروي مشرانو ته ورسوي او هغه دا چې شوروي اتحاد له پنځلسو څخه تر شلو چورلکو پورې د عملې په ګډون افغانستان ته ورولېږي. په دې اړه ګوریلوف ته دستور ورکړل شو چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت له لومړي وزیر سره وګوري او داسې ورته ووایئ: «افغان مشرتابه ته مخکې هم ویل شوي چې د انقلاب ضد کړنو پر وړاندې د شوروي پوځي ډلو نېغه ښکېلتیا نابنده ده ځکه چې دا به د انقلاب ضد دوښمنانو او بهرنیو دوښمنو ځواکونو ته فرصت ورکړي چې افغانستان ته د شوروي د مرستې د بنې په هکله درواغ ووایي او د افغان دولت او شوروي اتحاد پر ضد به د وګړو په منځ کې پروپاګند وکړي. پر دې باندې ټینګار وکړه چې سږ کال د مارچ او اپرېل د میاشتو په بهیر کې پنځه ویشت پوځي چورلکې افغانستان ته ورکړل شوې او امین په دې قانع کړه چې افغان عمله د دې توان لري چې ... د انقلاب ضد کړنې وځپي.»

خو په هر حالت کې امین په نوي ناټ خپلو غوښتنو ته دوام ورکړ. بلاخره د ده په ځواب کې د یو جوړجاړي وړاندیز وشو او هغه دا چې لکه په کیوبا کې، په افغانستان کې به یو لوی پوځي روزنتون جوړ شي. په جوړجاړي کې اصلي ټکی دا و چې د کیوبا پوځي روزنتون د شوروي اتحاد د هغه خوځنده پلي ټوپکوال غونډ شاوخوا جوړ شوی و چې په دغه ټاپو کې ځای پر ځای و. سفیر پوزانوف، پوځي ستر سلاکار، ګوریلوف او د کې جي بي استازي ایوانوف یو ټېلګراف لاسلیک او مسکو ته ولېږه. په ټېلګراف کې لیکل شوي وو چې د دغسې روزنتون جوړولو د شونتیا ارزونې کوي.

سړی باید دا ومني چې د ۱۸۷۹ کال په پسرلي او دوبي کې د افغان مشرانو داندېښنو جدي وجې شته وې. سره له دې چې د پوځ، پولیس او څارګرې اداري د غښتلتیا لپاره ډېر ګامونه واخیستل شول او پراخه وټه ییزې مرستې وشوې، په افغانستان کې وضعیت ښه نه بلکې لا ډېر بد شو. د ګوند ستر سلاکار، واسیلوف Veselov چې د «ټولنیز پوړ چلندلاره» یې له پامه نه وه غورځولې مرکزي کمېټې ته راپور ورکړ چې «د انقلاب ضد بنسټ پر فیوډالانو،د ځمکې پر مخورو خاوندانو، پورورکونکو، ارتجاعي دیني مشرانو، مائوستانو، او نورو هغو ډلو ولاړ دی چې د ملي ازادۍ په جبهه کې راغونډ شوي او امریکا، سعودي عرب

او چین یې تمویل او ملاتړ کوي.» دغه ایډیالوژیکي کلیشې «فیوډالان، ارتجاعي دیني مشران او مائوستان» په راتلونکو ډېرو کلونو کې په هغه لاسوندو کې په پراخه کچه کارول شوې وې چې د مخالفو ځواکونو بریا یې څرګندوله.

مرکزي کمېټې ته په خپل یادښت لیک کې واسیلوف لیکلي وو چې د ا خ د ګ «سره له دې چې مشران یې برعکس خبرې کوي، یو داسې کوچنی ګوند پاتې شوی چې د افغان ټولنې لړ استازولي کولای شي. اوسمهال د دغه ګوند د غړو شمېر له پنځلسو زرو څخه ډېر نه دی.» واسیلوف وړاندیز وکړ چې ژرترژره د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د وسلوال پوځ شمېر دوه سوه زرو ته اوچت شي.

د شوروي اتحاد د کورنیو چارو وزارت د پېژنتون مشر جنرال درودفسکي Drozdetskii چې په دې ورستیو کې له یو لنډ یون څخه وروسته له افغانستان څخه راغلی و، د افغانستان د کورني وضعیت په هکله یې انځور لا ډېر پیکه و: «شوکماران کابو په هر ولایت کې راڅرګندېږي. د کابل په ګډون په لسو ولایتونو کې دوی ډېره برخه تر خپل واک لاندې راوستلې ده. دوی شاوخوا له پنځوسو ښارونو او د اوسېدو له سیمو چاپېر شوي دي. د شوکمارانو ځینې ډلې تر لسو زرو پورې خلک لري. دوی د سپکو توپچي وسلو په ګډون لکه ۸۲ ملي متره هاوانونه، په داسې وسلو سمبال دي چې په شوروي اتحاد کې جوړې شوې دي. د افغان پوځ مشران د ځینو غدیو مشري کوي. له هرو دریو لویو لارو څخه چې پلازمېنه له پاتې هېواد سره نښلوي، دوه یې د مخالفینو تر کنترول لاندې دي. ځینې ولایتونه په بشپړه توګه د دوی تر واک لاندې دي. په افغانستان کې حالات بې کچې خراب دي او د نورو پېچلتیاو تمه هم کېږي.»

د مې په میاشت کې د شوروي اتحاد له دولت جوړونې کمېسیون Gosplan او د بهرنۍ سوادګرۍ له وزارت څخه غوښتنه وشوه چې ژرترژره ۱۵۰۰ ګاډي افغانستان ته ولېږي. دغه پرېکړه په دې موخه وشوه چې «نړیواله مرسته» پراخه کړل شي او د ۱۵۰ توپچي وسلو او هاوانونو، ۹۰ زغروالو ګاډو، ۴۸۰۰۰ سپکو وسلو او ټوپکو، شاوخوا ۱۰۰۰ راکټونو، ٦۸۰ هوایي بمونو، ۱۰۰ د اور اچونې وسیلو او ۱٦۰ د بمونو صندوقونو په ګډون، افغانستان ته د ۵۳ میلیونو روبلو په ارزښت د ځانګړو پوځي توکو مرسته ورکړل شي. افغانانو د کیمیاوي وسلو غوښتنه هم وکړه، خو دغه غوښتنې ته د شوروي ځواب ګونګ و: «د داسې ګازي بمونو درلېږنه چې غیر زهري زهرجن توکي ولري شونې نه بریښي.»

مرکز پوزانوف ته دنده ورکړه چې له تره کي سره وګوري او ورته ووایي چې د ارتجاعي کړنو د ډېرښت په هکله له افغان مشرتابه سره په اندېښنو کې شریک دی، خو د چورلکو او ترانسپورټي الوتکو چې شوروي عمله ولري او په کابل کې د شوروي پراشوټي ځواکونو د ځای پرځای کونې په اړه باید وویل شي چې سږ کال د مارچ په میاشت کې مسکو ته د ملګري تره کي د یون په ترڅ کې له ده سره په دې هکله خبرې شوې دي.

د ۱۹۷۹ کال د مارچ او اپرېل په میاشت کې د شوروي مشرتابه پر خپل دریځ ټینګ ولاړ و چې افغانستان ته به خپلې پوځي ډلې نه لېږي. د مي میاشت راورسېده، د شوري اتحاد د وسلوال پوځ د بهرنۍ څارګرې اداري له درستیزوالۍ څخه لوړپوړي ماموران، وېسلي کولزنیک Vasily Kolesnik او اولېګ شوېتز Oleg Shvetz ازبک ښار چرچیک ته په یو پټ ماموریت لاړل. دوی ته امر شوی و چې یوه ۵۳۸ کسیزه بېله ډله جوړه کړي، د مسلمانانو یو داسې کنډک چې د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په پېښو کې يې مهمه ونډه ولوبوله. په هغه وخت کې نه ډګروال کولزنیک او نه هم جګړن حلبایوف Halbaiev چې د دغه مسلمان کنډک قوماندان ګمارل شوی و د دغه پروژې په موخه پوهېدل. په دې هکله د ترکستان په پوځي سیمو کې د اډې مشران او حتی د وسلوال پوځ د څارګرې مرکزي اداري جنرالان هم نه پوهېدل چې دغه کنډک ولې جوړ شو. یوازې وروسته په خپل وخت کې کله چې ځینو ته په دې هکله خبر ورکړل شو، دوی پوه شول چې دغه کنډک به په یو ګاونډ هېواد کې عملیات کوي. کابو ټول کنډک د شوروي اتحاد د منځنۍ اسیا د جمهوریتونو له ازبکانو، تاجکانو او ترکمنانو څخه جوړ و. دوی ته ځانګړې یونیفورم چې د افغان پوځیانو هغه ته په عملي توګه ورته و ورکړل شو. دغه کنډک په خپلو روزنو کې د داسې مهمو ستراتیژیکو ځایونو نیولو ته پام اړولی و لکه هوایي ډګر، د پوځي اډو مرکزي دفترونه او دولتي استوګنځایونه. د کنډک قوماندان، حلبایوف د لنډې مودې لپاره کابل ته ولېږل شو چې کشفي چارې ترسره کړي؛ نو داسې برېښي چې د دغه کال په پسرلي کې د مسکو اند په بدلون و چې له شوروي ځواکونو څخه په افغانستان کې کار واخیستل شي یا دا به د دفاع وزیر شخصي نوښت و چې د معمول په توګه يې د نومورې د داسې لرلید څرګندونه کوله: «یوازې د احتیاط لپاره.»

www.samsoor.com

۶

# ځلورواله غدۍ

له بوریس ایوانوف څخه وروسته چې مخکې یې هېڅ کله په ختیځې چارو کې دنده نه لرله، له مسکو څخه یو بل مامور کابل ته ولېږل شو. دغه نوي مامور د افغانستان په هکله او په نورو اړوندو چارو کې هېڅ تجربه نه لرله. واسیلي ستپانوویچ سفرانچوک Vasily Stepanovich Safronchuk د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو په وزارت کې د اروپايي چارو د دویمې څانګې مشر و او په خپله دنده کې ډېری د برتانیې په چارو کې ښکېل و، خو ګرومیکو نوموړی یوې غونډې ته ور وغوښت او ورته ویې ویل چې افغان حکومت د بهرنیو پالیسیو د یو داسې کارپوه غوښتنه کړې چې له نړیوالو سازمانونو سره اشنا وي او په انګرېزي ژبه پوه وي.

ګرومیکو: *ته مخکې کابل ته تللی یې، کنه؟*
سفرانچوک: *هو، دوه ځلې د لنډې مودې لپاره. لومړی ځل د داود په واکمنۍ کې او دویم ځل تېر کال. دواړه ځلې مې له خپلو افغان ملګرو سره ولیدل چې د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ د غونډو په هکله خبرې وکړم، خو که رینښتیا وواېم د دغې سیمې ستونزو ته مې هېڅ کله پام نه دی اړولی.*
ګرومیکو: *پروا نه لري، په دې کې څه عیب نشته. دا راته ووایه چې تېر کال دې له کوم افغان مشر سره لیدنه وکړه.*
سفرانچوک: *له ملګري امین سره، د بهرنیو چارو وزیر.*
ګرومیکو: *او په اړه یې څه نظر لرې؟*

سفرانچوک چې یو د تجربې څښتن دیپلومات و لږ ځنډ وکړ چې خپل ځواب سم وارزوي. بیا یې دغسې مناسب ځواب ورکړ: «په هغو چارو کې چې موږ یې په هکله خبرې وکړې، ملګری امین یو وړ او سېکمن سړی راته ښکاره شو.» وزیر په خوښۍ وویل: «ډېر ښه، ته زموږ په وړاندېز سوچ وکړه، خو موږ سبا ته ستا ځواب غواړو. افغان لوری ټینګار کوي چې ژرترژره یې غوښتنه پوره کړو. هو ریښتیا، تا ته به د دیپلوماتیکي سلاکار رتبه درکړل شي او په مهمو چارو کې به ما ته نېغ لاس رسی ولرې.»
وروسته سفرانچوک پوه شو چې ولې د بهرنیو چارو وزیر په ځانګړې توګه دی غوره کړ. کله چې کابل ته ورسېد، سفیر پوزانوف ورته وویل چې دا د حفیظ الله غوښتنه وه. کله چې دغه دیپلومات د ۱۹۷۸ کال د اګست په میاشت کې کابل ته تللی و، نوموړی د امین خوښ شوی و. امین د ده پوهې، چلند او په انګرېزي ژبه کې فصاحت اغېزمن کړی و. په امریکا کې له زده کړو وروسته امین هم په انګرېزی ژبه ښې خبرې کولې، خو په روسي ژبه هېڅ نه پوهېده.

افغانستان ته د تګ په تابيا کې واسيلي ستپانوويچ ته د هغه غونډې جزيات ور په ياد شول چې د افغانستان د بهرنيو چارو له وزير سره يې درلوده. په هغه وخت کې يې د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ د راتلونکې غونډې د چارو او همدا راز د شوروي اتحاد او د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د دريځ په هکله خبرې وکړې. په ډېرو موضوعګانو کې د دغو دوو هېوادونو دريځونه له يو او بل سره برابر وو، خو د سفرانچوک ځينو موضوعګانو ته پام شو چې په اړه يې د افغانستان دريځ د ناپيلي خوځښت دريځ ته نېږدې و. افغانستان هم د دغه خوځښت غړی و. سفرانچوک ته دا ډېره طبيعي ښکاره شوه، خو امين ورسره همغږی نه و. ده په اعتراض وويل: «زه دې ته د ناپيلي په سترګه نه ګورم. اوس افغانستان د سوسياليزم لارې ته ننوتلی او له سياسي اړخ څخه د ناپيلو هېوادونو په پرتله سوسياليستي هېوادونو ته نېږدې دی.» ورپسې امين خپل مرستيال، شاه محمد دوست، چې يو مسلکي ديپلومات و، وترټلو. د امين په اند شاه محمد دوست د افغانستان په بهرنۍ پاليسۍ کې دغه اصلي بدلونونه پوره په پام کې نه وو نيولي. دوست په نرم اعتراض وويل: «خو موږ د دغه خوځښت غړي پاتې کېږو ځکه زموږ انقلاب د ملي دموکراتيکو موخو اعلان کړی.»

امين په ښکاره د خپل مرستيال خبرو ته پام و نه کړ او د بې پروايۍ لاس يې وخوځاوه. بيا يې سفرانچوک ته وويل: «ده ته دومره پام مه کوه، ملګری سفرانچوک. زما مرستيال په دې وروستيو کې د ګوند غړی شوی، پوره مارکسيستي استقامت نه لري او نه د غويي انقلاب په مانا پوهېږي، خو موږ به سبق ورکړو.»

سفير پوزانوف په خپله ځنګل سفرانچوک په تشي کې وټونګلو او په غوږ کې يې ورته وويل چې د افغان بهرنيو چارو وزير پر وړاندې د اعتراض کومه خبر هېڅ راپورته نه کړي.

د ۱۹۷۹ کال د مي په وروستيو کې سفرانچوک د دريم ځل لپاره افغانستان ته لاړ، دا ځل د ديپلوماتيکو چارو د يو سلاکار او د شوروي د سياسي بېرو د غړي، ګروميکو شخصي استازي په توګه.

سفرانچوک يو ډېر پر ځان باور من او د ښې ونګې او ښه چلند څښتن و. نوموړي ډېر ژر په افغانستان کې نه يوازې له شورويانو بلکې له نورو سره هم ملګرتيا جوړه کړه. ده له پوزانوف سره، چې زوړخياله، بېخونده، منډخولی• او د شوروي کمونست ګوند د لوړپوړو چارواکو يوه ښه بېلګه و، ډېر توپير درلود. نوموړي حتی په ډېرو جدي غونډو کې د نويو او تازه ټوکو توان درلود. په هره مېلمستيا کې به له ده څخه ديپلومات، بيروکراتان او خبريالان چاپېر وو. دوی له داسې سړي سره د خبرو ډېر ناټ درلود چې له نورو شوروي مامورينو څخه يې ډېر توپير درلود.

امريکايانو چې د سفرانچوک څارنه وکړه بلې پايلې ته ورسېدل. دوی وانګېرله چې دغه ځانګړی سړی په دې موخه کابل ته لېږل شوی چې رژيم بدل کړي. دوی چې د ديپلوماتيکو چارو د سلاکار دوسيه وڅېړله

•منډخولی: هغه څوک چې ډېرې خبرې نه کوي

www.samsoor.com

(نوموړي په ملګرو ملتونو کې د شوري په ماموريت کې دنده ترسره کړې وه، داسې مامور به تل په پټه د کې جي بي ځارګر و) او ويې کتل چې دی د شوروي د لوړپوړو چاروکو له نااليکل شوو اصولو څخه سرغړونه کوي، امريکايان دې پايلې ته ورسېدل چې سفرانچوک ته خامخا لوی واک ورکړل شوی او د ده تر شا خامخا اندروپوف ولاړ دی. په زړه پورې خو دا وه چې په هغه وخت کی د اندروپوف اصلي استازي، ايوانوف ته د امريکايانو هېڅ پام نه و شوی.

په کابل کې د امريکا سفارت واشنګتن ته يو تېلګراف ولېږه چې کېدای شي سفرانچوک په کابل کې د رژيم بدلولو ډرامې «د پردې شاته مدير» شي. ډېره شونې ده چې په دغه ډرامه کې «د امين ګوښه کونه او يا له دې څخه هم ډېر ښه، د ده وژنه وي»

د يادونې وړ ده چې که څه هم په افغانستان کې امريکايي مامورين ډېر لږ شوي وو او د اګسا تر فشار لاندې هم وو، دوی د ۱۹۷۹ کال په دوبي کې د حالاتو په هکله په خپلو شننو کې ډېر دقيق وو. دوی په ځانګړې توګه د افغانستان په نېږدې راتلونکې کې د واک په جوړښت کې د چټک بدلون وړاندوينه وکړه. په يو تېلګراف کې ليکل شوي وو: «په افغانستان کې د خرابېدونکي وضعيت په هکله شورويان ډېر اندېښمن دي. دوی پوهېږي چې رژيم ډېر لږ ملاتړ لري او په هېواد کې د حالاتو کنټرول له لاسه ورکوي. امين، چې د حکومت ټول واک په لاس کې لري، غلطې ارزونې کوي. مسکو فکر کوي چې يو داسې نوي او غښتلي لومړي وزير ته اړتيا ده چې په اوسني سياست کې ښکېل نه وي. د سرچينو پر بنسټ، سفرانچوک ته دنده ورکړل شوې چې بل څوک د امين ځای ناستی کړي. سرچينه وايي چې «موږ اوسمهال د دغه حکومت د وروستي څپرکي د پای شاهدان يو او د اګست مياشت به ډېره توده وي. زه د هوا په هکله خبرې نه کوم.»»

د ځينو مالوماتو پر بنسټ چې پخلی يې نه دی شوی، دغه «نامالومه سرچينه» چې امريکايانو ته يې د سفرانچوک په هکله نکلونه کول په کابل کې د جرمني دموکراتيک جمهوريت سفير، هرمن شويزو Herman Schweisau و. داسې هم کېدای شي چې د ځارګرو تر منځ د پردې شاته پټې راکړې ورکړې شوي وي، خو په دې هکله درېيمه سناريو هم شته: د ختيځ جرمني ديپلومات له امريکايانو سره همکاري لرله. ده د سفرانچوک په هکله د پټ ماموريت کيسه جوړه کړه چې خپل ارزښت امريکايانو ته اوچت وښيي. د اګست په مياشت کې دغه حقيقت چې ګواکې د هرمن شويزو پښه ماته شوه او د تل لپاره له افغانستان څخه لاړ د دغه سناريو پخلی کوي. په دغسې قضيو کې به د ختيځ جرمني د ځارګرو فعاليتونو د شنډولو اداري ډېر سخت او د نه جوړجاړي غبرګون درلود، خو چې هر څه وو، واسيلي ستپانوويچ د خپل ورکړل شوي صلاحيت پر بنسټ دنده ترسره کوله. ده امين ته، چې د بهرنيو چارو د وزير څوکۍ يې ساتله، سلا مشوره ورکوله. د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې د دستور پر بنسټ يې هڅه وکړه چې افغان مشران وډوماري چې د ګوند د ننه شخړې پای ته ورسوي او د انقلاب ټولنيز بنسټ پراخه کړي. سفرانچوک له

دوی ځخه وغوښتل چې پرچمیان وبښي او بېرته یې په ګوند او دولت کې خپلو ځوکیو ته راولي. نوموړي له دوست سره هم مرسته وکړه چې د بهرنیو چارو وزارت ژېربنا جوړه کړي.
د یو ریښتیني دیپلومات په توګه سفرانچوک له هرچا سره ښې اړیکې ساتلې، له امین سره یې په منظمه توګه لړترلړه په اونۍ کې یو ځل کتل. په لومړیو کې یې دغه سپکمن او خورا بوخت سړی خوښ شو، خو وروسته پوه شو چې دغه لومړی وزیر دومره ساده سړی نه و لکه څنګه چې ښکارېده او د ده عقیدې (یا د عقیدو پېښې) بې کچې خطرناکې وې. که څه هم سفرانچوک له امین سره بحث کاوه، خو ده هېڅ کله له خپل لمځي ځخه پښې اوږدې نه کړې او تل یې وروستۍ خبره افغان مشر ته پرېښوده. یوه ورځ دوی دواړو د افغان انقلاب د ارزونې په هکله پر یوې مقالې خبرې کولې. مقاله د مرکزي کمېټې د نړیوالې څانګې مرستیال مشر، ر. ا. اولیانوفسکي R.A. Ulyanovsky لیکلې وه او په کمونست ژورنال کې خپره شوې وه. اولیانوفسکي د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د نورو دموکراتیکو هېوادونو لکه لاوس، برما، اېتوپیا او د یمن دموکراتیک جمهوریت په ډله کې راوستلی و. امین د اولیانوفسکي له شننې سره همغږی نه و. ده وویل: «موږ د داسې هېوادونو په ډله کې یو چې د سوسیالېزم په لوري د پرمختللې پانګوالۍ پړاو ته هېڅ لاړ نشول، د داسې هېوادونو په څېر لکه ویتنام، شمالي کوریا او کیوبا.»
سفرانچوک ترې وپوښتل: «داسې به نه وي چې د حقیقت په پرتله به دا ستا هیله وي؟» امین په کلکه ځواب ورکړ: «بې اړنګه، نه. ته څرنګه افغانستان له ایتوپیا سره برابروې؟ له داسې هېواد سره چې ګوند یې د واک ترلاسه کولو وروسته جوړ شو حال دا چې زموږ مارکسېستي - لېنېنستي ګوند څوارلس کاله مخکې جوړ شوی.»
سفرانچوک ورته وویل:«خو تاسې په هر ځای کې کارګر پوړ ته د مخکښې ونډې ادعا کوی. حتی په هوایي ډګر کې ستاسې مېلمنو ته یوه لویه دړه هرکلی کوي چې ورباندې لیکل شوي: «د بریال خواریکښ هېواد پلازمېنې ته ښه راغلاست!» خو کله چې د مارچ د میاشتې د پاځون په بهیر کې تاسې ته موږ سپارښتنه وکړه چې د انقلاب ضد ځواکونو د مخنیوي لپاره له کارګر پوړ ځخه کار واخلئ، تاسې ځواب راکړ چې د دوی شمېر ډېر لږ دی او د دوی ډېری په ځانګړې توګه شعوري نه دي.»
امین وویل: «دا ریښتیا دي چې د انقلاب په بهیر کې پوځ د کارګر پوړ ونډه ولوبوله، خو د انقلاب بهیر مخ پر ودې دی. موږ
پر خواریکښ پوړ او تر ټولو بېوزلو بزګرانو ورځ تربلې ډېره ډډه لګوو. موږ د لېنن تیوري ډېره ښه زده کړې او پوهېږو چې له دغه تیورۍ سره په نوښت عمل وکړو. د لېنن تیوري د کاڼي کرښه نه ده. د شوروي اتحاد په مرسته، ته به پخپله ووینې چې موږ څومره په چټکۍ له فیوډالیزم ځخه سوسیالېزم ته رسېږو. دا به زموږ له لوري د مارکسېزم - لېنېنزم د تیورۍ ودې ته یوه مرسته وي.»
www.samsoor.com

سفرانچوک کرار کرار پوه شو چې که څه هم امین په ا خ د گ کې ځان دویم کس بولي، په گوندي تیورۍ کې هسې سرسري پوهه لري. نوموړی د رټو شعارونو او نقل قولونو مینه وال و. په افغانستان کې چېرته چې لوستي خلک لږ وو، ده په ډېره اسانۍ د یو لوی تیوریسن ځای نیولی شوی.

د جون په میاشت کې پوزانوف او سفرانچوک د افغانستان د وضعیت په هکله له مسکو څخه یو بل اندېښمن یادښت لیک ترلاسه کړ چې افغان مشرانو ته یو لړ سپارښتنې هم پکې وې؛ نو دوی له تره کي او امین سره یوه غونډه جوړه کړه. تره کي او امین په ډېره ارامۍ دودیزو مشورو ته غوږ ونیوه (په گوند کې ملگرتیا وساتئ، د واک څرگند او اغېزمن سیمه ییز جوړښتونه رامنځته کړئ، قانون مه ماتوئ، عامه ځپنو ته اجازه مه ورکوئ، مذهبی د برم او ادرم خلک خپل لوري ته راوبولئ).

خو کله چې پوزانوف او سفرانچوک د نوي رژیم د بنسټ پراخوالي او د سالمو ځواکونو د یووالي خبره راپورته کړه، امین په غوسه وویل: «اوس به بیا تاسې د یوې ملي جبهې د جوړولو خبرې موږ ته پیل کړی. زه له تاسې سره په زغرده همغږی نه یم. زموږ گوند پخپله ملي جبهه دی، موږ به هېڅ کله خپل سیاسي واک له چا سره شریک نه کړو. لومړی دا چې دا یوازې موږ وو چې لوی انقلاب مو ترسره کړ، هېچا په دغه جگړه کې له موږ سره مرسته و نه کړه او دویم دا چې موږ - یوازې موږ یوو چې د افغان ټولنې د گټو غږ اوچتوو. په افغانستان کې پرته له ا خ د گ څخه نور گوندونه نشي رامنځته کېدی.»

پوزانوف د معمول په څېر چوپتیا غوره وگڼله. سفرانچوک چې په ونگه کې یې ځیرکه خندا ښکارېده د اعتراض هڅه وکړه: «هیله کوم ځان پوه کړئ. دا د یو بل رسمي گوند خبره نه ده. دا په افغانستان کې د دموکراتیکو او اصلاح غوښتونکو ځواکونو د یووالي خبره ده. ایا په افغانستان کې اوس دغه یوه پر وخت موضوع نه ده؟» امین په کلکه په اعتراض وویل: «په افغانستان کې داسې څوک نشته چې موږ ورسره متحد شو. په افغانستان کې داسې نور گوندونه هېڅ کله نشته چې د اصلاحاتو او سوسیالېزم د ودې لپاره کار وکړي. ملگری سفرانچوک، تاسې دلته نوي یاست، کله دې چې دلته لږ ډېر ژوند وکړ، ته به زموږ په هېواد ښه پوه شې. تا ته به دا څرگنده شي چې له ۹۰ سلنې څخه ډېر افغان وگړي زموږ د گوند او انقلابي اصلاحاتو ملاتړي دي.»

سفرانچوک ترې وپوښتل: «د دغو نارامیو په هکله څه وایې چې د هېواد په بېلابېلو برخو کې رامنځته شوې دي؟»

امین ځان هک پک وښود. ده پوزانوف ته سترگې واړولې. د پوزانوف ونگه له ننگېرونو تشه وه. بیا یې تره کي ته داسې وکتل لکه چې خبرو ته یې رابولي. ورپسې یې وویل: «ته یې په لامل نه پوهېږې؟ خو په دې هر سړی پوهېږي، ملگری پوزانوف پوهېږي.» پوزانوف په چټکۍ د هو سر وخوځاوه. امین خبرو ته دوام ورکړ: «او ملگری تره کی پوهېږي. زموږ ټولې ستونزې له بهر څخه راوړل شوې دي. پاکستان او ایران به

هېڅ کله دا ونه منلي چې موږ د ازادۍ لاره غوره کړې ده. سربېره پر دې، دې ته ورته نور هېوادونه هم شته، امريکا، سعودي عرب، چين، اسرايل - زما نوملړ اوږد دی.»
دې ته په نغوتې سره چې دغه بحث پای ته ورسوي، تره کي وويل: «موږ د دغو سپارښتنو لپاره له تاسې او د مرکزي
کمېټې له ملګرو څخه مننه کوو. زه هيله من يم چې تاسې دوی ته ووايئ چې موږ د شوروي اتحاد مرستو ته ډېر ارزښت ورکوو او د خپلو مشرانو وروڼو هرې مشورې ته هرکلی وايو.»
د جولای په مياشت کې د ملي جبهې پر ځای له انقلاب څخه د دفاع ملي سازمان جوړ شو. د دغه سازمان د جوړولو موخه د سوداګريزو ټولنو (چې لاتراوسه نشته وې)، د بزګرانو د کمېټو ( چې جوړول يې لږ وخت مخکې پيل شوي وو)، د ځوانانو او ښځو د سازمانونو (چې لږ وخت مخکې رامنځته شوي وو)، هنري ټولنو او نورو سازمانونو يووالی و. د دغسې سوچه تشريفاتي سازمان اعلان مسکو ته د «اصلاح غوښتونکو او دموکراتيکو سازمانونو د يووالي لپاره يو بل ګام» په توګه وړاندې شو، خو په حقيقت کې امين په دوامداره توګه په بيروکراتيکو دسيسو او د دولتي لوړپوړو څوکيو په داسې جوړښت کې بريالی کېده چې يوازې د ده وفادارو خلکو ته ورکول کېدې. امين په دغو چارو کې خپل سبک نه سپماوه او ډېر وخت يې پکې تېراوه. د مې په مياشت کې، لږ وخت وروسته له دې چې سفرانچوک خپله دنده پيل کړه، ده ته امين خپل مرستيال وروپېژانده. امين پرته له دې چې يوه زره وشرمېږي، وويل: «دغه زما وراره، اسدالله دی. که څه هم دی ډېر ځوان دی، په انقلابي پرځنګ (مبارزه) کې ډېره تجربه لري. دې يو باوري او د اعتبار وړ ملګری دی.»
وروسته څرګنده شوه چې اسدالله د انقلابي پرځنګ په تړاو هېڅ ځانګړې تجربه نه درلوده، خو خپل تره ته بې کچې وفادار و. نوموړی چې په دې وروستيو کې د طب له پوهنځي څخه فارغ شوی و، په کومه بهرنۍ ژبه نه پوهېده، عملي اداري تجربه يې نه لرله او په نړيوالو چارو کې خو هېڅ نه پوهېده. امين، سفرانچوک ته وويل: «ته به دی په يو لوی کارپوه بدلوې. په ژبه کې ورسره مرسته وکړه او په دې برخه کې يې اشنا کړه. دی يو وړ ځوان دی او کولای شي چې يو وزير شي.» له دې خبرې سره سفرانچوک په اړنګ کې شو چې امين څکه دی غوره کړی چې په کابل کې د ده د وراره لارښود شي.
د امين په ښکاره خپل مرستيال، شاه محمد دوست نه خوښېده. له سياسي اړخه يې پر ده باندې باور نه کاوه، پر ده يې د پرچمي اړنګ درلود او دی يې د بېځايه لېبرالېزم او د دې لپاره ترټلو چې د غويي انقلاب د اصلي شيرې په تړاو غلط پوهاوی لري. دوست محمد، چې يو مسلکي ديپلومات و او په دې برخه کې يې له شلو کلونو څخه ډېره تجربه لرله، دغسې بې انصافه تورونه په صبر زغمل. هېڅ کله يې سفرانچوک ته سرټکونه و نه کړه او د بهرنيو چارو په وزارت کې يې ټولې معمولي اداري چارې مخته وړلې. د نورو خبرو
www.samsoor.com

ترځنګ، يوه ورځ امين وويل چې دوست محمد به له وزارت څخه وشړي، سفرانچوک په ټوکه ځواب ورکړ: «بيا نو بايد د وزارت ور وتړل شي ځکه چې د کار هېڅوک به پاتې نشي.» د جولای په مياشت کې امين پخپله د بهرنيو چارو وزارت څوکۍ پرېښوده چې خپل ټول پام د دولت مشرۍ ته واړوي. پر ځای يې يو بل نومور خلقي، شاولي د بهرنيو چارو وزير شو. شاولي له سفرانچوک څخه ځان داسې ليرې ساته لکه دغه شوروي ديپلومات چې ده ته خطر رامنځته کوي. کېدای شي ده ته امين ځانګړی دستور ورکړی وي چې څرنګه له سفرانچوک سره اړيکې وساتي، خو سفرانچوک په خپله له لومړي وزير سره د ملګرتيا اړيکې وساتې.

د جون په پنځمه، د کې جي بي عملياتي مامور، وېکتور بابنوف د يوې غونډې لپاره اوسادچي ته لاړ. اوسادچي په تيلفون کې خبرې کولې؛ نو وېکتور يې پر مېز باندې درې يادښتونه کېښودل. کله چې اوسادچي په تيلفون کې خبرې خلاصې کړې، وېکتور خبرې پيل کړې: «پرون مې له محمود سره وليدل. د ده د خبرو پر بنسټ، د خلق په لوړ پوړ کې يو لوی درز رامنځته شوی.» کله چې مشر دغه خبره واورېده، سمدلاسه يې غوږۍ اوچته کړه او يوې نمرې ته يې زنګ وواهه: «بوريس سيميونوويچ، کولای شو موږ ستا دفتر ته درشو؟ بابنوف ځينې مهم مالومات لري.» ايوانوف ځواب ورکړ: «مهرباني وکړئ، راځئ» بابنوف يادښتونه بېرته واخيستل او د خپلې کرتۍ د اړخ په جيب کې يې کېښودل، اسوېلی يې وايست، اوسادچي مخ ته او دی ورپسې د جنرال دفتر ته لاړل. وېکتور له دې وجې يادښتونه په خپل جيب کې کېښودل چې څوک يې د پټو کړنو په هکله له پروتوکول څخه په سرغړونې او يا پر خرابې حافظې تورن نه کړي. په دفتر کې يې جنرال ته وويل: «بوريس سيميونوويچ، پرون مې له خپل يو اعتباري اجنټ، محمود سره وکتل، نوموړي موږ ته هېڅ کله ناسم څارګريز مالومات نه دي راکړي.د ده د خبرو پر بنسټ، د خلق په لوړ پوړ کې يو جدي درز رامنځته شوی.» جنرال يې په خبرو کې ولوېد او د تم کېدو نغوته يې ورته وکړه : «صبر وکړه، وېکتور اندرييوويچ» جنرال ، بګدانوف ته تيلفون وکړ او ورته ويې ويل چې له دوی سره يو ځای شي. بګدانوف سملاسي دفتر ته په موسکا ننوت. د ده ونګې خوشبينې څرګندوله. جنرال ورته وويل: «مهرباني وکړه، کښېنه او دغه ته غوږ ونيسه.» بابنوف د دربيم ځل لپاره خپل راپور پيل کړ.

د بابنوف د اجنټ د خبرو پر بنسټ، د ژمي په وروستيو او ښړ کال د پسرلي په لومړيو کې اسدالله پوښتنې پيل کړې چې افغان څارګره اداره د چا په ګټه د افغانانو ځپلو ته دوام ورکوي. تر دې وخت پورې، سروري

پرته له زړغیتوب څخه د امین امرونه ترسره کول. امین به ویل چې د دغه او هغه ځای «پاکول»اړین دي - دغه باید بندیان شي او هغه باید «پاکستان ته ولېږل شي» - دې د وژلو مانا لرله. سروري به هغه څه کول چې امر یې ورته شوی و او د امین د واک په اړه یې هېڅ اړنګ نه درلود.

سروري په خپل ټول کاري ژوند کې د امین پوروړی و - امین د ا خ د ګ غړی کړ، په ګوند کې یې اوچت پوړ ته ورساوه او د اګسا مشري یې ورکړه، خو په دې ورستیو کې د اګسا د مشر په زړه کې لوی اړنګ ځای موندلی و. امین به د نیولو او وژلو امرونه کول، خو هېچا په بېساري بېرحمۍ نه تورناوه، امین به پاک راڅرګند شو. ده په خپلو ځوکیو کې د بهرنۍ پالیسۍ او د وتې چارې په غاړه لرلې په داسې حال کې چې سروري یې پټ امرونه ترسره کول. ټول هېواد ده ته د یو خونخور وژونکي په سترګه کتل. دغه بدنامۍ سروري ځوراوه او د همدغه بد نوم له کبله، د ده ځینې نېږدې خپلوانو له ده سره اړیکې شلولې وې.

هر څومره چې سروري پر دې باندې سوچ کاوه، همدومره ډېر به وضعیت ورته بد ښکاره شو. په دې یې سوچ کاوه چې له انقلاب څخه وروسته څه پېښ شول. نوموړی دې پایلې ته ورسېد چې د بېلابېلو خلکو، کورنیو او قبیلو د ځپلو هغه لاره چې امین په خپلو امرونو کې کاروله، په هېواد کې یې نه یوازې ثبات رامنځته نه کړ بلکې برعکس اغېزې یې درلودې او نارامي یې وزېږوله. د بېلګې په توګه، د امین د هغه امر موخه څه وه چې د یو مخور افغان روحاني مشر، صبغت الله مجددي د کورنۍ غړي باید ووژل شي؟ په دغه عملیاتو کې چې پخپله سروري پکې برخه اخیستې وه، اتلس کسه ونیول او پرته له محاکمې ووژل شول. د څه لپاره؟ دغو عملیاتو د هغو پایلو برعکس پایلې وزېږولې چې تمه یې کېده. مجددي، چې هغه وخت په ډېنمارک کې و، د خپلې کورنۍ د غړو د وژل کېدو له خبرېدو وروسته، سملاسي پېښور ته لاړ او هلته یې د خلقي رژیم پر ضد د جهاد اعلان وکړ. نوموړی د انقلاب ضد خوځښت د یو نومور مشر په توګه راڅرګند شو.

د یو بل مسلمان مشر ، پیر سید احمد ګیلاني افندي پر ضد عملیات لا ډېره له منطق څخه وتلې کړنه وه. له انقلاب څخه وروسته، د صوفي ډلې، قادریه، تر ټولو مخور مشر هڅه وکړه چې د کابل پوهنتون د یو ښوونکي په وسیله له تره کي او امین سره اړیکې جوړې کړې. ګیلاني غوښتل چې په دې پوه شي چې دی به د هېواد په دغه نوي حالت کې کوم موقف ولري، خو د نوموړي د ښه نیت ټولې هڅې بې ګټې شوې او امین د ده او د ده د کورنۍ د نیولو او اعدامولو امر وکړ. سروري د امین دغه امر خپلو لاس لاندو ته ورساوه، خو ګیلانی مخکې له دې چې د ده د نیولو عملیات پیل شي، د امین په امر څه ناڅه خبر شوی و او سمدلاسه له کابل څخه، جلال اباد ته نېږدې، سرخرود ته لاړ. دی چې په سلګونو ښه په وسلو سمبال او بې کچې وفادار مریدان ورسره مل وو، د افغانستان - پاکستان له پولې داسې واوښت چې نه یې افغان او نه یې پاکستاني چارواکو مخه ونیوه.

www.samsoor.com

ټولې داسې کړنې چې له کچې وتلې زیاتی ګڼل کېدې، د امین په خوښه د انقلابي کړنو نښې وې، خو په عین وخت کې داسې قضیې هم شته وې چې د سروري خلکو ریښتیني دوښمنان لټول او نیول - پاکستاني او ایراني جاسوسان، ترهګر، پاروونکي او د حکومت ضد په پاڅونونو کې ثابت شوي برخه اخیستونکي - خو کله به چې د دغو نیونو په هکله امین ته خبر ورکړل شو، ده به له سروري وغوښتل چې نیول شوي خلک پرته له ځنډ څخه خوشې کړي.

د سروري په زړه کې لوی اړنګ په ډېربدو شو. ایا کېدای شي چې د تره کي «وفادار زده کوونکی» په افغانستان کې ثبات ونه غواړي؟ ایا دا شونې ده چې دی په لوی لاس بېړۍ ډوبوي؟ خو ولې؟ غواړي چې د ملت د مشر په توګه راڅرګند شي؟ نو بیا به تره کی څوک وي؟ امین د تره کي لپاره کوم برخلیک په پام کې نیولی؟

په پسرلي کې سروري د امین د امرونو د نه ترسره کولو لپاره بېلابېلې پلمې پیل کړې: دی نورو شواهدو ته اړتیا لري، د شکمنو په اړه پلټنې ترسره کوي او داسې نورې پلمې. نوموړي له داسې پرېکنده کړنو څخه هم ځان ساتل پیل کړل لکه «پاکستان ته د خلکو لېږل» امین خپل دفتر ته سروري ور وغوښت او په ډېر تېري یې خبرې ورته وکړې. دی یې تورن کړ چې خپله انقلابي تلوسه یې له لاسه ورکړې او نا وړ شوی. اسدالله په اطاعت د نوموړي ترټلو ته غوږ ونیو، خو د سپکاوی ډېره ننګېرنه یې وکړه. دا داسې یو سپکاوی و چې یو پښتون یې هېڅ کله نشي ښښلی. لکه څنګه چې سروري د امین له چلندلارې سره ښه اشنا و، نوموړی پوه شو چې د امین راتلونکی ګام به له اګسا څخه د ده ګوښه کول او د یو سفیر په توګه بهر ته تبعیدول وي او یا له دې څخه هم ډېره ناوړه ګام.

د چای په یوه شخصي ناسته کې سروري خپلې اندېښنې له خپل نږدې ملګري، د مخابراتو وزیر ګلاب زوی سره شریکې کړې. ګلاب زوی هغه څوک و چې سروري یې د غویي انقلاب په ترڅ کې ژوند وژغوره او هغه څوک چې ځان یې د تره کي زوی بللی ګاڼه. ګلاب زوی ډېر اندېښمن شو - د خپل ژوند په هکله نه بلکې د هغه ګوانښ په هکله چې امین، تره کي ته رامنځته کړی و. ده ومنله چې امین په افغانستان کې د مطلق واک ترلاسه کولو په لاره کې خنډونه لیرې کوي.

کله چې بابنوف په خپلو خبرو کې تم شو، بګدانوف وپوښتل: «بوریس سیمیونوویچ، د مې په میاشت کې له سروري سره زما د خبرو راپور دې په یاد دی؟» ایوانوف په وړاندیز وویل: «له دغو ملګرو سره یې شریک کړه. پرېږده چې دوی هم پرې پوه شي.» بګدانوف خبرې پیل کړې: «خبره داسې وه چې یوه ورځ زه یوازې د سروري په دفتر کې ناست وم. نوموړی ماته ډېر رانږدې شو چې څوک یې خبرې وانه اوري او په ټیټ غږ یې راته وویل: «امین یو سیانه (مکار)، اکاړ، خاین او خطر ناک سړی دی. دی د هرې هغه کړنې وس لري چې په وسیله یې په ګوند او حکومت کې خپل واک ډېر کړي.» سروري د امین په هکله نورې منفي خبرې هم وکړې، خو زه پرې پوه نه شوم. ما د دغسې خبرو تمه نه لرله. لومړی ما فکر وکړ چې دا به یو

ډول پارونه وي - سروري غواړي ما وازمويي چې زما غبرگون به څرنگه وي. بيا مې فکر وکړ چې کېدای شي د تره کي په استازيتوب يې دا خبرې کړې وي. که رېښتيا ووايم، زه ډېر سربدال شوم. کله چې ژباړن دفتر ته راننوت، سروري بېرته د خپل مېز څوکۍ ته لاړ. نوموړي داسې وښوده چې هېڅ خبره نشته او هسې عادي خبرې يې پيل کړې.»

ايوانوف ورته وويل: «گوره بگدانوف، د خلقيانو ترمنځ د لوی مخالفت په اړه ستا مالوماتو نور پخلی هم ترلاسه کړ.» بيا يې بابنوف ته مخ واړاوه او ورته ويې ويل: «بښنه غواړم چې ستا خبرې مې ودرولې، وېکتور اندرييوويچ. مهرباني وکړه خبرو ته د دوام ورکړه.»

د خپل راپور په دويمه برخه کې بابنوف نور حيرانوونکي مالومات وړاندې کړل: «د دفاع وزير وطنجار، چې د افغانستان ملي اتل دی، د امين يو بل دوښمن دی. د وطنجار ټانک اوس د ننداري لپاره د ارگ مخې ته پر يوه سټه درول شوی. د تره کي يو ياور چې د وطنجار شخصي ملگری او پخوانی همکار دی ده ته ويلي چې امين په دوامداره ټينگار هڅه کوي چې تره کی په دې قانع کړي چې د دفاع وزير په توگه وطنجار له دندې گوښه کړي. د ده د ليرې کولو لپاره ساده دليلونه شته: «دغه وزير د ډېرېدونکو انقلاب ضد ځواکونو پر ضد هېڅ نشي کولی. پوځ مخ په انحلال دی. په وار وار په پوځي اډو کې پاڅونونه کېږي. ډېری افسران د مخالفينو لوري ته اوړي. دا ټول ځکه چې وطنجار پوره پوځي پوهه او د گوند په مشرۍ کې تجربه نه لري. بل دا چې د خپلې دندې چارو ته پام نه کوي او د ځوانو نېشه رنډيو او سازندو ملتيا په خپل وزارت کې خوښوي.»»

دلته اوسادچي وويل: «امين داسې خبرې کوي لکه چې د لوړو زده کړو ډېر پوځي ستراتيژستان او د ښو اخلاقو داسې خلک دغه څوکۍ ته په ليکه ولاړ دي چې په ډېر ناتې به پوځي نقشو ته په کتو شپې سبا کړي.» بابنوف بيا خبرې پيل کړې: «طبيعي ده چې وطنجار به امين په داسې خبرو ونه بښي. محمود وايي چې په دې هکله د دفاع وزير له تره کي سره ډېرې سپينې خبرې وکړې او تره کي ورته وويل تر هغه چې دی د هېواد مشر دی، وطنجار دې هېڅ انديښنه نه کوي.»

ورپسې بابنوف خپل راپور ته داسې لنډيز ورکړ: «داسې ښکاري چې له وطنجار سره يې خپل پخوانی ملگری چې هغه هم يو شوبلوال دی يو ځای شوی، د کورنيو چارو وزير، مزدوريار. دی هم له امين څخه خوښ نه دی ځکه چې دی يې پرېښنبود چې په کابل کې د جنايتکارانو غدی له منځه يوسي. دغه غدی د مرکزي کمېټې د غړو، عالميار او صحرايي Alemyar and Sahrai له خپلوانو څخه جوړه ده. دوی دواړه د امين کلک پلويان دي. تراوسه پوري دا مالومه نه ده چې دغه وزيران په يوه ډله کې سره راغونډ شوي دي يا نه، خو محمود په ډاډ وايي چې دوی به بلاخره سره يو شي.»

ايوانوف وپوښتل: «تره کی د دغو مخالفتونو په هکله بشپړ مالومات لري؟»

بابنوف وویل: «خامخا یې په اړه خبر دی. وروسته له دې چې امین له تره کي څخه د وطنجار ګوښه کول وغوښتل، د دفاع وزیر تره کي ته لاړ چې موضوع روښانه کړي، خو محمود نه پوهېږي چې تره کی په کومه کچه مالومات لري.»

اوسادچي داسې پوښتنه وکړه: «بوریس سیمیونوویچ، فکر نه کوې چې دغه په نوم «مخالف لوری» به تره کي رامنځته کړی وي چې د امین د ډېرېدونکي واک مخه ډب کړي؟ د دې منل سخت دي چې دغه وزیران خپل سیاسي اندونه، ګټې او موخې ولري.» بګدانوف وویل: «زه هم ویلیور ګوریلوویچ ته ورته اند لرم.» ایوانوف په ځواب کی ځنډ وکړ. په کوټه کې چوپتیا خوره شوه ځکه چې ایوانوف داسې سړی نه و چې خپله پایله په بیړه څرګنده کړي. بوریس سیمیونوویچ، اوسادچي ته په خطاب د غونډې پایله داسې لنډه کړه: « مرکز ته یو ټېلګراف چمتو کړه چې مخاطب یې پخپله اندروپوف وي. په ټېلګراف کې د خپلې شننې د شیرې په ګډون، ټول هغه مالومات ولیکه چې وېکتور اندرییوویچ څرګند کړل. د مې میاشتې په لومړیو کې له بګدانوف سره د سروي خبرې هم پکې ولیکه. بیا یې ماته راوړه چې لاسلیک یې کړم.»

لس ورځې وروسته، محمود د خلقیانو په اوچت پوړ کې د ژور درز په هکله نور مالومات ورکړل. د اجنټ د خبرو پر بنسټ اوس د امین ضد ډله جوړه شوې وه. د اګسا مشر سروري، د دفاع وزیر وطنجار، د مخابراتو وزیر ګلاب زوی او د کورنیو چارو وزیر مزدوریار د دغه ډلې غړي وو. اوس په ښکاره دغو ځلورو وزیرانو له امین سره کار نه کاوه او د چارو په هکله به د خبرو لپاره نېغ تره کي ته ورتلل. امین هم له وطنجار سره له اړیکو او غونډو ډډه کوله. یوه ورځ د انقلابي شورا په یوه غونډه کې د تره کي پام شو چې امین غونډې ته نه و راغلی؛ نو امین ته یې تیلفون وکړ: «ملګری امین، دا لومړی ځل نه دی چې ته د انقلابي شورا او په نورو غونډو کې برخه نه اخلې، وجه یې څه ده؟» امین، چې داسې ښکارېده لکه د سپکاوی ننګېرنه یې چې کړې وي، په ځواب کې وویل: «وطنجار ویلي چې که ما چېرته وویني، سمدلاسه به مې ووژني.» تره کي د انقلابي شورا غړو ته موسکا وکړه او امین ته یې وویل: «وطنجار یو رټ سړی دی. کومه ژمنه چې کوي، خامخا یې پوره کوي.» امین ورته وویل: «خو په دغسې حالاتو کې زه خپله دنده نشم ترسره کولای.» تره کي په جدي توګه ورته وویل: «راځه چې زه او ته په یوه ناسته کې پرې وغږېږو.»

د بګدانوف او اوسادچي برعکس چې یوازې په استثنایي حالاتو کې له کابل څخه وتلی شوی، جنرال ایوانوف مسکو ته ډېر تګ راتګ کاوه. ده نه یوازې مسکو ته یون کولای شوی بلکې د هغه سرمشریزې غونډې د رسمي پلاوي غړی هم و چې په ویانا کې له ولسمشر کارتر سره جوړېده. ویانا د هغه سرمشریزې

غونډې ځای و چې د ستراتيژيکو وسلو د محدودولو تړون SALT II پکې لاسليکېده. د پروتوکول پر بنسټ دغه غونډه بايد په واشنګټن کې ترسره شوې وی ځکه چې د امريکا ولسمشرانو، نېکسن Nixon او فارډ Ford مخکې دوه ځلې پرله پسې مسکو ته راغلي وو. دا ځل د برېژنيف وار و چې د سمندر بلې غاړې ته يون وکړي، خو د نوموړي ډاکترانو د عمومي منشي د روغتيايي وضعيت له کبله پر داسې يون اعتراض وکړ. له اوږدو خبرو اترو څخه وروسته، يوه دوه اړخيزه هوکړه وشوه چې غونډه په ويانا کې ترسره شي.
د شوروي پلاوی په اورګاډي کې د اطريش پلازمېنې، ويانا ته ورسېد. د پلاوي مشري برېژنېف او د سياسي بېرو درې نورو لوړپوړو غړو کوله: ګرميکو، اوستينوف او چېرنېنکو. بوريس سيميونوويچ ايوانوف، چې په رسمي توګه د بهرنيو چارو د وزارت د کارپوه په څېر د سلاکار رتبه ورکړل شوې وه، په دې پلاوي کې د کې جي بي مشر استازی و.
ايوانوف د خبرو اترو په کابو ټولو پړاونو کې حاضر و. دغو خبرو اترو څو ورځې دوام وکړ او د SALT II تړون په لاسليک پای ته ورسېدې. ايوانوف په اندېښنې دې ته پام شو چې عمومي منشي نشوای کولای چې په يوازېتوب حتی ډېرې ساده خبرې د امريکا له ولسمشر سره وکړي. د برېژنېف ټولې ويناوې په يو ځانګړې ليکمن په غټو تورو ليکل شوې وې. نوموړي د کارتر د پوښتنو د ځواب لپاره هم مرستې ته اړتيا لرله.د ده ياور به پوښتنې ته غوږ شو او مناسب ځواب به يې د ده مخې ته کېښود. عمومي منشي به په کرار غږ ولوست پرته له دې چې پوه شي چې څه يې ولوستل. څو ځلې ډېر شرموونکی وضعيت رامنځته شو. کله چې کارتر داسې يوه پوښتنه وکړه چې يوازې يو لنډ ځواب يې غوښت، ژباړن مخکې له دې چې يادښت برېژنېف ته ورکړي په چټکۍ يې په هغه وييو خط کش کړ چې اړين نه وو. دغه يادښت برېژنېف تر هغه ځای پورې ولوست چې خط پرې نه و کش شوی او بيا يې وپوښتل : «پاتې برخه ونه لولم؟» ولسمشر کارتر او ياور يې يو او بل ته له مانا ډکې سترګې واړولې. په دغه سرمشريزه غونډه کې د ويانا نوموړي اوپرا Opera ته هم ځای ورکړل شوی و. ټول پوهېدل چې ليونېډ ايليچ د هر راز هنري کلتور او په تېره بيا د کلاسيک ساز پروا نه لرله او هڅه يې کوله چې له داسې ننداړو څخه ډډه وکړي، خو کارتر ووماره چې د حرم په نوم د موزارت Mozart له اوپرا څخه يوازې د لومړۍ برخې «تښتونه» ننداره وکړي چې اوپرا ته د دوی د ګډ تګ په هکله رسنۍ راپور ورکړي. کارتر عامه اړيکو ته ډېر پام کاوه، خو دا به ډېره ښه وای چې برېژنېف يې دغه غوښتنه نه وای منلې ځکه د ننداړې په بهير کې څو ځلې خوب يووړ او اوچت خرهاری يې کاوه. د ده د ډلې مل کسانو څو ځلې برېژنيف ته ځنګل ورکړه چې ويښ يې کړي، خو داسې کوچنې «جزيات» د شوروي پلاوي نورو غړو ته دومره د اندېښنې وړ نه وو او بل دا چې اوس له امريکايانو سره نورې مهمې خبرې اترې پای ته رسېدلې وې او د تړون پر متن باندې مخکې ترمخکې هوکړه شوې وه؛ نو يوازې د تړون لاسليک، د بريا په هيله يې د شمپاين د پيالو جنګول او مسکو ته بېرته

تګ پاتې وو، خو د شوروي په سفارت کې په یوه غونډه کې یوه کوچنۍ ستونزه رامنځته شوه. ولسمشر کارتر، چې په نورماله توګه د غونډې له اصلي موضوعګانو څخه هاخوا دېخوا نه کېده او په ښکاره یې په مهمو خبرو اترو کې د شوروي د مشر ناتوانۍ ته پام کاوه، ناڅاپه یوه مهمه او حساسه موضوع راپورته کړه. کارتر وویل: «دا به ښه وي چې د کړکېچ هغه کمښت detente چې په اروپا کې روان دی، نورو هغو سیمو ته هم وغځول شي چې امریکا او شوروي یې په اړه همغږي نه دي. شوروي باید ومني چې موږ په ځینو دغو سیمو کې حیاتي ګټې لرو.» دلته کارتر په خپلو خبرو کې دمه وکړه او له ورایه ښکارېده چې د یوې مهمې خبرې یادولو ته تابیا نیسي. د شوروي پلاوي ور کسان ترینګلي شول. کارتر بیا خبرې پیل کړې: «ځینې دغه سیمې د پارس خلیج او د عربو ټاپوزمه دي. موږ له تاسې څخه خواست کوو چې هلته له زغم څخه کار واخلئ څو په دغو سیمو کې اوسنی وضعیت او زموږ ګټې اغېزمنې نشي. په افغانستان او ایران کې ډېرې ستونزې شته دي، خو امریکا د دغو هېوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي او هیله من یوو چې شوروي اتحاد به هم همداسې وکړي.»
کله یې چې خبرې بشپړې کړې، د امریکا ولسمشر په تمه برېژنېف ته وکتل. لیونېد ایلیچ چوپ پاتې شو. ده دغسې ناڅاپې ته د ځواب تابیا نه لرله؛ نو ګرومیکو ته یې په دې هیله سترګې واړولې لکه چې وایي: «مرسته، اندري اندرییوویچ.» خو د بهرنیو چارو وزیر چوپه چوپتیا غوره کړه. کارتر د نفوذ د سیمو خبره راپورته کړې وه او له داسې موضوع سره د سملاسي ځواب چلند نشوی کېدای.
برېژنېف، چې غوښتل د غونډې چوپتیا پای ته ورسوي، په کلیشې یو ځواب ورکړ: «شوروي اتحاد هېڅ کله د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس نه دی وهلی او له امریکا څخه هم داسې تمه لري.» په دې تړاو خبرې همدومره وې.
وروسته، د کارتر د ملي امنیت ځیرک او شکاکي سلاکار، برېژېنسکي Brzezinski په خپل یادښت کتاب کې ولیکل چې په ویانا کې دوی په دې بریالي نه شول چې د امریکا د ځمکني سیاست په هکله په تفصیلي خبرو اترو کې شورویان راګډ کړي. ډېره شونې ده چې برېژېنسکي د امریکا ولسمشر هڅولی وي چې په دغه غونډه کې د نفوذ د سیمو موضوع راپورته کړي. د وروستي ځل لپاره د نړیوالې دویمې جګړې په پای کې د شوروي اتحاد او امریکا د ولسمشرانو تر منځ په دغه موضوع په یلتا Yalta کې خبرې شوې وې.
خو کله چې د شوروي مشران بېرته مسکو ته راغلل، د ایوانوف په ګډون ځینو یې د کارتر خبرې تر کلکې څېړنې لاندې ونیولې. د اوستینوف او اندروپوف تعبیر داسې و چې د پارس خلیج او د عربو ټاپوزمه دې د امریکا تر اغېز لاندې سیمې وي او شوروي اتحاد ته به په بدل کې ایران او افغانستان پرېښودل شي. اوستینوف په دې باور و چې دغه وړاندیز باید ژرترژره ومنل شي، خو ګرومیکو یې تودې ننګرینې داسې سړې کړې: «په ویانا کې کارتر د نفوذ د سیمو پر وېش خبرې و نه کړې بلکې یوازې خواست یې وکړ چې

د ایران او افغانستان په هکله په ټولو موضوعګانو کې باید له زغم څخه کار واخیستل شي او دویم دا چې موږ دا ومنو چې د پارس خلیج هېوادونه د امریکا د څمکني سیاست د ګټو په سیمه کې شمېرل کېږي.»
اندروپوف هم له امریکا سره د دغسې خبرو اترو ملاتړی نه و. د ده په اند افغانستان اوس هم د مسکو د نفوذ په کړۍ کې د ننه دی او د اوسمهال لپاره دواړو، امریکا او شوروي، ایران له لاسه ورکړی دی.
وروسته له اوږده بحث څخه دغسې پرېکړې وشوې: د کارټر وړاندیز دې له پامه وغورځول شي او د منځني ختیځ وضعیت دې له نېږدې وڅارل شي. په پاکستان کې د امریکا ډېرېدونکې ښکېلتیا، په تېره بیا له انقلاب ضد ځواکونو څخه د امریکا ښکاره ملاتړ مسکو ته ډېر د اندېښنې وړ دی.
د جون په نهه ویشتمه د سیاسي بېرو غړو پر هغه یادښت لیک خبرې وکړې چې ګرومیکو، اندروپوف، اوستینوف او پنومروف لاسلیک کړی و او ویې منله چې په افغانستان کې وضعیت پېچلی دی. د دغه یادښت لیک غونډلېنو د شوروي اتحاد د واکمنو وزارتونو د ډېرېدونکو اندېښنو انګازې درلودې.
کله یې چې د وضعیت د خرابېدو لاملونه څېړل، د سیاسي بېرو غړو تره کي او امین ته نېغې ګوتې ونیوې چې ټول واک یې پخپلو منګولو کې نیولی، په وار وار یې تېروتنې وکړې او قانون یې مات کړی دی، په هېواد کې له رژیم څخه پراخه ملاتړ نشته، سیمه ییزې خپلواکې اداري لا نه دي جوړې شوې او «په دې تړاو افغان مشرانو زموږ د سلاکارانو سپارښتنې له پامه غورځولې دي.» په یادښت لیک کې دا هم راغلي وو چې د دولت د ثبات لپاره د حکومت ګامونه اغېزمن نه دي او د انقلاب ضد ځواکونو هڅې د افغان پوځ په انحلال راټولې شوې دي: «د دغه موخې د ترلاسه کولو لپاره بېلابېلې وسیلې لکه اسلامي بنسټپالي، رشوت او ډېرکې کارول کېږي. له افسرانو سره په جلاجلا توګه اړیکې نیول کېږي چې خیانت ته یې وډوماري. دغسې ارتجاعي کړنې په پراخه کچه ترسره کېږي او د انقلاب لپاره به خطرناکې پایلې رامنځته کړي.»
یوې ستندردې چلندلارې د دې غوښتنه کوله چې د دغه مالوماتي یادښت په پای کې یو لړ سپارښتنې جوړې شي. یوه یې دا وه چې د سیاسي بېرو په استازولۍ د ا خ د ګ مرکزي کمېټې ته یو لیک ولېږل شي چې پکې د ملګرتیا په ژبه د شوروي مشرتابه اندېښنې یادې شوې وي او د خلکو د واک مظبوطولو لپاره وړاندیزونه وي. په بله سپارښتنه کې وړاندیز شوی و چې د ا خ د ګ د سلاکارانو ډله غښتلې کړل شي او ښاري او سیمه ییزو شوراګانو ته هم سلاکاران ځانګړي شي. د دې سپارښتنه هم شوې وه چې د سیاسي پوځي کارپوهانو او د پوځي څارګرو فعالیتونو د شنډولوافسرانو په ګډون، یو د تجربې څښتن جنرال او یوه ډله افسران افغانستان ته ولېږل شي چې په افغان وسلوال پوځ کې د شوروي سلاکارانو د ډلې له مشر سره مرسته وکړي، خو د یادښت لیک تر ټولو مهمه سپارښتنه څلورم توکی و چې پکې داسې لیکل شوي وو: «له افغان لوري سره په هوکړې، یو پراشوټي کنډک باید افغانستان ته ولېږل شي. دوی به

د هوايي میخانیکانو یونیفورم ولري او په بګرام کې به د شوروي هوايي ځواک د الوتکو له ډلې دفاع کوي. د سفارت د مامورينو په پلمه باید د کې جي بي عملیاتي مامورينو یوه ځانګړې ډله (۱۲۵ - ۱۵۰ کسه) کابل ته ولېږل شي چې د سفارت ساتنه وکړي. له روزنې څخه وروسته، د همدغه کال د اګست په لومړيو کې له لوی درستیزوالۍ څخه باید یوه ځانګړې ډله افغانستان «بګرام» ته ولېږل شي چې په بیړنیو حالاتو کې له مهمو دولتي ځایونو څخه ساتنه وکړي.» د سیاسي بېرو د همدغې پرېکړې پر بنسټ، پنومروف یو ځل بیا کابل ته ولېږل شو «چې له افغان مشرانو سره خبرې اترې وکړي.»

د باور داسې دلیلونه شته دي چې د دوبي په لومړيو کې د افغانستان په اړه شوروي اتحاد رادیکالو پرېکړو ته مخ کړ.

که څه هم د شوروي سیاسي بېرو تره کي ته د یو ښه سړي په سترګه کتل، خو نوموړي د دې توان نه درلود چې په توپاني سمندر کې بېړۍ سمه وچلوي. امین هم ورځ تر بلې په خپلو دسیسو او سرتمبه هوډمنتوب چې خپله لوبه ولوبوي دوی په غوسه کول. په داسې وضعیت کې بېړۍ هره شېبه په اسانۍ ډوبېدلی شوی؛ نو یو څه باید ترسره شوي وی، خو دا څرګنده نه وه چې څه شی.

کې جي بي دې ته چمتو وه چې له پرچمي تبعید شوو مشرانو سره شلولې اړیکې بېرته ونښلوي. په دغه وخت کې ډېری پرچمي مشرانو اروپا ته مهاجرت کړی و. د لوی درستیزوالۍ څارګر ریاست په چټکۍ د مسلمان کنډک روزنې ته په چرچیک کې دوام ورکاوه. په کابل کې د کې جي بي مېشتې څانګې ته دستور ورکړل شو چې د خلقیانو تر منځ مخالفت ته ډېر پام واړوي.

د «ځلوروالې غدۍ» په هکله د امین او تره کي تر منځ خبرو اترو یا چنو وهلو تر یوې نیمې میاشتې ډېر دوام وکړ. امین ټینګار کاوه چې د اګسا مشر او دا نور وزیران د سفیرانو په توګه بهر ته ولېږل شي. تره کي، چې نه غوښتل له خپلو وفادارو افسرانو سره خیانت وکړي، هوډ درلود چې اوسنی جوړښت وساتي او یا لږترلږه له امین سره د دوی د روغې جوړې څرګندونه وکړي، خو وطنجار او سروري، چې د لوبې په شرطونو ښه پوهېدل، دغه چلند لاره هېڅ کله نه منله. بلاخره تره کی له امین سره یوې هوکړې ته ورسېد چې تره کي یو کوچنی جوړجاړي ګاڼه. د جولای په اووه ویشتمه د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا د یو ځانګړي فرمان پر بنسټ، تره کی د وسلوال پوځ اعلی سر قوماندان شو او د دفاع وزارت څوکۍ یې خپل «ګران زده کوونکي» ملګري امین ته ورکړه. وطنجار ته یې د کورنیو چارو وزارت د وزیر څوکۍ او مزدوریار ته یې د سرحداتو د وزیر څوکۍ ورکړه.

د تره کي او امين له لوري په دولتي څوکيو کې دغه بدلونونه د انقلابي شورا او د ا خ د گ د مرکزي کمېټې غړو ته وروپېژندل شول او ويې ويل چې دغه پرېکړه له شوروي مشرانو سره په همغږۍ شوې ده. دوی هغو پټو خبرو ته نغوته وکړه چې له پنومروف سره يې کړې وې. نومړې په دې ورستيو کې کابل ته په يو غيررسمي يون تللی و، خو په حقيقت کې له پنومروف سره د تره کي او امين د خبرو اترو په ترڅ کې د دغو بدلونونو په هکله هېڅ خبره نه وه یاده شوې. د خلقيانو په لوړ پوړ کې د درز په هکله هم خبرې نه وې شوې.

ښايي هغه شننو چې په کابل کې د کې جي بي مېشتې څانگې مسکو ته لېږلې شوروي مشرانو ته پوره خبرداري نه ورکول.

دا هم شونې ده چې دغه شننې د شوروي ترټولو لوړ پوړ ته په مناسبه بڼه نه وړاندې کېدې او يا په هغه وخت کې کېدای

شي په مسکو کې هېڅوک دې ته چمتو نه وو چې له کابل څخه راغلي مالومات په دومره ځير وڅېړي چې د امين او تره

کي تر منځ د ټکر په ممکنه پايلو پوه شي.

شوروي مشران چې د پښتنو له اکاړو دودونو سره اشنا نه وو، ښايي دغسې سوچ درلود: «ښه نو، کېدای شي دوی يو دوه ځوان وزيران د سفيرانو په توگه بهر ته ولېږي. دا به دوی ته دومره بد کار نه وي ځکه چې دوی به خپل نړيوال اند پراخه کړي او تجربه او لرليد به هم ترلاسه کړي. سربېره پر دې، په څوکيو کې بدلون زموږ د افغان ملگرو کورنۍ چارې دي او موږ بايد پکې لاسوهنه و نه کړو. دا بېله موضوع ده چې اسلامي سخت دريځي هېڅ کله له خپلو وسلو څخه نه بېلېږي، پنځه وخته لمونځ کوي، څو مېرمنې لري او له مرگ څخه ځکه وېره نه لري چې دوی په دې باور دي چې څوک د کفارو پر ضد جگړه کې ووژل شي، په جنت کې يو ځای ورته تضمين شوی. دا داسې خلک دي چې په يوه مرموزه نړۍ کې ژوند کوي، داسې نړۍ چې زموږ له نړۍ څخه ډېر توپير لري؛ نو دلته د افغانستان د پرمختگ پر وړاندې يو رېښتينی گواښ شته دی.»

له افغان مشرانو سره د غونډې په ترڅ کې، د اسلامي ډلو د انقلاب ضد کړنو او په تېره بيا په افغان پوځ کې د ارتجاعي ديني مشرانو د ډېرېدونکي نفوذ په هکله پنومروف د شوروي اتحاد د مشرتابه ژورې اندېښنې څرگندې کړې. د ده مرکچيانو (تره کي او امين) هم د دې پخلی وکړ چې دغه گواښ ډېر جدي دی او په افغانستان کې يې د شوروي اتحاد د پوځي مداخلې خبره راپورته کړه. پنومروف په ډېره وړتيا د دغه موضوع په هکله له خبرو څخه ډډه وکړه او خبره يې د هېواد د پراخه کارگرو ډلو يا د انقلاب د طبيعي متحدينو د بللو په وسيله د انقلاب ټولنيز بنسټ پراختيا ته واړوله. سربېره پر دې، دوی د هغو گوندي

سلاکارانو د کار په اړه خبرې وکړې چې د کمونست ګوند مرکزي کمېټې افغانستان ته لېږلي وو. دوی یې «د شوروي کمونستانو د پوهې او تجربې لېږدوونکي» وبلل چې «د ګوند په وده کې به ډېره مرسته وکړي.» داسې بربښېدل چې کابل ته د پنومروف تګ یو ځل بیا د پام وړ پایلې ونه زېږولې. له افغان مشرانو سره خبرې اترې تشې او بېخونده وې. له مسکو څخه مېلمه هېڅ نوي، په زړه پورې او قانع کوونکي مالومات ترلاسه نه کړل او کومه ځانګړې هوکړه ونه شوه.

دواړه، تره کی او امین پوه شول چې پنومروف په مسکو کې د پرېکړو سړی نه دی. ده ته یې د یو داسې لوړپوړي بیروکرات په سترګه کتل چې هېڅ واک یې نه درلود او د دې توان یې نه درلود چې له ځان څخه یو نوښت وښیي او له خپل اند څخه دفاع وکړي. دوی په ناهیلۍ خپله هغه دودیزه غوښتنه یاده کړه چې شوروي اتحاد د مخالفینو پر ضد په نېغو پوځي کړنو کې ښکېل شي. پنومروف هم په خپل وار په ناهیلۍ له افغان مشرانو وغوښتل چې په خپلو چارو کې د همکارۍ بڼه خپله کړي او په ګوند کې د ګډې مشرتابه اصل ته پام وکړي.

په دغسې حالاتو کې د پنومروف ونډه د رخې وړ نه وه. ده ته یو ناشونی ماموریت په غاړه ورکړل شوی و. د ۱۹۷۹ کال په

دوبي کې د افغانستان حالات دومره جړ پړ، ناندریز او پېچلي شول چې د شوروي مشرانو په منځ کې یې پراخه سربدالي رامنځته کړه. کله به چې په کرېملېن او د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې په غونډو کې د افغانستان موضوع یاده شوه، د شوروي مشرانو غبرګون به ترینګلتیا وه او هیله یې درلوده چې د افغانستان چارې یو بل چا ته وسپارل شي. د دې پر ځای چې د امو سیند بلې غاړې ته له ژمنې سره سم سوسیالېزم خپور شي، په افغان مشرتابه کې کړکېچ، وینه تویونه اوریښتینې جګړه په رامنځته کېدو وه.

د یادونې وړ ده چې د خلقیانو تر منځ د بېلتون او تره کي ته د ناست ګوابښ په هکله نور فکتورونه هم شته وو چې د

مسکو نیمګړی غبرګون یې رامنځته کړ. د کې جي بي له مالوماتو سربېره، له نورو وزارتي چینلونو څخه هم مالومات لېږل کېدل، د بېلګې په توګه پوځي سلاکارانو، جنرال ګوریلوف او جنرال زپلتین د امین سازماني وړتیا ته لوی ارزښت ورکاوه او د ځلوروالې غدی پر وړاندې یې د امین بشپړ ملاتړ کاوه.

کله چې پنومروف په کابل کې و، ده له سیاسي سلاکار څخه د امین او وزیرانو تر منځ د شخړې په هکله وپوښتل. زپلتین دغسې کیسه ورته وکړه: د زپلتین دفتر د دفاع وزارت د ودانۍ په دویم پوړ او د وطنجار په لومړي پوړ کې و؛ نو زپلتین له خپلې کړکۍ څخه وطنجار لیدلی شوی. د غرمې په وخت کې به د معمول په توګه ګلاب زوی او مزدوریار د وطنجار دفتر ته ورغلل، سروري به هم کله کله ورغی. دغه ځلوروارړه به یو نامالوم ځای ته لاړل. یوه ورځ زپلتین خپله پوښتنیالي کابو نه شوی کړی او ویې پتېیله چې په دې ځان پوه کړي چې دغه د انقلاب ځلور اتلان له هرې غرمې وروسته څه کوي؛ نو پرته له دې چې وطنجار

ته مخکې خبر ورکړي، د ده دفتر ته ناځاپه ننوت. ګلاب زوی هغه کوله چې د جلا کوونکې پردې تر شا پټ شي. زېلتین ورغی او د پردې له شا څخه یې داسې راوایست لکه یو ماشوم چې شوخي کړې وي. کله چې زېلتین دوی وترټل چې ولې کار نه کوي، وزیرانو ځواب ورکړ: «مور ځوانان یوو، مور انقلاب ترسره کړ او د دې حق لرو چې کله کله له ساتېریو خوند واخلو.» دې وښوده چې دوی کابو هره ورځ خپل سات تېراوه او یوازې یې ترغرمې پورې کار کاوه؛ نو د تره کي د وزیرانو په هکله د امین د ناخوښۍ ډېرې وجې وې. امین پخپله یو کارمار سړی و او له خپلو لاس لاندو څخه یې همدغسې غوښتنه درلوده. دغه ځانګړتیا امین د خپلو همکارانو په منځ کې وتلی څرګنداوه. د امین او څلوروالې غدې تر منځ د شخړې په وجه کې هر څه ښکاره او څرګند نه وو.

د هرات پاڅون د امریکا سي ای اې ته یوه داسې نښه وه چې په افغانستان کې خپله ښکېلتیا ډېره کړي. د مارچ په میاشت کې سي ای اې د حکومت ضد ځواکونو د ملاتړ لپاره خپل وړاندیزونه سپیني ماڼۍ ته ولېږل. په دغه لاسوندي کې لیکل شوي وو چې د افغانستان د وضعیت په هکله شورویان په ښکاره اندېښمن دي او مسکو د خپلې ماتې پړه پر امریکا، پاکستان او مصر اچوي. د مسکو په اند، دغه هېوادونه په فعاله توګه د وسلوالو مخالفینو ملاتړ کوي. په حقیقت کې ، لړترلړه په فدرالي کچه، په افغان چارو کې د امریکا ښکېلتیا په هغه وخت کې د پام وړ نه وه، خو د مارچ په دغه یادښت لیک کې سي ای اې له انقلاب ضد ځواکونه سره د پام وړ ډېرې مرستې وړاندیز وکړ. امریکایي څارګرې ادارې په سیمه کې د وضعیت په تړاو افغانستان هم څاره. په ایران کې امریکا ته دردمنه ماته ورکړل شوې وه او د شاه له نسکورېدو څخه وروسته له ایران څخه وتلو ته اړ ایستل شوې وه. د خمیني ملاتړو چې په ایران کې واکمن شول د امریکا سرسخته ګوتنیوونکي وو. په هغه وخت کې داسې پراخه خاوره چې په طبیعي سرچینو کې بډایه وه او له خو اړخونو څخه یې ستراتیژیک ارزښت ډېر و، د چا د نفوذ تر اغېز لاندې نه وه، خو د دې خیال کېدای شوی چې دا به د شوروي تر اغېز لاندې راشي. امریکایي سیاسي شننونکو دغه سیمې ته چې له ایتوپیا او منځنې ختیځ څخه تر ایران او افغانستان پورې غځېدلې وه د «کړکېچ لیندۍ» نوم ورکړی و او هڅه یې کوله چې امریکایي وګړي په دې قانع کړي چې د شوروي تلپاتې موخه په دغه مهمه سیمه کې د خپل شتون ساتل دي.

www.samsoor.com

خو لکه څنګه چې هلته د شوروي د پراختیا جدي نښې نښانې نه لیدل کېدې، له ارشیفونو څخه د لوی
پیټر Peter د

هیلې کیسه راوایستل شوه. په دې نکل کې راغلي چې ګواکې تزار خپل راتلونکي نسل ته ویلي چې هرڅومره چې کولای شي همدومره دې قسطنطنیې او هند ته نېږدې شي. د امریکا ازادو رسنیو ناڅاپه داسې لاسونه سره یو کړل لکه یو دستور چې ورکړل شوی وي او له دغه افسانې څخه یې د وګړو په وېرولو کې کار واخیست او ویل یې چې شوروي اتحاد د «کړکېچ لیندۍ» په لور په تېره بیا د پارس خلیج په لور غځېدل غواړي.

د کړکېچ د کمښت پېر detente د پای په لور روان و او د ټکر اوږد پېر یې پوندو ته رسېدلی و. سړه جګړه خپل اوج ته نېږدې کېده. په دغه وړاندیز کې چې له افغان مخالفینو څخه په لویه کچه ملاتړ وشي، د امریکا څارګري ادارې ډېرې موخې لرلې. تر ټوله مهمه هغه یې دا وه چې شوروي په داسې وسلواله جګړې کې ښکېل کړي چې وینې بهېدنه یې د مرګ وجه شي. د سي ای اې شننونکو ویل چې که مخالفین غښتلي کړل شي، مسکو به دې ته اړ شي چې د نېغې پوځي مداخلې په ګډون خپلې پوځي مرستې پراخه کړي. دا به شوروي اتحاد ته د یوې اړکۍ (تلک) په څېر شي. یوه داسې اړکۍ چې افغانستان ته د شوروي لومړنیو پوځیانو په ننوتلو او له اسلامي مخالفینو سره په ښکېلتیا به ښکار ونیسي. شوروي به خامخا په یوه خونړۍ اشغالګره جګړه کې بند پاتې شي او د دې فرصت به له لاسه ورکړي چې د پارس خلیج د تیلو په بډایه سیمه کې خپل بشپړ کنترول رامنځته کړي. راروانه شخړه به د پروپاګند جنګیالیو ته یوه داسې ډالۍ وي چې بلاخره به د کرېملېن د سیاڼتوب (مکاري) او پراختیا غوښتونکي پلان شواهد پکې نغښتې وي. که شوروي اتحاد له پوځي اړخه جګړې ته کش کړل شي، دوی به شوروي اتحاد دومره بې سبکه کړي چې امریکا ته به په سړه جګړه کې بریا شونې کړي.

د مارچ په شپږمه د همغږۍ یوه ځانګړې کمېټه (د کابینې یو تړلی جوړښت چې په بهر کې له پټو کړنو څار کوي) غوښتنه وکړه چې سي ای اې په افغانستان کې د امریکا د ښکېلتیا په تړاو یو تفصیلي پلان جوړ کړي. د سي ای اې عملیاتي مامورین منځني ختیځ ته لاړل چې حالات له نېږدې وڅېړي او ځانګړي وړاندیزونه جوړ کړي. دوی په پاکستان کې داسې کمپونه ومونډل چې په لس ګونو زره افغان کډوال پکې وو. ډېری کډوال دې ته چمتو وو چې بېرته افغانستان ته لاړ شي چې د کفارو رژیم نسکور کړي، خو دلته یوه رسمي ستونزه شته وه او هغه دا چې د کارټر او ضیاالحق تر منځ اړیکي سړې وې. لوېديځ پر پاکستاني ولسمشر نیوکه کوله چې له بشري حقونو څخه سرغړونه کوي، په پاکستان کې دموکراتیکه ازادي نشته او پاکستان په پټه د اتومي وسلو په جوړولو بوخت دی. د سي ای اې مامورین ډېر ژر پوه شول چې د پاکستان ولسمشر «یو د سپي زوی دی، خو زموږ د سپي زوی دی» ؛ نو دا شونې ده چې د افغانستان په هکله کابو په هره موضوع کې له ده سره یوې هوکړې ته ورسېږو.

په واشنګتن کې بیروکراتیک ماشین په همدغه لوري چالان شو او هېڅ ځواک يې د درولو توان نه درلود. د مارچ په
دېرشمه د همغږۍ ځانګړې کمېټې ته په یوه پټه غونډه کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یو استازي راپور ورکړ چې د کارتر اداري ومنله چې امریکا باید د افغانستان پر حالاتو اغېز وکړي او باید په سیمه او د درېیمې نړۍ په هېوادونو کې د شوروي د پراختیا مخه ونیسي، خو هغه وخت یوه روښانه ستراتیژي نشته وه چې د دغې موخې لپاره کوم ګامونه باید واخیستل شي. ایا باید مخالفینو ته وسلې او مهمات ورکړل شي؟ ایا دوی ته مالي مرستې ورکړل شي؟ د مسکو غبرګون به څرنګه وي؟ د کمونستانو ځواب به په کومه کچه وي؟
د درېیمې نړیوالې جګړې د پارولو خطر ډېر و؛ نو ځکه امریکایان په خپلو پټو کړنو کې په ډېر پام مخته تلل. برېژېنسکي وراندیز وکړ چې په لومړي پړاو کې د وسلو مرسته نه بلکې باید درمل، ډګري مخابرې، تخنیکي او مالي مرستې ورکړل شي. د ۱۹۷۹ کال په دوبي کې د دغه موخې او پروپاګند او رواني جګړې لپاره ۵۰۰۰۰۰ امریکایي ډالر ځانګړې شول. د هغه میلیاردونو ډالرو په پرتله چې وروسته مخالفینو ته ورکړل شول، دغه پیسې یو تر کچې وتلی کوچنی رقم و، خو د افغان جګړې په ټول بهیر کې امریکایي څارګرې اداري په خپلو پټو کړنو کې له ډېر پام څخه کار اخیست. د ضیاالحق د شرطونو پر بنسټ، امریکا نشوی کولای له افغان مخالفینو سره نېغې مرستې وکړي. دغه مرستې باید یوازې د پاکستاني څارګرې اداري له لارې ورکړل شوې وی. د درېیمګړي په توګه له ای اېس ای څخه کاراخیستنه ډېره ګرانبیه پرېوتله ځکه چې په دغه اداره کې فساد ډېر و او بل دا چې خامخا د مرستو یوه برخه پخپله ای اېس ای ځان ته ګرځوله، خو دغه بڼې سي ای اې ته د دې فرصت ورکاوه چې په سیمه کې نېغه ښکېله نشي. په عین وخت کې په کابل کې د سي ای اې افسرانو ته دستور ورکړل شو چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت کورنې بهیرونه او د شوروي اتحاد ښکېلتیا لاړېره له نېږدې وڅاري او په هېواد کې د انقلاب ضد فعالیتونو د ډېرښت شونتیا وڅېړي.
د سي ای اې د اجنټ په توګه د امین په هکله ګنګوسې چې د دوښمنانو له لوري یې خورې شوې وې د ۱۹۷۹ کال په لومړیو کې د امریکا سفیر ته ورسېدې. سفیر هک پک شو او د سي ای اې له مېشت مشر څخه یې وپوښتل چې ایا دا خبره ریښتیا ده؟ تورکو کړس په خندا شو او ویې ویل: «له بده مرغه داسې څه یوازې په هالي ووډ Hollywood کې کېږي. دا شونې نه ده.» سفیر وویل: «خو کېدای شي چې موږ په هر څه خبر نه وو. ایف بي ای FBI به اړیکې ورسره ولري.» مېشت مشر په همغږۍ ورته وویل: «کېدای

www.samsoor.com

شي، خو له امریکا څخه یو څوک باید خامخا راغلی وی چې له داسې اجنټ سره اړیکې وساتي. سربېره پر دې، امین دومره پال پاټ• Pol Pot ته ورته دی چې زموږ اجنټ نشي کېدای.»
امستوز، چې د ډبز له مړینې وروسته په افغانستان کې د امریکايي ماموریت مشر شو، له امین سره پنځه ځله داسې غونډې لرلې چې یوازې دوی دواړه یې برخوال وو. دغه غونډې له پرتوکول څخه پرته شخصي وې او حتی د امین تر ټولو نېږدې ډله وربانديې خبره نه وه. رسنیو یې په اړه راپور ورنه کړ. د امستوز د خبرو پر بنسټ، د دوی د خبرو په ترڅ کې امین تل «د امریکا پر وړاندې کلکه دوښمني څرګندوله.»
وروسته، د غونډو له دغه پټې بڼې څخه د امین پر ضد کار واخیستل شو. کله چې د کې جي بي مامورین پرې پوه شول، دوی دې پایلې ته ورسېدل چې امین اوس د مسکو تر شا خپله لوبه پیل کړې او دا د نوموړي د له منځه وړلو لپاره ښه دلیل دی.
داسې ښکاري چې په دغه وخت کې د مسکو او واشنګټن لوړپوړو چارواکو یو او بل ته رواني وهم رامنځته کړ. شورویانو
اړنګ درلود چې امریکا د افغانستان د نیولو په نیت پټ عملیات کوي په داسې حال کې چې امریکایانو هڅه کوله چې خپل ځان او متحدین په دې قانع کړي چې شورویان به ډېر ژر د سوېل په لور خپلې شوبلې ولېږي چې په پارس خلیج کې د تېلو زېرمې ونیسي.
د ۱۹۷۹ کال په دوبي کې اسلامي وسلوالو مخالفینو (وروسته مجاهدین او ورپسې طالبان) د ای اس ای له لارې له امریکا څخه د مرستو ترلاسه کول پیل کړل. شوروي خارګره اداره سمدلاسه پرې خبره شوه. کله چې دغه مالومات یې وڅېړل، د شوروي کمونست ګوند مرکزي کمېټې، د شوروي، ختیځې اروپا، د درېیمې نړۍ هېوادونو او په لوېدیځ کې د چپي ډله ییزو رسنیو په ښکېلولو سره د مالوماتي جګړې ښکاردانه خولې ته واچوله. کله چې د امریکا پر ضد د نړۍ په رسنیو کې د تورونو څپه راپورته شوه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د دیپلوماتیکو چینلونو له لارې یو بشپړ ځواب په کار واچاوه.
سفیر پوزانوف د امریکا له مهالیز شارژدفېر، فلټېن Flatin څخه د غونډې یوه غوښتنه ترلاسه کړه. فلټېن وویل چې امستوز د مشورو لپاره واشنګټن ته تللی دی او ده ته دنده ورکړل شوې چې د امریکا له لوري د شوروي لوري ته د «په افغانستان کې د امریکا د لاسوهنې په هکله دروغجنې ویناوې» تر سرلیک لاندې یو یادښت لیک وسپاري. دا یو لنډ یادښت لیک و چې په ناغېړۍ یې د امریکا ښکېلتیا کم ارزښته ښودلې وه. کله یې چې ولوست، پوزاونوف په پرېکنده بڼه د شوروي پر ضد د امریکا ټول تورونه رد کړل. ده هڅه وکړه چې خپل مېلمه په دې قانع کړي چې د شوروي اتحاد ډله ییزو رسنیو سم راپورونه ورکړي او په افغانستان کې یې پېښې په عیني توګه تعبیر کړې دي: «زموږ خبریالان د تره کي او امین هغو ویناو ته

• پال پاټ په کمبودیا کې د کمونست ګوند مشر و چې په ۱۹۷٦ کال کې واک ته ورسېد او تر ۱۹۷۹ کال پورې یې واکمني وکړه. ده د خپلې واکمنۍ په بهیر کې تر دوو میلیونو کمبودیايي وګړي ووژل (ژباړن).

نغوته کوي چې په وار وار پکې د افغانستان په کورنیو چارو کې د امریکا لاسوهنه یاده شوې، خو سربېره پر دې، یو شمېر نورې مقالې هم شته چې د امریکایي ورځپاڼو او مجلو د خبریالانو په ګډون لوېدیځو خبریالانو لیکلې دي او بې ارڅه پر دوی باندې له امریکا سره د تعصبي چلند ګومان نشي کېدای.
کله یې چې دا واورېدل، فلتېن لږ بروس شو ځکه چې په دې ورستیو کې یوې امریکایي اونیزې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت پر ضد د سي ای اې د پټو کړنو په هکله څرګندونې کړې وې . پوزانوف پر امریکایي باندې فشار ته دوام ورکړ: «خپله لاسوهنه ودروئ، بیا به د تورونو لپاره هېڅ بنسټ نه وي. زه غواړم تا ته د دې یادونه هم وکړم چې د امریکا کانګرس د کارتر هغه غوښتنه ونه منله چې افغانستان ته اوولس میلیونه ډالره مرسته ځانګړې کړي، خو له دې سره سره د افغانستان دموکراتیک جمهوري دولت له تاسې سره د ملګرتیا اړیکې پالي. دې ته څه وایې چې د دوو وزیرانو او دوو مرستیال وزیرانو په ګډون، افغان لوړپوړو مامورینو ستاسې د خپلواکۍ ورځې په ویاړ په هغه مېلمستیا کې ګډون وکړ چې ستاسې په سفارت کې جوړه شوې وه.»
فلتېن ومنله او ویې ویل: «دا ټول ریښتیا دي او موږ دغسې قضیو ته ډېر ارزښت ورکوو، خو په عین وخت کې زه غواړم دغه حقیقت ته ستا پام واړوم چې له پاکستان سره د اتومي موضوع په هکله زموږ د مخالفت په ګډون، د ځینو نورو دوه اړخیزو اختلافونو له کبله د امریکا حکومت نشي کولای چې د پاکستان پر پوځي اداري فشار واچوي.»
امریکایي او روسي په سړه بڼه له یو او بل څخه بېل شول. د ټکرونو په ډېرېدو سره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په کابل کې د خپل سفارت د مامورینو شمېر لږ کړ او پرېکړه یې وکړه چې د پاتې مامورینو د کورنۍ غړي هم له افغانستان څخه وباسي. شاوخوا سل امریکایان د افغانستان له پلازمېنې څخه په وتلو وو. په دې هکله امستوز مخکې تر مخکې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د بهرنیو چارو مرستیال وزیر ته خبر ورکړ. له دوست سره د غونډې په ترځ کې امستوز ټینګار وکړ چې دغه پرېکړه سیاسي وجې نه لري بلکې یوازې د دوی خوندیتوب په پام کې نیول شوی. امستوز داڅرګندونه هم وکړه چې امریکا به دغه موضوع عامه یا خپره نه کړي، خو دا یې هم وویل: «که خبریالان مو نېغ وپوښتي، موږ باید ریښتیا ځواب ورکړو.»
له بده مرغه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له یو استازي څخه د واشنګټن پوست یو خبریال په دې هکله نېغه پوښتنه وکړه. کله یې چې په واشنګټن پوست کې د امریکایانو د وتلو په هکله نېغ ځواب ولوست، افغانان ډېر ځاځمن (په غوسه) شول. د بهرنیو چارو مرستیال وزیر، دوست، امستوز ور وغوښت او له غوسې څخه ډک اعتراض یې ورته څرګند کړ: «د افغانستان په هکله دغسې خپروني غلطې انګېرنې رامنځته کوي. تاسو هغه هوکړه ماته کړه چې رسنیو ته به د خپلو اتباعو د وتنې په هکله مالومات نه ربرنډوی.» خو
www.samsoor.com

یوازې دا د اعتراض پای نه و. په همدغه ورځ د امریکا سفارت د افغانستان د بهرنیو چارو له وزارت څخه یو یادښت ترلاسه کړ چې امریکا باید په کابل کې د خپلو دیپلوماتانو شمېر نور هم لږ کړي.

داسې وپتېیل شوه چې دغسې امریکایي ضد کړنې ته روسانو لاره هواره کړې؛ نو امستوز له فلټېن سره یوځای د پوزانوف دفتر ته لاړ. له معمولي روغبړ څخه وروسته امستوز وویل: «موږ په دې باور یو چې زموږ د معمولي گام پر وړاندې، چې موخه یې د امریکایي اتباعو امنیت دی، د افغان لوري غبرگون له اندول څخه وتلی دی. په بېلابېلو فرصتونو کې امریکایي مامورینو دا په ډاگه کړې چې امریکا له افغان مخالفینو سره د وسلو او پیسو مرسته نه کوي. دوه کاله مخکې د ایران، پاکستان، چین او امریکا په گډون، افغانستان له ډېرو هېوادونو سره ښې اړیکې درلودې، خو اوس یې له خپلو گاونډیانو او لوېدیځو هېوادونو سره اړیکې ورانې دي. موږ اوس په دې اند یوو چې امین په لوی لاس له امریکا سره ټکر پاروي.»

د شوروي سفیر په اعتراض وویل: «ښاغلی امستوز، ستا ارزونه ناښنده ده. افغانستان په هېڅ وجه هڅه نه کوي چې له امریکا سره خپلې اړیکې خرابې کړي.» پوزانوف یو ځل بیا د خپلواکۍ هغه مېلمستیا ته نغوته وکړه چې د امریکا په سفارت کې لوړپوړو افغان چارواکو پکې گډون کړی و. د گاونډیانو په هکله یې وویل چې دغه هېوادونو د افغانستان په کورنیو چارو کې په خپلو لاسوهنو له افغانستان سره اړیکې خرابې کړې.

په دغه غونډه کې له هر دیپلومات څخه تمه کېده چې خپله ښه مشق شوې ونډه ولوبوي او دغه دواړو دیپلوماتانو همداسې ښه ولوبوله، خو د خبرو اترو په پای کې امستوز وپتېیله چې له ځانه خبرې وکړي: «خو بیا هم، زما دې ته پام شوی چې افغان دولت له موږ سره دومره د همکارۍ ناټ نه لري لکه پخوا یې چې درلود. دغه گروهنه په یو شمېر چارو کې راڅرگنده شوه. د بېلگې په توگه، د سفیر ډېر وژنه. موږ د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ته څلور ځله یو یادښت ولېږه چې د هغو وسلو په هکله یو شمېر پوښتنو ته ځواب ورکړي چې ترهگرو ترې کار اخیستی و، خو موږ ته هېڅ کله ځواب رانه کړل شو.»

پوزانوف له ځان سره وویل: «موږ هم غواړو پوه شو.» خو امستوز ته یې داسې وویل: «د اړیکو د ښه کولو بهیر باید دوه اړخیز وي. دا ناښنده ده چې د امریکایي وگړو د ایستلو په هکله پر افغان لوري باندې زموږ د اغېزې پر ناتوانۍ تاسې خپله نارضتیا څرگندوی. دا په موږ پورې اړه نه لري. افغان مشران د خپلو کړنو پرېکړې پخپله کوي.»

امستوز په پوهاوي موسکا وکړه او خبرې پای ته ورسېدې.

د ۱۹۷۸ کال د اکتوبر په یو تیاره سهار کې د کې جي بي مامور، بریدمن ولېري کوریلوف Valery Kurilov ژوند ناڅاپه بدلون وموند. دی چې په اورل Orel کې د کې جي بي په سیمه ییز مرکزي دفتر

کې یو عادي مامور و، د خپلې ځانګې مشر ور وغوښت او ورته ویې ویل چې پرېکړه شوې چې دی د روزنې لپاره مسکو ته ولېږي. دغه ځوان افسر خوشاله شو او په دې فکر کې شو چې دی به د مسکو په نومور رېډ بنر انستېټیوت Red Banner Institute کې زده کړې وکړي - د کې جي بي افسرانو په هغه روزنتون کې چې د لومړي ریاست د بهرنیو ځارګرېزو فعالیتونو د شنډولو په تړاو و. د لومړي ریاست افسران د کې جي بي غوره سپین ختې• white collar افسران وو؛ نو د یو ولایتي داسې مامور لپاره چې له لوړپوړو سره یې کومې ځانګړې اړیکې نه لرلې، دا یو ډېر ښه بخت ګڼل کېده چې په داسې انستېټیوت کې د زده کړې فرصت ومومي، خو د ولېږي مشر په چټکۍ د نوموړي دغه خیال ته د پای ټکی کېښود او ورته ویې ویل چې دی د مسکو په لمن، بلشیخه Balashikha کې د افسرانو لپاره یو پرمختللي روزنیز کورس ته لېږل کېږي. دغه کورس د پټو ځارګرو چارو د ریاست تر سیوري لاندې و او په اړه یې داسې ګنګوسې وې چې پکې هغو افسرانو ته روزنه ورکول کېږي چې د دوښمنانو منځ ته ننوځي او که چېرې یوه لویه جګړه رامنځته شي، ورانکارۍ چارې سرته رسوي. د دغه کورس ګډونکونکي باید له فزیکي اړخه د مسلکي ورزشکارانو په کچه غښتلي وی، لېترلېږه په یوه بهرنۍ ژبه پوهېدی او د بېلګیزو اخلاقو څښتن وی. کوریلوف سمدلاسه پوه شو چې د یو سفارت تر چت لاندې د یو هوسا ژوند پرځای، دی باید د ورانکارۍ زده کړې وکړي، خو په دې اړه یې ډېر سوچ و نه کړ ځکه چې هر څه چې وو، بیا هم ده ته په یو ولایت کې د جاسوسانو د لټون په پرتله په زړه پورې وو. د ۱۹۷۹ کال د جنورۍ په پیل کې، دی له نورو هغه بریدمنانو او تورنانو سره یو ځای چې له ټول شوروي اتحاد څخه دغه کورس ته غوره شوي وو د بلشیخه پټې اډې ته د روزنې لپاره ورسېدل. هغه وخت د دغه روزنتون له جوړېدو څخه لس کاله تېر شوي وو او په سلګونو افسرانو اووه میاشتنۍ روزنې پکې ترسره کړې وې او د یو اصل په توګه د روزنې له بشپړېدو څخه وروسته، دغه افسران بېرته خپلو پخوانیو دندو ته تلل، خو مرکز به د دوی نومونه په یوه ځانګړې مالومات زېرمه database کې ولیکل. د بهرنیو ځارګرو فعالیتونو د ضد اداري دغه افسران به له روزنې وروسته تل د تیارسۍ په حالت کې وو چې د اړتیا په وخت کې په بېلابېلو هېوادونو کې د پټو عملیاتو لپاره وګمارل شي. دوی له سیمه ییزو اجنټانو سره له اړیکو نیولې د دوښمن د مهمو ستراتیژیکو ځایونو تر ورانولو پورې لکه د ستراتیژیکو اډو، د اړیکو مزې او د توغندیو د اډو ویجاړونې بېلابېلې دندې لرلې.
کوریلوف ته درسي نصاب په زړه پورې ښکاره شو. د خپلو نورو ټولګیوالو په څېر، ده هېڅ کله باور نه کاوه چې له هغو وړتیاو څخه به کوم وخت کار واخلي چې په دغه کورس کې یې ترلاسه کولې. ده فکر نه کاوه چې کله به جګړه پیل شي، دی به چاودنیز توکي خښوي چې اورګاډي له پټلیو څخه وباسي، ساتونکي ووژني او یا د یو برید مشري وکړي. ده ته داسې د ریښتینې نارینه روزنه ورکول کېده چې په زغرېتوب یې

• white collar یا سپین چپه ګردن وال هغه خلکو ته وایي چې په دفتر کې کار کوي یا مسلکي یا اداري دنده ولري.
www.samsoor.com

سر نه خوړاوه. په دغه کورس کې ده ته له ځان څخه د دفاع او د ستر او اخفا روزنه ورکول کېده. دی په خپله ځیرکی پوه شو چې له روزنې څخه وروسته به یو فدایي ترې جوړ شي، خو ده یې پروا نه لرله ځکه چې ده فکر کاوه چې هېڅ کله به یوه جگړه په رېښتیا پیل نشي. نوموړي دغه روزنه یوه په زړه پورې تجربه گڼله او په هکله یې منندوی و.

کوریلوف یو له څو کسانو څخه و چې د جگړې په پېښېدو یې باور نه درلود. هغه چا چې دغه کورس په بلشیخه کې جوړ کړی و او په ډېر پام یې د پروگرام پالنه او څارنه کوله بېل اند درلود. پخپله اندروپوف او د پټو څارگرو عملیاتو په مرکزي اډو کې جنرالانو دغه نصاب ته خپل ځانگړی پام اړولی و. یو د ډېرې تجربې خاوند او پخوانی ورانکار Saboteur ډگروال بایرینوف Boyarinov د دغه کورس مدیریت کاوه. نوموړي ډېرې په پام ترسره شوې پلټنې چې نه یوازې د شوروي بلکې بهرنۍ تجربې هم پکې نغښتې وې له ځان سره ساتلې وې. د دغه کورس لپاره ترټولو ډېر تجربه لرونکي اجنټان، د چاودنیزو توکو د تابیا، د سیمې د ارزونې کارپوهان او نښې ویشتونکي او داسې نور گمارل شوي وو. له درسي نصاب سربېره، دوی ته داسې رواني روزنه ورکول کېده چې دوی به د ځان په هکله داسې خیال وموند چې ترټولو غښتلي او اوچت دي او هېڅ راز خنډ یې د خپلو موخو د ترلاسه کولو په لاره کې مخه نشي نیولی.

د روزنې په شپږمه میاشت، د جون په لومړیو کې د روزونکو له چلند څخه داسې بریښېدل چې کوم شی بدل شوي. د کورس مضمونونه ناڅاپه داسې هغوی ته بدل شول چې د یو ورانکار له ځانگړتیاو سره یې سمون نه درلود. دوی ته ناڅاپه د یرغمل ازادولو او د ستراتیژیکو ځایونو نیونه او له هغوی څخه د دفاع روزنه پیل شوه. ورپسې د کې جي بي له لومړي ریاست څخه یو لوړپوړی چارواکی ورغی. پرته له دې چې خپل ځان زده کوونکو ته ورو‌پېژني، نوموړي دوی ته وویل چې دوی به یوه داسې ځانگړې ډله وي چې د افغان له څارگرې ادارې سره به د مخالفینو پر ضد جگړه کې د مرستې لپاره افغانستان ته ولېږل شي او د اړتیا په وخت کې به نورې دندې هم ترسره کوي.

کوریلوف بیا په دې هکله سوچ و نه کړ او نه یې همکارانو دغه وړاندیز رد کړ. دغه ځوانان چې هېڅ کله بهر ته نه وو تللي، په یو بل هېواد کې د ژوند تلوسمن شول. دوی په افغانستان کې د خپلې دندې د بالقوه خطر په اړه فکر و نه کړ ځکه چې په افغانستان کې یې د ژوند په اړه ډېر پیکه خیال درلود او د دغه هېواد په حالاتو هېڅ خبر نه وو.

د جولای په لومړیو کې د «زینت Zenit» په شفري نوم یوه اته دېرش کسیزه ډله چمتو شوه. ډېر کلونه وروسته د لومړي ځل لپاره د کې جي بي یوه ځانگړې پوځي ډله چې خپلې وسلې، د اړیکو وسیلې او نور ځانگړي توکي یې درلودل په بهر کې ځای پر ځای کېده. گریگوري بویارینوف د زینت د قوماندان او وسیلي گلاتوف Vasily Glotof او الکساندر دالمتوف Alexander Dolmatov یې د مرستیالانو په توگه

وگمارل شول. د جولای د خلورمې شپې په بهير کې د مسکو په څنډه کې د چکلواسيکي له هوايي ډګرڅخه يوه الوتکه چې د زينت ډله پکې وه د افغانستان په لور والوته.
کابل ته له رسېدو سره سم، د کوماندو دغه ډلې د شوروي د سفارت په يو ښوونځي کې واړول. دوی د ډګروال بختورين مخې ته په ليکه ودرول شول او دغه ډګروال د شوروي سفارت د امنيتي افسر په توګه وروپېژندل شو. ټيټکي او هڅور بختورين چې د ځرمني تور جمپر اغوستی و، د کوماندو دغه غوره ډله له نېږدې معاينه کړه او ناڅاپه يې هغه چا ته خبرداری ورکړ چې د سفارت له څوانو جره نجونو سره د اړيکو هڅه وکړي: «که تاسې داسې سرغړونه وکړه، له افغانستان او کې جي بي څخه به وشړل شئ.» دوی ته يې د هر کلي پر ځای دغسې ژمنه واوروله.
يوه بله ناڅاپه د سفير پوزانوف د مېرمنې له لوري څرګنده شوه. نوموړې ته د ممه «mama» لقب ورکړل شوی و. په دغه نوم کې وېره او درناوی نغښتی و. دغه مېرمنې د زينت کماندويان د سفارت له لامبو ډنډ څخه له کار اخيستنې، د سفارت له هټۍ څخه له پېرودنې او له ديپلوماتانو، د دوی د مېرمنو او ماشومانو سره له بنډار څخه منع کړل. ممه له دغو نويو کسانو سره داسې چلند کاوه لکه دوی چې د يوې ټولنې له ترټولو ټيټ پوړ څخه وي. دغه کار کوريلوف ځورولو او له ځان سره يې داسې سوچ کاوه: «دا څنګه شونې ده؟ موږ دلته راغلو چې د سفارت او ټولې شوروي مېنې امنيت ونيسو. موږ د دوی په ساتنه کې خپل ژوند په خطر کې اچولی، خو دوی زموږ په اړه دومره سپک اند لري.»
د هغه څه په پرتله چې دوی يې په مسکو کې تمه لرله، د دوی د بهرني ژوند ډېره برخه خورا بل ډول وه. دغو غوره کوماندويانو ته امر وشو چې د سفارت له حريم څخه ساتنه وکړي - دا يوه زړه تنګونکې دنده وه. دوی به د عادي عسکرو په څېر د سفارت په شاوخوا کې ګامونه اخيستل، د پيرې په غرفو کې به درېدلي وو او له لوړپوړو اداري چارو کو او افسرانو سره د کابل ښار ته په تګ کې مل وو. په دغسې دندو کې د اتلولۍ څرک نشته و. يوازې يوه ورځ د خطر يوه نښه هغه وخت راڅرګنده شوه چې په بالاحصار کې د کماندو يو افغان کنډک پاڅون وکړ او داسې ګنګوسې خورې شوې چې دوی په لاره دي چې کمونستان او شورويان ووژني. د زينت کماندويان هغه مورچلونو ته وختل چې مخکې تر مخکې جوړ شوي وو. دوی د جګړې لپاره چمتو شول، خو حتی يو ډز هم ونه شو. افغان څواکونو پخپله په همدغه ورځ پاڅون وځاپه.
يوه ورځ وروسته د دغه کوماندو ډلې قوماندان کوريلوف ور وغوښت او ورته ويې وويل: «کڅوړې دې راواخله، ګاډې به دې د دالمتوف کوټۍ ته ورسوي. سر له اوسه به هلته ژوند او خپله دنده ترسره کوې.»
د زينت افسرانو يوې ډلې په يوه دوه پوړيزې کوټۍ کې چې د ډېرو دېوال ترې چاپېر و ژوند کاوه. دغه استوګنځي ته د «لومړۍ کوټۍ» نوم ورکړل شوی و او سفارت ته نېږدې په داسې ځای کې وه چې همدې

www.samsoor.com

ته ورته ودانۍ یې لرلې. په دغه سیمه کې لوړپوړي بیروکراتان، سوداګر او د شوروي سفارت ځینې مامورین اوسېدل.

د ولېري کوریلوف لپاره دغه لېږد په افغانستان کې د ده د ژوند د یو نوي پړاو نښه شوه - د پښوا په پرتله یو ډېر خوندور پړاو. ولېري د الکساندر دالمتوف په چوپړ کې وګمارل شو. دالمتوف یې د کې جي بي له اکاډمۍ څخه پېژانده. هلته یې فزیکي روزنه، لاس په لاس جګړه، پر خنجر، برچې، چاکو او له داسې نورو توکو څخه په کاراخیستنه کې د برلاسي روزنه ورکوله. د دالمتوف د وینا پر بنسټ، د غابښو بورس خو څه کوې، یوه ساده جارو یوه وژونکې وسله کېدلای شي. نوموړی په بلشیخه کې هم د همدغه مضمونونو ښوونکی و. الکساندر ایونوویچ چې یو ټیټکی، هډور او د خوشاله طبعی سړی و، د ځوانو افسرانو د خوښې روزونکی و. کریلوف له دغه روزنکي سره ځانګړې اړیکې ټینګې کړې وې، داسې اړیکې چې د یو پوه ښوونکي او یو وړ زده کوونکي تر منځ وي.

په روغبړ کې دالمتوف په خپل لاس کې د کریلوف لاس داسې ټینګ کړ چې کریلوف له درد څخه کوږ او وړ شو او بیا یې ورته وویل: «ولېري، تا په څوکي داری کې ډېر وخت تېر کړ. اوس به موږ سم کار پیل کړو. ته به د افغان څارګریزو فعالیتونو د شنډولو اداري مامورینو په روزنه کې له ماسره مرسته کوې. دوی ښه خلک دي، خو هېڅ تجربه نه لري او په هېڅ نه پوهېږي. خپله دنده دې درته روښانه شوه؟» کریلوف په خوښۍ ځواب ورکړ: «هو ملګری ډګرمن. پر ما باور کولی شئ.» د زینت مرستیال قوماندان ورته وویل: «زه پوهېږم، ما یوه موده څارلې.»

د کابل په څنډه پغمان کې د اګسا د مامورینو روزنه پیل شوه. دالمتوف د اګسا مامورین په لیکه کې ودرول او ورته ویې ویل: «په ټیک یوه میاشت کې به تاسې لاس په لاس جګړه کې ریښتیني مسلکي خلک شی، تاسې به نه ماتېدونکي شی، ستاسې وړتیاوې به د جاپاني کراتې پر هغو استاذانو سیوری واچوي چې تاسې په فلمونو کې لیدلي.»

نوموړي یې یوه بېلګه دوی ته وښوده چې په دې هکله هر راز اړنګ لیرې کړي. ولېري یې د خپل سیال په توګه غوره کړ. ولېري به چاړه په لاس پر دالمتوف له شا څخه برید وکړ او د وژلو هڅه به یې وکړه، خو ولېري به هر ځل د ځمکې خټکی شو. د دغې ننداري په لیدلو افغانان ډېر اغېزمن شول.

د پغمان په روزنو کې کابل ته د تګ لپاره هم ځای ورکړل شوی و. دوی ته دنده ورکړل شوې وه چې له پلازمېنې سره اشنا شي، په غیر نورماله حالاتو کې د بیړنۍ وتنې لاره ومومي (لکه له یو ځای څخه د خلکو بیړنۍ ایستنه او یا له یو اجنټ سره یوه پټه غونډه او داسې نور) او ځینو مهمو ځایونو ته د نېږدې کېدو لارې چارې پیدا کړي. دا ټول داسې ښکارېدل لکه په ریښتیا چې سړی په عملیاتو کې ښکېل وي. د دې له څنګ سره، ولېري خپل ځان ته هم دنده پیدا کړه. دی چې یو مسلکي څارګر و، د هغو افغانانو نېږدې څارنه یې پیل کړه چې ده روزنه ورکوله. نوموړي دغه شونتیا په پام کې نیولې وه چې دوی به په راتلونکې

کې د خپلو اجنټانو په توګه وګماري. ده په چوپتیا، خو په سیستماتیکه بڼه د دوی په هکله مالومات راغونډول، د دوی کرکتر، خوی او نیمګړتیاوې یې څېړلې. سربېره پر دی، ولېږي په خپله غریزې د دوی سیاسي ګروهنې او اړیکې په ګوته کړې. ټول دغسې مالومات یې په خپله کتابچه کې لیکل. دومره وخت تېر نشو چې افغانانو پر خپلو روزونکو باور پیل کړ او له دوی سره یې خپل شخصي رازونه او د خپلو دندو ځرنګتیاوې شریکې کړې.

کوریلوف ډېر ژر پوه شو چې د دغو افغان ځارګرو دنده د معمول په توګه د انقلاب د دوښمنانو موندل او جزا ورکول وو. د مرموزو او هیبتناکو مذهبي سخت دریځو پر ځای به ډېری داسې دوښمنان د دوی خپل پرچمي ملګري وو. دوښمنان - پرچمیان - به کابو هره ورځ په وسلوالو ځواکونو، ملکي ادارو او حتی په خپلو کتونو کې په نیمه شپه نیول کېدل. د کریلوف زده کوونکو به په سادګۍ داسې غوږې کولې: «نن مو یو بل اعدام کړ.» کله کله به یې په دې نیت چې خپل شوروي روزونکي خوشاله کړي، وبه یې ویل چې د نیونې په بهیر کې یې له هغو تخنیکونو څخه کار واخیست چې دالمتوف ورښودلي وو. د داسې خبرو په غبرګون کې به روزونکو یوازې یو او بل ته سترګې واړولې. دوی له دې څخه په کلکه منع شوي وو چې د افغان ځارګرو په کاري چارو کې لاس ووهي، خو کریلوف چې د افغانستان د سیاست په ځرنګتیاو خبر نه وو کله کله به یې فکر کاوه چې دغسې ناپېژندل شوي پرچمیان د غویي انقلاب ریښتیني ناوړه دوښمنان دي. په شوروي اتحاد کې هم هر راز تروستکیتان Trotskyites، زینوویفېستان Zinivievists او نورې ډلې شته وې. له دوی سره هم شوروي کمونست ګوند بې رحمه چلند وکړ. سربېره پر دې، ټولې دغسې سیاسي پېښې په مرموز او پېچلې ختیځ کې کېدې چې پوهېدل یې سخت وو.

کریلوف په یو ټکي ښه پوه و: افغانستان د شوروي اتحاد د نړیوال سیاست په کړۍ کې دی او له غویي انقلاب سره په خپله مرسته، دی د شوروي اتحاد ګټې خوندي ساتي.

د خپلو زده کوونکو د پېژندنې په کرار بهیر کې، کله چې ولېږي په دې پوه شو چې حفیظ الله امین، د انقلاب مخکښ اتل، د هر چا نه خوښېږي حیران پاتې شو. یوه ورځ په یو ښه فرصت کې یو زده کونکي د ده په غوږ کې وویل چې «خپلو خلکو ته ووایه چې پر امین باور و نه کړي. دی یو دوښمن دی. دی یو ریښتینی فاشیست دی او غواړي تره کی ووژني.» کوریلوف هک پک شو. دغه افغان خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ: «موږ داسې مالومات لرو چې امین د دې تابیا نیسي چې تره کی په هوایي ډګر کې ووژني.»

دا ځل ولېږي ته دغه مالومات دومره مهم ښکاره شول چې له خپلو مشرانو سره یې د شریکولو پرېکړه وکړه. کله یې چې دالمتوف ته وویل، ده ولېږي سفارت ته په ګاډي کې بوت چې د زینت له قوماندان سره خبرې وکړي. بایرینوف د سفارت یوې کوټې نمرې ته زنګ وواهه او له چا سره یې خبرې وکړې. بیا یې کریلوف ته وویل: «پاس دویم پوړ ته لاړ شه، ته به مېشت مرستیال ووینې، د هر څه راپور ده ته ورکړه.»

www.samsoor.com

اورلوف مروزوف راپور ته غوږ ونیوه. کله چې کریلوف هغه کتابچه ورکړه چې مالومات یې پکې ټول کړي وو، اورلوف

مروزوف حیران شو او له ده څخه یې داسې وپوښتل چې په خبرو کې یې اوږدې دمې کولې: «تا ته په مسکو کې دغه دنده درکړل شوې چې د څارګرو فعالیتونو د شنډولو سیمه ییز مامورین وروزې؟» کریلوف ناڅاپه پوه شو چې څه بد کار یې کړی او داسې ځواب یې ورکړ: «نه، دا زما خپل نوښت و. اوسمهال زه د ځانګړو چوپړونو مامور یم، خو زما مسلک د څارګرو فعالیتونو شنډول دي؛ نو ځکه مې پرېکړه وکړه چې د بهرنیو څارګرو په اړه پوهېدنه به ګټوره وي. څوک پوهېږي چې یوه ورځ به مو په درد وخوري.»

اورلوف مروزوف: *بل څوک ستا په دغه نوښت خبر دي؟*

کریلوف: *زموږ قوماندان، بایرینوف. ما له ده څخه اجازه اخیستې وه.»*

اورلوف مروزوف د خپلو خبرو بڼه نرمه کړه او ویې ویل: «سمه ده. کتابچه د موږ ته پرېږده. کوم کار دې چې پیل کړی دوام ورکړه، خو پام کوه. د خپلو لیدنو د لیکلو لپاره سفارت ته راځه. په کوټې کې هېڅ لیکل شوي لاسوندي مه پرېږده.»
کوریلوف په سوچ کې شو: «عجیبه ده چې د تره کي د وژلو د پلان په هکله ده هېڅ غبرګون ونه ښود.»
خو په عین وخت کې اورلوف مروزوف ورته وویل: «موږ په هوایي ډګر کې د یو ممکنه ترهګر برید په هکله خبر یوو. ستا مالومات د هغه څه یو بل پخلی دی چې موږ پرې خبر یوو. موږ هم په دې هکله لاس په کار یوو.»
اوس د دې وخت رارسېد چې هغه افغان څارګر چې د زینت روزونکو روزنه ورکوله د فراغت ازموینه ورکړي. پخپله د اګسا مشر اسدالله سروري پغمان ته لاړ چې د دوی د روزنې بریا وڅېړي. کوریلوف ته اسدالله یو له برم او پرتم څخه ډک سړی چې له خولې څخه یې حتی سهار د الکولو بوې ووت ښکاره شو. نوموړی د فارغینو په تیوریکي او عملي وړتیا خوښ شو. دالمتوف د الکولو یوه ډکه پیاله ولېږي ته د انعام په توګه ورکړه.
خو د شوروي د ځانګړو ځواکونو ترټولو مهمې ورځې لا نه وې راغلې. د هغه دوبي د جولای په لومړیو کې د شوروي له ویتبسک Vitebsk له اډې څخه د هوایي ځواکونو د ۱۰۵مې فرقې یو پراشوټې غونډ د بګرام هوايي اډې ته ولېږدول شو. د دغه غونډ دنده د هوایي اډې او د هغو کارګوګانو ساتنه وه چې له شوروي اتحاد څخه راتلې. د مخالفینو پر ضد په پوځي عملیاتو کې د دوی برخه اخیستنه منع وه.

د اګست په یوولسمه سترستین او مېرمن یې د شېرېمېټيېو Sheremetyevo هوایي ډګر ته روان وو. د دوی رخصتي خلاصه شوې وه او کابل ته د بېرته تګ وخت و. په ټکسي کې چوپتیا خوره وه. دوی خپه وو چې خپل اته کلن زوی یې له خپل بابا او انا سره پرېښود ځکه چې په افغانستان کې حالات ورځ تر بلې خرابېدل. د هرات له پېښې وروسته ډېرو شورویانو چې په افغانستان کې کار کاوه خپل ماشومان بېرته شوروي اتحاد ته بوتلل. ځینو یې حتی خپلې مېرمنې هم

ولېږلې چې له خطر څخه یې خوندي وساتي.

د ټکسي چلوونکي وننګېرله چې د ده مسافر د مجلس ناټې نه لري؛ نو د ګاډي راډیو یې چالانه کړه. په خبرونو کې په نېپردژرژینسک Dneprodzerzhinsk کې د یوې غمجنې پېښې راپور ورکړل شو. دوو الوتکو ټکر کړی و، د فوټبال ډلې، پختکور Pakhtakor د غړو په ګډون مرګ ژوبله ډېره وه. سترستین دغه پېښه یو بد شګوم وګڼله - ورځ ډېره اوږده وه او د دوی څو الوتنې په مخ کې وې.

ولېږي ته د خپل یو همکار خبرې ور په یاد شوې. نوموړی په کابل کې د کې جي بي مېشتې څانګې یو کلیدي مامور و. د دوی د رخصتۍ په بهیر کې دغه همکار یې د یوې مېلې په ترڅ کې وویل: :«زه نور دې ته نه حیرانېږم چې اورګاډي یو، دوه او کله درې ساعته ناوخته راځي، زه د یوې الوتکې په لوېدو نه حیرانېږم، زه دې ته حیران یم چې د اورګاډي سیستم لاتراوسه کار کوي، زه دې ته حیرانېږم چې الوتکې مخکې له الوتنې ټکر نه کوي. هېواد مو ګډوډ دی، هېڅوک د وګړو پروا نه لري. ټولې هڅې دې ته کېږي چې لوړ پوړ ته راپور جوړ شي. دغه راپورونه یوازې یوه کیسه کوي او هغه دا چې په هېواد کې د ژوندون وضعیت له راپور سره هېڅ سمون نه لري. ولېږي، ته باید خپلو مشرانو ته د افغانستان په هکله عیني شننې وړاندې کړې. پوهېږې چې ستا د شننو په هکله د نېږدې ختیځ مشر، جنرال پولونیک Polonnik غبرګون څرنګه و؟ کله یې چې ته له دفتر څخه ووتلې، ده ماته وویل: « دی ولې دومره منفي لید لري؟ په دغه عمر کې؟ دی د ګوندي سلاکارانو هغه رسمي لیدلوری ننګوي چې د ا خ د ګ ټولنیز بنسټ ته یې پام اړولی دی... دی خامخا خپل ځان د نورو په پرتله ډېر هوښیار ګڼي.»

دا رېښتیا وه چې په افغانستان کې د حالاتو په اړه د سترستین ارزونې تروې وې. نوموړي د څانګې مشر ته یو راپور وړاندې کړ چې خلقي رژیم د کار نه دی او د شوروي ګوندي سلاکارانو هغه ستراتیژي یوه تېروتنه ده چې کارګرانو او بزګرانو ته د خلق غړیتوب ورکوي څو ګوند پراخه کړي. ډېری دغه نوي ګوندي غړي نالوستي او یا هغه بنه یې نیمګړې لوستې دي. دوی له تاریخ او یا د ا خ د ګ له لاسوندو سره هېڅ اشنا نه دي. سترستین د دې څرګندولو هڅه کوله چې په دې بڼه د ګوند لویوالی ګوند ته زیان رسوي او

له وجی یې نه یوازې په ګوند کې دسپلين مخ په خرابېدو دی بلکې په هېواد کې ګوند خپل نفوذ له لاسه ورکوي.
کله يې چې د څانګې له مشر سره خبرې په ياد شوې، سترستين خپه شو. جنرال پولونېک په منځني ختيځ کې هېڅ تجربه نه لرله. ده مخکې په امريکا کې دنده ترسره کوله. سره له دې چې په منځني ختيځ کې يې تجربه نه لرله، پولونېک په خپلو خبرو کې ولېږي ته داسې سبق ورکړ: «د شوروي څارګرې ادارې د اصلي موخو په ترلاسه کولو کې ته بايد ډېر زيار وباسې د دې پر ځای چې په افغانستان کې د شوروي سلاکارانو په هکله غلطو ارزونو ته پام واړوې. د افغانستان کورنۍ ستونزې موږ ته دومره مهمې نه دي. په دغسې وضعيت کې به دغه ستونزې زموږ د سلاکارانو په هراړخيزو مرستو په بريا حل شي. په کابل کې د مېشتې څانګې په پرتله زموږ استازې څانګه چې په نېغه بڼه له افغان څارګرې ادارې سره کار کوي د افغانستان د کورنيو ستونزو په هکله د مالوماتو د راټولو لپاره په خورا ښه موقف کې ده. د کې جي بي عملياتي مامورين، په تېره بيا ته پخپله بايد د اصلي دوښمن او چين پر ضد کړنو ته پام واړوې. زه تا ته دا سپارښتنه کوم چې کله بېرته کابل ته لاړې، يوه مېلمستيا جوړه کړه او هغه د خپلې کچې ډيپلوماتانو، اتشې او د سفارتونو د درېيم پوړ، مامورينو ته بلنه ورکړه. د دغسې مېلمستاو لپاره بسپنه ځانګړې شوې ده. په مېلمستيا کې يو داسې نوښت رامنځته کړه چې د ځوانو ډيپلوماتانو يو کلپ جوړ کړې. په دې توګه له لوېديځ ډيپلوماتانو سره اړيکې ډېرې کړه. موږ د امريکايانو، د ناتو غړو او نورو هېوادونو په منځ کی اجنټانو ته ډېره اړتيا لرو. که تا وکولای شول چې يو امريکايي او يا چينايي اجنټ وګمارې، زه د يو انعام ژمنه درسره کوم.»
کله چې په خوندي توګه کابل ته ورسېد، سترستين سمدلاسه مېشتې څانګې ته لاړ. اوسادچي په بهرنيو چارو وزارت او
لومړي رياست کې د غونډو او ليدنو کتنو په هکله د سترستين راپور ته په ځير غوږ ونيو او بيا يې وويل: «داسې برېښي چې په مسکو کې زموږ ملګري د افغان سناريو په مهمو پايلو نه پوهېږي، دوی د يوې خوشاله پايلې تمه لري، خو زه وېرېږم چې پرځای به يې يوه غميزه ورپه برخه شي.» خو اوسادچي د پولونېک د هغه پرېکړې په هکله خوبمن شو چې سترستين د لوېديځوال او چينايي اجنټ موندلو ته پام واړوي؛ نو سمدلاسه يې يو تيلفون وکړ چې د ځوانو ډيپلوماتانو يوې مېلمستيا ته بسپنه ځانګړې شي. اوسادچي دغه وړانديز هم وکړ چې د شوروي سفارت «پاکو» مامورينو او د تاس ورځپاڼې خبرياالانو ته هم بلنه ورکړل شي. بيا يې له سترستين څخه وغوښتل چې له کېم Kim سره وګوري. کېم په دې ورستيو کې د دوی اجنټ شوی و او له هغې انقلاب ضد ډلې سره يې نېغې اړيکې لرلې چې په افغان پوځ کې فعاله وه.

سترستین ته دغه دنده په ډېر ښه وخت کې وسپارل شوه. د اگست په لومړیو کې په ۲٦ پراشوټې غونډ او په ۴۴۴ کماندو کنډک کې چې په بالاحصار کې وو پاځون وشو. دغه پاځون یوازې له دې کبله وځپل شو چې لوی درستیز یعقوب ډېرو بې رحمو کړنو ته مخ کړ. په دغو عملیاتو کې مرگ ژوبله ډېره وه. دغه پاځون د شوروي سفارت پر دیپلوماتانو او مامورینو او په کابل کې پر مېشتو شوروي سلاکارانو او کارپوهانو د ټکان تر کچې لوی اغېز وکړ. د انقلاب پر ضد ټول مخکني پاځونونه له کابل څخه لیرې شوي وو، خو د بالاحصار کلا نېږدې وه، د شوروي له سفارت څخه یوازې درې کیلومتره لیرې وه. شورویان پوهېدل چې په بالاحصار کې افغانان عادي پلی ځواک نه بلکې داسې غوره کماندو وو چې پرته له یو ډز څخه یې کولای شول چې سفارت او نورو اړوندو ځایونو کې ټول ووژني.
اوسادچي د اگست په شلمه سترستین خپل دفتر ته ور وغوښت. لومړی یې له مرکز څخه یو تېلگراف سترستین ته وروښود. په دغه تېلگراف کې د سترستین ستاینه شوې وه چې له اجنټ کېم څخه یې داسې مالومات ترلاسه کړي وو چې په پوځ کې یې د اسلامي بنسټپالو د پټو کړنو په هکله رڼا اچولې وه. ورپسې یې په خوشاله موسکا د سترستین د روغتیا او اوسنی عملیاتي پلانونو په هکله پوښتنه وکړه. لکه څنگه چې خبرې اوږدې شوې، سترستین پوه شو چې اوسادچي د یوې مهمې خبرې راپورته کولو ته تابیا نیسي.
اوسادچي بلاخره ورته وویل چې یوه ورځ مخکې، د افغانستان د خپلواکۍ د نمانځنې په بهیر کې د افغانستان د مخابراتو وزیر، گلاب زوی د شوروي سفارت یو «پاک» دیپلومات ته ورنېږدې شو او هیله یې څرگنده کړه چې د شوروي له سفیر سره یوه پټه غونډه ولري. گلاب زوی له شوروي ملگري څخه وغوښتل چې په هېڅ وجه باید نور افغانان د ده له غوښتنې خبر نشي. کله چې پوزانوف خبر شو، ده په رټه توگه وویل چې نه غواړي له گلاب زوی سره وگوري. پوزانوف په حقه و، ولې باید د شوروي یو رسمي استازی یا د شوروي دیپلوماتیکي ماموریت مشر خپلې اړیکې له تره کي او امین سره له دې کبله خرابې کړي چې پرته له دې چې دوی خبر کړي، له یو دربیمگړي سره پټه لیدنه وکړي، خو سفیر، اوسادچي او ایوانوف ته بلنه ورکړه او دوی یې په دې هکله خبر کړل. دواړه څارگر افسران سملاسي پوه شول چې گلاب زوی غواړي د خلق په لوړ پوړ کې د بېلتون په هکله کرېملین خبر کړي. دواړو افسرانو دې ته د یو داسې فرصت په توگه وکتل چې د خلقیانو تر منځ د راغلي درز په هکله په جزیاتو پوه شي؛ نو د گلاب زوی غوښتنه ومنل شوه.
سترستین پوه شو چې دی له گلاب زوی سره د لیدنې کتنې لپاره غوره شوی دی. ده پرته له دې چې خواشینی شي له
ځان سره وویل: «نو دا له چینایانو او امریکایانو سره زما د کار پای دی.» اوسادچي بلاخره له سترستین سره د ده د غونډې موخه څرگنده کړه: «ولېږي، ته باید ژرترژره له گلاب زوی سره وگورې. دغه یې د کور د
www.samsoor.com

تیلفون شمېره ده.» اوسادچي په یوه ټوټه کاغذ کې د پنځو عددو یوه شمېره پر مېز کېښوده. بیا یې وویل: «همدا نن شپه زنګ ورته ووهه،
هر څومره چې ناوخته وي، همدومره به ښه وي، خو نه په نیمه شپه کې.»
سترستین ورته وویل: «ویلیور ګوریلوویچ، زه به خامخا هغه څه وکړم چې تاسې یې غوښتنه کوی، خو زه د ارامۍ ننګېرنه (احساس) نه کوم، ګلاب زوی یو وزیر دی، زه څوک یم؟ یوازې د سفارت درېیم سکرتر.»
اوسادچي وویل: «دا ښه ده. که پخپله سفیر یا بوریس سیمیونوویچ او یا حتی زه، چې په سفارت کې یو سلاکار یم، له
ګلاب زوی سره وګورو، دغه غونډه باید په دیپلوماتیکه کچه وي او د هېواد د مشرانو تر شا به د سیاسي خبرو اترو هڅه وانګېرل شي، خو ستا په هکله به ووایم چې له ګلاب زوی سره د سفارت یو ځوان درېیم سکرتر د لیدنې کتنې په هکله خبره بېله ده. که څوک ستاسې په غونډه خبر هم شي، دا به ستا او ګلاب زوی بې پروا نوښت وګڼل شي، یو داسې غلط پوهاوی چې د بحث ارزښت نه لري.»
اوسادچي خپله ککرۍ ومونښله او له یوې چوپتیا وروسته یې وویل: «ته پوهېږې چې موږ په دې ډاډ نه لرو چې ګلاب زوی به د خپل نیت په هکله چې له موږ سره وګوري، درېیم کس نه وي خبر کړی؛ نو ځکه دلته د ناکامۍ شونتیا ډېره ده. موږ غواړو چې دغسې غونډې ته ستا په لېږنه د سیاسي رسوایۍ شونتیا لږ کړو. دا څرګنده ده چې په دغسې حالت کې ته ډېر په خطر کې یې، که رسوایي رامنځته شوه، د هر څه پړه به پر تا واچول شي، خو څه باید وکړو؟ یو څوک باید دغه غونډې ته لاړ شي، خو ته باید په سفارت کې د خپلې څوکۍ په هکله ګلاب زوی ته څه ونه وایې. دا ورته ویلی شې چې د خپل مشر په دستور دغه کار کوې، خو دی پرېږده چې پخپله ستا د مشر په هکله سوچ وکړي. پرته له هغه موضوعګانو څخه چې ګلاب زوی غواړي خبرې پرې وکړي، له نورو خبرو ډډه وکړه. خپل اند مه څرګندوه او کوم ضمانت ورنه کړې، خو یوه ژمنه ورسره کولای شې: هر څه چې دی وایي،ټکی په ټکی به د شوروي تر ټولو لوړ مشرتابه ته ورسول شي. پرته له بوریس سیمیونوویچ څخه بل چا ته د دغه غونډې په هکله څه مه وایه. د غونډې ځای او اړوند چارې یې ستا په خپله غاړه دي. په کابل کې بلد یې، دا به تاته دومره سخت کار نه وي. ښه به وي چې ګلاب زوی خپل کور ته بوځې. هڅه وکړه چې خوښ یې شې - پر ځان باورمن او په عین وخت کې مهربان اوسه او باور یې ترلاسه کړه. هو رېښتیا، ګلاب زوی له تا څخه څلور کاله کشر دی. که هرڅه سم مخ ته لاړل، د راتلونکو هغو پټو اړیکو په هکله هم خبرې ورسره وکړه چې موږ یې د جوړولو توان لرو. زما په اند ته به دغه کار ښه ترسره کړې.»
کله یې چې خبرې بشپړې کړې، اوسادچي له خپل ساقي ځای څخه فرانسوي کنیاک او په یوې لرګینې پاکستانۍ کاسه ګۍ کې چې اج (ivory) پکې کارول شوي وو کېښتې، ممیز او دانې راوخیستې.

دلته سترستين يوه اړونده پوښتنه وکړه: «ويليور گورېلوويچ، څه فکر کوې چې ولې گلاب زوی د يوې ليدنې غوښتنه کړې؟» اوسادچي ورته وويل: «زه يې نه درته ووايم، خو هيله من يم چې غلط پوه نشې. زه نه غواړم چې له گلاب زوی سره د ليدنې د موضوع په هکله مخکې ترمخکې تا ته ووايم ځکه چې زما په اند نه يوازې هغه خبرې چې له گلاب زوی سره په غونډه کې کېږي موږ ته مهمې دي بلکې ستا ناڅاپي او سملاسي غبرگونونه هم د ارزښت وړ دي. هڅه وکړه چې د وزير په مزاج او د ننگېرنو په څرنگتياو يې پوه شې. ولېږي، اوس راځه چې د بريا په هيله يې وڅښو. ښه کنياک د ونگې ښه ښه کوي، په رگونو کې د ويني له بهير، هضم او اوږد عمر سره مرسته کوي.» دوی کنياک وڅښل او وريسې يې مميز او دانې وخوړې. سترستين کافي ونه څښله او د بهر په لور يې گامونه واخيستل. کله يې چې د وره لاستی کش کړ، اوسادچي په خپگان ورته وويل: «ما ته کله کله داسې برېښي لکه موږ چې خپلو غاړو ته زندی اچوو.» ولېري بېرته اوسادچي ته مخ واړاوه او داسې ځواب يې ورکړ: « مننه، دا په ريښتيا ښه ډومارونکې خبره ښکاري.»

د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو کې د نارامۍ په هکله تورن جنرال زپلتين ډېر تېرا (وارخطا) و. دی په ځانگړې توگه په وسلوالو ځواکونو کې پاڅونونو اندېښمن کړی و. دغه جنرال يو ريښتينی کمونست او يو لېوال مارکسېت - لېنينېست و چې د کمونستي نظريې په بريالی بنې يې باور درلود؛ نو ځکه دا ورته يوه لويه پوښتنه وه چې په افغانستان کې ولې انقلابي پرمختگ په ټپه ولاړ دی. عادي افغانانو ته د ازادۍ ژمنه وشوه، ښځې بلاخره اوس خپلې وېروونکې ډبرپېرې (stoneage) بورقې ليرې کولای شي، بزگرانو ته ځمکې ورکول کېږي او په خپله خوښه پکې کار کولای شي او ټول ماشومان زده کړې کولای شي. دغه هېواد کولای شي له فيوډاليزم څخه سوسياليزم ته نېغ ټوپ واچوي - او يوه داسې ايډياله ټولنه پکې جوړه شي چې څبېښاک پکې نه وي او په ټوله نړۍ کې تر ټولو عادله وي. دا ښکاره ده چې د داسې په زړه پورې ټولنې په لاره کې بايد ډېرې ستونزې له منځه يووړل شي. ډېرو دوښمنانو ته - فيوډالانو، د ځمکو شتمنو خاوندانو، ارتجاعي ديني مشرانو، او د بورژوازۍ هغه مخورو استازو ته بايد ماته ورکړل شي چې د انقلابي بدلونونو پر ضد ولاړ دي. جنرال ته دا هم څرگنده وه چې انقلاب په بهر کې هم دوښمنان لرل. دوی اخواني غدييو ته وسلې ورکولې چې په افغانستان کې جگړې وکړي، خو زپلتين په دې نه پوهېده چې ولې افغان پوځيان د انقلابي اداري پر ضد پاڅونونه کوي. ولې په هرات، جلال اباد او کنړ کې لوی

www.samsoor.com

پاڅونونه وشول. هغه خلکو چې مخ لوڅې ښځې په کاڼو ویشتلې، هغه خلکو چې د ا خ د گ ولایتي کمېټې سوځولې او گوندې فعالان یې ووژل د داود جنرالان یا فیوډالان نه وو. مخالفین عادي بزگران، هېوال او پوځیان وو - داسې خلک چې په نوم یې انقلاب ترسره شوی و. ولې داسې څه پېښېدل؟
لکه د خپلې کړۍ هر غړی - شوروي سلاکاران او افغانان - زپټلین هم د انقلاب ضد ډلې «غدۍ» او مخالفین «شوکماران» بلل. داسې خلکو ته چې د ازادۍ او پرمختګ پر ضد یې جګړې کولې، داسې خلکو ته چې ګونګتیا او تیارې یې بېرته راوستلې بل کوم نوم ورکړل شوی وی؟ د جنرال لپاره داسې خلک ریښتیني شوکماران وو.
یوه ورځ یې چې د افغانستان په ختیځ کې یون کاوه، دغه جنرال له یو داسې سړي سره خبرې وکړې چې د ده باور یې ولړزاوه. دغه سړی د کنړ له چوپړۍ څخه یو سنګین جګړن و. دغه جګړن د پلي غونډ قوماندان، عبدالروف، زپټلین ته ورپېژندلی و چې په پوځ کې د یوه ممکنه سیاسي افسر په توګه وګمارل شي. عبدالروف ویلي وو چې دغه جګړن چې ده یې سپارښتنه کړې تراوسه د ګوند غړی نه دی، خو یو لېوال لوستونکی، د لوړو زدکړو خاوند او اخلاصمن سړی دی. عبدالروف هم د ګوند غړی نه و که څه هم په کابل کې زپلتین ته ویل شوي وو چې د ګوند خواخوږی دی او کلک ایډیالوژیک دریځ لري.
د هغه څه پر بنسټ چې زپلتین ته د دغه جګړن په هکله ویل شوي وو، زپلتین وپتېیله چې له ده سره به یې خبرې سوچه تشریفاتي وي، خو د دوی خبرې چې د ژوند لیک په هکله په پوښتنو پیل شوې، داسې لوري ته واوښتې چې تمه یې نه کېده. د خبرو لوری هغه وخت واوښت چې جنرال له نوموړي څخه یوه بې غرضه پوښتنه وکړه: «د کنړ په ولایت کې څومره فعالې غدۍ شته؟» جګړن چې مخکې یې مخامخ جنرال ته کتل سترګې ښکته ونیولې او په سوچ کې لاړ.
جنرال بیا د ځواب لپاره وهڅولو: «ښه، لږترلږه په اټکلیزه توګه راته ووایه او د مهمو شوکمارانو نومونه راته واخله.» جګړن بلاخره په کرار غږ وویل: «موږ غدۍ نه لرو. شوکماران هم نه لرو. چې واضح یی ووایم، غله او شوکماران تل شته دي، خو موږ د دوی پر ضد جګړه نه کوو، دا د پولیسو کار دی.»
جنرال ژباړن ته رډ وکتل. ده فکر وکړ چې دغه ځواب د ژباړن د نه وړتیا له کبله و، خو ژباړن په دې ورستیو کې د بهرنیو ژبو له پوځي انستېتیوت څخه فارغ شوی و او ویې ویل چې ژباړه یې سمه وه.
جنرال بیا خپلې څرګندونې په روښانه بڼه وکړې: «کله چې زه غدۍ یادوم، مطلب مې د انقلاب ضد وسلوالې ډلې دي. هغه ډلې چې د قانوني حکومت پرضد جګړه کوي.» د جګړن ونګې د ده په تن کې د ترینګلتیا څرګندونه کوله. داسې برېښېدل چې ده د ځواب په داسې غوراویو سوچ کاوه چې ایا جنرال ته سپینې خبرې وکړي او یا داسې ځواب ورکړي چې جنرال یې تمه لري. جګړن وارخطا ښکارېده او جنرال ته یې نه کتل. بیا یې وویل: «ما اورېدلي چې له پنځو زرو څخه ډېر داسې خلک په دې ولایت کې شته.»
جنرال په خانتما مهربانۍ ځواب ورکړ: «ته خامخا مبالغه کوې. دا مالومات دې له کومه کړي؟» جګړن

داسې وبرېښېد چې سپينې خبرې يې غوره کړې، ده وويل: «د څارګرې اداري خلکو راته وويل، خو زما په اند له دې څخه هم ډېر دي؛ نو لکه څنګه چې تاسې ښايي پوه شئ، ټولو ته يې شوکماران نه شو ويلی، په يو کوچني ولايت کې پنځه زره شوکماران له کچې وتلي ډېر دي.» زيتلين داسې وننګېرل لکه سر يې چې پر دېوال لګېدلی وي. تر دغې شېبې پورې، نه په کابل او نه په هغو ولايتونو کې چې دی تللی و، هېڅ‌چا د انقلاب ضد په غليمې او مجرمې بڼې اړنګ نه و څرګند کړی. د مخالفينو په هکله په کرکه خبرې کېدې او دوی په سپکو نومونو يادېدل. د دوی د ظلمونو په هکله به په ډېر ناټ کيسې ويل کېدې او په اړه يې ويل کېدل چې خپل ضميرونه يې پر بهرنيانو پلورلي. زيلتين هڅه کوله چې ارام پاتې شي او ويې پوښتل: «که د پوښتنې اجازه لرم، غواړم وپوښتم چې که دوی دوښمنان نه دي، نو څوک دي؟ دوی د غويي انقلاب پر ضد بغاوت وکړ حال دا چې دغه انقلاب افغانستان ته ازادي راوستله او ستا وطنوالو ته يې د ښه ژوند هيلې وزېږولې» جګړن سمدستي ځواب ورکړ: «زه د ازادۍ پر ضد نه يم. د نوي حکومت ډېر پلانونه مې خوښ دي. زما هغه پلان خوښ دی چې هېواد له ډېرپېر، بېوزلۍ او شاته پاتېوالي څخه راوباسي. دا ټول بايد ډېر د وخته شوي واى. خو دغو موخو ته د رسېدو بېلابېلې لارې شته. د نوي رژيم لاره ښايي هر چاته مناسبه ښکاره نشي.» جګړن د خپلو خبرو حساسيت ته پام و. زيلتين په دې هيله د خبرو موضوع بدله کړه چې جګړن ته د ارامۍ ننګېرنه (احساس) ورکړي: «ته د ټولنيزپوړ د پرځنګ (مبارزې) له تيورۍ سره اشنا يې؟»

جګړن: په عمومي *توګه، هو.*

جنرال: *اجازه راکړه چې درته ووايم چې اوس موږ په افغانستان کې د ځېښونکو او ځېښېدونکو، د فيوډالانو او بزګرانو او د بورژوازانو او کارګر پوړ تر منځ د رېښتينې جګړې شاهدان يوو. د ټولنيز پوړ پرځنګ يو تل پاتې بهير دی. دغه پرځنګ هغه وخت رامنځته کېږي چې ټولنيز انډول نشته وي او تر هغه وخت پورې دوام کوي چې ځينې خلک د نورو په بيه ژوند و نه کړي. په شوروي اتحاد کې ټولنيز پرځنګ نشته ځکه چې موږ داسې يو عادله ټولنه جوړه کړې ده چې هر څوک له مساوي فرصتونو څخه خوند اخلي. موږ خانان او پانګوال نه لرو. هېڅوک ځپل شوي نه دي. ټول وګړي د هېواد د ښېګڼې لپاره کار کوي او له دولت څخه د اړتيا وړ توکي ترلاسه کوي.*

*جګړن: زه هېڅ کله ستاسې هېواد ته نه يم تللی، خو ما يې په هکله ډېر اوربدلي او هغو ملګرو مې چې هلته زدکړې کړې دي، ښې کيسې راته کړې دي. پر ما باور وکړئ زه شورويانو ته درناوی لرم.*

*جنرال: سمه ده، خو اجازه راکړه چې زه خپلې خبرې بشپړې کړم. د وروستي انقلاب له کبله، موږ د افغانستان په دغو*

www.samsoor.com

*ورځو کې د ټولنيزپوړ پرځنګ د ډېرښت شاهدان يوو. د پوځي ځواکونو موخې - ستا موخې - له انقلاب څخه دفاع او د دوښمنانو نابودل دي.*

افغان جګړن پوه شو چې شوروي جنرال يې ځای پرځای نه اعداموي او دغه جنرال يوازې غواړي يو جدي بحث وکړي؛ نو زړور کېده. ده په کراره وويل: «ستونزه دا ده چې زه په شخصي توګه ډېر هغه خلک پېژنم چې تاسې يې شوکماران بولی. دوی له فيوډالانو او پانګوالو سره هېڅ تړاو نه لري. له ځينو سره يې زه په يو ښوونځي کې وم، ځينې يې زما ګاونډيان وو، دوی عادي وګړي دي او ځينې يې د ځېښنل شوي پوړ ښې بېلګې دي. زه قسم کوم چې پر دوی هم خپل پلرنی هېواد ګران دی او د هېواد د ښېګڼې هيله کوي. دوی يوازې بله لاره خپله کړې.»

جنرال په پارېدلي ښه وويل: «دا کومه لاره ده؟ په دغه لاره د وينو سيلاب روان دی، دوی ځناورو دي، نه انسانان.»

جګړن ورته وويل: «خو ملګری جنرال، زه غواړم له تاسې څخه يوه پوښتنه وکړم. دغه ټولې خبرې له ټولنيزپوړ پرځنګ سره څه تړاو لري؟ ښايي ښه به وي چې دې ته کورنۍ جګړه وويل شي، دا هغه جګړه ده چې د ټولنې يوه برخه له بلې سره جګړه کوي. ښايي دا به ښه وي چې تاسې او موږ پوه شو چې څه شی دوی له يو او بل څخه بېلوي، څه شی دوی د يو او بل دوښمنان کوي. که د ظلم يادونه وکړو، زه په دې ښه پوهېږم چې دواړو خواو ظلمونه کړي.»

جنرال له ځان سره وويل: «دغه جګړن ساده سړی نه دی. بې اړنګه، دی پوځي سياسي ښوونځي ته ورغلی ښوونکی ته وړ کس نه دی ځکه چې له ايډيالوژيکي اړخه دې ته چمتو نه دی. د يوې لنډې شېبې لپاره جنرال ته يو هځوونکی رڅ (ميل) ورغی چې زنګ ووهي، ځارګر افسران راوغواړي او د ده چاره وکړي. دی به پرته له نورو خبرو وولي، خو پخپله زيتلين دغه جګړن وهڅولو چې سپينې خبرې وکړي او دی پخپله د غلط پوهاوي لامل و. بيا يې وننګېرل چې دا د ده دنده ده چې د دغه جګړن اند روښانه کړي او د تېروتنو په سمولو کې مرسته ورسره وکړي.

زيتلين ورته وويل: «که ستا د ټولنيزپوړ پرځنګ ويي نه خوښېږي، راځه چې په ايډيالوژيکي پرځنګ خبرې وکړو. زه هيله من يم چې ته يې شتون ومنې. د ا خ د ګ د يوې داسې اصلاحپالې ستراتيژۍ اعلان وکړ چې د ډېرى وګړو د هيلو انګازې لري. بلې خوا ته ارتجاعي ايډيالوژي پرته ده چې ارتجاعي ځواکونه يې ملاتړ کوي. هو، زه منم چې ځينې خلک چې د دوښمن په پروپاګند تېروتل، په ارتجاعي خلکو پسې لاړل. د اکتوبر له انقلاب څخه وروسته، دې ته ورته پېښې په شوروي اتحاد کې هم وشوې. سپين خوځښت ځينې خلک وغولول او د خپلو موخو لپاره يې له ځان سره ودرول، خو بريا د بلشويکانو شوه ځکه چې دوی د اصلاحپالې ايډيالوژۍ استازولي کوله.»

جګړن له جنرال سره همغږی و. ده وویل: «زه پوهېږم، ما يې په هکله لوستي، خو هيله کوم چې اوس ما ته غوږ شي او له خپلې عادي عقيدې څخه د لږ ووځې. کله کله د چا د عقيدې تر شا حقيقت وي او کله کله عقيده د غلط پوهاوي لامل ګرځي. افغانستان روسيه نه دی. هغه ګامونه چې په شوروي کې اخيستل شوي وو دلته نشي پلي کېدای. حتی موږ چې دلته زېږېدلي يوو کله کله نشو کولی د خپل ژوند پر پېچلتياو پوه شو. دلته بېلابېلې توکوميزې ډلې شته چې يو او بل ته اړې نه دي. دوی خپل تاريخونه، دودونه، اندونه او ارزښتونه لري. حتی پخپله د ډلو د ننه يووالی نشته. راځه چې زه خپل قوم د بېلګې په توګه ياد کړم، زما په قوم کې هر ټبر بېلې هيلې، غوښتنې او ګټې لري. دې ته تاسې پام کړی؟ نه، موږ تاسې ته يو ملت يو. تاسې له دغو خلکو سره د ګوند د شعارونو په ژبه خبرې کوی او دوی ته دغسې خبرې روښانه نه دي. زموږ ژوند ډېر نارينه سالار دی، موږ هغو دودونو ته ژمن يوو چې زموږ نيکونو راته پرېښې دي. تاسې دغو دودونو ته د منځنيو پېړيو د ګونګتيا نوم ورکړی او په دې توګه تاسې زموږ د ژوند بنسټ ننګولی. کېدای شي چې تاسې د ډېرو شيانو تمه نه لرله چې اوس يې په افغانستان کې وينی او دا به حتی وحشي درته ښکاره شي، خو موږ پرېږدئ چې هر څه پخپله سم کړو. افغانان په هر هغه څه کې چې دوی ته سپېڅلي دي هېڅ راز لاسوهنه نه زغمي. په پای که به ترټولو مهم دليل درته وړاندې کړم. ډېره شونې ده چې ته به پر هغه څه چې زه يې اوس غواړم ووايم غلط پوه شې. ته له ريښتنی خدای څخه منکر يې atheist، لېنن ستا خدای دی او هر دين تا ته ارتجاعي ښکاري. زه نه غواړم په دې هکله له تاسره بحث وکړم، خو دا يو حقيقت دی چې زموږ ټول وګړي، له يو څو استثناو سره، ډېر مذهبي دي. موږ ته له زېږندې څخه اسلام ته د ژور درناوي سبق راکول کېږي. زه پوهېږم چې حتی ډېر ګوندیان په پټه لمونځ کوي. پوهېږې چې ملګری تره کی څه وايي؟ دی وايي چې په درېيو کلونو کې به جوماتونه تش وي. د دين داسې ځنګ ته وهل او کله کله له دين سره په ښکاره د دوښمنی چلند دغه حکومت په بشپړ ډول ډېری ولس ته د نه منلو وړ ګرځوي. ډېره شونې ده چې تاسې ته څرګنده وي چې ته - شورويان او په کابل کې زموږ مشران- د کافر په نوم يادېږي او داسې نوم دومره بې غرضه نه دی لکه څنګه چې تاسې ته ښکاري. راتلونکی ګام به د تاسو ټولو پرضد د جهاد اعلان وي. بيا نه امين او نه تره کی د جهاد پر وړاندې دربدلی شي.»

زېلتين ترې وپوښتل: «حتی که شوروي اتحاد په فعاله توګه د وسلو، مهماتو او کارپوه سلاکارانو مرستې هم ورسره وکړي؟»

جګړن په کلک باور وويل: «بې اړنګه، حتی که تاسې پوځي مداخله هم وکړی. څوک افغانانو ته ماته نشي ورکولی. دوی يې وژلی شي ... يا يوه معامله ورسره کولی شي او ښې پيسې بايد ورکړل شي.»

www.samsoor.com

بحث مخ په پای ته رسېدو و. زپلتین يې په دوام کې ګټه نه لیده ځکه د ده په اند د پښتون جګړن د دلیلونو په پرتله د ده هغوی کمزوري وو. زپتلین په خپل ژوند کې د لومړي ځل لپاره له داسې چا سره خبرې وکړې چې ځان يې پر ده نه ګرانولو او داسې يې ونښوده چې د ټولنیزپوړ د پرځنګ په هکله د زپتلین هره خبره یوه وحې ده. که څه هم د دوی د رتبو او عمر ترمنځ توپیر شته و، خو بحث يې داسې ترسره کړ لکه دوی چې په کچو برابر وي. دغه جګړن د زپتلین د موخو د سموالي په اړه د ده ایډیالوژیکي باورونه او عقیدې ونه لړزولې، خو له دغه بحث څخه وروسته د جنرال د روح ارامتیا د ډېر وخت لپاره اغېزمنه وه.

افغان د یو ملګري یا ګاونډي په څېر په موسکا له جنرال سره مخه ښه وکړه او په شرمناکه بڼه يې جنرال ته وویل: «ښښنه غواړم چې د یو لاس لاندي په څېر مې چلند و نه کړ. زه پوه شوم چې ته یو ښه او صادق سړی يې. مخکې له دې چې مخه ښه درسره وکړم، غواړم یوه مشوره درکړم. هېڅ کله زما په وطنوالو باور مه کوه حتی که دوی په ټولو بزرګانو قسم هم وکړي. دلته داسې خبرې هېڅ مانا نه لري.»

د زپلتین سمدلاسه هغه خبره ور په یاد شوه چې د دفاع وزیر قادر به ورته کوله. قادر اوس چېرته دی؟ په زندان کې؟ او یا شپېږ فوټه له ځمکې لاندې په ورستېدو دی؟

ماښام د چای په سر د غونډ قوماندان له زپلتین څخه د جګړن په هکله وپوښتل چې د ده په اند څنګه سړی و.

زپلتین، چې هڅه کوله له خواب څخه ځان تېر کړي، داسې وویل: «پوه سړی دی.» عبدالروف په ډېره خواخوږۍ وویل: «زه ډاډ درکوم چې زما په غونډ کې ټول افسران او عسکر چمتو دي چې د انقلاب د بریا لپاره خپل ژوند قربان کړي.»

کله چې بېرته کابل ته لاړ، جنرال زپلتین ته وویل شول چې د ده له تګ څخه وروسته، د اسمار په چوڼۍ کې پاڅون وشو او له سلو کسانو څخه ډېر د حکومت خواخوږي افسران او عسکر ووژل شول. کابو ټول پلی غونډ مخالفینو ته واوښت. وروسته د کنړ له نهمې غرنۍ فرقې څخه هم یوه ډله له مخالفینو سره یوځای شوه. د دغه پاڅون مشري د غونډ قوماندان، عبدالروف کوله.

له دې وروسته زپلتین هېڅ کله د جګړن په هکله څه وانه اورېدل، کېدای شي دی هم غرونو ته له مخالفینو سره تللی وي، یا ووژل شوی وي او یا له پولې هاخوا د مهاجر په توګه پاکستان ته تللی وي. هر څه شوني وو.

د ماښام په ترڅ کې له مېشت مشر سره له تېري غونډې څخه وروسته، سترستين له خپلې مېرمنې او د کابل پولتخنيک له استادانو ملګرو سره د کابل په ښار کې د شيش کباب يو رستورانت ته لاړل.د روژې مياشت وه او د تيارې په خوړېدو سره افغانانو له خپلې ځانګړې ډوډۍ څخه خوند اخيست. له سترستين سره مل کسانو داسې نرم افغان کباب خوړلو چې د انګورو غوره ورباندې شنل شوې وه او د انارو اوبه پرې اچول شوې وې. په دغه شېبه کې سترستين بهر ووت چې د تيلفون له يوې غرفې څخه ګلاب زوی ته زنګ ووهي. پخپله وزير غوږی پورته کړه، ولېري د ماشومانو خندا او د يوې ښځې خبرې چې د ماشومانو د کرارولو هڅه يې کوله اورېدلی شوی. ده په ډېره ګونګه ژبه وزير ته هغه خبرې ور په ياد کړې چې په پرونۍ مېلمستيا کې يې له يو سور سرې شوروي ډيپلومات سره کړې وې. بيا يې د کابل په ښار کې يو رستورانت ته نېږدې سبا ماښام په ۷:۳۰ بجو د ليدو وړانديز ورته وکړ. ګلاب زوی وپوښتل چې ايا ولېري افغان دی. ولېري ورته وويل: «نه، زه د هغه چا نېږدې ملګری يم چې تا پرون خبرې ورسره وکړې.» وزير ځواب ورکړ: «زه به درشم.»

سبا ته سترستين د لومړنې ښوونځي د ښوونکي په څېر جامې اغوستې وې او د ليدو ځای ته روان شو. ده يو زوړ پتلون او کوبای ته ورته يو ګونځې کميس اغوستی او ارزانبيه زاړه بوټ يې په پښو وو، خو ګرانبيه د لمر عينکې يې له داسې ښې سره نه جوړېدې. خپل خړ والګا يې د ليدو ځای ته څېرمه ودراوه. په واټ کې يې کرار ګامونه اخيستل او ګلاب زوی ته تم و. څو دقيقې وروسته يو کمرنګه ټيويټا کورولا د واټ په غاړه کې ودرېد. يو سړی چې په ونه او برېتو کې وزير ته ورته و، له ګاډي څخه ښکته شو. کله چې ګاډی بېرته لاړ، ولېري په چټکۍ دغه سړي ته ورنېږدې شو او ويې ويل: «سلام ښاغلی وزير، رستورانت ته به نه ځو ځکه چې ښايي هر سړی تاسې وپېژني. راځه چې زما کور ته لاړ شو او ټولې خبرې هلته وکړو.» ګلاب زوی لږ نارامه او حتی اړنګمن (شکمن) ښکاره شو. ده له ولېري څخه هممغه پوښتنه وکړه: «ته افغان يې؟» ولېري لږ په غوسه ځواب ورکړ: «نه، ما درته وويل چې زه روسی يم. زه د شوروي په سفارت کې کار کوم، نوم مې ولېري دی، ما پسې راځه، ګاډي ته ننوځه او زما کور ته به لاړ شو.»

ګلاب زوی والګا ګاډي ته چې کړکيو يې پردې لرلې ننوت. سترستين شاوخوا وکتل څو ځان ډاډه کړي چې څوک يې نه څاري. بيا يې له وزير څخه وپوښتل چې ساتونکي يې بل څه فکر و نه کړي. ګلاب زوی په موسکا ځواب ورکړ چې دی د خپل ځان ساتونکی دی او زياته يې کړه: «دا مې تومانچه او دا مې پښتانه بريت - دوی مې پوره ساتنه کوي. هر ځای ته

چې ځې، لاړ شه. ما ته هغه څه مهم دي چې زه يې تا ته وايم، بله لاره نشته.»

www.samsoor.com

کله چې دوی کور ته ورسېدل، د ګلاب زوی زړه ټول شو. د سترستين مېرمنې د پلو او نورو روسي او افغان خوړو يوه
ښايسته ماښامنۍ جوړه کړې وه. يو بوتل سوړ ستاليچنايه Stolichnaya پر مېز ځرګند اېښودل شوی و. دوی يوه پياله د خپلې غونډې په وياړ وڅښله او ورپسې سترستين وزير ته ځرګنده کړه چې د خپل موقف له کبله سفير له پرتوکول څخه پرته له ليدنو کتنو ډډه کوي او هېڅ کله له چا سره پټې کتنې نه کوي؛ نو ځکه دی غوره شو چې له وزير سره اخلاصمنې اړونده خبرې وکړي. افغان وزير له سترستين څخه پوښتنه و نه کړه چې د کومې ادارې استازولي کوي او د سفارت په کومه څوکۍ کې کار کوي. نوموړی يوه شېبه داسې چوپ و لکه چې د خبرو پيل ته يې تابيا نيوله، بيا يې چټکې او له ننګېرنو ډکې خبرې پيل کړې: «ملګری ولېري، د غويي انقلاب په خطر کې دی، په افغانستان کې يوه کودتا په خوټېدو ده او تره کی له مرګ سره مخ دی. دغه توطيه سي ای اې جوړه کړې او د دوی اوږد مهاله اجنټ، حفيظ الله امين يې برخوال دی. دی يو لمسوونکی او افغانانو او د غويي انقلاب ته يو خاين سړی دی. دی غواړي چې ستاسې په سوېلي پولو کې افغانستان د امريکا پر اډې واړوي. همدغه موخې ته په پام سره، امين غواړي په افغانستان کې کورنۍ جګړه رامنځته کړي او خلک د ا خ د ګ او نورو اصلاحپالو ځواکونو پر ضد راپورته کړي. دی غواړي چې د شوروي اتحاد د ورورولۍ مرستې زيانمنې کړي او زموږ د هېوادونو تر منځ اوږدمهاله ملګرتيا له منځه يوسي؛ نو ځکه نه يوازې زموږ بلکې د ټول نړيوال کمونست خوځښت ګټو ته په پام سره، شوروي اتحاد بايد پوځي مداخله وکړي او لږترلږه يو يا دوه پراشوټي غونډونه راولېږي. دا به د امين پلان شنډ کړي ځکه که شوروي اتحاد پوځي مداخله وکړي، د امين ملاتړي پوځي قوماندانان به دې ته زړه ښه نه کړي چې د امين ننګه وکړي.» بيايې د مېز پر سر يوې کتابچې او قلم ته نغوته وکړه او په وزيري بڼه يې سترستين ته وويل: «څه چې درته ووايم، ليکه يې.»
د يو خبريال له لوري نه بلکې د انقلاب د يو اتل، د داسې يو وزير له لوري چې تره کي ته نېږدې و او د داسې چا له لوري چې انځور يې د ورځپاڼې لومړۍ پاڼه ښکلې کړې وه، د امين د کودتا د پلان په هکله داسې نېغې او روښانه ځرګندونې ولېري اوتر کړ او له ځان سره يې سوچ وکړ: «اه، ويليور ګوريلوويچ، ولې دې راته ونه ويل چې وزير څه غواړي ووايي. ته خامخا پوهېدلې يا لږترلږه د ګلاب زوی د خبرو په هکله دې انګېرنې لرلې. اوس به مې خوله د سا لپاره پراخه نه وای پرانيستې او دغو خبرو ته به چمتو وای.»
ولېري چې بېرته په سد شو، کتابچه يې راوخيسته، د ګلاب زوی د خبرو شيره يې ليکله او د ليکلو په ترڅ کې يې د خبرو دوام ته هم پام اړولی و. بيا يې له ګلاب زوی څخه وپوښتل: «ملګری ګلاب زوی، تاسې د يو ډېر مهم ټکي په هکله خبرې کوئ. د هېواد پر مشرانو باندې داسې تورونه معتبرو او مفصلو شواهدو ته اړتيا لري. تاسې څرنګه ثابتولی شئ چې ستاسې خبرې ريښتيا دي؟» ګلاب زوی ځواب ورکړ: «زه پوهېږم چې امين هره ورځ له ګڼ شمېر پوځي افسرانو سره ليدنې کوي. په دوی کې يو څو کسه زما ملګري او

پخواني همکاران هم شته. دوی ماته راغلل او د امين د خبرو په هکله يې ماته څرګندونې وکړې. ډېرې وخت امين هڅه کوي چې دوی قانع کړي چې تره کی بوډا، او ډېر ناروغ دی، ماغزه يې کار نه کوي او که دی د هېواد او ګوند په مشرۍ کې ګډون ته دوام ورکړي، انقلاب به زيانمن شي، خو زه په مسوليت وايم چې تره کی روغ او سېکمن دی، ډېر کار کوي، د دولت او ګوند بېلابېلو موضوعګانو ته په هوښياری د حل لارې مومي او د انقلاب د موخو په ترلاسه کولو کې اړم دی. د خلق د مشر په توګه په ده کې د کمزورۍ نښې نه ليدل کېږي، له بهرنيو ديپلوماتانو او خبرياﻻنو سره ډېرې وخت ګوري او له دوی څخه حتی يوه هم د ده پر وړتيا او توان اړنګ نه دی کړی. امين په ښکاره له افسرانو څخه مرسته غواړي چې تره کی د ګوند او دولت له مشرۍ څخه ليرې کړي. که تره کی په خپله خوښه څوکۍ پرېږدي، امين به يې په نسکورلو کې زړغيتوب و نه کړي. امين ځينو افسرانو او بيروکراتانو ته د ده د ملاتړ په بدل کې د پيسو وړانديز کړی. ده له پنځوسو زرو څخه نيولې تر يو لکو افغانيو پورې هغو خاينانو ته د ورکړې وړانديز کړی چې ده ته وفاداري څرګنده کړي او په مهمو شېبو
کې يې ملاتړ وکړي. دوی ته په پوځي رتبو کې د ترفيع او لوړو څوکيو ژمنه هم کوي.»
ولېري ورته وويل: «ملګری ګلاب زوی، کولای شې لږ واضح وواييې؟ زما مشران غواړي په حقيقتونو او شمېرو پوه شي. د
بېلګې په توګه، هغه خلک څه نومېږي چې امين يې د ګمارنې هڅې کوي؟ څومره پيسې يې دوی ته ورکړې دي؟ دوی ته يې ټيک څه وويل؟ په ليکلې بڼه يې د ژمنو غوښتنه کړې؟ په کومه برخه او کومو څوکيو کې دغه افسران چې له امين سره په معاملو اخته دي کار کوي؟ هغه افسران چې امين وېېرل چېرته دنده لري؟ په کومه پوځي ډله کې کار کوي او دغه ډلې به د تره کي د نسکورولو په هڅه کې د امين پوځي ملاتړ وکړي؟ د سياسي بېرو او د مرکزي کمېټې کوم غړي به د تره کي او امين تر منځ په شخړه کې د امين ملاتړ وکړي؟»
د ګلاب زوی توري سترګې نورې هم توري شوې او په سوچ کې لاړ. بيا يې وويل: «اوسمهال تا ته يو څو شواهد درکولای شم، خو په څو ورځو کې به ډېر مالومات درکړم.» ولېري قلم او کتابچه ګلاب زوی ته وروړاندې کړل او ترې ويې غوښتل: «کولای شې هغه پوښتنې چې موږ ته مهمې دي، دلته وليکې.»
وېليري يو ځل بيا پورتنۍ پوښتنې وکړې او وزير داسې وليکل: «څوک، څومره؟ ګرنۍ خبرې؟ ژمنې؟ څوکۍ؟ شمېرې؟ د سياسي بېرو غړي؟ د مرکزي کمېټې غړي؟ ...» ګلاب زوی دغه کاغذ په خپله د ورځنيو غونډو په کتابچه کې کېښود او ژمنه يې وکړه چې «زه به په راتلونکو څو ورځو کې دغه مالومات راغونډ کړم.»

ولېري: *کولای شې دغه مالومات په دري ژبه ولیکې ځو زه شوروي چاروا کو ته یو دومره هر اړخیز او مفصل راپور ولیکم ځومره چې شونی وي؟»*

ګلاب زوی: *زه به خپله هڅه وکړم، خو زه به له بل چا څخه مرسته وغواړم.*

ګلاب زوی داسې ښکاره شو چې د کوم شي ارزونې کوي.

ولېري: *دغه خلک د باور وړ دي؟ دوی به امین یا بل چاته زموږ د اړیکو په هکله څه ونه وايي؟*

ګلاب زوی: *دا شونې نه ده. دوی په بشپړه توګه باوري خلک دي. هېڅ‌چا ته به یو ویې هم ونه وايي.*

ولېري: *دوی څوک دي؟*

ګلاب زوی نه غوښتل چې د خپلو ملګرو نومونه واخلي.

ګلاب زوی: *دوی ډېر اعتباري خلک دي.*

ولېري: *کله چې راغونډ شوي مالومات لیکلې بڼې ته اړوې، دوی ته به څه وايې؟*

ګلاب زوی: *دا په ما پورې اړه لري. زه به هر څه دوی ته څرګند نه کړم او زه باور لرم چې دوی به پوښتنې و نه کړي.*

ولېري: *کولای شې چې سبا نه بل سبا ماته دغه مالومات راکړې، د اختر په ورځ؟*

ګلاب زوی: سمه ده. *دا د ایماندارو افغانانو لپاره د کال یوه ترټولو ښه او خوشاله رخصتي ده. په دغه ورځ به له تاسره زما لیدنه هم دومره سخته نه وي.*

ولېري: *ستا خوښه ده چې د غونډې ځای او نورې چارې د نن په څېر وي؟*

ګلاب زوی: *هو، سمه ده.*

ولېري: *نو د اګست په ۲۳مه د شنبې په ورځ د سهار په ۸:۱۰ بجو به د کابل سیند پله ته څېرمه د مکروریانو په واټ کې سره ګورو. زه د مکروریانو له لوري درځم؛ نو ته باید د واټ ښی خواته ولاړ وې.*

د ګلاب زوی په غږ کې سربدالي څرګنده شوه.

ګلاب زوی: *ولې ټیک په اتو بجو نه راځو؟ ولې په ۸:۱۰ بجو؟*

ولېري ګونګ ځواب ورکړ: «چې ډېر دقیق وو*.»

---

*د پټو کړنو د چلندلارو پر بنسټ، ځارګرو ته سپارښتنه شوې وه چې په ټیکو ساعتونو کې د غونډو د وخت له ټاکلو څخه ډډه وکړي

له گلاب زوی سره د غونډې په هکله د ولېږي راپور پر اوسادچي او ایوانوف ډېر اغېز وکړ. په دغه وخت کې د کې جي بي استازې ځانګې مشر، بګدانوف په رخصتۍ تللی و.

بوریس سیمیونوویچ په ژورې اندېښنې وویل: «داسې برېښي چې د ا خ د ګ په مشرتابه کې حالات چاودنې ته نږدې شوي. امین بیړمن دی چې د هېواد د حالاتو په کنترول کې د نه وړتیا په تورنولو سره تره کی لیرې کړي. د ده په دغه هڅه کې سروري او درې نور وزیران لوی خنډ دي. په دغسې حالت کې موږ باید یوري ولادیمیرووېچ ته د دغه ډېربډونکې شخړې په هکله یو رټ راپور ولېږو. موږ باید همغه غونډلې وکاروو چې ګلاب زوی ویلې دي او ځان ډاډمن کړو چې زموږ استونه باید د ترینګلې وضعیت انګازې ولري. د لاسوندي په پیل کې یوه لنډه سریزه ولیکه او مرکز ته یادونه وکړه چې د دغسې حالاتو په هکله مرکز ته مخکې هم خبر ورکړل شوی دی. د ګلاب زوی لنډ ژوند لیک ورسره مل کړه او تره کي ته یې ځانګړې وفاداري هم یاده کړه. د لاسوندي په پای کې ولیکه چې موږ د دغو مالوماتو په هکله هېڅ اړنګ نه لرو چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د مخابراتو وزیر له موږ سره شریک کړل او په دې تړاو له مرکز څخه د سپارښتنو غوښتنه وکړه چې موږ له کومو وسیلو څخه د وضعیت د لا ډېرې خرابتیا په مخنیوي کې کار واخلو. دغه یادونه هم وکړه چې د اګست په څلورویشتمه به په یو بېل تېلګراف کې د کودتا د ترسره کولو لپاره د امین د ګمارنو په هکله ځانګړې مالومات ورولېږل شي.»

د دغه لارښوونې په ترڅ کې بوریس سیمیونوویچ ډېر ارام او باورمن ښکارېده، خو اوسادچي او سترستین، چې د ایوانوف له بنې سره ښه اشنا وو، وننګېرل چې د داسې نبغ تېلګراف د لېږلو منظورول ورته سخت وو. دی تراوسه لږ په اړنګ کې و.

اندروپوف د ایوانوف لاسلیک کړی تېلګراف له برېژنیف او د سیاسي بیرو له یو شمېر غړو سره شریک کړ. داسې وبرېښېدل چې دغو مالوماتو پر شوروي مشرانو ډېر اغېز وکړ. د ا خ د ګ د مشرانو تر منځ د مخالفت په هکله مخکنې راپورونه د شوروي د مشرتابه له اوچت پوړ سره نه وو شریک شوي او هېڅ کوم مخکنی راپور دومره ډراماتیک نه وه لکه دغه ورستي مالومات. افغان مشر ته د ژوند د خطر په هکله مخکنیو تېلګرافونو د مبالغې شونتیا ته ځای ورکاوه. دوی به د تره کي او امین تر منځ ډېربډونکی مخالفت په داسې بڼه په ډاګه کاوه چې د حل لاره یې پرته له دې چې بیړنیو ګامونو ته مخ واړول شي شونې ښودله. په مسکو کې ډېرې اروزنې په لاره واچول شوې. د حالاتو مفصلې څېړنې د لوړپوړو په دفترونو کې روانې وې، له کارپوهانو

سره مشورې، او کارې غونډې کېدې او بېلابېل وړاندیزونه جوړېدل.

www.samsoor.com

له کابل څخه دويم تېلگراف چې د اگست په څلورويشتم لېږل شوی و مرکز لاډېر تېرا کړ. په دغه تېلگراف کې د مرکزي کمېټې د مهمو غړو، افسرانو او لوړپوړو بيروکراتانو نوملړ و چې د تره کي پر ضد له امين سره په توطيه کې ښکېل وو. امين پلوي پوځي ډلې هم پکې يادې شوې وې. شوروي مشرانو ته د خبرو هغه نقل قولونو ټکان ورکړ چې د امين او متحدينو ترمنځ يې شوې وې. دغو خبرو د تره کي د پرځولو او وژلو په هکله ځانگړو پلانونو ته نغوته کوله. په دغه او مخکنی هغه تېلگراف کې چې د گلاب زوی خبره پکې نقل قول شوې وه چې پر امين د سي ای اې اجنټ گومان کېږي، ليکل شوي وو چې امين د واک ترلاسه کولو نيت لري چې د پرمختگ کوونکو هېوادونو په هکله د شوروي سياست زيانمن کړي او د شوروي په سوېلي پولو کې افغانستان د امريکا په اډه بدل کړي.

هغو شوروي مشرانو چې دغسې مالومات ترلاسه کړل په لوی کړاو کې وو چې اوس څه وکړي. دا څرگنده وه چې دوی بايد ژرترژره پرېکړه وکړي، خو په عين وخت کې ټول پوهېدل چې بېړني گامونه به دومره زيانمنوونکې پايلې ولري چې يوازې د افغانستان او شوروي اتحاد په اړيکو به محدودې نه وي. د امين د کودتا په هکله مالومات اشد محرم ونومول شول، خو په عين وخت کې د کمونست گوند د مرکزي کمېټې په نړيواله څانگه، په دفاع او بهرنيو چارو وزارت او کې جي بي کې ترټولو وړ شننونکو ته دنده ورکړل شوه چې د افغانستان د وضعيت په هکله سپارښتنې جوړې کړي. د کې جي بي لومړي لوی رياست يو مهم لاسوندی چې کريچکوف لاسليک کړی و اندروپوف ته ولېږه او اندروپوف د سياسي بېرو په غونډه کې وړاندې کړ. په دغه لاسوندي کې د امين توطيې ته نېغه نغوته نه وه شوې، خو د حالاتو په هکله پراخه وړانديزونه پکې وو.

کېدای شي چې همدغه لاسوندی (سند) د شوروي مشرتابه د راتلونکو سپارښتنو بنسټ گرځېدلی وي. د نورو ټکو تر څنگ، په دغه لاسوندي کې داسې ويل شوي وو: «د افغانستان دموکراتيک جمهوريت کورنی وضعيت په چټکۍ خرابېږي. د انقلاب ضد ځواکونو فعاليتونه پراخېږي. دوی له امريکا، چين، انگلند، پاکستان، ايران او سعودي څخه هر اړخيزې مرستې تر لاسه کوي. د مخالفينو د مخامخ بريدونو په پايله کې، دوی د پاکستان پولې ته څېرمه ولايتونه ونيول، د مرکزي افغانستان د پام وړ ډېره خاوره يې تر خپل کنترول لاندې راوستلې، کابل ته په څېرمه ولايتونو کې يې خطرناک وضعيت رامنځته کړی او د ايران پولې ته په څېرمه ولايتونو کې پارونو ته دوام ورکوي. په دې ورستيو کې ارتجاعي ځواکونو پر پلازمېنې باندې ښکاره پوځي يرغل وکړ او په تېرو دوو مياشتو کې يې دوې جدي هڅې وکړې چې اوسنی رژيم نسکور کړي. په کابل کې وضعيت ډېر خراب دی ځکه چې اوس په ريښتيا له ډېرو هغو ولايتونو سره يې لارې بندې دي چې کابل ته يې خوراکي توکي لېږل. له درېيو لويو لارو څخه يوازې له يوې  لارې څه نا څه کار اخيستل کېږي چې د سالنگ او هندوکش غرونو له لارې کابل د شوروي له پولې سره نښلوي، خو په تېرو څو ورځو کې دغه لاره هم د مخالفينو له لوري په وار وار بنده شوې ده.

ټولنيز اصلاحات چې پرته له اړينې تابيا په بيړه پيل شول په هېواد کې د اوسنيو حالاتو له کبله چې د کورنۍ جګړې کچې
ته نېږدې کېږي ودرول شول. د تره کي او امين حکومت په وګړو کې واک له لاس ورکوي او د شوروي پر ضد ننګېرنې مخ
په ډېرېدو دي.

په ټولنه کې د رژيم د بنسټ د پراخوالي لپاره د خلکو په منځ کې د پروپاګند هغه سپارښتنې چې د شوروي استازو تره کي او امين ته کړې وې پلې نشوې. د کورنيو سياسي ستونزو د حل لپاره تره کی او امين له پوځي ځواک څخه کار اخيستنې ته دوام ورکوي. د پخوا په څېر، دوی پرته له دې چې د ا خ د ګ د مرکزي کمېټې د سياسي بېرو له غړو سره مشوره وکړي مهمې پرېکړې پخپله کوي او د خپلو خلکو بې بنسټه ځپنو ته دوام ورکوي...» سربېره پر دې، د لومړي رياست مشر لوستونکو ته د پرچميانو وژنې او د وطنپالو افسرانو، ديني مشرانو او روڼ اندو د ځپنې يادونه وکړه. ده زياته کړه چې د ا خ د ګ مشران د پښتنو او بلوڅو قومونو سره په کار کې پاتې راغلي او په نبغه يې وويل چې پخپله تره کی او امين د خپلو وسلوالو ځواکونو په وفادارۍ باور نه لري؛ نو ځکه دوی ټينګار کوي چې شوروي اتحاد د دوی د ساتنې په ګډون د افغانستان دموکراتيک جمهوريت ته پوځي ډلې ولېږي.

د کريچکوف په شننو کې ليکل شوي وو چې «د کړکېچ په اوسني حالت کې دا شونې ده چې د غويي انقلاب لاسته راوړنې له منځه لاړې شي او په دې مهمه سيمه کې د شوروي اتحاد ګټې زيانمنې شي؛ نو دغه وضعيت ته په پام سره، لاندې وړانديزونه بايد وارزول شي:

۱. يوه داسې لاره وموندل شي چې ح امين د هېواد مشرۍ له څوکۍ څخه داسې ليرې کړل شي چې د ببرا ځپنو او د کورنۍ سياست د غلطو ارزونو پړه پر ده واچول شي.
۲. تره کي ته د يو داسې دموکراتيک ائتلافي حکومت د جوړولو په اړتيا قناعت ورکړل شي چې مشري يې د پرچميانو په ګډون د ا خ د ګ کوي او په نوي حکومت کې دې وطنپال اندو ديني او قومي مشرانو، توکميزو لږکيو او روڼ اندو استازو ته هم برخه ورکړل شي.
۳. له زندان څخه دې سياسي بنديان ازاد او بيا ورغول شي، په تېره بيا پرچميان چې په ناقانونه توګه مجرم شمېرل شوي.
۴. د پرچم ډلې له مشر، ببرک کارمل سره دې غيررسمي غونډې جوړې شي. نوموړی اوسمهال په چکسلواکيا کې د تبعيد ژوند کوي. د افغانستان دموکراتيک جمهوريت په کورنۍ سياسي وضعيت کې د ثبات راوستلو د چارو په هکله دې خبرې ورسره وشي.

۵. د افغانستان دموکراتیک جمهوریت او د ا خ د ګ لپاره دې یو احتیاطي مشرتابه چمتو شي چې که په هېواد کې کړکېچ لا ډېر شي، له دوی څخه کار واخیستل شي.

هغو لوستونکو چې ډېره تجربه لرله، سمدلاسه یې د کریچکوف د لاسوندي لومړی وړاندیز نوټ کړ. دغه توکی د داسې یو فرصت موندلو په هکله و چې امین لیرې کړل شي او په افغانستان کې د خرابېدونکي وضعیت پړه په ده واچول شي. کریچکوف، چې یو د ډېرې تجربې بیروکرات و، غوښتل په یوه ګاټې دوې مرغۍ وولي - چې لړاک امین لیرې کړي او په عین وخت کې یې د بلا ډال کړي، خو د هغو خلکو په منځ کې چې دغه لاسوندی یې لوستلی و ډېر داسې خلک نه شته و چې تجربه ولري او په وضعیت سم پوه وي. هغه وخت برېژنیف سم نه پوهېده چې شاوخوا یې څه تېرېږي. د ده ډلې هڅه کوله چې نوموړی له خراب خبر څخه وساتي. د اګست په میاشت کې اوستینوف، چې نه یوازې له پي جي یو بلکې له جي ار یو او له خپلو سلاکارانو څخه هم مالومات ترلاسه کول، تراوسه پرېکړه نه وه کړې چې په چا پچه واچوي. ګرومیکو هم هغه مالومات لوستل چې د کې جي بي مېشتې څانګې، پوزانوف او د ګوند سلاکارانو ورلېږل. دوی به ویل چې تره کی په خطر کې نه دی. د معمول په توګه د بهرنیو چارو وزیر یوې پایلې ته د رسېدو بېړه نه کوله. دی تم و او د مشرتابه اند ته یې کتل چې په یو ښه فرصت کې ملاتړ ترې وکړي. هغه وخت په سیاسي بېرو کې اندروپوف تر ټولو ډېر مالومات لرل او په دې پوهېده چې وضعیت ډېر جدي دی او ډېر پام ته اړتیا لري؛ نو دغې پایلې ته رسېدل شوني دي چې د اګست په میاشت کې د امین د لیرې کولو لپاره کوم ځانګړی پلان نشته و. هغه تخم چې کریچکوف کرلی و تراوسه نه و ټوکېدلی، خو مسکو ځینې ګامونه اوچت کړل. د کارمل نوم په وار وار یادېده. اندروپوف خپلو اجنټانو او باوري ملګرو ته امر وکړ چې په چوپتیا د پرچم اوسني مشر د ژوند – مزاج، اړیکې او روغتیا - په هکله مالومات راغونډ کړي.

د دوبي په لومړیو کې د چکسلواکیا ښارګرو ببرک کارمل او کورنۍ یې یو نوي استوګنځي ته ولېږدول. د مني راهیسې کله چې کارمل د امین له اجنټانو څخه وتښتېد، ده د دولت تر ساتنې لاندې کرلووې ورې Karlovy Vary ته څېرمه په یو دوبني کور کې پټ ژوند کاوه. دوی دا ځل سلواکیا ته، چې له پراګ څخه لا ډېره لیرې وه، ولېږدول شول؛ نو استوګنه یې نوره هم خطرناکه شوه. دوی ته په یو سناتوریم کې څو فرش شوې کوټې د المونیم په یو کابین کې ورکړل شوې. دوی ته ټول خرڅ، د لامبو د ډنډ لپاره پاسونه او روغتیایي چوپړونو ته وړیا لاس رسی ورکړل شول. د دوی یو چکسلواکیایي ملګري ورته وویل: «ګټه ترې پورته کړه. د سیمې منرالي اوبه داسې ځانګړتیاوې لري چې مړی ژوندی کوي.» کارمل په خواب کې

وخندل. ده د خپلې روغتیا په هکله هېڅ کله اندېښنه نه کوله او هېڅ کله یې ترې سر نه و ټکولی، خو که څه هم یو کال مخکې یې له افغانستان څخه وتنه خپله ژغورنه ګڼله، له بیکارۍ څخه ځورېده.

کله چې کارمل په ۱۹۷۸ کال پراګ ته لاړ او سفارتي چارې یې پیل کړې، په لومړیو کې یې د ارامۍ داسې ننګېرنه وکړه لکه یو درونډ بار یې چې له اوږو څخه لیرې شوی وي. دی یو مسلکي انقلابي و چې د خپل ژوند ډېرش کاله یې په سیاسي پرځنګ کې تېر کړي وو او پرته له کوم زړغیتوب څخه چمتو و چې خپلې انقلابي لارې ته دوام ورکړي، خو هغه څه کارمل ځورولو چې له غویي انقلاب څخه وروسته په تېرو څو میاشتو کې پېښ شول. د ده او ګران هېواد لپاره یې هر څه غیر طبیعي او خطر ناک ښکارېدل. که څه هم کارمل په لویه کچه یو جنګیالی و، خو په هېڅ وجه یې تاوتریخوالي ته لاس نه اچاوه اوپه دسیسو کې یې ځان نه ښکېل کاوه. دی یو داسې ایډیالېست و چې د «کمونېزم په جوړولو» کې یې اخلاقي خطر ته ټکي په ټکي پام و.

د دموکراتیکو ځواکونو په پراخه کړۍ کې د ننه د کارمل متحدینو د نوموړي کرکتر او انقلابي کاري ژوند ته چې له ثبات او اخلاص څخه ډک و ډېر درناوی درلود، خو تېر کال هر څه بدل شول. د غویي ناڅاپه انقلاب چې د وینو په ډنډ بدل شو، کارمل ته داسې و لکه د ده په روح کې یو پرانیستی ټپ. کارمل یو کال مخکې د اروپا زړه ته لاړ. د پراګ په ښایسته ښار کې، دی ناڅاپه پوه شو چې د کرکې وړ امین ډېر لیرې دی او هغه سپکاوي یې هم لیرې دي چې ده ته یې کړي وو. ده سوچ وکړ چې دی باید نور د هغه څه مسولیت په غاړه وانه خلي چې په افغانستان کې تېرېږي او د یو ډیپلومات په توګه د هېواد استازولي وکړي. ده سوچ وکړ چې د پرچم او خلق له دوامداره هغه دوښمنۍ څخه بلاخره یوه دمه کوي چې د خپلو متحدینو پر ضد د امین په خونړۍ جګړه بدله شوه. دی مننډوی و چې ژوندی پاتې شو او د دغه دمې، حتی که

لنډه هم وه، فرصت یې ترلاسه کړ چې خپل فکر راغونډ کړي او په راتلونکې فکر وکړي.

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د سفیر استوګنځی د پراګ په یوه غوره سیمه کې یوه درې پوړیزه لویه کوټۍ وه. ده ته یو تور تترا ګاډی او یو د تجربې ښېښتن ګاډی چلوونکی ځانګړی شو. د نوموړي د کورنۍ د ورځنیو اړتیاو لپاره یو بل ګاډی هم ورکړل شو. ببرک، د ده مېرمنې، محبوبه، دوه زامنو، دوه لورانو او د ده سکرتر عبدالله بهار په دغه لویه کوټۍ کې واړول.

لکه څنګه چې تمه یې کېده، کارمل ډېر ژر خپل اعتبار لیک د چکسلواکیا ولسمشر ته وسپاره. کوستاف کوزک Gustav Gusak له ده څخه د افغانستان او غویي انقلاب په هکله په ډېر ناڅ پوښتنې وکړې. کارمل په خوښۍ د نوموړي پوښتنو ته ځواب ورکړ، خو ډېر جزیات یې ورسره شریک نه کړل.

لومړۍ څو اونۍ ښې تېرې شوې. کارمل به ډېر ګرځېده، له خپلو ماشومانو سره موزیمونو ته تله، په پراګ کې یې خپله کورنۍ چکر ته بېوله او له ماڼیو او معبدونو څخه یې لیدنې کولې، خو د اګست په نیمایي کې یې مزاج ډېر خراب شو. دی ډېر ترینګلی او بړوس شو او ډېر وخت یې په خپل دفتر کې یوازې تېراوه. نوموړي ته له کابل څخه خبر ورسېد چې د کشتمند په مشرۍ پاتې پرچمیانو د کودتا هڅه وکړه. په دې هکله ځانګړي مالومات ډېر لږ ووو. دا څرګنده نه وه چې د خلقیانو پر ضد پرچمیانو یوازې د بغاوت په شونتیا خبرې کړې وې او یا په ریښتیا بغاوت یې کړی و، خو هر څه چې وو، تره کي او امین له دغه فرصت څخه ګټه واخیسته چې خپل مخالفین له منځه یوسي. کشتمند او متحدین یې ونیول شول، په زندان کې واچول شول، شنګجه شول او د انقلاب او افغان ولس دوښمنان او د امپریالېزم اجنټان ونومول شول.

کارمل سمدلاسه پوه شو چې د ده ارامه ژوند پای ته ورسېد. دا ورته څرګنده وه چې دی او نور پرچمي مشران چې د سفیرانو په توګه بهر ته لېږل شوي وو د دغه توطیې اصلي جوړونکي به وګڼل شي. کارمل په اسلام اباد کې بریالي ته، په تهران کې نجیب، په بلګراد کې اناهیتا راتب زاد، په واشنګټن کي نور، او په لندن کې وکیل ته تیلفونونه وکړل او د اوسني وضعیت په هکله یې خبرې ورسره وکړې. په عین وخت کې ټول پرچمي سفیران کابل ته وغوښتل شول چې له ځینو سره مشورې وشي او ځینې نورو ته نوې څوکۍ ورکړل شي. کارمل له خپلو شوروي ملګرو سره اړیکه ونیوه او د دوی مشوره یې وغوښته. یوه ورځ وروسته دوه ډبې د کارمل استوګنځي ته ورسېدې او د دغه کورنۍ شخصي مالونه په ډبو کې بار شول. کارمل، د کورنۍ غړي او سکرتر یې په چټکۍ د یو نامالوم ځای په لوري ولېږدول شول. دوی د پراګ امنیتي مامورینو له پراګ څخه سل کیلومتره لیرې د ښکار یو استوګنځي ته بوتلل. د دوی نوی استوګنځی د ځنګل په منځ کې یوه هوسا ودانۍ وه چې له پاتې نړۍ سره یوازې د تیلفون په وسیله نښلېدلې وه. د دې باور ناشونی و چې څوک به د کارمل پناځای ومومي. کارمل، چې د دسیسو له چلندلارو سره اشنا و، په دې پوهېده چې له تیلفون څخه په کله کله کار اخیستنه کې باید ډېر پام وکړي. د ډېر وخت لپاره حتی د ده ډېر نېږدې متحدین نه پوهېدل چې کارمل ژوندی دی. د نوموړي متحدینو هم خپل سفارتونه پرېښودل او لومړی په بلګراد او بیا په پاریس کې پټ شول.

کارمل او مېرمنې یې ډېر وخت په دې تېر کړ چې د خپلو بچیانو د لوړو زدکړو په هکله څرنګه پرېکړه وکړي. دوی لوی خطر په ځان ومانه او خپل هغه زوی ته یې چې د شوروي هوایي بېړۍ، وستاک Vostok نوم یې پرې ایښی و اجازه ورکړه چې د پراګ په پوهنتون کې زده کړې وکړي او لور یې، اناهیتا د مسکو په دولتي پوهنتون کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. د زدکړو په بهیر کې دوی دواړو ساتونکي نه لرل. امین هڅه وکړه چې یوه ډله وژونکي چکسلواکیا ته ولېږي چې خپل سیاسي سیال ومومي او ویې وژني. د شوروي او چکسلواکیا امنیتي ماموران د دغه وژنې په مخنیوي کې بریالي شول او وژونکي یې ونیول.

د نومبر په میاشت کې یو چا له کارمل څخه لیدنه وکړه. نوموړي کارمل ته خپل ځان د چکسلواکیا د کمونست گوند

په مرکزي کمېټه کې د نړیوالې څانگې مامور ورپېژانده. ده له ورایه د شرم ننگېرنه کوله ځکه چې کارمل ته یې د خپلو شوروي ملگرو له لوري داسې پیغام ورکاوه چې کارمل باید بېلتونپاله فعالیتونه ودروي او په افغانستان کې د اوسني اصلاحپال رژیم پر ضد هڅې و نه کړي. ده ته دا هم وویل شول چې اوسمهال د پرچمیانو او د دوی د کورنیو ځپل درول شوي دي او گوند په همغږۍ د یوې نوې ټولنې په جوړولو کې بوخت دی. کارمل ته د دغه پیغام موخه دا وه چې دی باید د دولت ضد کړنې بس کړي، خپل ملگري په داسې کړنو کې ښکېل نه کړي او د اوسني رژیم پر وړاندې خپل چلند بدل کړي.
کارمل له ننگېرنو څخه په تشه ونگه خپل مېلمه ته غوږ ونیو او پرېکړه یې وکړه چې له ده سره بحث او دلیلونه هېڅ گټه نه لري ځکه چې دغه مېلمه د پیغام په منځپانگه کې هېڅ ونډه نه لرله. سربېره پر دې، کارمل باور نه درلود چې دغه پیغام د شوروي مشرتابه د عیني چلند څرگندونه کوي، خو بیا یې هم د مخه ښې په شېبه کې خپل ځان کابو نشوی کړی او مېلمه ته یې وویل: «ته به وگورې چې هغه وخت به ډېر ژر راشي چې زموږ شوروي ملگري خپل چلند بدل کړي.»
خو د چلند د بدلون وخت ډېر ژر رانه غی. اناهیتا راتب زاد به د ډېرې مودې لپاره د کارمل لیدنې ته ورتله. وفادار ملگري یې، نجیب او بریالی به هم کله کله ورتلل.
کارمل به کله کله له رواني خپگان څخه ځوربده - هغه وخت ده ته راتلونکې ناڅرگنده او تیاره وه. یوه ورځ چې کارمل له خپل کشر زوی سره په پښو روان و، دغه زوی ته یې داسې وویل: «کاوه، پوهېږې چې ولې زه او ملگري مې انقلابیان شوو؟ د افغان ولس ځور زموږ زړه درداوه. موږ دغه حالت ته نشوی کتلی او په هکله یې موږ باید یو کار کړی وی. موږ خپل پرځنگ پیل کړ، یو گڼ او تور ځنگل ته ننوتلو او موږ هر یو باید په پټو سترگو خپله لاره موندلی وی. بلاخره ځینو یوه پراخه او روښانه لاره ومونده، خو ځینې نور ورک شول. درېغی چې موږ مخکې تر مخکې پوهېدای چې دغه ځنگل څومره تیاره او کله کله داسې گڼ دی چې وتل ترې ناشوني دي.»
که څه هم کارمل د رخصتۍ او میلو په داسې غرنیزه ځای کې ژوند کاوه چې درملیزې تودې چینې یې لرلې، دی ورځ تر بلې خرابېده. د منرالي اوبو درملیزو ځانگړتیاو د ده په روح کې نوي پرانیستې ټپونه نشوی رغولی. کارمل هره شپه بي بي سي ته غوږ نیوه او د افغانستان په هکله خبرونو ته به لېواله تم و. د ده رواني خپگان ورځ تر بلې ډېرېده.
کارمل نه پوهېده چې اوس مسکو د ده په اړه بیا سوچ پیل کړی،دی نه پوهېده چې اوس د کریچکوف او اندروپوف عملیاتي څارگر د ده هر گام څاري او ډېر ژر به د ده جبري بیکاري پای ته ورسېږي.

www.samsoor.com

د اگست په نیمایي کې د دفاع وزیر خپل استازی کابل ته ولېږه. د دفاع وزیر مرستیال او د ځمکنیو ځواکونو له قوماندن جنرال ا. ج. پاولوفسکي I.G. Pavlovsky سره د جنرالانو او لوړپوړو افسرانو یوه درنه ډله مل وه. دوی چې کابل ته ورسېدل، د هېواد له بېلابېلو ولایتونو څخه یې لیدنې وکړې چې حالات ځان ته روښانه کړي او د افغان وسلوالو ځواکونو پوځي وړتیاوې او د مخالفینو له لوري د خطر کچه وارزوي.
مخکې له دې چې افغانستان ته لاړ شي، پاولوفسکي د شوروي دفاع وزیر ته، چې په سوچي Sochi کې یې خپله
رخصتي تېروله، تیلفون وکړ او ترې ویې پوښتل چې ایا په افغانستان کې د نظامي مداخلې لپاره کوم پلان شته. اوستینوف په ټینگه ډاډ ورکړ: «په هېڅ وجه، نه.»
پاولوفسکي په خپلواکو هېوادونو کې د پوځي مداخلې تجربه په خپل ژوند لیک کې لرله. دی د پنځوسو زرو هغو شوروي پوځیانو قوماندان و چې په ۱۹٦۸ کال د چکسلواکیا د ارامولو لپاره لېږل شوي وو. یو کال وروسته، ده ته ترټولو لوړ پوځي اعزاز ورکړل شو «د شوروي اتحاد اتل». په افغانستان کې اوسنی پوځي سلاکار، لیو گوریلوف په چکسلواکیا کې د پاولوفسکي تر قوماندې لاندې دنده ترسره کړې وه. تورن جنرال ایوانوف هم ، چې د گوریلوف ترڅنگ یې په افغانستان کې دنده لرله، په ۱۹٦۸ کال د شوروي په پوځي مداخله کې فعاله ونډه لرله.
جنرال پاولوفسکي د شوروي کمونست گوند د مرکزي کمېټې غړی او د شوروي اتحاد د قانون جوړونې شورا مرستیال و. نوموړی په پوځي رتبه کې ترټولو اوچت سړی و چې تراوسه افغانستان ته لېږل شوي وو. د شوروي د سفیر او د کې جي بي مېشتې څانگې مشر په گډون، دی سمدلاسه په کابل کې د لوړپوړو شوروي مامورینو د شورا غړی شو. امین سملاسي د دغه لوړپوړي شوروي مامور په مخورتوب پوه شو چې نوی کابل ته تللی و. ده په خپله لومړنۍ غونډه کې له پاولوفسکي څخه وغوښتل چې «د ده شخصي غوښتنه» شوروي مشرتابه ته ورسوي چې د هوایي ځواکونو یو غونډ افغانستان ته ورولېږي. پاولوفسکي له دفاع وزیر سره اړیکه ونیوه او په کلکه یې ورته وویل چې په افغانستان کې د پوځي مداخلې اړتیا نشته. وزیر هم ورته وویل چې دی باید په راتلونکې کې هم دغه دریځ ته دوام ورکړي.
کابل ته له رسېدلو وروسته په لومړیو ساعتونو کې پاولوفسکي او د ده د ډلې غړو په افغان مشرتابه کې او پخپله د شوروي مامورینو په منځ کې څرگندې ترینگلتاوې وننگېرلې. د شوروي په سفارت کې د مالوماتو د هغه غونډې په بهیر کې چې د دوی د راتگ په ورځ جوړه شوې وه جنرال ایوانوف د پاولوفسکي د ډلې مرستیال مشر، ډگرجنرال میریمسکي Merimsky ته ورننېږدې شو او خبر یې ورکړ چې دی د امین په

هکله ځينې مالومات لري چې نويو راغلو همکارانو ته به په زړه پورې وي. ده زياته کړه چې ښايي په امريکا کې د خپلو زده کړو په بهير کې ده ته سي ای اې پام اړولی وي او ويل کېږي چې دغه اېجنسۍ امين ګمارلی دی. د ايوانوف د خبرو پر بنسټ، اوس امين د يوې کودتا پلان لري چې تره کی نسکور کړي.
وروسته څرګنده شوه چې پاولوفسکي او ميريمسکي ته دغه مالومات نوي وو. ميريمسکي په عمومې بڼه ځواب ورکړ چې دغسې مالومات پراخو پخليو ته اړتيا لري. ايوانوف ورسره همغږی و او له ده څخه يې وغوښتل چې د دغو مالوماتو په هکله بل چا ته څه ونه وايي. د ماښام په ترڅ کې کله چې جنرالان خپلو استوګنځايونو ته لاړل، ګوريلوف، ميريمسکي ته ورغی او ترې وېې پوښتل: «بوريس سيميونوويچ څه درته وويل؟ ډېره شونې ده چې ده ستا د قانع کولو هڅه کوله چې امين د امريکا جاسوس دی. دا هسې برغزووې (بې مانا خبرې) دي! د کې جي بي خلک تل د جاسوسانو او ورانکارانو خيالونه په سر کې پالي. زه ډاډ لرم چې ملګری امين يو اخلاصمن انقلابي او د شوروي اتحاد يو وفادار او ريښتينی ملګری دی. ته به په راتلونکې کې ډېر فرصتونه ولرې چې په هکله يې پخپله پوه شې.»
په هغه وخت کې کابل له ګنګوسو ډک و چې د «افغانستان دموکراتيک جمهوريت دويم کس» د امريکا جاسوس دی. په دې هکله په کابل کې حتی خبر پانې خپرې شوې وې. ګوريلوف او ايوانوف ته بلنه ورکړل شوه چې د افغانستان د وضعيت په هکله په مسکو کې د سياسي بېرو غونډې ته راپور ورکړي. په دغه غونډه کې د شوروي پوځي سلاکارانو د ماموريت د مشر او د کې جي بي د استازو ترمنځ مخالفت ټولو ته ښکاره شو. ګروميکو، اندروپوف، اوستينوف او لوی درستيز اوګرکوف د انقلاب ضد ځواکونو د راتلونکي توان، د افغان پوځ د پوځي وړتيا،د افغان مشرانو ترمنځ د اړيکو او د تېرو ناکاميو د لاملونو په هکله ګروميکو او ايوانوف تر پرله پسې پوښتنو لاندې راوستل. ګوريلوف په خپلو ځوابونو کې رټ و: په مشرتابه کې اړپېچونه (تناقضات) ليرې کېدای شي او دا کار دې ته اړتيا لري چې مسکو پر امين ډېر باور وکړي. افغان پوځ له انقلاب څخه د دفاع وړتيا لري حتی که پاکستان هم نېغې پوځي مداخلې ته زړه ښه کړي. شوروي پوځي مداخله بايد ونشي.
خو د کې جي بي مامور ايوانوف شننې د ګوريلوف د هغو برعکس وې. نوموړې د خلقي مشرتابه په منځ کې د درزونو او د تره کي او امين تر منځ د ټکر د خطر په هکله د افغانستان اړوند کمېسيون د سياسي بېرو غړو ته خبرداری ورکړ. ده د افغان پوځ په پوځي وړتيا اړنګ څرګند کړ، خو په دغه شخړه کې د شوريانو د پوځي ګډون د شونتيا په هکله يې په پام له څرګندونو ډډه وکړه.
څومره چې د سياسي بېرو د کمېسيون غونډه اوږدېده، همدومره ډېر خپګان شوروي مشرانو ته ورپه برخه کېده، خو پوښتنو او د څرګندونو ارزونو ته په کتو سره، داسې څرګنده شوه چې د ايوانوف شننې د سياسي بېرو د غړو زړونو ته سمې برېښېدې.
www.samsoor.com

کله چې بېرته کابل ته ورسېد، ګوریلوف د افغانستان سوېل ته لاړ چې د هغو پوځي عملیاتو مشري وکړي چې موخه یې له مخالفینو څخه د اورګون ولایت ( په هغه وخت کې لویه ولسوالی. ژباړن) بېرته نیول وو. جنرال پاولوفسکي د قوماندې په مرکز کې له ده سره یوځای شو. د سختو عملیاتو په بهیر کې دغو دوو جنرالانو وپتېیله چې په چورلکه کې د جګړې سیمه له هوا څخه وګوري، خو هلته یې پر ځمکه کوم اور یا دوړه ترسترګو نشول. دوی له چورلکې ښکته شول او افغان قومندانانو داسې راپور ورکړ: «بریا! کله چې مخالفین خبر شول چې دوې فرقې له دوی سره د جګړې لپاره ګمارل شوې، دوی سملاسي پاکستان ته وتښتېدل. دواړه خواوې مرګ ژوبله نه لري.»

پاولوفسکي او ګوریلوف، چې دواړه د دویمې نړیوالې جګړې افسران او په چکسلواکیا کې د پوځي مداخلې برخوال وو، یو او بل ته وکتل، بیا یو او بل ته په ځیر شول او غېږې یې سره ورکړې. پاولوفسکي وویل: «لیو، دا خو ډېر ښه وشول، هېڅ مرګ ژوبله نشته، مرګ ژوبلې بس دي. د دې وخت رارسېدلی چې حالات په سولیزه توګه سم شي.»

دا به عجیبه ښکاره شي چې دغو دوو جنرالانو په افغانستان کې جګړه نه غوښته. کېدای شي چې د پراګ پسرلي Prague Spring په ځپلو کې د دوی تجربې دغه دوه جنرالان د شوروي پوځي مداخلې په مخالفینو بدل کړي وي. د پراګ په واټونو کې د شوروي شوبلو پر وړاندې د چکي اتباعو د کرکې ډله ییزو څرګندونو یادونه دوی ته تراوسه تازه وو.

په لومړیو کې پاولوفسکي له ګوریلوف او زېلتین سره هم اندی و چې مسکو باید پر امین حساب وکړي. د ګوریلوف په اند امین د هر راز ننګونې پر وړاندې د درېدلو جوګه و حال دا چې دوښمنان یې (سروري او خلقي ملګري یې) هسې خوار توطیه جوړوونکي یا تنګ نظره بدلونپالان revisionist (کارمل او نور پرچمیان) وو. وروسته، پاولوفسکي په خپل اند کې پړ شو. خبره داسې وه:

د اګست په وروستیو کې ایوانوف، چې غوښتل یې له اصلي سرچینو څخه د کودتا د توطیې پخلی ترلاسه کړي، په پټه

له سروري او وطنجار سره وکتل. دغو افغانانو نوموړي ته قناعت ورکړ چې د ناپېیلو هېوادونو په راتلونکي کنفرانس کې د ګډون په موخه د کیوبا پلازمېنې، هاوانا ته د تره کي له تګ څخه وروسته به امین سمدلاسه خپل ټول مخالفین ونیسي. دواړو، سروري او وطنجار د خپل نیت په هکله خبرې کولې چې پر امین وار ړومبی کړي. دوی غوښتل د شوبلو د هغه دوو غونډونو په مرسته چې کابل ته څېرمه ځای پرځای شوي وو، پر امین لومړی ګوزار وکړي. ایوانوف خپلو مېلمنو ته غوږ ونیوه او بیا یې ورته وویل چې له زغم څخه کار واخلي او له پارېدو څخه ډډه وکړي، خو د ده د خبرو له بڼې څخه افغانانو وانګېرل چې نوموړی د دوی د پلان ملاتړ کوي. دوی فکر وکړ چې د دوی شوروي ملګري د پرېکنده پرېکړې پر ضد نه وو.

سفیر پوزانوف یوه غونډه جوړه کړه چې سفرانچوک او د کې جي بي او جي ار يو استازي يې ګډونوال وو. پرېکړه وشوه چې مرکز ته يو داسې تېلګراف ولېږي چې د امين د زيانمنوونکو پلانونو پخلی پکې شوی وي. پوزانوف وړانديز وکړ چې پاولوفسکي هم دغه تېلګراف لاسليک کړي. ايون ګرېګورويچ پاولوفسکي سفارت ته ور وغوښتل شو. نومړي پاڼه ولوسته، په حيرانوونکې توګه يې لاسليک نه کړه او ويې ويل: «زه خپل ځارګريز مالومات نه لرم؛ نو داسې راپور نه لاسليک کوم چې پخلی يې نه وي شوی.»

د غونډې نور ګډونوال ښايي حيران شوي وي چې د پاولوفسکي په زړه کې څه دي ځکه چې جي ار يو د لوی درستيزولۍ يوه برخه وه. ايوانوف د غونډې بېخونده چوپتيا ماته کړه: «سمه ده، موږ به دغه تېلګراف يوازې کې جي بي او د بهرنيو چارو وزارت ته ولېږو. د دفاع وزارت ته يې نه لېږو.»

تېلګراف ولېږل شو. سبا ته کريچکوف تيلفون وکړ. لکه څنګه چې ايوانوف په دفتر کې نشته و، د پولې ساتلو د چارو مشر، جنرال نشوموف Neshumov غوږی اوچته کړه. کريچکوف په داسې مسخريزه بڼه چې جديت پکې نغښتی و خبرې پيل کړې:

کريچکوف: *ملګری نشوموف، دا راته ووايه چې جنرال پاولوفسکي په هغه تېلګراف خبر دی چې پرون ولېږل شو؟*

نشوموف: *هو ملګری کريچکوف.*

کريچکوف: *مننه ملګری نشوموف. کولای شې بوريس سيميونوويچ ته ووايې چې پرون پاولوفسکي هم يو تېلګراف لېږلی. په تېلګراف کې يې سپارښتنه کړې چې د تره کي پر ضد د توطيې په ګنګوسو باور ونکړو. امين د شوروي اتحاد يو وفادار ملګری دی او بايد ملاتړ يې وشي. بوريس سيميونوويچ ته دا هم ووايه چې اندروپوف او اوستينوف ته د خپلو خلکو له لوري تېلګرافونه ورسېدلي. دوی دواړو غوښتنه وکړه چې دغه تېلګرافونه د سياسي بېرو پر غړو ووېشل شي. پوهېږې چې څه وشول؟ په يوه ورځ کې دوه تېلګرافونه چې د يو او بل برعکس وو له کابل څخه راورسېدل.*

بيا يې په غوسې وويل: «حال مالوم کړه چې دا څه روان دي او ملګري ايوانوف ته ووايه چې تر نن شپې پورې ما ته راپور راکړي.

د ناپېيلو هېوادونو په کنفرانس کې چې په هاوانا کې جوړ شوی و، امين بايد د افغانستان استازولي کړې وی ځکه چې د

www.samsoor.com

حکومت مشر دی و، خو له دوبې څخه راپدېخوا امین پر تره کي ډېر فشار اچولی و چې د نړیوال انقلابي خوځښت د مشر په توګه پخپله تره کی کیوبا ته لاړ شي. دغسې ټینګار باید د امین په پټ نیت تره کی اړنګمن کړی وی ځکه چې تره کی ښه پوهېده چې امین به هېڅ کله داسې فرصت له لاسه نه ورکاوه چې په نړیواله ننداره کې یو ستوری وي او د داسې نومورو خلکو په منځ کې وي لکه فیډل کاسترو. اوس ناڅاپه امین غوښتل چې دغه فرصت «خپل ښوونکي» ته ورکړي، خو تره کی د بې کچې ستاینې او غوړمالۍ پر وړاندی کمزوری و؛ نو ځکه یې پر امین هېڅ بد ګومان و نه کړ.

د کې جي بي مېشتې څانګې د کریچکوف سپارښتنې ترلاسه کړې چې تره کی کیوبا ته له تګ څخه پښېمانه کړي. مرکز داسې دلیلونه لرل چې امین به د تره کي له اوږده نه شتون څخه ګټه پورته کړي او واک به په خپل لاس کې واخلي، خو له بده مرغه تره کي دغسې دلیلونو ته غوږ نه نیوه. سربېره پر دې، تره کي وېتېیله چې په هغه بوینګ جېټ الوتکه کې هاوانا ته لاړ شي چې په دې ورستیو کې له امریکا څخه پېرودل شوې وه. مرکز نور هم ټېرا شو ځکه چې دوی د یو بالقوه سبوتاژ یا ورانکارۍ په هکله اندېښمن وو. په کابل کې د کې جي بي استازو ته امر وشو چې یو ځل بیا له تره کي سره وګوري او وېې ډوماري چې د شوروي په یوه ځانګړې دولتي الوتکه کې چې شوروي عمله لري کیوبا ته لاړ شي. بلاخره تره کی په ډېره سختۍ قانع کړل شو. د اګست په دېرشم افغان پلاوی هاوانا ته روان شو. له تره کي سربېره، افغان پلاوی ډېری د امین له نېږدې کسانو څخه جوړ و لکه د بهرنیو چارو وزیر، شاولي، د څارندوی پخوانی مشر او اوس د ولسمشرۍ سریاور تړون، د ولسمشرۍ ګارد قوماندان جانداد او ځینې نور. افغان پلاوي پلان درلود چې د بېرته راتګ په وخت کې مسکو ته هم لاړ شي؛ نو امین خپلو خلکو ته دستور ورکړ چې هلته له شوروي استازو سره پټې غونډې وکړي او دوی خبر کړي چې یوه ډله خلقیان د ده پر ضد د توطیې تابیا نیسي.

داسې برېښېدل چې امین د درېیو وزیرانو او سروري په پلان ښه خبر و. خبره دا وه چې څوک به لومړی ګوزار وکړي؟

د سپتمبر په لسم سهار د شوروي دولتي الوتکه له هاوانا څخه د بېرته راتګ په لاره کې په مسکو کې کښېناسته. د پلان پر بنسټ، افغان مشر په مسکو کې د دمې او له برېژنیف سره د لیدنې لپاره راغلی و. دغه غونډه د سپتمبر په لسمه ماښام ناوخته جوړه شوه، خو دا د پروتوکول پر بنسټ د دوو ملګرو هېوادونو تر منځ معمولي غونډه نه وه. تمه کېده چې لیونېد ایلیچ به د افغانستان د وضعیت په هکله یو شمېر بېخونده ارزونې تره کي ته وړاندې کړي او ورڅخه وغواړي چې په خپله ډله کې ستونزې لیرې کړي.

افغان مېلمه چې له اوږدې الوتنې، په کیوبا کې له درنو مېلمستیاو او په شوروي الوتکه کې له خوندورو خوړو څخه وروسته خپله دمه جوړه کړې وه په لومړیو کې فکر وکړ چې دا به د پروتوکول پر بنسټ یوه معمولي غونډه وي. ده په دې هم سوچ نه کاوه چې یوازې دی په کرېملېن کې د غونډې لپاره بلل شوی

و. له ده سره مل ډله نه وه. د برېژنېف له څنګ سره د بهرنیو چارو وزیر ګرومیکو او د ده سلاکار الکساندروف اجینتوف Alexandorv Agentov ناست وو. دوی دواړو په لوی لاس جدي او تلوسمنه بڼه خپله کړې وه. د شوروي د بهرنیو چارو وزارت یو سلاکار، ګوریلوف ژباړه کوله. یو او بل ته له لاس ورکولو او ښکلولو وروسته لیونېد ایلیچ په چټکۍ د غونډې اصلي موضوع پیل کړه. د برېژنېف د خبرو متن مخکې تر مخکې لیکل شوی و. ده چې پرته له دمې متن لوستلو، په ترتیب یې د افغان انقلابیانو تیروتنې څرګندې او هغه ستونزې یادې کړې چې باید ژرترژره لیرې شي.

برېژنېف لومړی د ګوند جوړونې، د کارګرانو، بزګرانو او د اصلاحپالو روڼ اندو په ښکېلولو سره د ګوند پراختیا ته

پام واړاوه. د برېژنیف د وینا یو لیکونکي، په وینا کې د شوروي کورنۍ جګړې په هکله یو پراګراف ته ځای ورکړی و.

لیونېد ایلیچ په ډېر پام داسې ولوست: «د و.ا. لېنن په مشرۍ زموږ د ګوند مرکزي کمېټې ځانګړې ګوندي اونۍ جوړولې. په دغو اونیو کې به په لویه کچه کمپاین په لاره اچول کېده چې د ګوند لیکو ته تر ټولو ښه کارګران، ازماېښتي بزګران او روڼ اندي راوبولي. د ګوند نوي غړي به د کورنۍ جګړې جبهې ته تلل... نو د ګوند د غښتلتیا او د ګوند په لیکو کې د پراختیا لاره دغسې وه او په عین وخت کې د انقلاب ضد ځواکونو پر وړاندې جګړه هم روانه وه.

تره کي په سوچ سر وخوځاوه او ویې ویل: «دا ټولې څرګندونې سمې دي، خو موږ دغسې ترټولو ښه کارګران او ازماېښتي بزګران له کومه کړو؟» برېژنیف خپلې وینا ته دوام ورکړ: «د وګړو په منځ کې د سیاسي او روزنیزو فعالیتونو ډېرښت ډېر مهم دی. هو ریښتیا ملګری تره کی، یوه پوښتنه کوم. شوروي ګوندي سلاکاران د ګوند له ولایتي منشیانو سره ستاسې په یوولسو ولایتونو کې مرسته کوي. ډېری دغه منشیان د ولایت د والي دنده هم لري. دا به ډېره مناسبه وي چې دولتي څوکۍ له ګوندي هغو څخه بېلې کړئ. ستاسې د هېواد د حالاتو له کبله، د دین پر وړاندې د ا خ د ګ او د دولت دریځ د وګړو لپاره ډېر مهم دی. د انقلاب ضد ځواکونو پر وړاندې د جګړې په دوام کې د پوځې، ګوندي او دولتي کدرونو غوراوي او ګمارنې په ځانګړې توګه مهمې دي. زه په ځینو ولایتونو کې د ځینو افسرانو د خیانت او د ګوند له نورمونو څخه د ځینې دولتي او ګوندي مامورینو د سرغړونې په هکله ستا له ترخې تجربې هم خبر یم.»

تره کي د نیوکو په منلو سره وویل: «مننه، لیونېد ایلیچ. زه به د دغه موضوع په هکله وروسته خبرې وکړم. که شونې وي چې زه ستاسې د څرګندونو ژباړه ستاسې د سفیر په وسیله ترلاسه کړم. ما یادښتونه ونیول، خو غواړم ټول متن ترلاسه کړم چې په خیر ځان پرې پوه کړم.»

www.samsoor.com

برېژنېف له خپلې وینا څخه د لنډې دمې په ترڅ کې له تره کي سره ژمنه وکړه : «موږ به یې ژباړه درولېږو.» برېژنېف اوس د هغه ترټولو مهم پیغام د لوستلو په درشل کې و چې له کبله یې افغان انقلابي ته د کرېملېن بلنه ورکړل شوې وه: «زموږ د خبرو او لیکونو په بهیر کې موږ ډېر ځلې د یو ریښتیني ګډ مشرتابه د ارزښت او په کلکه د ګډ مشرتابه د اصولو منلو ته نغوته کړې وه. زه پوهېږم چې په دې وروستیو کې ستا سیاسي بېرو په دې هکله ښه فرمانونه منظور کړي دي، خو داسې ښکاري چې د دغو فرمانونو پلي کول ډېر اوږد وخت نیسي. ملګری تره کی، زه غواړم سپین درته ووایم چې موږ په دې باور لرو چې د دغه موضوع په هکله د هوډ نه شتون، او د ګوند په منځ کې د دموکراسۍ له نورمونو څخه سرغړونې، او د خپل ګوند د غړو پر ضد بې بنسټه ځپنې د ګوند د سېکمنتیا خنډ ګرځي، د ګوند د نوښتیز توان مخنیوی کوي او د کدرونو او وګړو په منځ کې ترینګلتیا رامنځته کوي.»

کله یې چې دا ځل اوږده وینا بشپړه کړه، برېژنېف دمه وکړه او له خپلو لوست عینکو څخه یې تره کي ته جدي اوچت وکتل. تره کی بروس ښکارېده. ګوریلوف، چې ژباړه کوله، مخکې تر مخکې یې د برېژنېف له وینا سره ځان اشنا کړی و. د ده رنګ ژېړ شو او په وارخطایۍ یې پاڼې اړولې. اوس هغه شېبه راتلونکې وه چې برېژنېف خپل مېلمه ته د نېږدې راتلونکي خطر خبرداری ورکاوه. ایا د ا خ د ګ عمومي منشي به په دغه خبرداري سم پوه شي؟

برېژنیف، چې په دغو خبرو کې یې ټینګار نغښتی و، خپلې وینا ته دوام ورکړ: «ملګری تره کی، زه به خپله دنده بشپړه ونه ګڼم کی زه یوه داسې موضوع په محرمیت یاده نه کړم چې موږ یې ډېر اندېښمن کړي یوو. نه یوازې موږ بلکې د هغو مالوماتو پر بنسټ چې موږ یې لرو، د ا خ د ګ ځینې فعالان یې هم په اندېښنه کې اچولي. د افغان انقلاب په پړاونو کې د عمومي منشي او د انقلابي شورا د ریس په توګه دا روښانه ده چې ته د ګوند او دولت مشر یې. بل هېڅوک د مشر په توګه نشي توجېه کېدای، یوازې تاسې د خپل هېواد، د وسلوالو ځواکونو او امنیتي ادارو یوازینی مشر یاست.»

تره کي په کرار غږ وویل: «هو، همداسې ده.»

ګرېلوف له دمې څخه په ګټې اخیستنې هڅه کوله چې په دې ځان ډاډه کړي چې تره کی په دغو خبرو پوه شو او که نه. د دغه غونډې د جوړېدلو اصلي لامل همدغه خبره وه. د شوروي کمونست ګوند عمومي منشی تره کي ته داسې روښانه یادونه وکړه : له اور سره مستي مه کوه، له امین سره د واک شریکول بس کړه، ځان ترې خلاص کړه، خو د تره کي ونګې او چلند خپل کوربه ته دا نه ښوده چې ایا مېلمه په خطر پوه شو یا لاتراوسه په خپله سادګۍ ناخبره پاتې دی. داسې غټ خبرداري ته د تره کي یوازینی ځواب «هو، همداسې ده» و.

لیونېد ایلیچ په خپله پاتې وینا کې د افغان وسلوال پوځ کمزورې پوځي وړتیا ته نغوته وکړه او زیاته یې کړه چې د پوځ مورال او سیاسي وضعیت او د مخالفینو په شاتمبونه کې د دوی بې پروایي د قناعت وړ نه ده.

برېژنېف خپل مېلمه ته د دې یادونه هم وکړه چې شوروي اتحاد په تېرو شپږو میاشتو کې په سلګونو شوبلې، زغروال ګاډي، درنې وسلې، جېټ الوتکې او چورلکې افغانستان ته ورکړي دي. دلته یې تره کی وترټلو: «له بده مرغه، د ۱۵۰۰ شوروي هغو پوځي سلاکارانو سپارښتنې نه دي پلې شوې چې په افغانستان کې کار کوي.» بیا یې تره کي ته ډاډ ورکړ:«شوروي اتحاد به ستا ګوند او افغان ولس ته د خپلو هراړخیزو مرستو او ملاتړ ته دوام ورکړي.» برېژنېف په ښکاره د ارامۍ ننګېرنه وکړه کله یې چې وروستۍ پاڼه واړوله. اوس د تره کي وار و. نوموړي په بیروکراتیکو پرتوکولونو کې ډېره تجربه لرله او د مشورې او نیوکې لپاره یې د منلې یوه مفصله او اوږده پرېږه پیل کړه. بیا یې د ځینو هغو ټکو په هکله خبرې وکړې چې ده ته په ځانګړي ډول مهم یا جنجالي وو. د بېلګې په توګه، د دولتي او ګوندي څوکیو د بېلتون په هکله یې وویل: «موږ هڅه وکړه چې پلی یې کړو، خو د وضعیت د ځانګړتیاو له کبله موږ پاتې راغلو. لکه څنګه چې هېواد د جګړې په حالت کې دی، موږ باید واک متمرکز کړو او یوه سړي ته یې ورکړو.» تره کی د واک اغیزمنو سیمه ییزو ادارو په جوړښت کې همغږی و او ویې منله: «موږ تر اوسه د اداري فیوډالي بڼه له منځه نه ده وړې.» تره کي وویل: «زموږ پوځ، په تېره بیا ځمکني ځواکونه، د هغو ملایانو او مذهبي بنسټپالو تر اغېز لاندې دي چې ځان ته «اخوان المسلمین» وایي. موږ دوی ته «اخوان الشیاطین» وایو؛ نو دا طبیعي ده چې زموږ د پوځیانو مورال ټیټ دی. اوس به موږ د شیطان وروڼو لاسونه غوڅوو او دا به، بې اړنګه، وضعیت ښه کړي. له موږ سره حتی یو عسکر خیانت نه دی کړی. دا افسران دي چې خیانت کوي.» دلته تره کي په دې هڅه دروغ وویل چې شوروي مشران خوشاله کړي. ده دلته د نښې منځ وویشت ځکه چې تر اوسه چوپ ګرومیکو ناڅاپه په خوښۍ وویل: «دا ډېره په زړه پورې ده. دا د ټولنیز پوړ موضوع ده.»تره کی د هغه یادونې په هکله همغږی نه و چې افغانان د شوروي پوځي سلاکارانو ته تل پام نه اړوي. ده خپل کوربه ته ډاډ ورکړ چې هېڅ بې بنسټه ځینې نشته او بلاخره یې ترټولو مهمه موضوع پیل کړله. ډېره شونې ده چې تره کی په هغه خطر په بشپړه توګه نه و پوه شوی چې دی ورسره مخ و. ده وویل: « تاسې یادونه وکړه چې ښایي څوک به له هغه واک څخه ګټه پورته کړي چې د ګوند د عمومي منشي او د انقلابي شورا د ریس په توګه ماته راکړل شوی. دا یوه ډېره جدي موضوع ده. زه به سر له اوس څخه هر هغه څه له نېږدې څارم چې زما تر شا پېښېږي.»

د برېژنېف د خبرداري په هکله تره کي همدومره وویل: برېژنېف بېرته دغه موضوع ته ونه ګرځېد او ګرومیکو هم په دې هکله څه ونه ویل، خو په پای کې برېژنېف خپلې وینا ته وکتل او داسې وبرېښېد چې یوه موضوع یې نه ده یاده کړې؛ نو کله چې تره کي د نورو پوځي مرستو په هکله د خبرو غوښتنه وکړه، برېژنېف په ډېره بېخونده بڼه وویل: «زه غواړم یو ټکی روښانه کړم. ته فکر کوې چې ستا د ګوند په سیاسي بېرو کې یووالی شته؟» تره کی د یوې دقیقې لپاره چوپ و، خو بیا یې وپتېیله چې شورویانو ته ګیلی ګرماني و نه

www.samsoor.com

کړي. ده په ځواب کې چې په خپلو خبرو يې ډېر باور نه درلود داسې وويل: «زما په اند داسې يووالی شته دی. له انقلاب څخه مخکې د سياسي بېرو د ځينو غړو په منځ کې منفي اړيکې او دوښمنی شته وې، خو کله چې ګوند واک ته ورسېد، دوښمنی له منځه لاړې.»
د غونډې په پای کې د معمول په څېر تره کي، برېژنېف ته زارۍ وکړې چې د زغروالو ګاډو، مهماتو او پوځي وسيلو نورې
پوځي مرستې ورسره وکړي. د مرستو نوملړ ډېر اوږد و: ۱۱۰۰۰ پوځي لارۍ، ۱۰ Tu-22 جېټ بم غورځوونکې الوتکې، ۱۰ Meg-21 bis جنګي جېټ الوتکی، ۱۵۰ زغروال ګاډي، ٦۲ BMP ، ۱۰۰۰۰۰۰ جوړې پوځي موزې، ۲۰۰۰۰ شړۍ، ۳۰۰۰۰۰ کوټونه.
تره کي خپل کوربه ته د خپلې مخکنۍ غوښتنې يادونه وکړه چې ډېرش ميليونه ډالره ورته ځانګړي کړي چې «د تنخواو په کچه کې اوچتوالی او د افسرانو او عسکرو اکمالاتي توکو لګښت پوره کړي.» نوموړي له شوروي اتحاد څخه دا هم وغوښتل چې د تاجکستان او ازبکستان په روغتونونو کې ۱۰۰۰ افغان ټپي افسرانو او عسکرو ته د درملنې اسانتياوې برابرې کړي.
برېژنېف، چې ډېر ستړی شوی و او غوښتل يې چې له افغان انقلابي سره مخه ښه وکړي، تره کي ته ډاډ ورکړ چې شوروي حکومت به يې د مرستې ټولې غوښتنې وارزوي او کله يې چې په هکله پرېکړه وشوه، افغان حکومت ته به خبر ورکړل شي.
له نيمې شپې څخه وخت اوښتی و چې تره کی په لېنن غونډيو کې خپل استوګنځي ته ورسېد. دی بې کچې ستومانه و او غوښتل يې ويده شي. د هاوانا او مسکو تر منځ اته ساعته د وخت توپير و. نوموړی چې مسکو ته ورسېد، سمدلاسه دي ته اړ شو چې په شوروي اتحاد کې افغان زده کونکو ته خبرې وکړي. ورپسې يې په کرېملين کې يوه سخته غونډه درلوده. کله چې د خپلې خوب کوټې په لور روان و، ناڅاپه له خپل زوړ اشنا، الکسي پېتروف سره مخ شو. په کابل کې د نوموړي رسمي دنده د تاس د خبريال په توګه وه. دوی غېږې سره ورکړې او تره کي ده ته د څښلو بلنه ورکړه. پېتروف ومنله ځکه چې د شپې په دومره ناوخته کې په دغه استوګنځي کې د ده شتون يوه ښه وجه درلوده.
د پي جي يو مشرانو ډاډ نه درلود چې تره کی د هغه خبرداري په جديت پوه شوی چې پرېژنيف ورته څرګند کړ؛ نو چې پر دې ډاډمن شي، پېتروف يې د تره کي استوګنځي ته ورولېږه. نوموړی ځکه د دغه کار لپاره غوره شو چې له تره کي سره يې نږدې اړيکې لرلې او په دري ژبه يې رواني خبرې کولی شوی څو دوی دواړه په يوازېتوب مخامخ خبرې وکړي.
کله چې په خوړنځي کې مېز ته کښېناستل، چوپړيال دوی ته څښاک راوړ. الکسي له برېژنيف سره د غونډې په هکله د تره کي د اند پوښتنه وکړه .تره کي په خوښی ځواب ورکړ: «ډېره ښه تېره شوه. ليونېد ايليچ او فيډل کاسترو ريښتيني انقلابيان دي.» وروسته، الکسي په ډېر پام وپوښتل: «د ليونېد ايليچ د

هغه خبرې په هکله څرنګه پوه شوې چې پرته له تا څخه باید بل هېڅوک د هېواد په مشرۍ کې ځانګړې ځوکۍ ونه لري.؟» تره کي یوه دقیقه سوچ وکړ، بیا یې لږ ویسکي وڅښل او ویې ویل: «ته خو د اوږد یون او د دوو هېوادونو تر منځ د وخت د توپیر له امله په سرګنګسۍ پوهېږې. ما ډېر لږ خوب کړی و، ډېر ستړی وم؛ نو د لېونېد ایلیچ په ټولو خبرو پوه نه شوم، خو ده ژمنه وکړه چې د خبرو اترو تفصیلي یادښت به راولېږي.» پېتروف په ټینګه او جدي توګه تره کي ته د برېژنېف د خبرداري شیره په لنډو ټکو کې څرګنده کړه: «په افغانستان کې د کودتا تابیا نیول کېږي. حفیظ الله امین غواړي تا له خپلې ځوکۍ څخه لیرې کړي. کېدای شي په راتلونکو څو ورځو کې کودتا ترسره شي. دا هغه څه دي چې لیونېد ایلیچ هڅه کوله چې تا ته یې ووایي،

خو د ده د موقف له کبله، ده نشوای کولای نېغ درته ووایي.»

تره کی حیران، خو ونه ډار شو. دا ښکاره وه چې دی تراوسه د هغه ګواښ په لوی خطر نه پوهېده چې ده ته تم ناست و. تره کي وپوښتل: «کابل ته چې ورسېدم څه باید وکړم؟» پېتروف ورته وویل: «ته باید یو مناسب دلیل پیدا کړې چې له امین څخه ټول موقفونه واخلې او له ټولو ځوکیو یې لیرې کړې. بیا یې ښایي د ټولو هغو جرمونو لپاره محاکمه کړې چې ده ترسره کړي.» ورپسې تره کي وویل: «الکسي، زما په اند موږ به له امین سره ټولې دغه موضوعګانې حل کړو.» تره کی له خپل ځای څخه اوچت شو، الکسي هم ودرېد، اوس د دې وخت و چې تره کی ویده شي. زړو ملګرو یو او بل ته غېږې ورکړې او مخه ښه یې وکړه.

له تره کي سره د امین مل خلکو هم په دغه ورځ، د سپتمبر په لسمه، خپل وخت بېځایه ضایع نه کړو. دوی ته دنده ورکړل شوې وه چې د «انقلاب» د بې لارې شوو «اتلانو» له لوري د امین پر ضد د توطیې په هکله شوروي مشران خبر کړي. د خارګرو فعالیتونو د شنډولو اداري مشر، عزیز اکبري د پلاوي د رارسېدو په ورځ ډګروال بګدانوف ته ورننېردې شو او ورته ویې ویل چې غواړي له ده سره خبرې وکړي. بګدانوف له یو خارګر مامور څخه چې دري خبرې یې کولی شوی وغوښتل چې ژباړه وکړي. اکبري وویل چې ملګري امین دنده ورکړې چې په شوروي کې د ده همکاران خبر کړم چې په کابل کې څلورو نورو خلقیانو د ده پر ضد توطیه جوړه کړې ده. اکبري د څلورو توطیه جوړونکو نومونه واخیستل او زیاته یې کړه: «ملګري امین غوښتنه کړې چې زموږ خبرې جګړن تړون، چې په روسي ژبه ښې خبرې کوي، وژباړي.» خو اکبري په خپلې دغې خبرې بګدانوف هک پک کړ، ده وویل: « د تړون په شتون کې زه هیله من یم چې ستاسې دې ته پام وي چې زه هر څه وایم، ریښتیا نه دي.» بګدانوف، چې ډېر تلوسمن شوی و، تړون ته ورننېردې شو: «کولای شې زموږ تر منځ ژباړه وکړې؟» تړون یې په خوښۍ غوښتنه ومنله.

www.samsoor.com

کله چې دوی درې واړه په کوټه کې یوازې پاتې شول، عزیز اکبري بیا د امین پر ضد د توطیې خبرې پیل کړې او د ځلورو اصلي توطیه جوړونکو نومونه یې واخیستل. بگدانوف داسې وښووده چې مخکې یې هېڅ کله دغه خبرې نه وې اورېدلې. کله چې د دوی تر منځ خبرې خلاصې شوې، اکبري بهر ته ووت. بگدانوف له ترون څخه د دغو خبرو په هکله پوښتنه وکړه. ترون د اکبري د خبرو پخلی وکړ او ریښتیا یې وبللې. ده زیاته کړه چې دغه خاینان غواړي چې نه یوازې امین له خپلې څوکۍ څخه لیرې کړي، بلکې دوی یې د وژلو پلان هم لري. بگدانوف په دې هکله هم خبر و. ورپسې د خبرو بڼه بدله شوه. ترون، تره کي ته کنځاوې پیل کړې او ویل یې چې تره کی لېونی دی. دا یې هم وویل چې توطیه جوړونکي غواړي چې دی (ترون) هم ووژني.

بگدانوف ته اوس دغه غوښتنه معمولي شوې وه چې له خلقیانو څخه غوښتنه وکړي چې له ډېرې پارېدنې څخه ډډه وکړي او له ننگېرنو ډک نشي .ده زیاته کړه چې ترخپلې وسې به هڅه وکړي چې د افغان مشرانو تر منځ د درز مخه ونیسي. کله یې چې له ترون سره خبرې خلاصې شوې، بگدانوف یو ځل بیا اکبري ته ورغی. نوموړی اندېښمن او وېرېدلی ښکارېده. ده بگدانوف ته وویل چې په اصل کې پخپله امین توطیه جوړوي. امین پرېکړه کړې چې تره کی لیرې کړي او یوازې دی د افغانستان واکمن شي. د اکبري د خبرو پر بنسټ، امین د لوی درستیز، یعقوب او د مرکزي کمېټې د نورو غړو د وفادارۍ ژمنه ترلاسه کړې وه. لکه څنگه چې دغه درې وزیران او سروري د ده د واک ترلاسه کولو په لاره کې خنډ وو، امین غوښتل لومړی دوی له منځه یوسي. کودتا په نېږدې راتلونکې کې پیلېدونکې وه.

بگدانوف په مسکو کې په رخصتۍ و، خو د دغو خبرو په اورېدو سره یې وپتېیله چې باید بېرته کابل ته لاړ شي. سبا ته

کله چې یاسینېوا ته ورسېد، ده له دغو افغانانو سره د خبرو په هکله یو مفصل راپور ولیکه او دې پایلې ته ورسېد چې

په راتلونکو څو ورځو کې به امین پرېکنده گامونه اوچت کړي.

دغه ماښام کریچکوف یوه غونډه جوړه کړه. په کابل کې د کې جي بي د استازې څانگې د مشر په توگه، بگدانوف د وضعیت په هکله د خپلو شننو راپور وړاندې کړ. ده وویل چې که کودتا بریالۍ شي، امین به ډله ییزې ځپنې پیل کړي. دی به هڅه وکړي چې نه یوازې پاتې پرچمیان بلکې هغه خلقیان هم له منځه یوسي چې تره کي ته یې شخصي وفاداري ښودله؛ نو دا به د گوند د تباهۍ په مانا وي. د یو پښتون ملتپال په توگه، امین به پوځې فعالیتونه د پاکستان په خاوره کې قبایلي سیمو ته ولېږدوي. دا به خامخا د دوو هېوادونو تر منځ یوه لویه جگړه پیل کړي. لکه څنگه چې شوروي اتحاد په لویه کچه له کابل سره پوځي مرستې کړې دي، دا به په سیمه کې د امریکا او شوروي تر منځ نېغ ټکر رامنځته کړي. کله یې چې دغه خپگانوونکې وړاندوینه څرگنده کړه، بگدانوف وویل چې دی د ټولو هغو همکارانو بشپړ

ملاتړ کوي چې د امین پر ضد د سختو ګامونو پلویان دي. کریچکوف له ده سره په همغږۍ وویل: «پر سیاسي بهیر باندې د امین نفوذ باید محدود شي.»

جنرال میډیانیخ وویل: «موږ همدا اوس یو مهم ګام اخیستی دی. موږ د دغه خطر په هکله تره کي ته خبرداری ورکړ. که دی نه غواړي چې مړ شي؛ نو یو څه باید وکړي.»

کریچکوف په ناخوښۍ ګډونوالو ته وکتل او ویې پوښتل: «بل څه شی اړین او شوني دي چې موږ یې ترسره کړو؟ فکر وکړئ. کېدای شي د ستونزې د مشروع حل لپاره موږ له ملي شورا څخه کار واخلو.» د ده همکارانو خپلې اوږې اوچتې وخوځولې. کومه ملي شورا؟ لکه چې دغه مشر پر افغانستان د سویس خیال کړی.

په غونډه کې ټولو ته څرګنده وه چې امین ته د جزا حکم وټاکل شو، خو چا باید ترسره کړی وی؟ اعدامونکی یې باید څوک وي؟ په دغه دفتر کې هېچا د داسې خبرې ویلو زړه نه درلود چې خپل راتلونکی کاري ژوند پرې برباد کړي.

بلاخره بګدانوف چوپتیا ماته کړه: «راځئ چې په دغه هوکړه وکړو. زه کابل ته ځم. له دواړو خواو سره په خبرو کې، زه به د ګوند له یووالي او مشرتابه څخه ټینګ ملاتړ څرګند کړم. که مخالف لوري د امین په هکله بیا خبره راپورته کړه، زه به ورته ووایم چې د حل لاره پخپله د دوی په لاس کې ده. شوروي اتحاد د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس نه وهي.» په دې توګه غونډه پای ته ورسېده.

له دې څخه څو ورځې مخکې کریچکوف د افغانستان د چارو په هکله یو لوی کنفرانس جوړ کړی و. د لومړي لوی ریاست مشران او د جي ار یو استازي په یاسینېوا کې سره یوځای شول. د پوځي څارګري اداري مشر، جنرال ایوشوتین Ivashutin د جي ار یو ډلې مشري کوله. دواړو اېجنسیو د حالاتو په هکله ډېر منفي لید وړاندې کړ. د کې جي بي ځانګړي استازي، ایوانوف اند ته په نغوتې (اشارې)، کریچکوف وویل چې امین په خپلو توطیو، لېوالتیاو او ناځاپو سره د افغانستان سوسیالېستي تګ لوري ته او په دغه هېواد کې د شوروي ګټو ته په یو نېغ ګواښ بدل شوی.

جي ار یو ګڼ شمېر داسې بېلګې څرګندې کړې چې په سیمه کې یې د امریکا دریځ غښتلی نبوده. د ایوشوتین د وینا پر بنسټ، پر حالاتو باندې د کنترول یوازینۍ لاره په افغانستان کې پوځي مداخله وه.

له دغه خبرې څخه وروسته، په کوټه کې چوپه چوپتیا خوره شوه. په دغه پټ کنفرانس کې ټولو ګډونوالو جنرال ایوشوتین نبه پېژانده. دوی پوه شول چې پرته د دفاع وزیر له ملاتړ څخه به ده هېڅ کله داسې نه وی ویلي. کېدای شي د دغه خبرې نیت یو ازموینت و چې د څارګرې اداري د نورو غړو غبرګون وارزول شي.

کریچکوف د خپل اند له څرګندولو څخه ډډه وکړه. ده ته واک ورکړل شوی و چې د خپل مشر اند څرګند کړي. ده

وویل: «یوري ولادیمیرووویچ اندروپوف ویلي چې اوسمهال باید دا کار و نه کړو.» په پایله کې دواړه لوري په دې کې همغږي وو چې په عمومي توګه په سیمه او په ځانګړې توګه په افغانستان کې د وضعیت په هکله د جدي اندېښنو دلیلونه شته. دوی هوکړه وکړه چې د یو او بل په همکارۍ به امین تر کنترول لاندې نیسي او د امین د هرې هغې هڅې په څار کې به ویښ اوسي چې له امریکایانو سره نېغه اړیکه نیسي. د افغانستان په کورنیو چارو کې باید د امریکا د لاسوهنې بربنډولو ته دوام ورکړل شي. مخالفین باید د امپریالېزم او زاینېزم اجیر جنګیالي وښودل شي. د شوروي پوځي مداخلې په تړاو، دا باید شونې وي چې هغو سیمو ته شوروي پوځیان ولېږل شي چېرته چې د شوروي اتباعو ژوند په خطر کې کېږي. کریچکوف په اروپا کې د پي جي یو د هغه فعالیتونو په هکله هېڅ ونه ویل چې د راتلونکې نوې کودتا په هکله یې مهاجر پرچمیان چمتو کول. دغه مالومات اشد محرم پاتې شول او حتی په جي ار یو کې د ده همکارانو ته هم ورنه کړل شول.

# ۷

# د کودتا پیښلړ

## د سپټمبر یوولسمه

د ۱۹۷۹ کال د سپټمبر په یوولسمه تره کی له خپل مل پلاوي سره له مسکو څخه بېرته کابل ته روان و. شوروي سلاکاران او د بېلابېلو وزارتونو او سازمانونو مامورین له خپلو کورنیو سره یوځای په همدغه دولتي اجاره کړل شوې الوتکه کې کابل ته تلل په کومه کې چې تره کی روانېده. طبیعي ده چې دوی په هغه ځانګړي سالون کې نه کښېناستل چې لوړپوړو چارواکو ته بېل کړل شوی و بلکې د الوتکې شاتنۍ برخې ته څېرمه څوکۍ ورکړل شوې وې. د اوس په څېر، په هغه وخت کې دا خلکو ته ډېر ویاړ و چې په داسې الوتکه کې یون وکړي چې د یو هېواد ترټولو لوړپوړی مشر پکې وي.
د کابل هوایي ډګر ته ډېر مهم مامورین لاړل چې تره کي ته هرکلی ووایي. د مرکزي کمېټې غړي، وزیران، د امنیتي ادارو مشران او سفیران، ټولو د دې تلوسه لرله چې راروان افغان ولسمشر ته درناوی وکړي. هغه دیپلوماتانو چې په دغه مراسمو کې ګډون درلود دې ته هم لېوال وو چې د افغان حکومت په اوچتو لیکو کې پر وضعیت پوه شي. په هغه وخت کې کابل له عجیبو ګنګوسو ډک و: امین د سي ای اې اجنټ دی او ډېر ژر به ټیټې څوکۍ ته بدل شي، د تره کي دوران پای ته نږدې دی او یوه کودتا ډېر ژر پېښېدونکې ده.
په کابل کې د شوروي دیپلوماتیک ماموریت تر ټولو لوړپوړی او درونډ مشر، الکساندر میخیالویچ پوزانوف هم هوایي ډګر ته ورسېد. د بېلابېلو هېوادونو یو شمېر سفیران او دیپلوماتان له ده څخه سمدلاسه چاپېر شول چې د افغانستان د وضعیت په اړه د ده په اند پوه شي. د سفیر څوابونه ګونګ وو او نېغ مالومات یې نه ورکول. له عمومیاتو څخه پرته، دا ناشوني وه چې له ده څخه نور مالومات ترلاسه شي.
د شوروي دیپلوماتانو په منځ کې د زینت یو شمېر اجنټان هم وو. دوی ساده جامې اغوستې وې او ټول وسلوال وو، خو دنده یې ګونګه وه: دوی باید یوازې څارنه وکړي، له حالاتو سره سم غبرګون وښيي او له پارونې ډډه وکړي.
د هرکلي ډله د هوایي ډګر په ساده ترمېنل کې غونډه شوې وه او لکه څنګه چې د الوتکې د رارسېدلو وخت و، دغه ډلې یې د لیدو لپاره شنه افغان اسمان ته سترګې نیولې وې.

www.samsoor.com

په افغانستان کې چې هر څه راڅرګندېږي، تل د غرونو له شا څخه لومړی رابښکاره شي: د سهارني لمر لومړنی وړانګې، ورېځې چې په باران بدلېږي او هغو درو ته هوساینه ور وړي چې له بې رحمه لمر څخه ستومانه شوې وي، سوړ تازه باد او داسې وراوونکې سیلۍ چې په خپله لاره کې هر څه ویجاړوي. مسافر او الوتکې هم لومړی د غرونو له شا څخه راڅرګندې شي.

په قومانده کې دویم او د حکومت ریښتینی مشر، د وسلوالو ځواکونو، ځانګړو چوپړونو او د بهرنیو چارو وزارت تر شا د سېکمنتیا ځواک او د انقلاب اتل ملګری حفیظ الله امین هېڅ چېرې نه ترسترګو کېده که څه هم د الوتکې د رارسېدو وخت په چټکۍ رانږدې کېده. د تم خلکو په منځ کې اندېښمن پس پساري روان وو. ځینې دیپلوماتانو د امین د نه شتون عجیبې وجې څرګندې کړې. داسې به نه وي چې امین له خپلې څوکۍ څخه ګوښه کړل شوی وي؟ کېدای شي امین د

هوایي ډګر په یوه ځانګړې برخه کې پټ وي او تر یوې ځانګړې شېبې پورې د خلکو منځ ته را نشي؟

بلاخره دوی د اسمان په څنډه کې د نقره یي وزر څرک ولید. الوتکې ښکته کېدنه پیل کړه، خو ناڅاپه، لکه پیلوټان چې خپل اند بدل کړي، د الوتکې پوزه بېرته اواره شوه او د هوایي ډګر پر سر د غرونو په لور یې الوتنې ته دوام ورکړ. څو دقیقې وروسته الوتکه بیا راڅرګنده شوه او داسې ښکارېده لکه چې ښکته کېدو ته تابیا نیسي،خو دا ځل یې هم له ناستې څخه ډډه وکړه. نور خو یې څه کوې، د الوتکې چلند بډه ناڅاپي ښکارېده. هوا صافه وه، ورېځې نه وې او هر څه  سل په سلو کې سم لیدل کېدل. د ناستې په لیکه کې کوم خنډ نه لیدل کېده. داسې ښکارېدل لکه کوم غیبي ځواک چې د الوتکې له ناستې څخه مخنیوی کوي.

د ښه راغلاست ګڼه ګوڼه په ډېرېدونکې توګه اندېښمنه کېده. دا څه روان دي؟ دیپلوماتانو په وارخطایۍ یو او بل ته وکتل. الوتکه په خپله درېیمه هڅه کې ښکته شوه او د درېدلو ځای ته کرار کرار روانه وه. په دغه شېبه کې یو فلوکسواګون د هوایي ډګر پر پاخه غولي راڅرګند شو. امین له ګاډي څخه رابښکاره شو، په چټکۍ د تم ډلې په لوري لاړ او په وروستۍ شېبه کې د قالینې څنډې ته په ولاړه لیکه کې پر خپل ځای ودرېد.

تره کی لومړنی کس و چې له الوتکې څخه ووت. دی د معمول په څېر په موسکا او توده مینه له الوتکې څخه ښکته شو. له خپلو راټولو شوو غوړمالانو سره په روغبړ کې، تره کي خپل «وفادار زده کوونکي» ته غېږې ورکړې، خو ځینې کسان چې هلته وو، وویل چې تره کی د امین په لیدو داسې حیران شو لکه د ده د شتون تمه یې چې نه لرله، خو له لیرې څخه هر څه سم برېښېدل. «زده کوونکی» ټیټ شو او په منندوینی یې د خپل «ښوونکي» لاس ښکل کړ مخکې له دې چې لکه یو نږدې ملګری غېږې ورکړي. ښایي بدنومو وزیرانو ته په نغوتې سره، تره کي وویل: «هیله من یم چې ټول دلته شته وي.» امین ورته وویل: «اندېښنه مه کوه. هر څوک پر خپل ځای دي او ستا بېرته راتګ ته تلوسمن وو.»

مخکې له دې چې د بهرنیو ډیپلوماتانو ډلې ته ورشي، تره کي د حکومت او ګوند له نورو غړو سره لاسونه ورکړل او یو او بل یې ښکل کړل. ده په ډېره خوښۍ د شوروي سفیر ته ټینګ لاس ورکړ او ورپسې د نورو هېوادونو د ډیپلوماتیک ماموریت مشرانو ته لاړ.

د هرکلي له مراسمو څخه وروسته د ګاډو ولسمشریز کتار د خلکو مانۍ په لوري لاړ چېرته چې د مرکزي کمېټې، انقلابي شورا او حکومت یوه ګډه غونډه جوړېده. تره کی او امین په یوه ګاډي کې ناست وو.

خو دغه ورځ په هوايي ډګر کې څه پېښ شول؟ ولې امین ناوخته شو؟ ولې د تره کي الوتکې په هوا کې دومره ډېر وخت تېر کړ او د پلازمېنې پر سر ګرده تاوېده. دغو پوښتنو ته ځوابونه د وخت په تېرېدو سره پیدا شول.

وروسته څرګنده شوه چې لومړي وزیر ته خبرداری ورکړل شوی و چې د ځانګړو روزل شوو افسرانو یوه ډله، د «ځلورو یاغیانو» متحدین به هڅه وکړي چې په هوايي ډګر کې د امین په راڅرګندېدو سره دی ووژني. د دې ارزونه سخته ده چې دغه ګواښ څومره د باور وړ و، خو امین خپلو وفادارانو ته امر وکړ چې د هوايي ډګر ټول ځایونه ولټوي او د هوايي ډګر په لاره کې ساتونکي بدل کړي. که پر چا حتی ډېر لږ هم بد ګومان وشو، باید ودرول، ولټول، ونیول او تر بل امر پورې وساتل شي. دغه کار باید په پام او داسې ترسره شي چې بېځایه اړنګونه او ګنګوسې ونه زېږوي. امین تر هغه وخت پورې په خپل کور کې پاتې شو تر څو چې په دې ډاډه نه و چې هوايي ډګر او هوايي ډګر ته لاره د ده د باوري ځواکونو تر کنټرول لاندې وه. کله یې چې په دې هکله ډاډ ترلاسه کړ، دی په یو داسې فلوکسواګون کې کېښناست چې د چا پام یې ځان ته نه اړاوه او په داسې حال کې چې پخپله یې ګاډی چلاوه، پرته له ساتونکو څخه د هوايي ډګر په لور روان شو چې خپل «ګران ښوونکی» وویني.

له دې څخه مخکې همدې ته ورته یو ګواښ د خارګرې ادارې د مشر پر مېز پربوت. د امین په ډله کې د سروري اجنټانو راپور ورکړ چې د تره کي الوتکه به د ناستې په وخت کې پر یوه له ځمکې څخه هوا ته توغندي وویشتل شي. دغه ډز به له هغه دافع هوا څخه وکړل شي چې د هوايي ډګر ساتنه کوي. سروري په دافع هوا کې د مخابرو ټولو نوکریوالانو پر ځای نور خلک کېښنول او د هوايي ډګر چاپېر د توپچي واحدونو ټول افسران یې لیرې کړل. کله چې سروري ډاډ ترلاسه کړ چې اوس د تره کي الوتکې ته کوم ګواښ نشته، د الوتکې د ناستې اجازه یې ورکړه.

امین ریښتیا ویلي وو: د تره کي په نه شتون کې کومه پېښه نه وه شوې. د دولت ټول نومور خلک پر خپلو څوکیو کې پاتې وو. په دغه بهیر کې د تره کي او امین لوري مساوي پاتې شول، خو خطر ډېر زیات وو.

د خلکو په مانۍ کې غونډه سمه مخته لاړه. په هاوانا کې د ناپیلو هېوادونو د سرمشریزې غونډې په هکله تره کي یوه اوږده او داسې پېچلې وینا وکړه چې د لږمونډو ویبو کارونې یې پوهاوی سخت کړی و. ده

www.samsoor.com

وویل چې په دغه خوځښت کې یې د افغانستان پر ونډې ټینګار وکړ. نوموړي زیاته کړه چې بهرنیو خبریالانو ده ته ځانګړی پام اړولی و. په مسکو کې له ده سره د برېژنېف د غونډې په هکله چې د افغان پلاوي نورو غړو ته بلنه نه وه ورکړل شوې، امین یوه پاروونکې پوښتنه وکړه. تره کي له نېغ ځواب ځخه ډډه وکړه او افغانستان ته یې د شوروي پوځي مرستې د پلان خبره یاده کړه. ده وویل چې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې عمومي منشي ژمنه وکړه چې د وسلو، مهماتو، پوځي وسیلو او تکنالوژۍ په هکله به د افغانستان ټولې غوښتنې پوره کړي. دغه خبرې د ګډونوالو چک چکې رامنځته کړې. بیا تره کي په څه ناڅه خانتما مهربانۍ امین ته وویل: «زویه، دغسې خبرې باید محرمې ترسره شي.» خو ډېره شونې ده چې امین یا پوه و او یا پوه شو چې په کرېملین کې له تره کي سره د برېژنېف خبرې یوازې د پوځي مرستې په هکله نه وې.

## د سپتمبر دوولسمه

کله چې ولسمشر په ازادۍ ټاپو Island of Freedom کې و، امین خپل وخت ضایع نه کړ. د دغو لسو ورځو په بهیر کې چې د افغانستان واک د ده په لاس کې و، ده د هېواد او ګوند په مشرتابه کې خپل دریځ غښتلی کړ که څه هم ده ونشوی کړی چې «څلورواله غدی» له منځه یوسي. اسدالله، د امین وراره او هغه چا چې د شوروي سلاکار، سفرانچوک استازولي کوله، له امین سره مرسته کوله. د اسدالله امین په مرسته، ده وکولای شول چې د مرکزي کمېټې نور غړي او د مهمو وزارتونو مشران خپل کړي. د خپلو بالقوه متحدینو د وفادارۍ په ارزونه کې د دغه جوړې یوه ځانګړې لېله خوښېده. اسدالله به یو بیروکرات ور وغوښت او نېغ به یې ترې وپوښتل چې ایا د مخالف لوري او د خاینانو پر وړاندې د امین د هڅو ملاتړ کوي. په داسې وخت کې به اسدالله د خپل مېز شاته ناست و او یوه تومانچه به یې ښکاره پر مېز اېښې وه. که یې د خپل مرکچي په ځواب کې کوم اړنګ وننګېرلو، ده به تومانچې ته لاس کړ او د وژلو او یا بندي کولو ګواښ به یې وکړ. په دغسې شېبو کې ډېرو کمو خلکو په دې اړنګ درلود چې څوک په هېواد کې تر ټولو ډېر واکمن دي.

کله چې امین د تره کي له راتګ څخه یوه ورځ وروسته د ده لیدلو ته لاړ، نوموړي د تره کي پر وړاندې د تابع «زده کوونکي» د چلند لوبه بس کړه. امین ته خبره څرګنده وه. یا به تره کی یاغي خلقیان لیرې کوي او یا به خلقیان دی لیرې کوي، خو حتی دوه اونۍ مخکې د شخړې پایله تر اوسه ناڅرګنده وه. اوس چې امین د مرکزي کمېټې له ډېری غړو سره د ملاتړ پټ

ترونونه کړي وو، امین پرېکړه وکړه چې پرېکنده ګام اوچت کړي. ده په نېغه توګه له عمومي منشي څخه وغوښتل چې

ټول څلور غړي له خپلو څوکیو لیرې کړي او د ده پر ضد د توطیې په تور یې محاکمه کړي.

امین د دغو خبرو لپاره ښه تابیا نیولې وه. کله یې چې د سروري په هکله خبرې کولې، امین د اکاړې او پراخو ځینو هغه بېلګې یادې کړې چې اګسا ترسره کړې وې. ده اګسا د داود له ژاندارم، د ایران د شاه له اکاړې (بې رحمې) څارګرې اداري او حتی له سي ای اې سره پرتله کړ. ده چې کله د سروري ناوړه لېلې څرګندولې، کنځاوې یې کولې او تېنګار یې کاوه چې یوازې د سروري لېرې کول به له اګسا څخه شرمونکی نوم لیرې کړي. امین د ګلاب زوی، وطنجار او مزدوریار په هکله هم ورته خبرې وکړې.

تره کي، چې په پیل کې د معمول په توګه په سوله منه ښه خبرې کولې وویل: «ښایي چې ته پخپله له دولتي چارو څخه یوه دمه وکړې. ولې د خپلې خوښې یو هېواد ته د سفیر په توګه نه ځې؟» امین په تندۍ ولسمشر ته ځیر شو او داسې خبرې یې وکړې چې نور یې د خبرو اترو لپاره ځای پرېنښود: «چوپ شه. ستا نېشې او زورېتوب تا له دلیل ویلو څخه محروموي.»

امین پرته له مخه ښې د تره کي له دفتر څخه ووت. ده داسې څه وکړل چې پښېماني یې بې ګټې وه. وروسته یې په همدغه ورځ تره کي ته تیلفون وکړ او په ګواښ یې خپله وروستۍ غوښتنه څرګنده کړه: «که دغه څلور خاینان له خپلو څوکیو ونه شړې او ما ته یې ونه سپارې، زه به د ولسمشر په توګه ستا د امرونو اطاعت و نه کړم.»

## د سپتمبر دیارلسمه

دلته د سپتمبر د پېښو د شاهدانو نبغې ویناوې راوړل شوې دي*.

### لیونېد پاولوویچ بګدانوف، په افغانستان کې د کې جي بي استازې څانګې مشر

د سپتمبر په دوولسمه شپه، زه د ایروفلوټ په الوتکه کې کابل ته لاړم. زما لومړي مرستیال، ولادیمیر چوچوکین له هوایي ډګر څخه راپورته کړم او د وضعیت په هکله یې لنډ مالومات راکړل. موږ هوکړه وکړه چې په کور کې به د غرمنۍ په ترخ کې مفصلې خبرې وکړو. ما غوښتل چې له غرمنۍ وروسته یوه سترګه خوب وکړم، خو ډېر ژر د اګسا مشر، اسدالله سروري ویښ کړم. ده وویل چې غواړي ډېرې اړینې خبرې راسره وکړي. زما ده ته پام شو چې ډېر اندېښمن و. نوموړي له افغان دودیزه اوږده روغبړ څخه تېر شو او ما ته یې وویل چې د دریو وزیرانو په ګډون، امین د ده د نیولو امر کړی دی. ما ده ته سپارښتنه وکړه چې څلورواړه سملاسي د تره کي ماڼۍ ته لاړ شي او تر څو چې دوی ته بیا خبر ورکول کېږي همله پاتې شي. زه نبغ سفارت ته لاړم او کریچکوف ته مې تیلفون وکړ: «امین باید ژرترژره شنډ کړل شي او کنه بیا به ډېر ناوخته وي.» خو له همدغه شېبې څخه وروسته ایوانوف زما دفتر ته ننوت. ده غوړې واخیسته او هڅه یې

*د دغه کتاب لیکوالانو د ۱۹۹۸-۲۰۱۰ کلونو په بهیر کې له دغو خلکو سره مرکې وکړې. مرکې په کابل، مسکو او لوېدیځې اروپا کې ترسره شوې دي

www.samsoor.com

وکړه چې د خبرو بڼه نرمه کړي: «دوی ته د یوې وروستۍ هڅې فرصت ورکړه چې شخړه پخپله په سوله ییزه توګه حل کړي.» ورپسې موږ دواړه د خبرو لپاره سفیر ته لاړو چې څنګه مخته لاړ شو. لږ وخت وروسته، پوزانوف، پاولوفسکي، ګوریلوف، ایوانوف او روریکوف تره کي ته لاړل.

د مازدیګر په شاوخوا شپږو بجو ما ته وویل شول چې سروري او درې وزیران پرته له دې چې مخکې تر مخکې خبر ورکړي، سفارت ته راغلي. دوی ټینګار کاوه چې له ما سره وګوري؛ نو زه ښکته لاړم او د هغه ولاړ مېرسیدس په لور مې ګامونه واخیستل چې سروري یې د اشترینګ ترشا او درې وزیران پکې ناست وو. سروري یو ځل بیا اندېښنه ښرګنده کړه چې د دوی د نیولو یا وژلو امر شوی او سفارت ته راغلي چې پنا واخلي. ما هڅه وکړه چې دغه ناڅاپي مېلمانه ارامه کړم. دوی ته مې وویل چې همدغه شېبه شوروي ملګري له امین سره خبرې کوي او دوی دې د ښې پایلې هیله ولري. یو بل مېلمه، عزیز اکبري هم ناڅاپه راورسېد. امین نوموړي ته دستور ورکړی و چې شوروي سفارت ته د «څلوروالې غدې» د توطیې په هکله خبر ورکړي. ده چې مېرسیدس ولید، په لور یې روان شو او له سروري سره یې په پښتو خبرې وکړې. بیا بېرته لاړ.

زه پوه شوم چې په ګاډي کې د وزیرانو پاتې کېدل ښه نه دي؛ نو دوی ته مې بلنه ورکړه چې سفارت ته ننوځي. د دوی لپاره مې چای راوغوښت. زه یوه شېبه له سروري سره یوازې وم. ده په کرار غږ له ما څخه وپوښتل چې د امین د وژلو په تړاو به د شوروي غبرګون څرنګه وي. زما ځواب همغسې و چې په وار وار مې ترې کار اخیستی و: «موږ په افغان مشرتابه کې د یووالي ملاتړ کوو. دا زموږ اصلي دریځ دی. زما خپل اند دا دی چې هېڅ ته باید د ګوند د وېشلو اجازه ورنه کړل شي. په دې هکله زه نور څه نشم ویلی. دا ستاسې کورنۍ چارې دي.» داسې ښکارېدل چې سروري زما په ځواب پوه شو چې شوروي اتحاد به د ده د پلانونو مخالفت و نه کړي. ده وویل: «ولې مو دغه کار مخکې و نه کړ؟ ما باید امین په خپلو لاسونو هغه وخت زندۍ کړی وای چې وروستی ځل مې له تره کي سره ولید.» ورپسې زه تیلفون ته ور وغوښتل شوم. تیلفون د تړون له لوري و. خامخا اکبری زموږ د مېلمنو په هکله خبر ورکړی و ځکه چې دغه جګړن په ملنډیزه بڼه وپوښتل چې ایا په سفارت کې کومه مېلمستیا جوړه شوې. ما په دې پلمه ځان ترې خلاص کړ چې زه اوس راغلی یم او په هېڅ نه یم خبر.

وروسته وطنجار زموږ د ښاري لیکې د تیلفون غوښتنه وکړه. زموږ یو دیپلومات له ده سره لاړ چې تیلفون وروښيي. لکه څنګه چې موږ پوه شوو، وطنجار کابل ته څېرمه پوځي اډو ته تیلفونونه وکړل. ده له قوماندانانو څخه د امین پر ضد د بغاوت ملاتړ وغوښت. ده په پښتو خبرې کولې؛ نو زموږ دیپلوماتان د ده پر ټولو خبرو پوه نه شول. وروسته موږ ته څرګنده شوه چې له وطنجار سره له خبرو وروسته، ټولو قوماندانانو لوی درستیز، یعقوب ته د وطنجار د نیت په هکله خبر ورکړی و.

دا موږ ته ډېر ښځونده خبر و ځکه چې وطنجار د تیلفون له پرانیستې لیکې څخه کار اخیستی و او بې اړنګه، دغه لیکه د امین د خلکو تر ټار لاندې وه؛ نو دوی ته داسې برېښېده چې توطیه جوړوونکو د امین پر ضد د شوروي په سفارت کې کودتا جوړوله.

زموږ استازي له ماښې څخه بېرته راغلل او له تره کي سره د خبرو په هکله یې د یو تېلګراف لیکل پیل کړل. د تیلفون زنګ بیا راغی او تیلفون کوونکي له وطنجار سره د خبرو غوښتنه وکړه. د تیلفون په لیکه کې امین و او له وطنجار سره یې په لړاکې (بې ادبۍ) خبرې کولې. ده وویل: «تاسې د انقلاب اتلان، داسې ډارن یاست لکه مږې.» ورپسې تره کي غوږۍ واخیسته او هڅه یې وکړه چې وزیران ارامه کړي. دوی ته یې سپارښتنه وکړه چې بېرته خپلو کورونو ته لاړ شي او د دوی ژوند په خطر کې نه دی.

**الکساندر میخیالویچ پوزانوف، په کابل کې د شوروي سفیر:**

د اګست په پای کې د هر ساعت په تېرېدو وضعیت خرابېده. امین پر خپل «ښوونکي» جال غوړولی و. تره کي باید په هېڅ وجه کابل نه وای پرېښی، خو دی ډېر بې پامه و. ده له موږ څخه د یوې الوتکې غوښتنه وکړه چې کیوبا ته پکې لاړ شي، خو له تګ څخه یې یوه ورځ مخکې وویل چې دی په خپله الوتکه کې ځي. افغانستان په دې وروستیو کې یوه بوینګ الوتکه له امریکا څخه پېرودلې وه او تره کي غوښتل له همدغې الوتکې څخه کار واخلي، خو تره کي ولې خپل اند دومره ناڅاپه بدل کړ؟ موږ وننګېرل چې دلته کومه خبره شته، هر څه پېښېدلی شوی، الوتکه زړه وه او عمله یې څېړل شوې نه وه. ما هڅه وکړه چې د تره کي اند بدل کړم: «ملګرې تره کی، دا ښه کار نه دی. زموږ دولتي الوتکه همدا اوس په تاشکند کې ده. که ته د شوروي مشرانو وړاندیز ونه مني، د دوی غبرګون به منفي وي.» سبا سهار ما ته امین تیلفون وکړ: «موږ ستاسې مرستې ته اړتیا نه لرو - موږ خپله الوتکه لرو.» ما توند ځواب ورکړ: «موږ د لومړني پلان پر بنسټ مخته ځو.»

موږ به هېڅ کله پوه نشو چې د پردې تر شا څه روان وو. کېدای شي هېڅ د پام وړ څه نه وو او یا کېدای شي امین کومه توطیه جوړوله.

په کرېملین کې د دوی د غونډې په ترڅ کې برېژنېف په عمومي بڼه تره کي ته د ممکنه خطر خبرداری ورکړ، خو ته دې ته خیال وکړه، کله چې بېرته افغانستان ته راغی، تره کي دغه ګواښ له پامه وغورځاوه. دا څرګنده نه ده چې دی ولې دومره بې پامه و. کېدای شي امین قانع کړی وي چې د ده اړنګ بې بنسټه دی او یا ښایي ده پخپله زموږ مشوره له پامه غورځولې وي، خو چې را لنډه یې کړم، هر څه د پخوا په څېر مخته روان وو. تره کي ته به دا ډېر اسانه وی چې امین ټیټې څوکۍ ته بدل کړي. ده کولی شوی چې د ځینو په پلمه یې له لوړې څوکۍ څخه لیرې کړي، خو داسې څه ونه شول.

www.samsoor.com

کله چې موږ پوه شولو چې امین نه درېدونکی دی، موږ د سپینو څرګندونو یو مفصل تېلګراف مرکز ته ولېږه. د بهرنیو چارو وزارت لومړي مرستیال، کورنیینکو ما ته تیلفون وکړ چې زموږ د تېلګراف ځواب راکړي: «ژرترژره له ملګري امین سره وګوره او داسې ورته ووایه: «په افغانستان کې جګړه په لاره ده. د افغان مشرتابه او د ګوند له شخړو څخه ډک وضعیت او د دوامداره دوښمنۍ په هکله شوروي اتحاد خپله ژوره اندېښنه څرګندوي. موږ اړ یو چې تاسې ته خبرداری درکړو چې که تاسې سملاسي بیړني ګامونه اوچت نه کړی، پایلې به یې ډېرې بدې وي.» دا د مرستیال وزیر ټکي په ټکي خبرې نه، بلکې شیره یې ده.
همدغه ماښام موږ د ارګ ماڼۍ ته لاړو. له ماسره پاولوفسکي، ګوریلوف، ایوانوف، روریکوف او زموږ ژباړن مل وو. موږ تره کي ته وویل: «موږ ته دنده راکړل شوې چې د شوروي دریځ تاسې ته څرګند کړو، خو غوره ګڼو چې په دغو خبرو کې امین هم وي.» تره کي وویل چې امین همدلته په ماڼۍ کې دی او ډېر ژر به راشي. امین چټنه په ځان او چپلکې پر پښو داسې راغی لکه له خوب څخه چې پاڅېدلی وي. دی له کوم ځای څخه راغی؟ ولې یې دغسې جامې اغوستې وې؟ دا یوه بله مرموزتیا وه.
ما د مسکو له دستور څخه دوی خبر کړل. تره کي وویل: «زموږ په مشرتابه کې یو شمېر مخالفتونه شته، خو دا به څرنګه مشرتابه وي چې مخالفت پکې نه وي؟ هیله من یم چې زموږ شوروي ملګرو ته خبر ورکړئ چې موږ د دوی له ګډون څخه منندوی یوو او دوی ته ډاډ ورکوو چې هر څه به سم شي.»
امین په هېڅ وجه ټېرا نه ښکارېده او د غونډې په بهیر کې په بشپړ ډول پر ځان داسې باورمن و چې ګواکې دغه خبرو اترو د ده د ورستیو کړنو سره هېڅ تړاو نه درلود. ده هم وویل: «زه له هر هغه څه سره همغږی یم چې زما ګران ملګري، تره کي وویل. زه یوازې غواړم دا زیاته کړم چې زه به د تره کي په ستاینه کې ځان مړ کړم. که برخلیک داسې و چې تره کی له ما څخه مخکې له دې دنیا لاړ شي، زه به په سپېڅلتیا د خپل مشر او ښوونکي پالیسۍ ته دوام ورکړم.»
زه غواړم ستاسې پام دې ته راواړوم چې یوازې څو ساعته دې ته پاتې وو چې هر څه پای ته ورسېږي. موږ بېرته سفارت ته لاړو او هلته مو څلور ناڅاپي مېلمانه ولیدل - خلقیان. ما وړاندیز وکړ چې دوی سملاسي وشړو، خو زما همکارانو بېل نظر درلود. ټول دغه افغانان لاتراوسه د دولت مامورین وو. دوی د دولت غړي وو او دا یې رسمي حق و چې حتی دومره ناوخته هم د مشورو لپاره سفارت ته راشي.

**سید محمد ګلاب زوی، د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د مخابراتو وزیر:**

شوروي ملګري کیوبا ته د تره کي له تګ سره مخالف وو. زه یې هم مخالف وم. تره کی په اړنګ کې و چې لاړ شي یا نه، خو امین پر موږ ټولو لاسبری شو. د ګوند د فعالانو په یوه غونډه کې چې پنځه شپږ سوه ګډونوال یې لرل، امین اعلان وکړ: «زموږ لوی مشر به کیوبا ته لاړ شي چې د ناپېیلو هېوادونو په غونډه کې ګډون وکړي.» دغه اعلان ته د چک چکو په توپان ځواب ورکړل شو. تره کي ما ته وویل: «اوس چې

دغه کړتن تېولي نړۍ ته وويل، زه څنګه کولای شم چې لاړ نشم؟» ما مشوره ورکړه چې ځان ناروغه واچوي، خو تره کي ونه منله، بيا مې ورته وويل چې کولای شي لاړ شي خو يون يې بايد له پنځو ورځو څخه ډېر نه وي. تره کي ومنله او ژمنه يې وکړه چې ژر به بېرته راځي. ده خپله ژمنه پوره نه کړه او په کيوبا کې يې لس ورځې تېرې کړې؛ نو امين ته يې يو حياتي فرصت ورکړ چې خپل وروستي ګوزار ته تابيا ونيسي. د سپتمبر په دوولسم د چارشنبې په ورځ، زه او سروري د شپې ډېر ناوخته تره کي ته لاړو چې له ګواښ څخه يې خبر کړو. د امين د وژلو پلان مو ورته څرګند کړ. تره کي موږ ته غوږ ونيو او په بړوسه بڼه يې وويل: «زويه، په دغو لاسونو مې ټول ژوند د امين ساتنه کړې ده او د همدې لپاره وهل شوي دي. وګوره - له همدغو ګوزارونو څخه پړسېدلي دي. ښايي ته په حقه وې.»
کله مو چې د منظورۍ دغه نښه ترلاسه کړه، موږ د خپل پلان د ترسره کولو لپاره تابيا ونيوله چې د پنجشنبې په ورځ له ترکي سره د غرمنۍ په ترخ کې يې ترسره کړو. له بده مرغه زموږ په منځ کې يو خاين و چې د پلان په جزياتو خبر و او امين ته يې خبر ورکړ؛ نو په دغه ورځ امين غرمنۍ ته رانغی. کله چې ده ته تيلفون وکړل شو او د نه راتګ وجه ترې وپوښتل شوه، ده دروغ وويل چې لور يې ناروغه وه. موږ نورو بديلونو ته پام واړاوه. ما تره کي ته وويل : «که څه هم حالت زموږ په زړه نه دی، خو موږ به خپل پلان ترسره کړو.» د عمومي منشي ځواب داسې و: «زه به پخپله دا موضوع حل کړم.» تره کي غوږۍ اوچته کړه او امين ته يې زنګ وواهه: «ولې تاسې له يو او بل سره نه پخلا کېږئ؟ ګلاب زوی له ماسره دی. دلته راشه او له يو او بل سره لکه نران خبرې وکړئ. تاسې بايد پخلا شئ.» امين په ځواب کې ورته وويل: «تر هغه چې تا ګلاب زوی او سروري نه وي ليرې کړي، زه نه درځم. لږترلږه دغه دوه کسه لېرې کړه. ګلاب زوی د سفير په توګه چېرته ولېږه.» خو تره کي لاتراوسه ټينګار کاوه: «راځه، زه به په پخلاينه کې له تاسې سره مرسته وکړم.»
وروسته په همدغه ورځ، پخپله امين تره کي ته تيلفون وکړ او ګواښ يې ورته وکړ چې نور يې د ګوند او دولت د مشر په توګه په رسميت نه پېژني. تره کي خپله ناهيلي پټه نشوی کړی او غوږۍ يې کېښوده. له ما سره يوه کوچنۍ تومانچه وه. دا مې عمومي منشي ته ورکړه. لومړی يې واخيسته او د خپل مېز په جعبه کې يې کېښوده، خو له يوې شېبې سوچ
څخه وروسته، تره کي خپل اند بدل کړ او تومانچه يې بېرته راکړه: «له تا سره چې وي، ښه ده، زويه.»
وطنجار ورته وويل: «ملګرى تره کی، لس دقيقې وخت راکړه، موږ به دغه موضوع حل کړو. پلان هم لرو او خلک هم لرو.» تره کي په اعتراض وويل: «دا به کار و نه کړي. تاسې پوځيان ياست، نه سياستوال. تاسې يوازې په ډزو پوهېږئ.» بيا ما داسې وړانديز وکړ: «نو بيا د انقلابي شورا يا د وزيرانو شورا يوه بيړنۍ غونډه راوغواړه، موږ به امين په رسمي توګه ليرې کړو.» تره کي وويل: دا هم د حل لاره نه ده.» ما ورته وويل: «ښه
www.samsoor.com

نو، بل بدیل یې دا دی چې په رادیو او تلویزیون کې په رسمي توګه اعلان وکړو چې امین له خپلو ټولو دولتي او ګوندي دندو ګوښه کړل شو. د سیاسي بېرو غونډه راوغواړه او په ترڅ کې یې د امین متحدین ګوښې ته کړه.»

تره کي یوازې د نه سر وخوځاوه او بیا یې له ما څخه پوښتنه وکړه: «دا راته ووایه چې د ګارد قوماندان ستا یا د امین سړی دی؟» ما ځواب ورکړ: «دی به هغه چا ته غوږ نیسي چې لومړی ورباندې غږ کوي.» تره کي داسې وویل: «بیا دې نو بایلوده، زویه او په یاد ولره زما ملګریه، زه به د ځان ژغورلو لپاره حتی یو مچ مړ نه کړم. پرېږده چې زما برخلیک ګوند او خلک وټاکي.»

له دې څخه وروسته موږ خپلو دفترونو ته لاړو. ماښام په اتو بجو ما ته خبر راکړل شو چې ګواکې امین په رادیو کې یو اعلان تېر کړ چې ده زموږ توطیه ناک پلان بربنډ کړ او موږ څلورواړه یې له خپلو څوکیو څخه لیرې کړو. ما ماښې ته تیلفون وکړ. کله مې چې تره کي ته خبر ورکړ، په چیغه یې وویل: «داسې نشي کېدای!» پرته له دې چې یوه دقیقه ضایع کړو، موږ د مشورې لپاره د شوروي اتحاد سفارت ته لاړو.

په دغه ورځ سترستین د ځوانو دیپلوماتانو د مېلمستیا لپاره خپل کور چمتو کاوه. دی لږ مخکې له پل خشتي څخه بېرته راغلی و. هلته یې د مېلمستیا لپاره د څراغونو لړۍ مزي پېرودلې وو چې د خپل کور مخې ته چمن پرې ښکلی کړي. دغه شېبه ده ته د تیلفون زنګ راغی. ګلاب زوی، چې په نورماله توګه ارامې او ارزولې خبرې کولې، بې کچې پارېدلی برېښېده. ده وویل چې ټول، د کورنیو چارو وزیر وطنجار، د اګسا مشر سروري او د سرحداتو وزیر مزودریار همدا اوس د ده په اپارتمان کې ناست دي. دوی غوښتل چې ژرترژره له سترستین سره وګوري او د خراب شوي سیاسي وضعیت په هکله خبرې وکړي. ګلاب زوی خپلې ننګېرنې کابو نه شوی کړی او په غمجن غږ یې وویل چې همدا شېبه په افغانستان کې کودتا روانه ده، انقلاب په خطر کې دی او ملګری تره کی د ژوند له لوی خطر سره مخ دی. سترستین وپوښتل چې چېرته او څرنګه له ده او ملګرو سره یې وګوري. ګلاب زوی خپل د مکروریانو ادرس ورکړ، خو له سترستین څخه یې وغوښتل چې د ده اپارتمان ته تر هغه د ننه نشي تر څو چې دی پخپله نه وي راوتلی. ګلاب زوی وویل چې کله یې د سترستین ګاډی له خپلې کړکۍ څخه ولید، دی به سملاسي ورښکته شي او د غونډې ځای ته به یې بوځي. ولېري سمدلاسه سفارت ته لاړ. داسې ښکارېدل چې اوسادچي وړاندلیدنه کړې وه چې ګلاب زوی به ولېري ته تیلفون وکړي ځکه کله چې ولېري د دغه پېښې راپور ورکړ، ده کومه حیرانتیا ونه ښوده او ویې ویل: «تر هغه چې تره کی وړ او ژوندی دی، شوروي اتحاد به د هېڅ هغه چا ملاتړ و نه

کړي چې غواړي د تره کي ځای ونيسي. موږ به امين يا کوم بل مشر ونه منو. پوزانوف په دې اړه نن يو تېلګراف ترلاسه کړی او له سفير سره په تيلفوني خبرو کې ليونيد ايليچ هم همدغه خبره وکړه.»

کله يې چې اوسادچي ته راپور ورکړ، سترستين د مکروريانو په لور دومره چټک روان شو څومره يې چې کولی شوی. وروسته څرګنده شوه چې په هغه ودانۍ کې چې د ګلاب زوی اپارتمان و ډېری شورويان اوسېدل؛ نو په دې ځای کې د شوروي سفارت يو مامور ته د چا پام نه اوښته. ولېري خپل ګاډی له څېرمه ودانۍ سره ودراوه او هغه ځای ته لاړ چې ګلاب زوی ورته ننبه کړی و. ده داسې څوک ونه ليدل چې د امين د جاسوس اړنګ پرې وشي. په دغه وخت کې حالت د ده د خوښې و څکه چې د هغه ودانۍ مخې ته چې ګلاب زوی پکې ژوند کاوه يوه کوچنۍ دوبنۍ سينما درول شوې وه. په دغه وخت کې د «د دښتې سپين لمر» په نوم يو شوروي فلم ننداري ته اېښودل شوی و. سترستين د نندارچيانو د شاتنۍ ليکې شا ته ودرېد او په داسې حال کې چې ګلاب زوی ته تم و، د سترګو له ګوټو څخه يې د فلم ننداره کوله، خو يو ساعت تېر شو او ګلاب زوی لا نه و راغلی.

توره افغانه شپه خوره شوه. له کړکيو او د واټونو له څراغونو څخه په پيکه رڼا کې د خلکو سيوري چټک خوځېدل. کله چې فلم پای ته رسېده، د اپارتمانونو له بالکنونو څخه افغان او شوروي ميندو خپلو ماشومانو ته نارې کړې چې کور ته ورشي. ولېري وېتېيله چې نور تم نشي. د ده په فکر کې انديښمنې پوښتنې ګرځېدلې. که ګلاب زوی او ملګري يې نيول شوي وي؛ نو بيا؟ کېدای شي له همدې کبله دلته د امين خلک نه ترسترګو کېدل. کله چې سفارت ته ورسېد، هلته يې يو مېرسيدس د دفتر ودانۍ مخې ته وليد چې افغان نمبر پلېټ يې درلود. ده په زينو کې پاس منډه وکړه چې اوسادچي ته راپور ورکړي چې د نامالوم دليل له کبله له خلقيانو سره ليدنه ترسره نشوه. دی په دې اند و چې هرڅه يې له لارښوونې سره سم ترسره کړل، خو ګلاب زوی له خپل کور څخه ونه ووت. مېشت مشر ورته وويل: «دوی ټول همدلته دي. ټوله غدۍ په سفارت کې ده او تم دي چې موضوع حل شي. اوسادچي کړکۍ چوله کړه او هغه مېرسيدس ته يې نغوته وکړه چې د ودانۍ مخې ته ولاړ و.

اوسادچي: *دوی دلته راغلل چې له سفير سره خبرې وکړي، خو سفير مخکې وتلی و چې له امين او تره کي سره وګوري. دغه څلورواړه ادعا کوي چې امين نن شپه د دوی د وژلو پلان لري او سبا ته تره کی له واک څخه ليرې کوي.*

سترستين: *ته رينېتيا فکر کوې چې دا کار شونی دی؟*

اوسادچي له کړکۍ څخه ګاډي ته وکتل مخکې له دې چې ولېري ته مخ واړوي او په ډېره جدي ونګه يې وويل: «هو، زه فکر کوم دغه سناريو شونې ده.» ولېري په ناچارۍ وويل: «خو موږ کرار نشو کښېناستلی.

www.samsoor.com

موږ باید یو څه وکړو.» اوسادچي له کړکۍ څخه په دومداره توګه بهر ته کتل او ویې ویل: «موږ څه کولای شو؟ پوزانوف لږ مخکې له مسکو سره خبرې وکړې. ده ته دستور ورکړل شو چې له هرې اړینې وسیلې څخه په کار اخیستنې هڅه وکړي چې د دوی تر منځ روغه جوړه راولي.» بیا یې په خپګان وویل: «په هره بیه.»

سترستین: *حتی د داسې وزیرانو د ژوند په بیه چې د انقلاب پېژندل شوي اتلان دي؟*

اوسادچي: *همداسې بربښې.*

سترستین: *نو شوروي اتحاد - زه او ته - له دغو خلکو سره خیانت کوو؟ په هغه بڼه لکه څنګه مو چې له کارمل او پرچمیانو سره وکړ؟*

اوسادچي: *ولېږي، زما او ستا له سیاسي څار سره سروکار دی. په سیاسي چارو کې کله کله سړی باید پر اخلاقي اصولو*
*سترګې پټې کړي.*

اوسادچي پورتنۍ خبره په کراره او خپه بڼه وکړه. بیا یې د کړکۍ پرده بنده کړه، د خپل مېز شاته کېښناست او د لاسوندو پاڼې یې اړولې. د دوی خبرې پای ته ورسېدې او سترستین لاړ.
کله چې سترستین له سفارت څخه ووت، ده مېرسیدس ګاډی ولید چې له څلورو پخوانیو وزیرانو ډک د سفارت له حریم
څخه د ښار په لوري لاړ.
دغو خلکو ته تره کې ضمانت ورکړی و چې په خپلو کورونو کې ارامه خوب وکړي او دوی په خطر کې نه دي، خو اوس سترستین د داسې ضمانتونو په بیه ښه پوهېده. یو هوښیار څارګر افسر چې په منځني ختیځ کې یې بریالی کاري ژوند درلود، د منځني ختیځ په هکله به یې داسې ویل: «یو عرب ته د رشوت ورکړه شونې ده. دا شونې ده چې یو عرب په پیسو وپېرې او یو عرب یوازې د یوې مودې لپاره اجاره کېدای شي.» په ختیځ کې یوه ژمنه، یو ډاډ، یا یو تړون چې قسم پرې شوی وي او یا یو تړون د داسې چا ترمنځ شوی وي چې حتی شریکه وینه ولري، کېدای شي کار وکړي او یا یې و نه کړي. دا ټول د تړون کوونکو د ګټو پر بدلون پورې تړلي وي.
شړل شوي وزیران د خپلو مشرانو د ژمنو په ارزښت پوهېدل، خو دوی په دې هم پوهېدل چې چېرته د غلچکي برید تمه کېدای شي او څوک ښایي ګوته په ماشه ورته ولاړ وي. د دوی خپلو غریزو د خپلو کورونو پرځای دوی پوځي روغتون ته بوتلل. هلته سروري باوري خلک لرل چې دوی د ساري ناروغیو په څانګه کې پټ کړي.

## د سپتمبر څوارلسمه

دا یو عجیب تصادف دی چې په افغانستان کې ټولې مهمې پېښې د جمعې په ورځ کېږي. کېدای شي دغه پدیده سوچه تصادفي وي او یا دا هم شوني ده چې دغه پېښې ځکه ډېری وخت د جمعې په ورځ کېږي چې دا د رخصتۍ ورځ ده؛ نو په داسې ورځ کې د خلکو د ګوښه کولو او نور یې پر ځای د کښېنولو لپاره ډېر فرصتونه وي. د سپتمبر څوارلسمه هم ټیک همداسې د جمعې ورځ وه. د دغه ورځې په شپه د کابل په ورځپاڼو کې د لومړي ځل لپاره د تره کي یادونه ونه شوه. دا د ارګ د څښتن لپاره یو بد ښګوم و.

د جمعې سهار د تره کي او امین تر منځ په نانډریو پیل شو. تره کي، چې خپل ځاځ (غوسه) او ځور نه شوی پټولی، له امین څخه وپوښتل چې ولې یې د ټانک دوه هغه قوماندانان ګوښه کړل چې پرون له عمومي منشي سره د شخصي خبرو لپاره راغلي وو. بیا یې له امین څخه وپوښتل چې دی ولې تېره شپه د ده کور ته له وسلوالو ساتونکو سره راغلی و. امین ورته وویل: «ځکه چې زما ژوند په خطر کې و.» تره کي په چټکۍ وویل: «بیا داسې کار و نه کړې. ته باید ماته پرته له ځنډ او پرته له ساتوونکو څخه راشې.» امین په ځواب کې وویل: «هېڅوک نه غواړي چې په خپله خوښه مړ شي.»

له دغو خبرو څخه وروسته امین د کابل له چونۍ څخه یوې ډلې ته امر وکړ چې چمتو او څک اوسي. جګړن ترون، چې امین ته وفادار و، د تره کي د هر ګام په هکله یې امین ته راپور ورکاوه. د ماسپښین په درېیو بجو یې امین ته راپور ورکړ چې تره کي د شوروي سفیر ته بلنه ورکړې. کله چې دېرش دقیقې وروسته سفیر له څو مل کسانو سره راغی، امین ترون ته وویل چې دوی ته له تره کي سره د لیدنې اجازه ورکړي. اوس داسې بربښېدل چې تره کی یوازې په نوم ولسمشر و. د ده «وفادار زده کوونکي» واک خپل کړی و.

**ل. پ. بګدانوف**

شاوخوا د سهار اته بجې د اګسا د هرکلي کوټې ته وسلوال ننوتل. د دوی په منځ کې د امنیتي ادارې مرستیال، نواب (نوموړی د امین یو لیرې خپلوان و) ، د امنیتی ادارې د سیاسي څانګې مشر، سلطان، او یو بل افسر هم وو. د اګسا د مشر شخصي ساتونکی، قاسم، چې په زړورتیا کې یې د «زمري» نوم درلود، د مېز شاته ناست و. دوی له قاسم څخه پوښتنه وکړه چې ایا سروري په خپل دفتر کې شته. قاسم، لکه څنګه چې خپل مشر یې دستور ورکړی و، ورته وویل چې له وسلې سره د سروري دفتر ته د ننوتلو اجازه نشته. دوی قاسم څنګ ته ټېله کړ او د سروري د دفتر په لوري روان شول. په دغه شېبه کې قاسم پر نواب، چې کوچنۍ ماشینګنه یې درلوده، ډز وکړ او ویې واژه. سلطان سملاسي پر قاسم ډز وکړ او ځای پر ځای یې مړ کړ. سلطان د سروري د دفتر ور پرانیست، خو دفتر تش و. د پېښې په هکله امین ته خبر

ورکړل شو. امین سمدلاسه له شوروي سفارت سره اړیکې ونیولې او له ایوانوف سره یې د لیدلو غوښتنه وکړه. له امین سره د لیدو لپاره، له ما او بوریس سیمیونوویچ سره یو ژباړن مل و. په دغه وخت کې امین له اصلي حکومتي ودانۍ څخه د درستیز والۍ ودانۍ ته چې د ارګ د لویو ودانیو د دېوال شا ته وه تللی و. امین د تل په څېر له موږ سره په موسکا روغبړ وکړ او له ما څخه یې وپوښتل چې ایا ډېر وخت کېږي چې زه له رخصتۍ څخه بېرته راغلی یم. سفارت ته د ده د مخالفینو د راتګ په ګډون، ما ده ته د پرونۍ پېښو په هکله لنډې خبرې وکړې. نوموړي په موسکا وویل: «زه په هر څه خبر یم. زه په دې هم خبر یم چې وطنجار له سفارت څخه څلورم او پنځلسم زغروالو غونډونو ته تیلفون وکړ چې زما پر ضد له قوماندانانو څخه د ګام اوچتولو غوښتنه وکړي.»

بوریس سیمیونوویچ د نواب د مړینې په هکله امین ته خواخوږي څرګنده کړه. ورپسې امین وضعیت بیان کړ. دا څرګنده شوه چې کله د تره کي له استوګنځي څخه پرون شوروي ملګري لاړل، امین د دولت او د ګوند له مشر سره خپلو خبرو ته دوام ورکړی و او له ده څخه یې د خپلو مخالفینو ګوښه کول غوښتي وو. تره کي یوازې د سروري ګوښه کول او پر ځای یې د اکبري ګمارل منلي وو. امین د اګسا د مشرۍ لپاره د تړون د کاندیدېدو وړاندیز کړی و او د خپلو څلورواړو مخالفینو په ګوښه کولو یې ټینګار کړی و، خو دوی هوکړې ته نه وو رسېدلي.

له امین سره زموږ د لیدنې په ترڅ کې لوی درستیز یعقوب دفتر ته راننووت. دوی په پښتو ژبه څو خبرې وکړې. ورپسې امین موږ ته وویل چې که شوروي ملګري د ده په استعفا ټینګار کوي، دی استعفا ته چمتو دی، خو د ده په اند دا به مناسبه وي چې د مرکزي کمیټې یوه عمومي بیړنۍ غونډه راوبلل شي چې پکې په دغو چارو خبرې وشي. ده زیاته کړه چې دی چمتو دی چې هېواد پرېږدي او شوروي اتحاد ته مهاجرت وکړي او حتی خپل ځان وولي کچېرې دا د ګوند په ګټه وي. ورپسې جګړن تړون دفتر ته راننوت. ده په ترینګلې بڼه له امین سره پښتو خبرې پیل کړې. امین چې زموږ په ناخوښۍ پوه شو، تړون ته یې وویل چې په روسي ژبه خبرې وکړي. تړون، چې په روسي ژبه ښه پوهېده، داسې وویل: «ما ملګري امین ته خبرداری ورکړ چې د تره کي د غرمنۍ بلنه ونه مني. که دی مانۍ ته ورشي، وبه وژل شي. د تره کي په دفتر کې یو ځانګړی کلاشینکوف او د مېز په جعبه کې یې دوه ډکې تومانچې چمتو اېښودل شوي دي.»
امین پرته له دې چې خپله پاړېدنه پټه کړي موږ ته وکتل او ویې ویل: «اوس تاسې ماته څه وایاست. څو دقیقې مخکې مې په تیلفون کې له یعقوب څخه همدغه خبرداری ترلاسه کړ. ایا زه دغه غرمنۍ ته ورشم که نه؟ زه ستاسې د مشورې غوښتنه کوم.» بوریس سیمیونوویچ او ما یو او بل ته وکتل. وضعیت ډېر حساس و. بوریس سیمیونوویچ ځواب ورکړ: «که زه ستا پر ځای وی، زه به ورغلی وی، خو ته باید پخپله پرېکړه وکړې» موږ بېرته سفارت ته لاړو او هلته زه خبر شوم چې له مسکو څخه یو بل تېلګراف راغلی و چې په کابل کې شوروي مشرانو ته پکې دستور ورکړل شوی و چې له امین او تره کي سره بیا وګورو او د دوی

د پخلاينې هڅه وکړو. په دستور کې د دوه اړخيز جوړجاړي وړانديز شوی و، خو که زه سپينه خبره وکړم، ما د داسې پخلاينې په شونتيا باور نه درلود. امين ډېر زياتی کړی و. نوموړي د امنيتی اداري مشر له څوکۍ گوښه او د ده د نيولو هڅه کړې وه چې پايله يې د وينې تويول وو. ده د هغو قوماندانانو او د کابل په چوڼۍ کې د هغو پوځي سياسي افسرانو د نيولو امر ورکړی و چې ده ته وفادار نه وو. ما ته داسې برېښېدل چې امين په زړه کې پرېکړه کړې وه او تر پايه يې پلې کوله.

د سهار په نهو بجو گلاب زوی يو ځل بيا سترستين ته تيلفون وکړ. ده په غمجن او مات غږ وويل: «ملگری سترستين، پېښې په چټکۍ رواني دي. په راتلونکو څو ساعتونو کې به امين ما او زما متحدين ووژني او ورپسې به تره کی له خپلې څوکۍ ليرې کړي. ته بايد سملاسي زما کور ته راشې، که چټک رانه غلې، بيا به ډېر ناوخته وي.»

دغه تيلفون يوه ناچاره کړنه وه. له هغې هوکړې لا دوولس ساعته تېر شوي نه وو چې امين او تره کي پرېکړه وکړه چې شخړه به په سوله ييزه توگه حل کوي او ورپسې د شوروي په سفارت کې دغو وزيرانو ته د خونديتوب ډاډ ورکړل شو. اوس له همدغو وزيرانو څخه يو يې د شوروي سفارت يو عادي مامور ته زنگ وهي او له ژر پېښېدونکي مرگ څخه د ژغورنې غوښتنه تري کوي. اوس بايد دغه شوروي مامور وپتېيي چې ايا د گلاب زوی کور ته د هغه تيلفوني غوښتنې په ځواب کې لاړ شي چې تيلفون خامخا د امين خلکو څاره او دوی ته د دې پخلی وکړي چې سترستين، چې ښايي لا د مخه دغه نوم پرې اېښودل شوی وي، د حکومت د دويم واکمن سړي دوښمن دی. که سترستين د مرستې غوښتنه ونه مني، نو د وزيرانو وضعيت به له ناهيليو ډک وي.

سترستين د تيلفون غوږی کېښوده او له يو بکس څخه چې له کاليو ډک و يوه براونينگ Browning تومانچه راوايستله او وې کتله چې ډکه ده. دا يې د خپلې هغې زړې کرتۍ په جيب کې کېښودله چې په کابل کې يو درزي ورته گنډلې وه. ده نکتايي په غاړه نه کړه، خو دغه کرتۍ يې واغوسته چې د ښوونځي د يو ښوونکي په څېر ښکاره شي. ورپسې د سفارت په لوري روان شو.

کله چې اوسادچي د گلاب زوی پر تيلفون خبر شو، ولېږي يې ايوانوف ته له ځان سره کش کړ. بوريس سيميونوويچ، ولېږي ته يو واضح امر ورکړ: دغو رنگ بدو وزيرانو ته ووايه چې سفير پوزانوف، دی او نور شوروي ملگري به په افغان مشرتابه کې د يووالي د بيا راوستلو په هکله له امين او تره کي سره جدي خبرې

وکړي. ده له وزیرانو وغوښتل چې په دې پوه شي چې د دغو تاریخي خبرو بریا په لویه کچه د مشرانو پر سلیم عقل پورې تړلې ده. دغه جنرال په ځانګړې ټینګار وویل چې ولېږي دغو وزیرانو ته «نبغ» ووایي چې «د خبرو پایله چې هر څنګه وي»، دوی باید په هېڅ وجه بیا د شوروي سفارت ته لاړ نشي.
ولېږي د مکروریانو په لاره له ځان سره سوچ وکړ: «نو موږ دغه خلقیان امین ته په لاس ورکوو. امین به یې په نېږدې
راتلونکې کې تباه کړي. د پوزانوف په مشرۍ د امین، تره کي او جنرالانو تر منځ د ګوند د یووالي په هکله به خبرې اترې ښه راتلونکې ونه لري او خامخا به هغه وخت ناکامېږي چې دغه وزیران ګوښه کړل شول. امین همدا اوس کودتا ته چمتو دی او په دغه توطیه کې یې ډېر خلک ښکېل کړي دي. دی د بېرته راتګ له کرښې تېر شوی او تر پایه به په دغه لاره لاړ شي او یا به مړ شي. په راتلونکو څو ورځو کې به امین، تره کی لیرې کړي او دی به د هېواد مشر شي. شوروي مشران به یې د یوې مودې لپاره ونه مني، خو بلاخره به یې د افغانستان د مشر په توګه په رسمیت وپېژني. ښه ده چې تومانچه مې له ځان سره واخیسته. زه به ټیک داسې وخت د ګلاب زوی کور ته ورسېږم چې د امین هدفي وژوونکي هم هلته رسېږي. هېڅوک به زما د پېژندنې پروا ونه لري. دا به ښه وي چې دوی مې ځای پر ځای ووژني چې ډېر و نه کړېږم. له ما سره لاسوندي نشته او کالي مې د یو افغان ښوونځي د ښوونکي په څېر دي. سفارت به ووایي چې د دوی هېڅوک ورک نه دي او یوه کیسه به جوړه کړي چې سترستین څو ورځې مخکې د شخصي دلیلونو له کبله شوروي اتحاد ته تللی دی. که ټپي شوم بیا څنګه؟ ښه ده چې تومانچه راسره ده. دا به سخته وي چې بل څوک پرې وولم، خو خپل ځان خو خامخا ویشتلی شم.»
کله چې سترستین د ودانۍ درېیم پوړ اپارتمان ته ورسېد، ده د وره زنګ وواهه. ګلاب زوی ور پرانیست، د سترستین په لیدلو خوښ شو او کور ته یې بلنه ورکړه چې خپل ملګري وروپېژني. په کور کې چوپړیالان او د کورنۍ غړي نشته وو. ولېږي د داسې اپارتمانونو له جوړښت سره له کوچنیوالي اشنا و. یو وخت دی پخپله په دغسې اپارتمان کې اوسېده. ده په اوږده دالان کې چې کیڼ لوري ته یې تشناب او پخلنځی و ګامونه واخیستل او د ناستې کوټې ته ننووت. د کوټې له ښې دېوال سره یو ارزانبیه کوچ ایښې و چې په افغانستان کې جوړ شوی و. د افغانانو «جلاد» سروري او یو نری ځوان چې د هوایي ځواکونو یونیفورم یې اغوستی و په کوچ کې ناست وو. له څېرمې کوټې څخه د وطنجار غږ اورېدل کېده چې له تره کي سره یې په تیلفون کې خبرې کولې. سترستین چې هېڅ کله یې په رسمي توګه د پښتو ژبې زده کړه نه وه کړې، خو له ځان سره یې په دومداره توګه زده کوله، پوه شو چې وطنجار وویل چې تره کی او ملګري یې د ده کور ته ورشي چېرته چې دوی به د ولسمشر د امنیت چارې برابرې کړي.
کله چای ګلاب زوی په پخلنځي کې چای جوړاوه او ناپېژندلي پیلوټ، چې څېره یې اشنا وه، دانې خولې ته اچوالې، سروري پرته له دې چې حتی یوه دقیقه ضایع کړي له سترستین سره خبرې پیل کړې: «ملګری

سترستين، ښښنه غواړم چې پرون موږ ونشوی کړی چې له تاسره وګورو. دا زما تېروتنه وه. موږ ستاسې سفارت ته په دې هيله لاړو چې تاسې زموږ په ستونزه پوه شی او موږ هلته خوندي وساتی، خو دا يوه تېروتنه وه. له موږ سره د خبرو لپاره هېڅوک نه وو او نه د خبرو لپاره څه وو. پرون موږ په ډېره ناچاری هڅه وکړه چې زموږ او زموږ د هېواد لپاره دغه لويه سياسي ستونزه حل شي. زه هيله من يم چې ته د امين په دې نيت پوه شې چې غواړي تره کی له خپلې لارې ليرې کړي او موږ بايد هر شوني کار ته لاس واچوو چې مخنيوی يې وکړو. اوس موږ دلته يوو، خو دا شونې ده چې څو دقيقې وروسته مړه وو. د موږ انقلابيانو لپاره ژوند ډېر مهم نه دی، خو موږ ته د انقلاب سپېڅلې موخې تر هر څه ډېرې مهمې دي. دغه سهار زما ياور، زمری قاسم هغه وخت ووژل شو چې د اګسا د هرکلي په کوټه کې زما ورتګ ته تم و. ته بايد پوه شې چې د امين خلکو قاسم نه بلکې زه په نښه کړی وم. زه له مرګ څخه وېره نه لرم، زه يوازې له دې وېرېږم چې د افغان انقلاب پر وړاندې زه خپلې دندې ترسره نشم کړی. زه بايد دغه امريکايي ځناور زندی کړم؛ نو بيا به له ده څخه څه جوړ شي.
ملګری ولېري، موږ تاسې ته نن بلنه درکړه چې په يو پيغام کې ټولې هغه خبرې ملګري برېژنيف ته ولېږې چې زه يې اوس درته وايم. هيله من يم چې ته په دې ټکي ټينګار وکړې چې د يووالي په هکله به د تاسې او امين ترمنځ خبرې اترې هېڅ بريالی نه وي حتی که موږ ووژل شوو. امين ستاسې له سفير، ملګري ايوانوف او نورو شوروي جنرالانو سره يوازې له دې کبله خبرې کوي چې موږ تراوسه ژوندي يوو. کله چې موږ نابود شوو، دی به سملاسي بل ګام پورته کړي چې تره کی ليرې کړي.»
سترستين له خپلې غريزې د دغه افغان په خبرو باور وکړ. سروري په څرګنده داسې موقف کې نه و چې د وزيرانو او
ولسمشر ژوند ته د خطر په هکله مبالغه وکړي. کله چې سروري خپلې له ننګېرونو ډکې خبرې بشپړې کړې، سترستين ورته وويل: «زه به خپلو مشرانو ته ستا خبرې ټيک ووايم. زما مشران هم له تاسې څخه يوه غوښتنه لري. په دغه وضعيت کې څومره چې کولی شئ همدومره ډېر له سليم عقل څخه کار واخلئ او په نااړينو لمسونو کې ځان مه ښکېل کوئ.» ولېري پوهېده چې له هغه څه څخه وروسته چې ده واورېدل، د ده خبرې څومره ناکلاله (نامناسبه) وې، خو امر، امر و او ايوانوف په ټينګار ويلي وو چې دغه پيغام ورورسوي؛ نو لکه څنګه چې جنرال ايوانوف دستور ورکړی و، ولېري د خپل ضمير له څور سره سره، په رسمي غږ د شوروي د دريځ څرګندولو ته دوام ورکړ. د ده وروستی خبرې ترټولو بدې وې: «ما ته د خپل مشرتابه له لوري جدي امر راکړل شوی چې زه يې بايد تاسې ته ټکي په ټکي ووايم: د خبرو پايله چې هر څنګه وي، په هېڅ وجه د شوروي سفارت ته بيا رانشئ.»

سروري وویل: «نو تاسې موږ امین ته پرېږدی چې ټوټې ټوټې مو کړي؛ نو بیا به موږ ټول په راتلونکو دوو ساعتونوکې مړه وو. دوی به موږ ټول ووژني، دوی به په رڼا ورځ دغه اپارتمان ته راننوځي او زموږ د شوروي ګاونډیانو په مخ کې به موږ ووژني او دا به د دې مانا ولري چې د تره کي د ساتنې لپاره به څوک نه وي.»
سترستین له ځان سره فکر وکړ: «اوه خدایه! زه به دوی ته د یو خاین په څېر ښکارېږم. هر ځای خیانت شته، هر سړی یو او بل، دلته او هلته په لاس ورکوي، او وجه یې یوازې سیاسي وي. ګلاب زوی د چاینکې له پتونس سره کوټې ته راننوت. سترستین ده ته په ګوته نغوته وکړه او سروري ته یې وویل: «ده ته زما کور مالوم دي.» ورپسې ولېږي اوچت شو، له افغانانو سره یې مخه ښه وکړه، په خپل ورغوري کې یې د تومانچې لاستی نیولی او له اپارتمان څخه ووت.

## ا. م. پوزانوف

کله چې ګرومیکو زموږ د پیغامونو په تړاو د امین پر سرغړونکي چلند خبر شو، ده موږ ته امر وکړ چې د سیاسي بېرو د پروني دستور په رڼا کې موږ له افغان مشرانو سره بیا خبرو اترو ته وروګرځو. همغه ډله بیا راسره مل شوه. تره کي د خپل استوګنځي د دویم پوړ په یوه کوټه کې موږ خپل حضور ته ومنلو. موږ ورڅخه وپوښتل چې ایا د وژنو له پیل څخه خبر شوی، ده وویل چې خبر دی. بیا موږ وړاندیز وکړ چې باید په روان وضعیت یو ځل بیا جدي خبرې وکړو. موږ دا هم ورڅخه وغوښتل چې که شونې وي، ملګري امین ته بلنه ورکړي.
تره کي امین ته زنګ وواهه، په پښتو یې خبرې ورسره وکړې او بیا یې موږ ته وویل: «دی په لاره دی.» تره کي ناڅاپه موږ ته د امین په هکله وویل چې غواړي د هېواد واک ترلاسه کړي. زه نه پوهېږم چې په تره کي څه وشول چې د امین په هکله یې داسې ترخې خبرې پیل کړې چې موږ یې په وار وار ده ته د ویلو بې ګټې هڅې کړې وې. ده وویل چې امین د نیوکې زغم نه لري، په بې رحمۍ یې خپل ټول مخالفین له منځه یووړل او خپلوانو یې د حکومت مهمې څوکۍ نیولې دي. د ده کشر وراره، اسدالله اوس په حکومت او ګوند کې نهه څوکۍ لري. ده وویل: «لکه د پاچا او داود په وخت کې اوس یوازې یوه کورنۍ د هېواد واکمني کوي.» بلاخره اوس د تره کي سترګې خلاصې شوې وې، خو ډېر ناوخته.
ناڅاپه د وره تر شا د تومانچو او اوتوماتو وسلو ډزې وشوې. موږ ټوپ واچاوه او هڅه مو کوله چې دېوال ته نېږدې پاتې شو ځکه چې د ډزو غږ ډېر نېږدې و او ګولۍ په اسانۍ له نرۍ دروازې څخه تېرېدلی او موږ یې ټپي کولی شوی. ګوریلوف کړکۍ ته منډه وکړه او په چیغه یې وویل: «امین د ګاډي په لور منډې وهي!» تره کي وره ته تر ټولو ډېر نېږدې و. دی مې څنګ ته کړ او روریکوف، په موږ کې تر ټولو ځوان، ته مې وویل چې په احتیاط وګوري چې په دالان کې څه پېښېږي. د تره کي پاربدلي ساتونکي په منډه دفتر ته راننوتل او تره کي ته یې په پښتو څه وویل، ورپسې، تره کي په اوچت غږ وویل: «زما د دفتر سر یاور

ووژل شو!» کله چې موږ وتلو، د ټرون مړی مو ولید چې د تره کي له دفتر څخه بهر پروت و. دی د شا په تخته پروت و او ښی لاس یې داسې تر ملا لاندې و لکه د تومانچې د را ایستلو هڅه یې چې کوله. وروسته موږ هڅه وکړه چې د پېښې په جزیاتو پوه شو. له تره کي سره د تیلفوني خبرو وروسته، لومړی وزیر امین له درېیو ساتونکو سره د غونډې لپاره راورسېد. د ده ګاډی زموږ د هغو ګاډو څنګ ته درېدلی و چې په یوه کې موږ او په دویم کې زموږ ساتونکي راغلل. زموږ ساتونکې ډله له درېیو افسرانو او د کې جي بي له استازې څانګې څخه له یو ډګرمن، کبانوف Kabanov څخه جوړه وه. امین زموږ له ساتونکو سره تود روغبړ وکړ او خپل یو ساتونکی یې له ګاډي سره پرېښود او دوه نور ورسره ماڼۍ ته ننوتل. په لومړي پوړ کې ټرون هم ورسره یو ځای شو. امین ټرون او خپل یو ساتونکی پرېښودل چې له ده څخه مخکې روان وي او امین له بل ساتونکي سره څو ګامه شاته په دوی پسې و. دوی دویم پوړ ته په زینو کې ختل پیل کړل. ډزې هغه وخت پیل شوې چې لومړني دوه کسان دویم پوړ ته ورسېدل. چا لومړی ډز وکړ؟ زه فکر کوم چې دېره شونې ده چې ټرون غوښتل د تره کي ساتونکي له دروازې څخه لیرې ټېله کړي. ټرون دوی ګواښلي او په عین وخت کې یې د تومانچې را ایستلو هڅه کړې وه. د تره کي ساتونکو له ډېرې وارخطایۍ څخه ډزې پیل کړې، خو دا د پېښو له بیانونو څخه یوازې یو بیان دی. د دغې ورځې په سبا د امین په امر د تره کي ساتونکي ونیول او تري تم شول. مخکې له دې چې موږ لاړ شو، تره کي ته مې وویل: «داسې ښکاري چې موږ باید امین ته ورشو.» تره کي کوم اعتراض و نه کړ. موږ له تره کي سره مخه ښه وکړه او په څو دقیقو کې لوی درستیزوالۍ ته ورسېدلو. امین داسې ښکارېده لکه چې د زړه له تله زموږ په لیدو خوشاله شي. ده زما لاس ونیو او د ده د خت په لستوڼي وینې ته زما پام شو. ما ورڅخه وپوښتل: «ټپي شوی یې، ملګری امین؟» ده وویل: «نه، ما له خپل ټپي ساتونکي سره مرسته کوله.» ما هڅه وکړه چې ورته ووایم چې دغه پېښه په تېروتنه رامنځته شوه او په دې هکله د دواړو خواو ساتوونکي ګرم دي، خو امین سمدستي زما په خبرو کې ولوېد او ویې ویل: «نه ملګری پوزانوف، دا زما د وژلو یوه هڅه وه او یوه معجزه وه چې زه ژوندی پاتې شوم. بیا یې ایوانوف ته وکتل او ویې ویل: «نو اوس د ولیدل چې زما پر ضد یوه توطیه شته؟ دغه وینې یوازې په وینو مینځل کېدای شي.» امین چې پورتنۍ خبره کوله خپل لستوڼي ته یې ګوته ونیوه. په همدغه شیبه کې له نږدې څخه د ټانک یو ډز واورېدل شو. یو ګاډی چې ودانۍ ته څېرمه ولاړ و وچاودېد. دا څرګنده وه چې موږ باید ژرترژره لاړ شوو. پاتې کېدل ډېر خطرناک وو. سربېره پر دې، د شخړې د سوله ییز حل لپاره امین زموږ وړاندیز رټ رد کړ. اوس امین پر حالاتو باندې کنترول درلود. کله مو چې ورسره مخه ښه کوله، امین موږ ته کتل او په ملنډیزه بڼه یې وویل: «که په راتلونکې کې غواړی له ملګري تره کي سره وګوری؛ نو دا کار به یوازې زما له لارې کېږي چې د ساتونکو تر منځ د غلط پوهاوي مخنیوی وشي.»

www.samsoor.com

**ديمتري ب. روريکوف**

له ډزو وروسته تره کی ډېر ترهېدلی و. رنګ يې ژېړ و او اوس خامخا پوه شوی و چې پای يې نېږدې دی. کله چې د سفير په غوښتنه زه د تره کي له دفتر څخه دالان ته ووتلم، د باروتو تېنګ لوګی مې تر سږمو شو. تړون په زينو کې په وينو لت پت پروت و. د تره کي ساتونکي افسر تره کي ته منډه وکړه، دی يې وښورولو او ورته ويې ويل: «دوی پر موږ ډزې وکړې او موږ يې ځوابي ډزو ته اړ شوو.»

يوه مهمه يادونه: د تړون ټپونو ته په کتو سره، د ماشيګنېې ډزې دومره درنې وې چې که امين په دغه اخ وډب کې هر چېرته لږ نېږدې وی، امين به خامخا په ګولۍ لګېدلی وی. زه فکر کوم چې امين له لومړي پوړ څخه هېڅ ونه خوځېد څو د ډزو له ليکو څخه بچ شي.

د امين له ليدو څخه وروسته کله چې موږ بېرته سفارت ته لاړو، الکساندر ميخيالويچ پوزانوف، چې مخکې يې هېڅ کله سګرېټ نه وو څکولي، په خپل دفتر کې يو سيګار بل کړ، دی هم اوتر و، خو دنده، دنده ده. د اړيکو له ځانګړو وسيلو څخه په کار اخيستنې، سفير د بهرنيو چارو له وزير سره اړيکه ونيوه او د پېښې راپور يې ورکړ. ګروميکو سمدلاسه وپوښتل چې ايا وينې تويې شوې. سفير ورته وويل: «هو، وينه تويونه پکې وه.» ګروميکو وويل: «دا ډېر بد کار شوی.»

**عبدالکريم ميثاق***، **د ا خ د ګ د مرکزي کمېټې د سياسي بېرو غړی او د ماليې وزير**

نو هغه وخت څه پېښ شول. ايا دا ريښتيا د امين د وژنې هڅه وه او يا په لوی لاس دغسې پېښې ته لاره هواره شوې وه؟ زه حتی اوس هم دغه پوښتنې ته ځواب نشم ورکولی. دا يوه ډېره تياره موضوع ده. هېڅ شی واضح نه دي. ما ته پخپله امين د پېښې داسې نکل وکړ: مخکې له دې چې له تره کي سره د غونډې لپاره ماڼۍ ته لاړ شي، امين خپل ملګري، تړون ته تيلفون وکړ. تړون په دې وروستيو کې د عمومي منشي سرياور ګمارل شوی و او مرکزي کمېټې ته کانديد و. له دغه پېښې څخه مخکې امين د څه وخت لپاره له تړون سره ډېرې نېږدې اړيکې لرلې. امين په تيلفون کې له تړون څخه وپوښتل چې ايا د تره کي د بلنې منل خطرناک دي. تړون وويل چې د انديښنې څه شی نشته ځکه چې شوروي ملګري هم په ماڼۍ کې دي. امين وويل: «تړون په لومړي پوړ کې له ما سره وليدل. دی او د وزير ځيرک په نوم زما يو ساتونکی مخ ته روان وو او زه او يو بل ساتونکی مې څو ګامه وروسته پر دوی پسې وو. کله چې دويم پوړ ته ورسېدلو، موږ د تره کي د دفتر له وره سره دوه افسران وليدل چې ماشيګنېې ورسره وې. تړون دوی ته امر وکړ چې څنګ ته شي او پر دوی يې چيغه وکړه چې له ده سره ملګری امين دی. ناڅاپه، دوی خپلې ماشينګنې اوچتې ونيولې او ډزې يې پيل کړې. تړون سمدلاسه ووژل شو. وزير ځيرک، چې خپل ځان زما مخې ته

---

* له ميثاق سره دغه مرکه په ۱۹۹۰ کال کې وشوه، هغه وخت چې نوموړي د امين د يو متحد په توګه د اوږدې مودې بند تېر کړی و. ولسمشر نجيب الله د ملي روغې جوړې د کمپاين په ترځ کې دی له زندان څخه ازاد کړ.

ډال کړ، هم ولګېد.» امين له ماڼۍ څخه روغ رمټ په تېښته بريالی شو. دی په ګاډي کې کښېناست او لاړ.

زه فکر کوم چې په مسکو کې تره کی او برېژنېف دې هوکړې ته رسېدلي وو چې امين له سياسي ډګر څخه ليرې کړي. د ګوند د يووالي په لاره کې ده ته د اصلي خنډ په سترګه کتل کېدل او مسکو زموږ د دويم کس په بې کچې ډېر چيچي ښوب اندېښمن و. دا چې ولې تره کي له سوله ييزو وسيلو څخه کار وانه خيست تراوسه يوه مرموزتيا پاتې ده. د بېلګې په توګه، ولې تره کي د مرکزي کمېټې يا سياسي بېرو يوه غونډه را ونه بلله. ښايي ده ډاډ نه درلود چې د واک په يوه ازاده هڅه کې به بريالی شي او يا ښايي چې د امين برعکس، تره کي دې ته ګروهنه درلوده چې په چل خپله لاره وباسي. داسې ښکاري چې دوی د اخلاقو پروا نه لرله او دواړو د ګوند اصولو ته درناوی نه درلود. موږ به په پټو سترګو فرضيې جوړې نه کړو چې د تره کي د دفتر له وره سره په پېښه کې څوک ګرم وو. موږ به هېڅ کله پوه نه شو چې ايا امين دغه پارونې ته لاره جوړه کړې وه، د ساتونکو تر منځ د يوې تېروتنې له کبله ټړون مړ شو او يا د تره کي ساتونکو امين په نښه کړی و، خو حقيقت دا دی چې هر څه چې وشول، پېښه د امين په ګټه پای ته ورسېده.

د کابل ګارنيزيون هغه پوځي ډلې چې د تيارسئ امر ورته شوی و په چټکۍ چمتو شوې او په کابل کې يې مهم ځايونه ترخپل کنترول لاندې راوستل. ځانګړو پوځي ډلو د ولسمشرۍ ماڼۍ کلابند کړه او د ګارد له ټولو هغه پوځيانو څخه يې وسله واخيسته چې باور نشوی ورباندې کېدی. تره کی ناڅاپه پوه شو چې په بشپړه توګه ګوښه شوی، د تيلفون ټولې ليکې يې غوڅې شوې وې او د امين له اجازې څخه پرته هېڅوک له تره کي سره نه شوی ليدلی؛ نو سړی ويلی شي چې کودتا ترسره شوه. دا بايد ووېل شي چې کودتا ښه منظمه وه. امين هر څه ته ښه تابيا نيولې وه. ده د خلکو يو نوملړ جوړ کړی و چې مخکې تر مخکې ونيول شي. د دوی ډېری هغه پوځيان وو چې له امين سره د نه وفادارۍ اړنګ پرې کېده او چې څنګه به ونيول شول په همغه ورځ به زندان ته واچول شول. د سرحداتو وزير مزدوريار هم ونيول شو. دی يو له څلورو ياغيانو څخه و، خو د خپلو ملګرو برعکس يې پرېکړه وکړه چې پټ نشي. د نيولو په ورځ نوموړي د کابل په لمن پغمان کې له خپلې کورنۍ سره ورځ تېروله. په دغه ورځ د «څلوروالي غدی» ټول نېږدې خپلوان بنديان شول.

کله چې ولېري سترستين له سروري او درېيو وزيرانو سره له ليدنې وروسته له مکروريانو څخه روان شو، ده

پرېکړه وکړه چې د سفارت په لاره کې لومړی خپل کور ته لاړ شي. ده تاماري ته وويل چې که له ګلاب زوی سره، چې نومولړي پېژانده، څو کسه د دوی کور ته ورشي، تامارا دې ژرترژره کور ته بلنه ورکړي او بيا دې ده ته په سفارت کې زنګ ووهي او ووايي چې «غرمنۍ تياره ده.»

کله چې ولېري سفارت ته ورسېد، مېشت مشر په خپل دفتر کې نه و. ايوانوف هم نه و. دی د اورلوف مروزوف دفتر ته لاړ، خو ده ته څرګنده شوه چې نومولړی له روانو پېښو دومره ډېر خبر نه و. ولېري د ګلاب زوی په اپارتمان کې د خپلې ليدنې کتنې يو تېلګراف وليکه او مرستيال مشر ته يې ورکړ. ورپسې خپل کور ته روان شو.

سترستين د ننوتنې له دالان څخه کور ته تيلفون وکړ. ده له خپلې مېرمن څخه وپوښتل چې څه حال دی. نومولړې ځواب ورکړ: « غرمنۍ تياره ده. ما د سفارت له نوکريوال څخه غوښتنه وکړه چې تا ته ووايي.»

ولېري نوکريوال ته توند وکتل او خپلې مېرمنې ته يې وويل: «زه به ډېر ژر درشم.»

کله يې چې د رانېږدې کېدونکي والګا غږ واورېد، تاماري په چټکۍ د کور دروازه پرانيسته. يو نوی سپين والګا د ګراج څنګ ته ولاړ و. سترستين له ځان سره وويل: «لکه چې ځان ته مې جنجال پيدا کړ. فکر کوم چې پخپله مې د يوې خطرناکې لوبې غوښتنه وکړه.»

ولېري دالان ته ننووت. سروري، چې دوديزې پښتنې جامې اغوستې وې، پر قالينه اوږد په خولو کې لت پت پروت و او په سختۍ يې سا ايستله. دغه منۍ تودوخه غير معمولي ډېره وه. ښۍ خوا ته يې يو د بارژومي Borzhomi کابو تش بوتل ايښی و او څنګ ته يې يو کلاشينکوف پروت و. وطنجار په کوچ کې د کافي هغه مېز ته څېرمه ناست و چې سره رنګ دېوال ته نېږدې ايښی و. ده هم پښتنې جامې اغوستې وې او له اضافي مرميو سره يوه اوتوماته وسله ورسره وه. يوه ماشينګنه چې ولېري يې د جوړښت په ځای پوه نشو، د کتابونو په تاخچه تکيه درېدلې وه. ګلاب زوی چې د خپلو ملګرو

په څېر پښتنې جامې په تن وې په پخلنځي کې له تاماري سره مرسته کوله.

سترستين له ځان سره وويل: «دوی په وسلو ښه سمبال دي؛ نو خپل ژوند به اسانه له لاسه ورنه کړي. که څوک پرې خبر شول، کور به کلابند شي او يوه لويه جګړه به رامنځته شي، خو زه او تامارا به څه کوو؟ افغانانو ته به ګولۍ وررسوو؟ ښه به وي چې موږ د زينو لاندې پټ شو او يا د کور شا ته د زړې هديرې له لارې وتښتو او د ګاونډيانو په کور کې پناه واخلو. اوس زموږ له لاسه کنترول وتلی، هر څه چې پېښېږي، پېښ دې شي. که د امين خلکو موږ ونيوو، ورته وبه وايو چې دغو خلکو موږ يرغمل نيولي وو.»

ولېري پرته له دې چې خپله غوسه پټه کړي، وپوښتل: «ولې مو ګاډی بهر پرېښی؟ بايد په ګراج کې مو درولی وای.» سروري په چټکۍ اوچت شو او د ګاډي کلۍ په لاس د وره په لوري روان شو. سترستين ورته وويل: «کلۍ ما ته راکړه. زه به يې د ننه کړم، که څه هم زما له انګړ څخه دېوال چاپېر دی، خو تاسې پېژندلي خلک ياست، که د هر لاروي سترګې درباندې ولګېږي، ډېر ژر به مو وپېژني.»

سروري د هو سر وخوځاوه او کلۍ يې سترستين ته ورکړه. سترستين د ګراج دروازه پرانيسته، ګاډی يې د ننه راووست او د ګراج دروازه يې بېرته بنده کړه. کله چې د دويم ځل لپاره کور ته ننووت، خپلو مېلمنو ته يې کنياک او د الغاسې
(عصريې) ست وکړ په داسې حال کې چې تامارا په پخلنځي کې بوخته وه. افغانانو د ساندويچو او بېسکېټو الغاسه خوښه کړه، خو الکولو ته يې په نېغه نه وويل. وطنجار وويل: «د هر وخت په پرتله بايد اوس زموږ سر ډېر وينښ او په سد کې وي.» سترستين ترې وپوښتل: «اوس ستاسې پلان څه دی؟ راتلونکی ګام به مو څه وي؟» سروي پرته له دې چې سوچ وکړي، وويل: «موږ له شوروي ملګرو څخه لويه هيله لرو. موږ هيله من يوو چې دوی به د ګوند دغه پېچلي او خطرناک حالت ته د حل لاره ومومي. موږ نه پوهېږو چې څه وکړو چې د حل لاره پيدا شي. زموږ په اند دا به ترټولو ښه وي چې شوروي اتحاد پراشوټي پوځيان کابل ته راولېږي. که زموږ د پلان په هکله پوښتنه کوې؛ نو پر موږ باور وکړه، ولېږي، موږ د خپلو دولتي ځوکيو پرېښودلو، د افغانستان پرېښودلو او حتی زندان ته د تګ لپاره چمتو يوو که چېرې پر موږ کومه ګناه ثابته شوه، خو دا به يوازې هغه وخت منو چې تره کی يې اړين وګڼي. که امين تره کی ليرې کړې او واک په لاس کې واخلي، موږ به په غرونو کې پټ شوو او ښايي پښتونستان ته لاړ شو. هلته به وسلوال غونډونه جوړ او تنظيمي جګړه به پيل کړو.» سروري پورتنۍ خبره د زړه له کومي وکړه مخکې له دې چې وطنجار يې په ډېره ننګېرنه په خبرو کې ولوېږي. ده وويل: «ولېږي، پوهېږې چې موږ د ځان لپاره نه يو اخته. تاسې، زموږ شوروي ملګري، په هره وسيله چې کېږي بايد تره کی وژغورئ. موږ ته نوموړی د هيلې او د دوښمن پر واړندې جګړه کې د بريا نښه يا سمبول دی. که زموږ نښه وساتل شي، زموږ انقلاب به ژوندی پاتې شي.»
دوی ته په غوږ نيولو سره ولېږي پوه شو چې دوی نېږدې راتلونکي ته د پام وړ کوم پلان نه لري. ده له ځان سره وويل:
«ډېره شونې ده چې دوی غواړي د يو څو ورځو لپاره زما په کور کې پټ شي، لېترلږه تر هغه وخت پورې چې د امين خلک
په کابل کې د دوی لټون بس کړي. بيا به ښايي چې د افغانستان په يو ولايت او يا په پښتونستان کې پټ شي. هغه پيلوټ چيرته و چې د ګلاب زوی په کور کې په کوچ کې ناست و. که اوس نوموړي د امين له خلکو سره کتلي وي او د خپلو ملګرو پلان يې ورته بربنډ کړي وي؛ نو بيا؟!»

سترستين: *ولې ستاسې ملګری دلته له تاسو سره رانغی؟*

سروري: *څوک؟ مزدوريار؟*

سترستين: *نه، هغه بل. هغه چې د پيلوټ په يونيفورم کې نن سهار د ګلاب زوی په کور کې و؟*

www.samsoor.com

سروري: *ته اقبال نښيې؟ هغه په کار کې، په خپل دفتر کی دی. دی په خطر کې نه دی، د امین خلک له ده سره کوم ناتړ نه لري، دوی فکر کوي چې نومړی له سیاست څخه ډېر لیرې دی او په دې ډاډ لري چې په دغه شخړه کې بې پلوه دی.*

سترستین: *خو ده زموږ خبرې واورېدلې او پوهېږي چې تاسې پلان درلود چې زما کور ته راځی.*

سروري په اړنگ وویل: دی به هېڅا ته ونه وایي.

سترستین کرار کرار د هغه سیاسي کړکېچ په کچه پوه شو چې ده رامنځته کړی و. ده ته څرگنده وه چې د ده کړنه به د نوموړي مشرتابه په یو داسې بېخونده موقف کې واچوي چې دوی باید ډېرې سختې او پېچلی پرېکړې وکړي. تر شک لاندې دولتي مجرمینو چې د یو ملگري او حتی ورور کوربه هېواد څارگره اداره یې د پوښتنو گروېږونو لپاره لټوي، د شوروي دیپلومات په بلنه د ده په کور کې پناه اخیستې. دغه بېخونده وضعیت پر یوه لویه سیاسي ناکامۍ بدلېدلی شوی. اوس به څارگر مامورین څرنگه پرېکړه کوي؟ دغه پېښه به تر ټولو لوړپوړو چارواکو ته راپور ورکړل شي؛ نو بیا به په دې هکله هره پرېکړه سیاسي بېرو کوي. د سیاسي بېرو غړي به څرنگه پرېکړه وکړي؟ ایا دوی به د هېواد د گټو او امین د خوښولو لپاره دغه مخالفین قرباني کړي؟ ایا دوی به له دغه وضعیت څخه گټه پورته کړي چې له سیانه (مکار) او تلوسمن داسې سیاسي جوالگر سره اړیکې وشلوي چې نه درېدونکی دی. که دا دویمه خبره ریښتیا شي؛ نو زه باید د شوروي مشرتابه ته د امین ریښتینی کرکټر بربنډ کړم څو زه خپله بې باکه کړنه توجیه کړم.

سترستین خپله کتابچه راوایستله، په کوچ کې د سروري او وطنجار تر څنگ کښېناست او له دوی څخه یې وپوښتل: «ښه، تاسې ټول امین تورنوی چې له سي ای اې سره همکار دی، د نوموړي د چلند بېلابېل اړخونه او ژوندلیک ستاسې دغه تور غښتلی کوي. زه په محرمیت تاسې ته وایم چې ما او همکارانو مې د دغه شونتیا په اړه مسکو ته لیکلي دي، خو په دې تړاو تاسې کوم ځانگړی ثبوت لری؟» مېلمنو په پرېکنده توگه داسې وویل: «موږ داسې ثبوت لرو.»

ولېږي له ځان سره فکر وکړ: «ښه، کېدای شي چې نن زه دا فرصت ولرم چې له دغه دوو وزیرانو او د څارگرې ادارې له مشر څخه داسې محرم مالومت ترلاسه کړم چې له سي ای اې څارگرې ادارې سره د افغانستان د دویم سړي اړیکې بربنډه کړي. مسکو ته د داسې مالوماتو په هکله یو تېلگراف به ځمکه ولړزوي.»

مېلمنو یو لړ داسې حقیقتونه څرگند کړل چې د گوند، دولت او پرچمیانو پر ضد د امین کړنو ته یې نغوته کوله. دوی له امریکایانو سره د امین د همکارۍ او په کابل کې له جنایتکارې ډلې سره د اړیکو په هکله خبرې وکړې. سترستین همدلته د مرکز لپاره د خپل تېلگراف د متن په جوړولو سملاسي پیل وکړ.

وروسته چې تاریخ پوهانو د دغه مودې پېښې وڅېړلې، د وېلیرې دغه لاسوندې ته یې داسې سرلیک ورکړ:
«په کابل کې له
جنایتکارې ډلې او د سي ای اې له شبکې سره د امین د اړیکو د ثبوت لس ټکي.» په حقیقت کې د
سترستین د ټېلګراف سرلیک دومره اوږد او سترکوکو (جذاب) نه و. د سروري او وزیرانو خبرو ته په نغوتې
سره، په ټېلګراف کې د امریکا د سفارت له یو داسې مامور سره د امین د پټو لیدنو کتنو څرګندونې شوې
وې چې د یو مامور په پلمه څارګر اجنټ و. د کابل په لمن پغمان کې د یوې ځانګړې ودانۍ یادونه شوې
وه چې دوی پکې لیدنې کتنې کولې. سروري دغه یادونه هم کړې وه چې امین مخکې هم د خپل «لوی
ښوونکي» د وژلو هڅه کړې وه. ده په ځانګړې توګه وویل چې د سپتمبر په یوولسمه د دافع هوا هغه
سیستم چې د هوايي ډګر ساتنه یې کوله هغه الوتکه په «تېروتنې» په نښه کوله چې له مسکو څخه کابل
ته تره کی پکې راتله. په هغه وخت کې سروري پخپله دغه خاینان ونیول. وطنجار وویل چې څرنګه د ا خ
د ګ یو مخور فعال، میر اکبر خیبر د هغو بدنامو شوکمارانو له لوري ووژل شو چې له صدیق عالمیار سره
یې تړاو درلود. نوموړی د ا خ د ګ د مرکزي کمېټې غړی او د امین وفادار ملګری و. امین پخپله د خیبر د
وژنې امر ورکړی و. خیبر چې د ګوند غړو یې ډېر درناوی کاوه، د تره کي او امین تر منځ یې د یو «ډال»
ونډه په غاړه اخیستې وه. نوموړي نه یوازې د دوی ترمنځ منځګړیتوب کاوه بلکې د ده شتون د ا خ د ګ
پر مشرانو یو اراموونکی اغېز درلود. له هغه ورځې راهیسې چې امین له ګوند سره یو ځای شو، ده په دغه
موخې هلې ځلې کولې چې د مشرانو تر منځ بېلتون راولي او د کارمل د نوموړتوب مخه ونیسي. وزیرانو له
امریکا پلوو فعالانو سره د امین نږدې، خو لږ څرګندې اړیکې هم یادې کړې.
کله یې چې د ټېلګراف خامه بشپړه کړه، سترستین خپلو مېلمنو ته په دري ژبه ولوسته او ویې پوښتل چې
ایا د دوی تورونه یې په سمه توګه څرګند کړي. سروري ځواب ورکړ: «که اړتیا وي، موږ دري واړه لاسلیک
هم پرې کوو.» ورپسې ولېري وویل چې دی باید ژرترژره سفارت ته لاړ شي. د نوموړي دغه خبرې وارخطایي
رامنځته کړه. سروري وپوښتل: «مېرمن د هم درسره بیایې.» ولېري ځواب ورکړ: «هو، هغه به په سفارت
کې ډېره خوندي وي. کله چې زه بېرته راغلم، نوموړې به سفارت ته ولېږو، خو اوس د وریجو او چرګانو په
پخلي بوخته ده چې موږ د خوراک لپاره څه ولرو.»
دغه ټېلګراف د لومړیتوب په بڼه ولېږل شو او سمدلاسه یې د شوروي تر ټولو لوړ مشرتابه ته لاره ومونده.
په ټېلګراف کې د کې جي بي مېشت او استازي ځانګو لخوا یو یادښت هم ور زیات شوی و چې د سروري
او وزیرانو د مالوماتو پخلی تراوسه نه دی شوی ځکه چې دغو سرچینو داسې د پام وړ لاسوندې یا ثبوتونه
وړاندې نه کړل چې د دوی د ادعاو پخلی وکړي. سترستین ته یې وروسته د مرکز همکارانو وویل چې د
ده مالوماتو په ټول کرېملین کې د ټکان څپې خورې کړې. دغه ټېلګراف له کابل څخه د نورو خطرناکو
www.samsoor.com

مالوماتو سره سم مسکو ته رسېدلی و. د خلکو په ماڼۍ کې ډېزې شوې وې. تره کی په ریښتینې توګه ګوښه ساتل شوی او د امین چلند ډېر بې پروا شوی و. دغه راپورونو په ټولیزه توګه د شوروي مشرتابه زغم ته د پای ټکی کېښود.

کله چې د اورلوف مروزوف په دفتر کې ناست و، سترستین د یو بل تېلګراف خامه ولیکه. دا یو محرم تېلګراف و چې یوازې په مسکو کې د څارګرو مشرانو لپاره لېږل کېده. نوموړي د ده کور ته د دوو شړل شوو وزیرانو او د اګسا د مشر د ورتګ خبر دوی ته ورکړ. د هغه مېنې وضعیت یې ارامه څرګند کړ چېرته چې ده ژوند کاوه او د هغو خبرو پر بنسټ چې له خپلو مېلمنو سره یې کړې وې، د شوروي مشرتابه یې د دغو فراریانو له پلان څخه خبر کړ. سترستین وپتېیله چې د ده کور ته د افغانانو د ورتګ وجه ونه لیکي او پر ځای یې د بګدانوف څرګندونې بیا ولیکلې. ده فکر وکړ چې که چېرې مسکو په دې اړه د نورو څرګندونو غوښتنه وکړي، دی به ورته د منلو وړ څرګندونې پیدا کړي. ده په لوی لاس دغه مالومات ونه لیکل چې ده پخپله فراري افغانانو ته بلنه ورکړې وه چې د ده کور ته ورشي ځکه چې دی پوهېده چې یو عادي څارګر مامور د دغسې کړنې حق نه درلود. مسکو به انګېرلي وی چې دی په سپین سترګۍ له خپل واک څخه اوچت په خپل سر داسې ناښنده کړنې کوي چې ښایي ډېرې ناوړې پایلې وزېږوي.

خو عجیب دا وو چې نه اورلوف مروزوف، چې دغه تېلګراف یې لېږلی و او نه په مسکو کې مامورینو دغه پوښتنه وکړه چې ولې د څلوروالي غدۍ دریېو غړو د سترستین کور ته د ورتګ خوښه وکړه.

د کې جي بي مېشت مرستیال دغه راز پوښتنو ته وخت نه درلود ځکه چې دی د سپتمبر د څوارلسم ماښام د معما د

ټوټو په منطقي راټولونې بوخت و. دی بوخت و چې د پرله پسې پېښو د لړۍ پر اړوندو چارو برلاسی شي. د هغو خلقیانو

سره څه وکړل شي چې په واقعیت کې یې د سترستین کورنۍ یرغمل نیولې وه؟ له امین سره باید څه وکړل شي؟ نوموړي اوس په اصل کې کودتا ترسره کړې او د ګوند او هېواد له مشرۍ څخه یې تره کی، چې یوازې څلور ورځې مخکې پرېژنیف ښکل کړی و، ګوښه کړی. دوی څرنګه د تره کي ژوند ژغورلی شي؟ د سپتمبر په دغه ورځ، داسې بریښېدل چې د کې جي بي مېشت مرستیال مشر بلاخره د وضعیت د ډرامې په کچه په لومړي ځل پوه شوی و. رنګ یې ژېړ و، شونډې یې رېږدېدلې او ژبه یې لړ بندېده. ده له سترستین څخه وپوښتل: «ولېري، بېرته خپل کور ته ځې؟»

سترستین: *بې اړنګه. زما مېرمن هلته ده.*

اورلوف مروزوف: *کله چې ته کور ته ورسېدې، زه به درشم او هغه به په ګاډي کې راولم.*

*سترستين: نه منله. نبه به وي چې په پټبو سفارت ته لاړه شي. سفارت دومره لیرې نه دی، یوازې شاوخوا اته سوه متره لیرې دی. په دې توګه به د ګاونډیانو او څوکیدار ډېر پام ځان ته وانه ړوي.*

کله چې ولېږي د مېشت مرستیال مشر له دفتر څخه ووت، یو شفري افسر چې چټکه منډه یې کوله له سترستين سره ټکر وکړ او نوموړی یې کابو پرمخې غورځولی و. دغه افسر د هغه ټېلګرافونو په راغونډولو کې بېړه درلوده چې باید مرکز ته لېږل شوی وی.

په همدغه ورځ د ماښام په اتو بجو شوروي استازو له امین سره وکتل. نوموړي چې د ترون د مړینې د جزیاتو په هکله خبرې کولې، ارامه او پر ځان باورمن ښکارېده. د امین د وینا پر بنسټ، ترون د امین د وژنې په هڅه کې قرباني شو. ده وویل چې ساتونکو له سلو څخه ډېرې ډزې وکړې او ده ته د داسې غلچکي برید په هکله خبرداری ورکړل شوی و. یوازې دوه ورځې مخکې کله چې تره کی له مسکو څخه بېرته راته، دی په هوایي ډګر کې د یو غلچکي برید لپاره په نښه شوی و. کېدای شي په هغه وخت کې تره کي نه غوښتل چې د شوروي متحدینو په مخ کې امین ووژل شي، خو ښايي ملګري تره کي هېر کړي وو چې خپل امر بېرته واخلي؛ نو ځکه ساتونکو پر امین ډزې پیل کړې. د امین د خبرو پر بنسټ، په حقیت کې هغه څه چې د ده ژوند وژغوره دا وو چې دویم پوړ ته د ختلو په وخت کې، ده په لوی لاس ترون مخته کړ او دی یې شاته روان شو. کله چې ډزې پیل شوې، دی سمدلاسه کړوپ شو، ښکته یې منډې کړې، خپل ټیپې ساتونکي، وزیر ځیرک ته یې لاس کړ او د ګاډي په لور یې منډې وکړې؛ نو شوروي ملګرو څه کولای شوی؟ دوی یو ځل بیا له امین سره خواخوږي څرګنده کړه، له ده څخه یې وغوښتل چې له سلیم عقل څخه کار واخلي او د ګوند یووالی وساتي. شوروي استازو ته دغسې دستور ورکړل شوی و، خو د ګوند کوم یووالی؟ امین په خپل ځواب کې واضح و چې سر له همغه ورځې به دی د وسلوالو ځواکونو اعلی سر قوماندان او د افغان دولت مشر وي. تره کی به له خپلو ټولو څوکیو څخه لیرې کړل شي.

داسې ښکارېدل چې شوروي مېلمانه سم پوه نشول چې امین څه ورته وویل. دوی خپل مشرتابه ته په هغه نغوتې امین

ته ځواب ورکړ چې هر څه باید په اوسني حالت وي او تره کی باید د دولت مشر او امین د هېواد دویم سړی پاتې شي. پوزانوف په ګونګه بڼه شوروي مشرتابه یا د ا خ د ګ ته نغوته وکړه او ویې ویل: «که ملګري

www.samsoor.com

امین د ملګري تره کي د لیرې کولو هوډ کړی وي، داسې کړنه به توجیه نشي.» امین په ملنډو ځواب ورکړ: «په افغانستان کې تاسې، شورویان د هر څه مسولیت لری؛ نو ځکه حتی که زما خوښه هم نه وي، زه چمتو یم چې ستاسې مشورې ومنم او پلې یې کړم، خو په دغه موضوع کې موږ د خپل ګوند اند له پامه نشو غورځولی. ګوند خبر دی چې پر ما له سلو څخه ډېرې ډزې وشوې. ګوند پوهېږي چې زموږ ګران ملګری ترون او ځینې نور ملګري ووژل شول. زموږ ګوند ځاځمن (په غوسه) دی او د تویو شوو وینو د غچ غوښتنه کوي؛ نو ځکه په راتلونکو څو ورځو کې به د مرکزي کمېټې عمومي غونډه راوبلل شي. تره کی به د خپل خراب روغتیایي حالت په پلمه، د ګوند د عمومي منشي څوکۍ پرېږدي، خو د انقلابي شورا د ریس په توګه به پاتې کېږي.»

امین د خپلو شوروي ملګرو د غوښتنې په ځواب کې دغسې جوړجاړی پلمه کړ. شورویانو په دوامداره توګه د بېلابېلو دلیلونو په وړاندې کولو هڅه کوله چې امین په دې قانع کړي چې هر څه د اوس په څېر پاتې شي: پر اوسني سخت کورني وضعیت باندې د برلاسي لپاره د ګوند یووالی اړین دی، د ډېرېدونکو انقلاب ضد ځواکونو پر وړاندې له یو او بل سره د همدردۍ ځرګندونې ته اړتیا شته، په نړیوال ډګر کې به د دوی دوښمنې پر هېواد بد اغېز ولري، دوښمنان به له دغې نیمګړتیا څخه ګټه پورته کړي او بل دا چې تره کی د دموکراتیک خوځښت د مشر په توګه پېژندل شوی او په دې نېږدې ورستیو کې یې له برېژنیف او کاسترو سره لیدنې کتنې کړې دي. امین د خپل بلاغت له چل څخه په کار اخیستنې وویل: «سمه ده. که زه تره کی د ګوند د سرپرست عمومي منشي په توګه پرېږدم، په ګوند کې به خامخا یو ژور کړکېچ رامنځته شي؛ نو بیا به د دې پړه څوک په غاړه واخلي؟» کله یې چې د خپلو مېلمنو چوپتیا ته وکتل، امین خپلو ټینګاریزو خبرو ته دوام ورکړ: «زه منم چې په تېر وخت کې تره کي په افغانستان کې د انقلابي خوځښت لپاره ډېر څه وکړل، خو دی له ډېر وخت راهیسې بدل شوی. ده واک غصب کړ، خپله شخصي غدی یې جوړه کړه، پر خپل ولس یې ظلمونه وکړل او په تېرو څو ورځو کې یې د ګوند پر ضد ترهګر کمپاین په لاره اچولی دی.»

د شوروي سفارت استازي د امین له استوګنځي څخه په خپګان لاړل. دوی د خپلو خبرو په هکله په راپور کې خپله یوازینۍ هغه بریا یادولی شوی چې امین به تره کی د انقلابي شورا د ریس په توګه پرېږدي.

کله چې سترستین خپلې کوټې ته بېرته ورسېد، ده سروري ولید چې له یوې لاسي مخابرې سره ګامونه اخلي. دغه مخابره د اګسا د اړیکو یا ارتباطاتو له فریکونسۍ سره عیاره شوې وه. ده هغو مالوماتو ته غوږ نیولی و چې څارګر مامورین څرنګه د ده او د ده د فراري ملګرو په لټه کې وو. وطنجار د یو لوی انځوریز کتاب پاڼې اړولې او د شوروي ښارونو انځورونو ته یې کتل. ګلاب زوی له تامارې سره د دسترخوان په جوړولو کې مرسته کوله. ولېرې خپلې مېرمنې ته وویل چې له دې سره خصوصي خبرې لري.

سترستین: *کالي دې ټول کړه او سفارت ته لاړه شه. ته به د مېلمنو تر تګ پورې په سفارت کې پاتې کېږې.*

تاماري رټ ځواب ورکړ: «زه به هېڅ چېرته لاړه نشم .زه تا یوازې نه پرېږدم.»

سترستین: *دا زما شخصي غوښتنه نه بلکې د اوچت پوړ امر دی.*

خو تامارا پر خپله خبره ولاړه وه.

تامارا: *دوی ستا مشران دي، خو زما نه دي.*

سترستین: *پوهېږې چې ښایي دلته څه پېښ شي؟*

تامارا: *هو، ښایي ووژل شو.*

سترستین: *نو د دواړو وژنه به کوم درد دوا کړي؟*

تامارا: *زه به له دغه کور څخه لاړه نشم.*

سترستین چې د خپلې مېرمنې خوی ورته مالوم و، پوه شو چې له دې سره نور بحث ګټه نه درلوده. که ریښتیا وویل شي، ده د ارامۍ ننګېرنه وکړه چې مېرمنې یې د پاتې کېدو پرېکړه وکړه. دی پوهېده چې اوس باید د دواړو په پار د هر راز پېښې پر وړاندې زړور اوسي.
غرمنۍ پیل شوه. یوازې نارینه تر مېز چاپېر کښېناستل. تامارا ورسره کښېنناستله. د ډوډۍ په بهیر کې خبرې عمومي وې. وطنجار، چې د شوروي ښارونو انځورونه کتلي وو، له سترستین څخه وپوښتل: «ملګری سترستین، په کوم شوروي ښار کې زېږېدلی یې؟»

سترستین: *په لېننګراد کې.*

وطنجار په خوښۍ وویل: «زه یو ځل لېننګراد ته تللی یم. دغه ښار مې ریښتیا ډېر خوښ شو.»

سترستین: د ښار کوم ځایونه د ښه په یاد دي؟
وطنجار: اروره Aurora ، دغه بېړۍ فوق العاده ښې وسلې لري. ۱۵۲ ملي متره توپ یې ډېر ښه دی.

ولېري ورسره همغږی و، خو څه ناڅه حیران شو. ده له ځان سره وویل: « په لېننګراد کې هر څوک هغه څه غواړي ووینې، چې خوښېږي یې. ځینې د ښار ښایسته ودانۍ خوښوي، ځینې د هغه زړې پوروړکونکې ښځې د استوګنځي لیدلو ته لېوال وي چې رسکونیکوف Raskolnikov وژلې وه، خو وطنجار لوی ۱۵۲ ملي متره توپ اغېزمن کړی دی.»
له غرمنۍ څخه وروسته، ګلاب زوی له تاماري سره د لوښو په مینځلو کې مرسته وکړه، وطنجار په کوچ کې خپل ځای ته لاړ او د انځوریز کتاب د پاڼو په اړولو یې بیا پیل وکړ، سروري په لاسي مخابرې کې ګوتې

www.samsoor.com

وهلې او د یو داسې ځای د موندلو په لټه کې و چې مخابره پکې ښه اخذ ولري. ولېږي ته سروري داسې برېښېده لکه چې شېبه په شېبه ټپرا کېده؛ نو له سروري څخه يې وپوښتل: «څه خبره ده؟» سروري په وارخطايۍ ځواب ورکړ: «زه د اگسا د اجنټانو او عملياتي مرکز تر منځ خبرو ته غوږ يم. د مخکښنيو درېيو ساعتونو په پرتله د هغو ډلو شمېر اوس دوه برابره شوی چې په موږ پسې گرځي. درې ساعته مخکې يې ډېری په مکروريانو کې لټون کاوه ، خو اوس يې د شوروي سفارت په سيمه کې چېرته چې ستا او نورو ديپلوماتانو کورونه هم دي لټون پيل کړی. درې څلور ډلې موږ ته ډېرې نږدې دي.»
تامارا دويم پوړ ته وختله. له سترستين سره د خبرو څخه شاوخوا شل دقيقې وروسته، سروري په چټکۍ مخابره له غوږ څخه ليرې کړه او په پښتو ژبه يې په چيغه څه وويل. ډېره شونې ده چې نوموړي خپلو ملگرو ته يوه پوځي قومانده ورکړې وي. گلاب زوی يوې ماشينگڼې ته لاس واچاوه او وطنجار خپله سپکه ماشينگڼه راواخيسته. سروري بېرته لاسي مخابره غوږ ته ونيوه او د ښي لاس په شهادت گوته يې نوروته نغوته وکړه چې په چوپتيا تم پاتې شي. سترستين په بړوسه ـتوگه له ځان سره وويل: «اوس به پيلېږي.»
ترينگلې چوپتيا څو دقيقې دوام وکړ، له لاسي مخابرې څخه خبرې اورېدل کېدې او ورپسې به غړونه کرار کرار ټيټ او بيخي ورک شول. سروري مخابره له غوږ څخه ليرې کړه او په پس پسي يې وويل: «دوی ستاسې په واټ کې روان وو او ما ته داسې ښکاره شول چې ښايي ستا له کور سره ودرېدل. اوسمهال دوی د يوې بلې مېنې په لور روان دي .داسې ښکاري چې دغه شېبه نورې ډلې په څېرمه شاوخوا سيمه کې نشته.»
ماښام ته هر څه بېرته ارامه شول. د چای په بهير کې سترستين په ځېنو کې د سروري ښکېلتيا او په دې کې د نوموړي د شخصي مسوليت خبره راپورته کړه: «ملگری سروري، هيله کوم چې درباندې بده ونه لگېږي، ما څو ځله اورېدلي دي چې ډېر افغانان تا ته د افغانانو جلاد وايي او ستا لاسونه د نورو خلکو په وينو سره دي، خو حقيقت څه دی؟»
سروري داسې وبرېښېد لکه د دغسې پوښتنې تمه يې چې لرله. ده وويل: «نه، پر ما بده نه لگېږي. دا رېښتيا دي چې زما لاسونه په بشپړ ډول په وينو سره دي، خو امنيتي ادارو ټولې ځېنې د مشرتابه، په تېره بيا د حفيظ الله امين په امر ترسره کړې دي. پرته د مشرتابه له امر څخه به ما او زما مامورينو هېڅ کله څوک نيولي او يا وژلي نه وی. که رېښتيا درته ووايم، زه په پرچميانو مين نه يم او نه مې غوښتل چې له دوی سره متحد شم، خو له دې سره سره، ما به د امين له نبغ او څرگند امر څخه پرته پر دوی هېڅ غرض نه وی کړی مگر دا چې، بې اړنگه، ما د دولت پر ضد د دوی د کړنو په هکله نه انکارېدونکي شواهد ترلاسه کړي وی. که څه هم زما په اند مسلماني ارتجاعي کورنۍ زموږ هېواد بېرته منځنيو پېړيو ته په شا ټېل وهي، ما به د مجددي له کورنۍ څخه حتی پوښتنې گروېږنې نه وی کړې که چېرې ما د دوی د ترهگرو کړنو په هکله نه انکارېدونکي ثبوتونه نه لرلی. تر يو وخت پورې زه په دې اند وم چې زما کړنې به انقلاب

ته ګټوري وي. ما هېڅ کله په سیاست کې ګوتې نه وهلې، سیاست د ملګري تره کي، امین او سیاسي بېرو د غړو حریم و او زما دنده د امرونو ترسره کول وو. هر څه په همدې بنه مخته تلل تر څو چې زه پوه شوم چې اګسا د امین په لاس کې د ترور په وسیله بدله شوې ده؛ نو دا چې څه روان وو - ته پخپله پوهېږې چې امین په ریښتیا څرنګه سړی دی.»
سترستین له ځان سره وویل: «زما خدایه، دا ټولې د شوروي کیسو ته ورته خبرې دي. کله چې بېریه Beriya ونیول شو، ده هم ادعا درلوده چې هر څه یې یوازې د ګوند په خوښه ترسره کول. موږ ټول په یوه کړۍ کې ګامونه اخلو.»
تیاره خوره شوه، چای سوړ شوی و او خبرې هم په خلاصېدو وې. په راډیو کې د تړون د وژنې خبر خپور شو چې نوموړی د خلکو په مانۍ کې د امین د وژنې د هڅې په ترڅ کې ووژل شو او بیا وویل شول چې تره کی په خپل کور کې «د نوموړي د خوندیتوب لپاره» د وسلووالو ځواکونو تر ځارنې لاندې دی. د افغانستان دموکراتیک جمهوریت په مشرتابه کې د بدلونونو راپور هم ورکړل شو. د اګسا د ریس په توګه د اسدالله سروري ځای ناستی یې خپل مرستیال عزیز اکبري، د کورنیو چارو وزیر په توګه د وطنجار ځای ناستی فقیر محمد فقیر، د مخابراتو وزیر په توګه د ګلاب زوی ځای ناستی محمد ظریف او د سرحداتو وزیر په توګه د مزدوریار ځای ناستی صاحب جان صحرایي وګمارل شول.
دغو خبرونو د سترستین د مېلمنو په منځ کې له ننګېرنو ډک غبرګون رامنځته کړ. دوی د تړون د مرګ په هکله خوشاله شول، خو د امین د وژنې په هڅه کې د ده په ژوندي پاتې کېدو خپه وو او دغه خبر چې تره کی په خپل کور کې بندي ساتل شوی، دوی ولړزول. کله چې خبرونه پای ته ورسېدل، سروري، ګلاب زوی او وطنجار د کافي پر مېز راغونډ شول او په پښتو یې خبرې پیل کړې. سترستین د خپلې مېرمنې لیدلو ته دویم پوړ ته لاړ. کله چې لږ وخت وروسته بېرته راغی، سروري ورته وویل چې غواړي له ده سره په یو څو موضوعګانو خبرې وکړي.
سروري د درېیو واړو په استازیتوب په وضاحت وویل چې سبا ته به تره کی له خپلو ټولو ځوکیو څخه لیرې کړل شي او په ډېر لنډ وخت کې به ووژل شي. دا د غویي انقلاب د مړینې مانا ورکوي؛ نو ځکه سروري او ملګرو یې له سترستین څخه د انقلابي همدردۍ په هیله وپوښتل چې له دوی سره د تره کي د ژغورنې په عملیاتو کې یو ځای شي. دوی داسې پلان جوړ کړی و: دوی ټول به له خپلو وسلو سره د سترستین په والګا کې کښېني. ګلاب زوی به د ګاډي چلوونکي څنګ ته او سروري او وطنجار به په شاتني سیټ کې ناست وي. سترستین به د تره کي د استوګنځي په لور ګاډی وچلوي. کله چې په پاټکو کې درول کېږي، افغانان به پټېږي او سترستین به ساتونکو ته وایي چې د شوروي سفارت له لوري یو بیړنی پیغام تره کي ته سپاري. ساتونکي به ولېږي ته اجازه ورکړي او ورپسې به نوموړی د تره کي د استوګنځي له دروازې سره
www.samsoor.com

ګاډی ودروي. سروري، وطنجار او ګلاب زوی به له ګاډي څخه ووځي، د تره کي استوګنځي ته به ننوځي، تره کی به له ځان سره ګاډي ته راولي او ورپسې به دوی ټول د شوروي سفارت ته لاړ شي.
سترستین له ځان سره فکر وکړ: «دوی لېونیان دي.» بیا یې وویل: «ملګرو، زما په اند په اوسني وضعیت کې دغه عملیات ناشوني دي. لومړی دا چې موږ به ونه توانېږو چې د تره کي استوګنځي ته لاړ شو. موږ به خامخا د دارلامان په واټ کې ودرول شوو. دویم دا چې که تاسې هرڅومره په ګاډي کې د پټېدو هڅه وکړی، ما ته به د تره کي د استوګنځي حریم ته د تګ اجازه رانه کړل شي، دا یې هغه ښه سناریو ده، خو بده سناریو یې دا ده چې موږ ټول به ځای پر ځای ونیول شوو او بیا یې په پایله تاسې ټول ښه پوهېږی. درېیم، که وانګېرو چې زما په مرسته تاسې د تره کي استوګنځي ته په ورتګ بریالي شوی او نوموړی مو له ځان سره د شوروي سفارت ته بوت؛ نو دې ته فکر وکړئ چې امین به څه وایي. دی به ووایي چې د افغان دولت مشر یو داسې ډارن سړی دی چې تېښتې ته یې مخ کړ او اوس د یو بهرني هېواد په سفارت کې پټ دی. ایا افغانان به دا توجیه کړي؟ ایا پخپله تره کی به په داسې حالت خوښ وي؟ په پای کې، زه، د یو بهرني هېواد دیپلومات څنګه کولای شم چې د بل هېواد په خاوره کې په یوه وسلواله کړنه کې برخه واخلم؟ دا به یوه نړیواله رسوایي رامنځته کړي.»
ګلاب زوی په سپکاوي سروري ته وکتل او په پښتو یې څه ورته وویل. سترستین دومره پوه شو چې ګلاب زوی له ده سره همغږی و چې دغه پلان ډېر نیمګړی دی. ورپسې سروري په څنګ لرونکې څوکۍ کې په ژور سوچ کې لاړ. وروسته، سترستین له وطنجار سره خبرې پیل کړې .نوموړي باور بایللی و او سترستین غوښتل چې ده ته زړه ورکړي. ده د کورنیو چارو پخواني وزیر ته وویل چې خوشبین اوسي، تره کی به ډېر ژر خپلې دندې ته بېرته ور وګرځي او دوی ته به خپلې پخوانۍ څوکۍ بېرته ورکړي. وطنجار اسوېلی وایست او ویې ویل: «فکر نه کوم چې داسې څه به پېښ شي. پوهېږې ملګری ولېري، کله چې زه په شوروي اتحاد کې وم، د کورنیو چارو وزیر ملګري شېلوکوف Schelokov له ما سره ولیدل. ده د T-34 ټانک یو ماډل ما ته ډالۍ راکړ. دغه ماډل کټ مټ لکه د یو ریښتیني ټانک په څېر و، خو یوازې ډېر کوچنی. کله چې کابل ته راغلم، دغه ټانک مې په دفتر کې پر خپل مېز کېښود او ډېر مې خوښېده. اوس به فقیر، چې هېڅوک نه و، زما ټانک اخلي.
سترستین بیا په سوچ کې لاړ: «او خدایه، ایا دوی عقل له لاسه ورکړی؟ یو یې د دولت مشر د ژغورلو لپاره د خندا وړ
ځبن پلان لري او بل یې ژاړي چې د خپلې خوښې لوبې سامان ترې اخیستل شوی.»
شپه راغله، له یوې تودې او سختې ورځې وروسته هر سړی ستومانه و. سروري په څنګ لرونکې څوکۍ کې خرهاری پیل

کړ. په دویم پوړ کې د خوب پنځه کوټې وې او تاماړې په درېیو دغو کوټو کې مېلمنو ته د خوب ځایونه جوړ کړل .ولېري

د خوب وړاندیز وکړ. دوی خپلې وسلې واخیستې او دویم پوړ ته وختل. هلته، سروري وویل: «موږ په بېلو کوټو کې نه ویده کېږو، موږ په یوه کوټه کې پرېوځو او خپلې جامې نه وباسو.» سترستین ورته وویل: «ستاسې خپله خوښه.»

کله چې مېلمانه د خوب په کوټه کې ځای پر ځای شول، ولېري خپله تومانچه او یوه کاسه د سپې خواړه د خپل ګلډانګ، مارهوس Marhos لپاره واخیستل. د دوی سپی توله ورځ په سیوري کې تړل شوی و. دوی ځکه کور ته نه راوستلو چې افغان مېلمانه ور څخه ډېر سخت وېرېدل. کله چې بهر ووت، ولېري د سګرېټو ډبی راوایست چې یو سګرېټ وڅکوي. د سګرېټ له کش سره یې یو داسې اړنګمن غږ واورېد لکه ځوک چې د واټ له لوري پر دېوال د ختلو هڅه کوي. ورپسې د هغو بوټیو په څانګو کې د شخهاري غږ پورته شو چې دېوال ته څېرمه ولاړ وو. سترستین خپل سګرټ ګول کړ، تومانچې ته یې لاس کړ او کړوپ شو. ده ته یې د پلار هغه مشوره ورپه یاد شوه کله چې دوی دواړو ښکار کاوه: «هېڅ کله ډز و نه کړې پرته له دې چې خپله نښه سمه ونه وینې.» دغه مشوره دلته ډېره مناسبه ثابته شوه. ناڅاپه د شوروي سفارت یو امنیتي افسر، سېرګي بختورین له تیارې څخه راښکاره شو. ولېري بېرته ودرېد او ویې ویل: «په بوټیو ولې پورته ختلې، سېرګي؟ خپل پتلون د نېږدې څیرې کړې و... او کابو مې ویشتلی وې.»

بختورین: *مېلمانه د ځای پر ځای دي؟*

سترستین: *هو.*

بختورین: *موږ له مسکو څخه امر ترلاسه کړ چې تا ترې خلاص کړو.*

سترستین: *دوی به چېرته ځي؟*

بختورین: *د زینت کوټې ته.*

سترستین: *او بیا؟*

بختورین: *بیا به دوی شوروي ته ولېږدول شي.*

سترستین: *سېرګي ګورېلوویچ، زه د خپلې پوښتنیالنې په پار له تا څخه پوښتنې نه کوم، خو زه اړ یم چې دوی ته په دې هکله پوره مالومات ورکړم.*

بختورین: *دا د بوریس سیمیونوویچ دستور و چې تا ته مې څرګند کړ.*

سترستین: *سمه ده، راځه چې ځو.*

www.samsoor.com

سترستين دويم پوړ ته لاړ او هلته يې افغانانو ته وويل چې د دغه وضعيت په هکله مسکو پرېکړه کړې ده. له دوی څخه يې وغوښتل چې ښکته لاړ شي چېرته چې دوی يې بختورين ته وروپېژندل او د شوروي مشرتابه وړانديز يې ورته څرګند کړ. ده په وار وار د بوريس سيميونوويچ، چې سروري ښه پېژانده، نوم ياد کړ.

افغانانو اړپېچنې (متناقضې) ننګېرنې درلودې، دوی په دغه خبر خوشاله، خو اړنګمن هم شول. سروري، سترستين څنډې ته کړ او ورته ويې ويل: «ولېري، ما ته ډاډ راکړه چې موږ به امين ته نه سپارل کېږو.» سترستين ورته وويل: «ما خپل او د مېرمنې ژوند له دې کبله له خطر سره مخ نه کړ چې ټوله ورځ تاسې يوازې د دې لپاره دلته وساتم چې امين ته مو وسپارم.» سروري د سترستين لاس ونيوه او په ننګېريزې بڼې يې وويل: «زه درباندې باور لرم، وروره.» نوموړي د ورور

ويي په پښتو وويل.

دغه څلور کسه په چوپتيا د سپوږمۍ په رڼا کې وخوځېدل، د دېوال په بله خوا کې دوه ګاډي چالان شول، بختورين او

افغانان په لومړي ګاډي او د زينت وسلوال پوځيان په دويم ګاډي کې روان شول.

سهار ته ولېري د دروازې زنګ ويښ کړ. مارهوس، چې تېره شپه خواږه ورکړل شوي وو او بلاخره کور ته د ننه پرېښودل شوی و، غېهاری پيل کړ .سترستين د خپلې پای جامې پر سر يوه افغان چپنه واغوسته او بهر ووت چې د استوګنځي دروازه پرانيزي. د ده د کور مخې ته دوه پوځي جيپونه درېدلي وو او افغان پوځيان چې په سپکو ماشينګڼو سمبال وو پکې ناست وو. يو تورن چې نوی او ښه اوتو شوی يونيفورم يې اغوستی و له دروازې سره درېدلی و. نوموړي په ارامه غږ وپوښتل: «دلته څوک ژوند کوي؟» ولېري په لوی لاس په خوارنجوکې ښه ځواب ورکړ: «زه، زه يو شوروي ديپلومات يم .د شوروي متحدو سوسياليستي جمهوريتونو د سفارت درېيم سکرتر. ته څوک يې؟»

تورن: *زه تورن جان محمد يم.*

سترستين: *څه غواړې؟*

تورن: *په کور کې نور څوک دي؟*

سترستين: *زما مېرمن او زما سپی.*

په دغه شېبه کې د کور ور پرانيستل شو، تامارې، چې وېښته يې ږمنځ کړي نه وو، بهر ته وکتل او مارهوس، چې د تېرې ورځې تبعيد لړاوو• کړی و، د وره له شا څخه يې انګړ ته ټوپ واچاوه. سترستين خپلې مېرمنې ته په چيغې وويل: «سپی در ونيسه.» تامارا انګړ ته ووتله او سپی يې د غاړې له تسمې څخه ونيوه .

---

• لړاوو: ژر غوسه کېدونکی: جنګړه

تورن په لړزېدونکی غږ بیا وپوښتل: «او نور څوک؟» ولېږي د تورن خړو سترګو ته نېغ وکتل او په سخته ژبه یې ورته وویل: «زما پر خبرو باندې ستا د باور په تړاو به ښه وي چې د شوروي قونسلر او د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت یو استازی دلته راوغواړو چې له تا سره زما د کور په لټون کې مرسته وکړي.» تورن ورته وویل: «نه، نه، دې ته اړتیا نشته. ښښنه غواړم چې په عذاب مې کړې.»

## د سپتمبر پنځلسمه

## ل. پ. بګدانوف

سهار وختي اکبر، چې د اګسا د نوي مشر په توګه ګمارل شوی و، په دومره ډېبیالۍ (مودبه) ښه یې راته وویل لکه څومره یې چې کولی شوی: «سر له اوسه، یوازې حفیظ الله امین د افغانستان بشپړ واکمن دی. نوموړی د هېواد، ګوند، وسلوالو ځواکونو او څارګري اداري مشر دی. ډېره شوني ده چې د مرکزي کمېټې عمومي او د انقلابي شورا غونډې راوبلل شي او دې ټولو ته په قانون کې ځای ورکړل شي. تره کی په خپل استوګنځي کې ګوښه ساتل شوی او له بهر سره تیلفوني او د اړیکو نورو وسیلو ته لاس رسی نه لري. د جانداد تر قوماندې لاندې پوځي ګارد د امین پلوي کړې او یوازې د ده امر مني.»

اکبري وویل چې کله یې ولسمشر تره کی ولید، ورته ویې ویل چې د ده د ژغورنې یوازینۍ لاره د شوروي اتحاد مداخله ده،

خو دا ناشوني برېښي ځکه چې شورویان په مداخله کې زړغي (زړه نازړه) دي او نه غواړي چې د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې تور پرې ولګول شي.

د دغه وضعیت په اړه مسکو ډېر تېرا و. په همغه سهار د سیاسي بېرو غونډه جوړه شوه چې د روان کړکېچ په هکله خبرې وکړي. موږ ته امر وشو چې ژرترژره له امین سره لیدنه وکړو او یو ځل بیا په دې ټینګار وکړو چې نوموړی د تره کي، د ده د کورنۍ او متحدینو پر ضد زورزیاتی و نه کړي. زموږ استازي یو ځل بیا له امین سره د غونډې لپاره لاړل او یو ځل بیا یې د یو موټي افغان مشرتابه لپاره بشپړ استدلال وکړ. امین موږ ته ډاډ راکړ چې د شوروي اتحاد د یو رېښتیني ملګري په توګه به تر خپلې وسې هڅه وکړي چې د شوروي د مشورو پر بنسټ چارې ترسره کړي او د شوروي اتحاد او د افغانستان دموکراتیک جمهوریت تر منځ همکاریو ته وده ورکړي. ده زیاته کړه چې د تره کي ګوښه کېدنې نه یوازې د ګوند یوالی زیانمن نه کړ بلکې برعکس ګوند یې نور هم متحد کړ.

دا ځرګنده وه چې نه یوازې پوزانوف بلکې نورو همکارانو هم له امین سره غونډه پای ته نه رسوله پرته له دې چې د تره کي د خوندیتوب په تړاو له امین څخه یو واضح ضمانت وانه خلي. دوی اړ وو چې سمدلاسه د خبرو اترو د پایلې راپور مسکو ته ورکړي، خو امین یوازې پر دوی ملنډې وهلې. ده وویل چې څو ساعته

www.samsoor.com

مخکې د سیاسي بېرو غړو په یوه غونډه کې غوښتنه وکړه چې تره کي له ټولو دولتي څوکیو څخه گوښه کړل شي. پوزانوف په اعتراض وویل: «خو تېره شپه تا ژمنه وکړه چې دی به د انقلابي شورا د ریس په توگه پاتې شي.» امین خپلې اوږې وخوځولې او ویې ویل چې ده تر خپلې وسې هڅه وکړه، خو د گوند غوښتنه قانون وه.

په همدغه ورځ ما د هغو وزیرانو په هکله د خپل اند راپور ورکړ چې د زینت په کوټې کې لاتراوسه مېشت وو. ډېر ژر د څارگرې ادارې مشر ما ته تیلفون وکړ چې په « تر ټولو لوړ پوړ» کې پرېکړه وشوه چې دغه افغانان په پټه له افغانستان څخه شوروي اتحاد ته ولېږدول شي. زه سملاسي د زینت کوټې ته لاړم چې په دې هکله د دوی د خوښې پخلی وکړم. له نېکه مرغه، زه دې ته اړ نه شوم چې دوی قانع کړم چې دا د مرستې یوازېنۍ لاره ده. دوی پوه شول چې پرته له دې څخه به دوی ژوندي پاتې نشي.

کله چې په مسکو کې د شوروي مشران د امین د خیانت له لومړني ټکان څخه بېرته ورغېدل، دوی د وضعیت د حل لپاره د پوځي غوراویو ارزول پیل کړل. د کې جي بي د ځانگړو ځواکونو واحد او په بگرام کې پراشوټي کنډک ته د بشپړ تیار سئ امر وشو، خو د تره کي د ازادولو امر ورنه کړل شو ځکه چې په مرکز کې د ځواکونو د انډول په ارزونه کې څرگنده شوه چې د ناکامۍ خطر ډېر و.

**و. ک. کوریلوف، د بهرنۍ څارگرې ادارې د ځانگړو ځواکونو افسر**

موږ له رواني او عملیاتي اړخه چمتو وو چې د امین د شنډولو او د تره کي د ازادولو دنده په غاړه واخلو. د عملیاتو د

ترسرکونې بېلابېلې لارې او د امین استوگنځي ته د ننوتلو لارې مو څېړلی وې او د کوټو او دالانونو ځای راته مالوم و.

موږ یو پلان جوړ کړی و، خو مسکو سوکه و.

پلان داسې و چې موږ به په درېیو ډلو وېشل کېدو :د نیولو ډله، د ساتنې ډله او احتیاطي ډله. لکه څنگه چې هغه

وخت مو زغروال گاډي نه لرل، موږ به په دوو جیپونو او دوو پوځي لارییو کې استوگنځي ته د شپې په بهیر کې تللي وی. لومړنۍ لارۍ به دروازه ماته کړې وی او ورپسې به پوځیانو د ماشینگنو پر ډزو او پر بم غورځوونکو وسلو د دروازې ساتونکي شنډ کړي وی. بیا به همدغه لارۍ د ودانۍ شاوخوا تاو شوې وی چې

له ممکنه شته دوښمنانو څخه سيمه پاکه کړي. ورپسې به پوځيانو عملياتي کرښه جوړه او د استوګنځي ټولې لارې بندې کړې وی. يو جيپ به په چټکۍ د استوګنځي دروازې ته تللی وی او پنځه پوځيان به ترې ښکته شوي وی. دغه پوځيان به استوګنځي ته ننوتلي او امين به يې نيولی وی. موږ مخکې ترمخکې پوه وو چې د شپې له خوا په استوګنځي کې يوازې څو ساتونکي وي. زموږ پوځيان به په دويم پوړ کې د امين د خوب کوټې ته ننوتلي وی، د امين خوله به يې تړلې او ورپسې به يې نوموړی په يوه کڅوړه کې اچولی وی. د دويم جيب پوځيان د هغو پوځيانو د ملاتړ لپاره ګمارل شوي وو چې استوګنځی يې تر خپل کنټرول لاندې راوستلو او د امين د ژغورلو لپاره د افغان پوځيانو د هرې هڅې د مخنيوي دنده هم ورکړل شوې وه. د دويمې لارې پوځيانو به د څلورلارې ښار کاوه او استوګنځي ته به يې لارې کنټرولولې. دغه ټولو عملياتو به د لسو دقيقو څخه ډېر وخت نه وی نيولی .
د دغو عملياتو برياليتوب په ناڅاپي بريد تړلی و .په دغه وخت کې موږ د افغانانو طبيعت څېړلی و. موږ پوهېدو چې دوی ژر وارخطا کېږي او په ناڅاپه کې کنټرول له لاسه ورکوي. موږ په خپله بريا ډاډمن وو.
موږ به امين له کابل څخه ٦٠ کيلومتره ليرې بګرام ته لېږدولی وی. يوه الوتکه به موږ ته چمتو ولاړه وی او موږ به له خپل انعام سره د شوروي اتحاد په لور الوتلي وی.
څومره چې زه پوهېږم، دغه پلان مرکز منظور کړی و .موږ يوازې امر ته تم وو.
يوازې وروسته له دې چې مسکو د ده کې د ليرې کولو او د ده ژوند ته د خطر په تړاو د امين له خيانت څخه په ډکو کړنو خبر شو، د کريملين خلکو په پرېکړو پيل وکړ. د سپتمبر په پنځلسمه د امين د نيولو په موخه موږ ته د تيارسئ امر وشو. موږ د دغسې عملياتو لپاره له ډېر وخت راهيسې تابيا نيولې وه؛ نو زموږ چمتو کېدنې ډېر وخت ونه نيوه.
د لسو بجو په شاوخوا کې موږ ته نور دستوورنه هم راکړل شول او ځينې جزيات مو بشپړ کړل. زموږ يو پخوانی اشنا، امنيتي افسر بختورين، چې زموږ د مورال په هکله ډېر اندېښمن و، له څو بوتلو وتکا سره راغی. لکه څنګه چې معمول وو، له عملياتو څخه مخکې موږ څو بوتله وڅښل. ورپسې تم ناست وو، ماښام راغی او تراوسه امر ته تم وو. ما ته وروسته وويل شول چې د موضوع په هکله په ډېر «لوړ پوړ» کې چې برېژنېف هم پکې برخه اخيستې وه پرېکړه شوې وه. دا يوه لويه موضوع وه. د کې جي بي ځانګړي ځواکونه به د يو ملګري هېواد د لومړي وزير پر استوګنځي په دې هڅه بريد کوي چې نوموړی ونيسي؛ نو زموږ لوړپوړو مشرانو د فکر لپاره ډېر څه لرل.
د تيارسئ د پای امر ماښام ناوخته راورسېد او عمليات فسخه شول. دوی له دغه فرصت څخه د ګټې اخيستنې زړه و نه کړ. ما فکر وکړ چې ډېر بد کار وشو ځکه چې زه ډاډمن وم چې هر څه به سم مخته

www.samsoor.com

تللي وی او په دې توگه به مو د ډېرو بېخوندو پایلو مخه نیولې وی. که چېرې موږ امین نیولی وای، دا شونې وه چې موږ به په افغانستان کې پوځي مداخلې ته اړتیا نه وای لرلې.
مخکې له دې چې ویده شم، ما بي بي سي رادیو ونیوله او سمدلاسه مې د کابل په هکله خبرونه واورېدل. بي بي سي راپور ورکړ چې د خرابې روغتیا له کبله تره کی له واک څخه لیرې کړل شو.
په دغه شپه موږ خوب و نه کړ. موږ ته د تیارسۍ امر وشو او څک پاتې وو چې د بیړني حالت په راتگ سره لاس په کار
شو. داسې گنگوسې وې چې په نېږدې راتلونکې کې د ځینو پارونو شونتیا شته وه؛ نو موږ باید چمتو پاتې وی.

سهار مخکې له دې چې کار ته لاړ شي، سترستین گراج ته لاړ او د ټیوېټا کرون دروازه او ټولبکس یې پرانیستل. په گاډي کې یې په مایامي کې یوه جوړه شوې کوچنۍ څرخي تومانچه ومونده. کله یې چې ټولبکس لټاوه ، د نوموړي په یو گل گنډلي ښځینه شین شال کې یوې لویې گنډې ته پام شو. د گنډې غوټه یې چې خلاصه کړله، د ډالرو او افغانیو بنډلونه یې پکې وموندل چې د ربړ کړۍ ترې تاو شوې وې. سترستین هر څه هملته پرېښودل او بېرته کور ته لاړ چې د مېلمنو وسلې راټولې کړې. نوموړي د سروري پکول له ځان سره د نښې په توگه وساته. وروسته، سترستین د گراج ور ښه ټینگ بند کړ چې د دوی چوپړیال، رستم ټیوېټا ته پام نشي. نوموړی په همدغو شېبو کې د سترستین کور ته رارسېدونکی و. ورپسې په خپل گاډي کې کنښناست او سفارت ته لاړ.
سترستین د وسلو او پیسو راپور په سفارت کې اوسادچي او بوریس سیمیونوویچ ته ورکړ. ایوانوف د یو کمېسیون د جوړولو امر وکړ چې د سترستین د مېلمنو د پاتې توکو د ثبت لاسوندي جوړ کړي. دغه کمېسیون له سترستین، اوسادچي او بختورین څخه جوړ شو او دوی هوکړه وکړه چې د رستم له تگ سره سم به د سترستین کور ته لاړ شي.
له غرمې وروسته کله چې د سترستین چوپړیال پاککاري خلاصه کړه او د ده له کور څخه لاړ، دوی درې واړو په ډېر پام د گاډي په ټولبکس او د گاډي د ننه لټون پیل کړ. د اوسادچي د خبرو پر بنسټ، دغه گاډی د اگسا شتمني و .دوی د بختورین گاډي ته وسلې ولېږدولې او پیسې یې د اوسادچي د ناستي کوټې ته یووړې. ولېږي او بختورین پر غولي لترۍ ووهلې او د پیسو شمېرل یې پیل کړل. بختورین د هغو ډالرو بېلابېل لوټونه شمېرل چې د مخکې کارونې نښې پکې وې او ولېږي د زړو او خیرنو افغان لوټونو په شمېرلو بوخت شو. اوسادچي وپتېیله چې خپل لاسونه ناولي نه کړي او پر ځای یې په څنگ لرونکې

ځوکۍ کې هوسا کښېني، امریکایي کنیاک وڅښي او خپلو لاس لاندو ته لارښوونه او مورال ورکړي. اوسادچي، ولېري ته په ملنډو وویل: «ولېري، ښه به وي چې دغه پیسې ته پخپله ځان ته واخلې. که تا ته بیخي ډېرې وي، له خپلو ملګرو سره یې شریکې کړه. ته هغه ربړې ته پام وکړه چې موږ او د پې جي یو مالي څانګه به اوس ورسره مخ کېږي. هېڅ دلیل نشته چې مالي څانګه پوه شي چې دغه پیسې له کومه شوې، خو موږ یې باید په اړه څرګندونې وکړو. دا کار به څرنګه وکړو؟ ایا ورته ووایو چې د اړتیا له مخې مو یو بانک لوټ کړ؟»

سترستین په غوسه کېده او ویې ویل: «ویلیور ګوریلوویچ، شمېر یو ځل بیا راڅخه ورک شو، اوس به یې بیا له سره پیل کوم.» بختورین هم د مېشت مشر ټوکو ټکالو نه پرېښود چې شمېرنې ته پام ونیسي، خو اوسادچي خپلو مامورینو ته په خانتما مهربانۍ وویل: «ښه، ښه، زه به چوپ پاتې شم.»

کله چې د پیسو شمېرل پای ته ورسېدل، په دغه غوټه کې ټولې پیسې ۵۳۹۵۰ ډالره او ۴۲۲۰۰۰۰ افغانۍ وې. دوی د پیسو شمېر ولیک او لاسلیک یې کړ. ورپسې یې دغه پیسې د وتکا په یو تش کریټ کې واچولې او پر سر یې مڼې کېښودې. دوی د کنیاکو څښل بشپړ کړل، مېشت مشر کریټ له ځان سره واخیست او اوسادچي او بختورین ته تګ ته چمتو شول.

سترستین دوی ودرول: «صبر وکړئ، راځئ چې له ګاډي څخه نمبر پلېټ لیرې کړو.» کله چې مېشت مشر او بختورین

لاړل، سترستین د ګراج ور بند کړ. نور نو ده ته دغه ګاډی کوم ناوړه خطر نه برېښېده.

## د سپتمبر شپاړلسم

## ع. ک. میثاق

د سپتمبر په شپاړلسمه شپه امین د خپلو نېږدې متحدینو له یوې کوچنۍ ډلې سره غونډه درلوده. دا په رسمي توګه د

سیاسي بېرو غونډه وانګېرل شوه. د مرکزي کمېټې عمومي غونډه سهار راوبلل شوه. د مرکزي کمېټې له یودېرش غړو څخه شپږویشت په غونډه کې حاضر وو. امین په رنګینه بڼه د ده د وژنې هغه هڅه بیان کړه چې ده یې ادعا کوله چې تره کي ورته لاره هواره کړې وه. ده په خوارنجوکې بڼه وویل: «د مرکزي کمېټې کاندید ګران ملګری تړون ووژل شو. همدغسې یو برخلیک ما ته هم تم و. تره کي پرېکړه کړې وه چې د هغو څلورو ډارنو خاینانو په مرسته په ګوند کې یوه کودتا ترسره کړي چې موږ څو ورځې مخکې له خپلو ځوکیو څخه شړلي وو. دوی د انقلاب پر ضد توره اوچته کړله، اوس به پر همدغه توره سزا ورکول کېږي.»

www.samsoor.com

د تره کي په پرتله امین یو د لومړۍ درجې ویناوال او وړ بلیغ و. ده غوښتنه وکړه چې تره کی د ګوند له لیکو څخه وشړل شي. دا په دې مانا وه چې ټولې څوکۍ به په اتوماتیک ډول ترې واخیستل شي.
د سیاسي بېرو غړي، پنجشېري او ما وړاندیز وکړ چې تره کی غونډې ته راوبلل شي چې په دې هکله د ده څرګندونې واورو. امین ځاځمن (په غوسه) شو: «تره کی نه غواړي چې له هېچا سره خبرې وکړي. دی تیلفون نه اخلي. ساتونکو ته یې امر شوی چې پر هر هغه چا ډز وکړي چې د ده استوګنځي ته نېږدې کېږي. ملګری میثاق، که ته دومره زړور یې؛ نو ته پخپله تره کي ته ورشه، او ترې وغواړه چې دلته راشي.»
زه د امین په خبرو سم پوه شوم: که زه د تګ پرېکړه وکړم، د ده سړي به ما ووژني او پړه به د تره کي پر ساتونکو واچوي.
عمومي غونډه د دلکشا په سالون کې جوړه شوه .زغروال ګاډي او شوبلې له ودانۍ څخه چاپېر وو. ملي ګارد او څارګر اجنټان هر ځای لیدل کېدل. د بهرنیو چارو وزیر شاولي، چې دغه وخت د ا خ د ګ د مرکزي کمېټې منشي ګمارل شوی و، د عمومي غونډې مشري کوله.
بلاخره ټولو رایه ورکړه چې تره کی له ګوند څخه وشړل شي. په رسمي وینا کې داسې لیکل شوي وو: «د نورو ناروا کړنو تر څنګ، د مرکزي کمېټې د منشي او د سیاسي بېرو د غړي، لومړي وزیر حفیظ الله امین د هدفي وژنې د هڅې په تنظیمولو او د مرکزي کمېټې د ازمابښتي غړي، سید داود تږون د وژنې ...» سربېره پر دې، په دغه عمومي غونډه کې د مخالفې ډلې څلور غړي داسې ونومول شول: «د یوې ترهګرې ډلې غړي چې د تره کي په مشرۍ یې کړنې ترسره کولې.»
طبیعي وه چې امین عمومي منشي وټاکل شو. له دغه غونډې څخه وروسته، د سیاسي بېرو غونډه سملاسي جوړه شوه چې امین پکې د انقلابي شورا د ریس په توګه د تره کي ځای ناستی شو.

**لیو نیکولایوویچ ګرېلوف، پوځي ستر سلاکار**

زموږ د سلاکار کمېسیون یو دفتر په هغه ودانۍ کې و چېرته چې د مرکزي کمېټې عمومي غونډه روانه وه. زما ټیک په یاد نه دي چې دغه غونډې یو ساعت یا تر دې ډېر دوام وکړ، خو دا مې په یاد دي چې د غونډې په بهیر کې د حورا اوچتې چیغې ډېر ځلې زموږ په دفتر کې واورېدل شوې؛ نو سیاسي بېرو دا رنګه په خوښۍ خپل نوي مشر ته هرکلی وویل. زما سمدلاسه د غویي انقلاب را په یاد شو چې څرنګه هغو خلکو د تره کي واکمنۍ ته هر کلي ویل چې یوه ورځ مخکې یې د داود پښې ښکل کولې.
پخوانی عمومي منشي له خپلې څوکۍ ګوښه کړل شو او «د نورو جنایتونو سربېره، د امین د وژنې د هڅې په ګډون د داسې ترهګرو کړنو لکه د شپږو بېلابېلو هدفي وژنو د توطیې د جوړولو له کبله» له ګوند څخه وشړل شو. سفیر زموږ په دفتر کې ناست و او موږ د غونډې پایلې ته تم وو. کله مو چې بلاخره له سالون

ځخه د دوی وتل واروېدل، موږ د دوی په لور لاړو. خوشاله شاولي پوزانوف ته وویل: «ملګري امین ته مبارکي ورکړه. دی اوس د ګوند عمومي منشي دی.» دلته پوزانوف څه کولای شوی؟ ده امین ته مبارکي ورکړه.

دا په زړه پوری وه چې د تره کي په هکله د عمومي غونډې پرېکړه پټه وساتل شوه. د مرکزي کمېټې یوازې لږ شمېر غړي او د دوی مامورین له دغې پرېکړې خبر وو. ډېله یېزو رسنیو داسې مالومات خپاره کړل چې د تره کي په غوښتنه نوموړی له خپلو دندو ځخه ګوښه کړل شو ځکه چې د خرابېدونکي روغتیایي حالت له کبله د دولت او ګوند د مهمو چارو د ترسره کولو وړ نه و.

## د سپټمبر اوولسم

په دغه ورځ په کابل کې د ټیټ پوړو ډیپلوماتانو لپاره یوه مېلمستیا د سترستین په استوګنځي کې نیول کېده. په لومړیو کې اوسادچي او ایوانوف اړنګ درلود چې ایا د سترستین په کور کې د مېلمنو راغونډېدنه یو مناسب کار دی په داسې حال کې چې ټیوټا کرون Crown لاتراوسه په ګراج کې و، خو دوی بلاخره وپتېیله چې دا ډېره ناشوني ده چې کوم مېلمه د ګراج په شاوخوا کې وګرځي او په عین وخت کې به دغه مېلمستیا د افغان څارګرو هغه بدګوماني لیرې کړي چې سترستین یې د سروري او پخوانیو وزیرانو په ورکېدو کې ښکېل باله.

د ایران قونسول، ایراج دیبه Iraj Deeba ، چې په دې ورستیو کې د شړل شوي ایراني شاه لیرې خپلوان و، د ټولو پام ځان ته اړولی و. ده په ډېر خپګان خپلې وروستۍ ورځې په کابل کې تېرولې او دې ته تم و چې کاري دوره یې پای ته ورسېږي. نوموړی په دې فکر کې و چې کله یې ایراني دولت بېرته وروغواړي، دی به د ژوند لپاره اروپا یا امریکا ته لاړ شي. ده په ډېر ناټ د خمیني رژیم د لومړنیو اخیستو ګامونو په هکله خبرې کولې. نوموړي پر رژیم باندې ښکاره نیوکې نه کولې، خو د ده کیسو یو ښخونده انځور جوړاوه.

د دغه شپې د بنډار اصلي موضوع د کابل وروستي خبرونه وو او د خبرو ډېره برخه د تره کي لیرې کول او د امین واک ته رسیدل وه. هېڅ ډیپلومات د پېښو د رسمي څرګندونو په هکله چې تره کی د سختې ناروغۍ له کبله ګوښه شو خپل اړنګ پټ نه کړ. ځینو مېلمنو په ښکاره د واک دغه لېږد کودتا ونوماوه.

ډېرو ډیپلوماتانو له ولېري ځخه پوښتنه وکړه: «ښاغلی سترستین، په دې هکله ته څه فکر کوې؟» ولېري د دغسې پوښتنو وړاندلیدنه کړې وه. ده خپل ځوابونه د پوزانوف هغو په څېر چمتو کړي وو. ده وویل چې په هېواد کې وروستۍ پېښې د افغانانو کورنۍ چارې دي او د یو مشر پر ځای باندې د بل مشر کښېناستل چې په هره بڼه وي د دغو دوو هېوادونو ترمنځ به د ملګرتیا پر دودیزو اړیکو اغېز و نه کړي .ډیپلوماتانو به په پوهاوي موسکا وکړه. که دوی د سترستین پرځای وی، دوی به هم همداسې څرګندونې کړې وی .

www.samsoor.com

لکه څنګه چې په پروتوکول کې یې یادونه شوې وه، دیپلوماتان په داسې بڼه د سترستین له کور څخه ووتل چې دوی ونه
کړی شي چې د هغو مالوماتو لنډيز وليکي چې دوی له یو او بل څخه په سختۍ ترلاسه کړي وو او لاتراوسه د دوی په حافظه کې تازه وو. یوازې د سترستین نېږدې ملګري - ویتنامي دیپلومات، کو، د ده ژباړن لیین Lian، د نیکولای پېوف په نوم یو بلغاریایي او د ده مېرمن مارتینا -Martina د سترستین په کور کې پاتې شول. سترستین اعلان وکړ چې هر څوک ترټولو ډېر وخت د ده په کور کې پاتې شي، هغه به د شوروي اتحاد ترټولو ښه ملګری اعلان شي. ملګری کو ډېر وخت پاتې شو، خو بلاخره یې له بلغاریایي څخه مخکې مخه ښه وکړه. نیکولای ډېر خوښ شو. اوس به یوازې دی او سترستین
د اور څنګ ته له وېسکي سره ناست وي.

بلغاریایي په پام وویل: «پوهېږې ولېري، زموږ سفیر فکر کوي چې د امین له خیانت څخه ډکه واک ته رسېدنه د افغان انقلاب او نړیوال سوسیالېستي خوځښت په ګټه نه ده. سربېره پر دې، د تره کي لیرې کونه بشپړ قانوني نشي ګڼل کېدی. هغه څه چې په کابل کې پېښ شول، نه یوازې پر افغان کمونستانو بلکې پر ټولو سوسیالېستي هېوادونو به هم سیوری وغوړوي. ولېري، په دې هکله د یو ملګري په توګه خپل اند له ماسره شریک کړه.»

ولېري ورته وویل: «کولیا Kolya ، زه به د یو نېږدې ملګري په توګه سپین درته ووایم. زه هم ستا د سفیر د اند په څېر هغه لرم. زه دغه کودتا نه منظوروم او په شخصي توګه نه غواړم چې شوروي اتحاد، امین د افغانستان ولسمشر په توګه ومني، خو زه فکر کوم چې ډېر مهم دلیلونه شته دي - زموږ د شخصي خواخوږیو په پرتله ډېر مهم دلیلونه - چې ولې به شوروي مشرتابه له افغان رژیم سره همکاریو ته وده ورکړي. دغه دلیلونه د عیني ځمکني سیاست پر واقعیتونو او په منځني ختیځ کې زموږ د هېواد پر اوږدمهاله ګټو ولاړ دي. زه په دې باور هم یم چې په افغانستان کې هر راز رژیم چې واکمن وي، که چېرې د وټې او سیاست له اړخه له موږ سره اړیکې ونه لري، دغه هېواد به په نورماله توګه پرمختګ و نه کړي.»

دغه بلغاریایي د خبرو موضوع نوره هم وغځوله. دی لکه څرنګه چې ښکاره کېده دومره ساده نه و. ده وپوښتل: «که تاسې له امین سره د اړیکو د ودې پلان لری او د ده پر ځای د بل چا د کېنېنولو پلان نه لری؛ نو بیا تاسې ولې د څلوروالې غدۍ نومې ډلې ته پناه ورکړې او په اصل کې د دوی ژوند ژغوری؟ ایا دا کار تاسې له دې کبله وکړ چې که چېرې امین ته څه پېښ شي، تاسې به د ده د ځای ناستي لپاره څوک ولری؟»

سترستین بلغاریایي داسې ونګاوه: « ته په کوم دلیل وایې چې موږ دوی ته پناه ورکړې؟» بلغاریایي ځواب ورکړ: «ما په تېرو څو ورځو کې له ډېرو بهرنیو دیپلوماتانو او هغه افغانانو سره خبرې کړې دي چې پر

وضعیت ښه خبر دي، دوی په دې باور دي چې تاسې تراوسه دغه افغانان په خپل سفارت کې پټ ساتلي دي.»

سترستین د خپلې غوسې د پټولو پروا و نه کړه او ویې ویل: «که څه هم زه د شوروي په سفارت کې کار کوم ، شوني ده چې بهرني دیپلوماتان او له وضعیت څخه هغه باخبره افغانان چې تا خبرې ورسره کړې زما په پرتله ډېر مالومات ولري، خو ما دغه وزیران په سفارت کې نه دي لیدلي. کولیا، ته ریښتیا فکر کوې چې د ځارګرې اداري پخوانی مشر او پخواني وزیران په کابل او شاوخوا سیمو کې داسې پټنځایونه نه لري چې دوی تر هغه وخت پورې پکې پټ شي تر څو چې د دوی لټون پای ته رسېږي؟ سربېره پر دې، له امین سره د دوی دوښمنې ډېر وخت دوام وکړ؛ نو بې اړنګه دوی ډېر فرصتونه لرل چې د هر راز سناریو لپاره احتیاطي پلانونه جوړ کړي.»

پیوف بېرته شاتګ پیل کړ او ویې ویل: «بې اړنګه، زه هم په دې باور لرم چې دوی داسې ځایونه لري. هیله من یم چې زما
خبره په تا بده نه وي لګېدلې. زه یوازې په اخلاص له تا سره هغه څه شریکوم چې ما اورېدلي دي. که دا مالومات غلط
وي؛ نو غلط دي. ته چې داسې وایې، زه پرې باور کوم.»

## د سپتمبر اتلسمه

د زینت عملیاتي پوځیانو ټوله اونۍ تر سخت فشار لاندې تېره کړه. دوی وسلې تر خپل کټ لاندې اېښودلې او په خپل یونیفورم کې ویده کېدل. د سپتمبر په پنځلسمه شپه، درې څه ناخه وېربدلي افغانان د دوی کوټې ته ولېږدول شول. دالمتوف څرګنده کړه چې دغه درې افغانان د ا خ د ګ نومور غړي دي چې له امین سره په شخړه کې دي او پناه ته اړتیا لري. ولېرې کوریلوف یو افغان سمدلاسه وپېژانده. دغه افغان د اګسا مشر اسدالله سروري و، هغه څوک چې په دې ورستیو کې یې د شوروي ښوونکو تر روزنې لاندې د خپلو لاس لاندو د روزنې پایلې کتلې وې.

دغو خلقیانو ته په لومړي پوړ کې یوه بې کړکیو کوټه، درې کوچنې کټونه او درې څوکۍ ورکړل شوې. دوی ته امر وشو چې په هېڅ وجه بهر ونه وځي.

د زینت پوځیان پوه شول چې دغه افغانان تر لټون لاندې دي ځکه چې دوی ته دومره روزنه ورکړل شوې وه چې د سبو پلورونکو یا عادي لارویو او د اګسا د اجنټانو تر منځ په توپیر پوه شي. بویارینوف دوی ته خبرداری ورکړی و چې د اګسا اجنټان هغه سیمې ځارې چېرته چې شوروي اتباع اوسېدل. د کې جي بي عملیاتي پوځیانو ودانۍ تر کلکې ځارنې لاندې وې. د ځارګریزو فعالیتونو د شنډولو افغان ادارې د

زينت کوټې شپه او ورځ ترڅارنې لاندې نيولې وه او افغان څارګرو څو ځلې هڅه وکړه چې د دروازې او بوټيو د دېوال له لارې د کوټې انګړ ته وروګوري. د زينت پوځيان اړ شول چې د دوی د خوندي ساتلو لپاره نور ګامونه اوچت کړي. دوی د کوټې د حريم په شاوخوا کې د خبرداري سيستم ولګاوه. کله چې مېلمنو کرار کرار په کوټې کې د ارامۍ ننګېرنه وکړه، دوی اوچتې خبرې، ټوکې، د غاښو د بورس، پاکي او نېکر غوښتنې پيل کړې. دوی ته ژوند کرار کرار نورماله کېده.
له کوريلوف څخه غوښتنه وشوه چې د مېښت مشر دفتر ته ورشي چېرته چې له اوسادچي سره په ښکاره يو مهم کس ناست و او غوښتل يې چې له ده سره خبرې وکړي. نوموړي منځنۍ ونه درلوده، سر يې مخ پر ګنجي کېدو و او پر ځان ډېر باورمن ښکارېده. دغه سړي کوريلوف ته وويل: «موږ ته ويل شوي چې ته ډېر ښه انځور کاږې.» کوريلوف ځواب ورکړ: «هو، ولې؟» نوموړي د کوريلوف پوښتنې ته پام و نه کړ او ويې ويل: «که ته په انځور کاږلو کې ښه يې، نو ته به په ليدنه ځارنه کې هم ښه وړتيا ولرې. موږ له تا څخه غوښتنه کوو چې په ليکلې بڼه هغه افغان وزيران انځور کړې چې په کوټې کې پټ دي. کولای شې دا کار وکړې؟ موږ غواړو چې د دوی ليکلی انځور دومره هراړخيزه وي چې څومره شونې وي. د دوی د مخ د ونګې سربېره، دغه انځور بايد د دوی خوی، د چلند ځانګړتياوې، د خبرو بڼه او داسې نور هم څرګند کړي.» کوريلوف ورته وويل: «په مسکو کې موږ ته د روزنې په ترڅ کې د دغسې کار ترسره کول ښودل شوي دي، خو د دې کار لپاره زه له دغه درې افغانانو سره د وخت تېرولو ته اړتيا لرم.» دغه سړي ډګرمن دالمتوف ته وکتل او ويې ويل: «سمه ده. ده ته هر هغه څه برابر کړه چې د دغه دندې د ترسره کولو لپاره ورته اړتيا لري.»
کوريلوف ته دغه دندې يو فرصت ورکړ چې له فراري وزيرانو سره نېږدې اړيکې ټينګې کړي. د شپې په بهير کې دی او سروري څو ځلې د کوټې په انګړ کې يوځای وګرځېدل. سروري نه خانتما او نه ټينخی (ځان ښودونکی ) و بلکې په ناټې او توده توګه يې له دغه ټيټ پوړي افسر سره خبرې کولې. ده له امين څخه سرټکونه کوله، دی يې امريکايي جاسوس نوماوه او ويل يې چې د دوی چاپېر بېشمېره دوښمنان دي چې بايد له منځه يووړل شي. سروري په مناسبه کچه په انګرېزي او روسي ژبه خبرې کولې. يو ځل يې کريلوف ته حتی وويل چې غواړي شل پونډه (نهه کيلوګرامه) ډنګر شي او د دغه موخې لپاره يې د ډنګرېدو ځينې نومور لوېديځي پروګرامونه پيل کړي دي.
ګلاب زوی هم له دغه ځوان افسر سره د خبرو ناټې درلود. نوموړي لاتراوسه خپله اړږښتمنه شتمني درلوده او دا يوه داسې شوروي تومانچه وه چې په دې ورستيو کې جوړه شوې وه او يوازې جنرالانو او ډګروالانو ته ورکول کېده. ده به دغه تومانچه راوايستله او ولېري ته به يې وويل: «وګوره، دا ستاسې د کورنيو چارو د وزير له لوري يوه ډالۍ ده. ته پوهېږې چې ملګری شېلوکوف د ملګري برېژنېف نېږدې ملګری دی؟ ته فکر نه کوې چې دوی به موږ يوازې پرېښږدي، که

ځنګه؟»
دربېيم مېلمه، وطنجار دومره خبرې نه کولې، ښايي لامل يې په روسي ژبه کې د ده نيمګړتيا وه. په ټاکلي وخت کې کوريلوف خپله ورکړل شوې دنده بشپړه کړه. نوموړي د دوی د کرکټر مفصل توضيحات بشپړ کړل، د خلقيانو د مخ ونګې او د ځېرو خاکې يې جوړې کړې او سفارت ته يې وسپارلې. نوموړی وروسته د دغه دندې پر منطق پوه شو.
د دغه مودې په بهير کې د «بوډۍ ټال عمليات Rainbow operation» په شفري نوم د کابل او مسکو ترمنځ مخامخ تودې خبرې اترې ترسره شوې. د عملياتو موخه له افغان پلازمېنې څخه د سرورې او د ده د ملګرو په پټه ايستل وه. په دغه وخت کې کې جي بي په کابل کې پخه اډه درلوده، خو بيا هم د داسې عملياتو خطر ډېر زيات و. دغه درې خلقيان په رسمي توګه دولتي جنايتکاران ګڼل کېدل او حکومت يې په لټه کې و. که دا عمليات ناکام شوي وی، له هېواد څخه د دوی د ايستلو هڅه به په يوې لويې نړيوالې رسوايۍ بدله شوې وی.
له اوږدو خبرو اترو څخه وروسته داسې يو پلان منظور شو. دغه وخت په کابل کې د زينت د ځينو افسرانو دوره پای ته رسېدله؛ نو په پلان کې له دې څخه ګټه واخيستل شوه چې له شوروي اتحاد څخه د دوی ځای ناستي کابل ته ولېږل شي. دغه ځای ناستي افسران به له ځان سره د وسلو، مهماتو او د بېلابېلو تخنيکي توکو يو پېټی (کارګو) کابل ته ولېږدوي. همدې ته ورته يو پېټی به بېرته شوروي اتحاد ته له هغو افسرانو سره ولېږل شي چې په کابل کې يې د دندې دوره پوره شوې وه. پر دغه کارګو به د ډيپلوماتيک نښان وهل کېږي څو امنيتي اداري يې ونه لټوي.
د مسکو په لمن بلشيخه کې د ځارګرې ادارې د ځانګړو ځواکونو په مرکزي اډه کې د لرګي درې صندوقونه جوړ شول چې درې فراريان پکې ولېږدوي. هر صندوق دومره لوی و چې يو کس پکې ځايېده، د هوا لپاره سورې پکې تېځل (برمه) شوي وو، د اکسيجن ډبې او توشکې پکې اېښودل شوې وې. دغه صندوقونو ته تياره زرغون رنګ ورکړل شو چې د معمولي پوځي بکسونو په څېر ښکاره شي.
دې عملياتو ته تابيا اشد محرمه پاتې شوه. د پي جي يو د پټې ځارګرې ځانګې ډګروال ګلاتوف، چې د ډېرو حساسو او محرمو عملياتو سره يې سروکار درلود، د دغو عملياتو د پلې کولو د ځارنې لپاره ګمارل شوی و. کريچکوف خبرداری ورکړی و چې که دغه عمليات ناکام شي، ټوله پړه به د ده پر غاړه واچول شي ځکه چې پي جي يو به د دغو عملياتو په اړه له هر راز خبرتيا څخه انکار وکړي. ويسلي ستپانوويچ ګلاتوف وروسته يادونه وکړه چې دغه راز خبرو نوموړی په بېخونده توګه هک پک کړ، خو د ناخوښۍ له ځرګندولو څخه يې ډډه وکړه. لوی درستيز اوګرکوف د دفاع وزير ته وويل چې د دغو عملياتو لپاره دوه الوتکې ځانګړې کړي. پرېکړه شوې وه چې لومړنۍ الوتکه IL-76 له مسکو څخه فرغانې Fergana ته الوتنه وکړي

www.samsoor.com

او هلته تېل واچوي او دويمه الوتکه An-12 به هملته احتياطي تم ولاړه وي چې که IL-76 کومه تخنيکي ستونزه پيدا کړي، له دې ځخه کار واخيستل شي. له ګلاتوف سره د زينت لس هغه پوځيان کابل ته لاړل چې د هغو افسرانو ځای ونيسي چې په کابل کې يې د دندې موده پوره شوې وه. له دغې ډلې سره د کې جي بي له بېلابېلو څانګو څخه شپږ نور افسران چې بېلابېلې دندې ورکړل شوې وې هم مل وو. له دوی څخه يو هم د دغې الوتنې په موخه نه پوهېده.

د سپتمبر په اتلسمه د سهار په څلورو بجو د IL-76 درنه الوتکه له مسکو څخه د بګرام هوايي اډې په لور والوته. د ګاز-٦٦ (Gas-66) يوه لارۍ د کارګو يوه برخه وه. درې ځانګړي لرګين صندوقونه د نورې عادي کارګو سره ګډ د ګاز- ٦٦ لارۍ په غولي کې اېښودل شوي وو. په ورستيو شېبو کې د کې جي بي د اووم رياست يو شمېر افسران هم له ګلاتوف سره يوځای شول. دوی له ځان سره څاوارونه (مصنوعي وېښته)، د وېښتانو رنګ او د سينګار ځانګړي توکي د احتياط لپاره راوړي وو چې که په لرګينو صندوقونو کې د وزيرانو د لېږد پلان ناکام شي، له دوی څخه کار واخلي. د اووم رياست دغه افسران په جعل کارۍ او د څېرو په بدلونه کې کارپوهان وو؛ نو د کوريلوف د انځوريزې خاکې تر شا دغه منطق پروت و - چې د سينګار اړين توکي او وېښتان چمتو کړل شي چې که د فراريانو د څېرو بدلولو ته اړتيا پيدا شي، له دوی څخه کار واخيستل شي. همدې ته ورته يوه عملياتي ډله په کابل کې هم جوړه شوه. د کابل ډله له امنيتي افسر، بختورين، کې جي بي افسر، کبانوف، د بګرام د څارګر مشر له سلاکار، ډډايکن Dadykin او د زينت له څلورو افسرانو څخه جوړه شوې وه. د IL-76 الوتکه له غرمې څخه مخکې شاوخوا يوولس بجې په خوندي توګه د بګرام په هوايي ډګر کې کښېناسته.

اوس د بوډۍ ټال عملياتو تر ټولو خطرناک او پرېکنده پړاو ته لاره هواره شوې وه.

کله چې الوتکه کښېناسته،په الوتکه کې د کابل ډله او نوي راغلي «مسکويان» سمدلاسه لاس په کار شول. بوريس کبانوف د ديپلوماتيک لېږد لاسوندي او د لارۍ نمبر پلېټ ګلاتوف ته ورکړل. د زينت يو افسر له الوتکې څخه لارۍ وايستله، نمبرپلېټ يې پرې ولګاوه او د اشترنګ ترشا کښېناست. نوي راغلي افسران د سفارت په بس کې سپاره شول. له الوتکې څخه په چټکۍ بار وايستل شو او د ګاډو کتار پرته له ځنډ څخه د کابل په لور روان شو. مخکې له دې چې له هوايي اډې څخه ووځي، ګلاتوف د الوتکې پيلوټ ته داسې امر ورکړ: «موږ به شاوخوا درې نيم ساعته وروسته بېرته راشو. د هوايي اډې دروازې ته ګوره. کله دې چې بېرته راتلونکي ګاډي وليدل، سمدلاسه د الوتکې ماشين چالان کړه او سملاسي الوتنې ته چمتو اوسه.»

له هوايي اډې څخه د ګاډو له وتلو سره داسې څه پېښ نشول چې تمه يې نه کېده. هغه افغان ساتونکي چې له هوايي اډې څخه يې ساتنه کوله له داسې درنو کارګوګانو سره عادت شوي وو چې هره ورځ به له

شوروي اتحاد څخه رارسېدلي او هر راز بارونه به پکي وو. په معموله توګه چا د کارګو د پلټنې پروا نه لرله. هر څه چي افغانستان ته راوړل کېدل، د شوروي اتحاد د وروړولی مرستې انګېرل کېدې.

یوازې په یونیم ساعت کې بس، لارۍ او د بختورین سیدان Sedan د زینت د کوټې دراوزې ته ورسېدل. بس سملاسي د کوټې انګړ ته ننوت او لارۍ د کوټې د ګراج دروازې ته په شا ورغله. عملیاتي افسرانو په چټکي صندوقونه له لارۍ څخه وایستل او کور ته یې د ننه کړل. سروري په ډېره سختۍ په تربت صندوق کې ځان ځای کړ. لکه څنګه چي ګلاب زوی او وطنجار دومره هډور نه وو، دوی له صندوقونو سره دومره ستونزه نه لرله. دري واړو ته یوه سپکه ماشینګڼه او له اوبو څخه ډک پتک ورکړل شول. همدا راز دوی ته د اکسیجن د ډبو کارونه ور وښودل شوه چي د اړتیا په وخت کې یې وکاروي. وروسې د دغه درنو صندوقونو سرپوښونه پر میخونو بند او دوی په لارۍ کې بار کړل شول. یو ناخبره کتونکي ته دغه صندوقونه د پوځي کارګو عادي صندوقونه ښکارېدل. د زینت افسران چي هر یو یې یوه وسله او د مهماتو دوه جاغورونه لرل د لارۍ په دواړو څنګونو کې پر اوږدو څوکیو کښېناستل. د لارۍ شاتنۍ برخه چي پرانیستې وه، ټینګه بنده کړل شوه. د زینت هغه افسران چي له کابل څخه تلل په ملکي جامو کې په بس کې کښېناستل. دوی هوکړه وکړه چي که د لارې په اوږدو کې افغانانو ودرول، دوی به ورته ووایي چي دوی د کارپوهانو یوه ډله ده چي بېرته شوروي اتحاد ته ځي او په لارۍ کې د دوی کاري وسیلي او شخصي توکي دي. د لا ډېرې ساتنې په موخه په بس او لارۍ

پسې د کې جي بي دري سیدان ګاډي په لړ واټن کې روان وو.

کله چي د ګاډو کاروان د دارلامان واټ ته تاو شو، د افغان خارګرې اداري ګاډي سمدلاسه ورسره یوځای شول. کاروان پرته له کومې ستونزې له ښار څخه تېر شو، خو کله چي له ښار څخه په وتلو و، په یو پاټک کې ودرول شو. په پاټک کې د افغان خارګرې اداري یو هغه ګاډی هم درېدلی و چي شوروي کتار یې له کوټې څخه له حرکت وروسته څاره .

په لارۍ کې دالمتوف ترټولو لوړپوړی افسر و. کله یې چي له بس څخه په مخابره کې خبرداری ترلاسه کړ چي وسلواله افغان ګزمه د لارۍ په لور نېغه رروانه ده، نوموړي خپلي ډلې ته ووېل چي له امر سره سم د جګړې لپاره چمتو شي .

کریلوف، چي د نورو تر څنګ په اوږده څوکۍ ناست و، واورېدل چي یو افغان افسر د لارۍ چلوونکي ته ورنېږدې شو او په لارۍ کې یې د بار او تګ لوري په هکله پوښتنه وکړه. د لارۍ چلوونکي ژباړن هغه څه ورته ووېل چي مخکي پرې هوکړه شوې وه. وروسې افغان دویم بریدمن بس ته نېږدې شو. شوروي کارپوهانو په سخاوت ده ته سګرېټ ورکړل او د شوروي اتحاد د لیدلو بلنه یې ورکړه. کوریلوف کتل چي افغان افسر په سګرېټو خوښ شو، خو د خپلي اداري امر یې چي ده له پامه نشوی غورځولی هېر نه کړ.

کوریلوف افغان ته کتل چې د لارۍ شا ته نېږدې شو او د ترپال په پرانیستلو یې پیل وکړ چې په خپلو سترګو په لارۍ کې بار وویني.
ولېري په وارخطايۍ او پساري دالمتوف ته وویل:«الکساندر ایونوویچ!» دالمتوف په نغوتې ورته وویل چې دی له دغه ګواښ څخه خبر دی.
ژباړن په چټکۍ له لارۍ څخه بهر ټوپ کړ چې لومړی بریدمن په دې قانع کړي چې په لارۍ کې ځینې وسیلې دي چې له کارپوهانو سره یوځای بېرته شوروي اتحاد ته لېږدول کېږي. افغان افسر په چوپتیا د ترپال د رسۍ غوټې خلاصولې. کله یې چې غوټې خلاصې کړې، نوموړي د ترپال څنډه پورته کړه او د لارۍ په شا کې دومره جګ شو چې د لارۍ د ننه یې په تیاره کې بار کتلی شوی. په دغه شېبه کې وروسته له دې چې دالمتوف د خپلې ډلې هر سړي ته په نغوتې وویل چې کرار پر خپل ځای پاتې شي، نوموړي خپله درنه موزه د افغان پرلاس کېښوده او تخته یې کړه. افغان له ډېرې ناڅاپې خوله خلاصه کړه، پورته یې وکتل او د سپکې ماشینګنې توره خوله یې ولیده چې نېغه ده ته نیول شوې وه. سربېره پر دې، د لارۍ د ننه په تیاره کې یې نورو ماشینګنو ته پام شو چې د ده په لور نیول شوې وې.
دالمتوف خپله پښه په دوامداره توګه د افغان افسر پر لاس تخته نیولې وه او خپله ګوته یې پر خپلو شونډو کېښودله. افغان افسر ته دغه نغوته واضح وه: که خپل ژوند ته ارزښت ورکوي؛ نو چوپ پاتې شه. دغه افغان افسر شاته وکتل او ویې لیدل چې هغه «کارپوهان» چې یوه دقیقه مخکې یې ده ته سګرېټ ورکړل په ډېره ګواښوونکې بڼه د ده شاته ولاړ وو. ده وانګېرله چې دوی پرته له زړغیتوب څخه چمتو دي چې دی زندۍ کړي. ناچاره افغان، دالمتوف ته داسې د هو سر وخوځاوه لکه چې ژمنه یې وکړه چې هېڅ به ونه وايي. ورپسې نوموړي خپلو عسکرو ته امر وکړ چې د پاټک ارلۍ• اوچته کړي. د ګاډو کتار د بګرام هوايي اډې په لور تګ ته دوام ورکړ او له نور خنډ سره مخ نه شو.
کله چې پیلوټانو د ګاډو کتار ولید چې هوايي اډې ته ننوځي، د الوتکې ماشینونه یې چالان کړل. د الوتکې د کارګو ور پرانیستل شو او لارۍ الوتکې ته ورننوته. تخنیکرانو په چټکۍ دغه لارۍ په کېبلونو پر خپل ځای بنده کړه.
دالمتوف او د ده عملیاتي افسران له الوتکې څخه ښکته شول. کوریلوف له «دغه دیپلوماتیکي پېټي» سره یوځای شوروي اتحاد ته روان و. ده ته دالمتوف امر وکړ: «د الوتکې له الوتلو وروسته، صندوقونه سمدلاسه پرانیزه. په دغه ساه نیوونکو صندوقونو کې به دوی ډېر کړېدلي وي. اوس د دوی د ژوند مسولیت ستا پر غاړه دی» کله چې کریلوف د مخه ښې لاس ورکاوه، دالمتوف ته یې ډاډ ورکړ : «بې غمه اوسه، الکساندر ایونوویچ.» دالمتوف د کریلوف لاس دومره ټینګ کړ چې د کریلوف په سترګو کې کابو اوښکې ښکاره شوې. دا څرګنده نه ده چې دغه اوښکې له کابل څخه د ده د تګ له کبله وې او یا د هغه وژونکي خطر

---

•ارلۍ: اوږد لرګی چې لاره پرې بندېږي

له امله چې يو ساعت مخکې ورسره مخ شوی و. په هغه وخت کې نوموړی نه پوهېده چې په څه کمو دوو میاشتو کې به بیا کابل ،غرونه ، دالمتوف او خپل ملګري ووینې. دی به وسله په لاس بېرته افغانستان ته راځي او دا ځل د یوې جګړې لپاره.

تخنیکرانو د الوتکې دروازې بندې کړې او IL-76 په غوراري والوته. کله چې الوتکه په هوا شوه، کوریلوف په اندېښنې د ګلاتوف او د ده د سړیو په مرسته د صندوقونو په پرانیستلو پیل وکړ. له هغه شېبې څخه چې افغانان په دغو صندوقونو کې ځای پرځای کړل شوې وو تراوسه دوه ساعته تېر شوي نه وو، خو پرته له هوا څخه به دا هر چاته سخته وي چې په داسې تنګ ځای کې ژوندي پاتې شي، خو له نېکه مرغه دوی درې واړه ژوندي وو. په ټولو کې سروري په ډېره سختۍ له بکس څخه راووت. د ده کمیس په خولو کې لت پت و، خو کله چې په پښو ودرېد، بېرته تازه شو. نوموړی سملاسي د الوتکې کړکۍ ته نېږدې شو او ویې پوښتل: «موږ چېرته یوو؟» ده ته وویل شول چې تراوسه په افغان خاوره کې الوتنه کوي. سروري ناڅاپه په غوسه شو: «دا څنګه کېدای شي چې په داسې مهمو شېبو کې خپل پلرنی هېواد پرېږدو؟» بیا یې سوګند وکړ: «زه به بېرته راشم، زه به بېرته راشم چې دغه ارمونی له منځه یوسم. زه به یې پخپله پانسي کړم» د ده مخ سور شو او په ټنډه کې یې خولې راښکاره شوې. ولېري ټېرا شو، ده نه غوښتل چې په دغه سړي کومه مغزي یا د زړه حمله راشي؛ نو سروري ته یې د اوبو یو پټک ورکړ او هڅه یې وکړه چې دی ارامه کړي، خو سروري د امین ښکنځلو ته دوام ورکړ او د غچ رنګین سوګندونه یې کول. سروري هغه وخت ارامه شو چې ګلاتوف وتکا، ساسچ او د کوټي (کنسرو) خوړو ته بلنه ورکړه.

کله چې IL-76 د شوروي هوایي حریم ته نېږدې شوه، دوه جنګي جېټ الوتکو یې تاشکند ته تر څېرمه هوایي ډګر، توزېل Tuzil پورې بدرګه وکړه.

خلقیان د ډېرو مهمو خلکو په توګه د ازبکستان په پلازمېنه کې د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې په یوه بنده مېنه کې مېشت شول. د دوی په کوټو کې د ثبت وسیلې پټې اېښودل شوې وې او شپه او ورځ د دوی خبرو ته تر هغه وخت پورې غوږ ونیول شو چې دوی له تاشکند څخه لاړل. ډګروال اېرشوف Ershov، چې سروري یې له ډېرې مودې راهیسې پېژانده، په ځانګړې توګه له مسکو څخه دوی ته ورغی. ده او افسر کېتایوف له دغو افغانانو څخه د بېلابېلو موضوعګانو په هکله پوښتنې ګروېږنې وکړې. دوی په ځانګړې توګه د امین په نېږدې کړۍ کې د وضعیت په هکله د مالوماتو ترلاسه کولو ډېر ناټ درلود. څوک پکې ښکېل وو؟ ایا کې جي بي کولای شي له هغو خلکو سره پټې اړیکې ټینګې کړي چې په دغو پېښو خوشاله نه دي؟

په عین وخت کې، په مسکو کې د پي جي یو مشرانو له خپلو بلغاریایي همکارانو سره په دې لټه خبرې اترې کولې چې د تور سمندر پر غاړه په یو ګوښه ځای کې دغو درې افغانانو ته پناه ورکړي. د اکتوبر په

www.samsoor.com

څوارلسم، د اېرشوف او کېتايوف په ملتيا دغه خلقيان په يوه اجاره شوې الوتکه کې وارنا Varna ته ولېږدول شول.
نو د «څلوروالې غدۍ» کيسه داسې پای ته ورسېده، خو د هغه ټيوټا په هکله چې د سترستين په ګراج کې درول شوی و يوه مهمه يادونه پاتې ده. د سپتمبر په اتلسم، ايوانوف، اوسادچي او سترستين ته د يوې غونډې لپاره بلنه ورکړه چې د دغه ګاډي په هکله خبرې وکړي چې څرنګه ځان ترې خلاص کړي. ولېږي ورانديز وکړ چې له ګاډي څخه به ټول شواهد لېري کړي، د ګوتو چاپونه به ورڅخه پاک کړي، او د سفارت يو ديپلوماتيک نمبرپلېټ به پرې ونښلوي. ورپسې به يې د کوټه سنګي په سيمه کې يو خلوت ځای ته وچلوي او هلته به يې د سيند په يو وچ تل کې ودروي. وروسته له دې چې د سفارت ديپلوماتيک نمبرپلېټ يې بېرته ورڅخه ليرې کړ، ګاډی به هملته پرېږدي. دی به له بابنوف سره په ټاکلي ځای او ټاکلي وخت کې يوځای شي او د ده په ګاډي کې به بېرته سفارت ته لاړ شي.
د ايوانوف او اوسادچي په اند دغه وړانديز له خطر څخه ډک و؛ نو اوسادچي پخپله يو داسې پلان وړاندې کړ: «د برنوف Baranov په نوم زموږ د سوداګرۍ استازې څانګې يو مامور همدغه ماډل يو سپين ټيوټا کرون لري. زه به له ده سره خبرې وکړم چې موږ دواړه په خپلو ګاډو کې د ولېږي کور ته لاړ شو او داسې به وښييو چې د ولېږي په کور کې يوه ماښامنۍ مېلمستيا لرو .هلته به له هغه بل ټيوټا څخه نمبر پلېټ ليرې او د برنوف د ګاډي نمبرپلېټ به پرې ونښلوو. ورپسې به برنوف د افغانانو ګاډی د سفارت د هستوګنې برخې ګراج ته وچلوي. زه به هم په ده پسې وم. کله چې هلته ورسېدلو، له ګاډي څخه به نمبر پلېټ بېرته واخلو او له برنوف سره به بېرته د ولېږي کور ته راشو. له بېرته راتګ سره به داسې وښييو چې د مېلمستيا لپاره مو نور توکي راوړل. په شپه کې به زه او برنوف په خپلو ګاډو کې د ولېږي له کور څخه بېرته لاړ شو او د همدغه شپې په ترڅ کې به زموږ تخنيکران دغه ګاډی پرزه پرزه کړي او ګراج ته څېرمه د سفارت په ځمکه کې به يې ښخ کړي.
بوريس سيميونوويچ د دغه پلان په هکله همغږی و او اوسادچي ته يې په ټوکه وويل چې د «پلمې ماښامنۍ» دومره شانداره ونه ښيي که نه «زه به هم ګډون پکې وکړم.». بيا يې پوښتل: «ښه، برنوف څرنګه سړی دی؟» اوسادچي په ګونګه بڼه ځواب ورکړ: «د سوداګرۍ څانګې يو عادي مامور.»

ايوانوف: *دی به په دغه عملياتو کې ګډون ومني؟*
اوسادچي: *خود به يې مني. بله څه چاره لري؟ موږ يې په هکله ډېر مالومات لرو. دی به له موږ سره دومره کوچنۍ ښېګڼه*
*رد نه کړي.*
ايوانوف: *موږ بايد په دې ډاډه اوسو چې دی د نمبرپلېټ د بدلولو په اصلي موخه پوه نشي.*

ورپسې ایوانوف په خبرداري وویل: « دی باید په هېڅ وجه داسې ونه انګېري چې دا کار د وزیرانو له تري تم کېدو سره تړاو لري.» په همدغه ماښام پورتنی پلان په بریالېتوب پلی شو.
لوستونکي به فکر کوي چې دا څرنګه څناور وو چې نوی ټیوبیا کرون یې په څمکه کې ښخ کړ؟ هغه چا چې د ګاډي د پرزه پرزه کولو دنده ورسپارل شوې وه، همداسې اند درلود؛ نو څکه ټولې هغه پرزې یې ورڅخه لیرې کړې چې په شوروي ګاډو کې ښایي کار ترې واخیستل شي او وروسته یې مسکو ته ولېږي. د ګاډي پاتې برخه یې ورانه او ټوټې ټوټې او بیا یې خښه کړه.
د څلورم یاغي، د سرحداتو وزیر مزدوریار، برخلیک داسې و چې نوموړی سملاسي ونه وژل شو څکه چې د امین خلکو هیله لرله چې د ده د ملګرو په موندلو کې له ده څخه د ښکاردانې په توګه کار واخلي. مزدوریار په زندان کې واچول شو او د خپل برخلیک په اړه پرېکړې ته تم و.
کله چې د پي جي یو مشر خبر شو چې هغه الوتکه چې درې افغان فراریان یې لېږدول په بریالیتوب له بګرام هوایي ډګر څخه والوته، ډېر خوښ شو. نوموړي کابو هېڅ کله شراب نه څښل او هغه خلک یې هم نه زغمل چې ډېر شراب یې څښل، خو په دغه ورځ یې بګدانوف ته په تیلفون کې وویل: «نن یوه پیاله وڅښه، ته یې لایق یې.» دغه خوشاله ډګروال په خوښۍ مثبت څواب ورکړ. کریچکوف سملاسي لوبیانکا ته لاړ چې اندروپوف ته د عملیاتو د بریا راپور ورکړي. د خلقیانو د پټې ایستنې پر موضوع باندې په ترټولو اوچت پوړ کې خبرې شوې وې او د پلې کولو وروستۍ پرېکړه پخپله برېژنېف منظور کړې وه؛ نو د شوروي سیاسي بېرو باید د عملیاتو له پایلې څخه ژرترژره خبر شوی وی.
کله چې له یاسینېوا څخه د مسکو په لور روان و، کریچکوف په افغانستان کې د پېښو په راتلونکي پړاو فکر کاوه. له افغانستان څخه د مخالفو څېرو د ایستلو په اړه د شوروي مشرتابه منظوري پر نوي رژیم باندې د دوی د لږ باور ښکاره څرګندونه کوله .کریچکوف ته یې خپل مشر ویلي وو چې مسکو به نوی رژیم په رسمي توګه وپېژني. سبا ته برېژنیف، امین ته د ټولو نویو لویو څوکیو مبارکي ورکوله. دې ټولو هېڅ مانا نه لرله. اندروپوف د امین په ناڅاپي کړنو، سیاڼه او بې وفا خوی او د ده د ټګۍ په هکله پرغزی (په غوسه) و. له کابل څخه وروستۍ ټېلګراف چې د سیاسي بېرو غړو ته ورکول شو خامخا یې د دوی پر مزاج هم په همدغه بڼه اغېز کړی و.
کریچکوف له څان سره فکر وکړ: «د دې وړاندوینه سخته ده چې د هېواد مشرتابه به څرنګه پرېکړې وکړي، خو موږ باید هر راز پېښو ته چمتو اوسو. یوري ولادیمیرووېچ باید موږ ته اجازه راکړي چې له مهاجرو پرچمیانو، په تېره بیا له کارمل سره د کار کچه ډېره کړو څکه چې کېدای شي هره شېبه دوی ته اړتیا پیدا شي. له سروري او پخوانیو وزیرانو سره هم باید په چټکۍ کار وکړو څکه چې د دوی ښکېلتیا ته هم ښایي
www.samsoor.com

هره شېبه اړتیا پیدا شي. اوس زموږ په لاس کې ترټولو ښې کیتې شته او باید وپتېیو چې کله یې وخت راغی، کومه یوه لومړۍ ولوبوو. زه فکر کوم چې دغه وخت به ډېر، ډېر ژر راشي.»
اندروپوف په ډېره خوښۍ کریچکوف ته هرکلی وکړ. د ده یو اوبدل شوی بنیان په ځان کې و او نېکتایي یې په
 غاړه کې سسته پرته وه. په موسکا یې کریچکوف ته د روغبړ لاس ورکړ او بیا یې ویل: «ښه ولودیا، ښه کار مو و نه کړ چې د بهرنۍ څارګرې ادارې ځواکونو روزنه مو مخکې تر مخکې پیل کړې وه؟ دوی خپله ورکړل شوې دنده ښه ترسره کړه.»
کریچکوف ورته وویل، بې اړنګه ښه کار مو وکړ، خو که انصاف وشي، په دغه عملیاتو کې یوازې زینت ښکېل نه و. د
دواړو څانګو، د کې جي بي مېشتې او استازې څانګې کارکوونکو هم ښه دنده ترسره کړه. زما په اند مناسبه ده چې دوی ونازول شي - ځینو ته دولتي او ځینو ته مسلکي انعامونه ورکړل شي. زموږ ملګرو لوی خطر په ځان منلی و.
د کې جي بي ریس د یوې دقیقې لپاره په سوچ کې کښېناست. بیا یې وویل: «هو، تا ښه خبره وکړه. موږ باید دوی ته انعام ورکړو، خو څنګه؟ که موږ د شوروي اتحاد د مشرتابه له عالي شورا څخه د انعام د ورکړې غوښتنه وکړو، دا به خامخا د دغه عملیاتو ځینې اړخونه بربنډ کړي، خلک به سوچ کوي چې په کوم ویاړ دومره ګڼ شمېر انعامونه وویشل شول، دوی به غواړي پوه شي چې د کې جي بي مامورانو څه کړي دي. راځه چې دا کار لږ وځنډوو. کله چې د کومې نمانځنې وخت راورسېد، بیا کولی شې چې د خپلو مامورینو د انعام نوملړ جوړ کړې او اوس پخپله په کې جي بي  کې د ننه د انعام د ورکړې په هکله ته خپل وړاندیز چمتو کړه. موږ دوی ته هر راز ستاینلیکونه او ډالۍ ورکولی شوو. اوس د کابل وروستي خبرونه راته ووایه، د تره کي څه حال دی او افغانان د امین په هکله څرنګه انګېرنې لري؟»
دوی د یو کوچني کافي مېز شاته یو او بل ته مخامخ ناست وو او کریچکوف خپل مشر ته د وضعیت په هکله د مالوماتو ورکړه پیل کړه. تره کی او مېرمن یې یوازې ګوښه ساتل کېدل. دوی ته هېڅ لاس رسی نه و او د تره کي د روغتیا په هکله هېڅ مالومات نه درلود. په کابل کې د کې جي بي لوړپوړو چارواکو او د شوروي سفیر په دوامداره توګه هڅې کولې چې امین وډوماري چې د پخواني عمومي منشي پر ضد تاوتریخوالی و نه کړي. په هغه وخت کې د افغان مشرتابه په منځ کې د امین پر ضد کوم ښکاره مخالفت نشته و. د مرکزي کمېټې او سیاسي بېرو داسې غړي شته وو چې له نوي مشر څخه یې په کلکه ملاتړ کاوه او ځینې نور یې د خپل ژوند له وېرې د ده ملاتړي وو، خو څومره چې موږ افغانان پېژنو، په راتلوونکو اونیو کې کله چې د پرمختګ او شخصي ګټو تمې پیکه شي، د امین په ډله کې به ناراضیاوې رابرسېره شي.

د تره کي يو شمېر پوځي ملاتړي لاتراوسه شته وو چي ښايي د خپل مشر د شړلو له کبله يې پاځون کړی وی، خو د کريچکوف د خبرو پر بنسټ، دغسي کړنه به له ډېري ناچاری وه او ځپل به يې ډېر اسانه وو.
اندروپوف په ډېر پام وپوښتل: «نو د تره کي وخت تېر دی؟» کريچکوف ځواب ورکړ: «هو، يوري ولاديميرووويچ. هغه اوس د تاريخ يوه برخه دی، خو موږ له امين سره جوړېدای نشو. که دی حتی له امريکايانو سره نېغه همکاري هم نه کوي، د ده کړنې به انقلابي بهير او د ا خ د گ زيانمن کړي. دی په افغانستان کې زموږ گټې هم په خطر کې اچوي.»
اندروپوف ورته وويل: «صبر وکړه، دا زما او ستا اند دی، خو داسې پرېکړې بايد زموږ د گوند سياسي بېرو وکړي. ايا ته ډاډمن يې چې د سياسي بېرو ټول غړي همدې ته ورته اند لري؟» کريچکوف خپلې اوږې پورته وخوځولې. ورپسې اندروپوف وويل: «زه خو ډاډه نه يم. څومره چې زه پوهېږم، د دفاع وزير د پېښنو په هکله بېلې ارزونې ترلاسه کوي. اندري اندرييوويچ به تر وروستۍ شېبې پوري زړغيتوب وکړي او پنومروف؟ کېدای شي نوموړی د امين جعلي انقلابيتوب او د ستونزو پر وړاندې د ستالين لېلو ته د ده گروهنې غولولی وي. له تا څخه زما غوښتنه دا ده چې مالومات راټول کړې او حالات تر خپل کلک کنترول لاندې ونيسې. ما ته د هر مهم پرمختگ راپور ژرترژره راکوه او خپلې ټولې چارې د سياسي بېرو د سپارښتنو په رڼا کې ترسره کوه.»
کريچکوف د دغو سپارښتنو په هکله پوهېده. په سپارښتنو کې راغلي وو چې سرې بايد ريښتينې وضعيت په پام کې ونيسي او په دغه پړاو کې له امين څخه لاس په سر نشي. په عين وخت کې سپارښتنه شوې وه چې په هره وسيله دې هڅه وشي چې امين پر دې قانع کړل شي چې د تره کي متحدين او د گوند نور هغه غړي چې امين ته وفادار نه دي ونه ځپي. په دغه دستور کې يادونه شوې وه چې له امين سره په هره اړيکه کې بايد هڅه وشي چې د نوموړي نيت او سياسي اړخ مالوم کړي. شوروي پوځي او نورو کارکوونکو ته امر وشو چې خپلو کارونو ته دوام ورکړي او د هغه خلکو له ځپلو څخه ډډه وکړي چې د امين په تور نوملړ کې وو. د شوروي د وسلو او پوځي تکنالوژۍ مرستې بايد «څه ناڅه سوکه شي.» ډله ييزې رسنۍ بايد پر حقايقو محدودې شي او له تفسير او تبصرو څخه ډډه وکړي.
دولتي مامورينو د سپتمبر مياشت د نوې سياسی منظرې په ارزونې تېره کړه. له کابل څخه اندېښمنوونکي مالومات هره ورځ رارسېدل. دغه مالومات به وشنل شول او پايله به يې د شوروي اتحاد د کمونست گوند د مرکزي کمېټې، کې جي بي، دفاع وزارت او د بهرنيو چارو وزارت ته وړاندې شوه. يادښت ليکونه وليکل شول، وړانديزونه جوړ شول او د بندو دروازو تر شا محرمې غونډې ترسره شوې. د رژيم د بدلولو لپاره تراوسه کوم ستراتيژيک گام نه و اوچت شوی، خو د داسې کار لپاره وخت په چټکۍ راتلونکی و.

www.samsoor.com

د سپتمبر په یوویشتم ، اندروپوف پخپله د کې جي بي مشرانو د غونډې مشري وکړه. په غونډه کې نوموړي د واک ترلاسه کولو لپاره د امین پر کړنو سخته نیوکه وکړه، خو د کې جي بي له ټولو هغه مامورینو څخه یې چې د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کې په دنده بوخت وو غوښتنه وکړه چې له رژیم سره کار ته دوام ورکړي او له پارونې ډډه وکړي. اندروپوف په دیپلوماتیکي بڼه وویل: «موږ باید عیني وضعیت ته په پام سره ټول اړین گامونه واخلو چې پر امین خپل
نفوذ وساتو او له ده سره همکارۍ ته دوام ورکړو.»

یوه اونۍ وروسته، پوځي ستر سلاکاران، گوریلوف او زیلتین مسکو ته ور وغوښتل شول چې د وضعیت په هکله خپل راپورونه وړاندې کړي. د وسلوالو ځواکونو د سیاسي چارو ریس ایپیشیف، لوی درستیز اوگرکوف، د دفاع وزیر اوستینوف او د مرکزي کمېټې منشي پنومروف په خپل وار د دوی راپورونو ته غوږ ونیو. له گوریلوف او زیلتین څخه په وار وار د امین د شخصیت په هکله پوښتنې وشوې او دا هم ترې وپوښتل شول چې ایا پر امین باور کېدای شي او نوموړی شوروي ته په خپله وفادارۍ که څومره صادق دی.

دغه جنرالان په خپل لومړني دریځ ولاړ وو. دوی د نوي مشر د کاري بڼې ډېره ستاینه وکړه. دوی وویل چې نوموړی تصنع او تمثیل ته گروهنه لري او د ده پښتون ملتپالنه یې هم یاده کړه، خو له دې څخه یې انکار و نه کړ چې دی د خپلو مخالفینو پر وړاندې بې رحمه دی. دواړو، گوریلوف او زیلتین د ده د سویتېزم Sovietism• په هکله دوی ته ډاډ ورکړ چې امین سویتېزم ته وفادار دی او په دې هکله پر ده باندې باور کېدای شي. زیلتین په ټینگار وویل: «امین په کال دوې سپېڅلې رخصتۍ لري، د نومبر اوومه او د مې نهمه•.»

اوستینوف چې د امین په هکله مالومات واورېدل، په سم بڼه یې خپلو جنرالانو ته سپارښتنه وکړه چې کابل ته له بېرته تگ سره سم، له کې جي بي مامورینو سره په نېږدې همکارۍ خپلې چارې ترسره کړي. نوموړي چې په سپارښتنه کې یې غوسه نغښتې وه زیاته کړه: «کې جي بي او جي ار یو موږ ته داسې مالومات رالېږي چې له یو او بل څخه توپیر لري. تاسې په خپل منځ کې سره نه جوړېږئ، خو موږ دلته باید پرېکړې وکړو.» اصولي زیلتین خپله خوله پرانیستله چې د بگدانوف او د نوموړي د ډلې په هکله سرټکونه وکړي. ده وویل: «کله چې دوی څنبل لړ کړي، تاسې به ډېر عیني مالومات ترلاسه کړئ.» خو وزیر داسې نیوکې ته پام و نه کړ او دغه سلاکاران یې سملاسي رخصت کړل.

---

•سویتېزم: د شوروی اتحاد د کمونېستي اېدیالوژۍ د اصولو پر بنسټ د حکومتولی بڼه (ژباړن)
•د مې نهمه: پر نازي جرمني باندې د شورویانو د بریا ورځ یا د دغې جگړې د پای ورځ (ژباړن)
د نوومبر اوومه: د اکتوبر انقلاب ورځ (ژباړن)

د ایوانوف او پوزانوف په ګډون، ګوریلوف د افغانستان په هکله د سیاسي ببرو د کمېسیون یوې غونډې ته وغوښتل
شو. په دغه غونډه کې د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د پوځي مداخلې د شونتیا په اړه خبرې وشوې. لکه څنګه چې د ده خوی و او یا ښایي د خپل مشر، ګرومیکو په دستور، پوزانوف ګونګ او بېخونده ځواب ورکړ - « له یوې خوا، خو له بلې خوا.» ایوانوف د شوروي اتحاد پوځي مداخله رد نه کړه، خو هغه شرطونه او هغه حالت یې روښانه کړ چې ښایي داسې مداخلې ته لاره هواره کړي. ګوریلوف یوازېنی کس و چې په افغانستان کې یې د شوروي پوځي شتون پر نه زیاتولو ټینګار وکړ. دی په دې اند و چې افغان ځواکونه د دې جوګه دي چې خپلې دندې پخپله ترسره کړي.
د لوړپوړو افغان او شوروي مشرانو ترمنځ اړیکې لاتراوسه په بشپړه توګه نه وې شلېدلې، خو په ټپه درېدلې وې. د شوروي اتحاد د سیاسي ببرو یوازېني غړي چې د افغان سیاسي ببرو له غړي سره وکتل ګرومیکو و. ده په نیویارک کې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت له بهرنیو چارو وزیر سره د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې په بهیر کې وکتل. اندري اندرییوویچ له خپل افغان همکار څخه وغوښتل چې په افغانستان کې وضعیت ورته بیان کړي. شاولي خپل شوروي همکار ته ډاډ ورکړ: «په افغانستان کې ارامي ده، خو انقلاب په دوامداره توګه له ځینو سختو ستونزورسره مخ دی او دغه ستونزې لا ډېرې سختې شوې ځکه چې تره کی د ځان په شخصیت جوړونه کې ښکېل شو. نوموړي له داسې خلکو څخه یوه ډله جوړه کړه چې تجربه یې نه لرله او باور نشوی وربانديې کېدای. قانون په وار وار مات شو. امنیتي ادارو ګڼ شمېر بېګناه خلک پرته له کوم دلیل څخه ونیول. کله چې تره کی پوه شو چې د ګوند مشرتابه یې ملاتړ نه کوي، د امین د هدفي وژنې توطیه یې جوړه کړه.»
ګرومیکو ترې وپوښتل: «څنګه په دې هکله پوه شوی چې یوه توطیه په جوړېدو وه؟» شاولي په ځواب کې ورته وویل: «د هدفي وژنې پر پلان باندې د امنیتي ادارو په مرکزي دفترونو کې خبرې کېدې. ګوند ته یو وفادار ملګري امین ته خبرداری ورکړ.» ورپسې شاولي د شوروي بهرنیو چارو وزیر ته په مانۍ کې د هغه پېښې جزیات څرګند کړل په کومه کې چې جګړن ترون وژل شوی و. ده په ځانګړې توګه په دې ټینګار وکړ چې له غونډې څخه مخکې کله چې پوزانوف له امین سره تیلفوني خبرې وکړې، نوموړي امین ته ډاډ ورکړ چې ژوند ته یې هېڅ کوم خطر نشته. ګرومیکو په سړه بڼه وپوښتل: «نو ایا ته فکر کوې چې په لوی لاس داسې پلان جوړ شوی و چې دا کار د سفیر په شتون کې، چې په هېڅ خبر نه و، ترسره شي؟» شاولي ځواب ورکړ: «خبره داسې وه چې امین هغه وخت ورغی چې د شوروي سفیر ډاډ ورکړ چې د وېرې هېڅ دلیل نشته، خو امین خپل ساتونکي له ځان سره بوتلل.»
www.samsoor.com

ګرومیکو دغه بېخونده موضوع بدله کړه: «اوس تره کی چېرته دی؟» شاولي په ګونګ ځواب کې وویل: «په کابل کې.»
ورپسې ګرومیکو د ګوند د غړو د مزاج، په ولایتونو کې د وضعیت او د پوځي چارو په هکله وپوښتل. شاولي ډاډ ورکړ چې په ټولو جبهو کې وضعیت ښه شوی. کله چې امین د دفاع وزیر شو، حکومتي پوځیانو یو شمېر لویې بریاوې ترلاسه کړې او په ځانګړې توګه یې د هېواد په سوېل کې یو شمېر ولسوالۍ له مخالفینو څخه ازادې کړې.
د واک غصب ته په پام سره، ګرومیکو وویل: «ډېر ښه، دا راته ووایه چې په افغانستان کې د وروستیو پېښو په هکله د امریکا غبرګون څرنګه دی؟» شاولي ځواب ورکړ: «زموږ په هکله رسنۍ ډېرې لیکنې کوي، خو موږ داسې ننګېرو چې په دې هکله امریکایانو تراوسه کومه پرېکړه نه ده کړې.» ګرومیکو په کرار غږ وویل،«هو، موږ هم په دې خیال یو چې امریکایان زړغي دي او یوې پایلې ته نشي رسېدلی.»

دا ریښتیا دي چې امریکایانو ته په کابل کې کودتا یوه ناڅاپه وه او پېچلې حالت یې نور هم پېچلی کړ. د هغه وخت محرم لاسوندي چې اوس له محرمیت څخه ایستل شوي د دیپلوماتانو او څارګرو مامورینو په منځ کې د سربدالۍ انګازې لري. که څه هم دغه لاسوندي (له سفارت څخه تېلګرافونه او د څارګرې اداري شننې) د پېښو په هکله هر اړخیز مالومات څرګندوي، خو په شننو کې له احتیاط او په وړاندوینو کې حتی له لا ډېر احتیاط څخه کار اخیستل شوی. د سپتمبر په اوولسمه، له دیپلوماتانو او باخبرو افغانانو سره خبرو ته په نغوتې، امستوز د امریکا بهرنیو چارو وزارت ته لیکلي: «شورویان ډېر خوشاله نه دي، خو پوهېږي چې اوسمهال د لېوال او اکاړ (ظالم) امین له ملاتړ څخه پرته بل بدیل نشته... اوس دوی ته یوازې امین پاتې دی ...دی یوازېنۍ پاتې وسله ده چې دوی یې د «ورور ګوند» د دفاع او د «اصلاحپال انقلاب» د ساتلو لپاره کارولی شي.»
د سپتمبر په اتلسمه، د امریکا شازدفېر دې ته زړه ښه کړ چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ته په یو تېلګراف کې یوه
وړاندوینه وکړي:«کړکېچ لاتراوسه پای ته نه دی رسېدلی. دا ډېره شونې ده چې د تره کي د متحدینو او د امین ضد کسانو په مشرۍ د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د لویو پوځي ډلو ترمنځ یوه کورنۍ جګړه پیل شي. د سفارت له یو مامور سره په خبرو کې یو افغان مامور په محرمیت افغان مشرتابه داسې ونوماوه: «د لېمانو یوه ډله چې یو او بل ته د مرګوني نېښ نیت لري.» امستوز، چې د امین په هکله خبرې کولې، یوه غیر دیپلوماتیکي غونډله، چې تمه یې نه کېده کارولې: «زما په اند، د ډېر عمر له کبله په خپل کټ

کې د امین د مړیني شونتیا له صفر سره مساوي ده.» تاریخ د دغه امریکایي ډیپلومات وړاندوینه سمه ثابته کړه.

د سپتمبر په پای کې امستوز د امین د ډلې له لوري واشنګتن ته د داسې نښو نښانو یادونه وکړه چې «له امریکا سره د اړیکو ښه کولو» په هکله یې د امین د ځوبتیا څرګندونې کولې. د واشنګتن څارګرې اداري هم خپلې پلازمېنې ته همدې ته ورته خبر ورکړ.

امریکایي شننوکو چې سي ای اې ته یې کار کاوه او همدا راز د امریکا نورو لویو څارګرو ادارو په یو یادښت لیک کې هڅه وکړه چې په منځني ختیځ کې د راتلونکو پرمختګونو او د هغو ګامونو وړاندوینه وکړي چې ښايي شوروي اتحاد یې پورته کړي. د احتیاطي بڼې او ځینو ګونګو وییو سره سره، په دغه لاسوندي کې په نېغه لیکل شوي وو چې «د شوروي پوځي شتون به په نېږدې راتلونکې کې ډېر شي.» خو په همدغه لاسوندي کې پورتنۍ غونډله له ورپسې غونډلې سره په اړپېچ (تناقض) کې وه: «موږ داسې نښې نښانې نه وینو چې شوروي اتحاد د لویې پوځي مداخلې لپاره ځمکني ځواکونه چمتو کوي.»

که چېرې دغه راپور شوروي جنرالانو ته په لاس ورغلی وی، دوی به سربداله شوي وی. دغه لاسوندي له یوې خوا خبرداری ورکړی و چې شوروي اتحاد یو پراشوټي کنډک نه یوازې لا د مخه افغانستان ته لېږلی او د بګرام په هوايي اډه کې یې ځای پرځای کړی بلکې خپلو چورلکو او شوبلو ته یې په پوځي عملیاتو کې د ګډون واک ورکړی، خو له بلې خوا په لاسوندي کې لیکل شوي: «موږ باور نه کوو چې مسکو به خپل پوځیان له مخالفینو سره په جګړه کې وکاروي.» ورپسې د شوروي مشرتابه په هکله پکې انګېرل شوي وو چې دوی «په هغه بې پایه سیاسي او پوځي پېچلتیاو ښه خبر دي چې په افغانستان کې به ورسره مخ شي که چېرې دوی یوه لویه پوځي مداخله وکړي.» خو داسې یادونه هم پکې شوې وه چې «دا روښانه ده چې د ۱۹۷۸ کال له کودتا څخه د مخکې پېر په پرتله اوس په افغانستان کې د شوروي ګټې ډېرې ځوبمنې دي. په سیمه کې د خپلو سیاسي او ستراتیژیکي ګټو په مظبوطولو کې، مسکو په افغانستان کې د یو مارکسېستي دولت جوړونه یو مهم فکتور ګڼي.»

په دغه لاسوندي کې ګونګتیا داسې انګېرنه رامنځته کړه چې هغو څارګرو شننونکو چې پر دغه لاسوندي یې کار کاوه په اصل کې خپل ځان ساته چې که حالات داسې پرمختګ و نه کړي لکه دوی یې چې وړاندوینه کړې وه، دوی به ګرم ونه ګڼل شي. دا روښانه وه چې دوی ډاډه نه وو چې په نېږدې راتلونکې کې به مسکو څرنګه ګام اوچت کړي. دا د حیرانتیا وړ نه وه ځکه چې پخپله مسکو نه پوهېده چې څه وکړي .

په یادښت لیک کې دا هم روښانه شوې وو چې د سي ای اې څارګرو د کې جي بي د هغو اړیکو په څار کې ښه دنده ترسره کړه چې له بهرمېشتو پرچمیانو سره یې ټینګې کړې وې. د دغه لاسوندي لیکوالانو

www.samsoor.com

لیکلي چې شوروي استازو هڅه وکړه چې مخالفین افغانستان ته د بېرته تګ لپاره وډوماري او له دوی سره د پوځي کودتا په ترسره کولو کې د مرستې ژمنه شوې وه. دا شونې ده چې ځینو تبعید شوو پرچمي مشرانو په خپله خوښه او یا په ناپوهۍ دغه مالومات امریکایانو ته
ورکړي وي.

په رسمي توګه امریکا د افغانستان له دموکراتیک جمهوریت سره د ملګرتیا اړیکې لرلې او دغه هېواد ته یې په کوچنۍ کچه وټه ییزو مرستو ته دوام ورکاوه. د امریکا وروستی لوړپوړی مامور چې له افغانستان څخه یې لیدنه وکړه د جولای په میاشت کې د بهرنیو چارو مرستیال وزیر، نیوسم Newsom و. نوموړي په هلمند کې د امریکا په مرسته د اوبو لګولو د یوې پروژې او د غنمو د تولید د یو پروګرام د پلي کولو هوکړه لیک لاسلیک کړ، خو د رسمي سیاست د پردې تر شا، د امریکا هغه پټه ستراتیژي چې د وسلوالو مخالفینو ملاتړ یې کاوه په چټکۍ په غوړېدو وه. یوازې دوه لسیزې وروسته، هغه اسلامي سخت دریځي چې امریکا پالل او وسلوال یې کړل، پخپله د امریکا اصلي دوښمنان شول. امریکا ځان ته داسې بلا رامنځته کړه چې اوس یې ورڅخه خلاصون سخت دی .

د ا خ د ګ د بنسټ اېښودونکي د وروستیو ورځو په هکله ډېر مالومات نشته. د ځینو راپورونو پر بنسټ، مسکو دومره وخت په دې کې تېر نه کړ چې د تره کي ورکه ومني. داسې لاسوندي یا ګړني شواهد نشته چې د یو داسې جدي پلان څرګندونه وکړي چې د ځواک په کارونې تره کی ازاد کړي. ډېره شونې ده چې کې جي بي دا یوه بایللې قضیه ګڼلې وي. د سپتمبر د پنځلسمې له کودتا څخه وروسته، د شوروي اتحاد د کمونست ګوند سیاسي بېرو سمدلاسه د شوروي جمهوریتونو د کمونست ګوند لومړیو منشیانو او سیمیزو ګوندي کمېټو ته د «افغانستان د وضعیت په هکله» تر سرلیک لاندې یو پټ تېلګراف ولېږه. په تېلګراف کې په ځانګړې توګه داسې لیکل شوي وو: «له یوې مودې راهیسې د تره کي او امین د متحدینو ترمنځ داسې جدي مخالفتونه رامنځته شول چې د ګوند په مشرتابه کې د واک ترلاسه کول په ریښتینې شخړه بدل شول. په دې تړاو، د سیاسي بېرو او پخپله د ل. ا. برېژنېف په استازولۍ مور تره کي او امین ته په ټینګار سوال وکړ چې ژرترژره خپل مخالفتونه یوې خواته کړي او یو موټی شي ...دواړو، تره کي او امین څرګنده کړه چې د دوی غوښتنه به ومني، خو په حقیقت کې وضعیت لا ډېر ترینګلی شو... اوس د خارګرې ادارې او د کورنیو چارو وزارت مشرتابه ګوښه او پرځای یې نور خلک وګمارل شول. د پوځي ډلو

قوماندانان اوس له خپلو دندو لیرې کړل کېږي او ځوکې یې نورو ته ورکول کېږي. دا هر څه د تره کي ګوښه کولو ته لاره هواروي.
د یادونې وړ ده چې د انقلابي شورا ریس او د مرکزي کمېټې عمومي منشي، نورمحمد تره کي په دې ورستیو ورځو کې له ځان څخه بې کچې زړغیتوب وښود. ډېرو هغو مشورو او سپارښتنو ته یې پام و نه کړ چې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند مرکزي کمېټې ورکړې سره له دې چې نومړې د معمول په څېر په ګړنۍ توګه د دغو سپارښتنو او مشورو په هکله خپله همغږي څرګنده کړې وه.
اوس دا روښانه ده چې موږ به د ح. امین په مشرۍ له افغانستان سره سروکار ولرو. نومړي په خپرو شوو ویناو کې ویلي چې په هېواد کې به اوسنی رژیم ساتي.»
د تره کي په هکله د دغه اصطلاح «بې کچې زړغیتوب» کارونه په دې مانا وه چې د شوروي مشرتابه له تره کي څخه لاس مینځلي وو. د ده کونډې، نور بي بي تره کي وروسته دا بربنډه کړه چې د ا خ د ګ پر بنسټ اېښودونکي څه وشول. له نور بي بي تره کې سره په ۱۹۸۹ کال د دغه کتاب یو لیکوال د کابل په یوه شتمنه سیمه کې د نومړې په دوه پوړیزې روښانه کوټې کې مرکه وکړه.

## نور بي بي، د ا خ د ګ د مرکزي کمېټې د عمومي منشي کونډه

په هغه ورځ چې زما مېړه د وروستي ځل لپاره له شوروي ملګرو سره وکتل، زه د خوب په کوټه کې وم چې د عمومي منشي له دفتر څخه دومره لیرې نه وه. د دروازې شاته مې ناڅاپه ډزې واورېدلې؛ نو د خوب له کوټې څخه په منډه ووتم او تړون مې ولید چې د وینو په ډنډ کې پروت و. داسې برېښېدل چې دی یوه مرمۍ پر سر او یوه پر څنګ ویشتل شوی و. ساتونکو وویل چې دا کار د امین خلکو وکړ. د تړون سربېره، یو بل سړی ټپي و. دغه سړی ډاکتر عظیم و چې په هغه شېبه کې پر اوږه ټپي شو کله یې چې چای راووړ او په ډزو کې ګېر راغی. دا ټول شاوخوا په څلور بجو پېښ شول. شوروي ملګري سمدلاسه لاړل. وروسته، تره کي، امین ته تیلفون وکړ او ترې وېې پوښتل چې داسې کار یې ولې وکړ. زه نه پوهېږم چې امین په ځواب کې څه وویل. تره کي له امین څخه وغوښتل چې د تړون مړی له ماڼۍ څخه وباسي او په مناسبه توګه یې د خښولو سپارښتنه وکړي .امین په ځواب کې وویل «سبا ته.» تره کي په تیلفون کې همدغه غوښتنه له لوی درستیز او د ګارد له قوماندان څخه وکړه، دوی هم همدغسې ځواب ورکړ. ورپسې له بهر سره ټولې اړیکې وشلول شوې، ټول تیلفونونه چوپ وو او موږ ته هېڅوک نه راتلل.
خو زما مېړه په لومړیو کې ډېر اندېښمن نه و. ده فکر کاوه چې سلیم عقل به برلاسی شي او هر څه به بېرته نورمال شي. دی په دې باور و چې د ده شوروي ملګري به امین ته اجازه ورنه کړي چې کوم ځبن کار وکړي .ده تاوتریخوالی او د وینې تویونه نه غوښتنه او خپله هیله یې په ښه نیت او د ملګرتیا په قوت

ترلې وه. دا ریښتیا دي چې پر ده باندې امین ډېر ګران و او نوموړی یې ترټولو وفادار، سرښندونکی او وړ باله.

سبا ته له امین څخه یو یادښت راورسېد: «خپلو ساتونکو ته امر وکړه چې خپلې وسلې پر ځمکه کېږدي.» دوه ساتونکي له موږ سره پاتې وو :ببرک او قاسم. په لومړیو کې دواړو په کلکه د امین د امر اطاعت رد کړ. تره کي هڅه وکړه چې دوی قانع کړي: «انقلاب د امر مانا لري؛ نو ځکه یې باید ومنئ.» ساتونکو په اعتراض وویل: «پر امین باور مه کوه. لکه څنګه یې چې پرون خپل ملګری، ترون د مرګ خولې ته ورکړ، تا هم په سړه وینه ووژني. دی به په هېڅ شي صرفه و نه کړي .»

تره کي په نرمۍ اعتراض وکړ: «نه ملګرو، ستاسې خبره سمه نه ده. دا ناشونې ده ځکه چې موږ زاړه ملګري او وفادار متحدین یوو. ما خپل ټول ژوند انقلاب ته ځانګړی کړی، ټول پوهېږي چې ما هېڅ کله بله موخه نه لرله؛ نو ولې به زه له منځه وړل کېږم؟» ورپسې ببرک او قاسم هوکړه وکړه چې یو او بل ووژني چې له تسلیمۍ څخه ډډه وکړي. تره کي هڅه وکړه چې په ډومارلو د دوی مخنیوی وکړي: «تاسې باید داسې و نه کړئ. دوی به داسې فکر وکړي چې تاسې توطیه جوړه کړې وه؛ نو ځکه مو یو او بل ووژل چې له مشروع سزا څخه ډډه وکړی.» ما هم هڅه وکړه چې دوی قانع کړم چې خپل ځانونه ونه وژني. موږ دواړو باور درلود چې هر څه به بېرته نورمال شي؛ نو ببرک او قاسم تسلیم شول. موږ په ډېره وېره دوی لیدل چې د امین جلادانو داسې کش کول لکه دوی چې د وزلوبې وزې وي. خلک به همدغسې کش کول کېدل مخکې له دې چې ووژل شي. دا ریښتیا وه. دوی کابو سملاسي ووژل شول.

راتلونکې درې ورځې چا پر موږ غرض و نه کړ. موږ په کور کې بندي وو او له بهر سره مو اړیکې شلېدلې وې. د تره کي یوه

وربېره او یو ورور له خپلو دوو زامنو سره له موږ سره وو. اشپز او چوپړیالان هم له موږ سره پاتې وو .ورپسې ناڅاپه

زموږ ټول خپلوان او کارکوونکي چېرته بوتلل شول. یوازې اشپز، نسیم له موږ سره پاتې شو. څو ورځې وروسته د څارګرې ادارې افسرانو په نیمه شپه کې موږ ویښ کړو او راته وېې ویل: «پرېکړه شوې چې تاسې په یو بل کور کې ځای پرځای کړو، کالي مو په چټکۍ ټول کړئ.»

د ماښې په ودانیو کې د «سمت جمعه» په نوم یو د منځنۍ کچې کور شته چې له نورو ودانیو څخه بېل پروت دی. موږ یې همدغه کور ته بوتللو. پرته له یو لوڅ لغړ او شړل کټ څخه، زموږ کوټه بیخي تشه وه. پر غولي باندې د ګرد یو پنډ پوړ پروت و. دغه ځای د زندان یوې کوټې ته ورته و. ما له تره کي څخه وپوښتل: «ایا موږ کوم جرم کړی دی؟» تره کي د معمول په څېر په فیلسوفي غږښه وویل: «هېڅ مو نه دي کړي، هر څه به بېرته سم شي. دا یوه عادي کوټه ده او زه پوهېږم چې دلته مخکې عسکرو ژوند کاوه. اوس به موږ پکې ژوند وکړو.»

ما ګردونه پاک کړل. دلته مو اته ورځې تېرې کړې .زما مېړه ډېر ارامه چلند کاوه، خو هره ورځ به یې له امین سره د لیدلو غوښتنه کوله او په دوامداره توګه یې دغه خبره په وار وار کوله: «انقلاب زما ژوند و، زه داسې زده کوونکې لرم چې زما کار به بشپړ کړي. ما خپله دنده ترسره کړې.» دی دوه شپېته کلن و، ناروغه نه و، خو ټول وېښته یې سپین شوي وو.

وروسته، ما ته خبر راکړل شو چې زه به ډاکټر ته بوتلل شم. دا ریښتیا دي چې زه روغه نه وم، زما د وینې فشار ډېر اوچت و. په نیمه شپه کې یو افسر او یو ډاکټر راغلل. زما مېړه ترې وپوښتل: «ولې یې په شپه کې له ځان سره بیایی؟» دوی وویل: «که یې څوک له مور سره د ورځې ووینې، بېځایه ګنګوسې به رامنځته شي.»

زه په ارګ کې د «کوټې ګل» په نوم یو بل کور ته بوتلل شوم. هلته مې د خپلې کورنۍ نور غړي ولیدل. ما له افسرانو

څخه وپوښتل: «ولې مو دلته راوستلم. تاسې ژمنه کړې وه چې درملنه به مې وشي.» دوی راته وویل: «تر سهار پورې

همدلته تم شه، مور به ژر بېرته راشو.» خو دوی سهار رانه غلل، غرمه او ماښام هم رانه غلل.

زه ډېره ناروغه وم او د درملنې غوښتنې مې وکړې، خو کوم ځواب چې ما ترلاسه کړ، ډېر لړاک و: «له کومه یې کړو؟

خلک هیڅ نه لري او ته درمل غواړې.» کله به مې چې د امین خلک ولیدل، دوی ته به مې زارۍ وکړې چې ما بېرته تره کي ته بوځي، خو دوی به په ځواب کې یوازې وخندل.

بیا، یوه شپه مور ټول د پلچرخي زندان ته ولېږدول شوو. زه همدلته د خپل مېړه له مړینې خبره شوم. یوازې درې میاشتې

وروسته کله چې ازاد کړل شوو، زه د خپل مېړه د وژنې پر جزیاتو پوه شوم. ما ته وویل شول چې د ارګ ګارد درې افسران، اقبال، روزي او ودود د تره کي کوټې ته د شپې ناوخته ننوتل. تره کی په چپنه کې په ارامه بنه د دوی مخې ته ودرېد. افسرانو ورته وویل چې له دوی سره یو بل ځای ته لاړ شي. مېړه مې د یو شي د څښلو غوښتنه وکړه. د افسرانو ځواب «اوس نه» و. تره کی اوس په هر څه پوه شو. ده افسرانو ته له پیسو څخه ډک یو کوچنی بکس ورکړ. په بکس کې شاوخوا پنځه څلوېښت زره افغانۍ وې چې شاوخوا زر ډالره کېدلې. دا ټولې هغه پیسې وې چې ده په خپل ټول ژوند کې سپما کړې وې. تره کي له دوی څخه وغوښتل چې دغه بکس ما ته وسپاري. بیا یې خپل ساعت له لاس څخه او د ګوند د غړیتوب کارت له خپل جیب څخه وایستل او افسرانو ته یې وویل: «دا امین ته ورکړئ.» افسرانو تره کی وتړلو، پر غولې

www.samsoor.com

يې چپه کړ، بالښت يې پر مخ کېښود، سا يې پرې بنده کړه او ويې واژه. د ګارد قوماندان پخپله د ده د مړينې پخلی وکړ. زه نه پوهېږم چې زما مېړه چېرته خښ کړل شو.
وروسته، ما وپوښتل چې ولې شوروي ملګرو مرسته و نه کړه حال دا چې سفير او ټولو جنرالانو د مرستې ژمنې کولې، خو
هېچا ځواب رانه کړ.

۸

# د مرګ حکم

«د کابل ښار لمر او ګولۍ دی...»

د نوبل جایزې ګټونکي، روډیارډ کېپلېنګ• Rudyard Kipling ښایي داسې وړاندوینه نه وي کړې چې له لیکنې څخه یې سل کاله وروسته هم دغه مصرعې له حالاتو سره سمون درلود.
د پخوا په څېر، لمر خپلې ړندوونکې وړانګې پر کابل خورې کړې. دغه وړانګې سهار وختې د غرونو له شا څخه راښکاره شوې او د شنه اسمان، ناڅاپي تودخې او د هغه طبیعي او نه بیانېدونکې خوښۍ ژمنه یې کوله چې سهار له ځان سره راوړله.
د تل په څېر دا له ډېرو څخه تشه یوه لږ موندې ورځ وه. په افغان پلازمېنه کې د مرغانو د غاړو په پرتله د ګولۍ شپېلۍ غوږونو ته ډېرې اشنا وې.
داسې برېښېدل چې د یو نامالوم نیت پر بنسټ په افغانستان کې وخت په ټپه درېدلی و. په پېړیو پراخه بېوزلي او د لمانځه لپاره اذانونو بدلون نه و موندلی. د جمهوري نظام د شاهي رژیم ځای ناستی شو. ورپسې د شورویانو په ملاتړ سیمه ییز کمونستان واک ته ورسېدل. بیا مجاهدین او ورپسې طالبان راغلل او وروسته د امریکا تر کنټرول لاندې یو ګوډاګی حکومت رامنځته شو، خو په دې ټولو کې له ناهیلۍ څخه ډکه بېوزلي همغسې پاتې شوه او د منځنیو پېړیو تیارې او شاته پاتېوالي دوام وموند.
د د تره کي نسکورنې او وژنې افغان ټولنه په ځانګړې توګه حیرانه نه کړه. د دغه هېواد اوسېدونکي چې د افغانستان له څه ناڅه خونړي تاریخ سره اشنا دي داسې برېښېدل چې له دغه حقیقت سره عادت شوي وو چې د دوی واکمنان به یا په تاوتریخوالي نسکورېږي او یا به په بې رحمۍ وژل کېږي. د شلمې پېړۍ له لومړیو راهیسې، حتی یو افغان مشر هم په خپله رضا نه دی ګوښه شوی.
په ۱۹۱۹ کال له حبیب الله خان سره خیانت وشو او په جلال اباد کې د ښکار په بهیر کې په خپله کېږدۍ کې ووژل شو. د نومړي زوی، امیر امان الله خان، چې یو پرمختګ غوښتونکی اصلاحپال او د ترکیې د ولسمشر، کمال اتاترک ملګری و، د بچه سقاو له لوري یې تخت چپه شو. دی له افغانستان څخه په تېښته بریالی شو او وروسته په ایتالیا کې مړ شو. په ۱۹٦۰مو کلونو کې ظاهر شاه امر وکړ چې د امان

---

•روډیارډ کېپلېنګ یو برتانوی لیکوال او شاعر و چې په ۱۸٦۵ کال کې د هند په بمبیي ښار کې وزېږېد او په اویا کلنۍ په لندن کې مړ شو. په شاعرۍ که د نومیالتوب سربېره، نومړی د ماشومانو لپاره د کیسو په لیکنو کې ډېر وتلی و (ژباړن).

www.samsoor.com

الله خان مړی کابل ته راوړل شي چې په درنښت خاورو ته وسپارل شي. د افغانستان بل پاچا، نادر خان د ۱۹۳۳ کال د سپتمبر په اتمه یو انقلابي زده کوونکي وویشت او مړ یې کړ. لکه څنګه چې مخکې یې یادونه شوې، د نادر شاه زوی، ظاهر شاه د محمد داود له لوري له واک څخه لیرې کړل شو او ورپسې یې په چوپتیا د یو سیاسي مهاجر په توګه په ایټالیا کې ژوند ته دوام ورکړ. محمد داود خلقیانو وواژه او دا ځل د تره کي وار و.

ډېره شونې ده چې په میلیونونو هغه افغانانو چې په لیرې پرتو غرنیزو سیمو کې ژوند کاوه، په کابل کې له سیاسي بدلونونو څخه خبر نه وو .لوېې کچې نالوستۍ، بېوزلۍ او د برېښنا او لارو نه شتون دوی ټول داسې ژوند ته اړ کړي چې د دوی نیکونو سل، دوه سوه، درې سوه کاله مخکې کاوه، خو لکه څنګه چې دغو افغانانو بل راز ژوند نه دی لیدلی او نه یې په هکله څه اورېدلي دي، دوی یوازې په خپل پاېښت خوښ دي او ناچاره نه ښکاري. دوی دغه راز ژوند چې له ننګونو څخه ډک دی په حیرانوونکې تواضع منلی دی. سربېره پر دې، دوی په ډېره خوښۍ له خدای څخه شکر کوي چې دوی ته یې عزت ورپه برخه کړی دی. د څور او کړاو په پرتله د دوی په ونګو کې موسکا ډېره لیدل کېږي . ایا د دې ټولو وجه د لمر بې رحمه وړانګې دي؟ خو ډزې هم هېڅ کله نه درېږي.

د اکتوبر په څوارلسم، د ماشینګنو او شوبلو ډزو یو ځل بیا کابل ولړزاوه. دا ځل د اوومې فرقې افسران د تره کي په ملاتړ راووتل. بې اړنګه، دوی پوهېدل چې مشر یې نور ژوندی نه دی، دوی پوهېدل چې وسلوال ځواکونه د امین تر بشپړ کنترول لاندې وو او دومره شونې نه وه چې نورې پوځي ډلې د دوی ملاتړ وکړي. د ښو پلان شوو عملیاتو په پرتله، د دوی دغه برید ډېرې د ناچارۍ پایله و.

د ماښام په ترخ کې یو شمېر شوبلو د فرقې مرکزي دفتر وران کړ او د کابل په لور یې پرمختګ ته دوام ورکړ. هېڅوک د دوی د خوځښت په موخه نه پوهېدل، خو د شوروي سفارت ټپرا شو. د شوروي په یوه سفارتي غونډه کې، اندېښمن ګوریلوف وویل چې د تره کي ملاتړي د دې توان لري چې نیم کابل ویجاړ کړي او ښایي شورویانو ته هم مرګ ژوبله واوړي. ګوریلوف وویل: «ما همدا اوس هوایي ځواکونو ته امر وکړ چې پر مخالفینو بمبار وکړي.» بګدانوف، ګوریلوف ته وویل: «زموږ د مالوماتو پر بنسټ، د دغو شوبلو قوماندانان د «ژوندی د وي تره کی، ژوندی د وي شوروي اتحاد» تر شعار لاندې راوتلي. ایا ته د شوروي اتحاد د ملګرو د وژلو پلان لرې؟ موږ باید مداخله و نه کړو، پرېږده چې دوی یې په خپل منځ کې پخپله شل کړي.»

دا شونې ده چې د کې جي بي استازي په پټه هیله درلوده چې دغه مخالفین وتوانېږي چې تر ښار تېر شي، د خلکو ماڼۍ ونیسي او امین له منځه یوسي. بې اړ نګه، دا ناشونې ښکارېده، خو څوک څه پوهېدل؟ تېر کال د غویي په اوومه وطنجار یوازې له څو شوبلو سره د داود پر رژیم برید پیل کړ او بریالی شو.

بګدانوف په دې موخه چې په راتلونکي کې ګرم ونه ګڼل شي، خپل مشر، کریچکوف ته خپل دریځ څرګند کړ. کریچکوف په دې هکله اعتراض و نه کړ، خو ګوریلوف وار د مخه کړ - ده او نورو پوځي سلاکارانو د پاڅون د ځپلو امر وکړ او ځینو حتی د تره کي د پلویانو پر ضد جګړه کې نېغه برخه واخیستله.
د سفیر دفتر ته څېرمه په یوه بې کړکیو کوټه کې یو محرم تیلفون و. لکه څنګه چې د کوټې ور لړ چوله پاتې و، سفیر پوزانوف په مسکو کې د دفاع له وزیر اوستینوف سره د مرستیال وزیر، پاولوفسکي خبرې واورېدلې. یوه دقیقه وروسته د کې جي بي استازي، بګدانوف له کریچکوف سره خبرې وکړې او د پېښو وضعیت یې داسې بیان کړ چې د پاولوفسکي له خبرو سره یې ډېر توپیر درلود. په دغو ورځو کې د پټو سیالیو له کبله د شوروي ایجنسیو ترمنځ ترینګلتیا خپلې اوچتې کچې ته رسېدلې وه.
ګوریلوف باور درلود چې د امین پر ضد د وسلوال پاڅون پړه د کې جي بي پر غاړه وه. دی په خپله ارزونه کې دومره ډاډمن و چې سبا ته کله چې د امین پوځي ډلو د شوروي سلاکارانو په مرسته پاڅون په بشپړه توګه ځپلی و، نوموړي د بګدانوف یو مامور د سفیر د دفتر د هرکلي په برخه کې ناست ولید، ده ځان کابو نشوی کړی چې دغه مامور ته یوه سپکه خبره و نه کړي: «څه، ته دلته ناست یې چې د خپلې ناکامۍ ویر وکړې؟» دغه مامور له ورایه هک پک شو او ویې پوښتل: «ته د څه شي په هکله خبرې کوې؟»
خو د افغانستان په نورو سیمو کې وضعیت داسې نه و . پوځي مخالفینو په کابل کې له کړکېچ او د مشرتابه له بدلون څخه ګټه پورته کړه او د خپل نفوذ او کنټرول سیمه یې په لویه کچه پراخه کړه. د افغانستان دموکراتیک جمهوریت په ځینو سویلي او شمالي ولایتونو کې، د لویو لارو او سیمه ییزو دفترونو په ګډون، مخالفینو تر نوي سلنې خاوره په خپل واک کې درلوده. د ولایتونو مرکزونه هسې په نوم د حکومت تر کنټرول لاندې پاتې وو. د هرې ورځې په پای کې به د تیارې راتګ د مخالفینو د واکمنۍ په مانا و.
د واک سیمه ییزې ادارې چې لا د مخه کمزورې وې یو ځل بیا د امین د ترخې پاککارۍ لاندې راغلې. پاتې پټ پرچمیان او ټول هغه څوک چې له تره کي سره د خواخوږۍ ګومان پرې کېده، له سیمه ییزو ادارو څخه وشړل شول. کله به چې امین وګړو ته ویناوې کولې، ده به ډېر د پام وړ وخت په هغو قانون ماتونو تېر کړ چې د پخوانیو مشرانو په خوښه ترسره کېدې. ده به د بېګناه خلکو ځپنې او ترور غانده. ده حتی د څارګرې ادارې نوم بدل او د کام (د کارګرانو د امنیت موسسه) نوم یې پرې کېښود، خو د نوم بدلون د بېګناه وګړو د وژنو مخنیوی و نه کړ او ځپنې لا ډېرې شوې.
د څارګرې ادارې د مشر په توګه د عزیز اکبري دندې دومره دوام و نه کړ. نوي افغان مشر د اکبري پر بشپړې وفادارۍ باور نه درلود؛ نو ډېر ژر یې د څارګرو فعالیتونو د شنډولو ادارې د مشر په توګه خپلې پخوانۍ څوکۍ ته ټیټ کړ او پر ځای یې خپل وراره، اسدالله امین د کام د مشر په توګه وګماره. دغه ځوان

www.samsoor.com

چې یونیم کال مخکې یې د طبي تخنیکر medical technician  په توګه دنده درلوده اوس یې یو شمېر مهمې څوکۍ نیولې وې. د کام له مشرۍ سربېره، اسدالله د کابل ګوندي کمېټې لومړی منشي، د افغان - شوروي د ملګرتیا ټولنې ریس، د مرکزي کمېټې او انقلابي شورا غړی او د بهرنیو چارو مرستیال وزیر هم و. ده د امین د ټولو هیلو په پوره کولو کې ښه وړتیا لرله او د خپل کاري ژوند د چټکې ودې په بدل کې د خپل تره خوښ ساتلو ته لېوال و.

په دغو ورځو کې، د کې جي بي دفتر د ډېرېدونکې ځپنې په هکله یو شمېر تېلګرافونه مرکز ته ولېږل. اوسادچي په یو تېلګراف کې مرکز ته خبر ورکړ چې د یوې باوري سرچینې پر بنسټ، امین د کشتمند، قادر او رفیع په ګډون د درې سوه سیاسي بندیانو د وژنې لپاره د تابیا امر ورکړی. امین پلان درلود چې د ځپنو پړه پر اګسا واچوي او له رسنیو څخه په کار اخیستنې ولس ته ووایي چې دغه بندیان د تره کي په واکمنۍ کې وژل شوي؛ نو په دې توګه امین غوښتل پر یوه ګاټې دوه مرغۍ وولي: د ګوند د ننه مخالفینو ته وروستی ګوزار ورکړي او پخوانی مشرتابه بدنامه کړي. د کې جي بي مېشتې څانګې په تېلګراف کې سپارښتنه شوې وه چې «د سرچینې د نه بربنډولو لپاره احتیاطي کړنو ته په پام سره، د شوروي سفیر ته باید دنده ورکړل شي چې په دې هکله له امین سره خبرې وکړي.»

د امین او د شوروي څارګرې ادارې تر منځ یوه رواني لوبه رامنځته شوه. ستونزه دا وه چې د پلان شوې ټولوژنې په هکله د مالوماتو د څرنګه ترلاسه کولو په هکله د امین ګومان ونه پاروِل شي؛ نو شوروي څارګر تر امین چاپېر شول او د ده هر ګام یې څاره. امین په خپل وار د کې جي بي له لوري له روزل شوې ادارې څخه په کار اخیستنې خپل شوروي «ملګري» په بریالیتوب تر خپل اغېز لاندې راوستل. د ثبت الې په ډېرو هغو ځایونو کې کېښودل شوې چې شورویان پکې راغونډېدل. د مهمو شوروي مېلمنو لپاره حتی د مېلمستون د دېوال په پېزاره کې د بګدانوف خلکو د ثبت یوه اله هغه وخت وموندله چې پاولوفسکي پکې اوسېده. د بګدانوف ډلې وپتېیله چې دغه اله لیرې نه کړي او د غلطو مالوماتو
 د ورکړې لپاره یې وکاروي.

امین هم په کام کې له ځانګړو وفادارو مامورینو څخه د یوې ځانګړې ډلې د جوړولو امر وکړ. دغه مامورین به هره ورځ هغو ځایونو ته تلل چې شورویانو پکې کار کاوه او له خپلو اجنټانو څخه به یې د شورویانو د خبرو او کړنو په هکله پوښتنې کولې. امین به په دې هکله هر ماښام مفصل راپور ترلاسه کاوه.

 خو شوروي «ملګري» هم ارامه نه وو ناست. د اوسادچي عملیاتي مامورین، د بګدانوف له ډلې څخه شپېته کسه، د زینت ګڼ شمېر غړي، په سلګونو پوځي کارپوهان او سلاکاران او د اجنټانو شبکې، دا ټول د امین په هکله د مالوماتو په راټولولو بوخت وو. بګدانوف په لویه کچه خپل مامورین ډېر کړل چې په ښه توګه د امین څار وکړي. د اګست په میاشت کې د ده د مامورینو شمېر یوسل او اویا کسه و،خو د دسمبر په میاشت کې دغه شمېر درې سوه او پنځوسو کسانو ته اوچت شو. د کې جي بي د استازي څوکۍ ډېر ژر

د جنرالۍ کچې ته اوچته شوه. له شوروي څخه بهر يوازې د جرمني په دموکراتيک جمهوريت کې د کې جي بي د مامورينو شمېر په دې کچه و.
د کې جي بي مامورينو په ځانګړې توګه هغه پرمختګونو ته ډېر پام کاوه چې له امريکايي، چينايي او پاکستاني اړيکوالو سره يې د امين له خبرو سره تړاو درلود. له امريکايانو سره د امين ټولې غونډې په رسمي توګه او د شوروي استازي (ډېری وخت د سفرانچوک ) په منظورۍ ترسره کېدې. له پاکستان سره د اړيکو د ښه کولو لپاره هڅې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې او د شوروي اتحاد د بهرنيو چارو وزارت د سپارښتنو پر بنسټ ترسره کېدې. دا د دواړو، افغانستان او شوروي په ګټه وو چې په اسلام اباد او واشنګټن کې افغان ضد ننګېرنې له منځه يوووړل شي. په خپله هغه هڅه کې چې له خپل سوېلي ګاونډي سره اړيکې ښې کړي، امين حتی خپل رضايت اعلان کړ چې د پښتنو د موضوع حل وځنډوي. دا هغه هڅه وه چې شوروي «ملګرو» يې له ډېر وخت راهيسې سپارښتنه کوله، خو پاکستان په دې هکله کومه ځانګړې خوښي څرګنده نه کړه. پاکستان د امريکا په ملاتړ خپله لوبه مخته بېوله. د امين د هغه وړانديز په ځواب کې چې له امريکا سره دوه اړخيزې اړيکې نورماله کړي، د امريکا ځواب نيولی او بې پايلې و.
د اکتوبر په مياشت کې د ارچر بلډ Archer Blood په نوم يو ډيپلومات د امستوز ځای ناستی شو. له بلډ سره د يوې غونډې په ترڅ کې، امين غوښتنه وکړه چې امريکا خپلې وتلې ييزې مرستې افغانستان ته بيا پيل کړي، خو بلډ، چې د امريکا له بهرنيو چارو وزارت څخه ځانګړې سپارښتنې ترلاسه کړې وې، سوړ ځواب ورکړ: «موږ چمتو يو چې ستاسې غوښتنه په پام کې ونيسو خو يوازې هغه وخت چې موږ د ډېر د وژنې په هکله د قناعت وړ مالومات ترلاسه کړو.» وروسته، امستوز په خپل کتاب کې ليکلي: «امين امريکا پلوې ننګېرنې نه درلودې. کله چې د بهرنيو چارو مرستيال وزير، لومړي وزير او په پای کې ولسمشر و، امين دومره هڅې و نه کړې چې د امريکا باور او ملاتړ ترلاسه کړي.»
کله يې چې په ډېرو اړخونو کې له تره کي څخه ځان بېل وښود او د نوموړي نوم يې په هر ځای کې ګول کړ، امين د پخوا په څېر مسکو په خپلو هغو غوښتنو ځورولو چې په افغانستان کې پوځي مداخله وکړي. د دې غوښتنې د دې د ساتنې لپاره له يو کنډک څخه نيولې، په شمال کې د مخالفينو پر ضد د شوروي پوځيانو تر جګړې پورې غځېدلې وې. د دغو غوښتنو په هکله نوموړي بېلابېل ځوابونه ترلاسه کړل، خو د ځوابونو شيره يو ډول وه: د پوځيانو لېږنه شونې نه ده. له شته سرچينو څخه په کار اخيستنې، امين بايد پخپله په هېواد کې وضعيت کابو کړي.
ايا امين پوهېده چې دی به د تره کي د بېرحمه وژنې په هکله ونه بښل شي او د شوروي مشرتابه به و نه کړی شي چې د

پخوا په څېر له ده سره اړیکې بیا پیل کړي؟ له مسکو سره د سړو اړیکو څرګنده نښې نښانې ښکاره شوې او ده د
پوزانوف او سفرانچوک په سترګو کې دغه نښې نښانې لیدلې.
امین هڅه وکړه چې د کرېملېن باور بیا ترلاسه کړي، خو که څه هم دی د شوروي مشرتابه په سترګو کې یو پلار وژونکی انځور شوی و، ده د تره کي وژل یو تېری یا زیاتی نه ګاڼه او ضمیر یې هېڅ نه ځورېده. برعکس، ده د زړه له کومې باور درلود چې د خپل «ښوونکي» لیرې کونه او وژنه د افغانستان په ګټه وه. نوموړي خپله دغه کړنه د پېړیو راهیسې د هغه دود دوام ګڼله چې د هېواد واکمن به لیرې کړل کېږي او په بې رحمۍ به وژل کېږي. دا هغه څه نه و چې امین له خپل ځان څخه جوړ کړي وو - دی یوازې د دغو خلکو یو پښتون بچی و او د هغه نالیکل شوي قانون پر بنسټ یې عمل وکړ چې ده د مور په پیو کې په میراث اخیستی و.
خو حقیقت دا و چې مسکو په ښکاره په امین داسې باور نه کاوه لکه پر تره کي یې چې درلود. امین په راتلونکو پېښو کې د دغه بې باورۍ نازک جزیات ونګېرل.
د اکتوبر په نیمایي کې، پوځي سلاکارانو، ګوریلوف او زپلتین ته امر وشو چې د دفاع وزیر، اوستینوف او د دفاع وزارت د لسم ریاست له مشر، ډګر جنرال زوتوف Zotov سره د خبرو لپاره مسکو ته لاړ شي. دغه ریاست د نړیوالو پوځي همکاریو چارې پر مخ بېولې. دوی د دغه سفر په هکله سفیر ته خبر ورکړ او بیا مخکې له دې چې مسکو ته لاړ شي، دوی دواړو له امین سره وکتل. د امین مزاج ښه و، ډېرې ټوکې یې کولې او د ماښامنۍ په ترڅ کی یې د سلاکارانو د مخکنیو پوځي دندو په هکله له دوی څخه پوښتنې وکړې. کله یې چې له سلاکارانو سره مخه ښه کوله، امین وپوښتل: «تاسی په دې کې څه وایی که زه ملګري لیونېد ایلیچ برېژنېف ته یو شخصي لیک ولیکم؟»
ګوریلوف د دواړو جنرالانو په استازیتوب ځواب وکړ: «سمه ده.» امین بیا وپوښتل: «او زه له تاسې څخه غوښتلی شم چې زما لیک ملګري برېژنېف ته ورسوی؟» جنرالانو یو او بل ته څرښنده وکتل. له دوی څخه مخکې د یو هېواد مشر هېڅ کله د یوې ښېګڼې غوښتنه نه وه کړې. ګوریلوف په ډېر پام ځواب ورکړ: «موږ ژمنه نشو درسره کولی چې موږ به یې عمومي منشي ته وسپارلی شو، خو بې اړنګه هغه چا ته به یې وسپارو چې دا کار کولی شي.» امین په موسکا وویل: «ډېر ښه» او بیا یې زپلتین ته په خطاب کې زیاته کړه: «سبا ته به ملګری اقبال الوتکې ته لیک درورسوي.»
کله چې سلاکاران د خلکو له ماڼۍ څخه ووتل، پر ګوریلوف باندې اړنګ غلبه وکړه. ایا دوی ښه کار وکړ چې د داسې نازکې دندې ژمنه یې وکړه؟ ایا دا به دوی ته منفي اغېزې ونه زېږوي؟ ګوریلوف، زپلتین ته وویل: «وسیلي پېترووېچ، راځه چې زه د احتیاط لپاره په دې هکله له سفیر سره وغږېږم.»

که څه هم ډېر ناوخته و، لکه څنګه چې په مهمو قضیو کې د ده معموله کړنه وه، پوزانوف دوی ته سملاسي له ده سره د لیدنې وخت ورکړ. سفیر د کې جي بي استازي ته هم بلنه ورکړه. وروسته کله چې بګدانوف د دغو پېښو په هکله خبرې کولې، نوموړي وویل چې کله یې پر حالاتو ځان پوه کړ، ده فکر وکړ چې په دغه لیک که به خامخا له شوروي مشرتابه څخه داسې یوه غوښتنه وي چې سفیر پوزانوف له کابل څخه بېرته وروغواړي، خو سفیر بل اند څرګند کړ: «امین د شوروي له مشرتابه څخه غوښتنه کوي چې ده ته د ولسمشر په توګه مسکو ته د ورتګ بلنه ورکړي؛ نو یوازې او یوازې که داسې یوه بلنه ورکړل شي، دی به پر خپله څوکۍ ډاډمن شي.»
بګدانوف پوځي سترسلاکار ته وویل: «تا باید دغه غوښتنه نه وای منلې. ته یو دیپلوماتیک ډاګي نه یې. د داسې توکو د لېږد لپاره یو منلی پروتوکول او رسمي چینلونه هم شته، د بېلګې په توګه، په مسکو کې د افغانستان سفارت.»
ګوریلوف په اعتراض وویل: «ما د ولسمشر غوښتنه پر ځمکه نشوی غورځولی.» بګدانوف ورته وویل: «دی به ډېر ژر ستا د مشر په څېر امرونه دربانديې کوي.» بګدانوف په ترینګلي بڼه چې غوسه پکې نغښتې وه ځواب ورکړ: «او ته یوازې یو تابع او ارامه ولسمشر خوښوې چې لکه تره کی ورځ په نېشه پیل کړي.»
د کې جي بي او پوځي استازو ترمنځ دغسې ناندرۍ د امین په دوره کې معمول شوې. ګوریلوف هوډ درلود چې په داسې امین ضد لیکه کې ونه درېږي چې ورځ تر بلې په ډېرېدونکې توګه په شخصي بنډارونو او مسکو ته په ټیلګرافونو کې روښانه کېده، خو دا ځل پوزانوف د دوی په خبرو کې ورولوېد او بګدانوف ته یې وویل: «لیونېډ پاولوویچ، ایا دا شونې ده چې لیک په پټه پرانیستل شي څو له منځپانګې سره یې اشنا شو؟»
بګدانوف ورته وویل: «له تخنیکي اړخه شونې ده، خو یوازې هغه وخت چې موږ دغه لیک لږ د وخته ترلاسه کړو څو د پرانیستلو او لوستلو لپاره یې پوره وخت ولرو.» پوزانوف، چې پټې لیکنې یې نه خوښېدې او ځان ته یې له دغه لیک څخه کومه ښه تمه نه لرله، په زارۍ وویل: «راځئ چې خپله هڅه وکړو.»
سبا سهار د بګدانوف خلک هوایي ډګر ته له الوتنې څخه ډېر مخکې ورسېدل. مخکې له دې چې د امین لیک مسکو ته تلونکو جنرالانو ته وسپارل شي، دوی باید د لیک پر منځپانګه باندې ځان پوه کړی وي، خو امین یو ګام مخکې و. مخکې له دې چې د امین د لیک لېږدوونکی هوایي ډګر ته ورسېږي، د ایروفلوټ الوتکې ټول مسافر په خپلو سیټونو کې ناست وو. جنرالان نور نه شوی تم کېدی. د هوایي ډګر په دالان کې دوی یوازیني پاتې مسافر وو. په همدغه شېبه کې یو سیدان ګاډي له الوتکې سره برېک ونیو. د افغان پوځ د سیاسي چارو ریس، اقبال وزیري له ګاډي څخه ووت، جنرالانو ته یې ځان ورساوه او یو پر مومو مهر
www.samsoor.com

شوی پاکټ يې دوی ته ورکړ. ورپسې د الوتکې دروازې بندې شوې او الوتکه د ځغاست لارې په لور په غوراري روانه شوه.
په الوتکه کې د ننه، زيلتين پر پاکټ ګوتې ووهلې او بيا يې ګوريلوف ته ورکړ: «ته له ما څخه مخکې لوی درستيز وينې. دغه ليک وروسپاره.»
د امين ليک په همدغه ورځ مارشال اوګرکوف ته وسپارل شو، خو هېڅوک پوه نه شول چې دغه ليک څه شو. هېڅا داسې يادونه هېڅ کله و نه کړه چې برېژنېف د امين ليک ولوست او چا په ډاډ نشوی ويلی چې دغه ليک د څه په اړه و. ايا دا شوروي اتحاد ته د يو رسمي يون په هکله او يا د سفير پوزانوف په هکله و چې مسکو ته بېرته ور وغوښتل شي او يا ايا ښايي امين د تره کي د نسکورولو منطق پکې بيان کړی و؟
امين له نورو لارو هم مسکو ته د رسمي بلنې غوښتنې وکړې، خو نوموړی د ولسمشر په توګه په دغه لاسته راوړنه کې پاتې راغی. د امين ليک چې په هره اړه و، د ده د واکمنۍ سل ورځې په هر لوري کې له فعاليتونو ډکې وې. يو لس کلن پلان چې د هېواد ملي وتې ته وده ورکړي او يو پنځه کلن پلان چې دغه پروګرام پلی کړي د امين په نېغ ګډون جوړ او منظور شول. د پخوا په څېر، نوموړی په نړيوالو چارو کې په لويه کچه ښکېل و. ده په ځانګړې توګه هڅه کوله چې د پاکستان په تړاو يو جوړجاړی رامنځته کړي، خو داسې جوړجاړی هېڅ کله رامنځته نشو. ده د شوروي اتحاد خوښه ترلاسه کړه چې د ګوند د سکالرشپونو لپاره يو انستېتيوت جوړ کړي او يوه هوکړه يې لاسليک کړه چې په کابل کې د شوروي علمي او کلتوري مرکز جوړ شي. دی په بېلابېلو چارو کې، د مخالفينو پر ضد په پوځي عملياتو کې په شخصي توګه له ګډون څخه نيولې، د ملخانو پر ضد د کمپاين تر جوړلو پورې ښکېل و.
د امين تر واکمنۍ لاندې د اساسي قانون يو کمېسون جوړ شو. کمېسون ته دنده ورکړل شوه چې د ۱۹۸۰ کال د
جنورۍ تر لومړۍ نېټې پورې د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د اساسي قانون خاکه جوړه او وړاندې کړي. د
شوروي اتحاد د مشرتابه عالي شورا د يو غړي او د شوروي اتحاد د لويو انستيتوتونو د مرستيال ريسانو په ګډون، په دولتي قانون کې يو شمېر کارپوهان افغانستان ته ولېږل شول چې له دغه کمېسون سره مرسته وکړي. دغو روڼ اندو له افغان مشر سره په خبرو کې ستونزې لرلې .امين په ډېره څوبتيا هيله درلوده چې دی پخپله د افغان اساسي قانون په جوړونه کې مرسته وکړي. د بېلګې په توګه، ده غوښتل چې په اساسي قانون کې د افغانستان سياسي جوړښت سوسيالېست ونوموي. ده وړانديز وکړ چې له شوروي اتحاد څخه په الهام څلور سوسيالېستي ايالتونه جوړ کړي: د پښتونستان سوسيالېستي جمهوريت، د تاجکستان، ازبکستان او هزارستان سوسيالېستي جمهوريتونه.

وروسته له دې چې امین د دولت او ګوند لوړو څوکیو ته د ټاکنو په ویاړ رسمي مبارکۍ ترلاسه کړې، الکساندر میخیالویچ پوزانوف وپتېیله چې هر څه به بېرته خپل نورمال حالت ته وګرځي. سفیر به خپلو همرازانو ته ویل: «هغه څه چې پېښ شول، پرې يې پخپله تره کی پر غاړه لري. دی پخپله خوښه د ډېر وخت لپاره هسې په نوم مشر و، خو په واقعیت کې ټول واک د امین په لاس کې و. موږ باید چوپړ وکړو. د شوروي مشرتابه د افغانستان ولسمشر په رسمي توګه پېژندلی؛ نو موږ هم باید پر همدغه بنسټ چارې ترسره کړو.»

خو په دې کې اړنګ شته چې ایا پوزانوف له امین سره په شخصي توګه خواخوږي درلوده او یا يې پر امین شرط تړلی و. دا هم له اړنګ څخه ډکه ده چې پوزانوف په شخصي توګه د امین په هکله کومې ننګېرنې لرلې، خو که يې درلودې، ده خپل شخصي اند ښه پټ ساتلې و او دغه پاخه ډیپلومات يې هېڅ کله یادونه نه کوله. الکساندر میخیالویچ، چې د ستالین په وخت کې يې د شوروي په لوړ پوړ کې ځینې او خطرناکې توطیې په یاد وې، د اصولو پر بنسټ يې لوبه مخته بېوله. ده ولیدل چې څرنګه په چل او هوډمنتوب امین لوړې څوکۍ ته د رسېدلو په لاره کې خنډونه لیرې کړل او تل يې د مارکسیزم-لېنینېزم اېډیالونو ته د وفادارۍ څرګندونې کولې. ده د امین کاري بنې، د پوځ او څارګرې اداري په جوړونه کې د ده ونډې او د نړیوالو اړیکو په جوړولو کې د ده بریا ته درناوی درلود. د زاړه ښوونځي د یو بیروکرات په توګه، پوزانوف د انقلابي تیورۍ په وده کې د امین شخصي ونډې ته په ډېر درنښت کتل. دا ملګرې امین و چې په یو شمېر لیکنو يې د غویي انقلاب اېډیالوژیکي بنسټ جوړ کړ؛ نو په ټولو چارو کې «دویم سړی» له «لومړي سړي» څخه مخکې شو او یوازې یو ړوند سړی به دغه حقیقت ونه مني.

په هغه ټېلګرافونو کې چې پوزانوف مسکو ته لېږل، د یو داسې ډیپلومات په څېر چې د ډېرې تجربې خاوند و، نوموړي هېڅ کله داسې څرګندې او واضح ارزونې او قضاوتونه نه کول چې په راتلونکې کې د ده پر ضد وکارول شي. ده به یوازې حقیقتونه یادول. د هغو شوروي مشرانو په کړۍ کې چې په کابل کې يې دندې درلودې، د امین د یو نېږدې متحد په توګه، پوزاونوف خپل نومورتوب نور هم غښتلی کړ، خو په دې هکله دی یوازېنی نومور مامور نه و. جنرال ګوریلوف او زېلتین په خوښۍ د امین ستاینې ته دوام ورکړ. د دفاع مرستیال وزیر، پاولوفسکي هم له دغه ډلې سره یوځای شو. سلاکار وزیر، سفرانچوک، چې امین يې له نېږدې پېژانده، ډېرې وخت يې د امین ښېسارې ښه کاري وړتیا یادوله.

د شوروي سفير کابو هر ورځ له نوي ولسمشر سره کتل چې د هېواد د نوي اساسي قانون، د جنايتکارانو د ډله ييزې ښښنې او د افغان - شوروي د همکاريو د هوکړې په اړانه کې د نويو پروژو د جوړولو په ګډون، د روانو چارو په هکله ورسره وغږېږي. ورپسې يوه ناځاپه پېښه وشوه.

د اکتوبر په لومړيو کې، پوځي لوی سلاکار، بګدانوف، الکساندر ميخيالوويچ ته تيلفون وکړ او د بيړنۍ ليدنې غوښتنه يې ترې وکړه .د بګدانوف له غږېښې څخه سفير پوه شو چې دغه غوښتنه له بد ښګوم سره مل ده. پوزانوف د ليدو بلنه ورکړه. ايوانوف په رسمي يون مسکو ته تللی و.

کله چې دفتر ته ننوت، بګدانوف سمدلاسه يو نرۍ کتابګوټی ورکړ چې په دري ژبه ليکل شوی و. بګدانوف وويل چې دا د وسلوال پوځ د سياسي چارو رياست په چاپخونه کې چاپ شوی. د وربغ (رنګ) له بوی څخه ځرګندېدل چې دغه کتابګوټی تازه له چاپ څخه وتلی و. د کتابګوټي نوم «د تره کي له لوري د امين د هدفي وژنې د هڅې حقيقت » و.

بګدانوف سفير ته وويل: «دغه دی، ويې لوله. دا د پېښو په هکله ډېره په زړه پورې کيسه کوي.» پوزانوف ژرترژره يو ژباړن ور وغوښت .ژباړن يې لوستل پيل کړل او د کتابګوټي د متن پر بنسټ، د سپتمبر په څوارلسمه، هغه ورځ چې ترون ووژل شو او امين د معجزې په ډول له هدفي وژنې څخه بچ شو، د شوروي سفير د يو ژباړن په وسيله امين ته تيلفون وکړ او ماښې ته يې ژرترژره ور وغوښت. سفير د امين د بشپړ خونديتوب ضمانت هم وکړ. په بل عبارت، دغه کتابګوټي په نېغه توګه د شوروي يو رسمي مامور د افغانستان د اوسني مشر د هدفي وژنې د هڅې په جوړولو تورناوه. کله چې پوزانوف ژباړن ته غوږ ونيو، هک پک شو. دا ټولو ته څرګنده وه چې د وسلوال پوځ سياسي رياست په خپل سر دغه کتابګوټی نه و چاپ کړی، بلکې دغه لاسوندی پخپله د هېواد مشر جوړ کړی و. بګدانوف وويل: «موږ بايد مسکو ته د دې راپور ورکړو.» سفير، چې داسې برېښېده لکه کومه اروا يې چې ليدلې وي، ګوريلوف ته وويل: «ليو نيکولايوويچ، دا دروغ دي. ته پخپله هلته وې. ته پوهېږې چې څه پېښ شول.» ګوريلوف، چې پخپله حيران پاتې و، په اړنګ ځواب ورکړ: «هو، دا ډېره عجيبه ده.»

سبا ته وضعيت لا ډېر خراب شو. د سياسي بېرو غړي او د بهرنيو چارو وزير، شاولي د سوسياليستي هېوادونو سفيران ور وغوښتل او د دغه کتابګوټي منځپانګه يې ورته ولوستله. په دغه غونډه کې د شوروي اتحاد استازولي سفرانچوک کوله ځکه چې پوزانوف، امين د يوې بابېزې خبرې لپاره ورغوښتی و. کله چې شاولي لوستل بشپړ کړل، ديپلوماتانو سفرانچوک ته مخ واړاوه. دا څه وو؟ د دې موخه څه وه؟ يوه هيله چې د شوروي اوسنی سفير له کابل څخه ليرې کړي؟ د امين د بلې توطيې پيل؟ يا دغه نوي مشر غوښتل چې خپله نوې خپلواکي يا يو راز نوی سياسي تګ لوری مسکو ته څرګند کړي؟

سفرانچوک د افغانستان له بهرنيو چارو وزير څخه وپوښتل: «ايا ته پخپله د ګواکې امين د هدفي وژنې په هڅه کې حاضر وې؟» وزير ځواب ورکړ: «نه، خو دا د هغو پلټنو موندنې دي چې په دې تړاو موږ ترسره

کړي.» غونډه په چټکۍ پای ته ورسول شوه. سفیران له غونډې څخه په سربدالۍ ووتل ځکه چې دا د کړنو د ترسره کولو هغه بڼه نه وه چې د شوروي د کمپ په هېوادونو کې کارېدله.
گرومیکو په یو ټېلگرام کې پوزانوف ته خپله ترینگلتیا ځرگنده کړه او ده ته یې دستور ورکړ چې امین ته د ده اعتراض ځرگند کړي .دغه دستور پوزانوف، پاولوفسکي، گوریلوف او د ایوانوف په نه شتون کې بگدانوف ته ورکړل شو چې ټول په گډه افغان مشر ته ورشي، خو د بگدانوف په اند امین به د یو داسې لوی پلاوي ورتگ منفي وانگېري او وړاندیز یې وکړ چې دی یوازې د خلکو ماڼۍ ته د امین د لیدلو لپاره لاړ شي.
پوزانوف یې وړاندیز رد کړ: «دلته په ساده روسي ژبه لیکل شوي چې موږ ټول باید په گډه ورشو !»
د بگدانوف اندېښنه ریښتیا ثابته شوه. د افغانستان مشر، چې له داسې لوی او درانه پلاوي سره مخ شو، پوه شو چې څه ناوړه خبره شته؛ نو ترینگلی شو. مېلمنو دغه خبره په ډېر پام یاده کړه. لومړی، پوزانوف په شوروي اتحاد کې د جوړو شوو افغان مډالونو د نمونې په هکله د امین د اند پوښتنه وکړه. امین، چې لږ لنډمهاله ارامي ومونده، وویل: «هو، ما یې د منظورۍ امر ورکړ.» ورپسې سفیر وپتېیله چې د خپل راتگ اصلي موضوع ته لاړ شي: «موږ له مرکز څخه یو لارښود ترلاسه کړی چې ملگری روریکوف به یې په اوچت غږ موږ ته ولولي.» وروسته له دې چې امین د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزارت یادښت لیک واورېد، ونگه یې برېوسه شوه او په پرېکنده توگه یې د چای پیاله شاته ټېل وهله. ورپسې یې وویل: «په دې کې چې هر څه لیکل شوي درواغ دي.»
شوروي استازي چوپ پاتې وو. دا ډېره لږ مونده وه چې د یو ملگري گوند عمومي منشي د شوروي اتحاد د سیاسي بېرو د یو غړي پر لاسلیک یو یادښت لیک درواغ وبولي. دا یوه له اصولو څخه په بشپړ ډول وتلې خبره او داسې سپکاوی و چې هېڅ توجیه یې نشوی کېدی. بیا، امین د خبرو نرمه بڼه خپله کړه: «اجازه راکوی چې د پروتوکول پر بنسټ نه بلکې د یو ملگري او ورور په توگه خبرې وکړم؟ او له تاسې څخه هم همدغسې تمه لرم.» مېلمنو ځواب ورکړ: «ولې نه، ملگری امین.»
امین خبرې داسې پیل کړې: «هغه څه چې شاولي د سوسیالېستي هېوادونو سفیرانو ته ولوستل زموږ دریځ دی چې مخکې د سیاسي بېرو او د ا خ د گ د مرکزي کمېټې په عمومي غونډه کې وړاندې شوی و. له هغې مرگونې ورځې څخه کابو یوه میاشت تېره شوې چې تره کي زما د هدفي وژنې جنایتکاره هڅه ترسره کړه؛ نو تاسې تراوسه ولې څه ونه ویل؟ ولې له تاسې څخه هېڅوک رانه غلل چې موږ ته مشوره راکړي چې څه ووایو او څه وکړو؟»
پاولوفسکي په اعتراض وویل: «خو ملگری امین، موږ ټول د تره کي په دفتر کې حاضر وو او موږ پوهېږو چې ریښتیا څه پېښ شول.» امین په لړاکۍ د ده په خبرو کې ورولوېد او ویې ویل: «زه تاسې ته وایم چې پېښې ټیک داسې رامنځته شوې لکه څنگه چې په لاسوندي کې لیکل شوې دي. له ما سره په یوه کوټه

www.samsoor.com

کې افغان ملګري وو چې د دې پخلی کولی شي چې د یو ژباړن په وسیله ملګري پوزانوف د خلکو مانۍ ته بلنه راکړه او زما د خوندیتوب ضمانت یې وکړ، خو د دغه ګواښ په هکله ما ته مخکې خبرداری راکړل شوی و؛ نو ځکه له ساتونکو سره یو ځای ورغلم. اوس موږ ټول پوهېږو چې دا زما یوه ناآړینه کړنه نه وه. بې اړنګه، دا شونې ده چې زه تېروتلی وم،» امین د خپل مېز له شا څخه ګامونه واخیستل او د ډرامې په بڼه یې د کوټې منځ ته تګ پیل کړ: «ښایي تاسې په دې باور وی چې زما تېروتنه د نړۍ کمونست خوځښت زیانموي .که دا ستاسې د سیاسي بېرو اند وي؛ نو زه به بیا هر هغه څه وکړم چې شوروي ملګري یې له ما څخه غوښتنه کوي، خو دا باید تاسې په پام کې ونیسئ، چې پړه به یوازې پر ما اچول کېږي ځکه چې دا زه وم چې د پېښو بهیر مې داسې بیان کړی لکه څنګه چې ریښتیا و.»
د غونډې وضعیت په بشپړه توګه د امین په طبعې برابر و. ده په غولونکې بڼه خبرو ته دوام ورکړ: «تاسې ټینګار کوی چې زه خپل ګوندي ملګري راغونډ کړم او دوی ته ووایم چې هر هغه څه چې ما مخکې ویلي درواغ دي. ایا تاسې همدا غواړۍ؟ بې اړنګه، زه تاسې ټولو ته ډېر درناوی کوم، زه چمتو یم چې همدغسې وکړم - خو له تاسې څخه پوښتم چې ایا دا یوه مناسبه کړنه ده؟ ایا دا یو هوښیار کار دی چې «د تره کي له لوري د امین د هدفي وژنې د هڅې حقیقت» په نوم کتابګوټی چې په پوځې ډلو وېشل شوی بېرته راوغوښتل شي. دا به زموږ ګوند زیانمن نه کړي او د ګوند د عمومي منشي په توګه به زما نوم بد نه کړي؟»
پوزانوف په چټکۍ وویل: «د شاولي وینا همدا اوس د شوروي - افغانستان اړیکې زیانمنې کړې دي.»
امین ورته وویل: «اندېښنه مه کوه، ملګری سفیر. هېڅ شی زموږ اړیکې نشي زیانمنولی. زموږ دوښمنان به دغه فرصت ترلاسه نه کړي. زه ژمنه درسره کوم: موږ ګام په ګام په سوسیالېستي لاره مخته روان یوو. دا د روانو شېبو اصلي شیره ده.»
بګدانوف په رضاکاره توګه خبرې پیل کړې: «دې ته موږ ډېر ارزښت ورکوو، خو اوس زموږ خبرې په دې اړه نه دي. مسکو له تا څخه تمه لري چې دغه غلط پوهاوی سم کړې.» امین یې په خبرو کې ولوېد: «غلط پوهاوی؟ خو دغه غلط پوهاوی په ساده توګه ستاسې داسې هڅه ده چې حقیقت وغندی. دغه کار د کمونست او لېنني اصولو سره سمون نه لري. بې اړنګه، تاسې حق لری چې زموږ دریځ تر پوښتنې لاندې راولی او زموږ تېروتنو ته ګوته ونیسی. د بېلګې په توګه، تاسې کولای شئ دا ووایی چې څلور افغان وزیران د پېښې په شپه د شوروي سفارت ته نه دي تللي او دوی زما پر ضد د پوځي ډلو د راغونډولو هڅه و نه کړه.» امین په درنه او رسمي بڼه خپلو مېلمنو ته کتل چې ونګې یې تورې اېشېدلې. بیا یې وویل: «نه، ښه به وي چې تاسې د حقیقت په ردونه ټینګار و نه کړئ. د حقیقت بدلونه به پر هېواد او ګوند بد اغېز وکړي. دوی به ووایي چې دغه کار د شوروي اتحاد د فشار له کبله ترسره شو. زه به تاسې ته یوه بله خوښه درکړم . تاسې کولی شی چې د سوسیالېستي هېوادونو سفیرانو ته د پېښو د بهیر په هکله په خپله خوښه کیسه وکړئ، موږ به کوم اعتراض و نه کړو.»

د خبرو په پای کې امين وويل چې که شوروي ملګري ټينګار کوي، دی چمتو دی چې له دوی څخه اطاعت وکړي، خو دا به په دې مانا وي چې د ا خ د ګ او د افغان دولت مشر د خپلې رضا، ضمير او د حقيقت پر ضد عمل کړی. امين خپلې خبرې داسې پای ته ورسولې: «دا به زما سياسي ځان وژنه وي. تاسې زما ځان وژنه غواړئ؟»
که د شوروي ملګرو دغه خبره خوښه شوې هم وي، دوی يې په ځواب کې څه ونه ويل .دوی په سره ښه مخه ښه وکړه. د پلاوي هر غړي د هغو پلمو په جوړولو فکر کاوه چې سبا ته يې خپلو مشرانو ته ووايي. له رواني اړخه سفير پوزانوف سرله اوسه خپل بکسونه تړل.
له غونډې څخه درې ورځې وروسته، د امين په ډله کې شوروي اجنټانو راپور ورکړ چې کله امين له خپلو نېږدې متحدينو سره د ده د هدفي وژنې په هکله خبرې کولې، پوزانوف ته يې په سپکاوی نغوته وکړه او د سفير په هکله يې سپکې سپورې وويلې. امين په غوسه وويل: «زه نه غواړم چې له ده سره وګورم او يا خبرې وکړم. زه هېڅ نه پوهېږم چې څرنګه داسې يو سيانه او بې نزاکته سړی دلته د اوږدې مودې لپاره د شوروي سفير پاتې کېدای شي.»
بګدانوف د دغو مالوماتو په هکله يو ټيلګراف لاسليک کړ او سملاسي يې مرکز ته ولېږه. کېدای شي چې دا له پيل څخه د افغان مشر د ماستر پلان يوه برخه وه. دی پوهېده چې دغسې ټيلګراف به د بهرنيو چارو په وزارت کې يوازې يو غبرګون رامنځته کړي او دغه غبرګون به ژرترژره پلی شي.
پوزانوف له ګروميکو څخه ډېر ژر يو پيغام ترلاسه کړ: «ستا هغه غوښتنې ته په پام سره چې غواړې په افغانستان کې د سفير څوکۍ پرېږدې، ته يوې بلې څوکۍ ته بدل شوې.» بې اړنګه، پوزانوف هېڅ کله داسې غوښتنه نه وه کړې. برعکس، ده تر خپلې وسې هڅه کوله چې په دغه څوکۍ کې پاتې شي ځکه چې دی پوهېده چې په درې اويا کلن عمر کې
به ده ته په دغه انډول بله د برم او پرتم څوکۍ ورنه کړل شي.
د اکتوبر په اووه ويشتم، الکساندر ميخيالويچ له شاولي څخه ليدنه وکړه، هغه څوک چې نوموړی يې د سوسيالېستي هېوادونو د ټولو سفيرانو په وړاندې وشرماوه. دا د پوزانوف د شخصي ډرامې وروستی کار و او بايد چې ترخپلې وسې يې ښه لوبولې وی. پوزانوف په داسې حال کې چې شاولي ته يې نبغ نه کتل، خپله وينا چې مخکې تر مخکې يې چمتو کړې وه پيل کړه: «زما د غوښتنې پر بنسټ، د شوروي اتحاد د بهرنيو چارو وزارت پرېکړه وکړه چې د افغانستان په دموکراتيک جمهوريت کې د شوروي اتحاد د خپلواک سفير په توګه زما دنده پای ته ورسوي.»
د شاولي ونګه له ننګېرنو تشه وه. ده په درنښت خپل سر وخوځاوه چې وښيي د سفير پيغام يې ترلاسه کړ.

www.samsoor.com

پوزانوف په رسمي خو نیولي غږ وینا ته دوام ورکړ: «له ما څخه دا غوښتنه هم شوې چې تاسې ته خبر درکړم چې په افغانستان کې د سفارت د مقام لپاره د  ملګری فکرییت احمدجانوویچ تبییف سپارښتنه شوې. د ښاغلي تبییف په ګمارلو کې زه ستاسې د هوکړې غوښتنه کوم.»
پوزانوف د تبییف ژوند لیک ولوست او په دې ټکي یې فشار واچاوه چې نوموړی نولس کاله په تاتار کې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د سیمه ییزې کمېټې لومړی منشي، د مرکزي کمېټې او د شوروي اتحاد د مشرتابه عالي شورا غړی او مرستیال دی.
اوس د شاولي د وینا وار راورسېد. ده ټیک هغه څه وویل چې په داسې ناستو کې یې دود دی: «ستاسې پیغام موږ ته یوه ناڅاپه وه.» ده پرته له دې چې په ونګه کې یې کوم بدلون راشي، درواغ وویل: «تاسې د دغه دوو هېوادونو د ملګرتیا په ټینګښت کې لویه ونډه درلوده. دا په مسولیت ویل کېدای شي چې په تېره یوه لسیزه کې د شوروي اتحاد په هکله د افغانانو اند په لویه کچه بدل شوی. په دغه بدلون کې ستا لویې شخصي ونډې ته درنښت کوو. زه به د ملګري تبییف په اړه د هوکړې غوښتنه پرته له ځنډ څخه خپل حکومت ته ورسوم.»
دوی د روانو چارو په هکله خبرو ته دوام ورکړ . پوزانوف د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې د هغه پرېکړې په هکله وزیر ته خبر ورکړ چې د سیمه ییزو ادارو دوه سوه او پنځوس مشران یې شوروي اتحاد ته د زده کړو لپاره منلي او د روسي ژبې نوي کورسونه چې شورویان به یې ښوونکي وي په کابل کې جوړ کړي او په همدغه ورځ به په کابل کې د شوروي فلمونو لړۍ پیل شي. پوزانوف، شاولي او مېرمنې ته یې بلنه ورکړه چې د سفارت په هغه مېلمستیا کې برخه واخلي چې د اکتوبر انقلاب د دوه شپېتمې کلیزې په ویاړ جوړېده.
وزیر خپل لاس په سینه کېښود او ویې ویل: «مننه، زه به خامخا درځم. دا موږ ته هم تر ټولو مهمه رخصتي ده.»
په همدغه ورځ وسیلي سفرانچوک له امین څخه لیدنه وکړه چې د نوي سفیر ، تبییف په هکله د ده هوکړه ترلاسه کړي. د شاولي برعکس، امین کومه لوبیزه (تمثیلي) ونګه خپله نه کړه او د دغه خبرې پر وړاندې یې سملاسي خپله خوښي څرګنده کړه. امین د نوي سفیر د ګمارنې په هکله د خپلې خوښۍ په سملاسي څرګندونې سفرانچوک حیران کړ او له مسکو څخه یې وغوښتل چې ژرترژره دغه ګمارنه منظور کړي.
سفرانچوک د استدلال هڅه وکړه: «خو ملګری امین، دا کار په دغه بڼه نه ترسره کېږي. تاسې باید لړترلړه په رسمي توګه د انقلابي شورا، د حکومت غړي او د بهرنیو چارو وزارت چارواکي خبر کړی چې د دوی هوکړه هم ترلاسه شي. اوسنی نړیوال پرتوکول د غوښتنې او د منظورۍ تر منځ د یوې مودې د تېرېدو سپارښتنه کوي.» امین په ځواب کې ورته وویل: «دا په نورمال حالت کې کېږي. دا مه هېروه چې دلته انقلاب دی او موږ په جګړه کې یوو. موږ نشو کولای وخت ضایع کړو. زه به امر وکړم چې نن یو رسمي

یادښت لیک جوړ شي. زما په اند ملګري پوزانوف ته یوه اونۍ بسنه کوي چې د خپل تګ اړوند ټولې تشریفاتي چارې ترسره کړي. ته څه فکر کوې؟» سفرانچوک، چې له داسې پاروونکي چلند سره اوس اشنا و، ځواب ورنه کړ او یوازې اوریې یې پورته وخوځولې.

د اکتوبر په پای کې، په کابل کې د شوروي د بهرنۍ ځارګرې ادارې استازي ( ایوانوف، بګدانوف او اوسادچي ) سم پوه شول چې باد کوم لوري ته لګېده. دا روښانه وه چې د امین ورځې په شمار وې. په هغو ټېلګرافونو کې چې مرکز ته لېږل کېدل ټینګار کېده چې په ډېرېدونکې توګه د نوي مشر په ډله کې د شوروي ضد چلند راڅرګندېږي. یوې سرچینې راپور ورکړ چې د هغه اړتیا په اړه ورانديز وشو چې افغانستان له شوروي اتحاد څخه ډېر خپلواک شي، د سوسیالېزم پر روسي ماډل نیوکه وشوه او له ناهیلۍ ډک او بېوزله ونومول شو. داسې وړاندیز هم وشو چې افغانستان ته به ښه وي چې لکه مصر اسلامي نړۍ ته مخ واړوي او له مسکو څخه لوېې پوځي مرستې ونه مني.
په یو بل ټېلګراف کې د شوروي اتباعو پر وړاندې د افغان ځارګرې ادارې د ترینګلي چلند په هکله جزیات لیکل شوي وو. ادعاوې کېدې چې شوروي اتباع تعقیبېږي، د دوی پر ضد مالومات راغونډېږي او ځینو شورویانو ته نېغ ګواښونه شوي دي. په یو بل راپور کې لیکل شوي وو چې د امین خلک هڅه کوي چې د انقلاب ضد خوځښت او د مذهبي سخت دریځو له استازو سره اړیکې جوړې کړي او ژمنې یې کړې دي چې شوروي کارپوهان له افغانستان څخه وشړي؛ نو یوه داسې پایله رامنځته شوه چې امین او نېږدې متحدین یې د انقلاب ماتې او د ګوند پای ته لاره هواروي.
دا څرګنده وه چې مرکز باید د دغو خطرناکو راپورونو پر وړاندې یو ډول غبرګون ښیي؛ نو ځارګر مامورین اروپايي هېوادونو ته ولېږل شول چې د کارمل، سروري، ګلاب زوی او د ا خ د ګ د نورو نومورو تبعید شوو غړو په ګډون د افغان مخالفینو له استازو سره سلا مشورې وکړي. دغو تبعید شوو سیاستوالو د شوروي اتحاد د کمونست ګوند مرکزي کمېټې ته یو لیک ولېږه چې داسې پکې لیکل شوي وو: «موږ چمتو یوو چې هره شېبه افغانستان ته بېرته لاړ شوو چې د خاین او بدنوم رژیم پر ضد پاڅون پیل کړو.»
د اکتوبر په لومړیو کې، مسکو خپل هغه دریځ ته دوام ورکړ چې د نبغي پوځي مداخلې غوښتنې رد کړي. د تبعیدیانو په لیک کې دا انګېرنې نغښتې وې چې افغانان کولای شي ستونزې پخپله حل کړي او د شوروي اتحاد پوځي مداخلې ته اړتیا نشته.

کریچکوف دې ته تابیا نیوله چې دی پخپله له کارمل سره په چکسلواکیا کې کار پیل کړي، خو اندروپوف ناځاپه د ده یون فسخ کړ. د کې جي بي ریس ورته وویل: «په دې کار کې ستا د ښکېلتیا بربنډېدل ډېر خطرناک دي، څوک پوهېږي چې وضعیت به څرنګه پرمختګ وکړي.» په دغه وخت کې د کریچکوف ونډه اشد محرمه وه؛ نو په پایله کې همغه الکسي پېتروف، چې پرچمي مشر له ډېرې مودې راهیسې پېژانده، د کریچکوف پرځای له کارمل سره د لیدلو لپاره لاړ.
کارمل د بي بي سي له خپرونې څخه د تره کي پر مرګ خبر شو. په هغه سهار ده د سباناري پر سر په ترخه بڼه وویل: «ما ده ته خبرداری ورکړی و. زما دغه خبره په یاد ولره، دا یې یوازې پیل دی، د وژنو شمېر به په دومداره توګه ډېرېږي.» کله چې پېتروف ورغی، کارمل پوه شو چې ډېر ژر به یې په ژوند کې لوی بدلون راشي.د دغه سپک شوي سیاستوال کورنۍ ته څلور کوټې ورکړل شوې وې. د بهرنیو چارو څارګر افسر او کارمل د دوی د هستوګنې په یوه کوټه کې محرمه غونډه وکړه. سبا ته کارمل خپلو خپلوانو ته وویل چې دی ځي. ده ونه ویل چې چېرته او د څومره وخت لپاره. د نومړي مخه ښه لنډه او نیولې وه. کارمل او پېتروف له سناتوریم څخه ووتل او د کارمل کورنۍ کابو سمدلاسه د بنکه بیستریتسا Banka Bistritsa سلواکي Slovak ښارګوټي ته ولېږدول شوه. دوی په یوه هوسا لویه کوټه کې چې امنیتي چارې یې سمبال شوې وې واړول. اوس له ورایه څرګندېده چې د کارمل موقف په چټکۍ بدلېده.
د نومبر په لومړیو کې، د افغانستان راتلونکي مشران د مسکو په لمن کې د کې جي بي په یوه باغچه کې غونډ شول. په دغه ډله کې کارمل، اناهیتا راتب زاد، اسدالله سروري، سید محمد ګلاب زوی او عبدالوکیل وو. دوی د خپلو مربیانو په لارښوونه په افغانستان کې د واک لاسته راوړنې ته تابیا پیل کړه او د راتلونکي واک د جوړښت او د راتلونکو بندیانو نوملړ یې جوړ کړ، دولتي څوکۍ یې ووېشلې او په افغانستان کې یې د مهمو ځایونو د نیولو پلان جوړ کړ. دغه پوځي انقلابي شورا د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې سپارښتنه ومنله او په یوه خوله یې کارمل د مشر په توګه وټاکه. په دغو ورځو کې کارمل ډېر فعال و او شوروي ملګرو ته یې ټینګار کاوه: «مخکې له دې چې امین زموږ په تابیا نیونې خبر شي، موږ باید ژرترژره لاس په کار شوو. انقلاب په لوی خطر کې دی.» کارمل وېرېده چې کېدای شي امین هره شېبه په هر څه خبر شي او لومړی ګوزار وکړي؛ نو د ده وېره بېځایه نه وه.
کارمل وړاندیز وکړ چې ګلاب زوی په پټه افغانستان ته ولېږل شي چې هلته له هغو خلکو سره باوري اړیکې ټینګې کړي چې پټ فعالیت یې کاوه. د کارمل دغه وړاندیز د ابرشوف خوښ شو. نومړي دا مهال له دغو افغانانو سره یوځای شپې او ورځې تېرولې، خو ګلاب زوی ټول حیران کړل. ده ونه منله چې افغانستان ته ولېږل شي او پرځای یې د وطنجار د لېږلو وړاندیز وکړ. دغه موضوع د افغانانو په منځ کې تاوده بحثونه رامنځته کړل. د کې جي بي مامورین له خپلو دغو انګېرنو څخه په چټکۍ تېر شول چې خلقیانو او پرچمیانو به خپل تېر مخالفتونه هېر کړي او په داسې ژوند بدلوونکي وضعیت کې به همکاري پیل کړي.

په باغچه کې د دوی ټولې خبرې ثبت شوې وې. دا څرګنده شوه چې د دوی د دوښمنۍ او بخیلۍ کچه نه وه ټیټه شوې او دغه انقلابیان یوازې داسې فرصت ته تم وو چې د یو او بل پر ستوني چاړه تېره کړي.
لومړنۍ کس چې افغانستان ته ولېږدول شو پرچمي وکیل و. له لېږد څخه مخکې شوروي کارپوهانو د ده ونګه په بشپړ ډول داسې بدله کړه چې حتی مور به یې نه وی پېژندلی. د نوموړي په سترګو کې لېنزونه lensesکېښودل شول چې رنګ یې بدل کړي. د ده د مخ ونګه بدله کړل شوه او په موزو کې یې داسې لیکې جوړې کړل شوې چې دی په تګ کې ګوډ ونښيي. د تابیا په وروستي پړاو کې نوموړي د S ریاست د اتمې څانګې افسرانو ته ولېږدول شو. لکه څنګه یې چې مخکې یادونه وشوه، دغه څانګې له ډېرو حساسو بهرنیو چارو سره سروکار درلود. ډګروال ګلاتوف، چې له کابل څخه یې د خلقیانو د ایستلو مسولیت پر غاړه درلود، اوس وکیل ته روزنه ورکوله چې څرنګه بې غږه تومانچه وکاروي. وسیلي ګلاتوف د دغو عملیاتو د تر ټولو حساس پړاو قومانده پر غاړه واخیسته چې افغانستان ته د وکیل لېږدول وو. پرېکړه وشوه چې یو ځل بیا د داسې یو لرګین صندوق څخه کار واخیستل شي چې په نورماله توګه د شوروي جیپونو پرزې پکې لېږدول کېدې. دغه صندوق په یو جیپ کې ځای پرځای شو او ورپسې جیپ یوې An12الوتکې ته د ننه کړل شو. الوتکه په خوندي توګه د مسکو په لمن کې له یوه پوځي هوایي ډګر څخه کابل ته ورسېده. د افغانستان په پلازمېنه کې د ګمرک لټون نه و او جیپ د زینت کوټې ته وچلول شو. کله چې هلته ورسېد، وکیل اوسادچي ته ورغی. نوموړي د کې جي بي مېشت استازي په کوټې کې واړول او د شپې په تیاره کې یې ښار ته وتل پیل کړل چې د ګوند له نورو فعالانو سره اړیکې ټینګې کړي. د وکیل لومړنۍ دنده د پرچمي پوځي څانګې له مشر سره د اړیکو ټینګول وو.
هغه لاسوندي چې وروسته له محرمیت څخه ایستل شوي څرګندوي چې د ۱۹۷۹ کال په مني کې د لوېدیځو هېوادونو ډیپلوماتانو او څارګرو په ځانګړي پام په افغانستان او د افغانستان په شاوخوا کې وضعیت څاره. د اکتوبر په لومړیو کې د برتانیې سفارت لندن ته خبر ورکړ چې شورویان د پرچمي ډلې له هغو مشرانو سره په اروپا کې پټ کار کوي چې دوی د افغانستان لپاره د بدیل حکومت د راتلونکو مشرانو په توګه په پام کې نیولي.
دې ته په پام سره چې دغه عملیات په بشپړه توګه په پټه ترسره کېدل، سړی دې پایلې ته رسېدلی شي چې د انګرېزانو خبرتیا د یو پرچمي او یا د چکسلواکیایي «ملګرو» د دوه ګوني لوبې زېږنده وه.
د نومبر په وروستیو کې، د برتانیا پوځي او د هوایي ځواکونو اتشې په خبرداری لیکلي وو: «د اکتوبر په دویمه نیمایي کې هغه بریدونه چې د یاغیانو پر ضد وشول ډېر بریالي وو. د دغو بریدونو اصلي موخه پر یاغیانو لوی ګوزار او د هغو سیمو او ارتباطي وسیلو نیول وو چې د پاکستان پولې ته څېرمه پرتې دي. دوی دواړه موخې ترلاسه کړې. په دغه بریا کې هوایي ځواکونو لویه ونډه درلوده. د Mi-24 الوتکې په

ځانګړې توګه د جنګیالیو په شنډولو کې ډېرې اغېزمنې وې. زه وړاندوینه کوم چې په اوږده مهال کې یاغیان له نابودېدلو سره مخ دي ځکه چې د حکومت وسلې او تکتیکونه په لویه کچه ښه شوي. مخالفین له سیاسي اړخ څخه وېشل شوي او د دوی ستراتیژۍ همغږې نه دي.»
سربېره پر دې، دغه اتشې ټینګار کړی و چې د حکومت په پوځ کې د شوروي سلاکارانو شمېر بیخي ډېر شوی او د ده په اند همدغه سلاکاران وو چې د پکتیا په ولایت کې یې د عملیاتو پلان جوړ کړی و او په عملیاتو کې یې د افغان پوځ مشري کوله. د امین په هکله حالت همداسې پېچلی پاتې و، خو په راپور کې یاد شوي وو چې افغان مشر د وسلوالو ځواکونو له ملاتړ څخه برخمن دی. سربېره پر دې، اتشې لیکلي وو: «امین وکولای شول چې حتی د خپلو پخوانیو مخالفینو ملاتړ ترلاسه کړي. نوموړي په پټه دوی ته خبر ورکړ چې کله یې وخت راغی، دی به له شورویانو څخه ځان خلاص کړي.» دغه پوځي ځارګر لیکلي وو چې اوسمهال به په افغانستان کې کوم سملاسي بدلون رانشي، شورویان پرته له دې چې د امین ملاتړ وکړي بله چاره نه لري - نو ځکه د امین راتلونکې روښانه ده. دغه برتانوي افسر په پای کې په ملنډو لیکلي: «هر څه چې دي، امین به لږترلږه تر هغه وخت پورې په واک کې پاتې شي تر څو چې په ماڼۍ کې ټاکنې نه وي ترسره شوې.»
دغه لاسوندي ښيي چې یوازې کې جي بي نه وه چې د امین په دوه ګونې وفادارۍ خبره وه. د امین د پلان ګنګوسې ( کله یې چې وخت راغی، دی به له شورویانو څخه ځان خلاص کړي) د لوېدیځو ډیپلوماتانو او ځارګرو غوږونو ته رسېدلې وې، خو په برتانوي تېلګراف کې یوازې پایله غلطه وه. د نومبر په میاشت کې کله چې دغه تېلګراف ولېږل شو، امین ښه راتلونکې نه درلوده بلکې د نوموړي پر برخلیک لا د مخه مهر لګول شوی و.
په افغانستان کې سي ای اې د خوځښت دومره فرصت نه لرلو، خو دوی په ګاونډ پاکستان کې د خپلو فعالیتونو پراختیا ته دوام ورکاوه. د دوی فعالیتونه له افغانستان نه د راغلو مالوماتو له راغونډولو او شنلو څخه نیولې، د مجاهدینو د پوځي روزنې لپاره د کمپونو تر جوړنې پورې غځېدلي وو. همدا راز دوی به د اسلامي ګوندونو او خوځښتونو له هغو مشرانو سره مالي او نورې مرستې کولې چې د کابل حکومت په کمزورولو کې بوخت وو. سربېره پر دې، امریکایي پلاو له هغو هېوادونو څخه د یو ائتلاف په جوړولو پیل وکړ چې د هغو افغان بنسټپالو مرستو ته چمتو وو چې د شوروي نفوذ پر ضد یې جګړه کوله. سعودي عرب، مصر او چین څرګنده کړې وه چې دوی چمتو دي چې په دغه هڅه کې برخه واخلي. په دغه قضیې کې کمونست چین په خود غرضۍ د ټولنیز پوړ اېډیالوژي له پامه وغورځوله او له ارتجاعي ملایانو سره یو ځای شو چې د منځنۍ اسیا په سیمه کې د شوروي نفوذ د ودې مخه ونیسي. چینایانو وېره لرله چې په دغه سیمه کې شوروي خپل موقف غښتلی کوي.

ایا امریکایان د شوروي اتحاد د پوځي تابیا په هکله خبر وو؟ بې اړنګه دوی مهم مالومات ټول کړي وو ځکه چې د امریکایي دیپلوماتانو او څارګرو په تېلګرافونو کې د هغو شوروي سلاکارانو او کارپوهانو د شمېر ډېر سم اټکل شوی و چې په افغانستان کې یې دندې درلودې. لږ وخت وروسته، امریکايي سرچینو د افغانستان په پوله کې د پوځیانو د راټولېدو، د الوتنو د ډېرښت او د احتیاطي پوځیانو د راغوښتلو په هکله عیني مالومات وړاندې کړل، خو که دا ریښتیا وو؛ نو ولې امریکایانو په دې ټراو اوچتې چیغې و نه کړې؟ ولې یې داسې یو څرګند فرصت له لاسه ورکړ چې د شوروي اتحاد پر ضد د پروپاګند یو پراخ کمپاین په لاره واچوي؟ لکه څنګه چې وروسته ځینو شنونکو نغوته ورته کړې، ایا دوی په ریښتیا دغه تکتیک غوره وګاڼه چې شورویان پرېږدي چې د افغان په اړکۍ ( تلک) کې بند پاتې شي؟
دا په بشپړ ډول شونې ده. لکه څنګه چې وایي د جګړې په وخت کې هر څه مناسب دي.

د تره کي له نسکورېدو وروسته، د افغانستان د چارو په هکله د سیاسي بېرو کمېسیون ډېر فعال شو. هره اونۍ یې غونډې کولې. برېژنېف،چې په نورماله توګه منډخولی او نرم خویه سړی و، کله چې د افغان پخواني مشر د مړینې په مرموزه حالت خبر شو، ډېر ځاځمن شو: «دا ملګری تره کی دی. موږ غېږ ورکړه، د ساتنې ژمنه مو ورکړه او اوس، زما لړاکي (بې ادبي) وبښۍ، یو بې باکه سړی یې زندۍ کوي؛ نو اوس به څه پېښېږي؟ زموږ پر ژمنو باور نشي کېدای؟ د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې د عمومي منشي خبرې بې ارزښته شوې دي!»
په دغه منې کې لیونېد ایلیچ روغ نه و. ډاکټرانو سپارښتنه ورته کړې وه چې اښې (استراحت) وکړي، له ډېر کار څخه ډډه وکړي او پر ځان فشار رانه ولي. عمومي منشي، چې تل یې د ډاکټرانو سپارښتنو ته ډېر پام کاوه، د څکولو عادت یې کابو نشوی کړی. پرته له دې چې ډاکټران یې خبر شي، نوموړي د خپلې خوښې نووست Novost سګرېټ څکولو ته تر پایه دوام ورکړ، خو د ډاکترانو نورې سپارښتنې یې پوره پلې کولې. د ده په ډله کې هر چا ته دا لړمونډې وه چې برېژنېف ټپرا او یا په غوسه ووینې. د ده د نېږدې کړی غړو هڅه کوله چې دی او د ده کورنۍ له داسې بد خبر څخه وساتي چې د ده پر روغتیا یې بد اغېز کاوه، خو اوس د امین له مصیبت څخه ډکه کیسه رامنځته شوې وه او هېڅ شونې نه وه چې داسې یو بد خبر چې د ملګري هېواد مشر پکې ښکېل وي له برېژنیف څخه پټ وساتل شي. په داسې حالاتو کې چې څه باید وکړل شي پخپله برېژنېف باید پرېکړه کړې وی. د ده په ډله کې بل هېچا د دې توان نه درلود

چې د داسې پرېکړې دومره لوی مسوليت پر غاړه واخلي؛ نو سره له دې چې نوموړی روغ نه و، ده بايد پر وضعيت ځان پوه کړی وی، خو له بده مرغه، څومره چې پر حالاتو پوهېده هغومره يې مزاج ډېر خرابېده.
څه پېښېدل؟ په غونډو کې افغان ملګرو سوسيالېستي ايډيالونو ته د وفادارۍ سوګندونه کول، له شوروي اتحاد سره

يې پر ټينګې ملګرتيا ټينګار کاوه او خپل ځانونه يې د شورويانو کشر ورونه بلل، خو حقيقت دا و چې دوی يې هېڅ پروا نه لرله. برېژنېف داسې اند درلود: «موږ په زرګونو سلاکارانو ته تنخواوې ورکوو چې د افغانستان په هر ګوټ کې کار وکړي. موږ د ميليونونو روبلو په ارزښت افغانستان ته وټه ييزې او پوځي مرستې ورکوو. دا بايد موږ ته د دې حق راکړي چې وضعيت موږ پخپله کنټرول کړو، ټيک هغسې لکه په نورو سوسيالېستي هېوادونو کې يې چې کنټرولوو.» اوس چې داسې بېخونده حالت رامنځته شوی و، ځينې پرېکړې بايد شوی وی، خو څرنګه پرېکړې؟ ليونېد ايليچ په دې عادت و چې د ده په استازيتوب به نورو پرېکړې کولې. دغه پرېکړې به په بشپړ ډول په لاسوندو واړول شوې او د ده پر مېز به کېښودل شوې. برېژنيف به پرته له دې چې پر منځپانګې يې ډېر فکر وکړي دغه لاسوندي به يې لاسليک کړل، خو اوس ټولو ده ته سترګی نيولې وې او تم وو چې نوموړی په داسې مهمه پرېکړه کې مخکښ شي. هېڅوا دې ته زړه نه ښه کاوه چې د وضعيت د حل لپاره مسوليت پر غاړه واخلي.
برېژنيف، اندروپوف ته وويل: «يوره، تا له ما سره ژمنه کړې وه چې د تره کي يو وېښته به ضايع نشي. تا راته ويلي وو چې وضعيت ستا د سړيو په کنټرول کې دی. کولای شې راته ووايې چې ولې دغسې پېښې رامنځته کېږي؟» اندروپوف په ټيټ غږ داسې اقرار وکړ: «موږ دغه امين کم ارزولی و. دی د هغه څه په پرتله چې موږ يې خيال درلود ډېر غبي دی. موږ يې ښه تېر ايستلو. ده به زموږ ملګرو ته يو څه ويل، خو د پردې تر شا به يې خپلې شيطاني توطيې جوړولې.»
ګرمېکو خپلو ملګرو ته داسې يادونه وکړه: «موږ امين ته په افغانستان کې تر ټولو لوړو څوکيو ته د ده د ټاکلو مبارکي ورکړه. اوس زموږ سفير خبر راکړ چې امين غواړي د ګوند او هېواد د مشر په توګه مسکو ته په رسمي يون راشي.»
ليونېد ايليچ خپلې نومورې وروځې تروې ونيولې او ډېر ځاځمن (په غوسه) ښکارېده. ده وويل: «څه، زه بايد يو ځل بيا دغه بې باکه ښکل کړم؟» د دفاع وزير په امرانه بڼه وويل: «موږ به په هېڅ وجه ده ته بلنه ورنه کړو.» ګروميکو په وړانديز وويل: «هو، کولای شو امين ته ووايو چې د سږ کال کاري او د دولت د مشرانو د ليدنو مهال وېش ډک دی او په نېږدې راتلونکې کې هم د دې فرصت نشته چې ده ته بلنه ورکړو. دی کولای شي په راتلونکي کال کې راشي. تر هغه وخت پورې به موږ ګورو چې څه پېښېږي.»
برېژنېف په خپګان د هو سر وخوځاوه او ويې ويل: «هو، د افغانستان حالات پېچلي دي. راځئ چې په دې پرېکړه وکړو چې څنګه مخته لاړ شو .يوره، زه پوهېږم چې ستا اداره پر امين ډېر باور نه کوي.»

اندرووپوف د کاغذونو په دلۍ کې چې مخې ته يې پرته وه پاڼې واړولې او ويې ويل: «هو، موږ ځينې اندېښمنوونکي خبرونه لرو. ما تاسې ته مخکې راپور درکړی و چې امين ډېرې خطاوې کړې دي، د ګوند نومور غړي يې ځپلي او دی په ښکاره يو پښتون ملتپال دی. له امريکايي ځارګرې اداري سره د ده د اړيکو نښې نښانې شته او موږ يې په اړه اوسهمال پلټنې کوو. زه بيا وايم چې دغه سړی سيانه، خاين او اکاړ دی. د داسې متحد درلودل داسې دي لکه سړی چې پر يو داسې ماين ناست وي چې هر شېبه يې د چاودنې شونتيا شته وي. دا شونې ده چې اوس امين له موږ سره د خيانت او زموږ دوښمنانو ته د اوښتلو د شونتيا ارزونې کوي.»
اندروپوف د خبرو دوام ته اړتيا نه لرله. د دوی ټولو د وروستيو خيانتونو کيسې په ياد وې. دغه کيسې لکه چرې د دوی
په مغزونو کې لګېدلې. د دوی ټولو په ياد وو چې څرنګه مصر، چې يو وخت يو وفادار متحد و، د امريکايانو لوري ته نېغ ور کوږ شو. د دوی په ياد وو چې څرنګه د سوماليا مشر، باري Barre خپل لوری بدل کړ او له امريکا سره متحد شو. وروسته يې پر اېتوپيا، چې هغه وخت شوروي اتحاد ته وفاداره وه، بريد وکړ چې د خپل بادار چوپړ وکړي. دی چې يو
وخت يو وفادار کمونست و، په يوه شپه کې کمونست ضد سخت دريځی شو.
دوښمنانو په ټولو اړخونو کې په نه ستړې کېدونکې توګه د شوروي پر ضد کارونه کول. چا ويل چې درېيمه نړيواله جګړه تراوسه نه وه پيل شوې؟ ډېر کلونه کېدل چې پيل شوې وه ، د ځلوېښتمې له نيمايي څخه راپدېخوا دغه جګړه روانه وه او په دغه ټولو کلونو کې حتی يوه ورځ هم نه وه درېدلې. د دوښمنۍ او ترينګلتيا کمښت (detente)، د اتومي وسلو لږول او دوه اړخيز باور، دا ټولې کيسې بايد عادي وګړو ته ساتل شوې وی. حالت داسې راغلی و چې يا به موږ دوی ماتول او يا به دوی موږ ماتولو، بل څه نه وو.
دا بيخي شونې ده چې امين له امريکايانو سره له ډېر وخت راهيسې همکاري درلوده، خو حتی که دغه خبره غلطه ثابته شوې هم وی، پر ده باندې باور نشوی کېدای ځکه چې نوموړي به بلاخره خامخا له شورويانو سره خيانت کړی وی.
اوستينوف په ټينګار وويل: «دی به يوازې دوښمنانو ته وانه اوړي. ستونزه دا ده چې دی به افغانستان هم ورسره کش کړي.» ګرمېکو په همغږۍ وويل: «دا به موږ ته يوه لويه ستونزه وي. موږ د دې توان نه لرو چې افغانستان بايلو.»
د بهرنيو چارو وزير مخې ته د اسيا د وضعيت په هکله يو راپور پروت و چې د ده کارپوهانو ليکلی و. وضعيت د شوروي په ګټه پرمختګ نه کاوه. له چين سره اړيکې خرابې شوې وې. يو کال مخکې په پوله کې خبره تر وسلوالې نښتې رسېدلې وه. وروسته چينايي پوځيانو پر ويتنام، چې شوروي پلوی سياست يې غوره
www.samsoor.com

ساتلی و، برید وکړ، خو که څه هم دوی ته ماته ورکړل شوه، له دوی څخه د جګړې درولو نښې نښانې نه لیدل کېدې. امریکا په فعاله توګه پر شوروي اتحاد ځان موښلو، له چین سره یې اړیکې بیا پیل کړې او دغه هېواد ته یې د وسلو ورکړه پیل کړه. په بشپړ ډول داسې دقیق مالومات شته وو چې امریکا او چین ته یې نغوته کوله چې په فعاله توګه یې له افغان مخالفینو سره مرستې کولې. د خمیني رژیم، چې په ایران کې له اسلامي انقلاب څخه وروسته واک ته ورسېد، هم د شوروي ضد دریځ ونیوه او له افغان جنګیالیو څخه یې ملاتړ کاوه. کابو ټول عرب هېوادونه چمتو وو چې د افغان مقاومت ملاتړ وکړي.

نو که موږ افغانستان بایلو، دغه هېواد به یا امریکایان او ناتو او یا اسلامي سخت دریځي ونیسي چې اسلامي سرطان به رامنځته کړي او دغه سرطان به د شمال په لور زموږ د منځنۍ اسیا جمهوریتونو ته وغځېږي، خو د اندروپوف او اوستینوف برعکس چې پوځي مداخلې ته یې ګروهنه ډېرېده، ګرومیکو په خپل زړه کې په دغه شخړه کې د شوروي پوځ د نېغې ښکېلتیا پر ضد و. د ده لپاره پوځي مداخله د ټولو هغو هڅو د ناکامۍ په مانا وه چې په تېره لسیزه کې د بهرنیو چارو وزارت د دوښمنۍ او ترینګلتیا د لږولو لپاره ترسره کړې وې. دی پوه شو چې  نړۍ ته به د داسې ګام توجیه کول ناشوني وي کوم چې دوی یې اخیستلو ته اړ کېږي. دی پوه شو چې د ده د وزارت هڅې او د شوروي اتحاد ټوله بهرنۍ پالیسي به داسې زیانمنه شي چې بېرته جوړونه به یې ناشونې وي.

ګرومیکو یو ځل بیا وویل: «موږ افغانستان نشو بایللی، خو زه سوال کوم چې زموږ کړنه باید سمه وارزول شي ځکه چې تېروتنه به موږ ته ډېره ګرانه پرېوځي.»

برېژنېف په بې صبرۍ وویل: «دا خبرې مو مخکې هم اورېدلې دي. څرګنده ده چې افغانستان له لاسه نشو ورکولای او دا به زموږ ملي ګټې زیانمنې کړي، خو ستا ځانګړې وړاندیزونه کوم دي؟»

ګرومیکو ورته وویل: «مخکې له دې چې وړاندې لاړ شو، راځئ چې دلته لږ تم شو. راځئ چې وارزوو چې امین په ریښتیا څه

کړي دي، راځئ یوه هڅه وکړو چې امین دې ته اړ کړو چې د ګوند په مشرۍ کې لښتني ببلګه خپله کړي. دا به امین ته یو

فرصت ورکړي چې پرچمیان ازاد کړي، مخالفو مشرانو ته اجازه ورکړي چې له تبعید څخه بېرته خپل هېواد ته لاړ شي

او په ګوند کې ډل بازۍ ته د پای ټکی کېږدي .که د پرچم یا خلق کومه بله غښتلې څېره د امین په شاوخوا کې راڅرګنده شي، موږ به امین په اسانۍ ملونه (قیزه) کړی شو. سربېره پر دې، موږ باید د افغانستان وسلوال ځواک غښتلتیا ته دوام ورکړو. زموږ له لوري به بله مرسته دا وي چې پر هغو هېوادونو دیپلوماتیکي زور واچوو چې د یاغیانو ملاتړ کوي.»

برېژنېف، پنومروف ته مخ واړاوه او ويې پوښتل: «ايا دا شوني ده چې امين دې ته اړ باسو چې خپل ديکتاتوري عادتونه پرېږدي او موږ دې ته هيله من شو چې دی له (پرچمي) مخالفينو سره جوړ شي؟»
پنومروف په سرټکوني وويل: «ليونېد ايليچ، موږ ډېرې هڅې وکړې. ته پوهېږې چې زه پخپله دوه ځلې کابل ته لاړم، خو هېڅ گټه يې و نه کړه.»
اندروپوف په همغږی وويل: «دا شوني نه ده. په کابل کې هر څه له کچې وتلي دي. ښايي امين په گړنی توگه زموږ مشوره ومني، خو په حقيقت کې به زموږ د مشورو برعکس کار وکړي. زموږ د مالوماتو پر بنسټ، کله چې امين پرچميان له منځه يووړل، بيا يې پر خپلو خلقي همکارانو پيل وکړ. هر هغه څوک چې امين د نه وفادری گومان پرې کوي، په تور نوملړ کې ليکل کېږي. لکه څنگه چې پوهېږی، د مخالفينو مشرانو چې په اروپايي هېوادونو کې د تبعيد ژوند کوي خپله تياري څرگنده کړې چې د رژيم پر ضد رامخته شي او گوند او هېواد بېرته د قانون او دموکراسی په نورمونو برابر کړي. کله چې زه د مخالفينو مشران يادوم، مطلب مې د دواړو ډلو مخور مشران دي. موږ په همدغه لوري کار کوو.»
د برېژنېف ناڅ وپاربده؛ نو ويې پوښتل: «دا څه مانا ورکوي 'چې د رژيم پرضد رامخته شي؟' دوی په اروپا کې دي، کنه؟ ته څه فکر کوې چې دا کار به څرنگه ترسره شي؟»
د کې جي بي ريس، چې نه يې غوښتل د کودتا اړوند پر معمولو جزياتو عمومي منشي تر فشار لاندې راولي، وويل: «ښه ليونېد ايليچ، دوی په افغانستان کې له خپلو متحدينو سره حتی په تبعيد کې اړيکې ساتلې دي. کله چې مناسب وخت راورسېد، موږ به له دوی سره مرسته وکړو، کابل ته به يې ولېږدوو او که يې اړتيا وه، نورې مرستې به هم ورسره وکړو.» ورپسې برېژنيف بيا پوښتنه وکړه: «يوره، نو ته ما ته وايې چې په گوند کې سليم خلک کولای شي چې ستونزه پخپله حل کړي؟» اندروپوف په ټينگار وويل: «هو، دوی يې کولای شي، ليونېد ايليچ.» بيا يې زياته کړه: «زموږ په لږ مرستې.» برېژنېف خوشاله شو او ويې ويل: «دا خو ډېر ښه کار دی. راځئ چې په همدغه لوري فعال کار وکړو. هو ريښتيا، افغان پوځ به د چا ملاتړ وکړي؟» ورپسې يې اوستينوف ته مخ واړاوه او ترې ويې پوښتل: «ديمتري فېدوروويچ، ته ډېر چوپ يې، ولې؟»
د دفاع وزير د چوپ پاتې کېدو هېڅ نيت نه درلود .برعکس، ده په خپل سر کې دليلونه جوړول او خپل وار ته تم و. ده د ويلو ډېر څه لرل.
اوستينوف خپل ټول ژوند په جگړه کې تېر کړی و. دی په دري دېرش کلنۍ کې د *خلکو د وسلو او مهماتو* کميسار وگمارل شو. نوموړي د نازيانو پر ضد جگړه وکړه او لوېديځې جبهې ته يې د وسلو او مهماتو رسولو دنده پر غاړه وه. وروسته، کله چې سړه جگړه پيل شوه، نوموړي د امريکا د اتومي او هايدروجني بمونو د

جوړولو پر وړاندې شوروي اتحاد د دې جوګه کړ چې امریکا ته پوره ځواب ورکړی شي. دی د وسلو او مهماتو وزیر، د دفاعي صنعت وزیر، ورپسې د شوروي حکومت مرستیال ریس او د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې منشي و. درې کاله مخکې د دفاع وزیر څوکۍ ورکړل شوې وه. ده چې هر چېرته دنده ترسره کړې وه، تل یې د وسلو، مهماتو، دفاع او په ځانګړې توګه د شوروي اتحاد د پولو او د سوسیالېستي بلاک د امنیت مسولیت پر غاړه درلود. د اندروپوف په څېر دی هم پوهېده چې سوله ییز ژوند هسې یوه افسانه او یو خیال دی. د دوی په اند حقیقت دا و چې جګړه دوامداره ده او تل به تر هغه وخت پورې دوام وکړي چې یو لوری، بل لوری نیست او نابود کړي. اوستینوف خپل ټول ژوند ګوته په ماشه تېر کړی و. اندروپوف په کې جي بي کې لومړی ریاست درلود چې څلورویشت ساعته شپه او ورځ یې فعالیت کاوه چې د «اصلي دوښمن» د هرې شکمنې کړنې راپور ده ته ورکړي. اوستینوف ته هم لومړی لاس راپورونه ورکول کېدل. دی د لوی درستیزوالۍ د څارګر ریاست، جي ار یو، مشر هم و. د دغه ریاست غوږونه او سترګې په ټوله نړۍ کې وې چې شپه او ورځ د دوښمن څار وکړي او د هرې شکمنې کړنې راپور ورکړي.
کېدای شي چې د بلې نړیوالې جګړې مخنیوی شوی وی، خو د اوستینوف اند، عادت او کرکتر نوموړی دې ته چمتو کړی و چې نه یوازې د دوښمن هر برید شاته وتمبوي بلکې که یې اړتیا شي لومړی ګوزار هم وکړي.
وروستي څارګر راپورونه بوږنوونکي وو. امریکایي پوځي بېړۍ د پارس خلیج ته ننوتلې وې. داسې بربښېدل لکه امریکایانو چې غوښتل خپل پراشوټي پوځ په ایران کې ځای پرځای کړي. که یې داسې کړي وی، په سیمه کې به د واک انډول د شوروي ګټو پر ضد اوښتی وی. دا به یو لوی مصیبت وی چې امریکا په افغانستان کې د پښې ځای موندلی وی. له ترکیې، ایران، افغانستان او چین څخه یوې جوړې لومې به ټول شوروي اتحاد د امریکایي توغندیو د واټن د ننه راوستلی وی. اوستینوف په ملنډېز جدیت وویل: «د پلي ځواکونو د قوماندان، جنرال پاولوفسکي په ګډون، زموږ ملګري وایي چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت وسلوالو ځواکونو خپل بشپړ پام د یاغیانو د بریدونو شا تمبولو ته اړولی .دا څرګنده نه ده چې له امین سره په شخړه کې به دوی د چا ملاتړ وکړي، خو زموږ د مالوماتو پر بنسټ، امین په پوځ کې ډېر ښه موقف لري. ده له مخکې پوځ تصفیه کړ، پرچمیان او نور بې اعتباره کسان یې لیرې کړل. زه وېره لرم چې زموږ د اټکل په پرتله ستونزه ډېره جدي ده. ډېره شونې ده چې زموږ د پوځ له ګډون څخه پرته به دغه ستونزه حل نشو کړی.»
ګرومیکو ترې وپوښتل: «ته په افغانستان کې د شوروي پوځ د مداخلې وړاندیز کوې؟ موږ باید د هغو پایلو په هکله پوه شو چې دغسې ګام به یې رامنځته کړي.» له ننګېرنې څخه تش اوستینوف ځواب ورکړ: «زه تراوسه د هېڅ شي وړاندیز نه کوم. زموږ له فعالې مرستې پرته به د ګوند سلیمو غړو ته سخته وي چې په

ا خ د ګ کې برلاسي شي. که موږ د مخالفينو پر ملاتړ همغږي شو، بيا نو خامخا بايد د کې جي بي او پوځ ټولې سرچينې په کار واچوو. که مو دا کار پيل کړ، موږ بايد دې ته چمتو وو چې بريالی پايله ترلاسه کړو.»

برېژنېف له اوستينوف سره همغږی و. ده وويل: «ديمه (Dima) سمه خبره کوي. ناکامي بايد زموږ بديل نه وي، خو اندري هم يو ګټور لرليد وړاندې کړ .موږ بايد د دغسې کړنو ټولې پايلې وارزوو. بې اړنګه، دا به ترټولو ښه وي چې په افغانستان کې د شوروي له پوځي شتون څخه ډډه وشي او دا کار خپلو افغان ملګرو ته پرېږدو، خو که داسې پلان شونی نه وي، بيا نو راځئ چې د پوځي مداخلې د غوراوي لپاره ځانګړې وړانديزونه د راتلونکې غونډې لپاره جوړ کړو.»

د سياسي بېرو غړي پوه شول چې عمومي منشي په ښکاره ستومانه و؛ نو غونډه يې سملاسي پای ته ورسوله. د خبرو اترو پايلو ته د سياسي بېرو د ۱۹۷۹ کال د اکتوبر د يودېرشمې غونډې په پروتوکول کې ځای ورکړل شو. په دغه غونډه کې د امين د کړنو يوه بېخونده ارزونه وړاندې شوه. د نوموړې په هکله وويل شول چې د ځينې کچه يې پراخه کړې او دې ته تابيا نيسي چې د سياسي بېرو د غړو يوه ډله له منځه يوسي، خو د خپلو خلقي همکارانو باور له لاسه ورکوي: د امين د هغو هڅو نښې نښانې ناراموونکې دي چې غواړي د مسلمانو مخالفينو له استازو او له حکومت ضد قومي مشرانو سره اړيکې ټينګې کړي. داسې نښې نښانې شته چې نوی مشرتابه د دې نيت لري چې د لوېديځو هېوادونو اړوند «په انډول برابر» سياست پلی کړي... له شوروي اتحاد سره د اړيکو په تړاو د امين چلند داسې دی چې پکې د صداقت نه شتون او دوه مخي ورځ تربلې ډېره روښانېږي... امين نه يوازې د شوروي پر ضد د خبرو او ليکنو مخنيوی نه کوي بلکې په ريښتيا يې ډوماري.

د سياسي بېرو په غونډه کې داسې پايله رامنځته شوه چې شوروي اتحاد له خاين، اکاړ او د واک تږي امين سره لاس او ګريوان دی او د دې خطر شته چې د خپل واک د ساتلو لپاره د رژيم سياسي تګ لوری بدل کړي.

د سياسي بېرو په لاسوندي کې د لاندې کړنو وړانديز شوی و:

۱. له امين او د افغانستان دموکراتيک جمهوريت له اوسني مشرتابه سره دې کار ته داسې دوام ورکړل شي چې امين ته د داسې انګېرنې وجه پيدا نشي چې موږ وربانديې باور نه کوو او نه غواړو چې له ده سره سروکار ولرو. د امين سره له اړيکو څخه دې داسې کار واخيستل شي چې پر امين فشار واچول شي او په عين وخت کې د ده د ريښتينی طبيعت په هکله مالومات ترلاسه شي.

www.samsoor.com

۲. په اوسني پړاو کې د امين په هکله زموږ عمومي تکتيک او د نوموړي هغه غوښتنه بايد په پام کې ونيول شي چې غواړي په رسمي يون مسکو ته راشي چې له ل. ا. برېژنېف او د شوروي له نورو مشرانو سره وګوري. موږ بايد په اصولو دغې غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړو، خو د راتګ لپاره يې بايد نېټه ياده نه کړو.

...

۴. په افغانستان کې د شوروي اتحاد د ټولو ادارو مامورينو ته بايد دستور ورکړل شي چې په هېواد کې له وضعيت څخه څارنه ډېره کړي او د ګوند او دولت له مشرانو او همدارنګه له پوځي قوماندانانو او څارګرې اداري له مشرانو څخه له نږدې څار وکړي.

۵. افغانستان ته دې پوځي مرسته په محدود ډول ورکړل شي... د درنو وسلو او پوځي تکنالوژۍ مرسته بايد د اوسمهال لپاره ودرول شي.

٦. ... د امين هغه غوښتنه بايد پوره نه کړل شي چې د ده د ساتنې لپاره شوروي پوځيان ورولېږل شي.

...

۱۱. په کابل کې د شوروي سفارت، کې جي بي، د دفاع وزارت او د مرکزي کمېټې د نړيوالو چارو څانګې بايد د امين او ده ته د نږدې کسانو هغه سياسي او عملي کړنې وڅېړي چې له لاندې خلکو او هېوادونو سره تړاو لري: د افغانستان نړيوالان (انترناسيونالېستان)، وطنپالان، هغه کدرونه چې په شوروي اتحاد او نورو سوسيالېستي هېوادونو کې يې زده کړې کړې دي، ارتجاعي مذهبي او قومي مشران او له بهرنيو هېوادونو په تېره بيا له چين او امريکا سره د افغانستان د بهرنۍ پاليسۍ اړيکې. که داسې حقيقتونه راڅرګند شي چې له شوروي اتحاد سره د امين د چلند بدلون ته نغوته کوي، بايد د هغه ګامونو په هکله نوي وړانديزونه جوړ شي چې شوروي اتحاد يې بايد پورته کړي.

په اصل کې که دغه لاسوندی د امين د مرګ حکم نه و، خو د ده په اړه د داسې حکم پيلامه وه. دغه لاسوندي «په افغانستان کې د غويي انقلاب د لومړي پړاو» د غميزې وروستۍ ډرامې ته لاره هواره کړه.

په پيل کې دا ډېره اړينه وه چې د امين په هکله شوروي اتحاد خپله ستراتيژي پټه وساتي. سبا ته په کابل کې د شوروي سفير ته دستور ورکړل شو چې امين ته خبر ورکړي چې مسکو د ده هغه غوښتنه په خوښۍ ترلاسه کړه چې شوروي اتحاد ته رسمي يون وکړي. کله يې چې فرصت برابر شو، شوروي مشران به دې ته حاضر وي چې ده ته هرکلی ووايي او د کاري او ملګرتيا په چاپېريال کې د هغو موضوعګانو په اړه د يو او بل له اندونو څخه خبر شي چې دواړو لوريو ته په زړه پورې وي.

په عین وخت کې د جنرال پاولوفسکي او د ده د مامورینو کاري دوره په افغانستان کې پای ته ورسېده. د پلو ځواکونو دغه قوماندان په خپلو راپورونو کې د پېښو په هکله خپل تعبیر ته دوام ورکړی و. ده یادونه کړې وه چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت وسلوال ځواکونه ښه ثبات لري او دوی په خپله پوځي وړتیا کولای شي په بریالیتوب د یاغیانو بریدونه په شا وتمبوي. دی پوهېده چې د ده تعبیر ته مارشال اوستینوف په ښه سترګه نه کتل. د دفاع وزیر نوموړي ته ډېر ځلې په تیلفون کې خپله ناراضتیا څرګنده کړې وه، خو پاولوفسکي یو له هغو لږموندمو جنرالانو څخه و چې (د ده په اند) د خپلو کاري هیلو په پرتله یې حقیقت ته ډېر ارزښت ورکاوه. پاولوفسکي په درېیم د نومبر ېبرته مسکو ته لاړ او دې ته تم و چې وزیر یې وروغواړي چې دی خپل وروستی راپور ورکړي، خو هغه څه چې نوموړی حیران کړ دا وو چې دی دوه اونۍ تم پاتې شو. مارشال بلاخره خپل ځانګړي استازي ته، چې د افغانستان وضعیت یې څه د پاسه دوه میاشتې څېړلی و، وخت ښل کړ. له ده سره د خبرو په پای کې، اوستینوف د دوی د خبرو لنډیز داسې څرګند کړ: «ته هلته په هېڅ نه یې پوه شوی، ته باید امین ته نه وای ورغلی.» وروسته له دې، د دفاع وزیر له پاولوفسکي سره د ډېر وخت لپاره خبرې و نه کړې. پاولوفسکي، چې د اوستینوف چلند هک پک کړی و، هڅه وکړه چې وجه یې له نازړه سواندي اوګرکوف څخه وپوښتي. اوګرکوف ورته وویل: «دغه وزیر د افغانستان په هکله له ما څخه هم مشوره نه غواړي. دی د مالوماتو نوري سرچینې لري.»
اوګرکوف، کله کله د سیاسي ښرو په کمېسیون کې حاضر و، په هغه وخت کې دی پوهېده چې دغه سرچینې څوک وې. نوموړی پوهېده چې ولې د ده راپورونه د دفاع وزیر ته د ځګلېدنې• سرچینه دي. د شوروي د مشرتابه په اوچت پوړ کې هغه پرېکړه نېږدې په کېدو وه چې امین له سیاسي ډګر څخه لیرې کړل شي حتی که د شوروي پوځ ته د نېغ ګډون اړتیا هم وي.
د منې له هغو ورځو څخه یو څو داسې لاسوندي پاتې دي چې د کرېملېن د لوړپوړو مزاج او هغې پرېکړې ته د

رسېدو ښېر څرګندوي چې له پوځي اړخه د نه مداخلې لومړنۍ پالیسۍ یې پر افغانستان باندې په یرغل واړوله. حقیقت دا دی چې د دسمبر په پای کې د شوروي پوځي مداخلې او د امین له هدفي وژنې وروسته، د بهرنیو چارو د څارګرې اداري ډېری لاسوندي د اندروپوف په نېغ امر له منځه یووړل شول. کېدای شي د جي ار یو او د دفاع وزارت ارشیفونو همدې ته ورته برخلیک لرلی وي؛ نو ځکه د دغه کتاب په لیکلو کې له هغو کسانو سره چې له دغو پېښو څخه ژوندي پاتې دي د مرکو او د دوی د یادښت کتابونو سربېره، پر څو پاتې لاسوندو باندې بسنه وشوه.

---

• ځګلېدنه: ځورېدنه او له وجې یې په غوسه کېدنه

www.samsoor.com

په مني کې د شوروي دفاع وزير ته نېږدې کسانو ونګېرل چې اوستينوف په کابل کې له خپل استازي څخه خوښ نه دی.
ده د امين د وينو تويول غوښتل او د دې ارزونه يې کوله چې يو شمېر پوځي ډلې افغانستان ته ولېږي چې د انقلاب ضد ځواکونو ته د پای ټکی کېږدي او په سيمه کې اړين ثبات ټينګ کړي، خو نوموړی د دغه اند د پلي کولو په ستونزو پوهېده. دی پوهېده چې دواړه، لوی درستيز او مرستيال يې په افغانستان کې د پوځي مداخلې په اړه له ده سره په ناټ کې شريک نه دي؛ نو خپل پلان يې د مناسب فرصت تر راتګ پورې پټ وساته. د اوستينوف له بېلابېلو يادونو څخه د ده نېږدې کسانو وانګېرل چې په افغانستان کې سختې شېبې راتلونکې دي.
يوې کوچنۍ ډلې چې له برېژنيف، اوستينوف، اندروپوف،ګروميکو او پنومروف څخه جوړه وه په دې خبرې وکړې چې څرنګه د ا خ د ګ ته په ښه توګه «د ګوند د مشرتابه لېنني ماډل» بېرته راولي. په دې کار کې د پرچم ګوند د مخالفو مشرانو او سپکو شوو خلقيانو ګډون هم په پام کې نيول شوی و. په غونډه کې د خبرو اترو په ترڅ کې د دغه عملياتو د ترسره کولو لپاره د کې جي بي لومړی لوی رياست د اصلي لوري په توګه غوره شو.
جنرال ايوانوف، چې د نوومبر په لسم له مسکو څخه بېرته کابل ته تللی و، په پټه خپل همکاران، بګدانوف، اوسادچي او چوچوکين خبر کړل چې شوروي مشرتابه يوه محرمه پرېکړه وکړه چې په ا خ د ګ کې «له سليمو غړو» سره مرسته وکړي. نوموړي په وضاحت ورته وويل: «دا د دې مانا لري چې د افغان دولت د مشر په توګه به امين ليرې کړل شي.» بيا يې زياته کړه: «ښايي ببرک کارمل واک ته ورسېږي .تاسې بايد دغه خبره پټه وساتئ - اوسمهال يوازې تاسې درې کسه پوهېږئ، نور هېڅوک نه دي خبر.»
دغه نوي خبر ته په پام سره، د غونډې ګډونوالو راتلونکې موخې په ګوتو کړې چې د کې جي بي استازې او مېشتې څانګې يې ترلاسه کړي .مخکې له دې چې غونډه پای ته ورسېږي، ايوانوف يو ځل بيا دوی ته سوګند ورکړ چې دغه خبر پټ وساتي او زياته يې کړه چې حتی د شوروي سفير بايد خبر نشي.
بوريس سيميونوويچ د کې جي بي د ريس د سلاکارې ډلې د نوي ګمارل شوي مشر په توګه بېرته مسکو ته لاړ. د اشد محرم S څانګې مشر، جنرال کېرپيچينکو Kirpichenko د پي جي يو د لومړي مرستيال په توګه د ده پرځای وګمارل شو. باخبرو مامورينو دغه بدلونې د کريچکوف اداري برياوې تعبير کړې. ايوانوف، چې ډېر درناوی ورته کېده او کريچکوف خپل سری ګاڼه، د څارګرې ادارې له عملياتي څانګو څخه ليرې کړل شو. د کې جي بي ريس د سلاکارانو ډله په ټوکه د «جنت ډله» يادېده او په حقيقت کې دا مقام د يوه عزتمن تبعيد څوکۍ وه. کېرپيچينکو ته د لوړې څوکۍ د ورکړې په هکله بايد وويل شي چې د اندروپوف او کريچکوف د هغه پلان په رڼا کې چې په افغانستان کې پوځي مداخله وشي، نېږدې راتلونکې

وښووده چې د ده ګمارنه ډېره مناسبه کړنه وه. دا ټیک د S خانګه وه چې په افغانستان کې د سیاسي بدلون د پیل لپاره تر ټولو حساسې دندې ورکړل شوې.

راتلونکی ګام له افغانستان څخه د پوځي ستر سلاکار، ګوریلوف راغوښتل وو. د اکتوبر په میاشت کې ګوریلوف ته بلنه

ورکړل شوه چې د افغانستان په هکله د سیاسي بیرو کمېسیون ته راپور ورکړي. ګوریلوف له لوی درستیز، مارشال اوګرکوف سره مل کریملین ته لاړ. نوموړي د افغانستان د سیاسي او پوځي وضعیت په هکله راپور ورکړ او د افغانستان د پوځ په هکله یې په دقیقه او واضحه توګه مفصلې څرګندونې وکړې. د ده د خبرو پر بنسټ، افغان پوځ د دې جوګه و چې د یاغیانو هر ګواښ په شا وتمبوي.

دغه پوځي ستر سلاکار په ډاډ وویل: «اوسمهال د افغانستان پوځ له لسو فرقو څخه جوړ دی، هوایي ځواک یې درې سوه الوتکې او وسلوال ځواکونه یې شپږسوه شوبلې لري. د افغانستان پوځ د داسې جنګي ځواک په لرلو سره په سیمه کې یو ترټولو هیبتناکه ځواک دی او د دې وړتیا لري چې ډېرې پېچلې دندې ترسره کړي. ځینې ستونزې چې لاتراوسه حل ته اړتیا لري دا دي: د ارتباطي وسیلو، پوځي او ترانسپورتي چورلکو نه شتون او د افسرانو او عسکرو کمزورې روزنه، خو موږ یې په حل بوخت یوو.»

برېژنېف په خوږه ژبه ګوریلوف ته دغسې وړاندیز وکړ: «موږ به یو شمېر خپل پوځیان درولېږو چې له تاسره په دغو هڅو کې مرسته وکړي.» برېژنېف، چې په ځواب کې له دغه سلاکار څخه د منندوینې تمه لرله، حیران پاتې شو کله چې ګوریلوف د ده پر دغه وړاندیز اعتراض وکړ. ګوریلوف وویل: «دغسې ګام هېڅ ګټه نه لري.» د سیاسي بیرو غړو د دوی خبرو ته غوږ نیولی و په داسې حال کې چې سترګې یې هغو لاسوندو ته ښکته نیولې وې چې مخې ته یې پراته وو .

عمومي منشي خپلې پلنې وروځې اوچتې کړې او ویې پوښتل: «نو ته په دې باور یې چې افغانستان داسې پوره سمبال دی چې زموږ له مرستې پرته د هغو جنګي اجیرانو د ګواښ پر وړاندې درېدلی شي چې د پاکستان له خاورې څخه ګمارل کېږي؟»

ګوریلوف ځواب ورکړ: «هو، لیونېد ایلیچ. زه په دې ډاډ لرم. نه یوازې زه په دې اند یم بلکې جنرال پاولوفسکي، چې له ډېر وخت راهیسې د افغانستان چارې څېړي، همدغسې اند لري. افغانان کولای شي چې ستونزې پخپله حل کړي .زموږ پوځیان باید افغانستان ته ونه لېږل شي.»

برېژنېف، چې هک پک پاتې و، په کوټه کې یې شاوخوا وکتل او یې پوښتل: «خو ولې؟» دا څرګنده وه چې عمومي منشي د داسې مالوماتو تمه نه لرله. ده ته په دې وروستیو کې ویل شوي وو چې د غوبې انقلاب د ناکامۍ په مورګه دی. نوموړي ته دا هم ویل شوي وو چې ګوریلوف د جګړې د پیر یو جنرال او یو پراشوټي دی او په چکسلواکیا کې د انقلاب ضد ځواکونو په بریالۍ ځپونه کې ګډونوال و .برېژنیف په

www.samsoor.com

ښکاره د داسې «سوله غوښتونکي» راپور تمه نه لرله.

ګوریلوف خبرو ته داسې دوام ورکړ: «په افغانستان کې له پوځي مداخلې څخه د ډډې لپاره یو شمېر دلیلونه شته دي. لومړی، لکه څنګه مې چې مخکې وویل، افغانان د دې توان لري چې د یاغیانو بریدونه پخپله شنډ کړي. د پوځي چورلکو او ارتباطي وسیلو سربېره، دوی د پوله ساتو پوځیانو د غښتلتیا لپاره هم لږ مرستې ته اړتیا لري. دویم دا چې امریکایان به خامخا زموږ له پوځي شتون څخه ګټه واخلي او په ښکاره او سخاوت به له یاغي ډلو سره مرستې وکړي. دا د دې مانا لري چې د اوسني خواره واره مقاومت پرځای به موږ له یوه متحد غبرګون سره مخ شو او وروستی دا چې ما ته داسې برېښي چې د شوروي پوځ په داسې غرنیزه سیمه کې د جګړې لپاره نه دی روزل شوی.»

مارشال اوستینوف خپلې سترګې له کاغذونو پورته کړې او په تروه بڼه یې ګوریلوف ته وویل: «هېڅ‌چا د دې حق نه دی درکړی چې د ټول شوروي پوځ په استازولۍ وغږېږې.» ګوریلوف ورته وویل: «دیمتري فېدوروویچ، زما اند له هغو افسرانو سره د مرکې پر بنسټ دی چې د شوروي له بېلابېلو پوځي اډو څخه د سلاکارانو په توګه افغانستان ته راغلي. له دوی څخه یو هم نه پوهېږي چې په غرونو کې څرنګه جګړه وکړي. دوی ته دغسې روزنه چا نه ده ورکړې. ما ته یو شمېر دلیلونه مهم ښکاري. په افغانستان کې به پوځي مداخله بې کچې ډېر لګښت ته اړتیا ولري. سربېره پر دې، داسې یوه غلطه ارزونه خطرناکه ده چې د دې باور رامنځته کوي چې زموږ پوځ به هېواد ته ننوځي او هلته به یوازې چونۍ جوړې کړي، خو حقیقت داسې دی چې دوی به سملاسي په پوځي نښتو کې ښکېل کېږي. دا به خامخا زموږ د پوځیانو او ملکي خلکو د وژنې په مانا وي؛ نو موږ به په سیمه کې ځان ته پخپله نوي دوښمنان پیدا کړو.»

اوستینوف یو ځل بیا په ترخه بڼه ګوریلوف ته وکتل .د کمېسیون نور غړي چوپ پاتې وو.

برېژنېف، چې د خبرو په بڼه کې یې ځګلېدنه نغښتې وه، وویل: «ستا راپور بشپړ شو؟ که داسې وي؛ نو په څېرمه کوټه کې یوه پیاله چای وڅښه. موږ به د کې جي بي استازي ته غوږ ونیسو.»

شاوخوا یو ساعت وروسته، مارشال اوګرکوف د غونډې له کوټې څخه ووت. ګوریلوف تر ګاډي پورې ورسره مل شو. د لوی درستیز مزاج ښه نه و .ده وویل: «لیو، خبره خلاصه ده. موږ بایلوده.»

کله چې ګوریلوف کابل ته لاړ، پوه شو چې ډېر ژر به خپل بکسونه وتړي. یو همکار یې ورته وویل چې د تېرې اونۍ راپدېخوا، د کماندو مرستیال قوماندان، جنرال ګوسکوف Gus'kov په مشرۍ د افسرانو یوه ډله په افغانستان کې په کار بوخته ده. د پروتوکول پر بنسټ، کابل ته له راتګ سره سم ګوسکوف باید د دفاع وزارت لوړپوړي مامور ته ځان وروپېژندلی وی. سربېره پر دې، دوی دواړه ملګري وو چې یو وخت دواړو د کوماندو غونډونو مسولیت درلود؛ نو حتی په غیررسمي توګه دوی باید خامخا سره لیدلي وی. ګوسکوف افغانستان ته په دې موخه راغلی و چې له بالقوه پوځي مداخلې څخه مخکې یوه سروې ترسره کړي. ډېره

شونې ده چې نومورې ته سپارښتنه شوي وې چې له ګوریلوف سره، چې د امین د خواخوږي اړنګ پرې کېده، خبرې و نه کړي. دا یو بد ښګوم و.
څو ورځې وروسته ګوریلوف ته د لوی درستیزوالۍ له خوا په تیلفون کې داسې وویل شول: «ستا ځای ناستی کابل ته دررسېږي، د خپلې څوکۍ پرېښودلو ته تابیا ونیسه.»
ستر جنرال س. ک. مګومتوف S. K. Magometov د زبایکالیه Zabaikaliya په سیمه کې د پوځي اډې د مرستیال قوماندان له څوکۍ څخه بدل او کابل ته ولېږل شو چې د ګوریلوف ځای ناستی شي. لنډه موده وروسته، جنرال وسیلي زپلتین، چې پخپله یې ځان د امین خواخوږی بللو، له خپلې څوکۍ څخه لیرې کړل شو. نومورې مسکو ته په ډېره مرموزه بڼه بېرته وغوښتل شو.
د دسمبر یوه ورځ وه چې زپلتین په افغان پوځي اکاډمۍ کې افسرانو ته درس ورکاوه. ناڅاپه د لکچر په منځ کې ده ته خبر ورکړل شو چې دی باید ژرترژره لاړ شي چې له لوی درستیزوالۍ سره د یو محرم تیلفون په وسیله خبرې وکړي. زپلتین له خپلو زده کوونکو څخه بښنه وغوښته چې درس یې په نیمایي کې پرېښود او په چټکۍ عسکري کلپ ته لاړ. هلته د دفاع وزارت د لسم لوی ریاست له مرستیال مشر، ډګر جنرال اوشرکوف Oshurkov سره ونښلول شو. اوشرکوف ده ته په تیلفون کې وویل: «ما ته ښه غوږ ونیسه او له ما څخه باید هېڅ پوښتنه و نه کړې. ستا لور د کمونست ګوند مرکزي کمېټې ته سوال وکړ چې نومورې له تا سره وګوري. غوښتنه یې ومنل شوه. ته باید ژرترژره مسکو ته راشې. پوه شوې؟» زپلتین په حیرانتیا په اوچت غږ وپوښتل: «زما په لور څه شوي؟»

اوشرکوف: *ما درته وویل چې پوښتنې به نه کوې.*

زپلتین: *د ایرفلوټ الوتکه د مسکو په لور الوتلې ده. بله الوتنه به دوه ورځې وروسته وي.*
اوشرکوف: *د دې اندېښنه مه کوه. په شپږو بجو ځان بګرام ته ورسوه. یوه الوتکه اجاره شوې چې تا راولي.*

زپلتین، چې په بشپړ ډول اوتر او د لور په هکله اندېښنې ربړاوه، د تیلفون درنه غوږۍ یې کېښوده او سفارت ته لاړ چې که هلته څوک نور مالومات ولري. سفیر تبییف له نومورې سره په خواخوږۍ وکتل، خو ویې ویل چې دی د نومورې د لور په هکله هېڅ مالومات نه لري؛ نو څه به پېښ شوي وو؟ زپلتین چې خپله لور ښه پېژندله، هېڅ دا خیال نه کاوه چې نومورې به مرکزي کمېټې ته له داسې غوښتنې سره تللې وي. سربېره پر دې، دی دومره مهم سړی نه و چې د شوروي مشرتابه د ده لپاره یوه ځانګړې الوتکه ورولېږي؛ نو د یو جنرال په هکله د داسې ناڅاپه خواخوږۍ تر شا څه شی و چې د ده د لور د غوښتنې ترسره کولو لپاره یوه ځانګړې الوتکه ورلېږل کېږي؛ نو خامخا څه خبره شته وه. زپلتین یو ځل بیا د سفیر له دفتر څخه اوشرکوف ته تیلفون وکړ.

www.samsoor.com

زپلتین: *زما لور ژوندۍ ده؟*

اوشرکوف: *هو، نورې پوښتنې مه کوه. په مسکو کې به په هر څه پوه شې.*

زپلتین په شلو دقیقو کې يوې چورلکې بګرام ته ورساوه. له شوروي اتحاد څخه الوتکه څلور ساعته ناوخته شوه او تېل اچولو يې هم ډېر وخت ونيو؛ نو سبا سهار وختي يې الوتنه وکړه. کله چې تاشکند ته ورسېد، په يوه پوځي IL-18 الوتکه کې کښېناست. نوموړی د دغه الوتکې يوازېنی مسافر و. له هوايي ډګر څخه د شوروي پوځ او سمندري ځواکونو سياسي رياست GlavPUR ته بوتلل شو او جنرال ايپيشيف ورسره وکتل. دغه جنرال له زپلتين څخه د دوو ساعتونو لپاره د افغانستان په هکله هر راز پوښتنې وکړې، خو د لور په اړه يې هېڅ ورته ونه ويل. ورپسې جنرال ايپيشيف ورته وويل: «زه بايد په مرکزي کمېټه کې يوې غونډې ته لاړ شم. ما ته همدلته تم اوسه.» زپلتين له دغه فرصت څخه ګټه پورته کړه او خپلې لور ته يې تيلفون وکړ: «ته ښه يې او هر څه سم دي؟» لور يې وويل: «هو، هر څه سم دي، ولې داسې پوښتنه کوې؟»

سبا سهار ايپيشيف، زپلتين د دفاع وزير ته بوت. اوستينوف له اوګرکوف سره يو ځای د هر کلي کوټې ته ننوت. نوموړي يو بالاپوش اغوستی و. د دفاع وزير، زپلتين ته وويل: «لومړی ملګري اوګرکوف ته راپور ورکړه، کله چې زه بېرته راغلم، بيا به تاسې دواړو ته د غونډې لپاره بلنه درکړم.»

زپلتين ته داسې وبرېښېدل چې اوګرکوف د ده له شننو سره په خواخوږۍ چلند کړی که څه هم نوموړي د افغانستان په هکله ده ته خپل اند نه و څرګند کړی. کله چې د دفاع وزير له مرکزي کمېټې څخه بېرته راغی، له اوګرکوف څخه يې وپوښتل: «له ملګري زپلتين سره دې خبرې وکړې؟» اوګرکوف ورته وويل: «هو، د ټولو موضوعګانو په هکله مې خبرې ورسره وکړې، خو ملګری زپلتين د پوځي مداخلې پر ضد په خپل دريځ ولاړ دی.» اوستينوف دغه سلاکار ته مخ واړاوه، په ځير يې ورته وکتل او په امر يې ورته وويل: «راته ووايه چې ولې؟»

زپلتين هغه څه يو ځل بيا وويل چې ډېر ځلې يې په خپلو راپورونو کې ليکلي وو. نوموړي وويل چې افغان پوځ په بشپړ ډول د دې وړتيا لري چې ستونزې پخپله حل کړي، د ملګري امين دريځ سم دی، امين شوروي اتحاد ته وفادر دی او بايد ډېر باور پرې وکړل شي.

د دغو خبرو په اورېدو سره وزير سور وخوټېد او ويې ويل: «ستا خپله تېره ژمنه په ياد ده؟ تا ويلي وو چې د تره کي حتی

يو وېښته به ضايع نشي. دا خبره دې په ياد ده؟ نو اوس ستا خبرې څه ارزښت لري؟ واخله - دا ولوله.» نوموړي

زپلتين ته يو تېلګراف ورکړ چې بګدانوف لاسليک کړی و. دغه تېلګراف لنډ و. د پوځي مداخلې موضوع ته نغوته

شوي وه، خو په نېغه توګه نه وه ياده شوې او د افغانستان وضعيت له ناهيليو څخه ډک څرګند شوی و.
زېلتين دغه لاسوندی ښېرته وزير ته ورکړ او په کلکه يې وويل: «ما به داسې يو ټېلګراف نه وی لاسليک کړی. په دې کې غلط تفسير ته ځای ورکړل شوی.» د دفاع وزير، چې ډېر ځاځمن ښکارېده، وويل: «غلط تفسير؟ دوی خپل سرونه په خطر کې اچوي چې موږ ته سمې شننې برابرې کړي.» زېلتين وويل: «درېغې چې دغه سرونه نېشه نه وای...». نوموړي دغه خبره مخکې له دې وکړه چې اوګرکوف د مېز لاندې ده ته پښه وروړه چې د دفاع وزير خبرې غوڅې نه کړي څو له جنجال سره مخ نشي. ورپسې زېلتين چوپ شو.
د نوموړي سترګې کابو له اوښکو ډکې شوې او په دې نه پوهېده چې د دفاع وزير ولې د خپلو جنرالانو په پرتله پر کې جي بي ډېر باور کوي. اوستينوف يو ځل بيا زېلتين ته ځير شو، ورپسې يې په اوګرکوف او ايپيشيف کې سترګې خښې کړې، خپل لاسونه يې وخوځول او داسې ښکاره شو لکه چې له ځان سره يې خبرې وکړې. ده وويل: «د خبرو لپاره نور څه نشته. اوس ناوخته دی، ډېر ناوخته دی.»
ډېر کلونه وروسته زېلتين پوه شو چې په همدغه ورځ د شوروي اتحاد سياسي ښېرو په افغانستان کې د پوځي مداخلې په هکله وروستۍ پرېکړه وکړه. د دفاع وزير له زېلتين سره هغه وخت وکتل چې د سياسی ښېرو له غونډې څخه ښېرته راګرځېدلې و.
د دسمبر په هغو ورځو کې زېلتين له يو دفتر څخه بل دفتر ته بدلېده، لومړی اودسې Odessa ته بدل شو او بيا لوو Lvov ته په دې پلمه بدل شو چې د هغه افغانانو مزاج وارزوي چې د شوروي اتحاد په پوځي ښوونځيو کې روزل کېدل. يوه ورځ نوموړی په مرکزي کمېټه کې له هغه جنرال سره مخ شو چې د لور په هکله يې ده ته دروغ ويلي وو .دغه جنرال، چې ډېر شرمېدلی و، وويل: «ما په خپل سر دغه خبرې درته و نه کړې. زما مشر راته وويل چې څه درته ووايم. ما ټکی په ټکی د هغه خبرې درته وکړې.»
زېلتين بيا هيڅ کله کابل ته لاړ نشو. په افغان پلازمېنه کې ګنګوسې وې چې نوموړی له ګوند څخه شړل شوی او له پوځ څخه يې تقاعد کړی، خو دغه ګنګوسې ريښتيا نه وې. زېلتين د اوږدې مودې لپاره په شوروي اتحاد کې خپل چوپړ ته دوام ورکړ، خو په خپل کاري ژوند کې يې د پرمختګ هيله نه درلوده.

فيکريت احمدجانوويچ تبييف Fikryat Ahmetjanovich Tabeyev په افغانستان کې د شوروي اتحاد د سفير په توګه وګمارل شو. کابل ته د نوموړي د تګ په هکله تر يوې کچې ځوبمنتيا شته وه . دا د پوهاوي وړ ده ځکه چې په يو ډيپلوماتيکي ماموريت کې د نوي سفير راڅرګندېدنه يو مهم پړاو وي. ټولو «پاکو»

www.samsoor.com

ديپلوماتانو، په تېره بيا لوړپوړو هغوی، د تبييف راتګ ته تابيا نيوله. د کې جي بي استازې او مېشتې ځانګې مشرانو ستراتيژۍ جوړولې چې څرنګه له نوي سفير سره اړيکې ټينګې کړي، کومې خبرې ورته ووايي اوکومې له ځان سره وساتي، خو د سفارت محاسب، تحويلدار، اشپز او باغوان په ځانګړې توګه ډېر انديښمن وو. دوی غوښتل چې په دې پوه شي چې سفير به په مالي او د سوداګرۍ په چارو کې څومره ځان ښکېل کړي، کوم ډول خواړه يې خوښېږي او د سبو د هغو پټيو په هکله به څرنګه چلند وکړي چې مخکني سفير د بادرنګو او ګازرو شيدياری پکې جوړې کړې وې.
د سفارت تحويلدار د تاس خبريال، راويل موسين Ravil 'Musin ته ورغی. له يوې اوږدې او کړوونکې سريزې څخه وروسته يې اصلي خبره پيل کړه.

تحويلدار: *راويله، زه پوهېږم چې ته يو تاتار يې.*
راويل: *هو، زه يو رېښتينی تاتار يم.*
تحويلدار: *نو راته ووايه چې د تاتاريانو کوم ډول بخاري حمام خوښېږي؟ څه فکر کوې چې د تبييف به زموږ د سفارت بخارخونه خوښه شي؟*
راويل: *زه هېڅ کله دغه بخارخونې ته نه يم تللی .ما ته هېڅ کله بلنه نه ده راکړل شوې، خو دا درته په ډاډ ويلی شم چې د تبييف به خوښه نه شي. زموږ، تاتاريانو رېښتينې روسي بخاري حمامونه خوښېږي چې توده بخارخونه او د سپېدار تازه لښتې ولري. هو رېښتيا، هغه څه ته چې ته روسي بخاري حمام وايې، په حقيقت کې تاتاري حمام دی. روسانو ډېر پخوا دغسې بخاري حمام له موږ څخه زده کړی دی.*

تحويلدار ته د روسي حمام خونې تاريخي قدامت په زړه پورې نه و، خو هغه مالومات يې چې غوښتل، ترلاسه يې کړل؛ نو دا يې اړينه وبلله چې د سفارت بخارخونه له سره جوړه شي. ورپسې يې له راويل څخه وپوښتل: «راويله، زموږ اشپز به دلته راشي چې له تا سره خبرې وکړي. کولای شې د تاتاري خوړو په هکله لږ مالوماتورکړې؟» راويل ورته وويل: «را دې شي، خو زه په پخلي دومره نه پوهېږم. د تاتارې کتغ په نومونو او مزې پوهېږم، خو دا ښه پوښتنه ده چې دوی څرنګه پخېږي.»
د تبييف له راتګ څخه مخکې کابل له ګنګوسو څخه ډک و. ځينو باخبرو خلکو ويل چې نوموړی په دوه دېرش کلنۍ کې د تاتار د سيمه ييزې ګوندي کمېټې مشر شو. له جګړې څخه وروسته په شوروي کې دی لومړنی کس و چې په داسې ځوانۍ کې د ګوند مشر شو. د ځوانانو سازمان د سيمه ييزې کمېټې عمر د کمونست ګوند د سيمه ييزې کمېټې د مشر له عمر څخه يوازې يونيم کال ډېر و.
د شوروي اتحاد په پېر کې تاتاريې ته د يوې مهمې صنعتي سيمې په سترګه کتل کېدل. تبييف ته د لېنن پنځه نښانونه ورکړل شوي وو. نوموړی د شوروي اتحاد د مشرتابه د عالي شورا او همدار راز د مرکزي کمېټې غړی و. دی د شوروي په لوړپوړو چارواکو کې يو ځلانده ستوری و. د سيمې د مشر په توګه وروسته

له نولسو کلونو څخه نوموړی ناڅاپه په کابل کې د سفیر په توګه وګمارل شو. ځینو ویل چې د ده ګمارنه یو ډول تبعید و ځکه چې بریژنیف غوښتل چې په کازان کې له داسې مخور سړي څخه چې ډېر خپلواک شوی و ځان خلاص کړي، خو نورو ویل چې دغه ګمارنه د ده د «اسلامي نسب» پر بنسټ شوې وه.
وروسته، تبییف د دغه کتاب یو لیکوال ته وویل چې مخکې له دې چې دی دغه څوکۍ ته په پام کې ونیول شي، د مرکزي کمېټې ملګرو یو شمېر نورو مخورو څېرو ته د سفارت د څوکۍ وړاندیز کړی و، خو دوی ټولو په بېلابېلو پلمو دغه څوکۍ نه وه منلې. مرکزي کمېټه په ګوند کې د یوې داسې مخورې څېرې په لټه کې وه چې ختیځې نسب ولري ځکه چې امین پر دې ټینګار کړی و. کله چې تبییف د مرکې لپاره وغوښتل شو، د مرکزي کمېټې منشي، سولوف Suslov سمدستي خبرداری ورکړ چې په افغانستان کې وضعیت ډېر پېچلی دی او له ده څخه، چې ډېره تجربه لري، غوښتنه کېږي چې هلته، ګواکې د لنډ وخت لپاره، د ستونزو د حل لپاره چارې ترسره کړي .تبییف په ځواب کې ورته وویل: «زه په اسانۍ نه وېرېږم. که ګوند په دې باور دی چې زه باید دغه دنده ترسره کړم، زه د دغه امر ترسره کولو ته چمتو یم.» سولوف ورته وویل: «هو، ته یو پېژندلی سیاستوال یې او ښایي چې افغان مشرتابه ستا د ګمارنې په تړاو خوښي وښیي.»
تبییف ته هېڅ وخت ورنه کړل شو چې تګ ته تابیا ونیسي. ده ته وویل شول چې سمدستي افغانستان ته لاړ شي. ده ته حتی دومره فرصت ورنه کړل شو چې په افغانستان کې د حالاتو په هکله لنډ مالومات ورکړل شي او ورته وویل شول چې افغانستان ته له رسېدو سره سم به «په هرڅه پوه شې. لومړی په دې ځان پوه کړه چې هلته څه روان دي او په
افغانستان کې له ژوندانه سره ځان اشنا کړه. ورپسې خپلې شننې له موږ سره شریکې کړه.»
د همدغه سپارښتنې پر بنسټ، تبییف د ۱۹۷۹ کال تر پای پورې حتی یو تېلګراف لاسلیک نه کړ. دغه نوی سفیر له خپلې مېرمنې سره د نوومبر په شپږویشتمه افغان پلازمېنې ته ورسېد او څو ورځې وروسته یې خپل اعتبارلیک امین ته وړاندې کړ. پوزانوف د تبییف له راتګ څخه پنځه ورځې مخکې له افغانستان څخه تللی و .ده مسکو ته له تګ وروسته د سپکاوۍ ننګېرنه وکړه ځکه چې په ډیپلوماسۍ کې د خپل بریالي کاري ژوند په بدل کې یې له ګرومیکو یا د ده له مرستیالانو څخه کومه ستاینه یا مننډوینه ترلاسه نه کړه. هېڅوا د افغانستان د حالاتو په هکله ترې ونه پوښتل؛ نو پوزانوف په دې باور شو چې په کابل کې یې له دندې څخه خپل مشران خوشاله نه وو .نوموړي تقاعد ته مخه کړه او خپل پاتې ژوند یې په چوپتیا په مسکو کې تېر کړ.
د هغه ورځې په سبا چې تبییف خپل اعتبارلیک امین ته وړاندې کړ، ده یو ځل بیا له امین سره وکتل چې نوموړي ته ووایي چې مسکو ومنله چې ده ته د افغانستان د ولسمشر په توګه په شوروي اتحاد کې هرکلی ووایي. حقیقت دا و چې مسکو لا د مخه د امین د مرګ حکم لاسلیک کړی و، خو سفیر پرې خبر نه و. د
www.samsoor.com

اجندا، د غونډو مهال وېش او کلتوري پروګرام په ګډون، تبييف او امين مسکو ته د ده د يون د پروګرام په هکله خبرې وکړې.
دومره وخت تېر نه و چې تبييف د خپلې څوکۍ په پېچلتياو پوه شو. دی په ا خ د ګ کې د شخړو او بېلتون په هکله په هېڅ نه پوهېده، د خلق او پرچم ويې يې مخکې نه وو اورېدلي، د افغان مشرانو د شخصي اړيکو تر منځ په توپير او توطيو خبر نه و او د تره کي د وژنې په وجه يې هېڅ مالومات نه لرل. دغسې فکتورونو په ګډه پر حالاتو باندې اغېز وکړ. يوازې د دسمبر په پای کې تبييف په دې خبر شو چې په مسکو کې د کارمل، ګلاب زوی او سروري په نومونو د مخالفينو استازي افغانستان ته د بيا تګ لپاره تم وو. په دغه وخت کی تبييف د امين د هدفي وژنې پر هغه پلان پوه شو چې د تېر دوبي راهيسې په کې جي بي کې خبرې پرې کېدې. دی د خپلې دندې په اوږدو کې په دوامداره توګه د افغان ټولنيز ژوند او سياسي جوړښت د اصلي شيرې په هکله کرار کرار پوهېده.*
تبييف هڅه کوله چې له امين سره د ليدنې کتنې په بهير کې خپل واټن وساتي او د پروتوکول پر بنسټ عمل وکړي. افغان مشر هم بيړه نه لرله چې شوروي سفير ته ډېر ورنېږدې شي. يوازې يو ځل يې داسې څه وويل چې ګواښ ته ورته وو: «زه هيله من يم چې د مخکني سفير د کړنو په هکله دې سمه پايله اخيستې وي.» تبييف د خپل بشپړ واکمن موقف په کار اخيستنې په بې پروايۍ عمومي منشي ته وکتل. داسې بربښېدل چې دی به له ننګېرنو څخه ډک ځواب ورکړي، خو د
ګوند روزنې دغه درس ورکړی و چې دغسې خبرې ځان ته سپکاوی ونه ګڼي؛ نو داسې سوړ ځواب يې ورکړ: «ګورو به.»

د نوومبر په مياشت کې دويم بريدمن ولېري کوريلوف، چې د اورلوف په سيمه کې د کې جي بي عملياتي مامور په توګه دنده درلودله، د دغې سيمې د کې جي بي مشر جنرال خپل دفتر ته ور وغوښت. په معموله توګه، دغه جنرال مشر به يوازې له مرستيالانو، د څانګو له مشرانو، د ښارونو او ولسواليو له مشرانو سره خبرې کولې؛ نو دا له پروتوکول څخه سرغړونه وه چې له داسې ټيټ پوړي افسر سره خبرې وکړي، خو دا يوه استثنايي قضيه وه.

*تبييف اووه کاله په افغانستان کې د شوروي اتحاد د سفير په توګه پاتې شو. دغه موده په کابل کې د پخوانيو او راتلونکو شوروي سفيرانو له کاري مودې څخه ترټولو اوږده وه.

له څو بابېزو پوښتنو وروسته، دغه جنرال، کوریلوف ته یو ټېلګراف ورکړ چې پکې امر شوې و چې په بهر کې د یو ښېږ مياشتني ماموريت لپاره کوريلوف ژرترژره مسکو ته ولېږل شي. بې اړنګه، جنرال غوښتل په دې پوه شي چې دغه افسر به چېرته ولېږل شي، خو خپله پوښتنيالي يې کابو کړه او د بريا هيله يې ورته څرګنده کړه.

کوريلوف، جنرال ته د مخه ښې لاس ورکړ. دی سملاسي پوه شو چې افغانستان ته به ولېږل شي او دغه خبر ته يې يو ډول د ارامی په سا ايستنې هرکلی وکړ. ورپسې مالي دفتر ته لاړ چې د يون لپاره خرڅ ترلاسه کړي. وروسته له دې چې په افغانستان کې د دوبې په پېښو کې ګډونوال او شاهد و، د ده افغانستان خوښ شوی و او د دغه هېواد د کوډګر اغېز لاندې راغلی و. په افغانستان کې د نه اټکلېدونکو څرنګتياو او د بوړنوونکي دوامداره خطر په پرتله په شوروي اتحاد کې د ده دنده بېخونده او ژوند يې ډېر پيکه و. د شفري تېلګراف بيړني حالت دا ښودله چې يوه ډېره جدي پېښه په رامنځته کېدو وه، خو مخکې له دې چې کوريلوف روان شي، يوه ستونزه رامنځته شوه. د ده مېرمنې، تتيانا، لکه د خطر ننګېرنه يې چې کړې وي، ده ته وويل: «ته هېڅ ځای نشې تللی.» کله چې پوه شوه چې خبرې يې پر ولېږې اغېز نه لري، له ده سره يې خبرې بس کړې. *

کله چې بلشيخه ته ورسېد، له ده څخه سمدلاسه خپل هغه ملګري «ورانکاران يا سبوتاژوونکي» چاپېر شول چې مخکې يې له دوی سره يوځای روزنې کړې وې او يو ځای فارغ شوي وو. د ده ملګري د شوروي اتحاد له بېلابېلو برخو څخه راغلي وو او په څوبتيا يې خبرې کولې چې چېرته به ولېږل شي. د دوی په خبرو کې د افغانستان نوم په وار وار ياد شو.

سبا ته د روزنيز ښوونځي مشر، ډګروال بايرينوف د ياد شوي اټکل داسې پخلی وکړ: «موږ افغانستان ته ځو. ټول بايد په دوامداره توګه تګ ته چمتو وي.» يوه ورځ تېره نه شوه چې دغه ورانکاران په يو بس کې کښېنول او په ياسينېوا کې د پي جي يو مرکزي دفتر ته ولېږدول شول چې نور مالومات ورکړل شي. د پوځي څارګرې اداري لومړي مرستيال مشر، کېرپيچينکو Kirpichenko دوی ته وويل چې د زينت د ځانګړې ډلې د يوې برخې په توګه، دوی به هېواد ته يوه ځانګړې او ډېره مهمه دنده ترسره کړي.

د دغه دندې د څرنګتيا په هکله دوی ته په راتلونکې کې مالومات ورکول کېدل. د دوی ډله په کوچنيو ډلو ووېشل شوه.

کوريلوف د يوې داسې ډلې غړی شو چې له پي جي يو څخه د څارګرو فعاليتونو د شنډولو افسرانو، د افغانستان

---

* د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په ۲۷مه، ولېږي کوريلوف د امين د نسکورولو د عملياتو په بهير کې سخت ټپي شو.

www.samsoor.com

کارپوهانو او نورو داسې افسرانو غښتلې کړې وه چې ډېره تجربه یې درلوده. ډګروال الکساندر تیتوویچ ګولوبېف Titovich Golubev د دوی د ډلګۍ د مشر په توګه دوی ته وروپېژندل شو .ګولوبېف یو غلی او پامیالی بلاروسی و چې د کوریلوف سملاسي خوښ شو او د ده په ښکاره جدیت او اعتبار اغېزمن شو. کوریلوف ده ته ښې سپارښتنې وکړې چې له ځان سره څه شی واخلي او څرنګه جامې واغوندي.
د راتلونکي ماموریت په هکله کومې ځانګړې یادونې ونه شوې، خو د دوی د لوی مسولیت او هغه باور په هکله ډېرې خبرې کېدې چې پر دوی باندې ګوند او حکومت کړی و.
بلاخره جنرال د وینا دریځ تر شا ودرېد او حاضرینو ته یې وینا پیل کړه: «کومه دنده چې تاسې ته درکړل شوی، ستاسې
د ژوند خطر پکې شونی دی؛ نو له دې کبله دغه ډله د رضاکارۍ پر بنسټ جوړېږي.» بیا جنرال په اوچت غږ وویل: «زه ټینګار کوم چې تاسې هر یو کولای شئ چې دغه دنده ونه منئ او ستاسې داسې پرېکړه به پر تاسې هېڅ بد اغېز رامنځته نه کړي. پر دې باندې ښه فکر وکړئ او خپل توان، شونتیاوې او بالقوه خطر وارزوئ. زه یو ځل بیا وایم چې زموږ مشرتابه د دې پوهاوی لري چې له تاسې څخه هر څوک چې په هر دلیل وي په افغانستان کې دغه دنده د ځان لپاره سمه ونه بولي. ایا داسې څوک شته چې افغانستان ته تګ نه غواړي؟» په ګډونوالو کې چوپتیا خوره وه. هېچا خپل لاس اوچت نه کړ. جنرال بیا وویل: «هېڅوک؟» جنرال ښکارېده چې د ارامۍ ننګېرنه یې وکړه. دې لږ تم شو او بیا یې وویل: «نو چې داسې ده، زه تاسو ټولو ته ښه بخت غواړم.»
کله چې دوی په بس کې بېرته بلشیخه ته روان وو، کوریلوف ته څېرمه یو ناست سړي وویل: «تا ویل چې هر هغه څه چې موږ دلته زده کول، هېڅ کله به ترې کار وانه اخیستل شي، خو اوس داسې جوته شوه چې ښايي موږ ته ډېر ګټور وي.» کوریلوف په همغږۍ وویل: «هو، ډېره شونې ده، داسې ښکاري چې اوس یې وخت راورسېد.» په تیاره کې پر دوی باندې چا غږ وکړ: «او سړیو، چوپ شئ! مه وارخطا کېږئ، موږ به کابل ته ځو چې یو ځل بیا د سفارت د خلکو ساتنه وکړو.»
څو ورځې وروسته، دغه ډله لومړی تاشکند ته، چېرته چې دوی ټولو د عادي عسکرو یونیفورم واغوست او بیا د بګرام هوايي اډې ته ولېږدول شوه.
د ګولوبېف ډلې د زینت غړو ته ویل شوي وو چې دوی به په درواغو د هغې تخنیکي انجنیرۍ ډلې په نوم یادېږي چې د جي ار یو له هغه ځانګړي ځواک سره مرسته وکړي چې وروسته تاریخ د «مسلمان کنډک» نوم پرې کېښود. دغه کنډک په بګرام کې له یوې مودې راهیسې بیړني حالت ته چمتو تم و. یو هک پک عملیاتي افسر وپوښتل: «که موږ ماین پاکوونکي یوو، نو د ماین پاکولو وسیلې مو چېرته دي؟» ګولوبېف، چې د بریدمل نښان یې پر لستوڼي ټومبلی و، ورته وویل: «وروسته به راوړل شي.» کله کله به نوموړی د اوږده وخت لپاره چېرته لاړ. هره ورځ به باروړونکې الوتکې، چې له خلکو، مهماتو او زغروالو ګاډو ډکې وې

په هوايي ډګر کې کښېناستلې. د بلشيخه فارغين د شوروي له بېلابېلو سيمو څخه راغوښتل کېدل چې افغانستان ته ولېږل شي. دا له ورايه ښکارېدل چې لوی عمليات په پيلېدو وو.

د ايوانوف په کور کې له هغه نه هېرېدونکي غونډې دوه اونۍ تېرې شوې وې چې ده پکې د غونډې ګډونوالو ته د چوپتيا سوګند ورکړ. ايوانوف دوی ته ويلي وو چې د شوروي په لوړ پوړ کې پرېکړه وشوه چې د «ا خ د ګ له سليمو ځواکونه سره يو لاس شي.» خو ده ته تراوسه له مسکو څخه نوري ځانګړې سپارښتنې نه وې رارسېدلې. بګدانوف پوهېده چې پاې نېږدې دی. ډېرو نښو نښانو د ده د ګومان پخلی کاوه. له مرکز څخه ورځ تر بلې ډېر نوي خلک افغانستان ته رسېدل: د ځانګړو ځواکونو عملياتي افسران، د څارګرو فعاليتونو د شنډولو مامورين او له دفاع وزارت څخه ځينې مرموز جنرالان. دا څرګنده وه چې يو لوی کمپاين په لاره و، خو دا به څرنګه کمپاين وی؟ چا به ترسره کړی وی؟ او ناولی کار (د امين وژنه، ژباړن) به چا ترسره کړی وی، مخالفو ځواکونو يا شورويانو ؟ مرکز ګونګۍ پاتې و. بګدانوف او اوسادچي اړ شول چې په خپل سر څارګر مامورين د امين په شاوخوا کې وګماري. دوی وېټپيله چې بايد هر راز پېښو ته چمتو وي او ويې ننګېرله چې هر څه چې پېښېږي، ډېر ژر به پېښ شي.
د زينت نويو رارسېدلو غړو ته دنده ورکړل شوه چې په کابل کې د مهمو ځايونو څېړنه وکړي - د دفاع وزارت، د کورنيو چارو وزارت، دولتي ودانۍ، د اړيکو مرکزونه، د راديو او تلويزيون مرکزونه، زندانونه او هوايي ډګر. پر دغو ځايونو باندې د يرغل او د نيولو تکتيکونو ته په پام سره، دوی  د ورتګ او شاتګ لارې وڅېړلې.
 امين ته لاس رسی بې کچې ستونزمن شو، خو د امين په مل ډله کې يو شمېر داسې شوروي کارپوهان شته وو چې له کې جي بي سره يې تړاو نه درلود لکه د خوړو کارپوهان چې د دولت مشر او کورنۍ ته يې د خوراکي توکو په اړه سپارښتنې کولې. پر دوی باندې د راروانو پېښو په هکله د حساسو چارو باور نشوی کېدی .بګدانوف او اوسادچي له دوی سره محدودې اړيکې ټينګې کړې چې د خوړو په هکله د امين په خوښو، د ده په نيمګړتياو او ورځني مهال وېش پوه شي. له دوی سره خبرې اترې هغه وخت ترسره کېدې کله به چې دوی سفارت ته تلل خو له هر راز بدګومانۍ څخه ډېډه شوې وې .په نېږدې راتلونکې کې، د امين په کړی کې د خوړو له دغو کارپوهانو سره له مسکو څخه يو نوی اشپز هم يوځای کېده .
يو بل سړي هم له امين سره نېږدې کار کاوه. د کې جي بي له نهم رياست څخه جګړن يوري کوتيوف د امين د شخصي ساتونکو (ګارد) له قوماندان، جانداد سره د سلاکار دنده ترسره کوله، خو لکه څنګه چې

کوتپوف د نهم ریاست له مشرتابه څخه کومه ځانګړې لاربښوونه نه وه ترلاسه کړې (ده ته لاربښوونه ونشوه ځکه چې هر څه اشد محرم وو)، دی د زړه له تله او په اخلاص د امین د امنیت په ساتلو کې بوخت و. دا یوازینی امر و چې نوموړي ترسره کاوه - هېچا ته به اجازه ورنکړی شي چې د ده تر ساتنې لاندې سړی وګواښي. دا سمه نه برېښېده چې له ده څخه داسې حساسې غوښتنې وشي چې د ده تر ساتنې لاندې سړي ته یې ګواښ پېښاوه. وروسته، کله چې ډرامه مخته روانه وه، دغه محرمیت د ډرامې په ډېرو ګډونوالو اکاړې ټوکې وکړې.*
داسې پلان و چې د دسمبر په میاشت کې ولسمشر د ارګ له ماڼۍ څخه د کابل هغه څنډې ته کډه وکړي چېرته چې د دارلامان واټ پای ته رسېده. هلته، له ښاریانو څخه لیرې یوه ښایسته ماڼۍ -کابو یوه کلا - د غونډۍ پر سره ولاړه وه. مخکې، له دغه ماڼۍ څخه د کابل چونۍ د اصلي اډې په توګه کار اخیستل کېده او له انقلاب څخه وروسته، د جرمني کارپوهانو په مرسته سمدستي په بنسټیزه توګه په بشپړ ډول بیا ورغول شوه. دغه ماڼۍ ته هر هغه څه ورزیات کړل شول چې د ولسمشر د ژوند او کار لپاره اړین وو. په لګښت کې هېڅ صرفه ونشوه او په سخاوت په مرمرو، ګرانیټ او عقیقو ښکلې کړل شوې وه. ښایسته رڼو قندیلونو یې کوټې رڼا کړې وې او لرګین غولي یې په لاسي کار جوړ شوي وو ، خو دغه ځای یوه مهمه تشه درلوده. د ارګ ماڼۍ د ښار په زړه کې وه چې کلا ته ورته پلن دفاعي دېوالونه ترې چاپېر وو حال دا چې د تاج بېک ماڼۍ لوڅه لغړه ولاړه وه او د امنیت له اړخه تر یوې کچې زیان منوونکې وه، خو د یوې ناځرګندې وجې له مخې امین یې په اړه اندېښنه نه لرله. ده په فعاله توګه لېږد ته تابیا نیوله او پخپله به یې له بېلابېلو ډیزاینونو، د خپلې کورنۍ د استوګنځي، خپل دفتر او د ماڼۍ د رسمي دالان له فرشولو څخه کتنې کولې.
د نوومبر په پای کې بګدانوف د ګارد له قوماندان، جګړن جانداد سره وکتل. نوموړي په دې وروستیو کې د تره کي د
امنیت دنده درلوده، خو په مناسب وخت کې یې سیاسي لوری بدل کړ او د سپتمبر په بغاوت کې یې نه یوازې د امین شاندار ملاتړ وکړ بلکې د عمومي منشي او د ا خ د ګ د بنسټ ایښودونکي په وژنه کې د نېغې ونډې په وسیله یې امین ته خپله وفاداري ښودلې وه. بګدانوف د یو ژباړن په مرسته جانداد ته وویل: «ملګری جانداد، موږ غواړو چې د ولسمشر له راتلونکي استوګنځي څخه کتنه وکړو. ایا د امنیت له اړخه هر څه په پام کې نیول شوي؟ د یاغیانو او ترهګرو په فعالیتونو کې وروستي ډېرښت ته په پام سره، په مسکو کې زموږ مشرتابه د ولسمشر د امنیت په هکله خپله اندېښنه څرګنده کړې. موږ به هېڅ کله ونه بښل شو که ملګري امین ته څه پېښ شي.» جګړن جانداد د کې جي بي استازي ته ډاډ ورکړ او ویې ویل:

*جګړن کوتپوف، چې له خپلو مشرانو څخه د امین د «مرګ حکم» په هکله هېڅ لاربښوونې نه ترلاسه کولې، د دغه محرمیت له وجې له لوی خطر سره مخ و ځکه چې دی تر خپلې وروستۍ شېبې پورې خپلې ورکړل شوې دندې ته وفادار پاتې کېده.

«ولې نه، ولې نه. هر وخت چې غواړې، زه به د ماښې د کتنې لپاره درسره لاړ شم.» سبا ته ايوانوف، بګدانوف او د کې جي بي يو شمېر نور افسران د جانداد په ملتيا د تاج بېګ غونډۍ ته لاړل. دغه غونډۍ شاوخوا درې کيلومتره د دارلامان په لور له سفارت څخه ليرې ده. ماڼۍ ته نېغه لاره تللې وه. دغه مېنه له دوو ښايسته ودانيو څخه چې له يو او بل څخه جلا وې جوړه وه. جګړن جانداد وويل: «موږ به دلته د دفاع وزارت او لوی درستيزوالۍ ځای پرځای کړو.» وروسته کيڼ لوري ته ناڅاپه لاره کږه وه او د يوې دروازې په وسيله بنده شوې وه. يو ښه مظبوط شوی پاټک يې څنګ ته جوړ شوی و. جانداد وويل: «له دغه ځای څخه منع سيمه پيل کېږي چې د تاج بېګ له ماڼې څخه شاوخوا يو کيلومتر ليرې دی. دلته يوازې هغو ګاډو ته اجازه ورکول کېږي چې د اجازې ځانګړی کارت ولري. ماڼۍ ته کومه بله لاره نشته.» د کې جي بي مامورينو وکولای شول چې د افغان دېکتاتور راتلونکی استوګنځی په ډېر تفصيل وګوري. دوی په ډېر پام له تل خونې څخه نيولې د امين تر شخصي حريم، خوب خونې، تشنابونو او ساقي ځايونو پورې وکتل. هغو افسرانو، چې مخکې تر مخکې دستور ورکړل شوی و، ټولو کوچنيو جزياتو ته پام اړولی و لکه دراوزې، کړکۍ، زينې، لېفتونو، اخې•، خوړنځې، الماری، دالانونو او د ننوتنې دالانونه. د کې جي بي مامورينو دغه ماڼې نه يوازې د پوځي بريد له اړخه څېړله بلکې د ځار او پټې ننوتنې لپاره يې هم ارزوله. دوی په همدغه ورځ د ماڼۍ ټولې ځانګړتياوې په ډېر تفصيل وليکلې، د هر پوړ نقشې يې وکاږلې، يادښتونه يې وليکل او ټول لاسوندي يې په يو سيف کې خوندي کړل.

د مرکز مشرتابه چې د يو ټيلګراف په وسيله له دغې کتنې څخه خبر شو، په نيولې توګه يې د دوی ستاينه وکړه او سپارښتنه يې وکړه چې په دې لاره کې بايد اجنټان کار ته دوام ورکړي او د «تر پوښتنې لاندې سړي» ته د ورتګ لارې چارې وڅېړي. وروسته ښه بخت بګدانوف ته غېږ پرانيسته.

کله چې بګدانوف د کې جي بي مېشت مشر په توګه په ايران کې ژوند کاوه، ده ته د S له څانګې څخه د ستاژ لپاره يو زده کوونکی وروسپارل شو. نوموړی د ميخايل ت Mikhail T په نوم راتلونکی پټ څارګر افسر و. کله يې چې د ستاژ وخت پوره شو، ده هيله څرګنده کړه چې د مخه ښې په يوه ماښامنۍ مېلمستيا کې شوروي اتحاد ته خپل ببرته تګ ولمانځي. دا ښکاره وه چې هېڅ رستورانت د داسې لمانځنې لپاره مناسب ځای نه و؛ نو (ميخايل ت) وړانديز وکړ چې د خپل لارښود په اپارتمان کې به مېلمستيا جوړه کړي او دی به پخپله اشپزي وکړي. دلته څرګنده شوه چې دغه پټ څارګر افسر (ميخايل ت) پخوا د اشپز مسلک درلود.

• اخه: په دېوال کې جوړه شوې تاخچه

د نوموړي دغه مېلمستیا یوه لویه بریا وه. میخایل په پخلي کې، په تېره بیا په اذري خوړو کې له ځان څخه معجزې

وښودې، خو له دغې مېلمستیا څخه وروسته، بګدانوف د میخایل په هکله هېڅ خبر نه درلود.

دغه دواړه ناڅاپه په کابل کې سره مخ شول. کله چې بګدانوف له کابل څخه ووت، لکه څنګه چې د ۱۹۷۹ کال په وروستیو اونیو کې دود ګرځېدلی و، بګدانوف غوښتل چې د زینت افسران یې ملتیا وکړي. د ځانګړو ځواکونو افسران په یو والګا کې سفارت ته راورسېدل او بګدانوف ته تم وو چې له سفارت څخه ووځي. په هغه شېبه کې چې بګدانوف په خپل مېرسیدس کې کښېناسته، ناڅاپه یو چا پرې غږ وکړ او د ده نوم یې واخیست. بګدانوف چې دغه سړي ته مخ واړاوه، هک پک شو چې هغه پخوانی زده کوونکی یې ولید چې له ده سره یې دوه کاله مخکې په تهران کې خپله د ستاژ دوره تېروله. په نورماله توګه، دغسې اجنټان حتی پخپله د S په څانګه کې پټ ساتل کېدل. بګدانوف فکر وکړ چې د پټ اجنټ په توګه به د نوموړي په دنده کې کوم ګړبړ شوی وي او یا ښایي د کوم خیانت قرباني شوی وي چې اوس د زینت د افسر په توګه کار کوي. بګدانوف په حیرانتیا ترې وپوښتل: «میشه Misha، ته دلته څه کوې؟» دغه افسر ځواب ورکړ: «زه کابل ته راولېږل شوم ځکه چې د دري ژبې په ګډون په ختیځې ژبو پوهېږم. داسې برېښي چې دوی فکر کوي زه به دلته ګټور وم.»

بګدانوف سمدلاسه پوه شو چې دی به بې اړنګه ډېر ګټور وي؛ نو خپل پخواني زده کونکي ته یې سمدلاسه د پلانونو جوړول پیل کړل. په همدغه ورځ له غرمې څخه وروسته کله چې له خپل یون څخه بېرته راغی، بګدانوف خپل وړاندیز مرکز ته ولېږه. ده داسې پلان جوړ کړ چې هغه په ریښتیا اشپز چې له مسکو څخه یې راتګ ته تابیا نیوله چې د امین او د ده د کورنۍ چوپړ وکړي باید هملته پاتې شي او پرځای یې د زینت افسر، میخایل ت د امین د اشپز په توګه وګمارل شي. جنرال دغه پلان له اورېدو سره سم پرته له ځنډ څخه منظور کړ او ویې ویل: «ډېر ښه، لیونېد پاولوویچ. ته باید خپل پلان پلی کړې. زه پوهېږم چې ستا پټ څارګر افسر به په درېیو ورځو کې د امین پخلنځی خپل کړي.»

بګدانوف په اعتراض وویل: «نه، د ده پلمه باید هېڅ راز تشه ونه لري. دی باید په پټه له بګرام څخه بېرته شوروي اتحاد ته لاړ شي. هلته باید له GKES* څخه لاسوندي ترلاسه کړي څو د یو ریښتیني اشپز په توګه له لوښیو او امین ته د ډوډۍ د رژیم له سپارښتنو سره یوځای بېرته افغانستان ته راشي. ایوانوف یې په ځواب کې وویل: «په دې به وخت ضایع شي.» خو بلاخره یې د بګدانوف خبرې ومنلې.

څو ورځې وروسته د خوړو یوه ښځینه کارپوه په سفارت کې له بګدانوف سره مخ شوه. نوموړې په خوښۍ بګدانوف

---

*د بهرنیو وټه ییزو اړیکو دولتي کمېټه: د هغه ملکي کارپوهانو د یونونو چارې په همدغه اداره کې بشپړېدلې چې په بهر کې یې ژوند او کار کاوه.

ته داسې خبر ورکړ: «زموږ ډلې ته یو نوی کس هم ورزیات شو. په یاد د دي چې ما تاسې ته وویل چې یو بل اشپز به هم

له موږ سره یوځای شي؟ هغه اوس راغلی او په مکروریانو کې یو اپارتمان ورکړل شوی. موږ ورسره مرسته کوو چې ځای

پرځای شي. نوموړی یو وړ اشپز ښکاري که څه هم لږ شرمناک دی او حتی بهر وتلو ته هم زړه نه ښه کوي.»

بګدانوف له ځان سره فکر وکړ: «شرمناک؟ ډېر ښه. دی باید داسې وښيي چې د لومړي ځل لپاره کابل ته راغلی، باید هر څه ورته نااشنا ښکاره شي او ښه ده چې بهر ته ونه وځي چې د زینت کوم افسر ورسره مخ نشي. دا به ټول عملیات په خطر کې واچوي.»

سبا ته بګدانوف وکولای شول چې د امین له شخصي «اشپز» سره باوري اړیکې ټینګې کړي. نوموړي د امین د مهال

وېش، خوراک، په استوګنځي کې د کوټو ځایونه، او د مېلمنو د څرنګتیاو په هکله د اړینو مالوماتو ورکړه پیل کړه.

تراوسه اشپز ته نوري دندې نه وې ورکړل شوې، .د ده د اصلي کار شېبې لاتراوسه نه وې را سېدلې.

د امین په وژنه کې له اشپز څخه د یوې وژونکې وسیلې له کار اخیستنې سربېره، نور بدیلونه هم وڅېړل شول. د زینت د ورانکارۍ له کارپوهانو سره د چاودېدونکو توکو د ایښودلو په لارو چارو خبرې وشوې. بګدانوف خبر شو چې د زینت په افسرانو کې یو ښه نښه ویشتونکی شته؛ نو غوښتنه یې وکړه چې له ده سره مخامخ خبرې وکړي. نښې ویشتونکي بګدانوف ته ډاډ ورکړ چې: «زه د دوو کیلومترو په واټن کې نښه ویشتلی شم.» بګدانوف ترې وپوښتل: «او نښه به د څومره سمه لګېږي؟» ده ځواب ورکړ: «د ورځ په رڼا کې، سل په سلو کې سمه.»

د دسمبر په درېیمه، د څارګرې ادارې نوی مرستیال مشر، جنرال کېرپیچېنکو کابل ته لاړ. دا یوه ښکاره نښه وه چې پېښې په پیلېدو وې.

د دسمبر په لومړیو کې اوګرکوف، د ده مرستیال، اکرمییف Akhrameev او د اوپراسیون ریاست مشر وېرنیکوف Varennikov یوه وروستۍ هڅه وکړه چې د دفاع وزیر په دې قانع کړي چې په افغانستان کې

www.samsoor.com

پوځي مداخله و نه کړي. اوګرکوف اوږدې او په تفصیل خبرې وکړې او د مداخلې پر ضد يې شوني دليلونه ياد کړل. وروسته له دې چې اوګرکوف ته يې غوږ ونيو، د دفاع وزير له GlavPUR مشر، ايپيشف Epishev، چې په دغه غونډه کې حاضر و، وغوښتل چې په دې اړه خپل اند څرګند کړي.
ايپيشف، چې په دې وخت کې يې د وزارت په مشرتابه کې مزاج او د واک انډول ارزولی و، له نېغ ځواب څخه ډډه وکړه چې څه زيان ورته ونه رسېږي او ويې ويل: «لوی درستيز هر وخت خپل ښه اند لري.» اوستينوف، شاوخوا سترګې واړولې او پرته له دې چې چا ته وګوري وويل: «ښه نو، زه به د لوی درستيز پر اند باندې فکر وکړم.» اوګرکوف کابو په زاريو او په ډېره شخصي بڼه د دفاع وزير ته وويل: «ديمتري فېدوروويچ، موږ پر تا باندې ډېرې هيلې تړلې دي.» اوستينوف ځواب ورنه کړ.
د دسمبر په اتمه، اوګرکوف د افغانستان په اړه د سياسي بېرو د کمېسيون غونډې ته وبلل شو. د کوم دليل پر بنسټ، په غونډه کې د پنومروف پرځای سوسلوف راغلی و. برېژنېف نشته و. لوی درستيز ته يو بل فرصت ورکړل شو چې خپل دليلونه څرګند کړي. ورپسې کمېسيون پر نورو بدیلونو اوږدې خبرې وکړې. دوی په دوامداره توګه له اوګرکوف څخه پوښتنې کولې او په غونډه کې د امين د برخليک په هکله خبرې ونشوې. کېدای شي چې د نوموړي برخليک لا د مخه ټاکل شوی و. خبرې اترې د افغانستان د بايللو پر بالقوه پايلو راڅرخېدلې. د افغانستان بايلل به د شوروي اتحاد د منځنۍ اسيا پر جمهوريتونو څرنګه اغېز وکړي؟ ايا د امريکا پرشنګ Pershing توغندي به هلته ځای پرځای شي؟ ايران او پاکستان به څه وکړي؟ کله يې چې اوګرکوف ته له غونډې څخه د تګ اجازه ورکړه، د سياسي بېرو غړو پرېکړه وکړه چې د کې جي بي ځواکونه بايد د امين په نسکورولو کې ښکېل شي او «د ا خ د ګ سليم غړي» د واک ته ورسوي. که د ځينو دليلونو له مخې دغه کار ناشونی شي، بيا بايد د شوروي پوځ په دغه عملياتو کې نېغ ښکېل شي. اوستينوف چې د غونډې په ټول بهير کې چوپ و د شوروي هغه پوځ ته چې افغانستان ته لېږل کېده داسې نوم ورکړ: «يوه محدوده
پوځي ډله. موږ به يې په دې نوم يادوو: د شوروي اتحاد يوه محدوده پوځي ډله.»
سبا ته کله چې اوګرکوف يو ځل بيا هڅه وکړه چې د دفاع وزير قانع کړي چې پوځي مداخله هېڅ مانا نه ورکوي، د دفاع وزير پر دغه مارشال چيغه وکړه: «د سياسي بېرو غړو ته لکچر مه ورکوه. امر يې ترسره کړه.»اوګرکوف وويل: «لوی درستيز په داسې وخت کې کرار نشي کېښناستلی چې د هېواد په هکله يې داسې حياتي پرېکړې کېږي.» د دفاع وزير، چې ناست و، ودرېد او په غوړمبهاري يې وويل: «څه به وکړې؟ ايا دا غواړې چې د هېواد مشرتابه او د ګوند غوښتنه زيانمنه کړې؟ زما له يوې مودې راهيسې تا ته پام دی چې ته په دوامداره توګه د وزير تر شا په دسيسو کې ښکېل يې .نور نو بس دي. درکړل شوی امر ترسره کړه.» بيا يې په ډرامتيکه بڼه شا واړوله او خبرو اترو ته يې په عمل کې د پای ټکی کېښود.
د دفاع وزير له دفتر څخه له وتلو وروسته، لوی درستيز د وزيرانو شورا رييس، کاساګين او د بهرنيو چارو

وزارت لومړي مرستیال، کورنیینکو ته تیلفون وکړ. دوی دواړه له اوګرکوف سره همغږي وو. مارشال په خپګان وویل: « نور یې په اړه څه نشي کېدای. اوستینوف ما ته د غوږ نیولو مینه وال نه دی او په خپل دریځ ټینګار کوي.»
نو دا څه وشول چې د سیاسي بېرو غړو، چې په دې نېږدې ورستیو کې یې په وضاحت په افغانستان کې پوځي مداخله رد کړې وه، په بشپړ ډول خپل اند بدل کړ او ناڅاپه دې ته چمتو شول چې پر افغانستان یرغل وکړي؟ دغه پوښتنې له ډېرې مودې راهیسې تاریخپوهان او شنونکي حیران ساتلي ځکه چې د دغه برخلیک ټاکونکې پرېکړې د بهیر ګډونوال مړه شوي او په دې اړه ډېری رسمي لاسوندي یا له منځه وړل شوي او یا تراوسه محرم ساتل شوي دي، ، خو بیا هم د پاتې لاسوندو څېړنه او د مقالو، کتابونو، ارشیف شویو توکو او مرکو شننه دغه پایله رامنځته کوي: یو لړ جدي اندېښنو او حالاتو په ګډه دغه پرېکړې ته لاره هواره کړه. هغه د نفوذ خاوندان چې دغه پرېکړه یې رامخته کړه د شوروي اتحاد د دفاع وزیر، مارشال دیمیتري اوستینوف او د شوروي اتحاد د کې جي بي ریس، یوري اندروپوف وو. دغه دوه چارواکي هغه څوک وو چې عمومي منشي او سیاسي بېرو ته یې قناعت ورکړ چې له دغه وضعیت څخه د خلاصون لپاره بله لاره نشته. نور ټول بدیلونه بنایي د افغانستان بایللو ته لاره هواره کړي او دا به له لوېدیځ سره زموږ اوسني انډول ته لوی زیان ورسوي.
څارګریز مالومات چې اندروپوف ته ورکول کېدل په عیني توګه یې امین بې اعتباره، بروس او داسي بې اصوله کس بیاناوه چې ناڅاپه یې خپل اند په وار وار بدلاوه او ناڅاپو ته یې داسي ګروهنه لرله چې وړاندوینه یې نشوی کېدای. امین ته په ریښتیني توګه د مرګ حکم د اکتوبر په میاشت کې هغه وخت وټاکل شو چې د تره کي په وژنه کې د ده د ښکېلتیا جزیات رابرسېره شول. په دې اړه یوازې یوه پوښتنه پاتې وه - له تخنیکي اړخه د امین په وژنه کې له کومې لارې څخه کار واخیستل شي؟ په پیل کې، تر ټولو ښه لاره یې په ا خ د ګ کې د هغو خلکو راغونډونه او چمتو کونه وه چې په پټه او ښکاره د افغان دېکتاتور پر ضد وو. وروسته کله چې دا څرګنده شوه چې دوی ډېر کمزوري او پاشلي دي، د امین له مخالفینو سره په ګډه د دغه کار د ترسره کولو شونتیا وڅېړل شوه: افغانان به د کې جي بي او جي ار یو ځانګړو ځواکونو په ملاتړ رامخته شي، خو لړ وروسته څرګنده شوه چې ښایي حتی دغه سرچینې هم د بریا لپاره بسنه و نه کړي او وېره کېده چې دغسې عملیات به ډېره مرګ ژوبله ولري؛ نو یوازې وروسته له دغو پایلو، اندروپوف د پوځي عملیاتو ترسره کونه ومنله. ایا ده یې پخپله وړاندیز وکړ او یا یوازې له دغه وړاندیز سره همغږی و؟ په یو یادښت لیک کې چې د دسمبر په لومړیو کې برېژنیف ته لېږل شوی و، د کې جي بي ریس په افغانستان کې وضعیت کړکېچن ارزولی و. ده د امین په هکله خپله هغه اندېښنه یو ځل بیا لیکلې وه چې نوموړی په پټه له اسلامي سخت دریځو مخالفینو سره پټې اړیکې ټینګوي او له
www.samsoor.com

امریکایي استازو سره ګواکې پټې غونډې کوي. داسې یادونه هم پکې شوې وه چې افغان مشرتابه پر یوې داسې پرېکړې فکر کوي چې په خپله هغه ګروهنه کې بدلون راولي چې یوازې او یوازې د شوروي اتحاد په لور کږه ده. په یادښت لیک کې د دغسې بدلون د شاهدۍ په توګه د شوروي اتحاد پر سیاست باندې نیوکې او د هغه شوروي کارپوهانو او سلاکارانو پر ضد باندې کړنې یادې شوې وې چې د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کې یې دنده ترسره کوله. اندروپوف یو ځل بیا د دې پخلی کړی و چې مخالف مشران (کارمل، سروري او نور) د امین پر ضد جګړې ته چمتو دي، خو د دغو افغانانو نیت ته په نغوتې سره، اندروپوف لیکلي وو چې د دغه کمپاین بریا به یوازې د شوروي پر پوځي مرستې تړلې وي. په هغه وخت کې د یوري ولادیمیرووېچ په اند د کې جي بي او دفاع وزارت هغه ځواکونه چې په افغانستان کې وو د دغه عملیاتو د ترسره کولو لپاره یې بسنه کوله، خو د بریا د تضمین لپاره یې د امو سیند په بله غاړه، د شوروي اتحاد په پوله کې د یوې پوځي ډلې د جوړلو وړاندیز وکړ چې که اړتیا ورته پېښه شي، ترې کار واخیستل شي .

دا څرګنده ده چې په هغو ورځو کې اندروپوف په وار وار د دفاع له وزیر سره کتنې او اوږدې خبرې کولې. دا هم څرګنده ده چې اندروپوف د درانه رواني فشار* لاندې او په اندېښمن حالت کې و. دی اړنګ کړولو او په ښکاره د راتلونکو عملیاتو په بریا ډاډمن نه و.

د دفاع وزیر په هکله دا ویل کېدای شي چې نوموړي ښایي داسې ډومارلو ته اړتیا نه لرله چې د «نړیوالې مرستې» غځولو ته اړتیا شته او یا په افغان مشرتابه کې «لېنني اصول بیا را ژوندي کړي.» په هغه وخت کې دی پخپله دې پایلې ته رسېدلی و چې په افغانستان کې د شوروي پوځ له نېغ ګډون څخه ډډه ناشونې ده او د دغسې سناریو لپاره یې ښه دلیلونه لرل .

د دفاع وزیر د ډېرو کلونو په بهیر کې کرار کرار په داسې پوځي مهماتو کې ډېربښت راوست لکه اتومي ګولۍ، جنګي جبېې الوتکې، اوبتلې، توغندي، پوځي اډې، غیراتومي وسلې او د ځار اډې چې د امریکا د ستراتیژیکي لاسبرۍ مخه ونیسي. د دغو هېوادونو ترمنځ د یوې مودې لپاره تر یوې کچې ستراتیژیک انډول شته و .د ستراتیژیک انډول په ساتنه کې شوروي اتحاد ته یوه بله ستونزه د وټې بې کچې ناانډولي وه ځکه چې سرچینې د پوځي صنعت د اړتیاو په پوره کولو لګول کېدې. پوځي بودیجه د هېواد د ملي عایداتو تر اتیا سلنې رسېده، خو د ۱۹۷۹ کال په وروستیو کې د شوروي اتحاد «اصلي دوښمن» له خپل سیال څخه مخکې شو. د دغه برلاسي لویه برخه د امریکایي اتومي ګولیو او د داسې نویو وسلو کمیت او کیفیت جوړوله چې د ډېرې پرمختللې تکنالوژۍ په کارونې جوړې شوې وې. لوی درستیزوالۍ راپور ورکړ چې په تېرو شلو کلونو کې د هغو اتومي ګولیو شمېر چې په ستراتیژیکو توغندیو کې کارول کېږي له څلور

---

*د کرېملېن مشر ډاکتر ي. ی. چزوف E.I Chazov په خپل یادښت کتاب کې دغه رواني حالت یاد کړی.

زرو څخه ثه باندې لسو زرو ته اوچت شو. اووه زره داسې ګولۍ په اروپايي خاوره کې ځای پرځای شوې وې. سربېره پر دې، اتومي ګولۍ د شوروي خاورې په ټول چاپېر کې ځای پرځای شوې وې. اوستينوف په ځانګړې توګه د دقيقو او اوږده واټن توغنديو په هکله اندېښمن و او امريکايانو پلان درلود چې شااوخوا دوولس زره دغسې توغندي د شوروي اتحاد په لور سيخ کړي. دا ښکاره وه چې دغسې توغندي او همدا راز د منځني واټن غيراتومي توغندي شوروي اتحاد ته يو لوی ګواښ و ځکه چې د څو ساعتونو په بهير کې يې د پوځي اډو، د قوماندې مرکزونو او مخابراتي مرکزونو په ويشتلو د شوروي اتحاد ټول دفاعي سيستم شنډولی شوی.

کله چې اوستينوف له خپلو پوځي مشرانو څخه وپوښتل چې ايا د دوی د دافع هوا سيستم د دې وړتيا لري چې له

لوېديځې اروپا څخه د پرشنګ - ۲ توغنديو له توغولو وروسته په دوو دقيقو کې دغه توغندي وپېژني، ده منفي ځواب ترلاسه کړ. ورپسې د دفاع وزير سمدلاسه امر وکړ چې پرته له دې چې لګښت ته يې پام وشي، يو اغېزمن دفاعي سيستم بايد جوړ شي.

لوی درستيزوالۍ ته دنده ورکړل شوه چې په اروپا کې د يرغل د مخنيوي په موخه د داسې يرغليزو عملياتو لپاره پلان جوړ کړي چې د ناټو ځواکونو د يرغل پيلولو له لومړيو نښو نښانو په راښکاره‌کېدو پيل کړل شي. په دغه پلان کې په لسګونو داسې اتومي ډزو ته ځای ورکړل شوی و چې د تکتيکي اتومي وسلو په کارونې په اروپا کې ننبې وولي او په عين وخت کې به د شوبلو غونډونه د دوښمن خاورې ته له يوې پراخې جبهې سره ننوځي.

چې اوږده کيسه رالنډه شي، د ۱۹۸۰مې په پيل کې نړۍ يو ځل بيا د ناورين په مورګه وه. که دواړو لوريو له يو بل څخه رواني وېره نه درلوده، خو دوی د يو او بل په پوځي فعاليتونو خامخا بدګومانه وو. په ځمکنۍ ستراتيژۍ کې د اندول يو کوچنې بدلون دغسې بدګوماني رامنځته کړه؛ نو ځکه د منځني ختيځ وضعيت اوستينوف ته د پوهاوي وړ اندېښنه وزېږوله.

اوستينوف د اندېښنې لپاره يوه بله مهمه وجه هم درلوده. په داسې حال کې چې شوروي پروپاګند خپلو وګړو ته دا باور ورکړی و چې د هېواد وسلوال ځواکونه د دې جوګه دي چې هر تېری کونکی په شا وتمبوي او هره راتلونکې جګړه وګټي، خو اوستينوف د شوروي اتحاد د پلي او سمندري ځواکونو په وړتيا ډېر اړنګمن و. دی پوهېده چې د وروستي پوځي تطبيقاتو په ترڅ کې ډېرې شوبلې او زغروال ګاډي حتی له خپلو اډو څخه راونه وتلی شوی ځکه چې دوی د نيمګړي مراقبت له کبله ډېرې تخنيکي ستونزې لرلې.

ډېرې هغه شوبلې چې له اډو څخه راووتلی شوی، خپلو ټاکل شوو موخو ته د پرسونل او تخنيکي ستونزو له کبله ونه رسېدې. هغه راکټونه چې وتوغول شول، خپلې نښې يې ونشوی ويشتلی. کوماندويي

www.samsoor.com

پراشوټيان په غلطو ځايونو کې ښکته شول. مخابراتي وسيلې له کاره لوېدلې وې. د پوځي ډلو ترمنځ همغږي پاتې راغلې وه. راغونډېدنه او جګړې ته چمتو کېدنه په ډېره ټيټه کچه کې وه او د بېلابېلو رتبو پوځي پرسونل په ځنډلو او غلا ککړ وو.

په عين وخت کې امريکايانو، چې يو مسلکي پوځ جوړ کړی و، په پوځي چمتووالي، روزنه، همغږۍ او دسيپلين کې له شوروي پوځ څخه ډېر مخکې وو .دوی په ويتنام او په نورو سيمه ييزو شخړو کې پوره تجربه ترلاسه کړې وه، په لوړه کچه يې د خوځښت توان درلود، د سپوږمکۍ په وسيله يې د څار تکنالوژي درلوده او د نړۍ په بېلابېلو برخو کې يې له ځان څخه ډېر باور او حتی کله کله غرور څرګنداوه؛ نو ځکه اوستينوف افغانستان يو داسې فرصت وګانه چې شوروي پوځ او وسلې پکې وازمويي او خپلې متې پکې نرمې کړي. که پوځ په دغه ازموينه کې بريالی شي؛ نو مخکې له دې چې بېرته شوروي اتحاد ته راوګرځي چې اعزازونه ورکړل شي، دوی به نه يوازې د امين په وژلو سياسي موخه ترلاسه کړې وي بلکې ياغيانو ته به يې هم يو پرېکنده ګوزار ورکړی وي.

د دفاع وزير هېڅ اړنګ نه درلود چې دغه کمپاين به له شپږو مياشتو څخه ډېر دوام و نه کړي. د ده په اند، کله چې پوځ خپلې موخې ترلاسه کړې، بيا به ښايي په افغانستان کې دوه يا درې پوځي اډې جوړې کړي او ورپسې به بېرته شوروي اتحاد ته راوګرځي. د دفاع وزير منطق په بشپړ ډول د کې جي بي د ريس له ملاتړ څخه برخمن و، خو د ده نېږدې متحدين ورسره همغږي نه وو لکه لوی درستيز، اوګرکوف، چې ترټولو ډېر د پوځي يرغل مخالف و. اوګرکوف، برعکس د خپل مشر چې نړۍ يې د يوه نړيوال ګرځنده ستوري (planetary) په لرليد کې انځوروله، په افغانستان کې يې د وضعيت په جزياتو ځان ښه پوه کړی و. نوموړي پر افغانستان باندې د انګرېزانو د پوځي يرغل له ترخې تجربې سره ځان اشنا کړی و او د منځني ختيځ له يو شمېر هغو کارپوهانو سره يې مشورې کړې وې چې د کمونست ګوند په مرکزي کمېټه، بهرنيو چارو وزارت او بېلابېلو اکاډميکو انستېټيوټونو کې يې دنده درلوده. اوګرکوف له کارپوهانو او روڼ اندو څخه د يو شمېر داسې شننو غوښتنه هم کړې وه چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد د پوځي مداخلې غوراوی وارزوي. د دغو شننو پايله ډېره بېخونده وه. دغسې يوې سناريو د دې مانا ورکوله چې پوځي شخړې به لا ډېرې شي او د شوروي پوځ به بله چاره ونه لري پرته له دې چې په شخړو کې برخه واخلي. دا به لوېديځ ته يوه پلمه ورکړي چې له وسوالو مخالفينو سره مرستې پراخه کړي. د دغسې ګام توجيه به حتی د خپلو سوسيالېستي بلاک ملګرو ته سخته وي. په نړيوال ډګر کې به د شوروي اتحاد حيثيت زيانمن شي. د پوځي غوراوي پايلې څرګنده کړه چې له ګټې څخه به يې تاوان ډېر وي . اوګرکوف څو ځلې هڅه وکړه چې دا ټول د دفاع وزير ته بيان کړي او ډېر نوي دليلونه ورته څرګند کړي. په لومړيو کې ده ته اوستينوف په چوپتيا غوږ نيوه او کله کله به يې اړنګ په ونګه کې ښکاره شو، خو داسې

ښکارېدل چې د دسمبر په میاشت کې یې مزاج بدل شو. ده به هر هغه دلیل رټ رد کړ چې د پوځي مداخلې پر ضد و.

د بهرنیو چارو وزیر هم د پام وړ بدلون وموند .وروسته له دې چې له مرکزي کمېټې څخه یې لیدنه وکړه، ګرومیکو ګرومجن او ځکلېدلی برېښېده او نه یې غوښتل چې د خپلو نېږدې همکارانو محتاطو پوښتنو ته ځواب ورکړي. د پوځي مداخلې په هکله د دغه وزیر دریځ ناڅرګند پاتې و، خو تل یې خپله رایه «سمه» کاروله، یعنی د برېژنیف په خوښه.

ببرک کارمل او نېږدې متحدین یې د مسکو په لمن کې د پي جي یو په یوه پټه اډه کې له یوې میاشتې څخه ډېر مېشت پاتې وو. له هغه ورځې څخه ډېر وخت تېر شوی و کله چې دوی ته لارښوونې وشوې، په ځوکیو یې هوکړه وکړه او اړین لاسوندي یې جوړ کړل. ولس ته د کارمل وینا چې باید د رژیم له بدلونې څخه وروسته په رادیو کې خپره شوی وی ثبت شوه. د انقلابي شورا، سیاسي بېرو او لوړپوړو دولتي مامورینو په نوملړ هوکړه وشوه. کارمل د دولت او ګوند په جوړښت کې ټولې لوړې ځوکۍ ونیولې. دوی په دې هم خبرې وکړې چې د امین په نېږدې متحدینو کې ځوک د اعدام وړ دي او ځوک باید بندي شي.

کارمل به چې هرکله له شوروي څارګرو لارښوونکو سره کتل، د ده په سترګو کې به دغه پټه پوښتنه «څه وخت؟»

وځلېده. اوږده انتظار نومړی ستړی کړی و. الکسي پېتروف له ده سره ترټولو ډېر کتل. ده به ورته وویل: «وخت به یې راشي، لږ نور هم زغم وکړه.»

سروري، ګلاب زوی او نور هغه مخالف فعالان چې د نړۍ له بېلابېلو برخو څخه راغونډ کړل شوي وو لومړني کسان وو چې د نوومبر په پای کې سوېلي پولې ته ولېږدول شول. د دسمبر په یوه خړه ورځ کې پېتروف داسې اعلان وکړ: «سبا ته به تاشکند ته ځو او بیا حالاتو ته په کتو سره، بګرام ته.» د کارمل تور مخ روڼ شو، الکسي ته یې غېږ ورکړه، اناهیتا راتب زاد ته یې له موسکا څخه ډک مخ واړاوه او ویې ویل: «ما تل پر عدالت باور درلود او پوهېدم چې شیطان ته به جزا ورکړل شي. افغانستان ته به هیلې له موږ سره یوځای بېرته وروګرځي.» اناهیتا په موسکا ځواب ورکړ: «انشاالله، دا د خدای رضا ده. دا ښه خبر دی. موږ به خپل پرځنګ ته دوام ورکوو.»

کارمل ته د تګ په شپه خوب نه ورته. ده به د تېرو میاشتو پېښې بیا او بیا راژوندۍ کولې: د غویي انقلاب چې ناڅاپه رامنځته شو، د خلقیانو له لوري سپکاوی، هغه بې عزتي چې په پراګ کې یې د ده تبعید ته لاره پرانیسته، د امین له لوري ګواښونه، د ملګرو د ځینو په هکله له افغانستان څخه بوږنوونکي خبرونه او د ګوند د بنسټ ایښودونکي سیاڼه او خاینه وژنه. اوس به هرڅه بدل شي، د شوروي ملګرو په مرسته به خپل ځان او ګوند له خپلو دوښمنانو پاک کړو او بېرته به برحق تګ لوری خپل کړو. افغان ولس به بلاخره له اکاړ امین څخه خلاصون ومومي.

کارمل یو د ساده اند ایډیالېست نه و. دی د هغه ستونزې په پېچلتیاو ښه پوهېده چې هېواد یې ورسره مخ و - د بهرنیو دوښمنانو په لمسونه د اسلامي سخت دریځو دوامداره بریدونه، له افغان وسلوالو ځواکونو څخه ډله ییزې تېښتې، په دولتي بودیجه کې لوی کسر، لوږه، بېوزلي، بشپړه نالوستي، د ډاکترانو، انجنیرانو او ښوونکو کمښت، خو اوس په مسکو کې نوموړي دې ته تابیا نیوله چې د هېواد مسولیت په غاړه واخلي. کارمل په ډاډ باور درلود چې دغه او نورې ستونزې به لیرې کړل شي ځکه چې واک به اخلاصمنو او مسولو خلکو ته، د پلرني هېواد ریښتینو وطنپالو ته وسپارل شي او دوی به بې اړنګه په اولس کې ملاتړ ومومي.

کارمل د اولس پر ملاتړ دومره باور درلود چې حتی شوروي مشرتابه ته یې یو یادښت لیک ولېږه. ددغه یادښت لیک شیره دا وه چې د امین پرضد د کړنو په پیلولو کې نور وخت ضایع نشي ځکه چې امین به سملاسي د وګړو تر فشار لاندې وروسته له دې راشي چې دی او د ګوند نور مشران په ښکاره پر اولس د پاڅون غږ وکړي.

په هغو ورځو کې یوازې یوه اندېښنه له کارمل سره وه. یوه ورځ ملګری ولادیمیروف (کریچکوف د ولادیمیر په نوم کارمل او ملګرو ته یې ورپېژندل شوی و) هغه پټې باغچې ته لاړ چې کارمل او ملګري یې پکې مېشت وو. دغه مېلمه د چای په سر د داسې شونتیا یادونه وکړه چې که اړتیا پېښه شوه، شوروي پوځیان به افغانستان ته ننوځي. نوموړي په ګونګه ښه وویل: «دغه پوځیان به د ګوند له سلیمو ځواکونو سره د دوی په پرځنګ کې مرسته وکړي.» کارمل، چې پوه شو مېلمه یې د کې جي بي د مشرتابه استازی دی، وویل: «موږ دغه دنده پخپله ترسره کولی شو. ما مرکزي کمېټې ته یو یادښت لیک ولېږه او پکې څرګنده مې کړه چې د پاڅون په چیغې سره به هغه وګړي چې له امین څخه کرکه لري او زموږ هغه ملګري چې اوس په پټه ژوند کوي امین نسکور کړي. ته افغانان سم نه پېژنې. زه ډاډ درکوم چې زموږ خلک نور دغه اکاړ نشي زغملی.»

مېلمه په درناوي سر ټیټ کړ او ویې ویل: «په دې کې هېڅ اړنګ نشته، ملګری کارمل. زه غواړم یو ځل بیا ټینګار وکړم چې موږ به دغه ګام یوازې هغه وخت واخلو چې په هېواد کې د شته ځواکونو په اړه د اړنګ داسې جدي دلیلونه ولرو چې دوی د دغه دندې د ترسره کولو جوګه نه وي. دویم دا چې که کومه پوځې

ډله افغانستان ته ولېږل شي، دوی به یوازې تر هغه وخت پورې هلته پاتې شي چې د واک لېږد بشپړ شي.» کله چې د کارمل په گرومجنتوب پوه شو، ملگرې ولادیمیروف وپتېیله چې ترټولو اوچت پوړ ته نغوته وکړي: «پر ما باور وکړئ، ملگرى کارمل. د شوروي مشرتابه په څیر او هراړخیز ډول وضعیت څېړلى دى او دې پایلې ته ورسېد چې په دې کې هر راز پاتې راتگ به د غوبې انقلاب د ناکامۍ، زموږ د یو متحد په توگه د افغانستان د بایللو او په کابل کې د امپریالېستي ځواکونو د راڅرگندېدو په مانا وي. دا ټول زموږ داسې پرېکړې اړینه کوي.» کارمل، چې په خپل مېلمه کې سترگې خښې کړې وې، وپوښتل: «پوهېږې چې افغان اولس
به زما په هکله څه فکر وکړي که زه ستاسې د شوبلو له راڅرگندېدو سره سم د دولت مشر شم؟»
داسې برېښېدل چې کریچکوف د نارامۍ ننگېره کوله .ده الکسي پېتروف ته چې ژباړه یې کوله تریو وکتل. پېتروف خپلې اوږې وخوځولې او لکه له ځان سره چې خبرې کوي، په ټیټ غږ یې داسې ووېل: «هو، په دغه حالت کې به دی د اولس په منځ کې گرانښت ترلاسه نه کړي.» کریچکوف داسې خبرو ته چمتو نه و او هڅه یې وکړه چې غونډه پای ته ورسوي. ده ووېل: «راځئ چې دا هیله ولرو چې دغسې لوی گام ته اړتیا پیدا نشي. هغه مالوماتو ته په کتو سره چې زه یې لرم، په کابل کې د دغه کار لپاره هر څه چمتو دي. زه دلته یوازې له دې کبله راغلم چې تا ته د ښه بخت هیله وکړم او د مرکزي کمېټې، زموږ د گوند او سیاسي بېرو په استازولۍ داډ درکړم چې موږ ستا د هڅو د بشپړ ملاتړ نیت لرو چې په گوندي ژوند کې د لېنن نورمونه بیا راژوندي کړې او گوند له خاینانو او بې باکانو څخه پاک کړې.» کارمل په خپلو دواړو لاسونو په نرمۍ د کریچکوف لاس ونیوه او ویې ویل: «له تاسې څخه مننه.»
اوس تگ ته یوازې څو ساعته پاتې وو. د کارمل مزاج  پیکه لړبکې تریو کړی و. دغه لړبکې له راتلونکې خطر یا هغه شونتیا سره تړاو نه درلود چې امین به د دوی د الوتکې د نسکورولو امر ورکړي او یا یې له رسېدو سره سم ونیسي. نه، دی هغه شونتیا ځورولو چې د شوروي ښکاره نانځکه به ترې جوړه شي کله چې له روسي شوبلو سره یوځای د واک پر تخت ښکاره شي.
ببرک کارمل یو لوستی او ځیرک سړی و چې د خپل هېواد پر تاریخ او د اولس په اندود (ذهنیت) پوهېده. دی پوهېده چې په دې کار به یې افغانان هېڅ کله ونه بښي. په داسې حال کې چې په کابل کې د واک راتلونکی لېږد پټ ساتل شوی و، هغه عملیات چې د افغانستان راتلونکی مشر یې افغانستان ته لېږداوه د محرمیت په داسې ټوټه کې نغښتل شوي وو چې بربنډېدل یې ناشوني وو.
کریچکوف د جگړن عزتوف Izotov په مشرۍ د S څانگې د ځانگړې پوځي ډلې افسرانو ته بلنه ورکړه او ورته ویې ویل: «تاسې به د ملگري هېواد د مشرانو د ساتنې دنده ولرئ. که دوی ته څه پېښ شي، تاسې به پوځي محاکمه شئ، پوه شوی؟ تاسې به سبا ته له مسکو څخه ځئ.» دوی ته د دوو کسانو ساتنه ورپه

www.samsoor.com

غاړه وه: د منځنۍ ونې یو نارینه چې غنمرنګه ونګه او مښوکې ته ورته پوزه یې لرله او یوه غنم رنګه ختیځې ښځه چې شاهانه ښه او خوشاله مخ یې درلود.
د عزتوف افسرانو ته نه وو ویل شوي چې دغه خلک څوک دي او چېرته ځي؛ نو د احتیاط لپاره عزتوف خپله څلورکسیزه ډله تر سړمو په وسلو سمبال کړه. د ونوکووا په هوایي ډګر کې له دوی سره د پېتروف او چېچېرین Chicherin په نوم دوه څارګر افسران یوځای شول. دوی هېڅ نه غړېدل.
عزتوف او ډلې ته یې یوازې له تګ څخه مخکې ځینې شیان روښانه شول. د اندروپوف شخصي پیلوټ، ډګروال نګنوف
Naganov په Tu-134 الوتکه کې مېلمنو ته داسې اعلان وکړ: «ملګری کارمل، د الوتکې عمله چمتو ده چې له مسکو
څخه تاشکند ته الوتنه وکړي او ورپسې به تاسې بګرام ته ولېږدول شی.»
د ببرک کارمل په نوم یو سړي له پیلوټ سره تود روغبړ وکړ او بیا د الوتکې مخکنۍ برخې ته لاړ چې له اناهیتا راتب زاد سره وګوري .پېتروف په کارمل پسې شو. عزتوف له دغه فرصت څخه ګټه پورته کړه او له چېچېرین څخه یې وپوښتل: «دومره راته ویلی شې چې د بګرام هوایي ډګر په کوم هېواد کې دی؟»
چېچېرین دغه ساتونکې ډلې ته په حیرانتیا وکتل او ویې ویل: «دا څه وایې؟ تاسې ته نه دي ویل شوي؟ بګرام په افغانستان کې دی.»
په ازبکستان کې د کې جي بي له ځانګې څخه یو ډګروال چې له دوی سره یې هغه وخت لیدنه وکړه چې الوتکه په تاشکند
کې کښېناسته، دوی ته خبر ورکړ چې د اوسمهال لپاره بګرام ته تګ ځنډول شوی او «موږ ته امر شوی چې تاسې د
ازبکستان د کمونست ګوند د لومړي منشي باغچې ته ولېږدوو.»
دغه ډله په چټکۍ په درېیو داسې والګا ګاډو کې کښېناسته چې په کړکیو یې پردې ځوړند وې او ورپسې د رشیدوف کلیوالي استوګنځي ته ورسول شوه. دوی هلته څو ورځې بګرام ته د تګ لپاره تم پاتې شول. د دغو ورځو په بهیر کې ساتونکو وانګېرله چې دوی د افغانستان د راتلونکي ولسمشر او د ده د وفادارې ملګرې ساتنه کوي. د اناهیتا په ګډون، د دغې ډلې غړو ته بې شعاع او پلېټه پوځې جامې ورکړل شوې.
د رشیدوف له باغچې څخه د کې جي بي ازبک مامورینو ښه ساتنه کوله؛ نو ځکه عزتوف او ډلې یې د اندېښنې لپاره کومه ځانګړې وجه نه لرله .دوی په څېرمه ډنډ کې په کب نیونې خپل وخت تېراوه. په طبیعي توګه، له افغان مشرانو څخه په دوامداره توګه څارنه کېده. کله چې کارمل د باغچو په هغه برخه کې چې دېوال ترې چاپېر و له یو ځوان دویم بریدمن، میشه ګولوواتوف Misha Golovatov سره ګرځېده، یو سیمه ییز څارګر افسر چې پر بایسکل سپور و ناڅاپه د دوی شا ته له یوې کوڅې څخه راڅرګند شو.

کله يې چې کارمل ولید، نوموړی سمدلاسه له بایسکل څخه ښکته شو، پر ځمکه پرېوت او سترګې يې په دواړو لاسونو تر هغه وخت پورې پټې نیولې وې تر څو چې دوی لاړل؛ نو د دغو عملیاتو د محرمیت کچه دومره اوچته وه.

دغه محرمیت کابو د ډلې غړي وژلي وو. کله چې بلاخره یوه ورځ دوی ته د تګ خبر ورکړل شو، د اندروپوف الوتکه د شپې ناوخته په بګرام کې کښېناسته. د دې لپاره چې د الوتکې ناسته پټه وساتل شي، د هوايي ډګر څراغونه ګول شوي وو. د الوتکې پیلوټ دې ته اړ شو چې د الوتکې پراشوټي برېک په کار واچوي چې له ځغاست لارې څخه تېره نشي؛ نو یوازې د پیلوټ وړتیا او مسلکیتوب د یو ناورین مخه ونیوله. کله چې Tu-134 د هوايي ډګر په تر ټولو لیرې ګوټ کې ودرېده، د عزتوف کوماندو له الوتکې ښکته شول او شاوخوا يې امنیت ونیوه. د کې جي بي  د هغه افسر چې د بګرام هوايي ډګر د څارګریزو فعالیتونو د شنډولو چارو مسولیت درلود او د هوايي ځواک د مرستیال قوماندان، جنرال ګوسکوف جیپونه د یوې دقیقې په ترځ کې الوتکې ته وررسېدل. مسافر او د دوی بکسونه په چټکۍ په ګاډو کې ځای پرځای کړل شول او هغه سیمې ته ولېږدول شول چې ګواکې مسلمان کنډک پکې ځای پرځای و. کارمل او اناهیتا ته د کانکریټو یوه تلخونه ځانګړې شوه. دغه تلخونې برېښنا لرله، خو د تودخې لپاره کومه وسیله پکې نشته وه. هوا ډېره سړه وه. په هغه کال په افغانستان کې ژمی د وخته پیل شوی و. د دسمبر په هغو شپو کې ترمامېتر ډېرې منفي شل درجې ښوده.

مخکې له دې چې په تیاره کې له سترګو پنا شي، پېتروف خپلو افسرانو ته داسې امر وکړ: «تاسې باید بیخي څک اوسئ. موږ په شپه کې د کابل په لور روانېږو.»

مارشال اوګرکوف یوه بله ناچاره هڅه وکړه چې د سیاسي ببرو غړي وډوماري چې په افغانستان کې له پوځي مداخلې څخه ډډه وکړي. مخکې له دې، نوموړي د پلي ځواکونو له سرقوماندان، پاولوفسکي، خپل مرستیال، اکرمییف او د درستیزوالۍ د اوپراسیون له قوماندان، ورېنیکوف Varennikov سره مشوره کړې وه. پاولوفسکي، چې خپل وزیر يې تراوسه نه و ښښلی چې ولې يې له ده سره مشوره نه وه کړې، په سړه ښه د خپلو پخوانیو راپورونو په هکله وویل چې څه يې پکې لیکلي وو. ده په ټینګار وویل: «پایله يې دا ده چې ډېری افغانان به په خپله خاوره کې د بهرني پوځ ورتګ منفي وانګېري. دا د دوی د طبیعت پر ضد دي چې زموږ ځواکونو ته هرکلی ووايي. برعکس، دوی به وسلې ته لاس کړي او زموږ پر ضد به جګړه وکړي

www.samsoor.com

او په عین وخت کې به د هغو انقلابیانو پر ضد بغاوت وکړي چې موږ یې هلته کش کړي یوو. دا ټول به وضعیت نور هم خراب کړي.»

ورېنیکوف ورسره همغږی و. ده وویل: «هر راز پوځي ګام به بشپړه جګړه رامنځته کړي. د پوځیانو هغه شمېر چې افغانستان ته په پام کې نیول شوی د افغانانو د غبرګون توان به ونه لري او دا په دې مانا ده چې موږ باید خپل پوځي شتون ډېر کړو او نور ځواکونه ورولېږو. زموږ د اټکل پر بنسټ، موږ باید ۲۰۰۰۰۰ پوځیان د حالاتو د کابو کولو لپاره ځانګړي کړو. که خپلو اوسنیو سرچینو ته وګورو، دغه کار په بشپړ ډول ناشونی دی.»

اکرمییف وویل: «خو زموږ مشرتابه یو جدي دلیل لري. داسې اندېښنې شته چې ښایي امین په خیانت لاس پورې کړي. د اندروپوف اداره باور لري چې دی په پټه له امریکایانو سره همکاري کوي. داسې ښکاري چې امین د افغان حکومت په لوړو څوکیو کې خپلې وروستۍ ورځې تیروي که څه هم په مرکزي کمېټه کې زموږ ملګري د واک د لېږد په هکله اندېښمن دي. افغان پوځ به د چا ملاتړ وکړي؟ ایا یاغیان به له دغه حالت څخه ګټه واخلي چې خپل دریځ غښتلی کړي؟» بیا یې اوګرکوف ته مخ واړاوه او ویې ویل: «ته د کې جي بي په دریځ زما په پرتله ډېر پوهېږې.» اوګرف د هو سر وخوځاوه او ویې ویل» :هو، پوهېږم.»

پاولوفسکي په ناهیلۍ خپل لاسونه وخوځول: «یعنی کې جي بي دلته لاس برې شوه. په کابل کې دوی هڅه وکړه چې موږ په دې باور کړي چې امین د سي ای اې اجنټ دی، خو له دغې ادعا سره یې کوم ثبوت وړاندې کړی؟ د دوی یوازېنی دلیل دا دی چې امین په امریکا کې د یوې افغان ټولنې مشر و کله یې چې هلته په پوهنتون کې زده کړې کولې. دوی داسې ښیي لکه چې امریکایان په اتوماتیک ډول دغسې خلک ګماري او دې ته نه ګوري چې دوی څوک دي. دا د دوی دلیل دی. زه یو ځل بیا وایم چې ما له امین سره څو ځلې لیدلي دي، په ساعتونو مې خبرې ورسره کړې دي او په دې مې ټینګ باور پیدا کړی چې دغه سړی شوروي اتحاد ته وفادار دی. کله چې لومړی وزیر و او ورپسې د هېواد مشر شو، ده په وار وار له شوروي مشرتابه څخه غوښتنه وکړه چې شوروي اتحاد ته بلنه ورکړي. ده غوښتل چې ورسره وکتل شي، واورېدل شي او ملاتړ یې وشي، خو موږ د یو جاسوس نوم پرې کېښود، بله هېڅ خبره نشته.»

وېرنیکوف یې په ملاتړ وویل: «پر دې باندې باور یوه تېروتنه ده چې زموږ پوځیان به هېواد ته ننوځي او پرته له دې چې په جګړه کې برخه واخلي هلته یوازې چوڼۍ جوړې کړې. دوی به خامخا جګړې ته کش کړل کېږي؛ نو مرګ ژوبله به رامنځته شي. موږ به یې بیا خپلو خلکو ته څرنګه توجیه کوو؟ نړیوالې ټولنې ته به کوم ډول دلیلونه وړاندې کوو؟ موږ به سمدستي په تېري تورن شوو.»

اوګرکوف دغه ټول دلیلونه مخکې په وار وار اورېدلي وو او ورسره بیخي همغږی و، خو نوموړی په یو ډېر سخت حالت کې و. له یوې خوا، د لوی درستیز او د دفاع وزیر د لومړي مرستیال په توګه، دی اړ و چې د امر اطاعت وکړي او سمدلاسه یې ترسره کړي، خو له بلې خوا، د یو سیاستوال او د یو مجرب پوځي مشر

په توګه، دی د خپل هېواد او خپل پوځ لپاره د دغه ګام په پايلو ډېر ښه پوهېده؛ نو ځکه سختو منفي نتګېرنو ربړاوه. اوګرکوف د ناتو هېوادونو پر ضد د وار د مخه ګوزار په پلان جوړونه او منظورۍ کې برخه اخيستې وه (که پر شوروي اتحاد باندې د اتومي بريد د تابيا نښې نښانې وليدل شي، له بريد څخه مخکې به شوروي اتحاد پر دوی لومړی ګوزار کوي) او د داسې ګوزار پر بريا يې باور درلود. ده د نازيانو پر ضد جګړه کې برخه اخيستې وه او د شوروي اتحاد د دفاعي وړتيا په غښتلتيا کې يې لسيزې تېرې کړې وې، خو په افغانستان کې يې د تندر جګړې Blitzkrieg پر بالقوه بريا باور نه درلود او په داسې يوه جګړه کې يې ډېرې ستونزې ليدلې. نه، افغانستان بايد له لاسه ورنه کړل شي. دی په دې پوهېده او دې ته چمتو و چې په نورو بديلونو کار وکړي چې په وسيله يې په افغانستان کې يو ملګری رژيم واکمن وي پرته له دې چې شوروي پوځ پکې ښکېل شي او د يوې لويې جګړې اور بل شي ځکه چې شورويانو ته بايد د امو سيند پر بله غاړه کې ويتنام جوړ نشي. اوګرکوف په دې اند و چې که کې جي بي، امين د امريکا جاسوس ګڼي، دوی يې بايد د ليرې کولو لپاره يوه لاره پيدا کړي. د ده په اند تر ټولو ښه لاره يې د کورنيو مخالفينو په کارولو په قانوني توګه د ده ليرې کول وو او شورويانو بيا کولای شوی داسې څوک يې پرځای واک ته ورسوي چې دوی ډېر باور پرې کولی شوی. په کابل کې داسې خلک شته وو چې دا کار يې ترسره کولی شوی: د کې جي بي کارکوونکي، د جي ار يو عملياتي ډله او په بګرام کې د ځانګړو ځواکونو هغه ۱۵۰۰ کسيزه ډله چې امر ته تم وه، خو د شوروي پوځ لېږنه په دې مانا وه چې دغه پوځ به په هر لوري کې له خطر سره مخ وي. د دې پايله به ښه نه وي او ډېر درد به ولري.
مخکې له دې چې له جنرالانو سره مخه ښه وکړي او په کوټه کې يوازې پاتې شي، اوګرکوف جنرالانو ته په همغږۍ وويل: «هو، زه پوهېږم .مننه.» اوس بايد نوموړی يو ځل بيا د سياسي ببرو يوې غونډې ته لاړ شي.
پخپله برېژنېف د غونډې مشري کوله، کله چې لوی درستيز ته د خبرو وار ورکړل شو، اوستينوف ته يې پام شو چې ده ته داسې ګوري لکه چې په ګوانښ ورته وايي: «له اور سره مستي مه کوه، کنه پښېمانه به شې.» دا اوګرکوف ته ښه پيلامه نه وه، خو خپله لړبکه يې کابو کړه او په وضاحت يې خپل دليلونه په لنډه توګه څرګند کړل. نوموړي د جوړجاړي په توګه افغانستان ته د داسې کوچنيو پوځي ډلو د لېږنې وړانديز وکړ چې هلته د مهمو ځايونو ساتنه وکړي او دغه ستونزه بايد پوځي نه بلکې سياسي حل شي.
اندروپوف ورته وويل: «تا ته چا واک درکړی چې په سياست کې وغږېږې؟ ته بايد خپلې درکړل شوې دندې ترسره کړې، سياست مونږ ته پرېږده.» اوګرکوف په اعتراض ورته وويل: «خو زه لوی درستيز يم.» اندروپوف يې ناڅاپي خبرې غوڅې کړې او ورته ويې ويل: «هو، يوازې لوی درستيز. تا ته له دې کبله بلنه نه ده درکړل شوې چې له مونږ سره خپل اند شريک کړې بلکې د سياسي ببرو پرېکړې ته غوږ ونيسې او ترسره

یې کړې. ته پخپله پوهېږې چې سیاسي بېرو بل لوري ته کړه ده» برېژنېف شاوخوا سترګې واړولې او ویې پوښتل: «بل څوک کوم نظر لري؟» سوسلوف په چغند غږ وویل: «له یوري ولادیمیرووېچ سره همغږی یم.»
له ده څخه وروسته د سیاسي بېرو نورو غړو هم د اندروپوف په ملاتړ غږ پورته کړ. په دغه ورځ وروستی پرېکړه لیکلې بڼې ته وانه اړول شوه. دوی هوکړه وکړه چې «په افغانستان کې د بالقوه پوځي مداخلې
لپاره باید پوځیان د تیارسئ په حالت کې وي چې که پرېکړه وشوه، دوی به چمتو وي.»
په حیرانوونکې توګه د پورتنی غونډې بهیر د اوګرکوف هغه هوډمنتوب ونه لړزاوه چې پر خپل اند ټینګار وکړي. کېدای
شي چې د سیاسي بېرو له جوړښت څخه راپدېخوا دا لومړی ځل و چې دغه بېرو د حکومت د یو لوړپوړي چارواکي له ثابت مقاومت سره مخ شوه.
د دسمبر په لسمه، لوی درستیز یوه وروستی ناچاره هڅه وکړه چې د پېښو د بهیر لوری بدل کړي. ده یو مفصل او پر حقیقتونو ولاړ راپور جوړ کړ چې پکې یې په افغانستان کې د اوسني وضعیت مهمې او د پام وړ ځانګړتیاوې او د ستونزو لپاره د حل شونې لارې څرګندې کړې وې. په پایله کې یې لیکلي وو چې د یو خپلواک هېواد په خاوره کې د شوروي راڅرګندېدنه ښایي ډېري بدې سیاسي، وټه ییزې، ټولنیزې او پوځي پایلې وزېږوي. دغه راپور اوګرکوف، اکرمییف او
ورېنیکوف لاسلیک کړ او له راپوره سره درې واړه د دفاع وزیر ته ورغلل.
کله یې چې وزیر ته راپور ورسپاره، اوګرکوف خپله وروستی کیته داسې وکاروله: «دیمتري فېدوروویچ، فکر نه کوې چې امریکایان په لوی لاس موږ ته دانه اچوي چې د یوې لویې جګړې په لومه کې مو داسې بند کړي چې له ډېرې وینې توېدنې د مرګ خولې ته ورولوېږو او په نړیواله ټولنه کې د شوروي اتحاد نوم بد کړي؟ زموږ ملګرو داسې نظر څرګند کړی چې د امریکا ځارګرې ادارې پر افغانستان باندې د دوی د ممکنه کنترول او همدارنګه د امین په هکله موږ د جعلي او تېرایستونکو مالوماتو تر انبار لاندې کړي یوو. دې ته د پام دی چې زموږ د پوځي تابیا نیونې په هکله دوی څومره چوپ او بې پروا دي. دا ناشونې ده چې دوی له دغه تابیا نیونې څخه خبر نه وي، خو دوی ځان چوپ نیولی او د رسنیو د ښکېلولو لپاره هېڅ کومه رسمي اعلامیه نه خپروي. دا د دوی له ځانګړتیاو سره هېڅ سمون نه لري.»
اوستینوف د اوګرکوف د خبرو پر وړاندې کوم غبرګون ونښود. بې اړنګه، دا ډول څرګندونې نوموړي ته نوې نه وې. یو ځل یې له یوې ناڅرګندې سرچېنې څخه د امریکایانو په هکله داسې مالومات ولوستل چې د امین په غوښتنه امریکا پلان لري چې د کندهار هوایي ډګر ته ځېرمه د کوماندو پوځیانو یوه لویه ډله ځای پرځای کړي. دا مالومات په ریښتیا داسې برېښېدل چې د تېرایستلو لپاره خپاره شوي وو.

د دفاع وزير دغه راپور په چوپتيا تر خپل نظر تېر کړ او د پاڼو په څنډو کې يې څو يادښتونه په پنسل وليکل. ورپسې يې د راپور لومړۍ پاڼه لاسليک کړه، راپور يې په يوه دوسيه کې کېښود. بيا يې بېرته اوګرکوف ته ورکړ او ورته ويې ويل: «دا راپور بايد څارنوال ته ورکړې.» اوستينوف بل لوري ته وکتل او په دفتر کې يې ګامونه واخيستل. بيا يې د اوګرکوف سترګو ته مخامخ وکتل او داسې يې وويل: «اوس ډېر ناوخته دی. پرېکړه شوې ده. زه او ته يې بايد ترسره کړو».*
دا د اوګرکوف وروستۍ هڅه وه چې د خپل وزير د درېځ پر وړاندې ودرېد. له دې وروسته، دی او لاس لاندې يې شپه او ورځ لاس په کار شول چې افغانستان ته د داسې لويې پوځي ډلې د لېږلو چارې سمبال کړي چې د «په افغانستان کې د شوروي اتحاد د پوځيانو يوه محدوده ډله» نوم ورکړل شو.
حتی ډېر کلونه وروسته کله چې شوروي پوځيان له افغانستان څخه ووتل او په شوروي اتحاد کې د پرېکړو روڼوالی او د بيان د ازادۍ پېر راغی، ډېرو سياستوالو او د څارګرې ادارې لوړپوړو چارواکو هڅه وکړه چې له خپلو تېرو غلطو پرېکړو څخه انکار وکړي، اوګرکوف چوپتيا غوره وبلله. له ده څخه کوم يادښت کتاب يا کومه مرکه نه ده پاتې شوې؛
نو نوموړی په داسې ښه روزل شوی و.

د کې جي بي رييس کريچکوف ته وکتل او ويې ويل: «ښه نو، ولوديا. اوس د عمل وخت دی. داسې وګڼه چې امر شوی. سر له اوسه هرڅه يا ډېری هغه پر تا او ستا پر خلکو تړلي دي.»
کريچکوف په دې حتی هېڅ فکر و نه کړ چې د امر په هکله له اندروپوف څخه کومه پوښتنه وکړي. امر له کوم ځای
څخه راغلی؟ چا لاسليک کړی؟ متن يې څه ډول دی؟ کريچکوف ،اندروپوف ته دومره وفادر و چې پرته له اړنګ يا پوښتنې څخه يې د اندروپوف هر امر ترسره کاوه.  د اندروپوف پر وړاندې د کريچکوف د چلند ښه پر يو شمېر داسې دليلونو ولاړه وه لکه د خپل کاري ژوند د بريا په پار له اندروپوف څخه منندوينه، نوموړي ته اخلاصمن درناوی (چې بې اړنګه يوه وتلې څېره وه) او هغه زاړه مسلکي دودونه چې له مشرانو څخه نا اړينې پوښتنې نه کېدې.

*ښايي د يوستانوف مطلب دا و چې په افغانستان کې د پوځي مداخلې په هکله په اصولو کې د سياسي بېرو له ډېری غړو څخه هوکړه ترلاسه شوې وه. دغه پرېکړه دوه ورځې وروسته په رسمي توګه منظور او ثبت شوه.
www.samsoor.com

د اندروپوف پورتنيو خبرو کريچکوف حيران نه کړ. دی پخپله دومره پرېکنده او شننونکی نه و، خو په بيروکراتيکو چارو کې په کلونو چوپړ نوموړي ته دا وړتيا ورکړې وه چې د خپل مشر په خوښه پوه شي او دی په خپل وار د امر يو بې تشې ترسره کوونکی و. په دغه قضيه کې د مشرتابه هيلې روښانه وې: امين بايد ووژل شي، پرځای يې يو وفادار کس کښېنول شي او افغانستان بايد ملګری او متحد پاتې شي. په دې هکله ډېر څه لا د مخه ترلاسه شوي وو. وروسته له دې چې بشپړه لاربښوونه ورته وشوه، کارمل، سروري او د مخالفينو هغه نور بې عزته شوي مشران چې جګړې ته ډېر لېوال وو د تاشکند پولې ته څېرمه ولېږدول شول چې کله يې وخت راغی په يو يا دوو ساعتونو کې کابل ته ورسول شي او ورپسې به ورکړل شوې دندې ترسره کړي. په کابل کې د کريچکوف مامورين له پټو پرچميانو او مخالفو خلقيانو سره په کار بوخت وو. د کې جي بي ځانګړو پوځي ځواکونو لويې ډلې چې شمېر يې له ۱۵۰۰ کسانو اوښتی و په کابل کې او د بګرام په هوايي ډګر کې راغونډ کړل شوي وو. د کې جي بي يو مامور د افغان مشر ترټولو نيږدې کړی ته ننوتلی و، خو تراوسه ځينې ستونزې شته وې چې بايد حل شوې وی. کريچکوف ته دنده ورکړل شوې وه چې په داسې هېواد کې رژيم بدل کړي چې د وتې له اړخه شوروي اتحاد ته اړ و، خو بشپړه خپلواکي يې درلوده. دا به څنګه شونې وي چې په افغانستان کې د شوريانو راڅرګندېدنه د افغان مشرتابه د پرله پسې غوښتنو پر بنسټ نړۍ ته توجيه شي په داسې حال کې چې له ننوتلو سره سم يې رژيم نسکور کړ؟ دا به ډېره ښه وي چې پخپله افغان مخالفين د کودتا ناولي کارونه ترسره کړي؛ نو بيا به دا د افغانانو کورنۍ موضوع وګڼل شي، خو که دوی په دې کې پاتې راغلل، نو بيا؟ له امين سره بايد څه وکړل شي؟ ونيول شي او د ټولو هغو جرمونو په تور محاکمه شي چې ده ترسره کړي او بيا په اعدام محکوم شي؟ ايا بايد د رژيم بدلولو په بهير کې ووژل شي؟ ايا بايد شوروي اتحاد ته ولېږدول شي او هلته ګوښه وساتل شي؟ سياسي ببرو نه غوښتل چې په دغسې چارو کې ښکېل شي. دوی اصلي پرېکړه کړې وه او پاتې کارونه بايد د کې جي بي خلکو ترسره کړي وی، خو هره تېروتنه به ډېره ګرانه پرېوتلې وی.

ستونزه دا وه چې کريچکوف پر يوې کوچنۍ ډلې ډېره لګولی شوی چې د دغو چارو په هکله ورسره وغږېږي. د دغو عملياتو د محرميت کچه دومره جدي وه چې حتی د ده ځينې مرستيالان په هېڅ خبر نه وو. ده به له ځان سره داسې سوچ کاوه: « بې اړنګه، ښه به دا وي چې دکودتا په بهير کې امين له منځه يووړل شي. ډېرې ستونزې د امين پر وژلو تړلې دي - که سړی نه وي، ستونزه نشته. دې ته به د انقلابي محکمې د حکم پر بنسټ د اعدام نوم ورکړل شي. دغسې غوراوی به په افغانستان کې پوښتنې رامنځته نه کړي ځکه چې ټول پوهېږي چې د امين لاسونه په وينو سره دي. شوروي اتحاد هم بايد ټولو هغو حساسو پوښتنو ته د بشپړو ځوابونو تابيا ونيسي چې خامخا به يې د نړيوالې ټولنې استازي، په سوسيالېستي بلاک کې د شوروي اتحاد ملګري او د ناپېيلو هېوادونو خوځښت، چې افغانستان يې غړی دی، راپورته کوي.»

داسې برېښبېدل لکه چې د کریچکوف سوچ اندروپوف ننګېرلی و. اندروپوف په تیلفون کې ورته وویل: «د راتلونکو پېښو
په هکله د ځوابونو هغه خاکه درلېږم چې په مرکزي کمېټه کې زموږ ملګرو چمتو کړې ده. ښه په پام یې ولوله او بیا یې
په اړه خپل اند ما ته ووایه.»
کریچکوف ته ډېر ژر د لاسوندو یوه درنه بسته وسپارل شوه. ټول لاسوندي د هغو سختو موضوعګانو په هکله وو چې کریچکوف وربانديې سوچ کاوه. د یو لاسوندي سرلیک «په افغان مشرتابه کې د بدلون او د شوروي اتحاد د پوځي مداخلې په تړاو د یو متحد تفسیر په هکله» و چې پکې یوې پراخې شننې د یو لړ موضوعګانو په هکله اندونه څرګند کړي وو.
په لاسوندي کې راغلي وو چې د ۱۹۷۹ کال راهیسې لړترلړه څوارلس ځلې تره کي او امین له مسکو څخه غوښتنې وکړې چې په نېغې پوځي مداخلې سره د افغانستان په کورنیو چارو کې د بهرنۍ پوځي لاسوهنې مخه ونیسي؛ نو د شوروي اتحاد او د افغانستان دموکراتیک جمهوریت تر منځ د ملګرتیا، ښه ګاونډېتوب او همکارۍ له تړون، د ملګرو هېوادونو له چارتر او د افغان حکومت له ګڼ ځلي غوښتنو سره سم به د شوروي اتحاد مداخلې ته یو ټینګ او مشروع نړیوال بنسټ ورکړل شي. د نوي افغان مشر په تړاو لیکل شوي وو چې کارمل د اکتوبر په دویمه نیمایي کې له جبري تبعید څخه هغه وخت سمدلاسه بېرته خپل هېواد ته لاړ چې امین، تره کی وواژه. ده چې پټ ژوند کاوه، لومړی یې له پټو سازمانونو سره اړیکې ټینګې کړې او ورپسې یې د دوی د فعالیتونو مشري پیل کړه. پټېیل شوي وه چې د امین رژیم به د فعالانو د هغه پټ خوځښت له لوري نسکور شي چې په هېواد کې د ټولو وطنپالو ځواکونو په ملاتړ د ا خ د ګ له غړو جوړ شوی و؛ نو د هغو خلکو په ګډون چې د امین په وخت کې د ګوند او دولت د مشرتابه یوه برخه وو، پخپله افغانانو د امین پر ضد ګام پورته کړ او د شوروي پوځي ډلو د امین په لیري کولو کې نېغه ونډه نه درلوده. د شوروي ځواکونو راتګ یوازې او یوازې د بهرني تېري پر وړاندې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا او د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د خپلواکۍ د ساتنې په موخه و.
د لاندې لاسوندي یوه خامه چې اندروپوف، ګرومیکو، اوستینوف او پنومروف لوستې وه په ا خ د ګ کې یې په تفصیل وضعیت بیان کړی و، د امین طرحې، شخړې زېږوونکې کړنې، لوېدیځ ته ګروهنه، د ځینو دوام او د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کې د شوروي اتحاد د پوځي مداخلې منطق یې پرله پسې بیان کړی و .څومره چې کریچکوف پوهېده، دغه لاسوندی پخپله په شوروي اتحاد کې د کار اخیستنې لپاره جوړ شوی و چې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند په ټیټ پوړ کې په افغانستان کې د پوځي مداخلې منطق څرګند کړي.
www.samsoor.com

وریسې کریچکوف د «پر افغانستان باندې زموږ د یرغل د توجیه او بیان په اړه د پروپاګند کمپاین» تر سرلیک لاندې د یو وړاندیز خامه په چټکۍ ولوسته. په دغه وړاندیز کې ټول مخکني دلیلونه یو ځل بیا لیکل شوي وو. په همدې توګه یې دغه لاسوندي هم تر خپل نظر تېر کړل: په سوسیالېستي هېوادونو کې د شوروي سفیرانو ته لارښوونې، په ملګرو ملتونو کې د شوروي اتحاد استازي ته یوه سپارښتنه، د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې غړو او کاندیدانو او د شوروي اتحاد د جمهوریتونو د مرکزي کمېټې او سیمیزو ګوندي کمېټو ته لیکونه. سربېره پر دې،په یو تېلګرام کې ببرک کارمل ته د انقلابي شورا د ریس، د ا خ د ګ د مرکزي کمېټې د عمومي منشي او د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د لومړي وزیر په توګه د ټاکل کېدو مبارکي ورکړل شوې وه.

د دغو لاسوندو په هکله کریچکوف کومه جدي تبصره نه درلوده. نوموړي د کې جي بي ریس ته وویل چې دغه ټول لاسوندي ډېر ښه چمتو شوي .اندروپوف ورته وویل: «نو عمل پرې وکړه.»

د عملیاتو د پیل امر د کریچکوف په واک کې و، خو ده بیړه نه درلوده. دی د خطر په پایلو پوهېده او له دې کبله

سوکه نه و چې د دغو عملیاتو پر منطق یې اړنګ درلود بلکې په حقیقت کې په دې هکله د ده دریځ ټینګ و او د هرې هڅې کړنې په ترسره کولو کې یې اړنګ نه کاوه چې د شوروي اتحاد او سوسیالېستي خوځښت په ګټه و. کریچکوف ځکه سوکه مخته روان و چې ځان په دې ډاډمن کړي چې هېڅ راز تېروتنه نه رامنځته کېږي او داسې څه نه پېښېږي چې په پلان شوو عملیاتو کې خنډ رامنځته کړي یا یې په خطر کې واچوي. د کریچکوف په امر بګدانوف او اوسادچي د هغو اجنټانو په ګډون چې له شوروي اتباعو څخه ګمارل شوي وو، ټولې هغه سرچینې چمتو کړې چې د دوی په اختیار کې وې. ټولو دغو اجنټانو ته پرته له دې چې دلیل یې ورته څرګند کړل شي امر وشو چې شپه او ورځ په تیارسۍ کې وي او د امین، د ده د څارګرو ادارو، دولتي جوړښت او د پوځي ډلو د خوځښت په هکله په دوامداره توګه هر راز مالومات راغونډ کړي .

د پي جي یو مشر په ځواب کې داسې راپور ورکړ: «څه د پاسه ۱۵۰۰ سلاکاران او کارپوهان، د کې جي بي ټول مامورین او څارګر، د زینت عملیاتي ډله او د شوروي له استوګنو څخه اجنټان - یوسل او درې اجنټان او پنځلس باوري خلک - د مالوماتو په راټولولو کې ښکېل دي.»

د S ریاست له اتمې څانګې څخه ، چې تر ټولو محرمه اداره وه، مامورین او د پي جي یو کابو ټول هغه مامورین چې د افغانستان په تړاو یې دندې درلودې، له یاسینېوا څخه کابل ته ولېږل شول. د زینت افسران چې په ټول شوروي اتحاد کې د کې جي بي له بېلابېلو ادارو څخه راغونډ کړل شوي وو کابل ته لا مخکې رسېدلي وو. پر دوی سربېره، کریچکوف له اندروپوف څخه هم لویه مرسته ترلاسه کړه. نوموړي د کې جي بي د اووم ریاست د الف ډلې (د ترهګرۍ ضد ډلې) افسران هم په کابل کې وګمارل. دوی د اووم ریاست له مشر، تورن جنرال بشستنوف Beschastnov سره یوځای کابل ته ورسېدل .

د دسمبر په دیارلسم، د بهرنیو چارو څارګر افسر، میخایل ت، چې د «اشپز» په نوم د امین نېږدې کړې ته ننوتلی و امر ترلاسه کړ چې هغه زهر چې له مسکو څخه ورسپارل شوي وکاروي چې امین او د ده وراره اسدالله، چې د افغان څارګرې اداري مشر و، له منځه یوسي. د دغو عملیاتو لپاره پلان داسې و: امین او اسدالله به شنډ کړل شي. ورپسې به د واک له لنډمهالې تشیا څخه کار واخیستل شي چې د کې جي بي او پوځ ځانګړي ځواکونه، کوماندو او سرحدي پوځیان په ناڅاپي توګه د کابل پر مهمو ځایونه بریدونه وکړي. د ا خ د ګ «سلیمو ځواکونو» دویمه دنده په غاړه اخیستې وه .دوی په هغو ځایونه کې د ننه په بریدونو کې برخه اخیسته چې د نیولو لپاره په نښه شوي وو.

پوځي ستر سلاکار ډګر جنرال مګومتوف د پوځي عملیاتو په هکله کابو تصادفي ټیک د یرغل په شپه خبر شو.

اوستینوف په تیلفون کې له نوموړي څخه وپوښتل: «د امین د لیرې کولو د عملیاتو تابیا تر کوم ځایه رسېدلې؟» اوستینوف پوه شو چې دغه سلاکار د پلان شوې کودتا په هکله هېڅ نه دی خبر، ده ته یې امر وکړ چې په کابل کې د اندروپوف له استازي سره ژرترژره وګوري، خو جنرال ایوانوف په سرېږ بڼه مګومتوف ته ځواب ورکړ چې دی هم په هېڅ نه دی خبر. کله چې مګومتوف غوسه څرګنده کړه او د سیاسي بېرو د غړي لارښوونې ته یې نغوته وکړه، ایوانوف د

راتلونکو عملیاتو په هکله مالومات ورکړل.

کله یې چې پلان ولوست، دغه هک پک سلاکار له ایوانوف څخه وپوښتل: «د امین د څو زرو ساتونکو، د کام افسرانو او د وفادارو خلقیانو د لیکو پر وړاندې ته په داسې محدودو ځواکونو په ریښتیا د بریا هیله کوې؟» ده ته څرګنده نه وه چې د افغان پوځ غبرګون به څه وي. ده وپوښتل: «ایا ته ډاډه یې چې افغان وسلوال ځواکونه به د خپل مشر په ملاتړ ونه درېږي؟»

ایوانوف ورته وویل: «اوس باید ' ته' ونه وایې او پر ځای یې ' موږ ' ووایې ځکه ته یو له څو کسانو څخه یې چې پر دغه پلان خبر دي؛ نو سرله اوسه د عملیاتو پوځي چارې ستا پر غاړه دي. ته باید جنرال ګوسکوف له دغه پلان سره اشنا کړې.»

پراشوټي افسر جنرال ګوسکوف، چې په بګرام کې له مګومتوف څخه مالومات ترلاسه کړل، خپله حیرانتیا پټه نشوی کړی. ده وویل: «په مسکو کې دا پلان کوم هوښیار جوړ کړی؟ پرته له دې چې د پوځیانو په

شمېر يا په نورو اړخونو کې برلاسي ولري، چا پر يو داسې بريد کې بريا ترلاسه کړې چې دوښمن يې په دفاع ښه سمبال وي؟ هو، که چېرې د ناڅاپې فکتور په پام کې ونه نيول شي.»

د دغه پلان تر شا «هوښيار» خلک لاتراوسه مالوم نه دي ځکه چې له کې جي بي يا له دفاع وزارت څخه هېڅ کوم ليکلی امر ورنه کړل شو او د دغو عملياتو پلان جوړوونکي هېڅ کله بربنډ نشول.

د دسمبر په دوولسم د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې سياسي بېرو خپله پرېکړه وکړه. د عملياتو محرميت او حساسيت ته په پام سره، کانستنتين چېرنېنکو Konstantin Chernenko دغه لاسوندی (چې په مرکزي کمېټه کې هېڅ کله په دغه بڼه کار نه و شوی) په لاس وليکه. په لاسوندي کې داسې ليکل شوي:

د ل. ا. برېژنېف تر مشرۍ لاندې

ګډونوال: سوسلوف م. ا، ګرېشين و. و. کېرېلېنکو ا .پ، پېلشې ا. يا، اوستينوف د ف، چېرنېنکو ک ی، اندروپوف ی.

و، ګروميکو ا. ا، تېخانوف ن. ا، پنومروف ب. ن .

Suslov M.A, Grishin V.V, Kirilenko A.P, Pel'she A.Ya, Ustinov K.U, Andropov Y.V, Gromyko A.A, Tikhonov N.A, Ponomaryov B.N

د شوروي اتحاد د کمونست ګوند پرېکړه ليک نمبر ۱۲۵/۱۷۶

په «ا» کې د حالاتو په هکله

۱. د ملګرو اندروپوف ی. و، اوستينوف د.ف او ګروميکو ا.ا نظريې او کړنې منظور شوې. د دغو کړنو د پلې کولو لپاره دوی اجازه لري چې په لاسوندي کې کوچني سمونونه (تعديل) راولي. هغه چارې چې د مرکزي کمېټې پرېکړو ته اړتيا لري، سياسي بېرو ته بايد په مناسب وخت وړاندې شي. د ټولو دغو چارو پلې کول ملګرو اندروپوف ی. و، اوستينوف د. ف او ګروميکو ا. ا ته سپارل کېږي.

۲. ملګرو اندروپوف ی. و، اوستينوف د. ف او ګروميکو ا. ا ته دنده ورکول کېږي چې د پلان شوو چارو د پلې کولو په هکله د مرکزي کمېټې د سياسي بېرو غړي خبر کړي.

د مرکزي کمېټې منشي

ل. ا. برېژنيف

د سياسي بېرو د دغه مرګوني غونډې په هکله ډېر لږ جزيات څرګند شوي. يوازې دومره مالومات شته چې د حکومت مشر کاساګين، هغه څوک چې له خپلو همکارانو څخه يې سوال وکړ چې د افغانستان په هکله له انډول سره برابر دريځ ونيسي او په دوامداره توګه يې په افغانستان کې د پوځي مداخلې نظر رداوه، د ناروغۍ له کبله په دغه غونډه کې ګډون نه درلود. د دې خيال په زړه پورې دی چې که نوموړی په دغه ورځ په کرېملېن کې وی، ده به څرنګه رايه ورکړې وی. د سياسي بېرو ټولو نورو غړو د رايو په اتفاق دغه

لاسوندی منظور کړ. دا هم څرګنده ده چې په دغه ځانګړې ورځ، د دسمبر دوولسمه، امریکایانو او متحدینو یې خپل پلان اعلان کړ چې په اروپا کې د منځني واټن توغندي ځای پر ځای کوي. دغه پلان ستراتیژیک انډول زیانمناوه؛ نو د شوروي اتحاد مشرتابه ته یې لویه اندېښنه رامنځته کړه.
کېدای شي ځوک پوښتنه وکړي چې پورتنی د «نظریو او کړنو» هغه لاسوندی چېرته دی چې اوستینوف، اندروپوف او ګرومیکو یې یادونې کړې وې. دا ډېره شوني ده چې دغسې لاسوندي هېڅ شتون نه درلود او دوی په ګړنۍ توګه خپل دلیلونه څرګند کړي وي. دغو پامیالیو چارواکو هڅه کوله چې په هغو ورځو کې د خپلو کړنو په هکله هېڅ کوم لیکلی لاسوندی پرېنږدي. حتی په پورتني لاس لیکلي لاسوندي کې افغانستان په بېشرمۍ یوازې په «ا» لیکل شوی.
خو کریچکوف ته دا یوه روښانه نښه وه چې د عمل وخت راورسېد؛ نو کابل ته یې د پلان د پیل امر ولېږه.
د ارګ په ماڼۍ کې «اشپز» میخایل ت په هغه کوکاکولا کې زهر واچول چې په غرمنۍ کې امین ته کېښودل شول. امین د خطر هېڅ ننګېرنه و نه کړه، کوکاکولا یې وڅښله او هغه ډوډۍ یې په ستروړی وخوړله چې د ده شوروي «اشپز» پخه کړې وه. کله چې په دې ډاډمن شو چې امین زهر وڅښل، دغه «اشپز» د شوروي وتېه ییز سلاکار دفتر ته تیلفون وکړ او دغه شفري خبره یې ورته وکړه: «کولای شې راته ووایې چې په مکروریانو کې زما د اپارتمان لپاره د نور سامان چارې څومره مخته تللې دي؟» د نوموړې دغه خبره په دې مانا وه چې ورکړل شوې دنده یې ترسره کړه او وتلو ته چمتو دی. د کې جي بي مامور هغه شفري خبره ورته وکړه چې میخایل اوس وتلی شي او د شوروي په سفارت کې پنا اخیستی شي.
داسې انګېرل شوې وه چې د زهرو اغېز به پنځو یا شپږو ساعتونو کې راڅرګندېږي. د دغه وخت په ترځ کې مسلمان کنډک، زینت، پراشوټي ډلې او یوې سرحدی ډلې ته امر شوی وو چې د هغو ځایونو په لور وخوځېږي چې باید ونیول شي: د امین استوګنځی، د دفاع وزارت، مرکزي قول اردو، د کورنیو چارو وزارت، د تلویزیون او رادیو مرکزونه، د کام مرکزي اداره او د پلچرخي زندان.
میخایل ت سفارت ته خوندي ورسېد او بګدانوف ته ورغی. بګدانوف د خپل یو ملګري اپارتمان ته بوت او ورته ویې
وویل: «اوسمهال همدلته اوسه. ماښام ته به دې بګرام ته او ورپسې بېرته مسکو ته ولېږو.» وروسته، بګدانوف په چټکۍ خپل کور ته لاړ چې له پلان سره سم له اسدالله امین سره هغه ماښامنۍ یوځای وخوري چې په ترځ کې یې د افغان څارګرې اداري دغه مشر ته زهر ورکول کېدل. داسې پلان و چې په ماښامنۍ کې به له بګدانوف او اسدالله سره ایوانوف او یو ژباړن هم یوځای کېږي، خو په ورستیو شېبو کې ایوانوف وپتېیله چې ده ته به ناښنده وي چې یو جنرال او د اندروپوف شخصي استازی په داسې یوه حساسه چاره کې برخه واخلي؛ نو د کې جي بي استازي، بګدانوف ته یې وویل: «اسدالله ته ووایه چې زه
www.samsoor.com

ښه نه یم او د سفارت ډاکتر ټینگار کړی چې په کټ کې پاتې شم.» بگدانوف ته بله لاره نه وه پاتې پرته له دې چې په خپل سر لاس په کار شي.
د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په دیارلسمه له غرمې وروسته د دغه دوو امینیانو گېډې له زهرو څخه ډکې کړل شوې. اوس شورویان د زهرو د اغېز پخلي او د دواړو امینیانو شنډېدو ته تم وو. د عملیات دویم پړاو یوازې هغه وخت پیل کېدای شوی چې پورتنی پخلی ترلاسه شوی وی، خو پوښتنه دا وه چې د تره او وراره د وضعیت په هکله څرنگه مالومات ترلاسه کېدای شوی.
مرکز دغه وړاندیز وکړ: بگدانوف له مسکو څخه یو بیړنی تېلگراف ترلاسه کوي چې کېدای شي هره شېبه امریکایان خپل ځانگړي ځواکونه د ایران په خاوره کې ځای پرځای کړي. مرکز سپارښتنه کوي چې ژرترژره ملگری امین د دغه بوړنوونکي تېلگراف په منځپانگه خبر کړل شي؛ نو په دې توگه به د امین د روغتیا او په استوگنځي کې یې د وضعیت په هکله مالومات واخیستل شي. له نیمې شپې وروسته، بگدانوف له یو ژباړن سره د ارگ ماڼۍ ته ورسېد او په هغو زینو وختل چې پکې درې میاشتې مخکې تړون وژل شوی و. امین روغبړ ورسره وکړ. اسدالله هم په همدغه شپه په ارگ کې و. دی هم سمدلاسه له خپلې خوب خونې څخه راووت، له مېلمنو سره یې ستړي مشي وکړل او بېرته خپل ځای ته لاړ. بگدانوف د داسې بې وخته راتگ له کبله بښنه وغوښتله او امین یې د تېلگراف په هکله خبر کړ. امین روغ نه ښکارېده، ونگه یې خړه وه او د سترگو لاندې یې کڅوړې جوړې شوې وې، خو کېدای شي دغه حالت یې د دوامداره ستړیا له کبله و. امین، ډگروال بگدانوف ته په پام غوږ ونیوه، له ده څخه یې مننه وکړه او غوښتنه یې ترې وکړه چې د پارس په خلیج کې د حالاتو د پرمختگ په هکله یې په دوامداره توگه خبر وساتي. دواړو، تره او وراره له بگدانوف سره مخه ښه وکړه. له بده مرغه، دوی داسې نه برېښېدل چې ډېر ناجوړه وي. کله چې د شپې ناوخته بېرته سفارت ته لاړ، بگدانوف هغه څه چې په ارگ کې لیدلي وو په یو تېلگراف کې مرکز ته ولېږل او ورپسې ویده شو.
زهرو اغېز درلود، خو په عجیب ډول یوازې د امین پر وراره باندې. د دسمبر په څوارلسم سهار، دا څرگنده شوه چې د شوروي پوځي روغتون د ډاکترانو په گډون، ارگ ته ډاکتران ورغوښتل شوي وو. ډاکترانو راپور ورکړ چې اسدالله روغتون ته ولېږدول شو ځکه چې د خوړو د سخت مسمومیت گومان پرې کېده. ماښام ته پرېکړه وشوه چې د نورې درملنې لپاره مسکو ته ولېږل شي.
په عین وخت کې، مرکز امر وکړ چې کارمل له تاشکند څخه بگرام ته ولېږدول شي. په حقیقت کې دا د عملیاتو د دویم پړاو د پیلېدو په مانا وو. ایوانوف په تیلفون کې کریچکوف ته د وضعیت په هکله داسې راپور ورکړ: «اسدالله امین په روغتون کې دی او سیروم ورته چالان دي. گېډه یې ومینځل او وینه یې پاکه کړل شوه. وضعیت یې خراب دی. زموږ د مالوماتو پر بنسټ، امین جوړ دی او له مهال وېش سره سم خپل

کار ته دوام ورکوي.» کریچکوف په غوسه ورته وویل: «ولې؟ دا څه مانا لري؟ ستا هغه سړی چېرته دی چې دوی ته یې ډوډۍ ورکړه؟ دی څه وایي؟»

دغه مامور، میخایل ت، چې کریچکوف یې یادونه وکړه ببرته د امین پخلنځي ته تللی و. دی په همغه سهار ډېر د وخته له بگرام څخه ببرته کابل ته ولېږدول شو ځکه چې امین ژوندی پاتې شوی و او پر خپل شوروي اشپز یې هېڅ بد گومان نه درلود. ایوانوف، کریچکوف ته وویل چې میخایل په کوکاکولا کې زهر واچول او پخپله یې ولیدل چې امین ټول گیلاس وڅښلو. ایوانوف څرگنده کړه: «دوه شونتیاوې شته. یا دا چې زهرو تراوسه اغېز نه دی کړی او موږ باید نور هم ورته تم شو یا دا چې کوکاکولا د زهرو اغېز له منځه وړی*. که داسې وي؛ نو وضعیت بدل شوی او په دې هکله چې اوس باید څه وشي باید ژرترژره پرېکړه وشي.»

کریچکوف، چې په معموله توگه یو ارامه سړی و او ژر نه په غوسه کېده، سخته چوپتیا غوره کړه، خو بلاخره یې

وویل: «ته پوهېږې چې موږ لږ وخت مخکې ټول په الوتکه کې کښېنول؟ پوهېږې چې ملگری ک له تاشکند څخه کابل ته په الوتکه کې په لاره دی؟ پوهېږې چې ځانگړو ځواکونو ته امر وشو چې عملیات پیل کړي؟» ایوانوف په ژمنې ورته وویل: «تاسې ته به په دوامداره توگه په ماڼۍ که د حالاتو په هکله مالومات درکړو.» کریچکوف په کرار غږ ، خو په ناراضتیا وویل: «سمه ده.» ورپسې یې غوږۍ کېښوده.

په عین وخت کې په بگرام کې د زینت افسرانو، پراشوټیانو او د مسلمان کنډک جنگیالیو ته امر شوی و چې په پوځي گاډو کې کښېني او کابل ته د تگ لپاره چمتو شي .

ولېږي کریلوف تصادفي پوه شو چې کېدای شي هغه عملیات هره شېبه پیل شي چې د ترسره کولو لپاره یې دوی بگرام ته لېږدول شوي وو. کله یې چې یو ماښام خپلې خېمې ته خېرمه گامونه اخیستل، د نومورې د بگرام یوې برخې ته پام شو چې اغزن تار ترې چاپېر شوی و او د اخفا لپاره پر پوځي مورچلونو چاپېریال ته ورته ترپالونه اچول شوي وو. کله چې نېږدې ورغی، ده بېگانه سړي ولیدل چې بې شعاع او پلېټه پوځي کوټونه یې اغوستي وو او په هغه سیمه کې گرځېدل چې اغزن تار ترې چاپېر شوی و. په دې خلکو کې یې خپل پخوانی اشنا، سروري، وپېژانده. گلاب زوی هم هملته نېږدې و. د افغان خارگرې اداري پخواني مشر هم خپل وروستی ژغورونکی وپېژانده او په لیدو یې ډېر خوشاله شو. سروري وپوښتل:

*وروسته، همدغه زهر وازمویل شول او پایلې یې گواکې د دویمې شونتیا پخلی وکړ.

www.samsoor.com

«تاسې بېرته راغلي یاست؟ ټول نور ملګري هم دلته دي؟» ولبري ده ته ډاډ ورکړ: «هو، ټول همدلته دي، ټوله غدۍ!» سروري په خندا ورته وویل: «ډېر ښه، نو بیا بریا خامخا زموږ ده. مړ د وي خونړی امین!»
کوریلوف غوښتل چې بېرته خپلې خېمې ته لاړ شي، خو د ځانګړو ځواکونو یو ناشنا افسر ده ته ورنېږدې شو. دغه سړی بې کچې لوی و او تر سږمو پورې په وسلو سمبال و. ولبري تراوسه نه پوهېده چې د ترهګرۍ ضد د A ځانګړې ډلې ځواکونه هم راغلي وو. دوی یو او بل ته ځانونه ورو‌پېژندل. ولبري ته مالومه شوه چې دغه نوي اشنا یې د افغانستان د راتلونکي حکومت د غړو د ساتنې مسولیت په غاړه درلود. په داسې حال کې چې د افغانانو په لور یې سر وخوځاوه، دغه افسر کوریلوف ته وویل: «نور دوی ته مه ورنېږدې کېږه او چا ته مه وایه چې دوی دې ولیدل. دا ډېره مهمه ده چې
موږ یې پټ وساتو.»
نو له دې څخه کوریلوف داسې پایلې ته ورسېد: «نو مانا یې دا ده چې موږ به د کابل په لور خوځېږو چې امین نسکور کړو.»
سبا ته، د کوریلوف انګېرنه سمه وخته. لومړی د زینت جنګیالیو ته د مسلمان کنډک یو شمېر زغروال ګاډي ځانګړي شول او امر ورته وشو چې کابل ته د تګ لپاره چمتو اوسي. ورپسې د زینت د یوې ډلې قوماندان، یشا سېمېنوف Yasha Semenov وویل چې د یوې غونډې لپاره د قوماندان خېمې ته بلل شوی. په پیکه رڼا خېمه کې د غونډې ګډونوال ناشنا ښکارېدل. دوی ټولو، هغوی چې د غونډې مشرتابه د مېز تر شا ناست وو او پاتې نورو ګډونوالو عسکري خولۍ او کوټونه پر تن وو. مشران د دوی د پلېټونو له پیتو څخه پېژندل کېدل. د بربېدملۍ پیتې درلودونکي په اصل کې ډګروالان وو .کابو ټولو خپلې ږیرې نه وې خرېیلې او په ونګو کې یې ستړیا لیدل کېده. د مسلمان کنډک، د زینت او د پراشوټي
ځواکونو قوماندانان په دغه غونډه کې حاضر وو.
یوه ناشنا څېره چې سپینږیری ښکارېده (کریلوف پوه شو چې نوموړی خامخا یو جنرال و) د امین د تشو، له سي ای اې سره یې ګواکې اړیکې او ګواکې د امریکا په ګټه د ده د چلند په هکله یو لکچر ورکړ چې ټولو خبرو یې د ده نسکورولو ته نغوته کوله. کله چې د یاشا سېمېنوف د وینا وار راورسېد، د پورتنیو خبرو له پخلي سربېره، ده یو ځانګړی پوځي پلان وړاندې کړ. نوموړي د زغروالو ګاډو د نمبر پلېټونو شمېرې په هغو ځایونو وویشلې چې د برید لپاره په نښه شوي وو. د کوریلوف ګاډی په ترټولو «معززه» ډله کې و، په هغه ډله کې چې د ارګ د نیولو دنده ورکړل شوې وه.
کوریلوف، چې لارښوونو ته غوږ نیولی و، ناڅاپه پوه شو چې دا ټول د یو بد خوب په څېر دي. دلته دوی په یو داسې هوایي ډګر کې وو چې نااشنا بهرني غرونه ترې چاپېر وو. خېمه یې لړزانده وه او پکې ناخرېیلي مخونه یوې داسې بخارۍ ته راغونډ شوي وو چې دومره تودوخه یې نه کوله، خو بې اړنګه، ده ته تر ټولو ربړوونکې هغه ناشونې دنده وه چې دوی ته ورکړل شوې وه. د ځانګړو ځواکونو یو ټولی، یوه پراشوټي ډله

او دوه درجنه د زينت جنګيالي څنګه کولای شي چې د کابل په زړه کې داسې يو مظبوط ارګ تر خپل کنترول لاندې راولي؟ ويل کېږي چې د امين دوه زره وفادار ساتونکي له ارګ څخه ساتنه کوي. سربېره پر دی، يوه ساتونکې ډله چې د امين له خپلوانو څخه جوړه شوې وه او د کابل په مرکز کې يو پوځي غونډ هم بايد په پام کې نيول شوی وی.

پلان داسې وو: پنځه زغروال ګاډي به په بشپړ ګړنديتوب د ارګ په دروازې ورننوځي، د ماڼۍ انګړ ته به ځي او په چټکۍ به دفاعي مورچلونه شنډوي او بيا به يو ژباړن په لوړ غږ کې اعلان کوي چې د امين ناګرانه رژيم نسکور شو او ساتونکو ته به سپارښتنه کوي چې خپلې وسلې پر ځمکه کېږدي، تسليم شي، خپل لاسونه پورته کړي او د خپلو ازادوونکو په لور ورشي.

ولېري شاوخوا خپلو ملګرو ته وکتل چې د دغو لارښوونو په هکله د دوی غبرګون ووينې. دوی په څرګنده وېرېدلي وو. سېمېنوف او ګولوبېف، چې ډېر نارامه ښکارېدل، بل لوري ته کتل. له شاتنۍ ليکې څخه يو چا پوښتنه وکړه: «کېدای شي چې د ماڼۍ نقشه ووينو؟» د مېز تر شا مشرانو يو او بل ته وکتل او يوه يې په اړنګمنه بڼه وويل*: «وروسته به تاسې له نقشې سره اشنا کړو.»

پوښتنه: *کله مو چې ماڼۍ ونيوله، له امين سره څه وکړو؟*

ځواب: *دا په تا پورې اړه نه لري. هلته به د ا خ د ګ د مرکزي کمېټې د سياسي ببرو د غړو په ګډون، نور خلک هم وي چې د امين غم وخوري.*

د زينت يو افسر چې په ښکاره په کابل کې بلد و، وپوښتل: «که ساتونکو مقاومت وکړ او د بالاحصار له کوماندو څخه يې مرسته ترلاسه کړه، بيا څنګه؟»

يو بوډا قوماندان داسې ډاډ ورکړ: «زموږ د څارګرو مالوماتو پر بنسټ، د ګارد ساتونکي شوروي پوځيانو ته مثبته ګروهنه لري او پر تاسې به ډزې و نه کړي.» ورپسې ډېرو په يوه غږ وپوښتل: «خو که پر موږ يې ډزې وکړې، موږ بايد څه وکړو؟» مشر بريدمل په تروه بڼه وويل: «نو بيا بايد له ځان څخه تېولې هغه وړتياوې وښيئ چې تاسې ته روزنه درکړل شوې او په هره بيه به خپله دنده ترسره کوئ.» ده په خبرو کې دمه وکړه او بيا يې وويل: «حتی د خپل ژوند په بيه .نورې پوښتنې شته؟»

اوس نورې پوښتنې نشته وې. د غونډې ګډونوال په چوپتيا لاړل. ترانسپورتي الوتکې چې د ۳۴۵مې پراشوټي فرقې پوځيان پکې وو پرله پسې د هوايي ډګر په ځغاست لاره کې کښيناستلې.

يو بل کنډک او د څار يوه ډله د هغه پوځي ډلې د ملاتړ لپاره هم راورسېده چې لومړی بريدمن وستروتين Vostrotinيي مشري کوله، خو له دې سره سره، داسې بربښېدل چې دغو پوځي ځواکونو د ټول ښار د

---

*ډېره شوني ده چې دغه سړی د پراشوټي پوځيانو مرستيال قوماندان، تورن جنرال ن. ګوسکوف و.

www.samsoor.com

نیولو لپاره بسنه نه کوله.
کابو په همدغه وخت کې، پوځي ستر سلاکار جنرال مګومتوف مارشال اوستینوف ته په تیلفون کې داسې وویل: «ملګری وزیر، ما وضعیت وڅېړلو او په بشپړ مسولیت وایم چې په بریالۍ توګه د دندې د ترسره کولو او ورپسې په کابل کې د نظم د ساتلو لپاره زه اوسمهال پوره ځواکونه او وسایل نه لرم.» اوستینوف پرېکنده ځواب ورغبرګ کړ: « ته یو ډارن یې، که څه؟» پر مګومتوف خولې راماتې شوې او ویې ویل: «د شوروي اتحاد ملګری مارشال، زه یوازې پر یو شي فکر کوم او هغه دا دي چې څرنګه راکړل شوې دنده په بریا ترسره کړم.» وزیر ورته وویل: «نو ترسره یې کړه او لاس په کار شه.»
دغه پوځي سلاکار له ګوسکوف سره په اړیکه کې شو او د دې پخلی یې ترلاسه کړ چې پراشوټیان راورسېدل؛ نو د پرمختګ امر یې وکړ، خو کله چې لومړنی زغروال ګاډی د هوایي ډګر له سیمې څخه ووت، د عملیاتو د درولو یو امر راورسېد.
په مسکو کې د کې جي بي او پوځي مشرانو یوې شورا چې وضعیت یې وروسته له هغه وڅېړه چې امین ته د زهر ورکونې د هڅې له ناکامۍ څخه خبر شول او ورپسې یې په کابل کې له خپلو استازو سره مشورې وکړې پرېکړه وکړه چې دغه عملیات وځنډوي. دا د هغه دویمې سناریو د پلې کولو په مانا وو چې سیاسي بېرو ورباندې خبرې کړې وې، خو هېڅ کله په رسمي توګه نه وه ثبت شوې. دغه سناریو افغانستان ته د شوروي اتحاد د محدود پوځ لېږنه وه چې یوازې او یوازې د دوی په رسېدنه پر دولتي ځایونو بریدونو پیل کېدای شوی او په پلازمېنه کې د واک لېږد ترسره کېدای شوی.
د عملیاتو په بهیر کې د باالقوې ناکامۍ وېرې یوه پرېکنده ونډه درلوده. د ټولو په اند ناکامي به په افغانستان کې د شوروي موقف ته د پای ټکی کېږدي، پر دغه هېواد به د شوروي اغېز له منځه یوسي، د ا خ د ګ به په بشپړ ډول نابود کړي او ښایي په کابل کې د شوروي اتحاد سفارت وران او ویجاړ کړي. په کابل او مسکو کې د عملیاتو مشران داسې برېښېدل چې د ا خ د ګ له سیمه ییزو غړو څخه د ملاتړ هیله نه لرله ځکه چې تراوسه د امین پر ضد یوه منظمه پټه ډله نشته وه. که څه هم د پرچمیانو او خلقیانو ځینې ډلې شته وې چې له امین څخه ناراضه وې، خو دوی په خپلو منځو کې اړیکې نه درلودې او نه یې غوښتل چې له یو او بل سره همکاري وکړي .داسې اتلان هم ډېر لږ وو چې د غویي انقلاب د ژغورلو لپاره د خپل ژوند قربانۍ ته چمتو وو. هغه حالت د دغه ادعا پخلی کوي کوم چې د دسمبر په څوارلسم د ورځې ناوخته د عملیاتو د درولو له امر څخه وروسته راڅرګند شو. شورویانو د اړیکو داسې وسیلې نه درلودې چې دغه امر په کابل کې هغو پټو افغان ډلو ته ورسوي چې د امین پر ضد وې او تمه یې کېده چې په کودتا که به برخه اخلي؛ نو د کې جي بي مامورین حیران شول چې د ټول مابښام او شپې په ترځ کې په کابل کې کوم ډز یا پوځي نښته ونه شوه. دې هغه حقیقت ته نغوته کوله چې د امین سرښندونکو مخالفینو هېڅ وخت د کودتا نیت نه درلود.

د شپې په نهو بجو په ټول کابل کې برېښنا لاړه .ښار په تیاره کې ډوب شو. د عملیاتو د پلان یوه برخه د یوې داسې «پېښې» رامنځته کول وو چې د برېښنا شبکه له کار څخه وغورځوي، خو حالت د دغه پلان پلي کول اړین نه کړل .
کابو په نیمه شپه کې جنرال کېرپیچینکو د یوې غونډې لپاره لوړپوړي څارګر افسران د مېشت څارګر استازي په دفتر کې راټول کړل. دی په ښکاره ځکلېدلی و ځکه چې څو شېبې مخکې یې له کریچکوف او اندروپوف سره په تیلفون کې خبرې کړې وې او ده ته یې خپله ناراضتیا ښرګنده کړې وه چې له شته سرچینو څخه په کار اخیستنې د امین د لیرې کولو پلان ناکام شو.
د کې جي بي مرستیال مشر د دې پخلی وکړ چې د کې جي بي ټول هغه مامورین او اجنټان چې په دغو عملیاتو کې یې برخه واخیسته باید تر هغه وخت پورې بېرته خپلو ورځنیو دندو ته لاړ شي تر څو چې بل امر نه وي ورته شوی. هېچا د دغه پوښتنې پروا نه لرله چې نوی امر به څرنګه وي او څه وخت به وشي. په چوپه چوپتیا کې کېرپیچینکو دغه مرموزه غونډله په کرار غږ وویله: «کوم څوک مو غولوي.»
سبا ته کارمل، اناهیتا او د راتلونکي افغان حکومت نور غړي بېرته تاشکند ته په الوتکه کې ولېږدول شول. د څو ورځو په ترخ کې کابو ټولې هغه پوځي ډلې چې بګرام ته تللې وې - مسلمان کنډک، د زینت عملیاتي ډله او پراشوټي پوځیان - امر ترلاسه کړ چې د کابل په څنډه کې د تاج بېک ماڼۍ ته څېرمه هغو بارکونو ته ولېږدېږي چې ودانول یې تراوسه نه وو بشپړ شوي. د دغه لېږد رسمي دلیل دا و چې د افغان دولت مشر د راتلونکي استوګنځي ساتنه وکړي.
دلته ولېږي د هغه پلان په څېنتوب سم پوه شو چې دوی باید د دسمبر په څوارلسم ترسره کړی وی. په شپه کې د کابل په لور به د دوی تګ هېڅ کله داسې چټک نه وی لکه د دوی مشرانو چې په پام کې نیولی و. په پخه لاره کې یو پر دریمه زغروال ګاډي خراب شول او باید نورو ګاډو کش کړې وی، ارتباطي وسیلو کله کله او یا هېڅ کار نه کاوه، د مسلمان کنډک عسکر په ډېر ساده وضعیت کې سربداله کېدل. دوی د ګاډو د جوړونې ډېرې ساده میخانیکي ورتیاوې نه لرلې او د خپلو قوماندانانو امر ته یې پام نه کاوه. دغه پوځي کتار څلور ساعته په شپېته کیلومتره یون تېر کړل او کله چې کابل ته ننوتل، دوی ډېر خوار ښکارېدل. یوازې پراشوټي ځواکونه په خپلو نویو BMP زغروالو کې ډېر ښه ښکارېدل.
کله چې جنرال مګومتوف د دغه شپني لېږد پر حالاتو خبر شو، ډېر ځاځمن (په غوسه) شو او امر یې وکړ چې د مسلمان کنډک قوماندان، جګړن هلبایف Halbaiev سمدلاسه لیرې کړل شي، خو په ډېرو ستونزو دغه جګړن په خپله څوکۍ پاتې شو. په مسکو کې د جي ار یو مشرتابه وپتېیله چې د ډګروال کولزنیک Kolesnikاو ډګرمن شوېتز Shvetz په سملاسي لېږلو په کابل کې خپل شتون غښتلی کړي. دغه دوه افسرانو د ځانګړو ځواکونو د روزنې مسولیت درلود او د
www.samsoor.com

مسلمان کنډک په جوړولو کې هم نبغ ښکېل وو.

د کې جي بي لومړي رياست هم د راتلونکو عملياتو لپاره مشرتابه غښتلی کړ. تورن جنرال دروزدوف Drozdov، چې په

دې وروستيو کې د S مديرت د مرکزي اداري مشر ګمارل شوی و، د دسمبر په نوولسمه کابل ته لاړ. نوموړي په دويمه نړيواله جګړه کې برخه اخيستې وه او په يو شمېر خطرناکو څارګرو عملياتو کې يې ګډون کړی و. د مخه ښې په ترڅ کې اندروپوف د خطرناک وضعيت په هکله سپين ورته وويل: «هلته حالات ډېر پېچلي دي. ته بايد مهمې ستونزې حل کړې. ته يو له هغو څو کسانو څخه يې چې د جګړې په مانا پوهېږي.»

خو ايا امين، دغه ځيرک او ځک سړی، نه پوهېده چې پر سر يې وربځې په راغونډېدو وې؟ ايا ده ونه ننګېرل چې په وژونکي خطر کې و؟ ده ډېر فرصتونه لرل چې د کې جي بي مامورينو او ديپلوماتانو په ګډون د خپلو «شوروي ملګرو» څار وکړي. دا څنګه کېدای شي چې امين د بګرام په هوايي ډګر کې په مرموزو چارو خبر نه شو؟ په شپه کې د الوتکو کښېناستل او د هغو افغان افسرانو له پوښتنو ګروېږونو څخه مخنيوی او کله کله يې پر مرګ ګواښل چې په هوايي ډګر کې يې دنده لرله. امين ولې د هغه ترينګلي وضعيت په هکله اندېښمن نه و چې د شوروي په هغه پوځي ډله کې خور و چې ګواکې د ده د ساتنې لپاره لېږل شوې وه؟ دی ولې په پېښو اندېښمن نه و چې په ډېربدونکې توګه داسې شپې پاڼې خوربدلې چې د ده «اکاړ او د سي ای اې اجنټ» د پرځونې لپاره يې خلک هڅول. د ده اجنټانو د پټو پرچميانو د فعاليتونو د ډېرښت راپورونه ورکول او، بې اړنګه، د اسدالله ناڅاپي ناروغي او د درملنې لپاره شوروي اتحاد ته د ده د لېږنې موضوع هم رامنځته شوې وه.

د امين د وراره په هکله په لومړيو کې پر بګدانوف شک کېده ځکه چې د ده په استوګنځي کې د ماښامنۍ له خوړلو وروسته اسدالله امين سمدلاسه د ناروغۍ ننګېرنه وکړه، خو د دغه پېښې په هکله د پلټنو پايلې بګدانوف وژغوره. دغو پلټنو وښوده چې په همدغه ماښام له ماښامنۍ څخه مخکې اسدالله امين له رنډيو سره وو او همله يې ډوډۍ هم خوړلې وه. دغه ښځې سمدلاسه ونيول شوې او سختې پوښتنې ګروېږونې ترې وشوې.

شوروي ملګرو، د مسکو ډاکترانو، هڅه وکړه چې امين ته داسې ډاډ ورکړي: «د خطر څه شی نشته، هسې د خوړو مسموميت دی. ملګری اسدالله ښه شوی ډېر ژر به افغانستان ته درشي» بګدانوف حتی دغه خبره

یاده کړه: «ملګري اسدالله غوښتنه کړې وه چې له اندروپوف سره د لیدنې یو فرصت ورته برابر کړل شي او اوس چې دی په مسکو کې دی، دغه غونډه به شوني وي.» دغه خبرې امین ته ډاډګېرنه ورکړه *.
په بګرام کې د فعالیتونو د ډېرښت او د درنو باروړونکو الوتکو چې د پوځیانو او پوځي وسیلو څخه ډکې وې د ډېرو
ناستو او الوتنو په هکله امین ته وویل شول چې دا ټول د هغه پوځي مداخلې د تابیا لپاره دي چې ده یې پخپله په وار
وار غوښتنه کړې وه.
نوي پوځي ستر سلاکار، مګومتوف امین ته داسې څرګندونې وکړې: «د شوروي مشرتابه بلاخره ویتېیله چې یاغي ځواکونو
ته وروستی ګوزار اړین دی. ملګری امین، ستا هغه خبره سمه وه چې د دغه ستونزې حل زموږ د وسلوالو ځواکونو له
ملاتړ څخه پرته ناشونی دی. د یو هېوادمشر په توګه، هر څوک ستا د هوښیارۍ، سیاسي لید او د غویې انقلاب له لاسته راوړنو څخه ستا د ثابتې دفاع یادونې کوي.» امین په ښکاره د سترسلاکار له غوږه مالۍ څخه خوښ و. ده وپوښتل: «د راتلونکې پوځي مداخلې په تړاو زموږ له اړخه څه شي ته اړتیا لری؟»
مګومتوف ورته وویل: «ښه به وي چې تاسې خپل یو خپلواک استازی ترمز ته ولېږئ چې زموږ له پوځي قوماندانۍ سره دوه اړخیزې اړیکې ټینګې کړي.»
مګومتوف هیله درلوده چې امین به لوی درستیز، یعقوب، چې امین ته په بشپړ ډول وفادار ګڼل کېده او د راتلونکو کودتا جوړونکو لپاره یو ګواښ و، د دغه کار لپاره غوره کړي. که په دغو مهمو ورځو کې یعقوب شوروي اتحاد ته لېږل شوی وی؛ نو د بریا شونتیا په لویه کچه ډېربده.
امین په ځواب کې ورته وویل: «زه به همداسې وکړم .د ستردرستیزوالۍ د اوپراسیون مشر جنرال بابه جان به ترمز ته لاړ
شي. هیله من یم چې تاسې خپلو مشرانو ته وواياست چې ده ته به اړین واک ورکړل شي چې زما په استازولۍ پرېکړې وکړي.»
مسکو یو شمېر ګامونه اوچت کړل چې د راتلونکو عملیاتو لپاره تابیا پټه کړي او د امین د بدګومانۍ مخه ونیسي. د ا خ د ګ د مرکزي کمېټې منشي او د سیاسي بیرو غړی، پنجشېري شوروي ته لاړ چې د ګوندونو ترمنځ د فعالیتونو محال وېش جوړ کړي. د وېه ییزو، کلتوري، تعلیمي او پوځي چارو په هکله د پلاو ترمنځ

*د دسمبر د اووه ویشتمې له پېښې څخه وروسته، د کارمل په شخصي غوښتنه، اسدالله امین د کې جي بي د پوښتنو ګروېړونو څانګې ته ولېږدول شو. وروسته، افغانستان ته ولېږدول شو او هلته په ۱۹۸۰ کال کې پانسي شو.

www.samsoor.com

شدیدو خبرو اترو دوام درلود. سفیر تبییف په رسمي توګه امین ته خبر ورکړ چې افغانستان ته د پوځي ډلو د لېږلو په ګډون، له شوروي مشرتابه څخه د پوځي مرستې په هکله د ده غوښتنه به په بشپړ ډول ترسره شي. د شوروي پوځي مداخلې نېټه د دسمبر پنځه ویشتمه غوره شوه. په ځواب کې امین غوښتنه وکړه چې د شوروي کمونست ګوند مرکزي کمېټې او ملګري برېژنېف ته د ده له لوري د زړه له کومې مننديي څرګنده کړي.

د امین د نېږدې متحدینو د څرګندونو پر بنسټ، په هغو ورځو کې امین ډېر سېکمن او خوشبین ښکارېده. دا څرګنده وه چې دی نه پوهېده چې ډېر ژر به څه پېښ شي. ده په معموله توګه د انقلابي شورا، دولتي او د سیاسي بېرو غونډې جوړولې.

د دسمبر په شلمه، ولسمشر او ګوند بلاخره د تاج بېک ماڼۍ ته کډه وکړه. وسیلي سفرانچوک په ماڼۍ کې یو له لومړنیو مېلمنو څخه و. ده غوښتنه کړې وه چې د خپلې کارې دورې د پوره کېدو له کبله له امین سره وګوري.

سفرانچوک او سفیر د راتلونکو عملیاتو په هکله خبر نه وو. که داسې نه وی، نوموړي به بې اړنګه د افغان مشر د مثبتو ځانګړتیاو راپور په خپل وروستي تېلګراف کې ګرومیکو ته نه و ورکړی. دغه سلاکار په دې اقرار وکړ چې افغان مشر له کچې وتلي ډېر چټي ویي کاروي او یو پښتون ملتپال دی. نوموړي لیکلي وو: «خو تر هغه پورې چې دی واکمن دی، موږ باید له افغانستان سره د اړیکو په خرابتیا اندېښنې و نه کړو.» سفرانچوک په پای کې ویلي وو چې امین یو باوري شریک یا ملګری دی. نوموړي د بهرنیو چارو وزیر ته لیکلي وو چې په کابل کې خپل ماموریت ترسره ګڼي او له وزیر څخه د اجازې غوښتنه کوي چې د نوي کال له پیل څخه مخکې مسکو ته لاړ شي. ګرومیکو پر تېلګراف باندې ولیکل: «ومنل شوه» او په دې توګه یې سفرانچوک ته اجازه ورکړه چې بېرته مسکو ته لاړ شي.

نو ځکه د وزیر سلاکار، سفرانچوک له امین څخه وروستۍ لیدنه وکړه. امین خپله معموله اجندا یوې خواته کړه او

په څرګنده خوشالۍ یې خپل نوی استوګنځی سفرانچوک ته وښود. د رسمي مېلمستیاو لپاره پرتمین سالونونه،

دفترونه، شخصي استوګنځي چې په ګرانبیه توکو سمبال شوي وو او حتی د ده شخصي د ځان مینځلو تشت چې یوازې له یوې ټوټې عقیقو څخه جوړ شوی و.

کله یې چې ټوله ماڼۍ ور وښوده، امین په پای کې وویل: «که ملګری برېژنېف دلته راشي، موږ به د دې ویاړ ولرو چې دلته هرکلی ورته ووایو.» سفرانچوک ډاډ ورکړ: «بې اړنګه، هر څه د نړۍ له ترټولو اوچت ستندرد سره سم جوړ شوي.» امین یې په اورېدلو خوشاله شو. دې سېکمن ښکارېده او راتلونکې ته خوشبین و.

امین پرته له دې چې د خطر ننګېرنه وکړي، د تاج بېک ماڼۍ ته کډه وکړه که څه هم ځینو نېږدې سلاکارانو یې خبرداری ورکړی و چې د دغه استوګنځي د امنیت ساتنه به ناشونې وي، خو امین په خپله پرېکړه ټینګ ولاړ و. ده به ویل: «شوروي ملګرو مې سل په سلو کې د امنیت ضمانت کړی دی. دوی ژمنه کړې چې له سیمې څخه اغزن تار چاپېر کړي، د خبرداری په سیستم یې سمبال کړي او پکې ځلورویشت ساعته ګزمه وکړي.» ښایي دغه ځای ته د نوموړي د لېږد یوه وجه دا وه چې شاهي استوګنځي د ترون او تره کي د وژنو په ګډون غمجنې پېښې ور یادولې.

امین په داسې ویاړ سفرانچوک ته وویل لکه دی چې هم یوه دومره لویه سیاسي څېره وي لکه پخوانی افغان پاچا: «پوهېږې چې د تاج بېک ماڼۍ د پرمختګ غوښتونکي افغان واکمن، امان الله خان په غوښتنه جوړه شوې؟»

وروسته له دې چې له شوروي سلاکار سره یې توده مخه ښه وکړه، امین د کابل مرکز ته لاړ چې له مهال وېش سره سم له روغتیایي کارکونکو سره په غونډه کې ګډون وکړي. ده په خپله وینا کې د امریکا پالیسۍ او په ځانګړې توګه د پارس په خلیج کې د امریکا وروستی خوځښت وغانده. امین په همدغه ورځ د شوروي اتحاد د پام وړ پوځي مرستو د پراختیا په هکله حکومت ته خبر ورکړ. ده په درنه بڼه اعلان وکړ: «بلاخره شوروي ملګرو زموږ غوښتنې واورېدلې چې افغانستان ته پوځي ډلې راولېږي څو د غوبي انقلاب له لاسته راوړنو څخه دفاع وکړي.» ورپسې چک چکې وشوې او لوی درستیز جګړن یعقوب په اوچت غږ په ټوکه وویل: «انشاالله، دوی باید په دوبۍ کې مداخله کړي وی. دغو یاغیانو زما وېښته سپین کړل.» د مالیې وزیر، عبدالکریم میثاق وویل: «کېدای شي دا د امریکایانو له کبله وي. د ایران په خاوره کې د دوی د پوځیانو د ځای پرځای کېدو ګواښ ریښتیا ښکاري، که څنګه؟» ورپسې امین د شوروي پوځي مداخلې ته په نغوتې داسې وضاحت ورکړ: «په مسکو کې دوی داسې مرسته خپله نړیواله دنده بولي.»

دوه ورځې وروسته، د هېوادونو تر منځ د خپلمنځي اړیکو په هکله د مخکنې پلان پر بنسټ، د شوروي د مخابراتو وزیر، تلیازین Talyzin، په مشرۍ یو لوړپوړی پلاوی کابل ته ورسېد. بې اړنګه، افغانستان ته له خپلو ملو کسانو سره د یو شوروي وزیر د لېږنې پرېکړه خطرناکه وه. هغه چا چې د امین د نسکورولو پلان جوړ کړی و، د خپل پلان په بریا یې ډاډ نه درلود. هېڅوک نه پوهېدل چې پایله به یې څرنګه وي. ډېره شونې ده چې دوی د خپل هېواد د ګټو په پار دغه پرېکړه کړې وي څو امین ته کوم اړنګ پیدا نشي.

که یې همدا د لېږنې وجه وه؛ نو مسکو په دې کار کې بریالی شو. د دغه تاریخي لویې ډرامې د وروستي پړاو په بهیر کې، د دغه پلاوي لېږنې د ډرامې اصلي اتل یا بدماش پر کړ(دا د خلکو په اند پورې اړه لري چې امین اتل یا بدماش نوموي).

www.samsoor.com

کرېملېن بې کچې لېوال و چې د امین موضوع باید د ۱۹۷۹ کال له پای څخه مخکې حل شي. د تل په څېر، کله چې حکومت
وسلوالو یا ځانګړو ځواکونو ته یوه نړیواله دنده ورکوله، د بسپنیزي، بشري او نورو وسیلو د سرچینو د کچې لپاره یې برید نه ټاکه. دوی ته یې بې کچې سرچینې برابرولې.
د جنرالانو له یوې ډلې سره د لوی درستیز مرستیال، اخرومییف Akhromeev او وروسته د دفاع وزارت لومړی مرستیال، مارشال سکولوف Sokolov ترمز ته ولېږل شول. هلته د څلوېښتم پوځ جوړونه او د جګړې د یو داسې بشپړ ماشین جوړونه په لاره اچول شوې وه چې یو شمېر مرکزي ادارې، د ښار مرکزونه، د ملاتړ شاتنی ځواکونه او د زېربنا نورې برخې یې درلودې.
کابل ته په دوامداره توګه د کې جي بي لوړ پوړي چارواکي رسېدل. د دوی شمېر دومره ډېر شو چې زاړه چارواکي- ایوانوف، بګدانوف او اوسادچي - بروس او ډېر په غوسه شول. نویو راغلو خلکو ته نه یوازې د استوګنځي اړتیا وه بلکې هر جنرال هڅه کوله چې خپلې اجنداوې، اندونه او اړتیاوې وړاندې کړي؛ نو د سفارت چاپېریال ورځ تر بلې ترینګلی کېده.
بګدانوف لاتراوسه هیله درلوده چې د امین وژنه به پرته له شور او غوغا ترسره شي او دا به شوروي ته د دې فرصت ورکړي چې په لویه کچه د پوځ له ښکېلتیا څخه ډډه وکړي. بګدانوف، ایوانوف او کېرپیچینکو د ډېر وخت لپاره د امین د لیرې کولو پر بدیلونو خبرې وکړې. ایوانوف ته په شوروي اتحاد کې د تره کي د غاښونو درملنه ورپه یاد شوه چې تره کی ډېر ترې خوښ و. ده بختورین ته تیلفون وکړ: «د امین د غاښونو په هکله راته ووایه، څه ستونزې لري؟ کېدای شي چې زموږ د سفارت په کلینیک کې د درملنې غوښتنه وکړي؟» د امنیت دغه افسر ځواب ورکړ: «زه به یې په اړه مالومات ترلاسه کړم.» ورپسې ایوانوف نورې لارښوونې هم ورته وکړې: «سمه ده. مالومات ترلاسه کړه او زموږ د غاښونو له ډاکتر څخه پوښتنه وکړه چې د درملنې په بهیر کې د امین په غاښ کې د زهرو کپسول اېښودلی شي.»
دوی یو ځل بیا د نښې ویشتونکي په وسیله د امین د وژلو سناریو وارزوله. کریچکوف د تاج بېک د غونډۍ په لاره کې د داسې غلچکي برید وړاندیز وکړ چې د امین د ګاډو پر کتار د نښې ویشتونکو او بم غورځونکو ټوپکو ډزې وشي. د امین د له منځه وړلو لپاره د اتمې ځانګې کارپوهانو خپل نوښتیز وړاندیزونه وکړل،خو کله یې چې د جزیاتو ارزونې وشوې، د بریا سل په سلو ضمانت پکې ونه لیدل شو؛ نو دغه وړاندیزونه له پامه وغورځول شول.

یو ځل ایوانوف خپل اعصاب له لاسه ورکړل. ده خپلو هک پکو همکارانو ته وویل: «زه به پخپله دا کار وکړم. ما ته یو داسې جره ژباړن راکړئ چې د دغه ماموریت د ترسره کولو لپاره د خپل ژوند قربانۍ ته چمتو وي. موږ به امین ته ورشو او له ده سره به ځانونه پر بم ټوټې ټوټې کړو.»
بې اړنګه، مرکز به هېڅ کله دې ډول پلانونو ته اجازه نه وی ورکړې. جنرال ایوانوف ځکه په غوسه و چې په دغو ورستیو ورځو کې مرکز بې پایه ترېونې ورته کولې، د همکارانو تر منځ یې یو او بل ته ترخې خبرې کېدې او یو بشپړ ابهمام خور و.
د دسمبر په پنځه ویشتمه ابهام هغه وخت له منځه لاړ چې د امو سیند د پول له لارې ۱۰۸مه زغرواله فرقه د افغانستان خاورې ته ننوته .په عین وخت کې د ۱۰۳مې پراشوټې فرقې پوځیان په الوتکو کې افغانستان ته ولېږدول شول. د پنځمې زغروالې فرقې ډلې له کوشکې څخه د هرات او قندهار په لور وخوځېدې. یوه بله زغرواله ډله، یو پراشوټې بریدګر غونډ او یو شمېر نورې پوځې ډلې د افغانستان په لور پرمختګ پیل کړ. د ابهام خبره لاړه او اوس د یو هر اړخیز یرغل مخنیوی ناشونی و.
ببرک کارمل او د افغانستان د راتلونکې حکومت نور غړي یو ځل بیا بګرام ته ولېږدول شول.
د دسمبر په شپږ ویشتمه، د افغانستان په هکله د سیاسي ببرو کمېسیون غړي او چېرنېنکو په زرېچیه Zarechieکې د برېژنېف په باغچه کې راغونډ شول. د دفاع وزیر دغه ډلې ته د شوروي پوځ د پرمختګ په هکله لنډ مالومات ورکړل. له IL-76 باروړونکو الوتکو څخه پرته چې په ننداریزه بڼه د بګرام شاوخوا غرونو ته ورننوتلې، بله کومه ځانګړې ستونزه نشته وه. پوځیان په ورښودل شوو لارو مخته لاړل او له سیمه ییز مقامات سره دومره مخ نشول. اوستینوف، چې خپله خوښي نشوی پټولی، وویل: «هر څه له پلان سره سم مخته لاړل» ګرومیکو د هغه ګامونو په هکله مالومات وړاندې کړل چې د بهرنیو چارو وزارت د امو سیند په بله غاړه او د پنجشېر سیند په اوږدو کې د شوروي پوځ د راښکاره کېدو په هکله نړیوالې ټولنې ته د څرګندونو لپاره پورته کړي وو. ورپسې اندروپوف خبرې پیل کړې. پرته له دې چې جزیاتو ته لاړ شي ده خپلو همکارانو ته ډاډ ورکړ چې د عملیاتو د وروستي ګام لپاره هر هغه څه چې په ده پورې یې اړه لرل چمتو شوي. ده داسې ژمنه وکړه: «سبا ته به په کابل کې یو نوی عمومي منشي وي.»
برېژنېف د غونډې پایله په لنډو ټکو کې داسې څرګنده کړه: «ښه ملګرو، زما په اند باید خپلې اوسنۍ لاسته راوړنې او
هغه لاسته راوړنې چې په پلان کې یې لړو منظور کړو. راځئ چې په همدغه بڼه خپلو غونډو ته په راتلونکې کې هم دوام ورکړو. زه له تاسې هر یوه څخه یوازې یوه هیله لرم. خپل هر ګام په بشپړ ډول ارزوئ.»
په همدغه ورځ، په کابل کې د کې جي بي او پوځې عملیاتي ډلو د هغه پلان پخلی وکړ چې په کابل کې مهم ځایونه ونیسي، لومړی او تر ټول مهم د ولسمشر استوګنځی په پلان کې نیول شوی و. د کې جي بي

استازي پخپله «اشپز» ته لارښوونه وکړه. د سبا ورځې د پېښو په بهیر کې نوموړي یو ځل بیا اصلي خواړه پخول. له سفارت څخه د زینت او الفا کوماندویانو ته یو کارتن ښه وتکا راوړل شول. له دود سره سم، دوی باید سل ګرامه وتکا څښلي وی چې په جبهه کې د دوی مورال غښتلی کړي.
اوس د شا تګ لاره نشته وه.

د دسمبر په پنځه ویشتم ماښام، ولېري او تامارا سترستین د خپلو پولندي ملګرو، ډیپلومات ستنېسلف سمولېن Stanislav Smolen، د ده مېرمن ډیپلوماته حنه Hanne او د دوی زوی ګرومېک Gromek، په کور کې د کاتولیکي کرسمس مېلمستیا ته د تګ لپاره تابیا نیوله. تامارې کالي اغوستل او سینګار یې کاوه کله چې د دوی د کور د دروازې زنګ راغی. په دروازه کې بابنوف و. ده ډېره بیړه درلوده. دی کور ته ننوت، یو بیک یې پرانیست او له مرمیو سره یې یوه کوچنۍ ماشینګڼه راوایستله. بابنوف، ولېري ته وویل: «کېدای شي دا دې پکار شي.» بیا یې سترستین ته خبر ورکړ چې دی ژرترژره بګرام ته ځي چې له هغو همکارانو سره وګوري چې له مسکو څخه راروان دي او له سترستین څخه یې وغوښتل چې که له بګرام څخه د ده له بېرته راتګ څخه مخکې پوځي عملیات پیل شول، د ده په نه شتون کې د نوموړي پر مېرمن، انتونینا Antonina پام وکړي .سترستین خپل ملګري ته ډاډ ورکړ: «زه به پام پرې کوم، بې غمه اوسه.»
له دې وروسته، ولېري او تامارې دوه بوتله شوروي شمپاین، له جلال اباد څخه یوه ګېډۍ د ګلاب تازه ګلونه او ګرومېک ته یوه ډالۍ له ځان سره واخیستل او په مکروریانو کې د سمولېن کور ته لاړل .ډېره تیاره وه، په توره شپه کې ستوري ځلېدل .تراوسه په کابل کې واوره نه وه ورېدلې، خو شپې کنګلیزې سړې وې.کوچنیو الوتکو د اسمایي غره ، د شور بازار او د زاړه کابل د نورو سیمو پر سر ټیټې الوتنې کولې او په توره شپه کې یې اشارې لګېدلې. له دغو الوتکو څخه به ملتاوۍ (د رڼاو کوچنې پراشوټونه) وار شوې او د څو دقیقو لپاره به یې لاندې کورونه او واټونه رڼا کړل. تامارې په اوچت غږ وویل: «وګوره، څومره ښایسته دي. نه پوهېږم چې دوی ولې ملتاوۍ خوشیوي. سترستین ورته وویل: «ښایي دوی غواړي پوه شي چې په کابل کې څه روان دي. دوی په اندېښنه کې دي چې ښایي هره شېبه یو پاڅون پیل شي او غواړي د کابل اوسېدونکو ته ووایي چې دوی هرې هغه توطیې ته چمتو دي چې لاندې د ځمکې پر سر په لاره اچول کېږي.»
د سمولېن کورنۍ د رخصتۍ د لمانځنې لپاره ډېره ښه ډوډۍ جوړه کړې وه. د ماښامنۍ له اصلي خوړو څخه مخکې د سترستین د خوښې اشتها راوړونکي خواړه، رایژیک Ryzhyk یا تروه خرمېړي وو چې

ستنېسلف له پولند څخه راوړي وو. سربېره پر دې، کچالو، غوړي ډوډۍ، د خوسي غوښه او په دودیزه بڼه پاخه شوي کبان د دغه مانښامنۍ خواړه وو. د کبانو د پوستکي پر سر هډوکو ته ورته پتوکي د بڼه ښګوم نښي په څېر پر مېلمنو باندې ووېشل شول. ګرومبک کوم پتوکي چې مور یې ورکړل په هغه لوب ګاډي کې واچول چې سترستين ډالۍ ورکړې و او د اپارتمان په شاوخوا کې يې چلاوه. دی د کرسمس د مېلمستیا ترټولو خوشاله ګډونوال و.

د وېشنوسکي Visnevsky په نوم يو پولندی ديپلومات چې د ستنېسلف نېږدې ملګرى و او په کابل کې د ملګرو ملتو يو مامور، مزولېوسکي Mozolevsky هم دغه مېلمستيا ته راغلل. (د دوی مېرمنې په پولند کې پاتې وې ځکه چې افغانستان يو خوندي هېواد نه ګڼل کېده). دغو ډېپالیو (باادبو) او پامياليو پولنديانو د ټولې مېلمستيا په بهير کې حتى په خپل منځ کې په روسي ژبه خبرې کولې. دوی خوړل او څښل کړل او ټوکې يې کولې.

سترستين ډېره هڅه کوله چې ځان په ريښتيا ارامه او خوشاله وښيي او د پېښېدونکي يرغل په هکله خپلې انديښنې پټې کړي. ستنېسلف ترې وپوښتل: «ولېري، تا يو ځاڅکى هم نه دی څښلى، مسلمان شوی خو به نه وي! زه به بل څه په پياله کې درته واچوم.» ولېري ورته وويل: «زما په ګېډه کې باد دی او زړه مې ابشي. نه غواړم چې دغه حالت مې نور هم خراب شي.» په دغه شپه ولېري، چې هېڅ کله يې په نه څښلو د خپلو ملګرو پر وړاندې بې نزاکتي نه وه کړې، هسې خپلې شونډې لمدې کړې .ده فکر کاوه چې کېدای شي هره شېبه يوې مهمې دندې ته ور وغوښتل شي. ډېرې نښې نښانې شته وې چې د (امين د ژوند) پای ته يې نغوته کوله، لکه بګرام ته د وېکتور بابنوف ناڅاپي تګ، له مسکو څخه د لړترلړه لسو کې جي بي افسرانو راتګ، په شپه کې ملتاوي او په سفارت کې له اړنګونو څخه ډکه ترينګلتيا.

سترستين، چې د کرسمس مانښامنۍ مېز ته ناست و، له اجنټ خوست سره يې خپله هغه ليدنه ورپه ياد شوه چې د نوومبر په لومړيو کې يې اجنټ غوښتنه کړې وه. خوست له کارمل سره تل نېږدې اړيکې لرلې او د کارمل يو باوري متحد و. کله چې کارمل له کابل څخه ووت، د پرچميانو د پوځي ځانګې مشري يې ده ته وروسپارله. له سترستين سره د ليدنې په ترځ کې، خوست وويل چې د نوومبر په څلورمه د ده پوځي سازمان نيت لري چې د امين او د ده د «کرکې وړ فاشېست رژيم» د ليرې کولو په موخه يو پاڅون وکړي. دوی پلان درلود چې په پاڅون کې پوځي ډلې ښکېلې کړي او هيله يې درلوده چې د کابل او ولايتونو د اوسېدونکو ملاتړ ترلاسه کړي. د نوومبر په اوومه، د اکتوبر لوی انقلاب په ورځ، دوی پلان
درلود چې په چمن حضوري «د افغانستان سور ميدان» کې يو لوی پوځي پرېټ جوړ کړي.

کله يې چې دغه مالومات ترلاسه کړل، سترستين په چټکۍ اوسادچي ته ورغی. د دغو خبرو په اورېدو، د کې جي بي مېشت

استازی اندېښمن شو او سترستین ته یې وویل چې «ژرترژره د مکروریانو کلپ ته لاړ شي. بوریس سیمیونوویچ هملته په یو کنسرت کې دی. همدغه مالومات ده ته هم ورکړه.»
په شلو دقیقو کې سترستین دغه جنرال وموند او ترې ویې غوښتل چې له ده سره یو څو ګامونه چکر ووهي. کله یې چې هغه مالومات واورېدل چې خوست ولېږي ته ورکړي وو، ایوانوف ډېر تېرا شو او ولېږي ته یې وویل: « ولېږي ایونوویچ، هیله کوم چې ژرترژره له خوست سره وګوري. ورته ووایه چې د دغسې کړنې لپاره د دوی وخت لا نه دی رارسېدلی او بې وخته پاڅون به زموږ هڅې له خاورو سره برابرې کړي. ده ته ووایه چې کله یې موږ مرستې ته اړتیا پیدا کړه، دوی به د تا په وسیله خبر کړو.»
سبا سهار ولېږي له دغه اجنټ سره یو ځل بیا وکتل .د مسکو لاربنوونو ته په نغوتې سره، ده له خوست څخه وغوښتل چې پلان شوی پوځې پاڅون وځنډوي. ولېږي حتی یو افغان متل له ځان څخه جوړ کړ: «یوه اومه مېوه به ګېډه  ودردوي.» خوست یې په خبرو خوښ شو او ویې ویل: «یعنی تاسې زموږ ملاتړ کوی، ژغورنه رانېږدې شوې! ما تل ډاډ درلود چې شورویان به هېڅ کله خپل ملګري په ستونزو کې یوازې پرېښږدي.» سترستین ورته وویل: «زه نه پوهېږم چې څه به پېښ شي. زه نه پوهېږم چې د افغانستان په هکله د کرېملېن پلان څرنګه دی. زه یوازې هغه څه درته وایم چې ما ته ویل شوي.»
یوه اونۍ وروسته اوسادچي، سترستین خپل دفتر ته ور وغوښت. دوی پر یو لړ چارو خبرې وکړې مخکې له دې چې اوسادچي پر دغه پوښتنې ولېږي هک پک کړي: «ستا په اند، د افغان دود ځانګړتیاو ته په کتو سره، د امین د وژلو تر ټولو ښه لاره به کومه وي؟»

سترستین: *زما په خیال امین باید د افغان وطنپالو په تېره بیا د خلقیانو له لوري ووژل شي. ښه به وي چې نوموړی په عام ډګر کې پر مخ ښغ وویشتل شي او یا یو ځان وژونکی یې له نېږدې واټن څخه پر بم والوزوي. وژونکی باید له ده سره یوځای مړ شي. دا به ډېره په زړه پورې وي او دې ته به افغانان د یو زړور عمل په سترګه وګوري.*
اوسادچي: *داسې سړی به له کومه کړو؟*
سترستین: *که یې اړتیا وي، موږ به په څو ورځو کې دغسې سړی پیدا کړو. د امین له لوري ډېر خلک ځورول شوي دي او ډېر چمتو دي چې د غچ لپاره خپل ژوند قربان کړي. د دغه کار لپاره یوازې وسلې او لوژیستیکي چارو ته اړتیا ده.*
اوسادچي: *امین ته د زهر ورکولو په هکله څه فکر کوې؟*
سترستین: *څومره چې زه پوهېږم، په افغانستان کې یوازې ښځې زهر کاروي. هو، ښځې، هغه هم یوازې زړې ښځې. پر زهرو باندې د ده وژنه ښایي د ده په هکله خوابدي او وژونکي ته سپکاوی رامنځته کړي.*

اوسادچي په خندا ووېل: «سمه ده ولېري، زه یوازې هسې خیالي غږېږم. د اوس لپاره دې امین خپل ژوند ته دوام ورکړي.»

د ولېري په ۱۹۷۹ کال یوه بله ښخونده پېښه ورپه یاد شوه. د دسمبر په څوارلسمه، د پي جي یو مرستیال مشر، جنرال کېرپیچینکو، چې په نېږدې وروستیو کې له مسکو څخه راغلی و، ولېري د یوې غونډې لپاره ور وغوښت. ده ورته ووېل: «ولېري ایوونوویچ، کولای شې اجنټ خوست له دغه اړتیا څخه خبر کړې چې په ډېر لنډ وخت کې د پرچم پوځي ډله د یو پاڅون لپاره د تابیا چارې په غاړه واخلي؟ دغه راتلونکې شپه به د امین د رژیم د پای نښه وي.»

سترستین: *که خوست په کابل کې وي زه کولای شم په یو یا دوو ساعتونو کې اړیکه ورسره ونیسم. په ځانګړې توګه څه*
*ورته ووایم؟ پرچمیان به د پاڅون د پیلولو لپاره کوم ډول نښه ترلاسه کوي؟ دوی باید څېرته راټول شي؟ د دوی د پاڅون لپاره وسلې باید څېرته وساتل شي؟*
کېرپیچینکو: *ورته ووایه چې نن شپه به د امین رژیم نسکور کړل شي. اړینه نه ده چې د خوست د ډلې غړي پر ماڼۍ باندې په یرغل کې برخه واخلي. د دوی تر ټولو مهمه دنده دا ده چې په پوځ او پولیسو کې خپلو دندو ته لاړ شي چې په وسلوالو ځواکونو کې حالات نورمال کړي او بیا په کابل او نورو ښارونو کې نظم وساتي.*

سترستین، چې دغه مهمې دندې یې زړه په درزاري راوستی و، ووېل: «همداسې به وکړم.»
ولېري ډېر ژر اسمايي غره ته څېرمه په یو کوچنې واټ کې له خوست سره وکتل. خوست، چې د ولېري خبرې اورېدلې، له ډېرې خوښۍ پر ځان نه پوهېده. ده ووېل: «دغه خبره به خپلو خلکو ته سمدلاسه ورسوم.»
کله چې ولېري بېرته سفارت ته لاړ، اوسادچي داسې ورته ووېل او بېرته یې خوست ته ورولېږه: «بښنه غواړم، ولېري. هغه څه چې کېرپیچینکو درته ویلي، د اوس لپاره وځنډول شول. خپل اجنټ ژرترژره پیدا کړه او ورته ووایه چې د امین د رژیم نسکورول وځنډېدل شول.» سترستین په چیغه ووېل: «پر ما دې د څه شي خیال کړی، ویلیور ګوریلوویچ؟ یو ساعت مخکې مې خوست ته یو څه ووېل او نیم ساعت وروسته به بیخي بل څه ورته وایم؟ زه اوس څه وکړم؟ ځان وولم؟»
اوسادچي په ځواب کې ورته ووېل: «ته پر ما څه خیال کوې چې تا غوندي عصبي ته غوږ نیسم. ته باید زموږ پر وضعیت ځان پوه کړې. ژرترژره لاړ شه، خوست پیدا کړه او دغه اړینه خبره ورته وکړه.» نو د دسمبر څوارلسمه یوه سخته ورځ وه.

www.samsoor.com

په مېلمستیا کې کله چې د سرسلامتۍ لپاره د سترستین وار راغی، ده وویل: «راځئ چې د یو ښایسته کرسمس، د خدای د زوی او د سپېڅلي درې ګوني په ویاړ، د عیسی د مهربانۍ او زموږ د ګناهونو د بښلو په هیله یې وڅښو.»
کله چې سترستین خبرې بس کړې، سمدلاسه وېروونکي درانه غړونه له پاسه واورېدل شول. پر مېز باندې لوښي وربېردېدل. دا څرګنده شوه چې لویې له بار څخه ډکې درنې الوتکې په کابل باندې راټيټېږي.
سترستين له ځان سره وویل: «نو اوس پیلېږي.» پولندي ديپلومات، سمولېن په ټوکه وویل: «ګوره ولېږي، داسې ښکاري چې ستا د سرسلامتۍ هیله خدای واورېدله.»

د دسمبر په اوویشتمه د پنجشنبې په ورځ، حفیظ الله امین خپلو نېږدې متحدینو، د سیاسي بېرو غړو او وزیرانو ته په خپل استوګنځي کې بلنه ورکړې وه. له ځینو سره یې مېرمنې هم وې چې د استوګنځي په ښځینه برخه کې ډوډۍ ورکړل شوه. د دغه مېلمستیا رسمي وجه له مسکو څخه د سیاسي بېرو غړي، پنجشېري بېرته راتګ وه، خو امین د دغه مېلمستیا د جوړولو لپاره یو بل مهم دلیل هم درلود. ده نور نه شوی کولای چې خپل استوګنځی خپلو ملګرو ته ونه ښیي او د هوساینې په اړه یې غوږې و نه کړي.
له ماښامنۍ څخه مخکې، امین خپلو مېلمنو ته بلنه ورکړه چې له هغه برنډې څخه د شاوخوا منظرې ننداره وکړي چې
د ده دفتر ته څېرمه جوړه شوې وه. د ماڼۍ شاوخوا ته د ښېتر ونې اېښودل شوې وې، د ګلانو پټي پکې جوړ وو او هلته څېرمه د راتلونکو مېلمستاو لپاره یو مدرن رستورانت جوړ شوی و چې د لامبو ډنډ یې هم درلود. ګارد او نورې پوځي ډلې په هغو نیمه ابادو بارکونو کې اړولي وو چې له ماڼۍ څخه دومره لیرې نه وو. هلته د شوبلو یوه لیکه چې نیمه پټه کړل شوې وه لیدل کېده. د ماڼۍ مخکنۍ برخه د شوروي ځانګړو ځواکونو ساتله.
امین وویل: «د ارګ په څېر دلته مضبوط دفاعي دېوالونه نشته، خو د ماڼۍ چاپېر یو شمېر امنیتي کړۍ د ماڼۍ د ساتنې ضمانت کوي. حتی یو مچ نشي کولای چې دغه ځای ته ننوځي.»
د سیاسي بېرو د غړو خبرو ته په پام سره، د دوی ماڼۍ خوښه شوې وه او لیدو یې ښه اغېز پرې کړی و، خو هېڅوک په رېښتیا نه پوهېدل چې د دوی په سرونو کې څه ګرځېدل.
ورپسې ماښامنۍ پیل شوه. سخې کورېه د مېلمستیا لپاره د خبرو ارامه او نرمه بڼه خپله کړه. کله چې پنجشېري هغه سوپ ونه څښه چې غوښه پکې وه ځکه چې ډاکترانو پرهېز ورکړی و، امین په ټوکه وویل

چې پنجشېري خامخا شوروي خوږو نازولی کړی دی. د پنجشېري په ګډون، ټولو وخندل او بیا پنجشېري یو ځل بیا ټولو ته هغه څه وویل چې امین ته یې ویلي وو: د تره کي د مړینې د راپور او په افغانستان کې د مشرتابه د بدلون په هکله د شوروي مشرتابه راضي و. د ده لیدنې له مسکو سره اړیکې نورې هم غښتلې کړې او دا پخلی یې ترلاسه کړ چې شوروي اتحاد به افغانستان ته هراړخیزې پوځي مرستې ورکړي.
کوربه په درنښت خپلو مېلمنو ته وکتل او بیا یې وویل: «شوروي پوځي فرقې همدا اوس په لاره دي. ما تاسې ته تل ویل چې زموږ لوی ګاونډی به موږ هېڅ کله یوازې پرېنږدي. زه په تیلفون کې ډېری له ګرومیکو سره خبرې کوم او موږ په ګډه پر دې خبرې وکړې چې نړېوالې ټولنې ته د شوروي پوځي مرستې په هکله باید څه وویل شي.»
ورپسې پنجشېري بیا خبرې پیل کړې: «د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې مشرتابه له ما څخه غوښتنه وکړه چې تا ته د دوی د ورورولۍ کمونستي سلامونه ورسوم او ډاډ درکړم چې په انقلاب کې ستا ونډې ته ډېر ارزښت ورکوي.» امین په ژمنه وویل: «زه به ولس ته په خپله وینا کې چې نن شپه خپرېږي دا خبره وکړم. د تلویزیون عمله رارسېدلې؟» جانداد ورته وویل: «دوی ښکته تاسې ته تم دي .د پوځ د سیاسي ریاست مشر، اقبال هم له دوی سره دی.»
پلان داسې و چې امین به په خپله وینا کې په افغانستان کې د شوري پوځ د راڅرګندېدو وجه ولس ته څرګنده کړي. دی به په ځانګړې توګه ووایي چې دغه پوځ د افغان مشرتابه په خوښه راغلی چې د بهرني یرغل پر وړاندې د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکي وساتي.
د پلو له خوړلو وروسته ټول څېرمه سالون ته لاړل چې چای وڅښي. ځینې مېلمانه د بیړنیو چارو د ترسره کولو په یادولو بېرته د ښار په لور لاړل. ورپسې یوه عجیبه پېښه وشوه. د مېلمستیا هر ګډونوال کابو په یو وخت کې د ناروغۍ نښېرنې وکړې. پر دوی باندې یو ناوړه خوب داسې زور وکړ چې دوی هر یو داسې حالت مخکې نه و لیدلی. د مالیې وزیر، میثاق په اندېښنه امین ته وویل: «کېدای شي په خوړو کې څه خبره وي؟ ښایی چا څه شی پکې اچولي وي؟ «امین په ځواب کې ورته وویل: «اندېښنه مه کوه.. زما اشپز او د خوړو کارپوهان شورویان دي. دوی هر لوښی ازمویي مخکې له دې چې موږ ته راوړل شي.» میثاق خپلې اوږې پورته وخوځولې او په داسې حال کې چې پر دېوال یې تکیه کوله، بهر ته د تازه هوا لپاره په چټکۍ لاړ. ورپسې په هغه ګاډي کې کښېناست چې ده ته تم و او بېرته وزارت ته لاړ. هلته یې په یوه څنګ لرونکې
څوکۍ کې واړول او په یوه ژوره بېخودۍ کې ډوب شو.
په عین وخت کې د ماڼۍ د ننه یوه عجیبه صحنه رامنځته شوه. د امین مېلمانه په بشپړه توګه ګېچ او ګول په کوچنو
www.samsoor.com

کې او پر قالینو پرېوتلي وو. ځینو یې له برید څخه وتلې ډېره خندا کوله. وېرېدلو ساتونکو تیلفونونو ته منډې کړې چې
د شوروي له سفارت او مرکزي پوځي روغتون څخه ډاکتران راوغواړي.
له پنجشېري څخه پرته، په لنډه موده کې یوې عجیبې ناروغۍ پر ټولو اغېز وکړ. پنجشېري دوی ته په حیرانتیا کتل. پر دغه ناروغۍ امین هم ککړ شوی و. دی دومره سست شوی و چې ساتونکو یې تر کوچ پورې مرسته ورسره وکړه او هملته په دروند خوب ویده شو.
داسې برېښېدل چې «اشپز» په خپله دویمه هڅه کې بریالی شو. لکه څنګه چې تمه یې کېده هغه زهرو چې په سوپ کې ګډ کړل شوي وو خپل کار وکړ، خو د عملیاتو په پلان کې یو څو تشې شته وې. لومړی دا چې د هغه شېبې په پرتله چې پر ماڼۍ باندې برید پلان شوی و، زهرو ډېر ژر اغېز وکړ. دویمه تشه یې دا وه چې هغو خلکو چې دغه پلان جوړ کړی و د ځینو «بابېزو» فکتورونو اغېز یې په پام کې نه و نیولی . د بېلګې په توګه، د هغو شوروي ډاکترانو په ګډون چې د امین د ژغورلو لپاره سمدستي ماڼۍ ته ورسېدل، د مرکزي روغتون د مشر، ولایت حبیبي په مشرۍ، ماڼۍ ته د روغتیایي کارکوونکو تګ ته پام نه و شوی. جنرال حبیبي او مرستیال یې، دوه شوروي ډګروالان (پوځي ډاکتران)، د سفارت دوه ډاکتران او نرسانې راغونډ کړل شول چې د تاج بېک پېښې ته ورشي. لکه څنګه چې سفیر تبییف له ځانګړو عملیاتو څخه نه و خبر، ده پخپله له سفارت څخه ډاکتران تاج بېک ته ولېږل.
ځینې مېلمانه سمدستي روغتون ته ولېږدول شول، د ځینو ګېډې په ماڼۍ کې تشې کړل شوې. ترټولو ډېر پام امین ته ګرځول شوی و. ګېډه یې تشه کړل شوه او سیروم ورته چالان شول. جګړن جانداد په پخلنځي کې د ټولو کارکونکو او د هغه چا چې ډوډۍ یې پر مېز جوړه کړې وه د سملاسي نیونې امر وکړ. نوموړي دا امر هم وکړ چې پاتې خواړه د شننې لپاره ولېږل شي. د پخلنځي ټول افغان کارکوونکي ونیول شول، خو «اشپز» میخایل ت او د خوړو شوروي کارپوهانو وکولای شول چې پر خپل وخت وتښتي.
کله چې څو ساعته وروسته امین بېرته په خود کې راوستل شو، خپلې سترګې یې پرانیستلې او په حیرانتیا یې له ډاکترانو څخه وپوښتل: «زما په کور کې دا څنګه پېښېدای شي؟ دا کار چا وکړ؟» ده ته چا ځواب ورنه کړ، خو چوپتیا ډېر دوام و نه کړ. د ماښام په ۷:۳۰ بجو چې بهر تپه تیاره وه، یو شمېر چاودنو د ماڼۍ دېوالونه ولړزول. د پلستر کوچنۍ ټوټې له چت څخه راولوېدلې، ښیښې ماتې شوې او د ساتونکو او چوپړیالانو چیغې له هر لوري راپورته شوې. کابو په همدغه شېبه کې د څرک مرمیو د شپې تیاره څیرې کړه او له هر لوري پر ماڼۍ باندې ورېدلې. په ماڼۍ کې هر څه چې تراوسه روان وو په ټپه ودرېدل. پر ماڼۍ باندې د مرمیو پرله پسې باران د یو ښه همغږي برید څرګندونه کوله، خو دا څه خبره وه؟ یو خیانت؟ یو پرچمي پاڅون؟ د یاغیانو برید؟ یا یو بد خوب؟

امین له بالښت څخه خپل درونډ سر اوچت کړ. دوه کسه یې له کټ سره درېدلي وو: د ده مېرمن، پتمنه او د کورنیو چارو وزیر، فقیر چې څو شېبې مخکې له کابل څخه رارسېدلی و. کله یې چې وزیر ولید، امین په ټیټ غږ ورته وویل: «فقیره، داسې ښکاري چې زه لېونی کېږم.» ډزو او بمونو (grenade) د ماڼۍ لوموړی پوړ ولړزاوه. امین هڅه وکړه چې اوچت شي او ویې ویل: «یوه کوچنۍ ماشینګنه راکړه.» مېرمنې یې ترې وپوښتل: «څوک غواړې وولې؟ شورویان؟» نوموړې په هر څه پوه شوې وه.

کابو ټولو هغو پوځونو چې هغه وخت کابل ته لېږدول شوي وو - مسلمان کنډک، د زینت ډله، د وسترتوتین* Vostrotin

په مشرۍ پراشوټي ډله او د A ډله - دوی ټولو پر ماڼۍ باندې په یرغل کې برخه لرله. د ۱۰۳مې فرقې پراشوټیان چې په دې وروستیو کې له شوروي اتحاد څخه په الوتکو کې راوستل شوي وو، په لاره وو چې په دغه یرغل کې مرسته وکړي؛ نو امین د ژوندي پاتې کېدو فرصت نه درلود.

کله چې جګړه د ماڼۍ دویم پوړ ته ورسېده، امین خپل ځان راټول کړ، له کټ څخه اوچت شو او په داسې حال کې چې د سیرمو بوتل یې په لاس کې نیولی و او ستنې یې تراوسه په رګونو کې وې، دالان ته ووت. پوځي ډاکټر، الکسییوف وروسته وویل: «امین یوازې په خپل نېکر کې په دالان کې ګرځېده او د سیرمو بوتل یې داسې په لاس کې نیولی و لکه لاسي بم. پر ځان یې د ماڼۍ له سالون څخه د اور د لمبو رڼاوې لګېدلې. د ده پنځه کلن زوی له خپلې کوټې ورمنډې کړې او د امین پر پښو یې ځان ټینګ ونیوه. دوی هڅه وکړه چې له مرمیو څخه د ساقي ځای د مېز شاته پټ شي. دا هغه ساقي ځای و چې یوازې څو ساعته مخکې امین خپلو مېلمنو ته پرې ځان ښکاره کاوه او اوس په همدغه ځای کې دی او زوی یې د بمونو

په چرو مړه شول.

څو دقیقې وروسته کله چې د جګړې پایله څرګنده شوه، یوه څلور کسیزه ډله - دوه شورویان او دوه افغانان* - د امین مړي ته ورننېږدې شول، د ده مړی یې د شا پر تخته کړ او څېره یې له یو انځور سره پرتله کړه. کله یې چې ډاډ ترلاسه کړ چې دا د امین مړی دی، یو افغان پر دغه پخواني مشر او د غویې انقلاب «پر قوماندان» له نېږدې واټن څخه ډز وکړ.

د جي ار یو ډګروال، کولېسنیک Kolesnik، چې د دغو عملیاتو قومانده پر غاړه درلوده او د کې جي بي جنرال، دروزدوف، چې د ځانګړو ځواکونو مسولیت درلود، د امین د پېژندنې پروتوکول لاسلیک کړ. ورپسې

---

*وروسته، جنرال، د شوروي اتحاد اتل، مرستیال وزیر او د ولسي جرګې مرستیال شو.

*دغه دوه افغانان، سروري او ګلاب زوی وو، چې په دغو عملیاتو کې یې برخه اخیستې وه. دوی د برید په دویمه جوپه کې وو.

www.samsoor.com

د امین مړی په یوه پرده کې ونغښتل شو او هغه ځای ته څېرمه یووړل او خښ کړل شو چېرته چې مسلمان کنډک اړولي وو. د ده د دوو زامنو مړي چې د دغه برید قربانیان وو هملته خښ کړل شول.
په ټوله کې، د شاولي د مېرمنې په ګډون پنځه ویشت افغانان پر تاج بېګ ماڼۍ باندې د یرغل په ترځ کې ووژل شول**. د کې جي بي د ځانګړو ځواکونو پنځه کسه او د مسلمان کنډک او پراشوټیانو څوارلس کسه ووژل شول او د ټپیانو شمېر له سلو کسانو څخه اوښتی و. د بلشیخه مشر ډګروال بایرینوف، چې په جګړه کې یې د زینت جنګیالیو مشري کوله هم ووژل شو. پوځي ډاکتر ډګروال وېکتور کوزنېچېنکوف Victor Kuznechenkov، چې د امین د ژغورلو لپاره ماڼۍ ته تللی و په ماڼۍ کې پر تصادفي مرمۍ ولګېد او مړ شو.
کله چې جګړه ښه ګرمه وه، له ماڼۍ څخه ډول ډول پیغامونه سفارت ته رسېدل. کریچکوف، بګدانوف ته تیلفون وکړ او ورته ویې ویل چې د امین ژوندي نیول اړین نه دي. د شپې په ځایي وخت شاوخوا په اتو بجو او دېرشو دقیقو مسکو یو شمېر راپوروته تر لاسه کړل چې اصلي نښه له منځه یووړل شوه.
خو دا یې پای نه و.
دا د هغه څه پای و چې وروسته د « غویي انقلاب لومړی پړاو» نوم ورکړل شو.

**دغه شمېر یوازې هغه افغانان ښيي چې په ماڼۍ کې د ننه وو. د تاج بېګ ماڼۍ ته د نېږې کېدو په وخت کې د مرګ ژوبلې شمېر په هکله مالومات نشته، خو د ځینو اټکلونو پر بنسټ، څو سوه خلک د یرغل په بهیر کې مړه شول.

# د لیکوالانو بنډار

ولادیمیر سنیګېروف:
ستا په اړه نه پوهېږم، ولېري ایونوویچ، خو که د ځان په اړه درته ووایم، ما د اړېپېچونو له ننګېرونو سره د کتاب خپله برخه بشپړه کړه. له یوې خوا خوښ یم چې یوه لویه او ستونزمنه پروژه مې بشپړه کړه. دغه کتاب د ډېرو کلونو د پلټنو، غونډو، خبرو اترو او زما د ستونزمن او ژور سوچ پایله دی، خو له بلې خوا زه فکر کوم چې دغه کتاب بشپړ شوی نه دی او ټول هغه څه مې تراوسه نه دي لیکلي چې باید وویل شي. زه په دې اندېښمن یم چې لوستونکو ته به ډېرې پوښتنې بې ځوابه پاتې شي. یوه تر ټولو مهمه پوښتنه دا ده چې ایا مسکو د امین په اکاره وژنه کې برحقه و او په دې توګه پرته له دې چې خوښه یې وي، د هغه کړۍ یوه برخه وګرځېد په کومه کې چې افغان مشران په تاوتریخوالي نسکورېږي. ایا یو بل داسې بدیل شته و چې مسکو په ریښتیني توګه له تره کي سره د امین پر خیانت سترګې پټې کړې وی او د امین ملاتړ ته یې داسې دوام ورکړی وی لکه هېڅ شی چې نه وي پېښ شوي؟ که داسې وي، نو مسکو ښايي د دې فرصت لرلی وی چې له پوځي مداخلې څخه ډډه وکړي او د دغه کړنې د ټولو غمجنو پایلو مخنیوی وکړي. دا څرګنده ده چې د امین ټولو کاري وړتیاو ته په کتو سره، نوموړی د تره کي په پرتله ( په ځینو اړخونو کې) وړ کس و.
په دې هکله چې ایا امین د سي ای اې اجنټ و بحثونه دوام لري. که امین د سي ای اې اجنټ و؛ نو د سرې جګړې په داسې کړکېچن پړاو کې مسکو کولای شي چې د پوځ کارونه داسې توجیه کړي چې په داسې مهمه سیمه کې یې له خپلو ګټو څخه دفاع کوله، خو که امین د سي ای اې اجنټ نه و؛ نو بیا؟ دربغی چې په دې هکله زه او ته همغږي وی. ته پر خپل باور ټینګ یې چې شوروي اتحاد داسې دلیلونه لرل چې پر امین باندې یې له امریکایانو سره د همکارۍ اړنګ زېړاوه، خو زما باور برعکس دی. زما په اند، کې جي بي په ۱۹۷۹ کال د امین کیسه د یو امریکایي جاسوس په توګه له ځانه جوړه کړه څو کرېملېن دې ته اړ کړي چې په افغانستان کې پرېکنده ګام اوچت کړي. راځه چې په دې هکله خپل اندونه او دلیلونه دلته څرګند کړو څو لوستونکي پخپله قضاوت وکړئ او وپتېیي چې څوک په حقه دي.

ولېري سمونېن:

هو، سمه ده. زما درنه شریک لیکواله، ستا په څېر زه هم په دې باور یم چې د سي ای اې د اجنټانو له شبکې سره د امین د تړاو پوښتنه ډېره په زړه پورې ده. دا هم د پوهاوي وړ ده چې د جاسوسۍ اړوند

توطیې د خلکو ناټ پاروي. زه دا هم منم چې ډېر خلک په دې فکر دي چې که امین په ریښتیا د سي ای اې اجنټ و؛ نو بیا د شوروي پرېکړه چې امین له منځه یوسي، که هوښیاره نه وه، خو پر ښو دلیلونو ولاړه او برحقه وه. که امین د امریکا څارگرې ادارې ته کار نه کاوه؛ نو بیا دا په دې مانا ده چې که کرېملېن یو جنایت نه وي کړی، خو خامخا یې یوه لویه تېروتنه کړې ده، خو زه نه غواړم چې د امین د «جاسوسۍ» موضوع له دغه موضوع سره نېغه وتړم چې ایا د امین لیرې کونه یوه د توجیه وړ کړنه وه یا نه. زه په دې باور یم چې دغه دوې بېلې موضوعگانې دي که څه هم تر یوې کچې له یو او بل سره تړاو لري.
راځه چې له امریکایي څارگرې ادارې سره د امین د همکارۍ د تور په تړاو هغه څه را په یاد کړو چې موږ پرې پوهېږو.

ولادیمیر سنیگېروف:

په پیل کې غواړم ووایم چې کله د نوي افغانستان تاریخ راسپړم، زه له بېلابېلو څېرو سره مخامخ کېږم - د ا خ د گ څېرې، د اسلامي مخالفینو مشران، شوروي سیاستوال، دیپلوماتان، څارگر افسران او جنرالان. د دوی ډېری ( بشپړ ډېری) هېڅ کله په جدي توگه دا باور نه درلود چې امین د یو جاسوس په توگه دنده درلوده. ډېری یې چې زه  ډېر مخور بولم دغه تور په رټ ډول ردوي. زه حتی کولی شم د دوی کورني نومونه درته واخلم .

ولېري سمونېن:

زه پوهېږم چې ته څوک یادوې. کېدای شي چې ځینې یې ستا په کتاب کې اصلي لوبغاړي وي: د دفاع وزیر پاولوفسکي، جنرال گوریلوف او زپلتین، گوندي سلاکار خرازوف Kharazov او د بهرنیو چارو وزارت سلاکار، سفرانچوک. دوی د خپلو دندو له کبله کابو هره ورځ له امین سره لیدنې کتنې کولې او امین به په معموله توگه په پرانیستې غېږه او د هالي ووډ Hollywood په بڼه روغبړ ورسره کاوه. دی تل چمتو و ( لېرترلږه په خپلو خبرو کې) چې د دوی مشورې ومني او سپارښتنې یې پلې کړي. دا ډېره بده ده چې امین د سپي په څېر لکۍ نه لرله، که یې لرلی، ده به له دغو سلاکارنو سره د لیدنې په وخت کې په خوښۍ خوځوله. دوی داسې «پېرزوینې» ډېرې خوښولې، خو ټولو یې نه.
له امین سره د سفیر پوزانوف چلند د ځانگړې پام وړ دی. زه د نوموړي چلند د «شخصي ننگېرنو» پر بنسټ نه بولم. ده به ویل: «ما ته وویل شول چې د افغان دولت د مشر په توگه امین له دغو او هغو وړاندیزونو څخه خبر کړم او یا د شوروي له لوري د دغه او هغه ارزونې په اړه ورته ووایم. زه باید هڅه وکړم چې په دغه او هغه یې قانع کړم. زه دا کار کوم او بیا یو مفصل تېلگراف مرکز ته لېږم چې دا کار مې څنگه ترسره کړ. زه باید د بېلابېلو چارو په هکله د امین له اند څخه مسکو خبر کړم او د شوروي له لوري سره د ده د همغږۍ

یا نه همغږی په هکله مسکو ته مالومات ورکړم، خو زه باید نورې دیپلوماتیکې دندې او پروتوکولي چارې هم ترسره کړم. زه باید د کلتوري چارو د راکړې ورکړې پروګرام ترسره کړم. دا زما کاري بنه ده. دا په ما پورې اړه نه لري چې ایا امین د سي ای اې اجنټ دی او یا نه او یا دا چې له افغان انقلاب سره یې خیانت وکړ، یا نه. دغه چارې باید «ځانګړې خلک» ترسره کړي او موږ داسې خلک په سفارت کې ډېر لرو.»

ولادیمیر سنیګېروف:

خو حتی دا «ځانګړي خلک» په تېره بیا د کې جي بي د لومړي ریاست (د بهرنیو چارو څارګره اداره) ډېرو مشرانو په خپلو خبرو کې ما ته هېڅ کله په ډاډ نه دي ویلي چې امین د امریکا څارګرې ادارې ګمارلی و. دوی یې شونتیا ته لاره پرېښودله او بس. د دوی دریځ ډېری داسې و چې د امین په هکله داسې سوچ هېڅ مانا نه ورکوي، خو د ده کړنو په عیني توګه د غویي انقلاب پایلې او زموږ ګټې زیانمنې کړې او د نوموړي همدغو کړنو د ده په نسکورولو کې پرېکنده ونډه درلوده او همدا راز دې ته یې لاره هواره کړه چې پر ځای یې شوروي ته ډېر وفادار ببرک کارمل چې د کړنو وړاندوینه یې کېدای شوی واک ته ورسول شي.

ولېري سمونېن :

ایا ته رینښتیا فکر کوې چې «ځانګړي خلک» په تېره بیا لوړپوړي څارګر مشران به یو ژورنالست یا یو تاریخپوه ته
بشپړ حقیقت ووایي او حتی تر دې کچې لاړ شي چې د مالوماتو د سرچینو په هکله مالومات ورکړي؟ دا ناشونې ده. حتی
زه،چې دغه کتاب مې له تا سره په ګډه لیکلی، ډېر مالومات مې په دغه کتاب کې نه دي لیکلي او داسې مې ګڼلې لکه ټول مې چې «هېر»کړي وي. زه به دغسې ډېر مالومات له ځان سره ګور ته ورم، خو تا ته ډاډ درکولی شم چې د الکسي پېتروف په ګډون، چې د غویي له انقلاب څخه مخکې یې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې له لوري پر یو ماموریت له امین سره یو ځای کار کاوه، په کابل کې د کې جي بي استازې ځانګې ډېری مامورینو پر امین د خاین او د سي ای اې د اجنټ ګومان کاوه. دغه ګومان له ډېرو نښو نښانو څخه منځته راغلی و. سربېره پر دې، کې جي بي دغه سرې ډېر د مخه څاره، هغه وخت چې د ا خ د ګ د یو مشر په توګه لا نه و راڅرګند شوی. د ده ژوند لیک په ډېر ځیر وپلټل شو چې په ځانګړې توګه یوه ګونګه شبهه پکې ومونډل شوه. مخکې له دې چې امریکا ته د زده کړو لپاره لاړ شي، امین یو لړ ملتپالې او شوروي ضد مقالې د کابل په ورځپاڼو کې خپرې کړې. دغه مقالو ته په کتو سره، امین په هېڅ وجه له شوروي سره په داسې وخت کې کومه مینه نه درلوده چې له ده څخه یو پوخ سړی جوړ شوی او په بنه نبه برابر سیاسي اند یې درلود. په امریکا کې یې د یو څه وخت لپاره په بریالی

توګه د افغان زده کوونکو د یوې ډلې مشري وکړه. ورپسې، د ا خ د ګ له بنسټ اېښودونکې غونډې وروسته، ده پرته له کومې ښکاره وجې په امریکا کې خپلې زده کړې پرېښودې او بېرته افغانستان ته لاړ. کله چې کابل ته ورسېد، دی په چټکۍ د تره کي باوري ښی لاس او د کارمل داسې وژونکی دوښمن شو چې بلاخره یې د ګوند ټوټې کېدو ته لاره پرانیسته.

له همغه وخت راهیسې د کې جي بي په وسیله له امریکایانو سره د امین د همکارۍ په هکله مسکو ته د مالوماتو راتګ پیل شو. د دغو مالوماتو بهیر ثابت و او سرچینې یې افغانان او د نورو هېوادونو اجنټان وو، خو د ډېرې مودې لپاره د امین په هکله داسې مالوماتو ته موږ د بې بنسټه تورونو او په ا خ د ګ کې د کورنیو مخالفتونو د پایلې په سترګه کتل.

ولادیمیر سنیګېروف:

ته منې چې د امین د بدنامولو لپاره وجې شته وې .ما او تا په دغه کتاب کې ډېر ځلې ټینګار کړی چې د دواړو ډلو له لوري د ګوند د ننه له ډلو ډلبازیو سره تورونه، کنځاوې او بدنامونې مل وې او دا د یوې ډلې غړي ته ډېره اسانه وه چې د بلې ډلې غړی په خیانت تورن کړي. د خلقیانو ژوندي مشران وایي چې کارمل د ولسمشر داود ځری و. دا په دې مانا ده چې کارمل د پټو پولیسو اجنټ و .پرچمیانو په خپل وار دې ته ورته تورونه په ښکاره د خلقي ډلې پر غړو لګول.

ستا د هغې یادونې په هکله چې ځارګر مشران به هېڅ کله پوره حقیقت بربنډ نه کړي؛ نو له خدای څخه شکر که دا ریښتیا وي ځکه چې له همدې وجې د دوی ادارو ته د پټو چوپړونو اداري ویل کېږي، خو دلته یوه مهمه پوښتنه شته - دا خبره سمه ده که څوک د خپلو مالوماتو سرچینې او د خپلې ادارې محرم مالومات په پام کې نیسي، خو زموږ ځارګر مامورین به ولې د دې پروا ولري چې د امریکا پټ رازونه بربنډ نه کړي؟

ولېري سمونښ:

اجازه راکړه چې خپلو خبرو ته دوام ورکړم. یو څه وخت وروسته، د شوروي اتحاد له یو ترټولو معزز روانپوه څخه وغوښتل شول چې د امین سیاسي څېره انځور کړي. دغه روڼ اندي د امین په هکله له ورکړل شوو مالوماتو سره ځان اشنا کړ. نوموړی دې پایلې ته ورسېد چې امین هغه ډول سړی نه دی لکه څرنګه چې ځان ښیي. دغه پایلې شوروي ځارګرو مشرانو ته د دې نغوته کوله چې دا ډېره شونې ده چې امین امریکایي اجنټ وي. په شوروي او بلغاریا کې یوه ډېره بشپړه پلټنه ترسره شوه چې تښتېدلي وزیران، سروري او ملګري یې، پکې ښکېل کړل شوي وو. په دغه پلټنه کې نه یوازې د بهرنیو چارو ځارګرو بلکې شننونکو، روانپوهانو، طبي پلټونکو، ژبپوهانو او په درجنونو کارپوهانو برخه اخیستې وه. دوی په ډېر پام په ا خ د ګ

کې د ځواکونو د جوړښت په هکله له سروري او افغان وزيرانو څخه مالومات راغونډ کړل. يوازې يوه خبره په وار وار راڅرګندېده - امين د سي ای اې اجنټ دی، خو زه يوه بله خبره هم لرم او ښايي ترټولو ډېر قانع كوونكې دليل وي. دا د امين د يادليكچې په هكله دی. د امين له وژنې څخه يوه ورځ وروسته، ما پخپله دغه كتابچه وكتله. ورپسې ما ته وويل شول چې د كتابچې ټول يادښتونه په روسي ژبه وژباړم. د بېلابېلو خلكو نومونه، د تيلفون شمېرې او ډېر نور شيان پكې ليكل شوي وو. ما پكې يو يادښت چې امين ليكلى و ولوست چې داسې ليكل شوی و: «سي ای اې» او ورپسې د تيلفون يوه امريكايي شمېره ليكل شوه وه.

ولاديمير سنيګېروف:

دغه كيسه مې له پخوانيو ځارګرو څخه اورېدلې ده او ما ته ستا د دليلونو په ځنځير كې تر ټولو سسته كړۍ ښكاري. دا راته ووايه چې كوم ډول اجنټ به په ځارګره اداره كې د خپل اړيكوال د تيلفون شمېره په خپله كتابچه كې وليكي؟ كه دا خبره ريښتيا وي؛ نو په كتابچه كې ليكنې او شمېرې به د پي جي يو د لاسي ليک ليكنې كارپوه ليكلې وي. څومره چې زه پوهېږم، دغه كارپوه د تاج بېک په يرغل كې ګډون درلود. هو ريښتيا، پخواني ځارګر مامورين په داسې خام كار پوهېږي او د منلو وړ يې نه ګڼي؛ نو ځكه يې په خپلو يادښت كتابونو كې د داسې يادليكچې يادونه نه ده كړې. د بګدانوف، كېرپيچينكو او شېبرشين Shebarshinكتابونه ولوله. دوی ټول هغه جنرالان دي چې په پېښو كې په مستقيم يا غيرمستقيم ډول ښكېل وو، خو دوی ټولو دا غوره وګڼله چې داسې يوه مهمه خبره په خپلو كتابونو كې ونه ليكي، ولې؟

ولېري سمونېن :

زه ستا په طنزي خبرو پوه شوم. هو، ځارګر مامورين بايد په ريښتيا داسې شيان په خپله يادليكچه كې ونه ليكي. زه درسره همغږی يم .ما به تل دغه خبره خپلو اجنټانو ته كوله او دوی به په معموله توګه له ماسره همغږي وو، خو بيا به يې هم زما په مخ كې يادښتونه ليكل. دوی به په دې فكر چې زما ورته پام نه دی حتى د رستورانت په كاغذي دسمال يادښت وليكلو او جيب ته به يې كړ. دوی پر خپله حافظه ډېره نه شوی لګولی. دا شونې ده چې د سي ای اې مامورينو دې ته دومره پام نه وي كړی چې امين ته د دسيسو اصول ورزده كړي.

ولاديمير سنيګېروف:

ښه، زه ستا د دليل پر وړاندې يوه بله جدي خبره هم لرم. دا ښكاره ده چې په بده ورځ كې سي ای اې خپل اجنټان هېڅ كله يوازې نه پرېږدي په تېره بيا داسې اجنټان چې د واک لوړ پوړ ته ننوتلي وي. كه داسې يو اجنټ مړ شي، د معمول په توګه د ده د كورنۍ نېږدې غړي پالل كېږي. د دغه افغان مشر كورنۍ

ته څه پېښ شول؟ د تاج بېک له یرغل څخه وروسته، د امین مېرمن او ماشومان سمدلاسه بندیان شول . دوی تر ۱۹۸۵ کال پورې بندیان وو او دوه نور کاله په کور کې نظر بند وو. په ۱۹۸۷ کال د امین کونډې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د ښونې او روزنې وزارت ته یو لیک ولېږه چې د خپلو ماشومانو د زده کړو غوښتنه یې پکې کړې وه. د نوموړې غوښتنه ومنل شوه؛ نو دوه لورانې او یو

زوی یې شوروي اتحاد ته د زده کړو لپاره لاړل. پټمنه د مجاهدینو تر راتګ پورې په کابل کې پاتې شوه، بیا هند ته

لاړله، د څه وخت لپاره یې په روسیه کې ژوند وکړ او اوس له خپلې یوې لور سره په هامبورګ کې ژوند کوي. د نوموړې

یوازینی عاید هغه خرڅ دی چې سیاسي مهاجرو ته ورکول کېږي.

یا راځه چې د امین عملي کړنو ته پام وکړو، لومړی د مرکزي کمېټې د یو غړي په توګه، بیا د هېواد د دویم سړي او ورپسې

د هېواد مشر په توګه. که موږ د ده څرګند «افغان» ځانګړتیاوې لکه پښتون ملتپالنه، ختیځي ټګماری او اکاړی ته پام و نه کړو، امین د شوروي اتحاد د یو وفادار او مسلکي انقلابي په څېر چلند درلود. حتی د نوموړي دوښمنان د خلق په ډله کې د یو پوځي سازمان په جوړونه کې د ده پر مهمې ونډې او د کودتا په ورځو کې د ده پر هوډمنتوب ټینګار کوي. ډېرو لږو خلکو د نوموړي پر دغه خبرې اړنګ کاوه چې «د شورویانو په پرتله دی ډېر شوروی دی.» دا یوه ښېله خبره ده چې په سویتېزم کې دی لږ ډېر له کچې وتلی چپي و، پر ځان دومره له برید څخه وتلی باورمن و چې بې وخته کړنې یې ترسره کړې او د ستالین عبادت یې کاوه.

که ده د امریکایانو لپاره کار کاوه، ولې یې په وار وار د خپلې ساتنې، د یاغیانو د بریدونو د شنډولو او د هېواد د خپلواکۍ د ساتلو لپاره د شوروي پوځیانو غوښتنه وکړه؟ بې اړنګه، ځوک به داسې وانګېري چې دا د داسې یوې پېچلې ستراتیژۍ یوه برخه وه چې موږ یې د یو بل هېواد په خاوره کې یوې سترې کوونکې جګړې ته ټېل وهلو، خو ما ته داسې څرګندونې ډېرې ناشونې ښکاري. بې اړنګه، د امین په واکمنۍ کې د شورویانو شتون په افغانستان کې په ډېرېدو و په داسې حال کې چې پر امریکایانو باندې ډېر محدودیتونه ولګېدل .

ولېري سمونېن:

تر ټولو لومړی، زه به هېڅ کله په ډاډ داسې ونه وایم چې امریکایان هېڅ کله خپل اجنټان یوازې نه پرېږدي. دویم، زه به د امین په هکله له داسې تعریف څخه کار وانه خلم چې امین «د شوروي اتحاد یو وفادار ملګری و» یا «یو مسلکي انقلابي و.» که څوک ځان د چا ملګری ګڼي، هغه باید لږترلږه پوه شي چې دغه

ملګرى يې څوک دى. د شوروي اتحاد په هکله امين ډېر لږ پوهېده. ده په ټولېزه توګه په امريکايي رسنيو کې د ننګېريزو (احساساتي) خپرونو او په افغانستان کې د دغو خپرونو د بيا خپرولو له لارې شوروي اتحاد پېژانده؛ نو له دې کبله ده داسې اند درلود چې د شوروي اتحاد مشرتابه - د ۱۹۷۰مې په وروستيو کلونو کې - ستاليني لېلې (مېتودونه) کاروي؛ نو ځکه يې هڅه کوله چې ځان د ستالين په څېر وښيي.

بې اړنګه، دى د «مسلکي انقلابي» د تعريف لياقت نه لري. د ۱۹٦۰مې په وروستيو کې، ما په افغانستان کې کار او ژوند کاوه او له ډېرو معززو افغان روڼ اندو سره مې ډېرې ګرمې اړيکې درلودې. زما په ياد نه دي چې حتى يو سړي هم په افغان انقلابيانو کې د امين نوم ياد کړى وي. تره کى، لايق، بارق شفيع، خيبر، کارمل، پنجشېرى، محمودي، غبار، طاهر بدخشي، دا ټول پېژندلي خلک وو، خو هېچا امين نه پېژانده. دغه سړي تر يوې کچې په نامالومه توګه له تره کي سره د هغو اړيکو په مرسته ګوند ته ننوت چې که مرموزې نه وې، عجيبې خامخا وې. کله چې امين غښتلى شو، ده سمدلاسه خپله ځپونکې «انقلابي» غوسه د «امپرياليزم ارتجاعي ځواکونو » پر ضد نه بلکې د پرچميانو پر ضد وکاروله. افغانستان ته د شوروي پوځ د تګ په هکله د بې پايه غوښتنو په تړاو غواړم ووايم چې دا څرګنده ده چې امريکايانو ډېر د وخته حتى د ۱۹۷۸ د مې په مياشت کې د داسې يو فرصت شونتيا ارزوله چې شوروي اتحاد په افغانستان کې په بشپړ ډول بند پاتې شي او په دې توګه د شوروي اتحاد نړيوال برم او پرتم ته يو ګوزار ورکړي او ناورينجن زيانونه ور په برخه کړي .

طبيعي ده چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد مداخلې په نړۍ کې ستراتيژيک انډول په جدي توګه نه شوى اغېزمن کولى او يا د امريکا ګټې يې نه شوې زيانمنولى، خو زموږ هېواد ته يې ناوړې پايلې زېږولى شوې. دا ټيک هغه څه وو چې پېښ شول؛ نو ځکه امين په دوامداره توګه شوروي پوځيانو ته بلنه ورکوله.

ولاديمير سنيګېروف:

زه خپل وروستى دليل درته وړاندې کوم. د افغان مشر دوه ګوني لوبه هغه وخت په فعاله توګه پيل شوه چې «څلور واله غدى» ډګر ته راووتله، سمه ده؟ په دغه وخت کې لوړپوړو خلقيانو - سروري، ګلاب زوى، وطنجار او مزدوريار - په کابل کې د کې جي بي له مامورينو سره اړيکې ونيولې. د دوى اندېښنې، په ځانګړې توګه هغه چې ګواکې امين له امريکايي ځارګرې اداره سره ښکېل دى د هغو ټيلګرافونو بنسټ وګرځېد چې مسکو يې وارخطا کړ. په هغه وخت کې دغو مخالفو څېرو پر دغه ديکتاتور باندې د هر څه پړه اچوله څو خپل ځانونه وژغوري او ځکه چې دا اندېښنه يې لرله چې د امين چپې سياست به انقلاب له ماتې سره مخ کړي، خو له هغه وخت څخه درې لسيزې تېرې شوې، وطنجار او مزدوريار نور له موږ سره نشته، سروري عمري بندي دى. نومړې په ډله ييزو ځپنو کې د خپلې ونډې له امله ونه ښښل شو. ګلاب

www.samsoor.com

زوی، چې د اړودوړ په وخت کې يې په بهر کې ژوند کاوه، بېرته کابل ته لاړ او تراوسه د افغانستان په سیاسي ډګر کې فعال دی. کله چې له ده څخه پوښتنه وشي چې ایا ته امین د سي ای اې اجنټ په سترګه ګورې؟ په سیاسي جګړه کې دغه د تجربې خاوند خامخا داسې ځواب درکوي: «ما هېڅکه داسې اند نه درلود.»

ولېري سمونېن:

هو، له هغه وخت راهیسې ګلاب زوی ډېر بدل شوی. زه په دې پوهېږم، خو د امین د دوه ګونې لوبې کیسه له هغه وخت څخه ډېر مخکې لومړی راپورته او ورپسې غټه شوه چې «څلورواله غدی» لا نه وه جوړه شوې. لکه څنګه مې چې مخکې هم یاده کړې، داسې ښکاري چې د بې عزته شوو خلقیانو مالومات په مناسب وخت کې راڅرګند شول.
اوس غواړم یوه مهمه خبره وکړم. له سي ای اې سره د امین د تړاو موضوع دغه پوښتنې ته ورته ده: «ایا ته پر الوتونکي نالبکي Flying Saucer باور لرې؟» یو څوک به ووایې: «نه.»، بل څوک ښایي ووايي: «هو، زه باور پرې کوم.»، درېیم کس ښایي داسې ووايي: «هو، ما له اجنبیانو aliens سره لیدلي دي او له دوی سره مې یوځای د دوی سیارې ته الوتنه کړې.» ځینو ته دا د باور خبره ده او نورو ته د پوهې.
د امین د رژیم ویجاړېدنه له دې کبله نه وه چې په شوروي مشرتابه کې یو چا پر امین باندې له امریکا سره د اړیکو اړنګ درلود. په سیاست کې، په تېره بیا د لوړې کچې په سیاست کې داسې کوچنیو شیانو ته لکه یوې بهرنی څارګرې ادارې ته دنده ترسره کونه ډېری په پام کې نه نیول کېږي. زموږ او د نورو هېوادونو په تاریخ کې داسې ډېرې بېلګې شته چې د پورتنی خبرې پخلی کوي.
کله چې د ۱۹۷۳ کال د جولای په اوولسمه په افغانستان کې محمد داود واک ته ورسېد، د یوې داسې نظریې پر بنسټ چې زموږ سیاسي تیوریسنانو رامنځته کړې وه، د شوروي مشرتابه په دې اند شوه چې په داسې شاته پاتې او د منځنیو پېړیو هېواد کې یوازې «د اصلاح پالو او وطنپالو ځواکونو یوه متحده جبهه» کولای شي چې د امپریالېزم پلوې ارتجاع د پرمختګ مخه ونیسي. له دغه نظریې سره سم، شوروي مشرانو په دوامداره توګه هڅې کولې چې پر داود باندې د ا خ د ګ او د ځینې داسې نورو جعلي سازمانونو ایتلاف وتپي چې له بوډا روڼ اندو، د بشري حقونو له فعالانو، پرمختګ غوښتونکو دیني مشرانو او له نورو څخه جوړ شوی و. د دغو کړنو پر وړاندې موږ په دغه کتاب کې د داود د غبرګون
په هکله په مفصل ډول لیکلي دي.
د غوبي له انقلاب څخه وروسته، مسکو همدغې سندرې ته دوام ورکړ: «ملګرو او انقلابیانو، ژرترژره د اصلاحپالو

او وطنپالو ځواکونو یوه متحده جبهه جوړه کړئ.» خو نه یوازې دا چې تره کي داسې یوه جبهه جوړه نه کړه بلکې د امین په نوښت یې خپل پخواني ملګري متحدین، پرچمیان، نابود کړل. په زرګونو بېګناه خلک، چې ښایي ډېرو یې په افغانستان کې د پرمختګ لپاره د بدلونونو ملاتړ کړی وی، له منځه یوړل شول.

وروسته له دې چې امین، تره کی لیرې او بیا مړ کړ، د افغانستان د کورني سیاست وضعیت هېڅ بدل نشو.

د تره کي مړینه او د «څلوروالي غدی» ژغورنې په افغانستان کې د ځواکونو انډول بدل کړ او د افغانستان او شوروي په اړیکو کې یې راتلونکو پرمختیاو ته لاره هواره کړه. د کرېملېن مشرانو په اند، د کارمل او تره کي له پلویانو څخه د یو اېتلاف پر جوړوني بلاخره «د اصلاحپالو او وطنپالو ځواکونو متحدې جبهې» رامنځته کېدنه شونې ښکاره شوه. په دې هکله ځینې کارونه ترسره شول .سروري، وطنجار او ګلاب زوی په رسمي ډول له کارمل سره روغه جوړه وکړه. د «اصلاحپالو او وطنپالو ځواکونو د متحدې جبهې» نظریه د افغانستان راتلونکو مشرانو پلې کړه، خو امین او ملاتړي یې هېڅ کله په دغه ماډل «ملي یواالي» کې نه جوړېدل .امین به هېڅ کله او په هېڅ وجه له هغو خلکو سره همکاري نه وی کړې چې ده یې تر خپلې وسې د تباه کولو هڅې کړې وې. ده به دا کار حتی د غویي انقلاب د ژغورلو په پار نه وی کړی او دې نورو خلکو به په خپل وار امین د خپلو تېرو کړنو له کبله نه وی ښنلی.

په افغانستان کې د غویي انقلاب لومړی پړاو په بشپړ ډول زیانمن شو؛ نو ځکه دوی اړ وو چې یا له انقلابي اصلاحاتو څخه تېر شي او یا دویم پړاو ته ورننوځي.

ولادیمیر سنیګېروف:

هو، هغه څه چې حقیقت لري دا دي چې د شوروي اتحاد او افغانستان پر مشرانو باندې باید د ننی ورځې د دریځونو پر بنسټ قضاوت ونشي. هغه وخت د دوو نړیوالو سیستمونو جګړه روانه وه. بشر د اتومي ناورین په مورګه و او په دغه جګړه کې هېڅ لوري جوړجاړی نه غوښت. داسې ښرګنده شوه چې امین د دوو اورونو تر منځ پاتې و او د یو لوی ټکر قرباني شو.

زموږ په کتاب کې، موږ یوازې په سرسري توګه د غویي انقلاب د «لومړي پړاو» له مرموزتیاو څخه پرده پورته کړه. د افغانستان او شوروي اتحاد په تړاو د دغه پېر په تاریخ کې لاتراوسه ځینې تیاره ځایونه شته؛ نو ځکه دا به له وخت څخه مخکې وي چې په دې هکله یوې پایلې ته ورسېږو. زه په دې باور هم یم چې کله افغانستان یو ځل بیا د بیړنیو خبرونو موضوع وګرځېد او اوس امریکا او متحدین یې هلته بند پاتې دي، د

www.samsoor.com

وروستي تاریخ درسونه باید په ځانګړي ځیر ولوستل شي او د دغو درسونو پر بنسټ یوه سمه پایله رامنځته کړل شي.

# اخځلیک

Books Ablazov, V. I. *Afganistan: Chetvyortaya voina*. Kiev: RIA “Marko Pak,” 2002. [Afghanistan: The Fourth War]

Afganskie uroki: *Vyvody dlya buduschego v svete ideinogo naslediya A. E. Snesaryova.* Moscow: Voennyi Universitet, Russkiy Put, 2003. [Afghan Lessons: Conclusions for the Future in Light of Snesaryov’s Ideological Inheritance]

Akhromeev, S. F., Korniyenko, G. M. *Glazami marshala i diplomata*: Kriticheskiy vzglyad na vneshnyuyu politiku SSSR do i posle 1985 goda. Moscow: Mezhdunarodnye Otnosheniya, 1992. [Through the Eyes of a Marshal and a Diplomat: A Critical Look at USSR Foreign Politics before and after 1985]

Aktualnye problemy afganskoi revolyutsii. Moscow: Nauka, 1984. [Contemporary Issues of the Afghan Revolution]

Allan, P., Klei, D. *Afganskiy kapkan: Pravda o sovetskom vtorzhenii.* Moscow: Mezhdunarodnye Otnosheniya, 1999. [The Afghan Trap: The Truth About the Soviet Invasion]

Andogskii, A. I., Drozdov, Yu. I., Kurilov, V. N., Bakhturin, S. G. *Afgan, snova Afgan*… Moscow: Voenizdat, 2002. [Afghanistan, again Afghanistan]

Andrew, C., Gordievsky, O. KGB: *Istoriya vneshnepoliticheskikh operatsiy ot Lenina do Gorbachyova*. Moscow: Nota Bene, 1992. [The KGB: The History of Foreign Policy Operations from Lenin until Gorbachev.]

Andrew, C., Mitrokhin, V. *The Mitrokhin Archive II*: *The KGB and the World*. London: Penguin books, 2006.

Belonogov, A. M. *Na diplomaticheskoi avanstsene: zapiski postoyannogo predstavitelya SSSR pri OON*. Moscow: MGIMO, 2009. [On the Diplomatic Foreground: Notes of a Permanent Representative of the USSR at the United Nations]

Bearden, M., Risen, D. *Glavnyi protivnik: Tainaya istoriya poslednikh let protivostoyaniya mezhdu CRU i KGB*. Moscow: Mezhdunarodnye Otnosheniya,

2004. [The Main Enemy: The Inside Story of the CIA Final Showdown with the KGB]

Bobkov, F. D. *Posledniye dvadtsat let: Zapiski nachalnika politicheskoi kontrrazvedki.* Moscow: Russkoe Slovo, 2010. [The Last Twenty Years: Notes of a Director of the Political Counter-Espionage Agency]

Bogdanov, L. *Afganskaya tetrad*. Moscow: Natsionalnoye Obozreniye, 2000. [Afghan Notebook]

Brutenz, K. N. *Tridtsat let na Staroi ploschadi*. Moscow: Mezhdunarodnye Otnosheniya, 1998. [Thirty Years on the Old Square]

Brzezinski, Z. *Velikaya shakhmatnaya doska*. Moscow: Mezhdunarodnye Otnosheniya, 2000. [The Grand Chessboard]

Chazov, E. Zdorovye i vlast: *Vospominaniya ‘kremlyovskogo vracha.’* Moscow: Novosti, 1992. [Health and Power: Memoirs of the ‘Kremlin Doctor’]

www.samsoor.com

*Chekisty Leningrada v Afganistane*, 1979-1989. Saint Petersburg, 2009. [Leningrad KGB Servicemen in Afghanistan, 1979-1989]

Chernyaev, A. *Sovmestnyi ishod: Dnevnik dvukh epoch*. Moscow: ROSSPEN, 2008. [Combined Outcome: The Diary of Two Epochs]

Coll, S. *Ghost Wars: The Secret History of the CIA, Afghanistan, and Bin Laden, from the Soviet Invasion to September 10, 2001*. London: Penguin books, 2005.

Drozdov, Yu., Kurilov, V*. Operatsiya "Shtorm–333*." Moscow: Vympel, 1999. [Operation "Storm–333"]

Feifer, G. *The Great Gamble: The Soviet War in Afghanistan*. New York: Harper Perennial, 2009.

Gai, D., Snegiryov, V. *Vtorzhenie: Neizvestnye stranitsy neob'yavlennoi voiny*. Moscow: IKPA, 1991. [Invasion: The Unknown Pages of an Undeclared War]

Grinevskiy, O. *Tainy sovetskoi diplomatii*. Moscow: Vagrius, 2000. [The Secrets of Soviet Diplomacy]

Gromov, B.V. *Ogranichennyi contingent*. Moscow: "Progress"-"Kultura." [Limited Contingent of Forces]

Gromyko, A. *Polyot ego strely: Vospominaniya i razmyshleniya syna*. Moscow: Nauchnaya kniga, 2009. [The Flight of His Arrow: Memoirs and Reflections of the Son]

*Gruppa spetsialnogo naznacheniya KGB SSSR "Vympel": Sozdanie i stanovlenie, pobedy i neudachi, unichtozhenie i vozrozhdenie. Moscow, 2008. [KGB Special Forces Team "Vympel": Creation and Implementation, Victories and Failures, Destruction and Renewal]*

*Internatsionalnaya missiya: Vospominaniya sovetnikov MVD SSSR ob afganskikh sobytiyakh* (1978-1992 gg). Moscow, 1999. [International Mission: The Memoirs of the Ministry of Internal Affairs Advisers about the Events in Afghanistan in 1978-1992]

Keshtmand, S. A. *Politicheskiye zapiski i istoricheskiye sobytiya: Lichnye vospominaniya i epizody sovremennoi istorii Afghanistana*. London: Jacket Print, 2001 (in Dari). [Political Notes and Historical Events: Personal Memoirs and Episodes of Current Afghan History]

Khristoforov, V. *Afganistan: Pravyaschaya partiya i armiya, 1978-1989*. Moscow: Granitsa, 2009. [Afghanistan: The Ruling Party and the Army, 1978-1989]

Kirpichenko, V. *Razvedka: litsa i lichnosti*. Moscow: Mezhdunarodnye Otnosheniya, 2001. [Intelligence Service: Faces and Personalities]

Kisilyov, A. V. *Stalinskiy favorit s Lubyanki*. Saint-Petersburg: Neva, 2003. [Stalin's Favorite from Lubyanka]

Kozlov, S., et. al*. Spetsnaz GRU: Afganistan—zvyozdnyi chas spetsnaza*. Moscow: Russkaya panorama, 2009. [The Special Forces of the Main Intelligence Directorate: Afghanistan— The Special Forces' Moment of Glory]

Korniyenko, G. M. "*Kholodnaya voina": svidetelstvo eyo uchastnika*. Moscow: Olma Press, 2001. ["Cold war": a Testimony of a Participant]

Kostyrya, A. A. *Istoriografiya, istochnikovedenie, bibliografiya spetsoperatsii v Afganistane* (1979-1989 gg). Second edition. Donetsk: LLC "IPP Promin," 2009. [Historiography, Source Studies, and Bibliography of the Special Forces' Campaign in Afghanistan]

Crile, G. *Voina Charlie Wilsona*. Moscow: Sovershenno sekretno, 2008. [Charlie Wilson's War]

Krakhmalov, S. *Zapiski voennogo attaché*. Moscow: Russkaya razvedka, 2000. [Notes of a Military Attaché]

Kryuchkov, V. *Lichnoe delo*. Moscow: Eksmo, Algoritm-Kniga, 2003. [Personal Record]

Kryuchkov, V. *Bez sroka davnosti*: 2-volume edition. Moscow: Prosvescheniye, 2006. [Without Limitation Period]

Kucherova, L. *KGB v Afganistane*. Moscow: Eksmo; Yauza, 2009. [KGB in Afghanistan]

Lyahovskiy, A. A. *Tragediya i doblest Afgana*. Yaroslavl: Nord, 2004. [The Tragedy and Valor of Afghanistan]

Mayorov, A. M. *Pravda ob afganskoi voine*. Moscow: Prava Cheloveka, 1996. [The Truth about the Afghan War]

Makarov, V. I. V *generalnom shtabe nakanune gryaduschikh peremen*. Zhukovskiy; Moscow

Kuchkovo Pole, 2004. [In the General Staff Before the Changes]

Medvedev, R. *Neizvestnyi Andropov. Rostov-na-Donu: Feniks*, 1999. [The Unknown Andropov]

Merimsky, V. A. *Zagadki afganskoi voiny*. Moscow: Veche, 2006. [The Mysteries of the Afghan War]

Mlechin, L. *Osobaya papka: Sluzhba vneshnei razvedki*. Moscow: Yauza; Eksmo, 2003. [A Special File: The Service of the Foreign Intelligence]

Neshumov, Yu. A. *Granitsy Afghanistana: Tragediya i uroki*. Moscow; Zhukovsky: Granitsa; Kuchkovo pole, 2006. [The Borders of Afghanistan: Tragedy and Lessons]

Peshkov, E. *Bud prosche, Mikhalych*. Moscow, 2005. [Be More Casual, Mikhalych]

Pikov, N. *Ya nachinayu voinu*. Moscow: Eksmo, 2010. [I Begin a War]

Plastun, V., Andrianov, V. *Najibullah: Afganistan v tiskakh geopolitiki*. Moscow, 1998. [Najibullah: Afghanistan in the Grip of Geopolitics]

*Prikaz 0085. Professiya* "A." Khabarovsk, 2009. [Order # 0085. Profession "A"]

Sebyakin, L. *Afghan nakanune tragedii*: Vospominaniya voennogo sovetnika. Moscow: RGGU, 2009. [Afghanistan Before the War: The Memoirs of a Military Adviser]

Shebarshin, L. V. *Ruka Moskvy: Zapiski nachalnika sovetskoi razvedki*. Moscow: Terra, 1996. [The Hand of Moscow: The USSR Chief Intelligence Officer's Notes.]

Shinkaryov, L. *Ya eto vsyo pochti zabyl…Opyt psihologicheskikh ocherkov sobytiy v Chekhoslovakii v 1968 godu*. Moscow: Sobranie, 2008. [I Have Almost Forgotten All That: Psychological Essays About the Events in Czechoslovakia in 1968]

Shironin, V. *Agenty perestroiki: Rassekrechennoe dosye KGB*. Moscow: Algoritm, Eksmo, 2010. [The Agents of Perestroika: a KGB Declassified Dossier]

Siasang, S. *Aprel 1978: Nachalo tragedii Afganistana*. Moscow: U Nikitskikh Vorot, 2009. [April 1978: The Beginning of the Afghan Tragedy]

*Sinitsyn, I. E. Andropov vblizi*. Moscow: Rossiyskaya gazeta, 2004. [Andropov Up Close]

Slinkin, M. F. *Narodno-demokraticheskaya partiya Afganistana: Vremya Taraki-Amina* (1978-1979). Simferopol, 1999. [People's Democratic Party of Afghanistan: The Time of Taraki-Amin (1978-1979)]

Slinkin, M. F. *Afganistan: Oppozitsiya i vlast* (60-70-ye gg. XX veka). Simferopol, 2004.

[Afghanistan: Opposition and the Authorities (The 1960s–1970s of the 20th Century)]

Snegiryov, V. *Ryzhiy*. Moscow: Novaya Gazeta; Saint Petersburg: Inapress, 2003. [Red]

Snesaryov, A. E. *Afganistan*. Moscow: Russkaya Panorama, 2002. [Afghanistan]

www.samsoor.com

Spolnikov, V. N. *Afganistan: islamskaya kontrrevolyutsiya*. Moscow: Nauka, 1987. [Afghanistan: Islamic Counter-Revolution]

Tanner, S. *Afganistan: Istoriya voin ot Aleksandra Makedonskogo do padeniya* "*Talibana*." Moscow: Eksmo, 2004. [Afghanistan: A Military History from Alexander the Great to the War Against the Taliban]

Tenet, G. (with the participation of Harlow, B.). V *tsentre shtorma*: Otkroveniya eks-glavy TsRU. Moscow: Eksmo, 2008. [At the Center of the Storm: My Years at the CIA]

Tikhonov, Yu. *Afganskaya voina Stalina: Bitva za centralnuyu Aziyu*. Moscow: Yauza; Eksmo, 2008. [Stalin's Afghan War: The Battle for Central Asia]

Tukharinov, I. Yu. *Sekretnyi komandarm*. Moscow, 2002. [Secret Army Commander]

Tsvetkov, A., Surodin, V. Vsya zhizn–ataka. Moscow: Granitsa, 2010. [The Whole Life as an Attack]

Varennikov, V. *Nepovtorimoe*, V 7 t. T. 5. *Afganistan. I doblest, i pechal. Chernobyl*. Moscow: Sovetskiy Pisatel, 2001. [Inimitable: 7-volume edition. Volume 5. "Afghanistan. Valor and Grief. Chernobyl"]

Vassiliev, E. *Persidskiy zaliv v epicentre buri*. Moscow: Politizdat, 1983. [The Arab Gulf in the Epicenter of a Storm]

*Voina v Afganistane*. N. I. Pikov (Ed.) Moscow: Voenizdat, 1991. [The War in Afghanistan]

*Voina i obschestvo v XX veke*: V 3 kn. Kn. 3. Voina i obschestvo v period lokalnykh voin i konfliktov vtoroi poloviny XX veka. Moscow: Nauka, 2008. [War and Society in the 20th century: 3-volume edition. Volume 3. War and Society During Local Wars and Conflicts of the Second Half of the 20th Century]

Woodward, B. *Priznanie shefa razvedki*. Moscow: Politizdat, 1990. [Veil: the Secret Wars of CIA]

**Articles**

Westad, O. A. Nakanune vvoda sovetskikh voisk v Afghanistan. *Novaya i noveyshaya istoriya, no. 2 (1994). [On the Eve of the Soviet Invasion in Afghanistan]*

The documents of the Soviet government in regards to the situation in Afghanistan*. Novaya i noveishaya istoriya, no. 3, (1996).*

Merimsky, V. A. Voina v Afganistane: Zapiski uchastnika*. Novaya i noveishaya istoriya,* no. 3 (1995). [The War in Afghanistan: The Notes of a Participant]

Safronchuk, V. S. Afganistan vremyon Taraki. *Mezhdunarodnaya zhizn,* no. 12 (1990). [Afghanistan During the Taraki Times]

Safronchuk, V. S. Afganistan vremyon Amina. *Mezhdunarodnya zhizn,* no. 1 (1991). [Afghanistan During the Amin Times]

*T*ainyie mysli midovtsa v moment vvoda sovetskikh voisk v Afganistan*. Nezavisimaya gazeta.* 15 September, 1994. [A Ministry of Foreign Affairs Staff Member's Secret Thoughts at the Moment of Soviet Invasion in Afghanistan]

**Other Sources**

The Archive of the President of the Russian Federation

Russian State Archive of Contemporary History

The National Archives. UK mission to Afghanistan

The National Security Archive (Washington, D.C.)

### Interviews

Alexandrov-Agentov, A. M. — The assistant of four general secretaries of the Central Committee of the Communist Party of the Soviet Union (Brezhnev, L. I., Andropov, Yu. V., Chernenko, K. U., Gorbachev, M. S.).

Babushkin, A. N. — Major general, served in the Information Analysis Department of the KGB First Chief Directorate in the 1970s, later was the head of the KGB Secretariat.

Basov, V. V. — A prominent Soviet expert on Afghanistan.

Bakhturin, S. G. — KGB colonel, served as a security officer at the Soviet embassy in Kabul from 1977-1983.

Biryukov, L. I. — KGB colonel, served as a KGB agent in Kabul from 1978-1983.

Bogdanov, L. P. — KGB major general, directed a KGB Representative Office in Kabul from 1978-1980.

Chuchukin, V. A. — Major general, was the first deputy of the KGB representative in Kabul from 1979-1983.

Gavrilin, V. T. — KGB colonel, served as a KGB resident in Kabul in the 1970s.

Golovatov, M. V. — In 1979, was a member of the antiterrorist group “A,” later headed the “A” subdivision of the Seventh Directorate of the KGB.

Golubev, A. T. — KGB lieutenant general, in 1979 participated in the “Storm-333” campaign.

Gorelov, L. N. — Lieutenant general, was the chief military adviser in Afghanistan from 1975-1979.

Gulabzoi, S. M. — An active participant of the April Revolution, later was a minister in Taraki’s, Karmal’s, and Najibullah’s governments, served as the ambassador of the Democratic Republic of Afghanistan in the USSR from 1987-1990.

Habibi, V. — Director of Kabul Central Hospital at the end of the 1980s.

Jawzjany, Sh. — A prominent member of the People’s Democratic Party of Afghanistan, served as a prosecutor-general in Afghanistan from 1978-1979, was a member of the Politburo of the Central Committee of the PDPA, in 1989 was the first deputy of the Revolutionary Tribunal chairman.

Ibragimov, A. T. — Operative of the KGB Residency in Kabul from 1979 to 1982.

Kalugin, O. D. — KGB major general

Karmal, Babrak — One of the founders of the People’s Democratic Party of Afghanistan, was the general secretary of the People’s Democratic Party of Afghanistan from 1979-1986, was the chairman of the Revolutionary Council.

Karmal, Kava — B. Karmal’s son.

Keshtmand, S. A. — Member of the Politburo of the Central Committee of the PDPA, in 1978 was a minister of planning in the Democratic Republic of Afghanistan, in 1981 became the head of the government of the DRA.

Kharazov, V. I. — In 1978, was the first party adviser in the Central Committee of the Democratic Republic of Afghanistan.

www.samsoor.com

Kozin, V. P. — Served at the Soviet embassy in Kabul from 1975-1978, later was a postgraduate student at the Diplomatic Academy, translated from Pashto during Taraki's visits to Moscow.

Kryuchkov, V. A. — In 1979, was the head of the First Directorate, later was the chairman of the KGB.

Kuznetsov, A. M. — Served as a military interpreter for a group of advisers in Kabul from 1978-1979.

Kutepov, Yu. I. — An officer at the KGB Ninth Directorate, was responsible for the security of the first figures in Kabul from 1978-1979.

Leonov, N. S. — KGB lieutenant general, in 1979 was the head of the Information Analysis Department of the KGB First Directorate.

Lozovoi, A. V. — Grandson of B. S. Ivanov, KGB lieutenant general.

Massoud, A. S. — Mujahadeen leader from 1977-1992, later was defense minister of Afghanistan.

Misak, A. K. — A prominent member of the People's Democratic Party of Afghanistan, was the finance minister in the DRA from 1978-1979, was the mayor of Kabul from 1989-1990.

Mishin, Yu. G. — Secretary at the Soviet embassy in Kabul, later served as a staff member at the Foreign Department of the Central Committee of the Soviet Communist Party.

Osadchiy, S. V. — Extraordinary and plenipotentiary ambassador of the USSR, son of V. G. Osadchiy, who was a KGB resident in Kabul.

Polyakov, G. A. — Served as a staff member at the Foreign Department of the Central Committee of the Soviet Communist Party from 1977-1991.

Ponomaryov, B. N. — Politburo of CPSU candidate, head of the Foreign Department of the Central Committee of the Soviet Communist Party.

Puzanov, A. M. — The Soviet ambassador in Afghanistan from 1972-1979.

Qadir, A. — In 1978, one of the main initiators and leaders of the April Revolution, later was the defense minister of the Democratic Republic of the Afghanistan.

Rurikov, D. B. — Served as a second secretary at the Soviet embassy in Kabul from 19781979, later was an assistant to the president of the Russian Federation, Yeltsin, and an extraordinary and plenipotentiary ambassador of the Russian Federation.

Shah Wali — A prominent member of the People's Democratic Party of Afghanistan, in 1979 was the minister of foreign affairs in Afghanistan, in 1989 was a minister with no charge.

Shebarshin, L. V. — KGB lieutenant general, was the leader of the KGB First Chief Directorate from 1988-1991.

Solomatin, B. A. — KGB major general, deputy director at the KGB First Chief Directorate.

Tabeyev, F. A. — Soviet ambassador in Afghanistan from 1979-1986.

Taraki, Nurbibi — The widow of N. M. Taraki, who was the general secretary of the Central Committee of the PDPA.

Zamyatin, L. M. — The head of the International Information Department at the Central Committee of the Communist Party of the Soviet Union from 1978-1979.

Zaplatin, V. P. — Major general, was an adviser at the Political Headquarters of the Armed Forces

**انځورونه**



د شوروي سفير ا. م. پوزانوف، افغان اولسمشر محمد داود او د شوروی سفارت مامور ولاديمير كوزين

www.samsoor.com



د اولسمشر ماڼی، ارګ، د کابل په مرکز کې



په مسکو کی برېژنیف ببرک کارمل ته ښه راغلاست وایی



دسمبر ۱۹۷۸. برېژنیف له نورمحمد تره کي سره په مسکو کي لیدنه کوي



په کابل کي د مي د لومړی ورځي لاریون. ببرک کارمل د انخور په منځ کي



د افغان څارګرې اداري مشر اسدالله سروري په مسکو کي



په کابل کي د کې جي بي مېشت مشر ډګروال ولادیمیر اوسادچي

www.samsoor.com

## لغاتونه

| | |
|---|---|
| **اتکړۍ** | د لاس زولنې |
| **اخه** | په دېوال کې جوړه شوې تاخچه |
| **ادرم** | اغېز |
| **اډمار** | مغرور، کبرجن |
| **اډول** | ترتیب |
| **اردلی** | خدمتگار |
| **ارگانه** | خرڅ، اذوقه |
| **ارگنه** | پنجره |
| **اړپېچ** | تناقض |
| **اړتون** | زندان |
| **اړکۍ** | تلک |
| **اښوه** | لویه هیله، د زړه غوښتنه |
| **اښی** | استراحت، ډډه وهل |
| **اکاړ** | ظالم |
| الغاسه | هغه سپکه ډوډۍ چې سړی يې خوري ځو تر غرمنۍ یا ماښامنۍ پورې خپله لوږه لېرې کړي. |
| **اندود** | ذهنیت |
| **پرځنگ** | مبارزه |
| **پرغزی** | ترینگلی، په غوسه |
| **پلونډ** | په جټې غټ |
| **بدورده** | مخالف |
| **بډول** | سپین گویه |
| **برغزووې** | بې مانا خبرې |

**بڼیالی** ډولي

**بولۍپلور** هغه بازار چې سړی یو توکی خرڅلاو ته اېږدي او هر چا چې تر ټولو په لوړه بیه پېروده همغه ته يې پلوري

**پاڅکی** مفت خور

**پرغزی** ترینګلی،په غوسه

**پلونډ** په جڅې غټ

**پېښه مار** هغه څوک چې پخپله کومه وړتیا ونه لري او د نورو خلکو پېښې (تقلید) کوي

**تربوچه** سره مولۍ

**ترغاک** سیلۍاو تېز باران

**تشیالی** فضا

**تنډل** ترمیمول

**تېخل** برمه کول

**ټپرا** :وارخطا، ډار شوی

**ټوپنی** کیهان

**ټوکیا** ساتول

**ټینخی** ځان ښودونکی

**ځاځ** غوسه

**ځبن** احمق

**ځبېښناک** استثمار

**ځکلېدلی** ځورېدلی او له وجې يې څه ناڅه په غوسه شوی

**ځوږ** شور او غوغا

www.samsoor.com

**څاوار** مصنوعي وېښتان

**څوب** تمایل، هیله

**خج** فشار

**خنیټۍ** یو ډول کوچنی کب

**دودیال** متمدن

**دېوالیه** افلاس

**ډبیالی** مودبه

**ډومارنه** په استدلال هڅونه

**رچ** میل، تلوسه

**رخه** کینه،حسد

**رښکن** هیجاني

**زړغی** زړه نازړه

**زورمټی** زورور، هغه چې له زور څخه کار اخلي

**سترکوکو** جذاب

**سترګه ور** یوه او د نظر خاوند

**ستګ** سنجاق

**سوټمار** ګرځنده بنجاره خرڅوونکی

**سونځ** ډېر ډارووونکی

**سیاڼه** مکار، خودغرضه

**شمزۍ** د ملا تیر

**شیله** ګوښه ګیر

**پینګ**

**ښګومن** هغه چې په ښګوم باور کوي

**غدۍ** د غلو یوه ډله

**غوچوالی** ژوروالی، عمق

**کارمار** څوک چې ډېر کار کوي

**کاز** شوق

**کوتلځی** قصابخانه، مسلخ

**ګاړګوټی** چنګ چنګ وېښته

**ګروهنه** تمایل

**ګلډانګ** غټ خولی سپی

**لیله** مېتود
**مختاړی** پشګېرک
**ملونه** قیزه
**ممنه** رضايي مور
**منډخولی** هغه څوک چې ډېرې خبرې نه کوي
**موباتی** شمع
**ناپړاند** ډیر سست او کمزوری
**ناټ** شوق، علاقه
**نابننده** نامناسبه
**ناکلاله** نامناسبه
**نغوته** اشاره
**ننګېرنه** احساس
**نومور** مشهور
**نومونپوهنه** ترمینالوژي
**وټه** اقتصاد
**وربغ** رنګ
**وياړه** دایره
**هوا سپېڅی** اېیرکانډېشن
**یمال** له غره څخه د واورې رانښویېدنه
**لاسوند** سند
**لړاک** بې ادبه
**لړاوو** ژر غوسه کېدونکی،
**لنډاک** : تنګ نظره
**لنډپاری** لنډ فکره

# Virus


د کلي عامه کتابتون
2014
Village's Public Library